الدر المنضود

على

سنن أبي داود

افادات

حضرت مولانا محمد عاقل صاحب
صدر مدرس مظاہر العلوم سہارنپور

خصوصیات



الدر المنضود

فی حل

سنن أبي داؤد

افادات:- حضرت مولانا محمد عاقل صیب

صدر مدرّس مظاهر العلوم سهارنپور (هند)

مترجمین

[رفقاء] دار التصنیف والتحقیق

زیر نگرانی

مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس

پښتو.............................شپږم جلد

خصوصیات

① د کتاب په اول کښې د اصول حدیث مفیده مقدمه
② د بذل المجهود شرح أبي داود عربی شرحې خلاصه اونچوړ
③ د متن ټولو احادیث ته اعراب ورکول
④ د هر کتاب په اول کښې هغې سره متعلقه ضروری مباحث
⑤ د هر حدیث تخریج د مصدر، کتاب او رقم په حوالې سره
⑥ د مشکلو لغاتو حل
⑦ په فقهی مباحثو کښې د مذاهبو بیان
⑧ د فریق مخالف دلائل
⑨ د فریق مخالف د دلائلو ښخه جوابونه
⑩ د مذهب حنفی دلائل او وجوه ترجیح

خورونکی

فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور

د کتاب نوم: الدرالمنضود فی حل سنن أبی داؤد

مؤلف: حضرت مولانا محمد عاقل صاحب دامت برکاتهم

زیرنگرانی:- مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس

خورونکی: فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور

دملاویدو پتې

- مکتبه فخر الدین رازی هرات [نمائنده فیصل کتبخانه درهرات]
- جدید اسلامی کتب خانه خوست
- المصباح کتب خانه کابل
- روغانیوال کتب خانه جلال آباد
- رحیمی کتب خانه خوست
- حرم کتب خانه کابل
- فلاح کتب خانه جلال آباد
- موئے مبارک کتب خانه غزنی
- مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزنی
- واحدی کتب خانه خوست
- مکتبه رحمانیه قندهار
- دعوت کتب خانه جلال آباد
- تقوٰی کتب خانه جلال آباد
- نعمت کتب خانه کابل
- شریف الله کتب خانه کابل
- حقانیه کتب خانه گردیز
- مسلم کتب خانه جلال آباد
- مکتبه نعمانیه غزنی
- گودر کتب خانه جلال آباد
- مسلم کتب خانه خوست
- حاجی سردار کتب خانه کابل
- مکتبه رشیدیه کابل

خپرونکي

فیصل کتب خانه

مدینه ټاور محله جنگی پیښور قصه خوانئ پیښور

موبائیل ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

فهرست ابواب جلد ششم

شمار	مضمون	صفحه

شمار	مضمون	صفحه

......

باب في كراهية حرق العدو بالنار

دشمن لره په اور باندې د سوزولو ممانعت

په مسئلة الباب باندې کلام

دا د تعذيب بالنار مسئله ده، په دې کښې تفصيل دې كما قال ابن قدامة، چه په دشمن باندې د قابو موندلو نه پس د هغه په اور سيزل بالاتفاق ناجائز دی، او د قابو موندلو او د هغوی د قيد کولو نه مخکښ، په دې صورت کښې دا حکم دې چه که بغير د تحريق نه په هغوی باندې قابو موندل ممکن وی نو بيا خو ئې تحريق جائز نه دې، البته په کوم صورت کښې چه بغير د تحريق نه قابو موندل ممکن نه وی نو په دې صورت کښې د اکثر اهل علم په نزد تحريق جائز دې. (تراجم بخاری ص ۱۱۶، ج ٤) د امام بخاری ترجمه ده ﴿لايعذب بعذاب الله﴾ د دې ترجمې د لاندې د سلفو اختلاف دې بعض صحابه کرام لکه عمر او ابن عباس دې ته مطلقا مکروه وائی، برابره خبره ده که په سبب د کفر وی او که د جنگ په حالت کښې وی، او يا قصاص وی، او بعض صحابه لکه علي او خالد بن الوليد رضى الله عنهم ورته جائز وائی، الى اخر ما ذكر، او ابن قدامه فرمائی چه اګر چه ابوبکر صديق رضی الله عنه د اهل ردة د تحريق حکم کړې وو او د هغه د دې حکم تعميل خالد بن الوليد رضی الله عنه کړې وو خو اوس په دې مسئله کښې هيڅ اختلاف نه دې پاتې، يعنى د دې په عدم جواز باندې اتفاق اوشو، (اى بعد اخذهم والقدوة عليهم) زه وايم، د کتاب الحدود د اولنى باب باب الحكم فيمن ارتد د لاندې دا روايت راروان دې، ﴿ان عليا عليه السلام احرق ناسا ارتدوا عن الاسلام فبلغ ذلک ابن عباس فقال : لم اكن لاحرقهم بالنار ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لا تعذبوا بعذاب الله﴾ الحديث... دا خلق کوم چه علی رضی الله عنه سيزلې وو د دې مصداق فرقه سبائيه ده کوم چه د عبدالله بن سبا يهودی طرف ته منسوب دی دې خلقو د علی رضی الله عنه په باره کښې د الوهيت دعوی کړې وه، كما هو مذكور في البذل ص ۱۲۱ ج ۵ في كتاب الحدود.

[۲۶۷۳](1) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا مُغِيرَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحِزَامِيُّ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ حَمْزَةَ الأَسْلَمِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّرَهُ عَلَى سَرِيَّةٍ قَالَ: فَخَرَجْتُ فِيهَا، وَقَالَ: "إِنْ وَجَدْتُمْ فُلاَنًا فَأَحْرِقُوهُ بِالنَّارِ، فَوَلَّيْتُ فَنَادَانِي فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ: إِنْ وَجَدْتُمْ فُلاَنًا فَاقْتُلُوهُ وَلاَ تُحْرِقُوهُ، فَإِنَّهُ لاَ يُعَذِّبُ بِالنَّارِ إِلاَّ رَبُّ النَّارِ".

محمدبن حمزه اسلمي دخپل پلار نه روايت کوی چه نبی علیه السلام دلره په يو وړوکي لښکرباندې امير مقرر کړې وو دې وائی چه زه جهاد ته اووتم او نبی علیه السلام فرمائيلی وو که فلانې مشرک موګير کړو نو په اور کښې ئې واچوئ او وئې سوزوئ، کله چه ماشاه کړه او روان شوم نونبی علیه السلام بيا آواز اوکړو اوزه راوګرزيدم اوونې فرمائيل که چرې فلانې موګير کړو نومړئې کړئ او مه ئې سوزوئ ځکه چه په اور باندې څوك چالره عذاب نه شی ورکولې علاوه دالله تعالى نه.

(1): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۳٤٤١)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/٤٩٤) (صحيح)

شرح حديث

حمزه بن عمرو الاسلمي رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ زه د يوې سريه امير جوړ کړم او وې ليږلم، زه تلو په وخت ئې ماته اوفرمائيل ﴿ان وجدتم فلانا فاحرقوه بالنار﴾ چه که فلانې سړې ته بيا مومې نو هغه په اور اوسيزه، چه کله زه روان شوم نو زه ئې په اواز سره واپس راوبللم او وې فرمائيل چه که ته هغه سړې بيا مومې نو قتل ئې کړه، سيزه ئې مه ﴿فانه لا يعذب بالنار الا رب النار﴾ ګويا رسول الله ﷺ د خپل سابقه حکم نه رجوع اوفرمائيله، د فلانى نه مراد لکه چه په بعض رواياتو کښې تصريح ده هبار بن الاسود دې، د رواياتو نه معلوميږي چه د هبار يو ملګرې هم وو کوم چه د هبار سره شوې وو، دې دواړو ته د سزا ورکولو حکم په دې وجه شوې وو چه د رسول الله ﷺ لور سيده زينب رضي الله عنها چه کله د هغې خاوند ابو العاص بن الربيع رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د معاهدې مطابق د مکې مکرمې نه د مدينې منورې طرف ته په سورلئ باندې کينولو سره روانه کړې وه، نو دې هبار چه د هغه سره يو بل سړې هم وو نو دې دواړو د زينب رضي الله عنها سورلئ اوبس په نيزه باندې وهلې وه او هغه ئې راغورځولې وه او دې وخت کښې زينب رضي الله عنها حامله هم وه، او هم د هغه ځائې نه د هغې بيمارى شروع شوې وه، په بعض کتابونو کښې د هبار بن الاسود د ملګري نوم نافع بن عبد قيس راغلې دې، په بذل کښې د بعض کتابونو نه نقل کړې شوې دى چه دا سريه د چا چه دلته په حديث الباب کښې ذکر دې د هبار سره ملاؤ نه شوه، لهذا هغه قتل هم نه شو، بلکه په رواياتو کښې دى چه هبار روستو اسلام قبول کړې وو، والله تعالى اعلم بالصواب. د سيده زينب رضي الله عنها دا واقعه په کتاب النکاح کښې هم په "رد زينب الى ابى العاص بن الربيع" والا حديث د لاندې تيره شوې ده.

[٢٦٧٤](¹)حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدٍ، وَقُتَيْبَةُ، أن الليث بن سعد. حدثهم عَنْ بُكَيْرٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: بَعَثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْثٍ فَقَالَ: "إِنْ وَجَدْتُمْ فُلَانًا وَفُلَانًا"، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ.

دابوهريره نه روايت دې چه نبى عليه السلام مونږ په جنګ کښې اوليږلو اووئې فرمائيل که چرې فلانې فلانې موګيرکړو باقى روايت دتير روايت په شان دې۔

[٢٦٧٥](²)حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ مَحْبُوبُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا أَبُو إِسْحَاقَ الْفَزَارِيُّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ الشَّيْبَانِيِّ، عَنِ ابْنِ سَعْدٍ، قَالَ: غَيْرُ أَبِي صَالِحٍ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَانْطَلَقَ لِحَاجَتِهِ فَرَأَيْنَا حُمَرَةً مَعَهَا فَرْخَانِ فَأَخَذْنَا فَرْخَيْهَا فَجَاءَتِ الْحُمَرَةُ فَجَعَلَتْ تَفْرِشُ فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: مَنْ فَجَعَ هَذِهِ بِوَلَدِهَا؟ رُدُّوا وَلَدَهَا إِلَيْهَا وَرَأَى قَرْيَةَ نَمْلٍ قَدْ حَرَّقْنَاهَا فَقَالَ: مَنْ حَرَّقَ هَذِهِ؟ قُلْنَا نَحْنُ قَالَ: "إِنَّهُ لَا يَنْبَغِي أَنْ يُعَذِّبَ بِالنَّارِ إِلَّا رَبُّ النَّارِ".

عبدالرحمن بن عبدالله دخپل پلارنه روايت کوى فرمائى چه مونږ دنبى عليه السلام سره په يوسفرکښې رو نبى عليه السلام دخپل څه حاجت دپاره. لاړونومونږه يوه مرغۍ اوليدله چه دوه

¹): صحيح البخاري/الجهاد ١٤٩ (٣٠١٦)، سنن الترمذي/السير ٢٠ (١٥٧١)، (تحفة الأشراف: ١٣٤٨١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٠٧/٢، ٣٣٨، ٤٥٣) (صحيح)

²): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٩٣٦٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٠٤/١)، ويأتي هذا الحديث في الأدب (٥٢٦٨) (صحيح)

بچي ورسره وو مونږ د هغې دواړه بچي اونيول نو مرغۍ راغله او خپلې وزرې ئې اوغوړولې نبي ﷺ چه راغې وئې فرمائيل داچادردولې ده په خپلوبچوباندې بچي ورواپس کړئ دي ته او د ميږيانو کلې ئې هم اوليدو چه مونږ سوزولې وونبي ﷺ اوفرمائيل داچاسوزولې دې مونږ ورته اووئيل مونږه هغه اوفرمائيل پکارنه دی چه څوك په اور باندې عذاب ورکړي مګر پيدا کونکی داور.

شرح حديث

﴿ كنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فى سفر فانطلق لحاجته ﴾ د حديث مضمون دا دې چه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په يو سفر کښې وو چه کله په لاره کښې په يو منزل باندې کوز شو نو هغه خو د قضاء حاجت دپاره تشريف يوړلو، نو مونږ يوه مرغۍ اوليده، د هغې سره دوه بچي هم وو، مونږ د هغې بچي اونيول، لږ ساعت پس هغه مرغۍ يعنی د بچو مور راغله، او د چا په لاس کښې چه ئې بچي وو په د هغه دپاسه الوتله، لږ ساعت پس رسول الله ﷺ تشريف راوړلو او چه کله ئې د هغه بچو او مرغۍ منظر اوليدو نو وې فرمائيل چه دې ته چا تکليف ورکړې دې، د دې د بچو په وجه باندې، دا بچي د دې مور طرف ته واپس کړئ (په دې سفر کښې يوه واقعه خو دا راغله او بله واقعه هغه کومه چه راوی بيانوی) او هغه د ميږو سوړه اوليده چه مونږ هغه سيزلې وه نو په دې باندې هغه سوال اوکړو ﴿ من حرق هذه؟ ﴾ الى اخره... دا د مرغۍ او د هغې د بچو واقعه په يو بل سياق سره د کتاب الجنائز په شروع کښې هم راروانه ده، په هغې کښې بل څه اضافه هم ده، هم دغه شان د کتاب الادب په اخير کښې "باب فى قتل الذر" کښې هم دا حديث راروان دې.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يُكْرِي دَابَّتَهُ عَلَى النِّصْفِ أَوِ السَّهْمِ

خپل څاروې په کرايه ورکول په عوض د غنيمت د نيمې حصې يا د پوره حصې

دا مسئله دلته خو په خپل محل کښې ده او د دې نه مخکښې په کتاب الطهارة کښې د "باب ما ينهى عنه ان يستنجى به" د حديث د لاندې تبعا راغلې ده، د هغې طرف ته دې رجوع اوکړې شی، دا قسم اجاره د امام احمد او امام اوزاعی په نزد جائز ده، د جمهورو په نزد جائز نه ده، د جمهورو د طرف نه جواب په دغه مقام کښې تير شوې دې.

[٢٦٧٦](1) حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدِّمَشْقِيُّ أَبُو النَّضْرِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ شُعَيْبٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو زُرْعَةَ يَحْيَى بْنُ أَبِي عَمْرٍو السَّيْبَانِيُّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّهُ حَدَّثَهُ عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ، قَالَ: نَادَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ، فَخَرَجْتُ إِلَى أَهْلِي فَأَقْبَلْتُ وَقَدْ خَرَجَ أَوَّلُ صَحَابَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَطَفِقْتُ فِي الْمَدِينَةِ أُنَادِي أَلَا مَنْ يَحْمِلُ رَجُلًا لَهُ سَهْمُهُ؟ فَنَادَى شَيْخٌ مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ لَنَا: سَهْمُهُ عَلَى أَنْ نَحْمِلَهُ عَقَبَةً وَطَعَامُهُ مَعَنَا، قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: فَسِرْ عَلَى بَرَكَةِ اللَّهِ تَعَالَى قَالَ: فَخَرَجْتُ مَعَ خَيْرِ صَاحِبٍ حَتَّى أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْنَا، فَأَصَابَنِي قَلَائِصُ فَسُقْتُهُنَّ حَتَّى أَتَيْتُهُ فَخَرَجَ فَقَعَدَ عَلَى حَقِيبَةٍ مِنْ حَقَائِبِ إِبِلِهِ، ثُمَّ قَالَ: سُقْهُنَّ مُدْبِرَاتٍ ثُمَّ قَالَ: سُقْهُنَّ مُقْبِلَاتٍ، فَقَالَ: مَا أَرَى قَلَائِصَكَ إِلَّا كِرَامًا قَالَ: إِنَّمَا هِيَ غَنِيمَتُكَ الَّتِي شَرَطْتُ لَكَ قَالَ: خُذْ قَلَائِصَكَ يَا ابْنَ

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٧٤٧) (ضعيف)

أَخِي فَغَيْرَ سَهْمِكَ أَرَدْنَا.

دواثلة بن اسقع رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ په غزوه تبوك كښې آواز اوكړو، دتبوك په جنگ كښې دمجاهدينو دراجمع كولو دپاره اوزه خپل كور ته تلې وم دهغه ځائې نه چه راتلم نو اولنې صحابي وتلې وو ما په ښاركښې اعلان شروع كړو چه ایاداسې څوك شته چه دمال غنيمت دحصې په عوض كښې څوك په سورلئ سور كړئ يو بوډا انصاري اووئيل خه نودهغه حصه به مونږه اخلو اودې به دځان سره سورور او يوځائې به خوراك كوو ما اووئيل بالكل تيك ده ماته قبوله ده نوبياهغه بوډا اووئيل په الله تعالى باندې اعتماد كوو اوهغه اووئيل البته زه ديوبهترين ملگري سره اووتلم تردې چه الله تعالى مونږ ته مال غنيمت راكړو اوزماپه حصه كښې يوڅو تيز رفتاره اوښې راغلې نوماهغه رواني كړې اودده خواته راغلمه اودې وتلې وو اودخپل اوښ په شاته حصه باندې ناست وو اووئې وئيل دا اوښان په ما پسې شاته راشره او راځه اوددې نه پس ئې اووئيل زما خيال دې چه ستا اوښې ډيري ښې اوښې دې ما اووئيل داخوستا مال دې دكوم چه ما شرط مقرركړې وو هغه اووئيل اې زما وراره خپله حصه واخله زمونږه مقصد دا حصه اخستل نه وو.

شرح حديث

د حديث مضمون دا دې چه سيدنا واثله بن الاسقع رضي الله عنه فرمائی چه د رسول الله ﷺ د طرف نه غزوه تبوک ته د تلو اعلان اوشو، زه اعلان اوريدلو سره خپل كور ته لاړم او هلته تلو سره زه هم دې طرف ته متوجه شوم، خو ډير صحابه كرام وتلي وو (د هغوى سره چونكه سورلئ نه وه په دې وجه هغوى وئيل چه) زه د مدينې په كوڅو كښې اعلان كونكې گرځيدم (الا من يحمل رجلا له سهمه) د رجل نه مراد د هغه خپل ذات دې، چه څوک شته چه ما په خپله سورلئ باندې سور كړى په داسې طريقه چه زما د مال غنيمت حصه به د هغه دپاره وى، گويا د غنيمت حصه ئې د سورلئ اجرت مقرر كړو (او ظاهره ده چه د غنيمت حصه معلومه نه ده چه حاصليږى به يا نه او نه ئې مقدار معلوم دې لهذا دا (اجاره په اجرت مجهوله سره شوه) زما په دې أعلان باندې يو انصارى شيخ لبيک اووى، يعنى هغه د دې دپاره تيار شو او هغه اووې چه زما دپاره به د هغه حصه وى په داسې طور چه زه به دې په خپله سورلئ باندې سوروم په نوبت نوبت، او د هغې خوراک به هم مونږ سره وى، واثله فرمائى چه ما اووې چه خوښه مې ده، شيخ انصارى اووې چه بيا ځه چه ځو د الله پاک په نوم، واثله فرمائى چه زه د ډير ښه ملگرى سره اوتلم، مطلب دا دې چه ما هغه ډير ښه بيا موندلو، تردې چه الله پاک مونږ ته مال غنيمت راكړو چه په هغې كښې بعض اوښانې ملاؤ شوې، ما هغه دې شيخ انصارى ته راوستلې هغه هم د دننه نه بهر راغلو، هغه د دې اوښانو نه د يو اوښ په كيجاوه باندې كيناستلو او د كيناستلو نه پس هغه انصارى ماته اووې چه دا خو لړ په شا بوځه، بيا ئې اووې چه اوس ئې لړ وړاندې بوځه (يعنى په هغه اوښانو باندې د ازميښت دپاره) بيا هغه انصارى ماته اووې چه دا ستا اوښانې خو ډيرې غوره دى، واثله فرمائى چه ما ورته اووې چه دا خو ستاسو دى لكه چه ما شرط لگولې وو، هغه انصارى

راته په جواب کښې اووې چه ګرانه! اونیسه دا خپلې اوښې ﴿ فقیر سهمک اردنا ﴾ زمونږ مطلوب ستا دا اوښې خو نه دی، زمونږ مراد خو بل څه دی یعنی د اخرت ثواب.

د اجاره کوم صورت چه دلته موندلې شوې دې هغه من حیث المسئلة والفقه، د ائمه ثلاث او جمهورو خلاف دې، د دې یو جواب دا کیدې شی چه دا د صحابی فعل دې، مرفوع حدیث نه دې فلا حجة فیه، امام احمدؒ د دې د جواز قائل دې.

یو اشکال او د هغې جواب

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه دلته یو اشکال ظاهر دې هغه دا چه په غزوه تبوک کښې نه خو قتال ته خبره رسیدلې وه او نه مال غنیمت حاصل شوې وو، نو بیا دا ځنګه غنیمت دې د دې څه صورت شو، د دې جواب دا کړې شوې دې چه ډیر کرته په لویو لویو غزواتو کښې داسې کیږی چه یو لښکر یوځائې ته د جنګ دپاره روان دې چه د هغه سفر اوږد دې، په لاره کښې د لښکر د امیر رائې دا وی چه نزدې چه کومه کلې دې هلته په دې لښکر کښې یوه دسته جوړولو سره د هغې د فتح کولو دپاره اولیږلې شی، دا موقع پکښې کله کله راځی، پس لیکلې دی چه په غزوه تبوک کښې هم داسې شوې وو چه تبوک ته نزدې یو کلې واقع دې، د دومة الجندل په نوم باندې، چه د هغې رئیس او امیر د اکیدر په نوم باندې سړې وو، په حاشیه د نسائی کښې لیکلې شوې دی چه دا لوئې زمیندار او نواب وو، الحاصل رسول اللهﷺ د قیام تبوک دوران خالد بن الولید ته یوه دسته ورکړه او د هغې امیر ئې جوړ کړو او د هغې طرف ته ئې اولیږلو، سیدنا خالدؓ په هغه اکیدر باندې قابو بیا موندلو او هغه ئې قید کړو، د هغه اوږده قصه ده، د سیرة په کتابونو کښې دې اوکتلې شی، الغرض د دومة الجندل د فتح کولو نه پس د اکیدر سره مصالحت شوې وو، کوم مال چه په مصالحت کښې مقرر شوې وو د هغې مقدار په کتابونو کښې دا لیکلې شوې دې، ابل دوه زره او فرس اته سوه. دروع (زغرې) څلور سوه، غشی څلور سوه، نو د حصول غنیمت دا صورت شوې وو، د دې واقعې ذکر په ابوداود کښې وړاندې په کتاب الخراج کښې په باب فی اخذ الجزیة کښې داسې راروان دې: ﴿أَنَّ النبی –صلی الله علیه وسلم– بَعَثَ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ إِلَى أُكَيْدِرِ دُومَةَ فَأُخِذَ فَأَتَوْهُ بِهِ فَحَقَنَ لَهُ دَمَهُ وَصَالَحَهُ عَلَى الْجِزْيَةِ ﴾ او د دې تفصیل هلته په بذل کښې حضرت لیکلې دې چه د هغې خلاصه په سیرة المصطفی ص ۹۲ ج ۳ کښې داسې لیکلې شوې ده، چه د تبوک نه رسول اللهﷺ خالد د څلور سوه او شلو شهسوارانو سره د اکیدر طرف ته اولیږلو کوم چه د هرقل د طرف نه د دومة الجندل حاکم او ګورنر وو، رسول اللهﷺ د لیږلو په وخت خالدؓ ته اوفرمائیل چه هغه به تاسو ته د ښکار په حالت کښې ملاویږی هغه قتل کوئ مه بلکه ګرفتارولو سره ئې ماته راولئ، او! که هغه انکار اوکړو نو بیا ئې قتل کړئ، خالد په داسې شپه هلته اورسیدو چه سپوږمۍ روښانه وه، د ګرمۍ موسم وو او اکیدر او د هغه ښځه د قلعه په برج باندې ناست سندرې اوریدلې، ناڅاپه یوه ځنګلی غوا راغله او د قلعه د پاټک سره ئې ټکره اووهله (د دې غوا ښکار ډیر ګران وی هغه ډیره تیزه منډه وهی، د هر یو ښکاری په قابو کښې هم نه راځی، د دې د ښکار دپاره د هغه ځائې

ښکاری خلق اسونو ته تړیننګ ورکوی نځو دي وخت کښې د الله پاک شان ته اوګوره چه الله پاک ته د دې سریه د فتح انتظام مقصود وو نو هغه غوا خپله راغله او د هغه قلعه د دراوزې سره ئې سر وهلو، اکیدر فورا د خپل رور او څو خپلوانو سره د ښکار دپاره راکوز شو او په اسونو باندې سوریدلو سره په غوا پسې شو لږ مخکښې تلې وو چه د خالد بن الولید رضی الله عنه ښکار شو، خالد اووې چه زه تاته د قتل نه پناه درکولې شم په دې شرط چه ته ما سره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضریدل منظور کړې، اکیدر دا خبره منظوره کړه، خالد بن الولید د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، اکیدر دوه زره اوښان او اته سوه اسونه او څلور سوه زغرې او څلور سوه نیزې ورکولو سره صلح اوکړه. اهـ

د یو بل سوال جواب

بیا دلته یو سوال واردیږی چه د غزوه تبوک د لښکر تعداد خو تقریبا دیرش زره وو او دا قلائص کوم چه د اکیدر نه حاصل شوې وو د هغې تعداد صرف دوه زره وو نو د واثله په حصه کښې څو اوښان څنګه راغلل ځکه چه مال غنیمت خو برابر تقسیمیږی؟ د دې جواب دا دې لکه چه په بعض احادیثو کښې راتلونکې دې چه کله په یو لښکر کښې یوه سریه ویستلو سره لیږلې شی نو په حاصلیدونکی غنیمت کښې خاص اصحاب سریه ته د مال غنیمت ثلث یا ربع ورکولې شی، او ما بقی په جیش باندې واپس کولې شی، لهذا کیدې شی چه په دې ثلث مال غنیمت کښې د واثله په حصه کښې کوم چه په دې سریه کښې شریک وی دومره اوښان راغلل.

بَابٌ فِي الْأَسِيرِ يُوثَقُ

قیدی به مضبوط تړلې شی

یعنی کافر قیدی تړلې کیدې شی یا نه؟ پس د حدیث الباب نه د دې جواز معلومیږی.

[۲۶۷۷]([1]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ زِيَادٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "عَجِبَ رَبُّنَا عَزَّ وَجَلَّ مِنْ قَوْمٍ يُقَادُونَ إِلَى الْجَنَّةِ فِي السَّلَاسِلِ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام نه مې اوریدلی دی چه الله تعالی تعجب کوې دهغه خلقو نه چه په زنځیرونو به تړلې شوې جنت ته بوتلې شی.

﴿ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– يَقُولُ « لَقَدْ عَجِبَ رَبُّنَا عَزَّ وَجَلَّ مِنْ قَوْمٍ يُقَادُونَ إِلَى الْجَنَّةِ فِي السَّلاَسِلِ ﴾ یعنی الله پاک خوښوی هغه خلق کوم چه د جنت طرف ته بوتللې شی په زنځیرونو او بیړو کښې تړلی، په حدیث کښې د دې نه مراد هغه کافر دی کوم چه مسلمانان اونیسی او د دار الاسلام طرف ته ئې راولی او بیا هغه دلته په اسلام سره مشرف شی، نو ګویا هغوی تړلو سره د اسلام طرف ته راوستلې شی او د اسلام طرف ته راتلل په جنت کښې داخلیدل دی، لهذا وئیلې کیدې شی چه هغوی تړلو سره جنت ته بوتلې شی، د دې حدیث نه

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۴۳۶۴)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجهاد ۱۴۴ (۳۰۱۰)، مسند احمد (۲/۳۰۲، ۴۰۶) (صحیح)

د کافر قيدی د ربط جائز کيدل ثابتيږي، والحديث اخرجه البخاري، قاله الشيخ محمد عوامه.

[٢٦٧٨]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ أَبِي الْحَجَّاجِ أَبُو مَعْمَرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ يَعْقُوبَ بْنِ عُتْبَةَ، عَنْ مُسْلِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ جُنْدُبِ بْنِ مَكِيثٍ، قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ غَالِبٍ اللَّيْثِيَّ فِي سَرِيَّةٍ، وَكُنْتُ فِيهِمْ، وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَشُنُّوا الْغَارَةَ عَلَى بَنِي الْمُلَوَّحِ بِالْكَدِيدِ، فَخَرَجْنَا حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْكَدِيدِ لَقِينَا الْحَارِثَ بْنَ الْبَرْصَاءِ اللَّيْثِيَّ فَأَخَذْنَاهُ فَقَالَ: إِنَّمَا جِئْتُ أُرِيدُ الْإِسْلَامَ، وَإِنَّمَا خَرَجْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا: إِنْ تَكُنْ مُسْلِمًا لَمْ يَضُرَّكَ رِبَاطُنَا يَوْمًا وَلَيْلَةً، وَإِنْ تَكُنْ غَيْرَ ذَلِكَ نَسْتَوْثِقْ مِنْكَ فَشَدَدْنَاهُ وِثَاقًا.

دجند بن مکيث رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبی عليه السلام عبد الله بن غالب ليثي په يوه غضوه کښي اوليږلو اوزه هم په هغوی کښي ووم اودوی ته ئي حکم اوکړو چه ديوطرف نه حمله اوکړي په بني ملوح خلقو باندي په کديد مقام کښي نومونږ روان شو تردي چه کديد ته اورسيدو اود حارث بن برصاع ليثي سره مخامخ شو نومونږه هغه اونيوو نوهغه اووئيل زه خود اسلام راوړو په اراده باندي راغلي يم اوزه خو درسول الله په اراده راوتلي يم مونږ ورته اووئيل که چرې ته مسلمان ئي نو زمونږ تړل به تاته په دي يوه شپه او ورځ کښي ضرر اونه رسوي اوکه چرې مسلمان نه ئي مونږه تا مضبوط تړو ، بيا مونږ هغه لره مضبوط اوتړلو.

مضمون حديث

قوله: عَنْ جُنْدُبِ بْنِ مَكِيثٍ، قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ غَالِبٍ [٢] اللَّيْثِيَّ فِي سَرِيَّةٍ، وَكُنْتُ فِيهِمْ..الخ:

جندب بن مکيث فرمائی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم عبد الله بن غالب رضي الله عنه د يوې سريه امير جوړ کړو او بنو الملوح ته ئي د قتال دپاره مقام کديد طرف ته اوليږلو، جندب وائی چه مونږ د کديد طرف ته روان شو نو (لقينا الحارث بن البرصاء الليثي) [٣] هلته مونږ د حارث بن الصبر صاليثی سره مخامخ شو، مونږ هغه اونيولو، هغه اووې چه زه خو د اسلام په اراده باندي راغلي يم، اوس زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښي د تلو دپاره وتلي يم (او هغه خلقو د هغه د تړلو اراده اوکړه) پس مونږ هغه ته اووې چه که واقعی ته مسلمان شوي ئي نو زمونږ تا لره صرف د يوې شپې او يوې ورځي دپاره تړل څه نقصان دي، او که داسي نه وی، يعنی واقعی ستا اراده د اسلام قبلولو نه وی نو مونږ خپل اطمينان غواړو، ځکه چه په دي صورت کښي دا تړل يقينا مفيد او قرين قياس دی، پس مونږ هغه په ښه طريقه اوتړلو.

د دي واقعي نه هم ظاهر دي چه د ربط الاسير جواز معلوميږی.

---

[١]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٣٢٧٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٦٧/٣، ٤٦٨) (ضعيف)

[٢]) قيل هو الصحيح وقيل الصواب غالب بن عبدالله واليه ميل الحافظ وقبله المنذري حيث قال: الصواب غالب بن عبدالله.

[٣]) دا دفاعل کيدو په وجه مروع هم کيدي شي او منصوب هم په وجه د مفعوليت، ځکه چه ددي نه مخکښي کوم فعل دي يقينا که هغه مفرد صيغه اووئيلي شي نو الحارث به فاعل وی، اوکه يقينا په صيغه دجمع متکلم اووئيلي شي نو په دي صورت کښي به الحارث مفعول به وی).

[۲۶۷۹] (¹) حَدَّثَنَا عيسى بن حماد المصري، وَقُتَيْبَةُ، قَالَ قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ: بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْلًا قِبَلَ نَجْدٍ فَجَاءَتْ بِرَجُلٍ مِنْ بَنِي حَنِيفَةَ يُقَالُ لَهُ: ثُمَامَةُ بْنُ أُثَالٍ، سَيِّدُ أَهْلِ الْيَمَامَةِ فَرَبَطُوهُ بِسَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ فَخَرَجَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "مَاذَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ؟"، قَالَ: عِنْدِي يَا مُحَمَّدُ خَيْرٌ إِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَا دَمٍ وَإِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلَى شَاكِرٍ وَإِنْ كُنْتَ تُرِيدُ الْمَالَ فَسَلْ تُعْطَ مِنْهُ مَا شِئْتَ فَتَرَكَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا كَانَ الْغَدُ، ثُمَّ قَالَ لَهُ: مَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ؟ فَأَعَادَ مِثْلَ هَذَا الْكَلَامِ فَتَرَكَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى كَانَ بَعْدَ الْغَدِ فَذَكَرَ مِثْلَ هَذَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَطْلِقُوا ثُمَامَةَ، فَانْطَلَقَ إِلَى نَخْلٍ قَرِيبٍ مِنَ الْمَسْجِدِ فَاغْتَسَلَ فِيهِ ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَقَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ" وَسَاقَ الْحَدِيثَ، قَالَ عِيسَى: أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ، وَقَالَ ذَا ذِمٍّ.

دسعید بن أبی سعید نه روایت دې فرمائی چه دابوهریرة رضی الله عنه نه مې اوریدلی دی چه نبی علیه السلام دنجدمقام طرف ته یولښکر اولیږو نو دبنی حنیفه قبیلې یوکس ئې په قید کښې راوستو چه ثمامة بنت اثال ورته وئیلې شو اودیمامې سردار وو اودمسجد نبوی په یوې ستن پورې ئې اوترو نبی علیه السلام دده طرف ته ورغی او ورته ئې اووئیل څه درسره دې اې ثمامه یعنی ستاڅه حال دې پائې داسې اووئیل چه ستاپه ګمان کښې زماسره څه دي یعنی زه به ستاسره څه معامله کوم؟ ده اووئیل اې محمد زماسره ډیر خیر دې اوډیر مال راسره دې که چرې مړ دې کړم نویوګنهګاربه مړ کړې اوکه چرې احسان دې اوکړو په ما باندې نواحسان به اوکړې په یوشکرګذار باندې اوکه منال دې پکاروې نو اوغواړه چه درکړم څومره چه دې خوښه وي نونبی علیه السلام ده لره په هم دې حال پریخودو کله چه بله ورځ شوه نوبیا ئې ترې دتیرې ورځې په شان سوال اوکړو او ده هم هغسې. جواب ورکړو نونبی علیه السلام ده لره په هم دې حال پریخودو کله چه بله ورځ شوه نوبیا ئې ترې دتیرې ورځې په شان سوال اوکړو او ده هم هغسې جواب ورکړو نبی علیه السلام اوفرمائیل ثمامه پریږدئ کله چه پریخود شو نومسجد ته نزدې دکجورو باغ وو دې ورغې اوهلته ئې غسل اوکړو او دوباره جومات ته راغې او وئې وئیل «أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله» زه ګواهي کوم چه دالله نه علاوه بل معبود نشته او محمد ﷺ دالله پاك بنده اورسول دې، اوحدیث ئې تر اخره بیان کړو، اودلیث په روایت کښې د ذادم په ځائې باندې ذادم لفظ نقل شوې دې.

﴿ بعث رسول الله صلى الله عليه وسلم خيلا قبل نجد ﴾ الخ یعنی رسول الله ﷺ یوه دسته د نجد طرف ته اولیږله (د دې نه مراد د محمد بن مسلمه سریه ده) نو هغه سریه د قبیله بنو حنیفه یو سړې راوستلو چه د هغه نوم ثمامه بن اثال رضی الله عنه وو کوم چه د اهل یمامه سردار وو دې خلقو هغه راوستلو او په مسجد نبوی کښې ئې په یوه ستن پورې اوتړلو (د دې نه ربط الاسیر ثابت شو لهذا د ترجمة الباب مطابقت هم د دې جزء سره دې) وړاندې په روایت کښې دی چه کله په رسول الله ﷺ باندې ورتیر شو نو رسول الله ﷺ د هغه طرف ته متوجه کیدو سره تپوس

¹): صحیح البخاري/الصلاة ٧٦ (٤٦٢)، والمغازي ٧٠ (٤٣٧٢)، صحیح مسلم/الجهاد ١٩ (١٧٦٤)، سنن النسائي/الطهارة ١٢٧ (١٨٩)، المساجد ٢٠ (٧١٣)، (تحفة الأشراف: ١٣٠٠٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٥٢/٢) (صحيح)

اوکړو ﴿ما ذا عندک یا ثمامة﴾ چه اې ثمامه ستا په ذهن کښې څه دي یعنی د اسلام قبلولو اراده دې شته یا نه؟ یا د دې جملې مطلب دا دې چه ستا ګمان زمونږ په باره کښې څه دې، چه مونږ به تا سره څه کوو، نو هغه جواب ورکړو: ﴿عندی یا محمد خیر ان تقتل تقتل ذا دم وان تنعم تنعم علی شاکر﴾ ثمامه په سنجیده لهجه کښې ډیر مناسب جواب ورکړو چه اې محمد ﷺ ما سره خیر دې، یعنی د اسلام راوړلو اراده ده، او وړاندې ئې عرض اوکړو چه که تاسو ما قتل کوئ نو داسې سړې به قتل کړئ کوم چه د وینې خاوند دې، نو داسې سړې به قتل کړئ چه د هغه د وینې بدله اخستلو والا شته، یعنی هغه متې لرې څکه چه دې د اهل یمامه سردار وو کما تقدم فی الروایة، د دې نه روستو هغه اووې: او که تاسو په ما باندې انعام کوئ نو په داسې سړي به انعام کوئ کوم چه به ستاسو شکر ګزار وی، بیا وړاندې هغه یوه خبره اوکړه ډیره غلطه چه که تاته د مال ضرورت وی نو اوایئ تاسو ته به مال درکولې شی څومره چه ستاسو پکار وی، رسول الله ﷺ په خاموشئ سره د هغه جواب واوریدو او هغه ئې پریخودلو او وړاندې لاړو، وړاندې په روایت کښې دی چه کله بله ورځ راغله نو رسول الله ﷺ د هغه په خوا باندې راتیر شو، په دویمه ورځ هم دغه شان سوال او جواب اوشو او بیا رسول الله ﷺ هغه لره پریخودلو سره وړاندې لاړو، تردې چه کله دریمه ورځ شوه نو بیا هم دا سوال او جواب اوشو، خو دې ځل رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿اطلقوا ثمامة﴾ چه ثمامه دې پریخودلې شی، هغه چه پرانستلې شو نو په تندئ مسجد ته نزدې یو باغ ته لاړو چرته چه اوبه وې او هلته ئې غسل اوکړو او بیا ئې په مسجد کښې کلمه شهادت اولوستله: اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمدا عبده ورسوله (صلی الله علیه وسلم).

عیسی بن حماد، د مصنف استاد فرمائی چه په یو روایت کښې ﴿ذا دم﴾ په ځائې ﴿ذا ذم﴾، ذم په معنی د ذمه او حرمت دې، ای ذی حرمة عند قومه یعنی که ته ما قتل کوې نو داسې سړې به قتل کړې کوم چه د خپل قوم معزز او محترم دې. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی قاله المنذری.

[۲۶۸۰] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو الرَّازِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا سَلَمَةُ يَعْنِي ابْنَ الْفَضْلِ، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَعْدِ بْنِ زُرَارَةَ، قَالَ: قُدِمَ بِالْأُسَارَى حِينَ قُدِمَ بِهِمْ وَسَوْدَةُ بِنْتُ زَمْعَةَ عِنْدَ آلِ عَفْرَاءَ فِي مُنَاخِهِمْ عَلَى عَوْفٍ، وَمُعَوِّذٍ ابْنَيْ عَفْرَاءَ قَالَ: وَذَلِكَ قَبْلَ أَنْ يُضْرَبَ عَلَيْهِنَّ الْحِجَابُ قَالَ: تَقُولُ سَوْدَةُ: وَاللَّهِ إِنِّي لَعِنْدَهُمْ إِذْ أَتَيْتُ، فَقِيلَ: هَؤُلَاءِ الْأُسَارَى قَدْ أُتِيَ بِهِمْ فَرَجَعْتُ إِلَى بَيْتِي وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِ وَإِذَا أَبُو يَزِيدَ سُهَيْلُ بْنُ عَمْرٍو فِي نَاحِيَةِ الْحُجْرَةِ مَجْمُوعَةٌ يَدَاهُ إِلَى عُنُقِهِ بِحَبْلٍ، ثُمَّ ذَكَرَ الْحَدِيثَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهُمَا قَتَلَا أَبَا جَهْلِ بْنَ هِشَامٍ وَكَانَا انْتَدَبَا لَهُ وَلَمْ يَعْرِفَاهُ وَقُتِلَا يَوْمَ بَدْرٍ.

د یحی بن عبد الله بن عبد الرحمن بن سعد بن زراره رضی الله عنه نه روایت د فرمائی چه هرکله چه دعضوه بدر قیدیان راوستې شو نو سودة بن زمعة د عفراء دخاندان سره وه چرته چه دهغوی اوښان به کینولې شو دعروف بن عفره او معوض بن عفراء سره ترڅو چه دحجاب او پردې

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۸۹۷) (ضعیف)

حکم نه وو نازل شوې نوسوده وائی چه زه ددوی سره وم او وویلې شول دا قیدیان راوستلې شوي دي زه خپل کورته راغلم او رسول الله هلته موجود وو او ابویزید سهیل بن عمرو دحجرې په یوګوټ کښې هم موجود وو اودهغه دواړه لاسونه په څټ پورې په یوپړي باندې ترلې شوي وو اوبيا ئې پوره حديث ذكركړو، ابوداود وائی عوف بن عفراء او معوذ بن عفراء هغه کسان دي چاچه ابوجهل بن هشام وژلې وو اوهغه ته نه رسيدل ليكن دهغه طرف ته روان وو اودې ئې دبدر په ورځ قتل كړو

﴿ قال : قدم بالاسارى حين قدم بهم وسودة بنت زمعة الخ ﴾ راوی وائی : چه کوم وخت کښې د بدر قیدیان مدينې منورې ته راوستلې شو نو هغه وخت اتفاقی ام المومنین سیده سودة رضي الله عنها د آل عفراء کره د هغوی د اوښانو په غوجل کښې، يعنى د هغوی په قیامګاه کښې، د عوف بن عفراء او معوذ بن عفراء سره نزدې ناسته وه، خو په دې ترجمه باندې دا اشكال دې چه عوف او معوذ دواړه خو په جنګ بدر کښې شهیدان شوې وو لهذا ﴿ على عوف ومعوذ ﴾ به د هغې د ظاهر نه لرې کولو سره بله معنی مراد کړې شي، يعنى سيده سودة رضي الله عنها دې وخت د آل عفراء په وخت ولاړه وه، د عوف او معوذ په سلسله کښې یعنی تعزیت وغیره، د دې خلاف ظاهر تاويل حاجت زمونږ د موجوده نسخې په اعتبار سره دې چه په هغې کښې ﴿ فى مناختهم ﴾ په خاء معجمعه سره دې. او په بعض نسخو کښې دا لفظ د خاء معجمه په ځائې په حاء مهمله سره دې ﴿ فى مناحتهم ﴾ یعنی محل نوح او نوحه خوانی مجلس، په دې صورت کښې به هيڅ قسم اشكال نه وی [1] ﴿ قال وذلک قبل ان يضرب عليهن الحجاب ﴾ دلته چونکه دا سوال کیدې شي چه سیده سودة د آل عفراء کره تلې وه نو د دې جواب راوی دا ورکړو چه دا د حجاب نه مخکښې واقعه ده، سيده سودة رضي الله عنها فرمائی چه کله هلته ناسته اوم نو هلته څه ګورم چه د جنګ بدر یو کافر قیدی ابو یزید سهیل بن عمرو رضي الله عنه د حجرې په مینځ کښې ترلې شوې دې، چه د هغه لاسونه دسټ سره ترلې شوې وو ،ددې حديث داخرى جملې نه دربط الاسيرثبوت ملاويږی ﴿ ثم ذكر الحديث ﴾ مصنف فرمائی چه وړاندې په حديث کښې نور هم څه دی کوم چه مونږ اختصارا حذف کړل. ﴿ قال ابوداود: وهما قتلا ابا جهل بن هشام وكانا انتدبا له ولم يعرفاه وقتلا يوم بدر ﴾ امام ابوداود كله كله د حديث نه روستو تبعا او استطرادا څه علمی فائده ذکر کوی چه د هغې مثالونه به وړاندې هم راشی، او يو د هغې نه دا مقام دې.

بهرحال په حديث الباب کښې د عوف بن عفراء او معوذ بن عفراء رضی الله عنهما ذكر وو نو د دې دواړو په باره کښې مصنف فرمائی چه دواړو په جنګ بدر کښې د مشرکانو سردار ابوجهل قتل کړې وو ، او دې دواړو د هغه د قتل اراده کړې وه خو هغه ئې نه پيژندلوو پس قصه مشهوره ده چه دې دواړو انصاری هلکانو د سيدنا عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه نه په جنګ بدر کښې تپوس اوکړو چه ابوجهل چرته دې، هغه تپوس اوکړو چه ته

[1] نبه علي اختلاف النسخ الشيخ محمد عوامه في تحقيقه لسنن ابي داؤد، جزاه الله تعالي)

څه دپاره د هغه تپوس کوي؟ هغه اووې چه مونږ به هغه ختموو، هغه د هغوی په بهادرئ ډیر حیران شوچه دوه کم عمره انصاری هلکان د قریشو د سردارد قتل سوچ کوی، خیر بهرحال هغه ورته اوفرمائیل چه کله ماته په نظر راشی نو زه به ئې درته اوښائم، پس چه کله ئې په هغه باندې نظر پریوتلو نو هغه د دې خبر هغوی ته ورکړو الی اخر القصة....

د ابو جهل د قاتلانو تعیین

امام ابوداود په دې خپل کلام کښې د قاتلین ابوجهل نشاندهی کړې ده، د عوف او معوذ په باره کښې فرمائی چه دې دواړو قتل کړې دې، دا د مشهورې خبرې خلاف ده، د صحیحین په روایاتو کښې د ابو جهل په قاتلانو کښې دا درې نومونه ملاویږی، معاذ بن عفراء، معوذ بن عفراء او معاذ بن عمرو بن الجموح [1] د عوف بن عفراء نوم نشته، حضرت په بذل کښې د عوف رضی الله عنه ذکر شاذ منلې دې. حضرت لیکی ﴿ولم ار احدا ذکر عوفا فیمن قتل ابا جهل الا ابوداود وابن سعد ﴾ زه وائم چه دغه شان د هغه په قاتلینو کښې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نوم د صحیحین په روایاتو کښې موجود دې خپله په ابوداود کښې هم وړاندې د هغه ذکر راروان دې، خو په شروع کښې په هغه باندې حمله کونکی هم هغه درې کسان دی د چا ذکر چه پورته راغلو، عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روستو هغه لره قتل کونکې دې، هسې د دې سلسلې په روایاتو کښې کافی اختلاف او انتشار دې لکه چه د بخاری د شروح نه معلومیږی، او په دې روایات مختلفه کښې تطبیق باندې هم حافظ وغیره تفصیلی کلام کړې دې، خو د عوف بن عفراء ذکر څنګه امام ابوداود رحمه الله کړې دې، حافظ او هم دغه شان علامه عینی داسې نه دې کړې. په لامع الدراری او الحل المفهم کښې هم په دې باندې ډیر بحث کړې شوې دې.

بَابٌ فِي الأَسِيرِ يُنَالُ مِنْهُ وَيُضْرَبُ وَيُقَرَّرُ

د قیدی د وهلو اود رټلو بیان

[۲۶۸۱] ([2]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَدَبَ أَصْحَابَهُ فَانْطَلَقُوا إِلَى بَدْرٍ فَإِذَا هُمْ بِرَوَايَا قُرَيْشٍ فِيهَا عَبْدٌ أَسْوَدُ لِبَنِي الْحَجَّاجِ، فَأَخَذَهُ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلُوا يَسْأَلُونَهُ أَيْنَ أَبُو سُفْيَانَ؟ فَيَقُولُ: وَاللَّهِ مَا لِي بِشَيْءٍ مِنْ أَمْرِهِ عِلْمٌ وَلَكِنْ هَذِهِ قُرَيْشٌ قَدْ جَاءَتْ فِيهِمْ أَبُو جَهْلٍ، وَعُتْبَةُ، وَشَيْبَةُ ابْنَا رَبِيعَةَ، وَأُمَيَّةُ بْنُ خَلَفٍ فَإِذَا قَالَ لَهُمْ ذَلِكَ ضَرَبُوهُ فَيَقُولُ: دَعُونِي، دَعُونِي أُخْبِرْكُمْ فَإِذَا تَرَكُوهُ قَالَ: وَاللَّهِ مَا لِي بِأَبِي سُفْيَانَ مِنْ عِلْمٍ، وَلَكِنْ هَذِهِ قُرَيْشٌ قَدْ أَقْبَلَتْ فِيهِمْ أَبُو جَهْلٍ، وَعُتْبَةُ، وَشَيْبَةُ ابْنَا رَبِيعَةَ، وَأُمَيَّةُ بْنُ خَلَفٍ، قَدْ أَقْبَلُوا وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي وَهُوَ يَسْمَعُ ذَلِكَ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّكُمْ لَتَضْرِبُونَهُ إِذَا صَدَقَكُمْ وَتَدَعُونَهُ إِذَا كَذَبَكُمْ، هَذِهِ قُرَيْشٌ قَدْ أَقْبَلَتْ لِتَمْنَعَ أَبَا سُفْيَانَ قَالَ أَنَسٌ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ غَدًا وَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ وَهَذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ غَدًا وَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ وَهَذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ غَدًا وَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ فَقَالَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا جَاوَزَ أَحَدٌ

---

[1] په دې کښې یو قول دا دې چه معاذ بن عمرو او معاذ بن عفراء دواړه د یو کس نومونه دی، یو ځائې کښې ئې د مور طرف ته نسبت دې او بل ځائې کښې ئې د پلار طرف ته.

[2] تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۷۶)، وقد أخرجه: صحیح مسلم/الجهاد ۳۰ (۱۷۷۹)، والجنة ۱۷ (۵۷۳۲)، سنن النسائي/الجنائز ۱۱۷ (۲۰۷۶) مسند احمد (۳/۲۶۱) (صحیح)

مِنْهُمْ عَنْ مَوْضِعِ يَدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"، فَأَمَرَ بِهِمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُخِذَ بِأَرْجُلِهِمْ فَسُحِبُوا فَأُلْقُوا فِي قَلِيبِ بَدْرٍ.

دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې چه نبي عليه السلام خپل ملګري راوغوښتل ټول دبدر طرف ته لاړل يكدم ورته دقريشو داوبوراوړلو والا اوښ ملاو شو او يوتور غلام ورسره وو دبنی الحجاج قبيلې والا صحابه كرامو اونيو و اوتپوس ئې ترې اوكړو او ورته ئې اووئيل شابه اووايه ابوسفيان چرته دې؟ هغه اووئيل په الله مې دې قسم وي زه دابوسفيان په حال نه يم خبر لېكن د قريشو خلق راغلی دی چه په هغوی كښې ابوجهل، عتبة بن ربيعه، شيبه بن ربيعه، او اميه بن خلف شامل دې، كله چه ده دا اووئيل نوصحابه كرامو ده لره وهل وركول شروع كړل ده اووئيل ماپرېږدئ زه درته وايم كله چه ئې پرېخودو نوده هم دا اووئيل چه په الله مې دې قسم وي ماته دابوسفيان حال نه دې معلوم البته قريشيان راغلی دی چه ابو جهل عتبه اوشيبه دربيعه ځامن او اميه بن خلف پكښې دی، په دې وخت كښې نبی عليه السلام په مونځ ولاړ وو اودا واقعه ئې اوريدله كله چه دمونځ نه فارغ شو نوونې ونيل زمادې په هغه ذات قسم وي دچا په لاس كښې چه زماروح دې كله چه دې تاسوته رښتيا وائی نوتاسوتې وهئ اوچه كله درته دروغ وائی نوبيا ئې پرېږدئ ابوسفيان خودشام دقافلې سره مال راوړې راروان دې اودقريشو خلق دهغه دبچ كولو دپاره راغلی دی هسې نه چه داسې اوشی چه دمسلمانانو قافله په مال باندې قبضه اولګوي ليكن دمسلمانانو قافلې مقابله كول غوښتل د كافرانوسره اوهمداسې اوشول، انس وائی نبی عليه السلام اوفرمائيل دادفلانی دراغورځېدو ځائې دې صبا اوهلته ئې خپل لاس كېخود و چه دادفلانی دراغورځيدو ځائې دې صبا اوهلته يسې هم لاس كېخودو انسه په قسم سره اووئيل چه بيايوكس هم دهغه ځائې نه تېر نه شو په كوم ځائې باندې چه نبی عليه السلام لاس ايخودلې وو دنبی عليه السلام په حكم سره دوی دخپونه اونيول شول او راښكلې شول او په بدركښې يوې جورې كندې ته اوغورځولې شول

مضمون حديث

دا دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم دعوت وركړو خپلو اصحابو ته د بدر په طرف باندې د تلو هغوی بدر ته اورسيدل، پس د مسلم په روايت كښې دی ﴿ فانطلقوا حتى نزلوا بدرا ﴾ هلته تلو سره صحابه كرامو د قريشو اوبه اوړونكې اوښان اوليدل «روايا جمع د راويه ده، راويه په اصل كښې خو د اوبو مشك ته وئيلې شی، بيا روستو د دې استعمال په هغه اوښ باندې شروع شو چه په هغې باندې د اوبو مشكونه راوړلې شی» په دې اوښانو كښې د قبيله بنو حجاج يو تور غلام يعنی د هغوی شپونكې وو، صحابه كرامو هغه راونيولو او د هغه نه ئې تپوس اوكړو : ﴿ اين ابو سفيان ﴾ چه ابو سفيان د قافلې رئيس چرته دې. يعنی كومې قافلې چه د شام نه مال تجارت راوړلو هغه چرته ده. د صحابه كرامو په تپوس باندې په هغه جواب وركولو : والله ما ته خو د هغه په باره كښې هېڅ علم نشته، خو زه تاسو ته د يوې بلې خبرې خبر دركوم چه دا د قريشو لښكر د مكې نه راغلې دې په هغې كښې ئې د ابوجهل وغيره

ډیرو قریشي سردارانو نومونه واخستل یعنی عتبه بن ربیعه، شیبه بن ربیعه او امیه بن خلف، صحابه کرامو به د هغه په دې خبره باندې هغه غلام وهلو، او هم دا تپوس به ئې ترې کولو چه ابوسفیان چرته دې؟ هغه به وئیل ما پرېږدئ وائم درته! چه کله به ئې پرېخودلو نو بیا به ئې اوئیل چه د ابو سفیان نه خو زه نه یم خبرخو د کفار قریش خبر ماته شته چه هغوی د مکې نه راغلې دی او دلته راجمع دی او په هغوی کښې فلانی فلانی مشرکان هم دی، چه کله دا سوال او جواب کیدل هغه وخت رسول اللهﷺ په مانځه کښې مشغول وو خو رسول اللهﷺ په مانځه کښې دا ټولې خبرې اوریدلې، چه کله د مانځه نه فارغ شو نو هغه د صحابه کرامو طرف ته متوجه کیدو سره اوفرمائیل : قسم دې په هغه ذات د چا په قبضه کښې زما روح دې واقعی خبره هغه ده چه کومه تاسو ته دا غلام کوی یعنی دا چه ماته د ابوسفیان خبر نشته، نو بیا خو تاسو هغوی وهئ، او چه کله درته هغه دروغ وائی نو تاسو هغه پرېږدئ، د دروغو نه مراد د هغه دا وینا ده چه ښه! زه ئې درته اوس وائم خو د هغه دا دروغ وئیل صحابه کرامو ته د دهوکې ورکولو دپاره نه وو، صحابه کرامو ته خو هغه صحیح خبره کوله بلکه دا د خپل ځان د بچ کولو دپاره ده. بیا رسول اللهﷺ د دې غلام والا خبرې تصدیق کولو سره اوفرمائیل چه اوګورئ دا د قریشو کفار دی کوم چه د ابوسفیان د بچ کولو دپاره راغلې دی، بیا ئې د پیشن ګوئی په طور اوفرمائیل، چونکه هغه ته معلومه شوې وه چه جنګ ته به خبره رسیږی او په هغې کښې به مسلمانانو ته فتح ملاویږی. ﴿ووضع يده على الارض وهذا مصرع فلان غدا﴾ رسول اللهﷺ به په زمکه باندې لاس وهلو او دا به ئې فرمائیل چه صبا له به دا ځائې د فلانی کافر د غورځیدو وی او قتل کیدو وی، د هغه کافر نوم به ئې اخستلو، او دا ځائې به د فلانی کافر د راپریوتلو وی، درې کرته رسول اللهﷺ هم دغه شان نوم اخستلو سره اوفرمائیل، وړاندې راوی قسم خوړلو سره وائی چه د کوم کافر د جدا کیدو ځائې رسول اللهﷺ متعین کړې وو، هغه خاص هم په هغه ځائې کښې راپریوتلو، او بیا هغه قتل کړې شوی د خپو نه اونیولې شو او قلیب بدر ته ګزار کړې شو، د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت ښکاره دې یعنی د کافر قیدی د څه مصلحت په بنیاد وهل، قلیب هغه کوهی ته وئیلې شی چه په هغې باندې غاړه نه وی، دا کوهې په دې بدر مقام کښې وو کوم چه اوس پاتې نه شو. والحديث اخرجه مسلم اتم منه قال المنذري.

باب في الأسير يُكرَهُ عَلَى الإسلامِ

د اسلام په قبلولو قیدیان مه مجبوروئ

دا باب د "باب الاسير يكره على الكفر" مقابل دې کوم چه مخکښې تیر شوې دې، هلته هم مونږ دې راتلونکی باب ته اشاره کړې وه یعنی یو کافر قیدی په اسلام باندې مجبور کول څنګه دی؟ جواب دا دې چه داسې نه دی کول پکار،

(د کافر قیدیانو سره څه معامله کول پکار دی؟)

بیا د کافر قیدیانو سره څنګه معامله کول پکاردی؟ هغه په کتب فقه او حدیث کښې مشهور دی د جمهورو په نزد د هغه سره څلور قسمه معامله کولې شی، قتل، استرقاق، من ، فدا،

یعنی قتل کول، یا هغه لره غلام جوړول، یا په هغه باندې احسان کولو سره هغه پریخودل، یا فدیه اخستلو سره پریخودل دا څلور واړه اختیارات د ائمه ثلاثه په نزد مشروع دی، د احنافو په نزد دا څلور اختیارات په شروع کښې دی روستو د هغوی په نزد په دې څلورو کښې دوه یعنی من او فداء، منسوخ شو، او قتل او استرقاق دا دوه باقی پاتې شو.

[۲۶۸۲]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُمَرَ بْنِ عَلِيٍّ الْمُقَدَّمِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَشْعَثُ بْنُ عَبْدِ اللهِ يَعْنِي السِّجِسْتَانِيَّ. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ بَشَّارٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ وَهَذَا لَفْظُهُ. ح وحَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، قَالَ: حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَتِ الْمَرْأَةُ تَكُونُ مِقْلَاتًا فَتَجْعَلُ عَلَى نَفْسِهَا إِنْ عَاشَ لَهَا وَلَدٌ أَنْ تُهَوِّدَهُ فَلَمَّا أُجْلِيَتْ بَنُو النَّضِيرِ كَانَ فِيهِمْ مِنْ أَبْنَاءِ الْأَنْصَارِ فَقَالُوا: لَا نَدَعُ أَبْنَاءَنَا فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ سورة البقرة آیه ۲۵۶، قَالَ أَبُو دَاوُد: الْمِقْلَاتُ الَّتِي لَا يَعِيشُ لَهَا وَلَدٌ.

دابن عباس نه روایت دې فرمائی چه دجاهلیت په زمانه کښې چه به دکومې ښځې بچې ژوندې نه پاتې کیدل نوهغې به دانذر او منلوکه چرې بچې مې ژوندې پاتې شو نو یهودي کوم به ئې، کله چه دبنونضیر قبیلې یهودیانوته دملك پریښودو حکم اوشو نوپه هغوی کښې یوڅو انصاري هلکان هم روانډا رو ووئیل چه مونږ خپل هلکان به پرېږدونو الله پاك داحکم نازل کړو چه ددین په قبلولوکښې زبردستي کول نشته. ابوداود وائی چه المقلات هغوښځوته وئیلي شي دچاچه بچي ژوندې نه پاتې کیږي.

شرح حدیث

مدینه منوره کښې دوه قبیلې د مشرکانو اوس او خزرج اباد وو، دا خلق چه په اسلام کښې داخل شو او د مهاجرینو هغوی ایواء او نصرة اوکړو نو هغوی ته انصار اوئیلې شو، نو د هغوی نه علاوه په مدینه کښې اهل کتاب یعنی یهود ډیر په کثرت سره اباد وو، مشرکین مدینه د اهل کتاب په خپل ځان باندې فوقیت او فضیلت منی، د هغوی د اهل علم کیدو د وجې نه ځکه چه مشرکان خو مطلق وو، د باب په دې روایت کښې دا دی چه د اسلام د راوړلو نه مخکښې کوم چه انصاری زنانه (مشرکه) مقلاة کیدو، یعنی د چا ماشوم چه ژوندې نه پاتې کیږی نو ډیر وخت دا قسم زنانه د خپل حمل په زمانه کښې دا نذر منی چه که زما ماشوم د پیدا کیدو نه پس ژوندې پاتې شو نو زه به هغه یهودی جوړ کړم، پس د دې قسم ډیر زیات ماشومان یهودی جوړیدو سره په یهود کښې شامل شو، په روایت کښې دی ﴿ فلما اجلیت بنو النضیر کان فیهم من ابناء الانصار الخ ﴾ یعنی چه کله د بنو نضیر یهود د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د مدینې منورې نه جلا وطن کولې شو نو په دې کښې پورته ذکر شوې قسمونو کښې ابناء الانصار هم وو، نو دې ابناء الانصار پلارانو دا خبره کړې ده چه مونږ خپل ځامن نه پرېږدو، یعنی هغوی به منع کوو او زبردستی به ئې په اسلام کښې داخلوو نو په دې باندې دا آیت کریمه نازل شو ﴿ لا اکراه فی الدین قد تبین الرشد من الغی ﴾ ګویا په دې آیت کریمه کښې انصار د دې خبرې نه منع کړې شوې دی چه هغوی به په زبردستئ باندې خپل اولاد لره مسلمان جوړولو سره په مدینه کښې ساتی.

---

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۴۵۹) (صحیح)

په ترجمة الباب کښې چه کومه مسئله ذکر شوې وه، د هغې حکم معلوم شو یعنی لا یجوز اکراه الاسیر علی الاسلام... قال ابوداود : المقلات التی لا یعیش لها ولد... امام ابوداود ﷫ هم د امام ترمذی ﷫ په شان د حدیث د بعض الفاظ غریبه تفسیر کوی په دې وجه وئیلې شی چه ﴿ مقلاة ﴾ چه کوم لفظ په روایت کښې راغلې دې د هې معنی دا ده. داسې زنانه ته په پښتو کښې میراته وئیلې شی. والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

ایا په جهاد مع الکفار کښې اکراه فی الدین نشته؟

د دې آیت کریمه د وجې نه دا سوال پیدا کیږی چه ایا د کفارو سره چه کوم جهاد کولې شی په دې کښې اکراه نشته په ظاهره کښې خو د دې جواب دا دې چه دا خو صحیح ده چه د جهاد په ابتداء کښې د اسلام خبره کیخودلې شی خو بیا د هغې نه روستو د جزیه نمبر هم راځی. د اسلام نه قبلولو په صورت کښې په قبول جزیه باندې د هغوی سره قتال ختمولې شی، خو دا جواب د احنافو او مالکیانو په مسلک خو صحیح دې چه د هغوی په نزد د قبول جزیه صورت عام دې، د اهل کتاب او مشرکانو ټولو نه اخستلې کیدې شی، خو د شوافعو او حنابله په نزد چونکه د جزیه حکم د اهل کتاب سره خاص دې، د مشرکانو نه نه شی اخستلې، لهذا د دې دواړه امامانو په مسلک باندې اشکال باقی پاتې شو، دې حضراتو د دې جواب دا ورکړې دې چه د ﴿ لا اکراه فی الدین ﴾ نزول د اهل کتاب په واقعه کښې دې لکه چه په حدیث الباب کښې ذکر شوې شان نزول نه معلومیږی، لهذا د دې آیت کریمه تعلق د مشرکانو سره نه شو، ګویا د مشرکانو په باره کښې د اکراه ممانعت نشته، په دې وجه هغوی سره جهاد کولې شی او جزیه ترې نه شی اخستلې خو د احنافو د طرف نه دا وئیلې کیدې شی چه اګر چه د آیت شان نزول په اعتبار سره خاص دې خو د عموم الفاظ. پیش نظر خو د هغې حکم دې ﴿ العبرة لعموم اللفظ لا لخصوص السبب ﴾ د پورته ذکر شوی اشکال نور هم ډیر جوابونه ورکړې شوې دی، مثلا دا چه د اکراه تعریف دا دې ﴿ الزام الغیر بما لیس فیه خیر ﴾. چه یو سړی لره په داسې خبره باندې مجبور کول چه په هغې کښې څه خیر نه وی، او اسلام خو صرف خیر دې. لهذا اکره په اسلام باندې دا بالکل خیر دې نه. یو جواب دا هم ورکولې شی چه ﴿ الا اکراه فی الدین ﴾ دا د جهاد او قتال په آیتونو باندې منسوخ دې.

بَابُ قَتْلِ الأَسِيرِ وَلاَ يُعْرَضُ عَلَيْهِ الإِسْلاَمُ

د اسلام پیش کولو نه بغیر د قیدیانو د قتل کولو بیان

یعنی کافر قیدی باندې د اسلام د پیش کولو نه بغیر د هغه قتل کول، او په هغه دعوت بادې اکتفاء کول کوم چه د قتال نه مخکښې ورکولې شی

[٢٦٨٣] (¹) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَسْبَاطُ بْنُ نَصْرٍ، قَالَ زَعَمَ السُّدِّيُّ، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ سَعْدٍ، قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ فَتْحِ مَكَّةَ أَمَّنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ إِلاَّ أَرْبَعَةَ نَفَرٍ وَامْرَأَتَيْنِ وَسَمَّاهُمْ، وَابْنُ أَبِي سَرْحٍ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ قَالَ: وَأَمَّا ابْنُ أَبِي سَرْحٍ فَإِنَّهُ اخْتَبَأَ عِنْدَ عُثْمَانَ بْنِ

¹): سنن النسائي/المحاربة ١١ (٤٠٧٢)، ويأتي عند المؤلف في الحدود ١(٤٣٥٩)، (تحفة الأشراف: ٣٩٣٧) (صحيح)

عَفَّانَ فَلَمَّا دَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ إِلَى الْبَيْعَةِ جَاءَ بِهِ حَتَّى أَوْقَفَهُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ بَايِعْ عَبْدَ اللَّهِ فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَنَظَرَ إِلَيْهِ ثَلَاثًا كُلُّ ذَلِكَ يَأْبَى فَبَايَعَهُ بَعْدَ ثَلَاثٍ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى أَصْحَابِهِ فَقَالَ: أَمَا كَانَ فِيكُمْ رَجُلٌ رَشِيدٌ يَقُومُ إِلَى هَذَا حَيْثُ رَآنِي كَفَفْتُ يَدِي عَنْ بَيْعَتِهِ فَيَقْتُلُهُ؟ فَقَالُوا: مَا نَدْرِي يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا فِي نَفْسِكَ أَلَا أَوْمَأْتَ إِلَيْنَا بِعَيْنِكَ قَالَ: إِنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِنَبِيٍّ أَنْ تَكُونَ لَهُ خَائِنَةُ الْأَعْيُنِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: كَانَ عَبْدُ اللَّهِ أَخَا عُثْمَانَ مِنَ الرَّضَاعَةِ، وَكَانَ الْوَلِيدُ بْنُ عُقْبَةَ أَخَا عُثْمَانَ لِأُمِّهِ وَضَرَبَهُ عُثْمَانُ الْحَدَّ إِذْ شَرِبَ الْخَمْرَ.

دسعد رضی اللہ عنہ نه روايت دې فرمائی هركله چه دفتح مكې ورځ راغله نونبی علیہ السلام ټولو خلقوته امن وركړو مگر څلور كسانواو دوه ښځوته ئې ورنكړود كوموچه راوي نومونه اخستلي دي په كوموكښې چه ابن سرح هم وو، ځكه چه دې مرتد شوي وو)ابن أبی سرح دعثمان نه سره ځان پټ كړوهركله چه نبی علیہ السلام خلق ددعوت دپاره را اوغوښتل نوعثمان هندی هم راوستو تردې چه دنبی علیہ السلام په خوا كښې ئې ودروو اوعرض ئې وكړو اې دالله رسوله دعبدالله نه بيعت واخلئ نبی علیہ السلام ورته وكتل اوبيعت ئې ورسره ونكړو، درې ځله داسې وشول اخرددرې پيرونه پس ئې ورسره بيعت وكړو، بيادې نه پس نبی علیہ السلام صحابه كراموته اوفرمائيل: ايا په تاسوكښې څوك عقل مند نشته چه پاڅيدلی وې اوكله چه مادده دبيعت نه انكار وكړو چه دده سرئې وهلې وې؟ صحابه كرامترعرض وكړوچه اې دالله رسوله مونږ ته ستادزړه حال معلوم نه وو كچرې تامونږه په اشاره پوه كړې وې نوښه به وه او مونږبه دحكم تعميل كړې وو اودده سربه مووهلې وو، نبی علیہ السلام اوفرمائيل چه دنبی سره دانه ښائي چه په سترګواشارې وكړې ابوداود وائی چه ابن أبی سرح دعثمان رضاعي ورور وو او وليد بن عقبه ئې مورنې ورور وو، دې دشرابوپه څكلوګيرشو اوعثمان ورباندې حد جاري كړو.

سيدنا سعد بن ابی وقاص رضی اللہ عنہ فرمائی چه رسول الله ﷺ د فتح مكه په ورځ باندې خلقو يعنی اهل مكه ته امن وركړو (خو دا امن وركول مطلقا نه دی بلكه بعض شرطونو سره وو، لكه چه هغه اوفرمائيل ﴿ من دخل الحرم فهو امن، ومن اغلق بابه فهو امن ومن القی السلاح فهو امن ﴾ سوا د څلورو سړو او زنانو نه، چه د چا نومونه راوی بيان كړې وو چه په هغې كښې ابن ابی السرح نوم وو، په دې روايت كښې خو هم دا دی يعنی د څلورو واړو سړو استثناء، حضرت په دې كښې د نورو رواياتو په بنياد اضافه كولو سره يولس سړی او شپږ زنانه تفصيلی بيان كړې دی، مطلب دا دې، مطلب دا دې چه بعض مشركين هغه نه وو معاف كړې بلكه د هغه وينه ئې په هر حال كښې مباح كړې وه، وړاندې په روايت كښې د عبدالله بن ابی السرح په باره كښې تفصيل دې، دا په اصل كښې د سيدنا عثمان رضی اللہ عنہ رضاعی رور وو، د هغه په باره كښې دا ليكلې شوې دی چه هغه د فتح مكه نه مخكښې اسلام قبول كړې وو، ﴿ ثم ارتد ثم اسلم ﴾ په حديث الباب كښې دی چه دې د سيدنا عثمان رضی اللہ عنہ سره پټ شوې وو، بيا چه كله رسول الله ﷺ اهل مكه د بيعت علی الاسلام دپاره طلب كړل نو سيدنا عثمان، ابن ابی السرح لره اخستلو سره د هغه خدمت ته حاضر شو، او هغه ئې د هغه مخې ته اودرولو، او عرض ئې اوكړو يا رسول الله ﷺ د هغه نه هم بيعت واخلئ، رسول الله ﷺ خپل سر مبارک اوچت كړو او هغه ته ئې اوكتل او درې كرته ئې هم

دغه شان اوکړل، هر ځل رسول اللهﷺ د هغه د بیعت نه انکار فرمائیلو، یعنی د هغه طرف ته ئې د بیعت دپاره لاس نه ور اوږدولو، د دریم ځل نه پس رسول اللهﷺ هغه سره بیعت اوکړو، او بیا ئې د صحابه کرامو طرف ته توجه کولو سره اوفرمائیل چه ایا په تاسو کښې ځوک پوهه سړې نه وو چه هر کله ما د هغه د بیعت نه لاس اخستلو نو هغه اودریدلې وې او هغه ئې قتل کړې وې، په دې باندې بعض صحابه کرامو عرض اوکړو چه یا رسول اللهﷺ مونږ ته معلومه نه وه چه ستاسو په زړه کښې څه دی او دا ئې هم عرض اوکړو چه ﴿ الا اومات الینا بعینک ﴾ چه تاسو په خپلو سترګوسره اشاره ولې اونکړه نو وې فرمائیل﴿ لا ینبغی لنبی ان تکون له خائنة الاعین﴾ یعنی دا خبره د نبی د شان خلاف ده چه هغه په داسې موقع باندې په سترګو سره اشاره اوکړی، یعنی د نبی یو کار هم کچا او سرسری نه وی، بلکه د هغه خو هر یو کار واضح او محکم وی هغه په سترګو سره اشارې نه کوی.

قال ابوداؤد : الخ.... مصنفؒ فرمائی چه عبدالله بن ابی السرح د سیدنا عثمانؓ رضاعی رور وو، وړاندې یوه بله خبره استطرادا د علمی فائدې دپاره د مقام مناسبت سره بیان فرمائی : ﴿ وکان الولید بن عقبة الخ ﴾ یعنی عبدالله بن ابی السرح خو د هغه رضاعی رور و کوم چه ګډوډ قسم سړې وو هم دغه شان حال د ولید بن عقبه هم وو، هغه د سیدنا عثمانؓ اخیافی رور وو هغه هم ډیر ګډوډ وو په شرابو باندې عادت وو هم په دې وجه باندې سیدنا عثمانؓ په هغه باندې د شرابو حد هم جاری کړې وو، حضرت په بذل کښې دلته یو سوال او جواب لیکلې وو.

په حدیث کښې اشکال او د هغې جواب

هغه دا چه عبدالله بن ابی السرح ته چه کله سیدنا عثمانؓ پناه ورکړه نو بیا د هغه قتل څنګه جائز وو؟ نو بیا رسول اللهﷺ صحابه کرامو ته د هغه د قتل په ترک باندې ولې تنبیه اوفرمائیله؟ جواب د دې ظاهر دې چه هر کله رسول اللهﷺ هغه مهدر الدم (مباح الدم) کړې وو نو د سیدنا عثمانؓ په پناه ورکولو سره څه کیږی. (من البذل) زه وائم چه دلته د دې اشکال نه علاوه یو بل قوی اشکال دا دې چه ﴿ انه کیف جاز قتله وقد اسلم؟ ﴾ یعنی د بیعت علی الاسلام دپاره راغلې وو او په اسلام کښې د داخلیدو ئې مضبوطه اراده کړې وه، د دې جواب علامه سندهی په حاشیه د نسائی کښې دا ورکړې دې چه د رسول اللهﷺ په زمانه کښې د انسان اسلام د رسول اللهﷺ په رضا او قبول باندې موقوف وو، چه د چا اسلام به هغه منظور کړو نو هم د هغه اسلام به معتبر وو والا فلا، د ابوداود په کتاب الجنائز کښې هم د دې قسم یوه بله واقعه حدیث کښې راغلې ده، هلته هم رسول اللهﷺ بیعت کولو سره خپل لاس منع کړو، د دې په شرح کښې حضرت سهارنپوری د اشکال مذکور هم دا جواب کړې دې، هم دغه شان د عبدالله بن ابی سرح دا واقعه په کتاب الحدود کښې هم راروانه ده، هلته حضرت د دې اشکال او جواب طرف ته تعرض کړې دې. والحدیث اخرجه النسائی قاله المنذری.

[٢٦٨٤]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، قَالَ: حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَعِيدِ بْنِ يَرْبُوعٍ الْمَخْزُومِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنِي جَدِّي، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ: "أَرْبَعَةٌ لَا أُؤَمِّنُهُمْ فِي حِلٍّ وَلَا حَرَمٍ فَسَمَّاهُمْ"، قَالَ: وَقَيْنَتَيْنِ كَانَتَا لِمِقْيَسٍ فَقُتِلَتْ إِحْدَاهُمَا وَأُفْلِتَتِ الْأُخْرَى فَأَسْلَمَتْ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: لَمْ أَفْهَمْ إِسْنَادَهُ مِنِ ابْنِ الْعَلَاءِ كَمَا أُحِبُّ.

دسعيد بن يربوع مخزومي نه روايت دې چه نبي ﷺ دفتح مکې په ورځ فرمائيلي وو څلورکسان داسې چه نه ورته په حل کښې اونه حرم کښې امن ورکوم اودهغوی نومونه ئې واخستل راوي وائي اودمقيس دوه وينځې ئې هم ذکرکړې يوه په دوی کښې قتل کړې شوه او دويمه او تختيده اوبيا مسلمانه شوه. امام ابوداود وائی زه ددې روايت اسناد دابي العلاء نه نه خوښوم.

دا هم د تير شوی روايت په شان دې هلته څلور سړی او د ﴿ امراتين ﴾ ذکر راغلې دې، دلته په ځائې د ﴿ امراتين ﴾ ﴿ قينتين ﴾ دې، ﴿ قينة ﴾ امة مغنية ته وئيلې شی، او په مطلق وينزه ئې هم اطلاق کيږي کوم چه د مقيس بن صبابه وو، او وئيلې شوې دی چه د ابن خطل وو چه په هغې کښې يو خو قتل کړې شو، او بله اوتختيدله او بيا ئې روستو اسلام هم قبول کړې وو.

[٢٦٨٥]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ عَامَ الْفَتْحِ وَعَلَى رَأْسِهِ الْمِغْفَرُ فَلَمَّا نَزَعَهُ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ ابْنُ خَطَلٍ: مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ فَقَالَ: اقْتُلُوهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: ابْنُ خَطَلٍ اسْمُهُ عَبْدُ اللَّهِ وَكَانَ أَبُو بَرْزَةَ الْأَسْلَمِيُّ قَتَلَهُ.

دانس بن مالك رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبي ﷺ دفتح مکې په کال مې ته داخل شواودنبي ﷺ په سرباندې ..خود، وو کله چه هغه دسرنه .وخود، لرې کړونويوکس ورته راوستلې شو اووئې وئيل چه اې دالله رسوله ابن خطل يم او دکعبې په غلاف پورې انختلې وو نبي ﷺ اوفرمائيل قتل ئې کړئ. ابوداود وائی دابن خطل نوم عبدالله وو، اوده لره ابو برزه اسلمي قتل کړو.

مضمون حديث

رسول الله ﷺ د فتح مکه په موقع باندې په مکه کښې داخل شوې وو په داسې حال کښې د هغه په سر مبارک باندې خپله (د اوسپنې ټوپۍ) وه، چه کله ئې هغه کوزه کړه او کيخودله يعنی د ضرورت پوره کيدو نه پس نو بيا يو سړې راغلو او عرض ئې اوکړو چه ابن خطل (کوم چه ئې مباح الدم کړې وو) د کعبې د غلاف پسې اينختلې ولاړ دې، يعنی د هغې په ذريعه د پناه غوښتلو دپاره (بيا هم) هغه اوفرمائيل چه هغه قتل کړئ، مصنف فرمائی چه د ابن خطل نوم عبدالله دې او کوم سړی چه هغه قتل کړې وو د هغه نوم ابو برزه الاسلمی وو،

[١]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٤٧٤) (ضعيف)

[٢]: صحيح البخاري/جزاء الصيد ١٨ (١٨٤٦)، الجهاد ١٦٩ (٣٠٤٤)، المغازي ٤٨ (٤٢٨٦)، اللباس ١٧ (٥٨٠٨)، صحيح مسلم/الحج ٨٤ (١٣٥٧)، سنن الترمذي/الحج ١٨ (١٦٩٣)، الشمائل ١٦ (١٠٦)، سنن النسائي/الحج ١٠٧ (٢٨٧٠، ٢٨٧١)، سنن ابن ماجه/الجهاد ١٨ (٢٨٠٥)، (تحفة الأشراف: ١٥٢٧)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ٨١(٢٤٧)، مسند احمد (١٠٩/٣، ١٦٤، ١٨٠، ١٨٦، ٢٢٤، ٢٣١، ٢٣٢، ٢٤٠)، سنن الدارمي/المناسك ٨٨ (١٩٨١)، والسير ٢٠ (٢٥٠٠) (صحيح)

زه وائم چه وئيلې شوې دی چه هغه شريک بن عبده العجلانی قتل کړې وو، په بذل کښې د تاريخ خميس نه نقل کړې دې چه په جاهليت کښې د ابن خطل نوم اول عبد العزی وو، رسول الله ﷺ د اسلام قبلولو نه پس د هغه نوم بدلولو سره عبد الله کيخودلو او خطل دهغه د پلار لقب وو، نوم د هغه عبد مناف وو کما فی القسطلانی. د ابن خطل د قتل وجه امام خطابی دا ليکلې ده چه رسول الله ﷺ هغه د يو انصاری سره په څه کار پسې ليږلې ووو او هغه انصاری ئې د هغه امير جوړ کړې وو په لاره کښې چه کله روان وو نو ابن خطل هغه انصاری قتل کړو، او د هغه سامان ئې لوټ کړو، په دې وجه رسول الله ﷺ سره د دې چه هغه د کعبې په غلاف پورې اينختلې وو هغه ته امان ورنکړو، او هغه ئې په قصاص کښې قتل کړو، او بعض شارحينو ليکلې دی کما فی القسطلانی (ص ۳۱۷ ج ۳) چه په ابن خطل کښې متعدد موجبات قتل جمع شو، اول جنايت قتل او کفر او ارتداد، رسول الله ﷺ ايذاء او هجو، پس هغه به هم په شعر کښې د رسول
الله ﷺ بدی بيانوله او په خپلو وينزو باندې به ئې هم په خوش اوازئ سره بدی بيانوله

په حديث کښې دوه اختلافی فقهی مسائل

يو د قصاص فی الحرم نه متعلق او يو دخول حرم بغير د احرام نه متعلق، احرام والا مسئله په کتاب الحج کښې تيره شوې ده، د شافعيه مسلک دا دې چه د کوم سړی اراده د دخول حرم د حج او عمره نه علاوه په بل يو حاجت سره که هغه حاجت متکرره يا غير متکرره، په دې باندې احرام واجب نه دی، د احنافو په نزد مطلقا واجب دې، بعض شوافع په خپل تائيد کښې دا حديث هم پيش کوی، زمونږ د طرف نه دا جواب ورکړې شو چه په حديث کښې تصريح دې چه هغه اوفرمائيل : احلت لی ساعة من نهار... چه زما دپاره مکه د مختصر نه وخت دپاره حلال کړې شو، لهذا هم په دې وجه هغه رسول الله ﷺ بغير د احرام نه داخل شو، زمونږ دا جواب حافظ وغيره هم تسليم کړې دې، او بله مسئله ده يعنی د قصاص فی الحرم هغه دا ده چه که د جنايت وقوع خپله په حرم کښې شوې وی نو په دې صورت کښې قصاص فی الحرم بالاتفاق جائز دې او که يو سړې د حرم نه بهر جنايت کولو سره په حرم کښې داخل شی نو که د دې جنايت تعلق د نفس سره نه دې بلکه د اطرافو سره دې يعنی اندامونو سره نو بيا هم دا حکم دې، يعنی د دې بدله په حرم کښې جائز دې، او که هغه جنايت فی النفس دې يعنی که چاته خارج حرم قتل کولو سره قاتل حرم ته داخل شی، دا صورت اختلافی دې، په دې صورت کښې د احنافو او حنابله په نزد قصاص فی الحرم جائز نه دی، د شوافعو او مالکيانو په نزد په دې صورت کښې هم جائز دې، لهذا دا حديث د احنافو او حنابله خلاف کيدې شی، د دې جواب هم دا دې کوم چه د دې نه په مخکښې مسئله کښې تير شو چه د فتح مکه په ورځ باندې د هغه دپاره په مکه کښې قتال جائز کړې شوې وو، لهذا دا حديث زمونږ خلاف نه شی کيدې او بل احتمال دلته دا هم دې چه د ابن خطل جنايت هم په حرم کښې واقع شوې وو، فجاز قتله بالاتفاق. والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری.

بَابٌ فِي قَتْلِ الْأَسِيرِ صَبْرًا

د گرفتار کړې شوی قیدی د وژلو بیان

د «صبر» معنی د حبس او قید دې، د کافر دقتل دوه صورتونه دی چه دهغه قتل په میدان جنګ او جنګ کښې وی او دویم قسم د کافر قیدی قتل دې، یعنی کوم کافر قیدیان چه مونږ سره او زمونږ په قبضه کښې دی هغه لره قتل کول هم دې ته قتل صبرا وئیلې شی.

«قال السیوطی: کل من قتل فی غیر معرکة ولا حرب ولا خطاء فانه مقتول صبرا»

او په بذل کښې داسې دی چه کوم سړې لاس خپې تړلوسره او نیولو سره قتل کړې شی، دا قتل صبرا دې، د دې نه روستو چه کوم باب راروان دې هغه دې "باب فی قتل الاسیر بالنبل" په دواړو بابونو کښې فرق دا دې چه په اول باب کښې قتل صبراً نه مراد هغه قتل صبرا دې کوم چه بغیر د غش ئېنه وی یعنی بالسیف او په دویم باب کښې د قتل صبرا نه مراد هغه قتل دې کوم چه بالنبل وی قتل صبرا بالسیف، بالاتفاق جائز دې کوم چه په اولنی باب کښې مذکور دې او د بالنبل ممانعت چه راغلې دې هغه ناجائز دې، لکه چه د دواړو بابونو د احادیثو نه معلومیږی.

[٢٦٨٦] (¹) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ الرَّقِّيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ الرَّقِّيُّ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَبِي أُنَيْسَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: أَرَادَ الضَّحَّاكُ بْنُ قَيْسٍ أَنْ يَسْتَعْمِلَ مَسْرُوقًا، فَقَالَ لَهُ عُمَارَةُ بْنُ عُقْبَةَ: أَتَسْتَعْمِلُ رَجُلًا مِنْ بَقَايَا قَتَلَةِ عُثْمَانَ؟ فَقَالَ لَهُ مَسْرُوقٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ، وَكَانَ فِي أَنْفُسِنَا مَوْثُوقَ الْحَدِيثِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَرَادَ قَتْلَ أَبِيكَ قَالَ: مَنْ لِلصِّبْيَةِ قَالَ: النَّارُ فَقَدْ رَضِيتُ لَكَ مَا رَضِيَ لَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دابراهیم نه روایت دې فرمائی چه قیس بن ضحاك اوغوښتل چه مسروق دې عامل مقررکړې شي نوعماره بن عقبه ورته ووئیل چه ته داسې کس عامل مقرروې څوك چه دعثمان نه په قاتلانوکښې دې مسروق ورته ووئیل ماته حدیث بیان کړې دې عبدالله بن مسعود رضی الله عنه اوهغه په مونږ کښې ډیر معتبر شخص وو، هرکله چه ستادپلار قتل کول اوغوښتل نونبی علیه السلام ته ئې ووئیل چه زماد بچوخبربه څوك اخلي نبی علیه السلام اوفرمائیل اور، نوده ووئیل چه زه ستادپاره هغه څه خوښوم کوم چه نبی علیه السلام ستادپاره خوښ کړې وو (یعنی چه نه ددوزخ په اورکښې اوسوزی).

شرح حدیث

ضحاك بن قیس کوم چه په صغار صحابه کرام نه دې او د دمشق امیر وو هغوی یو ځل اراده اوکړه مسروق لره په یوځائې کښې د عامل جوړولو، نو په دې باندې عماره بن عقبه ضحاك ته اووې چه داسې سړې عامل جوړوی کوم چه د قاتلین عثمان نه یو باقی پاتې کیدونکې دې. (په دې دواړو کښې د څه وجې نه اختلاف او ناچاقی پیدا شوه) نو د دې په جواب کښې مسروق اووې (چه اودریږه څپله باره کښې هم واوره) ماته عبدالله بن

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩٥٦٠) (حسن صحيح)

Scanned with Ca

مسعود رضی الله عنه بیان کړو کوم چه زمونږ په نزد انتهائی قابل اعتماد وو چه رسول الله ﷺ چه کله د پلار د قتل اراده فرمائیلې وه یعنی عقبه بن ابی معیط (کوم چه د بدر په قیدیانو کښې وو) نو هغه ډیر د بې وسئ په حالت کښې رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو ﴿ من للصبية ﴾ چه هغه ما قتل کوی نو زما د ماشومانو به څه کیږی، د هغوی کفالت به څوک کوی. ﴿ قال: النار ﴾ رسول الله ﷺ اوفرمائیل د هغوی کفالت به اور کوی بیا وړاندې مسروق اووې چه زه هم ستا دپاره هغه خوښوم کوم چه ستا دپاره رسول الله ﷺ خوښ کړو.

د دې حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت داسې دې چه د عماره پلار عقبه بن ابی معیط قتل صبرا وو لکه چه حافظ ابن حجر د دې تصریح کړې ده. کما فی العون.

بَاب فِي قَتْلِ الْأَسِيرِ بِالنَّبْلِ

د تړلی شوی قیدي په غشو باندې د وژلو بیان

په دې باندې کلام په اول باب کښې راغلې دې.

[٢٦٨٧] (¹) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَشَجِّ، عَنِ ابْنِ تِعْلَى، قَالَ: غَزَوْنَا مَعَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ فَأُتِيَ بِأَرْبَعَةِ أَعْلَاجٍ مِنَ الْعَدُوِّ فَأَمَرَ بِهِمْ فَقُتِلُوا صَبْرًا، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ لَنَا غَيْرُ سَعِيدٍ، عَنِ ابْنِ وَهْبٍ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: بِالنَّبْلِ صَبْرًا فَبَلَغَ ذَلِكَ أَبَا أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيَّ، فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَنْهَى عَنْ قَتْلِ الصَّبْرِ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ كَانَتْ دَجَاجَةٌ مَا صَبَرْتُهَا"، فَبَلَغَ ذَلِكَ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ فَأَعْتَقَ أَرْبَعَ رِقَابٍ.

دعبید بن تعلی نه روایت دې چه مونږه د عبدالرحمن بن خالد بن ولید په ملګرتیا کښې جهاد اوکړو اوهغوی ته څلور قوی کافران دشمنانونه په قید کښې راوستې شو اودهغوی په حکم باندې نیولې شوي قتل کړې شول ابوداود وائی دسعیدنه علاوه نورو خلقو دا روایت داسې بیان کړې دې چ په غشوباندې اوویشتلې شول کله چه داخبر ابوایوب ته ورسیدو نوهغه اووئیل مادنبی علیه السلام نه اوریدلی دی چه دداسې قسم قتل کولونه ئې منع فرمائیلی ده زمادې په هغه ذات قسم وي دچا په لاس کښې چه زماروح دې چه جرګه به هم زه په داسې مرګ باندې مړه نکړم (یعنی دتړلو په حالت کښې) کله چه داخبر عبدالرحمن بن خالد بن ولیدته اورسیدو نوهغه څلور غلامان ازاد کړل.

﴿ فاتی باربعة اعلاج من العدو ﴾... ﴿ اعلاج ﴾ د ﴿ علج ﴾ جمع ده، یعنی درونډ سړي، خاص کر د کفار عجم نه. د حدیث مضمون دا دې چه په یوه غزوه کښې د خالد بن الولید خوئي عبدالرحمن سره څلور کافر دشمنان راوستلې وو، هغوی قتل صبرا کړل یعنی بالنبل، چه کله سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه ته د دې خبر ملاؤ شو نو هغه اوفرمائیل چه ما د رسول الله ﷺ نه خپله واوریدل چه هغه به د دغه شان قتل صبرا نه منع کوله، والله انسان خو انسان دې که یوه مرغئ وغیره هم وی نو زه هغه لره داسې قتل نه کړم چه کله د ابو ایوب انصاری دا خبره عبدالرحمن ته اورسیده نو هغه د دې خپلې غلطئ تلافی اوکړه او په تدارکښې څلور غلامان ازاد کړل.

(¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٤٧٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٢٢/٥)، سنن الدارمي الاضاحي ١٣ (٢٠١٧) (حسن)

د دې دويم باب د حديث د تقابل نه معلوميږي چه د اول باب په حديث کښې، کوم چه قتل صبرا وو هغه بالسيف وو کوم چه جائز او ثابت دې، د کتاب الاطعمة په حديث کښې به راشي، ﴿ نهى عن المصبورة ﴾ او په يو روايت کښې دى ﴿ عن المجثمة ﴾ په دې حديث کښې هم دغه شان قتل صبرا ذکر دې، يعنى مرغئ وغيره ترلو سره خپل ځان ته مخامخ کينولو سره د ذبح کولو په ځائې غشې ويشتل.

بَابٌ فِي الْمَنِّ عَلَى الْأَسِيرِ بِغَيْرِ فِدَاءٍ

قيديان داحسان په طور بغير د فديې پريخودل

د دې نه مخکښې "باب فى الاسير يكره على الاسلام" کښې تير شوې دى چه د کافر قيدى سره څه څه معاملې کولې شى او په دې کښې چه کوم اختلاف دې هغه هم تير شوې دې، د ﴿من﴾ دوه صورتونه دى يو بغير د فديه نه او دويم بالفديه، د احنافو په نزد دا دواړه منسوخ دى، د مالکيانو په يو روايت کښې دى چه ﴿من﴾ که بالفديه وى نو جائز دې او بغير د فديه نه ناجائز.

د دې نه پس پيژندل پکار دى چه د فدا دوه قسمونه دى، ﴿ فداء الاسير بالمال ﴾ يعنى کافر قيدى په مال باندې پريخودل، او فداء الاسير بالاسير يعنى مسلمان قيدى په بدله کښې کفارو سره دلته اينختلې ده، کافر قيدى پريخودل، احناف په ظاهر الرواية کښې دواړه صورتونه ناجائز او منسوخ دى او د صاحبين په ن زد فداء الاسير بالاسير جائز دې، په تير باب کښې د ائمه اربعه مذاهب منجملا تير شوې دى په دې کښې مزيد تفصيل دې، د احنافو په نزد ﴿ فاما منا بعد واما فداء ﴾ چه د هغې جمهور قائل دى دا آيت کريمه منسوخ الحکم دې، او ناسخ د دې دپاره ايت السيف دې يعنى ﴿ اقتلوا المشركين حيث وجدتموهم ﴾ د سورة براءت آيت، او د من او فداء والا آيت په سورة محمد کښې دې، په نزول کښې آيت السيف يعنى آيت براءة بالاتفاق موخر دې.

[٢٦٨٨]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، قَالَ: أَخْبَرَنَا ثَابِتٌ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ ثَمَانِينَ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ هَبَطُوا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابِهِ مِنْ جِبَالِ التَّنْعِيمِ عِنْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ لِيَقْتُلُوهُمْ فَأَخَذَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِلْمًا فَأَعْتَقَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ سورة الفتح آية ٢٤ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ.

دانس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه دمکې والا اتيا کسان نبى عليه السلام اودهغه ملګروته دحديبى په کال باندې دجبال التنعيم نه دسحر دمونځ په وخت کښې راکوز شول دنبى عليه السلام دقتل کولودپاره، نونبى عليه السلام ژوندى اونيول او ازاد ئې کړل نو الله تعالى دا ذکر شوې آيت نازل کړو.

مضمون حديث

دا عام الحديبيه واقعه ده چه کله هغه په حديبيه کښې ايسار شوې دې نو يوه ورځ د سحر د

¹): صحيح مسلم/الجهاد ٤٦ (١٨٠٨)، سنن الترمذي/تفسير الفتح ٣ (٣٢٦٤)، (تحفة الأشراف: ٣٠٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٢/٣، ٢٩٠) (صحيح)

مونږ په وخت ناڅاپه هم دا کفار مکه د صحابه کرامو د قتل کولو دپاره راکوز شی، د الله پاک په فضل سره رسول اللهﷺ او د هغه اصحابو هغه قید کړو، په روایت کښې دی ﴿فاخذهم رسول الله صلی الله علیه وسلم سلما، سلما﴾ په کسرې د سین او فتح د سین دواړو سره دې، یعنی ﴿قیل صلحا وانقیادا﴾، یعنی ډیر په سهولت سره هغه د مسلمانانو په قبضه کښې راغلو بغیر د مزاحمت نه، خو رسول اللهﷺ هغه د قتل کولو په ځائې پریخودلو، نو په دې باندې آیت کریمه نازل شو ﴿وهو الذی کف ایدیهم عنکم الایة﴾ ګویا رسول اللهﷺ د دې طرز عمل کوم چه هغه اختیار کړې ده د دې تصویب او تحسین دې او دا حکمت او مصلحت تقاضا هم دا ده چه هغه پریخودلې شی، په بیان القران کښې دی یعنی ګینې جنګ به اوږد شوې وې.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت ظاهر دې، والحدیث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری.

[٢٦٨٩]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، قَالَ: أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأُسَارَى بَدْرٍ: "لَوْ كَانَ مُطْعِمُ بْنُ عَدِيٍّ حَيًّا ثُمَّ كَلَّمَنِي فِي هَؤُلَاءِ النَّتْنَى لَأَطْلَقْتُهُمْ لَهُ".

جبیر بن مطعم نه دخپل پلار نه روایت کوی چه نبی علیه السلام دبدرد قیدیانو په باره کښې اووئیل که چرې مطعم بن عدي ژوندې وې او ددې ګنده قیدیانو په باره کښې ئې ماته سفارش کړې وې نو ما به دهغه په خاطر دا پریخودلی وو.

شرح حدیث

یعنی رسول اللهﷺ جبیر بن مطعم ته اوفرمائیل (چه کله هغه رسول اللهﷺ ته د بدر د قیدیانو په باره کښې سفارشی جوړیدو سره راغلې وو) نو هغه اوفرمائیل چه که ستا پلار یعنی مطعم بن عدی نن ژوندې وې او بیا ئې د دې ګنده خلقو باره کښې ماته سفارش کړې وې نو ما به د هغوی په سفارش باندې دوی پریخودلې وې.

﴿نتنی﴾ جمع د ﴿نتن﴾ ده لکه د زمین جمع ﴿زمنی﴾، او یا جمع ده د ﴿نتین﴾ یعنی بدبویه او بدبودار څیز، د بدر قیدیانو نه رسول اللهﷺ د هغوی د کفر په وجه داسې تعبیر اوکړو، ﴿قال الله تعالی: انما المشرکون نجس﴾ وئیلې شوې دی چه د مطعم په رسول اللهﷺ باندې یو احسان وو هغه دا چه کله رسول اللهﷺ د طائف د سفر نه واپس راتلو، او اهل طائف هغه ته تکلیف ورکولو نو هغه وخت د رسول اللهﷺ مدد فرمائیلې وو. او وئیلې شوې دی چه هغه دا خبره د جبیر د تطییب قلب او تالیف دپاره کړې وه، ځکه چه هغه وخت هغه اسلام نه وو قبول کړې، والحدیث اخرجه البخاری ومسلم، قاله المنذری.

[1]): صحیح البخاري/فرض الخمس ١٦ (٣١٣٩)، والمغازي ١٢ (٤٠٢٤)، (تحفة الأشراف: ٣١٩٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٨٠) (صحیح)

بَاب فِي فِدَاءِ الأَسِيرِ بِالْمَالِ

د مال په عوض کښې د قیدیانو پریخودلو بیان

په دې باب کښې د فداء دوه قسمونو کښې د یو قسم بیان دې، په دې باب کښې مصنف د بدر د قیدیانو واقعه ذکر کړې ده چا سره چه رسول الله ﷺ فداء الاسیر بالمال معامله فرمائیلې وه چه د بدر په قیدیانو کښې د هر قیدی نه فدیه اخستلو سره هغه ازاد کړې وو.

[٢٦٩٠](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو نُوحٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا سِمَاكٌ الْحَنَفِيُّ قَالَ: حَدَّثَنِي ابْنُ عَبَّاسٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ بَدْرٍ فَأَخَذَ يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْفِدَاءَ أَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الأَرْضِ إِلَى قَوْلِهِ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ سورة الأنفال آية ٦٧-٦٨ مِنَ الْفِدَاءِ، ثُمَّ أَحَلَّ لَهُمُ اللَّهُ الْغَنَائِمَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ يُسْأَلُ عَنِ اسْمِ أَبِي نُوحٍ فَقَالَ: إِيشْ تَصْنَعُ بِاسْمِهِ اسْمُهُ اسْمٌ شَنِيعٌ، قَالَ أَبُو دَاوُد: اسْمُ أَبِي نُوحٍ قُرَادٌ، وَالصَّحِيحُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ غَزْوَانَ.

دعمر بن الخطاب رضی الله عنه نه روایت دې چه کله دبدرد قیدیانونه نبی علیه السلام فدیه واخستله اودوی ئې پریخودل الله تعالی دا ایت نازل کړو چه د نبی سره قیدیان نه ښائي ترڅو چه مشرکان مړه نه کړی (یعنی دمال په عوض کښې قیدیان پریخودل دالله تعالی خوښ نه شول چونکه په دې وخت کښې کافران غالب وو دعمر رضی الله عنه راې داوه چه داټول دې مړه کړې شي بیا ددې نه پس الله تعالی ددوی دپاره قیدیان د مال په عوض کښې پریخودل جائز وګرځول. ابوداود وائی دابونوح دنوم په باره کښې داحمدبن حنبل نه تپوس اوکړې شو نوهغه اووئیل چه دده په نوم باندې څه کوې؟ دهغه څه ښه نوم خونه دې، ابودود وائی چه دده نوم قراد دې اوصحیح خبره داده چه دده نوم عبدالرحمن بن غزوان دې۔

شرح حدیث

سیدنا ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه سیدنا عمر رضی الله عنه د دې آیت کریمه ﴿ ما کان لنبی ان یکون له اسری ﴾ شان نزول دا بیان فرمائیلې دې چه د دې نزول هغه وخت اوشو چه کله اسیران بدر فدیه اخستلو پریخودلو، په دې آیت کښې په دې باندې خبره تنبیه کړې شوې ده چه هغه د بدر د قیدیانو سره د هر قیدی فدیه اخستلو سره هغه ازاد کړې وو.

سیدنا ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه سیدنا عمر رضی الله عنه په دې آیت کریمه ﴿ ما کان لنبی ان یکون له اسری ﴾ شان نزول داسې اوفرمائیلو چه د دې نزول هغه وخت اوشو چه کله د بدر قیدیان فدیه اخستلو سره پریخودلې شوې وو، په دې آیت کریمه کښې په دې خبره باندې تنبیه کړې شوې ده چه رسول الله ﷺ د بدر د قیدیانو سره چه کومه معامله اوکړه هغه ئې فدیه اخستلو سره پریخودلو، د هغه دپاره خو اثخان فی الارض مناسب وو، یعنی د کفارو وینه تویول، د ابطال کفر دپاره په روایاتو کښې راځی چه هغه د بدر د قیدیانو په باره کښې د

(١): صحيح مسلم/الجهاد ١٨ (١٧٦٣)، سنن الترمذي/التفسير ٩ (٣٠٨١)، (تحفة الأشراف: ١٠٤٩٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٠، ٣٢) (حسن صحيح)

صحابه کرامو سره مشوره اوکړه چه الله پاک تاسو ته په هغوی باندې قدرت ورکړې دې او هغوی اوس ستاسو قابو ته راغلي دي اوس اوايئ چه د هغوی سره څه معامله اوکړې شی؟ سيدنا عمر رضی الله عنه عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ مناسب دا ده چه د هغوی ټولو سټ اووهلي شی، د رسول الله ﷺ دا رائي خوښه نه شوه په دې وجه هغه دوپاره بيا هم هغه سوال اوکړو چه د هغوی سره څه معامله اوکړې شی، سيدنا عمر رضی الله عنه بيا هم هغه عرض اوکړو، دريم ځل هغه بيا هم هغه سوال اوکړو، په دې باندې صديق اکبر رضی الله عنه دا عرض اوکړو يا رسول الله! زما رائي دا ده چه دا خلق فديه اخستلو سره پريخودلي شی، او په يو روايت کښې دا دی چه سيدنا عمر رضی الله عنه عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ هر سړې دې خپل عزيز قتل کړي، علي ته دې حکم ورکړی هغه د خپل رور عقيل سټ اووهی، او ماته اجازت راکړئ چه زه د خپل فلانی خپل سټ اووهم ځکه چه دا خلق د کفر مقتدا او سردار دی، رسول الله ﷺ د صديق اکبر رضی الله عنه رائي خوښه کړه او قيديانو لره فديه اخستلو سره د پريخودلو فيصله اوفرمائيله، په دې باندې ذکر شوې آيت کريمه نازل شو، چه په هغې باندې رسول الله ﷺ او صديق اکبر په ژړا شو، سيدنا عمر رضی الله عنه د هغه نه د ژړا سبب اوتپوسلو نو هغه اوفرمائيل چه زه د دې عذاب د وجې نه ژاړم، خو چه ستا په ملګرو باندې د فديه اخستلو د وجې د الله پاک د طرف نه پيش کړې شوې دې، او فرمائی چه په ما باندې د هغوی عذاب دې اوني ته نزدې پيش کړې شو د دې نه روستو هغه اوفرمائيل چه که دې وخت کښې عذاب راغلې وې نو د عمر نه سوا به څوک هم نه وو بچ شوی، او په يو روايت کښې دی چه سوا د سعد بن معاذ ځکه چه سعد بن معاذ هم دغه شان رائي وه، کوم چه د عمر رضی الله عنه وو، دريم عبدالله بن رواحه دې هغه هم د فديه اخستلو مخالف وو. (ماخوذ از سيرت مصطفی ج ۲ ص ۱۲۰)

﴿ثم احل لهم الله الغنائم﴾ په آيت مذکوره کښې چونکه په اخذ فديه باندې نکير کړې شوې دې چه د هغې تقاضه دا ده چه مال غنيمت د مسلمانانو دپاره حلال نه وی، په دې وجه راوی وائی چه ددې واقعې نه روستو الله پاک مال غنيمت د مسلمانانو دپاره حلال کړې وو.

مشهور اشکال او د هغې جواب

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه په دې مقام باندې يو مشهور اشکال دې هغه دا چه د ترمذی وغيره د روايت نه معلوميږی چه د هغې راوی سيدنا علی رضی الله عنه دې چه د بدر د قيديانو په قصه کښې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه جبرائيل(ع) ماته راغلو اووې فرمائيل چه تاسو خپلو اصحابو ته د بدر د قيديانو په باره کښې اختيار ورکړئ په دوه خبرو کښې د يوې چه يا خو هغه دا قيديان قتل کړی او يا د هغوی نه فديه واخلی او هغوی پريږدی په داسې طريقه چه په مسلمانانو کښې هم د هغه تعداد برابر په بل کال باندې قتل کړې شی، پس هغه د صحابه کرامو نه مشوره اوفرمائيله نو هغوی د دې تخيير نه پس د فديه اخستلو مشوره ورکړه په داسې طريقه چه دومره مسلمانان په بل کال باندې شهيد کړې شو، په دې باندې اشکال ظاهر دې چه کله د فديه اخستلو اجازت ورکړې شو نو بيا د دې په اختيارولو باندې په دې آيت کريمه کښې فديه اخستلو باندې عتاب ولې نازل شو، د دې اشکال يو

مشهور جواب دا ورکولې شي چه دا اختيار صرف ظاهری او صوری وو او في الواقع په دې اختيار سره مقصود اختبار وو يعنې امتحان چه اوګوری چه صحابه کرام د الله پاک د دشمنانو قتل اختياروی يا د دنيا سامان، او حضرت په بذل کښې د دې جواب د نقل کولو نه پس فرمائی چه د دې نه غوره جواب دا دې چه بعض صحابه کرام په دې موقع باندې د مال طرف ته مائل شوې وو، نو په اصل کښې د دې عتاب مورد هم هغه اصحاب دی لکه چه په آيت کريمه کښې هم دې طرف ته اشاره موجود ده ﴿ تريدون عرض الدنيا والله يريد الاخرة ﴾ او بعض علماء کرامو حديث تخيير کوم چه امام ترمذی په کتاب السير کښې په باب ما جاء في قتل الاسارى والفداء کښې ذکر کړې دې لره د راويانو وهم منلې دې، علامه توړپشتی د حديث تخيير په باره کښې فرمائی چه دا حديث په وجه د دې چه د قران کريم د ظاهر او د هغه احاديث صحيحه خلاف دې کوم چه د بدر د قيديانو په باره کښې راغلې دې چه په هغې کښې دا دی چه د فديه اخستل د صحابه کرامو په رائې او اجتهاد سره وه، پس په دې باندې عتاب نازل شو، که په دې سلسله کښې د څه وحی سماوی په ذريعه سره تخيير ثابتيدلو نو په دې باندې به عتاب نه متوجه کيدلو، فهذا الحديث مشكل جدا، الى اخر ما ذكر من تضعيف الحديث. هم دغه شان حافظ ابن کثیر رحمه الله په ﴿ ما كان لنبي ان يكون له اسرى حتى يثخن في الارض ﴾ د لاندې ډير صحيح روايات چه په هغې کښې د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو نه د بدر د قيديانو په باره کښې مشوره ذکر شوې ده، او دا چه د فديه اخستل خپل مينځ کښې مشورې سره وو چه په هغې باندې د آيت کريمه نزول اوشو، او بيا په اخر کښې د سيدنا علي رضي الله عنه د تخير والا حديث ذکر کولو نه پس ليکی، رواه الترمذي والنسائي وابن حبان في صحيحه من حديث الثوري به، وهذا حديث غريب جدا.

﴿ قال ابوداود سمعت احمد بن حنبل ﴾ امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه زما د استاد احمد بن حنبل رحمه الله نه چا د ابو نوح (کوم چه دلته په سند کښې مذکور دې) نوم اوتپوسلو، نو هغه اوفرمائيل چه د هغه په نوم تپوسلو باندې به څه اوکړې، د هغه نوم ښه نه دې ډير بد دې او نوم ئې بيان نه کړو، په دې باندې امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه د هغه نوم قراد دې، او صحيح دا ده چه د هغه نوم عبدالرحمن بن غزوان دې، قراد واقعی چه ښه نوم نه دې، ځکه چه قراد خو سپږو (کونی)[1] ته وئيلې شی،

والحديث اخرجه مسلم نحوه في اثناء حديث طويل، قاله المنذری.

[٢٦٩١](٢)حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْمُبَارَكِ الْعَيْشِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ حَبِيبٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي العنبس عَنْ أَبِي الشَّعْثَاءِ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَعَلَ فِدَاءَ أَهْلِ الْجَاهِلِيَّةِ يَوْمَ بَدْرٍ أَرْبَعَمِائَةٍ.

---

[1]) دويبة تعيش علي الدواب والطيور وتمتص دمها: په څاروو کښې چه کومې سپږې کيږی چه پښتو کښې ورته کونې وائی، د څاروو نه وينه څکی. هغې ته قراد وائی. (مترجم)

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٣٨٢) (صحيح)

دابن عباس نه روایت دي چه نبی ﷺ دجاهلیت درماني دخلقودپاره د بدر په ورځ څلور سوه درهمه فدیه مقرر کړې وه.

په دې حدیث کښې چه د بدر د قیدیانو نه کومه فدیه اخستلې شوې وه د هغې بیان دې چه هغه څلورسوه درهمه وه، خوحضرت په بذل کښې دسیرت دکتابونو نه نقل کړې دې چه د فدیه مقدار مختلف وو، د هر چا د حیثیت مطابق، د بعض نه څلور زره درهمه، د چا نه درې زره، او د بعض نه دوه زره، او چا سره چه د نقد ورکولو دپاره څه نه وو نو د هغه نه څه نه خدمت واخستلې شو، مثلا چا ته چه کتابت ورتلو نو د مدینې په هلکانو کښې لس هلکان هغه ته حواله کړې شو د دې دپاره چه هغوی ته کتابت اوښائی، والحدیث اخرجه النسائی قاله المنذری.

[۲۶۹۲]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبَّادٍ، عَنْ أَبِيهِ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: لَمَّا بَعَثَ أَهْلُ مَكَّةَ فِي فِدَاءِ أَسْرَاهُمْ بَعَثَتْ زَيْنَبُ فِي فِدَاءِ أَبِي الْعَاصِ بِمَالٍ وَبَعَثَتْ فِيهِ بِقِلَادَةٍ لَهَا كَانَتْ عِنْدَ خَدِيجَةَ أَدْخَلَتْهَا بِهَا عَلَى أَبِي الْعَاصِ، قَالَتْ: فَلَمَّا رَآهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَقَّ لَهَا رِقَّةً شَدِيدَةً وَقَالَ: "إِنْ رَأَيْتُمْ أَنْ تُطْلِقُوا لَهَا أَسِيرَهَا وَتَرُدُّوا عَلَيْهَا الَّذِي لَهَا، فَقَالُوا: نَعَمْ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ عَلَيْهِ أَوْ وَعَدَهُ أَنْ يُخَلِّيَ سَبِيلَ زَيْنَبَ إِلَيْهِ، وَبَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ وَرَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ: "كُونَا بِبَطْنِ يَأْجَجَ حَتَّى تَمُرَّ بِكُمَا زَيْنَبُ فَتَصْحَبَاهَا حَتَّى تَأْتِيَا بِهَا".

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دي فرمائی هرکله چه دمکې والا خلقو دخپلو قیدیانو دآزادولو دپاره فدئې اولیږلې نود نبی علیه سلام لور زینب رضی الله عنها هم د ابوالعاص د فدئې دپاره څه مال اولیږلو او په دې کښې هغې یوهار لیږلې وو کوم چه دخدیجې وو هرکله چه نبی ﷺ داهار اولیدو نودزینب په یواځې والی اوبې کسئ باندې خفه شو او په هغې ئې زړه اوسوزیدو نبی ﷺ صحابه کراموته اوفرمائیل که تاسوته مناسب ښکارې نودزینب قیدې پریږدئ اودهغې مال واپس کړې هغوی اووئیل ښه ده نبی ﷺ دابو العاص نه لوظ واخستو چه زینب به ماته دراتلونه نه منع کوې یعنی نبی ﷺ په مدینه کښې وو اوزینب په مکه کښې وه نونبی ﷺ په زینب پسې زید بن حارثه رضی الله عنه اویو انصارې اولیږلو اودوی ته نبی ﷺ فرمائیلې وو ترڅو چه تاسوته زینب نه وی رارسیدلې نودهغه وخته پورې به تاسو په بطن یاجج مقام کښې یئ اوچه کله راشي نودځان سره ئې راولئ.

د دې روایت مضمون په کتاب النکاح کښې د هغه حدیث د لاندې چه په هغې کښې دا دی چه سیدنا علی رضی الله عنه د فاطمې رضی الله عنها په نکاح کښې د موجود کیدو سره د ابو جهل د لور سره د نکاح اراده اوکړه، د دې حدیث شرح د دې جلد په شروع کښې تیره شوې ده، د هغې نه روستو ئې هم یو ځل دوه حواله راغلې ده. بهرحال په دې واقعه کښې فداء الاسیر بالاسیر موندلې شی کومه چه د صاحبین په نزد هم جائز دې، کما تقدم

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٦١٧٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٧٦/١) (حسن)

[۲۶۹۳](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ، حَدَّثَنَا عَمِّي يَعْنِي سَعِيدَ بْنَ الْحَكَمِ قَالَ: أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ عُقَيْلٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: وَذَكَرَ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ مَرْوَانَ، وَالْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ أَخْبَرَاهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حِينَ جَاءَهُ وَفْدُ هَوَازِنَ مُسْلِمِينَ فَسَأَلُوهُ أَنْ يَرُدَّ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ، فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَعِي مَنْ تَرَوْنَ وَأَحَبُّ الْحَدِيثِ إِلَيَّ أَصْدَقُهُ فَاخْتَارُوا إِمَّا السَّبْيَ وَإِمَّا الْمَالَ، فَقَالُوا: نَخْتَارُ سَبْيَنَا، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَثْنَى عَلَى اللَّهِ ثُمَّ قَالَ: أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ إِخْوَانَكُمْ هَؤُلَاءِ جَاءُوا تَائِبِينَ وَإِنِّي قَدْ رَأَيْتُ أَنْ أَرُدَّ إِلَيْهِمْ سَبْيَهُمْ فَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يُطَيِّبَ ذَلِكَ فَلْيَفْعَلْ، وَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يَكُونَ عَلَى حَظِّهِ حَتَّى نُعْطِيَهُ إِيَّاهُ مِنْ أَوَّلِ مَا يُفِيءُ اللَّهُ عَلَيْنَا فَلْيَفْعَلْ، فَقَالَ: النَّاسُ قَدْ طَيَّبْنَا ذَلِكَ لَهُمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّا لَا نَدْرِي مَنْ أَذِنَ مِنْكُمْ مِمَّنْ لَمْ يَأْذَنْ فَارْجِعُوا حَتَّى يَرْفَعَ إِلَيْنَا عُرَفَاؤُكُمْ أَمْرَكُمْ"، فَرَجَعَ النَّاسُ فَكَلَّمَهُمْ عُرَفَاؤُهُمْ فَأَخْبَرُوهُمْ أَنَّهُمْ قَدْ طَيَّبُوا وَأَذِنُوا.

دعروه بن زبیر رضي الله عنه نه روایت دې چه دمروان او مسور بن مخرمه نه مې اوریدلی دی چه نبی علیه السلام فرمائیلي وو کله چه ده ته دهوازن قبیلې وفد دمسلمانیدونه پس راغلې وو او دنبی علیه السلام نه ئې دا مطالبه کوله چه مونږ ته دې خپل مالونه راواپس کړې شي نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل زماسره هغه خلق دي کوم چه تاسو وینئ اوزماهغه خبره خوښه وي کومه چه ډیره ریښتیاوي تاسو په دوه خبرو کښې یوه خوښه کړئ یا قیدیان یامال هوازن قبیلې والا اووئیل مونږه قیدیان واپس اخلو نبی علیه السلام خطبه اوفرمائیله او دالله تعالی دهنده پس ئې اوفرمائیل یقیناستاسو رونړه دکفرنه په توبې کولوسره راغلی دی اومادووی قیدیان ازادول مناسب نه اوګڼل په تاسوکښې چه څوک پخپله خوښه خپل قیدی وا پس کول غواړی نو واپس دې کړی او په تاسو کښې چه څوك دخپلې حصې په وصول کولو باندې قائم وي نوکله چه الله تعالی مونږ ته مال غنیمت راکړي نو مونږ به ده ته ددې بدل په هغې کښې ورکړو اووده دپاره هم داسې کول پکاردي صحابه کرامو عرض اوکړواې دالله رسوله مونږ په دې خبره باندې په خوشحالئ سره راضي یو یعنی د قیدیانو په واپس کولو نبی علیه السلام اوفرمائیل مونږ نه پوهیږو چه په تاسو کښې دچا دا خبره خوښه ده اودچانه ده خوښه نوپه دې وجه باندې تاسو واپس لاړ شئ تردې چه ستاسو سردار په دې معامله کښې زمونږ سره مخامخ شي نوپه دې شان سره ټول خلق واپس شول او ددوی سردارانو په دې سلسله کښې ددې خلقوسره خبرې اوکړې بیاهغه خلق دوباره دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شول او نبی علیه السلام ته ئې خبر ورکړو چه دوی د قیدیانوپه واپس کولوباندې راضي دي اودوی په خوشحالئ سره اجازت ورکړې دې۔

جعرانه ته د وفد هوازن راتلل

په غزوه حنین کښې مسلمانانو ته چه کله فتح حاصله شوه او هغوی غنائم لره اخستلو سره چه کله په مقام جعرانه کښې ایسار شو نو د هغه په خدمت کښې د قبیله هوازن یو وفد چه په هغې کښې د هغه قبیلې اته لس اشراف او سرداران هم وو کوم چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس

(١): صحیح البخاري/الوکالة ٧ (٢٣٠٧)، العتق ١٣ (٢٥٤٠)، الهبة ١٠ (٢٥٨٣)، المغازي ٥٤ (٤٣١٨)، (تحفة الأشراف: ١١٢٥١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٢٦/٤) (صحیح)

باندې بيعت کولو سره په اسلام کښې داخل شوې وو نو هغوی رسول اللهﷺ ته عرض اوکړو چه د هغه په قبضه کښې چه زمونږ کوم قيديان دی په هغې کښې بعض زمونږ مياندې دی او بعض په مونږ کښې د بعض خويندې دی او بعض عمات او خالات دی، لهذا تاسو مهرباني اوکړئ او دا مونږ ته واپس کړئ، نو رسول اللهﷺ ورته اوفرمائيل ﴿معی من ترون واحب الحديث الی اصدقه﴾ چه ما سره هغه خلق دی کوم چه تاسو وينئ، يعنی د رسول اللهﷺ صحابه کوم چه د دې مال اصولا مستحق شوې دی، او ګورئ زه صحيح خبره خوښوم (او هم هغه ستاسو مخې ته ږدم) هغه دا چه تاسو په دوه څيزونو کښې يوه اختيار کړئ، يا صرف قيديان واخلئ او يا مال واخلئ، صرف سرونه واخلئ يا صرف مال يعنی په دې کښې صرف د يو سفارش کولې شم (اخر زما د ملګرو هم څه حق دې، د هغوی رعايت هم ضروری دی) هغوی عرض اوکړو چه مونږ صرف خپل قيديان غواړو (د مال هيڅ خبره نه ده).

د رسول اللهﷺ سفارش د صحابه کرامو نه د قبيله هوازن دپاره

په بعض رواياتو کښې دی چه رسول اللهﷺ د هغوی په دې خبره اوريدلو سره اوفرمائيل : ﴿اما الذی لبنی هاشم فلکم﴾ يعنی د بنو هاشم په حصه کښې چه کوم قيديان راغلي دی د هغوی خو فی الحال زه فيصله کوم چه هغه ستاسو دی، او بيا د دې نه روستو رسول اللهﷺ اودريدو او د خطبې په طور ئې د الله پاک حمد او ثناء بيان کړه او د هغه وفد هوازن مطالبه ئې د صحابه کرامو په وړاندې کيخودله، او د خپل طرف نه ئې دا سفارش اوفرمائيلو چه هغوی ته دې د هغوی قيديان واپس کړې شی او وې فرمائيل چه کوم سړې ئې په تاسو کښې بغير د عوض نه واپس کول غواړی هغه دې هم داسې واپس کړی، او څوک چه ئې په عوض سره واپس کوی نو هم داسې دې اوکړی، او د هغه عوض به زمونږ په ذمه وی، د دې واقعې نه پس چه د ټولو نه اول کوم مال غنيمت حاصليږی د هغې نه به د هغه عوض ادا کولې شی، صحابه کرامو د هغه په خبره اوريدلو سره اوفرمائيل : ﴿قد طيبنا ذلک لهم يا رسول الله﴾ چه مونږ په خوشحالئ سره د هغوی قيديان هغوی ته واپس کوو يعنی بغير د عوض نه، په دې باندې رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه په دې اجتماعی خبره باندې مونږ يقينی نه شو پوهيدې چه څوک واقعی په خوشحالئ سره ورکولو ته تيار دې او څوک نه، لهذا دې وخت کښې تاسو خپل خپل ځائې ته رسيدو سره خپل خپل ذمه دار ماته راوليږئ، کوم چه ستاسو صحيح صحيح خبره ماته بيان کړی، پس ټول صحابه کرام پاسيدل او خپلو ځايونو ته لاړل او د هرې قبيلې مشر دې باره کښې خپلې قبيلې سره خبره اوکړه او بيا هغه ټول ذمه داران راغلل او د رسول اللهﷺ په خدمت کښې ئې عرض اوکړو ﴿انهم قد طيبوا واذنوا﴾، چه واقعی ټول خلق په خوشحالئ سره د قيديانو د پريخودلو اجازت ورکوی، يعنی بغير د عوض نه، په دې روايت کښې خو دومره د ی خو په بعض نورو رواياتو کښې راځی چه ﴿الا قليلا من الناس﴾ يعنی بغير د څه خلقو نه کوم چه بغير د عوض نه په ورکولو باندې تيار نه دی، يو په هغوی کښې اقرع بن حابس او عيينه بن حصن هم وو. كما فی البذل، والحديث اخرجه البخاری والنسائی مختصرا، ومطولا قاله المنذری.

[٢٦٩٤]([1])حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "رُدُّوا عَلَيْهِمْ نِسَاءَهُمْ وَأَبْنَاءَهُمْ فَمَنْ مَسَكَ بِشَيْءٍ مِنْ هَذَا الْفَيْءِ فَإِنَّ لَهُ بِهِ عَلَيْنَا سِتَّ فَرَائِضَ مِنْ أَوَّلِ شَيْءٍ يُفِيئُهُ اللَّهُ عَلَيْنَا، ثُمَّ دَنَا يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَعِيرٍ فَأَخَذَ وَبَرَةً مِنْ سَنَامِهِ ثُمَّ قَالَ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لَيْسَ لِي مِنْ هَذَا الْفَيْءِ شَيْءٌ وَلَا هَذَا، وَرَفَعَ أُصْبُعَيْهِ إِلَّا الْخُمُسَ وَالْخُمُسُ مَرْدُودٌ عَلَيْكُمْ فَأَدُّوا الْخِيَاطَ وَالْمِخْيَطَ. فَقَامَ رَجُلٌ فِي يَدِهِ كُبَّةٌ مِنْ شَعْرٍ فَقَالَ: أَخَذْتُ هَذِهِ لِأُصْلِحَ بِهَا بَرْذَعَةً لِي فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَمَّا مَا كَانَ لِي وَلِبَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَهُوَ لَكَ، فَقَالَ: أَمَّا إِذْ بَلَغَتْ مَا أَرَى فَلَا أَرَبَ لِي فِيهَا وَنَبَذَهَا".

عمرو بن شعیب د خپل پلار نه اودهغه دده دنیکه نه روایت کوی ددې قصې متعلق فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی دوی ته ددوی ښځې او ماشومان واپس کړی او په خلقو کښې چه څوك ددې غنیمت نه دڅان سره څه ساتل غواړی نوموږ به هغه لره ددې په بدل کښې شپږ اوښان ورکوو دهغه غنیمت نه چه الله تعالی ئې موږ ته راکړي، اوبیانبی ﷺ یواوښ ته ورنزدې شو اودهغه دکوپ نه ئې وړئ راوویستله اوونې فرمائیل اې خلقو ددې غنیمت په مال کښې زماهیڅ اختیار نشته دې اوهغه وړئ ئې اوښودله چه دومره اختیار مې هم نشته مګر خمس اوخمس یعنی خمس به ورکوئ اوهغه به هم واپس په تاسو باندې خرچ کولې شی نوکه دچاسره دغنیمت دمال نه ستن اوتار هم وي نو واپس دې ئې کړي، نوپه دې وخت کښې یوکس اودریدو او په لاس کښې ئې وړی وه هغه اووئیل داوړئ مادخپلې سورلئ دګدئ دروغولو دپاره اخستلې وه نبی ﷺ اوفرمائیل کوم یوڅیز چه زما یادبنو عبدالمطلب دخاندان وي هغه ستاشو، دې کس اووئیل هرکله چه ددې رسئ داخستلوګناه ددې حده پورې ده کومه چه زه وینم نو ماته ددې هیڅ ضرورت نشته اوهغه ئې اوغورځوله.

شرح حدیث

﴿ ردوا علیهم نسائهم وابنائهم ﴾ په حنین کښې چه کوم مال غنیمت مسلمانانو ته حاصل شوې وو هغه ډیر په اوچت مقدار کښې وو چه د هغې تفصیل په قیدیانو کښې شپږ زره زنانه او ماشومان، او په مال کښې څلیرشت زره اوښان، څلور زره اوقیه سپین زر، د څلویښتو زرو نه زیاتې ګډې بیزې.

﴿ ست فرائض من اول شئ یفیئه الله علینا ﴾ یعنی څوک چه عوض اخستل غواړی نو موږ به هغه ته په اول مال غنیمت کښې شپږ اوښان ورکوو، یعنی د هر سړی د غنیمت عوض شپږ اوښان مقرر کړې شو څوک چه اخستل غواړی.

﴿ انه لیس من هذا الفئ شئ ولا هذا ورفع اصبعیه الا الخمس ﴾ بیا هغه د یو اوښ د قب ویښته په موتی کښې اونیول او وې فرمائیل چه اوګورئ! زما دپاره په دې مال غنیمت کښې هیڅ هم نشته او نه دا ویښته کوم چه زما په موتی کښې دی سوا د غنیمت د خمس نه، او د دې خمس هم څه وی هغه به هم ستا طرف ته واپس کولې شی، یعنی مصالح مسلمین او جهاد وغیره ضروریات کښې خرچ کولې شی.

[1]: سنن النسائي/الهبة ١ (٣٦٩٠)، (تحفة الأشراف: ٨٧٨٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/١٨٤، ٢١٨) (حسن)

﴿ فادوا الخياط والمخيط ﴾ دا په ماقبل باندې متفرع دې، يعنې کله چه زما په دې کښې سوا د خمس نه هيڅ نشته نو هم دغه شان ستاسو هم په طريق اولی سوا د واجب حق نه په دې کښې هيڅ نشته، لهذا يو سړې دې د خپلې معين حصې نه زائد يو څيز اگر که هغه تار يا ستن ولې نه وی نه اخلی، کله اخستلې ئې وی نو هغه دې واپس کړی، لږ ساعت پس يو سړې اودريدو چه د هغه په لاس کښې د وړئ يو غونداړې وو، هغه د هغې طرف ته اشاره کولو سره عرض اوکړو چه ما دا وړئ د خپلې گدئ (زين) د اصلاح دپاره اخستلې ده، خو چونکه د دې وخته پورې مال غنيمت تقسيم شوې وو او دې سړی هغه وړئ د تقسيم نه روستو راوړې وه، هغه له پکار وو چه د تقسيم نه مخکښې ئې راوړې وې، په دې وجه رسول الله ﷺ د هغې د قبلولو نه په دې وجه عذر اوکړو چه ﴿ اما ما کان لی ولبنی عبدالمطلب فهو لک الخ ﴾ يعنې په دې وړئ کښې چه څومره حصه زما او زما د خاندان والو جوړيږی د هغې اجازت خو به زه تاته درکړم څکه چه په دې ويښتو کښې د پوره لښکر حصه وه په دې وجه هغه اوفرمائيل چه زه د خپلې حصې خو اجازت درکولې شم، او په دې کښې د نورو حصه ده نو د دې اجازت خپله د هغوی نه واخله، هغه د رسول الله ﷺ دې احتياط ته کتلو سره او اصولی خبره اوريدلو سره وې وئيل ﴿ اما اذا بلغت ما ارى الخ ﴾ بنه دامعمولی څيزدې درجې ته اورسيدو، په دې وينا سره ئې هغه اوغورځولو.

په مال غنيمت کښې د رسول الله ﷺ د حصې بيان

دلته په دې حديث کښې دا اشکال دې چه هغه اوفرمائيل چه په مال غنيمت کښې زما هيڅ حصه نشته سوا د خمس نه، حال دا چه دا ثابته ده چه د رسول الله ﷺ دپاره به په مال غنيمت کښې درې حصې وې، ﴿ سهم کسهم احد الغانمين ﴾ يعنې د غازيانو په شان د هغه يوه حصه، وخمس الخمس، او سهم صفی، د دې دريم مستقل باب وړاندې راروان دې، د دې اشکال جواب دا ورکړې شوې دې چه د رسول الله ﷺ د نفی نه مراد عام نفی ده بلکه د موجود او مخصوص مال غنيمت سره د دې تعلق دې، لهذا اوس هيڅ اشکال باقی پاتې نه شو، وينظر باب فی الامام يستاثر بشیء من الفیء لنفسه، والحديث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْإِمَامِ يُقِيمُ عِنْدَ الظُّهُورِ عَلَى الْعَدُوِّ بِعَرْصَتِهِمْ

کله چه حاکم په دشمن غالب شی نو په ميدان جنگ کښې دې ايسارشی

[۲۶۹۵](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، قَالَ: حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ مُعَاذٍ. ح وحَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: حَدَّثَنَا رَوْحٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي طَلْحَةَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا غَلَبَ عَلَى قَوْمٍ أَقَامَ بِالْعَرْصَةِ ثَلَاثًا، قَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى: إِذَا غَلَبَ قَوْمًا أَحَبَّ أَنْ يُقِيمَ بِعَرْصَتِهِمْ ثَلَاثًا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: كَانَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ يَطْعَنُ فِي هَذَا الْحَدِيثِ لِأَنَّهُ لَيْسَ مِنْ قَدِيمِ حَدِيثِ سَعِيدٍ لِأَنَّهُ تَغَيَّرَ سَنَةَ خَمْسٍ وَأَرْبَعِينَ وَلَمْ يُخْرِجْ هَذَا الْحَدِيثَ إِلَّا بِأَخَرَةٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: يُقَالُ إِنَّ وَكِيعًا حَمَلَ عَنْهُ فِي تَغَيُّرِهِ.

[1]: صحيح البخاري/الجهاد ۱۸۴ (۳۰۶۴)، والمغازي ۸ (۳۹۷۶)، صحيح مسلم/صفة أهل النار ۱۷ (۲۸۷۵)، سنن الترمذي/السير ۳ (۱۵۵۱)، (تحفة الأشراف: ۳۷۷۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۴۵/۳، ۲۹/۴)، سنن الدارمي/السير ۲۲ (۲۵۰۲) (صحيح)

دابو طلحه رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه کله به نبی علیه السلام په کوم قوم باندې غالب شو نو په میدان جنګ کښې به ئې درې ورځې تیرولې، اوداابن مثنې په روایت کې دي چه درې شپې تیرول به ئې ښه ګڼرل، ابوداود وائی چه یحي بن سعید په دې حدیث کښې طعن وئیلي دې ځکه چه دا دسعید دمخکینو حدیثونو نه دې ځکه چه دپنځه ځلویښت کالوپه عمر کښې دهغه چه حافظه کښې تغیر راغلې وو اوداحدیث هم دهغه داخري عمر حدیث دې ابوداود وائی چه وکیع دسعید نه داروایت دهغه دتغیر په وخت کښې حاصل کړې وو.

شرح حدیث

په حدیث الباب کښې هم دا مضمون دې چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا عادت مبارک وو چه کله به ئې په یو قوم باندې غلبه حاصلوله او یوه زمکه به ئې فتح کوله نو هلته به ئې په هغه میدان کښې د فتح نه روستو درې ورځو پورې قیام کولو، چه د هغې علماء کرامو مختلف مصلحتونه لیکلي دی مثلا د هغه زمکې د حق ادا کول چه په هغې باندې تر اوسه پورې د غیر الله بندګی کړې شوې ده، اوس د دې فتحې نه پس څو ورځې په هغې باندې د معبود حقیقی عبادت اوکړې شی، بل په دې وجه هم چه د فتح اثار ظاهر شی، اود سورلو او د ملګرو استراحت چه هغوی ته د ارام موقع ملاؤ شی، او د خپل طاقت او بې پرواهئ اظهار، چه که اوس هم د چا د مقابلې همت وی نو رادیشی. ﴿ قال ابوداود : کان یحیی بن سعید یطعن فی هذا الحدیث ﴾ یحیی بن سعید به د دې حدیث په سند کښې طعن کولو، ځکه چه د دې په سند کښې سعید بن ابی عروبه دې کوم چه د مختلطین نه دې، یعنی په اخر عمر کښې په هغه باندې اختلاط راتلو، او په حافظه کښې ئې کمزوری راغلې وه او د مختلط حکم دا دې چه د هغه روایت قبل الاختلاط معتبر دې، او د هغې نه روستو نه، او دا حدیث د هغه د اخری عمر دې یعنی د اختلاط نه روستو.

وړاندې مصنف فرمائی چه د وکیع روایت د سعید نه د اختلاط نه روستو دې خو دلته د هغه نه روایت کولو والا وکیع نه دې بلکه روح بن عباده او معاذ بن معاذ دې، د هغه نه علاوه عبدالاعلی هم دې پس امام بخاری دا حدیث د روح بن عباده په طریق سره روایت کولوسره فرمائی چه : تابعه معاذ وعبدالاعلی، او د وکیع تحمل اګر چه د هغه نه بعد الاختلاط دې خو د دې درې واړو په باره کښې دا ثابت نه دی چه د هغه تحمل د احتلاط په حالت کښې وو، او بیا هسې هم دا حدیث متفق علیه دې، بخاری او مسلم د دې تخریج کړې دې، والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری.

بَابٌ فِي التَّفْرِيقِ بَيْنَ السَّبْيِ

د قیدیانو دیو بل نه د جدا کولو بیان

په مال غنیمت کښې چه کوم قیدیان حاصلیږی که د یو سړی په حصه کښې چه کوم قیدیان راغلې دی په هغې کښې خپل مینځ کښې خپلولی وی او په هغوی کښې د کبیره سره سره صغیره هم وی، مثلا د یو سړی په حصه کښې دوه غلامان راغلل دوه رونړه، یو بالغ او یو ماشوم نو په هغوی کښې تفریق کولې کیدې شی یا نه، په داسې طریقه چه هغه سړې چه د

چا په حصه کښې هغه دواړه راشي او هغه په دې دواړو کښې يو خرڅ کړي يا ئې چاته هبه کړي، په حديث کښې د دې منانعت راغلې دې

په مسئله مترجم بها کښې مذاهب ائمه

اوس دا خبره چه په دې کښې کوم کوم قرابتونه معتبر دی، او ترڅو پورې دا تفريق ممنوع دې؟ د دې په تفصيل کښې د ائمه کرامو اختلاف دې د احنافو په نزد د تفريق کراهت د هغه د بلوغ پورې دې، او د امام شافعی رحمه الله په نزد اووه يا اته کالو پورې دې. يعنی که هغه ماشوم د اووه يا اته کالو نه وړوکې وی نو بيا خو منع ده د هغې نه روستو منع نه دې ﴿ وقال مالک اذا اثغر ﴾ يعنی کله چه د هغه ماشوم غاښونه راوخی، او امام احمد فرمائی چه د مور او خوئی ترمينځه تفريق کله هم جائز نه دې اګر چه بالغ شی.

اوس دا چه کومې رشتې په دې کښې معتبرې دی، بين الولد والوالدة په عدم جواز باندې خو اجماع ده، بيا د احنافو په نزد د هر ذی رحم هم دا حکم دې، او د امام شافعی رحمه الله په نزد لکه چه د هغوی د کتابونو نه معلوميږی دا تحريم قرابت د پلار سره خاص دې ولد او والده، او هم دغه شان والد او جد او جده، که جده د مور د طرف نه وی او که د پلار د طرف نه وی. ففی المغنی المحتاج (ج ۲ ص ۳۸) ويحرم التفريق بين الام والولد حتى يميز وفي قول حتى يبلغ ولا يحرم التفريق بينه وبين سائر المحارم کالاخ والعم، وان قوى السبکی التحريم منه بينه وبينهم اهـ وفي شرح السنة : وکذا حکم الجدة وحکم الاب والجد. اهـ (تحفه ص ۲۱۹ ج ۲)

[۲۶۹۶](1) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ مَيْمُونِ بْنِ أَبِي شَبِيبٍ، عَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ: فَرَّقَ بَيْنَ جَارِيَةٍ وَوَلَدِهَا فَنَهَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ وَرَدَّ الْبَيْعَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَمَيْمُونٌ: لَمْ يُدْرِكْ عَلِيًّا قُتِلَ بِالْجَمَاجِمِ، وَالْجَمَاجِمُ سَنَةَ ثَلَاثٍ وَثَمَانِينَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَالْحَرَّةُ سَنَةَ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ، وَقُتِلَ ابْنُ الزُّبَيْرِ سَنَةَ ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ.

دميمون بن أبی شبيب رضی الله عنه نه روايت دې چه علی رضی الله عنه په قيديانو کښې د يوې جينۍ او دهغې په بچو کښې جدائی راوستلې وه نو نبی عليه السلام دهغې نه منع اوفرمائيله اوسودا ئې واپس کړه. ابوداود وائی چه داروايت ميمون بن أبی شبيب د علی رضی الله عنه نه نقل کړې دې حالانکه د ميمون د علی رضی الله عنه سره ملاقات نه دې شوې اوميمون په جنګ جماجم په کال درې اتيا حجرې کښې قتل کړې شوې وو، ابوداود وائی چه دحره واقعه په کال درې شپيته حجرې کښې پيښه شوې وه اوداابن زبير شهادت په کال درې اتيا هجرې کښې شوې وو.

﴿ عن علی انه فرق بين جارية لها وولدها ﴾ دا تفريق چونکه د مور او خوئی ترمينځه وو، او هغه بالاتفاق ممنوع دې، وړاندې په روايت کښې دی چه ﴿ ورد البيع ﴾ د دې نه معلومه شوه چه د علی رضی الله عنه دا تفريق بالبيع وو چه هغه په دواړو کښې د يو بيع کړې وه، بلکه خبره د دې حديث نه دا معلومه شوه چه که دا قسم تفريق د بيع په ذريعه اوکړې شی نو هغه بيع فاسد ده، د امام شافعی او ابويوسف هم دا مذهب دې، د دې حديث نه د دې تائيد

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۲۸۶) (حسن)

کیږي، د امام صاحب په نزد که څوک داسې بیع اوکړي نو هغه مع الکراهت صحیح ده فاسد نه ده.

قوله: قال ابوداود : ومیمون لم یدرک علیا... لهذا حدیث منقطع دې، وړاندې فرمائی چه میمون په جماجم جنګ کښې قتل شو، یعنی هغه جنګ کوم چه په "دیر جماجم" کښې واقع شوې وو، او جنګ جماجم په ۸۳ھ کښې پیښ شوې وو، دا د ماقبل یعنی عدم ادراک علی دلیل نه دې بلکه مستقل افاده ده، ځکه چه د علی ﷛ د شهادت قصه په ۴۰ هجری کښې پیښه شوې وه او دا خبره ممکنه ده چه دې هغه وخت د څلورو پنځو کالو یا د هغې نه زیات وی، چه په کوم عمر کښې د صغیر سماع صحیح وی. (بذل)

لهذا په دې صورت کښې ادراک کیدې شی، هم په دې وجه مونږ اووې چه دا د عدم ادراک دلیل نه دې.

قال ابوداود : والحرة... ۶۳ھ

د وقعة الحرة ذکر

مصنف دلته د دوه مشهور تاریخی جنګونو تبعا په طور د افادې ذکر کړې دی، یوه واقعة الحرة چه دا جنګ په ۶۳ھ کښې پیښ شوې وو، بله واقعه د قتل ابن الزبیر ﷛، د دې په باره کښې فرمائی چه دا واقعه په ۷۳ھ کښې راپیښه شوې ده، وقعة الحرة مشهور جنګ دې کوم چه د امارت یزید په زمانه کښې راپیښ شوې وو چه په هغې کښې د یزید لښکر د مسلم بن عقبه په امارت کښې په مدینه منوره باندې حمله کړې وه چه په هغې کښې په سوونو صحابه کرام او تابعین شهیدان شوې وو، او د ابن الزبیر ﷛ بیان په الدر المنضود جلد ثالث باب الاحصار کښې ذکر دې.

د وقعة الحرة جوړ خو د ابن الزبیر د فتنې نه دې هغه دا چه عبدالله بن الزبیر ﷛ د یزید د بیعت نه انکار کولو سره د مدینې منورې نه مکې مکرمې ته راغلو، او اهل مکه ورسره ملګرتیا اوکړه نو په دې وجه باندې یزید چونکه په مکه مکرمه باندې د حملې کوشش کولو اګر چه هغه په دې کښې ناکام شو خو د هغه دې حرکتونو ته کتلو سره اهل مدینه هم د یزید خلاف شو او هغوی خپل بیعت فسخ کړو، او په مدینه کښې چه کوم بنو امیه وو د هغوی محاصره ئې اوکړه..... مروان! د مدینې امیر د دې خبر یزید ته ورکړو اود هغه نه ئې مدد طلب کړو، په دې باندې یزید یو مضبوط لښکر کوم چه په دولس زره کسانو باندې مشتمل وو، او وئیلې شوې دی چه شل زره کسان وو او مسلم بن عقبه ئې د هغې امیر جوړ کړو او د مدینې طرف ته ئې اولیږلو او هغه ته ئې دا هدایت اوکړو چه اهل مدینه درې ورځو پورې پوهه کړئ که هغوی رجوع اوکړی نو صحیح ده ګینې هغوی سره دې جنګ اوکړې شی، الغرض هلته تلو سره قتال ته خبره اورسیده او اهل مدینه شکست اوخوړلو درې ورځې مسلسل په مدینه کښې قتال اوشو، دا جنګ چونکه په حره مدینه کښې شوې وو په دې وجه دې ته وقعة الحرة وئیلې شی چه په کوم ځائې کښې دا جنګ شوې وو هغه ځائې په حره راقم سره مشهور دې کوم چه د مسجد نبوی نه په یو میل فاصله باندې دې، په دې جنګ کښې په باقی پاتې

مهاجرین وانصار او تابعینو نه یو نیم زر کسان قتل شو او د دې نه علاوه د عام مسلمانانو تعداد د ماشومانو او زنانو نه علاوه زر بیانولې شی. (الحل المفهم ص ۷۵ ج ۲)

بَابُ الرُّخْصَةِ فِي الْمُدْرِكِينَ يُفَرَّقُ بَيْنَهُمْ

په ځوانانو قیدیانو کښې د جدائی راوستو د جواز بیان

یعنی تفریق بین السبایا هغه وخت ممنوع دې چه کله هغه وړوکې او نابالغ وی، او که بالغ وی نو د تفریق رخصت او اجازت دې.

[۲۶۹۷](1)حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ الْقَاسِمِ، قَالَ: حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ، قَالَ: حَدَّثَنِي إِيَاسُ بْنُ سَلَمَةَ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ أَبِي بَكْرٍ وَأُمِّرَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَغَزَوْنَا فَزَارَةَ فَشَنَنَّا الْغَارَةَ، ثُمَّ نَظَرْتُ إِلَى عُنُقٍ مِنَ النَّاسِ فِيهِ الذُّرِّيَّةُ وَالنِّسَاءُ فَرَمَيْتُ بِسَهْمٍ فَوَقَعَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْجَبَلِ فَقَامُوا، فَجِئْتُ بِهِمْ إِلَى أَبِي بَكْرٍ فِيهِمْ امْرَأَةٌ مِنْ فَزَارَةَ وَعَلَيْهَا قَشْعٌ مِنْ أَدَمٍ مَعَهَا بِنْتٌ لَهَا مِنْ أَحْسَنِ الْعَرَبِ فَنَفَّلَنِي أَبُو بَكْرٍ ابْنَتَهَا، فَقَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فَلَقِيَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِي: "يَا سَلَمَةُ هَبْ لِي الْمَرْأَةَ، فَقُلْتُ: وَاللَّهِ لَقَدْ أَعْجَبَتْنِي، وَمَا كَشَفْتُ لَهَا ثَوْبًا فَسَكَتَ حَتَّى إِذَا كَانَ مِنَ الْغَدِ لَقِيَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السُّوقِ فَقَالَ: يَا سَلَمَةُ هَبْ لِي الْمَرْأَةَ لِلَّهِ أَبُوكَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَاللَّهِ مَا كَشَفْتُ لَهَا ثَوْبًا وَهِيَ لَكَ"، فَبَعَثَ بِهَا إِلَى أَهْلِ مَكَّةَ وَفِي أَيْدِيهِمْ أَسْرَى فَفَادَاهُمْ بِتِلْكَ الْمَرْأَةِ.

ایاس بن سلمة دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه مونږ دابوبکر رضی الله عنه سره جهادته لاړو اوهغه لره نبی علیه السلام په مونږ باندې امیر مقررکړې وو، مونږ دبنی فزاره قبیلې سره جهاد وکړواود ځلوروطرفونونه مو ورباندې حمله وکړله، بیاې دخلقوشاته وکتل چه ماشومان اوښځې هم وې نومایوغشې وویشتو چه ددوی اودغر په مینځ کښې اولګیدونودوی راپاخیدل اوټول مې ابوبکر رضی الله عنه ته راوستل په دوی کښې یوه ښځه هم وه چه ډیر اعلی لباس ئې اغوستلې وو اویوه ښکلې لورهم ورسره وه نوابوبکر رضی الله عنه هغه ماته راکړله، نوزه چه کله مدینې ته راغلم نودنبی علیه السلام سره مې ملاقات اوشو نوماته ئې اوفرمائیل اې سلمه دغه جینۍ ماته را او بخښه ماورته ووئیل په الله مې دې قسم وې هغه خوزماډیره خوښه شوې ده اومالاتر اوسه دهغې پرده نده ماته کړې نونبی علیه السلام خاموش شو، تردې چه سباله بیازماسره په بازارکښې ملاوشو نوماته ئې بیا اوفرمائیل اې سلمه دغه جینۍ ماته را او بخښه ستادې په خپل پلارقسم وې اود الله درضا دپاره ماورته ووئیل په الله مې دې قسم وې هغه خوزما ډیره خوښه شوې ده اومالا تر اوسه دهغې پرده نده ماته کړې اوهغه ستاشوه، نونبی علیه السلام هغه مکې والاورته ولیږله اودهغوی سره دمسلمانانو قیدیان وو ددې په بدل کښې ئې ترې ازاد کړل.

د دې حدیث راوی سلمه بن الاکوع رضی الله عنه دې کوم چه د سریه فزاره واقعه بیانوی چه د هغې امیر صدیق اکبر رضی الله عنه وو، ابن الاکوع فرمائی چه مونږ د صدیق اکبر سره وتلو باندې د قبیله فزاره خلاف غزوه اوکړه او په هغوی مو حمله اوکړه، چه کله مونږ په هغوی باندې حمله

(1): صحیح مسلم/الجهاد ۱۴ (۱۷۵۵)، سنن ابن ماجه/الجهاد ۳۲ (۲۸۴۶)، (تحفة الأشراف: ۴۵۱۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۴۶، ۴۷، ۵۱) (حسن)

اوکړه (نو مسلمانانو ته فتح حاصله شوه، ډیر خلق قتل کړې شو، او ډیر خلق قید کړې شو او بعض د هغوی نه تختیدل، کوم چه هغه وړاندې بیانوی) بیا ما د خلقو د یو جماعت طرف ته اوکتل چه په هغوی کښې زنانه او ماشومان هم وو کوم چه په غر باندې ختلو د پاره منډې وهلې د ځان د بچ کولو د پاره، ما یو غشی اوچلولو (د هغوی د وژلو د پاره نه بلکه د هغوی د منع کولو د پاره (١) پس هغه فرمائی چه زما غشې د غر او د هغوی ترمینځه راپریوتلو چه د هغې نه ویریدو سره هغوی هم هلته اودریدل او ما هغوی اونیول، او د صدیق اکبر په خدمت کښې مې پیش کړل په هغوی کښې د قبیله فزاره یوه داسې زنانه وه چه د هغې په بدن باندې تارکول وو، د هغې سره یوه ښکلې جینۍ وه، صدیق اکبر ئې هغه لور ماته د نفل او انعام په طور راکړه (هم د دې نه ترجمة الباب ثابت شو. ځکه چه دلته په مور او لور کښې تفریق اوشو، او ظاهره ده چه دواړه مدرکه او بالغاني وې) چه کله زه واپس کیدو سره مدینې منورې ته راغلم نو رسول اللهﷺ ماته اوفرمائیل اې سلمه دا جاریه ته ماته هبه کړه، ما عرض اوکړو والله زما خوښه شوې ده او زه تر اوسه پورې د دې خواته هم نه یم ورغلې، هغه فرمائی چه رسول اللهﷺ په دې باندې خاموشه شو، هغه فرمائی چه په بله ورځ باندې بیا د رسول اللهﷺ ما سره ملاقات اوشو او رسول اللهﷺ بیا ماته هم هغه خبره اوکړه او ما هم هغه خبره عرض کولو سره عرض اوکړو چه هغه ستاسو په خدمت کښې هدیه ده، هغه فرمائی چه رسول اللهﷺ هغه د اهل مکه طرف ته اولیږله چه د هغې د لاندې بعض مسلمانان ګیر وو، د رسول اللهﷺ دا لیږل د هغه مسلمانانو قیدیانو په بدل کښې وه، (یعنی په هغې باندې هغه مسلمانان قیدیان بحمد الله ازاد شو) اخرجه مسلم قاله المنذری وابن ماجة. (محمد عوامه).

بَابٌ فِي الْمَالِ يُصِيبُهُ الْعَدُوُّ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ثُمَّ يُدْرِكُهُ صَاحِبُهُ فِي الْغَنِيمَةِ

بیان د مسلمانانو د هغه مال چه د کافرو په قبضه کښې راشی او دوباره ئې خپل مالک د غنیمت په مال کښې بیامومی

د مسئله مترجم بها تشریح سره د اختلاف ائمه نه:

په دې ترجمة الباب کښې یوه مشهوره اختلافی مسئله ذکر شوې ده، چه د هغې بناء په یوه مشهوره مسئله اصولیه اختلافیه باندې دې، هغه دا چه استیلاء الکافر علی مال المسلم سبب ملک دې یا نه؟ (دا مسئله تاسو د ټولو نه اول په اصول شاشی کښې لوستلې ده) د احنافو او مالکیانو په نزد سبب ملک دې، د مالکیانو په نزد خو مطلقا او د احنافو په نزد د استیلاء سبب ملک کیدل بعد الاحراز دی، د احراز نه مخکښې نه، د دې وضاحت دا دې چه که یو کافر د یو مسلمان څه مال په څه طریقه باندې د دار الاسلام نه اوچتولو سره خپل ملک ته یوسی نو د دې استیلاء د وجې نه به هغه کافر د دې مسلمان مالک وی یا نه، د مالکیانو په نزد خو به هغه په دې باندې قابض کیدو سره مالک شی، او د احنافو په نزد به صرف په قبضې سره ملک نه ثابتیږی، چه ترڅو پورې احراز بیا نه موندلې شی یعنی هغه

(١) ځکه چه زنانه او ماشومان په جهاد کښې قتل کول ممنوع دی)

دي د دي ځائې نه دار الحرب ته نه بوځی، د امام شافعي په نزد استیلاء سبب ملک نه دې لهذا د هغوی په نزد به هغه کافر د دې مسلم د مال مالک نه وی، وعن احمد روایتان، الاول کالشافعي والثانی کمذهبنا الحنفیة وهو الراجح عندهم. (الابواب والتراجم ص ١٢٥، ج ٤) د دې اصولی اختلاف د پیژندلو نه پس اوس حدیث الباب اوګورئ.

[٢٦٩٨] (١) حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ سُهَيْلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى يَعْنِي ابْنَ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ غُلَامًا لِابْنِ عُمَرَ أَبَقَ إِلَى الْعَدُوِّ فَظَهَرَ عَلَيْهِ الْمُسْلِمُونَ فَرَدَّهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى ابْنِ عُمَرَ وَلَمْ يُقْسَمْ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَالَ غَيْرُهُ: رَدَّهُ عَلَيْهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ.

د نافع نه روایت دې چه د ابن عمر غلام د دشمنانو طرف ته یعنی مشرکانو ته اوتختیدو نو کله چه مسلمانان په دوی باندې غالب شول نو نبی ﷺ هغه غلام ابن عمر ته واپس ورکړو او دائې تقسیم نکړو یعنی د غنیمت په مال کښې ئې داخل نکړو.

د حدیث شرح من حیث الفقه

په ترجمة الباب کښې مونږ. کومه اصولی اختلاف مسئله بیان کړې ده د هغې نه پس اوس په دې باندې ځان پوهه کړئ چه که دا قسم مال، په مال غنیمت کښې حاصل شی نو د هغې څه کیدل پکار دی؟ ایا هغه به د مسلمان طرف ته رد کولې شی د چا چه مخکښې وو، یا که هغه به مال غنیمت منلې شی؟ د احنافو او مالکیانو د مسلک تقاضه دا ده چه هغه مال غنیمت اومنلې شی ځکه چه هغه مال د کفارو شوې وو، او د شوافعو د مسلک تقاضه دا ده چه دغه مال د هم دغه مسلمان طرف ته راواپس کړې شی، او هغه د مال غنیمت نه او نه منلې شی.

په مسئله مترجم بها کښې د ائمه اربعه مذاهب

بیا ځان پوهه کړئ چه په دې باندې خو د ټولو اتفاق دې چه دا قسم مال چه کله په مال غنیمت کښې حاصل شی نو که د غنیمت د تقسیم نه مخکښې دا معلومه شی چه په دې کښې فلانې څیز د مسلمان دې نو په دې صورت کښې به په دې باندې د ټولو اتفاق وی چه دغه مال به د هغه مسلمان طرف ته رد کولې شی، او که د دې خبرې علم د تقسیم غنیمت نه پس وی نو په دې صورت کښې احناف او مالکیان دا وائی چه اوس به رد کولې نه شی او د شوافعو په نزد بعد القسمة هم د هغه طرف ته رد کولې شی د هغوی په نزد دې مال ته مال غنیمت وئیل هم صحیح نه دی.

د دې تفصیل نه پس په دې ځان پوهه کړئ چه که په یو حدیث کښې د دې قسم مال په باره کښې رد الی المالک راغلې وی نو هغه احناف او مالکیان په قبل تقسیم الغنیمة باندې محمول کوی (ځکه چه د هغوی د مسلک تقاضه هم دا ده) خو که په یو حدیث کښې د تقسیم تصریح وی او بیا هم هغه مال رد کړې شوې وی نو دا خو به د شوافعو موافق وی خو احناف او مالکیان په دې صورت کښې تاویل کوی او دا وائی چه هغه رد بالعوض وی، یعنی د هغه مسلمان نه به د هغې عوض اخستلې شی او بیا به هغه ته واپس کولې شی، هسې نه.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨١٣٥)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجهاد ١٨٧ (٣٠٦٧)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٣٢ (٢٨٤٦) (صحيح)

د عبد ابق په باره کښې د امام صاحب او صاحبینو رائې

د دې نه پس په دې ځان پوهه کړئ چه که د يو مسلمان غلام د کفارو طرف ته پخپله اوتختى او بيا د هغه کفارو سره په جنګ کښې په مال غنيمت کښې هغه عبد ابق حاصل شى نو د هغه په باره کښې خپله د امام صاحب او صاحبينو خپل مينځ کښې اختلاف دې، د صاحبينو په نزد کفار د دې قسم عبد ابق مالکان کيږى څنګه چه نور د بل قسم مالک مالکان کيږى، خو امام صاحب د عبد ابق په باره کښې دا فرمائى چه کفار د هغه مالکان کيږى نه په ظاهر کښې د دې وجې نه چه دلته استيلاء چرته موندلې شوې ده ځکه چه هغه عبد خو خپله تختيدلې وو لهذا د استيلاء ضابطه به په دې باندې نه نافذ کيږى، د امام صاحب خبره واقعى چه قياس ته نزدې ده، لهذا په عبد ابق کښې به د امام صاحب او امام شافعى دواړو رائې متحد وى، څنګه چه به د امام شافعى رحمه الله په نزد هغه رد کلې شى هم دغه شان به د امام صاحب په نزد هم، د باب په دې اولنى حديث کښې د عبد ابق قصه ذکر شوې ده... چه د ابن عمر يو غلام وو هغه د کفارو طرف ته اوتختيدلو بيا چه مسلمانانو ته په هغه کفارو باندې غلبه حاصله شوه او هغه غلام هم په مال غنيمت کښې راغلو نو هغه غلام رسول الله صلى الله عليه وسلم ابن عمر ته واپس کړو، په مال غنيمت کښې ئې شاملولو سره هغه تقسيم نه کړو، د باب د حديث اول هم دا مضمون دې، خو دا حديث د چا خلاف هم نه دې ځکه چه دا رد قبل القسمة وو، او دا پورته ذکر شو چه د غنيمت د تقسيم نه مخکښې که علم راشى نو په دې صورت کښې به د ټولو په نزد د هغه څيز رد د مالک طرف ته وى.

د دې نه روستو چه کوم دويم حديث راروان دې د هغې مضمون دا دې چه يو ځل د ابن عمر يو آس د هغه د قبضې نه اووتلو کوم چه دشمنانو اونيولو او په هغې باندې يې قبضه اوکړه، بيا چه کله په هغه کفارو باندې مسلمانان غالب شو نو هغه فرس په ابن عمر باندې رد کړې شوې وو، د امام شافعى رحمه الله په نزد خو دا مطلقا ده، او د احنافو او مالکيانو په نزد په قبل القسمه تقسيم باندې محمول دې، او که دا رد بعد القسمة وو نو بيا به دا محمول کولې شى په رد بالعوض والقيمة باندې، يعنى د هغې عوض به ترې اخستلې شى او بيا به واپس کولې شى.

بيا وړاندې په دې دويم حديث کښې د ابن عمر رضي الله عنه د عبد ابق هم ذکر دې او د هغه په باره کښې هم دا دى چه هغه هغوى ته واپس کړې شو.

[٢٦٩٩](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، الْمَعْنَى قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: ذَهَبَ فَرَسٌ لَهُ فَأَخَذَهَا الْعَدُوُّ فَظَهَرَ عَلَيْهِمُ الْمُسْلِمُونَ فَرُدَّ عَلَيْهِ فِي زَمَنِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَقَ عَبْدٌ لَهُ فَلَحِقَ بِأَرْضِ الرُّومِ، فَظَهَرَ عَلَيْهِمُ الْمُسْلِمُونَ فَرَدَّهُ عَلَيْهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ. بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دنافع نه روايت دې چه دابن عمر رضي الله عنه اس لاړو او دشمنانو اونيوو نو کله چه مسلمانان په مشرکانو غالب شول نو دغه اس ابن عمر څه ته واپس ورکړې شو اود نبى عليه السلام په دور کښې

(١): صحيح البخاري /الجهاد ١٨٧ (٣٠٦٧)، تعليقًا، سنن ابن ماجه /الجهاد ٣٣ (٢٨٤٧)، (تحفة الأشراف: ٧٩٤٣) (صحيح)

دا په غنيمت کښې داخل اونه ګنړلې شو دده يوغلام هم روم ته تختيدلې وو کله چه مسلمانان په روميانو غالب شول نوخالد بن وليده هغه غلام ابن عمر رضی الله عنه ته واپس کړو داخبره دنبی عليه السلام دزمانې نه دوروسته وخت ده.

امام بخاری رحمه الله هم دا مسئله اخستلې ده، باب اذا غنم المشركون مال المسلم ثم وجده المسلم، او بيا په هغې کښې هم دا حديث د ابن عمر په مختلف طرق سره ذکر کړې دې،
حديث الباب الثانی اخرجه البخاری وابن ماجة، قاله المنذری.

بَابٌ فِي عَبِيدِ الْمُشْرِكِينَ يَلْحَقُونَ بِالْمُسْلِمِينَ فَيُسْلِمُونَ

بيان دغلامانود مشرکينو چه ددوی نه اوتختی او مسلمانانو ته راشی او اسلام قبول کړی

يعنی که د مشرکانو غلامان د هغوی نه خلاصيدو سره اوتختی او دار الاسلام ته راشی، بيا دلته راتلو سره مسلمانان هم شی نو د هغوی څه حکم دې؟ جواب ظاهر دې چه هغوی به ازاد شی (١)، د مشرکانو غلامان به غلامان هله وی چه کله د مسلمانانو لاس ته د مال غنيمت په شکل باندې راشی د جهاد او قتال په ذريعه.

[٢٧٠٠](٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ أَبَانَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ مَنْصُورِ بْنِ الْمُعْتَمِرِ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: خَرَجَ عِبْدَانٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ قَبْلَ الصُّلْحِ فَكَتَبَ إِلَيْهِ مَوَالِيهِمْ فَقَالُوا: يَا مُحَمَّدُ وَاللَّهِ مَا خَرَجُوا إِلَيْكَ رَغْبَةً فِي دِينِكَ وَإِنَّمَا خَرَجُوا هَرَبًا مِنَ الرِّقِّ، فَقَالَ نَاسٌ صَدَقُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ رُدَّهُمْ إِلَيْهِمْ، فَغَضِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ: "مَا أُرَاكُمْ تَنْتَهُونَ يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ حَتَّى يَبْعَثَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ مَنْ يَضْرِبُ رِقَابَكُمْ عَلَى هَذَا، وَأَبَى أَنْ يَرُدَّهُمْ وَقَالَ: هُمْ عُتَقَاءُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ".

د علی رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دصلح حديبيه په ورځ دصلح نه لږ مخکښې يوڅوغلامان نبی عليه السلام ته په تيختيه راغلل دغلامانو مالکانو نبی عليه السلام ته اوليکل چه اې محمد فه په الله قسم داغلامان په دې وجه نه دی درغلي چه ستادين ئې خوښ دې دوی دغلامئ نه تختيدلې دي څه کسانو اووئيل داخبره ئې رېښتياده اې دالله رسوله ورته ئې وروا پس کړه نونبی عليه السلام په غسه شو اووئې فرمائيل اې قريشيانو زماخيال دې چه تاسو دا خپل عادت نه پريږدئ تردې چه مسلط به کړي الله تعالى په تاسو باندې هغه څوك چه ستاسو څټونه به وهي ددې خبرو په وجه باندې اوانکارئې اوکړو دواپس کولونه اووئې فرمائيل داغلامان دالله تعالى دطرف نه ازاد کړې شوي دی.

د حديث مضمون دا دې چه سيدنا علی رضی الله عنه فرمائی چه د غزوه حديبيه په موقع باندې د صلح نه مخکښې د مشرکانو څو غلامان د هغوی د طرف نه د مسلمانانو طرف ته راغلل نو د هغوی مالکانو رسول الله صلی الله عليه وسلم ته اوليکل چه زمونږ دا غلامان ستاسو طرف ته، ستاد دين د طلب او رغبت د وجې نه نه دی راغلی بلکه دا خو د غلامئ نه بچ کيدلو دپاره زمونږ د

---

(١) علی هذا القياس خپله مشرکان هم چه کله اسلام قبول کړی او د دار الحرب نه دار الاسلام ته راشی نو هغوی به هم ازاد وی.

(٢): سنن الترمذي/المناقب ٢٠ (٣٧١٥)، (تحفة الأشراف: ١٠٠٨٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/١٥٥) (صحيح)

خوا نه ستاسو طرف ته درغلي دي، په روايت کښې دي ﴿ فقال ناس : صدقوا يا رسول الله ردهم اليهم ﴾ يعنې په دې باندې بعض مسلمانانو رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه د کومو مشرکانو پيغام تاسو ته راغلې دې د هغوی خبره صحيح ده، لهذا دا غلامان د هغوی طرف ته واپس کړئ، نو د هغوی په دې خبره باندې رسول الله ﷺ ډير خفه شو، او ډيره سخته خبره ئې اوفرمائيله چه اې د قريشو جماعته! تاسو به د دې خپلو حرکتونو نه قلار نه شئ، چه ترڅو پورې الله پاک په تاسو داسې دشمن مسلط نه کړي کوم چه ستاسو سټونه اووهي، راوي وائي چه رسول الله ﷺ د هغه غلامانو د واپس کولو نه صفا انکار اوکړو، او فرمائي: ﴿ هم عتقاء الله عزوجل ﴾.

په حديث الباب کښې دوه کارونه قابل تحقيق دي

په دې حديث کښې دوه خبرې قابل تحقيق دي، اول دا چه په دې روايت کښې دا واقعه د يوم الحديبيه طرف ته منسوب کړې ده حضرت په بذل المجهود کښې روايات حديثيه او کتب تاريخ نه دا ثابته کړې ده چه دا غزوه د طائف ده، لهذا د ابوداود په دې روايت کښې لفظ "يوم الحديبيه" د يو راوي وهم دې، بله خبره حضرت دا فرمائيلې ده چه ﴿فقال ناس ﴾ مصداق ملا علي قاري رحمه الله بعض صحابه کرام منلې دي، خو دا بعيده ده، اول خو د صحابه کرامو نه بعيده ده، دا خبره چه هغه د خپلو مسلمانانو رونړو په مقابله کښې د مشرکانو تصديق اوکړي، دويم د رسول الله ﷺ په دې باندې د رد دا طرز او سخت وعيد په يا معشر قريش لفظ سره، دا د صحابه کرامو په حق کښې کيدل بعيد دي بلکه د دې نه مراد بعض کفار قريش دي. (١) او که دا اومنلې شي چه دا واقعه د حديبيه ده، ګيني اصل خو دا ده چه دا واقعه غزوه طائف ده او دا ويونکي او تصديق کونکي بعض طلقاء يا بعض مؤلفة القلوب وو، او صحابه طلقاء نه د دې څيز صدور څه زيات بعيد نه دې، او على هذا القياس په دې باندې د رسول الله ﷺ وعيد، او د طلقاء په غزوه طائف کښې کيدل قرين قياس هم دي او ثابت هم دي، والله تعالى اعلم بالصواب. والحديث اخرجه الترمذى اتم منه قاله المنذرى، وفى البذل : واخرجه الحاكم فى المستدرک.

بَابٌ فِي إِبَاحَةِ الطَّعَامِ فِي أَرْضِ الْعَدُوِّ

د دشمن په علاقه کښې د خوراک څښاک د څيزونو د خوړلو د اباحت بيان

د دې ځائې نه د ابوابو رخ بدليږي، پس دا څو بابونه د مال غنيمت د بابونو متعلق دي، په مال غنيمت کښې د تصرف متعلق مصنف څو بابونه مسلسل تړلي دي اصل په دې کښې دا ده چه په مال غنيمت کښې تصرف قبل القسمة جائز نه ده خو بعض څيزونه د دې نه مستثنى

(١) خو په دې باندې به دا اشکال ضرور وي چه په روايت کښې دا دي چه ويونکو دا خبره د رسول الله ﷺ نه په "يا رسول الله" سره خطاب کولو سره اوکړه، د دې توجيه دا کيدې شي چه دا مقام مقام د تملق وو د خوشامدئ په طور به هغوی دا خطاب کړې وي او بعض طالبانو ماته د دې دا توجيه ذکر کړه چه کيدې شي ويونکي منافقان وي په دې وجه ئې په يا رسول الله سره خطاب اوکړو، خو د منافقانو هلته کيدل فهم ته نه راځي)

دی چه په هغې کښې تصرف قبل القسمة اباحت وارد دې، دا څو ابواب هم د دې متعلق دی، دا اولنې باب د طعام متعلق دې د خوراک څکاک د څیزونو په باره کښې خو د علماء کرامو اتفاق دې چه په هغې کښې تصرف عند الضرورة بقدر الضرورت د مجاهدینو دپاره جائز دې، اګر چه بغیر د امام د اذن نه وی، د جمهورو په نزد کما قال عیاض، وعند الزهری الاباحة بشرط اذن الامام.

[٢٧٠١](١) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ حَمْزَةَ الزُّبَيْرِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ عِيَاضٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ جَيْشًا غَنِمُوا فِي زَمَانِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا وَعَسَلًا فَلَمْ يُؤْخَذْ مِنْهُمُ الْخُمُسُ.

دابن عمر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یولښکر دنبی علیه السلام په زمانه کښې دوډئ اوشهد په غنیمت کښې حاصل کړل نوددوی نه خمس وانه خیستلې شو.

طعام او عسل نه د خمس ویستلو وجه دا ده چه مجاهدینو هغه په دار الحرب کښې خوړلو څکلو سره خرچ کړې وو، د غنیمت په طور باندې دا ئې محفوظ ساتلې دې چه دا به تقسیم کولې شی او ددې نه خمس راویستلې شی، اخراج خمس خود تقسیم په وخت وی.

[٢٧٠٢](٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، وَالْقَعْنَبِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ، عَنْ حُمَيْدٍ يَعْنِي ابْنَ هِلَالٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ: دُلِّيَ جِرَابٌ مِنْ شَحْمٍ يَوْمَ خَيْبَرَ قَالَ: فَأَتَيْتُهُ فَالْتَزَمْتُهُ قَالَ: ثُمَّ قُلْتُ: لَا أُعْطِي مِنْ هَذَا أَحَدًا الْيَوْمَ شَيْئًا قَالَ: فَالْتَفَتُّ فَإِذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَبَسَّمُ إِلَيَّ.

دعبیدالله بن مغفل نه روایت دې فرماي سپنه د خیبر په ورځ دوازدې یوه تهیلی زوړنده وه دې وائی چه زه ورته جوښت شوم او په ژبه یاپه زړه کښې مې ووئیل چه ددې نه به نن چاله هیڅ هم نه ورکوم نوکله چه زه دنبی علیه السلام طرف ته ور وګرځیدم او اومې کتل نونبی علیه السلام زمایه دې کارپورې خندل ځکه چه داسې کاردانصارو د خوئی خصلت نه خلاف وو.

مضمون حدیث

سیدنا عبدالله بن مغفل رضی الله عنه فرمائی چه په جنګ خیبر کښ، یعنی چه کله هغه فتح کولې شی او مال غنیمت لوټ کولې شی نو د څرمنې یوه تهیلا زوړنده ماته ښکاره شی، نو زه هغې ته اورسیدم او هغه ئې قبضه واخستله او وې وئیل (چه دا تول به زه اخلم) او چاته به په هغې کښې نه ورکوم (دا تول منظر رسول الله صلی الله علیه وسلم شاته ولاړ لیدلو او اوریدلو چه د هغې خبر هغوی ته نه وو) هغه وائی: ما چه کله شاته اوکتل نو څه ګورم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم زما، طرف ته کتلو سره مسکې شو، په دې روایت کښې خو دومره دی، د مسند ابوداود طیالسی په روایت کښې د دې نه روستو دا دې چه هغه اوفرمائیل: ﴿ هو لک ﴾ چه ښه دا هم ته واخله. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٨١١)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/فرض الخمس ٢٠ (٣١٥٤) (صحيح)

(٢): صحيح البخاري/الخمس ٢٠ (٣١٥٣)، والمغازي ٣٨ (٤٢١٤)، والصيد ٢٢ (٥٥٠٨)، صحيح مسلم/الجهاد ٢٥ (١٧٧٢)، سنن النسائي/الضحايا ٣٧ (٤٤٤٠)، (تحفة الأشراف: ٩٦٥٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٦/٤، ٥٥/٥، ٥٦)، سنن الدارمي/السير ٥٧ (٢٥٤٢) (صحيح)

بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ النُّهْبَى، إِذَا كَانَ فِي الطَّعَامِ قِلَّةٌ فِي أَرْضِ الْعَدُوِّ

باب د تالان ممانعت، د دښمن په علاقه کښې کله چه خوراک کم وی

﴿ نهبى ﴾ په وزن د عمرى مصدر دې، يعني لوټ مار، او دلته مراد د دې نه هغه څيز دې کوم چه په مال غنيمت کښې قبل القسمة واخستلې شي د دې ترجمة الباب حاصل دا دې چه د خوراک څکاک څيز اخستل اګر چه مباح دی خو که په خوراک کښې قلت او تنګسيا وی نو بيا قبل القسمة چا له هم نه دی اخستل پکار.

[٢٧٠٣](١) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا جَرِيرٌ يَعْنِي ابْنَ حَازِمٍ، عَنْ يَعْلَى بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِي لَبِيدٍ، قَالَ: كُنَّا مَعَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ بِكَابُلَ، فَأَصَابَ النَّاسُ غَنِيمَةً فَانْتَهَبُوهَا فَقَامَ خَطِيبًا فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنِ النُّهْبَى فَرَدُّوا مَا أَخَذُوا فَقَسَمَهُ بَيْنَهُمْ.

دابولبيب نه روايت دې فرمائی چه زه دعبد الرحمن بن سمره رضي الله عنه سره په کابل کښې ووم او مجاهدينو غنيمت حاصل کړو او تالان ئې اوکړو نودې پاسيدو اوخطبه ئې ورکوله اووئې وئيل دنبى عليه السلام نه مې اوريدلى دى چه منع ئې کوله دتالان کولونه نوځه چه مو اغستې وې هغه واپس کړئ نوچه کله واپس کړې شول نوپه دوی باندې ئې تقسيم کړل.

شرح حديث

په دې روايت کښې د خلقو د مال غنيمت د لوټ کولو ذکر دې چه قبل التقسيم خلقو هغه اخستل شروع کړل په دې باندې عبدالرحمن بن سمره په ولاړه باندې خلقو ته د رسول الله ﷺ حديث نه دې اوريدلې، په دې باندې خلقو چه څه اخستلې وی ټول واپس کړل، بيا هغه دا باقاعده تقسيم کړلو، په دې روايت کښې چه د کوم مال غنيمت د خورولو ذکر دې که د دې نه مراد غير طعام دې، مختلف اشياء خو هله ظاهر دې چه د هغې اخستل جائز نه وو او که هغه د طعام د قبيل نه وو لکه چه د ترجمة الباب تقاضه هم ده، نو اګر چه د اخذ طعام اباحت دې خو د قلت په صورت کښې اباحت نشته لکه چه مصنف په ترجمة الباب کښې اشاره کړې ده.

[٢٧٠٤](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ الشَّيْبَانِيُّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي مُجَالِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى، قَالَ: قُلْتُ: هَلْ كُنْتُمْ تُخَمِّسُونَ يَعْنِي الطَّعَامَ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: أَصَبْنَا طَعَامًا يَوْمَ خَيْبَرَ فَكَانَ الرَّجُلُ يَجِيءُ فَيَأْخُذُ مِنْهُ مِقْدَارَ مَا يَكْفِيهِ ثُمَّ يَنْصَرِفُ.

دعبد الله بن أبى أوفى رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه ما اووئيل چه ايا تاسو به دنبى عليه السلام په زمانه کښې دخوراك په څيزونو کښې دغنيمت دمال نه خمس ورکولو؟ نووئې وئيل چه مونږ ته دغزوه خيبر په ورځ باندې په غنيمت کښې خوراك ملاو شو نوهريو کس به راتلو اودخپل ضرورت په مناسب به ئې دځان دپاره اوړل اوبيابه لاړل.

عبدالله بن ابى اوفى د بعض صحابه کرامو نه د تخميس طعام په باره کښې تپوس اوکړو چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به د طعام تخميس کيدلو، هغوى جواب ورکړو چه جنګ

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩٦٩٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦٢/٥، ٦٣)، سنن الدارمي الأضاحي ٢٣ (٢٠٣٨) (صحيح)
(٢): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٥١٧٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٥٥/٤) (صحيح)

خيبر كښې مونږ ته طعام حاصل شوې وو نو هلته دا صورت وو چه هر سړې په دې كښې په قدر د ضرورت واخستلو او لاړو، په قدر د ضرورت خو اخستل جائز دى خو د دې نه پس هم كه باقى پاتې نه شى نو ظاهره ده چه دا د مال غنيمت په شان تقسيم كړې شى بعد الخميس، هم دغه شان د د دې حديث نه معلومه شوه چه په مال غنيمت كښې د خوراك ځكاك څيز كه په كثير مقدار كښې وى نو بيا د هغې په اخستلو كښې هيڅ باك نشته، د اخستلو نه منع د قلت په صورت كښې ده.

[٢٧٠٥]()حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ عَاصِمٍ يَعْنِي ابْنَ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَأَصَابَ النَّاسَ حَاجَةٌ شَدِيدَةٌ وَجَهْدٌ وَأَصَابُوا غَنَمًا فَانْتَهَبُوهَا فَإِنَّ قُدُورَنَا لَتَغْلِي، إِذْ جَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِي عَلَى قَوْسِهِ فَأَكْفَأَ قُدُورَنَا بِقَوْسِهِ ثُمَّ جَعَلَ يُرَمِّلُ اللَّحْمَ بِالتُّرَابِ ثُمَّ قَالَ: "إِنَّ النُّهْبَةَ لَيْسَتْ بِأَحَلَّ مِنَ الْمَيْتَةِ أَوْ إِنَّ الْمَيْتَةَ لَيْسَتْ بِأَحَلَّ مِنَ النُّهْبَةِ". الشَّكُّ مِنْ هَنَّادٍ.

عاصم بن كليب د خپل پلارنه اوهغه ديو انصاري نه روايت كوى فرمائى چه مونږ دنبى عليه السلام سره په يوسفر كښې لاړو خلقو ته په دې سفركښې دخوراك متعلق ډير مشكلات پيښ شول بيادې خلقو ته يوڅوچيلى ملاو شوې هريوكس چه به څه موندل نوهغه به ئې لوټ كول اوزمونږه كټوئ خوټ كيدله اودنبى عليه السلام سره خپله لينده ورسره وه اوراروان وو اوزمونږه كټوئ ئې پخپله لينده باندې نسكوره كړه اودغوښې پوتې ئې په خاورو پورې مړل اوبيا ئې اوفرمائيل تالان خودمردارې نه څه ښه نه دې ياداچه تالان خو د مردارې نه حلال نه دې د هناد راوي په دې دوه جملو كښې شك دې.

يو انصارى صحابى د رسول الله ﷺ د يوې غزوې ذكر فرمائى چه په دې جنګ كښې خلقو ته ډيرمشقت اوچت كړې وو او لوږه ئې برداشت كړې وه، په دې حالت كښې هغوى ته بعض بيزې حاصلې شوې، مجاهدينو د لوږې په سختنه كښې هغه ذبح وغيره كولو سره د غوښې د تيارولو دپاره په اور باندې كټوئ په سر كړى، لږ ساعت پس رسول الله ﷺ تشريف راوړلو، د هغه په لاس مبارك كښې يوه لينده وه، د هغې په ذريعه ئې هغه ټولې كټوئ واړولې. ﴿ ثم جعل يرمل اللحم بالتراب ﴾ يعنى د كټوئ غوښه ئې په خاورو او شړو كښې واړوله او دا ئې اوفرمائيل: دا د لوټ مار مال د مردار نه څه كم نه دې يعنى په حرمت كښې.

د حديث توجيه او تشريح

ځان پوهه كړئ چه د اباحت طعام مسئله د مهيا للاكل سره خاص نه ده، يعنى د تيار شوى خوراك سره بلكه په دې كښې څاروى وغيره هم داخل دى هغه هم د طعام په حكم كښې دې، هغې لره اخستلو سره او ذبح كولو سره خوړلې شى ﴿ صرح به الفقهاء ﴾ خو په دې واقعه كښې چه رسول الله ﷺ كوم تشدد اختيار كړې وو او هغه ئې حرام كړې وو او ددې په دوه وجو كښې يوه وجه كيدې شى يا خو داسې اوئيلې شى يا خوبه دا وئيلې شى چه په غنم كښې قلت وو (كما فى ترجمة الباب) او يا دا چه د دې حضراتو اخستل په قدر د حاجت نه وو

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٦٦٢) (صحيح)

بلکه د دې نه ئې زيات اخستلې وي کوم چه جائز نه دي، والله تعالى اعلم.
په دې واقعه کښې دا اشکال راځي چه اکفاء قدور او د هغې نه روستو کومه چه هغه د غوښو سره په خاورو ککړ کړې دي په دې کښې اضاعت مال دې او مال هم هغه د کوم سره چه د خلقو حق متلعق دې، يعنې د مجاهدينو، د دې يو جواب حضرت هم په بذل کښې بعض شارحينو نقل کړې دی او بل جواب دې دا هم کيدې شي چه رسول الله ﷺ شارع دې هغه چه څه اوکړل د سراسر ديني مصلحت په بنياد ئې اوکړل، يعنې يو حرام څيز چه د هغې د استعمال صحابه کرامو اراده کړې دې نو د دې فعل قباحت او شناعت ثابتولو دپاره دا عملي شکل هغه اختيار اوفرمائيلو.

بَابٌ فِي حَمْلِ الطَّعَامِ مِنْ أَرْضِ الْعَدُوِّ

د دارحرب نه د ځان سره د خوراک څښاک د څيزونو د راوړلو بيان

د ترجمة الباب شرح :

په دې ترجمه کښې دوه احتمالات دی من ارض العدو غايت يا خو الى محل اقامتهم وي يا الى المدينة، که اول مراد دې نو بيا دا جائز ده يعنې په ميدان جنګ کښې د بعض خوراک څيزونه اوچت کړل په خپلو خيمو کښې اخستلو سره د هغې خوراک او که ثانی مراد وی نو بيا دا جائز نه ده، ځکه چه د اخذ طعام اباحت صرف د دار الحرب پورې محدود دې، يعنې هغه لره اوچتولو سره هم هلته خوړل لاجل الحاجة، او د هغه ځائې نه اوچتولو سره دار الاسلام منتقل کول د دې هيڅ ګنجائش نشته، د جواز انتقال نه پس خو بعد القسمة کيدې شي

[٢٧٠٦] (١) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، أَنَّ ابْنَ حَرْشَفٍ الْأَزْدِيَّ، حَدَّثَهُ عَنِ الْقَاسِمِ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: كُنَّا نَأْكُلُ الْجَزَرَ فِي الْغَزْوِ وَلَا نَقْسِمُهُ حَتَّى إِنْ كُنَّا لَنَرْجِعُ إِلَى رِحَالِنَا وَأَخْرِجَتُنَا مِنْهُ مُمْلَاةٌ.

قاسم (دعبدالرحمن ازاد کړې شوی غلام د بعضې ملګرو دنبی ﷺ نه روايت کوی چه فرمائی ئې مونږ به په جهاد کښې داوښانو غوښې خوړلې اونه به موتقسيمولې تردې چه مونږ به کله خپلوخيموته واپس کيدو نو زمونږه توشه دانونه به دغوښونه ډک وو.

شرح حديث

يو صحابی فرمائی چه په جنګونو کښې مونږ خلقو د اوښانو غوښه خوړل او هغې لره باقاعده نه تقسيموله (او په مقدار کښې دومره زائد اخستلو) تردې چه مونږ به د خپلو استوګنو طرف ته واپس کيدلو په دې حال کښې زمونږ تهيلې د غوښو نه ډک وو.
په دې حديث کښې د رحال نه مراد که محل اقامت فی الغزو دې نو بيا خو د څه خاص اشکال خبره نه ده ځکه چه په دې صورت کښې د دې غوښې نقل کول نه مونډلې کيږی بلکه د دار الحرب قصه پاتې شوې ده، او که د رحال نه مراد الى منازلهم فی المدينة دې نو دا احتمال صحيح نه دې، ځکه چه مال غنيمت لره منتقل کول د دار الحرب نه قبل التقسيم

(١) تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٦٥٨) (ضعيف)

جائز نه دې، او دلته تصريح د ﴿ ولا نقسمه ﴾ ده ګینې احتمال ثاني لره اخستلو سره به مونږ دا وئیلې وې چه بعد القسمة مراد دې په دې حدیث کښې لفظ ﴿ الجزر ﴾ راغلې دې، په بعض شروح کښې دی چه ﴿ الجزر ﴾ جمع ده ﴿ جزور ﴾ په معنی د اوښ او د دې معنی ﴿ شاة مذبوحه هم لیکلې ده، او حضرت په بذل کښې احتمالا د دې معنی د ګاڅرې هم لیکلې دی، کومه چه مشهوره سبزی وه، ﴿ اخرجت ﴾ جمع د خرج ده یعنی تهیلا، په اصل کښې د دابه په شا باندې کومه چه د ټاټ بوریٔ اچولې شی، چه د هغې دوه حصې وی ښی او ګس طرف ته دې ته حرج وئیلې شی، د خرجی لفظ په دې معنی کښې اردو کښې هم مستعمل دې.

بَابٌ فِي بَيْعِ الطَّعَامِ إِذَا فَضَلَ عَنِ النَّاسِ فِي أَرْضِ الْعَدُوِّ

د دښمن په زمکه کښې د زیاتی خوراکی څیزونو د مال غنیمت د خرڅولو بیان

په ظاهره کښې د ترجمة الباب مطلب دا دې چه که د مجاهدینو د خوراک ځکاک څیز قبل التقسیم په دار الحرب کښې د مال غنیمت نه واخلی یعنی د ضابطې مطابق د هغې اخستل جائز دی، په دې کښې که څه مقدار بچ شی نو هغه هم ځائې، یعنی دار الحرب کښې خرڅیدلې شی یا نه؟ مسئله دا ده چه په مال غنیمت کښې یو څیز لره قبل القسمة که هغه طعام وی یا غیر طعام وی جائز نه دې، او که چا بیع اوکړه نو ﴿ رد الثمن فی الغنیمة بالاتفاق ﴾ واجب دې، لهذا مبادلة الطعام بالطعام ضرورة جائز دې.

[۲۷۰۷](¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُصَفَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ حَمْزَةَ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو عَبْدِ الْعَزِيزِ شَيْخٌ مِنْ أَهْلِ الْأُرْدُنِّ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ نُسَيٍّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ غَنْمٍ قَالَ: رَابَطْنَا مَدِينَةَ قِنَّسْرِينَ مَعَ شُرَحْبِيلَ بْنِ السِّمْطِ فَلَمَّا فَتَحَهَا أَصَابَ فِيهَا غَنَمًا وَبَقَرًا فَقَسَمَ فِينَا طَائِفَةً مِنْهَا وَجَعَلَ بَقِيَّتَهَا فِي الْمَغْنَمِ، فَلَقِيتُ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ فَحَدَّثْتُهُ فَقَالَ مُعَاذٌ: غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ فَأَصَبْنَا فِيهَا غَنَمًا فَقَسَمَ فِينَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَائِفَةً وَجَعَلَ بَقِيَّتَهَا فِي الْمَغْنَمِ.

دعبد الرحمن بن غنم نه روایت دې چه مونږه دشرحبیل بن سمط سره دقنسرین ښار محاصره اوکړه کله چه مجاهدینو دا ښار فتح کړو نوغوا اوچیلی ئې حاصلې کړې نویوڅه ئې په مونږ باندې تقسیم کړې اوباقی ئې په مال غنیمت کښې شامل کړې بیاماد معاذ بن جبل رضی الله عنه سره ملاقات اوکړو اودا واقعه مې ورته بیان کړه معاذ رضی الله عنه او فرمائیل چه مونږ دنبی علیه السلام په ملګرتیا کښې دخیبر جهاد کړې وو مونږ ته هم هلته چیلن ملاو شوې وې اونبی علیه السلام یوڅه په مونږ تقسیم کړې اوباقی ئې په مال غنیمت کښې شامل کړې.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت

د حدیث مضمون خو مخامخ راغلو خو سوال دا دې چه د دې د ترجمة الباب سره څه مطابقت دې، په ترجمة الباب کښې د بیع الطعام ذکر دې، د طعام په باره کښې خو دا وئیلې کیدې شی چه د دې نه مراد غیر مهیا للاکل دې، کوم چه په بقر او غنم باندې صادق راځی، خو په دې واقعه کښې بیع چرته موندلې شوې ده، حضرت په بذل کښې عدم مطابقة

(¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۳۳٤) (حسن)

الحديث للترجمة اشكال ليكلو سره د حضرت ګنګوهي د تقرير نه د دې د جواب وركولو كوشش فرمائيلي دې هغه دې په بذل كښې اوكتلې شي، زما په ذهن كښې د دې جواب ډيره موده پس ذهن ته راغلو چه په دې حديث باندې مصنف چه كومه ترجمه د بيع قائم كړې ده هغه د فقه المصنف د قبيل نه دى لهذا حديث او ترجمه ترمينځه صريح مطابقت تلاش كول دى بې سوده دې، زما په خيال كښې د مصنف غرض دا دې چه دا خو ظاهر دې چه قبل القسمة د مال غنيمت بيع طعام وى يا غير طعام جائز نه دى، صرف د ضرورت مطابق طعام او په قدر د ضرورت اخستلې شي په دې كښې هم كه څه بچ شي نو هغه د مال غنيمت طرف ته واپس كيدل ضرورى دى، خو مصنف دا وائى چه كه په دار الحرب كښې د خوراك څكاك څيزونه د تقسيم امام د طرف نه وى نو د دې نوعيت دويم دې د دې بيع جائز دې، ځكه چه د امام وركول په طور د تمليک دې نه په طريقه د اباحت، په خلاف د دې د لښكر د خوراک څكاک څيز قبل القسمة پخپله مال غنيمت كښې اوچت شى نو اګر چه د هغې اوچتول ناجائز دى، د قاعدې مطابق خو په دې صورت كښې د دې بيع جائز نه ده، پخپله د اخستلو جواز په طريق د اباحت دې، په طريق د تمليک نه دې، او دلته حديث الباب كښې د طعام تقسيم امير د طرف نه وى، په دې صورت كښې هغه خلق د دې مالک شو ځكه چه هغه لره چه څه غواړى كولې شى اګر چه هغه ئې هبه كړى يا بيع، هذا ما عندى، والله تعالى اعلم بالصواب.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَنْتَفِعُ مِنَ الْغَنِيمَةِ بِالشَّيْءِ

د تقسيم نه مخكښې د غنيمت د څيزونو د استعمال د مما نعت بيان

د مال غنيمت نه چه په كومو څيزونو كښې تصرف قبل القسمة جائز دې، د هغه څيزونو بيان روان دې د ټولو نه په شروع كښې مصنف طعام بيان كړې دې، او په دې ترجمه كښې د طعام نه علاوه نور بعض څيزونه يعنى مركوب او ملبوس بيانوى، او د دې نه وړاندې باب كښې استعمال سلاح بيانوى.

د ترجمة الباب والا مسئله كښې مذاهب ائمه

د دې استعمال عند الجمهور كه بغير د ضرورت دې يا د خپل ضرورت دپاره دې نو بيا خو ناجائز دې، او كه د حرب او د قتال ضرورت نه دا استعمالولې شى نو جائز دې، او د ملبوس په باره كښې دا دې چه كه د سخت ضرورت په وخت استعمالولې شى نو بيا جائز دې. كذا يستفاد من البذل، ومغنى المحتاج للشافعية، والمغنى لابن قدامة، او كوم څيز چه دوائى استعمال كړې شى په دې كښې اختلاف دې، د احنافو او د حنابله په نزد عند تحقق الحاجة والضرورة د دې استعمال جائز دې، د شوافعو په نزد استعمال دوايانې جائز نه دى الا بالقيمة.
او د اكل فواكه جواز شافعيه، حنابله په نزد عند تحقق الحاجة والضرورة د دې استعمال جائز دې، د شوافعو په نزد دلته استعمال او دا جائز نه دې الا بالقيمة، او د اكل فواكه جواز د شوافعو او حنابلو په نزد عند تحقق الحاجة والضرورة د دې استعمال جائز دې، د شوافعو په

نزد د دوايانو استعمال جائز نه دي الا بالقيمة. او د اكل فواكه جواز شوافعو او حنابله په كتابونو كښې مصرح ده، هم دغه شان بذل كښې د احنافو مذهب ليكلې دې، او د امام مالک نه مركوب او ملبوس وغيره استعمال چه كله هغه د قتال ضرورت وى دوه روايتونه دى، جواز او عدم جواز صرح به الباجى كما فى الاوجز، په پورته مذكوره مسائلو كښې مذاهب ائمه ډير تتبع او مراجعت كتب نه پس ليكلې دې، په اوجز كښې دلته حافظ باندې د مذاهب په سلسله كښې تعقب كړې دى چه په هغې په ظاهره كښې تسامح دې.

[٢٧٠٨]() حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ المعنى، قَالَ أَبُو دَاوُد، وَأَنَا لِحَدِيثِهِ أَتْقَنُ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاق، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَبِي مَرْزُوقٍ مَوْلَى تُجِيبَ، عَنْ حَنَشٍ الصَّنْعَانِيِّ، عَنْ رُوَيْفِعِ بْنِ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَرْكَبْ دَابَّةً مِنْ فَيْءِ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى إِذَا أَعْجَفَهَا رَدَّهَا فِيهِ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَلْبَسْ ثَوْبًا مِنْ فَيْءِ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى إِذَا أَخْلَقَهُ رَدَّهُ فِيهِ".

د رويفع بن ثابت انصاري رضی الله عنه نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى: د چاچه په الله تعالى اوپه ورځ داخرت باندې ايمان وي نوپه هغه سورلئ دي نه سوريږي كومه چه دمسلمانانو دغنيمت په مال كښې شامل وي اګرچه ده داخوربخاوري خواراوسانده كړي هم وي نوبيابه ئې هم واپس كوي په غنيمت كښې اودچاچه په الله تعالى اوپه ورځ دلخرت باندى ايمان وي نودمسلمانانو دغنيمت جامې دي نه اغوندی اګر چه ده په استعمال سره زړي كړي هم وي خوبيابه ئې هم واپس كوي په غنيمت كښې،

﴿ من كان يومن بالله وباليوم الاخر فلا يركب دابة من فئ المسلمين ﴾ چه د كوم سړى په الله پاک او د قيامت په ورځ باندې ايمان وى (دا تعليق د ايمان بالله سره سره دتاكيد او اهتمام په طور دې) نو هغه له پكار دى چه د مال غنيمت په يوه سورلئ باندې داسې سور نه شي چه كله د هغه نه سورلى واخستلې شى نو هغه كمزورې كړى نو بيا دې هغه په مال غنيمت كښې واپس كړى، هم دغه شان وړاندې د استعمال ثوب په باره كښې فرمائى چه هغه استعمال كړى او چه كله هغه خراب يا زوړ شى نو هغه دې په مال غنيمت كښې واپس كړى، ابن قدامه هم د هغه حديث نه د مركوب او ملبوس په عدم جواز باندې استدلال كړې دې، د دې حديث سياق په دې خبره باندې مشعر دې چه د دې استعمال نه مراد هغه استعمال دې كوم چه بغير د ضرورت نه وى. كما هو مذهب الجمهور.

بَابٌ فِي الرُّخْصَةِ فِي السِّلَاحِ يُقَاتَلُ بِهِ فِي الْمَعْرَكَةِ

كه په جنګ كښې اسلحه ملاؤشى نواستعمال ئې په جنګ كښې جائز دى

د مصنف په دې ترجمه كښې اشاره ده چه د استعمال سلاح جواز هغه وخت دې چه كله د قتال د ضرورت دپاره وى يعنى خپل ذاتى ضرورت نه وى.

(١): انظر حديث رقم: (٢١٥٨)، (تحفة الأشراف: ٣٦١٥) (حسن صحيح)

[۲۷۰۹] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، قَالَ: أَخْبَرَنَا إِبْرَاهِيمُ يَعْنِي ابْنَ يُوسُفَ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ السَّبِيعِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ السَّبِيعِيِّ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو عُبَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: مَرَرْتُ فَإِذَا أَبُو جَهْلٍ صَرِيعٌ قَدْ ضُرِبَتْ رِجْلُهُ فَقُلْتُ: يَا عَدُوَّ اللهِ يَا أَبَا جَهْلٍ قَدْ أَخْزَى اللهُ الْأَخِرَ قَالَ: وَلَا أَهَابُهُ عِنْدَ ذَلِكَ فَقَالَ: أَبْعَدُ مِنْ رَجُلٍ قَتَلَهُ قَوْمُهُ فَضَرَبْتُهُ بِسَيْفٍ غَيْرِ طَائِلٍ فَلَمْ يُغْنِ شَيْئًا حَتَّى سَقَطَ سَيْفُهُ مِنْ يَدِهِ فَضَرَبْتُهُ بِهِ حَتَّى بَرَدَ.

ابوعبیده دخپل پلار عبدالله بن مسعود نه روایت کوی چه زه په غزوه بدرکښې دشریک کیدو دپاره لاړم نوما ابوجهل اولیدو چه پروت دې اوپه خوباندې ئې دتورو دګذارونو نشانونه وو ما اووئیل اې دالله دشمنه اې ابوجهله اخرالله تعالی ذلیل کړې اوته دالله درحمت نه لرې وې عبدالله والی په دې وخت کښې زه دهغه نه نه ویریدم هغه اووئیل ډیره دتعجب خبره ده چه یوسړې دهغه خپل قوم مړ کړې بیا ماپه ده باندې د تورې وار اوکړو لیکن اونه لګیدو تردې چه دهغه توره دهغه دلاس نه پریوته ماهم دده په توره دې قتل کړو تردې چه یخ شو.

شرح حدیث

عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی، په جنګ بدر کښې زه په رئیس المشرکین ابو جهل باندې راتیر شوم کوم چه په میدان جنګ کښې جدا پروت وو، چه د هغه خپه غوخه شوې وه، ما د هغه طرف ته رخ کولو سره اووې (د هغه د رسوا او ذلیل کولو دپاره) ﴿یا عدو الله یا ابا جهل﴾ او دا مې هم ورته اووې چه نن خو الله پاک ذلیل سړې نور هم ذلیله کړو، الاخر د همزه په فتحې سره بغیر د مد نه، او د خاء په کسرې سره دې په معنی د ذلیل، عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی، او دې وخت کښې زه هغه ته په وینا باندې نه ویریدلم (ځکه چه دې وخت کښې خو هغه مجبوره پروت وو ګینې د دې نه مخکښې خو هغه ته داسې خطاب کول واقعی ګران وو چه د کفارو او مشرکانو سردار وو) په دې باندې هغه اووې چه د دې نه زیات نور هیڅ نه دی شوی چه یو سړې وو او هغه خپل قوم قتل کړو، یعنی تاسو څه کمال اوکړو؟ په څه باندې فخر کوئ، دلته چونکه د هغه مخاطب سیدنا عبدالله بن مسعود هذلی رضی الله عنه وو، د اوچت خاندان او قبیلې وو په دې وجه هغه دا خبره اوکړه، او په دې کښې ئې هم د خپلې تسلئ خیال ساتلې دې، لکه چه وئیلې شی: *گرتے ہیں شہسوار میدان جنگ میں۔* خو په شروع کښې چه کله دوه انصاری هلکانو په هغه باندې حمله کړې وه او هغه ئې راغورځولې وو نو هغه وختند هغه د ژبې نه د افسوس او غصې د وجې نه دا الفاظ وتلې وو ﴿ فلو غیر اکار قتلنی ﴾ (کما فی مغازی البخاری فی باب بلا ترجمة بعد، باب شهود الملائكة بدرا) ارمان چه زه د زمیندار هلک نه علاوه بل چا قتل کړې وې، یعنی څنګه چه زه لوئې سړې یم دغه شان زما قتل کونکې هم زما په شان وې، د دې دواړو ځایونو کښې تاثر مختلف دې، د اختلاف مخاطب د وجې نه (۲) وړاندې په روایت کښې دی عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه زما په

(۱): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۹۶۱۹)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري/ السير (۸۶۷۰)، مسند احمد (۱/۴۰۳، ۴۰۶، ۴۲۲، ۴۴۴) (صحيح)

(۲) او په قسطلانی کښې دی چه د دې قول ﴿ اعمد من رجل الخ ﴾ د خپلې تسلئ دپاره او د هغې د قتل نسبت د خپل قوم طرف ته کول. (حال دا چه قاتل د هغه قوم نه نه وو) دا مجازا دې په اعتبار د سببیت، یعنی د دې قوم سببیت، یعنی د هغه قوم سبب جوړ شو د هغه د قتل)

لاس کښې چه کومه توره وه په هغې مې اووهلو، کومه چه د معمولی کیدو د وجې نه مفیده نه وه، او په هغې سره هغه ختم نه شو، تردې چه د هغه د لاس نه د هغه توره پریوتله (کومه چه ډیره غوره او تیزه وه) نو بیا ماهغه په هغه باندې استعمال کړه چه په هغې سره هغه یخ شو.
د دې اخری جملې د وجې نه حدیث د ترجمة الباب مطابق شو چه په دې کښې استعمال سلاح غنیمت بیا موندلې شو په دې کښې مذاهب ائمه په تیرو بابونو کښې په تفصیل سره تیر شوي دی، د ابوداود په روایت کښې لفظ ﴿ ابعد ﴾ واقع شوې دې چه د هغې شرح مونږ پورته اوکړه او د خطابی رائې دا ده چه دا لفظ داسې صحیح نه دې، صحیح ﴿ اعمد من رجل ﴾ دې، چه د هغې معنی د ﴿ اعجب ﴾ ده، د بخاری لفظ هم ﴿ اعمد ﴾ دې. والحدیث اخرجه النسائی مختصرا، قاله المنذری.

بَابٌ فِي تَعْظِيمِ الْغُلُولِ

د مال غنیمت پټول عظیم ترین جرم دې

یعنی د دې خبرې په بیان کښې چه غلول جرم عظیم دې، د غلول معنی د مطلق خیانت ده، او وئیلې شوې دی چه هغه خیانت کوم چه په مال غنیمت کښې وی،

[٢٧١٠] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، أَنَّ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ، وَبِشْرَ بْنَ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَاهُمْ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ، عَنْ أَبِي عَمْرَةَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُوُفِّيَ يَوْمَ خَيْبَرَ فَذَكَرُوا ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ فَتَغَيَّرَتْ وُجُوهُ النَّاسِ لِذَلِكَ فَقَالَ: إِنَّ صَاحِبَكُمْ غَلَّ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَفَتَّشْنَا مَتَاعَهُ فَوَجَدْنَا خَرَزًا مِنْ خَرَزِ يَهُودَ لَا يُسَاوِي دِرْهَمَيْنِ".

د زید بن خالد جهنی نه روایت دې چه د خیبر په ورځ د نبی ﷺ په ملګرو کښې یو کس وفات شو صحابه کرامو نبی ﷺ ته د دې ذکر اوکړو نبی ﷺ اوفرمائیل په دې خپل ملګري مو جنازه اوکړئ یعنی زه په ده باندې جنازه نه کوم تاسو ئې اوکړئ په دې خبره باندې د خلقو مخونه بدل شول بیا نبی ﷺ اوفرمائیل ستاسو ملګري د الله په لار کښې خیانت کړې دې یعنی د غنیمت په مال کښې نو مونږ د هغه د سامان تلاشي واغسته نو مونږ د هغه په سامان کښې د یهودیانو د ښځو د جامونه یوه جامه پیدا کړه د کوې چه قیمت دوه درهمه هم نه وو.
د حدیث مضمون واضح دې چه د غزوه خیبر په موقع باندې یو صحابی وفات شو چه د هغه ذکر رسول الله ﷺ ته اوکړې شو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د خپل ملګری مونځ تاسو اوکړو، د هغه د دې ناخوښئ او طرز نه خلق اویریدل، رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هغه په مال غنیمت کښې خیانت کړې دې، راوی وائی چه مونږ د هغه د سامان تفتیش اوکړو نو د هغه په سامان کښې د ملغلرو څو کانړی راوتل، د یهودو د جواهرو نه کوم چه په قیمت کښې د دوه درهمو برابر هم نه وو، د دې نه د روستو مضمون هم د دې قسم دې. والحدیث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذری.

(١): سنن النسائي/الجنائز ٦٦ (١٩٦١)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٣٤ (٢٨٤٨)، موطا امام مالك/الجهاد ١٣ (٢٣)، مسند احمد (١١٤/٤، ١٩٢/٥)، (تحفة الأشراف: ٣٧٦٧) (ضعيف)

[۲۷۱۱]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْدٍ الدِّيلِيِّ، عَنْ أَبِي الْغَيْثِ مَوْلَى ابْنِ مُطِيعٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ خَيْبَرَ فَلَمْ يَغْنَمْ ذَهَبًا وَلَا وَرِقًا إِلَّا الثِّيَابَ وَالْمَتَاعَ وَالْأَمْوَالَ قَالَ: فَوَجَّهَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ وَادِي الْقُرَى، وَقَدْ أُهْدِيَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدٌ أَسْوَدُ يُقَالُ لَهُ مِدْعَمٌ حَتَّى إِذَا كَانُوا بِوَادِي الْقُرَى فَبَيْنَا مِدْعَمٌ يَحُطُّ رَحْلَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَهُ سَهْمٌ فَقَتَلَهُ فَقَالَ النَّاسُ: هَنِيئًا لَهُ الْجَنَّةُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَلَّا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّ الشَّمْلَةَ الَّتِي أَخَذَهَا يَوْمَ خَيْبَرَ مِنَ الْمَغَانِمِ لَمْ تُصِبْهَا الْمَقَاسِمُ لَتَشْتَعِلُ عَلَيْهِ نَارًا. فَلَمَّا سَمِعُوا ذَلِكَ جَاءَ رَجُلٌ بِشِرَاكٍ أَوْ شِرَاكَيْنِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: شِرَاكٌ مِنْ نَارٍ أَوْ قَالَ: شِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ.

دابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه مونږ دنبي عليه السلام سره د خيبر په کال باندې جهادته لاړو نوسپين اوسره زرموپه غنيمت حاصل نکړل بلکه مګر جامې اوسامانونه او مالونه موحاصل کړل دي وائی چه نبی عليه السلام دوادي القري علاقې طرف ته روان شو او يقينا نبی عليه السلام ته يوتورغلام هديه کړې شوي وو چه مدعم به ورته وئيلې شو هرکله چه وادی القری ته ورسيدل نومدعم دنبی عليه السلام داوښ کته کوزوله په دې وخت کښې دې په يوغشي ولګيدو اوهلاك شوخلقو ووئيل جنت دې ده ته مبارك شي نبی عليه السلام اوفرمائيل هيڅ کله نه په هغه ذات مې دې قسم وي دچاپه قبضه کښې چه زما روح دې کوم کمبل چه ده په غزوه خيبرکښې دتقسيم نه مخکښې اخستلې ووده هغه نه لمبې وهونکې اور جوړ شوي دې اودې سوزوي،هرکله چه خلقو دا واوريدل نويو کس يوه يادوه تسمې راخستې وي او نبی عليه السلام ته ئې راوړلې نبی عليه السلام اوفرمائيل داد اور يوه تسمه وه يادا اور دوه تسمې وې.

شرح حديث

يعنی کله چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د غلول په باره کښې سخت وعيد اوفرمائيلو نو د دې وعيد د اوريدلو نه پس د يو سړي د څرمنې يوه تسمه يا دوه تسمې اخستلو سره د هغه په خدمت کښې راوړې (کومې چه هغه د مال غنيمت نه اوچتې کړې وې) نو په دې باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه دا تسمه د اور ده، او که دوه تسمې ئې راوړې وی نو فرمائيلې به ئې وی چه دا دواړه تسمې د اور دی، د راوی شک دې.

د دې فقرې په مطلب کښې دوه احتمالونه دی، اول دا چه د هغه مراد د دې نه دا دې چه که تا دا تسمه واپس کړې نه وې نو دا به ستا دپاره اور د ته د تلو ذريعه وه، او ګويا د دې وينا نه پس ئې هغه کيخودله، او بل احتمال دا دې چه چونکه هغه سړی دا تسمه د غنيمت د تقسيم نه روستو راوړې وه،راوړل پکار ووهغه لره ددې نه مخکښې،اوس دچاپه حصه کښې هغه اولګولې شی؟ په دې وجه رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه په دې وينا سره واپس کړو چه دا تسمه اوس ستاپه حق کښې داورسبب دې. والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری.

(): صحيح البخاري/المغازي ۳۸ (۴۲۳۴)، والأيمان ۳۳ (۶۷۰۷)، صحيح مسلم/الإيمان ۴۸ (۱۱۵)، سنن النسائي/الأيمان والنذور ۳۷ (۳۸۵۸)، (تحفة الأشراف: ۱۲۹۱۶)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجهاد ۱۳ (۲۵) (صحيح)

بَابٌ فِي الْغُلُولِ إِذَا كَانَ يَسِيرًا يَتْرُكُهُ الإِمَامُ وَلَا يُحَرِّقُ رَحْلَهُ

کله چه د غنیمت نه پټ شوی څیز معمولی وی نو امیر دې دا معاف کړی او د غلو ساما نونه دې نه سوزوی

د ترجمة الباب تشریح :

په دې ترجمة الباب کښې دوه جزونه دی، اولنې جزء دا چه مال غلول که یو معمولی څیز وی لکه تسمه وغیره کومه چه په سابقه باب کښې تیر شو نو د هغې سره به هم دا معامله کولې شی کومه چه په حدیث کښې تیره شوه خو که هغه مال غلول کثیر او په لوئې مقدار کښې وی نو بیا د اصولو تقاضه دا ده چه هغه دې رد نه کړې شی ځکه چه د غانمینو حق دې، بلکه هغه دې واخستلې شی او باقاعده دې تقسیم کړې شی، او دویم جزء د ترجمې د عقوبت غال سره متعلق دې چه په هغې باندې مستقل ترجمه وړاندې راروانه ده. لهذا دلته د هغې د ذکر کولو وجه فهم ته نه راځی، او هم دغه شان په حدیث الباب کښې هم د دې څه ذکر نشته، هسې مطلب د دې جزء دا دې چه وړاندې په حدیث کښې راځی چه کله ته یو سړې وینې چه هغه په مال غنیمت کښې خیانت کړې دې نو د هغه ټول سامان او متاع اوسیزه، نو دلته مصنف فرمائی چه د هغه غال سورلی به نه شی سیزلې باقی سامان به ئې سیزلې شی. اذ لا یجوز تعذیب الحیوان بالنار.

[۲۷۱۲] (¹) حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ مَحْبُوبُ بْنُ مُوسَى، قَالَ: أَخْبَرَنَا أَبُو إِسْحَاقَ الْفَزَارِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَوْذَبٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَامِرٌ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الْوَاحِدِ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَصَابَ غَنِيمَةً أَمَرَ بِلَالًا فَنَادَى فِي النَّاسِ فَيَجِيئُونَ بِغَنَائِمِهِمْ فَيُخَمِّسُهُ وَيُقَسِّمُهُ، فَجَاءَ رَجُلٌ بَعْدَ ذَلِكَ بِزِمَامٍ مِنْ شَعَرٍ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذَا فِيمَا كُنَّا أَصَبْنَاهُ مِنَ الْغَنِيمَةِ فَقَالَ: أَسَمِعْتَ بِلَالًا يُنَادِي ثَلَاثًا؟ قَالَ: نَعَمْ قَالَ: فَمَا مَنَعَكَ أَنْ تَجِيءَ بِهِ، فَاعْتَذَرَ إِلَيْهِ فَقَالَ: كُنْ أَنْتَ تَجِيءُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَلَنْ أَقْبَلَهُ عَنْكَ".

دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ به کله غنیمت حاصل کړو او تقسیمول به ئې اوغوښتل نو بلال ته به ئې د اعلان کولو حکم وکړو نو خلقو به نبی ﷺ ته خپل غنیموتونه راوړل او خمس به ئې ترې اخستلو او باقی به ئې په مجاهدینو تقسیمولو نو یو کس د غنیمت د تقسیم نه پس د خمس ورکولو دپاره د اوښ یاداس د واګو دوړئ یو ګړې راوړو او عرض ئې وکړو چه اې د الله رسوله دا هم مونږ په غنیمت کښې حاصل کړې وو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل ایا بلال چه درې پیرې آواز کړې وو تا نه وو اوریدلې ده ووئیل هو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل تا ولې دانه راوړلو؟ نو ده معذرت وکړو چه اې د الله رسوله په ما باندې ناوخته شو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل اوس ته پوهه شه اوستا کار ته به داد قیامت په ورځ راوړې اوزه درنه دا اوس نه شم اخستلې.

د حدیث مضمون

د حدیث الباب مضمون دا دې چه د رسول الله ﷺ معمول وو چه کله به په یو ځائې کښې مال غنیمت حاصل شو نو هغه به په حضرت بلال رضی الله عنه باندې په خلقو کښې دا اعلان کولو چه چا سره چه کوم مال غنیمت دې هغه دې دلته راوړی او جمع دې کړی، پس په یو روایت کښې

(¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۸۳۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۱۳) (حسن)

داسې دی ﴿ ضموا اغنائمکم ﴾ پس خلقو به مال غنیمت یوځائې ته راجمع کړو رسول الله ﷺ به هغه د قاعدې مطابق تخمیس کولو، یعنی د کل مال غنیمت نه به ئې یو خمس راویستلو او باقی څلور اخماس به ئې په غانمین کښې تقسیم کړل، یو ځل داسې اوشو چه یو سړی د تقسیم نه روستو د وړئ جوړه یوه رسئ راوړه او دا عرض ئې اوکړو چه دا ما د مال غنیمت نه اخستلې وه، رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه تا د بلال اعلان اوریدلې وو؟ کوم چه هغه درې کرته کړې وو؟ هغه عرض اوکړو چه او جی ما اوریدلې وو، وې فرمائیل چه بیا څه څیز مانع شوې وو د دې د راوړلو نه؟ هغه سړی په دې باندې څه معذرت شان اوکړو نو رسول الله ﷺ دهغه خبره وانوریدله اووې فرمائیل چه اوس به ته دا دقیامت په ورځ باندې راوړې.

بَابٌ فِي عُقُوبَةِ الْغَالِّ

دغنیمت مال دپټونکی دسزا بیان

[۲۷۱۳]([1]) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، وَسَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَ النُّفَيْلِيُّ الدَّرَاوَرْدِيُّ، عَنْ صَالِحِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ زَائِدَةَ، قَالَ أَبُو دَاوُد، وَصَالِحٌ هذا أبو واقد، قَالَ: دَخَلْتُ مَعَ مَسْلَمَةَ أَرْضَ الرُّومِ فَأُتِيَ بِرَجُلٍ قَدْ غَلَّ فَسَأَلَ سَالِمًا عَنْهُ فَقَالَ سَمِعْتُ أَبِي يُحَدِّثُ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا وَجَدْتُمُ الرَّجُلَ قَدْ غَلَّ فَأَحْرِقُوا مَتَاعَهُ وَاضْرِبُوهُ"، قَالَ: فَوَجَدْنَا فِي مَتَاعِهِ مُصْحَفًا فَسَأَلَ سَالِمًا عَنْهُ، فَقَالَ: بِعْهُ وَتَصَدَّقْ بِثَمَنِهِ".

دصالح بن محمد بن زائد رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زه د مسلمه سره روم ته لاړم هلته یوکس راوستې شو چه دغنیمت دمال نه ئې غلا کړې وه نومسلمه رضي الله عنه دهغه دحکم په باره کښې دسالم نه تپوس اوکړو هغه اووئیل چه مادخپل پلار ابن عمر رضي الله عنه نه اوریدلې دي چه دعمر رضي الله عنه نه ئې نقل کول چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی چه کله تاسو څوك اووینئ چه دغنیمت دمال نه یو غلا کړې ده نودده سامان اوسوزوئ اوبیا ئې اووهئ، راوي وائی چه دده په سامان کښې د قران کریم یوه نسخه هم وه مسلمه دسالم نه تپوس اوکړو چه دا قران کریم خرڅ کړئ اوقیمت ئې صدقه کړئ.

﴿ اذا وجدتم الرجل قد غل فاحرقوا متاعه ﴾ د دې حدیث مضمون د پورته باب په حدیث کښې تیر شو.

ترجمة الباب والا مسئله کښې د ائمه کرامو اختلاف

بعض علماء د دې حدیث په بنیاد باندې د تحریق متاع غال قائل دی، لکه امام حسن بصری، اسحاق بن راهویه او امام اوزاعی، او هم دا یو روایت د امام احمد رحمه الله نه دې، خو د جمهورو عمل په دې حدیث باندې نه دې، د هغې وجه دا ده چه جمهور محدثینو په دې باندې کلام کړې دې پس امام ترمذی د امام بخاری نه د دې تضعیف بلکه عدم ثبوت نقل کړې دې، هم دغه شان امام دارقطنی هم د دې تضعیف کړې دې، هم دغه شان امام ابوداود

[1]: سنن الترمذي/الحدود ۲۸ (۱۴۶۱)، (تحفة الأشراف: ۶۷۶۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۲/۱)، سنن الدارمي/السير ۴۹ (۲۵۳۷) (ضعيف)

هم د دې حديث په سند کښې اختلاف او اضطراب ثابت کړې دې، او امام طحاوي فرمائي چه که حديث صحيح اومنلې شي نو بيا به جواب دا وي چه ممکنه ده دا د هغه وخت خبره وي چه کله په اسلام کښې عقوبت ماليه جائز وو، کوم چه روستو منسوخ شو، امام ابوداود د دې حديث موقوف کيدو ته ترجيح ورکړې ده، دې حديث شريف ته اشاره په در منضود جلد ثاني کتاب الصلاة کښې په ترک جماعت باندې وعيد والا حديث کښې هم کړې شوې ده، او بعض شارحينو وئيلي دی چه که دا حديث ثابت هم اومنلې شي نو دا به په زجر او توبيخ باندې محمول وي، ځکه چه د رسول الله ﷺ نه دا بالکل هم ثابت نه دی چه هغه دې د متاع غال تحريق کړې وي.

د باب د اولني حديث د ظاهر نه معلوميږي چه مسلمه کوم چه د عبدالملک بن مروان ځوئې دې هغه د دې حديث په وجه باندې تحريق متاع غال کړې وو، او چونکه د هغه په متاع کښې يو مصحف هم وو نو د هغې په باره کښې هغه د حضرت سالم نه معلومه کړه چه څه اوکړې شي؟ هغه اوفرمائيل چه : ﴿ بعه وتصدق بثمنه ﴾ او د باب د حديث ثاني مضمون دا دې، صالح بن محمد فرمائي چه مونږ خلق په يوه غزوه کښې د وليد بن هشام سره وو او په سفر کښې مونږ سره سالم بن عبدالله بن عمر او عمر بن عبدالعزيز هم وو نو وليد بن هشام د هغه سړي د سامان د سيزلو حکم ورکړو چا چه په مال غنيمت کښې غلول کړې وو او هغه په پوره لښکر کښې اوګرځولې شو او هغه ته ئې په غنيمت کښې هم حصه ورنکړه.

[٢٧١٤]([1])حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ مَحْبُوبُ بْنُ مُوسَى الْأَنْطَاكِيُّ، قَالَ: أَخْبَرَنَا أَبُو إِسْحَاقَ، عَنْ صَالِحِ بْنِ مُحَمَّدٍ، قَالَ: غَزَوْنَا مَعَ الْوَلِيدِ بْنِ هِشَامٍ، وَمَعَنَا سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، وَعُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ فَغَلَّ رَجُلٌ مَتَاعًا فَأَمَرَ الْوَلِيدُ بِمَتَاعِهِ فَأُحْرِقَ وَطِيفَ بِهِ وَلَمْ يُعْطِهِ سَهْمَهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا أَصَحُّ الْحَدِيثَيْنِ رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، أن الوليد بن هشام أحرق رحل زياد بن سعد وكان قد غل وضربه.

دصالح بن محمدنه روايت دې فرمائي چه مونږه دوليد بن هشام په ملګرتيا کښې جهاد اوکړو اوزمونږ سره سالم بن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما او عمربن عبدالعزيزهم وو، نويو سړی د غنيمت دمال نه غلا اوکړه نووليد حکم اوکړو اودده سامان اوسوزول شو اوبيا ئې په ټولو خلقو کښې اوګرځوو اوحصه ئې ورته هم ورنکړه. ابوداود وائي چه دا روايت ډير صحيح دې ډيرو کسانو دا روايت نقل کړې دې چه وليد بن هشام بن عبدالملك بن مروان بن حکم دزياد بن سعد سامان سوزولې وو ځکه چه هغه دغنيمت دمال نه غلا کړې وه او دې ئې وهلې هم وو.

د تحريق متاع الغال حديث په باره کښې د مصنف رائې

﴿ قال ابو داود وهذا اصح الحديثين الخ ﴾ مصنف فرمائي چه پورته ذکر شوې حديث ﴿ اذا وجدتم الرجل قد غل فاحرقوا متاعه ﴾ ثابت نه دې بلکه موقوفا ثابت دې، د موقوف نه هم مقوف تابعي يعنی مقطوع مراد دې

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٧٦٣) (ضعيف)

[۲۷۱۵](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ أَيُّوبَ، قَالَ: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ حَرَّقُوا مَتَاعَ الْغَالِّ وَضَرَبُوهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَزَادَ فِيهِ عَلِيُّ بْنُ بَحْرٍ، عَنِ الْوَلِيدِ وَلَمْ أَسْمَعْهُ مِنْهُ وَمَنَعُوهُ سَهْمَهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وحَدَّثَنَا بِهِ الْوَلِيدُ بْنُ عُتْبَةَ، وَعَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ عَنْ زُهَيْرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ قَوْلَهُ: وَلَمْ يَذْكُرْ عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ الْحَوْطِيُّ مَنْعَ سَهْمِهِ.

عمرو بن شعيب د خپل پلار نه هغه دده دنيکه نه روايت کوي چه نبي ﷺ او ابوبکر اوعمر رضي الله عنهما په غنيمت کښې دخيانت کونکي سامان سوزولي وو او وهلي ئي هم وو. ابوداود وائي چه علي بن بحر دا روايت دځه اضافي سره دوليد نه نقل کړې دې اودا اضافه ما دهغه نه نه وه اوريدلي اوهغه داوه چه حصه ئې هم نه وه ورکړې او ابوداود په بل سند سره دا روايت نقل کړې دې د عمرو بن شعيب نه او په هغې کښې دا جمله نشته چه حصه ئې نه وه ورکړې.

بَابُ النَّهْيِ عَنِ السَّتْرِ عَلَى مَنْ غَلَّ

دغنيمت په مال کښې په خيانت کونکي باندې د پردې د نه اچولو بيان

[۲۷۱٦](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ بْنِ سُفْيَانَ، قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ، قَالَ: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ مُوسَى أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سَعْدِ بْنِ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، حَدَّثَنِي خُبَيْبُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِيهِ سُلَيْمَانَ بْنِ سَمُرَةَ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، قَالَ: أَمَّا بَعْدُ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَنْ كَتَمَ غَالًّا فَإِنَّهُ مِثْلُهُ".

دسمره بن جندب رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي ﷺ فرمائيلي دي چه څوک په غنيمت کښې خيانت اوکړي اوبل کس ورباندې پرده واچوي يعنی اميرته ئي ښکاره نه کړي چه فلانی خيانت کړې دې تودې به هم دخيانت کونکي په شان وي يعنی دواړه په ګناه کښې برابردي.

﴿عن سمرة بن جندب قال : اما بعد﴾ دا د ﴿اما بعد﴾ والا پنځم حديث دې چه د هغې تعارف مونږ سره د در منضود په مقدمه کښې او د هغې نه علاوه هم په څو ځايونو کښې راغلې دې، دا ټول شپږ حديثونه دی چه په هغې کښې يو باقی پاتې شو کوم چه د کتاب الجهاد اخری حديث دې. په بذل المجهود کښې دی چه دا سند ضعيف دې، قابل استدلال نه دې ﴿وبکل حال هذا اسناد مظلم لا ينهض بحکم﴾ اهـ په دې حديث کښې دا دی چه کوم سړې د غلول کونکی غلول لره پټ کړی، يعنی د هغه پرده اوساتی نو هغه هم دغه شان غال دې، د دې حديث تقاضه دا ده چه که د يو سړی غلول معلوم شی نو امير ته تلو سره د هغې اطلاع ضروری ده،اوس به يا خودا وئيلې شی چه مسئله د غلول ﴿من ستر مسلما ستره الله﴾ د عموم نه مستثنى ده اويا به داوئيلې شی چه حديث الباب ضعيف دې.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٧٠٦، ١٩١٦٩) (ضعيف)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٦٢٠) (ضعيف)

بَابٌ فِي السَّلَبِ يُعْطَى الْقَاتِلُ

ځوک چه ځوک قتل کړی دهغه مال به قاتل ته ورکولې شی

د احکام سلب ابتداء

د دې ځائې نه څو بابونه د احکام سلب متعلق شروع کیږی، سلب وئیلې شی د کافر مقتول سره چه کوم سامان وی د هغه جامې، وسله، سورلئ وغیره، د سلب متعلق ډیر زیات مسائل اختلافی دی، حضرت شیخ په اوجز المسالک کښې هغه ټول د کتب فقهیه او شروح حدیث نه راجمع کړې دی کوم چه اتلس مسائل دی، د هغه مسائلو نه یوه ډیره مشهوره اختلافی مسئله دا ده چه د مقتول سلب کوم چه قاتل ته ورکولې شی دا من حیث الاستحقاق دې یا من حیث التنفیل؟ او د شافعی او احمد په نزد من حیث الاستحقاق دې، یعنی د امام په رائې او د هغه په ورکړه باندې موقوف نه دی، هغه د هغه خپل حق دې اوکوم چه په حدیث کښې راغی چه ﴿من قتل قتیلا فله سلبه﴾، د دې دواړو امامانو په نزد دا څه وقتی فیصله او انعام نه دې بلکه د قاعده کلیه په طور دې، او د امام ابوحنیفه او مالک په نزد سلب د تنفیل د قبیلې نه دې، یعنی د امام د طرف نه یو غازی ته د هغه د کارنامې په طور په طور د زیاتې حصې او انعام ورکولې شی، چه هر کله دا خبره ده نو بیا د سلب د قاتل دپاره کیدل د امام په رائې او د هغه په فیصله باندې موقوف دې، که د هغه د طرف نه دا اعلان شوې دې چه ﴿من قتل قتیلا فله سلبه﴾ یا بغیر د اعلان نه چه هغه ئې چاته ورکول غواړی نو بیا به د هغه دپاره وی ګینې نه.

بله اختلافی مسئله دا ده چه سلب د کوم قاتل دپاره وی، د امام مالک په نزد د هغه قاتل دپاره کوم چه ذو سهم وی یعنی د چا چه باقاعده په غنیمت کښې حصه وی، فلا سلب للصبی والمراءة عنده بخلاف الجمهور، د هغوی په نزد دا قید نشته.

یوه مشهوره اختلافی مسئله د سلب متعلق دا ده کومه چه به وړاندې په مستقبل باب کښې راشی چه څنګه د مال غنیمت تخمیس وی چه د هغې نه خمس ویستلې شی د بیت المال وغیره دپاره نو ایا د داسې سلب تخمیس به هم وی یا نه، وغیره وغیره مسائل.

[۲۷۱۷] ([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ كَثِيرِ بْنِ أَفْلَحَ، عَنْ أَبِي مُحَمَّدٍ مَوْلَى أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي عَامِ حُنَيْنٍ، فَلَمَّا الْتَقَيْنَا كَانَتْ لِلْمُسْلِمِينَ جَوْلَةٌ قَالَ: فَرَأَيْتُ رَجُلًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ قَدْ عَلَا رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ قَالَ: فَاسْتَدَرْتُ لَهُ حَتَّى أَتَيْتُهُ مِنْ وَرَائِهِ، فَضَرَبْتُهُ بِالسَّيْفِ عَلَى حَبْلِ عَاتِقِهِ، فَأَقْبَلَ عَلَيَّ فَضَمَّنِي ضَمَّةً وَجَدْتُ مِنْهَا رِيحَ الْمَوْتِ ثُمَّ أَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَأَرْسَلَنِي فَلَحِقْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فَقُلْتُ لَهُ: مَا بَالُ النَّاسِ، قَالَ: أَمْرُ اللَّهِ، ثُمَّ إِنَّ النَّاسَ رَجَعُوا وَجَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ: "مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا لَهُ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ فَلَهُ سَلَبُهُ، قَالَ: فَقُمْتُ ثُمَّ قُلْتُ: مَنْ يَشْهَدُ

[1]: صحيح البخاري/البيوع ۳۷ (۲۱۰۰)، فرض الخمس ۱۸ (۳۱٤۲)، المغازي ٥٤ (٤۳۲۱)، الأحكام ۲۱ (۷۱۷۰)، صحيح مسلم/الجهاد ۱۳ (۱۵۷۱)، سنن الترمذي/السير ۱۳ (۱۵٦۲)، سنن ابن ماجه/ الجهاد ۲۹ (۲۸۳۷)، (تحفة الأشراف: ۱۲۱۳۲)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجهاد ۱۰ (۱۸)، مسند احمد (۲۹۵/۵، ۲۹٦، ۳۰٦)، سنن الدارمي/السير ٤٤ (۲۵۲۸) (صحيح)

لِي؟ ثُمَّ جَلَسْتُ، ثُمَّ قَالَ ذَلِكَ الثَّانِيَةَ: مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا لَهُ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ فَلَهُ سَلَبُهُ، قَالَ: فَقُمْتُ ثُمَّ قُلْتُ: مَنْ يَشْهَدُ لِي؟ ثُمَّ جَلَسْتُ، ثُمَّ قَالَ ذَلِكَ الثَّالِثَةَ: فَقُمْتُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا لَكَ يَا أَبَا قَتَادَةَ؟ قَالَ: فَاقْتَصَصْتُ عَلَيْهِ الْقِصَّةَ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: صَدَقَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَسَلَبُ ذَلِكَ الْقَتِيلِ عِنْدِي فَأَرْضِهِ مِنْهُ، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ: لَاهَا اللَّهِ إِذًا يَعْمِدُ إِلَى أَسَدٍ مِنْ أُسُدِ اللَّهِ يُقَاتِلُ عَنِ اللَّهِ، وَعَنْ رَسُولِهِ فَيُعْطِيكَ سَلَبَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: صَدَقَ فَأَعْطِهِ إِيَّاهُ". فَقَالَ أَبُو قَتَادَةَ: فَأَعْطَانِيهِ فَبِعْتُ الدِّرْعَ فَابْتَعْتُ بِهِ مَخْرَفًا فِي بَنِي سَلِمَةَ فَإِنَّهُ لَأَوَّلُ مَالٍ تَأَثَّلْتُهُ فِي الْإِسْلَامِ.

دابوقتاده رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه مونږ دنبی عليه السلام سره د غزوه حنین په کال باندې جهاد ته لاړو هرکله چه مونږه ددشمن سره مخامخ شو نوپه مسلمانانوکښې انتشار پیداشودې وائی ماپه مشرکانوکښې یوکس اولیدو چه په یو مسلمان باندې زورور شوې دې نوزه ورغلم دوروسته طرف نه او په څټ مې ورله توره کیخوده نوده ماته رامنډه کړل اوماله ئې داسې زور راکړو چه دمرګ خوند ئې را اوخودو بیا پخپله مړشواوزه ئې پریخودم بیازمادعمرها سره ملاقات اوشو اوما اووئیل نن صباپه خلقو باندې څه شوي دي هغه په جواب کښې اووئیل حکم خوهم داسې شوې وو خو مسلمانان واپس راغلل اوکیناستل رسول الله ﷺ اوفرمائیل څوک چه څوک قتل کړي نودهغه سامان به هغه ته ملاویږي خوکله چه په دې باندې دوه ګواهان وي، ابوقتاده وائی ماچه کله دا واوریدل نوکیناستم بیا نبی عليه السلام اوفرمائیل څوک چه څوک مړ کړي نودهغه سامان به هم ده ته ملاویږي په دې شرط چه ګواه ورسره وي نوزه پاڅیدم او اودریدم اوزمادا خیال وو چه ګواه به چرته وي بیا کیناستم او په دریم ځل نبی عليه السلام داسې اوفرمائیل په تاڅه شوي دي اې ابوقتاده نوماورته ټوله قصه واوروله په دې وخت کښې یوکس اووئیل چه ریښتیائې اووئیل اې دالله رسوله، اوددغه کافرسامان زماسره دې دغه ماته راکړئ نوده ته ابوبکر رضي الله عنه اووئیل په الله قسم داسې به هیڅ کله اونه شي چه جنګ دې دالله یواز مرې کوی دالله درسول دطرف نه اوغنیمت دې ته واخلې نبی عليه السلام اوفرمائیل ابوبکر ریښتیا وائی اوسا ما ن ابوقتاده ته ورکړئ ابوقتاده وائی چه ماته ئې راکړل زغره مې خرڅه کړه او یوباغ مې واغستو د بنی سلمه په مال کښې اودا اُولنې مال وو کوم چه ماپه اسلام کښې حاصل کړو.

شرح حدیث

سیدنا ابوقتاده رضي الله عنه فرمائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره په حنین کښې وو، چه کله زمونږ د مشرکانو سره مقابله اوشوه نو د لښکر په بعض خلقو کښې غوبل جوړ شو، ابو قتاده فرمائی چه ما یو مشرک اولیدو چه یو مسلمان ئې راګیر کړې وو او په هغه باندې مسلط وو، هغه فرمائی چه کله ما دا منظر اولیدو نو زه په چل ول د هغه د شا طرف نه هغه له راغلم او هغه مې سټ ته نزدې په توره اووهلو، هغه دغه سړې پریخودلو او په ما ئې حمله اوکړه او زه هغه داسې په شدت سره لاندې کړم چه د هغه نه ماته د خپل مرګ بوئې راغلو (خو اوشوه د دې برعکس) بیا هغه مړ شو او زه ئې پریخودلم، او هم په دې وخت کښې، زه سیدنا عمر رضي الله عنه ته راغلم او ما د هغه نه تپوس اوکړو ﴿ ما بال الناس ﴾ چه په خلقو څه اوشو

ولې منډې وهی؟ نو هغه جواب راکړو چه ﴿ امر الله ﴾ د دې دوه مطلبونه کیدې شی یو دا چه داسې د الله پاک په تقدیر او د هغه په حکم سره اوشو چه د هغې ظاهری سبب او مقصد اعجاب دې. کما هو مذکور فی القران او یا د امر الله مطلب دا دې چه ویرېږئ مه د الله پاک د فیصلې او د هغه د مدد انتظار کوئ. ﴿ثم ان الناس رجعوا وجلس رسول الله صلی الله علیه وسلم ﴾ دلته په روایت کښې اختصار دې د دې روایت باقی حصه حضرت په بذل کښې د مسلم د روایت نه نقل کړې ده هغه دې اوکتلې شی، په روایت کښې دی چه کله خلق د رسول اللهﷺ د خوا نه منتشر شو نو سیدنا عباسرضی الله عنه ته ئې اوفرمائیل کوم چه جهوری الصوت وو (کان رجلا صیتا) ﴿ نادیا معشر الانصار، یا اصحاب السمرة ﴾ چه دا اواز اولګوه اې د انصارو جماعت! اې اصحاب شجره! حضرت عباسرضی الله عنه چه دا اواز اولګولو نو صحابه کرام پوهه شو چه دا اواز د رسول اللهﷺ د طرف نه دې، پس عباسرضی الله عنه فرمائی چه زما په اواز باندې خلق داسې مائل شو او په منډه منډه راغلل لکه غوا چه د خپل ورک شوی بچی په اواز اوریدو باندې د هغه طرف ته منډه وهی، هغوی په دې وینا سره منډې وهلې چه ﴿ یا لبیک یا لبیک ﴾ او ټول رسول اللهﷺ ته نزدې راغلل، تردې چه کله د سلو کسانو برابر د هغه په خوا کښې مجاهدین راجمع شو نو اوس هغه د کفارو طرف ته متوجه شو د جنګ کولو دپاره او سخت جنګ شروع شو، هغه په دې وخت کښې جنګ کتلو سره اوفرمائیل : ﴿ الان حمی الوطیس ﴾ چه اوس جنګ ګرم شو (یعنی د یخیدو او تیختې نه پس) بیا رسول اللهﷺ د زمکې نه د شګو یو موټې واخستلو او د هغه مشرکانو طرف ته ئې ګزار کړو او وې فرمائیل ﴿شاهت الوجوه ﴾ (دا مخونه دې اوسوځی) راوی وائی چه هغه یو موټې شګې د مشرکانو په سترګو کښې پریوتلې او هغوی شا راواړوله او په منډه شو، او مسلمانانو ته فتح حاصله شوه. دا ده هغه حصه د هغه روایت کومه چه دلته په ابوداود کښې مختصر کړې شوې ده.

شرح حدیث

﴿ وجلس رسول الله صلی الله علیه وسلم ﴾ یعنی د جنګ نه چه کله فارغ شو او په سکون سره کیناستلو نو هغه دا اعلان اوکړو چه ﴿ من قتل قتیلا له علیه بینة فله سلبه ﴾ چه چا یو کافر قتل کړې وی او د هغه سره په دې باندې ګواه وی نو د هغه مقتول سلب به د قاتل دپاره وی (ابو قتاده هم چونکه یو کافر قتل کړې وو چه د هغې ذکر د روایت په شروع کښې وو خو چونکه رسول اللهﷺ د بینه قید هم لګولې وو په دې وجه هغه فرمائی چه زه اودریدم او اودریدو سره د خلقو طرف ته متوجه کیدو سره مې اووې چه : من یشهد لی؟ چه زما په معامله کښې څوک ګواهی ورکونکې شته؟ چه کله چا هیڅ او نه وئیل نو زه کیناستلم، د رسول اللهﷺ د طرف نه بیا هغه اعلان اوشو، په دې باندې زه هم دوباره اودریدم او ما بیا اووې چه زما څوک ګواه شته، درې کرته هم دغه شان اوشوه خو زما د ګواهئ دپاره څوک هم نه پاسیدو، رسول اللهﷺ ماته اوفرمائیل چه ابو قتاده څه خبره ده (څکه چه بار بار پاسیږې) هغه فرمائی چه ورته د هغه کافر د قتل ټوله قصه بیان کړه، اوس یو سړې اودریدو

او هغه اووې یا رسول اللهﷺ دي رشتیا وائی او د هغه کافر قتیل سلب ما سره دي ﴿فارضعه منه﴾ پس ابو قتاده له د دې څه عوض ورکړئ او دی راضی کړئ، یعنی هغه سلب ما سره پریږدئ، هغه وخت په مجلس کښې ابوبکرصدیق رضی الله عنه هم موجود وو هغه ته د دې سړی په خبره اوریدلو باندې ډیره غصه راغله او وې فرمائیل : ﴿لاها الله اذا یعمد الی اسد من اسد الله یقاتل عن الله وعن رسوله فیعطیک سلبه﴾ یعنی قسم په الله داسې به نه کیږی، ایا ته غواړې چه رسول اللهﷺ قصد اوکړی د الله پاک زمرو کښې یو زمری ته، کوم چه د الله پاک او د هغه د رسول دپاره قتال کوی (اشاره ده د ابو قتاده طرف ته) او تاته د هغه سلب درکړی؟ (داسې به هرګز اونشی) رسول اللهﷺ د صدیق اکبر تائید اوکړو چه د هغه خبره بالکل صحیح ده، پس رسول اللهﷺ هغه سړی ته چا سره چه د هغه کافر سلب وو حکم ورکړو چه ابو قتاده ته دا سلب ورکړه، ابو قتاده فرمائی (هغه سلب په دومره کثیر مقدار کښې وو چه) ما په هغې کښې یوه زغره خرڅولو سره د هغې په عوض کښې د بنو سلمه یو باغ واخستلو ﴿فانه لاول مال تاثلته فی الاسلام﴾ چه دا اولنې مال دې نکوم چه په اسلام کښې د داخلیدو نه روستو ماته حاصل شوې دې.

﴿تاثل﴾ د ﴿اثل﴾ نه دې ﴿واثل کل شئ اصله﴾ ﴿لاها الله﴾ په دې کښې ﴿الله﴾ مجرور دې ﴿ای لا والله﴾ لفظ ﴿ها﴾ د واو قسم بدل دې، د دې حدیث په شرح کښې حضرت هم په بذل کښې ډیر مسائل د سلب متعلق د کتب فقه نه نقل فرمائیلې دی. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی وابن ماجة.

[۲۷۱۸] ([1]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ يَعْنِي يَوْمَ حُنَيْنٍ: "مَنْ قَتَلَ كَافِرًا فَلَهُ سَلَبُهُ فَقَتَلَ أَبُو طَلْحَةَ يَوْمَئِذٍ عِشْرِينَ رَجُلًا وَأَخَذَ أَسْلَابَهُمْ، وَلَقِيَ أَبُو طَلْحَةَ أُمَّ سُلَيْمٍ وَمَعَهَا خِنْجَرٌ فَقَالَ: يَا أُمَّ سُلَيْمٍ مَا هَذَا مَعَكِ؟ قَالَتْ: أَرَدْتُ وَاللَّهِ إِنْ دَنَا مِنِّي بَعْضُهُمْ أَبْعَجُ بِهِ بَطْنَهُ"، فَأَخْبَرَ بِذَلِكَ أَبُو طَلْحَةَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَرَدْنَا بِهَذَا الْخِنْجَرِ وَكَانَ سِلَاحَ الْعَجَمِ يَوْمَئِذٍ الْخِنْجَرُ.

دانس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی نن ورځ که چا یو کافر مړ کړو نودهغه سامان به ده ته ورکولې شی نو ابوطلحه رضی الله عنه شل کسان مړه کړل او دهغوی مالونه ئې واخستل بیاابوطلحه دام سلیم رضی الله عنها (دده بی بی) سره ملاو شو او دهغې سره یوه توره وه ده اووئیل اې ام سلیم داڅه دي تاسره ام سلیم اووئیل په الله مې دې قسم وې ما اراده کړې وه که چرې کوم کا فرماته نزدې راشي نوپه دې توره به دهغه خیټه شلومه ابوطلحه داخبره نبی علیه السلام ته بیان کړه ابوداود وائی دا حدیث حسن دې ابوداود وائی ددې نه زمونږ مراد خنجر دې اوپه دغه زمانه کښې دعجمیانو اسلحه خنجروو.

﴿فقتل ابو طلحة یومئذ عشرین رجلا واخذ اسلابهم﴾ یعنی سیدنا ابو طلحه رضی الله عنه د غزوه

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۰)، وقد أخرجه: صحيح مسلم /الجهاد ٤٧ (۱۸۰۹)، مسند احمد (۳/۲۷۹، ۱۹۰)، سنن الدارمي /السير ٤٤ (۲٥۲۷) (صحيح)

حنين په ورځ باندې شل كافر مړه كړي وو او د هغوى ټولو اسلاب ئې اخستلې وو.

﴿قال ابوداود هذا حديث حسن﴾ د حسن نه یا خو اصطلاحی معنی مراد ده لکه چه امام ترمذیؒ به فرمائیل خو د مصنف خو دا عادت نه دې، زما په ذهن کښې دا خبره راځي چه د مصنف لغوی معنی مراد ده چه دا حديث ډير ښه دې، يعنی د امام ابوداود ډير خوښ شو، د ابو طلحه شل كافر قتل كول او د هغوى سامان اخستل، او د هغې دپاسه د ام سليم دا عجيبه شان واقعه يو نوې شان خبره، والله تعالی اعلم.

د مصنف د كلام مطلب

﴿قال ابوداود اردنا بهذا الخنجر﴾ د دې جملې دوه مطلبونه كيدې شی يو دا چه په دې حديث كښې خنجر نه د دې معروف معنی مراد وی، بل څه څيز نه دې خنجر، بل مطلب دا كيدې شی چه زمونږ مراد په دې حديث ذكر كولو سره د استعمال خنجر جواز دې، او وراندې دا دی چه په هغه زمانه كښې خنجر د عجميانو وسله وه هم هغوی به دا زيات تر استعمالولو، يعنی په عربو كښې د دې د استعمال رواج نه وو، ګويا د دې دپاره د دې د بيان جواز ضرورت راپيښ شو. اخرج مسلم قصة ام سليم فی الخنجر بنحوه، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْإِمَامِ يَمْنَعُ الْقَاتِلَ السَّلَبَ إِنْ رَأَى وَالْفَرَسُ وَالسِّلَاحُ مِنَ السَّلَبِ

كه چرې امير اوغواړی نو د مقتول سامان دې قاتل ته ورنكړی او اس او اسلحه هم په سامان كښې داخل دی

په ترجمة الباب كښې دوه اجزاء دی، اول دا چه كه د امام رائې قاتل ته د سلب نه وركولو وی نو هغه داسې كولې شی، دا خبره د احنافو او مالكيانو د مسلک مطابق خو ده، خو د شوافع او حنابله خلاف دې كما يظهر ذلک من المذاهب المذكورة قبل، او د ترجمې دويم جزء دا دې چه فرس او سلاح د دې دواړو شمار په سلب كښې دې، دا هم يوه اختلافی مسئله ده چه د سلب مصداق د مقتول كوم كوم سامان دې، د سلاح د سلب نه كيدل خو اجماعی دی، او فرس او دابه هم د ائمه ثلاثه په نزد په سلب كښې داخل دی، البته د امام احمدؒ نه په دې كښې دوه روايتونه دی.

[٢٧١٩](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي صَفْوَانُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ، قَالَ: خَرَجْتُ مَعَ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ فِي غَزْوَةِ مُؤْتَةَ فَرَافَقَنِي مَدَدِيٌّ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ لَيْسَ مَعَهُ غَيْرُ سَيْفِهِ، فَنَحَرَ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ جَزُورًا فَسَأَلَهُ الْمَدَدِيُّ طَائِفَةً مِنْ جِلْدِهِ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ فَاتَّخَذَهُ كَهَيْئَةِ الدَّرَقِ، وَمَضَيْنَا فَلَقِينَا جُمُوعَ الرُّومِ وَفِيهِمْ رَجُلٌ عَلَى فَرَسٍ لَهُ أَشْقَرَ عَلَيْهِ سَرْجٌ مُذْهَبٌ، وَسِلَاحٌ مُذْهَبٌ فَجَعَلَ الرُّومِيُّ يُغْرِي بِالْمُسْلِمِينَ، فَقَعَدَ لَهُ الْمَدَدِيُّ خَلْفَ صَخْرَةٍ فَمَرَّ بِهِ الرُّومِيُّ فَعَرْقَبَ فَرَسَهُ فَخَرَّ وَعَلَاهُ، فَقَتَلَهُ وَحَازَ فَرَسَهُ وَسِلَاحَهُ، فَلَمَّا فَتَحَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ لِلْمُسْلِمِينَ بَعَثَ إِلَيْهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ فَأَخَذَ مِنَ السَّلَبِ، قَالَ عَوْفٌ: فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ: يَا خَالِدُ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى بِالسَّلَبِ لِلْقَاتِلِ؟ قَالَ: بَلَى، وَلَكِنِّي اسْتَكْثَرْتُهُ قُلْتُ: لَتَرُدَّنَّهُ عَلَيْهِ، أَوْ لَأُعَرِّفَنَّكَهَا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَبَى أَنْ يَرُدَّ عَلَيْهِ، قَالَ عَوْفٌ: فَاجْتَمَعْنَا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَصَصْتُ عَلَيْهِ قِصَّةَ الْمَدَدِيِّ، وَمَا فَعَلَ خَالِدٌ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا خَالِدُ مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا صَنَعْتَ؟ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ اسْتَكْثَرْتُهُ،

(١): صحيح مسلم/الجهاد ١٣ (١٧٥٣)، (تحفة الأشراف: ١٠٩٠٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢٦، ٢٧) (صحيح)

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا خَالِدُ رُدَّ عَلَيْهِ مَا أَخَذْتَ مِنْهُ، قَالَ عَوْفٌ: فَقُلْتُ لَهُ دُونَكَ يَا خَالِدُ أَلَمْ أَفِ لَكَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَمَا ذَلِكَ فَأَخْبَرْتُهُ قَالَ: فَغَضِبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا خَالِدُ لَا تَرُدَّ عَلَيْهِ هَلْ أَنْتُمْ تَارِكُونَ لِي أُمَرَائِي لَكُمْ صَفْوَةُ أَمْرِهِمْ وَعَلَيْهِمْ كَدَرُهُ؟".

دعوف بن مالك اشجعي رضي الله عنه نه روايت دي فرمائی چه په غزوه موته (په شام کښې ديوځائې نوم دې) کښې زه دزيد بن حارثه سره لاړم او په يمنيانو کښې مددی زما ملګرې شو دهغه سره د يوې تورې نه علاوه نور هيڅ نه وو په مسلمانانو کښې يو کس يو اوښ ذبح کړو نومددي دهغې لږه څرمن اوغوښتله هغوی ورکړه نومددي دهغې نه ډال جوړ کړو بيا مونږه روان شو تردې چه دروميانو دفوج سره مخامخ شو په دغه فوج کښې يو کس په سور اس باندې سور وو چه دسرو زرو زين درباندې پروت وو او اسلحه ورسره هم سنهري وه په مسلمانانو به ئې سختې سختې حملې کولې نو مددی دده په فکر کښې د يوې ګټې لاندې کيناستو نو کله چه دغه کس په اس سور تيريدو نو مددي دده داس خپې اووهلې او هغه راوغورځيدو نومددي درباندې کيناستو اوقتل ئې کړو اس اواسلحه ئې واخستل هرکله چه الله تعالی مسلمانانو ته فتح ورکړه نوخالد بن وليد ور پسې څوک أوليږل اويوڅه سامان ئې ترې واخستو عوف وائی زه خالد بن ليد ته ورغلم او وې وئيل اې خالده ايا تاته معلومه نه ده چه دمقتول نه اخستلې شوې سامان دقاتل دې هغه اووئيل ولې راته معلومه نه ده ليکن داسامان ډير وو ما اووئيل نه دا سامان ده ته ورکړه او که نه نوزه به درته دنبی علیه السلام په مخامخ اووايم لیکن خالد به دسامان ورکولو نه انکار اوکړو عوف وائی بيامونږ ټول دنبی علیه السلام په وړاندې جمع شو أو ما مددي واقعه بيان کړه اوخالد چه ورسره څه کړې وو هغه ئې هم بيان کړل نبی علیه السلام اوفرمائيل اې خالده تا داسې کار ولې کړې دې خالد اووئيل اې دالله رسوله داسامان ماته زيات ښکاره شو نبی علیه السلام اوفرمائيل اې خالد تاچه ترې کوم اغستلي دي هغه ورکړه، عوف اووئيل اې خالده ماچه درسره دڅه وعده کړې وه هغه أوس پوره شوه نبی علیه السلام معلومول اوغوښتل چه څه معامله وه؟ نوما پوره واقعه بيان کړه نبی علیه السلام په غصه شو اووئې فرمائيل اې خالده هرګزئې مه ورکوه ته دا غواړې چه زماامیران اوسرداران په داسې حال پريږدي چه دهغوی دښه کارونونه فائده ته واخلې اوبدنامي دهغوی شي.

شرح حديث

سيدنا عوف بن مالک رضي الله عنه کوم چه په غزوه موته کښې شريک وو هغه د دې غزوې خپله يوه واقعه بيانوی فرمائی چه کله زه په غزوه موته کښې تلم نو په لاره کښې ورسره يو يمنی سړی د مدد په طور ملګرې شو، د کوم سړی چه په جهاد کښې باقاعده نوم نه وی او هغه خپله د لښکر د مدد دپاره روان وی غالبا هم دې سړی ته مددی وئيلې شی، عوف رضي الله عنه فرمائی چه هغه يمنی سره سوا د تورې نه نور هيڅ نه وو، تردې چه د هغه سره ډال هم نه وو، چه د هغې ډير لوئې ضرورت وی په جنګ کښې، نو الله پاک د هغه دپاره د ډال انتظام په داسې طريقه اوکړو چه په لاره کښې يو لښکرې خپل اوښ ذبح کړو (د توښې دپاره) نو هغه مددی د هغې نه د څرمنې يوه ټکړه واخستله، او بيا ئې د هغې نه ډال جوړ کړو،

(رهال د ځرمني وی، او د دشمن د حملې نه د بچ کولو دپاره وی) عوف رضی الله عنه فرمائی چه کله مونږ د جنګ مقام ته اورسیدو نو د رومیانو د ډیر لوئې لښکر سره مو مقابله اوشوه، په دې رومیانو کښې یو رومی په خپل سور اس باندې سور وو چه په هغې باندې داسې کته خوره وه چه سره زر پکښې ګډ شوې وو، یعنی د سرو زرو کار پرې شوې وو، او د هغه وسله توره وغیره هم په سرو زرو رنګ او قیمتی وو هغه فرمائی چه دې رومی سړی په مسلمانانو کښې ډیر په تیزئ سره وینې تویولې (هغه مددی دا اراده اوکړه چه زه به ان شاء الله دا رومی وژنم) پس هغه مددی په یو کمر کښې پټ د هغه نه شاته کیناستلو، چه کله دا رومی د هغه مخې ته تیر شو نو دې مددی توره باندې ګزار اوکړو چه هغې سره د هغه رومی د اس خپه غصه شوه، هغه رومی د خپل اس نه پریوتلو بل طرف ته پرې دا مددی دپاسه شو او هغه ئې قتل کړو، او د هغه اس او وسله هغه واخستل چه کله مسلمانانو ته فتح ملاؤ شوه (او خالد بن ولید د لښکر امیر ته معلومه شوه چه دې مددی یمنی سره د رومی ډیر لوئې او قیمتی سلب موجود دې) نو خالد هغه ته سړې اولیږلو او د هغه سلب بعض حصه ئې ترې واخستله (هغه یمنی هیڅ او نه وئیل خو عوف رضی الله عنه په دې باندې خفه شو نو عوف فرمائی چه) زه خالد بن الولید رضی الله عنه لاړم، او هغه سره مې په دې سلسله کښې خبره اوکړه او دا چه سلب خو د قاتل دپاره وی، تاته معلومه نه ده د رسول الله ﷺ فیصله، حضرت خالد بن الولید رضی الله عنه اوفرمائیل چه او معلومه ده خو ما د دې سلب مقدار ډیر زیات اوګنړلو په دې وجه مې ترې څه واخستل، او ټول مې هغه ته ورکول مناسب او نه ګنړل. ﴿ قلت : لتردنه علیه او لاعرفنکها عند رسول الله صلی الله علیه وسلم ﴾ عوف رضی الله عنه فرمائی چه ما هغه ته اووې چه یا خو به ته ضرور دا سلب هغه ته واپس کوې او یا به زه تا د دې په خوند پوهه کړم کله چه رسول الله ﷺ ته لاړ شو، سیدنا خالد رضی الله عنه د عوف رضی الله عنه د دې وینا پرواه اونکړه او د ورکولو نه ئې انکار اوکړو، عوف فرمائی: چه کله مونږ رسول الله ﷺ ته لاړو نو ما هغه ته د مددی پوره قصه بیان کړه، یعنی د هغه کارنامه، او څه چه خالد رضی الله عنه د هغه سره اوکړل هغه مې هم ورته بیان کړل، رسول الله ﷺ تپوس اوکړو چه خالده تا داسې ولې اوکړل؟ هغه عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ ما هغه سلب ډیر زیات اوګنړلو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل ای خالده تا چه د هغه نه څه اخستلې دی هغه ورته واپس کړه، خالد رضی الله عنه د رسول الله ﷺ د حکم فورا تعمیل اوکړو، ما په دې باندې خالد ته اووې ﴿ دونک یا خالد الم اف لک ﴾ چه اې خالد واخله! یعنی هغه خیز د کوم چه ما تا سره وعده کړې وه، او ورانډې ئې دا هم اووې چه اوګوره ما چه تا سره څه وئیلې وو هغه مې پوره نه کړل؟ سیدنا خالد رضی الله عنه خو هیڅ او نه وئیل خو رسول الله ﷺ د عوف رضی الله عنه نه تپوس اوکړو چه دا ته څه خبره کوې، عوف فرمائی چه ما ډیر په خوشحالئ باندې رسول الله ﷺ ته ټوله خبره اوکړه (خیال ئې دا وو چه ما خو ډیرښه کار کړې دې، یو حقدار ته مې دهغه دحق رسولو کوشش کړې دې او دا سوچ ئې نه کولو چه د امیر اطاعت او د هغه احترام هم ډیر ضروری دې) په دې باندې رسول الله ﷺ ډیر ناراضه شو په عوف رضی الله عنه باندې (یعنی په ما باندې ځکه چه راوی هم هغه دې) او اوس

رسول الله ﷺ دا اوفرمائيل چه اې خالده! اوس ئې ورته مه واپس کوه، ګويا هغه خپله فيصله واپس کړه او عوف ته ئې خطاب کولو سره اوفرمائيل: ﴿ هل انتم تاركون لي امرائي لكم صفوة امرهم وعليهم كدرة ﴾ تاسو به زما اميران نه پريږدئ؟ يعنی هغوی پريخودل پکار دی او په هغوی تنقيد نه دې پکار، د هغوی صفا صفا خبره او د انصاف والا معامله ستاسو په حق کښې مفيد ده، او د هغوی د مشتبه معاملې وبال به په هغوی باندې وی (تاسو د هغوی اصلاح ولې کوئ).

اوګورئ! سيدنا عوف بن مالک اشجعی رضي الله عنه دا خپله واقعه چه په هغه باندې رسول الله ﷺ ناراضه هم شو او هغه ئې رټلې هم دې خو هغه دا واقعه ډير په رغبت سره بيانوی، دا د دې صحابی کمال ديانت فی النقل دې چه کومه واقعه د رسول الله ﷺ په وړاندې راپيښه شوه که هغه ئې د ځان خلاف وه نو هم هغه ئې ضرور خلقو ته بيان کړه، او عوف څه چه د ټولو صحابه کرامو دا حال وو، د حديث په کتابونو کښې د دې نور هم ډير مثالونه دی، د دې حديث دې د ترجمة الباب سره مطابقت اوکتلې شی، ظاهره ده چه د دې حديث نه يوه مسئله معلومه شوه چه د سلب تخميس به نه شی کولې ځکه چه رسول الله ﷺ د پوره سلب فيصله د قاتل دپاره فرمائيلې وه بغير د تخميس نه، پس دا مسئله مصنف په وړاندې باب کښې بيانوی او هم د دې حديث نه ئې استدلال کړې دې، والحديث اخرجه مسلم، قاله المنذری.

[۲۷۲۰] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، قَالَ: سَأَلْتُ ثَوْرًا عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ، فَحَدَّثَنِي عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ نَحْوَهُ.

وليد وائی د ثورنه مې ددې متعلق تپوس اوکړو نوهغه راته دخالد بن معدان نه هغه دجبير بن نفيرنه هغه دخپل پلارنه اوهغه دعوف بن مالك اشجعي نه دتيرروايت په شان بيان کړو.

بَابٌ فِي السَّلَبِ لَا يُخَمَّسُ

د مقتول سامان به قاتل ته ورکولې شی او خمس به پکښې نه وی

[۲۷۲۱] (۲) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ، وَخَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى بِالسَّلَبِ لِلْقَاتِلِ وَلَمْ يُخَمِّسِ السَّلَبَ.

دعوف بن مالك اشجعی اوخالد بن وليد رضي الله عنهما نه روايت دې چه نبی عليه السلام فيصله کړې وه دمقتول دمال دقاتل دپاره او په دې کښې خمس نه وو..

په دې مسئله کښې مذاهب ائمه

د تخميس سلب مسئله هم اختلافی ده، مصنف خو په ترجمة الباب کښې د تخميس نفی کړې ده، د امام شافعی او امام احمد رحمهما الله هم دا مسلک دې، او د احنافو په نزد هم دغه شان ده چه د دې تخميس به نه شی کولې، الا ان قيد الامام... يعنی دا که امام د اعلان په وخت

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۰۹۰۲) (صحيح)

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۵۰۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۹۰، ۲۶۶) (صحيح)

قید اولګوی د تخمیس، مثلاً داسې اعلان اوکړی ﴿من قتل قتیلا فله سلبه بعد التخمیس﴾ نو بیا به په دې صورت کښې زمونږ په نزد د دې تخمیس وی، حافظ د امام مالک رحمه الله نه د تخمیس سلب په مسئله کښې تخییر نقل کړې دې، یعنی دا چه امام ته اختیار دې د تخمیس او عدم تخمیس، د دې باب د لاندې مصنف پورته والا حدیث ذکر کړې دې.

بَابٌ مَنْ أَجَازَ عَلَى جَرِيحٍ مُثْخَنٍ يُنَفَّلُ مِنْ سَلَبِهِ

قریب الموت کافر زخمی که څوک مړ کړی نو ده ته به دهغه د سامان نه د انعام په طور ورکولې شی

د ترجمة الباب شرح

د دې ترجمة الباب شرح او څه چه مصنف فرمائی هغه دا ده چه که دا صورت راپیښ شی چه د یو کافر اولا یو مجاهد صرف زخمی کړی، او بل غازی راشی هغه قتل کړی نو په دې صورت کښې به سلب د چا دپاره وی، ایا د من اجاز دپاره یا د اولنی سړی دپاره؟ په دې کښې مذاهب د ائمه کرامو ان شاء الله......... داسې دی چه د امام شافعی او احمد په نزد به سلب د اول دپاره وی، او د احنافو په نزدې د دې مدار د جرح په نوعیت باندې دې که اول حمله کونکی هغه کافر بالکل معذور او د کار نه ویستلو نو سلب به د اول دپاره وی ګینې د اخری دپاره، وعند مالک علي رای الامام. (من حاشية الشيخ على البذل).

[۲۷۲۲] ([1]) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبَّادٍ الْأَزْدِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: نَفَّلَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ سَيْفَ أَبِي جَهْلٍ كَانَ قَتَلَهُ.

عبدالله بن مسعود نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام ماته دبدر په غزا کښې دابوجهل تور په انعام کښې راکړه کوم چه ده وژلې وو.

د حدیث شرح من حیث الفقه ومذاهب الائمة

سیدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته د ابو جهل توره، په جنګ بدر کښې په طور د انعام او حصه زائده راکړو، راوی وائی ځکه چه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه هغه قتل کړې وو، د سیدنا عبدالله رضي الله عنه ابوجهل لره د قتل کولو ذکر خو بابونه وړاندې تیر شوې دې، چه په هغې کښې دا وو چه اولا ما په هغه باندې توره او چلوله خو هغه تورې کار اونکړو نو بیا ما د ابوجهل په توره باندې هغه قتل کړو.

دا حدیث په ظاهره د امام شافعی او احمد خلاف دې لکه چه د مذاهب مذکوره په کتلو سره معلومیږی نو د دې جواب د شوافعو د طرف نه امام بیهقی رحمه الله دا کړې دې چه دا واقعه د بدر ده او د غنائم بدر مسئله جدا ده، د غنائم بدر کامل او مکمل اختیار د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو د نص قرانی د وجې نه ﴿یسالونک عن الانفال قل الانفال لله والرسول﴾ دا آیت کریمه د غنائم بدر په باره کښې نازل شوې دې لکه چه په ابوداود کښې به وړاندې د دې تصریح راشی. باب فی النفل کښې.

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه دا حدیث د احنافو په یو حیثیت سره خلاف دې او یو

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۹۶۲۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۴۴۴) (ضعيف)

حيثيت سره د هغوی موافق دي، د ترجمة الباب والا مسئلي په لحاظ سره نو دا زمونږ خلاف دي، د دې جواب خو به دا شي کوم چه اوس امام بيهقي رحمه الله ورکړو، او بله مسئله په دې کښې دا ده چه کومه مونږ بيانوو چه په دې کښې دا زمونږ موافق دې چه د احنافو او مالکيانو مسلک د سلب په باره کښې دا تير شوي دي چه د مقتول د سلب د قاتل دپاره کيدل په طريقه د استحقاق نه دی بلکه په طريقه د تنفيل دی، يعنی د امام په فيصله باندې موقوف دی، نو دا حديث په دې مسئله کښې زمونږ موافق په دې حيثيت سره دې چه اوګورئ د صحيح بخاری [1] په روايت کښې دی چه سيدنا معاذ بن عفراء او سيدنا معاذ بن عمرو بن الجموح د دې دواړو تورو ته کتلو سره اوفرمائيل چه ﴿ کلاکما قتله ﴾ چه بيشکه تاسو دواړو هغه قتل کړې دې خو د هغې باوجود ئې د سلب فيصله د معاذ بن عمرو بن الجموح رضي الله عنه دپاره اوکړه، که د سلب بنياد د امام په ورکړه باندې نه وې نو بيا هغه سلب دواړو ته ملاويدل پکار وو. والله تعالى اعلم

بَابٌ فِيمَنْ جَاءَ بَعْدَ الْغَنِيمَةِ لَا سَهْمَ لَهُ

د غنيمت د تقسيم نه پس چه څوک راشي نو دهغه دپاره حصه نشته

د دې ځائې نه د غنيمت د حصو او د هغې د مستحقينو ابواب شروع کيږی، مصنف دا فرمائي چه کوم سړې د غنيمت د تقيسم نه روستو ميدان جهاد ته راشي نو د هغه دپاره په غنيمت کښې حصه نشته.

په دې مسئله کښې مذاهب ائمه

په دې مسئله کښې مذاهب ائمه داسې دی چه جمهور علماء کرام ومنهم الائمة الثلاث په نزد د غنيمت د حصې مدار په قتال او انقضاء قتال باندې دې لهذا کوم سړې چه د قتال دوران هلته اورسيږی نو د هغه دپاره به په غنيمت کښې حصه وی، او څوک چه د انقضاء قتال نه پس راشي نو د هغه دپاره به نه وی، او د احنافو په نزد د دې مدار په احراز او قسمت باندې دې، يعنی مال غنيمت لره راټولولو سره دار الاسلام ته منتقل کول، نو کوم سړې چه د احراز نه مخکښې اورسيږی او هم دغه شان د تقسيم نه وړاندې، يعنی لا تر اوسه پورې مال غنيمت په دار الحرب کښې دې او تقسيم شوې هم نه دې نو بيا خو به د غنيمت مستحق وی اګر چه انقضاء قتال شوې وی او که پس د احراز نه ئې راورسولو قبل الاحراز خو پس د غنيمت د تقسيم نه نو په دې دواړو صورتونو کښې به د غنيمت مستحق نه وی، د دې نه روستو حديث الباب واخلئ

[٢٧٢٣] ([2]) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْوَلِيدِ الزُّبَيْدِيِّ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، أَنَّ عَنْبَسَةَ بْنَ سَعِيدٍ، أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، يُحَدِّثُ سَعِيدَ بْنَ الْعَاصِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بَعَثَ أَبَانَ بْنَ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ عَلَى سَرِيَّةٍ مِنَ الْمَدِينَةِ قِبَلَ نَجْدٍ فَقَدِمَ أَبَانُ بْنُ سَعِيدٍ وَأَصْحَابُهُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخَيْبَرَ بَعْدَ أَنْ فَتَحَهَا وَإِنَّ حُزُمَ خَيْلِهِمْ لِيفٌ فَقَالَ أَبَانُ: اقْسِمْ لَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ أَبُو

[1] باب من لم يخمس الاسلاب من كتاب فرض الخمس)

[2]: صحيح البخاري /الجهاد ٢٨ (٢٨٢٧)، والمغازي ٣٨ (٤٢٣٧)، (تحفة الأشراف: ١٤٢٨٠) (صحيح)

هُرَيْرَةَ: فَقُلْتُ: لَا تَقْسِمْ لَهُمْ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ أَبَانُ: أَنْتَ بِهَا يَا وَبْرُ تَحَدَّرَ عَلَيْنَا مِنْ رَأْسِ ضَالٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اجْلِسْ يَا أَبَانُ وَلَمْ يَقْسِمْ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دسعیدبن العاص رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه ابان بن سعید بن العاص لره نبی علیه السلام په لښکرباندې امیر مقررکړي وواودمدينې نه ئې دنجد طرف ته ليږلي وونو ابان بن سعيد اوده ملګري په خيبرکښې دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضرشول وروسته د فتح کولونه او ددوی داسونوتانګونه دکهجورو د پوټکونه جوړ وو، ابان اووئيل اې دالله رسوله زمونږ دپاره په غنيمت کښې حصه راکړه ابوهريره وائی چه ما ووئيل اې دالله رسوله چه حصه ورله ورنکړې ابان ووئيل چه دو بر په شان خبرې کوې (وبر د پيشو په شان يو قسم ځناوردې) اوضال نومې غردسرنه اوس راکوزشوې ئې (دا د ابوهريرة دکلي نوم وو) نبی علیه السلام اوفرمائيل اې ابان کېنه اونبی علیه السلام ابان اودهغه ملګروته حصه ونکړه.

مضمون حديث

د حديث مضمون دا دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ابان بن سعيد رضی الله عنه په يوه سريه باندې امير جوړ کړو او د مدينې منورې نه ئې نجد طرف ته اوليږلو (هم دې دوران کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرام د خيبر د فتح کولو دپاره هلته رسيدلې وو) ابان بن سعيد او د هغه ملګرى چه واپس شو نو نيغ خيبر ته راغلل په داسې حال کښې چه خيبر فتح شوې وو د هغې نه روستو په روايت کښې دى : ﴿ وان حزم خيلهم ليف ﴾ حزم جمع د حزام يعنى کتې ده، او ليف د کهجورې د اونې پوستکې، يعنى د هغوى د اسونو کتې د کهجورو د پوستکى وې، ممکن ده چه د راوى غرض د هغوى فقر بيانول وى، او کيدې شى چه صرف د واقع بيانول وى، اوس صورت حال دا راپيښ شو چه ابان رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا عرض اوکړو چه يا رسول الله صلی الله علیه وسلم د خيبر په غنيمت کښې زمونږ حصه هم مقرر کړئ، ابوهريره رضی الله عنه کوم چه د حديث راوى دې فرمائى چه زه هم هغه وخت دې مجلس کښې موجود اوم، نو ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو چه يا رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې خلقو حصه مه مقرر کوئ (په دې باندې به ابان رضی الله عنه ظاهره ده چه خفه شوې وى) پس ابان رضی الله عنه اووې :

﴿ انت يا وبر تحدر علينا من راس ضال ﴾ يعنى ابان رضی الله عنه ابوهريره رضی الله عنه ته په غصه او خفګان سره اووې چه اې مږې نه دا خبره کوې؟ ﴿ انت بها اى انت تقول بهذه الكلمة ﴾ هغه ابوهريره رضی الله عنه ته وبر د سپکاوى په طور وئيلې دى (وبر زمونږ د ژبې په اعتبار سره مونث دې په دې وجه وړاندې ترجمه هم د هغې مطابق ده) کوم چه راکوز شوې دې زمونږ خواته د يو ځنګل نه، د ﴿ ضال ﴾ تفسير امام بخارى په ﴿ السدر البرى ﴾ سره کړې دې يعنى ځنګلى بيره، په دې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم ابان رضی الله عنه ته اوفرمائيل چه کېنه اې ابانا يعنى جنګ مه کوئ، وړاندې راوى فرمائى چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې خلقو په مال غنيمت کښې حصه مقرر نه کړه.

د حديث توجيه د احنافو د طرف نه

دا حديث په ظاهره کښې د جمهورو موافق او د احناف خلاف دې، ځکه چه د مال غنيمت نه اوسه پورې احراز شوې وو او نه تقسيم شوې وو، خو انقضاء قتال شوې وو، د دې جواب د

احنافو د طرف نه بعض حضراتو دا کړي دي چه کله خيبر د مسلمانانو په قبضه کښې راغلو نو ګويا هغه دار الاسلام جوړ شو، لهذا احراز غنيمت بيا موندلې شو.

[۲۷۲۴]() حَدَّثَنَا حَامِدُ بْنُ يَحْيَى الْبَلْخِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، قَالَ: حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ، وَسَأَلَهُ إِسْمَاعِيلُ بْنُ أُمَيَّةَ، فَحَدَّثَنَاهُ الزُّهْرِيُّ، أَنَّهُ سَمِعَ عَنْبَسَةَ بْنَ سَعِيدٍ الْقُرَشِيَّ، يُحَدِّثُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخَيْبَرَ حِينَ افْتَتَحَهَا فَسَأَلْتُهُ أَنْ يُسْهِمَ لِي فَتَكَلَّمَ بَعْضُ وُلْدِ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ فَقَالَ: لَا تُسْهِمْ لَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: فَقُلْتُ: هَذَا قَاتِلُ ابْنِ قَوْقَلٍ، فَقَالَ سَعِيدُ بْنُ الْعَاصِ: يَا عَجَبًا لِوَبْرٍ قَدْ تَدَلَّى عَلَيْنَا مِنْ قَدُومِ ضَالٍ يُعَيِّرُنِي بِقَتْلِ امْرِئٍ مُسْلِمٍ أَكْرَمَهُ اللَّهُ تَعَالَى عَلَى يَدَيَّ، وَلَمْ يُهِنِّي عَلَى يَدَيْهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَؤُلَاءِ كَانُوا نَحْوَ عَشَرَةٍ فَقُتِلَ مِنْهُمْ سِتَّةٌ، وَرَجَعَ مَنْ بَقِيَ.

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه مديني ته راغلم اونبی علیه السلام په خيبر کښې وو دفتح کولوپه وخت کښې مانبی علیه السلام ته اووئيل چه زما دپاره هم حصه مقررکړئ نوډسعيد بن العاص په ځامنوکښې يوکس ووئيل چه مونږ خودته هيڅ کله حصه نه ورکوو ما ووئيل همدا سړې دابن قوقل قاتل دې، سعيد بن العاص وويل زه ددې وبرنه تعجب کوم چه دضال غرنه راکوزشوې دې او ماديو مسلمان په قتل باندې رټي چاته چه الله تعالى زما په لاسو عزت ورکړې دې اوزه ئې دهغه په لاسونه يم ذليل کړې چه دکفر په حالت کښې دهغه دلاس نسه مړشوې وې. ابوداود وائي چه دوی تقريبا لس کسان ووشپږ کسان قتل کړې شول اوباقي پاتې واپس راغلل.

د دې حديث په دويم طريق کښې مضمون د دې برعکس دې، په هغې کښې داسې دی ﴿ عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ وَرَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِخَيْبَرَ حِينَ افْتَتَحَهَا فَسَأَلْتُهُ أَنْ يُسْهِمَ لِى فَتَكَلَّمَ الخ ﴾

شرح حديث

سيدنا ابوهريره رضي الله عنه فرمائي چه زه د اسلام د قبلولو دپاره مديني منورې ته راغلم، هلته چه راغلم نو راته معلومه شوه چه رسول الله ﷺ د غزوه خيبر دپاره تشريف اوړلې دې، زه هلته لاړم په داسې حال کښې چه هغه خيبر فتح کړې وو، ما رسول الله ﷺ ته درخواست اوکړو چه زما حصه هم مقرر کړئ نو په دې باندې ابان بن سعيد رضي الله عنه عرض اوکړو چه يا رسول الله ﷺ د ابوهريره حصه مه مقرر کوئ، ابوهريره رضي الله عنه فرمائي چه د دې په جوابي کار روايئ کښې رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو ﴿ هذا قاتل ابن قوقل ﴾ چه يا رسول الله! ابان خو د نعمان بن قوقل صحابي رضي الله عنه قاتل دې، يعنې دا ډير غلط سړې دې ﴿فقال سعيد بن العاص﴾ دلته په روايت کښې سعيد بن العاص دې خو د سياق تقاضه دا ده چه دلته ابان بن سعيد کيدل پکار دی. چه کله ابوهريره رضي الله عنه ابان ته د يو صحابي قاتل اووې او په هغه ئې د قتل الزام اولګولو نو د هغې په جواب کښې ورته ابان اووې چه تعجب دې په هغه مړه باندې کوم چه زمونږ خواته د ځنګلي بيرې نه راکوزه شوې ده چه ماته پيغورونه کوی د يو مسلمان په قتل باندې، حال دا چه الله پاک زما په لاس باندې هغه ته عزت ورکړو (چه زما د وجې نه ورته د

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۴۲۸۰) (صحيح)

شهادت مرتبه ملاؤ شوه) او زه ئې د هغه په لاسونو باندې ذليل او رسوا نه کړم.

د دې دواړو روايتونو په مضامين کښې چه کوم فرق دې د سوال او جواب د ترتيب په اعتبار سره د هغې جواب بعض محدثين لکه امام ذهلی رحمه الله خو داسې ورکړې دې چه اول روايت ئې راجح کړې او دويم ئې مرجوح کړې دې، او بعض جمع بين الروايتين داسې کړې ده چه کيدې شي دواړه خبرې موندلې شوې وي، د ابوهريره رضي الله عنه په طلب باندې ابان دا اووې، او د ابان په طلب باندې ابوهريره رضي الله عنه دا اووې... حديث الباب الاول اخرجه البخاری تعليقا، والثانی اخرجه البخاری (مسند) قاله المنذری.

[۲۷۲۵]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، حَدَّثَنَا بُرَيْدٌ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، قَالَ: قَدِمْنَا فَوَافَقْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ افْتَتَحَ خَيْبَرَ فَأَسْهَمَ لَنَا، أَوْ قَالَ فَأَعْطَانَا مِنْهَا وَمَا قَسَمَ لِأَحَدٍ غَابَ عَنْ فَتْحِ خَيْبَرَ مِنْهَا شَيْئًا إِلَّا لِمَنْ شَهِدَ مَعَهُ إِلَّا أَصْحَابَ سَفِينَتِنَا، جَعْفَرٌ وَأَصْحَابُهُ فَأَسْهَمَ لَهُمْ مَعَهُمْ.

دابوموسی رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه مونږ دحبشې نه راغلو او مونږ نبی عليه السلام ته په داسې وخت کښې راغلو چه خيبر فتح شوې وو نونبی عليه السلام مونږ ته دخيبر دغنيمت په مال کښې حصه راکړه اوکه داسې ئې وئيلی دی چه مونږ ته ئې څه راکړل اوددې نه ئې دداسې کس دپاره حصه مقرر نکړه کوم چه په دې وخت کښې حاضر نه وو علاوه دهغه کسانونه کوم چه دنبی عليه السلام سره حاضر وو اوپه جهاد کښې شريک و البته دکشتئ خلق يعنی جافر بن ابی طالب اودهغه ملګروته بسې حصه ورکړه.

شرح حديث

سيدنا ابو موسی اشعری رضي الله عنه د اصحاب الهجرتين نه دې، د هغه هجرت ثانيه کوم چه د حبشه نه د مدينې منورې طرف ته شوې دې د هغې حال بيان فرمائی او چونکه د حبشه او مدينې ترمينځه سمندر دې او په کشتئ باندې تلل راتلل وو په دې وجه هغه او د هغه ملګرو نه په اصحاب السفينه سره هم تعبير کولې شی، نو هغه فرمائی چه کله مونږ د حبشې نه راغلو چه اول به مدينې منورې ته رارسيدلې وی، هلته رارسيدو سره معلومه شوه چه رسول الله صلی الله عليه وسلم په فتح خيبر کښې مشغول دې نو دې هم د ابوهريره رضي الله عنه په شان هلته لاړو، ابوموسی رضي الله عنه فرمائی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم زمونږ د ټولو ملګرو د خيبر په غنيمت کښې حصه مقرر کړه، او زمونږ نه علاوه څوک هم داسې نه وو چه هغه دې د فتح خيبر په وخت موجود نه وی او د هغه حصه ئې مقرر کړې وی، په اصحاب سفينه کښې هغه د جعفر بن ابی طالب رضي الله عنه نوم هم اخلی.

دلته سوال دا دې چه رسول الله صلی الله عليه وسلم د ابان بن سعيد رضي الله عنه او ابوهريره رضي الله عنه دپاره په خيبر کښې حصه مقرر نه کړه او د اصحاب سفينه دپاره ئې حصه مقرر کړه او حال دا چه د دواړو نوعيت يو دې، د دې په جواب باندې د پوهيدلو دپاره اول په دې ځان پوهه کړئ چه

(): صحيح البخاري/فرض الخمس ۱۵ (۳۱۳۶)، والمناقب ۳۷ (۳۸۷۶)، والمغازي ۳۸ (۴۲۳۰)، سنن الترمذي/السير ۱۰ (۱۵۵۹)، (تحفة الأشراف: ۹۰۴۹)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/فضائل الصحابة ۴۱ (۲۵۰۲)، مسند احمد (۴/۳۹۴، ۴۰۵، ۴۱۲) (صحيح)

ابوهریره او ابان سره چه کومه معامله رسول الله ﷺ اوکړه هغه د جمهورو د مسلک موافق وه او د احنافو د مسلک خلاف وه، او د اصحاب سفینه سره چه ئې کومه معامله اوکړه خو د احنافو د مسلک خو مطابق وه خو د جمهورو د مسلک خلاف ده، زمونږ موافق په دې وجه ده چه د مال غنیمت نه خو لا تر اوسه پورې احراز شوي وو او نه هغه تقسیم شوې وو، او په دې صورت کښې زمونږ په نزد دلته اسهام وی، لهذا د رسول الله ﷺ دا معامله د اصحاب سفینه سره د احنافو د اصولو خو مطابق ده خو د جمهورو خلاف ده، خو چونکه احنافو په اولنی حدیث یعنی د ابوهریره رضی الله عنه په قصه کښې دا وئیلې دی د اشکال نه د بچ کیدو دپاره چه هلته احراز شوې وو په دې وجه رسول الله ﷺ د هغوی حصه مقرر نه کړه کما تقدم منا انفا. اوس د دې جواب په رنړا کښې د اصحاب سفینه سره د رسول الله ﷺ معامله زمونږ د مسلک خلاف کیږی، د دې توضیح د پیژندلو نه پس اوس د اصل اشکال جواب واورئ! یعنی په دواړو قصو کښې وجه د فرق، او هغه فرق علماء کرامو احتمالا دا بیان کړې دې چه ممکنه ده چه د اصحاب سفینه اسهام د غانمین په رضا باندې وی، یا د اصل غنیمت نه نه وی بلکه د خمس نه وی کوم چه د بیت المال دپاره وی، بلکه توجیه دا کړې شوې ده چه لعل اصحاب السفینة بلغوا قبل تمام الفتح. یعنی هغه وخته پورې کامل طریقې سره فتح نه وه شوې، په خلاف د ابوهریره رضی الله عنه چه د هغه د رارسیدو پورې کامله فتح شوې وه.

(وهذا التوجیه الاخیر من قبل الجمهور دون الحنفیة) والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی مختصرا ومطولا، قاله المنذری).

[٢٧٢٦] (١) حَدَّثَنَا مَحْبُوبُ بْنُ مُوسَى أَبُو صَالِحٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو إِسْحَاقَ الْفَزَارِيُّ، عَنْ كُلَيْبِ بْنِ وَائِلٍ، عَنْ هَانِئِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ يَعْنِي يَوْمَ بَدْرٍ فَقَالَ: إِنَّ عُثْمَانَ انْطَلَقَ فِي حَاجَةِ اللَّهِ، وَحَاجَةِ رَسُولِ اللَّهِ، وَإِنِّي أُبَايِعُ لَهُ فَضَرَبَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَهْمٍ، وَلَمْ يَضْرِبْ لِأَحَدٍ غَابَ غَيْرَهُ.

دابن عمر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام د بدر په ورځ اودریدو اووئې وئیل یقینا عثمان دالله اودالله درسول په کار پسې تلې دې اوزه دهغه دپاره بیعت کوم اونبی علیه السلام دهغه دپاره حصه مقررکړه اودهغه نه ئې علاوه دهیڅ چادپاره حصه مقررنکړه.

ابن عمر رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ د بدر په ورځ باندې د تقسیم غنیمت نه مخکښې اودریدو او وې فرمائیل چه بیشکه عثمان د الله او د هغه د رسول ﷺ په کار کښې تلې دې، او زه د هغه دپاره بیعت کوم، یعنی رسول الله ﷺ خپل یو لاس د هغه لاس اومنلو او د خپل دویم لاس سره ئې یوځائې کړو، او بیا ئې د بدر غنیمتونه تقسیم کړل او باقاعده د عثمان رضی الله عنه حصه ئې هم مقرر کړه.

سیدنا عثمان رضی الله عنه رسول الله ﷺ د خپلې زوجه محترمه سیده رقیه رضی الله عنها د خیال ساتلو دپاره په مدینه کښې پریخودلې وو، هم دا مراد دې د رسول الله ﷺ د دې قول نه چه هغه د الله او د هغه د رسول ﷺ د کار دپاره تلې دې، پس فقهاء کرامو هم د دې واقعې نه دا مسئله

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٦٨٤) (صحيح)

مستنبط کړې ده چه که یو سړې په جهاد کښې د دې وجې نه شریک نه شی چه هغه د مسلمانانو امام د مسلمانانو په یو کار باندې مقرر کړې دې نو د هغه به په مال غنیمت کښې حصه وی.

وړاندې په روایت کښې دی، راوی فرمائی چه رسول الله ﷺ د عثمان نه علاوه د بل یو سړی هم په غنیمت کښې حصه نه ده لګولې کوم چه په جنګ کښې شریک شوې نه وو، په دې باندې حضرت په بذل کښې لیکلې دی چه دا خبره راوی د خپل علم په اعتبار سره کوی ګینې بعض خلق نور هم داسې شته چه د هغوی حصه مقرر کړې شوې ده. په دې روایت باندې اشکال دا دې چه په جنګ بدر کښې د بیعت قصه کوم ځائې کښې راغلې ده، هغه خو په غزوه حدیبیه کښې راپیښه شوې وه کوم ته چه بیعة الرضوان وئیلې شی، هم په دې وجه وئیلې شوې دی چه غالبا دا د کوم راوی وهم دې. (كذا في العون ولم يتعرض له في البذل)

باب فِي الْمَرْأَةِ وَالْعَبْدِ يُحْذَيَانِ مِنَ الْغَنِيمَةِ

غلامانو او ښځو ته په غنیمت کښې د حصې ورکولو بیان

د دې باب تعلق د مواضع تقیسم غنیمت سره دې، د دې کلی او جامع باب خو به وړاندې راشی، باب في مواضع قسم الغنيمة، دا هم د دې جامع باب یوه کړئ ده، هغه دا چه زنانه او عبد که په جهاد کښې شرکت کوی نو د هغوی دپاره به په غنیمت کښې حصه وی یا نه، د ائمه اربعه په نزد زکورة او حریت د غنیمت د حصې په شرطونو کښې دې، لهذا د دې دواړو به باقاعده حصه نه وی، خو حذوه یعنی د عطیه په طور به ورته څه معمولی څیز ورکولې شی، دې معمولی څیز ته حذوه او رضخ دواړو سره تعبیر کولې شی د زنانه او غلام دپاره د رضخ کیدل د ائمه ثلاثه په نزد دی، امام مالک د دې هم قائل دې، اصل مسئله کښې د امام اوزاعی او حسن بن صالح اختلاف دې، د اوزاعی صرف د زنانه په باره کښې او د حسن بن صالح صرف د غلام په باره کښې، دا دواړه د حصې قائل دی، خو د احنافو په نزد د عبد نه مراد عبد غیر ماذون دې د چا دپاره چه حصه نشته په خلاف د ماذون عبد... فانه في حكم الحر في هذه المسئلة، په ترجمة الباب کښې لفظ د ﴿ يحذيان ﴾ مضارع مجهول صیغه ده، احذى يحذى احذاء نه، چه د هغې معنی د ورکړې ده خاص کر مال غنیمت سره.

[۲۷۲۷](١)حَدَّثَنَا مَحْبُوبُ بْنُ مُوسَى أَبُو صَالِحٍ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ الْفَزَارِيُّ، عَنْ زَائِدَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنِ الْمُخْتَارِ بْنِ صَيْفِيٍّ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ هُرْمُزَ، قَالَ: كَتَبَ نَجْدَةُ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ يَسْأَلُهُ عَنْ كَذَا وَكَذَا وَذَكَرَ أَشْيَاءَ، وَعَنِ الْمَمْلُوكِ أَلَهُ فِي الْفَيْءِ شَيْءٌ؟ وَعَنِ النِّسَاءِ هَلْ كُنَّ يَخْرُجْنَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهَلْ لَهُنَّ نَصِيبٌ؟ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: لَوْلَا أَنْ يَأْتِيَ أُحْمُوقَةً مَا كَتَبْتُ إِلَيْهِ، أَمَّا الْمَمْلُوكُ فَكَانَ يُحْذَى، وَأَمَّا النِّسَاءُ فَقَدْ كُنَّ يُدَاوِينَ الْجَرْحَى وَيَسْقِينَ الْمَاءَ.

د یزید بن هرمز نه روایت دې چه نجده ابن عباس ته اولیکل او دهغه نه ئې ډیر معلوماتونه حاصلول غوښتل او دائې هم معلومول چه که غلام په جهاد کښې شریك شي نو هغه ته به

(١): صحيح مسلم/الجهاد ٤٨ (١٨١٢)، سنن الترمذي/السير ٨ (١٥٥٦)، سنن النسائي/الفيء (٤١٣٨)، مسند احمد (٢٤٨/١، ٢٩٤، ٣٠٨، ٣٢٠، ٣٤٤، ٣٤٩، ٣٥٢)، (تحفة الأشراف: ٦٥٥٧) (صحيح)

حصه ورکولې شی اوکه نه؟ او زنانه به هم دنبی ﷺ سره جهاد ته تلي ایاهغوی ته به حصه ورکولې شوه اوکه نه؟ نوابن عباس اووئیل که چرې ماته دا ویره نه و چه دوی به بې وقوفي اوکړي نومابه دوی ته جواب نه وو لیکلې بیا ابن عباس رضی الله عنه دوی ته جواب اولیکلو چه غلام ته په طور دانعام یوڅه ورکولې شی اوزنانوو خوبه دزخمیانو علاج کرو اوهغوی ته به ئې اوبه ورکولي (نجده دخوارجو دامیر نوم دې).

مضمون الحدیث

نجده حروری رئیس الخوارج د ابن عباس رضی الله عنه نه څو مسائل اوتپوسل چه په هغې کښې یو تپوس د مملوک په باره کښې وو چه د هغه په مال غنیمت کښې حصه شته یا نه، او بل تپوس ئې د زنانو متعلق وو چه ایا هغه به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د جهاد دپاره وتلې، او ایا د هغوی دپاره به باقاعده حصه وه؟ نو د دې په جواب کښې ورته ابن عباس رضی الله عنه اوفرمائیل: ﴿ لولا ان یاتی احموقة ما کتبت الیه ﴾ که ماته د دې خبرې ویره نه وه چه معلومه نه ده هغه به په حماقت کښې څه اوکړی نو ما به هغه ته جواب نه وو لیکلې، په ظاهره کښې ابن عباس د هغه نجده په فاسد العقیده کیدو باندې د نفرت اظهار کوی، خو چونکه د دینی مسئلې خبره ده په دې وجه ئې مجبورا لیکی، بهرحال هغه په جواب کښې اولیکل چه او مملوک ته د عطیه په طور څه ورکولې شی، او زنانه به هم د مجروحین د خیال ساتلو او خدمت په نیت باندې جهاد ته تللې.

د دې نه روستو روایت کښې د ابن عباس په جواب کښې د زنانو متعلق دا دی ﴿ وقد کان یرضح لهن ﴾ چه او هغوی ته به رضح ورکولې شو، د رضح ذکر په الدر المنضود جلد اول باب الغسل من الحیض کښې ضمنا د حدیث د لاندې راغلې دې، او هلته مونږ دا هم لیکلې وو چه ددې اصل محل کتاب الجهاد دې. فتذکر. والحدیث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی مختصرا ومطولا، قاله المنذری.

[۲۷۲۸](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ خَالِدٍ يَعْنِي الْوَهْبِيَّ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ، وَالزُّهْرِيِّ عَنْ يَزِيدَ بْنِ هُرْمُزَ، قَالَ: كَتَبَ نَجْدَةُ الْحَرُورِيُّ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ يَسْأَلُهُ عَنِ النِّسَاءِ هَلْ كُنَّ يَشْهَدْنَ الْحَرْبَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهَلْ كَانَ يَضْرِبُ لَهُنَّ بِسَهْمٍ؟ قَالَ: فَأَنَا كَتَبْتُ كِتَابَ ابْنِ عَبَّاسٍ إِلَى نَجْدَةَ قَدْ كُنَّ يَحْضُرْنَ الْحَرْبَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَمَّا أَنْ يُضْرَبَ لَهُنَّ بِسَهْمٍ فَلَا وَقَدْ كَانَ يُرْضَخُ لَهُنَّ.

دیزید بن هرمز نه روایت دې چه نجده ابن عباس ته اولیکل اودهغه نه ئې دزنانو په باره کښې معلومات حاصلوو چه آیا زنانه به دنبی ﷺ سره جهاد ته حاضریدلې؟ اوایاددوی دپاره به ئې حصه مقرروله؟ ماد ابن عباس رضی الله عنه دطرف نه داجواب اولیکو چه په دور نبوی کښې زنانه به په جهاد کښې شریکیدلې او ددوی دپاره به څه مقرره حصه نه وه بلکه په طور دانعام به ورته یوڅه ملاویدل.

---

١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٦٥٥٧) (صحیح)

[۲۷۲۹]()حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ، وَغَيْرُهُ، أَخْبَرَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ، قَالَ: حَدَّثَنَا رَافِعُ بْنُ سَلَمَةَ بْنِ زِيَادٍ، حَدَّثَنِي حَشْرَجُ بْنُ زِيَادٍ، عَنْ جَدَّتِهِ أُمِّ أَبِيهِ، أَنَّهَا خَرَجَتْ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ خَيْبَرَ سَادِسَ سِتِّ نِسْوَةٍ، فَبَلَغَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَعَثَ إِلَيْنَا فَجِئْنَا فَرَأَيْنَا فِيهِ الْغَضَبَ فَقَالَ: "مَعَ مَنْ خَرَجْتُنَّ وَبِإِذْنِ مَنْ خَرَجْتُنَّ؟ فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ خَرَجْنَا نَغْزِلُ الشَّعَرَ وَنُعِينُ بِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَمَعَنَا دَوَاءُ الْجَرْحَى وَنُنَاوِلُ السِّهَامَ وَنَسْقِي السَّوِيقَ، فَقَالَ: قُمْنَ. حَتَّى إِذَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِ خَيْبَرَ أَسْهَمَ لَنَا كَمَا أَسْهَمَ لِلرِّجَالِ قَالَ: قُلْتُ لَهَا: يَا جَدَّةُ وَمَا كَانَ ذَلِكَ قَالَتْ: تَمْرًا".

حشرج بن زیاد دخپلې نیا (دپلار دطرفه)نه روایت کوي چه دا دنبي ﷺ سره دخیبر جهاد ته تلې وه اودا په شپږو ښځو کښې شپږمه ښځه وه ام زیاد وائی کله چه نبي ﷺ خبرشو نوموږ ئې راوغوښتلو موږ چه لاړو نو نبي ﷺ په غصه کښې وو زموږ نه ئې تپوس اوکړو چه تاسو ه چاسره راوتلې ئې اودچاپه حکم باندې راوتلې يې؟ موږ اووئيل اې دالله رسوله موږ چه راوتلو موږ وړئ ريشلې وي او موږ دهغې په ذريعه دالله په لار کښې امداد کوو او زموږ سره دزخميانو دپاره دوائی ده او موږ مجاهدينو ته غشي ورسوو او ستوان تقسيموو، نبي ﷺ اوفرمائيل لاړې شئ نوکله چه خيبر الله تعالى فتح کړو نو زموږ دپاره ئې حصه هم مقررکړه دنارينوو دپاره ئې حصې مقررې کړې وې راوي وائی چه مااووئيل اې نیا هغه څه شې وو (چه په غنيمت کښې درکړې شو)هغې اووئيل کجورې.

﴿ حَدَّثَنِي حَشْرَجُ بْنُ زِيَادٍ عَنْ جَدَّتِهِ أُمِّ أَبِيهِ أَنَّهَا خَرَجَتْ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِي غَزْوَةِ خَيْبَرَ الخ ﴾ حشرج بن زیاد د خپلې نیا ام زیاد الاشجعيه نه روایت کوی، هغه وائی چه موږ شپږ زنانه د رسول اللهﷺ سره غزوه خيبر ته لاړو، هغه ته چه کله د دې خبر اوشو نو هغه موږ پسې يو سړې راوليږلو، چه کله موږ د هغه خواته لاړو نو موږ اوکتل چه هغه غصه دې، هغه زموږ نه تپوس اوکړو چه تاسو د چا سره راوتلې يئ او د چا په اجازت راوتلې يئ؟ هغه وائی چه موږ عرض اوکړو يا رسول اللهﷺ موږ راوتلې يو د دې دپاره چه مالوچ تقيسم کړو (الغزل بالفارسية په معنى د رشتن، غنبتل) د دې دپاره چه هغه په جهاد کښې په کار راشي، او موږ سره دوائی ده د مجروحين دپاره، او د دې دپاره چه موږ مجاهدينو ته غشي ورکړو، او په هغوی باندې ستوان وغيره اوڅکوو، رسول اللهﷺ زموږ جواب اوريدلو سره اوفرمائيل ښه اودريږئ، تردې چه کله الله پاک په رسول اللهﷺ باندې خيبر فتح کړو ﴿ اسهم لنا كما اسهم للرجال ﴾ نو رسول اللهﷺ په غنيمت کښې زموږ دپاره هم حصه مقرر کړه څنګه چه ئې د سړو دپاره مقرر کړې وه.

هم دا روايت د امام اوزاعي مستدل دې، جمهور فرمائی چه د دې نه مراد رضخ دې، حشرج وائی چه ما د هغې نه تپوس اوکړو چه په حصه کښې درته څه ملاؤ شو نو هغې اووې چه کهجورې. والحديث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

(): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۸۳۱۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۷۱/۶، ۳۷۱) (ضعيف)

[۲۷۳۰](¹)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا بِشْرٌ يَعْنِي ابْنَ الْمُفَضَّلِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي عُمَيْرٌ مَوْلَى آبِي اللَّحْمِ، قَالَ: شَهِدْتُ خَيْبَرَ مَعَ سَادَتِي فَكَلَّمُوا فِيَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ بِي فَقُلِّدْتُ سَيْفًا فَإِذَا أَنَا أَجُرُّهُ فَأُخْبِرَ أَنِّي مَمْلُوكٌ فَأَمَرَ لِي بِشَيْءٍ مِنْ خُرْثِيِّ الْمَتَاعِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: مَعْنَاهُ أَنَّهُ لَمْ يُسْهِمْ لَهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَالَ أَبُو عُبَيْدٍ: كَانَ حَرَّمَ اللَّحْمَ عَلَى نَفْسِهِ فَسُمِّيَ آبِي اللَّحْمِ.

دعمير «دابواللحم ازاد کړې شوې غلام»نه روايت دې فرمائی چه زه دخپلو مالکانوسره دخيبر غزاته لاړم هغې زماپه باره کښې نبی ﷺ ته اووئيل چه دې دځان سره بوځو اوکه نه نبی ﷺ اجازت ورکړو اوماته يسې حکم اوکړو نوماتوره غاړې ته واچوله داسې توره چه په زمکه مې راښکله نبی ﷺ ته خبر ورکړې شو چه دې خوغلام دې نونبی ﷺ ماته دانعام په طور باندې دکور دسامان نه يوڅه راکړل.

شرح حديث

عمير صحابی رضي الله عنه کوم چه ازاد کړې شوې غلام دې، د يو بل صحابی ه د هغه لقب ابی اللحم مشهور دې او په نوم کښې ئې اختلاف دې، عبدالله يا خلف يا الحويرث الغفاری، د ابوداود په بعض نسخو کښې دی : قال ابو عبيد : کان حرم اللحم علی نفسه فسمی ابو اللحم» ابو عبيد قاسم بن سلام فرمائی چه هغه ته ابو اللحم په دې وجه وئيلې شی چه هغه د اسلام قبلولو نه مخکښې چه کوم څاروی د بتانو په نوم باندې ذبح کولې شو د هغې غوښه په خپل ځان باندې حرام کړې وه، يعنی د هغې نه به ئې پرهيز کولو ، هغه

وائی چه زه د خپلو مالکانو سره د خيبر په غزوه کښې شريک شوم چه د هغې صورت دا شو چه زما مالکانو زما په باره کښې رسول الله ﷺ سره خبره کړې وه نو هغه زما په باره کښې اجازت ورکړو، هغه فرمائی چه ماته په غاړه کښې يوه توره واچولې شوه (لکه چه د مجاهدينو په غاړه کښې وی) نو ما هغه د ځان سره راښکله، يعنی هغه ما سره په زمکه لګيدلې تله (د هغه دکم عمرئ اود قد د وړوکوالی دوجې نه) وړاندې فرمائی چه د تقسيم غنيمت په وخت زما باره کښې عرض اوکړې شو چه دا غلام دې، پس رسول الله ﷺ زما دپاره د کور د استعمال د معمولی سامان د ورکولو حکم اوفرمائيلو يعنی کټوئ او لوښی وغيره، الاوانی المنزلية... د دې نه معلومه شوه چه د مملوک دپاره باقاعده حصه نه وی، خو دلته به يو اشکال وی چه هغه اګر چه عبد وو خو عبد ماذون للقتال وو کوم چه د احنافو په نزد په حکم د ازاد کښې دې، د دې جواب به کيدې شی چه دا وی چه دې صرف عبد نه دې بلکه صغير هم دې لکه چه د ابوداود په بعض نسخو کښې دی. قال ابوداود : معناه انه لم يسهم له لصغره.... والحديث اخرجه الترمذی وابن ماجة، قاله المنذری.

[۲۷۳۱](²)حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: كُنْتُ أَمِيحُ أَصْحَابِي الْمَاءَ يَوْمَ بَدْرٍ.

¹): سنن الترمذي/السير ٩ (١٥٥٧)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٣٧ (٢٨٥٥)، (تحفة الأشراف: ١٠٨٩٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٢٢٣)، سنن الدارمي/السير ٣٥ (٢٥١٨) (صحيح)

²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٣٢٨) (صحيح)

ترجمه: دجابرنه روایت دي فرمائي چه مابه دبدر په ورځ باندې دمسلمانانودپاره داوبونه لوښي راډکول.

شرح حديث

سیدنا جابر رضي الله عنه فرمائی چه زه به په جنګ بدر کښې په بوقه کښې اوبه اوړلو سره خپلو اصحابو ته ورکولې په بعض نسخو کښې دا زیادت دې ﴿ معناه لم يسهم له ﴾ د جابر د عدم اسهام وجه هم دا ده چه هغه دې وخت کښې ماشوم وو چه د هغې قرینه خپله په روایت کښې موجود ده چه ما به په بوقه کښې اوبه اچولې، د دې نه معلومه شوه چه هغه به اوبه ډکولې او اوبه راښکلو والا بل څوک وو، د ماح يميح ميحا معنی هم دا ده چه اوبو ته کوزيدلو سره د هغې نه لوښي ډکول، ظاهره ده چه دا کار ماشوم هم کولې شی، د بوقې د ډکيدو نه پس د هغې راښکل دا د طاقت ور سړی کار دې.

ځان پوهه کړئ چه ډکونکی ته مائح او راښکونکی ته ماتح وئیلې شی، فقد قال الخطابی الماتح هو الذی ینزل الی اسفل البير فيملا الدلو ويرفعها الى المائح وهو الذی ينزع الدلو. اه

بَابٌ فِي الْمُشْرِكِ يُسْهَمُ لَهُ

کله چه مشرک د مسلمانانو سره په جهاد کښې شریک وی نو دده دپاره به حصه وی اوکه نه؟

[۲۷۳۲](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَيَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ الْفُضَيْلِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نِيَارٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَ: يَحْيَى إِنَّ رَجُلًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ لَحِقَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُقَاتِلَ مَعَهُ فَقَالَ: ارْجِعْ، ثُمَّ اتَّفَقَا فَقَالَ: إِنَّا لَا نَسْتَعِينُ بِمُشْرِكٍ.

دام المومنين عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه د مشرکانونه يوکس نبی عليه السلام ته راغې اودنبی عليه السلام سره يې جهاد شروع کړو نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل واپس شه مونږ ته دمشرك مدد نه دې پکار.

استعانة بالمشرک کښې مذاهب ائمه

دلته دوه مسئلې دی، يو د استعانة بالمشرک کومه چه په حديث الباب کښې ذکر ده يعنی مسلمان د خپل ځان سره جهاد ته يو مشرک بوتلې شی د دې دپاره چه هلته په کار راشی؟ او بله مسئله دا ده چه هغه ځان سره بوتلې شو نو د هغه دپاره به په مال غنيمت کښې حصه وی يا نه؟ دواړه مسئلې اختلافی دی، اوله مسئله کومه چه په حديث الباب کښې هم ذکر ده ﴿ انا لا نستعين بمشرك ﴾ په دې کښې د امام احمد رحمه الله نه دوه روايتونه دی د جواز او عدم جواز، او د احنافو په نزد مطلقا جواز دې، او د شوافعو په نزد جواز بشرطين دې يو دا چه هغه د مسلمانانو په باره کښې حسن الرائي وی، دويم حاجت الی

(۱): صحيح مسلم/الجهاد ۵۱ (۱۸۱۷)، سنن الترمذي/السير ۱۰ (۱۵۵۸)، سنن ابن ماجه/الجهاد ۲۷ (۲۸۳۲)، (تحفة الأشراف: ۱۶۳۵۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۶۷، ۱۴۸)، سنن الدارمي/السير ۵۴ (۲۵۳۸) (صحيح)

الاستعانة (1) يعني يو خو دا چه په هغه مشرک کښې تعصب نه وی او هغه شری نه وی، بل دا چه واقعي د استعانت حاجت هم وی، که حاجت نه وی یا هغه متعصب وی نو بیا جائز نه ده، او د امام مالک رحمه الله په نزد د استعانت جواز په دې صورت کښې دې چه کله هغه د بوتلونکو په خادمانو کښې وی، دا مذاهب خو شو په مسئله اولی کښې، او پاتې شوه بله مسئله د حصو نو د داسې سړی دپاره حصې صرف د امام احمد په نزد دی فی الراجح عنده، په دې وجه د هغوی په نزد اسلام شرائط أسهام نه نه دې بلکه صرف دا څلور څیزونه دی بلوغ، عقل، حرية، ذکورة، کما فی الاوجز (ص ۳۹ ج ۴) او عند الجمهور ومنهم الائمة الثلاثة د هغه دپاره د غنیمت حصه نشته، او په مسئله اولی کښې د احنافو دلیل هغه دې کوم چه هم په دې کتاب کښې په باب تضمين العارية کښې راروان دي (بذل ص ۳۰۲ ج ٤) چه رسول الله ﷺ په جنګ حنین کښې استعانت فرمائیلی وو په صفوان بن امیه سره د وسلې په استعاره سره د هغه د اسلام د راوړلو نه مخکښې. وحديث الباب اخرجه مسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة بنحوه، قاله المنذری.

بَابٌ فِي سُهْمَانِ الْخَيْلِ

په غنیمت کښې داس دپاره د حصې بیان

سهم خیل باندې خو د ټولو اتفاق دې چه د اس باقاعده حصه په مال غنیمت کښې وی خو د دې مقدار کښې اختلاف دې ائمه خمسه یعني ائمه ثلاثه او صاحبین په نزد د فرس دپاره دوه حصې دی، لهذا فرس او فارس دواړه یوځائې کیدو سره درې حصې شوې او د امام صاحب په نزد د فرس دپاره یوه حصه ده، لهذا د فارس دپاره به دوه حصې وی یو د هغه او یو د هغه د اس.

[۲۷۳۳] (2) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْهَمَ لِرَجُلٍ وَلِفَرَسِهِ ثَلَاثَةَ أَسْهُمٍ سَهْمًا لَهُ، وَسَهْمَيْنِ لِفَرَسِهِ.

دابن عمرنه روایت دې فرمائي چه نبی علیه السلام سورلئ والاته درې حصې ورکړې یوه دده خپله حصه اودوه حصې داس.

﴿ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم- أَسْهَمَ لِرَجُلٍ وَلِفَرَسِهِ ثَلَاثَةَ أَسْهُمٍ سَهْمًا لَهُ وَسَهْمَيْنِ لِفَرَسِهِ ﴾ دا حدیث د ائمه ثلاث او د صاحبینو دلیل دې، او د امام صاحب دلیل په راروان باب کښې راځی، چه په هغې باندې مصنف مستقل ترجمه قائم کړې ده او د دې حدیث

(1) فقد ترجم النووي بباب كراهة الاستعانة في الغزو بكافر الا لحاجة او كونه حسن الراى في المسلمين على حديث مسلم عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهَا قَالَتْ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قِبَلَ بَدْرٍ فَلَمَّا كَانَ بِحَرَّةِ الْوَبَرَةِ أَدْرَكَهُ رَجُلٌ قَدْ كَانَ يُذْكَرُ مِنْهُ جُرْأَةٌ وَنَجْدَةٌ فَفَرِحَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- حِينَ رَأَوْهُ فَلَمَّا أَدْرَكَهُ قَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- جِئْتُ لأَتَّبِعَكَ وَأُصِيبَ مَعَكَ. قَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ». قَالَ لاَ قَالَ « فَارْجِعْ فَلَنْ أَسْتَعِينَ بِمُشْرِكٍ » الحديث اخرجه مسلم ص ۱۸ ج ۲)

(2): سنن ابن ماجه/الجهاد ۳۶ (۲۸٥٤)، (تحفة الأشراف: ۸۱۱۱)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجهاد ٥۱ (۲۸٦۳)، المغازي ۳۸ (٤۲۲۸)، صحيح مسلم/الجهاد ۱۷ (۱۷٦۲)، سنن الترمذي/السير ٦ (۱٥٥٤)، مسند احمد (۲/۲، ٦۲، ۷۲، ۸۰، ۱٤۳، ۱٥۲)، سنن الدارمي/السير ۳۳ (۲٥۱٥) (صحيح)

جواب دا کیدې شی چه دا حدیث مجمل دې، د دې نه دا نه معلومیږی چه دا کلنۍ واقعه کیدې شی چه د خیبر نه مخکښې واقعه وی، لهذا منسوخ ده. او د امام صاحب دلیل یعنی د مجمع بن جاریه انصاری حدیث هغه د خیبر د غنیمتونو دې،

هم دغه شان په دې کښې احتمال دې چه په دې دریو کښې یو حصه په طور د تنفیل وی. او كانت القسمة اذ ذاک مفوضة الى راى الامام، والله تعالى اعلم، والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي وابن ماجة، قاله المنذري.

[۲۷۳٤]([1])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنِي الْمَسْعُودِيُّ، حَدَّثَنِي أَبُو عَمْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: أَتَيْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَةَ نَفَرٍ وَمَعَنَا فَرَسٌ، فَأَعْطَى كُلَّ إِنْسَانٍ مِنَّا سَهْمًا وَأَعْطَى لِلْفَرَسِ سَهْمَيْنِ.

د ابوعمره پلار عبد الرحمن بن ابی عمره انصاری رضی الله عنه وائی چه مونږ څلورسړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلو او مونږ سره یو اس وو، نو هغوی صلی الله علیه وسلم مونږ ته هر سړی ته یوه یوه حصه ورکړه، او اس ته ئې دوه حصې ورکړې.

[۲۷۳۵]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أُمَيَّةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا الْمَسْعُودِيُّ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ آلِ أَبِي عَمْرَةَ، عَنْ أَبِي عَمْرَةَ بِمَعْنَاهُ إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: ثَلَاثَةُ نَفَرٍ زَادَ فَكَانَ لِلْفَارِسِ ثَلَاثَةُ أَسْهُمٍ.

دې سند سره هم ابو عمره نه ددې حدیث پشان رانقل دې خوپه دې کښې دادی چه مونږ درې سړی وو اوپه دې کښې دا اضافه ده چه سور (اس والاته) درې حصې ملاؤ شوې

بَابٌ فِيمَنْ أَسْهَمَ لَهُ سَهْمًا

باب: د کومو (علماؤ) په نزد چه اس ته یوه حصه ورکول پکار دی دهغوی دلائل

[۲۷۳٦]([3])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا مُجَمِّعُ بْنُ يَعْقُوبَ بْنِ مُجَمِّعِ بْنِ يَزِيدَ الْأَنْصَارِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي يَعْقُوبَ بْنَ مُجَمِّعٍ، يَذْكُرُ عَنْ عَمِّهِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ عَمِّهِ مُجَمِّعِ بْنِ جَارِيَةَ الْأَنْصَارِيِّ، وَكَانَ أَحَدَ الْقُرَّاءِ الَّذِينَ قَرَءُوا الْقُرْآنَ قَالَ: شَهِدْنَا الْحُدَيْبِيَةَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا انْصَرَفْنَا عَنْهَا إِذَا النَّاسُ يَهُزُّونَ الْأَبَاعِرَ، فَقَالَ بَعْضُ النَّاسِ لِبَعْضٍ مَا لِلنَّاسِ قَالُوا: أُوحِيَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجْنَا مَعَ النَّاسِ نُوجِفُ، فَوَجَدْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاقِفًا عَلَى رَاحِلَتِهِ عِنْدَ كُرَاعِ الْغَمِيمِ، فَلَمَّا اجْتَمَعَ عَلَيْهِ النَّاسُ قَرَأَ عَلَيْهِمْ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَتْحٌ هُوَ، قَالَ: نَعَمْ، وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنَّهُ لَفَتْحٌ فَقُسِّمَتْ خَيْبَرُ عَلَى أَهْلِ الْحُدَيْبِيَةِ، فَقَسَّمَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ثَمَانِيَةَ عَشَرَ سَهْمًا، وَكَانَ الْجَيْشُ أَلْفًا وَخَمْسَ مِائَةٍ فِيهِمْ ثَلَاثُ مِائَةِ فَارِسٍ، فَأَعْطَى الْفَارِسَ سَهْمَيْنِ وَأَعْطَى الرَّاجِلَ سَهْمًا، قَالَ أَبُو دَاوُد: حَدِيثُ أَبِي مُعَاوِيَةَ أَصَحُّ وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ وَأَرَى الْوَهْمَ فِي حَدِيثِ مُجَمِّعٍ أَنَّهُ قَالَ: ثَلَاثَ مِائَةِ فَارِسٍ، وَكَانُوا مِائَتَيْ فَارِسٍ.

د مجمع بن جارية الانصاری رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه مونږ د صلح حدیبیه په ورځ د نبی علیه السلام په خدمت کښې حاضرشوی وو کله چه واپس کیدو نوخپل خپل اوښان مو زر زر اوزغلول، په دې وخت کښې خلقو د یو بل نه تپوسونه شروع کړل چه د منډې وهلو څه سبب

[1]: تفرد به أبوداود، مسند احمد (۱۳۸/٤)، (تحفة الأشراف: ۱۲۰۷۲) (صحيح)
[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۲۰۷۲) (صحيح)
[3]: تفرد به أبوداود، مسند احمد (۴۲۰/۳)، (تحفة الأشراف: ۱۱۲۱٤)، ويأتي هذا الحديث في الخراج (۳۰۱۵) (ضعيف)

دي، بيا معلومه شوه چه په نبی ﷺ وحی نازله شوې ده، او مونږ دخلقو سره په منډه ووتلو او نبی ﷺ مو په خپله اوښه باندې سور اوليدلو د كراع الغيم (چه د مكې اومدينې په مينځ كښې يوځائې دې) سره كله چه ورته خلق راجمع شو نو دا آيت : ﴿إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا﴾ ئې ورته اولوستلو ، يوكس اووئيل اې دالله رسوله! آيا دا فتح ده؟ نبی ﷺ اوفرمائيل هو، زما دې قسم وی په هغه ذات دچا په لاس كښې چه د محمد ﷺ روح دې چه دا فتح ده او دغه فتح يا خو صلح حديبيه وه دكومې په انجام كښې چه مسلمانانو ته ډيره فائده حاصله شوه ياددې فتح نه مراد فتح مكه ده يافتح خيبر مراد دې كومه چه په دې پسې متصل واقع شوې وه بياچه كله دخيبر په جنګ كښې مسلمانانوكوم مال حاصل كړونوهغه دصلح حديبيه په خلقو باندې وويشل شو، نبی ﷺ داموال اتلس حصې كړو اولښكريان ټول پنځلس سوه كسان وو پدوې درې سوه دسورلووالا وو اودولس سوه پيدل تلو والا رو، نبی ﷺ دسورلو والاته دوه دوه حصې وركړې او پيدل كسانوته ئې يوه يوه حصه وركړه. ابوداؤد وائی حديث د ابومعاويه اصح دې اوعمل هم په دغې دې او دمجمع په حديث كښې وهم دې هغه وائی چه درې سوه اسونو والا وو، حالانكه هغوی دوه سوه اسونو والا ؤو.

مضمون حديث

د حديث مضمون دا دې چه مجمع بن جاريه رضي الله عنه فرمائی چه كله مونږ د حديبيه نه واپس كيدو نو بعض خلقو اوښان زغلول، چه كله د هغې وجه اوتپوسلې شوه نو خلقو جواب وركړو چه رسول الله ﷺ باندې وحی نازله شوې ده، هغه وائی چه مونږ خپلې سورلئ اوزغلولې، چه كله مونږ هغوی ته نزدې شو نو وې كتل چه ته په خپله سورلئ باندې هغه لره اودرولې ولاړ دې كراع الغميم ته نزدې، د خلقو د جمع كيدو نه پس هغه دا آيت كريمه تلاوت اوفرمائيلو ﴿ انا فتحنا لك فتحا مبينا ﴾ نو په دې باندې يو سړی د هغه نه تپوس اوكړو چه يا رسول الله! دا څه چه پيښ شوې دی دا فتح ده؟ هغه قسم خوړلو سره اوفرمائيل چه او فتح ده، يعنی د انجام او نتيجې په اعتبار سره هغه په دې وجه چه په حديبيه كښې د لسو كالو پورې په عدم قتال باندې د ډيرو شرطونو سره معاهده شوې وه خو كفارو د څه مودې تيريدو نه پس لوظ مات كړو چه د هغې په وجه باندې ډير زر فتح مكه ته خبره اورسيده، د دې رجل نه مراد سيدنا عمر رضي الله عنه دې، كوم چه په حديبيه كښې كيدونكې صلح باندې راضی نه وو بلكه اصل رائې ئې د هغوی د مقابلې وه، رسول الله ﷺ د هغه جذبات خاموش كړل، چه په هغې باندې هغه خاموشه شو، خو د دې باوجود هغه ډير متاثر او خفه وو، هم په دې وجه كله چه رسول الله ﷺ هغه ته دا آيت كريمه واورولو ﴿ انا فتحنا لك فتحا مبينا ﴾ نو هغه د رسول الله ﷺ نه په طور د تعجب تپوس اوكړو چه ايا هم دا فتح ده؟

د مجمع بن جاريه حديث د احنافو دليل دې

وړاندې په روايت كښې د ترجمة الباب والا مسئله ذكر شوې ده، هغه دا چه چونكه د صلح حديبيه نه فورا پس د فتح خيبر قصه پيښه شوې وه نو راوی د خيبر د غنيمتونو تقسيم لره په دې روايت كښې بيانوی، هغه دا چه رسول الله ﷺ د خيبر غنيمتونو لره په اهل

حديبيه باندې په اتلسو حصو کښې تقسيم کړې وو يا ئې اهل حديبيه په دې وجه اووې چه په فتح خيبر کښې شرکت کونکی صحابه کرام هم هغه وو کوم چه د دې نه مخکښې په صلح حديبيه کښې شريک وو، په اتلسو حصو کښې د تقسيم کولو تفصيل راوی داسې بيانوی چه د لښکر تعداد پنځلس سوه وو چه په هغې کښې درې سوه فارس اودولس سوه راجل وو اوپه هغه اتلسوسهام کښې هر يوسهم په سلوحصوباندې مشتمل وو په دې صورت کښې د راجل په حصه کښې يو سهم او د فارس په حصه کښې دوه حصې راځی او که د فارس درې حصې وې کما قال الجمهور نو بيا به دا غنيمت د اتلسو حصوپه ځائې يويشت حصو باندې تقسيم کيدلې. (تاسوپرې حساب اولګوئ او اوګورئ)

د خيبر د غنيمتونو په باره کښې دوه مختلف روايتونه

وړاندې به په بعض روايتونو کښې داسې هم راشی چه رسول الله ﷺ د خيبر غنيمتونه شپږ ديرش حصې کړل خو په دې کښې هيڅ د تعارض والا خبره نشته، ځکه چه چرته اتلس حصې راغلې دی هلته د راوی مراد دا دې چه د خيبر نيم غنيمتونه رسول الله ﷺ په اتلسو حصو باندې تقسيم کړل، او د اتلسو دوچند شپږ ديرش وی. لهذا حساب برابر شو. په اصل کښې هغه د خيبر د غنيمتونو نه نصف د غانمين ترمينځه تقسيم کړې وو او نيم ئې د خپل ضرورت دپاره او نوائب المسلمين دپاره پريخودلې وو.

چرته چه دا راځی چه رسول الله ﷺ په شپږ ديرشو حصو باندې تقسيم کړل چه د دې نه مراد په خلقو باندې تقسيم کول مراد نه دی بلکه د حساب په اعتبار سره دی او بيا په دې شپږ ديرشو کښې نصف يعنی اتلس په خلقو باندې تقسيم کړې شو لکه چه دلته په روايت کښې دی.

د جمهورو د طرف نه د دليل حنفيه جواب

جمهور د دې جواب دا ورکوی چه دا خبره چه اصحاب حديبيه پنځلس سوه وو او په هغوی کښې درې سوه شهسواران وو، دا د تحقيق خلاف ده بلکه صحيح دا ده چه اصحاب حديبيه کل څوارلس سوه وو چه په هغوی کښې دولس سوه راجل او دوه سوه شهسواران وو او دوه سوه فارس قائم مقام د شپږ سوه راجل، دولس او شپږ اتلس وی، پس د ابوداود په بعض نسخو کښې دی چه حديث د ابو معاويه اصح دې د مجمع د حديث نه، د مجمع حديث وهم دې، فارس درې سوه نه وو بلکه دوه سوه وو، د حديث ابی معاويه نه مراد د تير باب حديث اول دې کوم چه د جمهورو موافق او د هغوی دليل دې، زه وايم چه د اصحاب حديبيه په تعداد کښې د رواياتو اختلاف دې، په بعض رواياتو کښې پنځلس سوه راغلې دې، په بعض کښې څوارلس سوه او په بعض کښې ديارلس سوه، وکل هذه الروايات فی صحيح البخاری، احنافو د مجمع بن جاريه د دې حديث په وجه باندې په دې درې واړو رواياتو کښې د پنځلس سوه روايت ته ترجيح ورکړې ده، او وجه د ترجيح ئې د مجمع بن جاريه هم هغه روايت منلې دې، جمهور فرمائی چه د مجمع بن جاريه روايت ضعيف دې، کما تقدم فی کلام المصنف، هم دغه شان بعض نورو محدثينو هم د مجمع په حديث باندې

کلام کړې دې، پس ابن القطان فرمائی چه په دې حدیث کښې یعقوب بن مجمع راوی مجهول دې، د هغه نه سوا د هغه د ځوئی نه روایت کول معلوم نه دی (ګویا هغه د من لم یرو عنه الا واحد د قبیل نه دې او مجهول العین دې خو هغه د هغه د ځوئی په باره کښې اعتراف کړې دې چه هغه ثقه دې.

د جمهور د نقد جواب

په دې باندې حضرت په بذل کښې لیکی چه د ابن القطان دا خبره صحیح نه ده چه د یعقوب نه د هغه د ځوئی نه علاوه بل څوک روایت نه کوی پس حافظ لیکی : روی عنه ابنه مجمع وابن اخیه ابراهیم بن اسماعیل بن مجمع، وعبدالعزیز عبید بن صهیب، وذکره ابن حبان فی الثقات، فارتفع الجهالة وثبت التوثیق. د دې نه پس حضرت په بذل کښې د دې سند په بل راوی یعقوب ځوئی مجمع بن یعقوب باره کښې د امام شافعی کلام نقل فرمائیلې دې پس په خلاصه کښې دی ﴿ قال الشافعی شیخ لا یعرف ﴾ په دې باندې حضرت فرمائی : قال الحافظ روی عنه یونس بن محمد المؤدب، ویحیی بن حسان، واسماعیل بن ابی اویس والقعنبی وقتیبة ومحمد بن عیسی ابن الطباع وغیرهم" د دې نه پس حضرت فرمائی چه د چا نه روایت کونکی دومره وی هغه مجهول څنګه شو، بیا دا چه ابن معین او نسائی نه د هغه په باره کښې نقل دی چه ﴿ لیس به باس ﴾، هم دغه شان ابوحاتم هم وئیلې دی ﴿ لا باس به ﴾، ابن سعد فرمائی ﴿ کان ثقة ﴾، او د دې نه مخکښې د ابن القطان په کلام کښې تیر شوې دی چه هغه د هغه د پلار یعقوب په باره کښې خو اوفرمائیل چه ﴿ لا یعرف ﴾ او خپله د مجمع په باره کښې فرمائی چه ﴿ ثقة ﴾، هم دغه شان ابن الترکمانی په الجوهر النقی کښې فرمائی چه د امام شافعی نه منقول دی چه د مجمع په باره کښې هغه فرمائی ﴿ شیخ لا یعرف ﴾، بیا هغه فرمائی : هذا الحدیث اخرجه الحاکم فی المستدرک وقال حدیث کبیر صحیح الاسناد، ومجمع بن یعقوب معروف، روی له ابوداود والنسائی. اهـ مختصرا هم دغه شان علامه ذهبی د مستدرک په تلخیص کښې د دې حدیث د تخریج نه پس فرمائی : حدیث صحیح. اهـ

بَابٌ فِي النَّفْلِ

باب: د زیاتی (غنیمت، انعام) ورکولو په بیان کښې

په غنیمت کښې چه د امام د پاره کوم انعام مقرر کړې شی نفل وئیلې شی.

د ترجمة الباب شرح :

نفل خو په اصل کښې وئیلې شی حصه زائده او انعام ته او هم د دې نه تنفیل لفظ هم دې، خو دلته د نفل نه مراد غنیمت دې لکه چه د احادیث الباب نه معلومیږی، مصنف په دې باب کښې د غنائم بدر روایات ذکر کړې دی چه د هغې پوره پوره اختیار رسول الله ﷺ ته وو لکه چه مخکښې تیر شو، او د غنائم بدر په باره کښې آیت کریمه نازل شو ﴿ یسئلونک عن الانفال ﴾ چه کله په دې آیت کریمه کښې د غنائم بدر نه په نفل سره تعبیر اوکړې شو نو هم د دې په اتباع کښې مصنف د غنیمت نه په نفل سره تعبیر اوکړو.

[۲۷۳۷]()حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، قَالَ: أَخْبَرَنَا خَالِدٌ، عَنْ دَاوُدَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَوْمَ بَدْرٍ مَنْ فَعَلَ كَذَا وَكَذَا فَلَهُ مِنَ النَّفَلِ كَذَا وَكَذَا، قَالَ: فَتَقَدَّمَ الْفِتْيَانُ وَلَزِمَ الْمَشْيَخَةُ الرَّايَاتِ فَلَمْ يَبْرَحُوهَا، فَلَمَّا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ قَالَ الْمَشْيَخَةُ: كُنَّا رِدْءًا لَكُمْ لَوِ انْهَزَمْتُمْ لَفِئْتُمْ إِلَيْنَا، فَلَا تَذْهَبُوا بِالْمَغْنَمِ وَنَبْقَى، فَأَبَى الْفِتْيَانُ وَقَالُوا: جَعَلَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ قُلِ الْأَنْفَالُ لِلَّهِ وَالرَّسُولِ إِلَى قَوْلِهِ كَمَا أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقًا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ لَكَارِهُونَ سورة الأنفال آية ٥ يَقُولُ فَكَانَ ذَلِكَ خَيْرًا لَهُمْ فَكَذَلِكَ أَيْضًا فَأَطِيعُونِي فَإِنِّي أَعْلَمُ بِعَاقِبَةِ هَذَا مِنْكُمْ.

دابن عباس هنه روایت دي فرمائي چه نبی ﷺ دغزوه بدر په ورځ فرمائیلی ووچه چا دا دا کارونه وکړل نو دهغه دپاره دا دا انعام دي ددې په اوریدوسره ځوانان مخکښې لاړل او بوډاګان دجنډوسره پاتې شول اوددغه ځاي نه ونه خوزیدل هرکله چه الله تعالی مسلمانانوته فتح نصیب کړه نوبوډاګانو ووئیل مونږ خو ستاسو دپاره مددګاران اودپناه ځاي وو، که چرې تاسو شکست خوړلی وي نومونږته به راجوښت شوي وې داسې نشي کیدي چه دغنیمت مال تاسو واخلئ او مونږ همداسې پاتې شو نوځوانانوونه منله اووئې وئیل چه نبی ﷺ دا مونږ ته راکړې دي نوپه دې وخت کښې الله تعالی دامذکوره آیت نازل کړو، یعنی تپوس کوي دوی ستاسنه اې محمد دانفال په باره کښې ته ورته اووایه چه انفال دالله تعالی اودهغه درسول په اختیارکښې دي تر ,,لکارهون،، پورې.

د حدیث مضمون او د هغې شرح

یعنی رسول اللهﷺ په جنګ بدر کښې اعلان اوفرمائیلو چه څوک کوم کافر لره قتل کوی د هغه ټول سامان به قاتل ته ملاویږی (دا اعلان په بعض مغازی کښې شوې دې چرته چه مصلحت ګڼړلې شوې وو، په دې سره مقصود تشجیع وی او ترغیب، د دې دپاره چه هر سړې ښه په همت سره جنګ اوکړی) راوی وائی چه د رسول اللهﷺ د طرف نه د دې اعلان کیدو نه پس ځوانان طبقه خو وړاندې شو د قتال دپاره او بوډاګان او ضعیف قسم خلق د جهنډو په خوا کښې پاتې شو د هغوی د سنبهالولو دپاره، هغوی د هغې د خوا نه لرې نه شو، پس چه کله الله پاک مسلمانانو ته فتح ورکړه نو هغه بوډاګانو دا خبره اوکړه ځوانانو ته چه مونږ ستاسو اسره او مدد کونکی وو (یعنی ستاسو شاته ولاړ وو) که تاسو ته شکست شوې وې نوتاسو به واپس زمونږ خواته راتلئ، لهذا ټول غنیمت خپله مه اخلئ، ځوانانو چه دا خبره واوریده نو د ورکولو نه ئې انکار اوکړو او وې وئیل چه دا خو د رسول اللهﷺ د طرف نه زمونږ دپاره دي، نو د دې اختلاف په موقع باندې دا آیت کریمه نازل شو ﴿ يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ قُلِ الْأَنْفَالُ لِلَّهِ وَالرَّسُولِ ﴾ الی قوله ﴿ كَمَا أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ ﴾ د ﴿ کما اخرجک ﴾ تفسیر خپله دلته په روایت کښې موجود دې چه د هغې تشریح دا ده چه بعض صحابه کرام په شروع کښې د بدر طرف ته د جنګ دپاره تلو ته تیار نه وو او دا ئې نه خوښوله، د جنګ د تیارئ نه کولو د وجې نه، بلکه دا ئې غوښتل چه د قریشو په قافلې پسې لاړ شی کومه چه د شام نه رارونه وه، کومې چه د ساحل لاره اختیاره کړه او بل طرف

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۶۰۸۱) (صحیح)

ته روانه شوه، خو روستو چه کله جنګ اوشو او مسلمانانو ته شانداره فتح اوشوه نو بیا هغوی ته احساس اوشو چه نه په جنګ کښې زمونږ خیر او خوبی وه کوم چه په شروع کښې هغوی ناخوښه ګڼړلو، نو په دې آیت کریمه ﴿ كما اخرجك ربك ﴾ کښې هم د دې بدر د واقعې سره د مال غنیمت تقسیم او عدم تقسیم لره تشبیه ورکولې شی چه اوګورئ چه څنګه رسول الله ﷺ د غنیمت په باره کښې فیصله کوی هم هغه تاسو اختیار کړئ او په خپل حق کښې ئې غوره اوګڼړئ او په خپله رائې باندې اصرار مه کوئ، د انجام په اعتبار هم په دې کښې خیر دې لکه چه په بدر کښې چه کوم څیز تاسو ناخوښه ګڼړلو او روستو ثابته شوه چه هغه څیز ناخوښه کیدل نه وو پکار بلکه هم په هغې کښې خیر وو. والحديث اخرجه النسائی قاله المنذری.

[۲۷۳۸] (¹) حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، قَالَ: أَخْبَرَنَا دَاوُدُ بْنُ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ بَدْرٍ: "مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا فَلَهُ كَذَا وَكَذَا، وَمَنْ أَسَرَ أَسِيرًا فَلَهُ كَذَا وَكَذَا"، ثُمَّ سَاقَ نَحْوَهُ وَحَدِيثُ خَالِدٍ أَتَمُّ.

د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ دغزوه بدر په ورځ فرمائیلی ووچه چا کوم کافر مړ کړو نودهغه دپاره دا دا انعام دې اوچاچه قیدي راوستو نودهغه دپاره دا دا انعام دې اوباقی حدیث ئې دتیرشوی روایت په شان بیان کړو اودخالدحدیث زیات کامل دې.

د دې نه په روستو روایت کښې دی ﴿ فَقَسَّمَهَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِالسَّوَاءِ ﴾ یعنی رسول الله ﷺ د بدر غنیمتونه د ټولو مجاهدینو ترمینځه برابر تقسیم اوفرمائیل، یعنی د سلب نه علاوه، د سلب په باره کښې خو اعلان شوې وو چه هغه به صرف د قاتل دپاره وی، د هغه نه علاوه چه کوم باقی غنیمت وو هغه بیشکه برابر تقسیم کړې شو.

[۲۷۳۹] (²) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ بَكَّارِ بْنِ بِلَالٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ مَوْهَبٍ الْهَمْدَانِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، قَالَ: أَخْبَرَنِي دَاوُدُ بِهَذَا الْحَدِيثِ بِإِسْنَادِهِ، قَالَ: فَقَسَّمَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالسَّوَاءِ، وَحَدِيثُ خَالِدٍ أَتَمُّ.

داود په خپل سندسره دا روایت بیان کړي فرمائی چه نبی ﷺ یوبرابر تقسیم وکړو. اودخالد حدیث زیات کامل دې.

[۲۷٤۰] (³) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: جِئْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ بِسَيْفٍ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ اللَّهَ قَدْ شَفَى صَدْرِي الْيَوْمَ مِنَ الْعَدُوِّ فَهَبْ لِي هَذَا السَّيْفَ، قَالَ: "إِنَّ هَذَا السَّيْفَ لَيْسَ لِي وَلَا لَكَ"، فَذَهَبْتُ وَأَنَا أَقُولُ يُعْطَاهُ الْيَوْمَ مَنْ لَمْ يُبْلِ بَلَائِي فَبَيْنَا أَنَا إِذْ جَاءَنِي الرَّسُولُ فَقَالَ: أَجِبْ فَظَنَنْتُ أَنَّهُ نَزَلَ فِيَّ شَيْءٌ بِكَلَامِي فَجِئْتُ، فَقَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّكَ سَأَلْتَنِي هَذَا السَّيْفَ وَلَيْسَ هُوَ لِي وَلَا لَكَ وَإِنَّ اللَّهَ قَدْ جَعَلَهُ لِي فَهُوَ لَكَ، ثُمَّ قَرَأَ: يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ قُلِ الْأَنْفَالُ

---

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٦٠٨١) (صحيح)

[2]: انظر حديث رقم: (٢٧٣٧)، (تحفة الأشراف: ٦٠٨١، ١٥٦٥٨) (صحيح)

[3]: صحيح مسلم/الجهاد ١٢ (١٧٤٨)، سنن الترمذي/تفسير الأنفال ٩ (٣٠٧٩)، (تحفة الأشراف: ٣٩٣٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٧٨/١، ١٨١، ١٨٥) (حسن صحيح)

لِلّٰهِ وَالرَّسُولِ سورة الأنفال آية، إِلَى آخِرِ الآيَةِ، قَالَ أَبُودَاوُد: قِرَاءَةُ ابْنِ مَسْعُودٍ يَسْأَلُونَكَ النَّفْلَ.

مصعب بن سعد دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه دبدر په ورځ دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او یوه توره مې هم راوړه، ماووئیل اې دالله رسوله الله تعالی نن ورځ زماسینې ته ددشمن نه شفا ورکړه داتوره ماته راکړه، نبی ﷺ اوفرمائیل داتوره نه زما حق دې اونه ستاء ما چه دا واوریدل نو روان شوم او په روانه مې داوئیل چه دابه نن هغه چاته ورکولې شی څوك چه به زماپه شان تجربه کارنه وي ماچه وکتل نواچانك دنبی ﷺ دطرف نه په ما پسې یوکس راغې چه زه ې غوښتلم راته ئې وئیل چه راشه ما داګمان وکړو کیدشي چه زماپه باره کښې به څه وحي نازل شوي وي، هرکله چه زه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم نو وئې فرمائیل تا زمانه توره غوښتلې وه داتوره الله تعالی اوس ماته راکړه اوزه ئې تاته درکوم او بیائې دا ایت اولوستو «یسألونك عن الأنفال قل الأنفال لله والرسول» تراخره پورې، ابوداود وائی چه قراء: درابن مسعودنه کښې «یسألونك عن النفل»،، راغلی دی.

مضمون حدیث

﴿ عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ جِئْتُ إِلَى النَّبِى -صلى الله عليه وسلم- يَوْمَ بَدْرٍ بِسَيْفٍ ﴾ سیدنا سعد بن ابی وقاص رضی اللہ عنہ فرمائی چه په جنګ بدر کښې زه رسول الله ﷺ ته د یوې تورې سره حاضر شوم او عرض مې اوکړو چه یا رسول الله ﷺ یقینا الله پاک نن زما سینه یخه کړه په دشمن باندې یعنی هغوی سره په قتال کولو باندې لهذا دا توره ماته راکړئ (د دې دپاره چه بیا ئې په جهاد کښې استعمال کړم) هغه اوفرمائیل : دا توره نه زما ده او نه ستا ده (اصل کښې دې وخته پورې د مال غنیمت په باره کښې هیڅ قسم حکم نه وو نازل شوې او د بدر غنیمت د ټولو نه اول غنیمت دې، د غنیمت د تقسیم د آیت نزول د دې نه روستو شوې وو) نو هغه وائی چه زه د رسول الله ﷺ په جواب اوریدلو سره خالی لاس روان شوم او دا سوچ مې کولو چه ﴿ يُعْطَاهُ الْيَوْمَ مَنْ لَمْ يُبْلِ بَلاَئِى ﴾ چه کیدې شی دا توره به یو داسې سړی ته ورکړې شی چاته چه زما په شان مشقت او محنت نه وی برداشت کړې، زه لا روان اوم په دې سوچ کښې چه هم په دې وخت د رسول الله ﷺ قاصد ماته راورسیدو چه د رسول الله ﷺ خواته لاړ شه، هغه غوښتلې ئې، نو ما سوچ اوکړو چه زما د دې وسوسې او خیال د وجې نه چه (نا مناسبه وه) زما په باره کښې به څه نازل شوې وی، خیر زه حاضر شوم، په حاضریدو باندې رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل چه دا توره تا زما نه غوښتلې وه، هغه وخت خو نه ستا دپاره وه او نه زما دپاره، خو اوس الله پاک زما دپاره کړه لهذا دا ته یوسه، او رسول الله ﷺ دا آیت کریمه تلاوت کړو ﴿یسئلونک عن الانفال ﴾ الایة... امام ابوداود فرمائی چه د ابن مسعود رضی اللہ عنہ قراءت ﴿یسئلونک النفل ﴾ دې. والحدیث اخرجه مسلم مطولا بنحوه، واخرجه الترمذی والنسائی، قاله المنذری.

بَابٌ فِي نَفْلِ السَّرِيَّةِ تَخْرُجُ مِنَ الْعَسْكَرِ

په لښکر کښې بعضوته د انعام په طور څه اضافی مال ورکولو بیان

دا خبره یو ځل مخکښې هم راغلې ده زمونږ په کلام کښې چه ډیر کرته داسې کیږی چه کوم

یو لوئي لښکر یوځائې ته د جهاد دپاره ځي نو په لاره کښې د هغوی نه یو مختصر جماعت د یو کلي د فتح کولو دپاره لیږلې شي، هغه جماعت د هغه کلي او علاقې د فتح کولو نه پس بیا په لښکر کښې شریک شي، نو هغه وخت قانون دا وو چه کوم غنیمت به دې سریه حاصلولو په هغه غنیمت کښې به څه حصه ثلث یا ربع اصحاب سریه ته ورکولې شو، او باقي غنیمت به د هغه لښکر طرف ته منتقل کیدلو، او بیا به په ټول لښکر باندې تقسیم کیدلو.

نو دلته دوه څیزونه شو، اول دا چه اصحاب سریه ته د نفل په طور سره ورکړې شي، او بله خبره دا چه باقي غنیمت په عسکر باندې واپس کړې شي، په دې ترجمه کښې مصنف امر اول ذکر کړې دې، او د امر ثاني ذکر د څو ابوابو نه روستو مستقل په ترجمه کښې راروان دې "باب فی السریة ترد علی اهل العسکر" اوګورئ دا هغه جزء ثاني دې، کتاب باندې داسې پوهیدلې شي او هغه داسې حل کولې شي، بغیر د محنت او مشقت نه د یو کتاب حل کول هم اسان نه دی، اوس حدیث الباب ته ګورئ.

[٢٧٤١]()حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ. ح وحَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْأَنْطَاكِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُبَشِّرٌ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ الطَّائِيُّ، أَنَّ الْحَكَمَ بْنَ نَافِعٍ حَدَّثَهُمُ الْمَعْنَى كُلُّهُمْ، عَنْ شُعَيْبِ بْنِ أَبِي حَمْزَةَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: بَعَثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَيْشٍ قِبَلَ نَجْدٍ وَانْبَعَثَتْ سَرِيَّةٌ مِنَ الْجَيْشِ، فَكَانَ سُهْمَانُ الْجَيْشِ اثْنَيْ عَشَرَ بَعِيرًا اثْنَيْ عَشَرَ بَعِيرًا، وَنَفَّلَ أَهْلَ السَّرِيَّةِ بَعِيرًا بَعِيرًا فَكَانَتْ سُهْمَانُهُمْ ثَلَاثَةَ عَشَرَ ثَلَاثَةَ عَشَرَ.

دابن عمر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبي علیه السلام مونږه په یو لښکر کښې دنجد طرف ته او لیږلو اودخپل لښکرنه ئې څه حصه ددشمن دمقابل دپاره اولیږله اوبیا ئې دلښکر کسانو ته دولس دولس اوښان ورکړل اودسرې والا ورکې لښکر ته ئې یویواوښ اضافي ورکړو نودهغوی په حصه کښې دیارلس. دیارلس اوښان شول.

شرح حدیث

عبدالله بن عمر رضی الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ مونږ په یو لوئي لښکر د نجد طرف ته، او د هغه لوئي لښکر نه ئې مختصر جماعت ویستلو سره بل طرف ته اولیږلو، په لښکر والو کښې د هر یو په حصه کښې دولس اوښان راغلل، او اهل سریه ته یو یو اوښ د نفل په طور ورکړې شو، په دې وجه په اهل سریه کښې دهر یو په حصه کښې دیارلس اوښان راغلل.

تنبیه : دا حدیث په صحیح مسلم کښې هم دې د دې په شرح کښې امام نووي رحمه الله فرمائي چه بعض شارحینو دا خیال کړې دې چه د ټولو غانمینو په حصه کښې مجموعي طور دولس اوښان راغلل او دا غلطه ده ځکه چه د ابوداود په بعض روایاتو کښې تصریح ده د دې خبرې چه د جیش دهر هر سړي په حصه کښې دولس دولس اوشان راغلل او اهل سریه ته د دولسو نه علاوه مزید یو یو اوښ په طور د نفل هم ورکړې شو. اهـ کذا فی البذل، حدیث د ترجمة الباب مطابق دې کما هو ظاهر، خو دلته بعض څیزونه بیانول پکار دی.

[١]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٦٧٩)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/فرض الخمس ١٥ (٣١٣٤)، والمغازي ٥٧ (٤٣٣٨)، صحيح مسلم/الجهاد ١٢ (١٧٤٨)، موطا امام مالك/الجهاد ٦ (١٥)، سنن الدارمي/السير ٤١ (٢٥٢٤) (صحيح)

د سريه ابو قتاده رضی الله عنه ذکر

اول دا چه د دې سريه نوم سريه ابو قتاده رضی الله عنه دې، او دا پنځلس يا شپاړس کسان وو، او دا واقعه د شعبان ۸ هجري د فتح مکه نه مخکښې ده، د سيرت په کتابونو کښې ليکلې شوې دی چه دا سريه قبيله غطفان سره د مقابلې دپاره ليږلې شوې وه، دا خلق په خضره کښې اباد وو، خضره علاقه نجد کښې ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم ابو قتاده رضی الله عنه د شپاړسو ملګرو سره اوليږلو، په مقابله کښې هغوی ته فتح اوشوه، غنيمت کښې ورته دوه سوه اوښان او دوه زره بيزې حاصلې شوې.

يو قوی اشکال او د هغې جواب

دويم دا چه په دې هم ځان پوهه کړئ چه د سيرت په کتابونو کښې دا هم ليکلې شوې دی چه دا لوئې لښکر په څلور زره کسانو باندې مشتمل وو، په دې باندې دا اشکال کړې شوې دې چه هر کله په حاصليدونکی غنيمت کښې اوښان صرف دوه سوه وو نو د پوره لښکر په حصه کښې چه څلور زره کسان وو، دولس دولس اوښان څنګه راغلل، اشکال ظاهر دې، بيا د دې اشکال دوه جوابونه ورکړې شوې دی، يو دا چه دا مقدار د غنيمت خو هغه دې کوم چه اصحاب سريه ته حاصل شوې وو د هغوی په فتح کښې او لوئې لښکر ته که کوم غنيمت حاصل شوې وی هغه د دې نه علاوه دې لهذا دواړه غنيمتونه يوځائې کولو سره د هر يو په حصه کښې دولس دولس اوښان راغلل، او بل جواب د دې اشکال دا دې چه کوم مصنف هم وړاندې ثابت کړې دې چه په دې حديث کښې د جيش ذکر وهم دې، لهذا د اشکال بنياد ختم شو، اوس وړاندې په کتاب کښې خپله راځی چه دا وهم کوم راوی ته پيدا شوې دې او څوک د دې نه محفوظ پاتې شوې دی.

[۲۷۴۲] ([1]) حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ عُتْبَةَ الدِّمَشْقِيُّ قَالَ: قَالَ الْوَلِيدُ يَعْنِي ابْنَ مُسْلِمٍ: حَدَّثْتُ ابْنَ الْمُبَارَكِ بِهَذَا الْحَدِيثِ قُلْتُ: وَكَذَا حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فَرْوَةَ، عَنْ نَافِعٍ قَالَ: لَا تَعْدِلْ مَنْ سَمَّيْتَ بِمَالِكٍ هَكَذَا أَوْ نَحْوَهُ يَعْنِي مَالِكَ بْنَ أَنَسٍ.

ابن مبارك وئيلی دی کوم روايت چه شعيب بيان کړې دې او کوم چه ابن ابی فروه بيان کړې دې دواړه د مالك بن انس دروايت درجې ته نه شی رسيدلې. دغسې يا ددې په شان خبره هغوی اوکړه، ددې نه هغوی امام مالک بن انس مراد اخستلو.

شرح الحديث:

ښه په غور سره واورئ! د اولنی حديث په سند کښې راغلې وو ﴿ حدثنا بن مسلم ﴾ د هغه نوم وليد دې او د هغې نه روستو دوه تحويلونه وو او بيا دا وو ﴿ کلهم عن شعيب بن ابی حمزة ﴾ د ﴿ کلهم ﴾ مصداق وليد بن مسلم، مبشر او حکم بن نافع دی، دا درې واړه روايت کوی د شعيب بن ابی حمزة نه او شعيب د نافع نه.

اوس په دې دويم سند کښې وليد بن مسلم وائی چه کوم حديث به ما د شعيب نه روايت کولو هغه ما ابن المبارک ته هم بيان کړو، او هغه ته ما دا اووې چه څنګه دا حديث

---

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۷۶۷۹) (صحيح)

ماته شعیب بیان کړو د نافع نه، هم دغه شان دا حدیث ماته ابن ابی فروه هم بیان کړو. ﴿عن نافع﴾ او د "هم دغه شان" مطلب دې د "ذکر جیش" سره، یعنی څنګه چه د شعیب بن ابی حمزه په روایت کښې ذکر جیش دې هم دغه شان د ابن ابی فروه په روایت کښې هم ذکر جیش دې نو په دې باندې ابن المبارک اوفرمائیل چه د کومو دوه استاذانو ته نوم اخلې یعنی شعیب او ابن ابی فروه چه د هغوی په روایت کښې ذکر جیش دې هغه برابر نه شي کیدې د مالک بن انس، یعنی مالک بن انس د دې دواړو نه ډیر اوچت دې او د هغوی دواړو په روایت کښې د جیش ذکر نشته، لهذا د ابن مبارک د کلام خلاصه دا شوه چه په دې حدیث کښې ذکر "جیش" وهم دې.

اوس چه د دې نه پس مصنف د دې روایت څومره هم طرق ذکر کړې دی چه په هغې کښې یو طریق د مالک هم دې په دې ټولو کښې ذکر "جیش" نشته، پس د محمد بن اسحاق عن نافع په روایت کښې ذکر جیش نشته او د هغې نه روستو روایت راروان دې د امام مالک او بیا د حاء تحویل نه پس د لیث چه په هغې کښې هم ذکر جیش نشتهو او بیا د هغې نه روستو روایت راروان دې د عبیدالله عن نافع په هغې کښې هم ذکر جیش نشته، لهذا تحقیقی جواب د دې اشکال کوم چه په شروع کښې ذکر کړې شوې دې هم دا دې چه په دې روایت کښې ذکر جیش نشته.

[۲۷۴۳]()حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدَةُ يَعْنِي ابْنَ سُلَيْمَانَ الْكِلَابِيَّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً إِلَى نَجْدٍ، فَخَرَجْتُ مَعَهَا فَأَصَبْنَا نَعَمًا كَثِيرًا فَنَفَّلَنَا أَمِيرُنَا بَعِيرًا بَعِيرًا لِكُلِّ إِنْسَانٍ، ثُمَّ قَدِمْنَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَسَمَ بَيْنَنَا غَنِيمَتَنَا، فَأَصَابَ كُلُّ رَجُلٍ مِنَّا اثْنَيْ عَشَرَ بَعِيرًا بَعْدَ الْخُمُسِ وَمَا حَاسَبَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالَّذِي أَعْطَانَا صَاحِبُنَا وَلَا عَابَ عَلَيْهِ بَعْدَ مَا صَنَعَ، فَكَانَ لِكُلِّ رَجُلٍ مِنَّا ثَلَاثَةَ عَشَرَ بَعِيرًا بِنَفْلِهِ.

دابن عمر رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبی علیه السلام دلښکر یو دسته دنجد طرف ته اولیږله اوزه هم په دغه دسته کښې شامل ووم مونږ په مال غنیمت کښې ډیر مال حاصل کړو او زمونږ د دستې مشر په مونږ کښې هریوکس ته یو یو زیاتی اوښ په انعام کښې راکړو ددې نه پس چه کله مونږ نبی علیه السلام ته راغلو نوهغه مال غنیمت په مونږ تقسیم کړو په مونږ کښې هریوکس ته دولس دولس اوښان اورسیدل د خمس نه علاوه او زمونږ مشر چه مونږ ته یو یو اوښ راکړې وو نبی علیه السلام هغه په حساب کښې شامل نکړو اونه ئې زمونږ د مشر داعمل بد اوګڼړلو نو په دې شان سره په مونږ کښې دهریوکس په شمول دانعام دیارلس دیارلس اوښان اورسیدل...

[۲۷۴۴]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ. ح وحَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، وَيَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ مَوْهَبٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا اللَّيْثُ الْمَعْنَى، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٤١٥) (صحيح)

[2]): صحيح البخاري/ الخمس ١٥ (٣١٣٤)، صحيح مسلم/ الجهاد ١٢ (١٧٤٩)، (تحفة الأشراف: ٨٢٩٣، ٨٣٥٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦٢/٢، ١١٢، ١٥٦)، موطا امام مالك/ الجهاد ٦ (١٥)، دي السير ٤ (٢٥٢٤) (صحيح)

سَرِيَّةٍ فِيهَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ قِبَلَ نَجْدٍ، فَغَنِمُوا إِبِلًا كَثِيرَةً فَكَانَتْ سُهْمَانُهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ بَعِيرًا وَنُفِّلُوا بَعِيرًا بَعِيرًا، زَادَ ابْنُ مَوْهَبٍ: فَلَمْ يُغَيِّرْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دي فرمائی چه نبی عليه السلام دفوج يوه دسته دنجد طرف ته اوليږله او په هغوی کښې زه هم وم او ډير اوښان مو په غنيمت کښې حاصل کړل او په مجاهدينو کښې دهريو کس په حصه کښې دولس دولس اوښان اورسيدل او يو يو اوښ ئې ورته په انعام کښې ورکړو دابن مهب په روايت کښې دا اضافه ده چه داتقسيم نبی عليه السلام بدل نکړو.

[۲۷٤٥] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَالَ: حَدَّثَنِي نَافِعٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: بَعَثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَرِيَّةٍ فَبَلَغَتْ سُهْمَانُنَا اثْنَيْ عَشَرَ بَعِيرًا، وَنَفَّلَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعِيرًا بَعِيرًا، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ بُرْدُ بْنُ سِنَانٍ، عَنْ نَافِعٍ مِثْلَ حَدِيثِ عُبَيْدِ اللَّهِ، وَرَوَاهُ أَيُّوبُ، عَنْ نَافِعٍ مِثْلَهُ إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: وَنُفِّلْنَا بَعِيرًا بَعِيرًا، لَمْ يَذْكُرِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دي فرمائی چه نبی عليه السلام مونږ دفوج په يوه دسته کښې دجهاد دپاره اوليږلو او په مجاهدينو کښې دهريو کس په حصه کښې دولس دولس اوښان راغلل اونبی عليه السلام مونږ ته يو يو اوښ په انعام کښې راکړو، ابوداود وائی داحديث برد بن سنان دنافع نه دعبيدالله په شان نقل کړې دې او ايوب هم دنافع نه همداسې نقل کړې دې ليکن په روايت کښې داسې دي چه مونږ ته يويو اوښ مزيد ملاو شو او په دې روايت کښې دنبی عليه السلام ذکرنشته.

[۲۷٤٦] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ شُعَيْبِ بْنِ اللَّيْثِ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّي. ح وحَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ أَبِي يَعْقُوبَ، قَالَ: حَدَّثَنِي حُجَيْنٌ، قَالَ: حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عُقَيْلٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ كَانَ يُنَفِّلُ بَعْضَ مَنْ يَبْعَثُ مِنَ السَّرَايَا لِأَنْفُسِهِمْ خَاصَّةً النَّفْلَ سِوَى قَسْمِ عَامَّةِ الْجَيْشِ، وَالْخُمُسُ فِي ذَلِكَ وَاجِبٌ كُلُّهُ.

دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دي فرمائی چه نبي عليه السلام به دفوج دستوته زياته حصه ورکوله اودابه صرف هغوی ته ورکولې شوه نه چه ټول لښکر ته خوالبته پنځمه حصه به ترې ويستل شوه.

[۲۷٤٧] (²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنَا حُيَيٌّ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمَ بَدْرٍ فِي ثَلَاثِ مِائَةٍ وَخَمْسَةَ عَشَرَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اللَّهُمَّ إِنَّهُمْ حُفَاةٌ فَاحْمِلْهُمْ، اللَّهُمَّ إِنَّهُمْ عُرَاةٌ فَاكْسُهُمْ، اللَّهُمَّ إِنَّهُمْ جِيَاعٌ فَأَشْبِعْهُمْ"، فَفَتَحَ اللَّهُ لَهُ يَوْمَ بَدْرٍ، فَانْقَلَبُوا حِينَ انْقَلَبُوا، وَمَا مِنْهُمْ رَجُلٌ إِلَّا وَقَدْ رَجَعَ بِجَمَلٍ أَوْ جَمَلَيْنِ وَاكْتَسَوْا وَشَبِعُوا.

دعبدالله بن عمر نه روايت دي فرمائی چه نبی عليه السلام دغزوه بدر په ورځ باندې ددرې سوه پنځلس کسانوسره راووتو اودادعائې اوغوښتله: «اللَّهُمَّ إنهم حفاة فاحملهم اللَّهُمَّ إنهم عراة فاكسهم اللَّهُمَّ إنهم جياع فأشبعهم» اې الله دا خلق پياده دي دوی ته سورلۍ ورکړې داخلق

¹): صحيح البخاري/فرض الخمس ۱۵ (۳۱۳۵)، صحيح مسلم/الجهاد ۱۲ (۱۷۵۰)، (تحفة الأشراف: ٦٨٨٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱٤۰/۲) (صحيح)

²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۸۵۹) (حسن)

برېند دي دوی ته لباس ورکړی اې الله داخلق وږي دي دوی ماړه کړې، بیاالله تعالی مسلمانانوته دغزوه بدریه وو باندې کامیابي نصیب کړه اودرې واپس راغلل اوپه دوی کښې هیڅ څوک داسې نه وو چه یو یا دوه اوښان ئې نه وی راوستل او ددوی سره کپړې هم وې اودوی ماړه شوي هم وو.

د اصحاب بدر تعداد

﴿ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- خَرَجَ يَوْمَ بَدْرٍ فِي ثَلاَثِمِائَةٍ وَخَمْسَةَ عَشَرَ ﴾

د حدیث مضمون خو واضح دې چه رسول اللهﷺ د جنګ بدر دپاره صرف د درې سوه او پنځلس کسانو سره وتلې وو [۱] او هغه وخت ئې د الله پاک نه دا دعاګانې اوکړې چه اې الله! دا ټول خلق کوم چه ما سره روان دی خپې ابله دی یعنی پیاده دی بغیر د سورلئ نه دی، پس ته هغوی ته سورلی ورکړه، او..... اې الله! دا ټول برېند دی یعنی په پوره بدن ئې کپړې نشته نو ته ورته جامې ورکړه، اې الله! دا اوږې دی نو ته دوی ماړه کړه (د نبی د دعا قبلیدل خو یو یقینی امر دې) پس وړاندې راوی وائی چه الله پاک د خپل رسول دپاره په دې جنګ کښې فتح ورکړه، پس کله چه دوی واپس کیدل نو داسې واپس کیدل چه چا سره یو اوښ وو د سورلئ او چا سره دوه اوښان وو ،او هم دغه شان لباس او خوراک وغیره هر څه، په دې روایت کښې د بدریانو صحابه کرامو تعداد خو موجود دې چه د هغوی په تعداد کښې اختلاف دې کوم چه په حاشیه کښې لیکلې شوې دې او د مشرکانو تعداد زر وو او وئیلې شوې دی چه اووه سوه او پنځوس وو چه د هغوی سره اووه سوه اوښان وو او سل اسونه. (بذل)

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت

دلته سوال دا دې چه د دې حدیث د ترجمة الباب سره څه مطابقت دې او د کوم یو لښکر نه دا سریه راویستلې شوې وه، جواب دا دې چه د دې توجیه دا کیدې شی چه بدر خو مدینې ته نزدې دې زیات لرې نه دې چرته چه دا جنګ شوې وو نو په دې ځان پوهه کړئ چه مدینه منوره چرته چه ډیر صحابه کرام موجود وو هغه معسکر شو او دا درې سوه پنځلس بدریان صحابه په منزله د سریه شو، خو په دې مطابقت کښې یو کمې پاتې شو چه د ترجمة الباب نه خو دا فهمیږی چه اصحاب سریه چه کوم غنیمتونه حاصل کړی د هغې بعض حصه د نفل په طور هغوی ته ورکړې شی او باقی دې په عسکر باندې تقسیم کړې شی، دلته دا دویم څیز بیا نه موندلې شو، د دې جواب دا کیدې شی چه د بدر غنیمتونه د عام غنیمتونو د حکم نه خارج دی لکه چه د دې نه مخکښې هم تیر شوې دی.

---

[۱] د اهل بدر په تعداد کښې روایات مختلف دی، د مسلم په یو روایت کښې درې سوه او نولس دی، او په مسند بزار کښې درې سوه او اولس او مسند احمد او بزار او طبرانی په یو حدیث کښې درې سوه او دیارلس دی، حافظ فرمائی وهو المشهور عند اهل المغازي (بذل)

باب فِيمَنْ قَالَ الْخُمُسُ قَبْلَ النَّفْلِ

دهغه چا د قول بیان چه خمس به د تقسیم نه مخکښې ویستلي شي

په محل تنفیل کښې د ائمه کرامو مذاهب

په دې ترجمه کښې چه کومه مسئله ذکر شوې ده هغه محل تنفیل دې، یعنی امام یو غازی ته په طور د نفل د حصې نه زیاتی څه ورکړی هغه به د کوم یو مال نه ورکولې شي؟ صورت حال دا دې چه اولا به ټول مال غنیمت جمع کولې شي او د هغې نه یو خمس جدا کولې شي او اربعه اخماس جدا کولې شي، دا چه کوم اربعة اخماس دې دا په غانمین کښې تقسیمیږی، او چه کوم خمس غنیمت دې د هغې په باره کښې د قرآن کریم هدایت دا دې چه هغه پنځه ځایه تقسیم کړې شي: ﴿ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ ﴾ چه هر کله خمس پنځه ځایه تقسیم کړې شي نو د هر یو په حصه کښې به د دې یوې حصې نه..... د دې پنځو نه خمس الخمس راځی، اوس پوهه شئ چه دا نفل به د دې مالونو نه په کوم مال کښې ورکولې شي. د امام احمد مذهب دا دې چه اربعة اخماس دې او د امام مالک په نزد په خمس سره، او د امام شافعی په نزد په خمس الخمس سره، یعنی د امام چه کومه خپله حصه ده د هغې نه، او د احنافو مذهب دا دې چه که د امام د طرف نه تنفیل قبل الاحراز وی نو بیا خو په اربعة اخماس سره، او که بعد الاحراز دې نو بیا د خمس نه. (من الاوجز)

د دې ټول تفصیل پیژندلو نه پس اوس د ترجمة الباب په الفاظو کښې غور اوکړئ چه په دې ترجمه کښې د چا مسلک ذکر شوې دې په ظاهره د ترجمې نه دا هم فهمیږی چه په مال غنیمت کښې د خمس د راویستلو نه پس به نفل ورکولې شي، خمس دې اول راویستلې شي، لهذا په ظاهره کښې مطلب دا شو چه د اربعة اخماس نه به ورکولې شي کوم چه د امام احمد مذهب دې او مصنف هم حنبلی المسلک دې، علی ما هو المشهور، د دې نه روستو حدیث الباب اوګورئ:

[۲۷۴۸](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ الشَّامِيِّ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ زِيَادِ بْنِ جَارِيَةَ التَّمِيمِيِّ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ مَسْلَمَةَ الْفِهْرِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُنَفِّلُ الثُّلُثَ، بَعْدَ الْخُمُسِ".

دحبیب بن مسلمة الفهري نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ به دخمس اخستلونه پس دغنیمت دمال دریمه حصه مجاهدینوته په انعام کښې ورکوله

[۲۷۴۹](٢) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ الْجُشَمِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنِ ابْنِ جَارِيَةَ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ مَسْلَمَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ يُنَفِّلُ الرُّبُعَ، بَعْدَ الْخُمُسِ، وَالثُّلُثَ بَعْدَ الْخُمُسِ إِذَا قَفَلَ".

دحبیب بن مسلمة الفهري نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ به دخمس اخستلونه پس

[1]: سنن ابن ماجه/الجهاد ۳۵ (۲۸۵۱)، (تحفة الأشراف: ۳۲۹۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۵۹/٤، ۱۶۰)، سنن الدارمي/السير ٤۳ (۲۵۲٦) (صحيح)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۳۲۹۳) (صحيح)

دغنیمت دمال څلورمه حصه او دریمه حصه، کله چه به واپس کیدل مجاهدینوته په انعام کښې ورکوله.

شرح حدیث

د دې مضمون دا دې چه د غزوه په شروع کښې اصحاب سریه ته رسول اللهﷺ د نفل په طور د مال غنیمت ربع ورکولو د خمس د راویستلو نه پس، او د غزوه ه په واپسئ باندې به ئې د غنیمت ثلث ورکولو هم دغه شان یعنی بعد الخمس خلاصه دا شوه چه د تلو په وخت به ئې ربع ورکولو او په واپسئ کښې ثلث، د دې وضاحت دا دې چه په جیش کښې به کومه سریه جوړولو سره په لاره باندې لیږله نو دا د سریه لیږل که به د تلو په وخت وی او هغه سریه به مال غنیمت حاصل کړو نو بیا خو به په هغه غنیمت کښې هغه سریه ته د هغې ربع ورکولې شو، او که د غزوه نه په واپسئ باندې دا سریه لیږلې شوې نو په دې صورت کښې به هغه ته د غنیمت نه ثلث ورکولې شو، د نفل مقدار کښې د دې کمی زیاتی مقصد دا دې چه د تلو په په وخت خو به ټول لښکر تازه وی په دې کښې مشقت کم دې ځکه چه په دې صورت کښې ربع ورکولې شی، او په واپسئ کښې چونکه ټول ستړی شوی وو نو په دې کښې محنت مشقت زیات وی چه هر سړې کور ته د رسیدو په فکر کښې وی په دې وجه په دې صورت کښې د ربع په ځائې ثلث ورکولې شی. والحدیث رواه ابن ماجة، قاله المنذری.

[۲۷۵۰] (¹)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ أَحْمَدَ بْنِ بَشِيرِ بْنِ ذَكْوَانَ، وَمَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ الدِّمَشْقِيَّانِ المعنى، قَالَا: حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمْزَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا وَهْبٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ مَكْحُولًا، يَقُولُ: كُنْتُ عَبْدًا بِمِصْرَ لِامْرَأَةٍ مِنْ بَنِي هُذَيْلٍ، فَأَعْتَقَتْنِي فَمَا خَرَجْتُ مِنْ مِصْرَ وَبِهَا عِلْمٌ إِلَّا حَوَيْتُ عَلَيْهِ فِيمَا أَرَى، ثُمَّ أَتَيْتُ الْحِجَازَ فَمَا خَرَجْتُ مِنْهَا وَبِهَا عِلْمٌ إِلَّا حَوَيْتُ عَلَيْهِ فِيمَا أَرَى، ثُمَّ أَتَيْتُ الْعِرَاقَ فَمَا خَرَجْتُ مِنْهَا وَبِهَا عِلْمٌ إِلَّا حَوَيْتُ عَلَيْهِ فِيمَا أَرَى، ثُمَّ أَتَيْتُ الشَّامَ فَغَرْبَلْتُهَا كُلَّ ذَلِكَ أَسْأَلُ عَنِ النَّفَلِ، فَلَمْ أَجِدْ أَحَدًا يُخْبِرُنِي فِيهِ بِشَيْءٍ حَتَّى أَتَيْتُ شَيْخًا يُقَالُ لَهُ زِيَادُ بْنُ جَارِيَةَ التَّمِيمِيُّ، فَقُلْتُ لَهُ: هَلْ سَمِعْتَ فِي النَّفَلِ شَيْئًا؟ قَالَ: نَعَمْ، سَمِعْتُ حَبِيبَ بْنَ مَسْلَمَةَ الْفِهْرِيَّ يَقُولُ: شَهِدْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَفَّلَ الرُّبُعَ فِي الْبَدْأَةِ، وَالثُّلُثَ فِي الرَّجْعَةِ".

بووهب وئیلی دی چه دمکحول نه مې اوریدلی دی چه هغه وئیل زه په مصر کښې دبنی هذیل قبیلې د یوې ښځې غلام وم نوهغې زه ازاد کړم اوزه ترهغې د مصرنه ونه وتلم ترڅوچه مې دهغه ځائې علمونه نه ووحاصل کړي اوبیازه عراق ته راغلم اودعراق نه ترهغې پورې نه تلم ترڅوچه زمادعلم مطابق هلته څومره علم وو هغه مانه وو حاصل کړي بیازه شام ته راغلم اوټول شام مې اولټولو اودهرکس نه به مې دنفل متعلق تپوس کولو، داسې مې هیڅ څوك پیدانکړل چه دنفل متعلق راته یوحدیث بیان کړي بهرحال یوکس مې پیداکړوچه نوم ئې زیاد بن جاریه تمیمي وو ماورته ووئیل ایاتادنفل په باره کښې څه اوریدلی دی؟هغه ووئیل مادحبیب بن مسلمه الفهري نه اوریدلی دی زه دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شوم دغنیمت دمال څلورمه حصه ئې دجهاد په ابتداء کښې او اودریمه حصه ئې په رخصتید وکښې مجاهدینو ته ور کړه.

¹): انظر حدیث رقم: (۲۷۴۸)، (تحفة الأشراف: ۳۲۹۳) (صحیح)

د مکحول شامی د تحصیل علم عجیب حال

مکحول شامی کوم چه ډیر مشهور فقیه او محدث دې، په سندونو کښې هم په کثرت سره د هغوی نوم راځی، هغه خپل څه حال بیانولو چه په شروع کښ، زه د قبیله بنو هذیل د یوې زنانه په مصر کښې غلام اوم هغې زه ازاد کړم (د الله پاک په مهربانئ او کرم سره او کیدې شی چه د تحصیل علم په انتظار کښې وو لکه چه وړاندې فرمائی، چه د هغې نه معلومیږی چه دې د ازادیدو سره په تحصیل علم کښې اخته شو) فرمائی چه زه د مصر نه نه یم وتلې مګر په داسې حال کښې چه په هغې کښې څه علم وو د علماء کرامو سره مګر دا چه زه په هغې باندې حاوی شوم، یعنی د هغه ځائې د ټولو علماء کرامو نه مې علم حاصل کړو، د خپلو معلوماتو په اعتبار سره، بیا حجاز ته داخل شوم او هم دغه شان مې هلته هم اوکړل په خپل خیال او په خپل علم کښ، بیا عراق ته راغلم او هلته مې هم داسې اوکړل، بیا د هغې نه روستو ملک شام ته راغلم (هلته خو ما په خپل تحصیل کښې هیڅ کسر پرینخودولو) پس په دې کښې ما چاڼ اوکړو ﴿ غربلتها ﴾ د غربال نه اخستلې شوې دې یعنی چاڼ، د دې نه روستو وائی ﴿ کل ذلک اسال عن النفل ﴾ د هر یو عالم نه به مې دا سوال کولو ﴿ که وړوکې وو که لوئې وو) د نفل په باره کښ، په ظاهره کښې به ئې د نفل په باره کښې دا تپوس کولو چه دا چه په بعض روایاتو کښې په نفل کښې ثلث ورکول راځی او په بعض کښې ربع ورکول راځی د دې اختلاف څه تشریح ده؟ یا کیدې شی چه د مطلق نفل په باره کښې سوال دا کوی چه په بعض روایاتو په نفل کښې ثلث ورکول راځی او په بعض کښې ربع ورکول راځی ددې اختلاف څه تشریح ده، یا کیدې شی چه د مطلق نفل په باره کښې سوال کول مراد وی چه رسول اللهﷺ به سریه ته په نفل کښې څومره مقدار ورکولو. والله تعالی اعلم بمراده

وړاندې هغه فرمائی چه یو سړی هم زما د سوال پوره جواب رانکړو تردې چه زه د یو مشر سړی سره ملاؤ شوم چه د هغه نوم زیاد بن جاریه نو ما د هغه نه هم دا تپوس اوکړو چه تا د نفل په باره کښې څه حدیث اوریدلې دې؟ نو هغه اوفرمائیل: ﴿ نَعَمْ سَمِعْتُ حَبِيبَ بْنَ مَسْلَمَةَ الْفِهْرِي يَقُولُ شَهِدْتُ النَّبِی –صلی الله علیه وسلم– نَفَّلَ الرُّبُعَ فِي الْبَدْأَةِ وَالثُّلُثَ فِي الرَّجْعَةِ ﴾ دلته راتلو سره د امام مکحولؒ مراد پوره شو چه هغه شیخ د نفل په باره کښې د رسول اللهﷺ د عمل تفصیل بیان کړو، تفصیل هم هغه دې کوم چه مونږ د باب په شروع کښې بیان کړې دې. والحدیث اخرجه ابن ماجة بمعناه، قاله المنذری.

بَابٌ فِي السَّرِيَّةِ تَرُدُّ عَلَى أَهْلِ الْعَسْكَرِ

باب: د هغه فوجی دستې (ډلې) بیان چه هغه واپس راشی او لښکر کښې ملاؤ شی

[۲۷۵۱](۱) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ هُوَ مُحَمَّدٌ بِبَعْضِ هَذَا. ح وحَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، حَدَّثَنِي هُشَيْمٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ جَمِيعًا، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ،

(۱): تفرد به أبو داود، وأعاد بعض المؤلف في الديات (۴۵۳۱)، (تحفة الأشراف: ۸۷۸۶، ۸۸۱۵)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الديات ۳۱ (۲۶۸۵) (حسن صحيح)

عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْمُسْلِمُونَ تَتَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ، يَسْعَى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ وَيُجِيرُ عَلَيْهِمْ أَقْصَاهُمْ، وَهُمْ يَدٌ عَلَى مَنْ سِوَاهُمْ، يَرُدُّ مُشِدُّهُمْ عَلَى مُضْعِفِهِمْ وَمُتَسَرِّعُهُمْ عَلَى قَاعِدِهِمْ، لَا يُقْتَلُ مُؤْمِنٌ بِكَافِرٍ وَلَا ذُو عَهْدٍ فِي عَهْدِهِ"، وَلَمْ يَذْكُرِ ابْنُ إِسْحَاقَ الْقَوَدَ وَالتَّكَافُؤَ.

عمرو بن شعیب دخپل پلارنه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی دمسلمانانوویني دسزا متعلق یوبرابردي معمولي مسلمان هم امن ورکولي شی اودهغه دپاره دامن معاهده پوره کول لازمي دي همدارنګي لرې اوسیدونکی مسلمان هم اَمن ورکولې شی اګرکه دده نه قریب موجود وي او ددې دمخالفینو په مقابل کښې مسلمانان ټول یوشې دي اودچاسورلی چه قوی اوتیزرفتاري وي هغه دي یوځائې اوسي دهغو سره دچاچه سورلی کمزوری وي اوکله چه دلښکر یوه دسته دمال ګټلودپاره اوویستلی شي نوباقی خلق دي هم په هغې کښې شریک کړي، اونه به شی وژلې مسلمان دکافر په بدله کښې اونه زي دچانه چه لوظ اخستلې شوې وي یعنی هغه کافر دکوم نه چه جزئیه نه اخستل کیږی یاهغه کافر کوم ته چه امان ورکړې شوې وي په دارالاسلام کښې اوابن اسحاق په خپل روایت کښې قود اوتکافی لفظونه نه دی ذکرکړی.

شرح حدیث

په حدیث کښې شپږ اجزاء ذکر شو، د هر یو جزء په مطلب باندې ځان پوهه کړئ. ۱: د ټولو مسلمانانو وینه برابر ده، شریف او وضیع، د پورته قوم او ښکته قوم هیڅ فرق نشته، د نفس بدله نفس ده که هر څوک وی. ۲: د مسلمانانو د طرف نه په پناه او امن ورکولو کښې د ادنی درجې مسلمان هم کوشش کولې شی، یعنی که د ادنی درجې مسلمان هم یو کافر ته پناه ورکړی نو بیا به دا امن هر یو مسلمان تسلیموی، که ادنی د عدد په اعتبار سره وی لکه صرف یو سړې، یا د مرتبې په لحاظ سره لکه زنانه او غلام، پس د ائمه اربعه په نزد د عبد امان معتبر دې، خو د احنافو په نزد په دې شرط چه هغه ماذون فی القتال وی، یعنی د شیخین په نزد، د امام محمد په نزد دا شرط نشته، د هغه په نزد د عبد محجور عن القتال امان هم معتبر دې هم دغه شان د د زنانه امان هم د ائمه اربعه په نزد معتبر دې، په دې کښې د سحنون مالکی او ابن ماجشون اختلاف دې، عندهما یتوقف امان المراءة علی اذن الامام. خو د صبی امان د جمهورو په نزد جائز نه دې البته د امام مالک په نزد جائز دې. ۳: په مسلمانانو باندې امان ورکولې شی د کمې درجې والا سړې هم، په بذل کښې لیکلې دی چه په ظاهره کښې دا جمله د جمله اولی تاکید دې، د دې نه علاوه د دې جملې بل څه مطلب زما ذهن ته رانغلو. انتهی کلامه. زه وایم: په بعض حواشی کښې ئې د دې دویم مطلب دا لیکلې دې چه د ﴿ اقصاهم ﴾ نه مراد ﴿ ابعدهم دارا ﴾ یعنی کوم مسلمان چه د دار الحرب نه ډیر لرې اوسیږی هغه هم که یو کافر حربی ته امان ورکړی نو هغه امان به ټول منی یعنی کوم چه ﴿ اقر بهم دارا ﴾ دې هغه به ئې هم منی. ۴: مسلمانان د یو بل معاون دی هر یو لره د بل په حق امر کښې معاونت کول پکار دی او په دې اعانت کښې امان ورکول هم داخل دی، لهذا د دې رعایت هم کول پکار دی چه د هغې حکم په دریم نمبر کښې تیر شوې دې. ۵: په دوی

کښې دي قوي په ضعیف باندې غنیمت راواپس کړي، قوي او ضعیف کیدل که د خپل ذات په اعتبار سره وي چه یو بوډا او یو ځوان دې، یا د سورلئ په اعتبار سره وي چه یوه سورلئ ډیره قوي او بله ضعیفه او کمزورې ده، د غنیمت په استحقاق کښې به ټول برابر وي. ۶: په سریه کښې تلونکې به حاصلیدونکې غنیمت هغه لښکر ته واپس کوي کوم چه په دار الحرب کښې ناست دې، هم په دې جمله کښې د ترجمة الباب مطابقت دې، په داسې موقع باندې بین السطور لیکلې شي "فیه الترجمة" دا خو اصل مسئله ده د دې د مزید تشریح ضرورت نشته، اول ذکر شوه.

مسلمان به د ذمی په بدل کښې قصاصا قتل کولې شي یا نه په دې کښې مذاهب ائمه

قوله: ﴿ لاَ يُقْتَلُ مُؤْمِنٌ بِكَافِرٍ وَلاَ ذُو عَهْدٍ فِي عَهْدِهِ ﴾ د دې جملې نه مخکښې اختلافی مسئله واورئ، دا د قصاص مسئله ده، په دې باندې د ټولو اتفاق دې چه د کافر حربی په بدله کښې به مومن نه شی قتل کولې هم دغه شان په دې باندې هم اتفاق دې چه د کافر حربی په مقابله کښې به ذمی نه شی قتل کولې، او په دې باندې هم اتفاق دې چه د ذمی په بدله کښې به ذمی قتل کولې شي خو اختلاف په دې کښې دې چه د کافر ذمی په بدل کښې به مسلمان هم قتل کولې شی یا نه؟ نو د جمهورو په نزد به نه شی قتل کولې او د احنافو په نزد به د ذمی په بدله کښې مسلمان قتل کولې شی، د احنافو په نزد د قصاص په مسئله کښې مسلمان او ذمی دواړه برابر دی.

دا حدیث د احنافو دلیل دې او څنګه؟

د دې نه پس اوس په دې ځان پوهه کړئ د دې حدیث شرح، جمهور وائی چه په دې حدیث کښې د کافر نه مراد مطلق دې که حربی وی یا ذمی وی، که یو مسلمان یو ذمی لره قتل کړی نو د جمهورو په نزد به د هغه مسلمان نه قصاص نه شی اخستلې، په دې مسئله کښې د جمهورو په نزد ټول کافر برابر دی که هغه حربی او که ذمی وی، په ظاهره کښې د جمهورو خبره صحیح معلومیږی ځکه چه په حدیث کښې ﴿ بکافر ﴾ مطلق ذکر شوې دې، احنافو چه د دې کوم جواب کړې دې هغه په غور سره واورئ. هغوی داسې وائی چه په حدیث کښې د ﴿ بکافر ﴾ نه مراد حربی کافر دې نه مطلق کافر، چه د هغې دلیل او قرینه دا ده چه وړاندې په دې حدیث کښې راځی "ولا ذو عهد فی عهده" د دې ﴿ ذو عهد ﴾ عطف په مومن باندې دې، د عبارت تقدیر په داسې وی "لا یقتل مومن بکافر، ولا ذو عهد فی عهده بکافر ﴾ اوس اوګورئ چه د کافر لفظ دوه ځایه راغلې دې په معطوف کښې او په معطوف علیه کښې، په معطوف کښې د کافر نه بالاتفاق کافر حربی مراد دې ځکه چه که مطلق کافر حربی مراد کړې شی نو د دې مطلب به دا وی چه ذمی به نه د کافر حربی په مقابله کښې قتل کولې شی نه خپله د ذمی په مقابله کښې، حال دا چه ذمی د ذمی په مقابله کښې بالاتفاق قتل کولې شی، نو هر کله چه دا ثابته شوه چه په معطوف کښې د کافر نه مراد حربی دې نو هم دغه شان به په معطوف علیه کښې هم د کافر نه مراد کافر حربی وی. ځکه چه نحوی

قاعده مشهوره ده چه معطوف، د معطوف عليه په حکم کښې وی : ﴿ فثبت ما ادعيناه ان المراد في الحديث بالكافر، الكافر الحربي، لا مطلق الكافر فتدبر وتشكر ﴾ اوس دا خبره چه جمهور به زمونږ د دې تقرير څه جواب کوی، په ظاهره کښې هغوی د دې جواب کوی چه دا دويمه جمله په ﴿ ولا ذو عهد في عهده ﴾ ماقبل باندې عطف نه ده بلکه دا استيناف دې او مستقل جمله ده چه د هغې مطلب دا دې چه کوم ذمی په خپل عهد باندې قائم وی هغه دې قتل نه کړې شي، بس خبره ختمه شوه. والحديث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذري.

[۲۷۵۲] (¹) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ الْقَاسِمِ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ، حَدَّثَنِي إِيَاسُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: أَغَارَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَلَى إِبِلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَتَلَ رَاعِيَهَا فَخَرَجَ يَطْرُدُهَا هُوَ وَأُنَاسٌ مَعَهُ فِي خَيْلٍ، فَجَعَلْتُ وَجْهِي قِبَلَ الْمَدِينَةِ، ثُمَّ نَادَيْتُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ: يَا صَبَاحَاهُ، ثُمَّ اتَّبَعْتُ الْقَوْمَ فَجَعَلْتُ أَرْمِي وَأَعْقِرُهُمْ فَإِذَا رَجَعَ إِلَيَّ فَارِسٌ، جَلَسْتُ فِي أَصْلِ شَجَرَةٍ حَتَّى مَا خَلَقَ اللَّهُ شَيْئًا مِنْ ظَهْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا جَعَلْتُهُ وَرَاءَ ظَهْرِي، وَحَتَّى أَلْقَوْا أَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثِينَ رُمْحًا وَثَلَاثِينَ بُرْدَةً يَسْتَخِفُّونَ مِنْهَا، ثُمَّ أَتَاهُمْ عُيَيْنَةُ مَدَدًا فَقَالَ: لِيَقُمْ إِلَيْهِ نَفَرٌ مِنْكُمْ، فَقَامَ إِلَيَّ أَرْبَعَةٌ مِنْهُمْ فَصَعِدُوا الْجَبَلَ فَلَمَّا أَسْمَعْتُهُمْ قُلْتُ: أَتَعْرِفُونِي قَالُوا: وَمَنْ أَنْتَ قُلْتُ: أَنَا ابْنُ الْأَكْوَعِ وَالَّذِي كَرَّمَ وَجْهَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَا يَطْلُبُنِي رَجُلٌ مِنْكُمْ فَيُدْرِكُنِي وَلَا أَطْلُبُهُ فَيَفُوتُنِي فَمَا بَرِحْتُ حَتَّى نَظَرْتُ إِلَى فَوَارِسِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَلَّلُونَ الشَّجَرَ أَوَّلُهُمُ الْأَخْرَمُ الْأَسَدِيُّ، فَيَلْحَقُ بِعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عُيَيْنَةَ، وَيَعْطِفُ عَلَيْهِ عَبْدُ الرَّحْمَنِ فَاخْتَلَفَا طَعْنَتَيْنِ فَعَقَرَ الْأَخْرَمُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ، وَطَعَنَهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ فَقَتَلَهُ فَتَحَوَّلَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ عَلَى فَرَسِ الْأَخْرَمِ، فَيَلْحَقُ أَبُو قَتَادَةَ بِعَبْدِ الرَّحْمَنِ فَاخْتَلَفَا طَعْنَتَيْنِ فَعَقَرَ بِأَبِي قَتَادَةَ وَقَتَلَهُ أَبُو قَتَادَةَ فَتَحَوَّلَ أَبُو قَتَادَةَ عَلَى فَرَسِ الْأَخْرَمِ، ثُمَّ جِئْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمَاءِ الَّذِي جَلَّيْتُهُمْ عَنْهُ ذُو قَرَدٍ فَإِذَا نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي خَمْسِ مِائَةٍ فَأَعْطَانِي سَهْمَ الْفَارِسِ وَالرَّاجِلِ.

اياس بن سلمه دخپل پلار سلمه بن اکوع نه روايت کوی فرمائی چه چه عبدالرحمن بن عيينه فزاري دنبی عليه السلام په اوښانوباندې حمله اوکړه او لوټ ئې کړل اوده هغه شپونکې ئې قتل کړواوشروع شو چه شړل ئې ده پخپله هم اووده نورو ملګروهم کوم چه په اسونوسواره وو نوماخپل مخ مديني طرف ته مخامخ کړو اوبيا ئې درې آوازونه اوکړل چه ياصباحاه (داهغه کلمه ده کومه چه دفرياد په وخت کښې وئيلې شي) او زه په دوی پسې ور پسې شوم او په غشومې ويشتل او ور پسې روان ووم او زخمې کول به مې کله چه به کومې سورلئ والا په ماپسې راوګر جيدو نوزه به د يوې ونې شاته پټ شوم تردې پورې چه د نبی عليه السلام څومره اوښان وو هغه مادځان نه شاته کړې يعنی ټول مې ترې د تختولونه ازاد کړل تردې چه ديرش نيزې اوديرش څادرونه ئې اوغورزول ددې دپاره چه سپک شو او په تيخته کښې اسانې پيداشي په دې وخت کښې دعبدالرحمن پلار عيينه دچانه مدد واغستو اوراورسيدو اووئې وئيل په تاسوکښې يوڅوکسان خوپه دغه سړی پسې ورشئ يعنی سلمه بن اکوع اوقتل ئې کړئ، سلمه وائي په دوی کښې څلور کسان په ما پسې راغلل اوغرته راوختل کله چه دومره نزدې شول چه زما آواز ئې اوريدو ماورته اووئيل آيا تاسو

(¹) تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٥٢٧)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الجهاد ٤٥ (١٨٠٦)، مسند احمد (٤٨/٤) (حسن صحيح)

ماپیژنئ؟ هغوی اووئیل ته څوك يې؟ ما اووئیل داکوع څوی یم زمادي قسم وي په هغه ذات باندې چاچه محمدته عزت ورکړې دې په تاسوکښې یوکس مانه شي نیولې اونه په تاسوکښې یوکس زمانه بچ کیدې شي او په مخه به مې دنبی ﷺ اس سوارانوته کتل نوپه دې وخت کښې مادنبی ﷺ اسواران اولیدل چه په ونوکښې را روان وو او په ټولوکښې مخکښې اخرم اسدي وو هغه دډاکوانو دمشر عبدالرحمن سره ملاو شو عبدالرحمن چه دې اولیدو نود دواړ ترمینځه وارونه اوشول اخرم دعبدالرحمن اس قتل کړو اوعبدالرحمن اخرم قتل کړو بیا عبدالرحمن داخرم په اس باندې سور شو بیا ابوقتاده دعبدالرحمن سره مقابله شروع کړه او وارونه شروع شول دابوقتاده أس قتل کړې شو او ابوقتاده عبدالرحمن قتل کړو بیابوقتاده داخرم په اس باندې سور شو او وئې زغلوو اونبی ﷺ دپنځه سوه کسانو سره ناست وو نبی ﷺ ماته دیوسور اودیوه پیاده حصه راکړه.

د غزوة الغابة قصه

دا قصه په غزوة الغابة او غزوه ذی قرد سره مشهوره ده، غابیه د یو ځائې نوم دې د احد د طرف نه د مدینې نه یو برید یعنی یو منزل په فاصله باندې، دا په کوم کال باندې پیښه شوې وه، په دې کښې اختلاف دې، ټولو سیرت لیکونکو خو دا قبل الحدیبیه لیکلې ده او د امام بخاری په روایت کښې قبل خیبر بثلاثة ایام دې، یعنی په ۷ هجری کښ، د دې غزوه مقصد خپله په دې روایت کښې مذکور دې، د رسول الله ﷺ شل اوښې د پیو والا هلته خریدلې، د سیدنا ابوذر غفاری رضی الله عنه ځوئې د هغې نګران او شپونکې وو خپله ابوذر رضی الله عنه او د هغه ښځه هم هلته مقیم وو، عبدالرحمن بن عیینه کوم چه کافر وو (اګر چه نوم ئې اسلامی دې) د څلویښتو شهسوارانو سره په هغه اوښو باندې حمله اوکړه، شپونکې ئې قتل کړو، او هغه ټولې اوښې ئې بوتلې نو رسول الله ﷺ د پنځه سوه صحابه کرامو سره د مدینې منورې نه روان شو د غابه طرف ته او سیدنا سلمه بن الاکوع رضی الله عنه د چا منډه چه ضرب المثل وو هغه چه دا واوریدل نو د رسول الله ﷺ نه مخکښې هغه طرف ته په منډه شو او د تلو په وخت ئې د مدینې طرف ته مخ کولو سره درې کرته اواز اوکړو ﴿یا صباحاه﴾ دا جمله د مدد طلب کولو دپاره وی، خلقو لره د خبر کولو او متوجه کولو دپاره، هغه فرمائی چه زه ډیر په قوت سره هغوی پسې اوم د غشو په ذریعه مې د هغوی سورلئ زخمی کړې، چه کله به د هغوی نه زما طرف ته څوک متوجه شو نو زه به د اونې نه شاته شوم او په غشو به مې ویشتل او وړاندې به مې منډه کړه، تردې چه د رسول الله ﷺ چه څومره اوښې وې هغه ټولې شاته پاتې شوې او زه په هغوی پسې اوم، په دې منډه کښې هغه مشرکانو د ځانه روستو تقریبا دیرش څلویښت څادرې او هم په دې مقدار کښې نیزې په لاره کښې اوغورځولې د بوجهـ د سپکولو دپاره د دې دپاره چه منډه ورته اسانه شی، اوس یوځائې ته رسیدو سره د عبدالرحمن پلار عیینه د دې ډاکوانو د حمایت دپاره راوتلو، دا ټول ډاکوان تر اوسه پورې بې حوصلې وو او سوچ ئې دا وو چه معلومه نه ده په مونږ پسې څومره خلق شاته راروان دی، خو د عیینه په رارسیدو باندې دا خلق برابر شو او ما هم ځان برابر کړو

چه کیدې شی اوس مقابله اوشی په دې وجه یکدم یوې غونډې ته اوختلم، د غره د لاندې دا ټول مشرکان راجمع ولاړ وو او زه پورته رسیدلې اوم، نو عیینه خپلو ملګرو ته اووې چه تاسو څو کسان غونډې ته اوخیژئ، پس څلور کسانو زما طرف ته رخ اوکړو او په غونډئ باندې راختل، چه کله هغوی په غونډئ باندې ختلو سره ماته دومره رانزدې شو چه زما اواز ئې اوریدلې شو (هم دا ترجمه ده د فلما اسمعتهم) نو ما اوس د هغوی سره خبرې اترې شروع کړې، مقصود هغوی په خبرو کښې مشغول کول وو چه رسول اللهﷺ زما طرف ته څه مدد راولیږی څنګه چه هغوی ته مدد راورسیدو او هغوی ته ئې په تیزه اووې "اتعرفونی" ایا تاسو ما پیژنئ هم چه زه څوک یم؟ هغوی ترې تپوس اوکړو چه هم ته راته اوایه ته څوک ئې، ما اووې زه ابن الاکوع یم، قسم دې په هغه ذات چا چه محمدﷺ ته عزت ورکړې دې په تاسو کښې یو سړې هم داسې نشته چه په منډه باندې ما راونیسی، او په تاسو کښې یو سړې هم داسې نشته چه زه ئې راونیول غواړم او هغه زما نه لاړ شی، سلمه فرمائی : ما هغوی سره هم دا قسم خبرې کولې (او هغوی هم په خبرو کښې مصروف کیدو سره د پورته ختلو نه منع شو) تردې چه ما د رسول اللهﷺ شهسواران اولیدل چه د اونو په مینځ کښې په منډه منډه راروان وو په راتلونکو کښې د ټولو نه وړاندې اخرم اسدیؓ وو، د دې نه پس چه د دې واقعې کومه حصه باقی پاتې شوه هغه مونږ سره په "باب الرجل یسمی دابته" د لاندې تیره شوه هغه دې هلته اوکتلې شی، د هغې نه روستو بیا په دې واقعه کښې دی ﴿ثُمَّ جِئْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– وَهُوَ عَلَى الْمَاءِ الَّذِى جَلَّيْتُهُمْ عَنْهُ ذُو قَرَدٍ﴾ یعنی بیا زه روغ سلامت واپس کیدو سره د رسول اللهﷺ طرف ته راروان اوم نو ما اوکتل چه رسول اللهﷺ هغه چینې ته رارسیدلې وو د کوم ځائې نه چه زه په هغه ډاکوانو پسې شوې اوم یعنی ذو قرد، رسول اللهﷺ هغه وخت د پنځو سوو صحابه کرامو سره وو پس رسول اللهﷺ یوه حصه خو ماته د شهسوار راکړه او یوه ئې راته د پیاده راکړه، راجل خو په دې وجه چه راجل خو دې وو او د فارس په طریقه د نفل.

د دې حدیث د ترجمة الباب سره مناسبت داسې کیدې شی چه د کومو پنځه سوه صحابه کرامو سره رسول اللهﷺ ذو قرد ته رسیدلې وو په مدینه منوره کښې هغه خو جیش اوګڼړلې شی او سلمه بن الاکوع او د هغه ملګری اصحاب سریه، او د غنیمت د عسکر طرف ته واپس کول هم دلته بیا موندلې شو چه سلمه هغه ټول سامان راوړلو او رسول اللهﷺ ته ئې پیش کړو، او سریه ته په طور د نفل ورکړې کیدل هم دلته بیا موندلې شو، لهذا د حدیث په ترجمة الباب باندې انطباق اوشو. دا قصه په صحیح مسلم کښې د دې نه په زیات تفصیل سره ذکر شوې ده. والحدیث اخرجه مسلم اتم من هذا.

......

بَابٌ فِي النَّفْلِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَمِنْ أَوَّلِ مَغْنَمٍ

په غنیمت کښې د سرو زرو او سپینو زرو نه د انعام ورکولو بیان

د ترجمة الباب تشریح

دا ترجمة الباب دقیق دې، په دې کښې دوه اجزاء دی اول دا چه ایا د امام دپاره دا جائز دی چه هغه سره زر او سپین زر په طور د نفل یو غازی ته ورکړی؟ د جمهورو په نزد جائز دی، په دې کښې د امام اوزاعی اختلاف منقول دې، د هغه په نزد په نفل کښې سره او سپین زر نه شی ورکړې کیدې، بلکه نور سامان وسله وغیره به ورکولې شی، او د ترجمه دویم جزء دې النفل من اول مغنم، د اول مغنم په مفهوم کښې اختلاف دې، صاحب د عون المعبود د دې مصداق لیکلې دې ما یحصل ابتداء بسبب الجهاد والقتال، یعنی دار الحرب ته د داخلیدو نه مخکښې په میدان جنګ کښې د جهاد او قتال په ذریعه کوم چه د مشرکینو مال حاصل وی یعنی هم هغه کوم ته چه مال غنیمت وئیلې شی هم دغه شان هغوی لیکلې دی چه دا مقابل دې د مباحات دار الحرب یعنی په دار الحرب کښې دننه څیزونه کوم چه مسلمانانو ته حاصل شوې دی د هغې د فتح کولو نه پس، او حضرت په بذل کښې د اول مغنم معنی احتمالا دا لیکلې ده: ما یحصل من الغنیمة قبل القتال اذا دخل عسکر الاسلام دار الحرب فحصلت لهم غنیمة من قبل ان یقاتلوا بقوة الجیش.

یعنی د کفارو هغه مال کوم چه دار الحرب ته د داخلیدو نه پس حاصل شی بغیر د قتال نه صرف د لښکر په طاقت سره، چه د هغې حاصل په ظاهره کښې مال فئ شو،

او بیا وړاندې حضرت لیکلې دی چه غالبا په دې سره د اوزاعی د قول طرف ته اشاره ده پس حافظ په فتح الباری کښې د امام اوزاعی نه نقل کړې دی چه د اول غنیمت نه دې نفل ورنکړې شی او نه دې ذهب او فضه د نفل په طور ورکړې شی. وخالفه الجمهور. حضرت فرمائی ظاهره دا ده چه د مصنف میلان هم په دواړو مسئلو کښې هم دې طرف ته دې، یعنی په دواړو مسئلو کښې د عدم جواز نفل یعنی لا یجوز النفل من الذهب والفضة ولا من مال الفئ... او د صاحب عون رائې دا ده چه د اول مغنم نه مراد غنیمت دې، او د مصنف میلان د مسلک جمهور طرف ته دې په دواړو مسئلو کښې، یعنی جواز نفل، د سرو او سپینو زرو نه هم او د مال غنیمت نه هم، او زما رائې دا ده کومه چه د شارحینو رائې ده او په حدیث الباب کښې د غور کولو نه هم دا معلومیږی چه د اول مغنم نه مراد هم هغه دې چه حضرت فرمائی "ما یحصل بدون القتال" یعنی مال فئ، خو د مصنف رائې دا فهمیږی چه په نفل من الذهب والفضة کښې خو د هغوی رائې د جمهورو په شان دې، یعنی جواز، او اول مغنم یعنی مال فئ کښې عدم جواز نفل، ځکه چه دا د ټولو غانمینو حق دې، خو چه هلته هر کله قتال ته خبره رانغله نو بیا د نفل څه معنی، نفل توت شجیع علی القتال دپاره ورکولې شی، او ان شاء الله د حدیث الباب نه هم دا ثابتیږی لکه چه وړاندې به راشی.

[۲۷۵۳](١) حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ مَحْبُوبُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا أَبُو إِسْحَاقَ الْفَزَارِيُّ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِي الْجُوَيْرِيَةِ الْجَرْمِيِّ، قَالَ: أَصَبْتُ بِأَرْضِ الرُّومِ جَرَّةً حَمْرَاءَ فِيهَا دَنَانِيرُ، فِي إِمْرَةِ مُعَاوِيَةَ وَعَلَيْنَا رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ يُقَالُ لَهُ مَعْنُ بْنُ يَزِيدَ، فَأَتَيْتُهُ بِهَا فَقَسَمَهَا بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ وَأَعْطَانِي مِنْهَا مِثْلَ مَا أَعْطَى رَجُلًا مِنْهُمْ، ثُمَّ قَالَ: لَوْلَا أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا نَفَلَ إِلَّا بَعْدَ الْخُمُسِ لَأَعْطَيْتُكَ"، ثُمَّ أَخَذَ يَعْرِضُ عَلَيَّ مِنْ نَصِيبِهِ فَأَبَيْتُ.

دابو الجويرية الجرمی نه روايت دي فرمائی چه دمعاويه دخلافت په زمانه کښې ماپه روم کښې يو سور منګي پيدا کړو چه دديناروڼونه ډك وو او په دغه وخت کښې دنبی ﷺ په صحابه کرامو کښې دبنوسليم قبيلې يوکس چه معن بن يزيد به ورته وئيلې شو زمونږ امير وونو ما دامنګي دغه اميرته يوړونو هغه په ټولو مسلمانانو تقسيم کړو اود نورو کسانو د حصو په مقدارحصه ئې ماته هم راکړه، که چرې ماذنبی ﷺ داقول نه وی اوريدلي کوم چه هغه فرمائلي ووچه انعام ورکول نشته مګر پس دخمس نه، نومابه دا تاته درکړي وي او بيائي ماته خپله حصه پيش کوله خوماورته انکاروکړو داخستلونه.

مضمون حديث

ابو الجويريه فرمائی چه ماته يو ځل د سيدنا معاويه رضي الله عنه په خلافت کښې د سور رنګ ګوډئ (نينزکه) په روم کښې ملاؤ شوه، چه په هغې کښې دنيارونه وو، او هغه وخت زمونږ امير يو صحابی وو د قبيله بنو سليم چه د هغه نوم معن بن يزيد رضي الله عنه وو، ما هغه ګوډئ راوړه او هغه ته مې پيش کړه، هغه دغه دينارونه په مسلمانانو باندې تقسيم کړل او زما حصه ئې هم د هغوی برابر اولګوله يعنی ماته ئې په طريق د نفل هيڅ زياتی رانکړل او بيا ئې ماته د معذرت په طور اووې چه که ما د رسول الله ﷺ نه دا حديث نه وې اوريدلې، لا نفل الا بعد الخمس... نو ما به تاته ضرور څه زياتی درکړې وې، او بيا ئې د دې نه روستو ماته د خپلې حصې نه څه پيش کول چه دا واخله نو ما ئې د اخستلو نه انکار اوکړو، معن بن يزيد په عدم جواز نفل باندې د دې حديث نه استدلال کړې دې ﴿لا نفل الا بعد الخمس﴾ ځکه چه د دې حديث نه خو دا فهميږی چه نفل د هغه مال نه وی چه په هغې کښې خمس واجب وی، او دا چه کوم مال وو د ګوډئ والا په دې کښې خمس نشته ځکه چه دا خو مال فئ وو خمس خو د مال غنيمت نه اخستلې شی نه د مال فئ نه، لهذا په دې کښې به نفل هم نه وی.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت

مونږ پورته ليکلې وو چه د مصنف ميلان (٢) په اول مغنم والا مسئله کښې د عدم جواز نفل طرف ته دې، دا خو په ظاهره ثابته شوه او ذهب او فضه والا مسئله کښې مونږ دا وئيلې وو چه په دې کښې مصنف جواز نفل قائل وو، دا بله مسئله هم په ظاهره کښې د حديث الباب

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١٤٨٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٧٠/٣) (صحيح)

(٢) دا چه مونږ اوئيل چه د مصنف ميلان دې طرف ته دې دا په دې وجه چه د حديث الباب نه زمونږ په نزد هم دا ثابتيږی خو مسئله چونکه اجتهادی ده په دې وجه ضروری نه ده چه د مصنف رائې دې هم دا وی، او په ترجمة الباب کښې مصنف د خپلې رائې اظهار نه دې فرمائيلې.١٢)

نه ثابتيږي ځکه چه معن بن يزيد په دې مال کښې د عدم نفل په سبب منحصر کړې دې په دې خبره کښې چه دا مال فئ دې مال غنيمت نه دې، معلومه شوه چه که هم دا مال د مال غنيمت نه وې نو د دې نه به ئې په طور د نفل ورکړې وې، او د دې ذهب کيدل به مانع نه وې د نفل نه، لهٰذا ثابته شوه چه د ذهب او فضه نه نفل ورکړې کيدې شی، زما په نزد دا د ترجمة الباب او بيا د مصنف د دې سره غرض او بيا د حديث الباب د دې غرض سره مطابقت دا ښه ژور بحث دې، بعض تراجم په هر کتاب کښې مشکل وی، او د بخاری د تراجمو باريکی ژور والي او غموض خو مشهوره خبره ده.

دا حديث د دې کتاب نه علاوه په صحاح سته کښې خو بل چرته هم نشته، شيخ محمد عوامه ليکلي دی په کتاب السير للفزاری کښې هم په دې متن او سند سره.

[۲۷۵٤] (١) حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ، عَنْ أَبِي عَوَانَةَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ.

اوعاصم بن کليب په خپل سند سره دتيرشوي روايت په شان روايت بيان کړې دې.

بَابٌ فِي الإِمَامِ يَسْتَأْثِرُ بِشَيْءٍ مِنَ الْفَيْءِ لِنَفْسِهِ

د مشرکينو نه حاصل شوي مال امير ساتلې شي

د فئ اطلاق په غنيمت باندې هم وی، په دې ترجمة الباب کښې د فئ نه غنيمت مراد دې، يعنی په مال غنيمت کښې امام د خپل ځان دپاره د څه خاص څيز انتخاب کولې شی؟ د غنيمت د حصې نه علاوه؟ جواب دا دې چه "ليس لاحد بعده صلى الله عليه وسلم" رسول الله ﷺ ته خود دې خبرې حق وو چه هغه د مال غنيمت نه يو داسې څيز چه د هغه خوښ وی اخستلې شی چه د هغې نوم سهم صفی دې، او په دې باندې وراندې مستقل باب هم راروان دې، خو د هغه نه روستو د يو امام دپاره بالاتفاق داسې اخستل جائز نه دی.

[۲۷۵۵] (٢) حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ عُتْبَةَ، قَالَ: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْعَلَاءِ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَلَّامٍ الْأَسْوَدَ، قَالَ: سَمِعْتُ عَمْرَو بْنَ عَبَسَةَ، قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى بَعِيرٍ مِنَ الْمَغْنَمِ فَلَمَّا سَلَّمَ أَخَذَ وَبَرَةً مِنْ جَنْبِ الْبَعِيرِ، ثُمَّ قَالَ: "وَلَا يَحِلُّ لِي مِنْ غَنَائِمِكُمْ مِثْلُ هَذَا إِلَّا الْخُمُسُ وَالْخُمُسُ مَرْدُودٌ فِيكُمْ".

دعمرو بن عبس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام مونږ ته مونځ راکړو په داسې حال کښې چه دغنيمت يواوښ ته ئې مخ کړې وو يعنی دسترې په شکل هرکله چه فارغ شو نوداوښ د شانه ئې يو ويښته راوويستو اوبيا ئې اوفرمائيل ستاسو دغنيمت نه زما دپاره ددې ويښته په برابر شې اخستل جائز نه دی مګر علاوه دخمس نه، اوخمس به هم واپس په تاسو باندې خرچ کيږی.

شرح الحديث

يعنی رسول الله ﷺ يو ځل د غنيمت په اوښانو کښې يو اوښ ستره جوړ کړو او د هغه طرف ته ئې مونځ اوکړو، د مونځ نه چه فارغ شو نو د اوښ د ملا نه ئې په خپل موټی کښې ويښته نيولو سره اوفرمائيل چه د خمس نه علاوه زما دپاره په مال غنيمت کښې يو موټې (څيز

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١٤٨٤) (صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٧٦٩) (صحيح)

اخستل هم جائز نه دی، او هغه خمس کوم چه زه اخلم نو هغه هم په تاسو باندې خرچ کولې شی، په دې حدیث کښې د خمس نه مراد خمس الخمس دې، لکه چه مخکښې تیر شو چه په کل مال غنیمت کښې خمس ویستلو سره بیا خمس لره په پنځه حصو کښې تقسیم کولې شی چه په هغې کښې یوه حصه د رسول الله ﷺ ده، لهذا د هغه حصه خمس الخمس اوشو، خو مجازا د هغې نه په خمس سره تعبیر کولې شی.

د رسول الله ﷺ دپاره به په مال غنیمت کښې درې حصې وې

خو د دې نه پس تاسو په دې باندې ځان پوهه کړئ چه د رسول الله ﷺ دپاره به په مال غنیمت کښې درې حصې وې یوهم داکومه چه پورته ذکرشوه، دویم سهم کسهم احد الغانمین، او دریم سهم صفی کوم چه په دې ترجمة الباب کښې مذکور دې نو چه کله د رسول الله ﷺ دپاره په مال غنیمت کښې درې قسم حصې وې نو بیا په دې حدیث کښې رسول الله ﷺ صرف په یو قسم حصه باندې ولې انحصار اوفرمائیلو؟ د دې جواب حضرت په بذل کښې دا ورکړې دې چه په دې روایت کښې اختصار دې، د مسند احمد په روایت کښې په دې باندې زیادت دې ﴿ ولا نصیبی معکم ﴾ یعنی یوه هغه حصه کومه چه ستاسو ټولو دپاره وی. حضرت خو په بذل کښې هم دومره لیکلې دی، خو زما په خیال کښې لا اشکال باقی دې، هغه دا چه د رسول الله ﷺ دپاره دریمه حصه هم وه یعنی سهم صفی، د دې جواب دا کیدې شی چه د سهم صفی په باره کښې دا اختلاف دې چه هغه به د رسول الله ﷺ دپاره په هر یو غنیمت کښې وو یا صرف په دې صورت کښې چه کله رسول الله ﷺ په هغه غزوه کښې خپله شریک وی، په خلاف د غنیمت د حصې نه چه هغه ستا دپاره په هر صورت کښې وی، که رسول الله ﷺ په غزوه کښې شریک نه وی بیا هم.

والحدیث اخرجه النسائی وابن ماجة من حدیث عبادة بن الصامت بنحوه، وروی ایضا من حدیث جبیر بن مطعم، والعرباض بن ساریة، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْوَفَاءِ بِالْعَهْدِ

معاهده پوره کول لازمی دی

[۲۷۵٦](۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ الْغَادِرَ يُنْصَبُ لَهُ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَيُقَالُ هَذِهِ غَدْرَةُ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ".

دابن عمر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی دخیانت ګرد پاره به دقیامت په ورځ باندې یوه جنده اودرولې شي اواواز به اوشی چه دا د فلانی د فلانی دځوي خیانت دې.

تشریح: قوله: "إِنَّ الْغَادِرَ يُنْصَبُ لَهُ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَيُقَالُ هَذِهِ غَدْرَةُ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ".(۲)

---

۱): صحيح البخاري/الجزية ۲۲ (۳۱۸۸)، والأدب ۹۹ (٦۱۷۷)، والحيل ۹ (٦۹٦٦)، والفتن ۲۱ (۷۱۱۱)، (تحفة الأشراف: ۷۲۳۲)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الجهاد ٤ (۱۷۳٦)، سنن الترمذي/السير ۲۸ (۱٥۸۱)، مسند احمد (۲/۱٤۲) وأعاده المؤلف في السنة (٤٦٥٥) (صحيح)

۲) اي هذه الهيئة الحاصلة له مجازاة غدرته (عون).

په جهاد کښې د مشرکانو سره چل ول او دهوکه کول خو جائز دی بلکه نافع دی، او دې ته ترغيب ورکړې شوې دې، خو که د يو مشرک سره څه معاهده اوشی نو د هغې خلاف ورزی قطعا جائز نه ده، هغه غدر دې، او په غدر باندې په حديث کښې سخت وعيد راغلې دې، پس په حديث الباب کښې دی چه د غدر کونکی سره به په قيامت کښې دا معامله کولې شی چه هغه په کوم ځائې کښې وی هلته به يوه جهنډه قائمولې شی (جهنډه به په دې وجه قائم کولې شی چه خلق د هغې طرف ته متوجه کيدو سره اوګوری چه دا سړې څوک دې) او هغه وخت به دا اعلان کولې شی چه اوګورئ دې سړی ته دا د فلانی ځوئې دې، په فلانی وخت ئې په دنيا کښې فلانې غدر کړې وو، يعنی د هغه د غدر تشهير کولو سره به هغه رسوا کولې شی، شارحينو په دې حديث باندې زمونږ د خيال مطابق دومره ليکلې دی، خو د حضرت ګنګوهی تقرير ترمذی، المعروف بالکوکب الدری، په هغې کښې ليکلې دی چه دا غادر به په اوږد لرګی باندې کينولې شی کوم چه به د هغه په شرمګاه کښې دننه کيږی. والله تعالى اعلم بمراد الحديث، ويؤنده ما في بعض الروايات عند استه والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْإِمَامِ يُسْتَجَنُّ بِهِ فِي الْعُهُودِ

باب: په معاهدو کښې به د امام پناه حاصلولې شی

[۲۷۵۷] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ بِهِ".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی يقينا امام ډال دې اوجنګ کيږی په ده سره يعنی دده په مشوره باندې جنګ کيږی نودده په مشوره باندې صلح کول هم پکار دی.

شرح الحديث

د ترجمة الباب لفظ، د لفظ حديث نه ماخوذ دې ځکه چه په حديث الباب کښې دی ﴿انما الامام جنة﴾ جنة وئيلې شی ډال ته، ډهال ذريعه او وسيله وی د دشمن د حملې نه د بچ کيدو دپاره، ځکه چه هغه په مينځ کښې حائل شی، نو د ترجمة الباب مطلب دا شو چه د امام په ذريعه باندې پناه حاصلولې شی په معاهدو او صلحو کښې، يعنی عمومی صلح بين المسلمين والمشرکين او د قتال تعلق د امام المسلمين سره دې، ظاهره خبره ده، په حکومتونو کښې چه کومې معاهدې کيږی که هغه صلح وی يا قتال وی د دې تعلق د بادشاهانو سره وی نه د رعايا سره. ﴿انما الامام جنة يقاتل به﴾ رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائی چه يقينا امام د ډهال په شان دې او د رعايا په حق کښې هغه د تحفظ ذريعه وی، د دشمنانو د حملې نه او د هغوی د تکليفونو نه دبچ کيدو دپاره، وړاندې هغه فرمائی ﴿يقاتل به ای بامره

---

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۳۷۸۸)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجهاد ۱۰۹ (۲۹۵۷)، صحيح مسلم/الإمارة ۹ (۱۸٤۱)، سنن النسائي/البيعة ۳۰ (٤۲۰۱) (صحيح)

ورايه، يعنی د مشرکانو سره په قتال کښې هم د هغه رائې چليږی او خلقو لره د هغه په رائې باندې تلل هم پکار دی هغه چه هر څه فيصله کوی د قتال يا صلح، رعايا لره په هغې کښې موافقت کول پکار دی......... وړاندې امام ته خپله اختيار دې چه هغه ئې د چا نه مناسب اوګڼړی د هغه په باره کښې دې رائې او مشوره ورکړی. والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری.

[۲۷۵۸](¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرٌو، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ الْأَشَجِّ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، أَنَّ أَبَا رَافِعٍ أَخْبَرَهُ، قَالَ: بَعَثَتْنِي قُرَيْشٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُلْقِيَ فِي قَلْبِي الْإِسْلَامُ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي وَاللَّهِ لَا أَرْجِعُ إِلَيْهِمْ أَبَدًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي لَا أَخِيسُ بِالْعَهْدِ وَلَا أَحْبِسُ الْبُرُدَ، وَلَكِنِ ارْجِعْ فَإِنْ كَانَ فِي نَفْسِكَ الَّذِي فِي نَفْسِكَ الْآنَ فَارْجِعْ"، قَالَ: فَذَهَبْتُ ثُمَّ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْلَمْتُ، قَالَ بُكَيْرٌ: وَأَخْبَرَنِي أَنَّ أَبَا رَافِعٍ كَانَ قِبْطِيًّا، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا كَانَ فِي ذَلِكَ الزَّمَانِ فَأَمَّا الْيَوْمَ فَلَا يَصْلُحُ.

دحسن بن ابی رافع نه روايت دې چه ابورافع راته خبر را کړې دې فرمائيل ئې چه قريشو زه نبی عليه السلام ته وليږلم کله چه مې نبی عليه السلام اوليدو نوپه زړه کښې مې داسلام سره محبت واچولې شو ماعرض اوکړو اې دالله رسوله زه دوی ته هيڅ کله واپس نه ورځم نبی عليه السلام اوفرمائيل چه زه لوظ نه ماتوم اونه سفير لره قد کوم بلکه لاړشه که چرې په ريښتيا ستا په زړه کښې هغه څه وي کوم چه ته وائې نو بيا واپس راشه ابورافع وائی زه لاړمه او بيا نبی عليه السلام ته واپس راغلم اواسلام مې قبول کړو، بکير وائی چه حسن ماته وئيلی دی چه ابو رافع يو قبطي غلام وو. ابوداود وائی دا دهغه دور خبره ده په اوس وخت کښې داسې وئيل نه دی پکار ځکه چه دصحابي تعظيم کول ضروری دی.

مضمون حديث

سيدنا ابو رافع رضی الله عنه د خپل اسلام قبلولو واقعه بيانوی چه زه قريشو د رسول الله صلی الله عليه وسلم په خدمت کښې ليږلې اوم، ګويا هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په خدمت کښې د وافد په حيثيت کښې راغلې وو، هغه فرمائی چه کله ما د هغه د مخ مبارک زيارت اوکړو نو زما په زړه کښې فوراً د اسلام حقانيت راغلو نو ما هغه ته عرض اوکړو يا رسول الله! والله زه به اوس د کفارو طرف ته نه واپس کيږم (هغوی چه د کوم کار دپاره راغلې وو هغه ترې تول هير شو او په هغه باندې مئين شو) رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل ګوره زه لوظ نه ماتوم (چه هر چا سره وی) او نه چه د هغوی کوم قاصد او ايلچی وی، منع کوم، هغه اوفرمائيل چه دې وخت کښې ته واپس شه، پس که د تلو نه پس ستا په زړه کښې بيا هم هغه خبره اوشوه کومه چه اوس ده نو واپس شئ هغه وائی چه زه هغه وخت خو لاړم او بيا موقع کتلو سره د هغه طرف ته لاړم او اسلام ئې قبول کړو، وړاندې په روايت کښې دا دی چه ابو رافع په شروع کښې قبطی غلام وو، قبط وئيلې شی قوم فرعون ته، په بذل کښې ليکلې شوې دی چه په شروع کښې دا د حضرت عباس غلام وو هغه ازاد کړې وو (په ظاهره کښې د اسلام نه مخکښې مراد دې)

¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۲۰۱۳)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري/السير (۸٦۷٤) (صحيح)

قال ابوداود : الخ : مصنف فرمائي چه داسې قاصد د مشرکانو طرف ته واپس کولو د هغه زماني خبره وه په دې زمانه کښې مناسب نه دی. يعنی د کفارو د طرف نه راتلونکې قاصد دار الاسلام ته د رارسيدو نه پس که اسلام قبول کړی نو بيا هغه واپس کول نه دی پکار اګر چه عام قاعده او ضابطه هم دا ده چه قاصد نه دی منع کول پکار خو دا صورت مستثنی دې، او په دې صورت کښې هغه لره واپس کول صرف د رسول الله ﷺ په زمانه کښې خو جائز وه چه د رسول الله ﷺ ذات د دې رجوع زبردست محرک وو، خو د هغه نه روستو به په دې قاعده باندې عمل نه وی.

په روايت کښې دی ﴿ لا اخيس بالعهد ﴾ دا په خاء معجمه او ياء تحتانيه سره دې، د خاس يخيس معنی د نقض ده، او د دې نه روستو چه کوم لفظ دې ﴿ لا احبس البرد ﴾ دا حبس دې په معنی د منع کولو او ﴿ البرد ﴾ جمع ده د بريد، قاصد او استاذې. والحديث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

باب فِي الإِمَامِ يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْعَدُوِّ عَهْدٌ فَيَسِيرُ إِلَيْهِ

کله چه د مشرکانو او امام ترمينځ معاهده وی نو په دې دوران کښې امام د مشرکانو علاقې ته تلی شی

[۲۷۵۹]([1]) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ النَّمَرِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي الْفَيْضِ، عَنْ سُلَيْمِ بْنِ عَامِرٍ رَجُلٌ مِنْ حِمْيَرَ، قَالَ: كَانَ بَيْنَ مُعَاوِيَةَ وَبَيْنَ الرُّومِ عَهْدٌ، وَكَانَ يَسِيرُ نَحْوَ بِلَادِهِمْ حَتَّى إِذَا انْقَضَى الْعَهْدُ غَزَاهُمْ فَجَاءَ رَجُلٌ عَلَى فَرَسٍ أَوْ بِرْذَوْنٍ، وَهُوَ يَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ وَفَاءٌ لَا غَدَرٌ، فَنَظَرُوا فَإِذَا عَمْرُو بْنُ عَبَسَةَ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ مُعَاوِيَةُ فَسَأَلَهُ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَنْ كَانَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ قَوْمٍ عَهْدٌ فَلَا يَشُدُّ عُقْدَةً وَلَا يَحُلُّهَا حَتَّى يَنْقَضِيَ أَمَدُهَا أَوْ يَنْبِذَ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ"، فَرَجَعَ مُعَاوِيَةُ.

دسليم بن عامر حميری نه روايت دې چه د معاويه رضي الله عنه او روميانو په مينځ کښې په دې خبره باندې معاهده شوې وه چه ديو مقرر وخت پورې به جنګ نه وی او معاويه به ددغه خلقو ښارونو ته سفر کولو کله چه دمعاهدې موده پوره شوه نو بيا ئې ددغه خلقو سره جنګ شروع کړو، په دې دوران کښې په عربي يا ترکي اس باندې يو کس سور راروان وو او الله اکبر الله اکبر لوظ پوره کول پکاردې دوکه نه ده پکار دا کلمات به ئې وئيل خلقو چه ورته اوکتل نودا عمرو بن عبس وو نومعاويه ده ته يو کس ورولېږلو ددې تپوس دپاره چه مونږ کومه دوکه کړې ده؟ هغه اووئيل مادنبی عليه السلام نه اوريدلی دی چه فرمائيل ئې دچاچه ديو قوم سره معاهده وې نو ترهغې پورې دې ورسره نه نوې لوظ کوې اونه دې زوړ لوظ ماتوې ترڅو چه موجوده معاهده نه وی پوره شوې اويا معاهده ددواړه جانبونه فسخ کړې شي، معاويه چه دا واوريدل نو ددغه ځائې نه راواپس شو

د حديث مضمون

يعنی سيدنا معاويه رضي الله عنه او د روم د نصاری ترمينځه عهد وو، او هغه د هغوی د ښهر طرف ته روان وو، يعنی د لوظ د پوره کيدو نه مخکښې روان وو، په دې نيت سره چه هلته په

[1]: سنن الترمذي/السير ۲۷ (۱۵۸۰)، (تحفة الأشراف: ۱۰۷۵۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۱۱/۴، ۱۱۳، ۳۸۵) (صحيح)

رسیدو رسیدو به د لوظ موده پوره شي نو فورا به حمله اوکړی نو د شاته نه یو سړي راغلو په اس باندې سور (برذون وئیلې شي غیر عربي اس ته، یعنی ترکي) په دې وینا او تنبیه کولو سره، الله اکبر، معاهده پوره کړئ، غداری مه کوئ، چه خلقو ورته په شا اوکتل نو معلومه شوه چه ویونکې عمرو بن عبسه دې، سیدنا معاویه رضی الله عنه هغه ته په سړی لیږلو سره معلومه کړه نو هغه د رسول الله ﷺ حدیث بیان کړو چه رسول الله ﷺ فرمائیلې دی "چه د چا چه د بو قوم سره معاهده وی نو هغه د عهد غوټه اوتړی نه دې پرانیزی" مراد دا دې چه په هغه معاهده کښې دې څه فرق نه راولی، دا جمله هم په دې معنی کښې استعمالیږی، د هغې د لفظ ترجمې طرف ته دې التفات نه کوی "تردې چه د معاهدې موده پوره نه شي، یا دا چه معاهده ښکاره ماته کړې شي" یعنی واضح طور اوئیلې شي چه مونږ دا معاهده ختموو. ﴿علی سواء﴾ مطلب دا دې چه د معاهدې د باقی نه پاتې کیدو په علم کښې دواړه برابر شي، یو ته د بل رائې په ښه طریقې سره معلومه شي چه اوس د بیا دپاره معاهده نه شي پریخودلې، ګویا فسخ معاهده ﴿فرجع معاوية﴾ سیدنا معاویه رضی الله عنه په دې اوریدو سره خپل ځائې ته واپس شي.

دا خو ظاهره ده چه د سیدنا معاویه رضی الله عنه مقصود عذر او د معاهده خلاف ورزی نه وه، په موده پوره کیدو باندې به ئې په هغوی باندې حمله کوله، خو دا فی الجمله احتیاط وو، د صریح عهد خلاف خو به نه وې خو وئیلې شي چه د لازم عهد خلاف به وې، ځکه د دویم فریق په ذهن کښې دا کیدې شي چه اګر چه دعهد موده پوره شوه خو زمونږ خصم به د مودې د پوره کیدو نه پس د خپل مقام نه ځی. هکذا فی البذل عن القاری، خو زمونږ حضرت شیخ به په سبق کښې فرمائیل چه زما په خیال کښې خو په دې کښې نقض عهد نه وو. والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی وقال الترمذی، حسن صحیح، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْوَفَاءِ لِلْمُعَاهِدِ وَحُرْمَةِ ذِمَّتِهِ

د ذمی وژل سخته ګناه ده

[۲۷٦۰] (۱) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ عُيَيْنَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَتَلَ مُعَاهِدًا فِي غَيْرِ كُنْهِهِ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ".

د ابوبکره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی چاچه معاهدې والا بغیر د څه وجې نه قتل کړو نو الله تعالی به په ده باندې جنت حرام کړي.

د معاهدې نه مراد ذمی، یعنی د ذمی سره وفاداری کول، د هغه د ذمې او لوظ خلاف معامله نه کول، په حدیث الباب کښې دی : کوم سړې چه یو ذمی لره بغیر د شرعی جواز نه قتل کړی نو الله پاک د هغه په قاتل باندې جنت حراموی، د دې قسم احادیث په خپل ظاهر باندې نه وی، بلکه د اهل سنت په نزد مؤول وی، مثلا دا چه د دخول اولی نفی ده چه د هغه دپاره ئې ابتداء د جنت دخول حرام کړې دې یا به د سزا خوړلو نه پس ځی، یا دا چه په

(۱): سنن النسائی/القسامة ۱۰ (٤٧٥١)، (تحفة الأشراف: ۱۱٦٩٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٣٦، ٣٨، ٤٦، ٥٠، ٥١)، سنن الدارمی/السیر ٦١ (٢٥٤٦) (صحیح)

مستحل باندې محمول دي، مقصود په دې سره مبالغه ده په زجر او توبيخ کښې. والله اعلم.
والحديث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الرُّسُلِ
د قاصدانو بيان

د رسول نه مراد قاصد او استاذي دي، د کفارو د طرف نه راتلونکي وفد، او وئيل دا غواړي چه هغه به نه شي قتل کولي اگر چه هغه کافر دي.

[۲۷۶۱]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا سَلَمَةُ يَعْنِي ابْنَ الْفَضْلِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، قَالَ: كَانَ مُسَيْلِمَةُ كَتَبَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: وَقَدْ حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ شَيْخٍ مِنْ أَشْجَعَ يُقَالُ لَهُ: سَعْدُ بْنُ طَارِقٍ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ نُعَيْمِ بْنِ مَسْعُودٍ الْأَشْجَعِيِّ، عَنْ أَبِيهِ نُعَيْمٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَهُمَا حِينَ قَرَأَ كِتَابَ مُسَيْلِمَةَ: "مَا تَقُولَانِ أَنْتُمَا؟" قَالَا: نَقُولُ كَمَا قَالَ، قَالَ: أَمَا وَاللَّهِ لَوْلَا أَنَّ الرُّسُلَ لَا تُقْتَلُ لَضَرَبْتُ أَعْنَاقَكُمَا".

سلمه بن نعيم بن مسعود اشجعی رضی الله عنه دخپل پلار نعيم نه روايت کوی فرمائی چه د نبی عليه السلام نه مې اوريدلی دی چه دمسيلمه کذاب قاصدانو ته ئې فرمائيل کله چه نبی عليه السلام دمسيلمه خط اولوستو چه تاسو په دې باره کښې څه وائی؟ هغوی اووئيل مسيلمه چه څه وائی هغه مونږه هم وايو (يعنی دهغه نبوت منو) نبی عليه السلام اوفرمائيل په الله قسم که چرې قاصدان وژل بده خبره نه وې نو مابه ستاسو ددواړو څټونه وهلي وو.

دا حديث د محمد بن اسحاق روايت کونکی د هغه شاگرد سلمه دی، سلمه داسې وئيلي شي چه ابن اسحاق زما نه دا روايت يو ځل نو تعليقا بغير د سند نه بيان کولي شي، او يو ځل سندا يعنی سند سره، پس هغه سند دلته په کتاب کښې مذکور دي.

مضمون حديث

د حديث مضمون دا دې چه مسيلمه کذاب چا چه د هغه په زمانه کښې د نبوت دعوی کولي شی، هغه د خپلو دواړو قاصدانو په ذريعه يو ليک د رسول الله ﷺ په خدمت کښې اوليږلو، د حديث راوی نعيم بن مسعود وئيلې شی چه رسول الله ﷺ هغه خط واوريدلو، چه په هغې کښې ظاهره ده هغه د خپل نبوت خبره ليکلې وه، نو په دې باندې رسول الله ﷺ خپله د هغه دواړو قاصدانو نه تپوس اوکړو چه تاسو د هغه په باره کښې څه وايئ نو هغوی جواب ورکړو چه هغوی څه وائی هغه خبره مونږ هم کوو، يعنی د هغه تصديق کوو، نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه والله که دا خبره نه وه چه قاصدان نه شی قتل کولې نو ما به ستاسو نه ستونه وهلي وې.

دا دوه قاصدان چه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغلي وو د هغوی نوم په مسند احمد کښې ابن النواحه او ابن اثال راغلي دي، د هغې الفاظ دا دی ﴿عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: جَاءَ ابْنُ النَّوَّاحَةِ وَابْنُ أُثَالٍ رَسُولاً مُسَيْلِمَةَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُمَا: أَتَشْهَدَانِ أَنِّي رَسُولُ اللهِ؟ قَالاَ: نَشْهَدُ أَنَّ مُسَيْلِمَةَ رَسُولُ اللهِ﴾ پوره روايت په بذل کښې ذکر شوې دي.

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۱۶۵۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۸۷/۳) (صحيح)

[۲۷۶۲](¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ حَارِثَةَ بْنِ مُضَرِّبٍ، أَنَّهُ أَتَى عَبْدَ اللَّهِ، فَقَالَ: مَا بَيْنِي وَبَيْنَ أَحَدٍ مِنَ الْعَرَبِ حِنَةٌ، وَإِنِّي مَرَرْتُ بِمَسْجِدٍ لِبَنِي حَنِيفَةَ فَإِذَا هُمْ يُؤْمِنُونَ بِمُسَيْلِمَةَ، فَأَرْسَلَ إِلَيْهِمْ عَبْدُ اللَّهِ فَجِيءَ بِهِمْ فَاسْتَتَابَهُمْ غَيْرَ ابْنِ النَّوَّاحَةِ، قَالَ لَهُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَوْلَا أَنَّكَ رَسُولٌ لَضَرَبْتُ عُنُقَكَ فَأَنْتَ الْيَوْمَ لَسْتَ بِرَسُولٍ، فَأَمَرَ قَرَظَةَ بْنَ كَعْبٍ فَضَرَبَ عُنُقَهُ فِي السُّوقِ، ثُمَّ قَالَ: مَنْ أَرَادَ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى ابْنِ النَّوَّاحَةِ قَتِيلًا بِالسُّوقِ".

دحارثه بن مضرب نه روايت دي فرمائی چه زه عبدالله بن مسعود ته راغلم او اومې وئيل چه په عربو کښې مې دهيچاسره دشمنې نشته دبنی حنيفه دجومات سره تيريدم اوهلته خلقو په مسليمه باندې ايمان راوړو نوعبدالله ابن مسعود هغوی راوغوښتل او ورته ئې اووئيل چه تاسو دابن نواحه نه علاوه نور ټول توبه اوباسي اوابن مسعود ورته اووئيل د نبی ﷺ نه مې اوريدلی دی چه فرمائيلي يسي وو که چرې ته قاصد نه وې نو مابه ستا څټ وهلې وو، اوته دنن نه پس قاصد نه ئې اوبيا ابن مسعود قرضه بن کعب ته حکم اوهغه ئې په بازار کښې قتل کړو اوخلقوته ئې ووئيل څوك چه ابن نواحه ليدل غواړی نوبازار ته دې لاړ شي هلته مړ پروت دې۔

شرح حديث

يو سړي راغلو چه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په داسې حال کښې چه کله هغه د کوفې والی وو دا اوئيل چه اوګورئ زما او اهل عرب ترمينځه څه دشمنې نشته. (يعنی کومه خبره چه زه کوم د څه دشمنئ د وجې نه بلکه صحيح خبره ده) او بيا هغه دا اوئيل چه د قبيله بنو حنفيه په مسجد کښې تير شو نو ما اوليدل د دې مسجد والا چه د مسليمه تصديق ئې کولو، سيدنا عبدالله رضي الله عنه هغه سړې ليږلو راوغوښتلو، د راتلو نه پس ئې په هغوی باندې توبه ويستله نو هغوی ټولو توبه اوکړه، سوا د ابن النواحه نه، نو په دې باندې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ابن النواحه اوفرمائيل چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل هغه اوفرمائيل چه که ته قاصد نه وې نو ما به ستا سټ وهلې وې، د دې نه روستو ورته عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اوفرمائيل چه ته اوس دې وخت کښې قاصد نه ئې، او د دې نه روستو ئې ښکاره قتل کړو، او دا اعلان ئې اوکړو چه که څوک ابن النواحه لره مقتول ليدل غواړی. والحديث اخرجه النسائی.

بَابٌ فِي أَمَانِ الْمَرْأَةِ

که چرې کومه ښځه مشرك ته پناه ورکوی نو ورکولې شی

دا مسئله د دې نه مخکښې ﴿ يسعی بذمتهم ادناهم ﴾ د لاندې تير شوې دی چه د زنانه امان معتبر دې. عند الائمة الاربعة... د سحنون او ابن ماجشون مالکيانو په نزد د زنانه امان د امام په اذن باندې موقوف دې.

(¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩١٩٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٨٤)، سنن الدارمي/السير ٦٠ (٢٥٤٥) (صحيح)

[۲۷٦۳](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عِيَاضُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ مَخْرَمَةَ بْنِ سُلَيْمَانَ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: حَدَّثَتْنِي أُمُّ هَانِئٍ بِنْتُ أَبِي طَالِبٍ، أَنَّهَا أَجَارَتْ رَجُلًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ يَوْمَ الْفَتْحِ فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ: "قَدْ أَجَرْنَا مَنْ أَجَرْتِ وَأَمَّنَّا مَنْ أَمَّنْتِ".

دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه ام هاني بنت أبی طالب دفتح مکې په ورځ په مشرکانوکښې یوکس ته پناه ورکړې وه او نبی علیه السلام ته راغله اوقصه ئې ورته بیان کړه نبی علیه السلام اوفرمائیل یقینا مونږه پناه ورکړه چاته چه تاپناه ورکړې ده او امن ورکړو مونږه هغه چاته چه تا امن ورکړې دې- دام المومنین عائشې رضی الله عنها نه روایت دي فرمائی چه که چرې کوې ښځې به یو مشرك ته دمسلمانانونه پناه ورکوله نوجائز به ګڼړلې شوه.

ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه ام هانی (د سیدنا علی رضی الله عنه خور) ماته بیان کړه چه ما د فتح مکه په ورځ باندې یو مشرک ته امن ورکړې وو، د دې نه روستو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې راغلو او د دې په ذکر کښې هغه سره اوکړو نو هغه وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه او چاته چه تا امان ورکړې دې مونږ هم هغوی ته امان ورکړې دې. (دا خبره ئې مکرر کړه) والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی بنحوه، قاله المنذری.

[۲۷٦٤](2) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: إِنْ كَانَتِ الْمَرْأَةُ لَتُجِيرُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ فَيَجُوزُ.

دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه ام هاني بنت أبی طالب دفتح مکې په ورځ په مشرکانوکښې یوکس ته پناه ورکړې وه او نبی علیه السلام ته راغله اوقصه ئې ورته بیان کړه نبی علیه السلام اوفرمائیل یقینا مونږه پناه ورکړه چاته چه تاپناه ورکړې ده او امن ورکړو مونږه هغه چاته چه تا امن ورکړې دې- دام المومنین عائشې رضی الله عنها نه روایت دي فرمائی چه که چرې کوې ښځې به یو مشرك ته دمسلمانانونه پناه ورکوله نوجائز به ګڼړلې شوه.

بَابٌ فِي صُلْحِ الْعَدُوِّ

دشمن سره د صلح کولو بیان

د ترجمة الباب شرح او د علماء کرامو مذاهب

د جهاد او قتال بابونه شروع دی، دا د باب صلح په باره کښې دی چه د دشمن سره صلح هم کیدې شی. او اصل په دې کښې د الله پاک قول دې چه مشرکان د صلح طرف ته مائل کیږی نو هغوی سره صلح اوکړئ، پس د جمهورو مسلک هم دا دې چه که امام د کفارو سره په صلح کښې مصلحت اوګڼړی نو صلح کولې شی، په دې کښې د بعض صحابه کرامو او تابعینو اختلاف دې لکه ابن عباس، عطاء او مجاهد وحسن بصری وغیره، دا حضرات وائی چه دا آیت منسوخ دې د سورة توبه د آیت نه ﴿ قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ

1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۰۵)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصلاة ٤ (۳۵۷)، والجزية ۹ (۳۱۷۱)، والأدب ۹٤ (٦۱۵۸)، صحيح مسلم/المسافرين ۱٦ (۳۳٦)، موطا امام مالك/قصر الصلاة ۸ (۲۸)، مسند احمد (۳٤۳/٦، ٤۲۳)، دي الصلاة ۱۵۱ (۱٤۹٤) (صحيح)

2): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۹۹۸) (صحيح)

الْآخِرِ﴾ الاية... دې ته آيت السيف هم وئيلې شي، او جمهور دا وائي چه په دې کښې نسخ وغيره هيڅ نشته، بلکه مطلب دا دې چه که د مقابلې طاقت نه وي او مصالحت ممکن وي نو بيا مصالحت کيدې شي ګينې اصل حکم قتال او جهاد خو دې، که د مصالحت ضرورت وي نو هغه هم کولې شي. (ابن کثير)

[٢٧٦٥](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ ثَوْرٍ حَدَّثَهُمْ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ، قَالَ: خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَمَنَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي بِضْعَ عَشْرَةَ مِائَةً مِنْ أَصْحَابِهِ حَتَّى إِذَا كَانُوا بِذِي الْحُلَيْفَةِ قَلَّدَ الْهَدْيَ وَأَشْعَرَهُ وَأَحْرَمَ بِالْعُمْرَةِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ قَالَ: وَسَارَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِالثَّنِيَّةِ الَّتِي يُهْبَطُ عَلَيْهِمْ مِنْهَا بَرَكَتْ بِهِ رَاحِلَتُهُ فَقَالَ النَّاسُ: حَلْ حَلْ خَلَأَتِ الْقَصْوَاءُ مَرَّتَيْنِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا خَلَأَتْ وَمَا ذَلِكَ لَهَا بِخُلُقٍ وَلَكِنْ حَبَسَهَا حَابِسُ الْفِيلِ، ثُمَّ قَالَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يَسْأَلُونِي الْيَوْمَ خُطَّةً يُعَظِّمُونَ بِهَا حُرُمَاتِ اللَّهِ إِلَّا أَعْطَيْتُهُمْ إِيَّاهَا، ثُمَّ زَجَرَهَا فَوَثَبَتْ فَعَدَلَ عَنْهُمْ حَتَّى نَزَلَ بِأَقْصَى الْحُدَيْبِيَةِ عَلَى ثَمَدٍ قَلِيلِ الْمَاءِ، فَجَاءَهُ بُدَيْلُ بْنُ وَرْقَاءَ الْخُزَاعِيُّ، ثُمَّ أَتَاهُ يَعْنِي عُرْوَةَ بْنَ مَسْعُودٍ، فَجَعَلَ يُكَلِّمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكُلَّمَا كَلَّمَهُ أَخَذَ بِلِحْيَتِهِ وَالْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ قَائِمٌ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ السَّيْفُ، وَعَلَيْهِ الْمِغْفَرُ، فَضَرَبَ يَدَهُ بِنَعْلِ السَّيْفِ، وَقَالَ: أَخِّرْ يَدَكَ عَنْ لِحْيَتِهِ فَرَفَعَ عُرْوَةُ رَأْسَهُ فَقَالَ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ، فَقَالَ: أَيْ غُدَرُ أَوَلَسْتُ أَسْعَى فِي غَدْرَتِكَ، وَكَانَ الْمُغِيرَةُ صَحِبَ قَوْمًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَقَتَلَهُمْ وَأَخَذَ أَمْوَالَهُمْ، ثُمَّ جَاءَ فَأَسْلَمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَمَّا الْإِسْلَامُ فَقَدْ قَبِلْنَا، وَأَمَّا الْمَالُ فَإِنَّهُ مَالُ غَدْرٍ لَا حَاجَةَ لَنَا فِيهِ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اكْتُبْ هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ، وَقَصَّ الْخَبَرَ فَقَالَ سُهَيْلٌ، وَعَلَى: أَنَّهُ لَا يَأْتِيكَ مِنَّا رَجُلٌ وَإِنْ كَانَ عَلَى دِينِكَ إِلَّا رَدَدْتَهُ إِلَيْنَا، فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ قَضِيَّةِ الْكِتَابِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِهِ: قُومُوا فَانْحَرُوا، ثُمَّ احْلِقُوا، ثُمَّ جَاءَ نِسْوَةٌ مُؤْمِنَاتٌ مُهَاجِرَاتٌ الْآيَةَ، فَنَهَاهُمُ اللَّهُ أَنْ يَرُدُّوهُنَّ وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَرُدُّوا الصَّدَاقَ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى الْمَدِينَةِ فَجَاءَهُ أَبُو بَصِيرٍ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ يَعْنِي فَأَرْسَلُوا فِي طَلَبِهِ فَدَفَعَهُ إِلَى الرَّجُلَيْنِ فَخَرَجَا بِهِ حَتَّى إِذْ بَلَغَا ذَا الْحُلَيْفَةِ نَزَلُوا يَأْكُلُونَ مِنْ تَمْرٍ لَهُمْ، فَقَالَ أَبُو بَصِيرٍ لِأَحَدِ الرَّجُلَيْنِ: وَاللَّهِ إِنِّي لَأَرَى سَيْفَكَ هَذَا يَا فُلَانُ جَيِّدًا، فَاسْتَلَّهُ الْآخَرُ فَقَالَ: أَجَلْ قَدْ جَرَّبْتُ بِهِ فَقَالَ أَبُو بَصِيرٍ: أَرِنِي أَنْظُرْ إِلَيْهِ فَأَمْكَنَهُ مِنْهُ فَضَرَبَهُ حَتَّى بَرَدَ وَفَرَّ الْآخَرُ حَتَّى أَتَى الْمَدِينَةَ فَدَخَلَ الْمَسْجِدَ يَعْدُو، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَقَدْ رَأَى هَذَا ذُعْرًا فَقَالَ: قَدْ قُتِلَ وَاللَّهِ صَاحِبِي وَإِنِّي لَمَقْتُولٌ، فَجَاءَ أَبُو بَصِيرٍ فَقَالَ: قَدْ أَوْفَى اللَّهُ ذِمَّتَكَ فَقَدْ رَدَدْتَنِي إِلَيْهِمْ، ثُمَّ نَجَّانِي اللَّهُ مِنْهُمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَيْلَ أُمِّهِ مِسْعَرَ حَرْبٍ لَوْ كَانَ لَهُ أَحَدٌ فَلَمَّا سَمِعَ ذَلِكَ عَرَفَ أَنَّهُ سَيَرُدُّهُ إِلَيْهِمْ، فَخَرَجَ حَتَّى أَتَى سِيفَ الْبَحْرِ وَيَنْفَلِتُ أَبُو جَنْدَلٍ، فَلَحِقَ بِأَبِي بَصِيرٍ حَتَّى اجْتَمَعَتْ مِنْهُمْ عِصَابَةٌ".

دمسور بن مخرمه رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبی علیه السلام دصلح حديبيه په کال څه دپاسه زرو کسانو سره دده د ملګرونه راووتو، هرکله چه ذي الخليفة ته راورسيدل نوخپلو قربانوته ئې اميلونه واچول اوزخمي ئې کړې اودعمرې احرامونه ئې اوتړل اوحديث ئې تراخره بيان کړو، راوي وائي چه نبی علیه السلام روان شوتردې چه هغه ډېر ته اورسيدو دکوم نه چه سړې کوزيږي اومي ته داخليږي نو دنبی علیه السلام سورلۍ کيښناسته خلقو ورته حل حل اووئيل (داهغه کلمه ده چه داوښ دپاڅولو دپاره استعماليږي) ليکن قصوي اونه پاڅيدله دوه پيرې نبی علیه السلام اوفرمائيل قصوي خو زد اوکړو اوداددې عادت نه دې ليکن دا هغه ذات

(١): صحيح البخاري/الحج ١٠٦ (١٦٩٤)، والشروط ١٦ (٢٧٣٤)، والمغازي ٣٥ (٤١٤٨)، ن الحج ٦٢ (٢٧٧٢)، (تحفة الأشراف: ١١٢٧٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٢٣/٤، ٣٢٧، ٣٢٨) (صحيح)

کېنولي ده چاچه دابرهه هاتي (کوم چه دکعبي دورانولودپاره روان وو)ایسارکړې وو اوبیا ئې اوفرمائیل زمادې قسم وي په هغه ذات باندې دچا په لاس کښې چه زماروح دې که چرې دوی زمانه دکعبي دتعظیم په باره کښې هرقسم مطالبه کوي نوزه به ئې منم اوبیا ئې اوښه پاڅوله اوهغه پاڅیده اونبی عليه السلام دمکې والا دلارې نه یوطرف ته شو په بل طرف ته ئې مخه کړه تردې چه دخدیبیه په اخرکښې چرته چه په یوه کنده کښې لږې اوبه وې هلته ئې قیام اوکړو اودتولونه مخکښې ورته بدیل بن ورقاء الخزاعي راغې اودهغه نه پس عروه بن مسعود سقفي راغی اودنبی عليه السلام سره ئې خبرې شروع کړې دخبرو په دوران کښې به عروه باربار دنبی عليه السلام دږيرې له لاس ورل اومغیره بن شعبه به دنبی عليه السلام سره نزدې ولاړ وو او په لاس کښې ئې توره وه اوخود ئې په سر وو دعروه لاس ئې د تورې په موټې باندې دیکه کړو او وئې وئیل چه دنبی عليه السلام دږيرې نه دې لاس لرې کړه عروه سر پورته کړو اووئې وئیل داڅوك دې خلقو ورته اووئیل مغیره بن شعبه دې عروه اووئیل اې مکاره ایا ماستاپه خیانت کښې منډې نه دې وهلي؟ او ددې خیانت قصه داسې وه چه دجاهلیت په زمانه کښې مغیره دځان سره څه کسان بوتلی وو اوبیا ئې مړه کړل اودهغوی مال ئې لوټ کړو اوبیادنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو او اسلام ئې قبول کړو نبی عليه السلام ورته اوفرمائیل اسلام خودې مونږ قبول کړو لیکن مونږ مال نه اخلو ځکه چه دا په خیانت ګټلې شوې دې، ددې نه پس مسعر تراخره حدیث بیان کړو نبی عليه السلام اوفرمائیل دامصالحت نامه اولیکئ اوداهغه مصالحت نامه وه په کومه کښې چه نبی عليه السلام دافیصله کړې وه چه هغه دالله رسول دې اوبیا ئې ټوله واقعه بیان کړه سهیل ووئیل په قریشوکښې چه څوك تاته داسلام قبلولودپاره راشي نوته به ئې واپس کوي کله چه مصالحت نامه تکمیل شوه نو صحابه کرامو ته ئې اوفرمائیل پاڅئ اوخپلې قربانیانې ذبح کړئ او سرونه اوخرویئ، ددې نه پس دمکې مکرمې یوڅوزنانه وو اسلام قبول کړو

او هجرت ئې اوکړو او مسلمانانوته راغلې الله تعالی ددوی دواپسئ نه منع اوفرمائیله او ددوی مهرونه کوم چه ددوی د مشرکانو خاوندانو په ذمه باندې وو هغه ئې واپس کړل بیانبی عليه السلام مدینې ته راغی او په قریشوکښې یوکس چه په ابوبصیر مشهور وو دنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضرشو قریشو دده دواپس راوستلو د پاره دوه کسان راولیږل نبی عليه السلام ابوبصیر هغوی ته حواله کړو هغوی دواړو دځان سره روان کړو چه ذوالخلیفه ته اورسیدل نوهلته کیناستل اودکجورو په خوراك مشغول شول ابوبصیر په دوی دواړوکښې یوکس ته اووئیل په الله مې دې قسم وي ستاداتوره خودیره ښکلې ده اوتوره ئې دهغه د ملا نه راوویستله اووئې وئیل ماپه دې توره باندې ازمیښت کړې دې ماورته اووئیل ته راوړه چه زه ئې اوګورم نوهغه راته راکړه نوپه هغه خپله توره ئې اووهلو تردې چه یخ شو اودویم کس اوتختیدو او واپس مدینې ته راغې اوپه منډه جومات ته داخل شونبی عليه السلام اوفرمائیل دې پریدلې دې اووئې وئیل زما ملګرې قتل کړې شو اوزه به هم قتل کړې شم نو په دې وخت کښې ابوبصیر راورسیدو اووئې وئیل اې دالله رسوله تاخپل لوظ پوره کړو زه دې

مشرکانوته حواله کړم خوماته الله تعالی دهغه خلقونه نجات راکړو نبی ﷺ اوفرمائیل ته خو جنګ غتو که چرې دده کوم ملګرې وې ابوبصیر چه دا واوریدل نوګمان ئې اوکړو چه شاید نبی ﷺ مې دوباره مشرکانوته حواله کوي نودې اووتو اودسمندرغاړې ته لاړو، څه وخت پس ابوجندل دسهیل ځوی چاچه وصلح کړې وه مسلمان شو اودصلح نه پس نبی ﷺ ته راغې، لیکن نبی ﷺ هغه واپس کړ دکافرانود صلح موافق نوهغه هم دابوبصیرسره یوځائې شوتردې چه هلته دسمندرسره دمسلمانانو یوجماعت (ډله) جمع شوه.

د صلح حدیبیه والا حدیث شرح

په دې باب کښې مصنف د صلح حدیبیه د هغه اوږد روایت ټکړه ذکر کړې ده کومه چه په بخاری کښې مفصلا ذکر شوې ده په دې روایت کښې د اصحاب حدیبیه تعداد د زرو نه لږ شان زیات بیان کړې دې د هغوی په تعداد کښې اختلاف روایات دې کوم چه نزدې تیر شوې دي چه دیارلس سوه وو یا څوارلس پنځلس سوه، په دې روایت کښې دا دی چه رسول الله ﷺ ذوالحلیفه ته رسیدلو سره د هدی تقلید اوکړو او د اشعار او عمرې احرام ئې اوتړلو..... وساق الحدیث مصنف فرمائی چه راوی پوره حدیث بیان کړو (او زه به د هغې اختصار کولو سره بعض ځایونو نه اقتباس کوم) پس په روایت کښې دې چه روان وو تردې چه کله په دې ثنیه باندې راورسیدو چه د هغې نه په اهل مکه باندې انسان راکوزیږی نو هلته رسیدلو سره د هغه اوښه..... کیناستله، چه د هغې ظاهری سبب هیڅ په نظر رانغلو خلق هغه لره د اوچتولو دپاره اوئیل ﴿حل، حل﴾ او خلقو دا هم اووې ﴿خلات القصواء﴾ چه د رسول الله ﷺ دا اوښه نو نن جدا اوسیږی نو هغه اوفرمائیل چه دا خبره نه ده، ږده نه کوی او نه د هغې عادت دې ﴿ ولکن حبسها حابس الفیل ﴾ بلکه خبره دا ده چه دا د تلو نه هغه ذات منع کړې ده چا چه هاتهی منع کړې دې، (د ابرهه د حملې په وخت) یعنی الله پاک ﴿ثم قال : والذی نفسی بیده الخ ﴾ بیا هغه لږ په اوچت اواز سره دا خبره فرمائیلې ده قسم دې په هغه ذات چه د هغه په قبضه کښې زما روح دې چه نن ورځ دا مشرکین چه د کوم څیز هم زما نه تپوس کوی، یعنی شرط لګوی په صلح کښې دننه نو زه به دا شرط منظور کړم، یعنی داسې شرط چه هغې سره د هغه غرض مسجد حرام، بیت الله شریف او د الله پاک د احکاماتو تعظیم مقصود وی..... او که څوک دا شرط لګوی چه هغې سره د مسجد حرام یا بیت الله یا د الله پاک د احکاماتو بې حرمتی کیږی نو هغه به نه شی منظور کولې (د بیت الله او مسجد حرام تعظیم خو به مشرکانو هم کولو او د هغې بې حرمتی به ئې نه کوله، خو د هغوی تعظیم بس د هغوی د مذهب مطابق وو) ﴿ثم زجرها فوثبت ﴾ یعنی د رسول الله ﷺ د دې خبرې کولو نه پس چه کومه اوښې هم اوریدله) هغه ئې پاسوله نو په منډه روانه شوه، تردې چه په تلو تلو کښې د حدیبیه په لرې طرف کښې کوز شو په یوه معمولی شان چینه باندې، په شروع کښې ورته بدیل بن ورقاء خزاعی د اهل مکه نه راغلو، او بیا..... عروه بن مسعود، عروه چه کوم وخت د رسول الله ﷺ سره خبرې کولې نو بار بار ئې د هغه ګیره یعنی ږنه نیوله لکه چه د چاپلوسئ په وخت کولې شی، دې وخت کښې مغیره بن شعبه ﷺ د

رسول الله ﷺ په خوا کښې د محافظ (باډی ګارډ) په طور مسلح ولاړ وو، په لاس کښې ئې توره وه او په سر باندې ئې د اوسپنې ټوپۍ وه، نو کله چه به عروه د رسول الله ﷺ ږيرې مبارکې ته لاس اوږدلو نو مغيره به د هغه توري چه کومه د هغه په لاس کښې وه په دستنه باندې يعنې د قبضې په طرف د هغه لاس ځپې وهل او په ژبې سره به ئې هم وئيل چه د ګيرې نه لاس لرې کړه، عروه ته معلومه هم نه وه چه هغه سره دا څوک ولاړ دې، د مغيره په نعل السيف وهلو سره عروه د هغه طرف ته سر اوچت کړو ﴿ فقال اى غدر او لست اسعى فى غدرتک ﴾ (چه په وهلو سره ورته معلومه شوه چه دا وهلو والا خو ئې خپل وراره دې نو اوس ئې لرِ د خبرو همت پيدا شو) او وې وئيل اې فسادي او غداره! ايا ماته ستا د غدارۍ سزا نه ملاويږي؟ وړاندې راوی د دې قصې وضاحت کوی چه يو ځل مغيره په زمانه جاهليت کښې د خپلو څو ملګرو سره روان وو، په لاره کښې مغيره خپلو ملګرو لره په دهوکې سره قتل کړل او د هغوی مال لوټ کولو سره د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضر شو او په اسلام کښې داخل شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه اسلام خو دې قبول دې خو دا مال د دهوکې دې د دې مونږ ته حاجت نشته ﴿ فذكر الحديث ﴾ مصنف چونکه اختصار کولو او د دې نه روستو چه کوم اصل په حديث کښې ذکر دې د هغې ذکر کول مقصود نه وو نو په دې وجه ئې اووې چه ﴿ وذكر الحديث ﴾ چه راوی نور هم ډير څه ذکر کړل، الغرض مشرکانو رسول الله ﷺ او صحابه کرام مکې ته د داخليدو او د عمرې کولو نه منع کړل، او د صلح خبره ئې د هغه مخې ته کيخودله چه راروان کال تاسو د درې ورځې د عمرې کولو دپاره تشريف راوړلې شئ، او رسول الله ﷺ هم د صلح دپاره تيار شو، او علي رضي الله عنه ته ئې د صلح نامه د ليکلو دپاره اوفرمائيل، او وې فرمائيل چه په شروع کښې داسې اوليکئ ﴿ هذا ما قاضى عليه محمد رسول الله وقص الخبر ﴾ مصنف بيا د دې نه وړاندې ټکړه حذف کړه، الغرض کله چه صلح نامه مرتب کيده او شرطونه ليکلې کيدل نو سهيل بن عمرو پکښې دا هم ليکل اوغوښتل چه ﴿ انه لا ياتيک نا رجل وان كان على دينک الا رددته الينا ﴾ چه د صلح په موده کښې که زمونږ يو سړې ستاسو طرف ته درشي نو اګر چه هغه ستاسو په دين باندې وی د هغه به زمونږ طرف ته واپس کول ضروري وی، په اوږد حديث کښې دی چه په دې شرط باندې صحابه کرامو ته ډيره غصه ورغله کومه چه د مسلمانانو په حق کښې ډيره سخته وه خو د رسول الله ﷺ په وينا باندې صحابه کرام خاموش شو، بيا د فقهاء کرامو ترمينځه د دې شرط په باره کښې اختلاف دې.

چه داسې شرط که د مشرکانو د طرف نه وی نو هغه وخت ئې هم قبلول جائز دی يا نه، په ائمه کرامو کښې د امام احمد په نزد خو اوس هم جائز دی، او د امام شافعي او امام مالک په نزد د کفارو داسې شرط منظور کول په هغه صورت کښې جائز دی چه کله هغه مسلمان (چاته چه واپس کولې شی) هلته يعنې په دار الحرب کښې قبيله او خاندان وی کوم چه د هغه حفاظت کولې شی.... ګينې جائز نه دی، او د احنافو په نزد د دې شرط منظور کول اوس جائز نه دی، منسوخ دی د رسول الله ﷺ د دې روايت په وجه باندې ﴿انا برئ من مسلم

بين مشركين ﴾.... فلما فرغ من قضية الكتاب... چه کله صلح نامه تیاره شوه او د احصار عن العمرة تحقق اوشو نو رسول اللهﷺ خپلو اصحابو ته اوفرمائیل چه کوم هدایا تاسو سره دی هغه ذبح کړئ او حلق کولو سره حلال شئ ﴿ ثم جاء نسوة مومنات مهاجرات ﴾ په دې صلح کښې چه کوم شرطونه مقرر شوې وو په هغې کښې چونکه یو شرط دا هم وو کوم چه اوس پورته تیر شو چه که ددې ځائې نه یو سړې ستاسو طرف ته لاړ شی نو هغه به واپس کوئ اګر چه اسلام کښې داخل شوې وی نو د دې شرط متعلق راوی وائی چه د صلح نامې د مرتب کیدو نه پس څه زنانه د مسلمانیدو نه پس د مکې نه هجرت کولو سره دې طرف ته راغلې نواوس دلته دا مسئله وه چه دا زنانه دې واپس کړې شی یا دې نه کړې شی په دې موقع باندې د دې آیت کریمه نزول اوشو ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَامْتَحِنُوهُنَّ اللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَانِهِنَّ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَاتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى الْكُفَّارِ ﴾ راوی وائی چه الله پاک په دې آیت کریمه کښې مسلمانان د دې خبرې نه منع کړل چه هغه دا مهاجرات د کفارو طرف ته واپس کړی او دغه شان ورته د دې خبرې حکم اوکړې شو چه په مهاجراتو کښې چه کومې د خاوندانو والا دی د هغوی مهرونه دې د هغوی اولنو خاوندانو ته واپس کړې شی اوس دا چه څوک به ئې واپس کوی که دې مهاجرې دلته د یو مسلمان سره واده اوکړو نو بیا خو دې د هغه مهاجرې دا دویم خاوند هغه مهر واپس کړی، او که واده ته خبره نه وی رسیدلې نو بیا دې د هغې د مهر په اندازه مال د بیت المال نه د هغې اولنی خاوند ته ورکړی خو دا د مهر د رد کولو مسئله عام نه ده، هم د دې صلح حدیبیه سره خاص ده. کما فی بیان القران.

د دې آیت کریمه د نزول په سلسله کښې د علماء کرامو دوه اقوال دی، یو دا چه دا آیت کریمه ناسخ دې د صلح په شرطونو کښې د دې خاص جزء په حق کښې ګویا په صلح کښې چه کوم شرط منظور کړې شو هغه د رد الی الکفار په باره کښې عام وو د رجال او نساء دواړو په حق کښې، خو دې آیت کریمه دا شرط د زنانو په حق کښې منسوخ کړو، او د سړو په حق کښې ئې باقی اوساتلو، پس مهاجر سړو لره کوم چه د صلح نه پس د مکې نه مدینې منورې ته راغلل هغوی ته رسول اللهﷺ د واپس تلو حکم اوکړو لکه چه وړاندې خپله په روایت کښې راروان دی او د بعض علماء کرامو رائې دا ده چه دا آیت کریمه ناسخ نه دې بلکه دا مفسر دې او هغه د راتلو سره دا وضاحت کړې دې چه زنانه په دې شرط کښې داخلې نه دی لهذا هغوی دې واپس نه کړې شی.

دلته دوه څیزونه د تنبیه قابل دی، د یو تعلق زمونږ د کتاب د موجوده نسخې سره دې هغه دا چه زمونږ په دې نسخه کښې داسې دی چه ﴿ ثم جاء نسوة مومنات مهاجرات الآية ﴾ هغه دا چه دا جمله د ﴿ ثم ﴾ نه تر د مهاجرات پورې یا خو د راوی الفاظ دی او د هغه قول دې نو په دې باندې د الاية لیکلو مطلب څه دې؟ الاية خو هلته لیکلې شی چرته چه آیت کریمه شروع کولو سره د باقی اختصار اوکړې شی دلته خو لا د آیت لفظ شروع شوې هم نه دې، لهذا داسې به وئیلې شی چه دلته د یو راوی نه یا کاتب نه په عبارت کښې سقوط

شوې دي، لهذا پوره عبارت داسې وو ﴿ثُمَّ جَاءَ نِسْوَةٌ مُؤْمِنَاتٌ مُهَاجِرَاتٌ فانزال الله يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ﴾ الاية په اصل کښې د مهاجرات لفظ دلته په عبارت کښې دوه ځايه راغلې وو يو د راوی په کلام کښې او بل په آيت کښې نو د کاتب نظر د اول ځائې نه دويم ځائې ته منتقل شو او هغه په اول ځائې کښې الاية اوليکلو.

بل څيز قابل تنبيه دي چه په دې آيت کريمه کښې وړاندې دا دی ﴿ثم رجع الى المدينة﴾ لهذا د دې روايت د سياق تقاضه دا ده چه د دې مهاجرو زنانو راتلل د رسول اللهﷺ مدينې منورې ته د رسيدو نه مخکښې په حديبيه کښې يا د مدينې په لاره کښې شوې وو، حال دا چه په واقع کښې داسې نه ده، بلکه د دې نساء مهاجراتو امد د رسول اللهﷺ مدينې منورې ته د رسيدو نه څو ورځې پس شوې وو. كذا فى البذل عن الحافظ، والله تعالى اعلم

﴿فَجَاءَهُ أَبُو بَصِيرٍ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ - يَعْنِي فَأَرْسَلُوا فِي طَلَبِهِ - فَدَفَعَهُ إِلَى الرَّجُلَيْنِ﴾ يعنى د صلح حديبيه نه څو ورځې پس ابو بصيرؓ هجرت کولو سره مدينې منورې ته راغلو، د هغه د راتلو سره د کفارو د طرف نه دوه کسان د هغه د واپس بوتلو دپاره راغلل د هغه دوه کسانو نومونه په دې روايت کښې خو نه دی ذکر شوی، په بذل کښې دی چه د يو نوم خنيس بن جابر دې او بل سړې د هغه مولى يعنى ازاد کړې شوې غلام وو چه د هغه نوم کوثر وو، رسول اللهﷺ ابو بصير دې دواړو ته حواله کړو (هم دا شرط اصل کښې ډير سخت او په مسلمانانو باندې ګران وو چه هغې سره هغوی ډير غصه وو، خو رسول اللهﷺ کوم چه د خپل امت په حق کښې د مور او پلار نه هم زيات کريم او مهربانه دې د اسلام او مسلمانانو د عمومى او اجتماعى مصلحتونو ته کتلو سره دا شرط منظور کړې وو) دې دواړو سړو لا ابوبصيرؓ د مدينې منورې نه بهر ذو الحليفه ته رسولې وو، چه د څه خوراک څکاک په نيت سره هلته کوز شو، ابو بصيرؓ د خنيس په لاس کښې چه کومه توره وه د هغې په ليدو باندې اووې چه والله ستا دا توره خو ډيره غوره ده (کم عقل خلق په خپل تعريف باندې خوشحاليږی) پس هغه په دې اوريدلو باندې فورا هغه د تيکى نه راويستله او وې وئيل چه زما دا توره ازميښتلې شوې ده، ابوبصير ورته اووې چه ته ئې ماته د کتلو دپاره راکولې شې ﴿فامكنه منه﴾ پس خنيس ابوبصير ته په هغه توره باندې قدرت ورکړو، ابوبصير دا موقع غنيمت اوګڼله او هغه توره ئې هم په هغه باندې استعمال کړه تردې چه هغه مړ شو، په دې صورت حال کتلو سره د خنيس ملګرې يعنى کوثر د مدينې طرف ته اوتختيدو او په منډه منډه مسجد نبوى ته اورسيدو، رسول اللهﷺ هغه لره لرې په راتلو سره اوفرمائيل ﴿لَقَدْ رَأَى هَذَا ذُعْرًا﴾ چه دې سړی څه ويره ليدلې ده، هغه راغلو او رسول اللهﷺ ته ئې بغير د تمهيد ترلو نه په ويره ويره اووې چه زما ملګرې قتل کړې شو او زه هم قتل کيدونکې يم، په دې کښې ابو بصير هم هلته راغلو، هغه رسول اللهﷺ ته عرض اوکړو چه الله پاک ستاسو لوظ خو پوره کړو او اوس تاسو ګويا برى الذمه شوئ ما لره د هغوی طرف ته په واپس کولو باندې، بيا الله پاک ماته په خپل فضل سره د مشرکانو نه خلاصې راکړو (د هغه مقصد دا وو چه رسول اللهﷺ ماته اوس په مدينه کښې د پاتې کيدو اجازت راکړی خو

چونکه رسول الله ﷺ دا د صلح خلاف ګڼرله او د هغه دا رائې نه وه هم په دې وجه ئې د هغه په خبره اوریدو اوفرمائیل ﴿ وَيْلَ أُمِّهِ مِسْعَرَ حَرْبٍ لَوْ كَانَ لَهُ أَحَدٌ ﴾ (مسعر بضم الميم اسم فاعل هم کیدې شی او بکسر الميم اسم اله هم کیدې شی) رسول الله ﷺ د ابو بصیر رضی الله عنه په باره کښې فرمائی چه د هغه دا خبره اور ګرمونکې ده، یعنی که ابو بصیر واپس نه کړې شو نو مشرکانو کښې به اشتعال پیدا شی، دا خبره خو د هغه په صلح او مصلحت باندې بناء وه، او بله خبره د ابوبصیر سره د همدردئ په طور ئې دا جمله ارشاد اوفرمائیله: ﴿ لو كان له احد ﴾ ارمان چه د ابو بصیر رضی الله عنه دې وخت کښې څوک ناصر او مددګار وې، راوی وائی چه کله ابوبصیر د رسول الله ﷺ دا جمله واوریده نو هغه پوهه شو چه رسول الله ﷺ به ما واپس کوی، پس ابو بصیر رضی الله عنه د مدینې نه راوتلو او د راوتلو نه پس د سمندر په ساحل باندې اوسیدلو ﴿ وینفلت ابو جندل ﴾ د ابو بصیر نه پس ابو جندل رضی الله عنه یو صحابی اسلام قبلولو سره د اویا شهسوارانو سره د مکې نه دې طرف ته راغلل او مدینې ته د راتلو په ځائې د ابو بصیر سره دیره شو، هم دغه شان وخت په وخت خلقو د مکې نه اسلام قبلولو او هجرت کولو سره دلته د سمندر په غاړه باندې دیره کیدل او راوی وائی چه د هغوی یو برابر درې سوو ته اورسیدو، او دا خلق مدینې ته په دې وجه نه راتلل چه که هلته لاړ شو نو د صلح مطابق به واپس کولې شو دا ساحلی علاقه چرته چه دا خلق پاتې کیدل د کفار قریش د قافلو د تیریدو لاره وه، چه کله هغوی د مکې نه شام او د شام نه مکې ته د تجارت دپاره تلل، دې خلقو سره خو ظاهره ده چه د خوراک څکاک دپاره هیڅ هم نه وو، او د مسلمانانو دپاره د کافر حربی مال حلال دې په دې وجه به هغوی دا قافلې لوټ کولې، چه کله دا صورت حال پیدا شو نو قریش مکه رسول الله ﷺ ته د الله پاک او خپلولئ واسطه ورکړه چه تاسو دا هلک خپل طرف ته راوبلئ او د بیا دپاره چه څوک هم د دې ځائې نه مدینې ته ځی هغه به په امن وامان سره هلته اوسیږی هغه دې واپس نه کړې شی، پس رسول الله ﷺ ابو بصیر رضی الله عنه پسې سړې اولیږلو چه تاسو ټول دلته راشئ، پس هغوی ټول مدینې منورې ته راغلل، په یو روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ ابوبصیر رضی الله عنه ته خپل خط اولیږلو، قاصد چه کله هغه ته خپل خط یوړلو نو هغه په خپل اخری وخت کښې وو، لیکن چه کله هغه وفات کیدو نو د رسول الله ﷺ خط د هغه په لاس کښې وو، ابو جندل رضی الله عنه ابو بصیر رضی الله عنه لره هم هلته دفن کړو او د هغه قبر سره نزدې ئې یو مسجد هم جوړ کړو. (بذل)

دا حدیث طویل مفصلا په بخاری کښې په کتاب الشروط، باب الشروط فی الجهاد کښې ذکر شوې دې. والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی مختصرا ومطولا، قاله المنذری.

[۲۷۶۶](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ إِسْحَاقَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ، وَمَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ، أنهم اصطلحوا على وضع الحرب عشر سنين، يأمن فيهن الناس وعلى أن بيننا عيبة مكفوفة وأنه لا إسلال ولا إغلال.

(1): تفرد به أبو داود، وانظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۲۵۳) (حسن)

دمسور بن مخرمه رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه قریشو په دې خبره مصالحت کړي ووچه لس کاله به جنګ نه وی خلق به په دې موده کښې په امن وي اودتولوزرونه به یوبل ته پاك وي اونه به پټه غلاوي اونه ښکاره.

یعنی په حدیبیه کښې چه کومه صلح شوې وه هغه د لسو کالو دپاره وه چه په راتلونکو لسو کالو دپاره به ټول خلق مسلمانان او مشرکان په امن او سکون سره اوسیږی، او داسې شوې وه چه خلق به د دې صلح په زمانه کښې د کپړو د یو محفوظ پنډوکی په شان اوسیږی، شارحین وائی چه دا کنایه ده د قلوب صافیه نه، او د دویمې جملې په مطلب کښې یو قول دې ﴿ اسلال ﴾ نه مراد ښکاره حمله کول (الغارة الشهيرة) او د ﴿ اغلال ﴾ معنی السرقة الخفيفة، خفیه طورباندې غلا اویو تفسیر داسلال سرقه ده، او د اغلال په خیانت سره کړې شوې دې او یو تفسیر د اسلال، سل السيوف او د اغلال لبس الدروع سره کړې شوې دې.

[۲۷٦٧] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، عَنْ حَسَّانَ بْنِ عَطِيَّةَ، قَالَ: مَالَ مَكْحُولٌ، وَابْنُ أَبِي زَكَرِيَّاءَ، إِلَى خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ وَمِلْتُ مَعَهُمَا، فَحَدَّثَنَا عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، قَالَ: قَالَ جُبَيْرٌ انْطَلِقْ بِنَا إِلَى ذِي مِخْبَرٍ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَيْنَاهُ فَسَأَلَهُ جُبَيْرٌ عَنِ الْهُدْنَةِ فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "سَتُصَالِحُونَ الرُّومَ صُلْحًا آمِنًا وَتَغْزُونَ أَنْتُمْ وَهُمْ عَدُوًّا مِنْ وَرَائِكُمْ".

د حسان بن عطیه نه روایت دي فرمائی چه مکحول او ابن ابی زکریا دخالدبن معدان طرف ته روان شول اوزه هم ورسره روان شوم نوموړته ئي دجبیر بن نفیر نه حدیث بیان کړوچه جبیر ووئیل: ذی مخبر صحابی ته مې بوځئ نوچه موږ ورغلو، نوجبیر ترې تپوس وکړو دصلح متعلق هغه ووئیل چه دنبی علیه السلام نه مې اوریدلی دی چه فرمائیلي ئې وو، زرده چه تاسوبه درومیانوسره داسې صلح وکړئ چه امن به وي او اندیښنې به ختي شي اوبیابه تاسو اوهغوی یوځائې شئ اودبل دشمن سره به جنګ وکړئ.

شرح الحديث

حسان بن عطیه روایت کوی چه یو ځل مکحول شامی او ابن ابی زکریا، د خالد بن معدان خواله روان وو نو زه هم د هغه سره شوم، چه کله هلته اورسیدو نو هغه موږ ته د جبیر دا واقعه رانقل کړه چه یو ځل جبیر موږ ته اووې (یعنی خالد) چه موږ سره ذی مخبر صحابی ته لاړ شئ، پس موږ هغه ته لاړو، د رسیدو نه پس جبیر د هغه صحابی ذی مخبر نه تپوس اوکړو د هدنة په باره کښې (په ظاهره کښې جبیر بن نفیر ته به د چا نه خبر ملاؤ شوې وی چه دا ذی مخبر صحابی د هدنة په باره کښې یو مرفوع حدیث بیانوی د دې دپاره د هغه خواته د براه راست اوریدلو دپاره لاړو) په دې باندې ذی مخبر رضی الله عنه اوفرمائیل چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دی هغه اوفرمائیل ﴿ سَتُصَالِحُونَ الرُّومَ صُلْحًا آمِنًا وَتَغْزُونَ أَنْتُمْ وَهُمْ عَدُوًّا مِنْ وَرَائِكُمْ ﴾ رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته خطاب کولو سره اوفرمائیل چه تاسو یعنی

(۱): سنن ابن ماجه/الفتن ۳۵ (٤٠٨٩)، (تحفة الأشراف: ۳۵٤۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٩١، ٥/٤٠٩) ویأتي عند المؤلف في الملاحم برقم (٤٢٩٣) (صحيح)

مسلمانان! به په اخر زمانه کښې د روميانو سره صلح کوئ ډير د امن والا صلح، بيا به تاسو هغوی سره يوځائې کيدو باندې د دشمن سره جنګ کوئ.

دا حديث بعينه هم په دې سند او متن سره په دې باندې زيادت سره په کتاب الملاحم کښې راروان دې، چه د هغې په اخر کښې دا هم دی چه کله مسلمانان او نصاری فتح کولو سره لوټ مار کوی نو په واپسئ کښې به يو نصرانی صليب لره اوچتولو سره وائی چه ﴿ غلب الصليب ﴾ په دې باندې به مسلمانانو ته غصه راشی او زبردست جنګ به شروع شی چه د هغې نوم ﴿ الملحمة الکبری ﴾ دې.

مصنف دا حديث په باب فی صلح العدو کښې جواز صلح مع العدو باندې د دليل په حيثيت سره راوړې دې، په دې باندې طالب علمانه نقد دا کيدې شی چه دا حديث د فتن د رواياتو نه دې، او د اخبار ما سيقع د قبيل نه دې، ګويا د رسول اللهﷺ د طرف نه يوه پيشن ګوئی شوې ده خو داسې واقعات کوم چه په احاديثو کښې ذکر شوې دی د کومو د وقوع چه رسول اللهﷺ خبرورکړې دې، هغه د جواز يا عدم جواز دليل نه شی جوړولې کيدې، والله تعالی اعلم. د دې جواب دا کيدې شی چه دا خو صحيح ده چه اخبار د عما سيقع والا رواياتو نه په جواز باندې استدلال صحيح نه دی، خو دلته د دې روايت نه استدلال داسې صحيح دې چه رسول اللهﷺ د دې خبرې خبر ورکوی چه په اخر زمانه کښې څه وخت دا خبره راپيښه شی چه د هغه وخت ټول مسلمانان به د نصاری سره مصالحت کوی او په بل حديث کښې ارشاد دې چه د دې امت اتفاق په ناحقه خبره باندې نه کيږی، په دې حيثيت سره دا روايت په جواز باندې دال کيدې شی هسې د نفس مصالحت جواز خو په آيت کريمه او نورو احاديثو نه ثابت دې. والحديث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْعَدُوِّ يُؤْتَى عَلَى غِرَّةٍ وَيُتَشَبَّهُ بِهِمْ

د دشمن سره د چل کولو نه پس د جنګ کولو بيان

يعنی دشمن لره په شک کښې اچولو سره هغوی لره د غفلت په حالت کښې ليدلو سره ناڅاپه حمله کول. مقصود د دې جواز بيانول دی، ځکه چه دا د عذر د قبيلې نه نه دې بلکه الحرب خدعة د قبيل نه دې.

[٢٧٦٨](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ لِكَعْبِ بْنِ الْأَشْرَفِ فَإِنَّهُ قَدْ آذَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ، فَقَامَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ فَقَالَ: أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَتُحِبُّ أَنْ أَقْتُلَهُ قَالَ: نَعَمْ قَالَ: فَأْذَنْ لِي أَنْ أَقُولَ شَيْئًا قَالَ: نَعَمْ قُلْ، فَأَتَاهُ فَقَالَ: إِنَّ هَذَا الرَّجُلَ قَدْ سَأَلَنَا الصَّدَقَةَ وَقَدْ عَنَّانَا قَالَ: وَأَيْضًا لَتَمَلُّنَّهُ قَالَ: اتَّبَعْنَاهُ فَنَحْنُ نَكْرَهُ أَنْ نَدَعَهُ حَتَّى نَنْظُرَ إِلَى أَيِّ شَيْءٍ يَصِيرُ أَمْرُهُ، وَقَدْ أَرَدْنَا أَنْ تُسْلِفَنَا وَسْقًا أَوْ وَسْقَيْنِ قَالَ كَعْبٌ: أَيَّ شَيْءٍ تَرْهَنُونِي؟ قَالَ: وَمَا تُرِيدُ مِنَّا؟ قَالَ: نِسَاءَكُمْ، قَالُوا: سُبْحَانَ اللَّهِ أَنْتَ أَجْمَلُ الْعَرَبِ! نَرْهَنُكَ نِسَاءَنَا فَيَكُونُ ذَلِكَ عَارًا عَلَيْنَا قَالَ: فَتَرْهَنُونِي أَوْلَادَكُمْ، قَالُوا: سُبْحَانَ اللَّهِ يُسَبُّ ابْنُ أَحَدِنَا فَيُقَالُ رُهِنْتَ بِوَسْقٍ أَوْ وَسْقَيْنِ قَالُوا: نَرْهَنُكَ اللَّأْمَةَ يُرِيدُ السِّلَاحَ قَالَ: نَعَمْ فَلَمَّا أَتَاهُ نَادَاهُ، فَخَرَجَ إِلَيْهِ وَهُوَ

(١): صحيح البخاري/الرهن ٣ (٢٥١٠)، والجهاد ١٥٨ (٣٠٣١)، والمغازي ١٥ (٤٠٣٧)، صحيح مسلم/الجهاد ٤٢ (١٨٠١)، (تحفة الأشراف: ٢٥٢٤)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري/(٨٦٤١) (صحيح)

مُتَطَيِّبٌ يَنْضَحُ رَأْسُهُ، فَلَمَّا أَنْ جَلَسَ إِلَيْهِ وَقَدْ كَانَ جَاءَ مَعَهُ بِنَفَرٍ ثَلَاثَةٍ أَوْ أَرْبَعَةٍ فَذَكَرُوا لَهُ، قَالَ: عِنْدِي فُلَانَةُ وَهِيَ أَعْطَرُ نِسَاءِ النَّاسِ قَالَ: تَأْذَنُ لِي فَأَشُمَّ قَالَ: نَعَمْ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِي رَأْسِهِ فَشَمَّهُ قَالَ: أَعُودُ؟ قَالَ: نَعَمْ، فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِي رَأْسِهِ فَلَمَّا اسْتَمْكَنَ مِنْهُ قَالَ: دُونَكُمْ فَضَرَبُوهُ حَتَّى قَتَلُوهُ".

دجابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام اوفرمائیل چه څوك به كعب بن اشرف مړ كړي يقيناهغه الله او رسول ته تکلیف رسولې دې؟ نومحمد بن مسلمه پاڅيدو او اوئي وئيل چه زه اې دالله رسوله، اياته غواړې چه قتل ئې كړم؟نبی علیه السلام اوفرمائيل هوهغه اووئيل چه اجازت راته وكړه چه څه چل جوړ كړم نو ورته ورغی او ورته ئې اووئيل چه دا سړې يعنی محمدزمونږنه صدقات غواړی او مونږد مشكلاتو سره مخامخ كوي هغه ووئيل تاسوبه نورهم پريشانه شي، محمد بن مسلمه ووئيل مونږئي تابع داري كړي ده اوس ي هومره نشو پريښودلې ترڅوچه مونږته دده عاقبت نه وی معلوم شوي، مونږدا اراده كړې وه چه ته مونږته يو وسق يادوه وسقه خوراك قرض را كړې، كعب ووئيل څه شي به راسره ګانړه كړئ؟ محمد بن مسلمه ورته ووئيل ستاڅه خوښ دي؟ كعب ووئيل خپلې ښځې راسره ګانړه كړئ دوی ورته ووئيل سبحان الله ته خوپه عربوكښې ډير ښكلې سړې ئې اوداسې كچه خبره كوي كه چرې مونږ درسره ښځې ګانړه كړونودا خوبه زمونږ دپاره پيغور وي اوشرم وي كعب ووئيل نوبيا راسره خپل اولاد ګانړه كړئ محمد بن مسلمه ووئيل چه اولاد موكله لوي شي نوخلق به ورته پيغور وركوي چه ته خوهغه سړې ئې چه په يووسق باندې ګانړه شوي وي مسلمانانو ورته ووئيل چه خپله اسلحه به درسره ګانړه كړوكعب ووئيل تيك ده، دوی ورغلل او آوازئي ورته وكړوكعب چه راغې نوخوشبوئي لګولې وه اودسر نه ئې اوبه څڅيدلې نومحمد بن مسلمه ورسره كيناستو او درې يا څلور كسان ئې هم دځان سره بوتلې وو، دوی ورته دده د خوشبو او اوبوڅڅيدوخبره ذكر كړه نوهغه ووئيل چه زماسره فلانې ښځه ده اوهغه په ټولوښځوكښې ډيره خوشبوداره ګرځي محمدبن مسلمه ورته ووئيل كه اجازت وی نوسربه دې بوئی كړم؟هغه ووئيل تيك ده نومحمد بن مسلمه دهغه په سرلاس كيښودو، بيائې دوباره داسې وكړل چه كله ئې قابوكړونو خپلوملګروته ئې اشاره وكړه چه څه ته انتظاركوئ چنانچه دوی كعب بن اشرف ووهلو تردې چه مړشو.

د كعب بن اشرف يهودی د قتل قصه

په دې باب كښې مصنف د كعب بن اشرف د قتل واقعه بيان كړې ده، كعب بن اشرف يو مشهور يهودی وو او شاعر قسم سړې وو، خو لوړ دنګ او د وجود نه برابر، ډير ضررى قسم انسان وو، د رسول الله ﷺ بدی به ئې بيانوله، او د رسول الله ﷺ خلاف به ئې كفار قريش راپاسول، خپله په دې حديث رسول الله ﷺ فرمائی ﴿ فَإِنَّهُ قَدْ آذَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ ﴾ بهر حال د مضمون روايت داسې دې چه يوه ورځ رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه په تاسو كښې څوك سړې شته چه كعب بن اشرف قتل كړی؟ او داسې اراده اوكړی؟ په دې باندې محمد بن مسلمه رضی الله عنه اودريدو او عرض ئې اوكړو يا رسول الله ﷺ زه دا كار كولې شم، ايا تاسو هم دا غواړئ چه هغه دې قتل كړې شی؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل او! هغه عرض اوكړو چه

که داسې وی نو بیا دې ماته د څه دروغو رشتیا وئیلو اجازت راکړې شی (یعنی هغه کافر لره په دهوکه کښې د اچولو دپاره) رسول الله ﷺ اوفرمائیل او اجازت دې! د دې اجازت ملاویدو نه پس هغه فورا د دې کار د کولو دپاره اودریدو، او کعب بن اشرف ته لاړو، (هغه سره د دې خائې د خبرې کولو دپاره) پس هغه ته لاړو او وې وئیل ﴿ إِنَّ هَذَا الرَّجُلَ قَدْ سَأَلَنَا الصَّدَقَةَ وَقَدْ عَنَّانَا ﴾ چه ګوره روره دا سړې زمونږ نه (د رسول الله ﷺ طرف ته اشاره ده) نه زکاتونه غواړی او مونږ ئې په یو مشقت کښې اچولې یو، د ﴿ عنا ﴾ واحد مذکر غائب صیغه ده او نا ضمیر منصوب دې دا د عنا نه اخستلې شوې دې په معنی د مشقت، هغه ئې په اوریدلو سره اووې چه اوس خو به تاسو لا د دې نه زیات ستړی کیږئ (لا تاسو لیدلې څه دی؟) په دې باندې ورته هغه اووې چه روره داسې ده چه اوس خو مونږ په غلطئ سره د هغه تابعداری شروع کړې ده او مونږ دا مناسب نه ګنړو چه هغه یکدم پریږدو ترڅو پورې مو چه دا نه وی لیدلې چه د دې سړی انجام به څه وی (ترقی کوی یا زوال ته رسیږی) د دې نه روستو ورته محمد بن مسلمه اووې چه دې وخت کښې خو زه تاته د یو خاص غرض دپاره راغلې یم چه ته مونږ ته یو یا دوه وسقه غله د قرض په طور راکړه (د ضرورت په وخت خپل خلق په کار راځی او هم د هغوی طرف ته رجوع کولې شی) په دې باندې ورته هغه اووې چه څه به را سره ګانړه کوې، هغه ورته اووې چه ته څه غواړې، هغه ورته اووې چه خپلې زنانه راسره ګانړه کړئ، هغه ورته اووې سبحان الله! تا خو ډیر عجیبه خبره اوکړه ګوره ته خو ډیر ښکلې او خائسته سړې ئې، بیا مونږ خپلې زنانه تا سره څنګه ګانړه کړو، دا څیز خو به زمونږ دپاره د شرم باعث شی، هغه ورته اووې ښه خپل اولاد راسره ګانړه کړه، هغه ورته اوفرمائیل چه زمونږ د اولاد په حق کښې به دا څیز عیب وی خلق به هغوی سره د جهګړې په وخت هغوی ته پیغور ورکوی چه ته هم هغه سړې ئې چه د یو وسق غلې په عوض کښې ګانړې کړې شوې وې، بیا ورته محمد بن مسلمه اوفرمائیل چه مونږ به تا سره خپله وسله ګانړه کیدو، هغه ورته اووې صحیح ده، دلته په روایت کښې اختصار دې، په ظاهره کښې دلته داسې دی چه خپل مینځ کښې ئې دا خبره اوشوه چه مونږ به د دې وسلې سره تاته د شپې په وخت راځو، پس د شپې په معین وخت کښې محمد بن مسلمه د هغه کور ته راغلو او هغه ته ئې اواز اوکړو، هغه د پورته نه راکوز شو، په بعض روایتونو کښې دی چه د هغه ښځې هغه وخت هغه ته اووې چه ماته خو د دې سړی د اواز نه د مرګ بوئی راځی، خو هغه ئې تردید اوکړو، دې وخت کښې دا کعب بن اشرف په قسم قسم خوشبویانو سره معطر وو او د خپلې ښځې د خوانه راغلې وو، چه کله لاندې راکوز شو او د هغې په خوا کښې کیناستلو نو چونکه محمد بن مسلمه د ځان سره درې څلور ملګری هم راوستلې وو نو هغوی ورته د دې خوشبوئ تذکره اوکړه نو هغه اووې

﴿عندی فلانة وهي اعطر نساء الناس ﴾ (چه زما نه به خوشبویانې ولې نه ځی) او زما په کور کښې داسې زنانه ده چه د هغې د ټولو زنانو نه زیات عطر خوښ دی، نو محمد بن مسلمه رضی الله عنه ورته اوفرمائیل اجازت دې؟ ستاسو د سر ویښته بوئی کولې شم؟ هغه ورته

اووې او اجازت دې، هغه د هغه د سر په ويښتو کښې لاس داخل کړل او د هغه سر ئې ښه بوئی کړو، بيو ځل د بوئی کولو نه پس ئې دوباره اووې چه د بوئی کولو اجازت دې؟ هغه اووې او ولې نه! دې ځل بيا هغه د هغه د سر په ويښتو کښې لاسونه داخل کړل او دې ځل ئې هغه ويښته مضبوط په خپلو لاسونو کښې اونيول او خپلو ملګرو ته ئې اشاره اوکړه چه ﴿ دونکم ﴾ واخلئ اونيسئ دې! پس هغوی د هغه سټ پرې کړو.

دا واقعه د ربيع الاول ۳ هجری ده، د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت بالکل واضح دې، دا روايت د څه زيادت سره په صحيح بخاری کښې په کتاب المغازی کښې په باب قتل کعب بن الاشرف کښې ذکر شوې دې، د بخاری په روايت کښې دا هم دی چه د محمد بن مسلمه سره د هغه خواته راتلونکو کښې د کعب بن اشرف رضاعی رور ابو نائله هم وو، چه کله کعب لاندې راکوزيدو نو د هغه ښځې اووې ﴿ أَيْنَ تَخْرُجُ هَذِهِ السَّاعَةَ فَقَالَ إِنَّمَا هُوَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ وَأَخِي أَبُو نَائِلَةَ – وَقَالَ غَيْرُ عَمْرٍو قَالَتْ أَسْمَعُ صَوْتًا كَأَنَّهُ يَقْطُرُ مِنْهُ الدَّمُ ﴾ په فتح البارى کښې د بعض رواياتو نه نقل کړې شوې دى چه کله هغه لاندې کوزيدلو ﴿ فتعلقت به امرأته وقالت مكانك فوالله أني لأرى حمرة الدم مع الصوت ﴾

دا د کعب د قتل واقعه په کتاب الخراج کښې په باب کيف كان اخراج اليهود من المدينة کښې هم راروان دې، او د هغه طرف ته رجوع به هم کولې شی او په دې کښې داسې دی ﴿امر النبی صلی الله عليه وسلم سعد بن معاذ ان يبعث رهطا يقتلونه فبعث محمد بن مسلمة ﴾ په دې دواړو روايتونو کښې چه کوم اختلاف دې د هغې توجيه په روستو راتلونکى باب کښې حضرت سهارنپوری په بذل المجهود کښې ذکر فرمائيلې دې چه د هغې خلاصه دا ده چه په شروع کښې خو هم دغه شان شوې وه کومه چه دلته اولنی ځائې کښې مذکور دې بيا رسول اللهﷺ سعد بن معاذ رضی الله عنه ته هم اوفرمائيل چه ته هم څو کسان د دې کار دپاره تيار کړئ، او محمد بن مسلمه ته به ئې هم فرمائيلې وی چه په دې کښې زياته تندی مه کوه او د سعد بن معاذ په مشورې سره کار کوه، پس سيدنا سعد رضی الله عنه د محمد بن مسلمه سره څو کسان اوليږل.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری.

[۲۷٦۹] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُزَابَةَ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ يَعْنِي ابْنَ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا أَسْبَاطٌ الْهَمْدَانِيُّ، عَنِ السُّدِّيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْإِيمَانُ قَيَّدَ الْفَتْكَ لَا يَفْتِكُ مُؤْمِنٌ".

ابوهريره رضی الله عنه د نبی عليه السلام نه روايت نقل کوې چه فرمائيل ئې وو، ايمان د فتك خاتمه کړې ده څوك چه مومن وې فتك نه کوې (فتك په غفلت کښې څوك وژلو ته وئيلې شي.

د ﴿ فتلك ﴾ معنی ﴿ القتل غدرا فی حال غفلة العدو ﴾ يعنی ناڅاپه د يو دشمن په خلاف معاهده حمله کول، دا د مومن شان نه دې، او نه شرعا جائز دې، باب خو روان دې د قتل الکافر غرة او د هغې د ترغيب او دا حديث په ظاهره کښې د ترجمة الباب سره مطابقت نه لرى، خو د مصنف دا په دې باب کښې راوړل د ترجمة الباب د ثابتولو دپاره نه دی، بلکه

¹: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۳٦۱۵)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحج ۷٦ (۳۲۷۸) (صحيح)

تنبیها دی، د دې خبرې د پوهې دپاره چه قتل غرة بیل څیز دې، او ﴿ فتک ﴾ یعنی قتل غدرا دا بل څیز دې، اول جائز بلکه مندوب دې، او ثانی ممنوع، په تراجم بخاری کښې هم یو څیز راځی، یعنی ذکر الاضداد، هم دغه شان دلته هم ده.

بَابٌ فِي التَّكْبِيرِ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ فِي الْمَسِيرِ

په هرلوړ ځائي باندې د ختلو په وخت کښې د تکبیر وئیلو بیان

[۲۷۷۰] (¹) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَفَلَ مِنْ غَزْوٍ أَوْ حَجٍّ أَوْ عُمْرَةٍ يُكَبِّرُ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ مِنَ الْأَرْضِ ثَلَاثَ تَكْبِيرَاتٍ وَيَقُولُ: "لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَاجِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ، صَدَقَ اللَّهُ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ".

دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام کله دجهاد نه یاد حج نه یا د عمرې نه واپس راتلو نو په هرلوړ ځائي باندې دختلو په وخت به ئې درې ځله تکبیر وئیلو اوداذکرشوي دعابه ئې هم وئیله یعنی دالله نه علاوه بل څوک حقدار دبندګئ نشته او دهغه څوک شریک نشته هم دهغه بادشاهي ده اود تعریف مستحق هم هغه د هغه په هر څه باندې قادر دې اومونږ دهغه طرف ته واپس تلونکی یو توبه کونکي، عبادت ګذار، اوسجده کونکي یو، دخپل معبود تعریف بیانونکی یو الله تعالی خپله وعده رښتونکی اوښودله اودخپل بنده مدد ئې اوکړو اوهغه فوجونوته شکست ورکړو چه یودې.

ترجمه او حدیث الباب دواړه واضح دی چه انسان له پکار دی چه د تلو په وخت که په یو لوړ ځائي باندې ختلو نو تکبیر یعنی الله اکبر وئیلو سره دې ختلو، او د هغې بالمقابل چه کله د پستې طرف ته ځي نو تسبیح یعنی سبحان الله وئیلو سره دې کوزیږي. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْإِذْنِ فِي الْقُفُولِ بَعْدَ النَّهْيِ

د ممانعت نه پس د میدان جهاد نه د واپس راتلو د اجازت بیان

د ترجمة الباب تشریح

د ترجمة الباب مضمون دا دې، د رسول الله ﷺ د مجلس نه د مجلس دوران (د هغه نه اجازت اخستلو نه پس) د قفول یعنی د واپس کیدو د جواز د ممانعت نه پس، یعنی په شروع کښې دا خبره ناجائز وه چه یو سړې د رسول الله ﷺ د مجلس نه د اجازت اخستلو نه پس لاړ شي، روستو د الله پاک د طرف نه د دې اجازت اوشو، یعنی د رسول الله ﷺ نه د اجازت اخستلو نه پس هیڅ باک نشته، جائز ده، د دې ترجمة الباب د وجي نه د سورة توبه آیت ﴿ لَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالْمُتَّقِينَ، إِنَّمَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَارْتَابَتْ قُلُوبُهُمْ فَهُمْ فِي رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُونَ ﴾

¹): صحيح البخاري/الحج ١٢ (١٧٩٧)، والجهاد ١٣٣ (٢٩٩٥)، والمغازي ٢٩ (٤١١٦)، صحيح مسلم/الحج ١٥ (١٣٤٤)، سنن الترمذي/الحج ١٠٤ (٩٥٠)، (تحفة الأشراف: ٨٣٣٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٦٣) (صحيح)

دا آيت کريمه منسوخ دي او ناسخ د دي دپاره دويم آيت کريمه دي کوم چه په سورة نور کښې مذکور دي يعنى ﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَى أَمْرٍ جَامِعٍ لَمْ يَذْهَبُوا حَتَّى يَسْتَأْذِنُوهُ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ أُولَئِكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ﴾ دا آيت د سورة نور دي، مصنف دې آيت کريمه ته ناسخ وائي د اولنى آيت کريمه دپاره په کوم کښې چه اجازت اخستلو سره واپس کيدو ته د منافقانو فعل وئيلې شوې دي، نو هر کله چه د منافقانو فعل دې نو يقينا ناجائز شو، لهذا په اولنى آيت کريمه کښې خو ګويا اجازت اخستلو سره د واپس کيدو ممانعت راغلو. او دويم آيت کريمه کوم چه په سورة نور کښې دې د هغې مضمون دا دې چه د رسول الله ﷺ د مجلس نه چه کوم خلق مومنان دى بغير د اجازت اخستلو نه نه پاسيږي، اجازت اخستلو سره پاسيږي يعنى په خلاف د منافقانو چه هغه د رسول الله ﷺ د مجلس نه په پټه بغير د اجازت نه اوځى، په دې آيت کريمه کښې د مجلس نه پاسيدلو ته د مومنانو فعل وئيلې شوې دي او بغير د اجازت نه پاسيدلو ته د منافقانو فعل، لهذا د دې آيت کريمه نه اجازت اخستلو سره د پاسيدو جواز معلوم شو، حال دا چه د اولنى آيت کريمه نه د دې ممانعت معلوميږي، او سورة نور چونکه په نزول کښې روستو دې د سورة توبه نه لهذا د سورة نور په آيت سره د سورة توبه د آيت حکم منسوخ کړې شو، کومه خبره چه په ترجمة الباب کښې مصنف رحمه الله بيان کړې ده هم هغه خبره ابن عباس رضي الله عنهما هم په حديث الباب کښې د دواړو آيتونو د تفسير د لاندې بيان کړې ده، لهذا حديث الباب د ترجمة الباب مطابق کيدو سره د مصنف مدعى ثابته شوه، دا چه څه مونږ ليکلې دى د مصنف د ترجمې تشريح او څه چه مصنف بيانول غواړي د هغې د لاندې ليکلې دى.

[۲۷۷۱](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ ثَابِتٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: لَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ سورة التوبة آية ۴۴ الْآيَةَ نَسَخَتْهَا الَّتِي فِي النُّورِ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى قَوْلِهِ غَفُورٌ رَحِيمٌ سورة النور آية ۶۲.

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې چه فرمائيلى ئې دى چه دا آيت کريمه «لا يستأذنك الذين يؤمنون بالله واليوم الآخر» الآية دسورة نور په دې ايت : «إنما المؤمنون الذين آمنوا بالله ورسوله» تر «غفور رحيم» سره منسوخ شوې دې.

تحقيق مقام

خو حقيقت دا دې چه کوم دوه آيتونو ته ناسخ او منسوخ وئيلې شوې وو د هغه دواړو آيتونو مضمون د يو بل نه بالکل مختلف دې لهذا د نسخ هيڅ سوال نه پيدا کيږى هر يو آيت په خپل ځائې قائم او مستحکم دې ځکه چه د اولنى آيت کريمه د مضمون خلاصه او حاصل دا دې چه کوم خلق منافقان وى هغوى بعض وخت داسې کوى چه رسول الله ﷺ سره په جهاد کښې د شرکت کولو دپاره خو په شروع کښې شريک شى او بيا په لاره کښې واړه او غټ عذرونه بيانولو سره او هغه نه اجازت اخستلو سره واپس شى، په خلاف د مومنانو

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۶۲۵۷) (حسن)

چه هغوی داسې هرګز نه کوی، او دویم آیت کریمه کوم چه د سورة نور آیت دې د هغې مضمون دا دې چه کوم خالص مومنان وی هغوی اول خو پاسیږی نه، او که څوک د څه ضرورت په وجه باندې پاسیږی نو د رسول الله ﷺ نه اجازت اخستلو سره پاسی، زمونږ د دې بیان نه معلومه شوه چه د دواړو آیتونو محمل جدا جدا دې د یو بل نه مختلف دې لهذا په دې دواړو آیتونو کښې نه خو ناسخ شته او نه منسوخ، خو د دې باوجود په دې کښې اختلاف دې، په بذل کښې هم حضرت د دواړو آیتونو په تفسیر کښې د مفسرینو اختلاف لیکلې دې او دا چه بعض علماء په دې کښې د نسخ قائل دی او بعض قائل نه دی.

بَاب فِي بَعْثَةِ الْبُشَرَاءِ

د زیری د خبر ورکولو دپاره د چا د لیږلو بیان

یعنی که یو سړی ته امیر دا حکم ورکړی چه که تاسو فلانې کار اوکړئ نو ډیره ښه ده او هغه سړې د دې کار دپاره لاړ شی او هغې لره انجام ته اورسوی او په خپل مقصد کښې کامیابی حاصله کړی، نو دې مامور لره پکار دی چه امام لره فوری طور د خبر کولو دپاره د یو قاصد په ذریعه هغه ته د فتح او کامیابئ زیرې اورسوی چه امام د تکلیف او انتظار نه بچ شی.

[۲۷۷۲][1] حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا عِيسَى، عَنْ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ قَيْسٍ، عَنْ جَرِيرٍ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَلَا تُرِيحُنِي مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ فَأَتَاهَا فَحَرَّقَهَا، ثُمَّ بَعَثَ رَجُلًا مِنْ أَحْمَسَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُبَشِّرُهُ يُكْنَى أَبَا أَرْطَاةَ.

دجریر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام راته اوفرمائیل چه ایا دذي الخلصه نه مې نه بیغمه کوي؟ نودې هلته لاړو اوهغه ئې اوسوزولو اوداحمس قبیلې یوکس ئې نبی علیه السلام ته دزیري دپاره اولیږلو چه کنیه ئې ابو ارطاة وه.

شرح حدیث

سیدنا جریر رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ ماته یو ځل اوفرمائیل چه اې جریر! ته ماته د ذی الخلصة نه ارام نه شی راکولې؟ یعنی که راکولې شې نو ضرور راکړه، په دې باندې هغه فورا پاسیدو او هلته ئې ځان اورسولو او هغه ئې سیزلو سره ختم کړو، او بیا ئې لاس په لاس د قبیله احمس یو سړې چه د هغه کنیت ابو ارطاة وو د دې امر د زیری ورکولو دپاره د رسول الله ﷺ خدمت ته اولیږلو. یا ذی الخلصة په یمن کښې یو ځائې وو چه په هغې کښې د قبیله دوس او خثعم وغیره بتان پراته وو، یعنی بت خانه، په نورو الفاظو باندې مندر، دا روایت په صحیح بخاری کښې په کتاب المغازی کښې په باب غزوة ذی الخلصة کښې لږ په تفصیل سره ذکر شوې دې، په هغې کښې دا دی جریر فرمائی چه زه د رسول الله ﷺ د فرمان نه پس د یو نیم سل سورو کسانو سره د دې کار دپاره اوتلم، او هغه بت خانه مې ماته کړه او کوم عبادت کونکی چه په هغې کښې ناست وو هغوی مې قتل کړل، او هم دغه

[1]): صحيح البخاري/الجهاد ١٥٤ (٣٠٢٠)، صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٢٩ (٢٤٧٦)، (تحفة الأشراف: ٣٢٢٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦٠/٤، ٣٦٢، ٣٦٥) (صحيح) بأتم منه۔

شان په هغې کښې دا هم دي چه ذو الخلصه ته الکعبة الیمانیة او الکعبة الشامیة هم وئیلې شي.
والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی،وابو ارطاة اسمه الحصین بن ربیعة،له صحبة،قاله المنذری

بَاب فِي إِعْطَاءِ الْبَشِيرِ

زیری کونکی ته دانعام ورکولو بیان

دا باب داسې اوګڼرئ چه د مخکښې ذکر شوی باب تکمله ده يعنی کوم سړې چه زيرې راوړې نو هغه ته د انعام په طور څه ورکول پکار دی، په دې باب کښې مصنف د کعب بن مالک رضی الله عنه د قصې د روايت يو ټکړه ذکر کړې ده، چه د هغې په اخر کښې دی چه کله زما په کور کښې د بنديدو پنځوس ورځې پوره شوې او ما هغه ورځ د سحر مونځ اوکړو د خپل کور په چهت باندې نو ما د يو اواز لګونکی اواز د لرې نه واوريدو..... دا ئې وئيل چه يا کعب بن مالک ابشر! چه کله هغه ماته نزدې راغلو ماته زيرې راکونکې نو هغه وخت زما په بدن باندې کپړې وې ما هغه ويستلې او هغه ته مې هبه کړې او د مسجد په طرف روان شوم، چه کله مسجد ته داخل شوم نو ما اوکتل چه رسول الله ﷺ ناست دې، هغه فرمائی: په حاضرينو کښې سيدنا طلحه بن عبيد الله رضی الله عنه اودريدو او په منډه منډه ماته راغلو او ما سره ئې مصافحه اوکړه او مبارکی ئې راکړه.

[۲۷۷۳]()حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ كَعْبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ فَرَكَعَ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ جَلَسَ لِلنَّاسِ وَقَصَّ ابْنُ السَّرْحِ الْحَدِيثَ، قَالَ: وَنَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُسْلِمِينَ عَنْ كَلَامِنَا أَيُّهَا الثَّلَاثَةُ حَتَّى إِذَا طَالَ عَلَيَّ تَسَوَّرْتُ جِدَارَ حَائِطِ أَبِي قَتَادَةَ وَهُوَ ابْنُ عَمِّي، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَوَاللَّهِ مَا رَدَّ عَلَيَّ السَّلَامَ، ثُمَّ صَلَّيْتُ الصُّبْحَ صَبَاحَ خَمْسِينَ لَيْلَةً عَلَى ظَهْرِ بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِنَا، فَسَمِعْتُ صَارِخًا يَا كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ أَبْشِرْ، فَلَمَّا جَاءَنِي الَّذِي سَمِعْتُ صَوْتَهُ يُبَشِّرُنِي نَزَعْتُ لَهُ ثَوْبَيَّ فَكَسَوْتُهُمَا إِيَّاهُ فَانْطَلَقْتُ حَتَّى إِذَا دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَإِذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ، فَقَامَ إِلَيَّ طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ يُهَرْوِلُ حَتَّى صَافَحَنِي وَهَنَّأَنِي.

دکعب بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه کله به نبی علیه السلام دسفرنه راغې نواول به جومات ته لاړو دوه رکعته مونځ به ئې اوکړو بيابه دخلقوسره کيناستو او ابن السرح حديث تراخره بيان کړې دې کعب وائی نبی علیه السلام خلق منع کړې وو زمونږ درې کسانو سره د خبرو کولونه تردې چه ډير وخت تيرشو نوزه دابوقتاده باغ ته داخل شوم هغه زمادتره څوې وو ماورباندې سلام واچوو په الله قسم هغه دسلام جواب قدرې هم رانکړو (ځکه چه نبی علیه السلام زمونږ سره د خبرو کولونه اودسلام د جواب ورکولونه منع فرمائيلې وه) بياما دخپل کور په چت باندې په پنځوسمه ورځ دنسخر مونځ اوکړو نود چا آواز مې ترغوږ،ونوشو چه وئيل ئې اې کعب بن مالک خوشحاله شه کله چه هغه زما خواته راورسيدو نوماهغه ته خپلې دواړه جامې وويستلې او ورې کړې اوددغه ځائې نه روان شومه مسجد نبوی ته داخل شوم هلته

(): صحيح البخاري/ الجهاد ۱۹۸ (۳۰۸۸)، صحيح مسلم/المسافرين ۱۲ (۷۱٦)، سنن النسائي/المساجد ۳۸(۷۳۲)، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۳۲) (صحيح)

نبی ﷺ ناست وو طلحه بن عبیدالله ته چه زه اولیدلم نواودریدو راغی زماسره سې مصافحه اوکړه اوماته ئې مبارکي راکړه.

د کعب بن مالک رضی الله عنه د توبې مفصل او اوږد حدیث په صحیح بخاری کتاب المغازی باب حدیث کعب بن مالک د لاندې ذکر شوې دې، کوم چه د بخاری شریف په اتلسمه پاره کښې دې، او زمونږ د سنن ابی داؤد هم دا اتلسمه پاره روانه ده، د خطیب بغدادی د تجزیه په اعتبار سره. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی مختصر ومطولا، قاله المنذری.

بَابٌ فِي سُجُودِ الشُّكْرِ

دشکر د سجدې بیان

[٢٧٧٤]([1]) حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي بَكْرَةَ بَكَّارِ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، أَخْبَرَنِي أَبِي عَبْدُ الْعَزِيزِ، عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ: إِذَا جَاءَهُ أَمْرُ سُرُورٍ، أَوْ بُشِّرَ بِهِ خَرَّ سَاجِدًا شَاكِرًا لِلَّهِ.

ابوبکر رضی الله عنه دنبی ﷺ نه روایت نقل کوي فرمائی چه کله به په نبی ﷺ خوشحالي راغله اویابه وربانديې زیرې اوشونوپه سجده باندې به پریوتو دالله تعالی دشکر ادا کولو دپاره.

دا باب د تیرو شوو بابونو سره مربوط دې په تیرو شوو بابونو کښې خوشخبری او په هغې باندې د انعام وغیره بیان راغلې دې هم د هغې مناسب دا باب هم دې، د حدیث الباب مضمون هم دا دې چه کله به رسول الله ﷺ ته یو زیرې راتلو نو هغه به د شکر سجده کوله.

په الدر المنضود جلد ثانی ابواب صلاة الکسوف په اخر کښې یو باب، باب السجود عند الایات تیر شوې دې، یعنی د حوادث په وخت الله پاک ته په سجده پریوتل، او دا موجوده باب کوم چه زمونږ په وړاندې دې دا د هغه اولنی باب مقابل دې او د سجدې حکم په دواړو ځایونو کښې دې، ځنګه چه د حوادثو په وخت کښې هم دغه شان د مسرت او خوشحالئ په موقع باندې، د سجده شکر مسئله هم اختلافی ده چه د شوافعو، حنابله او صاحبین په نزد مستحب ده، د امام ابوحنیفه او مالک په نزد غیر مستحب ده، لکه چه هلته په اولنی ځائې کښې تفصیل تیر شوې دې، د هغې طرف ته دې رجوع اوکړې شی، د امام صاحب نه چه د سجده شکرکوم انکار منقول دې د هغې تشریح کښې درې اقوال دی، وئیلې شوې دی چه په دې سره مراد د هغه عدم وجوب دې، یعنی واجب نه ده، او وئیلې شوې دی چه د هغه مراد دا دې چه دا کار مشروع نه دې، او دریم قول دا دې چه د شکر د ادا کولو دپاره صرف سجده کافی نه ده، بلکه دوه رکعته دې د شکریه په نیت سره اولوستلې شی.

[٢٧٧٥]([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، حَدَّثَنِي مُوسَى بْنُ يَعْقُوبَ، عَنِ ابْنِ عُثْمَانَ، قَالَ أَبُو دَاوُد وَهُوَ يَحْيَى بْنُ الْحَسَنِ بْنِ عُثْمَانَ، عَنِ الْأَشْعَثِ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَكَّةَ نُرِيدُ الْمَدِينَةَ فَلَمَّا كُنَّا قَرِيبًا مِنْ عَزْوَرَا نَزَلَ، ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ فَدَعَا اللَّهَ سَاعَةً، ثُمَّ خَرَّ سَاجِدًا فَمَكَثَ طَوِيلًا، ثُمَّ قَامَ فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَدَعَا اللَّهَ سَاعَةً، ثُمَّ خَرَّ سَاجِدًا فَمَكَثَ طَوِيلًا، ثُمَّ قَامَ فَرَفَعَ

[1]: سنن الترمذي/السير ٢٥ (١٥٧٨)، سنن ابن ماجه/الإقامة ١٩٢ (١٣٩٤)، (تحفة الأشراف: ١١٦٩٨) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٨٧٠) (ضعيف)

يَدَيْهِ سَاعَةً، ثُمَّ خَرَّ سَاجِدًا ذَكَرَهُ أَحْمَدُ ثَلَاثًا، قَالَ: إِنِّي سَأَلْتُ رَبِّي وَشَفَعْتُ لِأُمَّتِي فَأَعْطَانِي ثُلُثَ أُمَّتِي، فَخَرَرْتُ سَاجِدًا شُكْرًا لِرَبِّي، ثُمَّ رَفَعْتُ رَأْسِي فَسَأَلْتُ رَبِّي لِأُمَّتِي فَأَعْطَانِي ثُلُثَ أُمَّتِي فَخَرَرْتُ سَاجِدًا لِرَبِّي شُكْرًا ثُمَّ رَفَعْتُ رَأْسِي، فَسَأَلْتُ رَبِّي لِأُمَّتِي فَأَعْطَانِي الثُّلُثَ الْآخِرَ فَخَرَرْتُ سَاجِدًا لِرَبِّي". قَالَ أَبُو دَاوُد: أَشْعَثُ بْنُ إِسْحَاق، أَسْقَطَهُ أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ. حِينَ حَدَّثَنَا بِهِ، فَحَدَّثَنِي بِهِ عَنْهُ مُوسَى بْنُ سَهْلٍ الرَّمْلِيُّ.

دسعد بن أبي وقاص رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه مونږ دنبي عليه السلام سره اووتو چه دمکې نه مدينې ته راتلو کله چه عزورا مقام ته راورسيدو نو نبي عليه السلام دسورلئ نه راکوز شو او دواړه لاسونه ئې پورته کړل او دعائې اوکړله ديو وخت پورې دالله تعالى نه اوبيا په سجده پريوتو او اوږده سجده ئې اوکړه بيا پاځيدو او دواړه لاسونه ئې پورته کړل اوديوساعته پورې ئې دعا اوکړه بيا په سجده پريوتو اوددې نه پس ئې اوفرمائيل مادخپل رب نه سوال اوکړو اودخپل امت دپاره مې سفارش اوکړو نوالله تعالى ماته زمادامت ددريمې حصې اجازت راکړو بيازه الله ته په سجده پريوتم دالله تعالى دشکراداکولو دپاره چه کله مې سر پورته کړو نودخپل امت دپاره مې دالله نه سوال اوکړو نوالله ماته زمادامت دريمه حصه راکړه بياالله ته دشکرد پاره په سجده پروتم چه سرې پورته کړو نودامت دپاره مې دالله نه سوال اوکړو نو باقي پاتې دريمه حصه ئې هم راکړه اوبياالله ته په سجده پريوتم. ابوداود وائي اشعث بن اسحاق لره احمد بن صالح په سند کښې ساقط کړې دې کله چه ئې مونږ ته داحديث بيانولو نومونږ ته ئې دسهل بن موسى رملي نه بيان کړو.

مضمون حديث

﴿عن سَعْدٍ عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم﴾

سيدنا سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه فرمائي چه يو ځل مونږ د مکې نه د مدينې دپاره روان شو چه کله مونږ مقام غوراء ته نزدې شو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د سورلئ نه کوز شو بيا ئې لاس اوچت کړل او دعا ئې کوله بيا په سجده پريوتلو او د ډير ساعته پورې په سجده کښې وو، د هغې نه روستو بيا اودريدو او لاس مبارک ئې اوچت کړل بيا ئې لاس اوچتولو سره ډير ساعته پورې دعا اوکړه او بيا په سجده پريوتلو او د ډير ساعته پورې په سجده کښې وو، بيا ئې په دريم ځل په ولاړه باندې دعا اوکړه بيا هم دغه شان په سجده پريوتلو او روستو ئې اوفرمائيل چه ما د خپل رب نه سوال اوکړو او د خپل امت دپاره مې سفارش کړې وو نو الله پاک ماته د خپل امت دريمه حصه راکړه، ګويا د هغوی په حق کښې زما سفارش قبول شو، په دې باندې ما سجده اوکړه د خپل رب په شکريه کښ، بيا ما سر اوچت کړو او هم هغه دعا مې اوکړه نو زما رب ماته زما د امت يو ثلث نور ماته راکړو، په دې باندې ما بيا خپل رب ته د شکر سجده اوکړه (تردې چه د دوه ثلث معافي اوشوه) رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي چه ما بيا دعا اوکړه نو الله پاک ماته د امت اخر ثلث هم راکړو، ګويا د پوره امت دپاره د مغفرت سفارش قبول کړې شو، په دې باندې ما خپل رب ته سجده اوکړه.

حافظ ابن القيم رحمه الله په دې حديث باندې په خپل تعليق کښې د مسند احمد د رواياتو نه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سجده شکر کول په مختلف بشارات باندې نقل کړې دی، او هم

دغه شان د سیدنا علی رضی الله عنه سجده کول، په خوارج باندې د فتح په وخت او په مقتولینو کښې چه کله د لټون په وخت ذو الثدیه راوتلو، او د سنن سعید بن منصور نه هغوی نقل کړې دی چه صدیق اکبر ته چه لکه د مسلیمه د هلاکیدو خبر راغلو نو هغه وخت هغه هم سجده اوکړه.

شرح السند

﴿ قال ابوداود : اشعث بن اسحاق اسقطه احمد بن صالح الخ ﴾ د مصنف د دې کلام شرح دا ده چه د دې حدیث په سند کښې ابن عثمان او عامر بن سعد ترمینځه اشعث بن اسحاق واسطه ذکر شوې ده، د هغې په باره کښې مصنف رحمه الله دا فرمائی چه دا حدیث چه کله ماته زما استاد احمد بن صالح مخامخ بیان کړې وو، هغه وخت ترې هغه دا واسطه ساقط کړې وه، خو بیا چه کله د دې نه روستو دا حدیث ماته زما بل استاد موسی بن سهل بیان کړو د احمد بن صالح نه نقل کولو سره نو بیا پکښې هغه د اشعث بن اسحاق واسطه ذکر کړه، پس حاصل دا شو چه مصنف ته دا حدیث په دوه طریقو سره رارسیدلې دې، براه راست د احمد بن صالح نه او په واسطه د موسی بن سهل، د احمد بن صالح نه په اول طریق کښې واسطه ذکر نه ده، په دویم طریق کښې ذکر ده، خو مصنف د موسی په روایت باندې اعتماد کولو سره په دې دویم طریق کښې هم واسطه ذکر کړه، ګویا د مصنف رائې دا ده چه دا واسطه کیدل پکار دی.

د دې حدیث په سند کښې حافظ منذری رحمه الله لیکی ﴿ وفی ا سناده موسی بن یعقوب الزمعی وفیه مقال، قلت : وقال الذهبی فی المیزان فی ترجمته : وثقه ابن معین، وقال النسائی لیس بالقوی، وقال ابوداود هو صالح وقال ابن المدینی، ضعیف منکر الحدیث.

بَابٌ فِي الطُّرُوقِ

د شپې په وخت کښې د سفر نه کورته د راتلو بیان

طرق او طروق دواړه لغتونه دی، د دې معنی د ضرب هم راځی او هم د دې نه ﴿ مطرقة ﴾ (ستهک) دې، او بله معنی ئې اتیان باللیل د شپې راتلل دی، او په شپه کښې راتلونکی ته طارق وئیلې شی، چونکه د شپې راتلونکې عام طور سره طرق یعنی د دق الباب (دروازه ټکولو) محتاج وی.

[۲۷۷٦]([1]) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، وَمُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْرَهُ أَنْ يَأْتِيَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ طُرُوقًا.

دجابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به د شپې کورته راتلل بد ګنړل.

شرح الحديث

حافظ فرمائی هم د دې حدیث په دویم طریق کښې دغه شان دی : ﴿ اذا اطال احدکم الغیبة فلا

[1]: صحيح البخاري/العمرة (الحج) ١٦(١٨٠١)، صحيح مسلم/الإمارة ٥٦ (٧١٥)، (تحفة الأشراف: ٢٥٧٧)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الاستئذان ١٩ (٢٧١٣)، مسند احمد (٢٩٩/٣، ٣٠٢) (صحيح)

يطرق اهله ليلا ﴾ يعنى كله چه يو سړې د اوږد غائب والى نه پس د سفر نه راواپس شى نو هغه له پكار دى چه خپلې ښځې ته دې د شپې په وخت نه راځى، د دې وجه علماء كرامو ليكلې دې چه د خاوند د خپلې ښځې نه تزين او ښه هيبت مطلوب وى، پس هم د دې په موجودګئ كښې د دې اهتمام كوى او كه خاوند موجود نه وى، په سفر وغيره كښې تلې وى نو هغه د دې اهتمام نه كوى، اوس چه كله د اوږد غيبت نه پس بغير د مخكښې اطلاع كولو نه د شپې په وخت راشى نو په دې صورت كښې ظاهره ده چه كه خپله ښځه په كوم حالت كښې ليدل غواړى په هغې كښې به هغه بيا نه مومى، او په دې كښې خطره ده چه دا به د نفرت سبب جوړ شى هم دغه شان د هيئت حسنه نه علاوه كيدې شى او دا هم كيدې شى چه هغه په نور څه نا مناسب حال كښې وينى، په دې صورت كښې به ناڅاپه رارسيدو سره د هغې پرده پاتې نه شى. د رسول الله ﷺ په ارشاداتو كښې د مختلف مصالح كيدل قرين قياس دى، كومو بعض خلقو چه د رسول الله ﷺ په دې هدايت باندې عمل نه دې كړې او ناڅاپه د شپې راغلل نو هغوى د ناخوښه حالاتو سره مخ شوې دى چه د هغې بعض قصې په شروح كښې ليكلې شوې دى. والحديث اخرجه البخارى ومسلم والنسائى بنحوه، قاله المنذرى.

[۲۷۷۷](¹) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مُغِيرَةَ، عَنْ الشَّعْبِيِّ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ أَحْسَنَ مَا دَخَلَ الرَّجُلُ عَلَى أَهْلِهِ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ أَوَّلَ اللَّيْلِ".

دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى دسفرنه كورته دراتلوپه وختونوكښې ښه وخت ماښام دې.

شرح الحديث

دلته د دخول على الاهل نه مراد صحبت دې، چه كله انسان د سفر نه واپس راغلې وى او د سفر كولونه پس دشپې خپل اهل ته راورسيږى نودهغه په حق كښې بهتر هم دا فرمائى چه هغه سرې دې په شروع كښې خپل ضرورت پوره كړى، ځكه چه د سفر او اوږد غيبت د وجې نه شهوت قوى كيږى نو د هغه دپاره مناسب هم دا ده چه د خپل حاجت نه دې په شروع كښې فارغ شى او خپل طبيعت دې بحال كړى، خو دا ادب او طريقه د مسافر په حق كښې ده، په عام حالاتو كښې نه ده، په عام حالاتو كښې خو د دې په خلاف د هغه دپاره د شپې اخرى حصه اولى ده چه د شپې د اخرى حصې پورې خوراک كول وغيره ټول د هضم كيدو نه پس او څه ارام نه پس په طبيعت كښې اعتدال پيدا كيږى.

دا چه د حديث كومه شرح كړې شوې ده په دې صورت كښې په دې حديث كښې او په حديث سابق كښې هيڅ تضاد نشته، او كه په دې حديث ثانى كښې د دخول نه مراد داخليدل مراد كړې شى نو بيا دا حديث د اول حديث خلاف راشى خو كه په دې حديث كښې هم اوله معنى مراد كړې شى نو بيا د دې تعارض به دا جواب وى چه دا حديث په دې صورت باندې محمول دې چه كله د هغه كور والو ته د مخكښې نه اطلاع شوې وى، په

¹: صحيح البخاري/النكاح ۱۲۱ (۵۲۴۴)، صحيح مسلم/الجهاد ۵۶ (۷۱۵)، (تحفة الأشراف: ۲۳۴۳) (صحيح)

خلاف د حديث اول چه هغه به محمول کړې شی په هغه صورت باندې چه کله د مخکښې نه اطلاع نه وی او يو توجيه دا هم کړې شوې ده چه دا د کراهت والا حديث محمول دې په دخول فی اثناء الليل باندې، او په عدم کراهت والا حديث باندې محمول دې، دخول اول الليل باندې، والله تعالی اعلم. والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی بنحوه، قاله المنذری.

[۲۷۷۸]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا سَيَّارٌ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَلَمَّا ذَهَبْنَا لِنَدْخُلَ قَالَ: "أَمْهِلُوا حَتَّى نَدْخُلَ لَيْلًا لِكَيْ تَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ، وَتَسْتَحِدَّ الْمُغِيبَةُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ الزُّهْرِيُّ: الطُّرُوقُ بَعْدَ الْعِشَاءِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَبَعْدَ الْمَغْرِبِ لَا بَأْسَ بِهِ.

دجابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه مونږ دنبی علیه السلام سره په سفرکښې وو هرکله چه مونږ کورته دداخليد و اراده اوکړه نونبی علیه السلام اوفرمائيل صبر وکړئ اوخبرتي وليږلو، چه ښځې خپل ګډود ويخته ګومنزکړي اوزيرناف صفائي وکړي. ابوداود وائی زهري وئيلی دی د الطرق نه دماخوستن نه بعد وخت مراد دي، ابوداود وائی دماښام نه پس کورته په داخليدوکښې حرج نشته.

سيدنا جابر رضی الله عنه فرمائی چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په يو سفر کښې وو، چه کله مونږ خلق واپس شو نو خپلو ازواجو ته واپس لاړو (په ظاهره باندې د سفر نه واپسئ باندې د ماښام وخت کښې شوې وه) نو هغه اوفرمائيل چه اوس ايسار شه د شپې به هغوی ته خو چه په دې موده کښې هلته ببر سرې خپل ويښته ګومنځ کولو سره برابر کړی، د نامه نه لاندې ويښته وغيره صفا کړی، مغيبه هغه زنانه چه د هغې خاوند په سفر کښې تلې وی، د دې حديث نه معلومه شوه چه خاوند له پکار دی چه د سفر نه په واپسئ باندې د خپل اهل سره رسيدو کښې دې تندی نه کوی بلکه هغه ته دې مهلت ورکړی د راتلو د اطلاع نه پس، دومره وخت چه په هغې کښې هغه خپل هيئت برابر کړې شی،

په دې حديث کښې (فلما ذهبنا لندخل) کښې اختصار دې، پس د بخاری په روايت کښې دی (فلما قدمنا ذهبنا لندخل) او کيدل هم دغه شان پکار دی.

په دې باب کښې مصنف درې احاديث ذکر کړې دی، اتفاق ته ګوره چه مسانيد د جابر نه دی، د درې واړو راوی د جابر بن عبدالله نه دې، والحديث اخرجه النسائی، وفی البخاری ومسلم بنحوه، قاله المنذری.

....

[1]: صحيح البخاري/النكاح ۱۲۲ (۵۲۴۷)، صحيح مسلم/الإمارة ۵۶ (۷۱۵)، (تحفة الأشراف: ۱۹۴۱۸، ۲۳۲۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۹۸/۳، ۳۵۵، ۳۹۶) (صحيح)

باب فِي التَّلَقِّي

باب د مسافر د استقبال کولو بیان

يعنی د سفر نه د راتلونکو استقبال.

[۲۷۷۹](1) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ، قَالَ: لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ تَلَقَّاهُ النَّاسُ فَلَقِيتُهُ مَعَ الصِّبْيَانِ عَلَى ثَنِيَّةِ الْوَدَاعِ.

دسائب بن یزید رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه کله نبی علیه السلام مدینې ته دغزوه تبوك نه واپس راغې نوخلقو دهغه استقبال اوکړو اوزه دماشومانو سره دهغه دملاقات دپاره ثنية الوداع ته لاړم او ملاقات مې ورسره اوکړو.

شرح الحديث

سائب بن یزید رحمه الله فرمائی، چه کله رسول الله ﷺ د تبوک نه په واپسئ باندې تشریف اوړلو نو صحابه کرام د هغه د استقبال دپاره ثنية الوداع ته اورسیدو، زه هم د نورو بچو سره استقبال دپاره لاړم.

سائب بن یزید صغار (کم عمره) صحابه کرامو نه دې هغه وخت د هغوی عمر تقریبا اووه کاله وو (لانه ولد فی ۲ هـ) ثنیه وئیلې شی، د دواړو غرونو ترمینځه چه کومه لاره او کنده وی چه په هغې کښې لوړه ژوره وی، او د وداع معنی د رخصت کولو ده، ثنية الوداع ته ثنية الوداع په دې وجه وئیلې شی چه مدینې منورې ته تلو والو او مدینې ته داخلیدونکو لره هم د دې ځائې نه استقبال او رخصت کولې شی، بیا ځان پوهه کړه چه په مدینه منوره کښې دا دواړه ثنیه جدا جدا دی یو هغه کومه چه د مکې مکرمې په لاره باندې دې او دویم د ملک شام په لاره کښ، په دې کښې اولنې د ثننیه مسجد قبا نه لږ وړاندې واقع دې، او دویم د مسجد نبوی په شمال کښې د جبل سلع سره متصل دې، او په حدیث الباب کښې چه کومه ثنیه ذکر شوې دې هغه د دې نه دویمه ثنیه ده ځکه چه د هغه واپسی د سفر تبوک نه کیدله، او کوم چه په سباق الخيل والا حدیث کښې د ثنیه ذکر راځی د دې نه مراد هم، هم دا دویمه ثنیه ده، هم په دې جانب کښې د خیل مسابقت وی. والحديث اخرجه البخاری والترمذی، قاله المنذری.

باب فِيمَا يُسْتَحَبُّ مِنْ إِنْفَاذِ الزَّادِ فِي الْغَزْوِ إِذَا قَفَلَ

کله چه یو مجاهد سامان تیار کړی او پخپله نه شی تلې نو بل چاته دې سامان ورکړی

يعنی کوم سړې چه د غزوه په سفر کښې خپل ځان سره د لارې توښه وغیره سامان د ځان سره اوړی نو په دې کښې که د ضرورت پوره کیدو نه پس څه بچ شی نو هغه سره ئې واپس رانوړی بلکه هغه دې هم هلته د الله پاک دپاره خرچ کړی.

(1): صحيح البخاري/الجهاد ١٩٦ (٣٠٨٣)، والمغازي ٨٢ (٤٤٢٦)، سنن الترمذي/الجهاد ٣٨ (١٧١٨)، (تحفة الأشراف: ٣٨٠٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٤٩/٣) (صحيح)

[۲۷۸۰](۱) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ فَتًى مِنْ أَسْلَمَ، قَالَ: يَارَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أُرِيدُ الْجِهَادَ وَلَيْسَ لِي مَالٌ أَتَجَهَّزُ بِهِ قَالَ: اذْهَبْ إِلَى فُلَانٍ الْأَنْصَارِيِّ فَإِنَّهُ كَانَ قَدْ تَجَهَّزَ فَمَرِضَ، فَقُلْ لَهُ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقْرِئُكَ السَّلَامَ، وَقُلْ لَهُ: ادْفَعْ إِلَيَّ مَا تَجَهَّزْتَ بِهِ فَأَتَاهُ، فَقَالَ لَهُ: ذَلِكَ فَقَالَ: لِامْرَأَتِهِ يَا فُلَانَةُ ادْفَعِي لَهُ مَا جَهَّزْتِنِي بِهِ، وَلَا تَحْبِسِي مِنْهُ شَيْئًا، فَوَاللَّهِ لَا تَحْبِسِينَ مِنْهُ شَيْئًا فَيُبَارِكَ اللَّهُ فِيهِ.

دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي چه د اسلم قبيلې يوځوان دنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې اوکړو چه اې دالله رسوله زما جهاد ته دتلو اراده ده اومال راسره نشته چه ځان تيارکړم نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل فلانې انصاري ته ورشه او ورته اووايه چه نبی عليه السلام درباندې سلام وائي او ورته اووايه چه دځان دپاره دي کوم سامان تيارکړې وي هغه ماته راکړه چه زه پرې دځان دپاره تيارې اوکړم نودې لاړ او ورته ئې اووئيل هغه خپلې ښځې ته اووئيل اې فلانۍ کوم سامان چه دي زما دپاره تيارکړې دې هغه ده ته ورکړه اودهغې نه څه شې مه پاتې کوه که چرې ته څه شې پاتې کړې نوپه هغې کښې به هيڅ برکت نه وي.

د قبيله اسلم يو ځوان صحابی رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه زما اراده په جهاد کښې د تلو ده او ما سره دومره مال نشته چه هغې سره د جهاد سامان برابر کړې شم، رسول الله ﷺ هغه ته اوفرمائيل چه فلانی انصاری ته لاړ شه، هغه جهاد ته د تلو تيارې کړې وه خو بيا بيمار شو په دې وجه لانړو. (خو د جهاد سامان هغه سره محفوظ دې) او لاړ شه هغه ته اوايه چه رسول الله ﷺ تاته سلام کړې دې او دا ئې فرمائيلې دی چه څه سامان تا د جهاد دپاره برابر کړې وو هغه هر څه دې ماته راکړې دی هغه وائی چه زه هغه ته لاړم او د رسول الله ﷺ خبره مې هغه ته اورسوله، نو هغه انصاری صحابی فورا د خپلې ښځې ته اووې چه څه تا د جهاد سامان زما دپاره تيار کړې وو هغه ټول هغه سړی ته حواله کړه او د هغې نه يو څيز هم مه منع کوه، پس والله که تا د هغې نه يو څيز منع کړو نو بيا په هغې کښې ستا دپاره برکت نه شی کيدې چه ته دې يو څيز د هغې نه منع کړې او په هغې کښې برکت راشی، بلکه کله به هم برکت هم نه وی. ددې حديث نه مصنف د دې صورت استنباط اوکړو چه په ترجمة الباب کښې مذکور دې. والحديث اخرجه مسلم، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الصَّلَاةِ عِنْدَ الْقُدُومِ مِنَ السَّفَرِ

څوک چه د سفر نه واپس راشی نواول دې مونځ اوکړی

[۲۷۸۱](۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُتَوَكِّلِ الْعَسْقَلَانِيُّ، وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنِي ابْنُ جُرَيْجٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي ابْنُ شِهَابٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبٍ، وَعَمِّهِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبٍ، عَنْ أَبِيهِمَا كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ لَا يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ إِلَّا نَهَارًا"، قَالَ الْحَسَنُ: "فِي الضُّحَى فَإِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ أَتَى الْمَسْجِدَ فَرَكَعَ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ جَلَسَ فِيهِ".

(۱): صحيح مسلم/الإمارة ۳۸ (۱۸۹٤)، (تحفة الأشراف: ۳۲٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۰۷/۳) (صحيح)

(۲): انظر حديث رقم :(۲۷۷۳)، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۳۲) (صحيح)

دکعب بن مالك نه رضي الله عنه روايت دي چه نبي عليه السلام به د سفر نه نه راتلومګرد ورځې او حسن وئيلي دي چه دغري به راتلو کله چه به دکوم سفرنه راغې نو اول به جومات ته راغې اودوه رکعته به ئې په کښې اوکړل اوبيابه په کښې کيناستو.

يعني د سفر نه په واپسئ کښې انسان له پکار دی چه دوه رکعته مونځ اوکړی، هم دغه شان چه کله ئې په سفر کښې د تلو اراده وی نو بيا هم دوه رکعته نفل کول سنت دی، خو دا مونځ سفر نه واپسئ باندې خو په مسجد کښې اولوستلې شی، دا اولي دې، او د سفر دپاره د روانيدو په وخت د هغه مونځ په کور کښې کيدل مسنون دی، په حديث الباب کښې صرف ترجمة الباب والا مونځ ذکر شوې دې، چه په هغې کښې دې چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا عادت مبارك وو چه د سفر نه په واپسئ کښې په مدينه کښې په ورځ کښې وو د چاشت په وخت باندې او بيا هغه مسجد ته تشريف راوړلو سره هلته دوه رکعتونه لوستل،دمونځ نه پس بياهم هلته مسجد کښې څه ساعت پس تشريف کيخودلو.

او د دې نه روستو حديث کښې دی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل حج نه په واپسئ باندې مدينه منوره کښې داخل شو نو اولا هغه خپله سورلی د مسجد په دروازه باندې کينولو، بيا د سورلئ نه راکوزيدو سره مسجد کښې داخل شو د هغې نه پس بيا کور ته تشريف راوړلو، نافع فرمائی چه زما استاذ او سيد ابن عمر رضي الله عنه به هم داسې کول.

[۲۷۸۲](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَنْصُورٍ الطُّوسِيُّ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ ابْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي نَافِعٌ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "حِينَ أَقْبَلَ مِنْ حَجَّتِهِ دَخَلَ الْمَدِينَةَ، فَأَنَاخَ عَلَى بَابِ مَسْجِدِهِ، ثُمَّ دَخَلَهُ فَرَكَعَ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى بَيْتِهِ"، قَالَ نَافِعٌ: فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ كَذَلِكَ يَصْنَعُ.

دابن عمر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبي عليه السلام کله د حج نه مدينې ته راغې نو اول جومات ته راغې اودجومات په دروازه کښې ئې خپله اوښه کينوله او بيا ورداخل شو اودوه رکعته ئې په کښې اوکړل او بيا خپل کور ته روان شو نافع وئيلی دی چه ابن عمر رضي الله عنه به پخپله هم داسې کول.

بَابٌ فِي كِرَاءِ الْمَقَاسِمِ
د تقسيم کونکی د معاوضې بيان

مقاسم بضم الميم يعنی قسام دې، د خلقو ترمينځه مشترک څيز جدا جدا حصو کښې تقسيم کول، او مقاسم، بفتح الميم، مقسم جمع ده چه د هغې معنی قسمت او تقسيم ده، بالفتح د لوستلو په صورت کښې مضاف محذوف وی، يعنی صاحب المقاسم په کتب لغت کښې ليکلې دی چه صاحب المقاسم نائب الامير وی. قسام الغنائم يعنی مال غنيمت لره په مجاهدينو باندې تقسيم کولو والا، دا خو د لفظ مقاسم تحقيق شو او کراء المقاسم کوم چه په ترجمة الباب کښې دې د هغې معنی شوه اجرة القسام، يعنی تقسيم کولو والا، د تقسيم کولو اګر چه اجرت واخلی نو دا جائز ده يا ناجائز، د دې فيصله به د حديث الباب نه وی.

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸٤۱۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۲۹/۲) (حسن صحيح)

[۲۷۸۳]([1]) حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُسَافِرٍ التِّنِّيسِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، حَدَّثَنَا الزَّمْعِيُّ، عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سُرَاقَةَ، أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ ثَوْبَانَ، أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ، أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِيَّاكُمْ وَالْقُسَامَةَ، قَالَ: فَقُلْنَا: وَمَا الْقُسَامَةُ؟ قَالَ: الشَّيْءُ يَكُونُ بَيْنَ النَّاسِ فَيَجِيءُ فَيَنْتَقِصُ مِنْهُ".

دابوسعید خدری رضي الله عنه نه روایت دې چه نبی عليه السلام فرمائیلی دی خبردار دتقسیم دمعاوضي نه ځان وساتئ، خلقو عرض اوکړو چه ددې څه مطلب دې نبی عليه السلام اوفرمائیل یوشې چه دډیرو کسانو په مینځ کښې مشترك وي اوبیا هغه کم کړې شي.

شرح الحدیث

رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائیلو چه بچ کیدل خپل ځان لره د تقسیم اجرت اخستلو سره، یو راوی د خپل استاذ نه تپوس اوکړو چه د قسامة نه څه مراد دې؟ هغه جواب ورکړو چه یو څیز د څو کسانو ترمینځه مشترک دی، تقسیم کونکې چه کله هغه څیز د شریکانو ترمینځه تقسیم کیدلو نو په هغې کښې کمی اوکړی، یعنی د هغې نه څه د خپل ځان دپاره راوباسی، په ظاهره مطلب دا دې چه بغیر د هغې نه اجازت اخستلو دپاره، د خپل مخوریز توب او ملکئ د وجې نه لکه چه په روستو راتلونکی روایت کښې راځی.

[۲۷۸٤]([2]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ عَنْ شَرِيكٍ يَعْنِي ابْنَ أَبِي نَمِرٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، قَالَ الرَّجُلُ: يَكُونُ عَلَى الْفِئَامِ مِنَ النَّاسِ فَيَأْخُذُ مِنْ حَظِّ هَذَا وَحَظِّ هَذَا.

عطاء بن یسار دنبی عليه السلام نه دتیر روایت په شان روایت کړې دې مګرددې اضافي سره چه یوکس دخلقو په ډله باندې مقرر شي اودهر چا دحصې نه لږ لږ اخلی.

یعنی یو سړې کوم چه په جماعتونو باندې حاوی دی (لکه چه ملکان خانان وی) څه د هغې د حصې نه اخلی څه د فلانی د حصې نه، د دې نه په مختصر الفاظو باندې داسې هم تعبیر کیدلې شی هغه زبردسته کټوتی که د ملک د طرف نه وی دا ملکان خلق داسې وی، د هغوی په خپل قوم باندې ډیر زور وی او په تکبر کښې د خپل قوم په مال کښې بغیر د اجازت نه تصرف کوی، هم دا دې هغه څیز کوم چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائیلې دې ﴿ ایاکم والقسامة ﴾ د دې قسم کټوتی په عدم جواز او حرام کیدو کښې خو هیڅ شک نشته، او په حدیث کښې د دې ممانعت هم راغلې دې خو په ترجمة الباب کښې لفظ "کراء" مذکور دې، یعنی اجرت خو به بیا په صورت مسئوله کښې دا وی چه کوم سړې د یو مشترک څیز لره د شریکانو ترمینځه د حصو مطابق په دیانت سره تقسیم کړی لکه زمکو وغیره سره چه پټواریان کوی او بیا د هغه تقسیم معینه اجرت واخستلې شی په دې کښې خو هیڅ کراهت او د عدم جواز خبره نشته، پس د جمهور علماء کرامو او ائمه ثلاثه په نزد دا جائز ده، حضرت شیخ په دې مسئله کښې د امام مالک رحمه الله اختلاف لیکلې دې چه "انه کره اجر

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٢٩٦) (ضعيف)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٠٩٢) (ضعيف)

القسام" د صحيح بخاری په كتاب الاجارة كښې په ترجمة الباب كښې تعليقا داسې دی: ولم ير ابن سيرين باجر القسام باسا... او په فتح الباری كښې دی: وكره مالك اجرة القسام وقيل انما كرهها لانه كان يرزق من بيت المال فكره له ان ياخذ اجرة اخرى، واشار سحنون الى الجواز عند فساد امور بيت المال. اهـ

بَابٌ فِي التِّجَارَةِ فِي الْغَزْوِ

په جهاد كښې د تجارت كولو بيان

[۲۷۸٥]() حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ يَعْنِي ابْنَ سَلَّامٍ، عَنْ زَيْدٍ يَعْنِي ابْنَ سَلَّامٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَلَّامٍ يَقُولُ: حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ سَلْمَانَ، أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَهُ، قَالَ: لَمَّا فَتَحْنَا خَيْبَرَ أَخْرَجُوا غَنَائِمَهُمْ مِنَ الْمَتَاعِ وَالسَّبْيِ، فَجَعَلَ النَّاسُ يَتَبَايَعُونَ غَنَائِمَهُمْ، فَجَاءَ رَجُلٌ حِينَ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ لَقَدْ رَبِحْتُ رِبْحًا مَا رَبِحَ الْيَوْمَ مِثْلَهُ أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ هَذَا الْوَادِي قَالَ: وَيْحَكَ وَمَا رَبِحْتَ؟ قَالَ: مَا زِلْتُ أَبِيعُ وَأَبْتَاعُ حَتَّى رَبِحْتُ ثَلَاثَ مِائَةِ أُوقِيَّةٍ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَا أُنَبِّئُكَ بِخَيْرِ رَجُلٍ رَبِحَ، قَالَ: مَا هُوَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الصَّلَاةِ".

دعبيدالله بن سلام رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دنبی عليه السلام په صحابه كرامو كښې يو كس راته حديث بيان كړې دې وئيل ئې چه كله مونږه خيبر فتح كړو نوهر چا خپل خپل غنيمت واخستو چه سامانونه أوقيديان هم په كښې وو اوخلقو په خپل مينځ كښې اخستل اوخرخول شروع كړل په دې دوران كښې يوكس راغې او عرض پيسې اوكړو چه اې دالله رسوله مانن دومره ګټه كړې ده چه ددې كلي په خلقو كښې به دننه پورې هيڅا دومره ګټه نه وی كړې نبی عليه السلام اوفر سائيل په تا افسوس دې څه دې ګټلي دي ده اووئيل اخستل خرخول مې كول تردې چه درې سوه اوقې مې اوګټلې نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل زه به درته يوكس اوښايم چه ددې نه به ئې ډيره ګټه كړې وي دې وائی ماووئيل اې دالله رسوله هغه څوك د نبی عليه السلام اوفرمائيل دفرض مونځ نه پس دوه ركعتونه كول.

يو صحابی فرمائی چه كله مونږ خيبر فتح كړو او په مال غنيمت كښې څه سامان يا قيدی وغيره هغوی دغه څيزونو لره په خپل مينځ كښې اخستل خرخول شروع كړل، يو سړې راغلو او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ئې عرض اوكړو چه نن په دې تجارت كښې ماته دومره نفع حاصله شوې ده چه دومره به چاته نه وی حاصل شوې. قال: ويحک (كلمة ترحم وتوجع) هغه اوفرمائيل: هلاک شې تا څه اوګټل؟ هغه عرض اوكړو ما خپل مال خرخولو او دويم ئې خرخولو هم دغه شان په واپس كيدو كښې ما سره درې سوه اوقيه سپين زر په نفع كښې حاصل شو، يعنی دولس زره درهم نو هغه اوفرمائيل چه زه تاته اوايم، د دې نه غوره نفع حاصلولو والا سړې هغه عرض اوكړو څوك دې هغه؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل هغه سړې كوم چه د فرض مونځ نه روستو دوه ركعتونه اوكړی

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٦٣٢) (ضعيف)

بَابٌ فِي حَمْلِ السِّلَاحِ إِلَى أَرْضِ الْعَدُوِّ

د دشمن علاقې ته د اسلحې نقل کولو بيان

د دار الحرب طرف ته په څه طريقه وسله ليږل، يا په طريقه د بيع چه دار الحرب ته تلونکی باندې يو مسلمان وسله خرڅه کړی، "او بطريق الهبة والمبادلة" لکه چه په حديث الباب دی، د احنافو په نزد داسې کول جائز نه دی، عند الجمهور جائز دی.

[۲۷۸۶](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، أَخْبَرَنِي أَبِي، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ ذِي الْجَوْشَنِ رَجُلٍ مِنَ الضِّبَابِ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ أَنْ فَرَغَ مِنْ أَهْلِ بَدْرٍ بِابْنِ فَرَسٍ لِي، يُقَالُ لَهَا الْقَرْحَاءُ فَقُلْتُ: يَا مُحَمَّدُ إِنِّي قَدْ جِئْتُكَ بِابْنِ الْقَرْحَاءِ لِتَتَّخِذَهُ، قَالَ: لَا حَاجَةَ لِي فِيهِ، وَإِنْ شِئْتَ أَنْ أَقِيضَكَ بِهِ الْمُخْتَارَةَ مِنْ دُرُوعِ بَدْرٍ فَعَلْتُ، قُلْتُ: مَا كُنْتُ أَقِيضُهُ الْيَوْمَ بِغُرَّةٍ قَالَ: فَلَا حَاجَةَ لِي فِيهِ.

ذي الجوشن د ضباب قبيلې والا په صحابه کرامو کښې ديو کس نه روايت کوی چه فرمائيلی ئې وو کله چه د غزوه بدر په ورځ نبی عليه السلام د مشرکينو نه فارغ شو نو ماورته د خپل اس يو کلن بچې بوتلو چه قرحا ورته وئيلې شي ماورته اووئيل اې د الله رسوله قرحامي درته راوستې دې ددې دپاره چه ته ئې په استعمال کښې راولې نبی عليه السلام اوفرمائيل ماته ضرورت نشته، که چرې ته دده په عوض کښې دغزوه بدر دغنيمت په زغروکښې کومه زغره خوښه وې نو بيابه ئې قبول کړم ما اووئيل زه نن اس هم نه شم قبلولې نبی عليه السلام اوفرمائيل ماته هم ددې ضرورت نشته.

شرح الحديث

ذی الجوشن رضی الله عنه د خپل اسلام قبلولو نه مخکښې واقعه بيانوی چه زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم د هغه د جنګ بدر نه فارغ کيدو نه پس د خپلې اسپې د يو بچې سره چه د هغې اسپې نوم قرحاء وو (فرس اقرح فی جبهته بياض بقدر درهم، المؤنث قرحاء) او ما رسول الله ﷺ ته د هغه نوم اخستلو سره عرض اوکړو چه ما تاسو ته ابن القرحاء راوستلې دې چه تاسو دا ځان سره اوساتئ او قبول ئې کړئ، رسول الله ﷺ اوفرمائيل ماته د دې ضرورت نشته (يعنی مفت بغير د پيسو نه) پس که ته غواړې چه زه تاته د بدر د زغرو نه يوه غوره زغره درکړم او دا واخلم نو زه داسې کولې شم، په دې باندې ما اووې چه (که بدل والا خبره کوې) نو بيا زه دا (د دې اسپې بچې) د يو غلام په بدله کښې هم تاته نه شم درکولې، رسول الله ﷺ اوفرمائيل بيا ماته د دې ضرورت نشته.

﴿ وان شئت ان افيضک به ﴾ دا لفظ په نسخه هنديه کښې په الف سره ليکلې شوې ده، په ظاهره کښې دا لفظ د همزه په فتحې سره دې، فاض يفرض نه. د دې معنی د عوض ورکولو ده.

---

(۱): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۳۵٤٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٨٤/۳) (ضعيف)

بَابٌ فِي الْإِقَامَةِ بِأَرْضِ الشِّرْكِ

د مشرکانو په علاقه کښې د اوسيدو بيان

يعنى په دار الحرب کښې د اقامة حکم، مقصود منع بيانول دى.

[۲۷۸۷]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ بْنِ سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ، أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ مُوسَى أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سَعْدِ بْنِ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، حَدَّثَنِي خُبَيْبُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِيهِ سُلَيْمَانَ بْنِ سَمُرَةَ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، أَمَّا بَعْدُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ جَامَعَ الْمُشْرِكَ، وَسَكَنَ مَعَهُ فَإِنَّهُ مِثْلُهُ".

دثمره بن جندب رضي الله عنه نه روايت دي فرمائى چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى څوک چه دکوم مشرک سره تعلق وساتي او دهغه په ملګرتيا کښې پاتې شي نودا کس هم دمشرک په شان دې.

دا روايت د سمره بن جندب د احاديث سته نه دې، کوم چه په ابوداود کښې دى، شپږم يعنى اخرى حديث دې، رسول الله ﷺ فرمائى چه کوم مسلمان د مشرک سره يوځائې اوسيږى نو پوهه شئ چه هم د هغه په شان دې.

شرح الحديث

د دې حديث په شرح کښې درې احتمالات دى. ۱: من جامع المشرک اى فى دار واحدة، يعنى خاص په يو کور کښې دواړه اوسيږى مسلمان هم او مشرک هم. ۲: او بلد واحد، يعنى په يو ښهر کښې مسلمان هم اوسيږى او مشرک هم، په دې دويم مطلب کښې اولنې صورت او اولنې مطلب په طريق اولى داخل دې، خو د دې عکس نه. ۳: المراد الاشتراک معه فى الرسوم والعادات والزى والهيئة، يعنى کوم مسلمان چه د مشرکانو ملګرتيا کوى د هغوى په رسمونو او عادتونو کښې او هم دغه شان په شکل او صورت او هيئت کښې د هغوى وضع اختيار کړى نو بيا هم مشرک دې.

دا حديث اول او ثانى د معنى په لحاظ سره خو د زجر او توبيخ د قبيل نه دې، او د دريمې معنى په اعتبار سره تقريبا په خپل ظاهر باندې دې، په دې حديث کښې د دې د بعض معانى په اعتبار سره د هجرت طرف ته اشاره ده، د کتاب الجهاد ابتداء هم د باب الهجرة نه ده، فهذا من حسن الاختتام، والله ولى المرام، وبيده حسن الخاتمة على الايمان.

اخر کتاب الجهاد

وهذا اخر الجزء الرابع من "الدر المنضود على سنن ابى داود" وقد تم تسويد هذا الجزء فى المدينة المنورة على صاحبها الف الف صلاة وتحية وقد اعانني فى تسويد هذا الجزء العزيز المحتوم المولوى حبيب الله الجمبارنى ثم المدنى المظاهرى تحريرا واملاء وفى جمع المواد من شروح الحديث وكتب الفقه للائمة الاربعة وغيرهما من كتب الرجال والسير والتاريخ بجهد بليغ واستعداد تام، فجزاه الله تعالى خيرا ورزقنى واياه لما يحبه ويرضاه.

محمد عاقل عفا الله عنه

۹ محرم الحرام ۱۴۲۲هـ

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٦٢١)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/السير ٤٢ (١٦٠٥) (حسن لغيره) (المستدرك ١٤١/١-١٤٢) (ملاحظہ: الصحيحة: ٢٣٣٠)

مکتوب گرامی

مکرم ومحترم مولانا برهان الدين صاحب سنبهلی زيد مجدهم

صدر شعبه تفسير، واستاذ الحديث، وناظم تحقيقات شرعيه دار العلوم ندوة العلماء لکهنؤ

مولانا محمد عاقل صاحب دامت برکاتکم ومدت فيوضکم

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

طبيعت مو ښکه دې؟ الله دې اوکړی چه د هر طرف نه په خير سره وی.

يو هفته اوشوه چه د محترم قيمتی علمی تحفه. (الدر المنضود څلورم جلد) ملاؤ شوه. تاسو چه کومه درجه په هغې کښې محنت او خوله بيولې ده د دې اندازه اصل کښې هم هغه انسان لګولې شی چا چه دې د دې کوڅې سيل کړې وی، راقم هم چونکه د دې کوڅې ورک شوې لاروې دې (يا پاتې شوې دې) په دې وجه د دې په قدر او قيمت پيژندلو کښې ورته څۀ مشکلات نه وو. بعض ځايونو کښې خو د قابو نه بهر ﴿ سبحان الله، الحمد لله او لله دره ﴾ په شان دعائيه او تعريفی کلماتو صحيح محل معلوم شو. د الله پاک نه سوال دې چه دا فيض مسلسل جاری وی.

د ﴿ قال ابوداؤد ﴾ کلام په سنبالولو کښې چه تاسو کوم د ژور نظر او بيدار دماغو ثبوت ورکړې دې هغه په حقيقت کښې د کتاب د قدر او قيمت په تعين کښې معين وی او قاری ته د ذهن سکون ورکوی. کينې په نورو اړخونو باندې خو نورو خلقو هم د تعريف نه ډک کار کړې دې. په ړومبی جلد کښې د مستحاضه په بحث (د هغې اقسامو او احکامو) کښې چه کوم وضاحت کړې شوې دې هغه ډير زيات مفيد دې. هم په دې بحث کښې د انواع مستحاضه بيان نمبروار ډير زيات آسان دې.

د الله پاک نه دعا ده چه هغه دا کار مکمل کړی چه اهل علم (خاص طور سره مدرسينو) ته زياته آسانی ملاؤ شی. دې وخت کښې خو د څلورم جلد د وصول کولو په اطلاع او د هغې شکريه ادا کول مقصود دی، په کتاب باندې د رائې اظهار نه، د خير په دعاګانو کښې د ياد ساتلو خصوصی درخواست دې. و السلام

احقر محمد برهان الدين ۲۳/٦/۱۷هـ

اوّل كِتَابُ الضَّحَايَا

د قربانئ د احکامو بيان

دلته نسخې مختلف دی، په يوه نسخه کښې د ضحايا په ځائې "الاضاحی" دې. امام بخاری رحمه الله هم د "الاضاحی" لفظ اختيار کړې دې زمونږ په نسخه کښې هم د دې سرخئ نه پس حديث شروع کيږی، وفی بعض النسخ کما فی حاشية البذل د "باب ما جاء فی ايجاب الاضاحی" زيادت دې.

مباحث سته مفيده:

دلته څو امور قابل ذکر دی:

۱: د دې کتاب د ماقبل سره مناسبت ۲: اضحيه لغة او شرعا

۳: اختلاف د هغوی په حکم د دې کښې ۴: په ایام اضحیه کښې اختلاف
۵: د ذبح د وخت ابتداء ۲: د مشروعیة اضحیه ابتداء.

بحث اول: (ما قبل سره مناسبت)

ددې کتاب مناسبت د کتاب الجهاد سره ښکاره دې چه په جهاد کښې د خپل نفس اومال دواړو انفاق او قربانی وی او په اضحیه کښې مال خرچ کولو سره د حیوان قربانی وی.
دلته د دې نه پس کتاب الصید راځی. په بخاری کښې د دې برعکس "کتاب الصید والذبائح" د کتاب الاضاحی نه مخکښې دې.

بحث ثانی: (د اضحیه لغوی تحقیق)

په بذل المجهود کښې په دې کښې څلور لغات لیکلې دی. [1] اضحیة (بضم الهمزة) اضحیة (بکسر الهمزة) د دې جمع اضاحی ده لکه د امنیة جمع چه امانی ده، ضحیة (بالکسر) د دې جمع ضحایا راځی ﴿ کعطیة وعطایا ﴾ اضحاة د دې جمع اضحی ده لکه د ارطاة جمع چه ارطی ده. اهـ

﴿ وفی الدرر المختار: الاضحیة لغة اسم لما یذبح ایام الاضحی، من تسمیة الشئ باسم وقته آه وقال الکرمانی وهی ما یذبح یوم العید تقربا الی الله تعالی، وسمیت بذلک لانها تفعل بالضحی آه (الحل المفهم ص۲)

د اضحیه مشروعیت د کتاب او سنت او اجماع درې واړو نه دې، اما الکتاب فقوله تعالی ﴿ فصل لربک وانحر ﴾ قال بعض اهل التفسیر: المراد به الاضحیة بعد صلاة العید، واما السنة فما روی عن انس رضی الله عنه انه صلی الله علیه وسلم ضحی بکبشین املحین الحدیث متفق علیه. واجمع المسلمون علی مشروعیتها (اوجز عن المغنی)

بحث ثالث: (د قربانئ شرعی حکم)

د اضحیة په حکم د وجوب او د سنتیت په اعتبار سره اختلاف دې، د اکثر علماء کرامو په نزد چه په هغې کښې ائمه ثلاثه هم دی دا سنت موکده ده. د امام مالک رحمه الله مشهور قول هم دا دې [2] او په یو روایت کښې د احنافو او امام مالک په نزد قربانی واجب ده، وحکی العینی عن الهدایة "الاضحیة واجبة علی کل مسلم حر مقیم موسرا اما الوجوب فقول ابی حنیفة ومحمد واحدی الروایتین عن ابی یوسف، وعنه انها سنة، علامه عینی فرمائی چه امام طحاوی رحمه الله د دې وجوب د امام ابوحنیفه رحمه الله قول ګرزولې دې. او د صاحبینو قول دې چه دا سنت

---

[1]) وفي الاوجز ۲۱٤/٤ عن ابن عابدين فيه ثمان لغات: الاضحية بضم الهمزة وكسرها مع تشديد الياء وتخفيفها وضحية بلا همز بفتح الضاد وكسرها واضحاة بفتح الهمزة وكسرها آه)

[2]) پاتې شوه دا چه موکده علي الکفایة ده یا علي العین نو د مالکیانو په نزد خو تصریح ده د سنت موکده لعینه ففي حاشیة الشرح الصغیر للدردیر ٦٤٩/۱ قوله سن وتاکد عینا اي علي المشهور و قیل انها واجبة، وقله عینا اي علي کل واحد بعینه ممن استوفي الشروط الاتیة آهـ او په کتابونو د شوافعو کښې ئې دا سنت علی الکفایة لیکلې ده ففي الشرح الاقناع.... والتضحیة سنة موکدة في حقنا علي الکفایة ان تعدد اهل البیت فاذا فعلها واحد من اهل البیت کفي عن الجمیع والا فسنة عین آه وقال الحافظ في الفتح ۱۰/٥ وهي عند الشافعیة والجمهور سنة موکدة علي الکفایة. آه)

موکده دي. دليل د وجوب په ابن ماجه کښې روايت دې من حديث ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا ﴿ من کانت له سعة ولم يضح فلا يقربن مصلانا ﴾

قال العينی واخرجه الحاکم وقال صحيح الاسناد آه وبسط الشيخ فی البذل........ فی مستدلات الحنفية فارجع اليه من الاوجز.

انواع اضحية:

په بذل کښې ليکلي دی چه د اضحية دوه قسمونه دی، واجب او تطوع، بيا د واجب څو قسمونه دی، يو هغه چه د هغې وجوب په غنی او فقير دواړو باندې وی، لکه د نذر قربانی او د دې وجوب مطلقا دې ځکه چه دا وجب د نذر د وجې نه دې چه په هغې کښې غنی او فقير دواړه برابر دی، او يو قسم هغه دې چه واجب وی په فقير باندې نه په غنی باندې لکه هغه څاروې کوم لره چه فقير انسان د قربانۍ په نيت باندې واخلی ځکه چه هغه څناور د اخستلو په وجه باندې متعين شو پخلاف د غنی چه که هغه يو څاروې د قربانۍ په نيت باندې واخلی نو په هغه باندې به د شراء د وجې د هغې قربانی واجب نه وی د هغې په پريخودلو سره دويمه کولې شی، دريم قسم هغه دې چه ما يجب علی الغنی دون الفقير او دا په هغه صورت کښې ده چه نذر بيا موندلې شی نه شراء آه.

د اضحية دپاره غنیٰ شرط ده ک نه؟:

د دې نه پس پوهه شئ چه د احنافو په نزد لکه چه پورته د هدايه نه تيره شوه د اضحية د وجوب دپاره غنی شرط ده او د جمهورو په نزد اگر چه قربانی خو سنت موکده ده واجب نه ده اوس د دې تاکد د سنيت دپاره غنی شرط ده که نه؟ نو په کتابونو د مالکيانو کښې غنیٰ شرط کړې شوې ده او د هغوی په نزد چه کوم سړې د قوت عام مالک نه وی د هغه په حق کښې سنت نه ده، او په کتب شافعيه کښې تصريح ده چه د دې دپاره غنی شرط نه ده بس مستطيع کيدل کافی دی. په مسافر باندې اضحية شته او که نه؟ په دې باندې مستقل کلام په "باب فی المسافر يضحی" د لاندې را روان دې.

فائده: د باب آخری حديث: ﴿ ولکن تاخذ من شعرک واظفارک الخ ﴾ د لاندې په بذل المجهود کښې ليکلي دی: ثم ظاهر الحديث وجوب الاضحية الا علی العاجز ولذا قال جمع من السلف تجب علی المعسر ويويده حديث ﴿يا رسول الله ﷺ استدين واضحی قال نعم فانه دين ﴾ مقضی الی آخر مافی البذل. يعنی د بعض علماء کرامو په نزد په غريب باندې هم قربانی واجب ده ځکه چه په حديث کښې دی چه د يو سائل په سوال باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل او قرض اخستلو سره هم قربانی کوئ ځکه چه دا قرض به ادا شی. يا مطلب دا چه قربانی په انسان باندې يو قسم دين او واجب ده.

بحث رابع: (د اضحيه د ورځو تعين اوتعداد)

د ايام اضحية تعيين او تعداد کښې کافی اختلاف دې کوم لره چه شيخ رحمه الله په اوجز المسالک ۳۰۵/۳ کښې ليکلې دې، د دې په آخر کښې شيخ صاحب ليکی: ﴿ والجملة ان فی

تعيين ايام الاضحية سبعة مذاهب الاول يوم النحر فقط وهو مذهب داؤد وابن سيرين. الثاني ثلاثة ايام وهو مذهب الائمة الثلاثة وغيرهم. الثالث اربعة ايام وهو مذهب الشافعي رحمه الله وغيره. الرابع يوم النحر وستة ايام بعد وهو قول قتادة. الخامس عشرة ايام حكاه ابن التين السادس الى آخر ذي الحجة وهو مذهب ابن حزم (لرواية ابى سلمة بن عبدالرحمن وسليمان بن يسار قالا بلغنا ان رسول الله ﷺ قال الاضحى الى هلال المحرم لمن استاذن بذلك (كذا في المحلى) السابع يوم في الامصار وثلاثة في منى وهو قول سعيد بن جبير وجابر بن زيد، الى آخر ما في الاوجز او په متن د (ابو شجاع ۲۴۳) كښې دى ووقت الذبح من وقت صلاة العيد الى غروب الشمس من آخر ايام التشريق او د هغې په حاشيه كښې دى يعنى يولسمه او دولسمه او ديارلسمه ذوالحجة روى ابن حبان عن جبير بن مطعم رضى الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ﴿ وكل ايام التشريق ذبح ﴾ اى وقت للذبح ۱ هـ د دې تفصيل نه معلومه شوه چه د ائمه ثلاثه په نزد ايام اضحيه درې دى او د شوافعو په نزد څلور دى د لسمې ذوالحجې نه واخله تر د ديارلسمې د ماښام پورې.

بحث خامس: (د ذبح د وخت ابتداء)

د ذبح د وخت ابتداء د كله نه ده نو په دې باندې علماء كرامو متفق دى ان الذبح قبل صلاة العيد لا يجوز، او په دې كښې اختلاف دې چه د امام د قربانۍ نه مخكښې د نورو خلقو قرباني جائز ده يا نه؟ د جمهور علماء كرامو او ائمه ثلاثه په نزد جائز ده. د امام مالک په نزد د امام د ذبح نه مخكښې د چا دپاره ذبح كول جائز نه دى. او د هغوى د اختلاف سبب په دې باب كښې د راغلې مختلفو آثارو (روايتونو) دې. وذلك انه جاء في بعضها انه صلى الله تعالى عليه وسلم امر لمن ذبح قبل الصلوة ان يعيد الذبح وفي بعضها انه امر لمن ذبح قبل ذبحه ان يعيد اخرجه مسلم الى آخر ما في الاوجز، په دې كښې نور تفصيل باب ما يجوز في الضحايا من السن په آخر كښې را روان دې.

بحث سادس: (قرباني دكله نه مشروع شوه؟)

د قربانۍ د مشروعيت ابتداء په قرآن كريم كښې ذكر شوې ده پس ارشاد دې ﴿ فلما بلغه السعى قال يا بنى انى ارى في المنام انى اذبحک فانظر ماذا ترى الاية ﴾ د ابراهيم ﷺ چه ترڅو پورې اولاد نه وو شوې نو هغه الله پاک ته دعا اوكړه چه ﴿ رب هب لى من لدنک من الصالحين فبشرناه بغلام حليم ﴾ د دې نه پس پورته آيت كريمه ذكر شوې دې چه كله ئې هغه څوئې (اسمعيل ﷺ داسې عمر ته اورسيدو چه د خپل پلار سره په ګرځيدو شو نو بعض مفسرينو ليكلى دى چه هغه وخت د هغوى عمر ديارلس كاله شوې وو نو ابراهيم ﷺ دې څوئى ته اوفرمائيل بچوريه زه په خوب كښې ګورم چه زه تا ذبح كوم پس ته هم سوچ اوكړه چه ستا څه رائې ده په دې باندې هغوى عرض اوكړو چه ﴿ يا ابت افعل ما تومر ﴾ اى باباجانه د كومې خبرې چه تاسو ته حكم شوې دې هغه پوره كړئ الى آخر القصة چه په هغې كښې دا دى چه كله ابراهيم ﷺ چاړه راخكله نو د بار بار راخكلو باوجود مرئ نه پرې كيده ﴿ وناديناه ان يا ابراهيم قد صدقت الرؤيا الاية ﴾ په روايت كښې دى چه ابراهيم ﷺ دې آسمانى آواز اوريدو سره پورته اوكتل نو

جبرائيل علیہ السلام د يو ګډ سره ولاړ وو، دا جنتي ګډ ابراهيم علیہ السلام ته ورکړې شو او هغه د الله پاک په حکم باندې د خپل خوی په ځائې هغه قرباني کړو. (معارف القرآن ملخصا)

دا مضمون په سنن ابن ماجه او د مسند احمد په روايت کښې داسې ذکر شوې دې عن زيد بن ارقم قال قال اصحاب رسول الله ﷺ ما هذه الاضاحي يا رسول الله ﷺ؟ قال سنة ابيكم ابراهيم علیہ السلام قالوا فما لنا فيها يا رسول الله؟ قال بكل شعرة حسنة الحديث د رسول الله ﷺ هم دا ارشاد دې چه دا اضحية د ابراهيم علیہ السلام سنت دې د دې شروع د هغه ځائې نه شوې ده.

بَابُ مَا جَاءَ فِي إِيجَابِ الأَضَاحِي

د قربانۍ د وجوب بيان

[۲۷۸۸](1) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ. ح وحَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا بِشْرٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَوْنٍ، عَنْ عَامِرٍ أَبِي رَمْلَةَ، قَالَ: أَخْبَرَنَا مِخْنَفُ بْنُ سُلَيْمٍ، قَالَ: وَنَحْنُ وُقُوفٌ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَرَفَاتٍ قَالَ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ عَلَى كُلِّ أَهْلِ بَيْتٍ فِي كُلِّ عَامٍ أُضْحِيَةً وَعَتِيرَةً، أَتَدْرُونَ مَا الْعَتِيرَةُ هَذِهِ الَّتِي يَقُولُ النَّاسُ الرَّجَبِيَّةُ؟، قَالَ أَبُو دَاوُد: الْعَتِيرَةُ مَنْسُوخَةٌ هَذَا خَبَرٌ مَنْسُوخٌ.

د مخنف بن سليم نه روايت دې دې وائي او مونږ دنبی علیہ السلام سره په عرفات کښې ولاړ وو هغه اوفرمائيل اې خلقو يقينا په هرکور والا باندې په هرکال کښې يوځل قرباني کول واجب دي اوعتيره هم اوتاسو ته پته شته چه عتيره څه شي دې داهغه شې دې کوم ته چه خلق رجيه وائي. ابوداود وائی عتيره منسوخ شوې ده اوداخبر هم منسوخ دې.

﴿ انبانا مخنف بن سليم قال ونحن وقوف مع رسول الله ﷺ بعرفات قال يا ايها الناس ان على اهل كل بيت فی كل عام اضحية وعتيرة الخ ﴾

مخنف بن سليم صحابی رضی اللہ عنہ فرمائي چه کوم وخت مونږ د رسول الله ﷺ سره په عرفات کښې وقوف کونکی وو نو هغوی اوفرمائيل اې خلقو! په هر کور والا باندې او د هغوی په ذمه اضحيه او عتيره ده، او بيا ئې اوفرمائيل تاسو ته پته شته چه عتيره څه څيز دې؟ عتيره هم هغه ده چه هغې ته خلق رجبية وائی.

د قربانۍ د وجوب دليل:

احنافو د دې حديث نه د قربانۍ په وجوب باندې استدلال کړې دې ځکه چه لفظ "علی" د الزام او وجوب دپاره راځي، او دويم څيز کوم چه په دې حديث کښې ذکر شوې دې يعنی عتيره هغه د جمهورو په نزد د نورو احاديثو په وجه منسوخ ده لهذا د قربانۍ وجوب باقي پاتې شو، د عتيره تفسير لکه چه ځنګه پخپله په دې حديث کښې ذکر شوې دې دا د هغه ذبيحې او قربانۍ نوم دې چه د اسلام په شروع کښې د رجب په عشره اولی کښې کيدله، په دې وجه دې ته رجبيه هم وائی.

دلته يو دريم څيز بل دې کوم چه په احاديثو کښې راغلې دې يعنی فرع، د دې ذکر

(1): سنن الترمذي/الأضاحي ۱۹(۱۵۱۸)، سنن النسائي/الفرع والعتيرة ۱(۴۲۲۹)، سنن ابن ماجه/الأضاحي ۲ (۳۱۲۵)، (تحفة الأشراف: ۱۱۲۴۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۱۵/۴، ۷۶/۵) (حسن)

د كتاب الاضحية په آخر كښې آخرى باب "باب فى العتيرة" كښې را روان دي لهذا په دې دواړو باندې كلام انشاء الله هم په هغه ځائې كښې راشي.
والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری.

[۲۷۸۹]() حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، حَدَّثَنِي عَيَّاشُ بْنُ عَبَّاسٍ الْقِتْبَانِيُّ، عَنْ عِيسَى بْنِ هِلَالٍ الصَّدَفِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أُمِرْتُ بِيَوْمِ الْأَضْحَى عِيدًا جَعَلَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ لِهَذِهِ الْأُمَّةِ"، قَالَ الرَّجُلُ: أَرَأَيْتَ إِنْ لَمْ أَجِدْ إِلَّا أُضْحِيَةً أُنْثَى، أَفَأُضَحِّي بِهَا؟ قَالَ: لَا، وَلَكِنْ تَأْخُذُ مِنْ شَعْرِكَ وَأَظْفَارِكَ وَتَقُصُّ شَارِبَكَ، وَتَحْلِقُ عَانَتَكَ، فَتِلْكَ تَمَامُ أُضْحِيَّتِكَ عِنْدَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ".

دعبدالله بن عمرو بن العاص نه روايت دې چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى حكم شوې دې ماته داخترکولو په ورځ د قربانۍ باندې (۱۰ ذي الحجه) كومه چه الله تعالى ددې امت دپاره اختر ګرځولې ده، چاعرض اوكړو چه اې دالله رسوله كه چرې زماسره د سوالى (امانت) اوښه ياچيلۍ وى اونور څه نه وى نوايا زه په دې قربانى اوكړم؟ نبى عليه السلام اوفرمائيل نه بلكه ته خپل ويښته كم كړه اونوكان پرې كړه اوبريت برابر كړه د استاد پاره قربانى ده دالله تعالى په نزد.

﴿ عن عبدالله بن عمرو بن العاص رضى الله عنهما ان النبى صلى الله عليه وسلم قال : امرت بيوم الاضحى عيدا جعله الله لهذه الامة الخ ﴾

شرح الحديث:

رسول الله ﷺ فرمائى چه ماته د دې خبرې حكم شوې دې چه زه يوم الاضحى لره د اختر ورځ جوړه كړم، ځكه چه الله پاك دې ورځې لره زما د امت دپاره د اختر ورځ مقرر كړې ده (او چونكه د دې ورځې په احكاماتو كښې يو حكم شرعى قربانۍ هم ده په دې وجه سائل د رسول الله ﷺ نه هغه سوال اوكړو كوم چه دلته په حديث كښې ذكر شوې دې هغه دا دې) يو صحابى عرض اوكړو چه كه ماسره د منيحه نه علاوه بل څه نه وى نو آيا زه هم د دې قربانى اوكړم؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل بلكه ته داسې اوكړه چه په دې ورځ كښې خپل ويښته او نوكونه او خپل بريت واړه كړه او د نامه نه لاندې ويښته اوخرايه، ستا پوره قربانى د الله پاك په نزد هم دغه ده.

رسول الله ﷺ ګويا دا ټول امور د هغه په حق كښې د قربانۍ بدل اوګرزولو.

د منيحه اطلاق په هغه پۍ وركونكې اوښه يا بيزې باندې كيږى چه هغې لره د هغې مالک يو ضرورت مند انسان ته د څه مودې دپاره وركړى چه هغه د هغې پيو نه په دغه موده كښې فائده اوچته كړى او بيا هغه څاروې خپل مالک ته واپس كړى، رسول الله ﷺ هغه صحابى لره د هغه منيحه د قربانۍ نه منع كړو، يا خو په دې وجه چه دا د هغه د ضرورت څيز وواوهغه سره دهغې نه علاوه بل دپيو وركولو څاروې نه وو (كذا فى البذل)
او يا ئې په دې وجه منع كړو لكه چه پورته ذكر شو چه د منيحه انسان پخپله مالک نه وى هغه د بل څيز وى كوم چه به بيا واپس كولې شى. والحديث اخرجه النسائى قال المنذرى.

(): سنن النسائي/الضحايا ۱ (٤٣٧٠)، (تحفة الأشراف: ٨٩٠٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٩/٢) (حسن)

بَابُ الْأُضْحِيَةِ عَنِ الْمَيِّتِ

د مړی د طرف نه قربانی کول

[٢٧٩٠]([1]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ أَبِي الْحَسْنَاءِ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ حَنَشٍ قَالَ: رَأَيْتُ عَلِيًّا يُضَحِّي بِكَبْشَيْنِ، فَقُلْتُ لَهُ: مَا هَذَا؟ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصَانِي أَنْ أُضَحِّيَ عَنْهُ فَأَنَا أُضَحِّي عَنْهُ.

دحنش نه روایت دې فرمائی چه ماعلي رضي الله عنه اولیدو چه په دوه ګډانوئې قرباني کوله ماورته اووئیل داڅه دي؟ هغه اووئیل ماته نبی علیه السلام وصیت کړې وو ددې خبرې چه زه دې دهغه دطرف نه قرباني اوکړم، نودایوه قرباني زه دهغه دطرف نه کوم.

﴿عن حنش قال رايت عليا يضحي بكبشين فقلت له ما هذا الخ﴾

حنش وائی چه ما علی رضي الله عنه اولیدو چه هغوی همیشه دوه ګډان قربانی کوی نو ما د دې په باره کښې د هغوی نه تپوس اوکړو چه تاسو دوه څاروی ولې قربانی کوئ؟ هغوی اوفرمائیل: ځکه چه ما ته رسول الله ﷺ وصیت کړې دې چه زه د هغوی د طرف نه قربانی اوکړم، لهذا یو قربانی زه د خپل طرف نه کوم او دویمه د رسول الله ﷺ د طرف نه.

دا روایت په ترمذی کښې هم دې او د دې په اخیر کښې دا زیادت دې، ﴿فلا ادعه ابدا﴾ چه زه دا پرېږدم نه بلکه همیشه به داسې کوم.

مسئلة الباب کښې مذاهب ائمة:

امام ترمذی فرمائی د بعض اهل علم په نزد د مړی د طرف نه قربانی کول جائز دی او بعض دې لره جائز نه ګنړی او بیا ئې د عبدالله بن مبارک مسلک دا نقل کړې دې چه زما په نزد غوره دا ده چه د مړی د طرف نه دې صدقه اوکړې شی نه قربانی او که یو انسان د مړی د طرف نه قربانی اوکړی نو په هغې کښې دې خپله هیڅ نه خوری بلکه ټول دې صدقه کړی آه او جمهور وائی چه:

د رسول الله ﷺ د خپل ټول امت د طرف نه قربانی کول ثابت دی چه په هغې کښې احیاء او اموات ټول داخل دی، او دا هم ثابته نه ده چه رسول الله ﷺ به چه کومه قربانی د امت د طرف نه کوله د هغې نه به ئې خپله څه نه خوړل بلکه ټول به ئې صدقه کوله او د احنافو مسلک په دې کښې هغه دې کوم چه په الکوکب الدری کښې ذکر دې ففیه : قوله ولم یر بعضهم ان یضحی عنه، وهولاء حملوا هذا الحدیث علی الخصوصیة، وعند ناله ان یضحی عن المیت غیر انه ان کان بوصیة من لیس له ان یاکل منه، وان لم یکن وصیة منه حل له اکلها کما فی اضحیة نفسه من غیر فضل آه..... والحدیث اخرجه الترمذی، قال المنذری.

---

[1]: سنن الترمذي الأضاحي ۳(۱٤۹۵)، (تحفة الأشراف: ۱۰۰۷۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۱۰۷، ۱٤۹، ۱۵۰) (ضعيف)

بَابُ الرَّجُلِ يَأْخُذُ مِنْ شَعْرِهِ فِي الْعَشْرِ وَهُوَ يُرِيدُ أَنْ يُضَحِّيَ

بیان دهغه کس څوک چه د قربانۍ اراده لري چه دذي الحجې په لسو ورځو کښې به ويښته نه کموي

[۲۷۹۱](۱) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مُسْلِمٍ اللَّيْثِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ، يَقُولُ: سَمِعْتُ أُمَّ سَلَمَةَ، تَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ كَانَ لَهُ ذِبْحٌ يَذْبَحُهُ فَإِذَا أَهَلَّ هِلَالُ ذِي الْحِجَّةِ فَلَا يَأْخُذَنَّ مِنْ شَعْرِهِ وَلَا مِنْ أَظْفَارِهِ شَيْئًا حَتَّى يُضَحِّيَ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: اخْتَلَفُوا عَلَى مَالِكٍ، وَعَلَى مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو فِي عَمْرِو بْنِ مُسْلِمٍ، قَالَ بَعْضُهُمْ: عُمَرُ وَأَكْثَرُهُمْ قَالَ: عَمْرٌو، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَهُوَ عَمْرُو بْنُ مُسْلِمِ بْنِ أُكَيْمَةَ اللَّيْثِيُّ الْجُنْدَعِيُّ.

دام المومنین ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه نبی عليه السلام فرمائيلي دی چاچه قرباني نيولي وي دذبح کولو دپاره نوکله چه دذي الحجه مياشت راوخيژي نونه دي پرې کوي دخپلو ويښتو نه اونه دنوکانونه هيڅ شی ترڅوچه ئې قرباني نه وی کړي.

﴿ قال رسول الله ﷺ من كان له ذبح يذبحه فاذا اهل هلال ذی الحجة فلا ياخذن من شعره الخ﴾

لفظ "ذبح" په کسرې د ذال سره دې يعنی ذبيحه، هغه ځاروې چه د هغه د ذبح کولو اراده ده لکه څنګه چه د الله پاک ارشاد دی ﴿ وفديناه بذبح عظيم ﴾ او کوم ذبح چه په فتحې سره دې هغه مصدر دې. يعنی کوم انسان چه د قربانۍ اراده لری نو د هغه دپاره د يکم ذوالحجة نه تر د قربانۍ پورې ويښته خرول او نوکونه پرې کول نه دی پکار.

مسئلة الباب کښې مذاهب ائمة:

دا نهی ظاهر او د حنابله په نزد دا د تحريم دپاره ده، او د امام شافعی رحمه الله او مالک رحمه الله په نزد د کراهت دپاره ده. او د احناف په نزد خلاف اولی ده لکه په بذل المجهود کښې دی.

امام ترمذی د دې حديث نه پس ليکی : والی هذا الحديث ذهب احمد واسحاق ورخص بعض اهل العلم فی ذلک فقالوا لا باس ان ياخذ من شعره واظفاره وهو قول الشافعی واحتج بحديث عائشة رضی الله عنها ﴿ ان النبی ﷺ كان يبعث بالهدى من المدينة فلا يجتنب شيئا مما يجتنب من المحرم ﴾ آه... امام نووی رحمه الله په دې کښې د امام شافعی رحمه الله مسلک د کراهت تنزيهی ليکلې دې. غالبا د امام ترمذی مراد د لاباس نه هم دا دې يعنی جائز مع الکراهة د دې نه پس امام ترمذی رحمه الله د امام شافعی رحمه الله په دليل کښې د عائشې رضي الله عنها حديث پيش کړې دې، د هغې جواب په عرف الشذی کښې شاه صاحب رحمه الله دا ورکړې دې چه د رسول الله ﷺ بعث هدی غير ذی الحجة کښې کيدلو په دې وجه به هغوی د دې نه ځان نه ساتلو، او شاه صاحب دا هم فرمائی والعرض التشاکل بالحجاج يعنی په حديث الباب کښې چه د ويښتو لرې کولو او د بريتو د ورولو چه کوم ممانعت دې په دې سره مقصود قربانۍ کونکې لره مشابهت اختيارول دی د حاجی محرم سره.

والحديث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی، وابن ماجة بمعناه قال المنذری.

---

۱): صحيح مسلم/الأضاحي ۳ (۱۹۷۷)، سنن الترمذي/الأضاحي ۲٤ (۱۵۲۳)، سنن النسائي/الضحايا ۱ (٤۳٦٦)، سنن ابن ماجه/الأضاحي ۱۱ (۳۱٤۹)، (تحفة الأشراف: ۱۸۱۵۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۸۹/٦، ۳۰۱، ۳۱۱)، سنن الدارمي/الأضاحي ۲ (۱۹۹۰) (حسن صحيح)

بَابُ مَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الضَّحَايَا

قرباني په كوم قسم څاروی باندې بهتره ده؟

[٢٧٩٢]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي حَيْوَةُ، حَدَّثَنِي أَبُو صَخْرٍ، عَنِ ابْنِ قُسَيْطٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِكَبْشٍ أَقْرَنَ يَطَأُ فِي سَوَادٍ، وَيَنْظُرُ فِي سَوَادٍ، وَيَبْرُكُ فِي سَوَادٍ فَأُتِيَ بِهِ فَضَحَّى بِهِ، فَقَالَ: يَا عَائِشَةُ هَلُمِّي الْمُدْيَةَ، ثُمَّ قَالَ: اشْحَذِيهَا بِحَجَرٍ فَفَعَلْتُ، فَأَخَذَهَا وَأَخَذَ الْكَبْشَ فَأَضْجَعَهُ وَذَبَحَهُ، وَقَالَ: بِسْمِ اللهِ اللَّهُمَّ تَقَبَّلْ مِنْ مُحَمَّدٍ وَآلِ مُحَمَّدٍ وَمِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ، ثُمَّ ضَحَّى بِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

دام المومنين عائشته رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه نبی عليه السلام دښکرونو والا ګډ اوغوښتو دکوم چه سترګي سينه اوخيټه او پښي توري وي وبي فرمائيل چاړه په کانړي تيره کړئ او رائي وړئ ماورته راوړو نبی عليه السلام واخستو اوګی ئي په زمکه څملولو اوذبح کولوقصد ئي اوکړو اودا دعائي اوفرمائيله: «بسم الله اللّهُمَّ تقبل من محمد وآل محمد ومن أمة محمد» دالله په نوم سره زبح کوم، اي الله محمد دطرف نه اودهغه دال اواولاد او امة دطرف نه دا قبول کړي، او بيانبی عليه السلام دغه کی قرباني کړو.

﴿ عن عائشة رضی الله عنها ان رسول الله صلى الله عليه وسلم امر بكبش اقرن يطا فی سواد وينظر فی سواد ﴾

شرح الحديث:

يعنی رسول الله صلى الله عليه وسلم د داسي ښکلی ګډ د قربانئ حکم ورکړو چه په هغي کښي دا صفتونه موندلي کيږی چه د ښکرو والا وی، ګرځيدونکي وی په تور والی کښي يعنی د هغه خپي توري وی، او ګوری په توروالی کښي يعنی د هغه سترګي ښکلي توري وی، کينی په تور والی کښي يعنی د هغه خيټه او ډډي توري وی. بيا هغوی اوفرمائيل اي عائشي! چاړهٔ راوړه او د هغي پلک په کانړی باندي راخکلو سره تيرهٔ کړه، بيا هغوی هغه راڅملولو او ذبح ئي کړو او د ذبح کولو په وخت ئي دا اوئيل ﴿ بسم الله اللهم تقبل من محمد وال محمد ومن امة محمد ﴾ (صلى الله عليه وسلم)

د قربانئ د څاروی د ذبح کولو په وخت دي هغه په ګسه ډډه باندي څملولي شي چه په هغي سره د هغه څاروی سر د ذبح کونکی طرف ته شي او هغه د هغه سر لره په ګس طرف ته په زورسره په ښی لاس باندي په آسانئ سره ذبح کړی. قاله النووی وذکر اتفاق العلماء عليه او ددي شکل به دا وی چه د اضحيهٔ سر جنوب او خپلي شمال طرف ته کيخودلي شی او په ګس طرف باندي څملولي شی چه د څاروی استقبال قبلي طرف ته شي.

په دي حديث کښي دی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو ګډ قرباني د خپل طرف نه او د خپل اهل بيت بلکه د ټول امت د طرف نه اوکړه، آيا د يو بيزي قرباني د ټولو خلقو د طرف نه کيدي شی، د دي مسئلي دپاره وړاندي په کتاب کښي يو مستقل باب را روان دي "باب فی الشاة يضحی بها عن جماعة".

(): صحيح مسلم الأضاحي ٣ (١٩٦٧)، (تحفة الأشراف: ١٧٣٦٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٧٨/٦) (حسن)

د قربانۍ په ښاروی کښې شرکت او په هغې کښې د مذاهب ائمه تفصیل او تحقیق

په دې کښې بعض علماء کرام لکه د امام مالک، احمد او اوزاعی رحمهم الله مسلک هم دا دې چه یو بیزه د پوره کور د طرف نه جائز ده اګر چه هغوی د اووۀ کسانو نه هم ډیر وی. او د دوه کورونو والو دطرف نه جائزنه دي اګر چه د هغوی تعداد د اووۀ نه کم وی، (کذا فی البدائع وغیره وسیجئ تفصیل المذاهب) د احنافو د طرف نه د دې جواب داسې ورکړې شوې دې چه دا حدیث منسوخ دې د هغه حدیث په وجه باندې کوم چه په راروان "باب البقر عن کم تجزیٔ" د لاندې راروان دې. او یا دې دا اوئیلې چه دا د رسول الله ﷺ په خصوصیاتو کښې دې، او دریم تاویل دا کړې شوې دې چه په دې سره مقصود مشارکة فی الثواب دې نه د ټولو د طرف نه قربانی، والله تعالی اعلم. دا آخری توجیه زیاته غوره معلومیږی.

په موطاء امام مالک کښې "الشرکة فی الضحایا" د عنوان د لاندې په اوجز څلورم جلد کښې شیخ صاحب رحمه الله د امامانو مذاهب داسې لیکلې دی د امام مالک مسلک ئې د علامه باجی مالکی نه نقل کړی دی چه د هغوی په نزد هدی واجب دې او په اضحیة کښې دا خبره جائز نه ده چه یو ښاروې د قربانۍ د ښاروی په قیمت کښې شریکیدو سره واخلی او د هغې قربانی اوکړی که هغه بقره وی یا که بدنة، او په هدۍ د تطوع کښې د هغوی دوه اقوال دی، قول مشهور هم هغه دې چه په دې کښې هم اشتراک جائز نه دې چه د یو انسان دپاره د قربانۍ ښاروې وی او هغه د هغه قربانی اوکړی د خپل طرف نه او د خپل اهل وعیال د طرف نه اګر چه هغه د اووۀ نه زیات وی آه ګویا د دې کلام حاصل دا شو چه د امام مالک رحمه الله په نزد د قربانۍ ښاروې که غوا وی که اوښ وی او که ګډ وی د هغې قربانی صرف د یو انسان د طرف نه کیدې شی، خو که خاص د خپل اهل بیت په دې کښې نیت اوکړی نو هغه صحیح دې اګر که هغه اهل بیت د اووۀ نه زیات ولې نه وی، او د احنافو مسلک باجی دا بیان کړې دې چه د هغوی په نزد هدی او اضحیه هر دواړو کښې د اووۀ کسانو شرکت کیدې شی (ای فی البدنة والبقرة) په دې شرط چه د ټولو شریکانو مقصود په دې ذبح سره قربت وی اګر چه قربت وجود مختلف وی، لکه جزاء صید او فدیه اذی وغیره او که په دې شریکانو کښې د یو شریک مقصد قربت نه وی نو هغه قربانی به صحیح نه وی هغه فرمائی چه د امام شافعی رحمه الله په نزد په هر صورت کښې جائز ده (که د ټولو مقصود قربت وی او که نه وی) او د دې دواړو (احنافو او شوافعو) په دې خبره اتفاق دې چه د اووۀ نه د زیاتو شرکت جائز نه دې، فالخلاف بیننا وبینهم فی فصلین احدهما انه لا یجوز الاشتراک فی الرقبة عندنا ویجوز عندهم والثانی انه یجوز عندنا ([1]) ان تنحر البدنة الواحدة عن اکثر من سبعة وعندهم لا یجوز ذلک آه علامه باجی د حنابله مسلک نقل نه کړو، ابن قدامه د هغوی مسلک په دې کښې د احنافو او شوافعو مطابق لیکلې دې. یعنی دا چه په بدنه او بقره کښې د اووۀ کسانو شرکت کیدې شی، د قربت نیت کیدل د شوافعو په شان د هغوی په نزد هم ضروری نه دی او د مالکیانو

[1] ای عند المالکیة لان القائل هو العلامة الباجی)

په نزد خو چونکه نفس شرکت جائز نه دې په دې وجه هلته د اتحاد نيت او اختلاف نيت سوال هم نه پيدا کيږي، ابن قدامه فرمائي چه په بدنة او بقرة کښې د اووه شرکت مطلقا جائز دې برابره خبره ده که هغوی مشترک وی د يو کور نه او يا نه وی. بيا وړاندې ابن قدامه کفاية عن اهل بيت واحد په مسئله کښې ليکلی دی ولا باس ان يذبح الرجل عن اهل بيته شاة واحدة او بقرة او بدنة نص عليه احمد وبه قال مالک والليث والاوزاعی آه

د دې نه پس تاسو ځان په دې پوهه کړئ چه د شاة په باره کښې د شوافعو او حنابله او مالکيانو د درې واړو په کتب فروع کښې دا ملاويږي ﴿ انها تجزی عن الرجل وعن اهل بيته وان كانوا سبعة او اكثر ﴾ خو د جائز کيدو مفهوم د هغوی په نزد دې چه اضحيه خوبه د ذابح د طرف نه ګنړلې شي او د ثواب استحقاق به هم خاص د هغه دپاره وی خو چونکه د هغه حضراتو په نزد قربانی سنت علی الکفاية ده په دې وجه د يو سړی قربانی کول به د ټول اهل بيت د طرف نه کافی شی د څه نه چه د هغوی په کتابونو کښې په سقوط الطلب سره تعبير کړې شوې دې يعنی د دې قربانئ نه پس د کور والو نه د اضحيه شرعا مطالبه پاتې نه شوه.[1] او حديث الباب چه په هغې کښې دا دی چه رسول اللهﷺ د کبش واحد قربانی د خپل ټول امت د طرف نه اوکړه دا هغوی په خصوصيت باندې محمول کړې دې د حصول ثواب للامة په حق کښې. والحديث اخرجه مسلم قاله المنذری.

[۲۷۹۳][2] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحَرَ سَبْعَ بَدَنَاتٍ بِيَدِهِ قِيَامًا، وَضَحَّى بِالْمَدِينَةِ بِكَبْشَيْنِ أَقْرَنَيْنِ أَمْلَحَيْنِ.

د انس نه روايت دې چه نبی عليه السلام اووه اوښان په ولاړه په خپل لاس حلال کړي وو او په مدينه کښې ئې په دوه ښکرورو ګډانو قربانی کړې وه.

﴿ نحر سبع بدنات بيده قياما وضحی بالمدينة بكبشين اقرنين املحين ﴾

شرح الحديث:

دا حديث د بخاری په کتاب الحج کښې "باب من نحر هديه بيده" هم په دې طريق سره هم داسې روايت دې په ظاهر کښې د نحر بدن واقعه د مکې مکرمې ده، او د کبشين املحين د قربانئ واقعه. لکه چه په روايت کښې تصريح ده د مدينې منورې ده، اوس به سوال دا وی چه په حج کښې خو رسول اللهﷺ لکه چه په رواياتو کښې تصريح ده د سلو هدايا نحر فرمائيلې وو د دې جواب کتاب الحج ته د رجوع کولو نه معلوميږی چه په دې کښې

---

[1]) ففي شرح الاقناع من فروع الشافعية ۲۴۰ وتجزئ البدنة عن سبعة وكذا البقرة وتجزئ الشاة عن واحد فقط ، فان ذبحها عنه وعن اهله او عنه واشرك غيره في ثوابها جاز آه وفي هامشه : والشاة عن واحد فقط فان قلت هذا مناف لما بعده حيث قال فان ذبحها عنه وعن اهله الخ اجيب بانه لا منافاة لأن قوله عن واحد اي من حيث حصول التضحية حقيقة وما بعده الحاصل للغير انما هو سقوط الطلب عنه واما الثواب التضحية حقيقة فخاصان بالفاعل علي كل حال آه وفي الروض المربع ونيل المآرب من فروع الحنابلة : تجزئ الشاة عن واحد واهل بيته وعياله والبدنة والبقرة عن سبعة)

[2]): صحيح البخاري/الحج ۲۴ (۱۵۴۷)، ۲۵ (۱۵۴۸)، ۲۷ (۱۵۵۱)، ۱۱۹ (۱۷۱۵)، الجهاد ۱۰۴ (۲۹۵۱)، ۱۲۶ (۲۹۸۶)، صحيح مسلم/صلاة المسافرين ۱ (۶۹۰)، سنن النسائي/الضحايا ۱۳ (۴۳۹۲)، وقد مضي هذا الحديث برقم (۱۷۹۶)، (تحفة الأشراف: ۹۴۷) (صحيح)

روایات مختلف دی د اووهٔ اوښانو یو روایت پکښې هم دې، او د سبع د تخصیص یو وجه په کتاب الحج کښې دا تیره شوې ده یعنی په هغوی کښې هر یو رسول الله ﷺ ته نزدې کیده چه اوګوری په مونږ کښې د کوم یو نه شروع فرمائی. ﴿کلهن یزدلفن الیه بایتهن یبدأ﴾ (۱)

﴿ املح ﴾ هغه څاروې چه د هغه د ویښتو سپین والې د هغه په تور والی باندې غالب وی (بذل) وفی المرقات : الاملح افعل من الملحة وهی بیاض یخالطه السواد وعلیه اکثر اهل اللغة وقیل بیاضه اکثر من سواده، وقیل هو نقی البیاض آه (عون)

تنبیه: دا حدیث پوره په صحیح بخاری کښې موجود دې کما تقدم فالعجب من الحافظ المنذری حیث قال اخرج البخاری قصة الکبشین فقط بنحوه.

[۲۷۹۴](۲) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحَّى بِكَبْشَيْنِ أَقْرَنَيْنِ أَمْلَحَيْنِ يَذْبَحُ وَيُكَبِّرُ وَيُسَمِّي وَيَضَعُ رِجْلَهُ عَلَى صَفْحَتِهِمَا.

دانس رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی علیه السلام په دوه ښکرورو ګډانو قربانی کړې وه دذبح په وخت به ئې تکبیر وئیلو اوبسم الله به ئې وئیله او په څټ به ئې ورله خپه ایښودلې وه.

[۲۷۹۵](۳) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا عِيسَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَبِي عَيَّاشٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: ذَبَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الذَّبْحِ كَبْشَيْنِ أَقْرَنَيْنِ أَمْلَحَيْنِ مُوجَأَيْنِ، فَلَمَّا وَجَّهَهُمَا قَالَ: "إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ عَلَى مِلَّةِ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ، إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ، اللَّهُمَّ مِنْكَ وَلَكَ وَعَنْ مُحَمَّدٍ وَأُمَّتِهِ بِاسْمِ اللَّهِ وَاللَّهُ أَكْبَرُ"، ثُمَّ ذَبَحَ.

دجابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی علیه السلام دقربانۍ په ورځ باندې دوه ښکرور څاربه خسی ګډان ذبح کړل، هرکله چه ئې قبیلې ته مخامخ کړل وئې فرمائیل یقینا زه خپل مخ دهغه ذات طرف ته متوجه کوم چاچه زمکه او اسمانونه پیدا کړی دی اوزه په دین ابراهیمی باندې قائم یم اود مشرکانونه نه یم یقینا زمامونځ زما قرباني زماټول عبادتونه زما ژوند اوزما مرګ خالص دالله تعالی دپاره دې دهغه څوک شریک نشته دې اوماته په دې خبره باندې حکم شوې دې اې الله داقرباني ستا ورکړه ده اوداصرف ستادرضادپاره ده، د محمد دطرف نه اودهغه دامت دطرف نه دالله په نوم سره اوالله دهرڅه نه ډیر لوئې دې ددې کلماتو وئیلونه پس ئې ذبح کړل.

﴿ عن جابر بن عبدالله رضی الله عنهما قال ذبح النبی صلی الله علیه وسلم یوم الذبح کبشین اقرنین املحین موجوئین ﴾ وفی بعض النسخ موجبین، وفی بعضها موجیین یعنی خصی.

امام خطابی رحمه الله فرمائی په دې کښې دلیل دې په دې خبره باندې چه د خصی قربانی

---

(۱) خو په ابوداؤد کښې دا حدیث د عبدالله بن قرط رضی الله عنه په روایت سره دې ولفظه وقرب لرسول الله ﷺ بدنات خمس اوست فطفقن یزدلفن الیه بایتهن یبداء الحدیث)

(۲): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۳٦٤) (صحیح)

(۳): سنن ابن ماجه/الأضاحي ۱ (۳۱۲۱)، (تحفة الأشراف: ۳۱٦٦)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الأضاحي ۲۲ (۱۵۲۱)، مسند احمد (۳/۳۵٦، ۳٦۲، ۳۷۵)، سنن الدارمي/الأضاحي ۱ (۱۹۸۹) (حسن)

مکروه نه ده او بعض اهل علمو د دې قرباني مکروه کړې ده ﴿ لنقص العضو ﴾ خو دا نقص عيب نه دې ځکه چه د خصاء په وجه باندې غوښه مزيداره کيږي او د هغې بدبوئي ختميږي.

او د دې نه روستو حديث کښې چه د هغې راوي ابوسعيد خدري رضي الله عنه دې په هغې کښې دي ﴿ بکبش اقرن فحيل ﴾ يعنی داسې کبش چه په جفتئ کښې ډير غوره وي، او د فحل اطلاق په مطلق نر باندې هم کيږي، په دواړو روايتونو کښې په ظاهره تعارض دې لکه چه ابن العربي داسې ګڼړلې ده هغه وائي په دې حديث د ابوسعيد رضي الله عنه سره د هغه روايت ترديد کيږي چه په هغې کښې موجوئين وارد شوې دې، حافظ فرمائي دا خبره نه ده بلکه په دې کښې احتمال د تعدد دواقعاتو دې يو ځل رسول الله ﷺ قرباني دخصي اوکړه او يو ځل د غير خصي. (تحفة الاحوذي)

حديث جابر رضي الله عنه اخرجه ابن ماجة وحديث ابي سعيد اخرجه الترمذي والنسائي وابن ماجة قاله المنذري

[۲۷۹٦](¹) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا حَفْصٌ، عَنْ جَعْفَرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُضَحِّي بِكَبْشٍ أَقْرَنَ فَحِيلٍ يَنْظُرُ فِي سَوَادٍ، وَيَأْكُلُ فِي سَوَادٍ، وَيَمْشِي فِي سَوَادٍ.

دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دې چه نبي عليه السلام به په ښکرو والاګډ باندې قرباني کوله کوم چه به توربخن ښکاريدو او په تور والی کښې به ئې خوراك کولو او په توروالي کښې به ګرځيدو يعنی سترګي او پښې ئې توري وي.

بَابُ مَا يَجُوزُ مِنَ السِّنِّ فِي الضَّحَايَا

د قربانئ د څاروی دپاره څومره عمر ضروري دی؟

يعنی د کوم عمر د څاروی قرباني جائز ده.

[۲۷۹۷](²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي شُعَيْبٍ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَذْبَحُوا إِلَّا مُسِنَّةً، إِلَّا أَنْ يَعْسُرَ عَلَيْكُمْ، فَتَذْبَحُوا جَذَعَةً مِنَ الضَّأْنِ".

دجابر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلی دی په قرباني کښې صرف مسنه ذبح کوئ که چرې مسنه نه ملاويږي نوبيا جزعه ذبح کړئ.

﴿ عن جابر رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لا تذبحوا الا مسنة الا ان يعسر عليكم فتذبحوا جذعة من الضان ﴾

د مسنة مصداق سره د اختلاف د ائمه:

رسول الله ﷺ فرمائي چه قرباني دې صرف په مسنه سره اوکړې شي او د هغې نه په کم دې

¹): سنن الترمذي/الأضاحي ٤ (١٤٩٦)، سنن النسائي/الضحايا ١٣ (٤٣٩٥)، سنن ابن ماجه/الأضاحي ٤ (٣١٢٨)، (تحفة الأشراف: ٤٢٩٧) (صحيح)

²): صحيح مسلم/الأضاحي ٢ (١٩٦٢)، سنن النسائي/الضحايا ١٢ (٤٣٨٣)، سنن ابن ماجه/الأضاحي ٧ (٣١٤١)، (تحفة الأشراف: ٢٧١٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣١٢، ٣٢٧) (صحيح)

نه شی کولې. په معنی د عمر والا چه هغه ته ثنی هم وئیلې شی، بیا په دې باندې ځان پوهول پکار دی چه مسنة د هر څاروی ځانله ځانله وی، پس مسنة الابل هغه دې چه د پنځو کالو کیدو سره په شپږم کال کښې داخل شی او مسنة البقر هغه دې چه د پوره دوه کالو کیدو سره په دریم کال کښې داخل شی او په غنم کښې که هغه ګډه وی که بیزه هغه ده چه د پوره یو کال کیدو سره په دویم کال کښې داخل شی.

په دې باندې ځان پوهول پکار دی چه غنم جنس دې چه د هغې دوه قسمونه دی معز (بیزه یا چیلۍ) او ضان (ګډان) د دې نه پس په حدیث کښې دا دی چه که یو انسان ته مسنة حاصله نه شی نو هغه جذع من الضان کولې شی. جذع په لغت کښې هغه ته وئیلې شی چه پوره د یو کال وی او شرعا چه کم از کم د شپږو میاشتو وی ما تمت له ستة اشهر کذا فی الهدایة، او بعض علماء کرامو د دې تفسیر داسې لیکلې دې ﴿ما اتی علیه اکثر الحول﴾ یعنی چه په هغه باندې د کال اکثره حصه تیره شوې وی، په دېحدیث کښې د جذع سره د ضان قید دې هم په دې وجه جذع من المعز (د بیزې د شپږو میاشتو بچې) په ائمه اربعه کښې د چا په نزد هم جائز نه دې. امام نووی فرمائی جدع من الضان مطلقا د ټولو علماء کرامو په نزد جائز دې سواء وجد غیره ام لا په بذل المجهود کښې لیکی چه فقهاء په جذعه کښې دا شرط لګولې دې چه داسې تندرست او څورب وی چه هغه د پوره کال په ګډانو کښې پریخودلې شی نو د هغوی سره ئې فرق محسوس نه شی.

دا څه چه مونږ د مسنة د مصداق په باره کښې اولیکل په دې کښې د احنافو او حنابله مسلک خو بعینه هم دا دې خو د شوافعو او مالکیانو په دې کښې په بعض کښې اختلاف دې، پس د شوافعو په نزد مسنة الغنم که هغه معز وی او که ضان هغه دې چه پوره د دوه کالو وی، او جذع من المعز والضان هغه دې چه د یو کال وی، او د مالکیانو په نزد په مسنة البقر کښې اختلاف دې د هغوی په نزد مسنة البقر هغه دې چه د درې کالو وی، پس د شوافعو اختلاف په غنم کښې او د مالکیانو په بقر کښې شو، او د دې نه دا هم معلومه شوه چه د جذع من الضان د کوم چه په حدیث کښې اجازت ورکړې شوې دې هغه د ائمه ثلاثه په نزد خو هغه دې چه د شپږو میاشتو وی یا داسې اوایه چه د یو کال نه کم وی، او د شوافعو په نزد هغه دې چه پوره د یو کال وی، په دې هم ځان پوهول پکار دی چه جذع من الضان چه د جمهور او څلورو امامانو په نزد جائز دې او په دې کښې د سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما او امام زهری رحمه الله اختلاف دې هغوی دا جائز نه ګڼړی لکه چه په شروحو کښې دی

(من الاوجز والبذل)

والحدیث اخرجه مسلم والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری.

[۲۷۹۸] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ صُدْرَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي عُمَارَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ طُعْمَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، قَالَ: قَسَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَصْحَابِهِ ضَحَايَا فَأَعْطَانِي عَتُودًا جَذَعًا: فَرَجَعْتُ بِهِ إِلَيْهِ، فَقُلْتُ لَهُ: إِنَّهُ جَذَعٌ، قَالَ: ضَحِّ بِهِ، فَضَحَّيْتُ بِهِ.

دزید بن خالد جهنی رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه نبی علیه السلام په صحابه کرامو باندې د قربانئ څاروی تقسیم کړل اوماته ئې چیلی یوبچې کوم چه یوکلن وو رائې کړو مادغه بچې نبی علیه السلام ته واپس بوتلو او ورته مې اووئیل چه داخو جزعه دې نبی علیه السلام اوفرمائیل په دې قربانئ اوکړه نوماذبح کړو اوقرباني مې پرې اوکړه.

﴿ عن زید بن خالد الجهنی رضی الله عنه قال قسم رسول الله ﷺ فی اصحابه ضحایا فاعطانی عتودا جذعا ﴾

شرح الحدیث:

یعنی رسول الله ﷺ په خپلو اصحابو کښې د قربانئ څاروی تقسیم کړل، هغوی ماته هم د بیزې یو بچې راکړو. هغوی وائی چه ما هغه رسول الله ﷺ ته راوستلو او عرض مې اوکړو چه یا رسول الله ﷺ دا خو جذع یعنی ناقص العمر دې، رسول الله ﷺ اوفرمائیل ته د دې قربانی اوکړه.

دا جذع که من المعز وی نو بیا خو به د دې صحابی خصوصیت وی او د بل چا دپاره به جائز نه وی، او که ﴿ جذع من الضان ﴾ وه نو بیا په خصوصیت باندې د حمل کولو ضرورت نشته.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم من روایة عقبة بن عامر الجهنی رضی الله عنه، قاله المنذری.

[۲۷۹۹] (²) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا الثَّوْرِيُّ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يُقَالُ لَهُ مُجَاشِعٌ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ فَعَزَّتِ الْغَنَمُ فَأَمَرَ مُنَادِيًا، فَنَادَى أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ: "إِنَّ الْجَذَعَ يُوَفِّي مِمَّا يُوَفِّي مِنْهُ الثَّنِيُّ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهُوَ مُجَاشِعُ بْنُ مَسْعُودٍ.

اصم بن کلیب دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه مونږه په صحابه کرامو کښې دیوکس سره وو چه مجاشع به ورته وئیلې شو دبنی سلیم قبیلې والا یوځل ګډان چیلی ګران شول نوهغه اعلان کونکی ته داعلان کولوحکم اوکړو چه دا اعلان اوکړي چه نبی علیه السلام فرمائیلی وو چه په کوم ځائې کښې مسنه کافی وي نوهلته جزعه هم کافی ده ابوداود وائی دغه مجاشع بن مسعود وو.

﴿ عن عاصم بن کلیب عن ابیه قال کنا مع رجل.......... فعزت الغنم فامر منادیا فنادی ان رسول الله ﷺ کان یقول ان الجذع یوفی مما یوفی من الثنی ﴾

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۷۵۱)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الوكالة ۱ (۲۳۰۰)، والشركة ۱۲ (۲۵۰۰)، والأضاحي ۲، (۵۵۴۷) ۷ (۵۵۵۵)، صحيح مسلم/الأضاحي ۲ (۱۹۶۵)، سنن الترمذي/الأضاحي ۷ (۱۵۰۰)، سنن النسائي/الضحايا ۱۲ (۴۳۸۴)، سنن ابن ماجه/الأضاحي ۷ (۳۱۳۸)، مسند احمد (۱۴۹/۴، ۱۵۲، ۱۹۴/۵)، سنن الدارمي/الأضاحي ۴ (۱۹۹۶)، كلهم عن عقبة بن عامر رضي الله عنه (حسن صحيح)

²): سنن النسائي/الضحايا ۱۲ (۴۳۸۹)، سنن ابن ماجه/الأضاحي ۷ (۳۱۴۰)، (تحفة الأشراف: ۱۱۲۱۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۶۸/۵) (صحيح)

کليب فرمائی چه مونږ د يو صحابی ﷺ سره وو چه د هغه نوم مجاشع دی. يو كال داسې اوشو چه د بيزو (چيلو)کمې پيدا شو يعنی د پوره عمر والو، نو هغه صحابی په يو سړی باندې دا اعلان اوکړو چه رسول الله ﷺ به فرمائيل چه د ګډ د شپږو مياشتو بچې هم هغه کار ورکوی چه د پوره عمر والا ورکوی. والحديث اخرجه ابن ماجة قال المنذری.

[۲۸۰۰]([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، حَدَّثَنَا مَنْصُورٌ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ: خَطَبَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ بَعْدَ الصَّلَاةِ، فَقَالَ: "مَنْ صَلَّى صَلَاتَنَا وَنَسَكَ نُسُكَنَا فَقَدْ أَصَابَ النُّسُكَ، وَمَنْ نَسَكَ قَبْلَ الصَّلَاةِ فَتِلْكَ شَاةُ لَحْمٍ، فَقَامَ أَبُو بُرْدَةَ بْنُ نِيَارٍ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَاللَّهِ لَقَدْ نَسَكْتُ قَبْلَ أَنْ أَخْرُجَ إِلَى الصَّلَاةِ، وَعَرَفْتُ أَنَّ الْيَوْمَ يَوْمُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ، فَتَعَجَّلْتُ فَأَكَلْتُ وَأَطْعَمْتُ أَهْلِي وَجِيرَانِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تِلْكَ شَاةُ لَحْمٍ، فَقَالَ: إِنَّ عِنْدِي عَنَاقًا جَذَعَةً وَهِيَ خَيْرٌ مِنْ شَاتَيْ لَحْمٍ فَهَلْ تَجْزِءُ عَنِّي، قَالَ: نَعَمْ، وَلَنْ تَجْزِءَ عَنْ أَحَدٍ بَعْدَكَ".

دبراء بن عازب نه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام مونږ ته دلوی اختر په ورځ باندې پس دمانځه نه خطبه راکړه اووئې فرمائيل څوک چه زمونږ د مونځ په شان مونځ اوکړي او څوک چه زمونږ دقربانۍ په شان قرباني اوکړي نوده قرباني اوکړه (يعنی اجر به ورته ملاو شي او څوک چه دلوي اختر مونځ نه مخکښې قرباني اوکړي نوداصرف غوښه ده قرباني نه ده نو په دې وخت کښې ابوبرده بن نيار پاڅيدوار عرض ئې اوکړو اې دالله رسوله په الله قسم ماخودلوی اختر دمونځ نه مخکښې قرباني اوکړه اومادا ګڼړل چه داورځ دخوراك څښاك ده نومادتوندئ نه کار واخستو ما پخپله هم اوخوړله او پخپلې ښځې اوبچو اوګاونډيانوي هم اوخوړه، نبی علیه السلام اوفرمائيل داخوصرف دغوښې چيلې شو بياابوبرده عرض اوکړو اې دالله رسوله زماسره يوجزعه چيلې موجود دې کوم چه دغوښې والا دوه چيلونه بهتردې نواياد قرباني دپاره به دا کافی وي؟ نبی علیه السلام اوفرمائيل ليکن دغه چيلې ستانه علاوه به دبل چادپاره کافی نه وي(داحکم صرف ستادپاره دې).

﴿ عن البراء رضی الله عنه قال خطبنا رسول الله ﷺ يوم النحر بعد الصلوة فقال من صلی صلاتنا ونسک نسکنا الخ ﴾

شرح الحديث:

يعنی يو ځل په لسم د ذوالحجة باندې رسول الله ﷺ د اختر د مانځه خطبه ورکړه چه په هغې کښې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه څوک زمونږ په شان اول د اختر مونځ ادا کړی او بيا زمونږ په شان قربانی اوکړی نو د هغه قربانی خو صحيح ده او کوم انسان چه د اختر د مانځه نه مخکښې قربانی اوکړی نو د هغه دا ذبح کول به د غوښې دپاره وی نه د قربانۍ په طور په دې باندې يو صحابی ابوبرده ﷺ پاسيدو او عرض ئې اوکړو يا رسول الله ﷺ ما د اختر د مانځه نه مخکښې قربانی اوکړه په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل دا ګډ ستا د

[1]: صحيح البخاري/العيدين ٣ (٩٥١)، ٥ (٩٥٥)، ٨ (٩٧٥)، ١٠ (٩٦٨)، ١٧ (٩٧٦)، ٢٣ (٩٨٣)، الأضاحي ١ (٥٥٤٥) (٥٥٥٦)، ٨ (٥٥٥٧)، ١١ (٥٥٥٧)، ١٢ (٥٥٦٣)، الأيمان والنذور ١٥ (٦٦٧٣)، صحيح مسلم/الأضاحي ١ (١٩٦١)، سنن الترمذي/الأضاحي ١٢ (١٥٠٨)، سنن النسائي/العيدين ٨ (١٥٦٤)، الضحايا ١٦ (٤٤٠٠)، (تحفة الأشراف: ١٧٦٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٨٠، ٢٩٧، ٣٠٢، ٣٠٣)، سنن الدارمي/الأضاحي ٧ (٢٠٠٥) (صحيح)

غوښې ګډ دې. په دې باندې هغوی عرض اوکړو چه ما سره د بيزې يو بچې دې جذع چه د دوه چيلو د غوښو نه هم غوره دې. شراحو ليکلي دی چه مراد دا دې چه د خوراک کونکو په حق کښې د هغه غوښه ډيره عمده ده يا داسې بيان کړه چونکه رسول الله ﷺ هغه صحابی ته د تيرې قربانۍ په باره کښې دا فرمائيلي وو چه هغه قربانی نه ده بلکه شاة لحم دې او هم دې طرف ته اشاره کولو سره هغه صحابی رضی الله عنه عرض اوکړو چه ما سره يو بيزه ده چه اګر که وړه ده خو زما د ړومبۍ قربانۍ په غوښه او ښوروب والی کښې دوچند ده، نو آيا د هغې قربانی به زما دپاره کافی وی؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل ستا دپاره به کافی شی او ستا نه علاوه به د بل چا دپاره کافی نه وی، په ظاهر کښې به دا جذع من المعز وی هم په دې وجه رسول الله ﷺ جواز لره د هغه سره مقيد کړو، په دې وجه دا جواز به د هغه صحابی رضی الله عنه سره خاص وی، دا روايت په سنن ترمذی شريف کښې هم دې ولفظه: ﴿ قال (ای البراء) فقام خالی فقال يا رسول الله هذا يوم اللحم فيه مكروه وانی عجلت نسيكنی﴾ وفی اخره ﴿يا رسول الله ﷺ عندی عناق لبن هی خير من شاتی لحم ﴾ د عناق لبن معنی شراح دا ليکلي ده، چه د بيزې هغه د پيو څکلو والا بچې چه لا تراوسه پورې ئې پئ نه دی پريخودلې شوې، او په کوکب الدری کښې دا دی: وئيلې شوې دی چه د عناق لبن نه مراد دا دې چه هغه د ډير ښه نسل د بيزې بچې دې چه ډير زيات پئ ورکونکې ده او وئيلې شوې دی چه مراد دا دې چه ﴿ انها مرباة بلبن كثير ﴾ چه د هغه ښه په ډيرو پيو باندې ساتنه شوې ده چه ښه غوره او ښوروب شی. آه

د دې نه پس په دې باندې ځان پوهه کړئ چه د ترمذی په دې روايت کښې دی چه ﴿هذا يوم اللحم فيه مكروه ﴾ د دې مطلب دا بيان کړې شوې دې چه نن ورځ يعنی د قربانۍ په ورځ د سحر په وخت کښې خو غوښه خوښولې شی او مرغوب وی او د ناوخته کيدو نه پس ناخوښه او غير مرغوب شی. په دې وجه ما داسې اوکړل چه سحر وختی مې قربانی اوکړه چه خلق دې لره په شوق او رغبت سره اوخری، هسې خو فی نفسه په دې کښې روايات مختلف دی، پس د مسلم په روايت کښې خو هم داسې دی، او په دويم روايت کښې دی ﴿هذا يوم اللحم فيه مقروم ﴾ چه د هغې معنی ده خوښه، يقال قرمت الی اللحم، وقرمته اذا اشتهيته په دې صورت کښې معنی د حديث ظاهره ده چه چونکه نن ورځ د خلقو رغبت او اشتهاء غوښې طرف ته ډيره وی په دې وجه ما خپله قربانی زر اوکړه. والله تعالی اعلم.

د قربانۍ وخت کله شروع کيږی:

د دې حديث نه معلومه شوه چه د اختر د مانځه نه مخکښې قربانی کول صحيح نه دی هم په دې وجه په دې حديث باندې امام ترمذی باب تړلې دې، "باب ما جآء فی الذبح بعد الصلوة" امام ترمذی دې حديث نه پس فرمائی ﴿ والعمل علی هذا عند اهلم العلم ان لا يضحی بالمصر حتی يصلی الامام وقد رخص قوم من اهل العلم لاهل القری فی الذبح اذا طلع الفجر وهو قول ابن المبارک ﴾ د احناف مسلک د قربانۍ په وخت کښې دا دې چه د قربانۍ وخت د لسمې ذوالحجې د صبح صادق نه شروع کيږی که اهل مصر وی يا اهل قريه خو د اهل مصر په حق

کښې د جواز دپاره شرط زياتی دي هغه دا چه د اختر د مانځه نه پس ځائې په دې باندې تقديم جائز نه دې كذا في البذل عن البدائع، او د شوافعو او د حنابله مسلک په دې کښې (د اهل قريه او مصر دواړو په حق کښې) دا دې چه د نمر د راختلو نه پس دومره وخت تير شی چه په هغې کښې د اختر مونځ او خطبه ادا کيدې شی، که لا تراوسه پورې د اختر مونځ ادا شوې يا نه، پس د دومره وخت تيريدل کافي دی..... كذا في الاوجز عن كتب الفروع، دا مسئله په ابتدائی مباحثو کښې مختصرا تيره شوې ده هلته د دې ځائې حواله ورکړې شوې ده.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری.

[۲۸۰۱](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ عَامِرٍ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: ضَحَّى خَالٌ لِي يُقَالُ لَهُ أَبُو بُرْدَةَ قَبْلَ الصَّلَاةِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "شَاتُكَ شَاةُ لَحْمٍ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ عِنْدِي دَاجِنًا جَذَعَةً مِنَ الْمَعْزِ، فَقَالَ: اذْبَحْهَا وَلَا تَصْلُحُ لِغَيْرِكَ".

دبراء بن عازب رضی الله عنه نه روايت فرمائی چه زما ماما چه ابوبرده به ورته وئيلې شو داختر د مونځ نه مخکښې ئې قربانی اوکړه نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل چه ستا چيلې خودغوښې دپاره ذبح شو (قربانی دې اونه شوه) هغه عرض اوکړو اې دالله رسوله زماسره يوه جزعه قسم چيلې موجود دي نبی عليه السلام اوفرمائيل ذبح ئې کړه اوستانه علاوه دبل چادپاره صحيح نه دې۔

بَابُ مَا يُكْرَهُ مِنَ الضَّحَايَا.

په کومو ځاروو باندې قرباني کول مکروه دی؟

[۲۸۰۲](٢) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ النَّمَرِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ فَيْرُوزَ، قَالَ: سَأَلْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ مَا لَا يَجُوزُ فِي الْأَضَاحِيِّ، فَقَالَ: قَامَ فِينَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَصَابِعِي أَقْصَرُ مِنْ أَصَابِعِهِ، وَأَنَامِلِي أَقْصَرُ مِنْ أَنَامِلِهِ، فَقَالَ: أَرْبَعٌ لَا تَجُوزُ فِي الْأَضَاحِيِّ الْعَوْرَاءُ بَيِّنٌ عَوَرُهَا، وَالْمَرِيضَةُ بَيِّنٌ مَرَضُهَا، وَالْعَرْجَاءُ بَيِّنٌ ظَلْعُهَا، وَالْكَسِيرُ الَّتِي لَا تَنْقَى، قَالَ: قُلْتُ: فَإِنِّي أَكْرَهُ أَنْ يَكُونَ فِي السِّنِّ نَقْصٌ، قَالَ: مَا كَرِهْتَ فَدَعْهُ، وَلَا تُحَرِّمْهُ عَلَى أَحَدٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: لَيْسَ لَهَا مُخٌّ.

دعبيدبن فيروز نه روايت دي فرمائی چه دبراء بن عازب رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه چه دقربانی دپاره کوم قسم ځاروی مناسب دي؟نوبراء رضی الله عنه اوفرمائيل چه يوه ورځ نبی عليه السلام په مونږ کښې پاځيدو اوزما ګوتې دهغه دګوتونه ورې اوحقيپري دي اوزما دګوتو بندونه دهغه د بندونونه حقير او واړه دي (يعنی په څلورو ګوتوسره ئې اشاره اوکړه او وئې فرمائيل چه څلورقسمه ځاروی د قربانی لائق نه دی، يو خو هغه ځاروی دي کوم چه ښکاره کانړې وي بل هغه چه مرض ئې ښکاره وي او بل هغه ګوډ ځاروي چه ګوډتوب ئې ښکاره وي اوبل کمزوري اوخوار ځاروی دی دکوم چه پوختئ شميرلي شي، ماعرض وکړوچه زما د قربانئ دپاره هغه ځاروی هم خوښ نه دی دکوم چه عمرکم وي، نبی عليه السلام اوفرمائيل کوم چه درته

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٧٦٩) (صحيح)

(٢): سنن الترمذي/الأضاحي ٥ (١٤٩٧)، سنن النسائي/الضحايا ٤ (٤٣٧٤)، سنن ابن ماجه/الأضاحي ٨ (٣١٤٤)، (تحفة الأشراف: ١٧٩٠)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الضحايا ١(١)، مسند احمد (٢٨٤/٤، ٢٨٩، ٣٠٠، ٣٠١)، سنن الدارمي/الأضاحي ٣(١٩٩٢) (صحيح)

بدښکاري هغه پرېږده ليکن بل څوک تري مه منع کوه.

﴿ سالت البراء بن عازب ما لایجوز فی الاضاحی فقال قام فینا رسول اللهﷺ الخ ﴾

شرح الحديث:

عبيد بن فيروز رحمه الله د براء رضي الله عنه نه سوال اوکړو چه کوم څاروی داسې دی چه د هغې قرباني جائز نه ده نو هغوی اوفرمائيل چه يو ځل رسول اللهﷺ موږ ته اودريدو سره خطبه اوکړه (او چونکه هغوی راتلونکې مضمون د خپل لاس د ګوتو مبارکو په اشارې سره بيان کړې وو او بيا د هغوی په اتباع کښې براء رضي الله عنه هم هغه شان خپلو ګوتو سره اشاره اوکړه په دې وجه هغوی وړاندې فرمائی) چه زما ګوتې خو ډيرې وړې دی د رسول اللهﷺ د ګوتو نه او زما بندونه ډير او کمزوری دی د هغوی د بندونو نه، پس هغوی اوفرمائيل چه څلور قسمه څناور داسې دی چه د هغې قرباني جائز نه ده:

۱: يو عوراء چه د هغې عور بالکل ښکاره وی يعنی د کوم چه يو سترګه خرابه وی او په هغې ورته څه په نظر نه راځی د هغې قرباني جائز نه ده، او که هغه په دواړو سترګو باندې ړوند وی نو د هغه قرباني په طريق اولی جائز نه ده.

۲: هغه مريض څناور چه د هغې مرض صفا ښکاره وی، د دې نه مراد هغه مريضه ده ﴿التی لا تعلف﴾ چه هغې د مرض د وجې نه ګيا خوړل پريخودلې وی.

۳: عرجاء چه د هغې ګوډوالې ښکاره وی، ﴿ظلع بمعنی عرج ای بین عرجها﴾ د دې نه مراد هغه څناور ﴿التی لا تمشی الی المنسک﴾ چه د مذبحه پورې تلې نه شی.[1]

۴: الکبير يعنی بوډا او ډير عمر والا ﴿التی لا تنقی يعنی التی لا نقی لها﴾ نقی په معنی د سدر يعنی د هډوکی دننه نلې يعنی داسې بوډا چه د هغه په خپو کښې د نلی پورې نه وی، د دې نه پس په روايت کښې دادی چه ما براء رضي الله عنه ته عرض اوکړو چه زه د قربانۍ په څاروی کښې دا ښه نه ګڼړم چه هغه کم عمر وی، هغوی اوفرمائيل چه څه ستا نه وی خوښ نو پخپله هغه پرېږده خو د نورو دپاره ئې مه ناجائز کوه. د نقص فی السن نه مراد نقص شرعی نه دې ځکه چه هغه خو د چا دپاره هم جائز نه دې بلکه د دې نه هغه نقص مراد دې چه په ظاهر کښې د کتلو په لحاظ سره او د عرف په لحاظ وی. مثلاً د يو کال بيزه دا اګر چه عرفا د کم عمر والا ده خو شرعا د قربانۍ لائق ده.

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه کوم څلور قسمونه په دې حديث کښې ذکر شوې دی د هغوی قرباني د څلورو واړو امامانو په نزد نا جائز ده او په (اوجز ۲۱۶/۴) کښې دی: حکی الاجماع علی ذلک ابن رشد المالکی فی البداية والموفق فی المغنی والشوکانی فی النيل وغيرهم، وکذلک اجمعوا علی ان اليسير من هذه العيوب الاربعة لا يضر والکثير يمنع، ثم اختلفوا فی الحد الفاصل بين اليسير والکثير الی آخر ما فی الاوجز من التفصيل فی ذلک.

والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة قال المنذری.

---

[1]، د عرجاء په مصداق کښې چه د دې نه کوم قسم عرج مراد دې ډير د ائمه کرامو ډير اختلاف ذکره فی الاوجز ۲۱۵/٤)

[۲۸۰۳](١) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، قَالَ: أَخْبَرَنَا. ح حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ بَحْرِ بْنِ بَرِّيٍّ، حَدَّثَنَا عِيسَى، الْمَعْنَى عَنْ ثَوْرٍ، حَدَّثَنِي أَبُو حُمَيْدٍ الرُّعَيْنِيُّ، أَخْبَرَنِي يَزِيدُ ذُو مِصْرٍ، قَالَ: أَتَيْتُ عُتْبَةَ بْنَ عَبْدٍ السُّلَمِيَّ، فَقُلْتُ: يَا أَبَا الْوَلِيدِ إِنِّي خَرَجْتُ أَلْتَمِسُ الضَّحَايَا، فَلَمْ أَجِدْ شَيْئًا يُعْجِبُنِي غَيْرَ ثَرْمَاءَ فَكَرِهْتُهَا، فَمَا تَقُولُ؟ قَالَ: أَفَلَا جِئْتَنِي بِهَا؟ قُلْتُ: سُبْحَانَ اللَّهِ تَجُوزُ عَنْكَ، وَلَا تَجُوزُ عَنِّي، قَالَ: نَعَمْ إِنَّكَ تَشُكُّ وَلَا أَشُكُّ، إِنَّمَا نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُصْفَرَّةِ وَالْمُسْتَأْصَلَةِ وَالْبَخْقَاءِ وَالْمُشَيَّعَةِ وَالْكَسْرَاءِ فَالْمُصْفَرَّةُ الَّتِي تُسْتَأْصَلُ أُذُنُهَا حَتَّى يَبْدُوَ سِمَاخُهَا، وَالْمُسْتَأْصَلَةُ الَّتِي اسْتُؤْصِلَ قَرْنُهَا مِنْ أَصْلِهِ، وَالْبَخْقَاءُ الَّتِي تُبْخَقُ عَيْنُهَا، وَالْمُشَيَّعَةُ الَّتِي لَا تَتْبَعُ الْغَنَمَ عَجَفًا وَضَعْفًا، وَالْكَسْرَاءُ الْكَسِيرَةُ.

یزید ذومصر وائی چه زه عتبه بن عبد بن سلمي ته ورغلم او ورته مې اوونيل اې ابوالوليد دقربانۍ دڅاروي په لټولوپسې راوتلې ۵م خوداسې څاروې مې پيدانکړو چه زما خوښ شي علاوه ديوه چيلي نه اودهغه هم يوغاښ مات وو او هغه هم راته مناسب ښکاره نه شو نوستاڅه رايه ده ابوالوليد ورته اووئيل ماته دې ولې نه راوستو ماورته اووئيل سبحان الله هغه خوستادپاره درست دې ليکن زما دپاره نه دې هغه اووئيل هو، ستاشك دې اوزماشك نشته دې نبی ﷺ په کوم څاروی باندې د قربانی کولونه منع نه ده فرمائيلي علاوه دمصفره او - مستاصله او بخقاء او مشيعه، کسراء مصفره هغه څاروې دې دکوم نه چه غوږونه پرې شوي وي تردې چه دغوږونو سوري ئې ښکاره شوي وي او مستاصله هغه څاروې دې چه ښکرئې مات وي ياختلي وي او بخقاء هغه څاروې دې دکوم چه د يوې سترګي نظر ختم شوې وي اومشيعه هغه څاروې دې چه دخوار والی او کمزوري توب دوجې نه دنورو څاروو سره نه شي تللې بلکه وروسته پاتې کيږي اوکسراء هغه څاروې دې دکوم چه لاس يا خپه ماته شوي وي ددې نه علاوه نور ټول قسمونه دڅارور دقربانی دپاره درست دې نوبياولې شك کوې؟ ﴿ اخبرنی يزيد ذو مصر قال اتيت عتبة بن عبدالسلمی الخ ﴾

شرح الحدیث:

د یزید لقب ذومصر دې هغه وائی چه يو ځل عتبه بن عبد السلمی ته لاړم او ما هغوی ته اووې چه زه د قربانۍ د څاروی په تلاش کښې راوتلې اوم نو ما ته په هغه څارو کښې چه ما اوليدې اول خو خوښ نه شو او کوم چه مې خوښ شو هغه ثرماء يعنی ساقطة الاسنان دی، په دې وجه ما هغه هم ناخوښه کړو، په دې کښې ستاسو څه رائې ده؟ هغوی جواب ورکړو چه تا هغه ماته ولې رانه وستلو (ما به په هغې قربانی کړې وې) ما اووې سبحان الله! دا عجيبه خبره ده چه ستاسو دپاره خو دې جائز شی او زما دپاره دې ناجائز وی، هغوی اوفرمائيل دا په دې وجه چه ته شك کوئ د هغې په جواز کښې او زه شك نه کوم، د دې نه پس هغوی اوفرمائيل چه ﴿ انما نهی رسول اللهﷺ عن المصفرة والمستاصلة والبخقاء والمشيعة والكسرآء ﴾ د دې نه پس بيا وړاندې په روايت کښې د دې صفاتو تفصيل او تشريح ذکر شوې ده هغه دا چه مصفرة نه مراد هغه څاروې دې چه د هغه غوږ بالکل د ويخ نه ويستلې شوې وی. تردې چه د غوږ سورې ئې په نظر راځی او مستاصله هغه څاروې دې چه د هغې

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٩٧٥٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٥٨/٤) (ضعيف)

ښکر د ويخ نه مات شوې وی او بخقاء هغه خاروې دې چه د هغه د سترګې رڼړا تلې وی (او سترګه ئې په خپل ځائې باندې صحيح او سالم وی) او مشيعة هغه بيزه ده چه د نورو بيزو سره په رمه کښې نه شی تلې دضعف د وجې نه او کسراء هغه خاروې دې چه خپه ئې ماته وی.

[۲۸۰۴]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ، عَنْ شُرَيْحِ بْنِ النُّعْمَانِ، وَكَانَ رَجُلَ صِدْقٍ عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَسْتَشْرِفَ الْعَيْنَ وَالْأُذُنَيْنِ، وَلَا نُضَحِّيَ بِعَوْرَاءَ وَلَا مُقَابَلَةٍ وَلَا مُدَابَرَةٍ وَلَا خَرْقَاءَ وَلَا شَرْقَاءَ، قَالَ زُهَيْرٌ: فَقُلْتُ لِأَبِي إِسْحَاقَ: أَذَكَرَ عَضْبَاءَ، قَالَ، لَا قُلْتُ: فَمَا الْمُقَابَلَةُ؟ قَالَ: يُقْطَعُ طَرَفُ الْأُذُنِ، قُلْتُ: فَمَا الْمُدَابَرَةُ؟ قَالَ: يُقْطَعُ مِنْ مُؤَخَّرِ الْأُذُنِ، قُلْتُ: فَمَا الشَّرْقَاءُ؟ قَالَ: تُشَقُّ الْأُذُنُ، قُلْتُ: فَمَا الْخَرْقَاءُ؟ قَالَ: تُخْرَقُ أُذُنُهَا لِلسِّمَةِ.

علی رضی الله عنه نه روايت دې چه نبی علیه السلام مونږ ته حکم اوکړو چه دقربانۍ دخاروي غوږونه او سترګي ښه اوګورئ چه په دې کښې داسې عيب نه وی کوم چه دقربانۍ دصحت سره منافي وي اوپه کانړې خاروی باندې قرباني مه کوئ او په هغه خاروی هم قرباني مه کوئ دکوم چه غوږ دښی طرف نه ياچپ طرف نه پرې کړې شوې وي ياهغه چه په غوږ کښې ئې ګول سورې وي يا په اوږدو شليدلی وي زهير وائی مادابواسحق نه پوښتنه اوکړه چه ايا عضباء ئې هم ذکرکړو هغه اووئيل نه.

﴿ عن علی رضی الله تعالی عنه قال امرنا رسول الله صلی الله علیه وسلم ان نستشرف العين والاذن ولا نضحی بعوراء ولا مقابلة ولا مدابرة ولا خرقاء ولا شرقاء الخ﴾

علی رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته حکم فرمائيلې دې چه مونږ به د قربانۍ د خاروی د سترګه او غوږ په غور ګورو (چه هغه صحيح سالم هم دی) او بيا په دې حديث کښې د نورو څلورو څناورو ذکر دې چه د هغې د قربانۍ نه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائيلې ده. د هغې څلورو واړو تعلق د عيب فی الاذن سره دې پس مقابله هغه خاروې دې چه د هغه د غوږ څه حصه د مقدم اذن يعنی د مخکښې طرف نه پرې کولو سره هغه هم هلته پريخودلې شوې وی (بيله کړې شوې نه وی) او مدابره هغه خاروې دې چه د هغه د غوږ څه حصه د شاته نه پرې کړې شوې وی او هم هغه شان پريخودلې شوې وی او شرقاء هغه خاروې دې چه د هغه غوږ په اوږد والی پرې کړې شوې وی (ماخوذ من الشرق ای الشق) او خرقاء هغه خاروې دې چه د هغه په غوږ کښې غونډې سورې کړې شوې وی للسمة يعنی د علامت په طور.

په حديث الباب کښې مذاهب ائمة:

د دې څلورو واړو قسمونو قربانی د شوافعو په نزد جائز نه ده دا نهی د هغوی په نزد د تحريم دپاره ده، او د احنافو په نزد د تنزيه دپاره. په دې وجه چه د احنافو په نزد د غوږ حکم دا دې چه که هغه نيم يا اکثر مقطوع وی نو د هغې قربانی ناجائز ده او که د نيم نه کم مقطوع وی نو جائز ده، او د مالکيانو په نزد که ثلث مقطوع وی نو جائز ده او مافوق الثلث

[1]): سنن الترمذي/الأضاحي ٦ (١٤٩٨)، سنن النسائي/الضحايا ٨ (٤٣٧٧) ٨ (٤٣٧٨)، ٩ (٤٣٧٩)، سنن ابن ماجه/الأضاحي ٨ (٣١٤٢)، (تحفة الأشراف: ١٠١٢٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٨٠، ١٠٨، ١٢٨، ١٤٩)، سنن الدارمي/الأضاحي ٣(١٩٩٥) (ضعيف)

جائز نه ده كما يظهر من كلام الدردير او د شوافعو په نزد په دې کښې مطلقا گنجائش نشته، پس په شرح الاقناع کښې دی : ولا يجزى مقطوع بعض الاذن وان كان يسيرا وقال ابو حنيفة ان كان المقطوع دون الثلث اجزاء آه....... د مذهب حنفی په نقل کښې په دې کښې تسامح دې بلکه زمونږ په نزد مادون النصف معفو عنه دې لکه چه مخکښې تير شو او د حنابله په نزد په اذن کښې دوه روايتونه دی يو د احنافو په شان چه مادون النصف معاف دې او دويم روايت د نصف دې، ففى الروض المربع ۲۲۲ ويجزئ مع الكراهة ما باذنه او قرنه خرق اوشق او قطع اقل من النصف او النصف فقط على ما نص عليه فى رواية حنبل وغيره آه.

والحديث اخرجه الترمذى والنسائى وابن ماجة قاله المنذرى.

[۲۸۰۵]([1]) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ الدَّسْتُوَائِيُّ وَيُقَالُ لَهُ هِشَامُ بْنُ سَنْبَرٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ جُرَيِّ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ عَلِيٍّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يُضَحَّى بِعَضْبَاءِ الْأُذُنِ وَالْقَرْنِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: جُرَيٌّ سَدُوسِيٌّ بَصْرِيٌّ لَمْ يُحَدِّثْ عَنْهُ إِلَّا قَتَادَةُ.

د علی رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام منع فرمائيلی ده ددې نه چه قربانی دې اوکړې شي په داسې څاروی دکوم چه ښکر مات وي بائې غوږ پرې کړې شوې وي ابوداود وائی چه جري سدوسي بصري دې دده نه صرف قتاده دحديث روايات نقل کړي دي.

﴿ عن على رضى الله تعالى عنه ان النبى صلى الله عليه وسلم نهى ان يضحى بعضباء الاذن والقرن ﴾ يعنى مقطوع الاذن او مكسور الاذن، وړاندې په روايت کښې دی ﴿ قلت لسعيد بن المسيب ما الاعضب قال النصف فما فوقه ﴾ په ظاهره د سعيد بن المسيب رحمه الله د کلام حاصل د عضب القرن سره دې نه د اعضب الاذن سره ځکه چه په اذن کښې خو تفصيل دې او مذاهب مختلف دی لکه چه اوس مخکښې تير شو او اعضب القرن يعنى مكسور القرن مطلقا جائز دې لهذا النصف فما فوقه به هم په د ښکر کښې جاری کيږی.

حديث على رضى الله تعالى عنه اخرجه الترمذى والنسائى وابن ماجة قاله المنذرى

[۲۸۰۶]([2]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ قَتَادَةَ قَالَ: قُلْتُ لِسَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ: مَا الْأَعْضَبُ؟ قَالَ: النِّصْفُ فَمَا فَوْقَهُ.

قتاده رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دسعيد بن مسيب نه مې پوښتنه اوکړه چه عضباء کم قسم څاروی ته وئيلې شي هغه اووئيل چه غوږ ئې دنيمې نه زيات پريکړې شوې وي.

[1]: سنن الترمذي/الأضاحي ۹ (۱۵۰٤)، سنن النسائي/الضحايا ۱۱ (٤۳۸۲)، سنن ابن ماجه/الأضاحي ۸ (۳۱٤٥)، (تحفة الأشراف: ۱۰۰۳۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۸۳/۱، ۱۰۱، ۱۰۹، ۱۲۷، ۱۲۹، ۱٥۰) (ضعيف)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۷۲۱) (صحيح)

بَابٌ فِي الْبَقَرِ وَالْجَزُورِ عَنْ كَمْ تُجْزِءُ؟

د غواګانو او د اوښانو قربانی د څو کسانو د پاره کافی ده؟

[۲۸۰۷]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: كُنَّا نَتَمَتَّعُ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَذْبَحُ الْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ، وَالْجَزُورَ عَنْ سَبْعَةٍ نَشْتَرِكُ فِيهَا.

جابر بن عبدالله نه روایت دې فرمائی چه مونږ به کله دنبی ﷺ په زمانه کښې حج تمتع کولو نوغوا به مو داره کسانو دطرف نه ذبح کړه او اوښ به موهم داوه کسانو دطرف نه ذبح کړو، او مونږ به په دې کښې شریك وو.

﴿ عن جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما قال کنا نتمتع فی عهد رسول الله ﷺ نذبح البقرة عن سبعة والجزور عن سبعة الخ ﴾

د جمهور علماء کرامو مسلک هم دا دې چه که بقره وی یا اوښ په دواړو کښې د اووهٔ کسانو شرکت کیدې شی (۲)امام ترمذی رحمه الله د دې حدیث د تخریج نه پس فرمائی ﴿هذا حدیث حسن صحیح والعمل علی هذا عند اهل العلم ثم قال وقال اسحاق یجزئ ایصال البعیر عن عشرة واحتج بحدیث ابن عباس رضی الله عنهما آه. ﴾ د ابن عباس رضی الله عنهما حدیث په ترمذی کښې د دې نه مخکښې تیر شوې دې. ولفظه ﴿ کنا مع رسول الله ﷺ فی سفر فحضر الاضحی فاشترکنا فی البقرة سبعة وفی البعیر عشرة ﴾ قال ابوعیسی حدیث ابن عباس حدیث حسن غریب لانعرفه الا من حدیث فضل بن موسی آه..... دا حدیث د ابن عباس رضی الله عنهما په ابوداؤد کښې نشته په باقی سنن ثلاثه کښې شته او حدیث د جابر رضی الله عنه د بخاری نه علاوه په باقی ټولو کتب صحاح کښې موجود دې د جمهورو په نزد هم دا راجح ده او علامه شوکانی رحمه الله حدیث د ابن عباس رضی الله عنهما په اضحیه باندې محمول کړې دې او حدیث د جابر رضی الله عنه په هدی باندې یعنی د بدنه په قربانئ کښې د لسو شرکت کیدې شی او که هغه هدی دې نو صرف د اووهٔ کسانو شرکت کیدې شی. والحدیث اخرجه مسلم والنسائی قاله المنذری

[۲۸۰۸](۳) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ قَيْسٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْبَقَرَةُ عَنْ سَبْعَةٍ وَالْجَزُورُ عَنْ سَبْعَةٍ".

جابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی غوا داوه کسانو دپاره کافی ده او اوښ هم داره کسانو دپاره کافی دې.

[۲۸۰۹]() حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ الْمَكِّيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّهُ قَالَ: نَحَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحُدَيْبِيَةِ الْبَدَنَةَ عَنْ سَبْعَةٍ، وَالْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ.

---

۱): صحیح مسلم/الحج ٦٢ (١٣١٨)، سنن النسائي/الضحايا ١٥ (٤٣٩٨)، (تحفة الأشراف: ٢٤٣٥)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ٦٦ (٩٠٤)، موطا امام مالك/الضحايا ٥ (٩) (صحيح)

۲) او د مالکیانو د مسلک تحقیق مخکښې ذکر شوې دې چه د هغوی په نزد شرکت فی الاضحیة جائز نه دې.

۳): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٤٧٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦٣/٣) (صحيح)

جابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روایت دي فرمائي چه مونږ دنبي عليه السلام سره په حديبيه كښې اوښ داوه كسانو دطرف نه او غواهم داره كسانو دطرف نه ذبح كړه.

بَابٌ فِي الشَّاةِ يُضَحَّى بِهَا عَنْ جَمَاعَةٍ

دخو كسانو دطرف نه ګډ قرباني كول كافي دي؟

[۲۸۱۰] (۱) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ يَعْنِي الإِسْكَنْدَرَانِيَّ، عَنْ عَمْرٍو، عَنِ الْمُطَّلِبِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الأَضْحَى بِالْمُصَلَّى، فَلَمَّا قَضَى خُطْبَتَهُ نَزَلَ مِنْ مِنْبَرِهِ وَأُتِيَ بِكَبْشٍ فَذَبَحَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ، وَقَالَ: "بِسْمِ اللَّهِ وَاللَّهُ أَكْبَرُ هَذَا عَنِّي وَعَمَّنْ لَمْ يُضَحِّ مِنْ أُمَّتِي".

جابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روایت دي فرمائي چه زه دنبي عليه السلام سره دلوي اختر په ورځ په عيدګاه كښې موجود وم نوهركله چه ئي خطبه پوره كړه نو راكوزشو دبرخپل نه او يوګر ورته راوستلي شو نبي عليه السلام په خپل لاس مبارك ذبح كړو او اوئي فرمائيل: «بسم الله والله أكبر هذا عني وعمن لم يضح من أمتي» دازما دطرف نه ده اوزما په امت كښې چه چاقرباني نه وي كړي دهغه دطرف نه ده.

په مسئلة الباب او حديث الباب باندې كلام نزدې د په ﴿ باب ما يستحب من الضحايا ﴾ د لاندې تير شوې دې.

بَابُ الإِمَامِ يَذْبَحُ بِالْمُصَلَّى

د امام دپاره په عيدګاه كښې د خپلې قرباني ذبح كولو بيان

وفي الاوجز ٤/ عن المسوى الذبح في المصلى احسن اظهارا لشعار الدين آه.... د جمهور علماء كرامو په نزد خو دعام ده په دې وجه امام بخاري رحمه الله ترجمه قائم كړې ده ﴿باب الاضحى والنحر بالمصلى ﴾ خو امام ابوداؤد په دې ترجمه كښې د امام سره دا مقيد كړې دې كوم چه د امام مالك رحمه الله مسلک دې. ففي ((الابواب والتراجم ٦/ ٣٣) قال ابن بطال: ﴿هو السنة للامام خاصة عند مالک، قال مالک انما يفعل ذلک لئلا يذبح احد قبله وليذبحوا بعده على يقين وليتعلموا منه صفة الذبح آه ﴾ زه وايم او دلته په ابتدائي مباحثو كښې هم تيره شوې ده چه د امام مالک مسلک دا دې چه د خلقو دپاره قرباني كول تر هغه وختـه پورې جائز نه دي تر څو چه امام قرباني نه وي كړې.

[۲۸۱۱] (۲) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، أَنَّ أَبَا أُسَامَةَ حَدَّثَهُمْ عَنْ أُسَامَةَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَانَ يَذْبَحُ أُضْحِيَتَهُ بِالْمُصَلَّى وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَفْعَلُهُ.

---

(۱): سنن الترمذي/الأضاحي ٢٢ (١٥٢١)، سنن ابن ماجه/الأضاحي ١ (٣١٢١)، (تحفة الأشراف: ٣٠٩٩)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الأضاحي ١ (١٩٨٩)، مسند احمد (٣/٣٥٦، ٣٦٢) (صحيح)

(۲): سنن ابن ماجه/الأضاحي ١٧ (٣١٦١)، (تحفة الأشراف: ٧٤٧٣)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/العيدين ٢٢ (٩٨٢)، والأضاحي ٦ (٥٥٥٢)، سنن الترمذي/الضحايا ٩ (١٥٠٨)، سنن النسائي/العيدين ٢٩ (١٥٩٠)، والأضاحي ٢ (٤٣٧١)، مسند احمد (٢/١٠٨، ١٥٢) (حسن صحيح)

نافع دابن عمر رضی الله عنه نه روایت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام به خپله قرباني په عیدګاه کښې ذبحه کوله، او ابن عمر به هم داسې کول.

وحديث الباب اخرجه البخارى والنسائى وابن ماجة بنحوه قاله المنذرى

بَابٌ فِي حَبْسِ لُحُومِ الأَضَاحِي

دقربانئ د غوښو دساتلو بیان

[۲۸۱۲]([1]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَتْ: سَمِعْتُ عَائِشَةَ تَقُولُ: دَفَّ نَاسٌ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ حَضْرَةَ الأَضْحَى فِي زَمَانِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ادَّخِرُوا الثُّلُثَ، وَتَصَدَّقُوا بِمَا بَقِيَ" قَالَتْ: فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ ذَلِكَ، قِيلَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ لَقَدْ كَانَ النَّاسُ يَنْتَفِعُونَ مِنْ ضَحَايَاهُمْ وَيَجْمُلُونَ مِنْهَا الْوَدَكَ، وَيَتَّخِذُونَ مِنْهَا الأَسْقِيَةَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَمَا ذَاكَ، أَوْ كَمَا قَالَ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ نَهَيْتَ عَنْ إِمْسَاكِ لُحُومِ الضَّحَايَا بَعْدَ ثَلاَثٍ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّمَا نَهَيْتُكُمْ مِنْ أَجْلِ الدَّافَّةِ الَّتِي دَفَّتْ عَلَيْكُمْ فَكُلُوا وَتَصَدَّقُوا وَادَّخِرُوا".

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام په زمانه کښې څه خلق دځنګل اوسیدونکي راغلل نبی علیه السلام اوفرمائیل دقربانئ دغوښې دریمه حصه اوساتئ اوباقی پاتې صدقه کړئ ام المومنین فرمائی ددې نه پس خلقو نبی علیه السلام ته عرض اوکړو چه اې دالله رسوله مخکښې به خلقو دخپلو قربانونه فائدې اخستلې اوددې نه به ئې چربي اوښکله اودڅرمنو نه به ئې مشکونه جوړول نبی علیه السلام اوفرمائیل ستاسو څه مطلب دې هغوی عرض اوکړو اې دالله رسوله تاسو منع فرمائیلې ده دقربانئ دغوښې دساتلونه ددرې ورځونه زیات نبی علیه السلام اوفرمائیل ما ځکه منع کړې وه چه دځنګل نه څه غریبانان خلق راغلې وو دهغوی دپاره اوس د قربانئ غوښه خورئ اوصدقه هم ورکوئ اوساتلې ئې هم شئ.

د حدیث مضمون:

قوله: ﴿ سمعت عائشة رضی الله تعالى عنها تقول: دف ناس من اهل البادية حضر ةالاضحى فى زمان رسول الله ﷺ ﴾ مضمون د حدیث دا دې چه عائشه رضی الله عنها فرمائی چه یو ځل د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د قربانئ په موقعه باندې د څه کلو نه خلق مدینې منورې ته راغلل، په دې باندې رسول الله ﷺ خلقو ته اوفرمائیل چه هغوی دې د خپلو خپلو قربانو غوښې د درې ورځو په اندازه اوساتی او باقی دې صدقه کړی چه کله په بل کال د قربانئ زمانه راغله نو خلقو رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ خلق به د خپلو قربانو نه منتفع کیدل او د هغې وازګه به ئې ویلې کولو سره ږدله او د قربانئ د څرمنو نه به ئې مشکونه جوړول، په دې باندې هغوی تپوس اوکړو ﴿ وما ذاک؟ ﴾ نو بیا څه خبره ده (یعنی تاسو ته په دې کښې څه اشکال دې؟) خلقو عرض اوکړو ځکه تاسو د لحوم الاضاحی د امساک نه منع فرمائیلې

[1]): صحيح مسلم/الأضاحي ٥ (١٩٧١)، سنن النسائي/الضحايا ٣٦ (٤٤٣٦)، (تحفة الأشراف: ١٦١٦٥، ١٧٩٠١)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الأضاحي ١٤ (١٥١١)، سنن ابن ماجه/الأضاحي ١٦ (٣١٦٠)، موطا امام مالك/الضحايا ٤ (٧)، مسند احمد (٥١/٦) (صحيح)

وه چه د دري ورځو نه زياته اونه ساتلې شي، په دې باندې رسول اللهﷺ ارشاد اوفرمائيلو ﴿ انما نهيتكم من اجل الدافة التى دفت عليكم ﴾ ما خو وړاندې كال د كلو نه د راتلونكو د وجې نه منع كړې وه (يعنى وقتى طور سره، نه د هميشه دپاره) لهذا د قربانۍ غوښه خورئ هم، صدقه كوئ ئې هم او ذخيره ئې هم ږدئ.

په بخاری كښې دی ﴿ باب ما يوكل من لحوم الاضاحى وما يتزود منها ﴾ قال الحافظ اى من غير تقييد بثلث ولا نصف ثم قال والتقييد بثلاثة ايام منسوخ واما خاص بسبب آه ﴾

مسئلة الباب كښې مذاهب ائمه:

زمونږ فقهاء كرامو ليكلې دی چه افضله دا ده چه د دريمې حصې غوښې صدقه اوكړې شی او دريمه حصه د خپلوانو او دوستانو د ميلمستيا دپاره كيخودلې شی او يو ثلث د ځان دپاره ذخيره كړی، او داسې كول صرف مستحب دی، كه ټوله د خپل ضرورت دپاره كيږدی، نو هم جائز ده او په "الدر المختار" كښې دی: وندب ترك التصدق لذى عيال غير موسع الحال توسعة عليهم او د شوافعو د كتابونو نه معلوميږی چه د قربانۍ د غوښې څه حصه صدقه كول واجب دی بلكه افضل دا ده يوه دوه نمړئ پريخودلو سره باقى ټوله صدقه كړې شی.

(من الابواب والتراجم ج۶ ...) والحديث اخرجه مسلم والنسائى قال المنذرى.

[۲۸۱۳]([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ عَنْ نُبَيْشَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّا كُنَّا نَهَيْنَاكُمْ عَنْ لُحُومِهَا أَنْ تَأْكُلُوهَا فَوْقَ ثَلَاثٍ لِكَيْ تَسَعَكُمْ فَقَدْ جَاءَ اللَّهُ بِالسَّعَةِ فَكُلُوا وَادَّخِرُوا وَاتَّجِرُوا، أَلَا وَإِنَّ هَذِهِ الْأَيَّامَ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ وَذِكْرِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ".

دنبيشة رضى الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی يقينا ماتاسو منع كړې وئ دخوړلو دغوښې دقربانۍ نه ددرې ورځونه پس، په دې وجه چه داغوښه تاسو ټولوته اورسي اوس الله تعالى فراخې راوستلې ده نوخورئ ئې او ذخيره كوئ ئې اوثواب اوګټئ خبردار دا ورځې دخوراك او څښاك دې اودالله تعالى دذكر دې.

د باب په دويم حديث كښې دی ﴿ فكلوا وادخروا واتجروا ﴾ دا لفظ د اجر نه اخستلې شوې دې چه هغه ئې باب افتعال ته بوتلې دې يعنى الائتجار يعنى اجر او ثواب حاصلول ځوك دې دا په تشديد د تاء سره نه لولى ﴿ واتجروا ﴾ ځكه چه دا د تجارت نه نهٔ دې.

والحديث اخرجه النسائى بتمامه، وابن ماجه مختصرا على الاذن فى الادخار فوق ثلاث واخرج مسلم الفصل الثانى فى ذكر الاكل والشرب والذكر، قاله المنذرى

....

[1]: سنن النسائي/الفرع والعتيرة ۲ (۴۲۴۱)، سنن ابن ماجه/الأضاحي ۱۶ (۳۱۶۰)، (تحفة الأشراف: ۱۱۵۸۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۷۵، ۷۶)، دي/الأضاحي ۶ (۲۰۰۱) (صحيح)

بَابٌ فِي الرِّفْقِ بِالذَّبِيحَةِ

د قربانۍ په څاروی باندې د شفقت کولو بيان

[۲۸۱٤](١) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الْأَشْعَثِ، عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ، قَالَ: خَصْلَتَانِ سَمِعْتُهُمَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ، فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا قَالَ: غَيْرُ مُسْلِمٍ، يَقُولُ: فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذَّبْحَ وَلْيُحِدَّ أَحَدُكُمْ شَفْرَتَهُ وَلْيُرِحْ ذَبِيحَتَهُ.

شداد بن اوس نه روايت دې فرمائی چه د نبی عليه السلام نه مې دوه خصلتونه اوريدلی دی اوی خودا دې چه الله تعالی په بنده باندې احسان کول فرض کړی دی دهريوشی سره نوکله چه تاسو قتل کوئ په ښه طريقه ئې کوئ يعنی که چرې دخون په بدله کښې خون کوئ نوزر ئې فارغه وئ اوبل داچه که چرې کوم څاروې حلالوئ نو په ښه طريقه ئې ذبه کوئ اوپکارده چه خپله چاړه تيره کړئ او ضروري. ده چه حلاليدونکي څاروی ته راحت اورسوي.

﴿عن شداد بن اوس رضی الله تعالی عنه قال : خصلتان سمعتهما من رسول الله ﷺ ان الله كتب الاحسان على كل شئ الخ﴾

صحابی فرمائی چه دوه خبرې کومې چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دی کومې چه د دې ضابطې د لاندې داخل دی چه الله پاک په انسان باندې دا خبره واجب کړې ده چه هغه دې په هر يو څيز کښې د احسان لحاظ ساتی چه هغه دې په حسن او خوبئ او نرمئ سره کوی وړاندې د دې دواړو خصلتونو بيان دې چه که تاسو يو کافر قتل کوئ هم نو په ښه طريقې سره يعنی مثله مه کوئ. او هم دغه شان کله چه يو څاروې ذبح کوئ نو هغه هم په ښه طريقه باندې ذبح کوئ، يعنی چاړهٔ ښهٔ طريقې سره تيره کړئ او ذبيحې ته آرام ورکړئ چه د ذبح نه پس فورا د هغې څرمنه مه اوباسئ بلکه د هغې د يخيدو انتظار اوکړئ.

والحديث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه، قاله المنذری

[۲۸۱٥](٢) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: دَخَلْتُ مَعَ أَنَسٍ عَلَى الْحَكَمِ بْنِ أَيُّوبَ فَرَأَى فِتْيَانًا أَوْ غِلْمَانًا قَدْ نَصَبُوا دَجَاجَةً يَرْمُونَهَا، فَقَالَ أَنَسٌ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُصْبَرَ الْبَهَائِمُ.

دهشام بن زيد نه روايت دې فرمائی چه زه دانس ها سره حکم بن ايوب ته ورغلم هلته مې يو څوهلکان اوليدول چه د يوې چرګي نه ئې نښنه جوړه کړې وه او په غشوئې ويشتله انس وه چه دا اوليدله نوونې وئيل چه نبی عليه السلام دڅاروو په دې شان سره د تړلونه پس دويشتلونه منع فرمائيلی ده.

١): صحيح مسلم/الأضاحي ٥ (١٩٧٥)، (تحفة الأشراف: ٢٠٧٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٢٧٧، ٢٨١)، سنن الدارمي/الأضاحي ٦ (٢٠٠٣) (صحيح)

٢): صحيح مسلم/الصيد ١١ (١٩٥٥)، سنن الترمذي/الديات ١٤ (١٤٠٩)، سنن النسائي/الضحايا ٢١ (٤٤١٠)، ٣٦ (٤٤١٩)، سنن ابن ماجه/الذبائح ٣ (٣١٧٠)، (تحفة الأشراف: ٤٨١٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٣/٤، ١٢٤، ١٢٥)، سنن الدارمي/الأضاحي ١٠ (٢٠١٣) (صحيح)

شرح الحديث:

قوله: ﴿ نهى رسول الله ﷺ ان تصبر البهائم ﴾

د صبر معنى د بندولو او د قيد كولو ده، او مطلب دا دې چه ځاروې دې د قاعدې لاندې ذبح كړې شى كومه چه د ذبح طريقه ده، او صبر بهائم دا دې چه مثلا يو مرغئ لره تړل او هغه مخې ته كينولو سره هغه په نخښه كړې شى، او د كوم ځاروى سره داسې اوكړې شى هغې ته مبصوره او مجثمه هم وئيلې شى، ځكه چه دا ذبح ذبح شرعى نه ده دغه شان هغه ځاروې حلال هم نه وى حراميږى. لكه چه په كتاب الاطعمة كښې به راشى

والحديث اخرجه البخارى ومسلم والنسائي وابن ماجة قاله المنذرى.

بَابٌ فِي الْمُسَافِرِ يُضَحِّي

په سفر كښې د قربانۍ كولو بيان

د امام شافعى رحمه الله مسلك دې چه د قربانۍ سنت كيدل د ټولو په حق كښې دى كه هغه مقيم وى او كه مسافر وى، د امام مالك مسلك هم دا دې چه د ټولو په حق كښې سنت موكده دې خو د حاجيانو دپاره بمعنى فانهم لاضحية عليهم وسنتهم الهدى (١)(الكافى لابن عبدالبر ١/٤١٨) او د احنافو په نزد د مسافر په حق كښې قربانى واجب نه ده صرف د مقيم په حق كښې واجب ده.

[٢٨١٦](٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ خَالِدٍ الْخَيَّاطُ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ أَبِي الزَّاهِرِيَّةِ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ: ضَحَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قَالَ: "يَا ثَوْبَانُ أَصْلِحْ لَنَا لَحْمَ هَذِهِ الشَّاةِ"، قَالَ: فَمَا زِلْتُ أُطْعِمُهُ مِنْهَا حَتَّى قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ.

د ثوبان رضى الله عنه نه روايت دې چه نبى عليه السلام د سفر په دوران كښې خپله قربانى ذبحه كړه او بيا ئې اوفرمائيل اې ثوبان زمونږ دپاره ددې چيلى غوښه صفا كړه، ثوبان عرض اوكړو چه بيا ما هغه غوښه په نبى عليه السلام باندې اوخوړه تردې چه زمونږ سفر پوره شو او مونږ مدينې ته داخل شو.

حديث الباب كښې چه د رسول الله ﷺ د كومې قربانۍ ذكر دې په ظاهر كښې دا د حجة الوداع واقعه ده. په بذل كښې دى ﴿ فاضحية صلى الله عليه وسلم محمولة عندنا على التطوع ﴾

والحديث اخرجه البخارى ومسلم والنسائى قاله المنذرى

بَابٌ فِي ذَبَائِحِ أَهْلِ الْكِتَابِ

د اهل كتابو د ذبح بيان

د اهل كتاب د ذبيحو په اباحت باندې ابن قدامة په مغنى كښې د علماء كرامو اجماع نقل كړې ده، البته د اهل كتابو په ښكار كښې اختلاف دې، د اكثرو علماء رائې نو په دې كښې

---

(١) وفيه وقال مالك: الصدقة بثمن الضحية بمني احب الي آه)

(٢): صحيح البخاري/الصيد ٢٥ (٥٥١٣)، صحيح مسلم/الصيد١٢(١٩٥٦)، سنن النسائي/الضحايا ٤٠ (٤٤٤٤)، سنن ابن ماجه/اللذبائح ١٠ (٣١٨٦)، (تحفة الأشراف: ٢٠٣٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٧/٣، ١٧١، ١٩١) (صحيح)

اباحت دي خو د امام مالک رحمه الله په دې کښې ابن قدامه اختلاف ليکلي دي ولفظه: ﴿ الا ان مالكا اباح ذبائحهم وحرم صيدهم، ولايصح لان صيدهم من طعامهم فيدخل فى عموم الاية آه (تراجم ۶/۲۵)
قلت: قال الدردير : لا كافر ولو كتابيا فلا يوكل صيده ولو سمى الله عليه لان الصيد رخصة والكافر ليس من اهلها آه..... خو په كتاب الكافي دابن عبدالبر كښې دا ليكلى دى چه د امام مالک رحمه الله په نزد صيد د اهل كتاب مكروه دي حرام نه دي، لقول الله عزوجل "تناله ايديكم ورماحكم" يعنى اهل الايمان. ﴿ وهو عند جمهور اهل العلم مثل ذبائحهم ﴾ آه.

[۲۸۱۷](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ ثَابِتٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ، وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ فَنُسِخَ وَاسْتَثْنَى مِنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حِلٌّ لَكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَهُمْ.

دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دي فرمائى دالله تعالى داقول: «فكلوا مما ذكر اسم الله عليه» يعنى په كومو ښاروو چه دالله نوم واخستې شي هغه خورئ او په كومو چه دالله نوم نه وى اخستې شوي هغه مه خورئ دا ايت منسوخ شوي دي يعنى ددې نه داهل كتابو ذبح استثناء شوي ده او ددوى ذبح جائز ده لكه چه دالله تعالى قول دې «وطعام الذين أوتوا الكتاب حل لكم وطعامكم حل لهم».

[۲۸۱۸](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، حَدَّثَنَا سِمَاكٌ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِي قَوْلِهِ: وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَى أَوْلِيَائِهِمْ سورة الأنعام آية ١٢١ يَقُولُونَ مَا ذَبَحَ اللَّهُ فَلَا تَأْكُلُوا وَمَا ذَبَحْتُمْ أَنْتُمْ فَكُلُوا، فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ سورة الأنعام آية ١٢١.

دابن عباس رضي الله عنه نه دالله تعالى ددې قول «وإن الشياطين ليوحون إلى أوليائهم» په باره كښې منقول دي چه يهوديانو به وئيل چه كوم ښاروي الله تعالى ذبح كړو چه په قدرتي مرګ مړشي دغه تاسو نه خورئ اوكوم چه پخپله ذبح كړئ هغه خورئ نوپه دې وخت كښې الله تعالى دا ايت نازل كړو: «ولا تأكلوا مما لم يذكر اسم الله عليه».

[۲۸۱۹](٣) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: جَاءَتِ الْيَهُودُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: نَأْكُلُ مِمَّا قَتَلْنَا وَلَا نَأْكُلُ مِمَّا قَتَلَ اللَّهُ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ سورة الأنعام آية ١٢١ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ.

دابن عباس نه روايت دي فرمائى چه يهوديان نبى عليه السلام ته راغلل اووئې وئيل خورو مونږ دهغه نه كوم چه مونږ پخپله ذبح كړو اونه خورو مونږ دهغه نه كوم چه الله تعالى وژلې وي نوالله تعالى دا ايت نازل كړو: «ولا تأكلوا مما لم يذكر اسم الله عليه» ايت تر آخره پورې.

﴿عن ابن عباس رضى الله تعالى عنهما فى قوله تعالى وان الشياطين ليوحون الى اوليائهم الخ﴾
يعنى شياطين د كفارو په زړه كښې دا خبره اچوى چه تاسو د الله پاک ذبيحه خو نه

---

١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٢٥٩) (حسن)
٢): سنن النسائي/الضحايا ٤٠ (٤٤٤٨)، سنن ابن ماجه/الذبائح ٤ (٣١٧٣)، (تحفة الأشراف: ٦١١١) (صحيح)
٣): سنن الترمذي/تفسير الأنعام ٦ (٣٠٦٩)، (تحفة الأشراف: ٥٥٦٨) (صحيح)

خوري. د الله پاک د ذبیحي نه مراد هغه څاروي دي کوم ته چه الله پاک مرګ ورکړي وي يعنی میتة. او خپله ذبیحه تاسو حلاله ګنړئ او خورئ ئې يعنی دا څنګه بي انصافی ده، نو په دي باندې دا آیت کریمه نازل شو ﴿ ولا تاکلوا مما لم يذكر اسم الله عليه ﴾ يعنی د دي جواب حاصل دا دي چه د انسان ذبیحه صرف په دي وجه حلاله نه ده چه هغه د انسان ذبیحه ده بلکه په دي حیثیت سره چه په هغي باندې د الله پاک نوم اخستلي شوي دي. په خلاف د ما ذبح الله چه په هغي باندې د الله پاک نوم نه شی اخستلي.

والحديث اخرجه ابن ماجة قاله المنذری

بَابُ مَا جَاءَ فِي أَكْلِ مُعَاقَرَةِ الأَعْرَابِ

د اهل کتابو د فخر دپاره د ذبح کړي شوي څاروي د خوراک بیان

معاقرة په معنی د ذبح، خو دلته دا مصدر په معنی د مفعول دي ای ما عاقره الاعراب.

[۲۸۲۰](۱) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ مَسْعَدَةَ، عَنْ عَوْفٍ، عَنْ أَبِي رَيْحَانَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ مُعَاقَرَةِ الأَعْرَابِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: اسْمُ أَبِي رَيْحَانَةَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَطَرٍ، وَغُنْدَرٌ أَوْقَفَهُ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ.

ابن عباس نه روایت دي فرمائی چه نبی عليه السلام منع فرمائيلی ده کوم چه اهل کتاب عرب د فخر کولو دپاره ذبح کړي. ابوداود وائی چه دا روایت غندر دابن عباس رضي الله عنه نه موقوف نقل کړي دي، اودابوريحانه نوم عبدالله بن مطر وو.

﴿ نهی رسول الله ﷺ عن معاقرة الاعراب ﴾

شرح الحديث:

يعنی رسول الله ﷺ د باندچیانو او د جاهلانو د ذبیحي خوړولو نه منع فرمائيلي ده چه د دي نه مراد هغه قربانی ده چه د فخر او رياء په طور او د نورو د مقابلي دپاره اوکړي شی، فقهاء کرامو لیکلی دی: وکذلک کل طعام صنع رياء ومفاخرة.... يعنی کومه قربانی يا خوراک چه صرف د نوم او شهرت دپاره اوکړي شی د هغي خوراک منع دي.

فائده: هم د دي قسم يو بل حديث په كتاب الجنائز ﴿ باب كراهية الذبح عند القبر ﴾ کښي راغلي دي ﴿ قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا عقر في الاسلام ﴾ د دي حديث معنی بله ده لکه چه د ترجمة الباب نه معلوميږی پس هلته په متن کښي راځی ﴿ كانوا يعقرون عند القبر ببقرة او بشئ ﴾ يعنی د جاهليت په زمانه کښي به بعض خلقو د خپل يو سخی په قبر باندي اوښ وغيره ذبح کولو، بعضو خو په دي خيال چه دي انسان به په خپل ژوند کښي ميلمستوب کولو مونږ د دي په بدله کښي د هغه په قبر باندي د هغه د طرف نه دا ذبح کوو چه دا ځناور او مارغان اوخوری او بعضو به په دي خيال کول چه کوم څاروي د هغه په قبر ذبح کړي شی هغه به د قبر نه د پاسيدو په وخت د هغه سورلئ جوړه شی، ځکه چه بعض کفار د بعث قائل وو.

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۸۱۱) (حسن صحيح)

بَابٌ فِي الذَّبِيحَةِ بِالْمَرْوَةِ

په سپين کانړی باندې د ذبح کولو بيان

د مروة نه مراد الحجر المحدد (يعنی تيره کانړي چه د چړې په شان کار کوی او غرض د مصنف رحمه الله دا دې چه په هر تيره څيز باندې ذبح کول چه په هغې سره رګونه پرې کړې شی جائز ده، خاص د چړې کيدل دې دپاره ضروری نه دی لکه چه په حديث کښې دی.

[۲۸۲۱]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَبَايَةَ بْنِ رِفَاعَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا نَلْقَى الْعَدُوَّ غَدًا وَلَيْسَ مَعَنَا مُدًى، أَفَنَذْبَحُ بِالْمَرْوَةِ وَشِقَّةِ الْعَصَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَرِنْ أَوْ أَعْجِلْ مَا أَنْهَرَ الدَّمَ وَذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ، فَكُلُوا مَا لَمْ يَكُنْ سِنًّا أَوْ ظُفُرًا، وَسَأُحَدِّثُكُمْ عَنْ ذَلِكَ أَمَّا السِّنُّ فَعَظْمٌ، وَأَمَّا الظُّفُرُ فَمُدَى الْحَبَشَةِ، وَتَقَدَّمَ بِهِ سَرَعَانٌ مِنَ النَّاسِ فَتَعَجَّلُوا فَأَصَابُوا مِنَ الْغَنَائِمِ، وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي آخِرِ النَّاسِ، فَنَصَبُوا قُدُورًا فَمَرَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْقُدُورِ، فَأَمَرَ بِهَا فَأُكْفِئَتْ وَقَسَمَ بَيْنَهُمْ فَعَدَلَ بَعِيرًا بِعَشْرِ شِيَاهٍ، وَنَدَّ بَعِيرٌ مِنْ إِبِلِ الْقَوْمِ وَلَمْ يَكُنْ مَعَهُمْ خَيْلٌ فَرَمَاهُ رَجُلٌ بِسَهْمٍ فَحَبَسَهُ اللَّهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ لِهَذِهِ الْبَهَائِمِ أَوَابِدَ كَأَوَابِدِ الْوَحْشِ، فَمَا فَعَلَ مِنْهَا هَذَا فَافْعَلُوا بِهِ مِثْلَ هَذَا".

رافع بن خديج نه روايت دې فرمائی چه دنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضر شوم او عرض مې اوکړو چه اې دالله رسوله مونږ صبا ددشمن سره دمقابلې دپاره مخامخ کيږو اوزمونږ سره چاړه چاقو نشته ايا مونږ په کانړي باندې ذبح اوکړو؟ نبی عليه السلام اوفرمائيل په داسې څيز ذبح اوکړئ کوم چه وينه بهيوی اويائې داسې اوفرمائيل چه په تيزۍ سره ذبح اوکړئ په کوم شي چه دالله نوم واخستې شي او علاوه دغاښونو اونوکانونه اوزه تاسوته ددې وجه بيانوم چه غاښ يوهډوکې دې اونوك دهبشيانو چاړه ده څه خلقو تيزۍ نه کار واخستلو په مخکښې کيدلوکښې اوغنيمتونه ئې حاصل کړل اونبی عليه السلام دخلقو په اخر کښې وو دغه خلقو ديګونه نغرونه اوخيژول نبی عليه السلام دديګونوسره تيريدو ددې داولته کولو حکم ئې اوکړو اودغنيمت مال ئې په مجاهدينوباندې تقسيم کړو اوبو اوښ ئې دلس چيلو په حساب مقرر کړو او په اوښانوکښې يو اوښ تښتيدو اودمجاهدينوسره په دغه وخت کښې اسونه نه وو يوکس په غشي اوويشتو او الله تعالی اودررو نبی عليه السلام اوفرمائيل چه په دې څاروو کښې څنې تښتيدونکې څاروی وي لکه څنګه چه وحشي ځناور وی که چرې کوم څاروې داسې حرکت اوکړي نودهغه سره همداسې عمل اوکړئ.

﴿فقلت يا رسول الله! انا نلقى العدو غدا وليس معنا مدى، فقال رسول الله ﷺ ارن او اعجل﴾

شرح الحديث:

د ارن په ضبط کښې سخت اختلاف دې او مختلف الاقوال دی ۱: ارن په کسرې د راء سره

---

[1]): صحيح البخاري/الشركة ۳ (۲٤۸۸)، ۱٦ (۲۵۰۷)، الجهاد ۱۹۱ (۳۰۷۵)، الذبائح ۱۵ (۵٤۹۸)، ۱۸ (۵۵۰۳)، ۲۳ (۵۵۰۹)، ۳٦ (۵۵٤۳)، ۳۷ (۵۵٤٤)، صحيح مسلم/الأضاحي ٤ (۱۹٦۸)، سنن الترمذي/الصيد ۱۹ (۱٤۹۲)، السير ٤۰ (۱٦۰۰)، سنن النسائي/الصيد ۱۷ (٤۳۰۲)، الضحايا ۱۵ (٤۳۹٦)، ۲٦ (٤٤۱٤، ٤٤۱۵)، سنن ابن ماجه/الذبائح ۹ (۳۱۸۳)، (تحفة الأشراف: ۳۵٦۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/٤٦۳، ٤٦٤، ٤/۱٤۰، ۱٤۲) (صحيح)

په وزن د اطع ای اهلکها ذبحا یعنی ذبح اوکړه او اوئې وژنه (یعنی په هر تیرۀ څیز باندې) ۲ وئیلې شوې دی چه صحیح دا ده چه دا لفظ د ائرن دې من ارن یارن من باب سمع چه د هغې معنی ده اعجل او مطلب ئې دا دې چه په هر تیرۀ څیز سره هغه ذبح کړی او په ذبح کولو کښې تیزی اوکړی ځکه چه د اوسپنې نه علاوه د بل تیره څیز نه دا خطره وی چه د ټولو رګونو د پرې کولو نه مخکښې هغه چرته مړ نه شی، په دې وجه ئې اوفرمائیل چه په ذبح کولو کښې تیزی کوه، د دې نه علاوه نور هم اقوال دی، د حدیث مضمون دا دې چه رافع بن خدیج ﷛ رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه مونږ بل صبا له جهاد ته ځو (او مونږ سره اګر چه توري دی خو هغې لره خو په ذبح کښې استعمالول مناسب نه دی) او مونږ سره چړې نشته که د ذبح وخت راشی نو په کوم څیز باندې ذبح اوکړو؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کومه یوه آله هم د ښاروی وینه اوبهیوی په داسې حال کښې چه د وینې بیولو په وخت په هغې باندې د الله پاک نوم اخستلې شوې وی هغه تاسو خرئ بیا وړاندې رسول الله ﷺ یوه استثناء اوفرمائیله چه هغه وینه بیونکې څیز د غاښ او د نوک نه علاوه کیدل پکار دی او وړاندې رسول الله ﷺ د دې وجه دا بیان کړه چه په غوښه د دې وجې نه نۀ چه هغه هډوکې دې او د نوک په باره کښې ئې اوفرمائیل چه هغه د حبشیانو چاړه ده. د غاښ په باره کښې ئې اوفرمائیل چه هغه هډوکې دې د دې په شرح کښې امام نووی فرمائی چه په عظم سره ذبح مه کوئ ځکه چه هغه به په وینې سره نجس شی او حال دا چه تاسو د تنجیس عظم نه منع کړې شوی یئ لانه زاد اخوانکم من الجن او د نوک د منع کیدو وجه رسول الله ﷺ دا بیان اوفرمائیله چه دا داهل حبشه چاړۀ ده لهذا په دې سره ذبح کولو کښې تشبه بکفار الحبشة ده.

اله ذبح څنګه پکار ده؟ په دې کښې مذاهب د ائمه

آله د ذبح څه پکار ده؟ په دې باره کښې (اوجز المسالک ج٤..) کښې د ائمه د مذاهبو تفصیل داسې لیکلې شوې دې: ابن رشد مالکی فرمائی چه د علماء کرامو په دې باندې اجماع ده چه کوم څیز د حیوان وینې اوبیوی او اوداج (د مرئ رګونه) قطع کړی که هغه اوسپنه وی یا کانړې یا بل څه او د هغې په ذریعه ذبح کول جائز دی، خو په درې څیزونو کښې د علماء کرامو اختلاف دې، غاښ او نوک او هډوکی (یعنی د غاښ نه علاوه بل هډوکې) بیا وړاندې لیکی چه د مالکیانو په مذهب کښې په دې کښې هیڅ اختلاف نشته چه ذبح بالعظم جائز ده اذا انهر الدم، خو په غاښ او هډوکی کښې د مالکیانو اختلاف دې چه په هغې کښې درې اقوال دی.

۱: المنع مطلقا ۲: الفرق بین الانفصال والاتصال او دریم قول دا دې چه صرف کراهیت دې نه منع، او ابن قدامه د حنابله مذهب د سن او ظفر په باره کښې صرف عدم جواز لیکلې دې مطلقا، که منزوع وی یا غیر منزوع، او مطلق عظم (غیر السن) په باره کښې د امام احمد دوه اقوال لیکلې شوی دی، اباحت او عدم اباحت او هغوی اباحت ته ترجیح ورکړې ده پس هغوی لیکی والاول اصح انشآء الله لان العظم دخل فی عموم لفظ المبیح ثم استثنی السن والظفر خاصة فیبقی سائر العظام داخلا فیما یباح الذبح به آه او د شوافعو مسلک په شرح اقناع

وغیره کښې د دې دریو (السن والظفر ومطلق العظم) په باره کښې مطلقا عدم جواز لیکلې شوې دې د اتصال او انفصال د فرق نه بغیر بیا وړاندې لیکی چه په دې کښې اختلاف دې چه د ذبح بالعظام نه نهی تعبدی ده لکه چه د ابن الصلاح وغیره رائې ده یا غیر تعبدی یعنی معلل والیه مال النووی یعنی تنجیس عظم چه ممنوع دې، او د احنافو مذهب لکه چه مشهور دې الفرق بین الاتصال والانفصال یعنی نوک او غاښ که د بدن سره متصل وی نو ذبح ناجائز ده او که منفصل وی نو جائز ده خو داسې کول مکروه دی، په ذبیحه کښې هیڅ کراهت نشته وفی الهدایة وما رواه (الشافعی) محمول علی غیر المنزوع فان الحبشة کانوا یفعلون ذلک، ولانه الة جارحة فیحصل به ما هو المقصود وهو اخراج الدم، بخلاف غیر المنزوع لانه یقتل بالثقل فیکون فی معنی المنحنقة (ملخصا من الاوجز ۱۷۰/۴) وړاندې حدیث کښې دی ﴿ وتقدم سرعان من الناس فتعجلوا فاصابوا من الغنائم الخ ﴾

شرح الحدیث:

یعنی بعض جلد باز قسم خلقو په مال غنیمت کښې د تقسیم نه مخکښې بعض بیزې وغیره ذبح کولو سره د خوراک دپاره کټوئ باندې کړې، رسول الله ﷺ روستو طرف ته وو چه کله د رسول الله ﷺ تیریدل په هغه کټوو باندې اوشو نو رسول الله ﷺ د هغې د اولټه کولو حکم ورکړو چه څوک ئې او نه خوړلې شی.

د مال غنیمت نه انتفاع قبل التقسیم په طعام کښې جائز دې چه د هغې تفصیل د کتاب الجهاد په ابوابو کښې تیر شوې دې هغې ته دې رجوع اوکړې شی.

بیا وړاندې په حدیث کښې دی ﴿ وقسم بینهم فعدل بعیرا بعشر شیاه ﴾ یعنی د مال غنیمت د تقسیم په وخت هغوی یو اوښ لره د لسو بیزو برابر مقرر کړو، د دې نه بعض علماء کرامو لکه اسحاق بن راهویه وغیره په دې باندې استدلال کړې دې چه د یو اوښ قربانۍ کښې د لسو کسانو شرکت کیدې شی، خو دا استدلال بس هم دومره دې، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی ﴿ ولعله کانت قیمة الغنم اذ ذاک کذلک ﴾ یعنی کیدې شی په دغه زمانه کښې په بازار کښې لس بیزې د یو اوښ د قیمت برابر وی.

وړاندې په حدیث کښې دی ﴿ وند بعیر من ابل القوم ولم یکن معهم خیل فرماه رجل بسهم الخ ﴾ یعنی په دې سفر کښې دا واقعه پیښه شوه چه په اوښانو کښې یو اوښ وران شو او متوحش کیدو سره په تیښته شو او د قابو نه بهر شو نو یو انسان د هغه سره هغه معامله اوکړه کومه چه د ښکار سره کولې شی یعنی بسم الله لوستلو سره ئې هغه په غشی باندې ویشتلو چه په هغې باندې هغه اودریدو او په قبضه کښې راغلو، په دې موقع باندې هغوی ارشاد اوفرمائیلو ﴿ ان لهذه البهائم اوابد کاوابد الوحش ﴾ چه بیشکه زمونږ په دې عادت څاروو کښې بعض د وحشی ځناورو په شان متوحش شی پس که یو څاروې داسې شی نو د هغه سره داسې معامله کول جائز دی، یعنی د دې قسم څاروې د ښکار په حکم کښې کیږی او څنګه چه د ښکار کولو په شریعت کښې طریقه ده هغې لره په داسې څاروو کښې اختیارول جائز دی. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

[٢٨٢٢]( ) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، أَنَّ عَبْدَ الْوَاحِدِ بْنَ زِيَادٍ، وَحَمَّادًا حَدَّثَاهُمُ الْمَعْنَى وَاحِدٌ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ صَفْوَانَ، أَوْ صَفْوَانَ بْنِ مُحَمَّدٍ، قَالَ: اصَّدْتُ أَرْنَبَيْنِ فَذَبَحْتُهُمَا بِمَرْوَةٍ فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عَنْهُمَا فَأَمَرَنِي بِأَكْلِهِمَا.

محمدبن صفوان يا د صفوان بن محمدنه روايت دي فرمائی چه مادوه هوسي په ښكار كنبي راوړلي اوپه تيره كانړي مي حلالي كړي دنبی ﷺ نه مي تپوس اوكړو ماته ئي ددوی دخوراك اجازت راكړو

[٢٨٢٣]( ) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي حَارِثَةَ، أَنَّهُ كَانَ يَرْعَى لِقْحَةً بِشِعْبٍ مِنْ شِعَابِ أُحُدٍ، فَأَخَذَهَا الْمَوْتُ فَلَمْ يَجِدْ شَيْئًا يَنْحَرُهَا بِهِ فَأَخَذَ وَتِدًا فَوَجَأَ بِهِ فِي لَبَّتِهَا حَتَّى أُهَرِيقَ دَمُهَا، ثُمَّ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ بِذَلِكَ فَأَمَرَهُ بِأَكْلِهَا.

عطاء بن يسار دبنی حارثه ديوكس نه روايت كوی چه ما داحد دغر په دروكښي خپله اوښه څروله هغه مړه شوه اوداسي هيڅ يوشي راته ملاو نه شو چه په هغه باندي ئي ذبح كړم نو يو ميښ مي راواغست او د اوښي په مرئ كښي مي اومنډو تردي چه وله : تري لاړه بياد نبی ﷺ په خدمت كښ حاضرشوم او ددي خبري خبر مي وركړو نوهغه ددي د خوړلو اجازت وكړو.

﴿ عن رجل من بنی حارثة انه يرعی لقحة بشعب من شعاب احد فاخذها الموت الخ ﴾

يعنی يو سړی خپله اوښه د احد د غر په يو څوكه باندي څروله هم په دي وخت كښي هغه اوښه قريب المرګ شوه هغه سړی د هغي نحر كول اوغوښتل خو هيڅ يو څيز ورته ملاؤ نه شو د اوسپني يو ميخ كوم چه هغه د هغي په سينه كښي ښخ كړو چه په هغي سره د هغي وينه اوبهيدله او بيا راتلو سره ئي رسول الله ﷺ ته د دي ذكر اوكړو رسول الله ﷺ د هغي خوراک اجازت وركړو.

[٢٨٢٤]( ) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ مُرِّيِّ بْنِ قَطَرِيٍّ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ إِنْ أَحَدُنَا أَصَابَ صَيْدًا، وَلَيْسَ مَعَهُ سِكِّينٌ أَيَذْبَحُ بِالْمَرْوَةِ وَشِقَّةِ الْعَصَا، فَقَالَ: أَمْرِرِ الدَّمَ بِمَا شِئْتَ وَاذْكُرِ اسْمَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ.

دعدي بن حاتم رضی الله عنه نه روايت دي فرمائی چه ماعرض اوكړو اې دالله رسوله كه چرې په مونږ كښي يو كس ښكار اوكړي اوچاړه ورسره نه وی نوايا په كانړي يالرګي باندي ذبح كولي شی نبی ﷺ اوفرمائيل دالله تعالی نوم واخله اووينه وبويوه اګركه په هرشي باندي وي

﴿ ايذبح بالمروة وشقة العصاء ﴾ مروة تيره كانړي او شقة العصا د يو لرګی تيره والا ټكړه او حصه.

وحديث عدی بن حاتم رضی الله تعالی عنه اخرجه النسائی وابن ماجة قاله المنذری.

---

[1]: سنن النسائي/الصيد ٢٥ (٤٣١٨)، والضحايا ١٧ (٤٤٠٤)، سنن ابن ماجه/الصيد ١٧ (٣٢٤٤)، (تحفة الأشراف: ١١٢٢٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٧١/٣) (صحيح)

[2]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٥٦٤١)، وقد أخرجه: موطاامام مالك/الذبائح ٢ (٣) مسند احمد (٣٦٧/٤، ٤٣٠/٥) (صحيح)

[3]: سنن النسائي/الصيد ٢٠ (٤٣٠٩)، الضحايا ١٨ (٤٤٠٦)، سنن ابن ماجه/الذبائح ٥ (٣١٧٧)، (تحفة الأشراف: ٩٨٧٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٥٦/٤، ٢٥٨، ٣٧٧) (صحيح)

بَابُ مَا جَاءَ فِي ذَبِيحَةِ الْمُتَرَدِّيَةِ

د رارغړيدلی څاروی د ذبح کولو بيان

[۲۸۲۵]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي الْعُشَرَاءِ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَمَا تَكُونُ الذَّكَاةُ إِلَّا مِنَ اللَّبَّةِ أَوِ الْحَلْقِ؟ قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ طَعَنْتَ فِي فَخِذِهَا لَأَجْزَأَ عَنْكَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا لَا يَصْلُحُ إِلَّا فِي الْمُتَرَدِّيَةِ وَالْمُتَوَحِّشِ.

بو العشراء دخپل پلارنه روايت کوی فرمائی چه ماعرض اوکړو اې دالله رسوله ايازکاة (ذبح کول) دسيني اومرئ په مينځ کښې وي ايا په بل ځائ کښې هم وي؟ نبی ﷺ اوفرمائيل که چرې ته دڅاروي ورون په نيزه اووهي نوهم کافی ده. ابوداؤد وائی چه دادهغه څاروی دذبح کولو طريقه ده کوم چه دبره نه راورغړي اودهغې دذبح کولو موقع ملا ونه شي اوياهغه څاروې کوم چه اوتښتي.

﴿ عن ابی العشراء عن ابيه رضی الله تعالى عنه انه قال يا رسول الله اما تكون الذكاة الا من اللبة او الحلق الخ ﴾

شرح الحديث:

د ابوالعشراء او د هغه د پلار په نوم کښې اختلاف دې چه د هغې تفصيل په بذل المجهود کښې دې، او د ابوالعشراء د خپل پلار نه په سماع کښې هم اختلاف دې، امام ترمذی د دې په پاره کښې فرمائی هذا حديث غريب لا نعرفه الا من حديث حماد بن سلمة ولا نعرف لابی العشرآء عن ابيه غير هذا الحديث واختلفوا فی اسم ابی العشرآء فقال بعضهم اسمه اسامة بن قهطم ويقال يسار بن برز ويقال ابن بلز، ويقال اسمه عطارد، نسب الى جده آه....... او په مسند احمد کښې دی ﴿ الا فی الحلق او اللبة ﴾ هغه صحابی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه آيا شرعی زکوة د حلق او لبه سره خاص دې؟ (د حلق تعلق خو د ذبح سره دې او د لبه د نحر سره چه د هغې ذکر په کتاب الحج کښې تير شوې دې، لبه د سينې پورته حصه (موضع القلادة من الصدر) او حلق خو معروف دې. نو رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو نه بلکه که د څاروی په پتون کښې هم زخم اوکړې شی نو کافی ده.

خان پوهول پکار دی چه د جرح شرعی دوه قسمونه دی [2] يو اختياری او دويم اضطراری، اختياری خو هغه دې کوم چه په مانوس او مقبوض څاروو کښې وی. دا خو د حلق او لبه سره خاص دې او دويم قسم يعنی ذکاة اضطراری په متوحش او غير مانوس (يعنی چه عادت نه وی) څاروو کښې وی يعنی په ښکار کښې د حلق او لبه سره خاص نه دې بلکه د بدن په هره حصه کښې جرح کول، دلته په حديث کښې د سائل سوال د ذکاة اختياری سره متعلق وو کوم چه د لبه او حلق سره خاص دې هم په دې وجه امام ابوداؤد رحمه الله

---

[1]): سنن الترمذي/الصيد ۱۳ (۱۴۸۱)، سنن النسائي/الضحايا ۲۴ (۴۴۱۳)، سنن ابن ماجه/الذبائح ۹ (۳۱۸۴)، (تحفة الأشراف: ۱۵۶۹٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳٤/٤)، دي/الأضاحي ۱۲ (۲۰۱۵) (منكر)

[2]) د دې پوره تفصيل په كتاب الصيد كښې راروان دې)

د دې حديث په تشريح او تاويل کښې فرمائي ﴿ قال ابوداؤد: لا يصلح هذا الا في المتردية والمتوحش ﴾ د متوحش نه مراد هغه ځاروي دې چه د هغې ذکر په ﴿ وند بعير من ابل القوم ﴾ کښې تير شو. او د مترديه نه مراد هغه عادت او مقبوض ځاروې دې چه د پورته نه يو لاندې خائي ته راوغورځيږي مثلاً په کوهی کښې. او د دې قسم ځاروو حکم چه کوهی ته اوغورځيږي ښکاره دې چه په هغې کښې د ذکاة اختياری چه کومه طريقه ده هغه خو نه شي کيدې، نو مصنف فرمائي چه د حديث الباب محمل هم دا د مجبوریٔ والا شکل دې، په دې وجه که هلته هم ذکاة اختياری ضروری کړې شی نو کيدې شی چه هغه ځاروې د دې خبرې د نه مخکښې مړ شی، زمونږ فقهاء کرامو هم د داسې مجبوریٔ په صورت کښې د دې حل هم دا ليکلې دې امام ترمذی رحمه الله هم ددې حديث د ذکر کولو نه پس هم دا تاويل ذکر کړې دې، هغه فرمائي چه قال يزيد بن هارون هذا في الضرورة ..آه.

فائده: (خليل احمد) سهارنپوری رحمه الله په بذل المجهود کښې د مصنف په دې تاويل باندې يو اعتراض فرمائيلې دې کوم چه په ظاهره د اصولو او قواعدو مطابق دې خو مصنف چه کومه مسئله بيانوی د هغې تصريح په هدايه کښې موجود ده، لهذا د مصنف تاويل په خپل ځائي صحيح دې[1] والحديث اخرجه الترمذی والنسائي وابن ماجة قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْمُبَالَغَةِ فِي الذَّبْحِ

په ذبح کښې د کوشش کولو بيان

يعنې ځاروی لره ښه طريقې سره ذبح کول ضروری دی هسې نې په معمولی غشی ويشتلو چه په هغې سره هغه ځاروې په مزه مزه وينه بهيدلو سره ختم شی دا معتبر نه دی.

حقيقة الذبح

په بذل کښې د ترجمة الباب د لاندې ليکلې شوې دی حتی يقطع الحلقوم والمری

[1] زما يو يادداشت کښې داسې راووتلو چه د مصنف د توجيه حاصل دا دې چه دا حديث په ذکاة اضطراری باندې محمول دې نه په اختياريه باندې. او مصنف رحمه الله د دې دوه افراد بيان کړې دی يو متوحش لکه چه مخکښې تير شو ان لهذه البهائم اوابد کاوابد الوحش الخ. او يو مترديه، په اول کښې خو هيڅ اشکال نشته خپله په حديث کښې د هغې وضاحت دې خو په مترديه باندې محمول کول مفيد نه دی ځکه چه مترديه په قرآن کريم کښې په ميتة کښې شمار کړې شوې دی اګر چه د مصنف مراد دا دې چه د تردی نه پس مطلق جرح کافی ده يعنې ذکاة اضطراری خو په دې کښې اشکال دا دې چه که حديث په ذکاة د اضطرار باندې محمول کړې شی نو بيا هم صحيح نه ده ځکه چه په دې صورت کښې به د دې مترديه د مرګ دوه اسباب جمع شی يو تردی او يو جرح، جرح خو په ذکاة اضطراری کښې صحيح ده خو تردی هم چونکه سبب د مرګ دې او دلته هغه موجود دې او ذکاة اضطرار دا دی چه که دوه اسباب جمع شي چه په هغې کښې يو سبب داسې وی چه د هغې ښکار حلال نه وی نو بيا داسې کړې شوی ښکار جائز نه دې. هم دا اشکال سهارنپوری صاحب په بذل کښې فرمائيلې دې د حضرت دا اشکال او تحقيق د اصولو او قواعدو خو مطابق معلوميږی خو د مترديه کوم شکل چه مصنف ليکلې دې د هغې په باره کښې جزئيه په هدايه رابع کښې مصرح ده او دا ئې جائز ليکلې ده پس هيڅ اشکال نشته په توجيه د مصنف باندې پس تدبر اوکړه او شکر اوکړه. نبهني علي تلك الجزئية بعض الطلبة في اثناء الدرس جزاه الله تعالي خيرا)

والودجان يعنى كامله ذبح دا ده چه دا درې رګونه پرې كړې شي. حلقوم وائى مجرى النفس ته (يعنى د ساه نالئ) او مرى وئيلې شى د خوراک څكاک نالئ ته، او ودجان د وينې رګونه وفى الهداية ٤/٥٤ والعروق التى تقطع فى الذكاة اربعة الحلقوم والمرى والودجان لقوله عليه السلام افرى الأوداج بما شئت وهى اسم جمع واقله الثلاث فيتناول المرى والودجين، بيا وراندې په هدايه كښې په دې مسئله كښې اختلاف ليكلې دې چه د دې قطع ضرورى ده يا د اكثر قطع كول كافى دى؟ په دې باندې هغوى مدلل بالتفصيل كلام فرمائيلې دې او د نورو امامانو اختلاف ئې هم ليكلې دې فارجع اليه لو شئت.

[٢٨٢٦](¹) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، وَالْحَسَنُ بْنُ عِيسَى مَوْلَى ابن المبارك، عَنْ ابْنِ الْمُبَارَكِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، زَادَ ابْنُ عِيسَى، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَا: نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَرِيطَةِ الشَّيْطَانِ، زَادَ ابْنُ عِيسَى فِي حَدِيثِهِ وَهِيَ الَّتِي تُذْبَحُ فَيُقْطَعُ الْجِلْدُ وَلَا تُفْرَى الْأَوْدَاجُ، ثُمَّ تُتْرَكُ حَتَّى تَمُوتَ.

دابن عباس (ابن عيسي په كښې ابوهريره هم ذكركړې دې) دواړونه روايت دې فرمائى چه نبى ﷺ منع فرمائيلې ده دشريطې دشيطان نه دابن عيسي په روايت كښې دشريطې داتفسير دې چه كوم څاروې حلالېږي دهغه څرمن پريكړې شي اورګونه ئې پريخود شي تردې چه په ټوپونو ټوپونو وهلومړ شي.

شرح الحديث:

قوله: ﴿ نهى رسول اللهﷺ عن شريطة الشيطان ﴾ يعنى رسول اللهﷺ د هغه ذبيحې د خوړلو نه منع فرمائيلې ده چه هغه ناقصې طريقې سره ذبح كړې شوې وى. دا لفظ اخستلې شوې دې د شرط الحجام نه حجام يعنى ښكر لګونكې چه په كوم ځائې باندې ښكر لګوى هغه مخكښې په غشى باندې زخمى كوى، لهذا مطلب دا شو چه معمولى شان قطع كول جائز نه دى، په دې سره هغه څاروې نه حلالېږي د جاهليت په زمانه كښې بعض خلق هم داسې كوى چه د حلق بعض حصو لره قطع كولو نه پس هغه څاروى لره هم داسې پريخوده تردې چه هغه به مړ شو. په حديث كښې دې فعل لره د شيطان طرف ته منسوب په دې وجه كړې شوېدې چه داسې حركت باندې انسان لره تياروى. د دې حديث شرح خپله په متن كښې هم موجود ده ﴿وهى التى تذبح فيقطع الجلد الخ ﴾

بَابُ مَا جَاءَ فِي ذَكَاةِ الْجَنِينِ

د څاروى په خېټه كښې د بچي دزكاة بيان

[٢٨٢٧](²) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنْ أَبِي الْوَدَّاكِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْجَنِينِ، فَقَالَ: "كُلُوهُ إِنْ شِئْتُمْ، وَقَالَ

¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٦١٧٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٨٩) (ضعيف)

²): سنن الترمذي/الأطعمة ٢ (١٤٧٦)، سنن ابن ماجه/الذبائح ١٥ (٣١٩٩)، (تحفة الأشراف: ٣٩٨٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣١، ٣٩، ٥٣) (صحيح)

مُسَدَّدٌ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ نَنْحَرُ النَّاقَةَ، وَنَذْبَحُ الْبَقَرَةَ وَالشَّاةَ فَنَجِدُ فِي بَطْنِهَا الْجَنِينَ أَنُلْقِيهِ أَمْ نَأْكُلُهُ؟ قَالَ: كُلُوهُ إِنْ شِئْتُمْ فَإِنَّ ذَكَاتَهُ ذَكَاةُ أُمِّهِ.

ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه ماد نبی علیه السلام نه دڅاروي په خیټه کښې دبچي متعلق تپوس اوکړو نبی علیه السلام اوفرمائیل خورئ ئې که ستاسو خوښه وي دمسدد به روایت کښې دي چه سعید اووئیل ماعرض اوکړواي داللہ رسوله که چرې مونږ اوښ نهر کړو اوغواوګړه ذبح کړو اودهغې په ګیډه کښې بچې بیاموموه نوایا غورځوو به ئې او که خوروبه ئې؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل وبې خورئ که خوښه مووي یقینا دده دمور ذبح کیدل دده ذبح کیدل دي.

﴿عن ابی سعید قال سالت رسول الله ﷺ عن الجنین........ الخ فان ذکاته ذکاة امه﴾

د حدیث مضمون دا دې چه د رسول الله ﷺ نه سوال اوکړې شو چه یا رسول الله ﷺ مونږ ډیر کرته چه کوم څاروې ذبح کوو نو د هغې د خیټې نه بچې راوځی د هغې مونږ څه اوکړو هغه اوخرو یا او ئې غورځوو؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه خوړلې ئې شئ ځکه چه د هغه د مور ذبح خپله د هغه ذبح ده، یعنی هغه بچې په ذبح کښې د مور تابع دې لهذا د هغې د مستقل ذبح کولو ضرورت نشته او دا کوم حکم چه په حدیث کښې ذکر شوې دې دا په هغه صورت کښې دې چه کله هغه بچې مړ وی، او که هغه ژوندې راوځی په هغه صورت کښې دا حکم نه دې. په دې صورت کښې به د هغه د حلالیدو دپاره بالاتفاق د هغه ذبح کول ضروری وی.

په مسئلة الباب کښې اختلاف د ائمة:

د دې نه پس څان پوهه کړئ چه په دې حدیث باندې د ائمه ثلاثه او د صاحبینو عمل دې د امام ابوحنیفه رحمه الله رائې دا نه ده ففی الهدایة: ومن نحر ناقة او ذبح بقرة فوجد فی بطنها جنینا میتا لم یوکل اشعر اولم یشعر، وهذا عند ابی حنیفة رحمه الله تعالی وهو قول زفر والحسن بن زیاد رحمه الله تعالی وقال ابویوسف ومحمد رحمهما الله اذا تم خلقته اکل وهو قول الشافعی لقوله علیه السلام ذکاة الجنین ذکاة امه الی اخره وفی هامشه:وقال الامام محمد رحمه الله فی موطاه : فاما ابوحنیفة فکان یکره اکله حتی یخرج حیا فیذکی وکان یروی عن حماد عن ابراهیم انه قال لا تکون زکاة نفس ذکاة نفسین.

الجواب عن الامام ابی حنیفة رحمه الله:

د احنافو د طرف نه د دې حدیث یو جواب ورکولې شی چه په دې حدیث کښې مقصود تشبیه ده ای ذکاة الجنین کذکاة امه، او تشبیه کله د حرف تشبیه په حذف سره هم وی لکه په قول د الله پاک کښې، ﴿وجنته عرضها السموات والارض، ای عرضها کعرض السموات والارض﴾

او د دې تائید د دې نه هم کیږی کوم چه وئیلې شوې دی چه یو روایت په دې حدیث کښې ذکاةً په نصب سره هم دې ذکاة الجنین ذکاة امه، او دا منصوب بنزع الحافض کما فی قوله تعالی وهی تمر مر السحاب.

او د امام صاحب رحمه الله د طرف نه دا هم وئیلې شوې دی چه جنین میتة چه په هغې کښې د علماء کرامو اختلاف دې د دوه حالو نه خالی نه دې، یا خو به هغه د مخکښې نه د خپلې

مور په خیټه کښې میتة وی نو د هغې حرمت خو ظاهر دې، او یا به د مور د ذبح نه پس په هغې باندې مرګ واقع شوې وی اختناق یعنی د ساه د اودریدو د وجې نه، لهذا په دې صورت کښې هغه منخنقه شوه، یعنی یو صورت کښې میتة او په یو صورت کښې منخنقة وکلاهما حرامان بنص القرآن، او دا هم وئیلې شوې دی چه که د حدیث نه مقصود تشبیه نه وې بلکه بیان دحکم او نیابت وې نو بیا د دې دپاره تعبیر داسې پکار وو ﴿ ذکاة ام الجنین ذکاته﴾ والحدیث اخرجه الترمذی وابن ماجة قاله المنذری.

[۲۸۲۸](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ رَاهَوَيْهِ، حَدَّثَنَا عَتَّابُ بْنُ بَشِيرٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ الْقَدَّاحُ الْمَكِّيُّ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "ذَكَاةُ الْجَنِينِ ذَكَاةُ أُمِّهِ".

جابر بن عبدالله نه روایت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائیلی دی دځاروي په خیټه کښې د موجود بچی دذبح کولو په ځائې دده دمور ذبح کول کافی دی

باب مَا جَاءَ فِي أَكْلِ اللَّحْمِ لَا يُدْرَى أَذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ أَمْ لَا

بیان د حکم د خوراک دهغې غوښې چه معلومه نه وی دذبح کولو په وخت پرې بسم الله وئیلې شوې ده او که نه ده؟

[۲۸۲۹](۲) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ. ح وحَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ. ح وحَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَيَّانَ، وَمُحَاضِرٌ الْمَعْنَى، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ وَلَمْ يَذْكُرَا، عَنْ حَمَّادٍ، وَمَالِكٍ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهُمْ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ قَوْمًا حَدِيثُو عَهْدٍ بِالْجَاهِلِيَّةِ يَأْتُونَنَا بِلُحْمَانٍ لَا نَدْرِي أَذَكَرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا أَمْ لَمْ يَذْكُرُوا أَفَنَأْكُلُ مِنْهَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سَمُّوا اللَّهَ وَكُلُوا".

ام المومنین عائشې رضي الله عنها نه روایت دې فرمائی چه صحابه کرامو نبی عليه السلام ته عرض اوکړو چه اې دالله رسوله څه خلق اوس تازه مسلمانان شوې دې اودشرعي احکامو پوره علم ورسره نشته مونږ ته غوښه وړې راوړې مونږ ته معلومه نه ده چه هغوی دذبحې په وخت باندې بسم الله وائی اوکه نه وائی ایا مونږ دغه غوښه خوړلې شو؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل تاسو دالله نوم واخلئ اوخورئ ئې.

﴿ ولم یذکر ا عن حما د ومالک عن عائشة رضی الله تعالی عنها ﴾

شرح السند

لفظ "عن عائشة" په ترکیب کښې "لم یذکرا" مفعول به دې د مصنف په دې حدیث کښې درې استاذان دی، موسی او القعنبی دریم یوسف، لهذا مطلب دا شو مصنف فرمائی زما استاذ

---

۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۸۸۲)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الأضاحي ۱۷(۲۰۲۲) (صحيح)

۲): صحيح البخاري/البيوع ۵ (۲۰۵۷)، الصيد ۲۱ (۵۵۰۷)، التوحيد ۱۳ (۷۳۹۸)، (تحفة الأشراف: ۱۶۹۵۰، ۱۷۱۸۱، ۱۹۰۲۹)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الضحايا ۳۸(۴۴۴۱)، سنن ابن ماجه/الذبائح ۴ (۳۱۷۴)، موطا امام مالك/الأضاحي ۴ (۷)، والذبائح ۱(۱)، سنن الدارمي/الأضاحي ۱۴(۲۰۱۹) (صحيح)

موسی د حماد او قعنبی د خپل استاد مالک نه د دې په سند کښې لفظ "عن عائشة" نه دې ذکر کړې، بلکه صرف دريم استاد يعنی يوسف بن موسی دا ذکر کړې دې، لهذا د دواړو روايت مرسل شو او دا دويم موصول

مضمون د حديث دا دې عائشه رضی الله عنها فرمائی بعض صحابه کرامو د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه بعض نوی مسلمانان مونږ ته د قربانئ غوښه راوړی چه د هغې په باره کښې مونږ په دې باندې نه پوهيږو چه هغوی به په دې باندې د ذبح په وخت ﴿ بسم الله ﴾ وئيلې وه يا نه نو آيا مونږ دا خوړلې شو؟ رسول الله ﷺ افرمائيل چه ﴿ بسم الله ﴾ لولئ او خورئ يعنی کومه چه د خوراک مسنون طريقه ده چه د ﴿ بسم الله ﴾ وئيلو سره دې خوراک اوکړې شی هغه کوه، يعنی ددې نوې مسلمانانو سره د حسن ظن معامله کولو سره هغه خوراک پکار دې، او دا مطلب ئې نه دې چه ﴿ تسمية عند الاكل ﴾ د ﴿ تسمية عند الذبائح ﴾ قائم مقام جوړيږی. والحديث اخرجه البخاری والنسائی وابن ماجه قاله المنذری.

بَاب فِي الْعَتِيرَةِ

د عتيرې (په رجب کښې د قربانئ) بيان

فرع وعتيره کښې بحث مع مذاهب ائمة

د عتيره ذکر په کتاب الضحايا کښې د ټولو نه اول حديث کښې تيره شوې ده، او د دې راروان باب حواله هم، عتيره د هغه قربانئ نوم دې چه په ابتداء د اسلام کښې چه کله په روميئ عشره کښې خوړلې شوه كما تقدم فی اول الكتاب، امام ابو داؤد خو دلته صرف يو باب (عتيره باندې) باندې قائم کړې دې او امام بخاری رحمه الله په عتيره او فرع دواړو باندې خانله خانله ابواب قائم کړې دی او په دواړو کښې د ابوهريره رضی الله عنه دا مرفوع روايت ﴿ لا فرع ولا عتيرة ﴾ ذکر فرمائيلې دې په رواياتو کښې د دواړو په باره کښې اختلاف دې نفيا واثباتا، پس د کتاب په شروع کښې کومه چه په حديث کښې تيره شوې ده په دې کښې چه د عتيره کوم جواز ذکر شوې دې او دلته حديث الباب کښې د دې نفی مذکور دې، په صحيحينو کښې خو د دواړو نفی او عدم جواز ذکر شوې دې، خو د سنن روايات په دې کښې مختلف دی، پس د عتيره په باره کښې خو اوس اختلاف تير شوې دې او د فرع دپاره د دې باب رومبی حديث کښې خو د دې اثبات مذکور دې ﴿ فی كل سائمة فرع ﴾ او د باب په دويم حديث کښې د دې نفی ده ﴿ لا فرع ولا عتيرة ﴾ هم دغه شان وړاندې په باب العقيقة کښې يو حديث را روان دې ﴿ والفرع حق ﴾ جمهور علماء او د ائمة ثلاثة په نزد خو دا دواړه منسوخ دی خو امام شافعی رحمه الله او د بعض نورو علماء کرامو په نزد دا دواړه هم مستحب دی لکه چه امام نووی رحمه الله د امام شافعی رحمه الله نه د دې د استحباب تصريح نقل کړې ده [1]

دا مخکښې تيره شوه چه د جمهورو عمل خو حديث د صحيحين ﴿ لا فرع ولا عتيرة ﴾ باندې دې او هغوی دا دواړه منسوخ منی او امام شافعی رحمه الله د اثبات او د نفی په روايتونو کښې

[1] وفي هامش البذل: وعند الحنابلة لا يسن ولا يكره والمراد بالنفي عندهم نفي السنية كما جزم في "الروض المربع".

دفع د تعارض داسې کړې ده چه نفی ئې محمول کړې ده په نفی د وجوب باندې او د اثبات روایت په استحباب باندې.

د فرع په تفسیر کښې اقوال:

د دې نه پس ځان داسې پوهه کړئ چه د عتیرة تفسیر خو پورته ذکر شو او د فرع په تفسیر کښې اقوال مختلف دی.

۱: د يو ځناور رومبې بچې (جوتهه) کومو لره به چه مشرکين د بتانو په نوم باندې ذبح کولو د خير او برکت دپاره. او په شروع د اسلام کښې به دا د الله پاک په نوم باندې ذبح کولې شو. دويم فرق دا وو چه مشرکانو به د هغې د پيدائش نه پس په شروع کښې ذبح کولو او په شروع د اسلام کښې د لوئيدو نه پس لکه چه وړاندې د ابوداؤد په يو روايت مرفوعه کښې د دې ذکر راروان دې.

۲: په پوره رمه کښې چه کوم څاروې رومبې بچې راوړی، اگر که هغه فی نفسه د هغې رومبې نه وی. ۳: د انسان په ملک کښې بيزه وی يا اوښ، د سلو عدد (۱) پوره کيدو نه پس چه کوم بچې پيدا شی. ۴: په هر پنځوس بيزو کښې يوه بيزه لکه چه په راروان حديث ﴿من کل خمسين شاة شاة﴾

> [۲۸۳۰] (۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ. ح وحَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، عَنْ بِشْرِ بْنِ الْمُفَضَّلِ الْمَعْنَى، حَدَّثَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ، قَالَ: قَالَ نُبَيْشَةُ نَادَى رَجُلٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا كُنَّا نَعْتِرُ عَتِيرَةً فِي الْجَاهِلِيَّةِ فِي رَجَبٍ، فَمَا تَأْمُرُنَا، قَالَ: "اذْبَحُوا لِلَّهِ فِي أَيِّ شَهْرٍ كَانَ وَبَرُّوا اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ وَأَطْعِمُوا، قَالَ: إِنَّا كُنَّا نُفْرِعُ فَرَعًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ: فِي كُلِّ سَائِمَةٍ فَرَعٌ تَغْذُوهُ مَاشِيَتُكَ حَتَّى إِذَا اسْتَحْمَلَ"، قَالَ نَصْرٌ: اسْتَحْمَلَ لِلْحَجِيجِ ذَبَحْتَهُ فَتَصَدَّقْتَ بِلَحْمِهِ، قَالَ خَالِدٌ: أَحْسَبُهُ، قَالَ عَلَى ابْنِ السَّبِيلِ: فَإِنَّ ذَلِكَ خَيْرٌ، قَالَ خَالِدٌ: قُلْتُ لِأَبِي قِلَابَةَ كَمْ السَّائِمَةُ قَالَ: مِائَةٌ.

دابو الملیح نه روایت دې فرمائی چه نشیبه اووئیل یو کس نبی ﷺ ته اواز اوکړو چه مونږ به دجهالیت په زمانه کښې عطیره کوله نواوس زمونږ دپاره څه حکم دې؟ نبی ﷺ اوفرمائیل دالله په نوم باندې ذبح کوئ اگرچه هره یوه میاشت وي او دالله تعالی فرمانبرداری کوی اوغریبانوته خوراک ورکوئ، ددې نه پس دغه کس عرض اوکړو چه مونږ به د جاهلیت په زمانه کښې فرع کوله اوس زمونږ دپاره ددې متعلق څه حکم دې؟ نبی ﷺ اوفرمائیل په هریوڅریدونکي څاروی کښې یوه فرع وي کوم چه ستاسو څاروې په خلقو باندې خوروي کله چه هغه څاروې دوزن داوچتولوقابل شي یاتري اوښ جوړ شي نوهغه ذبح کړئ اودهغه غوښه مسافروته په صدقه کښې ورکړئ خالد اووئیل دابهتره طریقه ده ما

---

(۱) لکه چه وړاندې د راوی په کلام کښې راروان دی وکم السائمة؟ قال مئة او هم دغه شان په کتاب الطهارة کښې باب في الاستنثار کښې چه کوم اورد حديث تير شوې دې د هغې نه هم معلوميږی وفيه قوله صلي الله عليه وسلم لا تحسبن انا من اجلك ذبحناها، لنا غنم مئة لا يزيد لا نريد ان تزيد فاذا ولد الراعي بهمة ذبحنا مكانها شاة الحديث)

(۲): سنن النسائي/الفرع والعتيرة ۱ (۴۲۳۳)، سنن ابن ماجه/الذبائح ۲ (۳۱۳۷)، (تحفة الأشراف: ۱۱۵۸۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۷۵، ۷۶) (صحيح)

ابوقلابه ته اوونیل چه په څومره څاروو کښې داسې کول پکاردي؟ هغه اوونیل چه په سلوکښې. «فرع دڅاروي اولني بچې وي کوم چه مشرکانوبتانوته دتقرب دپاره دهغوی په نوم ذبح کړو، اوعتیره، دبتانودتقرب دپاره دهغوی په نوم باندې درجب په اولنئ عشره کښې دڅاروي ذبح کولوته وئیلې شي، په ابتداء اسلام کښې به مسلمانانوداعمل کولولیکن بیا منسوخ شو».

﴿ فی کل سائمة فرع تغذوه ما شیتک حتی إذا استحمل للحجیج ذبحته فتصدقت بلحمه ﴾

د فرع په باره کښې لکه چه مخکښې تیر شو چه د جاهلیت په زمانه کښې به په ړومبئ ورځ هغه بچې ذبح کولې شو. رسول اللهﷺ په دې حدیث کښې فرمائی چه فرع خو برحق ده خو په ړومبئ ورځ باندې د ذبح کولو خبره غلطه ده بلکه تاسو له دا پکار دی چه کله هغه ستاسو خپل څاروي دې نو هغه اوپالئ او ساتنه ئې اوکړئ، چه کله هغه لوئې شی او د سورلئ قابل شی نو بیا هغې لره د ذبح کولو نه پس د هغه غوښه صدقه کړئ، او هم د دې په شان هدایت د رسول اللهﷺ نه وړاندې په یو روایت کښې راروان دې «چه د هغې حواله پورته تیره شوه» ﴿ والفرع حق وان تترکوه حتی یکون بکرا شغزبا ابن محاض او ابن لبون الخ ﴾ د دې ترجمه دا ده: او دا خبره چه تاسو دا بچې پریږدئ تردې چه هغه ځوان شی او بیا هغه یوې غریبې ښځې ته ورکړئ یا ئې په جهاد کښې استعمال کړئ نو دا غوره ده د دې خبرې نه چه ته هغې لره د پیدا کیدو نه پس فورا ذبح کړې او د هغې غوښه د هغې په څرمن او وینښتو پاتې شی او ته د خپلو پیو لوښې نسکور کړې، او ته د هغې بچې مور ته تکلیف ورکړې. د پیو د لوښې د نسکور کولو مطلب دا دې چه کله د اوښې بچې په وړوکوالی کښې ذبح کړې شی نو بیا اوښه بغیر د خپل بچې نه پئ څنګه ورکولې شی.

حدیث نبیشة اخرجه النسائی وابن ماجة وحدیث ابی هریرة اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری.

[۲۸۳۱] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا فَرَعَ وَلَا عَتِيرَةَ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی په اسلام کښې نه فرع شته اونه عتیره. دفرع اوعتیره وضاحت په تیرشوي حدیث کښې مذکوردي.

[۲۸۳۲] (²) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدٍ، قَالَ: الْفَرَعُ أَوَّلُ النِّتَاجِ كَانَ يُنْتَجُ لَهُمْ فَيَذْبَحُونَهُ.

دسعید بن المسیب نه روایت دې فرمائی چه فرع هغه بچې ته وئیلې شي کوم چه اول پیدا شي اوخلقوبه دبتانو په نوم ذبح کولو.

[1]: صحيح البخاري/العقيقة ٤ (٥٤٧٣)، صحيح مسلم/الأضاحي ٦ (١٩٧٦)، سنن الترمذي/الأضاحي ١٥ (١٥١٢)، سنن النسائي/الفرع والعتيرة (٤٢٢٧)، سنن ابن ماجه/الذبائح ٢ (٣١٦٨)، (تحفة الأشراف: ١٣١٢٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٣٩، ٢٥٤، ٢٨٥)، سنن الدارمي/الأضاحي ٨ (٢٠٠٧) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٨٣٣) (صحيح)

[۲۸۳۳]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ، عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ كُلِّ خَمْسِينَ شَاةً شَاةٌ، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ بَعْضُهُمُ الْفَرَعُ أَوَّلُ مَا تُنْتِجُ الإِبِلُ كَانُوا يَذْبَحُونَهُ لِطَوَاغِيتِهِمْ ثُمَّ يَأْكُلُونَهُ، وَيُلْقَى جِلْدُهُ عَلَى الشَّجَرِ وَالْعَتِيرَةُ فِي الْعَشْرِ الأُوَلِ مِنْ رَجَبٍ.

دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام مونږته حكم كړي ووچه په هرو پنځوسوګډوكښې به يوه ګډه اداكوو. امام ابوداود وائي چه فرع داوښ اولني بچي ته وئيلي شي كوم چه به مشركانودخپلوبتانوپه نوم ذبحه كولواوبيابه ئې خوړلو، او څرمن به ئې ورله په يوه ونه باندې وغوړوله اوعتيره درجب دمياشتې په اولنۍ عشره كښې وي.

بَابٌ فِي الْعَقِيقَةِ

دعقيقې داحكامو بيان

د صحيح بخارى عنوان ﴿ كتاب العقيقة ﴾ دې كوم چه هغوى د كتاب الاطعمة نه پس مستقلا ذكر كړې دې، د باب الفرع والعتيرة نه مخكښ، او په هغې كښې امام بخارى صرف دوه ابواب قائم كړې دى. ﴿ باب تسمية المولود غداة يولد لمن لم يعق عنه وتحنيكه ﴾ او دويم باب ﴿ اماطة الاذى عن الصبى فى العقيقة ﴾ چه په هغې كښې ئې دا حديث ذكر كړې دې ﴿ مع الغلام عقيقة فاهريقوا عنه دما واميطوا عنه الاذى ﴾

د عقيقې متعلق ضرورى مباحث:

عقيقة د عق نه اخستلې شوې دې چه د هغې معنى د شق او د قطع ده، د عقيقې اطلاق د مولود د سر په ويښتو باندې كيږى چه هغې لره قطع كولې شى، او په هغه ذبيحه باندې هم عقيقه په هغه امورو كښې ده كوم چه په زمانه د جاهليت كښې هم رائج وؤ خو هغه خلقو به دا كول چه د ذبيحې وينې به ئې د مولود په سر باندې مږلې، په اسلام كښې اصل عقيقه خو باقي پريخودلې شوه خو دويم خصلت يعنى ﴿ اللطخ بالدم ﴾ نه منع اوكړې شوه او د هغې په ځائې زعفران استعمال كړې شو، دا مضمون د باب په آخرى حديث كښې را روان دې.

په اوجز كښې د كتاب العقيقة په شروع كښې لس بحثونه ذكر كړې شوې دى چه د هغې ذكر مجملا په حاشية د لامع او ﴿ الابواب والتراجم ﴾ كښې راغلې دې. بحث اول خو په لغوى تحقيق كښې دې او دويم بحث د دې په حكم كښې چه د هغې خلاصه دا ده چه عقيقه د ظاهريه په نزد واجب ده وهو رواية عن احمد والحسن، او د شوافعو او حنابله په نزد سنت موكده ده، او د امام مالک په نزد مستحب ده كما فى الموطاء وكلام الدردير، او د احنافو په دې باره كښې درې روايات دى، اول دا چه مستحب ده وهو المعروف فى فروعهم، دويم دا چه مباح ده، او دريم دا چه انها بدعة ونسب الى الامام، وانكر الانتساب العلامة العينى، د احنافو په نزد صحيح دا ده چه عقيقة مستحب ده خو د صاحب بدائع رائې د دې خلاف ده هغوى دې ته منسوخ او مكروه وئيلې ده. په موطاء كښې امام محمد رحمه الله هم نسخ ليكلې ده خو د هغه

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۸۳۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۱۵۸، ۲۵۱) (صحيح)

محشي په دې باندې تعقب کولو سره په هغې تفصيلي کلام کړې دې او په کتابونو د شوافعو کښې دا هم دی چه عقيقه د امت په حق کښې خو مستحب ده او د رسول الله ﷺ په حق کښې واجب.

﴿په عقيقه کښې په غلام او وينځه کښې فرق﴾

يو بحث په دې مباحثو کښې دا دې چه په عقيقه کښې د هلک او جينۍ حکم يوشان دې او که فرق دې؟ د جمهور او ائمه ثلاث رائې دا ده. لکه چه په حديث الباب کښې وضاحت دې چه د هلک د طرف نه شاتين او د جينۍ د طرف نه صرف شاة واحدة. او د امام مالک رائې دا ده چه د دواړو دپاره يوه يوه بيزه ده پس هغوی په موطاء کښې د ابن عمر رضی الله عنهما دا عمل نقل کړې دې ﴿انه كان يعق عن ولد بشاة بشاة للذكور والاناث﴾ او په التعليق الممجد کښې دا دی چه د جمهور مسلک يعنی عن الغلام شاتان وعن الجارية شاة د رسول الله ﷺ نه په ډيرو طرقو سره ثابت دې، خو د رسول الله ﷺ په فعل کښې روايات مختلف دی يعنی د حسنين رضی الله عنهما په باره کښې دواړه قسم روايتونه دی په بعض رواياتو کښې ﴿كبشا كبشا﴾ دې او په بعض کښې ﴿كبشين كبشين﴾ پس په ترمذی کښې دی چه ﴿عن علی بن ابی طالب رضی الله عنه قال عق رسول الله ﷺ بشاة الحديث﴾ قال ابوعيسى هذا حديث حسن غريب، وفى البذل عن الحافظ، واحتج مالک بما جآء ان النبی ﷺ عق عن الحسن والحسين كبشا كبشا ولا حجة فيه فقد اخرج ابو الشيخ عن ابن عباس رضى الله عنهما بلفظ كبشين كبشين آه... زه وايم هم دغه شان د کبشينو والا روايت د ابن عباس رضی الله عنهما په نسائی کښې هم دې او په بعض کتابونو د مالکيانو کښې لکه ارشاد السالک کښې داسې دی ﴿العقيقة ذبح شاة﴾ او بيا وراندې دی ﴿والافضل عن الذكر بشاتين﴾ يعنی اولی د هغوی په نزد هم دا ده چه د هلک د طرف نه شاتين اوکړې شی او د ابن رشد مالکی ميلان هم دې طرف ته دې لکه چه په اوجز کښې دی.

﴿عن ام كرز الكعبية رضى الله تعالى عنها قالت سمعت رسول الله ﷺ يقول عن الغلام شاتان مكافئتان وعن الجارية شاة﴾

[٢٨٣٤](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ حَبِيبَةَ بِنْتِ مَيْسَرَةَ، عَنْ أُمِّ كُرْزٍ الْكَعْبِيَّةِ، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "عَنِ الْغُلَامِ شَاتَانِ مُكَافِئَتَانِ وَعَنِ الْجَارِيَةِ شَاةٌ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُ أَحْمَدَ، قَالَ: مُكَافِئَتَانِ أَيْ مُسْتَوِيَتَانِ أَوْ مُقَارِبَتَانِ.

دام کرز الکعبية نه روايت دې فرمائی چه د نبی ﷺ نه مې اوريدلی دی چه فرمائيل فيندهلک دطرف نه به دوه گډان يوشان عمروالا ذبحه کولې شي اودجينۍ دطرف نه به يوگډ ابوداود وائی چه داحمد نه مې اوريدلی دی چه وئيل ئې چه دمکافئتان نه مراد دادې چه يودبل سره مساوي وي يا ورته نزدې وي

امام ترمذی رحمه الله د دې حديث نه پس فرمائی ﴿هذا حديث حسن صحيح والعمل عليه.... وروى عن النبی ﷺ ايضا انه عق عن الحسن بن علی رضى الله عنهما بشاة﴾ آه

(١): سنن الترمذي/الأضاحي ١٧ (١٥١٦)، سنن النسائي/العقيقة ٢ (٤٢٢١)، سنن ابن ماجه/الذبائح ١ (٣١٦٢)، (تحفة الأشراف: ١٨٣٥٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٨١، ٤٢٢)، سنن الدارمي/الأضاحي ٩ (٢٠٠٩) (صحيح)

شرح الحديث:

يعني د هلک د طرف نه عقيقة دوه بيزې دي او د جينئ د طرف نه يوه بيزه ده د ﴿مكافئتان﴾ په شرح كښې مختلف اقوال دی، تقريبا درې اقوال دی ۱: داسې دوه بيزې چه خپل مينځ كښې په عمر كښې برابر وی په عمر كښې (واړهٔ لوئې نه وي) حكاه المصنف عن الامام احمد ۲: داسې دوه بيزې چه برابر وی د هغه بيزو سره كومې چه په قربانئ كښې كولې شی يعنی د عمر په اعتبار سره د هغې نه كم نه وی، قال الزمخشری ۳: داسې دوه بيزې چه برابر وی په اعتبار د ذبح يعنی چه دواړه يو ځائې ذبح كړې شی، دا نه چه يو مثلا سحر ذبح كړی او دويم د ماښام په وخت روی ذلک زيد بن اسلم هذا ما فهمت من الشروح. والحديث اخرجه النسائی قال الشيخ محمد عوامه.

[۲۸۳۵]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي يَزِيدَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سِبَاعِ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أُمِّ كُرْزٍ، قَالَتْ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "أَقِرُّوا الطَّيْرَ عَلَى مَكِنَاتِهَا، قَالَتْ: وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: عَنِ الْغُلَامِ شَاتَانِ وَعَنِ الْجَارِيَةِ شَاةٌ لَا يَضُرُّكُمْ أَذُكْرَانًا كُنَّ أَمْ إِنَاثًا".

دام كرز الكعبية نه روايت دي فرمائي چه دنبی ﷺ نه مې اوريدلی دی چه فرمائيل ئې مرغئ دخپلو جالونه مه شړئ أم كرز وائی چه ما ترې داهم واوريدل چه دهلك دطرف نه به دوه ګانو اورجينئ دطرف نه په يوګر عقيقه كولي شي، او په دې كښې باك نشته چه دواړه نران وي اوكه ښځې.

﴿عن ام كرز رضی الله تعالی عنها قالت سمعت رسول اللهﷺ يقول اقروا الطير علی مكناتها﴾ مكنات لره څو طريقو سره ضبط كړې شوې دې په فتحې د ميم او كسرې د كاف سره، او د دواړو فتح، په دې صورت كښې د دې معنې ليكلې دی...... بيضه، په فتح د ميم او په ضم د كاف سره د دې تفسير كړې شوې دې په أماكن سره، لهذا په رومبی صورت كښې به د حديث معنی وی چه مارغان د هغوی په هګو باندې ناستې ته پريږدئ او برقرار ئې اوساتئ او په دويم صورت كښې مارغانو لره ناست پريږدئ د هغوی په جالو كښې، اوس دا چه په دې سره غرض د رسول اللهﷺ څه دې.... فقيل الغرض المنع عن زجر الطير وتنفيرها من اماكنها اذفيه ايذاء الحيوان، يعنی هسې بغير د څه وجې نه مارغانو لره مه پريشانه كوئ د هغوی په چيرلو باندې، وقيل الغرض المنع عن الصيد ليلا لان الليل وقت راحتها، يعنی په شپه كښې دې د مارغانو ښكار اونكړې شی، شپه دهغوی د آرام وخت دې كه ښكار كول وی نو په ورځ كښې كوئ، وقيل الغرض المنع عن الطيرة يعنی د ښه او بد فال ويستلو دپاره هغوی لره د هغوی د ځائې نه مه پاسوئ، ﴿اذ لا طيرة فی الاسلام﴾

﴿لايضركم اذكراناكن ام اناثا﴾ يعنی په دې كښې هيڅ باک نشته كه هغه نران وی او كه ښځې.

والحديث عزاه المزی فی التحفة الی النسائی وابن ماجة قاله الشيخ محمد عوامه.

---

[1]: سنن النسائي/العقيقة ۳ (۴۲۲۳، ۴۲۲۲)، سنن ابن ماجه/الذبائح ۱ (۳۱۶۲)، (تحفة الأشراف: ۱۸۳۴۷)، وقد أخرجه: دي/الأضاحي ۹(۲۰۱۱) (ضعيف)

[۲۸۳۶]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَبِي يَزِيدَ، عَنْ سِبَاعِ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أُمِّ كُرْزٍ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَنِ الْغُلَامِ شَاتَانِ مِثْلَانِ وَعَنِ الْجَارِيَةِ شَاةٌ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا هُوَ الْحَدِيثُ وَحَدِيثُ سُفْيَانَ وَهْمٌ.

دام كرز الكعبية نه روايت دي فرمائي چه نبي ﷺ فرمائيلي دي: دهلك دطرف نه به دوه گډان پوشان عمروالا ذبحه كولي شي اودجينئ دطرف نه به يو ګډ. ابوداود وائي چه حديث هم دا معتمد دي اودسفيان حديث وهم دې.

قال ابوداؤد: هذا هو الحديث وحديث سفيان وهم.... د سفيان په روايت كښې د عبيدالله نه پس د عن ابيه زيادت دي كوم چه د حماد په روايت كښې نشته، مصنف هم د دي په باره كښې فرمائي چه دا زيادت وهم دي. والحديث اخرجه الترمذي مختصرا واخرجه النسائي بتمامه ومختصرا، واخرجه ابن ماجة مختصرا، قاله المنذري.

[۲۸۳۷]() حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ النَّمَرِيُّ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "كُلُّ غُلَامٍ رَهِينَةٌ بِعَقِيقَتِهِ تُذْبَحُ عَنْهُ يَوْمَ السَّابِعِ وَيُحْلَقُ رَأْسُهُ وَيُدَمَّى"، فَكَانَ قَتَادَةُ إِذَا سُئِلَ عَنِ الدَّمِ كَيْفَ يُصْنَعُ بِهِ قَالَ: إِذَا ذَبَحْتَ الْعَقِيقَةَ أَخَذْتَ مِنْهَا صُوفَةً وَاسْتَقْبَلْتَ بِهِ أَوْدَاجَهَا، ثُمَّ تُوضَعُ عَلَى يَافُوخِ الصَّبِيِّ حَتَّى يَسِيلَ عَلَى رَأْسِهِ مِثْلَ الْخَيْطِ، ثُمَّ يُغْسَلُ رَأْسُهُ بَعْدُ وَيُحْلَقُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا وَهْمٌ مِنْ هَمَّامٍ وَيُدَمَّى، قَالَ أَبُو دَاوُد: خُولِفَ هَمَّامٌ فِي هَذَا الْكَلَامِ وَهُوَ وَهْمٌ مِنْ هَمَّامٍ، وَإِنَّمَا قَالُوا: يُسَمَّى، فَقَالَ هَمَّامٌ: يُدَمَّى، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَلَيْسَ يُؤْخَذُ بِهَذَا.

دسمره رضي الله عنه نه روايت دي چه رسول پاک فرمائيلي دی هر يو هلك خپلې عقيقې پورې ګانړه کړې شوي دي دپيدائش په نومه ورځ به دهغه دطرف نه ذبحه وکړې شي اوسربه ئې وخريلې شي اودماشوم سربه دخاروي په وينه ګنده کړې شي، اودقتاده نه چه به کله تپوس وکړې شوددم په باره کښې چه څنګه کول پکاردي نوهغه به ورته وئيل: دخاروي دذبح کولو په وخت کښې دخاروي دورئ نه لړه راواخلي اودرګونوپه وينه به خوشته کړي اودماشوم په سرباندې به ئې کيږدي تردې چه دتارپه شان وينه بهيدل دماشوم په سرباندې شروع شي نوبيابه ئې سرووينځل شي اوددې نه پس به اوخريل شي. ابوداود وائي چه د يدي لفظ دهمام وهم دي په اصل کښې دا لفظ ويسمى دي همام تري يدمى جوړ کړې دي ابوداود وائي چه په دې باندې دهيچا عمل نشته.

﴿كل غلام رهينة بعقيقة تذبح عنه يوم السابع ويحلق راسه ويدمى﴾

شرح الحديث:

او د ترمذي په روايت کښې داسې دی، الغلام مرتهن بعقيقته، مرتهن د اسم مفعول صيغه ده په معنى د ګانړه.

---

[۱]: انظر حديث رقم: (۲۸۳٤)، (تحفة الأشراف: ۱۸۳٤۷) (صحيح)

[۲]: سنن الترمذي/الأضاحي ۲۳ (۱۵۲۲)، سنن النسائي/العقيقة ٤ (٤۲۲۵)، سنن ابن ماجه/الذبائح ۱ (۳۱٦۵)، (تحفة الأشراف: ٤۵۸۱)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/العقيقة ۲ (۵٤۷۲)، مسند احمد (۷/۵، ۸، ۱۲، ۱۷، ۱۸، ۲۲)، سنن الدارمي/الأضاحي ۹(۲۰۱۲) (صحيح)

د دې حديث په شرح کښې څو اقوال دی:

۱: عقيقة د هر نومولود دپاره لازم او ضروري ده څنګه چه د مرهون څيز د مرتهن په لاس کښې پاتې کيدل ضروري دی، تشبيه په اعتبار د لزوم ده ګويا مقصود تاکيد د عقيقې دې او په ظاهره د دې نه تائيد کيږي د قول وجوب کما ذهب اليه بعضهم.

۲: ماشوم د خپلو ويښتو په تکليف کښې ګانړه يعني مقيد او بند دې ترڅو چه هغه زائل نه کړې شي (لهذا دا ګنده ويښته د هغه نه زر زائله کول پکار دی بعض خلق په دې کښې ډيره سستي او تاخير کوي مونږ د خپلو بعض استاذانو نه د دې حديث په شرح کښې واوريدل چه د ماشوم عقيقه کولو سره بغير د تاخير د هغه مصيبتونه لرې کول پکار دی.

۳: د امام احمد رحمه الله نه نقل دی چه دا حديث د شفاعت په باره کښې دې چه که د ماشوم د طرف نه عقيقه اونکړې شي او بيا هغه په وړوکوالي کښې مړ شي نو د خپل مور پلار په باره کښې شفاعت نه کوي.[1]

دا مخکښې تيره شوه چه د عقيقې اطلاق د ماشوم د سر په ويښتو او په قربانئ دواړو باندې کيږي، په دې معاني کښې هم د بعض تعلق د ويښتو سره دې او د بعضو دذبيحې سره.

عقيقه کښې د يوم السابع قيد:

وړاندې په حديث کښې دی چه دا عقيقه دې په اوومه ورځ باندې ذبح کړې شي او هم دغه شان د سر ويښته هم په دې باندې امام ترمذي رحمه الله فرمائي چه غوره خو هم دا ده چه عقيقه دې په اوومه ورځ باندې اوکړې شي او که په اوومه ورځ باندې نه شي کولې نو بيا دې په څوارلسمه ورځ باندې اوکړې شي.

او که په دې کښې هم نه شي کولې نو بيا دې په يويشتمه ورځ اوکړې شي، د وخت په دې تعيين کښې د فقهاء کرامو اختلاف دې د يوم السابع قيد د مالکيانو په نزد خو معتبر او ضروري دې د هغوی په نزد عقيقه د يوم السابع نه مخکښې معتبر نه ده او نه د هغې نه روستو معتبر ده او د هغوی نه دا هم نقل دی چه کوم ماشوم د اوومې ورځ نه مخکښې مړ شي د هغه عقيقه ساقط ده او د ابن وهب رحمه الله روايت د امام مالک نه دا دې چه که په سابع اول کښې عقيقه اونکړې شوه نو بيا دې په سبع ثاني کښې اوکړې شي او په

---

[1] زما په يو ياد داشت کښې د دې حديث معاني داسې ملاؤ شوې: ﴿کل غلام مترهن بعقيقته﴾.

۱: د عقيقه نه مراد ذبيحه بيزه وغيره چه ذبح کولې شي دا کناية ده د لزوم او وجوب نه د هر ماشوم دپاره عقيقه لازم ده څنګه چه د مرهون څې زد مرتهن په لاس کښې کيدل ضروري دی ترڅو پورې چه قرض نه وي ادا شوې.

۲: هر ماشوم د شيطان د تصرفاتو سره مقيد او تړلې شوې وي ترڅو چه د هغه عقيقه اونکړې شي نو ګويا عقيقه په منزله د فديې ده د هغې د وجې نه هغه ماشوم د شيطان د تصرفاتو نه خلاصې بيا مومي ۳: هر يو ماشوم د خپل مور پلار د سفارش نه بند وي ترڅو پورې چه د هغه مور پلار د هغه د طرف نه عقيقه کولو سره د هغه حق ادا نه کړي. دا تفسير امام احمد بن حنبل رحمه الله ته منسوب دې.

۴: د عقيقې نه مراد د ماشوم د سر ويښته دی، يعني هر ماشوم د خپل سر د ګنده ويښتو سره مقيد او تړلې شوې دې ترڅو پورې چه هغه ويښته د هغه نه زائل نه کړې شي لهذا عقيقه په خپل وخت کښې کول پکار دی په دې کښې روستو والي نه دې پکار.

دريم کښې هم څه باک نشته، كذا في الفتح وكذا في الدسوقي،
د حنابله په نزد دا قيد ضروري نه دې، د هغوی په نزد قبل السابع هم جائز دس (كما في نيل المآرب) وفي الروض المربع : ولا يعتبر الاسبوع بعد ذلك فيعق في اى يوم اراد او د شوافعو مذهب په شرح اقناع کښې ليکلي شوي دي ويدخل وقته من الولادة ويسن يوم السابع، ويسقط بعد اكثر مدة النفاس وفيما بينهما تردد، او د احنافو مسلک لکه چه په جنتي کالي کښې دی چه د اوومې ورځ رعايت مستحب دې، اګر چه هر څومره ورځې تيرې شي، او د هغې صورت ئې داسې ليکلې دې چه کله د ماشوم عقيقه اوکړې شی د ولادة د ورځې نه يو ورځ مخکښې اوکړې شي. مثلاً که د ماشوم د پيدائش د جمعې په ورځ وی نو چه کله هم عقيقه کوی نو د جمعې نه يو ورځ مخکښې د زيارت په ورځ دې اوکړې شي. (من هامش البذل)

﴿ ويدمى فكان قتادة اذا سئل عن الدم كيف يصنع به قال اذا ذبحت العقيقة الخ ﴾

حديث العقيقة کښې د لفظ يدمى تحقيق

په دې روايت کښې لفظ د ﴿ يدمى ﴾ راغلې دې د تدمية نه، چه اخستلې شوې دې د ﴿دم﴾ نه يعنی وينه اومرلې شی، د قتاده رحمه الله نه سوال اوکړې شو چه د دې څه صورت کيدل پکار دی نو هغوی اووې چه کومه بيزه نه ذبح کړې نو د هغې لره شان وړئ دې واخلی او هغه وړئ دې د عقيقې د مرئ په رګونو باندې اولګوی او بيا دې دغه (مالوچ) وړئ د ماشوم په تالو باندې اومرې تردې چه د هغې د سر نه د وينې څاڅکی اوبهيږی او بيا دې د سر وينځلو نه روستو د هغې حلق اوکړې شي.

[۲۸۳۸](١) حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "كُلُّ غُلَامٍ رَهِينَةٌ بِعَقِيقَتِهِ تُذْبَحُ عَنْهُ يَوْمَ سَابِعِهِ وَيُحْلَقُ وَيُسَمَّى "، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَيُسَمَّى أَصَحُّ كَذَا، قَالَ سَلَّامُ بْنُ أَبِي مُطِيعٍ، عَنْ قَتَادَةَ، وَإِيَاسُ ابْنُ دَغْفَلٍ، وَأَشْعَثُ، عَنِ الْحَسَنِ قَالَ: وَيُسَمَّى، وَرَوَاهُ أَشْعَثُ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَيُسَمَّى.

دسمرة بن جندب رضي الله عنه نه روايت دې دې چه رسول پاکا فرمائيلی دی هريوهلك خپلې عقيقې پورې ګانړه کړې شوي دې دپيدائش په اومه ورځ به دهغه دطرف نه ذبحه کړې شي اوسربه ئې وخريلې شي اونوم به ورباندې کيخودلې شي. ابوداود وائی چه يسمي لفظ زيات درست دې اوهمدا رنګې سلام بن ابی مطيع دقتاده په واسطه اواياس بن دغفل او اشعث دحسن نه نقل کړی دی چه وئيلې ئې دې ويسمي اواشعث هم دحسن نه اوهغه دنبی عليه السلام نه ويسمى لفظ نقل کړې دې

وراندې په کتاب کښې دی مصنف فرمائی ﴿ ويدمى ﴾ لفظ د دې په روايت کښې د همام راوی وهم دې، پس د دې نه روستو والا روايت کښې چه هغې لره روايت کونکې سعيد دې په ځائې د همام په دې کښې د ﴿ يدمى ﴾ په ځائې ﴿ يسمى ﴾ دې. امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی چه ﴿ يسمى ﴾ لفظ اصح دې.

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤٥٨١) (صحيح)

﴿ يدمى ﴾ لره د همام په وهم وئيلو باندې حافظ دا اشکال کړې دې چه دې ته وهم وئيل ځنګه صحيح کيدې شي ځکه چه وړاندې په روايت کښې خو دا موجود دى، همام وائى چه کله به زمونږ د استاذ نه د دم په باره کښې سوال کولې شو چه د اځنګه اوکړې شي، نو په دې باندې به هغوى په دغه طريقه بيان فرمائيله، دا ټول خو په ضبط د همام باندې دلالت کوى نه د هغه په وهم باندې، مګر دا چه اوئيلې شى چه په اصل حديث کښې خو ﴿ يسمى ﴾ وو خو د هغې نه روستو قتاده د اهل جاهليت د دم ذکر اوکړلو نو بيا د همام په سوال باندې هغوى د هغې طريقه اوښودله، خو همام باندې وهم راغلو چه هغوى د ﴿يسمى ﴾ په ځائې د ﴿ يدمى ﴾ لفظ نقل کول شروع کړل، او بعض دا توجيه کړې چه دا منسوخ دې او يو توجيه د دې دا کړې شوې ده چه د دې نه مراد ﴿ يختن ﴾ دې چه ماشوم سنت کړې شى، خو د دې ټولو خبرو باوجود شراح ليکلې دى چه بعض علماء لکه ابن عمر، عطاء او قتاده رحمهم الله د استحباب تدمية قائل وو. (والحديث رواه الترمذي والنسائي وابن ماجة)

[۲۸۳۹](¹) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ حَسَّانَ، عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ، عَنِ الرَّبَابِ، عَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ الضَّبِّيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَعَ الْغُلَامِ عَقِيقَتُهُ فَأَهْرِيقُوا عَنْهُ دَمًا وَأَمِيطُوا عَنْهُ الْأَذَى".

سلمان بن عامر رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول پاکا فرمائيلى دى دهلك په پيداکيدوسره عقيقه کول مسنون دي تاسودهلك دطرف نه وينه توي کړئ او ګندګى لرې کړئ.

[۲۸۴۰](²) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنِ الْحَسَنِ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: إِمَاطَةُ الْأَذَى حَلْقُ الرَّأْسِ.

دحسن رحمه الله نه روايت دې فرمائي چه داماطة الاذي نه مراد سرخريل دي.

[۲۸۴۱](³) حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَقَّ عَنِ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ كَبْشًا كَبْشًا.

ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې چه نبى عليه السلام دحسن اوحسين دطرف نه په يويو ګوباندې عقيقه کړې وه.

﴿ عن ابن عباس رضى الله تعالى عنهما ان رسول الله ﷺ عق عن الحسن والحسين كبشا كبشا ﴾ د دې حديث په بعض طرقو کښې ﴿ كبشين كبشين ﴾ دې لکه چه مخکښې ذکر شو.

والحديث اخرجه النسائي، قاله المنذري.

¹): صحيح البخاري/العقيقة ۲ (۵۴۷۱)، سنن الترمذي/الأضاحي ۱۷ (۱۵۱۵)، سنن النسائي/العقيقة ۱ (۴۲۱۹)، سنن ابن ماجه/الذبائح ۱ (۳۱۶۴)، (تحفة الأشراف: ۴۴۸۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۱۷، ۱۸، ۲۱۴)، سنن الدارمي/الأضاحي ۹ (۲۰۱۰) (صحيح)

²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۵۵۶) (صحيح)

³): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۶۰۱۱)، وقد أخرجه: سنن النسائي/العقيقة ۳ (۴۲۲۴) (صحيح) لكن في رواية النسائي: "كبشين كبشين"، وهو الأصح

[۲۸۴۲]() حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ قَيْسٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ح وَحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ يَعْنِي ابْنَ عَمْرٍو، عَنْ دَاوُدَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ أُرَاهُ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْعَقِيقَةِ فَقَالَ: "لَا يُحِبُّ اللَّهُ الْعُقُوقَ"، كَأَنَّهُ كَرِهَ الِاسْمَ وَقَالَ: مَنْ وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ فَأَحَبَّ أَنْ يَنْسُكَ عَنْهُ فَلْيَنْسُكْ عَنِ الْغُلَامِ شَاتَانِ مُكَافِئَتَانِ، وَعَنِ الْجَارِيَةِ شَاةٌ، وَسُئِلَ عَنِ الْفَرَعِ قَالَ: وَالْفَرَعُ حَقٌّ وَأَنْ تَتْرُكُوهُ حَتَّى يَكُونَ بَكْرًا شُغْزُبًّا ابْنَ مَخَاضٍ، أَوِ ابْنَ لَبُونٍ فَتُعْطِيَهُ أَرْمَلَةً أَوْ تَحْمِلَ عَلَيْهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَذْبَحَهُ فَيَلْزَقَ لَحْمُهُ بِوَبَرِهِ، وَتُكْفِئَ إِنَاءَكَ وَتُوَلِّهَ نَاقَتَكَ.

عمرو بن شعیب دخپل پلارنه اوهغه غالبا دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه دنبی ﷺ نه دعقیقې په باره کښې تپوس وکړې شونو اوئې فرمائیل: دالله تعالی عقوق خوښ نه وي، زما خیال دې چه دانوم ئې خوښ نه شو اوبیا ئې اوفرمائیل دچاچه بچې پیداشي اوهغه دخپل بچې دطرف نه قرباني کول غواړی نودهلك دطرف نه دې دوه چیلی ذبح کړې اودجینۍ دطرف نه دې یوه چیلۍ ذبح کړي بیا ترې دفرع متعلق تپوس اوکړې شو نووئې فرمائیل فرع حق ده که چرې تاسو داپرېږدئ تردې چه هغه اوښ دیوکال شي یاد دوو کالوشي اوبیا دغه اوښ غریبانانو اوکوندو ته ورکړئ یائې دجهاد دپاره صدقه کړئ نوهغه ددې نه بهترده چه تاسو دده دپیدائش نه پس دې ذبح کړئ اودده غوښه دده په وړئ پورې انختلې وي (یعنی کمه وي اوخپل لوښي اولټه کړئ اودده مور لیونئ کړئ.

﴿ عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده قال سئل النبی ﷺ عن العقیقة فقال لا یحب الله العقوق ﴾

شرح الحدیث:

یعنی د رسول الله ﷺ نه د عقیقې په باره کښې تپوس اوکړې شو نو هغوی اوفرمائیل الله پاک عقوق لره نه خوښوی، عقیقه او عقوق دواړه د یو اصل طرف ته راجع دی یعنی عق چه د هغې معنی د عق او د شق دی او هم د دې نه اخستلې شوې دې عقوق الوالدین، وړاندې په روایت کښې دی د راوی کلام چه کیدې شی ستاسو دا نوم خوښ نه وی، د روای دا خیال صحیح دې ځکه چه هم په هغه حدیث کښې د دې نه پس رسول الله ﷺ د عقیقې حکم فرمائی خو د عقیقې په لفظ سره نه بلکه په لفظ د نسک سره، لهذا په دې کښې اشاره شوه دې طرف ته چه د عقیقې په ځائې دې نسیکه یا یو بل لفظ سره تعبیر اوکړې شی. کوم خلق چه د عقیقې د استحباب قائل نه دی بلکه دا مکروه ګڼړی هغوی د دې روایت نه هم استدلال کړې دې خو دا استدلال ضعیف دې، بیا وړاندې په حدیث کښې د فرع په باره کښې سوال او جواب دې چه د هغې شرح په ﴿ باب العتیرة ﴾ کښې تیره شوې ده، په هغې کښې یو لفظ ﴿ شغربا ﴾ دې د دې په باره کښې د شارحانو تحقیق دا دې چه دا لفظ مصحف دې او صحیح زخزبا دې ای غلیظا قویا، هم دغه شان په دې کښې یو لفظ دا دې ﴿ وتوله ناقتک﴾ دا توله د وله نه ماخوذ دې وهو ذهاب العقل لاجل فقدان الولد.... یعنی د بچی د مړ کیدو د وجې نه د هغه د مور لیونئ کیدل.

والحدیث اخرجه النسائی قاله المنذری.

(): سنن النسائي بالعقيقة ١ (٤٢١٧)، (تحفة الأشراف: ١٩١٦٩، ٨٧٠٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨٢/٢، ١٨٣، ١٩٤) (حسن)

[۲۸۴۳]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ ثَابِتٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي بُرَيْدَةَ يَقُولُ: كُنَّا فِي الْجَاهِلِيَّةِ إِذَا وُلِدَ لِأَحَدِنَا غُلَامٌ ذَبَحَ شَاةً وَلَطَخَ رَأْسَهُ بِدَمِهَا، فَلَمَّا جَاءَ اللَّهُ بِالْإِسْلَامِ كُنَّا نَذْبَحُ شَاةً وَنَحْلِقُ رَأْسَهُ وَنُلَطِّخُهُ بِزَعْفَرَانٍ.

دعبدالله بن بریده رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه دابوبریده نه مې اوریدلی دی چه وئیل ئي کله چه به دجاهلیت په زمانه کښې په مونږ کښې دیوکس ځوئې اوشو نوچیلی به ئي ذبح کړله او د ماشوم سر به ئي ددې په وینه باندې ګنده کړو خوهرکله چه الله تعالی اسلام راوستلو نومونږبه چیلۍ حلال کړو اودماشوم سر به مو وخرلو او زعفران به مو پرې ولګول

﴿ سمعت ابی بریدة یقول کنا فی الجاهلیة اذا ولد لاحدنا غلام الخ ﴾

بریدة رضی الله عنه په ترکیب کښې بدل واقع شوې دې د﴿ ابی ﴾ نه یعنی عبدالله بن بریده فرمائی چه ما د خپل والد صاحب بریده نه واوریدل د دې روایت مضمون په شروع کښې تیر شو.

كِتَابُ الصَّيْدِ

د ښکار د احکامو بیان

کذا فی بعض النسخ او مونږ سره چه کومه نسخه هندیه ده په هغې کښې دی ﴿ آخر الاضاحی، اول الصید ﴾

بَابٌ فِي اتِّخَاذِ الْكَلْبِ لِلصَّيْدِ وَغَيْرِهِ

د ښکار وغیره دپاره د سپی ساتلو بیان

﴿ من اتخذ کلبا الا کلب ماشیة او صید او زرع انتقص من اجره کل یوم قیراط ﴾

[۲۸۴۴]([2]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنِ اتَّخَذَ كَلْبًا إِلَّا كَلْبَ مَاشِيَةٍ أَوْ صَيْدٍ أَوْ زَرْعٍ انْتَقَصَ مِنْ أَجْرِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطٌ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی څوك چه سپې وساتي علاوه دهغه سپي نه چه دځاروو دنګهبانئ دپاره وي یادښکاردپاره یادز میداري دپاره وي، نودده داجرنه به هره ورځ دیو قیراط په مقدار باندې اجرکمولې شي

د حدیث نه معلومه شوه چه د ښکار دپاره سپې پالل او بیا د هغې په ذریعه ښکار کول جائز دی. د ترجمة الباب نه د مصنف غرض هم دا دې، مسئله اجماعی ده خپله په قرآن کریم کښې موجود ده، ﴿ یسئلونک ماذا احل لهم قل احل لکم الطیبات وما علمتم من الجوارح مکلبین آلایة ﴾ په دې حدیث کښې دا دی چه څوک د امور ثلاثه مذکوره فی الحدیث نه علاوه په بل غرض سره سپې اوساتي نو هره ورځ به د هغه د ثواب نه یو قیراط کمولې شي.

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۶٤) (حسن صحیح)

[2]): صحیح مسلم/المساقاة ۱۰ (۱۵۷۵)، سنن الترمذي/الصید ٤ (۱٤۹۰)، سنن النسائي/الصید ۱٤ (٤۲۹٤)، (تحفة الأشراف: ۱۵۲۷۱، ۱۵۳۹۰)، وقد أخرجه: صحیح البخاري/الحرث ۳ (۲۳۲۳)، وبدء الخلق ۱۷ (۳۳۲٤)، سنن ابن ماجه/الصید ۲ (۳۲۰٤)، مسند احمد (۲/۲٦۷، ۳٤۵) (صحیح) ولیس عند (خ) «أو صید» إلا معلقًا

د قیراط او قیراطان د اختلاف توجیه:

په دې روایت کښې قیراط په صیغه د مفرد دې، او د دې حدیث په دویم طریق کښې یعنی ﴿ من طریق الزهری عن سعید بن المسیب ﴾ چه د مسلم په روایت کښې دی په هغې کښې د قیراط په ځائې قیراطان دې، په دې باره کښې په بذل کښې داسې دی. واختلفوا فی اختلاف الروایتین فی القیراطین والقیراط فقیل الحکم للزائد لکونه حفظ مالم یحفظه الآخر.... یعنی د زیادت والا روایت راجح دې. یا دې داسې اونیلې شی چه په شروع کښې رسول اللهﷺ د یو قیراط په باره کښې اوفرمائیل وعید لره د سپکولو دپاره بیا ئې د نفرت د موکد کولو دپاره دوه قیراط اوفرمائیل خو یو روای صرف د یو قیراط والا روایت واوریدلو او دویم راوی د قیراطین والا لفظ واوریدو، فکل روی بما سمع (۱) ۳. کلاب مختلف وی قلیل الضرر او کثیر الضرر، په اول کښې د یو قیراط نقصان او په دویم کښې د دوه قیراطو نقصان ۴. د قیراطان والا روایت په مدنیه طیبه باندې محمول دې او د قیراط والا روایت په غیر مدینه باندې وغیر ذلک من التوجیهات.

والحدیث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی قاله المنذری.

[۲۸۴۵](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ، حَدَّثَنَا يُونُسُ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْلَا أَنَّ الْكِلَابَ أُمَّةٌ مِنَ الْأُمَمِ لَأَمَرْتُ بِقَتْلِهَا فَاقْتُلُوا مِنْهَا الْأَسْوَدَ الْبَهِيمَ".

دعبدالله بن مغفل رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی که چرې داسې نه و چه سپې هم یو مخلوق دې یعنی دوی هم دالله په عالم کښې یو عالم دې نو ما به خامخا ددوی دقتل کولو حکم کړې وو اوس تاسو په سپو کښې خالص تور رنګ والاسپی وژنئ.

﴿ عن عبدالله بن معفل رضی الله عنه.... لولا ان الکلاب امة من الامم لامرت بقتلها الخ ﴾

شرح الحدیث:

په شروع کښې رسول اللهﷺ د سپو په باره کښې شدت اختیار اوفرمائیلو او د ټولو د قتل کولو حکم ئې ورکړو پس د دې نه روستو روایاتو کښې راځی جابر رضی الله عنه فرمائی تر دې چه که د باندو نه راتلونکو زنانو سره به هم سپې وو نو مونږ به هغه هم قتل کولې بیا روستو د رسول اللهﷺ په حکم کښې بدلون راغلو او د مخکښې حکم نه ئې منع اوفرمائیله او دا ئې اوفرمائیل چه سپی هم د مخلوقاتو یو نوع ده نو اول خو د مخلوق پوره نوع قتلول د انسان د وس خبره نه ده، او دویم دا چه د الله پاک د هر مخلوق په پیدا کولو کښې مصلحت وی په دې وجه هم ټولو لره قتل کولو مناسب نه دی خو په دې کښې چه کوم یو ډیر زیات شریر او خبیث وی یعنی کلب اسود هغه قتل کوئ امام نووی رحمه الله فرمائی چه د کلب عقور په قتل باندې د

(۱) خو دا جواب به هله صحیح وې چه د حدیث راوی بیل بیل وې نو چه کله صحابی یو دې بیا به دا جواب صحیح نه وی او دا هم ده چه د سپی په سلسله کښې رومبی خو تشدید زیات کړې شوې وو روستو آسان کړې شوې وو.

(): سنن الترمذي/الصيد ۳ (۱۴۸۶)، سنن النسائي/الصيد ۱۰ (٤٣٨٥)، سنن ابن ماجه/الصيد ۲ (۳۲۰۵)، (تحفة الأشراف: ۹٦٤۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٨٥، ٨٦، ٥/٥٤، ٥٦، ٥٧)، دي/ الصيد ۲ (۲۰٤۹) (صحيح)

ټولو علماء کرامو اتفاق دې خو چه کوم سپې بې ضرره وی د هغې په قتل کښې اختلاف دې د امام الحرمين رائې دا ده چه د شريعت استقرار د قتل په منسوخ کيدو باندې شوې دې اوس د هيڅ يو سپی قتل جائز نه دې تر دې چه د اسود بهيم قتل هم جائز نه دې خو په دې رائې باندې ملا علی قاری ته انشراح نشته هغوی فرمائی چه دا دليل ته محتاج دې. (بذل)

والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة قاله المنذری.

[۲۸۴٦]() حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: أَمَرَنَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ حَتَّى إِنْ كَانَتِ الْمَرْأَةُ تَقْدَمُ مِنَ الْبَادِيَةِ يَعْنِي بِالْكَلْبِ فَنَقْتُلُهُ، ثُمَّ نَهَانَا عَنْ قَتْلِهَا، وَقَالَ: "عَلَيْكُمْ بِالْأَسْوَدِ".

دجابر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام حکم کړې وو دوژلو دسپوباندې تردې پورې چه پوښځې به دځنګل نه ځان سره سپې راوستو نومونږ به سپې وژلو بيانبی عليه السلام دسپو دوژلو نه منع اوفرمائيله او وئې فرمائيل چه صرف تك تور سپې وژنئ.

بَابٌ فِي الصَّيْدِ

د ښکار کولو بيان

صيد کله د مصيد په معنی استعماليږی او کله په معنی مصدری کښ، دلته هم دا مراد دې، يعنی کلب معلم او د غشي لينده وغيره په ذريعه د ښکار کولو په بيان کښ.

د ذکاة دوه قسمونه اختياری او اضطراری:

په دې ځان پوهول پکار دی چه د ذکاة شرعا دوه قسمونه دی اختياری او اضطراری. اختياری د حيوان مقبوض او مانوس دپاره وی، او اضطراری د غير مقبوض او غير مانوس ځاروی دپاره لکه ښکار، او لکه چه د دې نه مخکښې هم تيره شوه چه ذکاة اختياری خو خاص دې د لبه او حلق سره او ذکاة اضطراری نوم دې د مطلق جرح دپاره که هغه په هر ځائې کښې وی د بدن نه او د جرح نه مراد د وينې بهيدل دی.

د دې تمهيد نه پس اوس په دې باندې ځان پوهه کړئ چه ذکاة اضطراری چه په کومو آلاتو باندې کيږی هغه درې دی. الحيوان الجارح، المحدد يعنی هر تيرهٔ څيز لکه غشي، المثقل کالحجر والخشب. په دې کښې چه کوم ړومبی دوه څيزونه دی په هغې باندې د څلور واړو امامانو په نزد ښکار کول جائز دی او دريم څيز........ يعنی مثقل د دې په ذريعه ښکار کول د ائمه اربعه او جمهورو په نزد جائز نه دی، خو د بعض علماء شام لکه مکحول او اوزاعی رحمهما الله په نزد جائز دی، هم په دې وجه د هغوی په نزد صيد معراض او هم دغه شان صيد بندقه (يعنی د ټوپک ښکار) جائز دې. (سبل السلام)

بيا د دې نه پس ځان پوهول غواړې چه که ذکاة اضطراری د حيوان جارح په ذريعه وی نو په هغې کښې شرط دا دې چه هغه جارح معلم وی، او دا امر متفق عليه دې الله پاک فرمائی: ﴿ وما علمتم من الجوارح مکلبين ﴾ او علامت د تعليم په سپی کښې د دوه خبرو بيا

(): صحيح مسلم/المساقاة ۱۰ (۱۵۷۲)، (تحفة الأشراف: ۲۸۱۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۳۳/۳) (صحيح)

موندل دی اول ﴿امساک علی صاحبه﴾ نعني عدم الاکل چه هغه سپې د ښکار نه هيڅ او نه خوري او دويم څيز دا دې چه کله د ښکار طرف ته هغه پريخودلې شي نو فورا هغه طرف ته لاړ شي، او کله چه راوغوښتلې شي او منع کړې شي نو منع شي دا د دريو امامانو مسلک دې او د امام مالک په نزد د تعليم کلب دپاره امساک علی صاحبه ضروري نه دې، صرف د امر ثاني بيا موندل کافي دی، او علامت د تعليم د طير په شان د بازی وغيره کښې دا دې چه کله هم هغه راوبللې شي نو فورا راشي، او دلته امساک بالاتفاق ضروري نه دې. (بذل)

د ذکاة اضطراري شرطونه بالتفصيل په (بذل) کښې ذکر دی هلته دې اوکتلې شي.

په تسمية عند الذبح وعند الارسال کښې اختلاف د ائمة:

او په دې هم ځان پوهه کول پکار دی چه دا ارسال کلب د ښکار په وخت اوهم داسې غشې چلول په منزله د چړې چلولو دی د ذبح په وخت کښې. په دې وجه ارسال او رمی سهم په وخت تسمية ضروري ده لکه چه په احاديث الباب کښې مصرح ده، (وفی الهداية ٤/ ١٦٨) واذا ارسل کلبه المعلم او بازيه وذکر اسم الله تعالى عند ارساله فاخذ الصيد وجرحه فما حل اکله لما روينا من حديث عدي رضي الله عنه ولان الکلب او البازی آلة والذبح لا يحصل بمجرد الآلة الا بالاستعمال، وذلک فيهما بالارسال فنزل (الارسال) منزلة الرمي وامرار السکين فلا بد من التسمية عنده ولو ترکه ناسيا حل ايضا آهـ د نورو امامانو په دې کښې اختلاف هم دې او هغه دا دې لکه چه د (بذل) په حاشيه باندې دی واختلف نقلة المذاهب فيه، والصحيح من مذاهبهم ان ترک التسمية عمدا لا يجوز عندنا وعند مالک ويجوز ان کان الترک سهوا فالتسمية شرط عند الذکر وعند الشافعي يجوز مطلقا في السهو والعمد فهي سنة عنده واما احمد فانه فرق بين الصيد والذبيحة ففي الذبيحة هو معنا و في الصيد لا يجوز مطلقا (من الاوجز)

[٢٨٤٧]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ هَمَّامٍ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، قَالَ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قُلْتُ: إِنِّي أُرْسِلُ الْكِلَابَ الْمُعَلَّمَةَ فَتُمْسِكُ عَلَيَّ أَفَآكُلُ، قَالَ: "إِذَا أَرْسَلْتَ الْكِلَابَ الْمُعَلَّمَةَ وَذَكَرْتَ اسْمَ اللهِ فَكُلْ مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكَ"، قُلْتُ: وَإِنْ قَتَلْنَ، قَالَ: وَإِنْ قَتَلْنَ مَا لَمْ يَشْرَكْهَا كَلْبٌ لَيْسَ مِنْهَا"، قُلْتُ: أَرْمِي بِالْمِعْرَاضِ فَأُصِيبُ أَفَآكُلُ، قَالَ: إِذَا رَمَيْتَ بِالْمِعْرَاضِ، وَذَكَرْتَ اسْمَ اللهِ فَأَصَابَ فَخَرَقَ فَكُلْ وَإِنْ أَصَابَ بِعَرْضِهِ فَلَا تَأْكُلْ".

دعدي بن حاتم رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه د نبي عليه السلام نه مې تپوس اوکړو ماووئيل زه په ښکار پسې داسې سپې ليږم چه تعليم ورته ورکړې شوې وي هغه په خوله کښې نيولې وي اوماته ئې راوړې ايازه داخوړلې شم نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل کله چه ته تعليم يافته سپې اوليږې او د الله نوم ياد کړې نوخوره هرهغه شی چه هغه ئې تاته راوړې ماووئيل که هغه ئې

[1]: صحيح البخاري/الوضوء ٣٣ (١٧٥)، والبيوع ٣ (٢٠٥٤)، والصيد ١ (٥٤٧٥)، ٢ (٥٤٧٦)، ٣ (٥٤٧٧)، ٧ (٥٤٨٣)، ٩ (٥٤٨٤)، ١٠ (٥٤٨٥)، صحيح مسلم/الصيد ١ (١٩٢٩)، سنن الترمذي/الصيد ١ (١٤٦٥)، ٣ (١٤٦٧)، ٤ (١٤٦٨)، ٥ (١٤٧٩)، ٦ (١٤٧٠)، ٧ (١٤٧١)، سنن النسائي/الصيد ١ (٤٢٧٤)، ٢ (٤٢٧٥)، ٣ (٤٢٧٠)، ٨ (٤٢٨٥)، ٢١ (٤٣١٧)، سنن ابن ماجه/الصيد ٣ (٣٢٠٨)، ٥ (٣٢١٢)، ٦ (٣٢١٣)، ٧ (٣٢١٥)، (تحفة الأشراف: ٢٠٤٥، ٩٨٥٥، ٩٨٧٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٥٦/٤، ٢٥٧، ٢٥٨، ٣٧٧، ٣٧٩، ٣٨٠)، سنن الدارمي/الصيد ١ (٢٠٤٥) (صحيح)

مړ کړې وي نووئې فرمائيل اګر که مړ کړې وي ترڅو چه غيرښکاري سپې ورسره شريک شوې نه وي، عدي وائي چه مابياتپوس اوکړو زه په غشي ښکارې باندې ښکارولم نوايادا حلال دې نبي ﷺ اوفرمائيل کله چه ته په غشي ښکار اولې اودالله نوم دې پرې ياد کړې وي او په هغې اولږې اوشليدلی وي او په تيرو لګيدلې وي نوهغه خوره اوکه په تيرونه وي لګيدلې نومه ئې خوره.

﴿عن عدی بن حاتم رضی الله تعالی عنه قال سالت النبی ﷺ........ فکل مما امسکن علیک﴾

د تعليم کلب په باره کښې د جمهورو او امام مالک رحمه الله دليل:

دا حديث د ائمه ثلاثه دليل دې چه د کلب معلم په ذريعه ښکار کولو کښې عدم اکل ضروری دې، او دا روايت د مالکيانو خلاف دې د امام مالک رحمه الله استدلال د راروان حديث نه دې چه د ابوثعلبة الخشنی رضی الله عنه دې چه په هغې کښې داسې دی ﴿اذا ارسلت کلبک وذکرت اسم الله تعالی فکل وان اکل منه﴾ امام نووی رحمه الله په شرح د مسلم کښې فرمائی چه جمهور علماء کرامو د عدی بن حاتم رضی الله عنه حديث مقدم ساتلې دې د ابوثعلبه رضی الله عنه په حديث باندې، ځکه چه د عدی رضی الله عنه د دې نه اصح دې (متفق علیه) او بعض علماء کرامو د ابوثعلبة رضی الله عنه د حديث داسې تاويل کړې دې چه دلته د خوراک نه مراد عين د ښکار په وخت د هغه سپې خوراک مراد نه دې بلکه مراد دا دې چه په شروع کښې هغه سپې هغه ښکار لره د وژلو نه فارغ شو او بيا ئې چه روستو هغه ښکار هلته بيامونده نو هغه وخت ئې د هغې نه خوراک شروع کړو، پس د هغه دا خوراک بد نه دې.

﴿قلت ارمی بالمعراض فاصیب افاکل﴾ الخ...د معراض په تفسير کښې اختلاف دې، ابن التين فرمائی يعنی هغه عصا چه د هغې په سوکه کښې تيرهٔ څيز لګيدلې وی اوسپنه وغيره، او امام نووی رحمه الله فرمائی هغه يو درونډ لرګې وی، يا همساء چه د هغې په سوکه باندې تيرهٔ څيز لګيدلې وی، او کله ساده وی بغير د تيره سوکې نه، زه وائم چه د دې مثال په نيزه (سوکې والا همسا) سره هم ورکولې شی هغه هم يو همسا وی چه د هغې په سوکه باندې تيره اوسپنه لګيدلې وی، بهر حال په حديث کښې دا دی چه که په معراض سره ښکار اوکړې شی نو که ښکاره لره د هغې تيرهٔ ځائې لګيدو سره زخمی شی او په هغې کښې نفوذ اوکړی نو بيا هغه ښکار حلال دې هغه خوړلې کيدې شی، او که هغه معراض په پلن والی په هغه ښکار باندې لګيدلې دې نو حرام دې، د هغې خوراک جائز نه دې، ځکه چه په دې صورت کښې به هغه وقيذ وی، الله پاک فرمائی ﴿والمنحنقة والموقوذة والمتردية﴾ او موقوذ هغه ښکار ته وئيلې شی چه په مثقل او بغير سوکه (پس څيز) باندې اووژلې شی.

د ټوپک ښکار او په هغې کښې اختلاف:

جمهور د صيد بالندقة په حرمت باندې د دې حديث نه استدلال کړې دې او په دې کښې د اوزاعی او مکحول وغيره اختلاف دې لکه چه مخکښې تير شو. لهذا دا حديث د هغوی خلاف دې.

فائده: دا عدی بن حاتم رضی الله عنه د حديث راوی د مشهور سخی حاتم طائی ځوئې دې، دا په

معمرینو کښې دې، د هغوی په باره کښې لیکلي شوي دي چه هغوی د یو سل او اتیا کالو عمر بیا موندلي دې، هغوی د خپل ځان په باره کښې فرمائی چه د کله نه زه په اسلام کښې داخل شوې یم د هغه وخت نه اوسه پورې د یو مونځ اقامت هم نه دې شوې مګر دا چه زه به هغه وخت په اودس کښې اوم (تهذیب التهذیب)

والحدیث اخرجه البخاری والترمذی والنسائی وابن ماجة وقاله المنذری

[۲۸٤۸]() حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ بَيَانٍ، عَنْ عَامِرٍ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، قَالَ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قُلْتُ: إِنَّا نَصِيدُ بِهَذِهِ الْكِلَابِ، فَقَالَ لِي: "إِذَا أَرْسَلْتَ كِلَابَكَ الْمُعَلَّمَةَ وَذَكَرْتَ اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا فَكُلْ مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكَ، وَإِنْ قَتَلَ إِلَّا أَنْ يَأْكُلَ الْكَلْبُ فَإِنْ أَكَلَ الْكَلْبُ فَلَا تَأْكُلْ فَإِنِّي أَخَافُ أَنْ يَكُونَ إِنَّمَا أَمْسَكَهُ عَلَى نَفْسِهِ".

دعدي بن حاتم نه روایت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام نه مې تپوس اوکړوچه مونږ په دې سپوباندې ښکارکوو ماته ئې اوفرمائیل کله چه خپل پوهه کړې شوې سپې اولیږې اودالله نوم ورباندې واخلې نوخه چه درته هغه ساتلي راوړې نوخوره ئې اگرکه مړ وې مګرترڅوچه سپې پخپله نه وی خوړلې اوکه چرې سپې ترې خوړلی وې نوبیا ئې مه خوره ځکه چه په دې کښې دا احتمال دې چه دا ښکاربه دې سپې دخپل ځان دپاره کړې وې

﴿ عن عامر عن عدی بن حاتم رضی الله تعالی عنه قال : سالت رسول الله ﷺ الخ ﴾

د صحیح مسلم د یو حدیث د جملې تشریح:

د عدی بن حاتم رضی الله عنه دا حدیث کوم لره چه د هغه نه روایت کونکې عامر شعبی دې په ډیرو طرقو سره په صحیح مسلم او نسائی کښې هم دې او په دې روایاتو کښې صحیح مسلم او نسائی کښې یو روایت داسې دې: ﴿ حدثنا الشعبی قال سمعت عدی بن حاتم وکان لنا جارا و دخیلا و ربیطا بالنهرین....... انه سال النبی ﷺ الحدیث ﴾ په دې کښې د جار او د دخیل معنی خو ښکاره دې جار ګاونډی او دخیل هغه انسان چه د چا سره خصوص تعلق ساتی او د هغه په امورو کښې د دې معاون او مشیر وی، خو د ربیط په باره کښې امام نووی داسې لیکلې دی: ﴿ والربیط ههنا بمعنی المرابط وهو الملازم والرباط الملازمة، قالوا والمراد هنا ربط نفسه علی العبادة وعن الدنیا ﴾ اهـ او قاضی عیاض رحمه الله په خپله شرح کښې د ربیط صرف رومبې معنی لیکلې ده او هم په هغې ئې اکتفاء کړې ده. پس په هغې کښې دی ﴿ والربیط هنا المرابط الملازم من الرباط ﴾ اهـ په ظاهر کښې امام نووی رحمه الله هم دا معنی اختیار کړې ده پس هغوی رومبی دې معنی لره لیکلو سره نورې معنی چه لیکلی دی هغه ئې ﴿ قالوا ﴾ سره لیکلی دی یعنی د بعضو شارحانو رائې دا ده، مرابط وائی په سرحد باندې څوکئ کونکی ته لکه چه په کتابونو د احادیثو کښې دی او مشهوره ده، او نورې معنې کوم چه امام نووی رحمه الله لیکلی دی د هغې حاصل. یعنی هغه انسان چه زاهد او منقطع عن الدنیا وی، او هر وخت په عبادت کښې

(): صحیح البخاري/ الصید ۷ (۵٤۸۳)، ۱۰ (۵٤۸۷)، صحیح مسلم/ الصید ۱ (۱۹۲۹)، سنن ابن ماجه/ الصید ۳ (۳۲۰۸)، (تحفة الأشراف: ۹۸۵۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۵۸/٤، ۳۷۷) (صحیح)

مشغول اوسیږي، خو د دې معنی د دخیل سره هیڅ جوړ نه پاتې کیږي. او د دې "ربیطا بالنهرین" تعلق، والله اعلم..... په ظاهره د سمعت نه دې یعنی شعبی رحمه الله فرمائی چه ما دا حدیث د عدی بن اتم نه چه زمونږ ګاونډی او دخیل وو هغه وخت واوریدو چه کله هغه په مقام د نهرین باندې مرابط وو. (۱) یعنی څوکئ ئې کوله او کیدې شي چه مطلق د هغوی صفت بیانول مقصود وي د جار او دخیل په شان، او نهرین ظاهره هم دا ده چه دا د یو ځائې نوم دې چه د هغې وضاحت خو تر اوسه پورې یو ځائې کښې هم نه دې ملاؤ شوې خو په معجم البلدان کښې د "نهران" نوم راغلې دې چه د هغې په باره کښې هغوی لیکی ﴿من قری الیمن من نحیة ذمار﴾ اهـ کیدې شي چه په روایت کښې د نهرین نه مراد هم دا وي والله اعلم.

[۲۸٤۹](۲) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَاصِمٍ الأَحْوَلِ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا رَمَيْتَ بِسَهْمِكَ وَذَكَرْتَ اسْمَ اللَّهِ فَوَجَدْتَهُ مِنَ الْغَدِ، وَلَمْ تَجِدْهُ فِي مَاءٍ وَلَا فِيهِ أَثَرٌ غَيْرُ سَهْمِكَ فَكُلْ، وَإِذَا اخْتَلَطَ بِكِلَابِكَ كَلْبٌ مِنْ غَيْرِهَا فَلَا تَأْكُلْ لَا تَدْرِي لَعَلَّهُ قَتَلَهُ الَّذِي لَيْسَ مِنْهَا".

دعدي بن حاتم رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی کله چه خپل غشې اولې اودالله نوم واخلې اوښکارصبا پیدا کړې او په اوبو کښې نه وی پریوتلې اودغشې نه علاوه دبل زخم نښه هم په کښې نه وی نوهغه خوره خوکله چه ستادسپې سره بل سپې په کښې شریك شوې وي نوته هغه مه خوره ځکه چه تاته پته نشته کیدې شي چه دا ښکار دغه بل سپې وژلی وي.

﴿ اذا رمیت سهمک وذکرت اسم الله فوجدته من الغدو لم تجده فی ماء ولا فیه اثر غیر سهمک فکل ﴾

ښکار که د غشی د لګیدو نه پس غائب شی نو څه حکم دې:

یعنی که یو انسان په ښکار باندې غشی اوچلوی او ښکار په هغې باندې او هم لګی خو هغه وخت ښکار د نظر نه غائب شی، بیا په بله ورځ هغه یو ځائې کښې مړ ملاؤ شی په دې شرط چه په اوبو کښې نه وی، او دویم شرط دا چه په هغه کښې ستا د غشی نه علاوه د بل غشی اثر نه وی نو هغه خوړلې شي.

په دې حدیث کښې دوه شرطونه ذکر کړې شوې دی یو دا چه هغه ښکار اوبو ته او نه غورځیږي. دا اوبو ته غورځیدل کله مضر دی؟ په دې کښې د امامانو اختلاف دی، د احنافو او حنابله په نزد هر صورت کښې مضر دې برابره خبره ده که هغه جراحت چه کوم ښکار ته رسیدلې دې د هلاکت سبب وی او که نه وی په دې شرط چه هغه اوبو په دومره مقدار کښې وی چه د ښکار دپاره قاتلې وی، د امام احمد رحمه الله مشهور روایت هم دا دې. او

۱) لکه چه د امام ابوداؤد په روایت کښې دی عن ابي سالم الجیشاني عن عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما یذکر ذلك وهو معه مرابط الحصن باب الیون. دلته هم دا دی چه ابوسالم جیشانی دا حدیث د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه هغه وخت واوریدو چه کله هغه د هغوی سره په حصن باب الیون کښې څوکئ کوله. (کتاب الطهارة باب ما ینهي عنه ان یستنجي به)

۲) انظر حدیث رقم: (۲۸٤۷)، (تحفة الأشراف: ۹۸٦۲) (صحیح)

دویم روایت د امام احمد نه دا دې چه که جراحت سبب د هلاکت وی نو بیا وقوع فی الماء مضر نه دې، هم دا قول دې د امام شافعی او د امام مالک رحمهما الله (اوجز) او دویم شرط کوم چه په دې حدیث کښې ذکر شوې دې چه په هغې کښې ستا د غشی نه علاوه د بل د غشی اثر نه وی دا شرط متفق علیه بین الائمة الاربعة دې لکه دا خبره ښکاره ده د شارحینو د کلام او د کتب الفروع نه، د ښکار د غیبت والا مسئله کښې یو دا هم اختلاف دې چه څومره غیبت مغتفردې ددې وجې نه امام بخاری رحمه الله باب تړلې دې (باب الصید اذا غاب عنه یومین او ثلاثة) په دې کښې د امام مالک رحمه الله مسلک لکه چه په موطا او مدونة کښې دی هغوی فرمائی چه کله د ښکاری نه د هغه ښکار غائب شی د مجروح کیدو نه پس، د هغې نه پس هغه بیا ملاؤ شی او په هغې کښې د هغه د ښکاری سپی یا د غشی اثر موجود وی نو هغه خوړلې شی ما لم یبت یعنی ترڅو چه شپه نه وی تیره شوې، او که شپه تیره شو نو د هغې خوراک جائز نه دې او دویم روایت د هغوی نه دا دې چه که هغه ښکار د غشی دې نو خوړلې کیدې شی او که د سپی خوړلې شوې ښکار دې نو د هغې خوراک جائز نه دې. آه او امام نووی په شرح د مسلم کښې فرمائی چه دا حدیث دلیل دې چه کله ښکاری د زخمی کیدو نه پس غائب شی او بیا د هغې نه روستو ملاؤ شی په دې شرط چه په هغې کښې د هغه د غشی نه علاوه بل څه اثر نه وی نو حلال دې د امام شافعی رحمه الله په یو قول کښې، او د امام مالک رحمه الله په نزد هم، او د امام شافعی رحمه الله قول ثانی دا دې چه حرام دې (وهو الاصح عند اصحابنا) او دریم قول دا دې چه د سپی په ښکار کښې ناجائز دې او د غشی په ښکار کښې جائز دی. بیا هغوی فرمائی یعنی مطلقا حل اقوی او اقرب الی الاحادیث الصحیحة دې، او د امام احمد رحمه الله قول مشهور دې د ښکار د غائب کیدو په صورت کښې صرف حلت دې او دویم روایت د هغوی نه دا دې (ان غاب نهارا فلا باس به وان غاب لیلا لم یاکله)، او دریم د هغوی نه دا دې (ان غاب مدة طویلة لم یبح وان کانت یسیرة ابیح، قیل له ان غاب یوما؟ قال یوم کثیر) او د موفق د کلام نه معلومیږی چه غیبت د صید په مسئله کښې د امام احمد رحمه الله په نزد اقتفاء او طلب شرط نه دې، او د مالکیانو په نزد په دې کښې دواړه روایتونه معلومیږی (ففی الاوجز ۱۸۲/٤) نقلا عن الباجی: قال القاضی ابوالحسن اذا کان مجدا فی الطلب حتی وجده علی هذه الحالة فانه یجوز اکله وان تشاغل عنه ثم وجده میتا فانه لا یجوز اکله، وفیه بعد اسطر : وحکی القاضی ابومحمد عن مالک فی الصید بالکلب انه یوکل وان بات عنه سوآء کان صاحبه یطلبه او لایطلبه اهـ (اوجز تراجم البخاری) او د احنافو او شوافعو په نزد هم اقتفاء شرط ده لکه چه حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کښې وئیلې دی او هم دغه شان په فروعو د احنافو کښې هم دی، دا اقتفاء او طلب ګویا دریم شرط شو چه د هغې ذکر په راوران حدیث کښې راځی (احدنا یرمی فی الصید فیقتفی اثره الیومین والثلاثة الخ) یعنی د ښکار د غائب کیدو نه پس د هغې د حلال والی دپاره د دې اقتفاء هم ضروری ده، یعنی ښکاری د هغه ښکار په لټون او طلب کښې اولګی، د هغې نه دې فارغه نه کینی، او دا د اقتفاء او طلب شرط د احنافو او شوافعو د دواړو په نزد دې، د حنابله په نزد نه دې (وعن المالکیة روایتان کما تقدم قریبا)

[۲۸۵۰]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، أَخْبَرَنِي عَاصِمٌ الأَحْوَلُ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا وَقَعَتْ رَمِيَّتُكَ فِي مَاءٍ فَغَرِقَ فَمَاتَ فَلَا تَأْكُلْ".

دعدي بن حاتم رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي کله چه تاسو يوخاروې په غشي اولی اوهغه ښکار په اوبو کښې ډوب شي اومړشي نودغه ښکار مه خورئ.

[۲۸۵۱]([2]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا مُجَالِدٌ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَا عَلَّمْتَ مِنْ كَلْبٍ أَوْ بَازٍ ثُمَّ أَرْسَلْتَهُ وَذَكَرْتَ اسْمَ اللَّهِ فَكُلْ مِمَّا أَمْسَكَ عَلَيْكَ، قُلْتُ: وَإِنْ قَتَلَ قَالَ: "إِذَا قَتَلَهُ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنْهُ شَيْئًا فَإِنَّمَا أَمْسَكَهُ عَلَيْكَ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ الْبَازُ: إِذَا أَكَلَ فَلَا بَأْسَ بِهِ وَالْكَلْبُ إِذَا أَكَلَ كُرِهَ، وَإِنْ شَرِبَ الدَّمَ فَلَا بَأْسَ بِهِ.

دعدي بن حاتم رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي کله چه تاسو کوم سپي يا باز ته دښکارکولو طريقه اوښايئ اوبيادالله نوم واخلئ او په ښکار پسې ئې اوشړئ نوتاسودغه ښکار خوړلې شئ کوم چه ئې ستاسودپاره نيولی وي اوساتلې ئې وي، عدي عرض اوکړو که چرې دغه ښکارئې مړکړې وي؟ نبي عليه السلام اوفرمائيل اګرکه مړ کړې وي ليکن چه ددغه ښکارنه ئې خوړلي نه وی ګويا کښې دا ښکار ئې ستاسو دپاره نيولې دې.

[۲۸۵۲]([3]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ بُسْرِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيِّ، عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَيْدِ الْكَلْبِ: "إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ وَذَكَرْتَ اسْمَ اللَّهِ فَكُلْ وَإِنْ أَكَلَ مِنْهُ وَكُلْ مَا رَدَّتْ عَلَيْكَ يَدَاكَ".

دابوثعلبة الخشني رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي په باره دښکاردسپي کښې چه کله تاسودالله نوم واخلئ او په ښکار پسې خپل سپي اوشړئ نوتاسودغه ښکار خوړلې شئ اګر که دغه سپي ددغه ښکارنه پخپله هم خوړلې وي اوهمدارنګې دغه خاروې هم خوړلی شي کوم چه ستاسو په غشي باندې لړيدلې وي خوپه دې شرط چه دغشي دويشتلوسره مو بسم الله وئيلي وي.

﴿ عن ابی ثعلبة الخشنی رضی الله تعالی عنه قال قال النبی صلی الله علیه وسلم الخ ﴾

اوسه پورې د عدی بن حاتم رضي الله عنه د رواياتو سلسله روانه وه او دا روايت د ابوثعلبه الخشني رضي الله عنه دې کوم چه د مالکيانو دليل دې د تعليم کلب په مسئله کښې لکه چه په اول د کتاب کښې وو او د جمهورو استدلال د عدی بن حاتم رضي الله عنه حديث نه دې کوم چه د دې نه زيات صحيح دې ځکه چه هغه په بخاری او مسلم کښې دې

﴿ وکل ما ردت الیک یدک ﴾ اوخره نه هغه څيز کوم چه واپس کړی تاته ستا لاس، د دې نه مراد د ښکار غشې دې کوم انسان په خپل لاس سره چلوی.

[1]): صحيح البخاري/الذبائح ۸ (٥٤٨٤)، صحيح مسلم/الصيد ۱ (۱۹۲۹)، سنن الترمذي/الصيد ۳ (۱٤٦۹)، سنن ابن ماجه/الصيد ٦ (۳۲۱۳)، (تحفة الأشراف: ۹۸٦۲) (صحيح)

[2]): سنن الترمذي/الصيد ۳ (۱٤٦۷)، (تحفة الأشراف: ۹۸٦٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/۲٥۷، ۳۷۹) (صحيح)

[3]): تفرد به أبو داود، وانظر ما يأتي برقم: (۲۸٥٥)، (تحفة الأشراف: ۱۱۸۷۸) (منكر)

[۲۸۵۳](١) حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ مُعَاذِ بْنِ خُلَيْفٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى، حَدَّثَنَا دَاوُدُ، عَنْ عَامِرٍ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَحَدُنَا يَرْمِي الصَّيْدَ فَيَقْتَفِي أَثَرَهُ الْيَوْمَيْنِ وَالثَّلَاثَةَ، ثُمَّ يَجِدُهُ مَيِّتًا وَفِيهِ سَهْمُهُ أَيَأْكُلُ، قَالَ: "نَعَمْ إِنْ شَاءَ، أَوْ قَالَ: يَأْكُلُ إِنْ شَاءَ".

دعدي بن حاتم و نه روايت دي فرمائي چه دنبي عليه السلام په خدمت کښې مي عرض اوکړو چه اې دالله رسوله په کوم کښې چه يو کس ښکار اوولي اودوه يادرې ورځې پسې ګرځي اوبيا ئې مې پيدا کړي اوغشې په کښې پروت وي ايا خوړلې ئې شي نبی عليه السلام اوفرمائيل هو که چرې دده خوښه وي.

﴿عن عدى بن حاتم رضى الله تعالى عنه انه قال يا رسول الله ﷺ احدنا يرمى الصيد فيقتفى اثر اليومين والثلاثة الخ﴾ داقتفاء مسئله پورته ذکرشوه. والحديث اخرجه البخاري معلقا.

[۲۸۵٤](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي السَّفَرِ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، قَالَ: قَالَ عَدِيُّ بْنُ حَاتِمٍ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمِعْرَاضِ فَقَالَ: "إِذَا أَصَابَ بِحَدِّهِ فَكُلْ وَإِذَا أَصَابَ بِعَرْضِهِ فَلَا تَأْكُلْ فَإِنَّهُ وَقِيذٌ، قُلْتُ: أُرْسِلُ كَلْبِي، قَالَ: إِذَا سَمَّيْتَ فَكُلْ وَإِلَّا فَلَا تَأْكُلْ، وَإِنْ أَكَلَ مِنْهُ فَلَا تَأْكُلْ فَإِنَّمَا أَمْسَكَ لِنَفْسِهِ، فَقَالَ: أُرْسِلُ كَلْبِي فَأَجِدُ عَلَيْهِ كَلْبًا آخَرَ، فَقَالَ: لَا تَأْكُلْ لِأَنَّكَ إِنَّمَا سَمَّيْتَ عَلَى كَلْبِكَ".

دعدي بن حاتم رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه د نبي عليه السلام نه مي تپوس اوکړو په باره دهغه غشي کښې کوم چه دپر والا نه وی نووئې فرمائيل کله چه ښکارته په تيره طرف سره رسيدلي وي نوخوره ئې اوکه چرې په پلنو رسيدلي وي نومه ئې خوره ځکه چه داموقوضه ده ماورته اووئيل زه خپل سپي په ښکار پسې شرم راته ئې اوفرمائيل که بسم الله دي وئيلي وي نوخوره ئې اوکه نه دې وي وئيلي نه مه ئې خوره اوکه چرې سپي ترې خوړلې وي نوته ئې مه خوره ځکه چه دادخپل ځان دپاره نيولې دې ده ورته اووئيل زه په ښکار پسې خپل سپي اوشرم اوبل سپي ورسره هم بيامومم نوراته ئې اورفرمائيل مه ئې خوره ځکه چه تابسم الله په خپل سپي باندې وئيلي ده.

[۲۸۵۵](٣) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ، عَنْ حَيْوَةَ بْنِ شُرَيْحٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَبِيعَةَ بْنَ يَزِيدَ الدِّمَشْقِيَّ، يَقُولُ: أَخْبَرَنِي أَبُو إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيُّ عَائِذُ اللَّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيَّ يَقُولُ: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أَصِيدُ بِكَلْبِي الْمُعَلَّمِ وَبِكَلْبِي الَّذِي لَيْسَ بِمُعَلَّمٍ، قَالَ: "مَا صِدْتَ بِكَلْبِكَ الْمُعَلَّمِ فَاذْكُرِ اسْمَ اللَّهِ، وَكُلْ وَمَا صِدْتَ بِكَلْبِكَ الَّذِي لَيْسَ بِمُعَلَّمٍ فَأَدْرَكْتَ ذَكَاتَهُ فَكُلْ".

دابوثعلبة الخشني رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه ماعرض اوکړو اې دالله رسوله زه په خپل پوهه شوي سپي باندې ښکارکوم او په هغه سپي باندې چه نه وی. پوهه شوي راته ئې

١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩٨٥٩)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/ الصيد ٨ (٥٤٨٥ تعليقًا) (صحيح)

٢): صحيح البخاري/ الوضوء ٣٣ (١٧٥)، البيوع ٣ (٢٠٥٤)، الصيد ٢ (٥٤٧٦)، صحيح مسلم/ الصيد ١ (١٩٢٩)، سنن النسائي/الصيد ٧ (٤٢٧٧)، (تحفة الأشراف: ٩٨٦٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٨٠/٤)، دي/الصيد ١ (٢٠٤٥) (صحيح)

٣): صحيح البخاري/الصيد ٤ (٥٤٧٨)، ١٠ (٥٤٨٨)، ١٤ (٥٤٩٦)، صحيح مسلم/الصيد ١ (١٩٣٠)، سنن الترمذي/ السير ١١ (١٥٦٠)، سنن النسائي/الصيد ٤ (٤٢٧١) سنن ابن ماجه/الصيد ٣ (٣٢٠٧)، (تحفة الأشراف: ١١٨٧٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٩٣/٤، ١٩٤، ١٩٥)، سنن الدارمي/السير ٥٦ (٢٥٤١) (صحيح)

اوفرمائیل کله چه ته ښکار کوي په پوهه شوي سپي باندې نوداللّٰه نوم واخله اوخوره ئې اوکله چه ته ښکارکوي په هغه سپي باندې چه پوهه شوې نه وی اوښکاردې ژوندې پیدا کړو نوذبح ئې کړه اوخوره ئې اوکه مور وي تو مه ئې خوره.

﴿ سمعت ابا ثعلبة الخشنی رضی الله عنه یقول......... وما اصدت بکلبک الذی لیس بمعلم فادرکت ذکاته فکل ﴾

یعنی د کلب معلم ښکار خو جائز دې، او کله چه ښکار د کلب غیر معلم په ذریعه کولې شی نو په دې کښې دوه صورتونه دی که دا هغه سپی اوژلو نو بیا خو حرام دې او که او ئې نه وژلو تردې چه ښکاری هغه نیولو سره ذبح کړو نو بیا هغه جائز دې.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی قاله المنذری، وقال الشیخ محمد عوامه: عزاه المزی الی الجماعة وهو عند ابن ماجة بزیادة، واما الترمذی فرواه بمثل اسناد المصنف اهـ

د دې نه په روستو روایت کښې را روان دی ﴿ فکل ذکیا وغیر ذکی ﴾ یعنی په مذبوح او غیر مذبوح دواړو صورتونو کښې جائز دې. کوم ښکار چه د غشی یا د معلم سپی په وجه باندې مړ شی او د هغه د ذبح وخت رانشی هغه خو شو غیر ذکی، او کوم چه د غشی وغیره په ذریعه مړ نه وی بلکه هغه ژوندې دې تردې چه ښکاری هغه ته اورسیدو نو بیا د هغه دپاره ذبح کول ضروری دی هم دا مراد دې د ذکی نه.

[۲۸۵٦]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُصَفَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَرْبٍ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُصَفَّى، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، عَنِ الزُّبَيْدِيِّ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ سَيْفٍ، حَدَّثَنَا أَبُو إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيُّ، حَدَّثَنِي أَبُو ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيُّ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أَبَا ثَعْلَبَةَ كُلْ مَا رَدَّتْ عَلَيْكَ قَوْسُكَ وَكَلْبُكَ زَادَ عَنِ ابْنِ حَرْبٍ الْمُعَلَّمُ وَيَدُكَ فَكُلْ ذَكِيًّا وَغَيْرَ ذَكِيٍّ".

دابوثعلبه خشني نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام راته اوفرمائیل اې ابوثعلبه کوم ځناور چه ته په خپل غشي اولي هغه خوره اویائې پوهه شوي سپي ښکار کړي، دابن حرب په روایت کښې دا اضافه ده چه هغه سپي پوهه کړې شوې وي اوهغه ځناورخوړلې شي کوم چه ستاپه لاس باندې او ویشتلی شي برابره خبره ده چه ته دغه ذبح کړي او که ذبح ئې نه کړې اود ذبح کولو نه مخکښې مړشي.

[۲۸۵۷]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمِنْهَالِ الضَّرِيرُ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا حَبِيبٌ الْمُعَلِّمُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ أَعْرَابِيًّا يُقَالُ لَهُ أَبُو ثَعْلَبَةَ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لِي كِلَابًا مُكَلَّبَةً فَأَفْتِنِي فِي صَيْدِهَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنْ كَانَ لَكَ كِلَابٌ مُكَلَّبَةٌ فَكُلْ مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكَ، قَالَ: ذَكِيًّا أَوْ غَيْرَ ذَكِيٍّ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَإِنْ أَكَلَ مِنْهُ، قَالَ: وَإِنْ أَكَلَ مِنْهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفْتِنِي فِي قَوْسِي، قَالَ: كُلْ مَا رَدَّتْ عَلَيْكَ قَوْسُكَ، قَالَ: ذَكِيًّا أَوْ غَيْرَ ذَكِيٍّ، قَالَ: وَإِنْ تَغَيَّبَ عَنِّي، قَالَ: وَإِنْ تَغَيَّبَ عَنْكَ مَا لَمْ يَصِلَّ أَوْ تَجِدْ فِيهِ أَثَرًا غَيْرَ سَهْمِكَ، قَالَ: أَفْتِنِي فِي آنِيَةِ الْمَجُوسِ إِنِ اضْطُرِرْنَا إِلَيْهَا، قَالَ: اغْسِلْهَا وَكُلْ فِيهَا".

---

[1]. تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۸۷۷)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/ الصيد ۱ (۱۹۳۱)، سنن الترمذي/ الصيد ۱٦ (۱٤٤٦) (صحيح)

[2]. تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۸٦۷۱)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الصيد ۱٦ (٤۳۰۱)، مسند احمد (۱۸٤/۲) (حسن)

عمرو بن شعیب د خپل پلار نه او هغه دده دنیکه نه روایت کوي چه دا بو ثعلبه په نوم باندې یو بانډچي ووئیل اې دالله رسوله زماسره سپي دي پوهه کړې شوي فتوي راکړه مالره په ښکاردذي کښې نبی ﷺ اوفرمائیل که چرې ستاسره پوهه کړې شوي سپي وي نوخوره هغه څه کوم چه دوی ستادپاره ساتلي وي ابوثعلبه وویل چه ذبح شوي وي اوکه نه وی ذبح شوي دواړه نبی ﷺ اوفرمائیل هو ابوثعلبه اووئیل که چرې خوړلې ئې ترینه وي نبی ﷺ اوفرمائیل اګر که ترینه ئې خوړلي وي بیا ئې عرض اوکړو اې دالله رسوله فتوي راکړه ماته په باره دښکار دلیندی زما کښې نبی ﷺ اوفرمائیل کوم چه ستادپاره ستا دغشولینده اوګټي هغه خوره برابره خبره ده چه ته ئې ذبح کړي اوکه ذبح ئې نه کړې هغه اووئیل که چرې داښکار په غشي اولګی اودنظرنه غائب شي نبی ﷺ اوفرمائیل اګر که دنظر نه غائب هم وي ترڅوچه ورک شوې نه وی اوترڅوچه ستادغشي نه علاوه بل زخم په کښې بیانه وموي ثعلبه اووئیل فتوي راکړه ماته په باره دلوښو د مجوسیانوکښې که چرې زه ورته مجبوره کړې شم نبی ﷺ اوفرمائیل ویسې وینزه اوخوراك په کښې کوه.

﴿وان تغیب عنک مالم یصل او تجد فیه اثر غیر سهمک﴾

شرح الحدیث او د لحم منتن حکم:

یعنی د ښکار د غائب کیدو په صورت کښې هغې لره تر هغه وخته پورې خوړل جائز دی چه کله په هغې کښې دوه شرطونه بیا موندلي شي. یو دا چه هغه ځناور خراب شوې نه وی او دویم دا چه د هغه غشی نه علاوه د بل غشی اثر پکښې نه وی. ﴿ما لم یصل﴾ په فتح د یاء او کسرې د صاد سره دې او تشدید لام وئیلې شی ﴿صل اللحم صلولا اذا انتن﴾ یعنی چه کله په هغه غوښه کښې بدبوئی راتلل شروع شی، او د مسلم په حدیث کښې ﴿ما لم ینتن﴾ دې [1]..... د احنافو او شوافعو په نزد دا قید دپاره د استحباب دې، د هغوی په نزد د لحم منتن خوراک مکروه تنزیهی ده، او د مالکیانو په نزد حرام ده، د شوافعو استدلال د حدیث العنبر نه دې کوم چه صحابه کرامو ﷺ د نیمې میاشت نه زیات خوړلې وو، او په دومره موده کښې په غوښه کښې بدبوئی پیدا نه شی دا ډیره ګرانه ده، خو حافظ فرمائی ﴿یحتمل انهم ملحوه وقددوه﴾ چه ممکنه ده صحابه کرامو هغه ټکرې ټکرې کولو سره په هغې باندې مالګه مرېلې وی (هامش البذل)

وفی الشمائل الترمذی فی باب تواضع رسول الله ﷺ من حدیث انس بن مالک ﷺ کان رسول الله ﷺ یدعی الی خبز الشعیر والاهالة السخنة وکذا اخرجه البخاری فی البیوع والرهن، ولفظه فی البیوع فی باب شراء النبی ﷺ بالنسیئة عن انس ﷺ انه مشی الی النبی بخبز شعیر واهالة سنخة الحدیث..... په دې حدیث کښې د رسول الله ﷺ د زړې بوئی والا وازګې خوړلو ذکر دې. حدیث الباب د ابوثعلبه ﷺ دا حدیث وراندې هم را روان دې هلته په بذل کښې لیکلې شوې دی. قال القاری قال علماؤنا: وهذا علی طریق الاستحباب والا فالنتن لا اثر له فی الحرمة.

[1]) بلکه خپله په ابوداؤد کښې هم په کتاب الصید کښې بالکل په آخری حدیث کښې هم دغه شان دی مالم ینتن)

قال ابن الملک وقد روی انه علیه الصلوة والسلام اکل متغیر الریح الی آخره.

د مشرکانو د لوښو استعمال کله جائز دي؟

قوله: قال: افتني في آنية المجوس اذا اضطررنا اليها قال اعسلها وكل فيها :

د رسول الله ﷺ نه د مجوسیانو د لوښو په باره کښې تپوس اوکړې شو چه آیا د مجبورئ په وخت هغه استعمالولې شو؟ هغوی اوفرمائیل چه د غسل نه پس هغه استعمالولې شو، د دې نه معلومه شوه چه د مشرکانو د لوښو استعمال پس د وینځلو نه د اضطرار په وخت جائز دې، او دا هم چه بغیر د مجبورئ نه پس د غسل نه هم د دې استعمال مکروه دې حال دا چه د فقهاء کرامو د کلام نه معلومیږي چه د مشرکانو د لوښو استعمال پس د وینځلو ه مطلقا بغیر د کراهت نه جائز دې، جواب د دې دا دې چه دلته په حدیث کښې د مجوسو لوښو نه هغه لوښي مراد دی چه په هغې کښې د خنزیر غوښه پخوی یا کوم چه د شرابو په څکلو کښې استعمالوی لکه چه د هغې تصریح د ابوداؤد په بعض روایتونو کښې ده او د فقهاء کرامو کلام د مطلق لوښو سره متعلق دې یعنی د هغه لوښو سره کوم چه هغوی په نجاستونو کښې نه شی استعمالولې (بذل) په دې سلسله کښې روایات په ابوداؤد او ترمذی وغیره کښې دوه قسمه دی بعض مطلق دی لکه حدیث الباب، او بعض مقید دی لکه چه حضرت په بذل کښې لیکلی دی. د حضرات مراد دا دې چه په روایت مطلقه کښې اختصار دې هغه هم په مقیده باندې محمول دی.

بَابٌ فِي صَيْدٍ قُطِعَ مِنْهُ قِطْعَةٌ

د ژوندی ښکار د یو اندام پریکولو بیان

[۲۸۵۸]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ الْقَاسِمِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي وَاقِدٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا قُطِعَ مِنَ الْبَهِيمَةِ وَهِيَ حَيَّةٌ فَهِيَ مَيْتَةٌ".

دابو واقد اللیثي نه روایت دې فرمائي چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی هغه اندام چه پریکړې شي. دښکاروي نه اوهغه ژوندې وي دا مرداره ده.

﴿ ما قطع من البهيمة وهي حية فهي ميتة ﴾

یعنی چه د ژوندی ماکول ځناور یو اندام پرې کړې شی نو هغه حکم دې په حرام د میتة کښې دې، دا روایت په ترمذی کښې هم دې د ابوداؤد د روایت نه اوږد، په هغې کښې دا دی چه کله رسول الله ﷺ هجرت کولو سره مدینې طیبې ته تشریف یوړو نو هلته هغوی اوکتل چه څه خلق د اوښانو قوبوبه، او هم دغه شان د ګډانو لمونه پرې کوی نو په دې باندې رسول الله ﷺ هغه اوفرمائیل کوم چه دلته په دې حدیث کښې ذکر شوې دی.

فائده: فقهاء کرامو د نافجة المسک په باره کښې تصریح کړې ده چه هغه هم طاهر دې د

(): سنن الترمذي/الصيد ٤ (١٤٨٠) أتم منه، (تحفة الأشراف: ١٥٥١٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١٨/٥)، سنن الدارمي/الصيد ٩ (٢٠٦١) (صحيح)

مشک په شان او ماکول دي لهذا د مسئلة الباب نه به د هغې استثناء کولې شي.(١)
والحديث اخرجه الترمذی اتم منه، واخرجه ابن ماجة من حديث عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما قاله المنذری.

بَابٌ فِي اتِّبَاعِ الصَّيْدِ

د ښکار کولو نه کسب جوړول

[٢٨٥٩](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنِي أَبُو مُوسَى، عَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ مَرَّةً سُفْيَانُ، وَلَا أَعْلَمُهُ إِلَّا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ سَكَنَ الْبَادِيَةَ جَفَا، وَمَنِ اتَّبَعَ الصَّيْدَ غَفَلَ، وَمَنْ أَتَى السُّلْطَانَ افْتُتِنَ".

ابن عباس نه دنبی علیه السلام نه روایت کوی څوک چه په ځنګلو کښې اوسيږي دهغه زړه به سخت وي او څوک چه په ښکار پسې هروخت ور پسې وي نودې به په غفلت کښې پريوځي او څوک چه بادشاهانو ته تګ راتګ کوي نو هغه به په کوم مصيبت کښې اخته کيږي.

قوله: ﴿ من السكن البادية جفاء ومن اتبع الصيد غفل الخ ﴾ يعنى په ځنګل کښې اوسيدونکی سخت مزاج کيږی، د خلقو سره د اوسيدو دکمی د وجې نه، ځکه چه څوک د خلقو سره يوځائې اوسيږی نو هغه د نورو تکليفونه او د مشقونو برداشت کولو عادی شی، او په دې وجه هم چه داسې خلق د حکومت او د هغې انتظام نه لرې وی.

او څوک چه په ښکار پسې لګيدلې وی، مراد توغل دې چه هم دې لره خپله مشغله جوړه کړی نو د هغه ژوند به په غفلت کښې تير شی او د مانځه او آذان ورته هيڅ خبر نه وی.

او کوم خلق چه امراء او بادشاهانو له ځی هغوی د دين او دنيا د دواړو په اعتبار سره په فتنه کښې مبتلا کيږی. (بذل) والحديث اخرجه الترمذی والنسائی مرفوعا قاله المنذری.

[٢٨٦٠](٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الْحَكَمِ النَّخَعِيُّ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ شَيْخٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَى مُسَدَّدٍ، قَالَ: "وَمَنْ لَزِمَ السُّلْطَانَ افْتُتِنَ زَادَ، وَمَا ازْدَادَ عَبْدٌ مِنَ السُّلْطَانِ دُنُوًّا إِلَّا ازْدَادَ مِنَ اللَّهِ بُعْدًا".

دابوهريره من نه دتير شوی روايت په شان روايت منقول دې مګردلته دې اضافي سره څوک چه د بادشاه سره ډير تګ راتګ ساتي نو په فتنه کښې به پريوځی اوهيڅ يوبنده داسې نشته چه بادشاه ته ئې ځان نزدې کړې وی مګر دالله نه به ئې ځان جدا کړې وی.

[٢٨٦١](٤) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ خَالِدٍ الْخَيَّاطُ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا رَمَيْتَ الصَّيْدَ فَأَدْرَكْتَهُ بَعْدَ ثَلَاثِ لَيَالٍ وَسَهْمُكَ فِيهِ فَكُلْهُ مَا لَمْ يُنْتِنْ".

---

(١) ففي نور الايضاح في بيان الدباغة ونافجة المسك طاهرة كالمسك واكله حلال آه.

(٢): سنن الترمذي/الفتن ٦٩ (٢٢٥٦)، سنن النسائي/الصيد ٢٤ (٤٣١٤)، (تحفة الأشراف: ٦٥٣٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٥٧/١) (صحيح)

(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٤٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٧١/٢، ٤٤٠) (ضعيف)

(٤): صحيح مسلم/الصيد ٢ (١٩٣١)، سنن النسائي/الصيد ٢٠ (٤٣٠٨)، (تحفة الأشراف: ١١٨٦٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٩٤/٤) (صحيح)

ابوتعلبه خشنی رضی الله عنه د نبی علیه السلام نه روایت کوی چه فرمائیلي ئې دي کله چه ښکار په غشي اوولې او درې ورځې پس ئې بیاموې او ستاغشې په کښې موجودې نوخوره ئې ترڅوچه بدبویه شوې نه وي.

﴿ عن ابی ثعلبة الخشنی رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم اذا رمیت الصید فادرکته بعد ثلاث لیال وسهمک فیه فکل مالم ینتن ﴾:

دا حدیث په مصری نسخو کښې نشته او کیدل هم نه دی پکار، د مضمون په لحاظ سره دا حدیث مکرر دې، رومبی ځائې په دې کښې د ﴿ ما لم ینتن ﴾ په ځائې ﴿مالم یصل ﴾ لفظ راغلي دې.

كِتَابُ الْوَصَايَا

دوصيت د احكامو بيان

وصایا جمع ده د وصیة لکه هدایا جمع ده د هدیة، د وصیة استعمال په معنی مصدری یعنی ایصاء او مایوصی به یعنی د هغه څیز د وصیت په ځائې په دوارو کښې وی، د وصیة تعریف شرعا داسې کړې شوې دې هو عهد خاص مضاف الی ما بعد الموت..... یعنی هغه معامله چه د هغې تعلق د مابعد الموت سره وی، او د وصیت استعمال په معنی د نصیحت یعنی امر بالمعروف او نهی عن المنکر باندې هم کیږي. (من البذل)

بَابُ مَا جَاءَ فِيمَا يُؤْمَرُ بِهِ مِنَ الْوَصِيَّةِ

دوصيت د تاكيد كولو بيان

زمونږ په دې نسخه کښې ﴿ یامر ﴾ په صیغه د معروف دې، او په بعضو کښې ﴿ یومر ﴾ دې وهو الاصح ځکه چه د معروف صورت کښې د هغه دپاره فاعل مقدر منل راځی مثلا الشرع یا السلام.

[۲۸٦۲][1] حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنِي نَافِعٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ عُمَرَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَا حَقُّ امْرِءٍ مُسْلِمٍ لَهُ شَيْءٌ يُوصِي فِيهِ يَبِيتُ لَيْلَتَيْنِ إِلَّا وَوَصِيَّتُهُ مَكْتُوبَةٌ عِنْدَهُ".

دابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی دمسلمان دشان سره دانه ښائي چه دده سره دې داسې یوش وي کوم چه دوصیت قابل وي اودکوم دپاره چه وصیت کول ضروري وي اودې دوه شپې داسې تیري کړي چه ددغه شي متعلق وصیت دده سره لیکلې موجود نه وی.

﴿ عن عبیدالله بن عمر رضی الله عنهما عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ما حق امرئ مسلم له شئ یوصی فیه یبیت لیلتین الاوصیة مکتوبة عنده ﴾

[1]: صحيح مسلم/الوصايا ۱ (۱٦۲۷)، (تحفة الأشراف: ۷۹٤٤، ۸۱۷٦)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الوصايا ۱ (۲۷۳۸)، سنن الترمذي/الجنائز ٥ (۹۷٤)، والوصايا ۳ (۲۱۱۹)، سنن النسائي/الوصايا ۱ (۳٦٤٥)، سنن ابن ماجه/الوصايا ۲ (۲٦۹۹)، موطا امام مالك/الوصايا ۱ (۱)، مسند احمد (۲/٤، ۱۰، ۳٤، ٥۰، ٥۷، ۸۰، ۱۱۳)، سنن الدارمي/الوصايا ۱ (۳۲۱۹) (صحيح)

شرح الحديث وحكم الوصية :

﴿ يوصي فيه ﴾ په ترکيب کښې د ﴿ شئ ﴾ صفت دې، او دا ﴿ يبيت ليلتين ﴾ د «حق» خبر دې، يعنی چه د کوم مسلمان يو داسې څيز وی چه قابل وصيت وی نو د هغه دپاره لائقه نه ده دا خبره چه دوه شپې تيرې کړی خو په دې حال کښې چه د هغه وصيت د هغه سره ليکلې وی. او په يو روايت کښې ليلة او ليلتين دې او د مسلم او د نسائی په روايت کښې يبيت ثلاث ليال دې، وهذا يدل على انه للتقريب لا للتحديد ای ولو زمانا قليلا (بذل) .

وصيت ظاهريه او بعض علماء کرامو لکه زهری او عطاء او ابن جرير او د امام شافعی رحمه الله په قول قديم کښې مطلقا ای فی کل حال واجب دې او د جمهور په نزد که ذمه ديون (قرضونه) يا حقوق العباد وی په هغې باندې وصيت واجب دې خو د هغې ليکل او په هغې کښې تعجيل کول دا مستحب دی، علامه شامی رحمه الله ليکلی دی چه د وصيت څلور قسمونه دی، واجب كالوصية برد الودائع الديون المجهولة، ومستحبة كالوصية للكفارات وفدية الصلوة ونحوها، ومباحة كالوصية للاغنياء من الاجانب والاقارب، ومكروهة كالوصية لاهل الفسوق والمعاصى وفى الهداية القياس يابى جواز الوصية لانه تمليك مضاف الى حال زوال مالكية الا انا استحسناه لحاجة الناس اليها الى اخره آه من التراجم[1]

والحديث اخرجه البخارى ومسلم والترمذى والنسائى وابن ماجة قاله المنذرى.

[۲۸۶۳] ([2]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: مَا تَرَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا وَلَا بَعِيرًا وَلَا شَاةً وَلَا أَوْصَى بِشَيْءٍ.

ام المومنين عائشة رضی الله عنها نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام نه دينار پريښودلې دې او نه درهم او نه اوښ او نه ګډ (په ميراث کښې) او نه ئې په څه شي باندې وصيت کړې دې.

﴿ عن عائشة رضى الله تعالى عنها قالت ما ترك رسول الله ﷺ دينارا ولا درهما ولا بعيرا ولا شاة ولا اوصى بشئ ﴾

شرح الحديث

او رسول الله ﷺ د هيڅ څيز وصيت نه دې کړې، يعنی د مال يا د خلافت په باره کښې، خو د کتاب الله په باره کښې او د خپل اهل بيت په باره کښې او د اخراج اليهود من جزيرة العرب وغيره ددې امورو رسول الله ﷺ يقينا وصيت فرمائيلې دې (كما فى الاحاديث الصحيحة)

د دراهم او دنانير په باره کښې په بذل کښې د سيرت حلبيه نه نقل کړی دی چه رسول الله

---

[1] يعنی چونکه د وصيت تعلق د مابعد الموت سره دې او د مرګ نه پس انسان کښې د هيڅ فعل هم که هغه تمليک وی او يا بل څه صلاحيت باقی نه پاتې کيږی لهذا د وصيت جواز خلاف قياس دې خو استحسانا او ضرورة هغه جائز کيږی، او هغه ضرورت دا دې چه انسان په خپل ژوند باندې مغرور وی او کارونه روستو کوی د ژوند په غرور کښې چه د هغې نه ډير واجب الاداء څيزونه په ذمه پاتې شی ناڅاپه د مرګ د راتلو د وجې نه. خو د هغې د مخ نيوی دپاره شريعت دا صورت راويستلې دې.

[2]: صحيح مسلم/الوصايا ٦ (١٦٣٥)، سنن النسائي/الوصايا ٢ (٣٦٥١)، سنن ابن ماجه/الوصايا ١ (٢٦٩٥)، (تحفة الأشراف: ١٧٦١٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٤/٦) (صحيح)

ﷺ سره د وفات نه مخکښې شپږ يا اووهٔ ديناره وو هغوی هغه په خپل لاس باندې عائشې رضي الله عنها ته ورکړل چه صدقه کړې شی، او په روايت کښې دی چه رسول الله ﷺ هغوی ته اوفرمائيل دا علی رضي الله عنه ته اوليږه چه هغه صدقه کړی. په دې حديث کښې د بعيره او شاة هم نفی ده، د دې په باره کښې ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چه بعض اهل سير چه ليکلې دی چه د هغوی په ملک کښې ډير اوښان وو. او شل اوښانې پئ ورکونکې وې د مدينې طيبې په طرفونو کښ، او اووهٔ ببيزې وې وغيره وغيره. د اهل سير دا روايت د دې صحيح حديث معارض نه شی کيدې فلا تعتبر او وړاندې فرمائی که صحيح هم اومنلې شی نو هغه به په دې باندې محمول کولې شی چه هغه اوښان د صدقې وو کوم چه رسول الله ﷺ د اهل صفه او غريبو صحابه کرامو رضي الله عنهم دپاره پريخودلې وو، او د دې نه علاوه چه د هغوی کومې بعض زمکې وې په خيبر او فدک کښې پس هغه خو رسول الله ﷺ په خپل ژوند کښې د مسلمانانو د ضرورياتو دپاره صدقه او وقف کړې وو. لکه چه د صحيحينو کښې حديث دې ﴿ان رسول الله ﷺ قال لا يقتسم ورثتي دينارا ما تركت بعد نفقة نسائي ومؤنة عاملي فهو صدقة﴾ وفی رواية..... ﴿لا نورث ما تركنا صدقة﴾ آه (من البذل) يعنی د هغه زمکو په باره کښې خو چونکه هغوی په خپل ژوند کښې فيصله فرمائيلې وه، لهذا دې ته به وصيت نه شی وئيلې کيدې.[1] والحديث اخرجه مسلم والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری.

بَابُ مَا جَاءَ فِيمَا لَا يَجُوزُ لِلْمُوصِي فِي مَالِهِ

باب: د ناجائز وصيت بيان

يعنی مړ کيدونکې په خپل مال کښې څومره وصيت کولې شی.

[٢٨٦٤] ([2]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَابْنُ أَبِي خَلَفٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: مَرِضَ مَرَضًا، قَالَ ابْنُ أَبِي خَلَفٍ بِمَكَّةَ، ثُمَّ اتَّفَقَا أَشْفَى فِيهِ فَعَادَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لِي مَالًا كَثِيرًا وَلَيْسَ يَرِثُنِي إِلَّا ابْنَتِي أَفَأَتَصَدَّقُ بِالثُّلُثَيْنِ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: فَبِالشَّطْرِ قَالَ: لَا، قَالَ: فَبِالثُّلُثِ قَالَ: الثُّلُثُ، وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ إِنَّكَ أَنْ تَتْرُكَ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَدَعَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُونَ النَّاسَ، وَإِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً إِلَّا أُجِرْتَ بِهَا حَتَّى اللُّقْمَةَ تَرْفَعُهَا إِلَى فِي امْرَأَتِكَ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَتَخَلَّفُ عَنْ هِجْرَتِي؟ قَالَ: إِنَّكَ إِنْ تُخَلَّفْ بَعْدِي فَتَعْمَلَ عَمَلًا صَالِحًا تُرِيدُ بِهِ وَجْهَ اللَّهِ لَا تَزْدَادُ بِهِ إِلَّا رِفْعَةً وَدَرَجَةً لَعَلَّكَ أَنْ تُخَلَّفَ حَتَّى يَنْتَفِعَ بِكَ أَقْوَامٌ وَيُضَرَّ بِكَ آخَرُونَ، ثُمَّ قَالَ: اللَّهُمَّ أَمْضِ لِأَصْحَابِي هِجْرَتَهُمْ وَلَا تَرُدَّهُمْ عَلَى أَعْقَابِهِمْ"، لَكِنِ الْبَائِسُ سَعْدُ بْنُ خَوْلَةَ يَرْثِي لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ مَاتَ بِمَكَّةَ.

[1] لهذا اوس به دا اشکال نه واقع کيږی چه رسول الله ﷺ د زمکو په باره خو وصيت فرمائيلې دې، بيا په دې حديث کښې د وصيت نفی کړې شوې ده.

[2]: صحيح البخاري/الجنائز ٣٦ (١٢٩٥)، الوصايا ٢ (٢٧٤٢)، ٣ (٢٧٤٤)، مناقب الأنصار ٤٩ (٣٩٣٦)، المغازي ٧٧ (٤٣٩٥)، النفقات ١ (٥٣٥٤)، المرضي ١٣ (٥٦٥٩)، ١٦ (٥٦٦٨)، الدعوات ٤٣ (٦٣٧٣)، الفرائض ٦ (٦٧٣٣)، صحيح مسلم/الوصايا ٢ (١٦٢٨)، سنن الترمذي/الجنائز ٦ (٩٧٥)، الوصايا ١ (٢١١٦)، سنن النسائي/الوصايا ٣ (٣٦٢٨)، سنن ابن ماجه/الوصايا ٥ (٢٧٠٨)، (تحفة الأشراف: ٣٨٩٠)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الوصايا ٣ (٤)، مسند احمد (١٦٧/١، ١٧٢، ١٧٦، ١٧٩)، دي/الوصايا ٧ (٣٢٣٨) (صحيح)

عامر بن سعد نه دخپل پلار سعد بن أبی وقاص رضي الله عنه نه روایت کوی فرمائی چه هغه یوخل ډیرسخت بیمار وو او نبی علیه السلام ئې دعیادت دپاره راغې عرض ئې اوکړوچه اې دالله رسوله زه یودولت مندسړې یم اود یوې لورنه علاوه بل وارث مې نشته ایازه دخپل مال په درې حصوکښې دوه حصې صدقه کړم؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل نه بیا ئې عرض اوکړو ایانیم صدقه کړم؟ نبی علیه السلام اه فر مائیل نه، په دریم خل ئې عرض اوکړو چه دریمه حصه صدقه کړم؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل چه دریمه حصه صدقه کړه او په صدقه ورکولوکښې دمال دریمه حصه کافی ده، که چرې ته خپل وارثان دولت مند پریږدې داددې نه غوره دې چه ته ئې فقیران پریږدې اوبیادخلقونه سوالونه کوې، اوهرهغه شې چه ته دالله درضادپاره خرچ کوې تاته خامخا دهغې اجرملاویږي تردې پورې چه ته دخپلې ښځې په خوله کښې نوړئ ورکوې نوددی به هم درته اجرملاویږي سعد رضي الله عنه عرض اوکړو چه زه به دهجرت نه روسته پاتې شم نبی علیه السلام اوفرمائیل که چرې دهجرت نه روسته پاتې شې (نوښه خبره ده) الله درضا دپاره نیک عمل به وکړې اوستا مرتبه به نوره هم لوړه شي اوکیدې شی چه ژوندی پاتې شې تردې پورې ستاپه وجه به خلقو ته فائده ورسیږي اوځه نورخلق به ستاپه وجه باندې نقصانې شي ددې نه پس نبی علیه السلام دا دعاوغوښتله اې الله زمادملګرو هجرت مکمل کړې اودوی ددې هجرت نه واپس نکړې، لیکن بې وسه او مجبوره سعد بن خوله دې اورسول الله وباندې ماتم کوې، ځکه چه هغه په مکه کښې وفات شوې وو.

﴿ عن عامر بن سعد عن ابيه رضي الله عنه قال مرض مرضا اشفى فيه الخ ﴾

شرح الحديث:

عامر د خپل پلار سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه په باره کښې فرمائی چه یو خل هغه سخت بیمار شو داسې چه مرګ ته نزدې شو، رسول الله صلى الله عليه وسلم هغوی ته د بیمار پرسئ نه پس تشریف راوړو نو زما پلار عرض اوکړو یا رسول الله صلى الله عليه وسلم! ما سره مال ډیر زیات دې او زما د دې مال وارث هیڅ څوک نشته سوا زما د لور نه، نو آیا زه په دې صورت کښې د خپل مال دوه ثلثه صدقه کولې شم؟ هغوی اوفرمائیل نه! بیا هغوی د نیم په باره کښې تپوس اوکړو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې نه منع اوفرمائیله، او بیا ئې د یو ثلث په باره کښې اجازت اوفرمائیلو. او وې فرمائیل چه ته خپل وارثان مالدار پریږدې دا ډیره غوره ده د دې نه چه ته هغوی غریبانان پریږدې چه (بیا) خلقو ته د سوال دپاره لاسونه نیسی، په دې حدیث کښې دی چه زما هیڅوک وارث نشته سوا د یوې لور نه، شراح فرمائی چه مراد دا دې چه د لور نه علاوه په ذوی الفروضو کښې زما هیڅوک وارث نشته، او مطلق نفی مراد نه ده ځکه چه د ذوی الفروض نه علاوه نور ورثاء عصبه د هغوی سره وو لکه چه خپله په دې حدیث کښې دی ﴿ان تترک ورثتک اغنياء.... قلت يا رسول الله! اتخلف عن هجرتی قال انک ان تخلف بعدی فتعمل عملا تريد به وجه الله الخ ﴾

د وصیت د مسئلې نه پس هغوی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته عرض اوکړو چه زه د خپل هجرت نه روستو پاتې کولې شمن، د دې مطلب دا دې چه چونکه دې په مهاجرینو کښې دې او په

مکه مکرمه کښې سخت بیمار شوې وو د حجة الوداع (۱) په موقع باندې هغوی ته د خپل مرګ خطره پیدا شوه په مکه مکرمه کښې یعنی غیر مهاجر کښې (۲) او د خپل هجرت د باطل کیدو ویره ورسره پیدا شوه په دې باندې رسول الله ﷺ هغوی ته تسلی ورکړه هغه دا چه انشاء الله داسې به نه کیږی بلکه ته به زما نه روستو ډیره موده ژوندې ئې او د اعمالو په ذریعه به ستا درجات اوچت شی، او بعض اقوام یعنی مسلمین به ستا نه فائده اخلی، او بعض نور یعنی مشرکان به ستا نه ضرر بیا مومی، او رسول الله ﷺ دا دعا هم اوفرمائیله ﴿ اللهم امض لاصحابی هجرتهم ولا تردهم علی اعقابهم ﴾ شراح لیکلی دی چه د رسول الله ﷺ دا پیشنګوئی الله پاک پوره اوفرمائیله، او دا صحابی د دې مرض نه روغ شو او تر ډیرې مودې ژوندې پاتې شو الله پاک د هغوی په لاسونو باندې عراق وغیره فتح کړو او د عراق ګورنر جوړ شو او د رسول الله ﷺ نه پس تقریبا څلوېښت کاله ژوندې وو وحتی مات خمسین علی المشهور وقیل غیر ذلک.

تنبیه: د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه دا واقعه کومه چه مونږ مخکښې لیکلې ده د حجة الوداع ده لکه چه د صحیحینو په بعض روایتونو کښې د دې تصریح ده او د ترمذی په روایت کښې دې ته د عام الفتح واقعه وئیلې شوې ده، زمونږ د عربۍ په حاشیه کښې دا تیر شوې دی چه د حدیث حفاظو دې ته وهم وئیلې دې او د حافظ رائې د جمع بین الروایتین ده یعنی د تعدد واقعه، خو امام طحاوی رحمه الله د دې دوه روایتونو اختلاف لره په مشکل الاثار کښې باقاعده د دې د پاره مستقل باب تړلو سره بیان کړې دې او بیا ئې د یو روایت مفصله په ذریعه چه ډیر زیات واضح دې د عام الفتح واقعه کیدو ته ترجیح ورکړې ده ګویا د هغوی تحقیق د اکثر محدثینو د رائې خلاف دې روستو حافظ هم د دې روایت مفصله د وجې نه خپله رائې بدله کړې ده خو هغوی په ځائې د ترجیح ورکولو تعدد د واقعې لره اختیار کړې دې نو اوس ګویا په دې کښې درې رائې شوې د اکثر محدثینو کوم چه حافظ رحمه الله په اتفاق حفاظ سره تعبیر فرمائی، او دویم د امام طحاوی او دریم د حافظ ابن حجر، والله تعالی اعلم بالصواب.

﴿ لکن البائس سعد بن خولة یرثی له رسول الله ﷺ ان مات بمکة ﴾

شرح الحدیث:

رسول الله ﷺ فرمائی چه د افسوس لائق حال خو د سعد بن خوله دې یا قابل رحم خو سعد بن خولة دې. وړاندې رواى د دې وضاحت کولو سره وائی چه رسول الله ﷺ رحم کوی په سعد بن خولة باندې دې ځکه چه د هغه مرګ په مکه مکرمه کښې شوې وو. د سعد بن خوله رضی الله عنه په باره کښې اختلاف دې د بعضو رائې دا ده چه هغوی د مکې مکرمې نه هجرت

---

(۱) او د ترمذی په روایت کښې عام الفتح دې کوم چه د ابن عیینه راوی وهم دې قال الحافظ واتفقوا علی انه وهم فیه ابن عیینة من اصحاب الزهری ثم قال ویمکن الجمع بین الروایتین بان یکون ذلک وقع له مرتین مرة عام الفتح ومرة عام حجة الوداع ففی الاولی لم یکن له وارث من الاولاد اصلا وفی الثانیة کانت ابنته فقط د دې په باره کښې نور وضاحت په شرح کښې را روان دې)

(۲) مهاجر هغه ځائې او مقام چرته چه انسان هجرت کولو سره لاړ شی لکه چه د مهاجرین مکه مهاجر مدینه طیبه وه)

هم نه وو کړې تر دې چه هغوی هم هلته وفات شو، او د اکثرو رائې دا ده چه هغوی هجرت خو کړې وو خو وفات د هغوی د حجة الوداع په موقع په مکه مکرمه کښې اوشو. يعني بغير د مهاجَر نه بل ځائې کښې ﴿ بائس من اصابه بؤس ای ضرر ﴾ يعني نقصان اوچتونکې، شراح ليکلی دی چه په دې کښې صلاحيت د مذمت هم دې او د ترحم هم، لهذا ړومبې صورت په عدم الهجرة کښې د رسول اللهﷺ دا فرمان په طريقه د مذمت دې، او په دويم صورت کښې په طريقه د ترحم، دا يرثی د ورث نه ماخوذ دې
چه د هغې استعمال په ميت کښې کيږی، يعني د مړی د محاسنو ذکر. (تحفة)
د علماء کرامو په دې کښې اختلاف دې که د مهاجر مرګ په مکه کښې واقع شی نو بعض وائی چه که داسې د هغه په اختيار باندې شوې وی نو د هغه د هجرت اجر حبط کيږی ګينې نه﴿وقيل يحبط مطلقا﴾ دوصيت متعلق بعض ضروری مسائل مونږپه حاشيه کښې ليکلی دی هغه دې اوکتلې شی[۱] والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه،قاله المنذری.

---

[۱] **د وصيت متعلق بعض ضروری مسائل او د ائمة اختلاف** : د حديث الباب نه معلوميږی چه د انسان دپاره زيات نه زيات د يو ثلث د غير وارث دپاره جائز دی، د امام بخاری ترجمة ده ﴿باب الوصية بالثلث﴾ په دې باندې حافظ ليکلی دی په دې باندې د علماء کرامو اجماع ده چه د ثلث نه په زيات باندې وصيت ممنوع دې (بيا مړې د دوه حالو نه خالی نه دې يا به د هغه وارثان وی يا به نه وی، په شق ثانی کښې خو هيڅ اختلاف نشته چه د داسې انسان دپاره د ثلث نه زيات وصيت جائز نه دې) او که شق اول دې يعنی د مړی ورثاء دی نو هغه وخت هم د ثلث نه زيات کښې وصيت لره جمهور علماء کرام ناجائز وائی خو احناف او اسحاق او احمد ﷫ په يو روايت کښې دې ته جائز ونيلې دې آهـ يعنی په دې شرط چه د وارثانو د طرف نه د دې خبرې اجازت وی پس په هداية کښې دی: ثم تصح للاجنبي في الثلث من غير اجازة الورثة ولا تجوز بما زاد علي الثلث الا ان تجيزها الورثة بعد موته وهم كبار لان الامتناع لحقهم وهم اسقطوه، ولا معتبر باجازتهم في حال حياته آهـ او په دې باندې هم ځان پوهول پکار دی د وصيت للوارث مسئله هم مختلف فيه ده د ظواهرو په نزد دا حکم مطلقا دې لحديث لاوصية لوارث اخرجه ابوداؤد والترمذي وغيرهما او د جمهورو په نزد وصية لبعض الورثة جواز موقوف دې د باقی وارثانو په اجازت باندې که باقی وارثان د موصِي د مرګ نه روستو هغه ته اجازت ورکړی نو بيا وصية معتبر او جائز دې لرواية الدارقطني لاوصية لوارث الا ان يشآء الورثة، قال الحافظ ورجاله ثقات الا انه معلول (تراجم بخاري) او په عينی کښې دی قال المنذري انما يبطل الوصية للوارث في قول اكثر اهل العلم من اجل حقوق سائر الورثة فاذا اجازوها جازت كما اذا اجازوا الزيادة علي الثلث، وذهب بعضهم الي انها لا تجوز وان اجازوها، لان المنع لحق الشرع وهذا قول اهل الظاهر (عمدة القاري ۲۷۱/۱۱) وفي الهداية : ولا تجوز لوارثه الا ان يجيزها الورثة لان الامتناع لحقهم فتجوزها باجازتهم ولو اجاز بعض ورد بعض تجوز علي المجيز بقدر حصته لولايته عليه (آهـ ملخصا ملتقطا) او په دې باندې هم ځان پوهول پکار دی چه که يو انسان په مرض الوفات کښې خپل يو وارث ته يو څيز فی الحال هبه کړی نو هغه د وصيت په حکم کښې دې وفي الهداية والهبة من المريض (مرض الموت) للوارث في هذا نظير الوصية لانها وصية حكمًا. او په حديث کښې دی ﴿ والثلث كثير ﴾ هم د دې وجې نه علماءکرامو فرمانيلې دی چه وصيت که د ثلث نه کم وی نو دا غوره ده ففي الهداية ويستحب ان يوصي الانسان بدون الثلث سوآء كانت الورثة اغنيآء او فقراء لان في التنقيص صلة القريب بترك ماله عليهم بخلاف استكمال الثلث لانه استيفاء تمام حقه فلا صلة ولا منة، بيا دا چه د مادون الثلث وصيت کول اولی دی يا که د هغې ترک اولې دې؟ په دې کښې دوه قوله دی يو دا چه که وارثان فقراء وی په دې صورت کښې د وصيت ترک اولی دې او که هغوی اغنياء وی نو وصيت کول اولی دی، او دويم قول دا دی چه موصی ته اختيار دې چه کوم شق غواړی اختيار دې کړی ځکه چه په هر شق کښې من وجه فضيلت دې آهـ مختصرا من الهداية)

بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الإِضْرَارِ فِي الْوَصِيَّةِ

په وصیت سره نورو خلقو ته د نقصان ورکولو د کراهت بیان

د اضرار نه مراد وارثان دی، یعنی خلاف قاعده وصیت کولو سره وارثانو ته ضرر او تکلیف ورکول.

[۲۸۶۵] (۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا عُمَارَةُ بْنُ الْقَعْقَاعِ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: "أَنْ تَصَدَّقَ وَأَنْتَ صَحِيحٌ حَرِيصٌ تَأْمُلُ الْبَقَاءَ وَتَخْشَى الْفَقْرَ وَلَا تُمْهِلَ حَتَّى إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ"، قُلْتَ لِفُلَانٍ كَذَا وَلِفُلَانٍ كَذَا وَقَدْ كَانَ لِفُلَانٍ.

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې - فرمائی چه یو سړی دنبی علیه السلام په خدمت کښې عرض اوکړو اې دالله رسوله کومه صدقه غوره وي؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل کومه صدقه چه ته دروغ والی په حالت کښې اوکړې او په دغه وخت کښې ستادژوند نه امید وي اودغریب کیدلودرسره اندیخنه وي داسې نه چه ته منتظر ئې دداسې وخت چه کله روح ستامرئ ته راشي اوبیا ووائې چه فلانې ته دومره ورکړئ اوفلانې ته دومره ورکړئ ځکه چه دغه مال په دغه وخت کښې ئې ددې نه هم، دبل چاحق جوړ شوې دې.

﴿ يا رسول الله! اى الصدقة افضل؟ قال ان تصدق وانت صحيح الخ ﴾

د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړې شو د افضل الصدقة په باره کښې نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه د ټول نه غوره صدقه هغه ده کومه چه په دې حال کښې اوکړې شی چه انسان صحت مند وی، او هغه کښې د مال حرص او مینه هم وی د صحت او طاقت د وجې نه کافی موده پورې ئې د خپل ژوندی پاتې کیدو توقع وی، او د فقر نه ویریږی نو کومه صدقه چه په داسې حال کښې اوکړې شی هغه به د ټولو نه افضل وی (۲) لهذا هم په دې حالت کښې انسان لره صدقه کول پکار دی، او بیا وړاندې د دې د ضد نه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائی چه تاخیر مه کوه او مهلت مه ورکوه خپل نفس لره د صدقه کولو نه تر دې چه روح حلق ته راورسی نو ته وائې (د وصیت په طور) چه فلانی ته دې دومره ورکړې شی او فلانی ته دې دومره ورکړې شی حال دا چه هغه د بل فلانی شوې دې یعنی وارث.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم قاله المنذری

[۲۸۶۶] (۳) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، أَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ شُرَحْبِيلَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَأَنْ يَتَصَدَّقَ الْمَرْءُ فِي حَيَاتِهِ بِدِرْهَمٍ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِمِائَةِ دِرْهَمٍ عِنْدَ مَوْتِهِ".

---

[۱]: صحيح البخاري/الزكاة ١١ (١٤١٩)، والوصايا ٧ (٢٧٤٨)، صحيح مسلم/الزكاة ٣١ (١٠٣٢)، سنن النسائي/الزكاة ٦٠ (٢٥٤٣)، الوصايا ١ (٣٦٤١)، (تحفة الأشراف: ١٤٩٠٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٣١، ٢٥٠، ٤١٥، ٤٤٧) (صحيح)

[۲]، ځکه چه د دې حالاتو تقاضه دا ده چه صدقه اونکړې شی خو هغه انسان د خپل نفس د مخالفت کولو سره صدقه کوی.

[۳]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٠٧١) (ضعيف)

دابوسعيد خدری رضی الله عنه نه روايت دي چه نبی علیه السلام فرمائيلی دی که چرې څوك په خپل ژوند كښې يو درهم صدقه كړي نو هغه ددې نه بهتر دي چه دژوند نه پس سل درهمه صدقه كړي.

[۲۸۶۷](١) حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ، حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْحُدَّانِيُّ، حَدَّثَنَا الْأَشْعَثُ بْنُ جَابِرٍ، حَدَّثَنِي شَهْرُ بْنُ حَوْشَبٍ، أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ حَدَّثَهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ وَالْمَرْأَةُ بِطَاعَةِ اللَّهِ سِتِّينَ سَنَةً، ثُمَّ يَحْضُرُهُمَا الْمَوْتُ فَيُضَارَّانِ فِي الْوَصِيَّةِ فَتَجِبُ لَهُمَا النَّارُ"، قَالَ: وَقَرَأَ عَلَيَّ أَبُو هُرَيْرَةَ مِنْ هَا هُنَا مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَا أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَارٍّ حَتَّى بَلَغَ ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا يَعْنِي الْأَشْعَثَ بْنَ جَابِرٍ، جَدُّ نَصْرِ بْنِ عَلِيٍّ.

دابوهريره و نه روايت دي چه نبی علیه السلام فرمائيلی دی چه يوانسان سړې وي اوكه ښځه دشپيته كالو پورې دالله عبادت اوكړي او بيا دهغه دمرګ وخت راشي او ددې نه پس داسې وصيت اوكړي چه خلقو ته نقصان رسيږي دهغی په وجه نودداسې كس دپاره دوزخ واجب دې شهر بن اوشب وائی ابوهريره رضی الله عنه زماپه وړاندې دا ايت كريمه : تلاوت كړو «من بعد وصية يوصى بها أو دين غير مضار»ابوداود وائی يعني اشعث بن جابر دنضر بن علي نيكه.

﴿ ان الرجل ليعمل والمراة بطاعة الله ستين سنة ثم يحضرهما الموت فيضاران فی الوصية فتجب لهما النار ﴾ : رسول الله ﷺ فرمائی: بيشكه بعض سړی او بعض ښځې داسې دی چه تر شپيتو كالو پورې د الله پاك په اطاعت او بندګئ ژوند تيروی، بيا چه كله د مرګ وخت راشی نو د وصيت په باره كښې وارثانو ته نقصان رسوی او د جهنم مستحق شی.

مصنف په دې باب كښې بعض احاديث د تصدق ذكر كړې دی څكه چه تصدق د مرګ په وخت د وصيت په حكم كښې وی او څنګه وصيت د ثلث نه د زيات دپاره جائز نه دې هم دغه شان تصدق هم جائز نه دې او كه تصدق وارثانو ته د نقصان رسولو دپاره وی نو مطلقا جائز نه دې كه هغه ثلث وی او كه د ثلث نه كم وی. (بذل)

والحديث اخرجه الترمذی وابن ماجة قاله المنذری.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الدُّخُولِ فِي الْوَصَايَا

د وصی جوړيدو او ذمه داری قبلولو بيان

يعنی د چا وصی جوړيدو سره د وصيتونو په مسائلو كښې داخليدل او په ذمه داريانو كښې پريوتل.

[۲۸۶۸](٢) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمُقْرِئُ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي سَالِمٍ الْجَيْشَانِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أَبَا ذَرٍّ إِنِّي أَرَاكَ ضَعِيفًا وَإِنِّي أُحِبُّ لَكَ مَا أُحِبُّ لِنَفْسِي، فَلَا تَأَمَّرَنَّ عَلَى اثْنَيْنِ وَلَا تَوَلَّيَنَّ مَالَ يَتِيمٍ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: تَفَرَّدَ بِهِ أَهْلُ مِصْرَ.

[1]: سنن الترمذي/الوصايا ٢ (٢١١٧)، سنن ابن ماجه/الوصايا ٣ (٢٧٠٤)، (تحفة الأشراف:١٣٤٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٧٨) (ضعيف)

[2]: صحيح مسلم/الإمارة ٤ (١٨٢٥)، سنن النسائي/الوصايا ٩ (٣٦٩٧)، (تحفة الأشراف:١١٩١٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/١٨٠) (صحيح)

دابوذر نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ راته اوفرمائیل ای ابوذره کمزورې راته ښکارې اوزه ستا دپاره خوښه وم هغه څه کوم چه دځان دپاره خوښوم یوداچه په دوه کسانوباندې مشر کیږه مه اودیتیم دمال ذمه وارمه جوړیږه. ابوداود وائی صرف مصریانو دا روایت نقل کړې دې.

شرح الحديث:

قوله: ﴿ يا اباذر انى اراك ضعيفا وانى احب لک ما احب لنفسى فلا تامرن على اثنين ولا تولين مال يتيم ﴾ ابوذرغفاری رضی الله عنه فرمائی چه یو ځل رسول الله ﷺ ماته دا نصیحت اوفرمائیلو چه اې ابوذر! زه تا کمزورې وینم یعنی د امارت مصالح او د هغې د ذمه داریانو په پوره کولو کښې، لهذا چرته په دوه کسانو باندې هم امیر جوړ نه شې. (پاتې له په ډیرو باندې) او چرته هم د یو یتیم د مال متولی جوړ نه شې.

په دې باندې یو اشکال راځی چه تاسو خو اوفرمائیل چه ﴿ ما احب لک ما احب لنفسى ﴾ حال دا چه رسول الله ﷺ خو امیر الامراء او ولى الاولياء وو، د دې ظاهر جواب دا دې چه د رسول الله ﷺ ابوذر رضی الله عنه لره د امارت او تولية د قبول والی نه منع فرمائیل یو علت سره معلل دې یعنی د هغه ضعف او هغه علت په هغوی کښې مفقود دې، او بیا د رسول الله ﷺ امارت او تولية وغیره د هغوی خپله اختیار کړې شوې لږ دې هغه خو د الله پاک د طرف نه ورکړه ده.

والحديث اخرجه مسلم والنسائى، قاله المنذرى

بَابُ مَا جَاءَ فِي نَسْخِ الْوَصِيَّةِ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ

د مور او پلار او د نورو خپلوانو دپاره دوصيت دمنسوخ کيدو بيان

[۲۸۶۹][1] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ سورة البقرة آية ۱۸۰ فَكَانَتِ الْوَصِيَّةُ كَذَلِكَ حَتَّى نَسَخَتْهَا آيَةُ الْمِيرَاثِ.

دابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه ددې ایت کریمه: «إن ترك خيرا الوصية للوالدين والأقربين» حکم په ابتداء اسلام کښې وو چه دمور اوپلار اودنورو وارثانودپاره به وصیت کیدې شی ددې نه پس دا ایت دمیراث په ایت سره منسوخ شو.

د آیت په شروع کښې د میراث د نزول نه مخکښې د وصیت للوالدین والاقربین حکم وو قيل وجوبا وقيل استحبابا.... قال الله تعالى ﴿ ياايها الذين امنوا اذا جاء احدكم الموت ان ترک خيرا الوصية للوالدين والاقربين بالمعروف الاية ﴾ بیا د ایت میراث د نزول سره دا حکم منسوخ شو. هم دا مضمون د ابن عباس رضی الله عنهما مذکوره فى الباب کښې دې.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۶۲۶۰)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الوصايا ۲۸ (۳۳۰۶) (حسن صحيح)

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْوَصِيَّةِ لِلْوَارِثِ

دوارث دپاره دوصیت کولو بیان

[٢٨٧٠](¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ شُرَحْبِيلَ بْنِ مُسْلِمٍ، سَمِعْتُ أَبَا أُمَامَةَ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَعْطَى كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ فَلَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ".

دابوامامه رضي الله عنه نه روایت دي فرمائي چه دنبي عليه السلام نه مي اوریدلی دی چه فرمائیل ئي دالله تعالى هريوحقدارته دهغه حق ورکړې دي اودوارث دپاره وصيت نشته

﴿ سمعت ابا امامة رضى الله تعالى عنه يقول سمعت رسول الله ﷺ يقول الخ ﴾

د وصيت متعلق بعض ضروری مسائل سره د اختلاف ائمة د وړاندي باب نه مخکښي باب کښي تير شوي دی چه په هغي کښي مسئلة الباب هم ده.

والحديث اخرجه الترمذى وابن ماجة قاله المنذرى

بَابُ مُخَالَطَةِ الْيَتِيمِ فِي الطَّعَامِ

دیتیم د خوراک سره د خپل خوراک دشریکولو بیان

[٢٨٧١](²) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: لَمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ سورة الأنعام آية ١٥٢ وَإِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا سورة النساء آية ١٠ الْآيَةَ، انْطَلَقَ مَنْ كَانَ عِنْدَهُ يَتِيمٌ فَعَزَلَ طَعَامَهُ مِنْ طَعَامِهِ وَشَرَابَهُ مِنْ شَرَابِهِ، فَجَعَلَ يَفْضُلُ مِنْ طَعَامِهِ فَيُحْبَسُ لَهُ حَتَّى يَأْكُلَهُ أَوْ يَفْسُدَ فَاشْتَدَّ ذَلِكَ عَلَيْهِمْ فَذَكَرُوا ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْيَتَامَى قُلْ إِصْلَاحٌ لَهُمْ خَيْرٌ وَإِنْ تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ سورة البقرة آية ٢٢٠ فَخَلَطُوا طَعَامَهُمْ بِطَعَامِهِ وَشَرَابَهُمْ بِشَرَابِهِ.

دابن عباس رضي الله عنه نه روایت دي فرمائي چه کله الله تعالى دا ایت: «ولا تقربوا مال اليتيم إلا بالتي هي أحسن» نازل کړو اودویم داایت چه څوك دیتیمانو مال په ظلم سره خوري نو پخپلو خیټو کښي اور اچوي اونزدي ده چه داخلق دوزخ ته لاړ شي، نودکوموخلقوسره چه یتیمانان اوسیدل هغوی ددوی خوراك دخپل خوراك نه جداکړو نوچه کله به دیتیم مال دخوړلونه پاتي شو نوهغه به ساتلي شو تردي پوري چه پخپله به ئي اوخوړو یا دا چه بوئی به ئي اوکړو دا کار خلقوته ګران شو هغوی دنبي عليه السلام په خدمت کښي حاضرشول اوعرض ئي اوکړو: «ويسألونك عن اليتامى قل إصلاح لهم خير وإن تخالطوهم فإخوانكم» نازل شو ،ددي نه پس خلقوددوی سره شریك خوراك څښاك شروع کړو.

﴿ عن ابن عباس رضى الله تعالى عنهما قال لما انزل الله عزوجل.... ولا تقربوا مال اليتيم الا بالتى هى احسن وان الذين ياكلون اموال اليتامى ظلما الاية الخ ﴾

د حديث مضمون واضح دي چه په شروع کښي داسي وه چه د کومو خلقو په ذمه

---

¹): سنن الترمذي/الوصايا ٥ (٢١٢٠)، سنن ابن ماجه/الوصايا ٦ (٢٧١٣)، (تحفة الأشراف:٤٨٨٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٦٧/٥)، ويأتي هذا الحديث برقم : ٣٥٦٥ (حسن صحيح)

²): سنن النسائي/الوصايا ١٠ (٣٦٩٩)، (تحفة الأشراف:٥٥٦٩) (حسن)

داریٔ کښې به یتیمانو ماشومانو پرورش موندلو او د هغوی د مالونو متولی وو نو هغوی به د هغه یتیمو ماشومانو خوراک د خپل خوراک سره شرکت کښې تیارولو چه په هغې کښې د یتامی فائده وه نو هر کله چه دا دواړه آیتونه کوم چه په روایت کښې دی نازل شو نو هغه اولیاء احتیاطا داسې اوکړل چه د هغه یتیمانو د خوراک څکاک انتظام ئې مستقل بیل شروع کړو، د خلط بین الطعامین نه د بچ کیدو دپاره، نې چه کله خانله خوراک شروع کړو نو اوس به اکثر په هغه خوراک کښې بچ کیدله نو یا خو به هغه بچ کیدونکې خوراک هغه یتیمانو خوړلو او یا به خرابیدو، دا صورت حال په هغوی باندې گران شو او رسول اللهﷺ ته ئې د دې ذکر اوکړو په دې باندې دویم آیت کریمه نازل شو کوم چه په حدیث کښې ذکر کړې شوې دې، په دې باندې حسب سابق هغه صحابه کرامو ﷺ د خوراک په باره کښې عمل شروع کړو. (والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری)

بَابُ مَا جَاءَ فِيمَا لِوَلِيِّ الْيَتِيمِ أَنْ يَنَالَ مِنْ مَالِ الْيَتِيمِ

د یتیم د پرورش کونکی دپاره د یتیم د مال نه څومره خوړل جائز دی؟

ولی الیتیم یعنی وصی او متولی، حاصل ترجمه ئې دا ده چه آیا د یتیم متولی د مال یتیم د نګرانیٔ او د خدمت اجرت او وظیفه اخستلې شی که نه؟

[۲۸۷۲] (۱) حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، أَنَّ خَالِدَ بْنَ الْحَارِثِ حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ يَعْنِي الْمُعَلِّمَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَجُلاً أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنِّي فَقِيرٌ لَيْسَ لِي شَيْءٌ وَلِي يَتِيمٌ، قَالَ: فَقَالَ: "كُلْ مِنْ مَالِ يَتِيمِكَ غَيْرَ مُسْرِفٍ وَلَا مُبَادِرٍ وَلَا مُتَأَثِّلٍ".

عمرو بن شعیب دخپل پلارنه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی چه یوسړې نبی ﷺ ته راغې اوعرض ئې اوکړو چه زه فقیریم زماسره هیڅ نشته لیکن زماسره یویتیم دې راوي وائی نبی ﷺ اوفرمائیل ددې یتیم دمال نه خوره خوفضول خرچې مه کوه اودضرورت مطابق اوبغیرددې ویرې نه چه دې به لوی شي او بغیرددې ارادې نه چه مال دهغه نه وترورلې شي.

﴿ قال : فكل من مال يتيمك غير مسرف ولا مبادر ولا متاثل ﴾

شرح الحدیث:

په ترجمة الباب والا مسئله کښې رسول اللهﷺ یو سړی اوفرمائیل چه او په دې صورت کښې د یتیم د مال نه حق الخدمت اخستلې شی په دې حال کښې چه اسراف کونکې نه وی او نه تیزی کونکې وی او نه سرمایه جمع کونکې وی.

دا اشاره ده د دې آیت کریمه د مضمون طرف ته، ﴿ ولا تاكلوها اسرافا وبدارا ان يكبروا ﴾ د "بدارا" مطلب چه د هغې نه منع کولې شی دا دې چه هغه د یتیم متولی زر زر د یتیم مال خرچ کړی د یتیم د بالغ کیدو نه مخکښې، خکه چه د هغه د بالغ کیدو نه پس خو تولیة ختمیږی، "متاثل" ای غیر متخذ منه اصل مال، دا د اثله نه دې، اثلة الشئ اصله یعنی داسې نه دی کیدل پکار چه د یتیم مال لره د خپل ځان دپاره ذخیره او راس المال جوړ کړې شی،

(۱): سنن النسائي/الوصايا ۱۰ (۳۶۹۸)، سنن ابن ماجه/الوصايا ۹ (۲۷۱۸)، (تحفة الأشراف: ۸۶۸۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۱۸۶، ۲۱۶) (حسن صحيح)

چه صرف حق الخدمت واخستلې شي او په شرح کښې د دې تفسير داسې کړې شوې دې چه هغه متولی د يتيم په مال کښې تجارت اوکړی او د هغه د راس المال نه ئې اوګټې او د يتيم د بالغ کيدو نه پس ربح خپله ساتلو سره صرف راس المال ورکړی. (والحديث اخرجه النسائی وابن ماجة، قاله المنذری)

بَابُ مَا جَاءَ مَتَى يَنْقَطِعُ الْيُتْمُ

د يتيم توب د عمر د حد بيان

[۲۸۷۳](¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَدِينِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ خَالِدِ بْنِ سَعِيدِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ رُقَيْشٍ، أَنَّهُ سَمِعَ شُيُوخًا مِنْ بَنِي عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ، وَمِنْ خَالِهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَحْمَدَ، قَالَ: قَالَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ: حَفِظْتُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُتْمَ بَعْدَ احْتِلَامٍ وَلَا صُمَاتَ يَوْمٍ إِلَى اللَّيْلِ.

علي رضی الله عنه د نبی عليه السلام نه روايت کوی چه د نبی عليه السلام نه مې ياد کړې ووچه فرمائيلي ئې وو نشته يتيم توب پس د احتلام نه اونه خاموشی شته پوره ورځ ترشپې پورې.

﴿ لا يتم بعد احتلام، ولا صمات يوم الى الليل ﴾

علی رضی الله عنه فرمائی چه ماته د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حديث ښه ياد دې چه د هغې ترجمه دا ده چه د احتلام نه پس يتيم، يتيم نه پاتې کيږی بلکه په هغه باندې د بالغين احکام جاری کيږی، او ګويا د ولی توليت د هغه نه لرې شی، هغه خپله د ځان او د خپل مال ذمه دار وی. او دويم خبره کومه چه ماته د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه محفوظ ده؟ دا ده چه د سحر نه مابنام پورې خاموش پاتې کيدل يعنی صوم سکوت دا په سلام کښې نشته ﴿ لانه من عبادة الجاهلية ﴾ بلکه د اسلام تعليم خو دا دې چه ذکر الله او کلمة الخير په ژبې سره اوئيلې شی.

بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّشْدِيدِ فِي أَكْلِ مَالِ الْيَتِيمِ

د يتيم د مال په خوړلو باندې د وعيد بيان

په حديث الباب کښې ناحق د يتيم مال خوراک لره په اووۀ کبائر چه هلاکونکی دی شمار کړې شوې دی.

[۲۸۷٤](²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بِلَالٍ، عَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَبِي الْغَيْثِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ، قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا هُنَّ؟ قَالَ: الشِّرْكُ بِاللَّهِ، وَالسِّحْرُ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ، وَأَكْلُ الرِّبَا، وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيمِ، وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ، وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: أَبُو الْغَيْثِ سَالِمٌ مَوْلَى ابْنِ مُطِيعٍ.

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی ځان بچ وساتئ دا ووه هلاکونکو ګناهونو نه عرض اوکړې شو چه هغه کوم ګناهونه دی وئې فرمائيل شريک

---

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠١٦٠) (صحيح)

²): صحيح البخاري/الوصايا ٢٣ (٢٧٦٦)، والطب ٤٨ (٥٧٦٤)، والحدود ٤٤ (٦٨٥٧)، صحيح مسلم/الإيمان ٣٨ (٨٩)، سنن النسائي/الوصايا ١١ (٣٧٠١)، (تحفة الأشراف: ١٢٩١٥) (صحيح)

جوړول دالله تعالی سره، اوسحرکول، اووژل دهغه نفس دي کوم چه الله تعالی حرام کړي دي مګر په حق، اوخوړل دسود دي، اوخوړل دمال دیتیم، او په جهاد کښې د کافرو د مقابلې نه تښتیدل او تهمت وئیل په پاکو او نیکو ښځو باندې چه ناخبره وي او مومناني وي.

شرح الحدیث:

﴿ اجتنبوا السبع الموبقات الخ ﴾ تولی یوم الزحف، د زحف نه مراد قتال او جنګ، یعنی د جنګ نه تیخته کول. ﴿ وقذف المحصنات الغافلات ﴾ یعنی په پاکدامنو او ناخبره (ساده) زنانو باندې د زنا تهمت لګول، او په روستو روایت کښې داسې دی یا رسول الله ﷺ ما الکبائر؟ قال هن تسع فذکر معناه ﴿ وعقوق الوالدین المسلمین، واستحلال البیت الحرام قبلتکم احیاء وامواتا ﴾ په دې حدیث کښې د کبائرو تعداد رسول الله ﷺ نهه خودلې دي، د تیرو اووه نه علاوه د دوه نورو اضافه ده، عقوق الوالدین، او د کعبة الله استحلال یعنی د حرمت سپکاوې، کوم څیزونه چه په هغې کښې حرام کړې شوي دی د هغې نه نه بندیدل، وړاندې په روایت کښې دی چه هغه کعبه کومه چه ستاسو قبله ده د ژوندو دپاره هم او د مړو دپاره هم، پس په ژوند کښې انسان هغې طرف ته مخ کولو سره مونځ کوی، او د مرګ نه پس د مړی مخ لره هغې طرف ته متوجه کوی.

په ګناهونو کښې د صغائرو او کبائرو بحث:

په دې حدیث کښې یو خو دا خبره معلومه شوه د ګناهونو تقسیم، یعنی بعض ګناهونه د شارع په نزد صغیره دی او بعض کبیره دی، دویم څیز د هغې تعداد، د جمهورو علماء کرامو رائې خو دا ده چه ګناه په دوه قسمه ده صغائر او کبائر، او بعض علماء کرام د دې تقسیم قائل نه دی، هغوی وائی چه د الله رب العالمین احکم الحاکمین هره یوه نافرمانی کبیره ګناه ده، خو د قرآن کریم او احادیثو د ظاهر نه د جمهورو د مسلک تائید کیږی، او په حد د کبیره یعنی د دې په تعریف کښې د علماء کرامو اقوال مختلف دی، فقیل الکبیرة هی الموجبة للحد، وقیل ما یلحق الوعید بصاحبه بنص الکتاب او سنة، یعنی د کومې ګناه په باره کښې چه په قرآن او حدیث کښې څه وعید راغلې وی، وقیل کل ذنب ادخل صاحبه النار وغیر ذلک الی آخر ما فی البذل.

دویم څیز په حدیث کښې تعداد د کبائرو دې، په ړومبی حدیث کښې اووه او په دویم حدیث کښې نهه بیان کړې شوې دې د دې نه علاوه هم په احادیثو کښې نور کبائر ذکر کړې شوې دی پس ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی ﴿ کل ما نهی الله تعالی عنه فهو کبیرة ﴾ او د هغوی نه تپوس اوکړې شو وو چه آیا کبائر نهه دی نو هغوی اوفرمائیل هی الی سبعین یعنی د هغې تعداد اویا ته رسیږی او په یو روایت کښې د هغوی نه د اووه سوه لفظ دې.

علماء کرامو د کبائرو په نوم باندې مستقل تصنیفات هم کړې دی لکه الکبائر د امام ذهبی رحمه الله، الصغائر والکبائر لابن نجیم، الزواجر لابن حجر الهیثمی، الکبائر لابن عبدالوهاب (حدیث ابوهریره رضی الله تعالی عنه اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وحدیث عمیر رضی الله تعالی عنه اخرجه النسائی قاله المنذری)

[۲۸۷۵]() حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يَعْقُوبَ الْجُوزَجَانِيُّ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هَانِئٍ، حَدَّثَنَا حَرْبُ بْنُ شَدَّادٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ سِنَانٍ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ حَدَّثَهُ وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ، أَنَّ رَجُلًا سَأَلَهُ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا الْكَبَائِرُ؟ فَقَالَ: "هُنَّ تِسْعٌ"، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ زَادَ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ الْمُسْلِمَيْنِ، وَاسْتِحْلَالُ الْبَيْتِ الْحَرَامِ قِبْلَتِكُمْ أَحْيَاءً وَأَمْوَاتًا.

عبيد بن عمير دخپل پلار عميرنه کوم چه صحابي دي روايت کوي يوکس دنبي ﷺ نه پوښتنه اوکړه چه اې دالله رسوله لوئي ګناهونه کوم کوم دي؟ نبي ﷺ اوفرمائيل هغه نهه دي او دتيرشوي حديث په شان روايت ئې بيان کړو مګر ددې اضافي سره چه نافرماني کول د مور او پلار چه مسلمانان وي او دکعبې دعزت خيال نه ساتل کوم چه دعزت والا کور دې او په مرګ او ژوند کښې ستاسو قبله ده.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الدَّلِيلِ عَلَى أَنَّ الْكَفَنَ مِنْ جَمِيعِ الْمَالِ

د کفن کپړه د مړي په مال کښې داخل ده

او په بعض نسخو کښې ﴿من راس المال﴾ يعنې د مړي د کفن تعلق د پوره مال سره دې، که پوره ترکه په دې کښې خرچ شي نو خرچ دې شي، لهذا کفن به مقدم وی په وصيت او ميراث په ټولو باندې، هم په دې سره د دې باب مناسبت هم د کتاب الوصية سره ظاهر شو.

[۲۸۷۶]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ خَبَّابٍ، قَالَ: مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ، وَلَمْ تَكُنْ لَهُ إِلَّا نَمِرَةٌ كُنَّا إِذَا غَطَّيْنَا بِهَا رَأْسَهُ خَرَجَتْ رِجْلَاهُ، وَإِذَا غَطَّيْنَا رِجْلَيْهِ خَرَجَ رَأْسُهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "غَطُّوا بِهَا رَأْسَهُ وَاجْعَلُوا عَلَى رِجْلَيْهِ مِنَ الْإِذْخِرِ".

د خباب نه روايت دې فرمائي چه مصعب بن عميره داحد په ورځ باندې شهيدشوې وو اوديوڅادرنه علاوه ورسره هيڅ نه وو کله چه به مونږ دده سر پټولو نو خپې به ئې ښکاره شوې اوچه خپې به موپټې کړې نوسر به ئې ښکاره شونبي ﷺ چه دا اوليدل نووئې فرمائيل چه سرئې پټ کړئ او په خپوباندې ئې سرکړې واچوئ.

﴿عن خباب رضي الله تعالى عنه قال: مصعب بن عمير قتل يوم احد ولم يكن له الانمرة الخ﴾

د ﴿قال﴾ فاعل ضمير مرفوع دې کوم چه خباب ته راجع دې، او مصعب په ترکيب کښې مبتداء او قتل د دې خبر دې. خباب ﷺ فرمائي چه مصعب بن عمير ﷺ په احد کښې په دې حال کښې شهيد کړې شو چه هغوی سره سوا د يو ورئ د څادر نه علاوه هيڅ هم نه وو، او هغه هم داسې وو چه که مونږ د هغوی سر پټولو نو د هغوی خپې ښکاره کيدې، او که خپې مو ورله پټولې نو سر ئې ښکاره کيدو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه دا د سر طرف ته کړئ، او په خپو ورته د سرګړې پاڼړې واچوې.

(والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي، قاله المنذري)

(): سنن النسائي/المحاربة ۳ (۴۰۱۷) (وعنده: «تسع»)، (تحفة الأشراف: ۱۰۸۹۵) (حسن)

(): صحيح البخاري/الجنائز ۲۷ (۱۲۷۶)، مناقب الأنصار ۴۵ (۳۸۹۷)، المغازي ۱۷ (۴۰۴۵)، ۲۶ (۴۰۸۲)، الرقاق ۷ (۶۴۳۲)، ۱۶ (۶۴۴۸)، صحيح مسلم/الجنائز ۱۳ (۹۴۰)، سنن الترمذي/المناقب ۵۴ (۳۸۵۳)، سنن النسائي/الجنائز ۴۰ (۱۹۰۴)، (تحفة الأشراف: ۳۵۱۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۱۰۹، ۱۱۲، ۶/۳۹۵) (صحيح)

باب مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يَهَبُ ثُمَّ يُوصَى لَهُ بِهَا أَوْ يَرِثُهَا

كه چرې يو څيز هبه كړي اوبيا ورته د ميراث يادوصيت په ذريعه با ندې ملاو شي

[۲۸۷۷] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَطَاءٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ بُرَيْدَةَ، أَنَّ امْرَأَةً أَتَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: "كُنْتُ تَصَدَّقْتُ عَلَى أُمِّي بِوَلِيدَةٍ وَإِنَّهَا مَاتَتْ وَتَرَكَتْ تِلْكَ الْوَلِيدَةَ، قَالَ: قَدْ وَجَبَ أَجْرُكِ وَرَجَعَتْ إِلَيْكِ فِي الْمِيرَاثِ، قَالَتْ: وَإِنَّهَا مَاتَتْ وَعَلَيْهَا صَوْمُ شَهْرٍ أَفَيُجْزِئُ أَوْ يَقْضِي عَنْهَا أَنْ أَصُومَ عَنْهَا قَالَ: نَعَمْ قَالَتْ: وَإِنَّهَا لَمْ تَحُجَّ أَفَيُجْزِئُ أَوْ يَقْضِي عَنْهَا أَنْ أَحُجَّ عَنْهَا قَالَ: نَعَمْ".

دبريده رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه يوه ښځه دنبي عليه السلام په خدمت كښې حاضره شوه اووئې وئيل ماخپلې مور ته يوه وينځه هبه كړې وه اوهغه وفات شوه اودغه وينځه ترې پاتې شوه نبي عليه السلام اوفرمائيل ستادپاره اجرواجب شو او وينځه درته هم واپس شوه په ميراث كښې هغې اووئيل مورچه مې مړه كيده نود يوې مياشتې د روژو قضائې په ذمه باندې وه نوآيازه دهغې دطرف نه قضائي روژې اونيسم نووئې فرمائيل ضرور ئې ونيسه، عرض ئې اوكړو زمامور حج هم نه وو كړې نوآيازه دهغې دطرف نه حج كولې شم؟ نبي عليه السلام اوفرمائيل هو (دهغې دطرف نه حج وكړه).

شرح الحديث:

قوله: ﴿ عن عبدالله بن بريدة عن ابيه رضي الله عنه ان امراة اتت رسول الله صلى الله عليه وسلم وقالت كنت تصدقت على امى بوليدة الخ ﴾: يعنى يو زنانه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې حاضره شوه او هغه عرض اوكړو چه زما د مور انتقال شوې دې او ما هغې ته په ژوند باندې يو وينځه هبه كړې وه او اوس هغې هغه وينځه په ميراث كښې پريخودله، يعنى آيا هغه زه اخستلې شم؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اجازت وركړو او وې فرمائيل ستا اجر په خپل ځائې قائم دې او هغه تا ته په ميراث كښې واپس شوه. د جمهورو مسلک دا دې چه صدقه كړې شوې مال كه د ميراث په طور راشي نو هغې لره اخستل جائز دى، د بعض علماء كرامو په دې كښې اختلاف دې هغوى وائى چه د هغې د اخستلو نه پس صدقه كول ضرورى دى. (بذل)

بيا هم هغهزنانه دا سوال هم اوكړو چه زما د مور په ذمه د يوې مياشتې روژې هم دى نو آيا دا كافى ده چه د هغوى د طرف نه روژه اونيسم؟ هغوى اوفرمائيل: او..... او بيا هم دا سوال د حج په باره كښې وړاندې ذكر دې.

دا مسئله چه په عباداتو كښې نيابت جارى كيدې شى يا نه بالتفصيل كتاب الصوم او حج كښې تيره شوې ده. (والحديث اخرجه مسلم والترمذى والنسائى وابن ماجة قاله المنذرى)

باب مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يُوقِفُ الْوَقْفَ

د كوم څيز د وقف كولو بيان

ذكر د وقف كښې د مصنفينو طرز عمل:

دا باب د وقف سره متعلق دې كوم چه مصنف د كتاب الوصية په ضمن كښې راوړې دې.

---

(۱): انظر حديث رقم: (۱۶۵۶)، (تحفة الأشراف: ۱۹۸۰) (صحيح)

امام بخاری رحمه الله هم داسې کړې دی، او امام ترمذی رحمه الله د وقف باب د ابواب الاحکام په ضمن کښې اخستلې دې، او امام نسائی مستقل کتاب ﴿ کتاب الاحباس ﴾ په عنوان قائمولو باندې د هغې د لاندې ډیر ابواب ذکر کړې دی او د هغې نه روستو ئې متصلا کتاب الوصایا ذکر کړې دې.

د وقف په حقیقت کښې د امام صاحب رحمه الله او د جمهورو اختلاف:

د دې نه پس په دې باندې ځان پوهول پکار دی چه د وقف حقیقت کښې د امام صاحب رحمه الله او د صاحبینو رحمهما الله اختلاف دې، او کوم مسلک چه د صاحبینو دې هم هغه د ائمه ثلاثه دې.

د وقف لغوی معنی د حبس ده او شرعا د دې تعریف داسې دې. ﴿ حبس العين على ملك الواقف والتصدق بالمنفعة ﴾ یعنی اصل څیز لره په خپل ملکیت باندې باقی ساتلو سره د هغې منافع صدقه کول، په یو کس باندې یا په یو جماعت باندې، که هغه فقراء وی یا اغنیاء، دا تعریف د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد دې او د صاحبینو په نزد د دې تعریف دا دې: حبس العين على ملك الله تعالى والتصدق بمنفعتها....... یعنی د یو انسان خپل یو څیز لره د الله پاک ملکیت منلو سره د هغې د منفعت صدقه کول، د امام صاحب رحمه الله په نزد د واقف ملکیت وقف کړې شوې څیز باقی پاتې کیږی او د صاحبینو په نزد هغه څیز د مالک د ملکیت نه خارج شی، او بله دا چه وقف د امام صاحب په نزد جائز دې لازم نه دې په مثل د عارية دې. د واقف په حیات کښې هغه څیز د هغه په ملک کښې وی او د هغه د وفات نه پس ملک د ورثه شی بحيث يباع ويوهب، وكذا جاز رجوع الواقف عن الوقف في حياته مع الكراهة.... او د صاحبینو په نزد د واقف دپاره ابطال د وقف جائز نه دې بلکه هغه لازمیږی، هم دغه شان په دې کښې میراث هم نه جاری کیږی وعليه الفتوى (الدر المختار) د جمهور علماء کرامو او ائمة ثلاث مسلک هم دا دې.

[۲۸۷۸] (¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ ح وَحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ ح وَحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ عَوْنٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: أَصَابَ عُمَرُ أَرْضًا بِخَيْبَرَ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: أَصَبْتُ أَرْضًا لَمْ أُصِبْ مَالًا قَطُّ أَنْفَسَ عِنْدِي مِنْهُ فَكَيْفَ تَأْمُرُنِي بِهِ قَالَ: "إِنْ شِئْتَ حَبَّسْتَ أَصْلَهَا وَتَصَدَّقْتَ بِهَا، فَتَصَدَّقَ بِهَا عُمَرُ أَنَّهُ لَا يُبَاعُ أَصْلُهَا وَلَا يُوهَبُ وَلَا يُورَثُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْقُرْبَى وَالرِّقَابِ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ، وَزَادَ عَنْ بِشْرٍ، وَالضَّيْفِ ثُمَّ اتَّفَقُوا لَا جُنَاحَ عَلَى مَنْ وَلِيَهَا أَنْ يَأْكُلَ مِنْهَا بِالْمَعْرُوفِ وَيُطْعِمَ صَدِيقًا غَيْرَ مُتَمَوِّلٍ فِيهِ"، زَادَ عَنْ بِشْرٍ قَالَ: وَقَالَ مُحَمَّدٌ: غَيْرَ مُتَأَثِّلٍ مَالًا.

دعمر رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه عمر رضي الله عنه ته په خیبر کښې زمکه ملاوشوې وه هغه دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړواې دالله رسوله ماته یوه زمکه ملاوشوې ده چه دهغې نه ښه مال چرې ماته نه دې ملاوشوې په دې باره کښې ستاسو څه راې ده؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل که چرې خوښه دې وې نوددې اصل پریږده او ددې نفع صدقه

(¹): صحيح البخاري/الشروط ١٩ (٢٧٣٧)، والوصايا ٢٢ (٢٧٦٤)، ٢٨ (٢٧٧٢)، ٣٢ (٢٧٧٧)، صحيح مسلم/الوصايا ٤ (١٦٣٢)، سنن الترمذي/الأحكام ٣٦ (١٣٧٥)، سنن النسائي/الإحباس ١ (٣٦٢٩)، سنن ابن ماجه/الصدقات ٤ (٢٣٩٦)، (تحفة الأشراف: ٧٧٤٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٥٥، ١٢٥) (صحيح)

کړه عمر رضی الله عنه په دې باندې عمل اوکړو چه اصل زمکه به نه خرڅولې شي اونه به هبه کولې شی اونه به په وراثت کښې تقسیمولې شي اوددې نه به فقیران اومسکینان فائده حاصله وي اوهمدارنګې غلامان او مجاهدین مسافر اومیلمانه به ددې نه فائدې اخلي اوڅوك چه دوقف څيز اختیارمندوي نوهغه دې دې لره په مناسب طریقې سره استعمالوي اوپه خپلوغریبانانو ملګرودې اوخوروې داسې چه ددې نه مال جمع کونکې نه وي.

﴿ عن ابن عمر رضی الله عنهما قال اصاب عمر رضی الله عنه ارضا بخیبر فاتی النبی صلی الله علیه وسلم الخ ﴾

مضمون د حدیث (وقف د عمر):

مصنف په دې باب کښې دوه احادیث ذکر کړې دی د دواړو تعلق د عمر رضی الله عنه د وقف سره دې چا چه په خپلو دواړو زمکو ثمغ او صرمة ابن الاکوع د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مشورې نه پس وقف کړې وې. په دې دواړو کښې ړومبې حدیث خو لږ مختصر دې او په دویم مفصل چه په هغې کښې پوره وقف نامه یعنی کتاب الوقف ذکر دې، په ړومبی حدیث کښې مضمون دا دې.

عمر رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو چه ما یو داسې زمکه حاصله کړې ده چه د هغې نه زیات نفیس مال ماته کله هم نه دې حاصل شوې، نو زه په دې څه اوکړم او څنګه ئې صدقه کړم په دې کښې ستاسو څه حکم دې؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه که ته غواړې نو اصل زمکه اوساته او د هغې منافع صدقه کړه، پس عمر رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د فرمان مطابق د هغې تصدق اوکړو په دې شرط سره ﴿ لا یباع اصلها ولا یوهب ولا یورث ﴾ چه اصل زمکه به نه خرڅولې شی او نه به په میراث کښې ورکولې شی، وړاندې د موقوف علیهم بیان دې ﴿للفقرآء والقربی والرقاب فی سبیل الله ﴾ د قربی نه مراد یا خو د واقف خپلوان دی، او کیدې شی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلوان مراد وی او د رقاب نه مراد فک رقاب یعنی د غلامانو آزادول وی او د مکاتبینو قرض ادا کول دی. ﴿ لا جناح علی من ولیها ان یاکل منها بالمعروف ﴾ یعنی دمتولی د وقف دپاره دا جائز دې چه د دې نه په معتاد او معروفې طریقې نه منتفع شی او پخپل دوست باندې هم اوخروی، خو دا دې نه وی چه په هغې کښې د خپل ځان دپاره کیخودلو سره جمع کړی، ګویا صرف د عادت مطابق د انفاق اجازت دې دجمع نه. ﴿غیر متاثل مالا ﴾ متاثل د اثله ء اخستلې شوې دې اثلهاصلی څیز ته وئیلې شی قال امرئ القیس ﴿ وقد یدرک المجد الموثل امثالی ﴾ یعنی د وقف مال لره دې راس المال نه جوړوی.

د دې روایت نه په ظاهره دا نه معلومیږی چه په دې وقف کښې دا معلومیږی چه په دې وقف کښې دا شرطونه ﴿ لا یباع ولا یوهب ﴾ وغیره د عمر رضی الله عنه د طرف نه وو، او د بخاری د بعض روایتونو نه معلومیږی چه د دې شرطونو هدایت خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم عمر رضی الله عنه ته کړې وو، د حافظ د کلام نه معلومیږی چه د دې شرطونو مرفوعا ثابت کیدل زیات صحیح دی ځکه چه د رفع والا روایت اتم او زیات واضح دې او صاحب تحفة الاخوذی ۵۲۲/۴ د روایتینو تعارض لیکلو نه پس دا توجیه کړې ده چه په دې دواړو کښې جمع په دې طریقه باندې ممکنه ده چه په کوم روایت کښې دا شرطونه د عمر طرف ته منسوب دی هغه روایتونه روستو دی اول خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه شرطونو هدایت فرمائیلې وو بیا عمر رضی الله عنه د رسول

الله ﷺ د حکم په تعمیل کښې هغه شرطونه اولیکل
دا دي او نه وئیلې شی چه دا حدیث د وقف په سلسله کښې د جمهورو او د صاحبینو موافق دې ځکه چه په دې کښې د ﴿لا یباع ولا یوهب ولا یورث﴾ وضاحت دې جمهور علماء کرام هم د وقف په باره کښې هم دا وائی او دا په دې وجه چه دا حدیث په دې خبره باندې دال نه دې چه دا امور د وقف په حقیقت کښې داخل دی هذا ما یخطر ببالی فلیسئل... والله تعالی اعلم. (والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة قاله المنذری)

[۲۸۷۹]() حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي اللَّيْثُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ صَدَقَةِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: نَسَخَهَا لِي عَبْدُ الْحَمِيدِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ: بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، هَذَا مَا كَتَبَ عَبْدُ اللَّهِ عُمَرُ فِي ثَمْغٍ فَقَصَّ مِنْ خَبَرِهِ نَحْوَ حَدِيثِ نَافِعٍ قَالَ: غَيْرَ مُتَأَثِّلٍ مَالًا فَمَا عَفَا عَنْهُ مِنْ ثَمَرِهِ فَهُوَ لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ، قَالَ: وَسَاقَ الْقِصَّةَ قَالَ: وَإِنْ شَاءَ وَلِيُّ ثَمْغٍ اشْتَرَى مِنْ ثَمَرِهِ رَقِيقًا لِعَمَلِهِ وَكَتَبَ مُعَيْقِيبٌ وَشَهِدَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْأَرْقَمِ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، هَذَا مَا أَوْصَى بِهِ عَبْدُ اللَّهِ عُمَرُ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ إِنْ حَدَثَ بِهِ حَدَثٌ، أَنَّ ثَمْغًا، وَصِرْمَةَ بْنَ الْأَكْوَعِ، وَالْعَبْدَ الَّذِي فِيهِ، وَالْمِائَةَ سَهْمٍ الَّتِي بِخَيْبَرَ، وَرَقِيقَهُ الَّذِي فِيهِ، وَالْمِائَةَ الَّتِي أَطْعَمَهُ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْوَادِي تَلِيهِ حَفْصَةُ مَا عَاشَتْ، ثُمَّ يَلِيهِ ذُو الرَّأْيِ مِنْ أَهْلِهَا أَنْ لَا يُبَاعَ وَلَا يُشْتَرَى يُنْفِقُهُ حَيْثُ رَأَى مِنَ السَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ وَذَوِي الْقُرْبَى وَلَا حَرَجَ عَلَى مَنْ وَلِيَهُ إِنْ أَكَلَ أَوْ آكَلَ أَوِ اشْتَرَى رَقِيقًا مِنْهُ.

دیحی بن سعیدنه روایت دې وائی چه عبد الحمید بن عبد الله بن عبد الله بن عمر بن الخطاب زما دپاره لیکلې وو «بسم الله الرحمن الرحیم» داهغه کتاب دې کوم چه عبد الله بن عمر رضی الله عنہ لیکلې وو دسمغ په باره کښې سمغ دهغه مال یاباغ نوم دې کوم چه عمر رضی الله عنہ په مدینه کښې یابه خیبر کښې وقف کړې دې اوبیا ئې حدیث بیان کړو دپورتنې روایت په شان یعنی مال جمع کولو والا به نه وی اوکومه میوه چه ددې نه راپریوځي نوهغه دفقیرانودپاره ده اودسوال کونکودپاره اودنه سوال کونکو دپاره، اوددې نه پس ئې قصه بیان کړه که چرې دسمغ متولي اوغواړی نوهغه ددې دمیوو دقیمت په بدل کښې غلام اغستلی شي ‹دباغ دخدمت دپاره›معیقیب لیکل اوکړل عبد الله بن ارقم شهادت اوکړو، چه دا دهغه وصیت تحریر دې کوم چه دالله دبنده عمر وو که چرې ماته څه حادثه
پیښه شي نوثمغ اوصرمه بن اکوع اوهلته چه کوم غلامان دي اوسل حصې دي په دغه علاقه کښې کوم چه خیبرته نزد پروت دې دغه ټول ماته نبی علیہ السلام راکړي وو ددې ټولو متولي بن حفصه پاتې شي ترڅوچه ژوندي وي ددې نه پس چه څوک په دوی کښې صاحب الراي وي هغه به متولي وي په دې شرط چه دامال به نه شی خرڅولې اونه اخستلې او چرته چه مناسب ښکاره شي نوسوال کونکو او محرومو او ریشته داروباندې دې ئې خرڅ کړي اوڅوک چه دوقف مال متولي وي نوددې دپاره هیڅ قسم خرج نشته چه ددې نه خوراک اوکړي یاترې چاله ورکړی یاددې دامدن نه دې وقف مال حفاظت اوکړي اوخدمت دپاره غلام وغیره واخلي

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۵۸۹) (صحیح)

﴿عن يحيى بن سعيد عن صدقة عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال نسخها عبدالحميد ابن عبدالله بن عبدالله بن عمر بن الخطاب بسم الله الرحمن الرحيم هذا ما كتب عبدالله عمر فى ثمغ، فقص من خبره نحو حديث نافع قال غير متاثل ما لافما عفا عنه من ثمره فهو للسائل والمحروم﴾

د كتاب الوقف شرح:

يحيٰ بن سعيد روايت كوي د عمر رضي الله عنه د وقف په باره كښې چه هغه وقف نامه ئې ماته ليكلې راكړه يعنى د هغې نقل د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نمسى عبدالحميد، وړاندې د هغه كتاب الوقف (وقف نامې) عبارت دې. په دې عبارت كښې عمر، عبدالله نه بدل واقع شوې دې. ترجمه به دا وى دا هغه څيز دې كوم لله چه د الله بنده عمر ليكى د ثمغ په باره كښې، وړاندې مصنف د حوالې په طور وائى چه بيا يحيٰ بن سعيد رحمه الله وړاندې د وقف په سلسله كښې هم دغه شان ذكر كړل لكه چه د دې نه مخكښې د نافع په روايت كښې راغلې وو او د يحيٰ په وروايت كښې غير متاثل مالا دې، بيا په دې روايت كښې كوم چه د تير شوى روايت نه زيات دې لره روايت كوى او هغه دا دې چه څه هم په دې ذكر كړې شوې مصارفو كښې د خرچ كولو نه پس بچ شى نو د هغې په ميوو كښې خو د سائل او محروم ټولو دپاره دى. ﴿قال وساق القصة﴾ يعنى راوى نور هم څه بيان كړل، دغه شان هلته وائى چرته چه اختصار كول مقصود وى لكه چه الى اخره وئيلې شى وړاندې دا دى چه كه د ثمغ متولى غواړى نو د هغه زمكې په امدنئ كښې د زمكې د خدمت او كار دپاره غلام اخستلې شى. ﴿وكتب معيقيب وشهد عبدالله بن الارقم﴾ يعنى دې وقف نامې لره ليكونكې معيقيب دې رضي الله عنه او ګواه عبدالله بن الارقم دې، د ليك په آخر كښې لكه چه څنګه كاتب خپل نوم ليكى دا هم هغه دې، معيقيب د عمر رضي الله عنه خزانچى او منشى وو.

﴿بسم الله الرحمن الرحيم هذا ما اوصى به عبدالله عمر امير المومنين ان حدث به حدث ان ثمغا وصرمة بن الاكوع الخ﴾: په ظاهره (١) دا د وقف نامې اصل او مسلسل عبارت دې، پورته چونكه مصنف د وقف نامې عبارت شروع كولو سره اختلاف د رواياتو بيانولو هلته پوره عبارت نه شو راتلې په دې وجه دلته هغه پوره عبارت نقل دې (هذا ما فهمت والله تعالى اعلم)

صرمة ابن الاكوع هم د ثمغ په شان د زمكې نوم دې. (٢)

﴿والمائة التى اطعمه محمد صلى الله عليه وسلم بالوادى﴾ يعنى او هغه سل حصې (هغه هم په وقف كښې شاملوو) كومې چه ماته يعنى عمر رضي الله عنه ته رسول الله صلى الله عليه وسلم راكړې وې په وادئ كښې، د وادئ نه مراد وادى القرى ده كومه چه د مدينې او د تبوك ترمينځه ده.

﴿تليه حفصة ما عاشت﴾ يعنى د هغه وقف توليت به زما د لور حفصه رضي الله عنها دپاره وى ترڅو چه هغه ژوندئ وى بيا د هغې په خاندان كښې چه څوک د رائې خاوند وى.

---

(١) د دې د ليكلو ضرورت په دې وجه راپيښ شو چه دلته په عبارت كښې په ظاهره تكرار محسوسيږى.

(٢) او صرمة بن قيس د يو انصارى صحابى رضي الله عنه نوم دې كوم چه د كتاب الصوم په شروع كښې تير شوې دې، او د دې نه مخكښې ابواب الاذان ﴿احيلت الصلاة ثلاثة احوال﴾ د لاندې فتذكر.

باب مَا جَاءَ فِي الصَّدَقَةِ عَنِ الْمَيِّتِ

د مړي د طرف نه د ايصال ثواب دپاره د صدقې ورکولو بيان

[۲۸۸۰]()حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْمُؤَذِّنُ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ يَعْنِي ابْنَ بِلَالٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أُرَاهُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةِ أَشْيَاءَ مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ".

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی کله چه يوانسان مړ شي نو دده عمل منقطع کيږی ليکن دړې عملونه داسې دي دکومو چه اجرنه منقطع کيږی يو صدقه جاريه ده اودويم هغه علم دې دکوم نه چه خلق فائده واخلي اوبل نيك اولاد کوم چه دمور او پلا رد پاره دعا غواړي

شرح الحديث:

قوله: ﴿ اذا مات الانسان انقطع عنه عمله الا من ثلاثة اشياء من صدقة جارية او علم ينتفع به او ولد صالح يدعو له ﴾: يعنی د انسان په مرګ باندې د هغه ټول عملونه منقطع شی. هم دغه شان د ثواب سلسله ئې هم منقطع شی په انقطاع د عمل سره، خو په هغې کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم د درې عملونو استثناء اوفرمائيله چه هتله به سلسله د ثواب په انقطاع د عمل سره نه منقطع کيږی. ۱: صدقه جاريه يعنی داسې صدقه چه د هغې نفع په خلقو کښې جاری وی لکه اوقاف. ۲: داسې علم چه د هغې نه خلق فائده اخلی لکه تعليم او تصنيف، قال التاج السبكی التصنيف اقوى من التعليم لطول بقائه. ۳: نيک ولد کوم چه د خپل پلار دپاره دعا کوی، د صالح نه مراد مومن دې کما قال ابن حجر مکی، زمونږ يو استاد به فرمائيل مولانا امير احمد کاندهلوی رحمه الله چه د ﴿ يدعو له ﴾ قيد احترازی نه دې اتفاقی دې ځکه چه د انسان مومن اولاد د هغه دپاره هسې هم صدقه وی که دعا کوی او که نه کوی.

مصنف رحمه الله ترجمه قائم کړه صدقة عن الميت، په دې کښې د ايصال ثواب برائې موتی مسئله ده (۲) په دې باندې کلام په کتاب الزکوة باب فی فضل سقی الماء کښې تير شوې دی، په دې مسئله باندې دلته په بذل کښې هم تفصيلی کلام کړې شوې دې که څوک کتل غواړی او دې ګوری. (والحديث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی قاله المنذری)

باب مَا جَاءَ فِيمَنْ مَاتَ عَنْ غَيْرِ وَصِيَّةٍ يُتَصَدَّقُ عَنْهُ

بيان دهغه کس چه بغير د وصيت نه وفات شي دهغه د طرف نه صدقه کول څنګه دی؟

[۲۸۸۱]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ: "يَا

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٠٢٦)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الوصايا ٣ (١٦٣١)، سنن الترمذي/الأحكام ٣٦ (١٣٧٦)، سنن النسائي/الوصايا ٨ (٣٦٨١)، مسند احمد (٣١٦/٢، ٣٥٠، ٣٧٢) (صحيح)

[2]) دردير ١٠/٢ الشرح الكبير ج ٤٢٣/١)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٨٨٣)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الوصايا ١٩ (٢٩٦٠)، صحيح مسلم/الزكاة ١٥ (١٠٠٤)، الوصية ٢ (١٦٣٠)، سنن النسائي/الوصايا ٧ (٣٦٧٩)، سنن ابن ماجه/الوصايا ٨ (٢٧١٧)، موطا امام

رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ أُمِّي افْتُلِتَتْ نَفْسُهَا وَلَوْلَا ذٰلِكَ لَتَصَدَّقَتْ وَأَعْطَتْ أَفَيُجْزِءُ أَنْ أَتَصَدَّقَ عَنْهَا؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نَعَمْ فَتَصَدَّقِي عَنْهَا".

دام المومنين عائشي رضي الله عنها نه روايت دي چه يوي زنانه دنبي عليه السلام په خدمت کښې عرض اوکړو زما مور په ناڅاپي مرګ باندي مړه شوه که چرې ناڅاپه نه وې مړه شوي نو دالله په لارکښې به په څه ورکړې وو ايازه دهغې دطرف نه صدقه اوکړم اوهغې ته به اجرملاو شي؟ نبی عليه السلام اوفرمائيل هو، ته دهغې دطرف نه صدقه کوه.

[۲۸۸۲](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، حَدَّثَنَا زَكَرِيَّا بْنُ إِسْحَاقَ، أَخْبَرَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ أُمِّي تُوُفِّيَتْ أَفَيَنْفَعُهَا إِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا؟ فَقَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَإِنَّ لِي مَخْرَفًا وَإِنِّي أُشْهِدُكَ أَنِّي قَدْ تَصَدَّقْتُ بِهِ عَنْهَا.

دابن عباس رضي الله عنه نه مروي دي چه يوکس دنبي عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې اوکړو چه اې دالله رسوله زمامور وفات شوي ده که چرې زه دهغې دطرف نه صدقه اوکړم نوايا هغي ته به ثواب اورسيږي؟ نبی عليه السلام اوفرمائيل ضرور يعنی دصدقې ثواب ورته رسيږي دي بس عرض اوکړو چه زماسره يوباغ دي اوزه تاګواه کوم چه دغه باغ ما دخپلې مور دطرف نه صدقه کړو.

ترجمه او حديث الباب ظاهر دي چه تشريح ته نه دي محتاج.

(حديث عائشة رضي الله عنها اخرجه النسائی وابن ماجة، وحديث ابن عباس رضي الله عنهما اخرجه البخاري والترمذی والنسائی، قاله المنذری)

بَابُ مَا جَاءَ فِي وَصِيَّةِ الْحَرْبِيِّ يُسْلِمُ وَلِيُّهُ أَيَلْزَمُهُ أَنْ يُنْفِذَهَا

مسلمان دې د مړ کافر وصيت نه پوره کوي

يعنی که يو کافر يو وصيت کولو سره مړ شي او حال دا چه د هغه وارث مسلمان شي نو آيا په دې صورت کښې په دې مسلمان وارث باندې دا لازم دی چه د دې کافر پلار وصيت پوره کړي.

د دې سوال جواب دا دې چه په هغه باندې د وصيت پوره کول لازم نه دی لکه چه د حديث الباب نه په فهم کښې راځي حديث الباب دا دې.

[۲۸۸۳](٢) حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ بْنُ الْوَلِيدِ بْنِ مَزْيَدٍ، أَخْبَرَنِي أَبِي، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، حَدَّثَنِي حَسَّانُ بْنُ عَطِيَّةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ الْعَاصَ بْنَ وَائِلٍ أَوْصَى أَنْ يُعْتَقَ عَنْهُ مِائَةُ رَقَبَةٍ، فَأَعْتَقَ ابْنُهُ هِشَامٌ خَمْسِينَ رَقَبَةً، فَأَرَادَ ابْنُهُ عَمْرٌو أَنْ يُعْتِقَ عَنْهُ الْخَمْسِينَ الْبَاقِيَةَ، فَقَالَ: حَتَّى أَسْأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ أَبِي أَوْصَى بِعِتْقِ مِائَةِ رَقَبَةٍ، وَإِنَّ هِشَامًا أَعْتَقَ عَنْهُ خَمْسِينَ وَبَقِيَتْ عَلَيْهِ خَمْسُونَ رَقَبَةً، أَفَأُعْتِقُ عَنْهُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّهُ لَوْ كَانَ مُسْلِمًا فَأَعْتَقْتُمْ عَنْهُ، أَوْ

مالك/الأقضية ٤١ (٥٣)، مسند احمد (٥١/٦) (صحيح)

١): صحيح البخاري/الوصايا ٢٠ (٢٧٧٠)، سنن الترمذي/الزكاة ٣٣ (٦٦٩)، سنن النسائي/الوصايا ٨ (٣٦٨٥)، (تحفة الأشراف: ٦١٦٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٧٠/١) (صحيح)

٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٦٧٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨١/٢) (حسن)

تَصَدَّقْتُمْ عَنْهُ، أَوْ حَجَجْتُمْ عَنْهُ" بَلَغَهُ ذَلِكَ.

عمرو بن شعیب دخپل پلارنه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه عاص بن وائل وصیت کړې وو چه زمادطرف نه به سل غلامان ازاد کړئ نودده ځوی هشام پنځوس غلامان ازاد کړل دده بل ځوي عمرو غوښتل چه داباقی پاتې پنځوس دې ازاد کړي. نووئې وئيل يوځل به دنبی ﷺ نه تپوس کوم دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې اوکړو اې دالله رسوله زماپلار دسلو غلامانو په ازادولوباندې وصيت کړې وو او هشام دهغه دطرف نه پنځوس ازاد کړل او پنځوس پرې باقی دي ايادااباقی پاتې پنځوس زه ازاد کړم؟ نبی ﷺ اوفرمائيل که چرې ستاسو پلار مسلمان وې نوتاسوبه دهغه دطرف نه غلامان ازاد کړې وې يا خيرات به موکړې وې اويابه موده هغه دطرف نه حج کړې وې نوبيا ورته اجر ملاويدو.

﴿ان العاص بن وائل اوصى ان يعتق عنه مئة رقبة فاعتق ابنه هشام خمسين رقبة الخ﴾

يعنی عاص بن وائل چه کافر وو هغه اسلام قبول نه کړو اګر چه هغه د اسلام زمانه موندلې ده، هغه دا وصيت اوکړو چه د هغه د طرف نه سل غلامان ازاد کړې شی، نو د هغه يو ځوی هشام بن العاص رضي الله عنه خو پنځوس غلامان آزاد کړل او د هغه دويم ځوی عمرو بن العاص هم اراده اوکړه د باقی پنځوسو د آزادولو، نو هغه سوچ اوکړو چه اول دې د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شی، پس د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راتلو سره هغوی تپوس اوکړو او د هغوی په خدمت کښې ئې د خپل پلار د وصيت ذکر اوکړو او دا چه زما رور خو پنځوس د هغه د طرف نه آزاد کړل نو آيا باقی پنځوس زه د هغه د طرف نه آزاد کړم، رسول الله ﷺ اوفرمائيل که ستا پلار مسلمان وې او بيا تاسو د هغه د طرف نه غلام آزاد کړې وې يا صدقه کړې وې يا مو د هغه د طرف نه حج کړې وې نو بيا خو به د هغې ثواب هغه ته ملاويدو (خو په موجوده صورت کښې آزادول بيکاره دی) [1]اوګورئ اسلام څومره لوئې نعمت دې چه دهغې د وجې نه د مرګ نه پس هم مړی ته فوائد رسولې کيدې شی. ﴿فالحمد لله الذی هدانا الاسلام﴾

بَابُ مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يَمُوتُ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ وَلَهُ وَفَاءٌ يُسْتَنْظَرُ غُرَمَاؤُهُ وَيُرْفَقُ بِالْوَارِثِ

څوک چه د قرض د بوج سره مړ شی او مال ترې پاتې شوې وی نو د قرض دارو نه به د وارث دپاره مهلت اخستلې شی

يعنی که يو انسان په داسې حال کښې مړ شی چه د هغه په ذمه باندې قرض وی او هغه دومره مال پريخودلو سره هم مړی شی چه په هغې سره قرض ادا کيدې شو نو د هغه د قرض غوښتونکو نه دې مهلت طلب کړې شی او د وارث سره دې د نرمئ معامله اوکړې شی. دا ترجمه خو يا په طريقه د استفهام ده، په تقدير د همزه استفهام او احتمال په دې کښې د

[1] مشکوة شريف د نصف اول دا آخری حديث دې چه د هغې نسبت په هغې کښې صرف ابوداؤد ته دې

خبر هم دي (بذل)

[۲۸۸٤]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، أَنَّ شُعَيْبَ بْنَ إِسْحَاقَ حَدَّثَهُمْ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ وَهْبِ بْنِ كَيْسَانَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَاهُ تُوُفِّيَ وَتَرَكَ عَلَيْهِ ثَلَاثِينَ وَسْقًا لِرَجُلٍ مِنْ يَهُودَ فَاسْتَنْظَرَهُ جَابِرٌ، فَأَبَى فَكَلَّمَ جَابِرٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَشْفَعَ لَهُ إِلَيْهِ، فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَلَّمَ الْيَهُودِيَّ لِيَأْخُذَ ثَمَرَ نَخْلِهِ بِالَّذِي لَهُ عَلَيْهِ فَأَبَى عَلَيْهِ، وَكَلَّمَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُنْظِرَهُ فَأَبَى، وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

جابربن عبدالله نه روايت دي فرمائي چه زما پلار وفات شو اوديرش وسقه قرض ئې پريخودلې وو چه ديويهودي وو جابر ددغه يهودي نه مهلت اوغوښتو نوهغه انکار اوکړو جابرنبي علي السلام ته اووئيل چه دي يهودي ته زما دپاره سفارش اوکړه نونبی ﷺ راغې اوديويهودي سره ئې خبره کوله په دي باغ کښې چه څومره کجوري دي دادخپل قرض په بدل کښې واخله ده بياهم انکار اوکړو بيانبی ﷺ يهودي ته اووئيل چه جابر ته مهلت ورکړه ده بياهم انکار اوکړو راوي ددې نه پس پوره حديث بيان کړو.

﴿عن جابر رضي الله عنه انه اخبره ان اباه توفي وترک عليه ثلاثين وسقا لرجل من يهود الخ ﴾

د حديث دَين جابر رضي الله عنه شرح:

دې حديث ته دين جابر رضي الله عنه وائی، د هغوی د قرض قصه په روايتونو کښې مشهوره ده په بخاری کښې دا حديث په ډيرو ځايونو کښې دې، په کتاب البيوع، کتاب الصلح، کتاب الاستقراض، کتاب الهبة، کتاب الوصايا، علامات النبوة او الضيافة وغيره،کښې هم دغه شان په نسائی کښې هم بالتفصيل په ډيرو طرقو سره راغلې دې، چه د هغې خلاصه دا ده چه د جابر رضي الله عنه پلار عبدالله بن عمرو بن حرام رضي الله عنه د احد په جنګ کښې شهيد شوې وو او د هغوی په ذمه لکه چه د ابوداؤد په دې روايت کښې دی د يو يهودی ديرش وسقه کهجورې وې. حضرت په بذل کښې ليکلې دی چه د بخاری وغيره د روايت نه معلوميږی چه د هغوی قرض غوښتونکی ډير وو لهذا د ابوداؤد د روايت مطلب به دا اخستلې شی چه په هغه غرماء کښې ديرش وسقه کهجورې صرف د يو قرض غوښتونکی وې او د نورو قرض غوښتونکو چه کوم په ده باندې قرضونه وو هغه ددې نه علاوه وو غرض دا چه جابر رضي الله عنه اول خو د خپل پلار د قرض غوښتونکو سره د قرض د معاف کولو خبره اوکړه چه دا قرض پريخودلې شی، چه کله هغوی دا او نه منله نو بيا هغوی استنظار يعنی مهلت طلب کړو، چه کله هغوی د دې نه هم انکار اوکړو نو بيا د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او هغوی ته ئې عرض اوکړو چه تاسو لږ سفارش اوکړئ رسول الله ﷺ هغه قرض غوښتونکو ته د هغوی دپاره سفارش اوکړو، هغوی بيا هم او نه منله. جابر رضي الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ ماته اوفرمائيل لاړ شه باغ ته او کهجورې راوشوکوه او هر قسم کهجورې ځانله ځانله جمع کړه. يعنی هغه دې ګډې ودې نه کړې شی او کله چه ته دا ټول کار اوکړې نو بيا

[۱]: صحيح البخاري/البيوع ٥١ (٢١٢٧)، الاستقراض ٨ (٢٣٩٥)، ٩ (٢٣٩٦)، ١٨ (٢٤٠٥)، الهبة ٢١ (٢٦٠١)، الصلح ١٣ (٢٧٠٩)، الوصايا ٣٦ (٢٧٨١)، المناقب ٢٥ (٣٥٨٠)، المغازي ١٨ (٤٠٥٣)، سنن النسائي/الوصايا ٤ (٣٦٧٠)، سنن ابن ماجه/الصدقات ٢٠ (٢٤٣٤)، (تحفة الأشراف:٣١٢٦) (صحيح)

ماته خبر راکړه، جابر ﷺ فرمائی چه ما هم داسې اوکړل او د کهجورو ډیری لګولو نه پس مې رسول الله ﷺ ته خبر ورکړو، رسول الله ﷺ تشریف راوړو او په هغې ډیرو کښې په یو ډیری باندې کیناستلو او وې فرمائیل چه دې خلقو ته په ناپ ناپ سره کهجورې ورکول شروع کړه. هغه فرمائی ما هم هغه شان اوکړل او رسول الله ﷺ د برکت دعاء فرمائیله تردې چه د ټولو حق پورا ادا شو او زما د کهجورو حال دا وو چه ګویا د هغې نه بالکل څه هم نه دی اخستلې شوې، په یو روایت کښې دی چه مونږ دا ګڼړله چه زمونږ د باغ په څو کاله فصلونو باندې به دا قرض ادا شی، خو هغه د یو کال په فصل باندې ادا شو. او په روایت کښې دی چه زمونږ دوه باغونه وو یو وړوکې او یو لوئې، او دا ټول قرض په یو وړوکی باغ باندې ادا شو. ﴿حتی وفینا جمیع حقه من اصغر الحدیقتین﴾ او په یو روایت کښې دا هم دی چه کله د ټولو حقوق ادا شو نو رسول الله ﷺ جابر ﷺ ته اوفرمائیل چه لاړ شئ ابوبکر او عمر ﷺ ته هم د دې خبر ورکړه، هغوی فرمائی چه ما هغوی ته هم د دې خبر ورکړو هغوی دواړو اوفرمائیل چه مونږ د مخکښې نه پوهه وو چه هرکله رسول الله ﷺ پخپله باغ ته تشرف اوړی نو بیا به هم داسې کیږی، دا د رسول الله ﷺ ښکاره معجزه وه هم په دې وجه امام بخاری ﷫ دا په علامات النبوة کښې هم ذکر کړې ده. صلی الله تعالی علی سیدنا محمد واله وصحبه وسلم تسلیما کثیرا.

(والحدیث اخرجه البخاری والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری. وفی البذل والحدیث بتمامه مذکور فی البخاری ومسلم وغیرهما آهـ قلت لم اجده فی صحیح مسلم ولعله سبق قلم، والصواب بدله والنسائی فلیحرر)

کتاب الفرائض

د الله تعالی د مقرر کړې شوو حصو (میراث) بیان

بَابُ مَا جَاءَ فِي تَعْلِيمِ الْفَرَائِضِ

د علم میراث د زده کولو د فضیلت بیان

[۲۸۸۵] ([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زِيَادٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ رَافِعٍ التَّنُوخِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْعِلْمُ ثَلَاثَةٌ وَمَا سِوَى ذَلِكَ فَهُوَ فَضْلٌ آيَةٌ مُحْكَمَةٌ، أَوْ سُنَّةٌ قَائِمَةٌ، أَوْ فَرِيضَةٌ عَادِلَةٌ".

عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دي: ددین ضروري علم ددرې خیزونو دي او ددې نه علاوه ضروري نه دی یو آیات محکمات دي کوم چه منسوخ نه وي، اوبل صحیح حدیث اوبل دعلم فرائض مسائل دکوم په ذریعه چه دترکي صحیح تقسیم کیدې شي.

﴿العلم ثلاثة وما سوی ذلک فهو فضل ایة محکمة او سنة قائمة او فریضة عادلة﴾

شرح الحدیث:

یعنی علوم شرعیه معتبره درې دی. او د هغې نه علاوه چه کوم دی هغه د ضرورت نه زیاتی

[1]: سنن ابن ماجه/المقدمة ۸ (٥٤)، (تحفة الأشراف: ۸۸۷٦) (ضعیف)

او غیر ضروری دی وړاندې د هغه دریو بیان دې. ۱: آیات محکمه: یعنی غیر منسوخه یا صریحه چه د تاویل احتمال نه لری. ۲: احادیث صحیحه ثابته ۳: فریضه عادله د فریضه نه مراد خو هغه احکام او اصول دی چه د هغې نه تقسیم بین الورثة په عدل سره یعنی پوره پوره کیدې شی او دا خبره د علم الفرائض نه حاصلیږی او دویم احتمال دا دې چه د دې نه مراد مطلق هغه فرائض او احکام دی چه په هغې باندې عمل واجب دې، او د عادله نه مراد مساویه، یعنی هغه احکام مستنبطه چه مساوی او موافق وی ﴿ما یوخذ من الکتاب والسنة والله تعالی اعلم، ففیه اشارة الی الاجماع والقیاس، لهذا په دې حدیث کښې د څلورو واړو ادله شرعیه کتاب وسنة واجماع وقیاس ذکر راغلو [1] د دې حدیث په شرح کښې دا دواړه احتمالات د بذل او فتح الودود په حوالې سره لیکلې شوې دی، امام ترمذی د کتاب الفرائض په شروع کښې د ﴿باب فی تعلیم الفرائض﴾ د لاندې دا حدیث ذکر کړې دې ﴿عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ تعلموا الفرائض والقرآن وعلموا الناس فانی مقبوض وفی هامشه عن مجمع البحار قیل ای علم المیراث ولا دلیل علیه والظاهر ما فرض الله تعالی ویمکن ان یراد سننا صادرة منه مشتملة علی الاوامر والنواهی، ای تعلموا الکتاب والسنة﴾

بَابٌ فِي الْكَلَالَةِ

د کلاله بیان

کَلاله د جمهورو په نزد هغه مړې دې چه هغه پلار او بچې پریخودلو سره مړ نه شی یعنی د هغه نه پلار وی او نه ځوئې، او په دې کښې دا هم وئیلې شوې دی هغه وارثان چه په هغوی کښې د مړی پلار او ځوئې نه وی، دا دواړه خو تقریبا یو دې، وقیل من لا والد له فقط وهو قول عمر رضی الله عنه او من له ا ولد ل فقط.

[۲۸۸٦] [2] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ الْمُنْكَدِرِ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا يَقُولُ: مَرِضْتُ فَأَتَانِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُنِي، هُوَ وَأَبُو بَكْرٍ مَاشِيَيْنِ وَقَدْ أُغْمِيَ عَلَيَّ فَلَمْ أُكَلِّمْهُ، فَتَوَضَّأَ وَصَبَّهُ عَلَيَّ فَأَفَقْتُ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ أَصْنَعُ فِي مَالِي وَلِي أَخَوَاتٌ؟ قَالَ: "فَنَزَلَتْ آيَةُ الْمَوَارِيثِ يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ سورة النساء آية ۱۷٦.

---

[1]) زما تقریر د ابوداؤد په یو کاپۍ کښې داسې ملاؤ شو: علوم شرعیه معتبره درې دی: ۱: آیات صریحه محکمه. ۲: احادیث صحیحه ثابته ۳: هغه احکام او فرائض کوم چه د قسمین اولین نه ماخوذ او مستنبط وی (اشارة الی القیاس والاجماع) العادلة یعنی برابر یعنی دا احکام او فرائض مستنبط په معتبر کیدو او واجب العمل کیدو کښې برابر دی د قسمین اولین، خو د مصنف مراد دا معنی نه ده بلکه دویمه معنه ئې مراد ده هغه دا چه د فریضه عادله نه مراد هغه احکام او اصول دی چه د هغې نه عدل بین الورثة فی الحصص المعینة حاصل شی، او دا خبره د علم الفرائض نه حاصلیږی. وهذا المعنی هو المطابق لغرض المصنف فمعنی والعادلة علی الاول العادلة ای المستویة فی الحجیة وعلی الثانی بمعنی العادلة فی القسمة)

[2]): صحیح البخاري/تفسیر النساء ۲۷ (٤٦٠٥)، المرضي ٥ (٥٦٥١)، الفرائض ۱۳ (٦٧٤٣)، صحیح مسلم/الفرائض ۲ (۱٦۱٦)، سنن الترمذي/الفرائض ۷ (۲۰۹۷)، سنن ابن ماجه/الفرائض ٥ (۲۷۲۸)، (تحفة الأشراف: ۳۰۲۸)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الطهارة ٥٦ (۷٦۰) (صحیح)

دجابر رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه زه یوځل سخت بیمارشوم نونبی علیه السلام په خپله او ابوبکرهم ورسره اوزمادعیادت دپاره پیدل راغلل ماورسره دبي هوشئ په وجه خبري ونکړي نبی علیه السلام اودس وکړو او په مائي اوبه واړولي نو زه په هوش کښې شوم اوعرض مي وکړوچه اې دالله رسوله زه دخپل مال سره څه وکړم اوزماخویندې هم شته؟ نوپه دې وخت کښې د میراث آیت نازل شو: «یستفتونك قل الله یفتیکم في الکلالة».

﴿ انه سمع جابرا رضی الله تعالی عنه یقول مرضت فاتانی رسول الله صلی الله علیه وسلم.......... یارسول الله صلی الله علیه وسلم کیف اصنع فی مالی ولی اخوات قال فنزلت ایة المیراث ﴾

په وصیت کښې د حدیث جابر رضی الله عنه مضمون:

په دې باب کښې مصنف رحمه الله د جابر رضی الله عنه حدیث ذکر کړو چه په هغې کښې هغوی دا فرمائی چه یو ځل زه بیمار شوم نو رسول الله صلی الله علیه وسلم زما تپوس ته راغلو نو زه هغه وخت بیهوشه اوم د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مې خبرې اونکړې شوې، رسول الله صلی الله علیه وسلم اودس اوفرمائیلو او د اودس نه پچ شوې اوبه یا غساله، (وبالاخیر جزم الحافظ فی الفتح کما فی هامش البذل) ئې په ما باندې چړکاؤ کړې چه هغې سره زه په هوش کښې راغلم. هغه وخت ما هغوی ته عرض اوکړو چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم زه په خپل مال کښې څه اوکړم؟ (یعنی که وصیت کول غواړم نو کولې شم) او زما په وارثانو کښې صرف زما خویندې دی، هغوی فرمائی چه په دې باندې آیت میراث نازل شو (د آیت دمیراث مصداق وړاندې مذکور دې) ﴿ یستفتونک قل الله یفتیکم فی الکلالة ﴾ او په بعض روایاتو کښې داسې دی: ﴿فنزلت یوصیکم الله فی اولادکم ﴾ او امام بخاری رحمه الله هم دې طرف ته اشاره فرمائیلې ده چه د آیت المیراث نه مراد ﴿ یوصیکم الله ﴾ دې.

د جابر رضی الله عنه په باره کښې د کوم ایت نزول اوشو؟

بیا په دې باندې ښان پوهول پکار دی چه په دې باره کښې روایات مختلف دې چه د جابر رضی الله عنه په قصه کښې په دې دوه آیتونو کښې د کوم آیت کریمه نزول شوې دې. آیا هغه ﴿یوصیکم الله فی اولادکم ﴾ دې کوم چه د سورة النساء په شروع کښې ذکر شوې دې او ډیر مفصل دې د ټول وارثانو حصې په هغې کښې بیان کړې شوې دی. او د هغې په آخر کښې مجملا د کلاله ذکر هم دې، ﴿ وان کان رجل یورث کلالة او امرأة ﴾ او یا د دې مصداق ﴿یستفتونک قل الله یفتیکم فی الکلالة ﴾ دې کوم چه د سورة النساء په آخر کښې ذکر شوې دې چه په هغې کښې د کلاله د حکم بیان واضحه ذکر کړې شوې دې چه هغې ته آیة الصیف هم وئیلې شی پس د بعض روایتونو نه معلومیږی چه د دې مصداق اول سورة والا آیت دې او د بعض نه معلومیږی چه د دې مصداق د سورة آخری آیت دې، خو د جابر رضی الله عنه د حال مناسب چونکه هغه کلاله وو قول ثانی دې، حافظ رحمه الله فرمائی چه ابن العربی په دې سلسله کښې خپل شک ښکاره کولو سره آیت میراث ته ترجیح ورکړې ده یعنی ﴿ یوصیکم الله ﴾ بیا وړاندې حافظ خپله رائې لیکلې ده چه اولی دا ده چه داسې اوئیلې شی چه د جابر رضی الله عنه په قصه کښې د آیة الصیف نزول اوشو ﴿ یستفتونک قل الله یفتیکم فی الکلالة ﴾ او هم دغه شان

آیة المیراث د (یوصیکم الله) آخری تکره چه په هغې کښې د کلاله ذکر مجملا دې دا دواړه خو د جابر رضی الله عنه په قصه کښې نازل شو او د آیت میراث د شروع حصه دا د سعد بن الربیع د دوه ځامنو په قصه کښې نازل شوه (من البذل) زه وایم د سعد بن الربیع متعلق آیت په را روان باب کښې راځی چه په هغې کښې داسې دی ﴿ عن جابر رضی الله عنه قال خرجنا مع رسول الله صلی الله علیه وسلم جئنا امرأة من الانصار فجاءت المرأة بابنتین فقالت یا رسول الله صلی الله علیه وسلم هاتان بنتا ثابت بن قیس (قال ابوداؤد : اخطاء بشر فیه انما هما ابنتا سعد بن الربیع) وافی اخره وقال نزلت سورة النساء یوصیکم الله فی اولادکم الایة (الحدیث) (والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة. قاله المنذری)

بَابُ مَنْ كَانَ لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ وَلَهُ أَخَوَاتٌ[1]

بیان دهغه چا چه صرف خوندې ئې وي او ځامن ئې نه وی

په دې باب کښې مصنف رحمه الله د جابر رضی الله عنه حدیث ذکر کړو، ځکه چه په جابر رضی الله عنه باندې دا روایت صادق راځی ﴿ لیس له ولد وله اخوات ﴾ او ﴿ من لیس له ولد ﴾ هم دا کلاله دې (په یو قول باندې) لهذا ړومبې باب او دا باب دواړه د کلاله سره متعلق دی، فالفرق بین الترجمتین بقوله ههنا وله اخوات، وهذا لیس بملحوظ فی الترجمة السابقة.

[۲۸۸۷] ([2]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا كَثِيرُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ يَعْنِي الدَّسْتُوَائِيَّ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: اشْتَكَيْتُ وَعِنْدِي سَبْعُ أَخَوَاتٍ فَدَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَفَخَ فِي وَجْهِي فَأَفَقْتُ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَا أُوصِي لِأَخَوَاتِي بِالثُّلُثِ، قَالَ: أَحْسِنْ، قُلْتُ الشَّطْرَ، قَالَ: أَحْسِنْ، ثُمَّ خَرَجَ وَتَرَكَنِي فَقَالَ: يَا جَابِرُ لَا أُرَاكَ مَيِّتًا مِنْ وَجَعِكَ هَذَا، وَإِنَّ اللَّهَ قَدْ أَنْزَلَ فَبَيَّنَ الَّذِي لِأَخَوَاتِكَ فَجَعَلَ لَهُنَّ الثُّلُثَيْنِ، قَالَ: فَكَانَ جَابِرٌ يَقُولُ: أُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فِيَّ يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ سورة النساء آية ۱۷۶.

دجابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زه مریض شوم اوزماسره اوه خویندې وې نونبی علیه السلام زما خواته راغې اوزما مخ ته ئې پوکې اوکړو نو زه په هوش کښې شوم ما اووئیل اې دالله رسوله ایادخپلوخویندودپاره دخپل مال په دریمه حصه باندې وصیت اونکړم؟ راته ئې اوفرمائیل نیکي کوه ماووئیل ایا په نیم مال باندې وصیت اونکړم نبی علیه السلام اوفرمائیل نیکي کوه بیانبی علیه السلام روان شو اوزه ئې پریخودم اووئې فرمائیل اې جابره زماداخیال ئې

---

[1]) تنبیه: مونږ د دې او د تیر شوی باب ترمینځه د تکرار نه د بچ کیدو دپاره فرق اګر چه ښکاره کړد خو دا باب په بعض نسخو کښې بالکل شته دې نه، بلکه د تیر شوی باب د لاندې ځلور احادیث ذکر کړې شوی دی. ۱: حدثنا احمد بن حنبل ۲: حدثنا عثمان بن ابي شيبة ۳: مسلم بن ابراهيم ٤: حدثنا منصور بن ابي مزاحم.... کومې زمونږ د دې ترجمه ثانیه د لاندې راروان دی، او ځلور واړه روایات د ترجمة الباب مطابق دی. دویم اختلاف د نسخو دلته دا دې چه زمونږ په نسخه کښې د ترجمه ثانیه د لاندې چه کوم دریم حدیث دې حدثنا موسى بن اسمعيل او څلورم حدثنا مسدد او پنځم حدثنا ابن السرح، په بعض نسخو کښې دا حدیث په راتلونکی باب یعنی ﴿ باب ما جاء في ميراث الصلب ﴾ د لاندې ذکر کړې شوې دې او کیدل هم داسې پکار دی چه ددې درې واړه روایتونو زمونږ د ترجمة الباب (من كان ليس له ولد وله اخوات) سره هیڅ مناسبت نشته بلکه د هغې منافی دی)

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۹۷۷)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري (٦٣٢٥)، مسند احمد (۳۷۲/۳) (صحيح)

چه ته ددی بیماری نه نه مري او الله تعالی خپل کلام نازل کړې دې اوستا دخویندو حصه ئې ښودلي ده ددې دپاره ئې په درې حصو کښې دوه مقررکړی دی راوي وائی چه جابره به وئیل دا ایت کریمه: «یستفتونك قل الله یفتیکم في الکلالة» زما په باره کښې نازل شوې دې.

﴿ عن جابر رضي الله عنه قالت اشتکیت وعند سبع اخوات............ الا اوصی لاخواتی بالثلثین؟ قال احسن قلت الشطر؟ قال احسن ﴾

شرح الحدیث:

د حدیث د ظاهری الفاظو نه معلومیږی چه جابر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه آیا زه د خپلو خویندو دپاره د دوو ثلثو وصیت اوکړم؟ په دې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه نه بلکه د خپلو خویندو سره احسان اوکړه. هغوی عرض اوکړو چه د نصف وصیت اوکړم؟ رسول الله ﷺ بیا هم هغه شان اوفرمائیل..... احسن...... په دې حدیث باندې په بادی الرائ کښې دوه اعتراضات کیږی اول دا چه د اخواتو دپاره وصیت چرته جائز دې هغوی خو وارثانې دی او د وارث دپاره وصیت نشته، دویم دا چه هغوی خو د ثلثینو د وصیت اجازت غوښتلو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ احسن الی الاخوات ﴾ په دې باندې هغوی د نصف د وصیت اجازت طلب کړو، په دې کښې احسان الی الاخوات کوم ځائې دې په دې کښې خو نور هم نقصان موندلې کیږی، د دې اشکال جواب دا دې چه اګر چه په باب د وصیت کښې لام په موصی له باندې داخلیږی خو دلته په ﴿ لاخواتی ﴾ کښې لام د صلې نه دې او په موصی له باندې نه دې داخل بلکه دا لام اجلیه دې یعنی ﴿ لاجل اخواتی ﴾، او مطلب دا دې چه زه چه تاسو نه د وصیت اجازت طلب کوم هغه د اخوات د موجود کیدو د وجې نه دې چونکه زما په وارثانو کښې زما خویندې موجود دی نو آیا د دوی په موجودګئ کښې د ثلثین وصیت کولې شم، ﴿ فزال الاشکال بحذافیره کذا سمعنا من الاساتذه ﴾ بیا په وړاندې روایت کښې دی : چه رسول الله ﷺ جابر رضي الله عنه ته اوفرمائیل زما دا خیال دې چه ته به په دې مرض کښې نه وفات کیږې.

تنبیه: د جابر رضي الله عنه کلاله کیدل او بیا د محدثینو د هغوی روایت لره په باب الکلالة کښې ذکر کول د هغوی د هغه موجوده حالت په اعتبار سره دې کوم چه د سوال په وخت وو ګینې چه روستو کله هغوی د دې مرض نه روغ شو نو وادهٔ ئې اوکړو او اولاد ئې اوشو او تر ډیرې زمانې پورې ژوندې وو تردې چه په ۷۳ هجرئ کښې وفات شو هغه وخت د هغوی عمر څلور نوی (۹۴) کلونه وو وهو آخر من مات بالمدینة من الصحابة (کذا فی التهذیب) والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

[۲۸۸۸] () حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: آخِرُ آيَةٍ نَزَلَتْ فِي الْكَلَالَةِ يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ سورة النساء آیة ۱۷۶.

دبراء بن عازب نه روایت دې دکلاله په باره کښې چه کوم اخری آیت نازل شوې دې هغه

[۱]: صحیح البخاري/المغازي ٦٦ (٤٣٦٤)، والتفسیر ٢٧ (٤٦٠٥)، ٣ (٤٦٥٦)، والفرائض ١٤ (٦٧٤٤)، صحیح مسلم/الفرائض ٣ (١٦١٨)، (تحفة الأشراف: ١٨٧٠)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/تفسیر سورة النساء ٢٧ (٤٣٤٦) (صحیح)

دادي: «يستفتونك قل الله يفتيكم في الكلالة»)

﴿عن البراء بن عازب رضى الله تعالى عنه قال: اخر آيت نزلت فى الكلالة الخ﴾

نزلت...... د آيت صفت دې، يعنى آخرى آيت كريمه كوم چه د كلاله په باره كښې نازل شو هغه ﴿يستفتونک الخ﴾ دې، هم دې آيت كريمه ته آية الصيف وئيلې شى او كوم چه د سورة النساء په شروع كښې دې هغې ته آيت الشتاء وئيلې شى.

والحديث اخرجه البخارى ومسلم والنسائى قاله المنذرى

[٢٨٩٣](١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، حَدَّثَنِي أَبُو حَسَّانَ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ، أَنَّ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ، وَرَّثَ أُخْتًا وَابْنَةً فَجَعَلَ لِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا النِّصْفَ، وَهُوَ بِالْيَمَنِ وَنَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ حَيٌّ.

داسودبن يزيد رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه معاذبن - جبله خور اولورته ميراث په دې طريقه تقسيم كړو چه نيم مال ئې لور ته ملاؤ شو او نيم ئې خور ته، ځكه چه خور د لور سره عصبه جوړيږى، (اوهغه په يمن كښې وو، او د الله نبى ﷺ دغه وخت ژوندې وو.

[٢٨٩١](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى جِئْنَا امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ فِي الْأَسْوَاقِ فَجَاءَتِ الْمَرْأَةُ بِابْنَتَيْنِ لَهَا، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ هَاتَانِ بِنْتَا ثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ، قُتِلَ مَعَكَ يَوْمَ أُحُدٍ وَقَدِ اسْتَفَاءَ عَمُّهُمَا مَالَهُمَا وَمِيرَاثَهُمَا كُلَّهُ فَلَمْ يَدَعْ لَهُمَا مَالًا إِلَّا أَخَذَهُ، فَمَا تَرَى يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ فَوَاللَّهِ لَا تُنْكَحَانِ أَبَدًا إِلَّا وَلَهُمَا مَالٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَقْضِي اللَّهُ فِي ذَلِكَ" قَالَ: وَنَزَلَتْ سُورَةُ النِّسَاءِ يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ سورة النساء آية ١١ الْآيَةَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ادْعُوا لِي الْمَرْأَةَ وَصَاحِبَهَا، فَقَالَ: لِعَمِّهِمَا أَعْطِهِمَا الثُّلُثَيْنِ، وَأَعْطِ أُمَّهُمَا الثُّمُنَ، وَمَا بَقِيَ فَلَكَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: أَخْطَأَ بِشْرٌ فِيهِ إِنَّمَا هُمَا ابْنَتَا سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ، وَثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ قُتِلَ يَوْمَ الْيَمَامَةِ.

دجابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه يوځل مونږد نبى عليه السلام په ملګرتيا كښې روان وو تردې چه په اسواق مقام كښې د يوې ښځې سره ملا وشوهغې خپلې دوه لونړه راوستې اوعرض ئې وكړوچه اې دالله رسوله داد ثابت بن قيس لونړه دي كوم چه ستاسره په غزوه احد كښې شهيد شوي وو ددوى تره ددوى نه ټول مال اور اسباب اوتروړل او دوى ته ئې هيڅ پرې نخودل اوس ستاسويدې باره كښې څه راې ده؟ په الله قسم ددوى ودونه هم نه شى. كيدې ترڅوچه ددوى سره مال نه وى نبى عليه - السلام اوفرمائيل چه الله تعالى به ددې فيصله اوكړي ددې نه پس دا ايت كريمه: «يوصيكم الله في أولادكم» نازل شو، نبى عليه السلام دابنځه او ددې ليور راوغوښتونبى عليه السلام ددغه جينكوتره ته اورفرمائيل چه دوى ته په تركه كښې دوه ثلثه وركړه او مورته ئې اتمه حصه وركړه اوكوم چه پاتې شي هغه ته واخله، ابوداود وائى چه دبشرنه په روايت كښې غلطي شوي ده په اصل كښې دغه جينكۍ دسعد بن ربيع لونړه وي اوثابت بن قيس په غزوه يمامه كښې شهيد شوې وو.

(١): صحيح البخاري/الفرائض ٦، ١٢ (٦٧٣٤)، (تحفة الأشراف: ١١٣٠٧)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الفرائض ٤ (٢٩٢١) (صحيح)

(٢): سنن الترمذي/الفرائض ٣ (٢٠٩٢)، سنن ابن ماجه/الفرائض ٢ (٢٧٢٠)، (تحفة الأشراف: ٢٣٦٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٥٢) (حسن)

﴿ فجاءت المراة بابنتين لها فقالت يا رسول اللهﷺ ﴾

د دې روايت ذکر مونږ سره په شروع کښې راغلې دې، مضمون د حديث دا دې چه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې د سعد بن الربيع بی بی خپلې دوه لونړه پيش کړې او عرض ئې اوکړو چه دا دواړه د سعد بن الربيع لونړه دی چه هغه تاسوﷺ سره په جنګ احد کښې وو او شهيد شوې وو، ددوی دواړو تره ددوی ټول مال او ميراث په قبضه کښې واخستلو، اوس څه اوکړې شی، بغير د مال نه به د دوی نکاح څنګه کولې شی رسول اللهﷺ د هغه زنانه خبره اوريدو سره اوفرمائيل چه الله پاک به د دې په باره کښې څه فيصله اوفرمائی. په دې باندې بيا د ميراث آيت ﴿ يوصيكم الله فى اولادكم ﴾ نازل شو، د دې آيت کريمه د نزول نه پس رسول اللهﷺ هغه زنانه لره او د هغې صاحب معامله راوغوښتل، او د هغوی د راتلو نه پس هغوی د هغه جينکو ترۀ ته اوفرمائيل چه دوه ثلث د ميراث دې دواړو ته ورکړه او ثمن د هغوی مور ته، چه څه پاتې شی هغه ستا دی. والحديث اخرجه الترمذی. قاله المنذری.

[۲۸۹۲]([1]) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنِي دَاوُدُ بْنُ قَيْسٍ وَغَيْرُهُ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ امْرَأَةَ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ سَعْدًا هَلَكَ وَتَرَكَ ابْنَتَيْنِ وَسَاقَ نَحْوَهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا هُوَ أَصَحُّ.

دجابر بن عبدالله نه روايت دې فرمائي چه دسعدبن ربيع ښځه دنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضره شوه اوعرض ئې وکړو اې دالله رسوله سعد وفات شوې دې او دوه لونړه ئې پاتې شوې دې، اوباقی حديث ئې د تير حديث په شان بيان کړو. ابوداود وائی دا روايت کامل اودرست دې-

[۲۸۸۹]([2]) حَدَّثَنَا مَنْصُورُ بْنُ أَبِي مُزَاحِمٍ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ يَسْتَفْتُونَكَ فِي الْكَلَالَةِ، فَمَا الْكَلَالَةُ؟ قَالَ: "تُجْزِيكَ آيَةُ الصَّيْفِ"، فَقُلْتُ لِأَبِي إِسْحَاقَ: هُوَ مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَدَعْ وَلَدًا وَلَا وَالِدًا، قَالَ: كَذَلِكَ ظَنُّوا أَنَّهُ كَذَلِكَ.

دبراء بن عازب رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی تونك يوكس د نبی عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې اوکړو اې دالله رسوله په «يستفتونك في الكلالة» کښې دکلاله نه څه مراد دې؟ نبی عليه السلام اوفرمائيل ستادپاره هغه ايت کافی دې کوم چه ګرمئ کښې نازل شوې دې يعنی دسورۀ نساء ابتدائي ايت، راوي وائی ما ابواسحق ته اووئيل ايا کلاله هغه دې د چا د مرګ نه پس چه نه پلار وي اونه خوي نوونې فرمائيل هو، د خلقو هم داسې ګمان دې چه هغه دغسې وه.

قوله: ﴿ حدثنا منصور بن ابى مزاحم...... عن البراء بن عازب رضی الله عنه قال جآء رجل الى النبیﷺ الخ﴾: خطابی فرمائی چه الله پاک د کلاله په باره کښې دوه آيتونه نازل کړل يو د يخنئ په زمانه کښې او دا هغه آيت کريمه دې کوم چه د سورۀ النساء په شروع کښې دې چه په هغې کښې

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۲۳٦۵) (حسن)

[2]: صحيح مسلم/الفرائض ۲ عن عمر (۱٦۱۷)، سنن الترمذي/تفسير سورة النساء ۲۷ (۳۰٤۲)، (تحفة الأشراف: ۱۹۰٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۹۳/٤، ۲۹۵، ۳۰۱) (صحيح)

اجمال او ابهام دې بيا ئې دويم آيت كريمه نازل اوفرمائيلو د ګرمئ په زمانه كښې او دا هغه دې چه د سورة النساء په آخر كښې دې چه په هغې كښې تفصيل او وضاحت دې په دې وجه رسول الله ﷺ دې سائل ته هم د دې آية الصيف حواله وركړه چه هغه اولوله ستا دپاره به كافي شي.

بَابُ مَا جَاءَ فِي مِيرَاثِ الصُّلْبِ

باب: د صلبي (حقيقي) اولاد د ميراث بيان

[۲۸۹۰](¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَامِرِ بْنِ زُرَارَةَ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي قَيْسٍ الْأَوْدِيِّ، عَنْ هُزَيْلِ بْنِ شُرَحْبِيلَ الْأَوْدِيِّ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، وَسَلْمَانَ بْنِ رَبِيعَةَ فَسَأَلَهُمَا، عَنِ ابْنَةٍ وَابْنَةِ ابْنٍ، وأخت لأب وأم، فقالا لابنته النصف، وللأخت من الأب، والأم النصف، ولم يورثا ابنة الابن شيئا، وأت ابن مسعود فإنه سيتابعنا فأتاه الرجل فسأله وأخبره بقولهما، فقال لقد ضللت إذا وما أنا وَلَكِنِّي سَأَقْضِي فِيهَا بِقَضَاءِ مِنَ الْمُهْتَدِينَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِابْنَتِهِ النِّصْفُ، وَلِابْنَةِ الِابْنِ سَهْمٌ تَكْمِلَةَ الثُّلُثَيْنِ، وَمَا بَقِيَ فَلِلْأُخْتِ مِنَ الْأَبِ وَالْأُمِّ.

دهزيل بن شرحبيل اودي نه روايت دې فرمائي چه يوكس ابوموسى اشعرى او سلمان بن ربيعه ته راغې اوتپوس ئې اوكړو په باره د يوې لور اوبوې نوسئ اودخورزې نو دوى دواړو ورته اووئيل چه دلوردپاره نيم مال دې اودخور دپاره نيم دې اودنوسئ هيڅ ميراث نشته او ورته ئې اووئيل ابن مسعود ته هم ورشه هغه به درته هم داسې فتوي دركوي نوهغه سړې ابن مسعوديه ته ورغې هغه ورته اووئيل كه چرې زه درته هم داسې جواب دركړم نوګمراه به شم اوپه هدايت به قائم پاتې نه شم ليكن ددې مسئلې متعلق به زه تاته هغه فتوي دركوم كوم چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى اوهغه داده چه دلور دپاره نيم اودنوسئ دپاره شپږمه حصه دثلثينوپه مقداربايدې اوكوم چه پاتې شي هغه دحقيقي خورحصه ده ابوموسى وه چه دا واوريدل نوونې فرمائيل ترڅوچه دغه عالم په تاسوكښې موجود وي نو زمونږ نه دمسئلوتپوس مه كوئ بلكه ددوى په فتوي باندې عمل كوئ.

مضمون الحديث:

يو سړې ابو موسى اشعرى رضي الله عنه ته كوم چه هغه وخت د عثمان رضي الله عنه د طرف نه د كوفې امير وو او د سلمان ربيعه سره (چه د كوفې قاضي وو) راغلو او هغه د دې دواړو ه د فرائضو دا مسئله اوتپوسله چه يو سړې وفات شو او هغه يوه لور او يو نمسئ او يو حقيقي خور پريخودله دې دواړو دا فيصله اوفرمائيله چه نيم ميراث د لور دپاره دې ﴿ لقوله تعالى ان كانت واحدة فلها النصف ﴾ او نيمه د خور دپاره او نمسئ ته ئې هيڅ هم ورنكړل او هغه دواړو هغه سائل ته دا هم اوفرمائيل چه ابن مسعود رضي الله عنه ته هم لاړ شه هغه به هم د دې مسئلې موافقت فرمائي، دا سائل د هغوى خدمت ته راغلو او د هغوى دواړو فيصله ئې ورته واوروله، هغوى اوفرمائيل ﴿ لقد ضللت اذا وما انا من المهتدين ﴾ چه كه زه فيصله

¹): صحيح البخاري/الفرائض ٨ (٦٧٣٦)، سنن الترمذي/الفرائض ٤ (٢٠٩٣)، سنن ابن ماجه/الفرائض ٢ (٢٧٢١)، (تحفة الأشراف: ٩٥٩٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٨٩، ٤٢٨، ٤٤٠، ٤٦٣)، سنن الدارمي/الفرائض ٧ (٢٩٣٢) (صحيح)

اوکړم نو زه به د نیغې لارې نه ګمراه شم، او بیا هغوی فیصله دا اوکړه چه نیمه د لور دپاره ده او شپږمه حصه د نمسئ دپاره ﴿ تکملة للثلثين ﴾ او باقي یعنی ثلث د خور دپاره.

د ﴿ تکملة الثلثين ﴾ مطلب باندې سراجی لوستونکی (طالبان) پوهیږی چه د هغې حاصل دا دې چه په قرآن کریم کښې تصریح ده د دې خبرې چه که لور یوه وی نو د هغې دپاره نیم دې او که د یوې نه زیاتې وی نو بیا د هغوی حصه دوه ثلثه ده ﴿ لقوله تعالى فان كن نساء فوق اثنتين فلهن ثلثا ما ترك ﴾ دلته چونکه بنت یوه وه د کتاب الله د تصریح مطابق نصف خو د هغې شو او چونکه بنت الابن هم بنت ده خو لږه بعیده په دې وجه بنت ته د نصف ورکولو نه پس په ثلثین کښې چه کوم سدس باقی پاتې شوې وو هغه د دویمې درجې بنت ته ورکړې شو چه د مجموعه بنات حصه پوره دوه ثلثه شی او د دواړو آیتونو په مضمون باندې عمل راشی. هم دا مطلب دې د﴿ تکملة للثلثين﴾. والحديث اخرجه البخاری والترمذی والنسائی وابن ماجة بنحوه، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْجَدَّةِ

باب د نیا (د مور مور، یا د پلار مور) د میراث بیان

د جده نه مراد دلته د پلار مور او د مور مور دواړه مراد دی ځکه چه دواړه ذوی الفروض دی او د دواړو حصه هم یوه ده یعنی سدس، یعنی که په دواړو کښې یوه وی نو ځانله به شپږمه حصه اخلی او که دواړه وی نو په شپږمه حصه کښې به دواړه شریکې وی لکه چه په حدیث الباب کښې دی.

[۲۸۹۴] (¹)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ خَرَشَةَ، عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ ذُؤَيْبٍ، أَنَّهُ قَالَ: جَاءَتِ الْجَدَّةُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا، فَقَالَ: مَا لَكِ فِي كِتَابِ اللَّهِ تَعَالَى شَيْءٌ، وَمَا عَلِمْتُ لَكِ فِي سُنَّةِ نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا، فَارْجِعِي حَتَّى أَسْأَلَ النَّاسَ، فَسَأَلَ النَّاسَ، فَقَالَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ: حَضَرْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَاهَا السُّدُسَ، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: هَلْ مَعَكَ غَيْرُكَ؟، فَقَامَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ فَقَالَ: مِثْلَ مَا قَالَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ فَأَنْفَذَهُ لَهَا أَبُو بَكْرٍ، ثُمَّ جَاءَتِ الْجَدَّةُ الْأُخْرَى إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا، فَقَالَ: مَا لَكِ فِي كِتَابِ اللَّهِ تَعَالَى شَيْءٌ، وَمَا كَانَ الْقَضَاءُ الَّذِي قُضِيَ بِهِ إِلَّا لِغَيْرِكِ، وَمَا أَنَا بِزَائِدٍ فِي الْفَرَائِضِ، وَلَكِنْ هُوَ ذَلِكَ السُّدُسُ فَإِنِ اجْتَمَعْتُمَا فِيهِ فَهُوَ بَيْنَكُمَا وَأَيَّتُكُمَا خَلَتْ بِهِ فَهُوَ لَهَا.

قبیصه بن ذویب وائی چه د مړی نیا (د مور مور) ابوبکر صدیق ﷺ ته په میراث کښې دخپلې حصې معلومات دپاره راغله، نو هغوی اووئیل د الله تعالی په کتاب (قرآن پاک) کښې ستا هیڅ حصه نشته، او ماته د نبی کریم ﷺ په سنت کښې هم ستا دپاره راته څه معلوم نه دی، ته لاړه شه زه به دخلقو نه تپوس کولو سره معلومه کړم تاته به اووائم، بیا هغوی دخلقو نه تپوس اوکړو نو مغیره بن شعبه ﷺ اووئیل چه زه د رسول الله ﷺ سره وم، هغوی ﷺ هغې ته شپږمه حصه ورکړې وه، په دې باندې ابوبکر ﷺ اووئیل: آیا تاسره بل هم څوک شته (چه هغه ددې معاملې نه خبروی)؟ نو محمد بن سلمه ﷺ پاسیدو او

¹: سنن الترمذي/الفرائض ۱۰ (۲۱۰۱)، سنن ابن ماجه/الفرائض ٤ (۲۷۲٤)، (تحفة الأشراف: ۱۱۲۳۲، ۱۱۵۲۲)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/ الفرائض ۸ (٤)، مسند احمد (۲۲۵/٤) (ضعيف)

هغوی هم دغه خبره اوکړه کومه چه مغیره ﷺ کړې وه، نو ابوبکر ﷺ دهغې دپاره دا خبره نافذ کړه، بیا د عمر ﷺ په خلافت کښې نیا (د پلار مور) عمر ﷺ ته راغله خپل میراث ئې غوښتلو، عمر ﷺ اووئیل: د الله په کتاب (قرآن) کښې ستا د حصې ذکر نشته او مخکښې (د رسول الله ﷺ او ابوبکر ﷺ په زمانه کښې) چه کوم حکم شوې دې هغه د نیا (د مور مور) په معامله کښې شوې دې، زه دخپل طرفه په فرائضو (دمیراث په حصو) کښې څه نه شم زیاتولې، لیکن هم هغه شپږمه حصه ته هم واخله. که نیا (د مورمور) ئې هم وی نو تاسو دواړه (شپږمه حصه) تقسیم کړئ، او کومه یوه چه په تاسو کښې یواځې وی (یعنی صرف د مور مور وی یا صرف د پلار مور وی) نو هغې دپاره هم دغه شپږمه حصه ده.

توضیح الحدیث

په دې ځان پوهول پکار دی چه ذوی الفروض یعنی هغه وارثان چه د هغوی حصې متعین دی هغوی دوه قسمونه دی اکثر خو هغه دی چه د هغوی د حصې وضاحت په کتاب الله کښې دې او بعض داسې دی چه د هغوی فرض او حصه د کتاب الله نه نۀ ده ثابته بلکه په حدیث کښې ده پس جده که ام الاب وی او که ام الام هم په دې دویم قسم کښې دی، پس په حدیث الباب کښې دی چه د یو مړی نیا د صدیق اکبر ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه د خپل میراث د طلب کولو دپاره، نو هغوی اوفرمائیل ﴿ ما لک فی کتاب الله شئ ﴾ یعنی په کتاب الله کښې ستا دپاره هیڅ حصه نه ده ذکر شوې او د یو حدیث نه هم ستا حصه ثابت ده که نه، دا زما په علم کښې نشته، خو زه به د دې په باره کښې د خلقو نه معلومات اوکړم، د هغوی په سوال کولو باندې مغیره بن شعبه ﷺ عرض اوکړو چه زما مخکښې رسول الله ﷺ نیا ته شپږمه حصه ورکړې ده، او محمد بن مسلمه ﷺ هم د هغوی تائید اوفرمائیلو د دې دواړو صحابه کرامو په روایت باندې ابوبکرصدیق ﷺ د دې حصې نفاذ اوفرمائیلو بیا وړاندې په روایت کښې دی چه بیا د عمر ﷺ په زمانه کښې هم د دې مړی آخری جده راغله او خپل میراث ئې طلب کړو نو هغوی اوفرمائیل چه د جده صرف یو سدس دې که هغه ځانله وی نو ځانله دې واخلی، او که دوه وی (ام الاب او ام الام) نو هغه به پکښې مشترک وی.

د جده اطلاق چونکه په دواړو نیاګانو باندې کیږی او دواړو حکم هم یو دې په دې وجه دا به وئیلې شی چه که صدیق اکبر ﷺ ته راتلونکې د دې مړی ام الاب وه نو فاروق اعظم ﷺ ته راتلونکې به د هغه ام الام وی، او کیدې شی چه د دې عکس وی. والله تعالی اعلم والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة. قاله المنذری

[۲۸۹٥](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رِزْمَةَ، أَخْبَرَنِي أَبِي، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ أَبُو الْمُنِيبِ الْعَتَكِيُّ، عَنْ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "جَعَلَ لِلْجَدَّةِ السُّدُسَ إِذَا لَمْ يَكُنْ دُونَهَا أُمٌّ".

دبریده ځوې دخپل پلارنه روایت کوی چه نبی ﷺ دنیادپاره شپږمه حصه مقرر کړې ده

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۸٥) (ضعیف)

خوکله چه ددې دپاسه مور نه وي.

بَابُ مَا جَاءَ فِي مِيرَاثِ الْجَدِّ

د نیکه د میراث بیان

د جد نه مراد ابوالاب چه په ذوی الفروض کښې دې خو بالسنة نه بالکتاب، او د جد نه مراد ابوالام نه شی کیدې چه هغه ته جد فاسد وئیلې شی ځکه چه هغه په ذوی الارحام کښې دې چه د هغه په وارث جوړیدو کښې اختلاف دې او د هغه باب وړاندې را روان دې، د نیکهٔ میراث د نیا په شان سدس دې.

[۲۸۹۶]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "إِنَّ ابْنَ ابْنِي مَاتَ فَمَا لِي مِنْ مِيرَاثِهِ، فَقَالَ: لَكَ السُّدُسُ فَلَمَّا أَدْبَرَ دَعَاهُ، فَقَالَ: لَكَ سُدُسٌ آخَرُ فَلَمَّا أَدْبَرَ دَعَاهُ، فَقَالَ: إِنَّ السُّدُسَ الْآخَرَ طُعْمَةٌ، قَالَ قَتَادَةُ: فَلَا يَدْرُونَ مَعَ أَيِّ شَيْءٍ وَرَّثَهُ قَالَ قَتَادَةُ: أَقَلُّ شَيْءٍ وَرِثَ الْجَدُّ السُّدُسُ".

دعمران بن حصین رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یوسړې دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې اوکړو چه زما نمسې وفات شوې دې ایاز مادپاره دهغه په مال کښې څه حصه شته نبی علیه السلام اوفرمائیل ستاد پاره شپږمه حصه ده، هرکله چه روان شو نوواپس ئې راوغوښتو ورته ئې اوفرمائیل ستادپاره بل ثلث هم دې، هرکله چه دې بیاروان شو نوواپس ئې راوغوښتو ورته ئې اوفرمائیل ستاد پاره بل ثلث تحفه ده قتاده وائی پته نه لګي چه په څه وجه ئې نیکه ته شپږمه حصه ورکړی ده قتاده وائی چه دنیکه په میراث کښې کم ازکم شپږمه حصه ده.

﴿عن عمران بن حصین رضی الله عنه ان رجلا اتی النبی صلی الله علیه وسلم الخ﴾

مضمون الحدیث:

یو سړې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو، یعنی د مړ کیدونکی نیکهٔ، هغه عرض اوکړو چه زما نمسئ مړ شوې دې ما ته به د هغه څومره میراث ملاویږی، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل سدس، چه کله هغه روان شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه راطلب کړو او وې فرمائیل ستا دپاره یو سدس بل دې، بیا چه کله هغه روان شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته آواز اوکړو او وې فرمائیل چه دا دویم سدس ستا د معین حصې نه زیات دې

د نیکهٔ اصل حصه یعنی فرض خو سدس دې، او دلته سدس آخر چه کوم هغه ته ملاؤ شو هغه د تعصیب په طور باندې دې چه د هغې به په ظاهره شکل داسې وی چه مړ کیدونکی خپل نیکه پریخودلو او لونړو لره، د بنتین فرض دوه ثلثه دې نو باقی په یو ثلث کښې نصف یعنی سدس دا د نیکهٔ حصه وه هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته ورکړه، او بیا چه کوم سدس بچ شو هغه هم روسل الله صلی الله علیه وسلم هغه ته ورکړه، او په شروع کښې ورته پوره ثلث ځکه ورنکړه چه هغه ته معلومه وی چه زما اصل فرض یو سدس دې.

[1]: سنن الترمذي/الفرائض ۹(۲۰۹۹)، (تحفة الأشراف: ۱۰۸۰۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۴۲۸، ۴۳۶) (ضعیف)

والحديث اخرجه الترمذي والنسائي، قاله المنذري.

[۲۸۹۷]() حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ يُونُسَ، عَنْ الْحَسَنِ، أَنَّ عُمَرَ قَالَ: "أَيُّكُمْ يَعْلَمُ مَا وَرَّثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجَدَّ، فَقَالَ مَعْقِلُ بْنُ يَسَارٍ: أَنَا وَرَّثَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السُّدُسَ قَالَ: مَعَ مَنْ؟ قَالَ: لَا أَدْرِي، قَالَ: لَا دَرَيْتَ فَمَا تُغْنِي إِذًا؟".

دعمر رضي الله عنه نه روايت دې چه وئې فرمائيل په تاسو کښې چاته معلومه ده چه نبی عليه السلام نيکه ته څومره ميراث ورکړې دې نو معقل بن يسار رضي الله عنه اووئيل ماته، نبی عليه السلام ورته شپږمه حصه ورکړې وه عمر رضي الله عنه ورته اووئيل دکوم وارث سره؟ معقل اووئيل پته نشته، عمر رضي الله عنه اووئيل چه ته په څه پوهيږې او ددې پوهيدلو څه فائده ده؟

﴿عن الحسن ان عمر رضي الله عنه قال ايكم يعلم ما ورث رسول الله ﷺ الجد الخ﴾

مضمون الحديث:

عمر رضي الله عنه يو ځل د حاضرين مجلس نه تپوس اوکړو چه په تاسو کښې چاته دا معلومه ده چه رسول الله ﷺ د نيکهٔ په ميراث کښې څومره حصه مقرر کړه، په دې باندې معقل بن يسار رضي الله عنه عرض اوکړو چه ماته معلومه ده چه رسول الله ﷺ د نيکهٔ حصه سدس لګولې ده، عمر رضي الله عنه تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ نيکه ته سدس د کومو وارثانو په موجودګئ کښې ورکړو؟ په دې باندې معقل رضي الله عنه اووې چه دا خو ماته نه ده معلومه، عمر رضي الله عنه اوفرمائيل بيا تاته د دې هيڅ علم نشته، صرف دومره معلومول چه شپږمه ئې ورکړه دا مفيده نه ده، او دا په دې وجه چه په ميراث کښې ذوی الفروض ته د اصل حصې نه علاوه په بعض صورتونو کښې د عصبه کيدو په حيثيت سره څه زياتی هم ملاويږی لکه چه اوس پورته حديث کښې تير شو، نو ترڅو چه د ټولو وارثانو علم نه وی تر هغه وخته پورې خبره نه شی منقح کيدې.

په دې ځان پوهول پکار دی چه په ميراث الجد کښې يعنی د هغې په مقدار کښې د صحابه کرامو رضي الله عنهم اختلاف پاتې شوې دې، خپله د عمر رضي الله عنه نه هم په دې کښې مختلفې فيصلې نقل کړې شوې دی، په ابوداؤد کښې د کتاب الاشربة په شروع کښې د عمر رضي الله عنه دا حديث را روان دې، ﴿ثلث وددت ان النبی ﷺ لم يفارقنا حتى يعهد الينا فيهن عهدا ننتهی اليه الجد والكلالة وابواب من ابواب الربا﴾ (ينظر البذل ۴/۳۳۹)

والحديث اخرجه النسائي، وابن ماجة بنحوه، قاله المنذري.

بَابٌ فِي مِيرَاثِ الْعَصَبَةِ

دعصباتو د ميراث بيان

ځان پوهول پکار دی چه د وراثت په اعتبار سره د وارثانو ترمينځه ترتيب داسې دې، اول ذوی الفروض، بيا العصبات النسبية، بيا العصبات السببية، يعنی مولى العتاقة ځکه چه د وی عصبيت دنسب دوجې نه نه دې بلکه ديوبل سبب د وجې نه دې يعنی عتاق ثم ذوی الارحام.

[1]: سنن النسائي/ الكبرى (۶۳۳۵)، سنن ابن ماجه/الفرائض ۳ (۲۷۲۳)، (تحفة الأشراف: ۱۱۴۶۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۷/۵) (صحيح)

عصبه هغه رشته دارو ته وائي چه د هغوی حصه ترلې شوې او متعین نه وی. (که وی نو هغوی ته ذوی الفروض وائي بلکه ذوی الفرض ته د ورکړې نه پس چه څه بچ شی هغه دې هغوی ته ورکړې شی.

[۲۸۹۸]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، وَمَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، وَهَذَا حَدِيثُ مَخْلَدٍ، وَهُوَ الْأَشْبَعُ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اقْسِمِ الْمَالَ بَيْنَ أَهْلِ الْفَرَائِضِ عَلَى كِتَابِ اللَّهِ، فَمَا تَرَكَتِ الْفَرَائِضُ فَلِأَوْلَى ذَكَرٍ".

د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی مال په ذوي الفروض باندې تقسیم کړئ د الله د کتاب مطابق، بیا چه د دې نه څه پاتې شي نو هغه چاته ئې ورکړئ څوک چه مړي ته په رشته کښې ډیر نزدې وي

﴿عن ابن عباس رضی الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اقسم المال بين اهل الفرائض على كتاب الله، فما تركت الفرائض فلا ولى ذكر﴾ ([۲])

یعنی میراث دې اول په ذوی الفروض کښې تقسیم کړې شی د کتاب الله مطابق، پس ذوی الفروض ته د هغوی د حصو ورکولو نه پس چه څه پاتې شی هغه د مړی د نزدې رشته دارو دپاره دی، د دې نه مراد عصبه بنفسه دی کوم چه مروی وی، او د اولی معنی د اقرب ده چه اخستلې شوې دې د ﴿ ولی ﴾ نه په معنی د قرب لکه چه د الله پاک قول دې ﴿ان اولى الناس بابرهيم للذين اتبعوه﴾ وقوله علیه السلام ان اولى الناس بى يوم القيامة اكثرهم على صلوة.........

یعنی د اولی نه مراد احق او ارجح نه دې، ځکه چه مونږ ته څه معلومه ده چه احق او ارجح څوک دې، او اقرب د نسب په لحاظ څوک دې دا هر څوک پیژنی. والحديث اخرجه البخارى ومسلم والترمذى والنسائى وابن ماجة بنحوه، قاله المنذرى

بَابٌ فِي مِيرَاثِ ذَوِي الْأَرْحَامِ

د ذوی الارحامو د میراث بیان

د ذوی الارحام تعریف دا لیکلې شوې دې چه د سړی هغه خپلوان چه د ذوی الفروض او عصبات نه علاوه دی.

ترجمة الباب والا مسئله کښې د ائمة اختلاف او دلیل:

ځان پوهول پکار دی چه د ذوی الارحام په توریث کښې اختلاف دې د صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو هم دغه شان د فقهاء کرامو ترمینځه هم، په امامانو کښې احناف او حنابله قائل دی، او شوافع او مالکیان قائل نه دی، وفی البذل ﴿ اما من نفى توريثهم استدل بايات المواريث

[۱]: صحيح البخاري/الفرائض ۵ (۶۷۳۲)، صحيح مسلم/الفرائض ۱ (۱۶۱۵)، سنن الترمذي/الفرائض ۸ (۲۰۹۸)، سنن ابن ماجه/الفرائض ۱۰ (۲۷۴۰)، (تحفة الأشراف: ۵۷۰۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۹۲/۱، ۳۱۳، ۳۲۵)، سنن الدارمي/الفرائض ۲۸ (۳۰۳۰) (صحيح)

[۲]) اي الاقرب في النسب الي المورث دون الابعد فان استووا اشتركوا واقرب العصبات البنون ثم بنوهم وان سفلوا، ثم الاب ثم الجد ابوالاب وان علوا، قال الخطابي اقرب العصبة الي الميت كالاخ والعم فان الاخ اقرب من العم، وكالعم وابن العم، فالاول اقرب من الثاني اهـ (عون المعبود)

بان الله سبحانه لم يذكر لذوى الارحام شيئا وما كان ربک نسيا وايضا توريثهم زيادة على كتاب الله وذلک لا يثبت بحبر الواحد والقياس، الى آخر ما قال ﴾ يعنى په آيتونو د ميراث كښې د ذوى الارحام هيڅ ذكر نشته، لهذا په خبر واحد يا قياس سره په كتاب الله باندې زيادت جائز نه دې، ومن قال بتوريثهم استدل بقوله تعالى واولوا الارحام بعضهم اولى ببعض فى كتاب الله، وهذا اثبات الاستحقاق بالوصف العام، وقال النبى ﷺ الخال وارث من لا وارث له، وفى روايته الخال وارث من لا وارث له، يرثه ويعقل عنه الى آخر ما بسط فى البذل.

[۲۸۹۹]() حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ بُدَيْلٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ رَاشِدِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِي عَامِرٍ الْهَوْزَنِيِّ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ لُحَيٍّ، عَنِ الْمِقْدَامِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَرَكَ كَلًّا فَإِلَيَّ، وَرُبَّمَا قَالَ إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُولِهِ، وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِوَرَثَتِهِ وَأَنَا وَارِثُ مَنْ لَا وَارِثَ لَهُ أَعْقِلُ لَهُ وَأَرِثُهُ وَالْخَالُ وَارِثُ مَنْ لَا وَارِثَ لَهُ يَعْقِلُ عَنْهُ وَيَرِثُهُ".

دمقدام نه روايت دې فرمائى چه نبى ﷺ فرمائيلى دى: څوك چه قرض يابچي ياښځه پرېږدي نوزه دهغې ذمه واريم اويائي داسې ووئيل چه ددې ذمه وار الله اودهغه رسول دې، او څوك چه مال په ميراث كښې پرېږدي نوهغه دده دوار ثانودي اووارث دهغه چايم چاچه مال نه وى پرېښې، زه دهغه نه ديت اداكوم او تركه ئې وصول كوم، اوماما دهغه چا وارث دي دچاچه بل وارث نه وى ديت به هم دهغه دطرفه وركوي اوميراث به ئې هم وړي

﴿ قال رسول الله ﷺ من ترک كلا فالى، ومن ترک مالا فلورثته وانا وارث من لا وارث له اعقل له وارثه والخال وارث من لا وارث له يعقل عنه ويرثه ﴾

شرح الحديث:

كَلّ وئيلې شى ثقل او بوجهـ ته او دلته مراد د دې نه عيال او قرض دې، يعنى كوم انسان چه نابالغ ماشوم پرېخودلو سره مړ شى يا قرض نو د هغه ذمه دارى په ما باندې ده، او څوك چه مال پرېخودلو سره مړ شى نو هغه د وارثانو دپاره دې، او د كوم انسان چه څوك وارث نه وى د هغه وارث به زه يم پس د هغه د طرف نه به زه ديت ادا كوم او د هغه د مال وارث به زه يم، يعنى كه هغه څه مال پرېخودلو سره مړ شى او د هغه څوك وارثان نه وى نو زه به د هغه د مال وارث يم. يعنى د بيت المال دپاره، دا وراثت درسول الله ﷺ د انتظام او د بيت المال په اعتبار سره دې. او دا چه كوم حديث دې چه ماما وارث دې د هغه چا چه د چا څوك وارث نه وى ديت به ادا كوى هغه ماما د خپل خورئى د طرف نه او د هغه وارث به وى، د دې جملې نه د احنافو او حنابله تائيد كيږى، خال (ماما) او خالة او عمة دا ټول ذوى الارحام دى او دا چه فرمائى چه ماما به ديت ادا كوى د خورئى د طرف نه، يعنى كه د يو سړى خورئى باندې جنايت وى او د هغه څوك عصبه نه وى نو د هغه د طرف نه به ديت د هغه ماما ادا كوى، څنګه چه عصبه ديت ادا كوى، زه وايم : او دغه شان په حديث كښې راغى ﴿ابن اخت القوم منهم ﴾ لهذا ماما ګان خورئينه به د يو بل وارثان وى، خو هغه حضرات چه د

[1]): سنن لبن ماجه/الفرائض ۹ (۲۷۳۸)، والديات ۷ (۲۶۳۴)، (تحفة الأشراف: ۱۱۵۶۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۳۳،۱۳۱/۴) (حسن صحيح)

توریث ذوی الارحام قائل نه دی هغوی دا حدیث په وراثت باندې نه محمول کوی بلکه دا هغوی په حمایت او اعانت باندې محمول کوی، یعنی که د یو سړی خورئې په حق باندې وی نو د هغه ماما له پکار دی چه د هغه امداد اوکړی، یعنی اعانت او نصرت د ذوی الفروض او عصبات سره خاص نه دې بلکه د ذوی الارحام هم کول پکار دی. (والله تعالی اعلم)

والحدیث اخرجه النسائی وابن ماجة، قاله المنذری

[۲۹۰۰] (1) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، فِي آخَرِينَ قَالُوا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ بُدَيْلٍ يَعْنِي ابْنَ مَيْسَرَةَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ رَاشِدِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِي عَامِرٍ الْهَوْزَنِيِّ، عَنْ الْمِقْدَامِ الْكِنْدِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَا أَوْلَى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهِ، فَمَنْ تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضَيْعَةً فَإِلَيَّ، وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِوَرَثَتِهِ، وَأَنَا مَوْلَى مَنْ لَا مَوْلَى لَهُ أَرِثُ مَالَهُ وَأَفُكُّ عَانَهُ، وَالْخَالُ مَوْلَى مَنْ لَا مَوْلَى لَهُ يَرِثُ مَالَهُ وَيَفُكُّ عَانَهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد، رَوَاهُ الزُّبَيْدِيُّ، عَنْ رَاشِدِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ ابْنِ عَائِذٍ، عَنْ الْمِقْدَامِ، وَرَوَاهُ مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ رَاشِدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ الْمِقْدَامَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: يَقُولُ الضَّيْعَةُ مَعْنَاهُ عِيَالٌ.

دمقدام بن ابی کرب الکندی نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی زه په هر یو مسلمان باندې دهغه دذات نه زیات مهربان یم نوڅوک چه قرضه پرېږدي یا ښځه ماشومان پرېږدي او مړشي نودهغه د بچو اوښځې پرورش اودقرض زه ذمه واریم او څوک چه مال اودولت پرېږدي هغه دهغه دوار ثانودپاره دي اودچاپه بل سرفرست نه وی نوزه دهغه کفیل او محافظ یم اودده دمال وارث یم اوماما دهغه چاوارث دي دچاچه بل وارث نه وی هغه به دده میراث حاصله وي اودده دیت به اداکوي ابوداود وائی چه دضیعه معنی اهل وعیال ده او وائی داروایت زبیدي هم نقل کړي دي دراشد بن سعد نه او هغه دابن عائذنه اوهغه دمقدام نه.

د رسول الله ﷺ د امت سره ډیر زیات محبت:

قوله:﴿ انا اولی بکل مومن من نفسه ﴾ رسول الله ﷺ فرمائی چه زه هر مسلمان ته د هغه د ذات نه هم زیات نزدې یم، یعنی د انسان د مرګ نه پس د هغه د امورو داسې ذمه داری اخلم او د هغه داسې نصرت کونکې یم چه که هغه مړې ژوندې کیدې نو هغه به خپله هم د خپل ځان دومره انتظام او ا نصرام نه کولې څومره چه د هغه د طرف نه کونکې یم، ډیره عجیبه خبره ده د رسول الله ﷺ د خپل امت د هر فرد سره دومره قوی او ژور تعلق دې چه انسان خپله د خپلو امورو خیال دومره نه شی ساتلې څومره چه هغوی ساتلې شی، د رسول الله ﷺ د امت سره د محبت احادیث خو ډیر زیات دی لکه چه په کتاب الحج کښې تیر شوی دی چه رسول الله ﷺ د حجة الوداع په خطباتو کښې بار بار اوفرمائیل ﴿ خذوا عنی مناسککم لعلی لا اراکم بعد عامی هذا ﴾ او په یو حدیث کښې دی ﴿ وددت انی رایت اخوانی ﴾ چه زما زړه غواړی چه خپل رونړه وینم، صحابه کرامو ﷺ عرض اوکړو چه آیا مونږ ستاسو رونړه نه یو، په دې باندې هغوی اوفرمائیل چه تاسو خو زما ملګری یئ او هر وخت ما سره پاتې کیدونکی یئ، زما مراد خو د اخوان نه هغه امتیان دی کوم چه به زما نه روستو راځی او پیدا کیږی

(1): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۵۶۹) (حسن صحیح)

به، ﴿ صلى الله عليه وآله وسلم وجزاه الله عنا ما هو اهله ﴾

وړاندې په حديث كښې د ﴿ ضيعة ﴾ لفظ دې هم د دې نه مراد عيال يعنى واړهٔ ماشومان او زنانه دى ځكه كه د هغوى خبر وانخستلې شى نو هغه زر ضائع كيږى هم په دې وجه دې ته ضيعة وئيلې شى

﴿ وانا مولى من لا مولى له ارث ماله وافك عانه ﴾

د مولى نه مراد وارث دې لكه چه په مخكښې حديث كښې تير شو ﴿ ارث ماله ﴾ اى لاجل بيت المال ﴿ وافك عانه ﴾ هغه د قيد نه خلاصوم د ﴿ عان ﴾ معنى قيد، په دې وجه قيدى ته عانى وئيلې شى لكه چه د كتاب الجنائز په يو حديث كښې راځى، ﴿اطعموا الجائع وعودوا المريض وفكوا العانى، قال سفيان والعانى الاسير ﴾ او دلته د قيد نه مراد ﴿ ما يلزمه من الحقوق مثل الدين والدية ﴾ ځكه چه دا څيزونه داسې دى چه انسان په هغې كښې مقيد او اينختلې وى، او په يو روايت كښې چه مخكښې راروان دې په هغې كښې د ﴿ عُنّى ﴾ لفظ دې ﴿ افك عُنِيّه ﴾. والحديث اخرجه النسائي وابن ماجة كما في التحفة، قاله الشيخ محمد عوامه.

[۲۹۰۱](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ عَتِيقٍ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُبَارَكِ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ حُجْرٍ، عَنْ صَالِحِ بْنِ يَحْيَى بْنِ الْمِقْدَامِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "أَنَا وَارِثُ مَنْ لَا وَارِثَ لَهُ أَفُكُّ عَانِيَهُ وَأَرِثُ مَالَهُ وَالْخَالُ وَارِثُ، مَنْ لَا وَارِثَ لَهُ يَفُكُّ عَانِيَهُ وَيَرِثُ مَالَهُ".

يحيى بن مقدام دخپل پلارنه روايت كوى اوهغه دده دنيكه نه فرمائى چه دنبى ﷺ نه مې اوريدلى دى چه فرمائيل ئې زه وارث يم دهغه چا دچاچه څوك وارث نه وى اوزه به دهغه دطرف نه ديت ادا كوم او زه دهغه دمال وارث يم اوماما دهغه چا وارث دې دچاچه بل وارث نه وى اوهغه به دده نه ديت اداكوي اوميراث به ئې وړي.

[۲۹۰۲](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ. ح وحَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعُ بْنُ الْجَرَّاحِ، عَنْ سُفْيَانَ جَمِيعًا، عَنِ ابْنِ الْأَصْبَهَانِيِّ، عَنْ مُجَاهِدِ بْنِ وَرْدَانَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ مَوْلًى لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاتَ وَتَرَكَ شَيْئًا وَلَمْ يَدَعْ وَلَدًا وَلَا حَمِيمًا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَعْطُوا مِيرَاثَهُ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ قَرْيَتِهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَحَدِيثُ سُفْيَانَ أَتَمُّ، وقَالَ مُسَدَّدٌ: قَالَ: فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَاهُنَا أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ أَرْضِهِ، قَالُوا: نَعَمْ قَالَ: فَأَعْطُوهُ مِيرَاثَهُ".

دام المومنين عائشې رضي الله عنها نه روايت دې فرمائى چه دنبى ﷺ يو ازاد كړې شوي غلام مړ شو او څه شې ئې په ميراث كښې پريخې وو اونه ئې څوى وو اونه ئې څوك دوست رو نبى ﷺ اوفرمائيل دده ميراث دده دكلي يو سړى ته وركړئ. ابوداود وائى حديث دسفيان ډيركامل دې اودمسدد په روايت كښې دا اضافه ده چه نبى ﷺ اوفرمائيل ايادلته دده دعلاقې څوك شته دې؟ خلقو اووئيل هو، نوو ئې فرمائيل دده ميراث ورته وركړئ.

١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٥٧٦) (حسن صحيح)

٢): سنن الترمذي/الفرائض ١٣ (٢١٠٥)، سنن ابن ماجه/الفرائض ٧ (٢٧٣٣)، (تحفة الأشراف: ١٦٣٨١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٣٧/٦، ١٧٤، ١٨١) (صحيح)

﴿عن عائشة رضي الله عنها ان مولی للنبی ﷺ مات وترک شيئا ولم يدع ولدا ولا حميما ﴾

يعني د رسول الله ﷺ د يو آزاد کړې شوې غلام انتقال اوشو او هغه څه ميراث هم پريخودلو خو هغه خپل څوک اولاد او رشته دار نه وو پريخودلې، نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د هغه ميراث دې د هغه په کلي والو کښې چاته ورکړې شي.

الکلام علی الحديث من حيث الفقه :

د رسول الله ﷺ د دې مړي ميراث لره يو کلي والا ته ورکول دا من حيث الاستحقاق نه وو بلکه من حيث المصرف وو، ځکه چه دا قسم ميراث (چه د هغه هيڅوک وارث نه وي) په بيت المال کښې داخليږي، او د بيت المال مال په عامو خلقو باندې او په ضرورت مندو باندې خرچ کيږي د دې وجې رسول الله ﷺ دړومبی نه داسې انسان ته ورکړو.

ايا رسول الله ﷺ د چا وارث کيدو؟ :

د دې نه پس په دې باندې ځان پوهول پکار دی چه دا توجيه په هغه صورت کښې ده چه کله دا اومنلې شي چه هر کله د رسول الله ﷺ څوک وارث نه کيږي، رسول الله ﷺ خپله هم د چا وارث نه کيږي لکه چه د بعض علماء کرامو رائې ده، خو که دويم قول واخستلې شي کوم چه بعض نورو علماء کرامو اختيار کړې دې او زمونږ حضرت ګنګوهي هم چه اګر که د رسول الله ﷺ څوک وارث نه کيږي خو خپله به رسول الله ﷺ د نورو وارث کيدو نو په دې صورت کښې به دا وئيلې شي دا د رسول الله ﷺ ورکول ﴿ من حيث التبرع ﴾ او تصدق وو د خپل طرف نه ځکه چه دا د هغوی خپل حق وو، که رسول الله ﷺ غوښتله نو خپله ئې هم اخستلې شو، حضرت ګنګوهي فرمائي هغه چه په بعض رواياتو کښې ﴿ لا نورث ﴾ سره ﴿ لا نرث ﴾ هم دې دا زيادت غلط دې، ثابت نه دی، کما فی البذل والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری.

[۲۹۰۳]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ الْكِنْدِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُحَارِبِيُّ، عَنْ جِبْرِيلَ بْنِ أَحْمَرَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ، فَقَالَ: "إِنَّ عِنْدِي مِيرَاثَ رَجُلٍ مِنَ الْأَزْدِ وَلَسْتُ أَجِدُ أَزْدِيًّا أَدْفَعُهُ إِلَيْهِ قَالَ: اذْهَبْ فَالْتَمِسْ أَزْدِيًّا حَوْلًا، قَالَ: فَأَتَاهُ بَعْدَ الْحَوْلِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ لَمْ أَجِدْ أَزْدِيًّا أَدْفَعُهُ إِلَيْهِ، قَالَ: فَانْطَلِقْ فَانْظُرْ أَوَّلَ خُزَاعِيٍّ تَلْقَاهُ فَادْفَعْهُ إِلَيْهِ، فَلَمَّا وَلَّى قَالَ: عَلَيَّ الرَّجُلَ، فَلَمَّا جَاءَهُ قَالَ: انْظُرْ كُبْرَ خُزَاعَةَ فَادْفَعْهُ إِلَيْهِ".

عبدالله بن بريده دخپل پلارنه روايت کوی فرمائي چه نبی علیه السلام ته يو کس راغې اوعرض ئې اوکړو چه زماسره ديوکس ميراث دې داز قبيلې والا، او ماته داز قبيلې والاڅوک نه ملاويږي چه دده ميراث ورته ورکړم نبی علیه السلام ورته اوفرمائيل لاړشه څوک ازبي ولټه وه اګرکه يوکال وي. دې وائی کال چه تير شونبی علیه السلام ته ورغلم اواوې وئيل اې دالله رسوله څوک ازدي مې پيدانکړو چه دده ميراث ورته ورکړم نبی علیه السلام اوفرمائيل لاړ شه او اوګوره کله چه اولنې خزاعي درسره ملاو شي نوهغه ته ئې ورکړه هرکله چه دې روان شو نبی علیه السلام اوفرمائيل دا سړې راوګرځوئ دې چه کله راواپس شونبی علیه السلام ورته اوفرمائيل دبنی خزاعه کوم مشر ته ئې ورکړه

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۹۵۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۴۷/۵) (ضعيف)

شرح الحديث:

قوله: ﴿ عن عبدالله بن بريدة عن ابيه قال اتى رسول الله ﷺ رجل فقال ان عندى ميراث رجل من الازدولست اجد ازديا ادفعه اليه الخ ﴾: يو سړې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې د قبيله ازد يو سړې حاضر شو چه ماسره د يو سړى ميراث دې خو ماته هيڅ ازدى سړى نه ملاويږى چاته چه زه دا مال ورکړم، رسول الله ﷺ اوفرمائيل او يو ازدى (١) لره تر يو کاله پورې اولټوه، د يو کال نه پس هغه سړې راغلو چه هيڅوک ازدى ملاؤ نه شو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿فانطلق فانظر اول خزاعى تلقاه فادفعه اليه، فلما ولى قال علىّ الرجل فلما جاءه قال انظر كبر خزاعة فادفعه اليه ﴾ يعنى چه کله هغه ته هيڅوک ازدى ملاؤ نه شو نو هغوى اوفرمائيل چه ښه لاړ شه

يو خزاعى اولټوه چه تاته ملاؤ شى پس هغه ته دا ورکړه، اول په معنى د اقرب، يعنى کوم انسان چه د قبيله خزاعه د مورث اعلى سره زيات نزدې وى هغه ته دا مال ورکړه، بيا چه کله هغه روان شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل هغه سړې راوغواړئ چه کله هغه راغلو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ انظر كبر خزاعة ﴾ د رسول الله ﷺ داسې فرمائيل د تفسير په طور دى، يعنى اول د خزاعى تفسير او د هغې مراد رسول الله ﷺ په دې لفظ سره بيان کړو، کبر يعنى اکبر (٢) د اکبر نه مراد هم هغه اقرب دې، دلته سوال دا دې چه ازد چه د يمن په قبائلو کښې يوه قبيله ده د هغه ميراث يو خزاعى سړى ته ولې ورکولې شى د دې جواب شراح دا ورکړې دې چه قبيله خزاعه هم په اصل کښې د ازد نه ده يعنى د شروع په اعتبار سره چه کله دا ټول خلق په يمن کښې وو. بيا چه کله دا خلق د يمن نه وتلو سره مکې مکرمې ته راغلل نو هلته راتلو سره هغوى د بنوهاشم سره مخالفت اوکړو نو د هغوى نوم خزاعه شو، ففى القاموس الخزع القطع والخزاعة القطعة تقطع من الشئ حى من الازد سموا بذلک لانهم تخزعوا عن قومهم واقاموا بمكة.... الحمد لله د حديث مطلب واضح شو. والحديث اخرجه النسائى مسندا ومرسلا، قاله المنذرى.

[٢٩٠٤](٣) حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ أَسْوَدَ الْعِجْلِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ جِبْرِيلَ بْنِ أَحْمَرَ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: مَاتَ رَجُلٌ مِنْ خُزَاعَةَ فَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِيرَاثِهِ، فَقَالَ: الْتَمِسُوا لَهُ وَارِثًا، أَوْ ذَا رَحِمٍ، فَلَمْ يَجِدُوا لَهُ وَارِثًا وَلَا ذَا رَحِمٍ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَعْطُوهُ الْكُبْرَ مِنْ خُزَاعَةَ"، وَقَالَ يَحْيَى: قَدْ سَمِعْتُهُ مَرَّةً يَقُولُ فِي هَذَا الْحَدِيثِ: انْظُرُوا أَكْبَرَ رَجُلٍ مِنْ خُزَاعَةَ.

عبدالله بن بريدة رضي الله عنه دخپل پلارنه روايت کوى فرمائى چه يوخزاعى مړشو اوميراث ئې نبى عليه السلام ته راوړې شونبى عليه السلام اوفرمائيل دده وارث يا څوک رشته دارئې اولټوئ نو دوى

(١) زما په يو کاپئ کښې داسې ملاؤ شوه ﴿ ينظر البذل فيه كلام الشيخ الجنجوهى..... او حاصل د دې دا دې چه د کومې ترکې څوک وارث نه وى هغه په حکم د لقطې کښې وى او د لقطى حکم چونکه د تصدق دې نو دا هم په طور د تصدق وه، او د اکبر خزاعه تخصيص په دې وجه دې چه هغه په نسبت د بل زيات اقرب دې،

(٢) كمافي حديث القسامة كبر الكبر)

(٣) انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٩٥٥) (ضعيف)

ئې نه وارث پیدا کړو او نه رشته دار، نبی ﷺ اوفرمائیل دخزاعه کوم مشرته ئې ورکړئ.

[۲۹۰۵]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ، عَنْ عَوْسَجَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَجُلًا مَاتَ وَلَمْ يَدَعْ وَارِثًا إِلَّا غُلَامًا لَهُ كَانَ أَعْتَقَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَلْ لَهُ أَحَدٌ؟"، قَالُوا: لَا إِلَّا غُلَامًا لَهُ كَانَ أَعْتَقَهُ"، فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِيرَاثَهُ لَهُ.

دابن عباس نه روایت دې فرمائی چه یو کس مړشواودیوغلام نه ئې علاوه څوك وارث نه ورکوم چه ئې ازاد کړي وو، نبی ﷺ اوفرمائیل ایاڅوك ئې شته؟ نو دوی ووئیل نه مګریوازاد کړي شوي غلام ئې شته، نونبی ﷺ دهغه مالك دي غلام نه حواله کړو.

﴿عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما ان رجلا مات ولم يدع وارثا الا غلاما له كان اعتقه الخ﴾

یعنی یو سړې وفات شو او هغه خپل څوک وارث پرینخودلو خو خپل آزاد کړې شوې غلام پریخودلو، رسول الله ﷺ ته د دې خبر ملاؤ شو نو رسول الله ﷺ د هغه سړی میراث هم هغه آزاد کړې شوې غلام ته ورکړو.

که د یو سړی آزاد کړې شوې غلام مړ شی او د هغه څوک وارث نه وی سوا د هغه د آقا او سید نه نو د هغه د میراث به د هغه آقا مالک وی چه هغې ته ولاء وائی. او دا مسئله اجماعی ده، لحدیث الولاء لمن اعتق او دلته په دې حدیث کښې دا صورت نه دې بلکه د دې برعکس دې یعنی د آقا میراث د هغه آزاد کړې شوی غلام ته ورکړې شو، دا په څلورو امامانو کښې د چا مذهب هم نه دې سوا د شریح او طاؤس نه ﷺ، او دې دواړو هم د دې حدیث نه استدلال کړې دې او جمهور چه د دې قائل نه دی بلکه دا وائی چه ولاء منحصر ده د معتق په حق کښې د صحیح حدیث په بنیاد باندې هغوی د حدیث الباب تاویل کوی چه درسول الله ﷺ دا د میراث ورکول من حیث الاستحقاق نه وو بلکه من حیث التصدق والمصرف وو، لکه چه په حدیث کښې تیر شو یعنی د ازدی په حدیث کښ، والله تعالی اعلم

(والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری)

بَابُ مِيرَاثِ ابْنِ الْمُلَاعِنَةِ

دلعان کړې شوې ښځې د څوې د میراث بیان

په باب اللعان کښې دا مسئله تیره شوې ده چه د لعان نه پس چه د ملاعنه نه کوم ماشوم پیدا شی د هغه نسب د هغه د مور یعنی ملاعنة نه خو ثابتیږی او د پلار نه نه ثابتیږی هم په دې وجه د مور او څوی ترمنیځه خو میراث جاری کیږی خو د هغه هلک او د هغه د پلار یعنی ملاعن ترمینځه نه جاری کیږی، او دا مسئله اجماعی ده.

(): سنن الترمذي/الفرائض ١٤ (٢١٠٦)، سنن ابن ماجه/الفرائض ١١ (٢٧٤١)، (تحفة الأشراف: ٦٣٢٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٢١/١، ٣٥٨) (ضعيف)

[٢٩٠٦]() حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنِي عُمَرُ بْنُ رُؤْبَةَ التَّغْلِبِيُّ، عَنْ عَبْدِ الْوَاحِدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ النَّصْرِيِّ، عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْمَرْأَةُ تَحُوزُ ثَلَاثَةَ مَوَارِيثَ عَتِيقَهَا وَلَقِيطَهَا وَوَلَدَهَا الَّذِي لَاعَنَتْ عَنْهُ".

واثله بن اسقع دنبى عليه السلام نه روايت كوى چه فرمائيلي ئې ووښځه ددرې كسانو وراثت حاصلولي شي يودخپل ازاد كړي شوي غلام اودموندلې شوي هلك اودخپل هغه ماشوم د كوم په وجه چه لعان شوي وي.

﴿ المراءة تحرز ثلاث مواريث عتيقها ولقيطها وولدها الذى لا عنت عليه ﴾

الكلام على الحديث من حيث الفقه :

يعنى زنانه درې قسمه ميراث حاصلوى يو د خپل آزاد كړې شوې غلام دويم د خپل لقيط يعنى كه يو زنانه يو ورک شوې ماشوم بيا مومى او هغه لوئې كړى او د هغه پالنه اوكړى او هغه لوئې شى نو د هغه دمال به هغه زنانه مالكه وى، او دريم ميراث په حديث كښې هم هغه دې چه په ترجمة الباب كښې ذكر دې.

د دې حديث ړومبې جزء او آخرى جزء دا خو متفق عليه دى او مينځ والا جزء يعنى د ميراث د لقيط والا مسئله دا صرف د اسحاق بن راهويه مذهب دې. د جمهور علماء كرامو په نزد چه په هغوى كښې څلور امامان هم دى د لقيط ميراث د بيت المال دپاره دې، مګر دا چه ملتقط فقير وى نو بيا په حيثيت د مصرف دا هغه ته هم ملاويدې شى. د دې حديث جواب د جمهورو په نزد يو خو دا دې چه د دې نه مراد استحقاق نه دې بلكه مقصود بيان د مصرف او تصدق دې او دويم جواب دا دې چه ﴿ ان هذا الحديث غير ثابت كما فى شرح السنة([2]) والحديث اخرجه الترمذى والنسائى وابن ماجة، قاله المنذرى.

[٢٩٠٧]() حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، وَمُوسَى بْنُ عَامِرٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جَابِرٍ، حَدَّثَنَا مَكْحُولٌ، قَالَ: جَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مِيرَاثَ ابْنِ الْمُلَاعَنَةِ لِأُمِّهِ وَلِوَرَثَتِهَا مِنْ بَعْدِهَا".

دمكحول نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام دملاعني دځوى ميراث دده مور ته وركړې وو اوددې نه پس ئې ددې وارثانوته وركړې دې.

[٢٩٠٨]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عَامِرٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، أَخْبَرَنِي عِيسَى أَبُو مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ.

عمرو بن شعيب د خپل پلارنه اوهغه دده دنيكه نه ددې روايت په شان روايت بيان كړې دې.

---

[1]): سنن الترمذي/الفرائض ٢٣ (٢١١٥)، سنن ابن ماجه/الفرائض ١٢ (٢٧٤٢)، (تحفة الأشراف: ١١٧٤٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٩٠، ٤/١٠٦) (ضعيف)

[2]) قال الخطاب في المعالم هذا الحديث غير ثابت عند اهل النقل واذا لم يثبت الحديث لم يلزم القول به، وكان ما ذهب اليه عامة العلماء اولي آهـ وزاد عليه المنذري قال البيهقي لم يثبت البخاري ولا مسلم هذا الحديث لجهالة بعض رواته آهـ ﴾

[3]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٧٧١)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الفرائض ٢٤ (٣٠١٠) (صحيح)

[4]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٧٧١) (صحيح)

بَابٌ هَلْ يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ

باب: آيا يو مسلمان د كوم مشرك وارث جوړيدې شي؟

[۲۹۰۹] (¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَلَا الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ".

اسامه بن زيد درسول پاك قا نه روايت كوى چه فرمائيلي ئې وو ميراث نه شي وړلې مسلمان دكافرنه اونه كافرد مسلمان نه.

په حديث الباب كښې د دې نفى ده پس د جمهور علماء كرامو او ائمه اربعه په دې باندې اتفاق دې او اتفاق د جانبينو نه دې چه د يو بل نه وارث كيږى، بعض صحابه كرام او تابعين رضي الله عنهم لكه معاذ بن جبل رضي الله عنه او سعيد بن المسيب رحمه الله وغيره فرمائى چه كافر خو د مسلمان وارث نه وى خو د دې عكس يعنى مسلمان د كافر وارث وى ﴿ لحديث الاسلام يزيد ولا ينقص، ولحديث الاسلام يعلو ولا يعلى كما سياتى فى آخر الباب ﴾

د مرتد د وراثت مسئله:

دلته يو مسئله بله ده هغه دا چه د مرتد حكم څه دې هغه به د خپلو مسلمانانو رشته دارو وارث وى او كه نه؟ نو په دې باندې خو اجماع ده چه مرتد نه وارث كيږى خو د دې عكس يعنى د مرتد د مړ كيدو نه پس د هغه مسلمان رشته دار به د هغه وارث وى يا نه؟ د امام مالك رحمه الله او شافعى رحمه الله په نزد نه وارث كيږى، او د احنافو مذهب دا دې چه مرتد كوم مال حاصل كړې وى د خپل ردت په حالت كښې هغه خو د بيت المال دپاره دې او كوم مال چه هغه حاصل كړې وى د ارتداد نه مخكښ، د اسلام په حالت كښې په هغې كښې به وراثت جارى كيږى، امام ترمذى رحمه الله هم دا مسئله هم د دې حديث په ضمن كښې بيان كړې ده.

(والحديث اخرجه البخارى ومسلم والترمذى والنسائى وابن ماجة، قاله المنذرى)

[۲۹۱۰] (²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: قُلْتُ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيْنَ تَنْزِلُ غَدًا فِي حِجَّتِهِ؟ قَالَ: وَهَلْ تَرَكَ لَنَا عَقِيلٌ مَنْزِلًا؟، ثُمَّ قَالَ: نَحْنُ نَازِلُونَ بِخَيْفِ بَنِي كِنَانَةَ حَيْثُ تَقَاسَمَتْ قُرَيْشٌ عَلَى الْكُفْرِ يَعْنِي الْمُحَصَّبَ، وَذَاكَ أَنَّ بَنِي كِنَانَةَ حَالَفَتْ قُرَيْشًا عَلَى بَنِي هَاشِمٍ أَنْ لَا يُنَاكِحُوهُمْ وَلَا يُبَايِعُوهُمْ وَلَا يُئْوُوهُمْ"، قَالَ الزُّهْرِيُّ: وَالْخَيْفُ الْوَادِي.

داسامه بن زيد نه روايت دې فرمائى چه ما عرض اوكړو اې دالله رسوله صبا به ته چرته تشريف فرمايې؟ وبې فرمائيل اياعقيل زمونږ دپاره په مكه كښې كور پريخې دې اوبيا ئې اوفرمائيل مونږ به دبنو كنانه په خيف كښې يو چرته چه قريشو په كفراوشرك باندې قسم خوړلې وو يعنى په محصب كښې به قيام كوو ځكه چه دبنو كنانه قبيلې خلقو د قريشونه اقرار اغستې وو چه هغوى به دقريشوسره نه نكاح كوي اونه به ورسره اخستل

---

¹): صحيح البخاري/المغازي ٤٨ (٤٢٨٣)، الفرائض ٢٦ (٦٧٦٤)، صحيح مسلم/الفرائض (١٦١٤)، سنن الترمذي/الفرائض ١٥ (٢١٠٧)، سنن ابن ماجه/الفرائض ٦ (٢٧٣٠)، (تحفة الأشراف: ١١٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٠٠/٥، ٢٠١، ٢٠٨، ٢٠٩) (صحيح)

²): انظر حديث رقم: (٢٠١٠) (تحفة الأشراف: ١١٤) (صحيح)

خرخول کوي اونه به ورته دځان سره پناه ورکوي، زهري وئيلی دی خيف کلي ته وئيلې شي.

شرح الحديث:

قوله: ﴿عن اسامة بن زيد رضی الله تعالی عنهما قال قلت يا رسول الله ﷺ اين تنزل غدا فی حجته قال وهل ترک لنا عقيل منزلا الخ﴾ د دې حديث پوره شرح په کتاب الحج کښې تيره شوې ده او هلته دا هم تير شوی دی چه دا حديث په کتاب الفرائض کښې هم را روان دې او د دې وجه هم تيره شوې ده، د خلاصې په طور ځان پوهه کړئ چه د کوم منزل چه رسول الله ﷺ ذکر فرمائی د دې نه مراد د رسول الله ﷺ جدی مکان دې کوم لره چه عبدالمطلب کله چه هغه بوډا شو په خپل ژوند کښې د خپلو ځامنو ترمينځه تقسيم کړې وو چه په هغې کښې د رسول الله ﷺ پلار عبدالله هم وو بيا په آخير کښې هغه کور د ابوطالب په قبضه کښې وو، رسول الله ﷺ او علی رضی الله عنه دا دواړه خو هجرت کولو سره ړومبی مدينې طيبې ته راغلې وو، او د ابوطالب د وفات په وخت علی او جعفر رضی الله عنهما دواړو اسلام راوړې وو. هغه دواړه خو د هغه کور ځکه وراثان نه شو، او د ابوطالب يو دريم ځوئې په جنګ بدر کښې ورک شوې وو، او عقيل رضی الله عنه د ابوطالب د مرګه پورې اسلام نه وو راوړې په دې وجه هغه ځانله د دې وارث شو(۱) خو هغوی دا کور وئيلې شوی دی چه خرخ کړې وو هم د دې وجې نه رسول الله ﷺ فرمائی چه عقيل زمونږ دپاره کور چرته پريخودلې دې. يعنی که هغه خرخ کړې نه وې نو بيا د منی نه روانيدو باندې مکې مکرمې ته رسيدو سره به مونږ په هغې کښې قيام کړې وې، په دې وجه د رسول الله ﷺ رائې دا شوه چه د منی نه وتلو سره په محصب کښې شپه تيره کړې شی، بيا سحر د هغه ځائې نه مکې ته روانيدو سره د سحر مونځ او طواف وداع کولو نه پس مدينې ته لاړ شی، په دې صورت کښې به د قيام مکه ضرورت نه راځی او نه به قيام ګاه ته ضرورت راځی. (والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری)

[۲۹۱۱](۲) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ حَبِيبٍ الْمُعَلِّمِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَتَوَارَثُ أَهْلُ مِلَّتَيْنِ شَتَّى".

عمرو بن شعيب د خپل پلارنه اوهغه دده دنيکه عمرو بن العاص رضی الله عنه نه روايت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائيلی وو چه ددوه جدا جدا دينونو والا ديوبل نه ميراث نه شی ورلې.

﴿قال رسول الله ﷺ لا يتوارث اهل ملتين شتی﴾

حديث الباب کښې مذاهب دائمة:

د توارث دپاره د وارث او مورث ترمينځه اتحاد دملت بالاتفاق شرط دې، په دې حديث کښې هم دا مسئله ذکر شوې ده خو د دې باوجود د دې مسئله په تفصيل کښې اختلاف دې د احنافو او شوافعو مسلک خو دا دې چه ﴿الکفر ملة واحدة﴾ که هغه کتابی وی يا مشرک يهودی وی او که نصرانی د دې دواړو په نزد دا ټول يو دی، لهذا د يو بل وارثان به وی،

---

(۱) هم د دې نه د ترجمة الباب سره مناسبت ښکاره کيږی)

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸٦٦۹)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الفرائض ۱٦ (۲۱۰۹)، سنن ابن ماجه/الفرائض ٦ (۲۷۳۲)، مسند احمد (۲/۱۷۸، ۱۹۵) (حسن صحيح)

اصل تقابل د اسلام او د کفر ترمینځه دې، هلته اختلاف د ملت دې او د مالکیانو او حنابله په نزد ادیان سماویه لکه یهودیت او نصرانیت دا په خپل مینځ کښې مختلف دی لهذا په هغوی کښې به یو د بل وارث نه وی، او د ادیان غیر سماویه په باره کښې امام مالک رحمه الله خو دا فرمائی چه د شرک انواع ټول ملت واحده دی، او امام احمد رحمه الله فرمائی مختلف انواع شرک مختلف ملل دی مثلاً بت پرست او آتش پرست دا ځانله ځانله دی لهذا توارث به نه وی او د امام مالک په نزد به توارث وی. (من هامش الکوکب ۴۰/۲)والحدیث اخرجه النسائي وابن ماجة، قاله المنذري

[۲۹۱۲](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي حَكِيمٍ الْوَاسِطِيِّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، أَنَّ أَخَوَيْنِ اخْتَصَمَا إِلَى يَحْيَى بْنِ يَعْمَرَ يَهُودِيٌّ، وَمُسْلِمٌ فَوَرَّثَ الْمُسْلِمَ مِنْهُمَا، وَقَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو الْأَسْوَدِ، أَنَّ رَجُلًا حَدَّثَهُ، أَنَّ مُعَاذًا حَدَّثَهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "الْإِسْلَامُ يَزِيدُ وَلَا يَنْقُصُ فَوَرَّثَ الْمُسْلِمَ".

دبریده رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یحیی بن یعمرته دوه رونړو جګړه راوړله په دې دواړوکښې یو مسلمان وو او بل یهودي وو هغه مسلمان ته دیهودي میراث ورکړو اووئې فرمائیل ماته ابوالاسود حدیث بیان کړې دې اوهغه دیوکس نه اوریدلی دی اوهغه دمعاذ بن جبل رضي الله عنه نه اوریدلی دی اوهغه دنبی علیه السلام نه اوریدلي دي چه فرمائیل ئې په مسلمانانو کښې زیاتوالی راځي اوکموالي نه راځي اوبیا ئې مسلمان ته دیهودي میراث ورکړو.

﴿ان معاذا قال سمعت رسول الله يقول الاسلام يزيد ولا ينقص﴾

د معاذ رضي الله عنه مسلک او دا حدیث او په دې باندې کلام اوس نزدې تیر شوې دې، جمهور علماء وائی چه دا حدیث او هم دغه شان، ﴿الاسلام يعلو ولا يعلى عليه﴾ د دې تعلق د اسلام د عزت او غلبې سره دې، میراث سره د دې هیڅ تعلق نشته.

[۲۹۱۳](۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي حَكِيمٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ يَعْمَرَ، عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ الدِّيلِيِّ، أَنَّ مُعَاذًا أُتِيَ بِمِيرَاثِ يَهُودِيٍّ وَارِثُهُ مُسْلِمٌ بِمَعْنَاهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

د ابوالاسود نه روایت دې چه معاذ رضي الله عنه ته د یو یهودي میراث راوړلې شو اودوارث مطعي مسلمان وو او ددې نه پس ئې هغه حدیث بیان کړو کوم چه بره ذکرشو.

بَابٌ فِي مَنْ أَسْلَمَ عَلَى مِيرَاثٍ

که چرې د میراث د تقسیم نه مخکښې کوم وارث اسلام قبول کړی

شرح الترجمة:

یعنی کوم انسان چه د میراث د تقسیم په موقع باندې اسلام راوړی، یعنی د مورث د مرګ نه پس.

(۱): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۱۳۱۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۳۰/۵، ۲۳۶) (ضعيف)

(۲): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۳۱۸) (ضعيف)

خان پوهول پکار دی چه دا مسئله اوس تیره شوه چه د توراث دپاره اتحاد د ملت شرط دې د اختلاف ملت په وخت میراث نه جاري کیږي په دې سلسله کښې ځان پوهول پکار دی چه اتحاد ملت هغه مفید او معتبر دې کوم چه د مورث د مرګ په وخت وی، که روستو اتحاد بیا موندلې شی نو هغه مفید او معتبر نه دې. هم دغه شان اختلاف ملت هغه مضر دې چه د مورث د مرګ په وخت وی او که د اختلاف تحقق د مورث د مرګ نه پس وی نو هغه مضر نه دې، اوس په هر یو باندې په مثال سره ځان پوهه کړئ د اول صورت مثال به دا وی چه د یو مسلمان وفات اوشو او حال دا چه د هغه یو ځوئې مسلمان وو او یو کافر، د پلار د وفات نه پس د میراث د تقسیم نه مخکښې هغه کافر ځوی هم اسلام قبول کړو نو دلته دا اسلام راوړونکې ځوئې به وارث نه وی، چه د مخکښې نه مسلمان دې صرف هم هغه به وارث وی، او د دویم صورت مثال دا دې د یو کافر انتقال اوشو او حال دا چه د هغه یو ځوئې مسلمان وو او یو کافر، د میراث د تقسیم نه مخکښې هغه کافر ځوئی هم اسلام راوړې دې، اوس به دا اسلام قبلونکې وارث وی، او ځوک چه د مخکښې نه مسلمان وو د هغه د وراثت خو بالکل سوال نه پیدا کیږی.

[۲۹۱۴](۱) حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ أَبِي يَعْقُوبَ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ دَاوُدَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ أَبِي الشَّعْثَاءِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كُلُّ قَسْمٍ قُسِمَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ عَلَى مَا قُسِمَ لَهُ، وَكُلُّ قَسْمٍ أَدْرَكَهُ الْإِسْلَامُ فَهُوَ عَلَى قَسْمِ الْإِسْلَامِ".

دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی دجاهلیت په زمانه کښې چه به کوم تقسیم کیدو نوپه اسلام کښې به هم ترکه په هم دغه حالت باندې قائم وي اوداسلام نه پس به هم ترکه داسلام دضابطې مطابق تقسمیږي.

﴿ عن ابن عباس رضی الله عنهما قال قال النبی ﷺ کل قسم قسم فی الجاهلیة فهو علی ما قسم، وکل قسم ادرکه الاسلام فانه علی قسم الاسلام ﴾

یعنی د کوم میراث تقسیم چه د اسلام نه مخکښې د جاهلیت په زمانه کښې شوې دې هغه به هم هغه شان باقی ساتلې شی، په هغې کښې به مداخلت نه شی کولې او کوم تقسیم چه د یو میراث وغیره په اسلام کښې د داخلیدو نه پس اوشی هغه به د اسلامی قانون مطابق کولې شی او هغه اسلامی قانون هم هغه دې چه کوم پورته ذکر شو چه د اتحاد دملت په صورت کښې توارث وی د اختلاف د ملت په صورت کښې نه.

والحدیث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذری.

باب في الولاء

دآزاد کړې شوی غلام د ترکې بیان

د ولاء قسمونه سره د اختلاف د علماء کرامو:

دلته مصنف رحمه الله د ولاء په سلسله کښې دوه بابونه ذکر کړې دی یو دا او دویم د دې نه پس ﴿باب فی الرجل یسلم علی یدی الرجل ﴾ د دې نه پس یو دریم باب د دوه بابونو د فصل سره را

(۱): سنن ابن ماجه الفرائض ۲۱ (۲۷۴۵)، (تحفة الأشراف: ۵۳۸۳) (صحیح)

روان دي ﴿ باب نسخ ميراث العقد بميراث الرحم ﴾ د دې درې واړو بابونو تعلق د ولاء سره دې ځکه چه د ولاء درې قسمونه دی، ولاء العتاقة، ولاء الاسلام، ولاء الموالاة، په ړومبی باب کښې ړومبې قسم ذکر کړې شوې دې او په دويم باب کښې قسم ثانی او په دريم باب کښې قسم ثالث، قسم اول يعنی ولاء العتق دا خو بالاتفاق معتبر او ثابت دې، او قسم ثانی يعنی ولاء الاسلام دا د جمهور علماء کرامو چه په هغوی کښې څلور امامان هم دی په نزد معتبر نه دې، د بعض نور علماء کرامو لکه ابراهيم نخغی رحمه الله، سعيد بن المسيب په نزد معتبر دې، او دريم قسم ولاء الموالاة دا د احناف په نزد معتبر دې، د جمهور په نزد د ولاء دا قسم منسوخ دې.

[۲۹۱۵](¹) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، قَالَ: قُرِءَ عَلَى مَالِكٍ وَأَنَا حَاضِرٌ، قَالَ مَالِكٌ: عَرَضَ عَلَيَّ نَافِعٌ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ أَرَادَتْ أَنْ تَشْتَرِيَ جَارِيَةً تَعْتِقُهَا، فَقَالَ أَهْلُهَا: نَبِيعُكِهَا عَلَى أَنَّ وَلَاءَهَا لَنَا، فَذَكَرَتْ عَائِشَةُ ذَاكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ "لَا يَمْنَعُكِ ذَلِكِ فَإِنَّ الْوَلَاءَ لِمَنْ أَعْتَقَ".

دابن عمر نه روايت دې فرمائی چه ام المومنين عائشې رضی الله عنها غوښتل چه يوه وينځه واخلي او ازاده ئې کړي نو دوينځې مالکانو اووئيل مونږ به دربانديې وينځه په دې شرط خرڅه کړو چه ددې دولاحق به مونږ ته حاصل وي ام المومنين نبی عليه السلام ته ددې ذکراوکړو نبی عليه السلام اوفرمائيل دوينځې داخستلو اراده مه بدلوه ځکه چه دوينځې دولا حق هغه چاته حاصل وي چه څوك ئې ازاده کړي.

د بريرة رضی الله عنها د شراء والا حديث باندې کلام:

قوله: ﴿ عن ابن عمر رضی الله عنهما ان عائشة رضی الله عنها ارادت ان تشترى جارية تعتقها فقال اهلها نبيعكها على ان ولاءها لنا الخ ﴾: د عائشې رضی الله عنها دا حديث د شراء بريرة په سلسلة کښې وړاندې په کتاب العتق کښې ﴿ باب بيع المكاتب اذا فسخت المكاتبه ﴾ د لاندې تفصيل سره راروان دې په دې باندې به کلام هم هلته راشی انشاء الله تعالى...... په دې حديث کښې دی ﴿ الولاء لمن اعتق ﴾ چه مسئله اجماعی ده او مطلب ئې دا دې چه که د يو سړی آزاد کړې شوې غلام مړ شی او هغه خپل څوك وارث پرې نږدی نو بيا په دې صورت کښې د هغه د ميراث مستحق به د هغه آزاد کړې وې غلام وی. په دې واقعه کښې يو مشهور اشکال دا کولې شی چه رسول الله ﷺ عائشې رضی الله عنها ته اجازت ولې ورکړو په شراء د بريرة رضی الله عنها کښې د ولاء شرط چه هغه به د بائع دپاره وی لګول ځکه چه دا شرط بالاجماع جائز دې؟ جواب دا دې چه رسول الله ﷺ داسې زجرا اوفرمائيل يعنی د دې شرط اجازت د دې د باقی پريخودلو دپاره رسول الله ﷺ نه وو ورکړې بلکه د دې ابطال مقصود وو دې وجې نه رسول الله ﷺ د دې نه پس خطبه ورکړې وه چه په خلقو باندې څه چل شوې دې چه په بيع کښې د ولاء شرط لګوی، د خلقو شرط لګول باطل دی ﴿ وان کان مائة شرط، شرط الله احق ﴾ دا زيادت په روايت مفصله

(¹): صحيح البخاري/البيوع ۷۳ (۲۱۶۹)، والمكاتب ۲ (۲۵۶۲)، والفرائض ۱۹ (۶۷۵۲)، صحيح مسلم/العتق ۲ (۱۵۰۴)، سنن النسائي/البيوع ۷۶ (۴۶۴۸)، (تحفة الأشراف: ۸۳۳۴)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/العتق ۱۰ (۱۸)، مسند احمد (۲۸/۲، ۱۱۳، ۱۵۳، ۱۵۶) (صحيح)

کښې دي، دلته روایت مختصر دی.

[۲۹۱۶](۱) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعُ بْنُ الْجَرَّاحِ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْطَى الثَّمَنَ وَوَلِيَ النِّعْمَةَ".

دام المومنین عائشة رضي الله عنها نه روایت دي فرمائي چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی دولا حق به هغه چاته ورکولې شي څوك چه قیمت خرید اداکړي او په غلام باندې احسان اوکړي یعنی ازاد ئې کړي.

[۲۹۱۷](۲) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ أَبِي الْحَجَّاجِ أَبُو مَعْمَرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ حُسَيْنٍ الْمُعَلِّمِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رِئَابَ بْنَ حُذَيْفَةَ تَزَوَّجَ امْرَأَةً فَوَلَدَتْ لَهُ ثَلَاثَةَ غِلْمَةٍ، فَمَاتَتْ أُمُّهُمْ فَوَرِثُوهَا رِبَاعَهَا، وَوَلَاءَ مَوَالِيهَا، وَكَانَ عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ عَصَبَةَ بَنِيهَا فَأَخْرَجَهُمْ إِلَى الشَّامِ فَمَاتُوا، فَقَدِمَ عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ وَمَاتَ مَوْلًى لَهَا وَتَرَكَ مَالًا لَهُ فَخَاصَمَهُ إِخْوَتُهَا إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، فَقَالَ عُمَرُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أَحْرَزَ الْوَلَدُ أَوِ الْوَالِدُ فَهُوَ لِعَصَبَتِهِ مَنْ كَانَ"، قَالَ: فَكَتَبَ لَهُ كِتَابًا فِيهِ شَهَادَةُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَرَجُلٍ آخَرَ، فَلَمَّا اسْتُخْلِفَ عَبْدُ الْمَلِكِ اخْتَصَمُوا إِلَى هِشَامِ بْنِ إِسْمَاعِيلَ، أَوْ إِلَى إِسْمَاعِيلَ بْنِ هِشَامٍ فَرَفَعَهُمْ إِلَى عَبْدِ الْمَلِكِ، فَقَالَ: هَذَا مِنَ الْقَضَاءِ الَّذِي مَا كُنْتُ أَرَاهُ، قَالَ: فَقَضَى لَنَا بِكِتَابِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَنَحْنُ فِيهِ إِلَى السَّاعَةِ.

عمرو بن شعیب دخپل پلارنه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی چه رئاب بن خذیفه د یوې ښځې سره نکاح اوکړه اودرې هلکان ئې پیداشو اومورئې مړه شوه نوددې ځامن دخپلې مور د کورونو او ددې د آزادو کړو غلامانو د ولاء وارثان شول اوعمرو بن العاص نه ددې دځامنو عصبه وو یعنی وارث وو ددې نه پس عمروبن العاص نه ددې ځامن شام ته اولیږل اوهغوی هلته مړه شول عمرو بن العاص راغې اوپه دې دوران کښې دهغې ښځې یوازاد کړې شوې غلام مړ شو اومال ئې پاتې شو نوددې ښځې ورور ددې دځامنوپاره عمرفاروق رضي الله عنه ته جګړه یوړله عمرفاروق رضي الله عنه اووئیل نبی علیه السلام فرمائیلی دی کله چه اولاد یاپلار میراث پریږدي نوهغه به دهغه وارثانوته ورکولې شي اوبیاعمرفاروق په دې سلسله کښې یوه فیصله أولیکله او په دې باندې ئې عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه اوزید بن ثابت رضي الله عنه اود یوبل سړی ګواهی ئې پرې اولیکله، کله چه عبدالملك بن مروان خلیفه شو نو بیا دغه خلقو جګړه اوکړه، دې خلقو خپله مقدمه هشام بن اسماعیل یا اسماعیل بن هشام ته یوړله، هغوی دا مقدمه عبدالملك ته اولیږله، عبدالملك اووئیل: دا فیصله خو داسې معلومیږی لکه چه دا ما لیدلې وی، راوی وائی بیا عبدالملك د عمربن خطاب رضي الله عنه د فیصلې مطابق فیصله ورکړه او ولاء تر اوسه پورې مونږ سره دی.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری واخرجه الترمذی ایضا فی آخر کتاب الوصایا مفصلا وفی بیع الولاء وهبة مختصرا.

---

(۱): صحیح البخاري/الفرائض ۲۰ (۶۷۶۰)، سنن النسائي/الطلاق ۳۰ (۳۴۷۹)، (تحفة الأشراف: ۱۷۴۳۲، ۱۵۹۹۱)، وقد أخرجه: صحیح مسلم/العتق ۲۰ (۱۵۰۴)، سنن الترمذي/البیوع ۳۳ (۲۱۲۶)، مسند احمد (۶/۱۷۰، ۱۸۶، ۱۸۹) (صحیح)

(۲): سنن ابن ماجه/الفرائض ۷ (۲۷۳۲)، (تحفة الأشراف: ۱۰۵۸۱، ۱۸۵۹۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۲۷) (حسن)

شرح الحديث والكلام عليه بالبسط:

قوله:﴿ عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده ان رياب بن حذيفه تزوج امرأة فولدت له ثلاثة غلمة فماتت امهم فورثوها رباعها وولاء مواليها ﴾ دا حديث د توريث الولاء په سلسله کښې دې، د دې مضمون دا دې چه يو سړی چه د هغه نوم رياب بن حذيفه دې هغه يوې زنانه سره واده اوکړو چه د هغې نوم ام وائل بنت معمر دې، د هغه د هغې زنانه نه درې ځامن پيدا شو څو ورځې پس د هغوی د مور انتقال اوشو او هغه هلکان د خپلې مور د رباع يعنی کورونو او جائداد وغيره او د هغې د موالی د ولاء وارثان شو(دې ځائې پورې خو په دې روايت باندې هيڅ اشکال نشته، مسئله صفا ده اوس وړاندې واورئ) وړاندې په روايت کښې دا دی چه عمرو بن العاص ﷺ د دې هلکانو عصبه وو (په روايت کښې د رشتې هيڅ تعين نشته ممکنه ده چه عم يا ابن العم وی) نو دې عمرو بن العاص ﷺ دا هلکان خپل ځان سره په سفر باندې شام ته بوتلل، هلته په دغه زمانه کښې طاعون خور شوې وو يعنی طاعون عمواس، کوم چه په تاريخ کښې مشهور دې او د عمر ﷺ په زمانه کښې وو، دا درې واړه هلکان هم په دې طاعون کښې ختم شو، عمرو بن العاص ﷺ چه کله د سفر نه را واپس شو نو په واپسئ باندې هغوی ته معلومه شوه چه د هغه زنانه يعنی ام وائل يو مولی يعنی آزاد کړې شوې غلام بل مړ دې او هغه مال هم پريخودلې دې، اوس په هغه ولاء کښې د ام وائل د رونړو او د عمرو بن العاص ﷺ اختلاف پيدا شو، يعنی عمرو بن العاص ﷺ مدعی وو چه دا ولاء ماته ملاويدل پکار دی او د ام وائل رونړو وئيل چه د دې مستحقين مونږ يو ځکه چه مونږ د دې زنانه عصبه يو چه د چا د غلام دا ولاء ده، او د عمرو بن العاص ﷺ وينا دا وه چه زه د دې زنانه د ځامنو عصبه يم که هغه ځامن ژوندی وې نو د دې به هغوی وارثان وې نو اوس چونکه هغوی نشته نو د هغه ځامنو د عصبه کيدو په حيثيت سره زما وارث کيدل پکار دی، چونکه دا واقعه د عمر ﷺ د خلاف د زمانې ده په دې وجه دا مقدمه هلته پيش شوه، عمر ﷺ د مسئلې په صورت باندې د پوهيدو نه پس دا اوفرمائيل ﴿ قال رسول الله ﷺ ما احرز الولد او الوالد فهو لعصبته من كان ﴾ يعنی د مړی خوئې يا پلار چه څه هم په ترکه کښې حاصل کړی هغه به د هغه نه پس د هغه د عصبه دپاره وی که هغه عصبه هر څوک وی، دلته د دې حديث په رڼړا کښې د عصبة الولد مصداق عمرو بن العاص ﷺ جوړيدو پس عمر ﷺ د عمرو بن العاص ﷺ په حق کښې فيصله اوفرمائيله او خپله فيصله ئې اوليکله چه په هغې کښې د دوه کسانو يعنی عبدالرحمن بن عوف او زيد بن ثابت ﷺ او د يو دريم کس شهادت هم وو.

﴿ فلما استخلف عبدالملك اختصموا الى هشام بن اسماعيل فرفعه الى عبدالملك ﴾

چونکه اخوة المراة ته د عمر ﷺ په فيصله باندې تسلی نه وه شوې اگر چه خاموش شوې وو په دې وجه کله چه د عبدالملک بن مروان زمانه راغله نو هغه وخت د مدينې طيبې امير هشام بن اسماعيل وو لهذا دې اخوة المراة دا خپله معامله هغه ته يوړه، هشام بن اسماعيل دا قضيه د عبدالملک مخې ته پيش کړه، عبدالملک په دې فيصله باندې د

ځان پوهولو نه پس دا اووې: ﴿ هذا من القضاء الذی ما کنت اراه ﴾ په بذل کښې دا لیکلې دی چه په دې لفظ ما کښې دوه احتمالات دی یو دا چه زائده وی او یا نافیه، د زائده کیدو په صورت کښې خو به ئې مطلب دا وی چه زما رائې هم د عمر رضی الله عنه د هم دهغه فیصلې مطابق ده او د نافیه کیدو په صورت کښې به ئې مطلب دا وی چه عبدالملک دا وائی چه په دې فیصله کښې اګر چه زما رائې دا نه ده خو چونکه د عمرفاروق رضی الله عنه کړې شوې فیصله ده په دې وجه زه هم دا برقرار ساتم.

﴿ فنحن فیه الی الساعة ﴾ د نحن مصداق د عمرو بن العاص رضی الله عنه اولاد چه مونږ تر نن ورځې پورې په دې فیصله باندې یو، دا روایت په تفصیل سره په سنن ابن ماجة کښې دې لکه چه په بذل کښې دا نقل کړې شوې د هغې په کتلو باندې هم دا معلومیږی چه عبدالملک د عمر رضی الله عنه د فیصلې موافقت اوفرمائیلو، لهذا په ﴿ ما کنت اراه ﴾ کښې ما نافیه نه ده بلکه موصوله یا زائده ده.

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه دلته په روایت کښې دی ﴿ فقدم عمرو بن العاص رضی الله عنه ومات مولی لها ﴾ دا جمله ﴿ ومات مولی لها ﴾ تاویل ته محتاج ده ﴿ ای وقد مات مولی لها ﴾ [1] او دا جمله حالیه ده، یعنی عمرو بن العاص رضی الله عنه چه کله د ملک شام نه واپس راغلو نو دلته راتلو سره ورته معلومه شوه چه د هغې زنانه یو غلام مړ شوې دې یعنی د هغه هلکانو په ژوند کښې، او دا مطلب ئې نه دې چه د عمرو بن العاص رضی الله عنه د راتلو نه پس د هغه زنانه د یو ازاد کړې شوی غلام وفات اوشو، او دا تاویل په دې وجه ضروری دې چه د عمر رضی الله عنه کوم استدلال چه په دې مقام باندې د ﴿ ما احرز الولد ﴾ نه دې هغه صحیح شی او په دې واقعې باندې منطبق شی ځکه چه ظاهره ده احراز ولد. به هم د هغه په حیات کښې وی نه پس د وفات نه. دا اشکال او جواب د ابوداؤد په دې روایت باندې په ﴿ تذکرة الرشید ﴾ کښې ذکر شوې دې، حضرت ګنګوهی رحمه الله نه دا سوال یو عالم کړې وو حضرت د دې جواب دا ارشاد اوفرمائیلو کوم چه پورته ذکر شو.

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه د عمر رضی الله عنه د دې فیصلې حاصل توریث الولاء دې یعنی دا چه که په ولاء کښې هم میراث جاری کیږی ځنګه چه په نورو امورو کښې جاری کیږی خو جمهور علماء کرام چه په کښې ځلور امامان هم دی د دې قائل نه دی نعم فی روایة عن احمد وکذا روی عن علی دون الخلفاء الثلاثة، لکه چه د ابوداؤد په یو نسخه کښې دی کومه چه د بذل المجهود په حاشیة باندې دی. د هغه نسخې عبارت دا دې: الناس یتهمون عمرو بن شعیب فی هذا الحدیث، قال ابوداؤد: وروی عن ابی بکر وعمر وعثمان خلاف هذا الحدیث الا انه روی عن علی بن ابی طالب بمثل هذا، د جمهور علماء کرامو استدلال د دې حدیث نه دې، ﴿ الولاء لحمة کلحمة النسب لا یباع ولا یورث ﴾ یعنی ولاء خو یو قسم نسب دې او د نسب بیع یا توریث نه وی بلکه د جمهورو مسلک دا دې چه ولاء د مولی دپاره وی او

[1]) کما فی قوله تعالی جآؤکم حصرت صدورهم ای وقد حصرت صدورهم)

که هغه نه وي نو بيا اقرب العصبة الى المولى پشان دې، د نورو مالونو دپاره په دې کښې باقاعده ميراث نه جاري کيږي چه په ټولو وارثانو کښې تقسيم شي، د امام ابوداؤد رحمه الله د جواب حاصل کوم چه مونږ د حاشيې نه نقل کړې دې. دا دې چه دا حديث ضعيف دې بلکه ثابت نه دې ځکه چه دا د عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده په سند سره دې چه په هغې باندې کلام مشهور دې، او دويم په دې وجه هم چه دا د يو بل مشهور او صحيح حديث خلاف دې يعنې ﴿ الولاء لمن اعتق ﴾ خو د حضرت ګنګوهی رحمه الله په بعض تقاريرو کښې دا دی چه د عمر رضی الله عنه په حديث کښې چه دا ذکر کړې شوې دی ﴿ ما احرز الولد ﴾ نو د احراز تعلق خو د ترکې سره وی د ولاء سره د هغې تعلق نه شی کيدې ﴿ اذ هو لحمة كلحمة النسب فلا يمكن احرازه مثل النسب ﴾ او وراثت جاري کيږي په مال کښې نه په نسب کښې، لهذا دا به وئيلې شی چه د عمر رضی الله عنه د فيصلې تعلق د رباع وغيره مالونو سره دې د ولاء سره نه دې آهـ..... قلت لكن فيه ما فيه.... دا حديث ماته په سبق کښې ډير ګران معلوم شو الحمد لله چه حل شو. والحديث اخرجه النسائي وابن ماجة، واخرجه النسائي ايضا مرسلا. قاله المنذري.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يُسْلِمُ عَلَى يَدَيِ الرَّجُلِ

باب: څوک چه د بل مسلمان په لاس مسلمان شي نو هغه به دده وارث وی

[۲۹۱۸](1) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ مَوْهَبٍ الرَّمْلِيُّ، وهِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى، قَالَ أَبُو دَاوُد وَهُوَ ابْنُ حَمْزَةَ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَوْهَبٍ، يُحَدِّثُ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ ذُؤَيْبٍ، قَالَ هِشَامٌ، عَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَقَالَ يَزِيدُ: إِنَّ تَمِيمًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا السُّنَّةُ فِي الرَّجُلِ يُسْلِمُ عَلَى يَدَيِ الرَّجُلِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ؟ قَالَ: "هُوَ أَوْلَى النَّاسِ بِمَحْيَاهُ وَمَمَاتِهِ".

تميم داری رضی الله عنه وائی چه ما عرض اوکړو، اې د الله رسوله ﷺ! د هغه سړي باره کښې د شريعت څه حکم دې چا چه د يو مسلمان سړي په لاس باندې ايمان راوړلې وی؟ نبی کريم ﷺ اوفرمائيل: دغه سړې د نورو په نسبت د هغه مرګ او ژوند ته زيات نږدې دې (که د هغه بل څوک وارث نه وی نو هم دې به ئې وارث وی).

﴿ ان تميما رضى الله تعالى عنه قال يا رسول الله ﷺ! ما السنة فى الرجل يسلم على يدى الرجل؟ قال هو اولى الناس بمحياه ومماته ﴾

شرح الحديث والكلام عليه من حيث الفقه:

يعنې د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شو چه د شريعت فيصله د هغه انسان په باره کښې څه ده چه د يو مسلمان په لاس باندې اسلام قبول کړی؟ (ښکاره خبره ده چه د هغه لوئې احسان دې په دې نوی مسلمان شوی باندې پس وړاندې فرمائی چه) هغه يعنې د کوم سړي په لاس باندې چه اسلام راوړې شو په ټولو خلقو کښې زيات مستحق دې د دې نوی مسلمان شوی په ژوند کښې هم او د هغه د مړ کيدو نه پس هم، چه هر کله په ټولو انسانانو

(1): سنن الترمذي/الفرائض ۲۰ (۲۱۱۲)، سنن ابن ماجه/الفرائض ۱۸ (۲۷۵۲)، (تحفة الأشراف: ۲۰۵۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۰۲/۴، ۱۰۳)، سنن الدارمي/الفرائض ۳۴ (۳۰۷۶) (حسن صحيح)

کښې د تولو نه زیات هم هغه اولی او احق دی د هغه نوی مسلمان شوی نو د هغه ولاء به هم د هغه دپاره وی لکه د آزاد کړې شوی غلام ولاء چه د معتق دپاره وی.
دا حدیث چه کوم علماء کرام د ولاء الاسلام قائل دی د هغوی دلیل دې لکه عمر بن عبدالعزیز رحمه الله او سعید بن المسیب رحمه الله وغیره کما تقدم فی مبداء الباب او د جمهورو استدلال دمشهور حدیث ﴿ الولاء لمن اعتق ﴾ نه دې چه متفق علیه دې ځکه چه په هغه حدیث کښې په حصر سره بیان کړې شوې ده د ولاء د معتق دپاره کیدل، معلومه شوه د ولاء سبب صرف عتق دې اسلام یا بل څه نه دی، او د حدیث الباب جواب دا دې چه هغه ضعیف دې، امام ترمذی رحمه الله هم په دې باندې کلام کړې دې او نورو محدثینو هم، په دې کښې یو روای عبدالعزیز بن عمر دې هغه ضعیف دې دغه شان ابن وهب راوی غیر معروف دې، په خلاف د جمهور علماء کرامو د دلیل چه هغه متفق علیه حدیث دې، او دویم جواب د دې حدیث دا ورکړې شوې دې چه دا منسوخ دې، کیدې شی چه په شروع د اسلام کښې رسول الله ﷺ فرمائیلې وی، ځکه چه په ابتداء د اسلام کښې د اسلام او نصرت په بنیاد باندې توارث کیدلو کوم چه روستو منسوخ شو، بعض شارحانو د احنافو مذهب هم د دې حدیث موافق لیکلې دې چه احناف هم د ولاء الاسلام قائل دی، خو دا نقل مطلقا صحیح نه دې خو که د اسلام سره موالاة او محالفه هم مقترن شی نو امر اخر دې په دې صورت کښې به زمونږ په نزد معتبر دا وی او په دې صورت کښې د هغه دپاره ولاء وی، ځکه چه احناف د ولاء الموالاة قائل دی چه د هغې جمهور قائل نه دی کما تقدم من قبل ذلک..... ښه ځان پوهه کړئ کذا قال الشیخ فی البذل. والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

بَابٌ فِي بَيْعِ الْوَلَاءِ

باب: د ولاء (میراث) خرڅولو بیان

[۲۹۱۹] (۱) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْوَلَاءِ وَعَنْ هِبَتِهِ".

عبدالله بن عمر رضی الله عنه وائی چه رسول الله ﷺ د ولاء خرڅولو او ددې د هبه کولو نه منع فرمائیلې ده.

قوله: نهی رسول الله ﷺ عن بیع الولاء وعن هبته :

شرح الحدیث:

په زمانه د جاهلیت کښې به عربو د ولاء بیع کوله او د هغې به ئې اجرت اخستلو، اسلام چه راغلو نو د دې نه ئې منع اوکړه ځکه چه ولاء څه مال نه دې چه د هغې بیع اوکړې شی بلکه دا د حقوقو نه یو حق دې فلا یرد علیه البیع (بذل) یعنی ولاء د استحقاق ارث نوم دې یعنی د

(۱): صحیح البخاري/ العتق ۱۰ (۲۵۳۵)، الفرائض ۲۱ (۶۷۵۶)، صحیح مسلم/ العتق ۳ (۱۵۰۶)، سنن الترمذي/البیوع ۲۰ (۱۲۳۶)، الولاء ۱ (۲۱۲۶)، سنن النسائي/البیوع ۸۵ (۴۶۶۳)، (تحفة الأشراف: ۷۱۸۹)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/العتق والولاء ۱۰ (۲۰)، سنن ابن ماجه/الفرائض ۱۵ (۲۷۴۷) مسند احمد (۲/۹، ۷۹، ۱۰۷)، سنن الدارمي/البیوع ۳۶ (۲۶۱۴) (صحیح)

معتق (ازاد کړې شوې غلام) د میراث استحقاق کوم چه معتق ته حاصل وی د عتق په وجه، عتق یو احسان عظیم دې د مولی د طرف نه په خپل غلام باندې نو د دې په صله کښې شریعت معتق لره د معتق د میراث حق ورکړوچه د هغه د مرګ نه پس هغه د هغه مالک ته ملاؤ شی، لکه چه نسب سبب د استحقاق وی پس څنګه چه د نسب نه حق د میراث حاصلیږی هم دغه شان د عتق نه د میراث حق حاصلیږی چه د هغې نه په ولاء سره تعبیر کولې شی او ښکاره خبره ده بیع او هبه وغیره کیږی د جواهرو. نه د معانی او اعراضو، اصل معنی خو د ولاء هم دا ده، هسې د دې اطلاق او استعمال په میراث المعتق باندې کیږی.والله تعالی اعلم وهذا غاية تسهيل لهذا المقام والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری.

باب فِي الْمَوْلُودِ يَسْتَهِلُّ ثُمَّ يَمُوتُ

که چرې یو ماشوم ژوندې پیدا شی او د چغې نه پس مړ شی؟

[۲۹۲۰] (۱) حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ إِسْحَاقَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قُسَيْطٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا اسْتَهَلَّ الْمَوْلُودُ وُرِّثَ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی ماشوم چه کله د پیدا کیدو نه پس آواز اوکړي نو ده لره وارث ګرځولې شي.

﴿ عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال اذا استهل المولود ورث ﴾

د استهلال اصل معنی خو د میاشت لیدو ده (روية هلال) د دې نه پس د دې استعمال اوشو په رفع الصوت یعنی چغه وهلو کښ، په دې مناسبت سره چه په رومبئ شپه باندې د میاشت په لیدو باندې خلق شور کوی چه میاشت اولیدې شوه، بیا د دې نه پس د دې استعمال د ژوند آثار او د ماشوم په ژړا کښې شروع شو هم دا دلته په حدیث کښې مراد دې.

حديث الباب کښې اختلاف ائمة:

او د حدیث مطلب دا دې چه د ماشوم د پیدا کیدو نه پس که په هغه کښې د ژوند آثار بیا موندلې شو او په دې دوران کښې څوک نزدې خپلوان مړ شو نو مولود به د هغه وارث وی او که بیا نه موندلې شی نو نه به وی، د احنافو او شوافعو په نزد خو هم دغه شان ده چه صرف د ژوند د آثارو موجود کیدل کافی دی، وقال مالک رحمه الله واحمد رحمه الله بشرط الرضاع كذا في هامش البذل عن الشعرانی.

دلته یوه بله مسئله ده او هغه ده د ﴿ صلوة علی الطفل ﴾ کومه چه په کتاب الجنائز کښې را روانه ده هغه دا چه په ماشوم باندې د مونځ کولو دپاره هم د ژوند آثار بیا موندل ضروری دی یا نه؟ دا مسئله مختلف فیه ده، د ائمه ثلاثه او جمهور په نزد خو هلته هم استهلال شرط دې، د امام احمد رحمه الله په دې کښې اختلاف دې د هغوی په نزد شرط نه دې، دلیل به د مسئلې په خپل مقام کښې راشی، دلته تبعا راغلو.

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱٤۸٤۰) (صحيح)

بَابُ نَسْخِ مِيرَاثِ الْعَقْدِ بِمِيرَاثِ الرَّحِمِ

په رشته دارۍ د وارث کېدو په بنا د اقرار په ذريعه وارث کېدل منسوخ شول

[۲۹۲۱](۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ ثَابِتٍ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ﴿وَالَّذِينَ عَاقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ فَآتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ﴾، كَانَ الرَّجُلُ يُحَالِفُ الرَّجُلَ لَيْسَ بَيْنَهُمَا نَسَبٌ فَيَرِثُ أَحَدُهُمَا الآخَرَ، فَنَسَخَ ذَلِكَ الأَنْفَالُ فَقَالَ تَعَالَى: ﴿وَأُولُو الأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ﴾ سورة الأنفال آية ۷۵.

دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه دالله تعالى داقول: «والذين عقدت أيمانكم فآتوهم نصيبهم» په تيره زمانه كښې به خلقو يوبل ته قسم وكړو او ددوى په مينځ كښې به رشته داري نه وه اويوبه دبل وارث جوړ شو نوداحكم دسورة انفال په دې ايت: «وأولو الأرحام بعضهم أولى ببعض» باندې منسوخ شو.

[۲۹۲۲](۲) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، حَدَّثَنِي إِدْرِيسُ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنَا طَلْحَةُ بْنُ مُصَرِّفٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿وَالَّذِينَ عَاقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ فَآتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ﴾، قَالَ: كَانَ الْمُهَاجِرُونَ حِينَ قَدِمُوا الْمَدِينَةَ تُوَرَّثُ الأَنْصَارَ دُونَ ذَوِي رَحِمِهِ لِلأُخُوَّةِ الَّتِي آخَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمْ، فَلَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ ﴿وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ﴾، قَالَ نَسَخَتْهَا ﴿وَالَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ فَآتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ﴾ سورة النساء آية ۳۳، مِنَ النَّصْرِ وَالنَّصِيحَةِ وَالرِّفَادَةِ وَيُوصِي لَهُ وَقَدْ ذَهَبَ الْمِيرَاثُ.

دابن عباس نه دالله پاك ددې قول: قوله «والذين عقدت أيمانكم فآتوهم نصيبهم» متعلق منقول دي چه كله مهاجرين مدينې ته راغلل نو انصاربه ددوى وارثان كيدل اودوى به دانصارو وارثان كيدل علاوه درشته دارى. په وجه دهغه اخوت كوم چه نبى عليه السلام په دوى كښې قائم كړي ووهركله چه دا اىه نازل شو «ولكل جعلنا موالي مما ترك» نازل نو پورتني ايت منسوخ شو.

شرح الحديث وايضاح المسئلة:

دا د ولاء د سلسلې دريم باب دې چه د هغې ذكر په شروع كښې راغلې دې، د عقد نه مراد عقد بالموالاة چه هغې ته ولاء الموالات هم وئيلې شى، د مصنف رحمه الله دا ترجمه د ائمه ثلاثه د مسلك مطابق ده كوم چه دا وائى چه د عقد موالاة په ذريعه استحقاق د ارث اوس پاتې نه شو بلكه منسوخ شوې دې د ميراث د رحم په ذريعه، د رحم نه مراد رشته دار او خپلوان دى، يعنى د خپلوانو ميراث د عقد موالات ميراث منسوخ كړو د ناسخ او منسوخ دواړو بيان په حديث الباب كښې ذكر شوې دې، پس رومبى آيت كريمه ﴿ والذين عاقدت ايمانكم ﴾ كښې د ميراث موالات ثبوت دې لكه چه ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چه په شروع كښې به داسې كيدل چه يو سړى د يو پردئ سره محالفت يعنى د دوستئ عهد اوكړو بغير د نسبى تعلق نه او بيا به د هغه عقد د وجې به هغوى د يو بل وارثان وو لكه چه د مهاجرينو او انصارو

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۶۲۶۱) (حسن صحيح)

(۲): صحيح البخاري/الكفالة ۲ (۲۲۹۲)، تفسير سورة النساء ۷ (۲۲۹۲)، الفرائض ۱۶ (۶۷۴۷)، (تحفة الأشراف: ۵۵۲۳) (صحيح)

ترمینځه داسې شوې وو، ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه دې آیت لره د سورة الانفال د آیت کریمه ﴿ والوا الارحام بعضهم اولی ببعض ﴾ سره منسوخ کړې شو او د ابن عباس رضی الله عنهما د دې نه روستو راتلونکی روایت کښې بعینه هم دا مضمون دې چه کله مهاجرین مدینه طیبې ته اورسیدل نو هغوی به د انصارو وارثان جوړیدل نه د هغوی خپلوان یعنی د انصارو وارثان به مهاجرین وو د خپلوانو په ځائې د خپلوانو د وارث کیدو، ﴿ فلما نزلت هذه الاية... ولكل جعلنا موالی مما ترک..... قال نسختها ﴾ یعنی چه کله دا دویم آیت کریمه ﴿ ولكل جعلنا موالی مما ترک ﴾ نازل شو نو هغه ړومبې آیت کریمه منسوخ شو، په دې عبارت کښې د نسخت فاعل دا آیت ثانیه یعنی ﴿ولكل جعلنا موالی ﴾ دې او ضمیر منصوب راجع دې آیت اولی ته، ﴿ والذين عاقدت ایمانکم ﴾ طرف ته، او دا جمله هم دلته پوره شوه د ناسخ او منسوخ دواړو بیان راغلو، بیا د دې نه روستو په دویم ځل چه کوم آیت او عبارت راځی، ﴿ والذين عاقدت ایمانکم فاتوهم نصيبهم ﴾ من النصر والنصيحة الخ..... د دې نه مقصود د ابن عباس رضی الله عنهما دا بیان کول دی چه د دې آیت منسوخ کیدو نه پس اوس د دې آیت کریمه مفهوم چه په هغې باندې عمل کیدل پکار دی هغه صرف نصر ا دنصیحت باقی پاتې شو ﴿ وقد ذهب الميراث ﴾ یعنی د میراث په باره کښې دا آیت کریمه نه دې منسوخ شوې صرف د میراث په اعتبار سره منسوخ شوې دې د دې آیت د داسې وضاحت کولو ضرورت مونږ ته ځکه راغلو چه په بادی الرائۍ کښې عبارت داسې دې. ﴿ نسختها والذين عقدت ایمانکم ﴾ یعنی په ظاهره دا معلومیږی چه د نسخت فاعل ﴿ والذين عاقدت ایمانکم ﴾ دې. او ﴿ها ﴾ ضمیر ﴿ ولكل جعلنا﴾ طرف ته واپس کیږی، په دې صورت کښې مطلب بالکل برعکس کیږی، ښه ځان پوهه کړئ، د محنت او د غور کولو ضرورت دې بغیر د هغې نه هیڅ نه حاصلیږی. دا د ابن عباس رضی الله عنهما روایت او څه چه هغوی د نسخ په باره کښې فرمائیلې دی د ائمه ثلاثه موافق دی او د هغوی رائې هم دا ده. د دې خلاف احناف چه د میراث العقد قائل دی هغوی وائی ﴿والذين عقدت ایمانکم ﴾ د دې آیت کریمه دپاره دویم آیت ﴿ والوا الارحام بعضهم اولی ببعض ﴾ ناسخ نه دې بلکه دواړه آیتونه معمول بها دی فرق دا دې چه په شروع کښې به په عقد موالاة باندې میراث جاری کیده او خپلوانو لره به وارث نه شو جوړولې، بیا روستو چه کله دا آیت نازل شو نو د هغې مطلب هغوی دا اخلی چه اقارب په توریث کښې مقدم وی په عقد موالاة باندې یعنی د هغوی په موجودګئ کښې به مولی الموالاة وارث نه وی، او که په ذوی الارحام کښې څوک نه وی نو هغه وخت به مولی الموالاة وارث وی، د ذوی الارحام نه مراد اقارب او رشته دار دی.

هكذا ينبغي ان يفهم بهذا المقام فانه من مزال الاقدام.........

والحديث اخرجه البخاري والنسائي، قاله المنذري

[۲۹۲۳]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَعَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى الْمَعْنَى، قَالَ أَحْمَدُ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ الْحُصَيْنِ، قَالَ: كُنْتُ أَقْرَأُ عَلَى أُمِّ سَعْدٍ بِنْتِ الرَّبِيعِ، وَكَانَتْ يَتِيمَةً فِي حِجْرِ أَبِي بَكْرٍ، فَقَرَأْتُ. وَالَّذِينَ عَاقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ، فَقَالَتْ: لَا تَقْرَأْ. وَالَّذِينَ عَاقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ. وَلَكِنْ وَالَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ سورة النساء آيه ۳۳، إِنَّمَا نَزَلَتْ فِي أَبِي بَكْرٍ، وَابْنِهِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ حِينَ أَبَى الْإِسْلَامَ، فَحَلَفَ أَبُو بَكْرٍ أَلَّا يُوَرِّثَهُ، فَلَمَّا أَسْلَمَ أَمَرَ اللَّهُ تَعَالَى نَبِيَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَنْ يُؤْتِيَهُ نَصِيبَهُ، زَادَ عَبْدُ الْعَزِيزِ فَمَا أَسْلَمَ حَتَّى حُمِلَ عَلَى الْإِسْلَامِ بِالسَّيْفِ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: مَنْ قَالَ عَقَدَتْ جَعَلَهُ حِلْفًا، وَمَنْ قَالَ عَاقَدَتْ جَعَلَهُ حَالِفًا، وَالصَّوَابُ حَدِيثُ طَلْحَةَ عَاقَدَتْ.

دابوداود بن حصین نه روایت دې وائی چه مابه ام سعد بنت ربیع ته قران کریم لوستلو اوهغه یتیمه وه دابوبکر په نګرانئ کښې وه نوماداایت کریمه «والذین عقدت أیمانکم» ولوستلو نوهغې اووئیل دا آیت کریمه مه لوله ځکه چه دادحکم په اعتبارسره منسوخ شوې دې دا ایت کریمه دابوبکردځوې عبدالرحمن په باره کښې نازل شوې وو کله چه هغه د اسلام قبلولونه انکارکړې وو نوابوبکر رضی الله عنه قسم کړې وو چه زه به عبدالرحمن خپل وارث نه جوړوم کله چه هغه اسلام قبول کړو نوهغه ورته دحصې ورکولو حکم اوکړو، دعبدالعزیز په روایت کښې دا اضافه ده چه عبدالرحمن دتورې په زور مسلمان شوې وو.

مضمون الحدیث:

قوله: ﴿ عن داؤد بن الحصین قال کنت اقراء علی ام سعد بنت الربیع وکانت یتیمة فی حجر ابی بکر رضی الله عنه الخ ﴾: داؤد بن الحصین وائی چه ما به د ام سعد رضی الله عنها سره قرآن لوستلو او د هغې نه به مې زده کولو او دا ام سعد رضی الله عنها د ابوبکرصدیق رضی الله عنه کره لویه شوې وه، چونکه دا یتیمه شوې وه په دې وجه ئې هم هلته پالنه بیا موندله، نو یوه ورځ چه کله ما د هغوی خوا کښې قراءت کولو نو ما دا آیت کریمه داسې اولوستلو ﴿ والذین عاقدت ایمانکم ﴾ (د باب مفاعلة نه) نو هغې زه اوټوکلم چه داسې مه لوله بلکه ﴿ والذین عقدت ایمانکم ﴾ اولوله (یعنی د مجرد نه) او د دې وجه ئې دا بیان کړه چه ماته معلومه ده چه دا آیت کریمه د ابوبکرصدیق رضی الله عنه او د هغوی د ځوی عبدالرحمن رضی الله عنه په باره کښې نازل شوې دې چه کله په شروع کښې عبدالرحمن د اسلام راوړلو نه انکار اوکړو نو ابوبکرصدیق رضی الله عنه د هغوی نه ناراضه کیدو سره قسم خوړلې وو چه زه به تا نه وارث کوم، یعنی ته به په مونږ کښې د چا وارث هم نه ئې چه هر کله ته اسلام نه قبلوئ. هغه وائی چه کله عبدالرحمن رضی الله عنه اسلام قبول کړو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته حکم ورکړو چه هغه ته د هغه حصه ورکړه او وراثت ئې جوړ کړه. ام سعد رضی الله عنها دا وئیل غواړې چه په دې آیت کریمه کښې د عقد نه مراد حلف دې او قسم کونکې ځانله ابوبکرصدیق رضی الله عنه وو نو د هغه دپاره لفظ عقدت مناسب دې نه ﴿ عاقدت ﴾ ځکه چه باب مفاعله خو شرکت او تعدد لره غواړې.

دا د ام سعد رضی الله عنها خبره په یو لحاظ سره خو په خپل ځائې باندې صحیح ده خو ﴿ عاقدت ﴾ خو مستقل یو قراءت دې کیدې شی چه هغوی ته د دې علم نه وی وراندې په روایت کښې دی

---

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۳۲۰) (ضعیف)

راوی وائی ﴿ فما اسلم حتی حمل علی الاسلام بالسیف ﴾ راوی د عبدالرحمن رضي الله عنه د اسلام حال بیانوی چه هغوی په شروع کښې خو اسلام نه وو قبول کړې په شروع کښې خو د مسلمانانو دشمن وو، د مسلمانانو خلاف ئې توره اوچته کړې وه (ځکه چه دې په جنګ بدر کښې د مشرکانو سره راغلې وو) ﴿ ثم هداه الله تعالی فاسلم قبیل الفتح ﴾ بیا الله پاک هغه ته د اسلام هدایت اوکړو د فتح مکه نه مخکښې.

[۲۹۲٤]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما، وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا سورة الأنفال آية ٧٢، وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا سورة الأنفال آية ٧٢، فَكَانَ الْأَعْرَابِيُّ لَا يَرِثُ الْمُهَاجِرَ، وَلَا يَرِثُهُ الْمُهَاجِرُ فَنَسَخَتْهَا فَقَالَ: وَأُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ سورة الأنفال آية ٧٥.

دابن عباس رضي الله عنه نه روایت دې چه دالله تعالی مخکښې حکم داوو: «والذین، آمنوا وهاجروا»، «والذین آمنوا ولم یهاجروا» کله چه ددې نه پس دا ایت نازل شو: «وأولو الأرحام بعضهم أولی ببعض» نو اولنې آیت منسوخ شو.

﴿عن ابن عباس رضي الله عنهما.......... فکانت الاعرابی لا یرث المهاجر ولا یرثه المهاجر الخ ﴾

اعرابی وائی غیر مهاجر ته یعنی کوم سړې چه اسلام قبلولو سره په خپل کلی کښې پاتې شی او هجرت اونکړی یعنی په شروع کښې د وراثت مدار په نسب باندې نه وو بلکه په هجرت او نصرت باندې وو په دې وجه مهاجر د انصاری او انصاری به د مهاجر بغیر د نسب نه وارث وو، او مهاجر به د غیرمهاجر سره د نسب نه وارث نه وو.

بَابٌ فِي الْحِلْفِ

په څه خبره د قسم کولو بیان

دا حلف په کسرې دحاء او سکون دلام سره دې په معنی د مخالفت، پس په قاموس کښې دی، ﴿ والحلف بالکسر العهد بین القوم اهـ ﴾ او کوم حلف چه د قسم په معنی کښې دې هغه په قاموس کښې په درې طریقو سره لیکلې شوې دې حَلف، حلف او حلف

[۲۹۲٥]([2]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ، وَابْنُ نُمَيْرٍ، وأبو أسامة، عَنْ زَكَرِيَّا، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا حِلْفَ فِي الْإِسْلَامِ، وَأَيُّمَا حِلْفٍ كَانَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ لَمْ يَزِدْهُ الْإِسْلَامُ إِلَّا شِدَّةً".

دزبیر بن مطعم رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائیلی دی چه په اسلام کښې دکفر دزمانې قول لره اعتبارنشته اوهریوقسم چه دجاهلیت په زمانه کښې شوې وې اسلام هغې لره نه زیاتوې مګرسختوالې.

شرح الحدیث:

قوله: ﴿ قال رسول الله ﷺ لا حلف فی الاسلام ﴾ د جاهلیت په زمانه کښې قتال او ظلمونو

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٢٦٢) (حسن صحیح)
[2]: صحیح مسلم/فضائل الصحابة ٥٠ (٢٥٣٠)، (تحفة الأشراف: ٣١٨٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٣/٤) (صحیح)

باندې به خپل مینځ کښې قومونو معاهده کوله نو ښکاره خبره ده چه په اسلام کښې د دې ګنجائش چرته دې، رسول الله ﷺ هم دا خبره فرمائی: ﴿لا حلف فی الاسلام وایما حلف کان فی الجاهلیة لم یزده الاسلام الاشدة﴾ په زمانه د جاهلیت کښې به کله په خیر او امور حقه باندې هم کیدو. په دې جمله کښې رسول الله ﷺ هم د هغې په باره کښې فرمائی چه داسې حلف اسلام نه دې مات کړې بلکه نور ئې هم مضبوط کړې دې کوم معنی چه د حلف مونږ په دویمه جمله کښې اخستلې ده که دا معنی په ړومبئ جمله کښې هم واخستلې شی نو دا هم کیدې شی او په دې صورت کښې به مطلب دا وی چه په اسلام کښې په امور حقه او خیر باندې محالفت ته حاجت نشته بلکه اخوت اسلامی بذات خود کافی دې په امور خیر باندې د تعاون دپاره كذا قالوا.. والحديث اخرجه مسلم، قاله المنذري

[۲۹۲۶](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ: حَالَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ فِي دَارِنَا، فَقِيلَ لَهُ: أَلَيْسَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا حِلْفَ فِي الْإِسْلَامِ"، فَقَالَ: حَالَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ فِي دَارِنَا مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا.

دانس بن مالك بنه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام زمونږ په کور کښې دانصارو اود مهاجرینو په مینځ کښې ورور ولي قائم کړه په دې وخت کښې اووئیلې شول ایا نبی علیه السلام نه دی فرمائیلی چه د اسلام په زمانه کښې دجاهلیت قول لره اعتبار نشته هغه اووئیل نبی علیه السلام زمونږ په کور کښې دمهاجرینو اودانصارو په مینځ کښې ورورولي قائم کړې وه دوه ځله یا درې ځله.

بَابٌ فِي الْمَرْأَةِ تَرِثُ مِنْ دِيَةِ زَوْجِهَا

ښځه د خاوند په دیت کښې حصه اخستلې شی

[۲۹۲۷](۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدٍ، قَالَ: كَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَقُولُ: الدِّيَةُ لِلْعَاقِلَةِ وَلَا تَرِثُ الْمَرْأَةُ مِنْ دِيَةِ زَوْجِهَا شَيْئًا حَتَّى قَالَ لَهُ الضَّحَّاكُ بْنُ سُفْيَانَ كَتَبَ إِلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أُوَرِّثَ امْرَأَةَ أَشْيَمَ الضِّبَابِيِّ مِنْ دِيَةِ زَوْجِهَا فَرَجَعَ عُمَرُ، قَالَ أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ بِهَذَا الْحَدِيثِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدٍ، وَقَالَ فِيهِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَعْمَلَهُ عَلَى الْأَعْرَابِ.

دسعید نه روایت دې چه عمر رضي الله عنه به فرمائیل دیت دخاندان دخلقو دپاره وي اوښځه د خپل خاوند په دیت کښې وارثه نه شی جوړیدن تردې چه ضحاك بن سفیان دده نه نقل کړې دی چه نبی علیه السلام ماته لیکلې وو چه زه داشیم ضبابي ښځې لره دهغې. دخاوند په دیت کښې وارثه مقرر کړم کله چه عمر رضي الله عنه داخبره واوریده نو خپله رائې بدل کړه. احمد بن صالح

۱): صحيح البخاري/الكفالة ۲ (۲۲۹٤)، والأدب ٦٧ (٦٠٨٣)، والاعتصام ١٦ (٧٣٤٠)، صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٥٠ (٢٥٢٩)، (تحفة الأشراف: ٩٣٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١١/٣، ١٤٥، ٢٨١) (صحيح)

۲): سنن الترمذي/الديات ١٩ (١٤١٥)، سنن ابن ماجه/الديات ١٢ (٢٦٤٢)، (تحفة الأشراف: ٤٩٧٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٥٢/٣) (صحيح)

وئیلی دی چه دا حدیث عبد الرزاق دمعمرنه نقل کړې دې او هغه دزهري نه او هغه دسعيدنه.
﴿عن سعيد قال كان عمر بن الخطاب رضي الله عنه يقول : الدية للعاقلة ولا ترث المراة من دية زوجها شيئا ﴾
يعنى په شروع کښې د عمر رضي الله عنه دا رائې وه چه د مقتول ديت به د عصبة المقتول دپاره وی، او ښځه به د خپل خاوند د ديت وارثه نه وی، تردې چه د عمر رضي الله عنه ته ضحاک بن سفيان رضي الله عنه دا بيان نقل کړو چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ليکل ماته راغلې وو ﴿ ورث امراءة اشيم الضبابى من دية زوجها ﴾ يعنى اشيم ضبابى چه کله قتل شوې وو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ضحاک ته اوليکل چه د هغه په ديت کښې د هغه ښځه وارثه کړه، نو په دې باندې عمر رضي الله عنه د خپلې مخکښې رائې نه رجوع اوکړه.

دا ضحاک بن سفيان رضي الله عنه هغه صحابی دې کوم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل قوم په صدقاتو وصول کولو باندې عامل مقرر کړې وو. په دې مسئله کښې چه کومه رائې د عمر رضي الله عنه وه وئيلې شوې دی چه هغه د علی رضي الله عنه هم وه، خو د عمر رضي الله عنه رجوع ثابته شوه د جمهورو مسلک طرف ته د ضحاک بن سفيان رضي الله عنه د روايت د وجې نه.

د دية په باره کښې په شروع کښې د عمر رضي الله عنه رائې او بيا د هغې نه رجوع:

څان پوهول پکار دی چه د ديت مسئله او قاعده د جمهورو په نزد دا ده چه هغه واجب خو وی په عاقله يعنى عصبة القاتل باندې او ملاويږی د مقتول وارثانو ته، په دې کښې د عمر رضي الله عنه رائې د جمهور خلاف وه هغه دا چه ديت واجب هم په عاقله باندې وی او ملاويږی هم عاقله ته، خو چونکه د هغوی مسلک دا وو هم د دې په وجه هغوی د خاوند په ديت کښې د ښځې د حصې قائل نه وو څکه چه زوجه په عاقله کښې نه دې، خو چه کله هغه ته د ضحاک بن سفيان روايت اورسيدو نو هغوی د خپلې رائې نه رجوع اوکړه. دلته دا سوال وارديږی چه د عمر رضي الله عنه رائې دا ولې وه چه په ديت کښې وراثت نه جارى کيږی او هغه وارثانو ته نه ملاويږی بلکه صرف عاقله ته ملاويدل پکار دی؟

د دې وجه لکه چه شارحانو ليکلی دی علی ظاهر القياس دا ده چه وراثت جارى کيږی په هغه مال کښې چه د مړی ملکيت وی (لکه چه عام مالونه وی د ديت نه علاوه) او د ديت وجوب او ثبوت چونکه وی د مقتول نه پس او په ميت کښې د مالک کيدو صلاحيت نشته په دې وجه د دې تقاضه دا ده چه په ديت کښې وراثت هم نه دی کيدل پکار، پس دا صرف عاقله ته ملاويدل پکار دی د تحمل ديت د وجې نه، يعنى چونکه صرف عاقله د قاتل د طرف نه د مقتول د ديت متحمل وی د دې تحمل د وجې نه ملاويدل هم صرف عاقله ته پکار دی، لهذا نه ښځې ته ملاويدل پکار دی نه د هغې نه علاوه نورو وارثانو ته، خو بيا چه کله عمر رضي الله عنه ته د ضحاک بن سفيان رضي الله عنه په واسطې سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د فيصلې علم اوشو چه هغوی په ديت کښې د ښځې حصه مقرر کړې ده نو په دې باندې هغوی خپله رائې او قياس ترک کولو سره رجوع اوکړه.

والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

تنبيه : د ضحاک بن سفيان رضي الله عنه دا روايت د عمر رضي الله عنه د رائې ديت زوج په سلسله کښې

زمونږ د سنن په رواياتو کښې په ابوداؤد او ترمذی کښې صرف دومره دي چه د هغې نه په بادئ الرائ سره دا فهميږي چه د عمر رضي الله عنه رائي صرف د زوجې سره متعلق دي حال دا چه داسې نه ده بلکه د عمر رضي الله عنه رائي د ديت په باره کښې مطلقاً دا وو چه هغه للعاقلة دي للورثة نه دي په خلاف د جمهور علماء کرامو چه د هغوی رائي دا ده چه ديت واجب خو وی په عاقله باندې او په وراثت کښې مستحق وی د هغه وارثان نو ګويا د عمر رضي الله عنه اختلاف د جمهورو سره په اصل مسئله کښې دې پس په نصب الرايه ۳۵۲/٤ کښې دی هم د دې سلسلې درواياتو د لاندې علامه زيلعی رحمه الله د سنن والا رواياتو د تخريج نه پس د مصنف عبدالرزاق نه دا روايت نقل کړې دې ﴿ ورواه عبدالرزاق فی مصنفه اخبرنا معمر عن الزهری عن ابيه عن ابن المسيب ان عمر بن الخطاب قال : ما اری الدية الا للعصبة لانهم يعقلون عنه، فهل سمع احد منکم من رسول الله صلى الله عليه وسلم فی ذلک شيئا؟ فقال الضحاک بن سفيان الکلابی وکان عليه السلام استعمله علی الاعراب... کتب الی رسول الله صلى الله عليه وسلم ان اورث امراءة اشيم الضبابی من دية زوجها، فاخذ به عمر اهـ ﴾ او همدغه شان په موطاء د امام محمد کښې ﴿ باب الرجل يرث من دية امراة والمراءة يرث من دية زوجها ﴾ کښې روايت داسې دې ﴿ ان عمر بن الخطاب رضي الله عنه نشد الناس بمنی : من کان عنده علم فی الدية ان يخبرنی به فقام الضحاک بن سفيان فقال کتب الخ ﴾ او دا چه په دې رواياتو کښې د زوجې تخصيص دې د هغې منشاء هم د بعض روايتونو نه معلوميږی، هغه چه يوې زنانه د عمر رضي الله عنه نه په منی کښې د خپل ځان دپاره په ديت زوج کښې د حصې مطالبه کړې وه، پس په التعليق الممجد کښې دی ﴿ عن سعيد قال جاءت امرة الی عمر تساله ان يورثها من دية زوجها فقال ما اعلم لک شيئا فنشد الناس الحديث ﴾ بيا د دې نه پس هم په دې حاشيه کښې هغه روايت ذکر شوې دې کوم چه په شروع کښې مونږ د نصب الرايه نه نقل کړو. ﴿ نبهنی علی هذا التفصيل وان اختلاف عمر ليس فی هذه الجزئية فقط فی اصل المسئلة عزيزی المولوی حبيب الله المظاهری الجمبارنی ثم المدنی جزاه الله تعالی خيرا.

اخر کتاب الفرائض

د مسائل ميراث تفصيل يو مستقل فن دې کوم چه د دې فن په کتابونو کښې مسطور او مذکور دې، خو د دې فن چه کوم بنياد دې يعنی د قرآن کريم آيتونه د ميراث زړه مې اوغوښتل چه کم از کم په دغه آيتونو کښې د ذکر کړې شوې وارثانو حصې خو مونږ په دې خپل کتاب کښې ذکر کړو چه په بنيادی علم کښې د راتلو نه پس لوستونکو ته د نور تفصيلاتو د معلومولو شوق پيدا شی، او دغه شان په حديث شريف ﴿ تعلموا الفرائض وعلموها الناس فانها نصف العلم ﴾ باندې د عمل توفيق هم آسان شی. بنده دا خدمت د خپلې مدرسې بعض فاضلانو ته اوسپارلو ماشاء الله هغوی دا په ډير ښکلی انداز سره ليکلې راوړو کوم چه په حاشيه کښې ليکلې شوې دې. (۱)

---

(۱) د وراثت په سلسله کښې د زړې زمانې نه په معاشره کښې موجود ظلمونو په وجه باندې الله پاک په قرآن کريم کښې دا مسئله ډير په اهميت او تفصيل سره بيان اوفرمائيله.............. لـه

۶.... پس دسورة النساء په آیت ۱۱، ۱۲ او ۱۳ کښې ددې مسئلې بنیادی تفصیلات ډیر په وضاحت سره موجود دی، مناسب معلومیږی چه د کتب تفسیر او فقه په رڼړا کښې د مختصر تشریحاتو سره په دغه آیتونو کښې ذکر کړې شوې حصو لره او د هغې مستحقینو لره دلته په ترتیب سره ذکر کړې شی. ذکر کړې شوې آیتونو کښې د ټولو نه مخکښې حکم دا دې چه د ټول مال نه اول د هغوی قرض ادا کړې شی او د هغې نه بچ شوی مال نه د مال د دریمې حصې د وصیت تنفیذ اوکړې شی.
پس په آیت کریمه ۱۱ او ۱۲ دواړو کښې څه حصې او د هغې د مستحقینو د ذکر کولو نه پس ارشاد دې ﴿من بعد وصیة یوصي بها او دین﴾ چه دا ټول تقسیم د میراث به د دین د ادا کولو او د تنفیذ د وصیت نه پس وی.بیا په دې آیتونو کښې ټولې شپږ حصې بیان کړې شوې دی: نصف (د پوره حصې نیمه) ربع (څلورمه حصه) ثمن (اتمه حصه) ثلثان (دوه دریمې حصې) ثلث (دریمه حصه) سدس (شپږمه حصه)
او د هغې مستحقین اووۀ دی: ۱: اولاد (چه په هغې کښې مذکر او مونث ټول فروع داخل دی یعنی ځامن، لونړه، نمسی، نمسۍ دغه شان لاندې نسل، خو واضحه دې وی چه د پورته فرع په موجودګۍ کښې به لاندې فرع محروم وی، لکه د ځامنو او لونړو په موجودګۍ کښې به نمسی او نمسۍ محروم وی...... ۲: پلار (او د هغه د نه کیدو په وخت نیکه، دغه شان پورته نیکونه)..... ۳: مور: او د دې د نه کیدو په وخت دواړه نیاګانې چه په یو درجه کښې دی هم دغه شان پورته نیاګانې) خو په هغې کښې چه کومه اقرب الی المیت وی هغه به د ابعد الی المیت دپاره حاجب وی) ۴: خاوند، ۵: ښځه، ۶: اخیافی (په مور کښې شریک) رونړه خویندې ۷: حقیقی (په مور پلار کښې شریک) او ۷ علاتی (صرف په پلار کښې شریک رونړه خویندې.
ذکر کړې شوې حصې او د هغې د مستحقینو تفصیل د قرآن تصریح مطابق داسې دی.

اولاد: د دوی د وراثت څلور صورتونه دی:
۱: چه مذکر او مونث دواړه وی نو د دې صورت دپاره حکم دې: ﴿یوصیکم الله في اولادکم للذکر مثل حظ الانثیین﴾ چه مذکر ته به دوه حصې او مونث ته یوه حصه ملاویږی.
۲: چه صرف یو مونث وی نو ﴿وان کانت واحدة فلها النصف﴾ په بناء بانديې به د نصف ترکه مستحق وی،
۳: که مونث اولاد د دوه یا د دوه نه زائد وی نو ﴿فان کن نسآء فوق اثنتین فلهن ثلثا ما ترک﴾ د وجې نه به د دوېمې حصې مال مستحق وی، (واضحه دې وی چه دلته عبارة النص اګر چه د دوه نه زیاتو دپاره وی خو اقتضاء النص او د احادیثو په رڼړا کښې هم دا حصه ثابتیږی، تفسیر ابن کثیر وغیره کښې د دې تفصیل موجود دې) ۴: څلورم صورت دا دې چه وارث صرف مذکر اولاد وی (یو یا زیات) هغه د عصبه کیدو په وجه د ذوی الفروض نه د بچ شوی ټول مال مستحق وی (کتب تفسیر وسراجي)

۲: **پلار**: د هغه د وارث کیدو درې صورتونه کیدې شی.
۱: که د هغه سره د مړی څوک اولاد مذکر هم وی (که مونث وی او که نه وی) نو په دې صورت کښې ﴿ولابویه لکل واحد منهما السدس مما ترک ان کان له ولد﴾ په وجه باندې هغه د ټول مال د شپږمې حصې مالک وی.
۲: اول د مذکر نه کیدو په صورت کښې چه کله اولاد مونث وی (یو یا ډیر) پلار به د فرض په طور د سدس او په طور د عصبه د ټول مال مستحق وی.
۳: چه د مړی هیڅ قسم اولاد نه وی نو د ذوی الفروض نه بچ شوې مال به ټول پلار ته ملاویږی د تعصیب په وجه باندې د دې دواړو صورتونو حکم په کتب تفسیر او کتب فقه کښې اوګورئ)

۳: **مور**: ۱: د مړی اولاد (مذکر او مونث) د هر یو کیدو سره به د سدس مستحق وی ارشاد دې ﴿ولابویه لکل واحد منهما السدس﴾
۲: مړی په خویندو رونړو کښې د دوه یا د دوه نه زیاتو سره وی نو بیا به هم هغې ته سدس ملاویږی ﴿فان کان له اخوة فلامه السدس﴾
۳: چه نه د مړی څوک اولاد وی نه په رونړو خویندو کښې د دوو نصاب وی نو ﴿فان یکن له ولد ورثه ابواه فلامه الثلث﴾ د حکم مطابق به ورته ثلث ورکولې شی. (بیا په دې ثلث کښې لږ اختلاف دې چه په کو

صورت کښې به د کل مال دريمه حصه ورکولې شي او کله به د ثلث ما بقي مستحق وي)
۴: **خاوند** : ۱: که د ښځې نه هر قسمه اولاد پاتې شوې دې که د دې خاوند نه وي او که د بل نه وي نو (فان کان لهن ولد فلکم الربع مما ترکن) په وجه باندې به خاوند ته د مال څلورمه حصه ورکولې شي. ۲: او د اولاد نه کيدو په صورت کښې به خاوند ته نيم مال ملاويږي لقوله تعالى (ولکم نصف ما ترک ازواجکم ان لم يکن لهن ولد)
۵: **ښځه** :۱: که د ښځې سره د مړ شوي خاوند څوک اولاد هم وي نو (فان کان له ولد فلهن الثمن) مطابق به ښځې ته د ټول مال اتمه حصه ملاويږي.
۲: او که اولاد نه وي نو د هغې په حصه کښې به څلورمه حصه راځي، (ولهن الربع مما ترکتم ان لم يکن لکم ولد)
تنبيه: که د مړي څوک اولاد نه وي (او د هغه په حقيقي او علاتي او اخيافي رونړو خويندو کښې څوک وي) نو داسې مړي ته کلاله وائي د (ان امرو هلك ليس له ولد) نه هم دا مراد دې.
حقيقي و علاتي رونړه خويندې: ۱: که مړې (کلاله) مذکر وي او د هغه حقيقي او علاتي صرف يوه خور وي نو هغې ته به د ټول مال نيمه حصه ملاويږي. (وله اخت فلها النصف ما ترک) ۲: که دوه يا د دوو نه زياتې خويندې وي نو په دريو کښې د دوه حصو د مال مستحق کيدو سره به په هغې کښې برابر شريکې وي.. (فان کانت اثنتين فلهن ثلثا ما ترک).
واضحه دې وي چه دلته عبارت النص اګر چه د دوو دپاره دې خو د اقتضاء النص په رڼا کښې قياسا على الاولاد الاناث او په طريق اولويت د دوو نه زياتو دپاره هم دا حکم دې. (اوګوره کتب تفسير او فقه) ۳: که مړې مونث دې او وارثان هم صرف رونړه دې (که يو وي يا زيات) هغوی به د عصبه په طور د کل مال مستحق وي. (وهو يرثها ان لم يکن لها ولد) ۴: او که رور خور دواړه دی نو ټول به عصبه جوړيږي. او رونړه به د دوو دوو او خويندې د يو يو حصې مستحق وي. ارشاد دې (وان کانوا اخوة رجالا ونسآء فللذکر مثل حظ الانثيين)
تنبيه: د علاتي او حقيقي رونړو خويندو حکم په تقسيم د ميراث کښې يو دې، خو حقيقي رونړه د علاتي رونړو خويندو دپاره حاجب دی هم دغه شان حقيقي خور هم چه هغه د مړي د زنانه اولاد د وجې نه عصبه وي او د يوې حقيقي خور په موجودګۍ کښې به علاتي خويندو ته سدس ملاويږي. (تکملة للثلثين)
۷: **اخيافي رور خور**: ۱: په مور کښې شريک رور خور کښې که څوک يواځې وي نو هغه ته به سدس ملاويږي (وله اخ او اخت فلکل واحد منهما السدس) ۲: او که د يو نه زيات وي که صرف رونړه وي يا صرف خويندې يا ګډوډ نو د هغه دپاره به ثلث مال وي چه په هغې کښې به هغوی برابر شريک وي. (فان کانوا اکثر من ذلك فهم شرکاء في الثلث)
تنبيه : ۱: دلته په آيت کريمه کښې (وله اخ او اخت) نه اخيافي رونړه خويندې مراد دی لکه چه د بعض صحابه کرامو ﷺ په قراءت کښې د (من ام) زيادت راغلې دې، او د دې هم دا تفسير د ابوبکرصديق ﷺ نه روايت کړې شوې دې. (ابن کثير)
۲: اخيافي رونړه خويندې په حصو کښې برابر شريک وي د (فهم شرکاء في الثلث) د اطلاق د وجې نه لهذا د (للذکر مثل حظ الانثيين) کليه به په دوی باندې نه جاري کيږي. (اوګوره کتب تفسير او سراجي وغيره)
۳: حقيقي او علاتي رونړه خويندې هم دغه شان د مړي اصول مذکر او فروع مطلق دا ټول د اخيافي رونړو خويندو دپاره حاجب دی. **خاتمه** : د ميراث حصې او د هغې د مستحقينو دا يو اجمالي بيان دې، کوم چه د قرآن کريم عبارة النص لره مخکښې کيخودلو سره پيش کړې شو. ظاهره ده چه کله د شريعت اصولو ګڼلو دي (چه د هغې نه د ثابت شوې احکامو د مجموعې نوم فقه دې) نو د هې څ يوې مسئلې پوره وضاحت د دې ګڼلورو اصولو د مراجعت نه بغير نه شي کيدې. لهذا د ميراث د مسئلې د نور وضاحت او تفصيل دپاره د دې فن مستقل کتابونو (مثلا سراجي وغيره) ته مراجعت ضروري دې)

بسم الله الرحمن الرحیم

كِتَابُ الْخَرَاجِ وَالْفَيْءِ وَالْإِمَارَةِ

د محصول، غنیمت او حکومت کولو بیان

د دې کتاب مناسبت په ماقبل کښې د کتاب الجهاد[1] نه ظاهر دې څکه چه د جهاد په ذریعه چه کومې زمکې فتح کولې شی بعض خو په هغې کښې خراجی وی او بعض عشری وی په دې وجه ضرورت راغلو د خراج او د عشر وغیره د احکاماتو بیانولو، او چونکه د دې ټولو څیزونو د انتظام او انصرام د پاره د امیر ضرورت وی، په دې وجه مصنفﷺ امارت هم په ترجمة الباب کښې واخستلو، او د فئ نه مراد د مصنف صرف د فئ (مسائل) نه دی بلکه غنیمت هم په دې کښې شامل دې څکه چه مصنف په دې کتاب کښې غنیمت او د خمس د غنیمت مصارف بیان کړی او هم دغه شان ئې د خراج سره جزیه هم بیان کړې ده.

د کتاب الخراج موضوع او حاصل:

ځان پوهول پکار دی چه خراج کوم چه د زمکې د ټیکس نوم دې او په جزیه باندې ځان داسې پوهه کړئ د نفس د ټیکس نوم دې کوم چه د هغه کفارو (ذمیانو) نه اخستلې شی چه زمونږ په ملک دارالاسلام کښې اوسیږی، دا ټول څیزونه د ملک دننه ګټې دی نو په کتاب الخراج کښې هم دا احکام بیانولې شی، مثلا جزیه به د چا چا نه اخستلې شی او په څومره مقدار کښې به اخستلې شی او د کومې زمکې نه به خراج اخستلې شی، او د کومې نه به عشر اخستلې شی او بیا د دې ټولو څیزونو د وصول کولو نه پس به د دې ټولو ګټو مصارف څه وی کوم مال به چرته او په کوم ضرورت کښې خرچ کولې شی، ګویا د کتاب الخراج د موضوع حاصل دا دې چه هغه د اسلام د نظام اقتصادی یو حصه او شعبه ده او په دې موضوع باندې علماء کرامو مستقل تصنیفات لیکلی دی، مثلا کتاب الخراج للامام ابویوسفﷺ، الخراج لیحیٰی بن ادم، الاموال لابی عبید القاسم بن سلام، کتاب الاموال لزنجویه وغیرها، او زمونږ د زمانې مولانا حفظ الرحمن صاحب سیوهاروی ناظم جمیعة العلماء هند چه یو جید عالم او د ډیرو تصانیفو مصنف دې هغوی هم په دې موضوع باندې یو کتاب لیکلې دې چه د هغې نوم "د اسلام اقتصادی نظام" دې پس مولانا صاحب په دې خپل تصنیف کښې د پورته ذکر کړې شوې قدیم تصنیفاتو نه خپل کتاب ته ترتیب ورکړې دې پس په هغې کښې ځائې په ځائې د دې کتابونو حواله ده او د هغې اقتباسات لیکلې شوې دی، هم دغه شان د مولانا سید مناظر احسن ګیلانی کتاب "اسلامی معاشیات" هم په دې موضوع باندې دې، لهذا د ابوداؤد په دې کتاب الخراج باندې په ښه طریقه د پوهیدو دپاره د حدیث طالبانو لره د اردو د هغه تصانیفو مطالعه کول پکار دی چه سبب د بصیرت دې. والله تعالی الموفق

[1] او د کتاب الجهاد نه پس متصلا چه کوم ابواب او کتابونه تیر شو اضحیه، صید، وصیة، فرائض دا ټول هم د جهاد سره مربوط دی په لږ شان سوچ کولو سره ربط فهمیږی)

بَاب مَا يَلْزَمُ الْإِمَامَ مِنْ حَقِّ الرَّعِيَّةِ
د عوام کوم حقوق د حکومت په ذمه لازم دی؟

[۲۹۲۸] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُاللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَلَا كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، فَالْأَمِيرُ الَّذِي عَلَى النَّاسِ رَاعٍ عَلَيْهِمْ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ، وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى بَيْتِ بَعْلِهَا وَوَلَدِهِ وَهِيَ مَسْئُولَةٌ عَنْهُمْ، وَالْعَبْدُ رَاعٍ عَلَى مَالِ سَيِّدِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُ فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی خبردار په تاسو کښې هريو دخپل رعيت محافظ دي اودهريونه به دقيامت په ورځ دخپل رعيت په باره کښې تپوس کيږي، نو څوك چه په خلقوباندې امير وي هغه ددوی محافظ دي او ددوی په باره کښې به په قيامت کښې دده نه تپوس کيږي اوهرسړې دخپل کور په کسانوباندې مشر دي او ددوی په باره کښې به ترې تپوس کيږي اوښځه د خاوند داولاد محافظه ده او ددوی په برد کښې به ددې نه تپوس کيږي اونوکر دخپل مالك محافظ دې په قيامت کښې به ددنه تپوس کيږي او په تاسو کښې هريونګاح بان دې اودقيامت په ورځ به دهرکس نه دهغه درعيت په باره کښې تپوس کولې شي.

په دې باب کښې مصنف رحمه الله دا مشهور حديث ﴿ الا كلكم راع وكلكم مسؤل عن رعيته ﴾ ذکر فرمائيلې دې، دا حديث ډير زيات اهم دې هر مشر لره د خپلو ماتحتو سره په معامله کښې دې خبرې ته خيال پکار دې، که هغه د پوره ملك ذمه دار وی يا د يوې ادارې يا د يوې محکمې يا د خپل کور د ټولو دپاره. والله تعالی الموفق

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری.

بَاب مَا جَاءَ فِي طَلَبِ الْإِمَارَةِ
د امارت د طلب کولو د ممانعت بيان

[۲۹۲۹] (۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا يُونُسُ، وَمَنْصُورٌ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ سَمُرَةَ لَا تَسْأَلِ الْإِمَارَةَ فَإِنَّكَ إِذَا أُعْطِيتَهَا عَنْ مَسْأَلَةٍ وُكِلْتَ فِيهَا إِلَى نَفْسِكَ وَإِنْ أُعْطِيتَهَا عَنْ غَيْرِ مَسْأَلَةٍ أُعِنْتَ عَلَيْهَا".

دعبدالرحمن بن سمره رضي الله عنه نه روايت دي چه نبي عليه السلام راته اوفرمائيل اې عبدالرحمن بن سمره حکومت او امارت مه غواړه که چرې تاته حکومت اوامارت په طلب کولوسره درکړې

[۱]: صحيح البخاري/الجمعة ۱۱ (۸۹۳)، والاستقراض ۲۰ (۲۴۰۹)، والعتق ۱۷ (۲۵۵٤)، والوصايا ۹ (۲۷۵۱)، والنكاح ۸۱ (۵۲۰۰)، والأحكام ۱ (۷۱۳۸)، (تحفة الأشراف: ۷۲۳۱)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الإمارة ۵ (۱۸۲۹)، سنن الترمذي/الجهاد ۲۷ (۱۵۰۷)، مسند احمد (۲/۵، ۵٤، ۱۱۱، ۱۲۱) (صحيح)

[۲]: صحيح البخاري/الأيمان والنذور ۱ (۶۶۲۲)، وكفارات الأيمان ۱۰ (۶۷۲۲)، والأحكام ۵ (۷۱٤۶)، صحيح مسلم/الأيمان ۳ (۱۶۵۲)، سنن الترمذي/النذور ۵ (۱۵۲۹)، سنن النسائي/آداب القضاة ۵ (۵۳۸۶)، (تحفة الأشراف: ۹۶۹۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۶۱، ۶۲، ۶۳)، سنن الدارمي/النذور والأيمان ۹ (۲۳۹۱)، ويأتي هذا الحديث برقم (۳۲۷۷، ۳۲۷۸) (صحيح)

شي نو ته به خپل نفس ته حواله کړې شي (یعنی مدد الفي به درسره شامل نه وي) او که چرې تا ته بغیر د طلب کولو نه حکومت او سپارلې شي نو په دې باره کښې به ستا مدد کیږي (د الله د طرف نه).

دا امارت په کسرې د همزه سره دې، او کوم آمارت چه په فتحې سره دې د هغې معنی د علامت ده، په حدیث الباب کښې د طلب امارت نه منع کړې شوې ده، او رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کومه عهده او امارت په طلب کولو سره حاصله شي په هغې کښې د انسان د الله پاک د طرف نه امداد نه وی. ځکه چه طلب کول مقتضي دی د هغه د خپل نفس په اعتماد باندې، د الله پاک نصرت وی په اظهار د احتیاج او افتقار باندې.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی مختصرا و مطولا بنحوه، قاله المنذری

[۲۹۳۰] (١) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ أَخِيهِ، عَنْ بِشْرِ بْنِ قُرَّةَ الْكَلْبِيِّ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، قَالَ: انْطَلَقْتُ مَعَ رَجُلَيْنِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَشَهَّدَ أَحَدُهُمَا، ثُمَّ قَالَ: جِئْنَا لِتَسْتَعِينَ بِنَا عَلَى عَمَلِكَ، وَقَالَ الْآخَرُ مِثْلَ قَوْلِ صَاحِبِهِ، فَقَالَ: إِنَّ أَخْوَنَكُمْ عِنْدَنَا مَنْ طَلَبَهُ، فَاعْتَذَرَ أَبُو مُوسَى إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ: لَمْ أَعْلَمْ لِمَا جَاءَا لَهُ فَلَمْ يَسْتَعِنْ بِهِمَا عَلَى شَيْءٍ حَتَّى مَاتَ.

د ابوموسی اشعری رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زه د دوه کسانو سره د نبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شوم نو یو کس په دوی کښې تشهد اولوستلو دې. وائی چه مونږ نبی علیه السلام ته د دې د پاره ورغلي وو چه مونږ ته د حکومت عهدې حواله کړې اوددې نه پس دویم کس هم دا بې اوونیل نبی علیه السلام اوفرمائیل په تاسو تولو کښې زمونږ په نزد باندې لوئي خیانت ګر هغه څوك دې څوك چه د حکومت کو لوحواهش لرى ابوموسی نبی علیه السلام ته معزرت اوکړو چه ما ته پته نه وه چه دوی د واړه د څه د پاره راغلي او که نه نو زه به د دوی سره یو ځائې نه وم راغلي ددې نه پس به نبی علیه السلام د دوی نه په څه کار کښې امداد نه غوښتو تردې چه نبی علیه السلام وفات شو.

قوله: ﴿ عن ابی موسی رضی الله تعالی عنه قال انطلقت مع رجلین الی النبی ﷺ ﴾: د دې روایت مضمون او حواله مونږ سره په کتاب الطهارت ﴿ باب کیف یستاک ﴾ په ضمن کښې تیره شوې ده هغه دې اوکتلي شی په دې حدیث کښې یو لفظ دې ﴿ فقال ان اخونکم عندنا من طلبه ﴾ اخون د خیانت نه اسم تفضیل دې یعنی عهده د عمل لره طلب کونکې په تاسو کښې د ټولو نه لوئې خائن دې. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم، قاله المنذری زاد الشیخ محمد عوامه النسائی ایضا.

بَابٌ فِي الضَّرِيرِ يُوَلَّى

د روند د مشرئ (امارت) کولو بیان

یعنی روند انسان لره د مسلمانانو په امورو کښې په یو کارباندې والي یا ذمه دار جوړول.

[۲۹۳۱] (٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْمُخَرِّمِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا عِمْرَانُ الْقَطَّانُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَخْلَفَ ابْنَ أُمِّ مَكْتُومٍ عَلَى الْمَدِينَةِ مَرَّتَيْنِ.

(١): سنن النسائي/آداب القضاة ٤ (٥٣٨٤)، (تحفة الأشراف: ٩٠٧٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٩٣/٤، ٤١١) (منكر)

(٢): انظر حديث رقم: (٥٩٥)، (تحفة الأشراف: ١٣٢١) (صحيح)

دانس رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه نبی علیه السلام دوه پیری ابن ام مکتوم په مدینه کښې خلیفه مقرر کړې وو.

﴿عن انس رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم استخلف ابن ام مکتوم رضی الله عنه علی المدینة مرتین﴾

ابن ام مکتوم رضی الله عنه لره رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه طیبه باندې خپل خلیفه جوړ کړو دوه کرته، خطابی فرمائی چه دا ولایت ولایت عامه نه وو، په احکاماتو او قضایا باندې، بلکه صرف دمانځه په باره کښې وو (۱) اودا درسول الله صلی الله علیه وسلم د جانب نه دهغوی اکرام وو د دې خاص واقعې په بناء باندې چه په هغې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د هغوی په باره کښې خبرداري ورکړې شوې وو ﴿عبس وتولی ان جآءه الاعمی﴾ حافظ رحمه الله فرمائی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم معمول په غزواتو کښې دتشریف اوړلو په وخت هغوی لره دخپل نائب جوړولو وود مانځه په امامت کښ. او دا استخلاف د هغوی په حق کښې دیارلس کرته راغلې، د هغه ټولو غزواتو نومونه په بذل کښې ذکر شوې دې، د دې نه پس حافظ لیکی چه په دې روایت کښې چه استخلاف مرتین ذکر شوې دې هغه راوی د خپل علم په اعتبار سره وئیلې دی.

بَابٌ فِي اتِّخَاذِ الْوَزِيرِ

دوزیرانو د مقرر کولو بیان

یعنی د خلیفه دپاره یو وزیر هم پکار دی او هغه څنګه پکار دی هغه وړاندې په حدیث کښې را روان دی. وزیر.... د وزر نه اخستلې شوې دې چه د هغې معنی د ثقل او بوجهـ ده وزیر هغه انسان ته وئیلې شی چه د امیر بوجهـ اوچتوی او کومې ذمه دارئ چه امیر اوچتې کړې دی هغه سره په بوجهـ اوچتولو کښې هغه هم شریک وی، ففی المجمع ﴿الوزیر من یوازر الامیر فیحمل عنه ما حمله من الاثقال، الی اخر ما فی البذل﴾

[۲۹۳۲](۲) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عَامِرٍ الْمُرِّيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِالْأَمِيرِ خَيْرًا جَعَلَ لَهُ وَزِيرَ صِدْقٍ إِنْ نَسِيَ ذَكَّرَهُ، وَإِنْ ذَكَرَ أَعَانَهُ، وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهِ غَيْرَ ذَلِكَ جَعَلَ لَهُ وَزِيرَ سُوءٍ إِنْ نَسِيَ لَمْ يُذَكِّرْهُ، وَإِنْ ذَكَرَ لَمْ يُعِنْهُ".

دام المومنین عائشې رضی الله عنها نه روایت دې. فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلې دی کله چه الله تعالی په یو امیر (حکمران) باندې دخیر اراده اوکړي نوربښتونې وزیر ورله ورکړی که چرې دده نه هیریږي نوهغه ئې ورته رایادوی اوکه چرې د یوه خبره یاده کړي نوهغه ئې امداد کوي اوکله چه الله تعالی په کوم امیرباندې ددې برعکس اراده اوکړي نویوبد وزیر ورله ورکړی کله چه ددنه هیرشي نوهغه ئې ورته نه رایادوی اوکله چه دې دڅه خبرې ذکراوکړي نوهغه ئې مدد نه کوي.

په دې باب کښې مصنف رحمه الله دعائشې رضی الله عنها حدیث ذکر کړې دې چه دهغې مضمون واضح دې.

---

(۱) او هغه ځکه چه امارت عامه او امامت کبری دپاره کمال خلقت شرط دې، ففي هامش البذل: قال الموفق (في شرائط الامارة) يشترط كمال الخلقة فيكون متكلما بصيرا وقال بعض اصحاب الشافعي يجوز ان يكون اعمى لان شعيب عليه السلام كان اعمى الخ..... وفي الهداية يشترط فيه شرائط الشهادة وقال في باب الشهادة لا تقبل شهادة الاعمى آهـ)

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۴۷۸)، وقد أخرجه: سنن النسائي/البيعة ۳۳ (۴۲۰۹)، مسند احمد (۷۰/۶) (صحيح)

بَابٌ فِي الْعِرَافَةِ

دعرافت بیان

عرافه وائي عمل العريف ته، عريف يعني ملك وغيره د قوم ذمه دار، عرافت ملکي.

[۲۹۳۳](۱) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ سُلَيْمَانَ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ جَابِرٍ، عَنْ صَالِحِ بْنِ يَحْيَى بْنِ الْمِقْدَامِ، عَنْ جَدِّهِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِ يكَرِبَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَرَبَ عَلَى مَنْكِبِهِ، ثُمَّ قَالَ: "لَهُ أَفْلَحْتَ يَا قُدَيْمُ إِنْ مُتَّ وَلَمْ تَكُنْ أَمِيرًا وَلَا كَاتِبًا وَلَا عَرِيفًا".

دمقدام بن معدیکرب نه روایت دې فرمائي چه نبي ﷺ دده په ولي وار اوکړو اوبیا ئې ورته اوفرمائیل اې قدیمه تا نجات حاصل کړو خوچه ته مړ شي په داسې حال کښې چه نه امیرئې اونه کاتب ئې اونه عریف ئې (عریف هغه چاته وئیلې شي چه درعیت په احوالوبادي بادشاه خبروي).

﴿ افلحت يا قديم ان مت ولم تكن اميرا ولا كاتبا ولا عريفا ﴾

قدیم مصغر دې د مقدام په حذف د زوائدو سره، مطلب ئې ظاهر دې.

[۲۹۳٤](۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا غَالِبٌ الْقَطَّانُ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّهُمْ كَانُوا عَلَى مَنْهَلٍ مِنَ الْمَنَاهِلِ، فَلَمَّا بَلَغَهُمُ الْإِسْلَامُ جَعَلَ صَاحِبُ الْمَاءِ لِقَوْمِهِ مِائَةً مِنَ الْإِبِلِ عَلَى أَنْ يُسْلِمُوا، فَأَسْلَمُوا وَقَسَمَ الْإِبِلَ بَيْنَهُمْ، وَبَدَا لَهُ أَنْ يَرْتَجِعَهَا مِنْهُمْ، فَأَرْسَلَ ابْنَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ: ائْتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْ لَهُ: إِنَّ أَبِي يُقْرِئُكَ السَّلَامَ، وَإِنَّهُ جَعَلَ لِقَوْمِهِ مِائَةً مِنَ الْإِبِلِ عَلَى أَنْ يُسْلِمُوا، فَأَسْلَمُوا وَقَسَمَ الْإِبِلَ بَيْنَهُمْ وَبَدَا لَهُ أَنْ يَرْتَجِعَهَا مِنْهُمْ، أَفَهُوَ أَحَقُّ بِهَا أَمْ هُمْ؟ فَإِنْ قَالَ لَكَ: نَعَمْ أَوْ لَا، فَقُلْ لَهُ: إِنَّ أَبِي شَيْخٌ كَبِيرٌ وَهُوَ عَرِيفُ الْمَاءِ وَإِنَّهُ يَسْأَلُكَ أَنْ تَجْعَلَ لِيَ الْعِرَافَةَ بَعْدَهُ، فَأَتَاهُ فَقَالَ: إِنَّ أَبِي يُقْرِئُكَ السَّلَامَ، فَقَالَ: "وَعَلَيْكَ وَعَلَى أَبِيكَ السَّلَامُ"، فَقَالَ: إِنَّ أَبِي جَعَلَ لِقَوْمِهِ مِائَةً مِنَ الْإِبِلِ عَلَى أَنْ يُسْلِمُوا فَأَسْلَمُوا وَحَسُنَ إِسْلَامُهُمْ، ثُمَّ بَدَا لَهُ أَنْ يَرْتَجِعَهَا مِنْهُمْ أَفَهُوَ أَحَقُّ بِهَا أَمْ هُمْ؟ فَقَالَ: إِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يُسْلِمَهَا لَهُمْ فَلْيُسْلِمْهَا، وَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يَرْتَجِعَهَا فَهُوَ أَحَقُّ بِهَا مِنْهُمْ، فَإِنْ هُمْ أَسْلَمُوا فَلَهُمْ إِسْلَامُهُمْ وَإِنْ لَمْ يُسْلِمُوا قُوتِلُوا عَلَى الْإِسْلَامِ، فَقَالَ: إِنَّ أَبِي شَيْخٌ كَبِيرٌ وَهُوَ عَرِيفُ الْمَاءِ وَإِنَّهُ يَسْأَلُكَ أَنْ تَجْعَلَ لِيَ الْعِرَافَةَ بَعْدَهُ، فَقَالَ: إِنَّ الْعِرَافَةَ حَقٌّ وَلَا بُدَّ لِلنَّاسِ مِنَ الْعُرَفَاءِ، وَلَكِنَّ الْعُرَفَاءَ فِي النَّارِ".

غالب القطان دیوکس نه اوهغه دده دپلار نه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوي چه په عربوکښې څه خلق د یوې چینې په غاړه اوسیدل کله چه دوی ته دمذهب اسلام اطلاع ملا وشوه نودچینې مالك خپل قوم ته په دې شرط باندې سل اوښان ورکړل چه دوی به اسلام قبلوي چنانچه هغوی مسلمانان شول اودې کس هغه اوښان په دې خلقوباندې تقسیم کړل بیا ددې نه پس ده اوښان واپس کول اوغوښتل نوددې دپاره پر خپل خوي دنبي ﷺ دربار ته اولیږو ده ورته اووئیل چه لاړ شه اونبي ﷺ ته زماسلام اورسوه او ورته اووایه چه ماخپل قوم ته سل اوښان په دې وجه ورکړی دی چه دوی اسلام قبول کړي، چنانچه هغوی اسلام قبول کړې دي اوزما پلار ورباندې اوښان تقسیم کړل اوس زماپلار غواړی چه دقوم نه اوښان واپس واخلي نوایا ددې اوښانوحقدار اوس زما پلاردې اوکه داخلق دي؟ نوکه

(۱): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۱۵٦٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۳۳/٤) (ضعيف)

(۲): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۵۷۱۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۱٦/۵) (ضعيف)

چرې هودرته اووائی اوکه نه ته ورته اووایه زماپلار بوډا او ضعیف دې اوهغه ددې چینې مشردې زمادا خواهش دې چه دهغه نه پس مادهغه په ځائې باندې عریف مقرر کړئ بهرحال هغه هلك دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې اوکړو اې دالله رسوله زما پلار په تاباندې سلام وئیلې دې نبی ﷺ اوفرمائیل په تا اوستا په پلاردې سلام وې اوبیا ئې عرض اوکړو اې دالله رسوله زما پلار خپل قوم ته په دې شرط باندې سل اوښان ورکول مقرر کړي وو چه هغوی به اسلام قبلوي هغوی په صحیح طریقې سره اسلام قبول کړو اوس زما پلارغواړی چه اوښان ددوی نه واپس واخلي نودا راته اوایه چه داوښانو حقدار زماپلاردې اوکه دوی دي؟ نبی ﷺ اوفرمائیل که چرې ستاپلار اوغواړی چه اوښان دوی ته ورکړی نوورکولې شی اوکه چرې واپس کول غواړی نوحقداردې اوکوموخلقو چه اسلام قبول کړې دې هغوی به پخپله داسلام نه نفع حاصله وي اوکه چرې دوی اسلام نه قبلوي نوداسلام دپاره به ددوی سره جنګ کولې شي، بیادې هلك عرض اوکړو چه اې دالله رسوله زما پلار یوکمزورې اوبوډا سړې دې اوهغه ددې چینې عریف دې دهغه داخواهش دې چه دهغه دوفات نه پس دعرافت منسب تاسوماته حواله کړئ نبی ﷺ اوفرمائیل چه عرافت یوضرورې شې دې خلقولره ددې نه بغیر څه چاره نشته لیکن عریفان به دوزخ ته داخلیږي

﴿عن رجل عن ابیه عن جده انهم کانوا علی منهل من المناهل فلما بلغهم الاسلام جعل صاحب الماء لقومه مئة من الابل علی ان یسلموا فاسلموا الخ﴾

د دې حدیث راوی صحابی او د دې نه لاندې راوی دواړه درې واړه مجهول دی.

مضمون د حدیث:

د حدیث مضمون دا دې چه یو نامعلوم الاسم صحابی وائی چه مونږ او زمونږ قوم په یو چینه باندې آباد وو د هغه ځائې ملک د خپل قوم سره یو وعده اوکړه چه که تاسو اسلام راوړو نو تاسو ته به سل اوښان درکړم. په دې باندې هغه ټولو اسلام راوړو او هغه ملک سل اوښان هم په هغوی باندې تقسیم کړل، خو بیا روستو د هغه رائې په خپله هبه کښې د رجوع کولو شوه، نو د رجوع کولو نه مخکښې ئې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې خپل ځوئې اولیږلو، او هغه ځوی ته ئې دا خبره اوکړه چه د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضریدو سره اوائی چه زما پلار تاسوته سلام عرض کړې دې او بیا ورته د دې واقعې ذکر اوکړه د قوم د اسلام راوړلو او په هغوی باندې د اوښانو د تقسیمولو، او دا تپوس ترې اوکړه چه اوس مې د پلار رائې په هغې کښې د رجوع ده نو آیا د هغه دپاره د رجوع کولو حق دې؟ او وې وئیل چه د دې جواب هغوی هر څه چه درکړی او یا نه. د هغې د اوریدو نه پس ترې نه دا تپوس اوکړه چه زما پلار اوس بوډا شوې دې او هغه د هغه چینې والو عریف دې، نو هغه تاسو ته درخواست کوی چه تاسو ما د خپل پلار په ځائې باندې عریف کړئ، پس د هغه ځوئې د دې ټولو خبرو سره د رسول الله ﷺ خدمت ته راورسیدلو، او اول ئې د خپل پلار سلام اورسولو رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿وعلیک وعلی ابیک السلام﴾

د رجوع فی الهبة د جواز دلیل:

د دې نه پس د قوم د اسلام راوړلو او هغوی ته د سلو اوښانو ورکولو او بیا ئې په هبه کښې د رجوع کولو ټوله خبره رسول الله ﷺ ته عرض کړه، رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه که هغه اوښان هغوی ته ورکول غواړې نو وردې کړې، او که رجوع کول غواړې نو اودې کړې بیا که هغوی په اسلام باندې باقي پاتې کیږي نو صحیح ده د هغوی اسلام دې هغوی ته مبارک وی او که د اسلام نه واپس شی نو د هغوی سره دې قتال اوکړې شی، د دې نه پس هغه د عرافت په باره کښې تپوس اوکړو، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل عرافت حق دې، څه ناجائز کار نه دې بلکه د خلقو دپاره د عرفاء کیدل ضروری هم دی، ﴿ لکن العرفاء فی النار﴾ خو دا عریف خلق به اور ته ځی.

د رسول الله ﷺ د فرمان مقصد دا دې چه دا ملکان خلق چه وی هغوی په خپله ملکئ کښې په عامو خلقو باندې ظلم کوی.

والحدیث سکت علیه المنذری، وعزاه المزی الی النسائی وفیه طرف یسیر منه وهو عند المصنف ایضا (۵۱۸۹) قاله الشیخ محمد عوامه.

بَابٌ فِي اتِّخَاذِ الْكَاتِبِ

د منشی یا سیکرټری یا کاتب ساتلو بیان

د کتاب الخراج سرخئ کښې چونکه د فئ او د امارت ذکر هم دې په دې وجه ډیر څیزونه د امارت متعلق بیانیږی، په دې باب کښې دا بیانوی چه د امیر دپاره د یو کاتب او منشی ضرورت هم دې دا هم ساتل پکار دی.

[۲۹۳۵](1) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا نُوحُ بْنُ قَيْسٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ كَعْبٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الْجَوْزَاءِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: السِّجِلُّ كَاتِبٌ كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه د نبی علیه السلام د کاتب نوم سجل وو.

﴿ عن ابن عباس رضی الله عنهما قال : السجل کاتب کان للنبی ﷺ ﴾

په قرآن کریم کښې چه راځی ﴿ یوم نطوی السمآء کطی السجل للکتب ﴾ په دې باره کښې ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه په دې آیت کریمه کښې د سجل نه مراد هغه سړې دې چه د رسول الله ﷺ کاتب وو، په دې صورت کښې به د آیت کریمه مطلب دا وی چه موږ به د قیامت په ورځ آسمانونه داسې راټول کړو لکه څنګه چه سجل یعنی کاتب د لیکلو د فارغ کیدو نه پس ټولو منتشر اوراقو لره په یو ځائې باندې راټولولو نه پس کیږی ، د سجل په تفسیر کښې دوه اقوال دی، وئیلې شی دا د یو ملائک نوم دې وقیل اسم الصحیفة او په دې صورت کښې به مطلب دا وی چه څنګه په لوئی رجسټر کښې اوراق راټولولې شی هم دغه شان به موږ آسمانونه هم راټول کړو، په دې اقوالو کښې آخری قول ته اصح وئیلې شوې دې.

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۳۶۵) (ضعیف)

د رسول الله ﷺ د کاتبین اسماء :

دلته په (بذل المجهود) کښې د رسول الله ﷺ د کاتبینو تعین او د هغوی نومونه لیکلې شوې دی، شل نومونه په هغې کښې ذکر دی.

باب في السِّعَايَةِ عَلَى الصَّدَقَةِ

د زکات د وصول کولو د فضیلت بیان

یعنی صدقات او هم دغه شان خراج وغیره وصول کولو دپاره د مستقل سړی ضرورت دې لهذا د امیر په فرائضو کښې د عاملینو مقرر کول هم دی، په حدیث الباب کښې د دیانت دار عامل فضیلت او د هغې ثواب ذکر شوې دې.

[۲۹۳۶](¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْأَسْبَاطِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحِيمِ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ قَتَادَةَ، عَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ، عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "الْعَامِلُ عَلَى الصَّدَقَةِ بِالْحَقِّ كَالْغَازِي فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَتَّى يَرْجِعَ إِلَى بَيْتِهِ".

درافع بن خدیج رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه د نبی علیه السلام نه مې اوریدلی دی چه فرمائیل ئې دحق سره د زکات وصول کونکې داسې دې لکه څوک چه د الله په لارکښې جهاد کوي اوترڅو چه هغه خپل کور ته نه وی واپس شوې.

﴿ العامل على الصدقة بالحق كالغازى فى سبيل الله حتى يرجع الى بيته ﴾ یعنی هغه عاملینو ته هم هغه شان ثواب ملاویږی څنګه چه مجاهدینو ته په سفر د جهاد کښې ملاویږی، کور ته د واپس کیدو پورې، قلت ومثله سفراء المدارس فى هذا الزمان، په دې شرط چه په پوره دیانت داری او محنت سره کار اوکړی ﴿ والاعمال بالنيات ﴾

والحديث اخرجه الترمذى وابن ماجة، قاله المنذرى

[۲۹۳۷](²) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ شِمَاسَةَ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ صَاحِبُ مَكْسٍ".

دعقبة بن عامر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه د نبی علیه السلام نه مې اوریدلی دی چه فرمائیلي ئې وو چه صاحب مکث (چونګی ټیکس وصول کونکې) به جنت ته داخل نکړې شي ځکه چه دوی اکثر ظلم کوي).

شرح الحديث:

قوله: ﴿ لا يدخل الجنة صاحب مكس ﴾: (مکس) یعنی ټیکس او صاحب مکس ته ماکس وائی. وهو العشار یعنی په چنګی باندې کیناستلو والا کوم چه مال اخستلو سره د تیریدونکو نه

¹): سنن الترمذي/الزكاة ۱۸ (٦٤٥)، سنن ابن ماجه/الزكاة ١٤ (۱۸۰۹)، (تحفة الأشراف: ۳۵۸۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٦٥/٣، ١٤٣/٤) (صحيح)

²): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۹۹۳۵، ۱۹۲۸٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٣/٤، ١٥٠)، سنن الدارمي/الزكاة ۲۸ (۱۷۰۸) (ضعيف)

ټیکس وصولوی، په ظاهره د دې حدیث نه د هغه ټیکسونو ذکر دې چه خلاف شرع طریقه باندې حکومتونه د رعایا نه وصولوی، او کوم خلق چه په دې باندې مقرر کولې شی هم هغوی صاحب مکس دی نو هرکله چه صاحب مکس ګناهګار دې نو هغه امیر د چا په حکم باندې چه هغه ټیکس وصولوی په طریق اولی ګنهګار دې، او عشر وغیره چه د شرعی قاعدې مطابق وصولوی هغه د دې نه مراد نه دې، د هغې فضیلت خو پورته حدیث کښې تیر شوې دې چه هغه په منزله د غازی دې. (بذل)

[۲۹۳۸](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْقَطَّانُ، عَنِ ابْنِ مَغْرَاءَ، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، قَالَ: الَّذِي يَعْشُرُ النَّاسَ يَعْنِي صَاحِبَ الْمَكْسِ.

دابن اسحق نه روایت دې فرمائی چه دصاحب مکس - نه مراد هغه کس دې څوک چه عشر وصول کوي.

بَابٌ فِي الْخَلِيفَةِ يَسْتَخْلِفُ

آیا خلیفه دځان په ځائې بل څوک مقرر کولې شی؟

[۲۹۳۹](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ بْنِ سُفْيَانَ، وَسَلَمَةُ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ عُمَرُ: إِنِّي إِنْ لَا أَسْتَخْلِفْ فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَسْتَخْلِفْ وَإِنْ أَسْتَخْلِفْ فَإِنَّ أَبَا بَكْرٍ قَدِ اسْتَخْلَفَ، قَالَ: فَوَاللَّهِ مَا هُوَ إِلَّا أَنْ ذَكَرَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ، فَعَلِمْتُ أَنَّهُ لَا يَعْدِلُ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَدًا وَأَنَّهُ غَيْرُ مُسْتَخْلِفٍ.

دابن عمر رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه کله عمر رضي الله عنه زخمي کړې شونوخلقوورته ووئیل چه دځان په ځائې څوک خلیفه مقررکړئ، عمر اوفرمائیل که چرې زه څوک خلیفه مقررنکړم نوځه باك نشته ځکه چه نبی علیه السلام هم څوك خلیفه نه ومقررکړې او که څوك خلیفه مقررکړم نوهم څه باك نشته ځکه چه ابوبکر خلیفه مقررکړې وو، ابن عمر ووئیل په الله قسم عمرهم دنبی علیه السلام اودابوبکر نه علاوه دبل چاذکر ونکړونوماته معلومه شوه چه د د نبی علیه السلام سره هیڅوك نه برابروي اوچاله خلیفه هم نه مقرروي.

شرح الحديث

قوله: ﴿ عن ابن عمر رضي الله عنه قال قال عمر رضي الله عنه انى ان لا استخلف فان رسول الله صلى الله عليه وسلم لم يستخلف وان استخلف فان ابابكر قد استخلف ﴾: ابن عمر رضي الله عنه فرمائی چه زما والد صاحب عمر رضي الله عنه اوفرمائیل په خپل مرض الوفات کښې که زه څوک خلیفه جوړ نه کړم (نو بیا هم صحیح ده) ځکه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم څوک هم خپل خلیفه نه وو جوړ کړې او که زه څوک خلیفه جوړ کړم (نو بیا هم صحیح ده) ځکه چه ابوبکرصدیق رضي الله عنه خلیفه جوړ کړې وو، وړاندې دا دی، ابن عمر رضي الله عنه فرمائی چه د هغوی په دې یوه جمله باندې زه پوهه شوم چه هغوی به د رسول الله صلى الله عليه وسلم طرز عمل د ابوبکرصدیق رضي الله عنه د عمل برابر نه ږدی بلکه هغوی به یقینا د رسول

١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩٩٣٥، ١٩٢٨٦) (حسن)
٢): صحيح مسلم/الإمارة ٢ (١٨٢٣)، سنن الترمذي/الفتن ٤٨ (٢٢٢٥)، (تحفة الأشراف: ١٠٥٢١)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأحكام ٥١ (٧٢١٨)، مسند احمد (٤٣/١) (صحيح)

الله ﷺ عمل ته ترجيح ورکوی. دا روايت دلته مختصر دې په صحيح مسلم کښې مفصل دې هغې ته دې رجوع اوکړې شی، هلته دا هم دی چه خلقو هغوی ته عرض اوکړو چه څوک خليفه کړئ نو هغوی اوفرمائيل ﴿ أتحمل امركم حيا وميتا ﴾ چه ستاسو بوجه به په ژوند هم اوچتوم او د مرګ نه پس هم، ﴿ لوددت ان حظي منها الكفاف لا علي ولالي ﴾ زه خو دا غواړم چه زما حصه په دې خلافت کښې برابر سرابر شی، چه نه ماته په دې څه ملاؤ شی يعنی اجر او ثواب او نه پرې زما مواخذه اوکړې شی يعنی که د الله پاک په نزد معامله برابر ختم شی نو زه دا غنيمت ګڼړم، الله اکبر! څه حال دې د دې ويرې او د دې اخلاص، ورسره اميد او رجاء د بخښنې هم ده ﴿ الايمان بين الخوف والرجاء ﴾. د دې حديث په شرح کښې امام نووی رحمه الله ليکلې دی چه د مسلمانانو په دې باندې اجماع ده چه په خليفه باندې نه په خپل ژوند کښې استخلاف واجب دې او نه ترک د استخلاف دواړه صورتونه د هغه دپاره جائز دی او بيا وړاندې ليکی چه د علماء کرامو هم په دې باندې اجماع ده چه د خلافت انعقاد د خليفه اول په استخلاف باندې هم کيږی او که هغه استخلاف نه کوی نو بيا د حل او عقد د خاوندانو په اختيار سره د هغه استخلاف هم کيږی، او د دې په جواز باندې هم اجماع ده چه خليفه اول د خلافت امر لره يوجماعت ته حواله کړی، كما فعل عمر بالستة [1] او هغوی دا هم ليکی چه دا حديث دليل دې په دې خبره باندې چه رسول الله ﷺ د يو خليفه په خلافت باندې تصريح نه ده فرمائيلې او دا د ټول اهل سنت اجماعی مسئله ده، قاضی عياض رحمه الله فرمائی چه هم د دې اجماع بعض خلقو مخالفت کړې دې، پس بکر بن اخت عبدالواحد دعوی کړې ده د ابوبکر رضی الله عنه په تنصيص باندې، او ابن الراوندی د عباس رضی الله عنه په تنصيص باندې، او شيعه ګان او روافض وائی د علی رضی الله عنه په باره، (وهذه دعاوى باطلة جسارة على الافتراء الى آخر ما ذكر مسلم ۱۲۰/۲) والحديث اخرجه مسلم والترمذي. قاله المنذري.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْبَيْعَةِ

د بيعت بيان

[۲۹٤۰] (۲) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: كُنَّا نُبَايِعُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَيُلَقِّنُنَا فِيمَا اسْتَطَعْتَ.

---

[1]) عمرفاورق رضی الله عنه د خپل شهادت په موقع باندې د ابولؤلؤ مجوسی د حملې نه پس د وفات نه مخکښې د خلافت مسئله په شپږو صحابه کرامو رضی الله عنهم باندې پريخودلې وه. عثمان او علی، عبدالرحمن بن عوف، طلحه بن عبيدالله، زبير بن العوام، سعد بن ابی وقاص رضی الله عنهم چه دوی خپل مينځه کښې په مشوره سره چه څوک مناسب ګڼړی هغه دې خليفه کړی، پس د مشورې په وخت دا اوشوه چه په هغوی کښې پنځو کسانو عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه فيصله کونکې مقرر کړو چه هغه به خپله رائې سره چاله غواړی خليفه کړی هغوی دعثمان رضی الله عنه انتخاب اوفرمائيلو، د صحابه کرامو رضی الله عنهم په موجودګئ کښې او د عمر رضی الله عنه د وفات نه درې ورځې پس د خلقو بيعت اوشو. (نبراس شرح عقائد)

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۷۱۹۳)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأحكام ٤۳ (۷۲۰۲)، صحيح مسلم/الإمارة ۲۲ (۱۸٦۷)، سنن الترمذي/السير ۳٤ (۱۵۹۳)، سنن النسائي/البيعة ۲٤ (٤۱۹۲)، موطا امام مالک/البيعة ۱ (۱)، مسند احمد (٦۲/۲، ۸۱، ۱۰۱، ۱۳۹) (صحيح)

دابن عمر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه مونږبه د نبي ﷺ سره بيعت کولو په غوږ ايخودلو اوتابعداري کولوباندې اونبي ﷺ به مونږته تعليم راکولوچه داجمله هم ورسره وايئ ترڅومره چه زمونږطاقت وي.

[۲۹٤۱](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي مَالِكٌ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنه أخبرته عن بَيْعَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النِّسَاءَ، قَالَتْ: مَا مَسَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَدَ امْرَأَةٍ قَطُّ إِلَّا أَنْ يَأْخُذَ عَلَيْهَا فَإِذَا أَخَذَ عَلَيْهَا فَأَعْطَتْهُ، قَالَ: "اذْهَبِي فَقَدْ بَايَعْتُكِ".

دعروة ابن الزبير رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه ام المومنين عائشة رضي الله عنها راته دزنانوسره دنبي ﷺ دبيعت کولوخبر راکړې دې فرمائيل ئې چه هيڅکله نبي ﷺ دکوې زنانه د لاس سره دبيعت په وخت کښې خپل لاس نه دې لګولې، البته دزنانوونه به ئې اقرار اخستو، کله چه به ئې اقرارو کړونو ورته به ئې اوفرمائيل چه زه اوس لاړه شه مادرسره بيعت وکړو.

قوله: ﴿ قالت ما مس النبي ﷺ بيده امراءة قط الا ان ياخذ عليها فاذا عليها اعطته قال اذهبي فقد بايعتک ﴾: عائشه رضي الله عنها فرمائي د بيعة النساء په باره کښې چه رسول الله ﷺ د بيعت په وخت په خپل لاس مبارک سره يو زنانه هم ده نه مسح کړې. پس هغوى به په ژبې سره عهد اخستلو، د ژبې عهد لره به چه کله هغې قبول کړو نو رسول الله ﷺ به هغې ته اوفرمائيل اوس لاړه شه ما تا سره بيعت اوکړو.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والنسائي، قاله المنذري

[۲۹٤۲](٢) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، حَدَّثَنِي أَبُو عَقِيلٍ زُهْرَةُ بْنُ مَعْبَدٍ، عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ هِشَامٍ قَالَ: وَكَانَ قَدْ أَدْرَكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَذَهَبَتْ بِهِ أُمُّهُ زَيْنَبُ بِنْتُ حُمَيْدٍ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ بَايِعْهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هُوَ صَغِيرٌ فَمَسَحَ رَأْسَهُ".

زهير بن معبد دخپل نيکه عبدالله بن هشام (دچاچه دنبي ﷺ سره ملاقات شوي نه روايت کوي فرمائي چه ده لره خپلې مور زينب بنت حميد نبي ﷺ ته وړې وو، هغې عرض وکړوچه اې دالله رسوله دده سره بيعت وکړه نبي ﷺ اوفرمائيل داخوماشوم دې اوپه سرئې ورله لاس راښکل.

قوله: ﴿ حدثنا ابو عقيل زهرة بن معبد عن جده عبدالله بن هشام الخ ﴾: مضمون د حديث دا دې چه عبدالله بن هشام چا چه د رسول الله ﷺ زمانه موندلې وه هغوى په خپل وړوکوالی کښې د هغوى مور د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راوستلو، او وې وئيل يا رسول الله ﷺ دې بيعت کړئ، رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ هو صغير فمسح راسه ﴾ يعني رسول الله ﷺ د هغه د

(١): صحيح مسلم/الإمارة ٢١ (١٨٦٦)، سنن الترمذي/تفسير القرآن ٦٠ (٣٣٠٦) (تحفة الأشراف: ١٦٦٠٠)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/تفسير سورة الممتحنة ٢ (٤٨٩١)، والطلاق ٢٠ (٥٢٨٨)، والأحكام ٤٩ (٧٢١٤)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٤٣ (٢٨٧٥)، مسند احمد (١١٤/٦) (صحيح)

(٢): صحيح البخاري/الشركة ١٣ (٢٥٠١)، والأحكام ٤٦ (٧٢١٠)، (تحفة الأشراف: ٩٦٦٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٣٣/٤) (صحيح)

بیعت نه عذر اوفرمائیلو چه دا لا ماشوم دې، خو خپل لاس مبارک ئې د هغه په سر باندې راښکلو.
بیعت چونکه یو قسم معاهده ده چه د باب د تکلیف نه دې او نابالغ غیر مکلف وی په دې وجه رسول اللهﷺ ورسره بیعت اونکړو .والحدیث اخرجه البخاري، قاله المنذري

بَابٌ فِي أَرْزَاقِ الْعُمَّالِ

د عاملانو د اخراجاتو بیان

ارزاق یعنی وظائف چه عمالو ته د بیت المال نه ورکولې شي.

[۲۹۴۳](¹) حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ أَخْزَمَ أَبُو طَالِبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ عَبْدِ الْوَارِثِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ حُسَيْنٍ الْمُعَلِّمِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ عَلَى عَمَلٍ فَرَزَقْنَاهُ رِزْقًا فَمَا أَخَذَ بَعْدَ ذَلِكَ فَهُوَ غُلُولٌ".

عبدالله بن بریدة د خپل پلارنه روایت کوی او هغه دنبی علیه السلام نه روایت کوی چه فرمائیلي ئې وو: څوك چه مونږ په څه کارباندې عامل مقرر کړو مونږ نو هغه ته وظیفه هم ورکوونو که چرې عامل ددې نه څه اوساتي نو دا غلا او خیانت دې.

﴿من استعملناه علی عمل فرزقناه رزقا فما اخذ بعد ذلک فهو غلول﴾

رسول اللهﷺ فرمائی چه کوم انسان مونږ عامل جوړ کړو نو د هغه چه کومه تنخواه او وظیفه مونږ مقرر کړو نو د هغه دپاره حلال ده (خو) که د هغې نه زیاته هغه اخلی نو هغه به غلول او خیانت شمیرلې کیږي.

[۲۹۴۴](²) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا لَيْثٌ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَشَجِّ، عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنِ ابْنِ السَّاعِدِيِّ، قَالَ: اسْتَعْمَلَنِي عُمَرُ عَلَى الصَّدَقَةِ فَلَمَّا فَرَغْتُ أَمَرَ لِي بِعُمَالَةٍ، فَقُلْتُ: إِنَّمَا عَمِلْتُ لِلَّهِ، قَالَ: خُذْ مَا أُعْطِيتَ فَإِنِّي قَدْ عَمِلْتُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَمَّلَنِي.

د ابن ساعدي نه روایت دې فرمائی چه عمر رضی الله عنه زه په زکات باندې عامل مقرر کړم یعنی دزکات دوصول کولو دپاره کله چه زه ددې کارنه فارغ شوم نوهغه ماته داجرت را کولو دپاره حکم اوکړو ماورته اووئیل داکار ما صرف دالله درضادپاره کړې دي عمر رضی الله عنه راته اووئیل څه چه درته درکولې شی هغه واخله زه هم دنبی علیه السلام په زمانه کښې په زکات عامل مقرر شوې وم اونبی علیه السلام ماته ددې مزدوري - راکړه.

[۲۹۴۵](³) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ مَرْوَانَ الرَّقِّيُّ، حَدَّثَنَا الْمُعَافَى، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَنْ كَانَ لَنَا عَامِلًا فَلْيَكْتَسِبْ زَوْجَةً، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ خَادِمٌ فَلْيَكْتَسِبْ خَادِمًا، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَسْكَنٌ فَلْيَكْتَسِبْ مَسْكَنًا، قَالَ: قَالَ أَبُو بَكْرٍ: أُخْبِرْتُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنِ اتَّخَذَ غَيْرَ ذَلِكَ فَهُوَ غَالٌّ أَوْ سَارِقٌ".

---

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٥٧) (صحيح)

²): صحيح البخاري/الزكاة ٥١ (١٤٧٣) (٧١٦٣)، والأحكام ١٧ (٧١٦٣)، صحيح مسلم/الزكاة ٣٧ (١٠٤٥)، سنن النسائي/الزكاة ٩٤ (٢٦٠٥، ٢٦٠٧)، (تحفة الأشراف: ١٠٤٨٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/١٧، ٤٠، ٥٢)، سنن الدارمي/الزكاة ١٩ (١٦٨٩) (صحيح)

³): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١٢٦٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٢٩) (صحيح)

د مستورد بن شداد نه روایت دې فرمائی چه دنبی کریم ا نه مې اوریدلی دی چه فرمائیل ئې ځوك چه زمونږه عامل وي نود يوې ښځې دپاره دې زمونږ نه خرچه اخلي كه چرې دده سره خدمت گارنه وي نويوخدمت گاردې وساتي اوكه چرې دده داوسيدلو دپاره كور نه وى نويوكور دې داوسيدو دپاره واخلي مستورد وائی ابوبکر رضی الله عنه اووئيل ماته خبر راكړې شوې دې چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی ځوك چه ددې څيزونونه علاوه دبل څيزدپاره خرچه واخلي نوهغه خيانت گر اوغل دې (يعنى دمسلمانانو مال عبث خرچ كوي).

﴿ من كان لنا عاملا فليكتسب زوجة ﴾

كوم انسان چه مونږ عامل جوړ كړو نو هغه له پكار دى چه وادهٔ اوكړى يعنى د بيت المال په خرچه باندې او هم دغه شان كه . هغه سره خادم نه وى نو يو خادم دې د بيت المال نه حاصل كړي، او كه د اوسيدو دپاره ئې كور نه وى نو د يو كور انتظام دې اوكړى.

باب في هدايا العمال

دعاملانو دهدنې اخستلوبيان

يعنى عمال چه كله صدقات وصولولو دپاره لاړ شى او د صدقاتو نه علاوه هغوى ته د جرته نه څه هديه كښې څه ملاؤ شى نو د هغې څه حكم دې، د ابن عبدالبر په التمهيد كښې دى چه هدايا د عمالو د جمهورو په نزد په حكم د فئ كښې دى. پس هغې لره په بيت المال كښې داخلول پكار دى، په خلاف د رسول الله صلى الله عليه وسلم چه د هغوى په خدمت كښې يوه هديه پيش كړې شى نو هغه به د هغوى دپاره وى. (هامش البذل) وهكذا في السير الكبير

تنبيه: بعينه هم دا ترجمة الباب ﴿ باب في هدايا العمال ﴾ وړاندې په كتاب القضاء كښې هم را روان دې هلته مصنف يو بل حديث ذكر كړې دې.

[۲۹٤٦][1] حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، وَابْنُ أَبِي خَلَفٍ، لفظه قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَعْمَلَ رَجُلًا مِنَ الْأَزْدِ يُقَالُ لَهُ ابْنُ اللُّتْبِيَّةِ، قَالَ ابْنُ السَّرْحِ: ابْنُ الْأُتْبِيَّةِ عَلَى الصَّدَقَةِ، فَجَاءَ فَقَالَ: هَذَا لَكُمْ وَهَذَا أُهْدِيَ لِي، فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، وَقَالَ: مَا بَالُ الْعَامِلِ نَبْعَثُهُ فَيَجِيءُ فَيَقُولُ: هَذَا لَكُمْ وَهَذَا أُهْدِيَ لِي، أَلَا جَلَسَ فِي بَيْتِ أُمِّهِ أَوْ أَبِيهِ فَيَنْظُرَ أَيُهْدَى لَهُ أَمْ لَا؟ لَا يَأْتِي أَحَدٌ مِنْكُمْ بِشَيْءٍ مِنْ ذَلِكَ إِلَّا جَاءَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، إِنْ كَانَ بَعِيرًا فَلَهُ رُغَاءٌ، أَوْ بَقَرَةً فَلَهَا خُوَارٌ، أَوْ شَاةً تَيْعَرُ، ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى رَأَيْنَا عُفْرَةَ إِبْطَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: "اللَّهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ اللَّهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ".

دابوحميد ساعدي رضی الله عنه نه روايت دې فرمائى چه نبى علیه السلام يو ايزدي عامل مقرر كړو چه ابن اللتبية ورته وئيلې شول اوابن صرح وئيلى دى ابن الاتبيه دزكات دوصول كولو دپاره نوكله چه د خپل كارنه راغي وې رئيل داستاسومال دې اوداماته هديه شوې دې نو نبى علیه السلام پاځيدو او په ممبراودريدو دالله حمد او ثنائي اووئيله اووئې فرمائيل چه د عامل دپاره دامناسب نه دى چه دې مونږ اوليږو اوزكات راوړي اوداسې وائى چه دا مال ستاسو دپاره

[1]: صحيح البخاري/الزكاة ٦٧ (١٥٠٠)، الهبة ١٧ (٢٥٩٧)، الأيمان والنذور ٣ (٦٦٣٦)، الحيل ١٥ (٦٩٧٩)، الأحكام ٢٤ (٧١٧٢)، صحيح مسلم/الإمارة ٧ (١٨٣٢)، (تحفة الأشراف: ١١٨٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٤٢٣)، سنن الدارمي/الزكاة ٣١ (١٧١١) (صحيح)

دې اودانور ماته هدیه شوې دې که چرې دې دخپل مور او پلار په کور کښې ناست وې نو آیاده ته هدیه ملاویږې اوکه نه، په تاسو کښې چه څوك ددې نه څه شې واخلي نوهغه به دقیامت په ورځ باندې راوړي که چرې اوښ وي نواوازونه به کوي اوکه غواوې نوهم آوازونه به کوي اوکه ګډ وي نوهم آوازونه به کوي بیانبي ﷺ خپل لاسونه ډیر اوچت کړل اووئې فرمائیل اې الله ایا ما دین ورسوو یعنی لکه څنګه چه تاوئیلی دی یقینا مادین ورسوو اې الله یقینا مادین اورسوو.

شرح الحدیث:

قوله: ﴿عن ابی حمید الساعدی رضی الله عنه ان النبی ﷺ استعمل رجلا من الازد یقال له ابن اللتبیة قال ابن السرح ابن الاتبیة علی الصدقة الخ﴾: د دې رجل ازدی عامل نوم عبدالله دې، دلته ئې نسبت د مور طرف ته دې، بنو لتب یوه قبیله ده د هغه د مور نوم نه دې معلوم کړې، رسول الله ﷺ هغه لره د هغوی په صدقاتو باندې عامل مقرر کړو، یو ځل هغه صدقات راوړل، او وې وئیل چه دا مال خو د صدقې دې او دا مال ماته په هدیه کښې ملاؤ شوې دې، د رسول الله ﷺ چونکه عادت شریفه په دې موقع باندې د عام نصیحت فرمائیلو وو بغیر د تخصیص نه په دې وجه هغوی منبر ته تشریف یوړو او د الله پاک د حمد او ثناء نه پس ئې دا خبرداري اوفرمائیلو چه بعض عاملان داسې دی چه مونږ هغوی لیږو او هغوی واپس راځی او وائی چه دا مال خو د صدقې دې او دا مال زما دپاره هدیه دې، وړاندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دا سړې د خپلې مور یا پلار په کور کښې ولې نه کیناستلو چه هغه ته هدیه ورکولې کیده او که نه؟ بیا چه وړاندې رسول الله ﷺ څه اوفرمائیل د هغې حاصل دا دې چه داسې مال مال د غلول دې. او د غلول په باره کښې چه کوم وعید راغلې دې هغه رسول الله ﷺ بیان اوفرمائیلو، هغه دا چه که په مال د غلول کښې اوښ وی نو په میدان حشر کښې به هغه اوښ د هغه په شا باندې سور او آواز کونکی راځی، او که هغه مال غلول غوا وی نو بیا به هم دغه شان راځی. هم دغه شان بیزه... الی اخر الحدیث.

د عمالو د هدایا په باره کښې شراح لیکلي دی چه هغه حرام دی او رشوت دې، او د نورو هدایا په شان نه دی، ځکه چه عاملینو ته چه کوم خلق هدایا پیش کوی د هغوی غرض فاسدوی چه هغوی په زکوة وصولولو کښې تخفیف اوکړی او پوره واجب حق د هغه نه وانخلی.

کوم څیز چه د امر محظور ذریعه جوړه شی هغه هم محظور دې:

او شارحینو دا هم لیکلي دی چه د دې حدیث نه دا هم معلومیږی چه کوم څیز ذریعه جوړه شی د یو امر محظور و ممنوع دپاره نو هغه ذریعه به هم ممنوع او محظور وی، ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائی چه د دې قسم عامل ته پکار دی چه هغه دې خپل کور کښې کینی او اودې ګوری هغه ته هدیه ملاویږی یا نه، ښکاره خبره ده چه نه به ملاویږی، نو د دې نه معلومه شوه چه هغه ته کومه هدیه ملاویږی هغه هم هغه ده یعنی عدم استیفاء حق واجب یعنی پوره زکوة نه وصول کول، نو دا هدیه ذریعه جوړیږی د عدم استیفاء د زکوة دپاره چه هغه یو امر محظور دې، والحدیث اخرجه البخاری ومسلم، قاله المنذری

بَابٌ فِي غُلُولِ الصَّدَقَةِ
د زکات د مال نه د غلا کولو بیان

[۲۹۴۷]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ أَبِي الْجَهْمِ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ، قَالَ: بَعَثَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاعِيًا، ثُمَّ قَالَ: "انْطَلِقْ أَبَا مَسْعُودٍ وَلَا أُلْفِيَنَّكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تَجِيءُ عَلَى ظَهْرِكَ بَعِيرٌ مِنْ إِبِلِ الصَّدَقَةِ لَهُ رُغَاءٌ قَدْ غَلَلْتَهُ"، قَالَ: إِذًا لَا أَنْطَلِقُ، قَالَ: إِذًا لَا أُكْرِهُكَ".

دابومسعود انصاري رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه نبی علیه السلام زه عامل مقرر کړم اوبیا ئې اوفرمائیل اې ابومسعوده لاړ شه خوداسې نه چه دقیامت په ورځ دې اووینم چه په خیټه کښې دې دزکات اوښ راوړې وي او آوازونه کوي ابومسعود اووئیل که چرې داسې وی نوزه نه ځم نبی علیه السلام اوفرمائیل په تا باندې زور نه کوو چه خامخالاړ شه مگر که ستا په خپل نفس باندې یقین وي تولاړ شه اوکه نه وی نو نه تلل ستادپاره بهتردي.

﴿ عن ابی مسعود الانصاری رضی الله عنه قال بعث النبی صلی الله علیه وسلم ساعیا الخ ﴾

هم د غلول فی الصدقة په باره کښې دا حدیث دې او په دې باندې وعید دې، چه د هغې مضمون پورته تیر شو.

بَابٌ فِيمَا يَلْزَمُ الْإِمَامَ مِنْ أَمْرِ الرَّعِيَّةِ وَالْحَجَبَةِ عَنْهُ
په امام باندې د قوم څه حقونه دی او ددې دتکمیل بیان

یعنی په امام باندې چه د رعایا کوم حق واجب دې د هغوی خبر اخستل او ضروریات پوره کول وغیره.

[۲۹۴۸]() حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمْزَةَ، حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ، أَنَّ الْقَاسِمَ بْنَ مُخَيْمِرَةَ، أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا مَرْيَمَ الْأَزْدِيَّ أَخْبَرَهُ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى مُعَاوِيَةَ، فَقَالَ: مَا أَنْعَمَنَا بِكَ أَبَا فُلَانٍ، وَهِيَ كَلِمَةٌ تَقُولُهَا الْعَرَبُ، فَقُلْتُ حَدِيثًا سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَنْ وَلَّاهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ شَيْئًا مِنْ أَمْرِ الْمُسْلِمِينَ فَاحْتَجَبَ دُونَ حَاجَتِهِمْ وَخَلَّتِهِمْ وَفَقْرِهِمُ احْتَجَبَ اللَّهُ عَنْهُ دُونَ حَاجَتِهِ وَخَلَّتِهِ وَفَقْرِهِ"، قَالَ: فَجَعَلَ رَجُلًا عَلَى حَوَائِجِ النَّاسِ.

دابومریم ازدي نه روایت دې فرمائی چه زه معاویه بن أبی سفیان رضی الله عنه ته لاړم هغه اووئیل ډیرښه کار دې اوکړو چه دلته راغلې ماووئیل یوحدیث مې اوریدلې دې کوم چه تاته بیانوم ما د نبی علیه السلام نه اوریدلې وو چه فرمائیل ئې چاته چه دمسلمانانو کوم کار اوسپارلې شي اوبیاهغه سړې دخلقو ضرورتونه نه پوره کوي ترڅوچه دغه خلق ضرورت مند بافقیران وي نوالله تعالی تردغه وخته پورې ددغه کس ضرورتونه نه پوره کوي معاویه چه دا واوریدل نومعاویه یوکس نره دخلقو دضرورتونو د پوره کولو دپاره مقرر کړو.

مضمون حدیث

قوله: ﴿ ان ابا مریم الازدی اخبره قال دخلت علی معاویة رضی الله عنه قال انعمنا بک ......الخ ﴾

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹۹۸۹) (حسن)
[2]: سنن الترمذي/الأحكام ٦ (۱۳۳۳)، (تحفة الأشراف: ۱۲۱۷۳) (صحيح)

ابومريم ازدي رضي الله عنه فرمائي چه زه يو خل سيدنا معاويه رضي الله عنه ته لاړم نو هغوی زما په ليدو سره د خوشحالئ اظهار اوکړو او د عرب خلقو د عادت مطابق ئې ﴿ ما انعمنا بک ﴾ دا جمله استعمال کړه، دا صيغه د تعجب ده يعنی ستا زمونږ طرف ته راتلل د الله پاک څومره لوئي انعام دې. هغوی اوفرمائيل چه ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه يو حديث اوريدلې وو هغه تاسو ته اوروم، هغه دا چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه کوم انسان الله پاک د مسلمانانو په کارونو کښې د يو کار ذمه دار مقرر کړی او بيا هغه د خلقو د ضرورت په وخت د خلقو مخې ته نه راځی په پرده کښې ناست وی نو د داسې انسان سره الله پاک هم داسې معامله فرمائی چه د هغه د حاجت او د ضرورت په وخت کښې په پرده کښې شی. وړاندې په روايت کښې دی چه ﴿ فجعل رجلا علي حوائج الناس ﴾ معاويه رضي الله عنه د دې حديث په اوريدو باندې يو سړې مقرر کړو د خلقو په حاجت باندې، يعنی چه د هغوی حاجتونه او مطالبات هغوی ته اورسوی.

دا د معاويه رضي الله عنه کمال اتباع او انقياد دې چه په رعايا کښې يو سړی د هغوی د تنبيه دپاره يو حديث واورولو نو د هغې په اوريدو سره ئې فورا د هغې مطابق عمل شروع کړو بغير د څه قسم ناخوښې او تندی تريو کولو نه، آخر خليفه وو امير وو، د معاويه رضي الله عنه داسې نور هم واقعات په کتب حديث کښې کوم چه د هغوی په کمال حلم باندې دلالت کوی او د هغوی حلم مشهور هم دې. والحديث اخرجه الترمذي. قاله المنذري

[۲۹۴۹]([1]) حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، قَالَ: هَذَا مَا حَدَّثَنَا بِهِ أَبُو هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أُوتِيكُمْ مِنْ شَيْءٍ وَمَا أَمْنَعُكُمُوهُ إِنْ أَنَا إِلَّا خَازِنٌ أَضَعُ حَيْثُ أُمِرْتُ".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی چه تاسوته دخپل طرف نه نه څه درکوم اونه څه منع کوم زه دالله تعالی خزانچي يم چرته چه ماته حکم کيږي هلته خرچ کوم.

[۲۹۵۰]([2]) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ، قَالَ: ذَكَرَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَوْمًا الْفَيْءَ، فَقَالَ: مَا أَنَا بِأَحَقَّ بِهَذَا الْفَيْءِ مِنْكُمْ، وَمَا أَحَدٌ مِنَّا بِأَحَقَّ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا أَنَّا عَلَى مَنَازِلِنَا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَقَسْمِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَالرَّجُلُ وَقِدَمُهُ وَالرَّجُلُ وَبَلَاؤُهُ وَالرَّجُلُ وَعِيَالُهُ وَالرَّجُلُ وَحَاجَتُهُ.

دمالك بن اوس بن الحدثان نه روايت دې چه عمرفاروق رضي الله عنه يوه ورځ دمال ئې ذکر اوکړو اووئې فرمائيل چه زه ستاسونه زيات ددې مال ئې حقدارنه يم اونه په مونږ کښې يوکس دبل کس نه ددې مال ئې زيات حقداردې مگر دالله تعالی کتاب اود نبی عليه السلام دتقسيم په طريقې سره ئې مونږ په خپلوخپلودرجو باندې قائم يو څوک چه داسلام په اعتبارسره قديم ئې يا بهادر وي يابال بچه داروي يا ضرورت مند وي نوهغه به ددې حقداروي.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٧٩٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/فرض الخمس ٧ (٣١١٧)، مسند احمد (٢/ ٣١٤، ٤٨٢) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٦٣٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٢/١) (حسن)

﴿عن مالک بن اوس بن الحدثان قال ذکر عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه یوما الفئ فقال ما انا باحق بهذا الفئ منکم وما احد منا احق به من احد الا انا علی منازلنا من کتاب الله عزوجل وقسم رسوله فالرجل وقدمه والرجل وبلاؤه وعیاله والرجل وحاجته﴾

د مال فئ په باره کښې د عمر رضی الله عنه د اثر تشریح:

یعنی یو ورځ عمر رضی الله عنه د خلقو مخکښې د مال فئ ذکر اوکړو او دا ئې اوفرمائیل چه د دې مال فئ زه ستاسو نه زیات مستحق نه یم، بلکه څوک هم زمونږ نه زیات د دې مستحق نه دې.[1] بلکه دا مال مشترک دې ټول په دې کښې برابر شریک دی، بیا ئې وړاندې اوفرمائیل چه اګر که په نفس استحقاق کښې ټول شریک دی خو د مرتبو د فرق لحاظ ساتلو سره د کتاب الله مطابق او د رسول الله ﷺ د تقسیم عمل په رڼا کښې، بیا وړاندې د دې وضاحت دې فرمائی چه یو سړې دې او د هغه عیال او اولاد یعنی یو سړې د عیال خاوند دې او دویم د عیال خاوند نه دې او یو سړې دې او د هغه حاجت، یعنی یو سړې واقعی حاجت مند دې او د دویم سړی داسې څه حاجت نشته الحاصل د دې ټولو څیزونو رعایت کول هم ضروری دی.

مال فئ او غنیمت کښې فرق او د هر یو حکم او مصرف:

د عمر رضی الله عنه په دې حدیث کښې د مال فئ حکم ذکر شوې دې مال فئ هغه مال دې چه بغیر د قتال نه حاصل شی لکه هغه اراضی کوم چه مسلمانانو د مشرکانو نه د هغوی په شړلو باندې خالی کړې وی بغیر د قتال نه، لکه د بنو نضیر زمکه او فدک هم دغه شان هم دغه شان د هر یو مقام او ښهر د فتح کولو نه پس چه د هغه ښهر نه کوم څیزونه حاصلیږی لکه جزیه وغیره او معاون دا ټول مال فئ دې، د مال غنیمت حکم خو په قرآن کریم کښې منصوص دې چه د هغې دې تخمیس اوکړې شی، یعنی یو خمس خو دې ځانله کړې شی او باقی اربعة اخماس دې په غانمینو کښې تقسیم کړې شی. بیا د دې خمس په باره کښې دا دی چه دا دې پنځه خایه تقسیم کړې شی لکه چه په دې آیت کریمه کښې ذکر شوې دی. ﴿واعلموا انما غنمتم من شئ فان لله خمسه وللرسول ولذی القربی والیتامی والمساکین وابن السبیل﴾ د دې په شروع کښې د الله پاک نوم خو د برکت دپاره دې وړاندې باقی پنځه پاتې شو نو ګویا دا خمس په پنځه ځایونو کښې تقسیمولې شی، په دې صورت کښې د هر یو په حصه کښې خمس الخمس راځی. وړاندې یو مستقل باب را روان دې، ﴿باب بیان مواضع قسم الخمس﴾ وړاندې به د دې نور تفصیل انشاء الله راشی، دلته خو تبعاً د فئ د تقابل د وجې نه بیان کړې شوې ده. د فئ په باره کښې چه کومه رائې د عمر رضی الله عنه ذکر شوې ده هم هغه د جمهور علماء کرامو او

---

[1] **د ارض مفتوحه په باره کښې د عمر رضی الله عنه رائې:** هم دغه شان د ارض مفتوحه په باره کښې د عمر رضی الله عنه رائې دا وه چه دا دې تقسیم نه کړې شی چه د ټولو مسلمانانو د ضرورتونو دپاره دا محفوظ اوساتلې شی چه ټول خلق ترې نه منتفع شی کینې د تقسیم په صورت کښې خو به په دې کښې د اشخاصو ملکیت شی. پس د هغوی دا حدیث وړاندې راروان دې باب ﴿ما جاء فی حکم ارض خیبر﴾ په آخری حدیث کښې هم دا دی، ﴿لولا اخر المسلمین ما فتحت قریة الا قسمتها کما قسم رسول الله ﷺ خیبر﴾

ائمه ثلاثه رائې ده په دې کښې د امام شافعي رحمه الله اختلاف دې، د هغوی په نزد چه کوم حکم د غنیمت دې هم هغه د فئ دې یعنی د مال فئ دې تخمیس اوکړې شی بیا دې هغه خمس په مصارف خمس کښې صرف کړې شی، او باقی اربعة اخماس دې په مقاتلینو باندې تقسیم کړې شی، پس په شرح اقناع کښې دی ﴿ یخمس الفئ فیصرف الخمس مصارف الخمس، ویصرف اربعة اخماسه علی المقاتلة ای المرتزقة للقتال خلافا للائمة الثلاثة اذ قالوا لا یخمس الفئ بل جمیعه لمصالح المسلمین ﴾ ([1])

دا اختلافی مسئله په کتاب الجهاد کښې باب دعاء المشرکین کښې د حدیث د لاندې داسې تیره شوې ده چه د شوافعو په نزد په بیت المال کښې مال په دوه قسمه وی، د هر قسم مصرف ځانله دې:

۱: د زکوة او صدقاتو مال، دا د عامة المسلمین چه غازیان نه وی دپاره دې.

---

[1]) د فئ دحکم په باره کښې نور تحقیق: وفي الجوهر النقي ۲۹۴/٦ ذکر النووي ان جماعة العلماء سوي الشافعي قالوا لا خمس في الفئ وقال ابن المنذر لا نعلم احدا قبل الشافعي قال بالخمس في الفئ. وقال ابوعمر في التمهید وهو قول ضعیف لا وجه له من جهة النظر الصحیح ولا الاثر، وفي العالم للخطابي کان رائ عمر في الفئ ان لا یخمس لکن یکون لجماعة المسلمین لمصالحهم، والیه ذهب عامة اهل الفتوي غیر الشافعي فان کان یري ان یخمس الخ وفي قواعد ابن رشد. قال قوم الفئ یصرف الجمیع المسلمین الفقیر والغني ویعطي الامام منه المقاتلة والولاة والحکام وینفق منه في النوائب التي تنوب المسلمین کبناء القناطر واصلاح المساجد، ولا خمس في شئ منه وبه قال الجمهور، وهو الثابت عن ابي بکر وعمر رضي الله عنهما ولم یقل احد بتخمیس الفئ قبل الشافعي وانما حمله علي ذلك انه رائ الفئ قسم في الایة علي عدد الاصناف الذي قسم علیهم (الخمس) فاعتقد ان فیه (الفئ) الخمس لانه ظن ان هذه القسمة مختصة بالخمس ولیس ذلك باظاهر بل الظاهر ان هذه القسمة تخص جمیع الفئ لا جزء منه، وفي التجرید للقدوري ما ملخصه قال اصحابنا الفئ کل مال وصل الینا من المشرکین بلا قتال کالاراضي التي اجلوا عنها وهو والخراج والعشر والجزیة تصرف الي مصالح المسلمین وقال الشافعي اربعة اخماسه للنبي صلی الله علیه وسلم وخمسه یقسم کما یقسم خمس الغنیمة، الي آخر ما ذکر من الدلیل للحنفیة) او په بیان القرآن کښې دی چه کوم مال د اهل حرب نه بغیر د قتال نه حاصل شوې وی هغه فئ دې کذا في الهدایة !موال بنو نضیر هم د دې قبیلې نه دی او فدک او نصف خیبر هم، په مال فئ کښې د امام صاحب په نزد خمس نشته، او د دې مالونو حکم دا دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم لکه د روایاتو د الفاظو نه معلومیږی د دې مالک وو او په دې کښې چه کوم مصارف رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بیان کړې شو وجوبا او ندبا هغه داسې دی لکه چه د مالونو په مالکانو باندې صدقه وی، خو دا اموال مملوکه د هغوی نه پس د میراث محل نه و بلکه وقف وو او دا خصوصیت وو د رسول الله صلی الله علیه وسلم رواه الشیخان، پس رسول الله صلی الله علیه وسلم د بنو نضیر د مالونو اکثر حصه مهاجرینو او انصارو کښې بعضو ته تقسیم کړه، رواه البیهقي، او په باقی کښې به خپل اهل وعیال ته د ټول کال د خرچې ورکولو نه پس چه څۀ بچ شو هغه به ئې په جهادی سامان او د اسلحې په اخستلو باندې خرچ کوله اخرجه الشیخان وغیرهما، او د خیبر د کتې نه به ئې د فقراء مهاجرینو او د فدک د مسافرو امداد کولو اخرجه ابوداؤد وابن مردویة، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند نه روستو د دې مصارف صرف مصالح عامه دی مثل سد سغور وبناء قناطر وجسور او قضاة وعمال وعلماء المسلمین ورزاق مقاتلین وذراري مقاتلین کذا في الهدایة او په دې مصالحو کښې مصارف خمس د غنیمت یتامی و مساکین،......... او ابن السبیل هم په کښې داخل دې وفیه بعد ذلك: او دا ذکر کړې شوې تقریر (کوم چه مونږ مختصر کړو) د احنافو په مسلک باندې دې او د امام شافعي رحمه الله په نزد په فئ کښې هم خمس دې او څلور به اخماس په مصارف مذکوره کښې صرف کیږی آه.. مختصرا خو د هغې پوره عبارت چه پوره په یو صفحه کښې دې د د طالبانو او مدرسینو دپاره قابل مطالعه او په دې مقام باندې د پوهیدو دپاره ډیر زیات مفید دې)

۲: مال فئ دا صرف د غازیانو او مجاهدینو دپاره وی، صرح به النووی وقال ایضا : ولم یفرق بینهما ابوحنیفة ومالک.

مصنف له پکار وو چه د عمر رضی الله عنه حدیث ئې په را روان باب کښې ذکر کړې وې چه په هغې کښې هم دا مسئله ذکر ده د تقسیم فئ، خو زما په ذهن کښې دا خبره ده چه مصنف ډیره کرته داسې کوی چه د مخکښې باب په آخر کښې داسې حدیث راوړی چه د راتلونکی باب سره مناسب وی په منزله د تمهید والله اعلم.

بَابٌ فِي قَسْمِ الْفَيْءِ

د مال فئ د تقسیم بیان

[۲۹۵۱](¹) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَبِي الزَّرْقَاءِ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ، دَخَلَ عَلَى مُعَاوِيَةَ، فَقَالَ: حَاجَتَكَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ، فَقَالَ: عَطَاءُ الْمُحَرَّرِينَ فَإِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلَ مَا جَاءَهُ شَيْءٌ بَدَأَ بِالْمُحَرَّرِينَ.

دزید بن اسلم به روایت دې فرمائی چه عبدالله بن عمر رضی الله عنهما معاویه رضی الله عنه ته ورغې معاویه ورته ووئیل که څه ضرورت دې وي نو اووایه ابن عمر ورته ووئیل چه دازادکړې شور غلامانوحصه ادا کړه یقینا ما نبی علیه السلام لیدلي ووچه کله به ورته مال ئې راغې نواول به ئې دهغې نه دازادوغلامانوحصه اوښکله.

مضمون الحدیث:

قوله: ﴿ان عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دخل علی معاویة رضی الله عنه فقال حاجتک یا ابا عبدالرحمن؟ فقال عطاء المحررین الخ﴾: ابن عمر رضی الله عنهما معاویه رضی الله عنه ته لاړو هغوی ترې نه تپوس اوکړو چه څه حاجت دې، څنګه راغلې ئې؟ هغوی اوفرمائیل د محررینو دپاره مې حصه راوړې ده، څکه چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم لیدلې دې چه کله به هغوی ته دچرته نه مال راغلو نو دهغې د تقسیم شروع به ئې د محررینو نه کوله، دمحررین په مصداق کښې درې قول، په بذل کښې لیکلې شوې دی

۱: معتقین یعنی آزاد کړې شوې غلام (څکه چه د دې ضرورت ښکاره دې اوس خو آزاد شوی دی د ژوند تیرولو دپاره د روزګار بندوبست سمدستی څنګه کیدې شی.

۲: مکاتبین: چه هغه خپل بدل د کتابت ادا کړې شی ۳: عبادت ګزار د الله پاک بندګان چه ددې ته شوې وی.

د حدیث مناسبت د ترجمة الباب نه ښکاره دې څکه چه اول ﴿ما جآء شئ﴾ د دې نه صرف مال فئ مراد دې.

[۲۹۵۲](²) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نِيَارٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِظَبْيَةٍ فِيهَا خَرَزٌ فَقَسَمَهَا لِلْحُرَّةِ وَالْأَمَةِ، قَالَتْ عَائِشَةُ: كَانَ أَبِي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقْسِمُ لِلْحُرِّ وَالْعَبْدِ.

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۶۷۲۹) (حسن)

²): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۶۳۵۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۱۵۶، ۱۵۹، ۲۳۸) (صحيح)

دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام ته دغمو يوه بوجئ راوړل شوه نوهغه په اصيلو اووينځو باندي تقسيم کړې ام المومنين وائي چه زما والدصاحب به هم غلام او ازادته حصه ورکوله

﴿ عن عائشة رضي الله عنها ان النبى صلى الله عليه وسلم اتى بظبية فيها خرز فقسمها للحرة والامة ﴾ يعني هغوى ته يو تيلئ راغله چه په هغي کښې هيري او ملغلرې وې نو رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه په زنانو کښې په آزادو او وينزو ټولو کښې تقسيم کړه، وړاندې عائشة رضي الله عنها فرمائي چه هم دغه شان به زما پلار هم په آزاد او غلام ټولو کښې تقسيمولو، يعني مال فئ لره، او د عائشې رضي الله عنها په روايت مرفوعه کښې حرة او امة د تخصيص حرز په لحاظ سره دي چه هنه هم د هغوى د کار څيزونه وى.

[٢٩٥٣](1) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ الْمُصَفَّى، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو الْمُغِيرَةِ جَمِيعًا، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ إِذَا أَتَاهُ الْفَيْءُ قَسَمَهُ فِي يَوْمِهِ، فَأَعْطَى الْآهِلَ حَظَّيْنِ وَأَعْطَى الْعَزَبَ حَظًّا". زَادَ ابْنُ الْمُصَفَّى: فَدُعِينَا وَكُنْتُ أُدْعَى قَبْلَ عَمَّارٍ فَدُعِيتُ فَأَعْطَانِي حَظَّيْنِ وَكَانَ لِي أَهْلٌ، ثُمَّ دُعِيَ بَعْدِي عَمَّارُ بْنُ يَاسِرٍ فَأَعْطَى لَهُ حَظًّا وَاحِدًا.

دعوف بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه کله به نبي عليه السلام ته مال ئي راغي نو په همدغه ورځ به ئي تقسيم کړو، او متاهل (بال بچه دار)ته به ئي دوه حصې ورکولې او مجرد ته به ئي يوه حصه ورکوله. دابن المصفي په روايت کښې ورسره دا اضافه ده چه دوى راوبلل شول اوزه دعمارنه مخکښې را اوبللي شوم اوماته دوه حصې راکړې شوې اوزه شادي شده وم، بيازمانه پس عمار بن ياسر را اوبللى شو اويوه حصه ورته ورکړې شوه.

﴿ عن عوف بن مالك رضى الله تعالى عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان اذا اتاه الفئ قسمه فى يومه فاعطى الاهل حظين واعطى العزب حظا ﴾

يعني چه کله به رسول الله صلى الله عليه وسلم ته مال فئ راتلو نو هغه ورځ به رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغې تقسيم کولو، د بې واده کړې دپاره يو حصه، او واده کړې ته به ئي دوچند ورکولو.

بَابٌ فِي أَرْزَاقِ الذُّرِّيَّةِ

دمسلمانانو اولاد ته د حصې ورکولو بيان

[٢٩٥٤](2) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ جَعْفَرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "أَنَا أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ مَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِأَهْلِهِ وَمَنْ تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضَيَاعًا فَإِلَيَّ وَعَلَيَّ".

دجابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام به فرمائيل چه زه په مومنانو باندې

(1): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٠٩٠٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٥/٦، ٢٩) (صحيح)

(2): سنن ابن ماجه/المقدمة ٧ (٤٥)، والصدقات ١٣ (٢٤١٦)، (تحفة الأشراف: ٢٦٠٥)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الجمعة ١٣ (٨٦٧)، سنن النسائي/العيدين ٢١ (١٥٧٩)، والجنائز ٦٧ (١٩٦٤)، مسند احمد (٣٧١/٣) (صحيح)

دهغوی نه زیات مهربان یم که چرې دچانه مال پاتې شي نوهغه دده داهل اوبال بچ حق دي اوکه چرې څوك په خپله ذمه قرض یابال بچ پریږدي نودهغې زه ذمه واریم.
د ذریت نه مراد یتیم او نابالغ ماشومان، مطلب دا دي که هغه فقیر وی نو د هغه نفقه به د بیت المال نه وی، د حدیث الباب مضمون ړومبی تیر شوي دي. د خطابی رحمه الله په شرح کښې دی چه زنانه هم په دې حکم کښې دی یعنی کونډې او ضرورت مند.
والحدیث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذری

[۲۹۵۵](١) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِوَرَثَتِهِ وَمَنْ تَرَكَ كَلًّا فَإِلَيْنَا".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی که چرې دچانه مال پاتې شي نوهغه دده دوارثانو حق دي اوکه چرې څوك تاوان پریږدي نودهغې زه ذمه واریم

[۲۹۵۶](٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَانَ يَقُولُ: "أَنَا أَوْلَى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهِ فَأَيُّمَا رَجُلٍ مَاتَ وَتَرَكَ دَيْنًا فَإِلَيَّ وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِوَرَثَتِهِ".

دجابربن عبدالله نه روایت دي فرمائی چه نبی علیه السلام به فرمائیل: چه زه په هرمومن باندې دهغه نه زیات مهربان یم که چرې هریومومن مرشي اوقرض پرېږدي نودهغې زه ذمه واریم اوکه چرې څوك مال پریږدي نوهغه دده دوارثانو حق دي،
احادیث الباب کتاب الفرائض کښې تیر شوي دي، نو وضاحت ته ئې حاجت نشته

بَابٌ مَتَى يُفْرَضُ لِلرَّجُلِ فِي الْمُقَاتِلَةِ

دکوم عمر والا سړی دپاره به حصه مقررولې شي؟

شرح الحدیث:

﴿المقاتلة﴾ په کسرې د تاء سره او صیغه د مونث په اعتبار د جماعت سره، د دې نه مراد مقاتلین او غازیان دی، او دا د ذریت مقابل دی کوم چه په باب سابق کښې تیر شوي دي، فرض وائی هغه مقرره حصې ته کوم چه د بیت المال نه مجاهدینو ته ملاویږی او په جهاد کښې هغه انسان تلې شی چه بالغ وی، نو د ترجمة الباب حاصل دا شو چه انسان لره په مقاتلین کښې شمیرلو سره کله یعنی په کوم عمر کښې به د هغه حصه مقرر کولې شي؟ او جواب ئې دا دي چه کله هغه بالغ شی، او د بلوغ نه مخکښې نه خو هغه د مقاتلینو په فهرست کښې راتلې شی او نه به هغه ته د مقاتلینو حصه ملاویږی.

(١): صحيح البخاري/الاستقراض ١١ (٢٣٩٨)، الفرائض ٢٥ (٦٧٦٣)، صحيح مسلم/الفرائض ٤ (١٦١٩)، (تحفة الأشراف: ١٣٤١٠)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الجنائز ٦٩ (٢٠١٩)، سنن النسائي/الجنائز ٦٧ (١٩٦٥)، سنن ابن ماجه/الصدقات ١٣ (٢٤١٦) مسند احمد (٢/٢٩٠، ٤٥٣، ٤٥٥) (صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣١٥٩) (صحيح)

[۲۹۵۷](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ أَخْبَرَنِي نَافِعٌ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرِضَهُ يَوْمَ أُحُدٍ وَهُوَ ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ، فَلَمْ يُجِزْهُ وَعُرِضَهُ يَوْمَ الْخَنْدَقِ وَهُوَ ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً، فَأَجَازَهُ.

دابن عمر رضی الله عنه نه روایت دي فرمائي چه داحد په ورځ زه نبي علیه السلام ته پیش کړې شوم اوزه دخوارلسو کالووم نوزه ئې دجهاد دپاره قبول نکړم کله چه دخندق په ورځ باندې ورته پیش کړې شوم نو دپنځلسو کالو وم نوبیا ئې دجهاد دپاره قبول کړم.

په دې باب کښې مصنف د ابن عمر رضی الله عنهما واقعه ذکر کړې دې چه د هغه کور والو د جنګ احد په موقع باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې پیش کړو یعنی په جهاد کښې د شرکت دپاره په داسې حال کښې چه هغه د پوره څوارلس کالو وو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اجازت ورنکړو، او بیا په بل کال چه کله د غزوه خندق په موقع باندې چه کله په هغوی باندې پیش کړو نو هغه وخت رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته اجازت ورکړو چه هغه د پنځلسو کالو شوې وو.

د ائمه ثلاثه او صاحبینو مسلک هم دا دې چه حد د بلوغ پنځلس کاله دې.

وعند الامام ابی حنیفة خمس عشرة سنة للانثی، وثمانیة عشر للذکر، وفی (البذل) هذا اذا لم یحتلم واما اذا احتلم قبل ذلک حکم ببلوغه من الاحتلام آهـ

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ الِافْتِرَاضِ فِي آخِرِ الزَّمَانِ

په آخری دورکښې د حصې د وصول کولو د کراهیت بیان

افتراض یعنی اخذ الفرض والحصته، یعنی د بیت المال نه د غازی خپله حصه او وظیفه اخستل، دفرض معنی حصه ورکول او دافتراض معنی حصه اخستل، مثل الکیل والاکتیال.

[۲۹۵۸](٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي الْحَوَارِيِّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمُ بْنُ مُطَيْرٍ شَيْخٌ مِنْ أَهْلِ وَادِي الْقُرَى، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي مُطَيْرٌ، أَنَّهُ خَرَجَ حَاجًّا حَتَّى إِذَا كَانَ بِالسُّوَيْدَاءِ إِذَا بِرَجُلٍ، قَدْ جَاءَ كَأَنَّهُ يَطْلُبُ دَوَاءً وَحُضُضًا، فَقَالَ: أَخْبَرَنِي مَنْ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَهُوَ يَعِظُ النَّاسَ وَيَأْمُرُهُمْ وَيَنْهَاهُمْ؟ فَقَالَ: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ خُذُوا الْعَطَاءَ، مَا كَانَ عَطَاءً فَإِذَا تَجَاحَفَتْ قُرَيْشٌ عَلَى الْمُلْكِ وَكَانَ عَنْ دِينِ أَحَدِكُمْ فَدَعُوهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد، وَرَوَاهُ ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ سُلَيْمِ بْنِ مُطَيْرٍ.

سلیم بن ابی مطیر دخپل پلار ابومطیر نه روایت کوی فرمائي چه ابومطیر حج ته روان شو کله چه سویداء مقام ته ورسیدو نو یو کس دسترګو ددوائی دغوښتلو دپاره راغې اوونې وئیل ما دهغه کس نه اوریدلي دي چاچه دنبی علیه السلام نه په حجة الوداع کښې اوریدلي وو چه خلقو ته ئې دښه کارونو حکم کولو اودبدو کارونونه ئې منع کول اودائې ورته هم اوفرمائیل اې خلقو دوخت دحاکم تحفه قبلوئ ترڅوچه دشریعت مطابق وي څوکله چه د

(١): صحیح البخاري/الشهادات ١٨ (٢٦٦٤)، والمغازي ٢٩ (٤٠٩٧)، سنن النسائي/الطلاق ٢٠ (٣٤٦١)، (تحفة الأشراف: ٧٨٣٣، ٨١١٥، ٨١٥٣)، وقد أخرجه: صحیح مسلم/الإمارة ٢٣ (١٨٦٤)، سنن الترمذي/الأحكام ٢٤ (١٣١٦)، والجهاد ٣١ (١٧١١)، سنن ابن ماجه/الحدود ٤ (٢٥٤٣)، مسند احمد (١٧/٢) ويأتي هذا الحديث في الحدود (٤٤٠٦) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٥٤٦) (ضعيف)

قریشو په مینځ کښې دیوبل سره په حکومت باندې جنګ کول شروع شي اوتحفې دقرض بدل جوړ شي نو ددې داخستو نه انکار اوکړئ. ابوداؤد وائی چه داروایت محمدبن یسار بن سلیم بن مطیر په واسطه دابن مبارك سره هم نقل کړې دې.

شرح الحدیث:

قوله: ﴿ حدثنی ابی مطیرانه خرج حاجا حتی اذا کان بالسویداء ءاذا انا برجل قد جآء کانه یطلب دواء لو حضضا ﴾: سلیم بن مطیر وائی چه ماته بیان کړې دې زما پلار مطیر چه هغوی حج دپاره روان وو، چه کله مقام سویداء ته اورسیدل نو مطیر وائی چه ما سره یو سړې ملاؤ شو چه هغه یو دوائی لټوله، یا ئې دا اوئیل حضض ئې لټولو، دا هم د یوئ دوایئ نوم دې چه هغې ته رسوت (ترخه دواء) وائی، عطاریان ئې پیژنی، مطیر وائی چه هغه سړی ماته یو حدیث واورولو کوم چه هغوی ته د رسول الله ﷺ نه بالواسطه رسیدلې وو، هغه دا چه رسول الله ﷺ خلقو ته وعظ او نصیحت فرمائیلو په حجة الوداع کښ، په دې کښې رسول الله ﷺ دا هم اوفرمائیل ﴿ یاایها الناس خذوا العطاء ماکان عطاء فاذا تجا حفت قریش علی الملک وکان عن دین احدکم، فدعوه ﴾ یعنی رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه عطاء اخلئ ترڅو چه هغه عطاء عطاء ده، د دې نه مراد هغه وظیفه ده چه د بیت المال نه غازیانو او مجاهدینو ته ملاویږی، پس هر کله چه قریش په حکومت او بادشاهت باندې جهګړې شروع کړی او هغه ورکړه د قرض په مقابله او بدله کښې شی نو بیا هغه پریږده، او د دې نه په وړاندې روایت کښې دی ﴿ وعاد العطاء رشا فدعوه ﴾ [1] یعنی چه کله وظیفه وظیفه پاتې نه شی بلکه رشوت جوړ شی نو بیا هغه پریږدئ، یعنی چه کله حکومت فوج لره په باطل او د ظلم په حمایت کښې استعمال کړی حق او ناحق ته او نه کتلې شی نو د هغه وخت د وظیفې نوعیت به د رشوت شی او رشوت اخستل جائز نه دی.

[۲۹۵۹] ([2]) حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا سُلَيْمُ بْنُ مُطَيْرٍ مِنْ أَهْلِ وَادِي الْقُرَى، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ حَدَّثَهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَجُلًا يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَأَمَرَ النَّاسَ وَنَهَاهُمْ، ثُمَّ قَالَ: "اللَّهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ" قَالُوا: اللَّهُمَّ نَعَمْ، ثُمَّ قَالَ: إِذَا تَجَاحَفَتْ قُرَيْشٌ عَلَى الْمُلْكِ فِيمَا بَيْنَهَا وَعَادَ الْعَطَاءُ أَوْ كَانَ رِشًا فَدَعُوهُ"، فَقِيلَ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: هَذَا ذُو الزَّوَائِدِ صَاحِبُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

سلیم بن ابی مطیر دخپل پلار ابومطیر نه روایت کوی فرمائی چه هغه دیوکس نه اوریدلی دی اوهغه دنبی ﷺ نه په حجة الوداع کښې اوریدلي وو چه خلقوته ئې دښه کارونوحکم کوو اودبدو کارونونه ئې منع کول اوددې نه پس ئې اوفرمائیل اې الله ایاماستا پیغام اورسوو؟ خلقو عرض اوکړوهو ضرور، بیانبی ﷺ اوفرمائیل کله چه په قریشو کښې په حکومت باندې جنګ شروع شي اودهدې نه رشوت جوړ شي اودمستحق په ځائې باندې غیر مستحق ته ملاویږي نوتاسو هدیه اخستل پریږدئ خلقو اوونیل داسې به څوك وي؟ نواووئیلې شول چه ذوالزوائد له صاحب رسول صلي الله علیه وسلم.

[1]) رشا جمع رشوة والرشوة ما يعطي لاحقاق باطل او ابطال حق)
[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۵٤٦) (ضعیف)

بَابٌ فِي تَدْوِينِ الْعَطَاءِ

په شاهي دفتر کښې د مستحقينو د نومونو ليکلو بيان

يعني د مجاهدينو د نومونو د ليکلو دپاره ديوان مرتب کول يعني رجسټر.

قيل اول من دون الديوان عمر، يعني د ټولو نه اول دا کار عمر رضي الله عنه اوکړو، ديوان په معنی د رجسټر چه د هغې جمع دواوين راځي. د مجاهدين (فوج) نومونه باقاعده په رجسټر ليکلې شي .يا هم د هغې مطابق هغوی ته وظيفه ورکولې شي، او بله دا چه د هغوی بدلی هم کيږی کال په کال لکه چه په حديث کښې دی.

[۲۹۶۰](۱) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ يَعْنِي ابْنَ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ الْأَنْصَارِيِّ، أَنَّ جَيْشًا مِنَ الْأَنْصَارِ كَانُوا بِأَرْضِ فَارِسَ مَعَ أَمِيرِهِمْ، وَكَانَ عُمَرُ يُعْقِبُ الْجُيُوشَ فِي كُلِّ عَامٍ فَشُغِلَ عَنْهُمْ عُمَرُ، فَلَمَّا مَرَّ الْأَجَلُ قَفَلَ أَهْلُ ذَلِكَ الثَّغْرِ فَاشْتَدَّ عَلَيْهِمْ وَتَوَاعَدَهُمْ وَهُمْ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا: يَا عُمَرُ إِنَّكَ غَفَلْتَ عَنَّا وَتَرَكْتَ فِينَا الَّذِي أَمَرَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِعْقَابِ بَعْضِ الْغَزِيَّةِ بَعْضًا.

دعبدالله بن کعب بن مالك انصاري نه روايت دي فرمائی چه دانصارو يولښکردخپل اميرسره په فارس علاقه کښې وو، اوعمر به هرکال لښکرونه بدلول نويو ځل ددوی نه عمر رضي الله عنه مشغول کړی شو په نورو امورو کښې کله چه نيټه تيره شوه نودغه لښکروالا واپس راغلل نوعمر رضي الله عنه ورسره سختي وکړله اردوی ئي اويرول اوحال دادې چه دوی دنبی عليه السلام صحابه کرام وو، دوی عرض وکړو چه اې عمر ته خوزمونږنه غافله شوي ئي اوهغه طريقه دي پريخودلې ده کومه چه به نبی عليه السلام کوله چه په يو لښکر پسې به ئې بل لښکرليږلو ددې دپاره مخکښې کسان راشي اودمه وکړي.

﴿ عن عبدالله بن كعب بن مالك الانصاري رضي الله عنه ان جيشا من الانصار كانوا بارض فارس مع اميرهم وكان عمر يعقب الجيوش في كل عام فشغل عنهم عمر فلما مر الاجل قفل اهل ذلك الثغرالخ ﴾

مضمون حديث:

يعنی د انصارو يو لښکر د خپل امير سره د فارس زمکې ته د جهاد دپاره تلې وو. د جنګ سلسله چونکه مسلسل وه په دې وجه به عمر رضي الله عنه هر کال لښکرې بدلولې، يعنی د کال په پورا کيدو باندې دويم لښکر او نه ليږلې شو. چه کله د هغه لښکر موده پوره شوه نو د هغه د هغه ځائې راغلل، چه کله عمر رضي الله عنه هغوی اوليدل نو هغوی ته غصه شو او سخت الفاظ ئې ورته استعمال کړل، راوی وائی ﴿ وهم اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم ﴾ يعنی هغوی آخر د اوچتې درجې صحابه کرام رضي الله عنهم وو. چه کله هغوی ډير زيات اورتلو نو هغه حضراتو اووې (لږ همت کولو سره) ﴿ يا عمر انک غفلت عنا ﴾ اې عمر اوګورئ! غفلت او هيره ستاسو د طرف نه شوې ده. تاسو هغه څيز چه د هغې رسول الله صلى الله عليه وسلم حکم کړې دې يعنی متبادل فوج روانول تاسو داسې ولې اونکړل.

---

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۶۱۵) (صحيح الإسناد)

دلته توکلو والا رټلو والا او رټلو اوریدو والا تول داخلاص والا وو. د هر یو په بل باندې اطمینان او اعتماد وو، دې جماعت ته معلومه وه چه د عمر ﷛ شان ﴿ انه کان وقافا عند کتاب الله تعالی ﴾ چه هغوی به د حق خبرې مخکښې فورا سر ښکته کولو هم دغه شان د هغه حضراتو د جواب همت پیدا شو، پس هم داسې اوشوه چه په عمر ﷛ باندې د هغوی خبره بالکل بده او نه لګیده، رضی الله تعالی عنهم ورزقنا شیئا من اتباعهم.

مناسبة الحدیث للترجمة:

دلته دا سوال واردیږی چه د دې حدیث د ترجمة الباب سره څه تعلق دې، په ظاهر کښې خو هیڅ نه دې، باقی دا وئیلې کیدې شی چه ممکنه ده چه د عمر ﷛ په اعقاب جیش کښې چه کوم روستو والې اوکړو هغه کیدې شی هم په دې وجه اوشو چه هغوی د دیوان په تیارولو کښې مشغول وو. کذا فی البذل عن فتح الودود للعلامة السندی یا داسې اوایئ چه په وخت چه کوم اعقاب جیش او نه شو په دې کښې هم د دې دخل وو چه تر اوسه پورې داسې دیوان نه وو تیار شوې چه په هغې کښې به د لښکرو نومونه وې په دې وجه د متبادل جماعت په لیږلو کښې هیره اوشوه او بیا د دې واقعې په پیښیدو باندې هغه مرتب کړې شو.

[۲۹۶۱]([1]) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَائِذٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنِي فِيمَا حَدَّثَهُ ابْنٌ لِعَدِيِّ بْنِ عَدِيٍّ الْكِنْدِيِّ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ، كَتَبَ إِنَّ مَنْ سَأَلَ عَنْ مَوَاضِعِ الْفَيْءِ فَهُوَ مَا حَكَمَ فِيهِ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَرَآهُ الْمُؤْمِنُونَ عَدْلًا مُوَافِقًا لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَعَلَ اللَّهُ الْحَقَّ عَلَى لِسَانِ عُمَرَ وَقَلْبِهِ فَرَضَ الْأَعْطِيَةَ، وَعَقَدَ لِأَهْلِ الْأَدْيَانِ ذِمَّةً بِمَا فَرَضَ عَلَيْهِمْ مِنَ الْجِزْيَةِ لَمْ يَضْرِبْ فِيهَا بِخُمُسٍ وَلَا مَغْنَمٍ.

دعدي بن حاتم هدیوځوي نه روایت دې فرمائی چه عمر بن عبد العزیز یو خط اولیکلو چه څوك دامعلومول غواړی چه مال ئې دې چرته خرچ کړې شي نو ددې جواب دادې لکه څنګه عمرفاروق ﷛ د مال ئې دخرچ کولو حکم کړې وو او مومنانو دا عدل اوګڼلو په وجه ددې دقول دنبی ﷺ چه الله تعالی حق لره دعمر په ژبه اوزړه کښې اچولې دې، عمر ﷛ بخششونه مقرر کړل اودجزیه په بدل کښې ئې د ټولو مذاهبو خلقو ذمه وارې واخستله اونه ئې ددې نه خمس واخستو اونه ئې دغنیمت په شان اوګڼلو.

﴿ ان عمر بن عبدالعزیز کتب ان من سال عن مواضع الفئ فهو ما حکم فیه عمر بن الخطاب ﷛ فراه المومنون عدلا موافقا لقول النبی ﷺ جعل الله الحق علی لسان عمر وقلبه فرض الاعطیة وعقد لاهل الادیان ذمة بما فرض علیهم من الجزیة لم یضرب فیها بخمس ولا مغنم ﴾ ([2])

شرح الحدیث:

یعنی عمر بن عبد العزیز عمر ثانی ﷫ د خپلو عمال په نوم باندې دا مضمون اولیږو چه کوم انسان ستا نه تپوس اوکړی دتقسیم فئ په باره کښې (چه هغه چا چا ته ورکولې شی) نو تاسو هغوی ته جواب ورکوئ چه مواضع فئ هم هغه دی د کومو چه عمر بن الخطاب ﷛ فیصله فرمائیلې ده او ټولو مسلمانانو هغه تسلیم کړه او هغه ئې د رسول الله ﷺ ددې قول

---

[1]: تفرد به أبو داود (ضعيف الإسناد)
[2]: د مغنم نه مراد مال فئ دې.

مطابق بیا موندله ﴿ جعل الله الحق علی لسان عمر وقلبه ﴾ (د دې نه پس د عمر ﷛ طرز عمل ذکر شوې دې) هغوی د لښکرو وظیفې مقرر کړې او د اهل ادیان یعنی اهل کتاب دپاره ئې د عهد او امان معامله اوکړه د جزئې په بدل کښې، هغوی په دې جزیه کښې (او هم دغه شان په نور اموال فئ کښې) خمس نه دې مقرر کړې، د عدم تخمیس مطلب هم دا دې چه هغوی مال فئ په بیت المال کښې پریخودلو د عام مسلمانانو د مصالحو دپاره، او هم دا عمر ثانی عمر بن عبدالعزیز ﷫ اختیار کړه. په دې کښې د امام شافعی ﷫ اختلاف پورته تیر شوې دې چه هغوی په مال فئ کښې د تخمیس او په غازیانو کښې د تقسیم قائل دې.

[۲۹۶۲]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ غُضَيْفِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ اللَّهَ وَضَعَ الْحَقَّ عَلَى لِسَانِ عُمَرَ يَقُولُ بِهِ".

د ابوذر ﷛ نه روایت دې فرمائی چه دنبی کریم ﷺ نه مې اوریدلی دی چه فرمائیل ئې الله تعالی دعمرفاروق په ژبه باندې حق جاری کړې دې نودې چه څه وائی حق وائي.

باب فِي صَفَايَا رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم مِنَ الْأَمْوَالِ

دهغو مالونو بیان کوم چه به نبی علیه السلام
دغنیمت د مال نه د ځان دپاره منتخب کول

دا باب ډیر زیات اوږد دې او وضاحت ته هم محتاج دې زما په نزد ډیر ګران دې.

د ترجمة الباب تشریح او غرض د مصنف ﷫:

صفایا دصفی جمع ده، د څو بابونو نه روستو یو باب را روان دې، ﴿ ما جآء فی سهم الصفی ﴾ خو هغه دې تکرار اونه ګڼړلې شی دواړه صفی ځانله ځانله دی، دلته خو د صفایا نه مراد مطلق اموال مراد دی ځکه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې چه به کوم مال فئ حاصلیدو هغه د قرآن کریم د تصریح مطابق خپله د رسول الله ﷺ دپاره وو. (۲) ﴿ وما افاء الله علی رسوله منهم فما اوجفتم علیه من خیل ولا رکاب ولکن الله یسلط رسله علی من یشآء ﴾ په دې وجه دلته صفایا د جمع صیغه استعمال کړې شوه او د هغې اضافت رسول الله ﷺ ته اوکړې شو.

په تیر باب کښې د مال فئ چه کوم حکم بیان شوې دې هغه د رسول الله ﷺ د زمانې نه پس دپاره دې، اوس چه هر کله دا خبره ده چه د رسول الله ﷺ د زمانې مال فئ خالص د هغوی ملک وه په هغې کښې د رسول الله ﷺ اختیار وو چه چرته ئې غوړی خرچ کولې ئې شی، نو اوس دا سوال پیدا کیدو چه دا قسم صفایا یعنی خالص مالونه د رسول الله ﷺ دپاره کړې شوې دې، او بله دا چه رسول الله ﷺ به په خپل ژوند کښې په هغه مالونو کښې چه څنګه تصرف کولو چرته او څنګه به ئې چه غوښتل خرچ کولې ئې شو او دا چه په دې کښې د بعد الوفات دپاره رسول الله ﷺ فیصله اوفرمائیله دا حاصل دې د ترجمة الباب چه د هغې تفصل وړاندې را روان دې.

۱: سنن ابن ماجه/المقدمة ۱۱ (۱۰۸)، (تحفة الأشراف: ۱۱۹۷۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۴۵/۵، ۱۶۵، ۱۷۷) (صحیح)

۲، د دې تشریح او تفصیل وړاندې په کتاب کښې را روان دې،

د رسول الله ﷺ د پاره به په غنیمت کښې درې حصې وې:

او هغه سهم صفی چه د هغې ذکر په وړاندې باب کښې را روان دې هغه بیل څیز دې ځکه چه مشهوره ده چه د رسول الله ﷺ دپاره درې حصې وې. ۱: سهم کسهم احد الغانمین ۲: خمس الخمس یعنی خمس مال غنیمت لره چونکه په پنځو ځایونو کښې تقسیمولې شی په دې کښې یوه حصه د رسول الله ﷺ ده چه خمس الخمس ده. ۳: سهم صفی... صفی په معنی د منتخب او غوره یعنی رسول الله ﷺ ته د دې خبرې حق وو چه هغه په مال غنیمت کښې یو څیز کوم چه هغوی خوښ ګڼړی که سورلئ وی، که وینزه وی یا که وسله وی اخستلې شی. په دې درې حصو کښې خو د ړومبی دوو په باره کښې په روایتونو کښې تصریح او د علماء کرامو اتفاق دې چه هغه د هغوی دپاره په هر حال کښې وې که هغوی په هغه غزوه کښې شریک شوې وو او که نه وو ﴿شهد القتال او لم یشهد﴾ او په دریم قسم کښې روایات مختلف دی، په دې راتلونکی باب په یو روایت کښې خو تصریح ده چه سهم صفی شرکت فی الغزوة په صورت کښې دهغوی دپاره وو هم داسې نه، او هم د هغه باب د آخری روایت نه معلومیږی چه مطلقا وو. د ګنګوهی رحمه الله رائې هم دا ده چه هغه هم د رسول الله ﷺ دپاره مطلقا وه، خو سهارنپوری په بذل کښې فرمائیلې دی چه ﴿لم اجد التصریح فی کتب الفقه بذلک﴾

د رسول الله ﷺ د صفایا مصداق او تعیین:

اوس د موجوده باب په باره کښې یعنی صفایا په سلسله کښې واورئ، دا صفایا څه وه، د دې تفصیل په دې پوره باب کښې چه ښه کافی اوږد دې د مختلفو روایاتو په ضمن کښې خور دې، پس وړاندې په یو روایت کښې داسې راځی چه ﴿کانت لرسول الله ﷺ ثلاث صفایا بنو النضیر وخیبر وفدک الی اخر الحدیث﴾ خو صرف په دې دریو کښې انحصار نه دې بلکه د دې نه علاوه هم دی، د دې باب د ټولو روایتونو او د شارحینو د کلام نه چه د رسول الله ﷺ د صفایا کوم تفصیل په فهم کښې راځی هغه لاندې لیکلې شی.

۱: هبه کړې شوې باغونه یعنی هغه خو باغونه کوم چه بعض یهودو د اسلام قبلولو نه پس رسول الله ﷺ ته هبه کړې وو په طریقه د وصیت، او هم دغه شان بعض زمکې کومې چه بعض انصارو رسول الله ﷺ ته هبه کړې وې

۲: نیمه زمکه د فدک چه کله د خیبر د یهودو سره جنګ شروع وو او مسلمانانو هغه فتح کولو نو هغه وخت د فدک یهودو د رسول الله ﷺ سره د فدک د زمکې په نیم امدن باندې صلح کړې وه رسول الله ﷺ دا صلح قبول کړې وه او هلته د قتال وغیره ضرورت نه وو راغلې په دې وجه دا د فدک نیمه زمکه مال فئ شوه او مال فئ به وو هم د رسول الله ﷺ ملک لکه چه مخکښې تیر شو، زمونږ د اردو په کتابونو کښې دا د فدک د باغ په نوم مشهور دې.

۳: د خیبر نیمه زمکه، رسول الله ﷺ د خیبر زمکه فتح کولو سره نیمه زمکه خو د غانمینو ترمینځه تقسیم فرمائیلې وه او نیمه ئې باقی پریخودلې وه [1]

---

[1] دا مسئله چه د ارض مفتوحه تقسیم ضروری دې یا غیر ضروری مختلف فیه ده د امامانو ترمینځه چه وړاندې به راشی)

۴: د بنو نضير زمکه بنو نضير د يهودو يوه مشهوره قبيله وه چه مدينې ته نزدې متصلا د دوه ميلو په فاصله باندې يوه باندِه کښې آباده وه، رسول الله ﷺ د صحابه کرامو ﷺ سره هلته د قتال دپاره تشريف يوړو، د معمولي جنګ نه پس هغوی د خپلو ځانونو بچ کولودپاره په قلعه کښې بند شو هلته د مسلمانانو محاصره وه، ﴿ ثم نزلو علی الجلاء ﴾ يعنی په دې شرط باندې هغوی لاندې راکوز شو چه مونږ به دا کلې پريږدو او لاړ به شو او د هغوی سره دا فيصله شوې وه چه هغوی په خپل منقوله مالونو کښې چه څومره اوړې شي اوړلې شي سوا د وسلې نه نو چونکه د بنو نضير د زمکې په فتح کولو کښې هم باقاعده د آسونو زغلولو حاجت نه وو راغلې مدينې ته بالکل د نزدې کيدو د وجې نه دا هم مال فئ شو نو دا د بنونضير زمکه د رسول الله ﷺ ملک شو، او بعض نور اموال منقوله هغوی د خپل ځان سره يونړلي شو هغه رسول الله ﷺ په مسلمانانو باندې تقسيم کړل.
۵: ثلث ارض وادی القری، چونکه د وادی القری يهودو سره په ثلث ارض باندې رسول الله ﷺ مصالحت اوکړو، لهذا د فدک د زمکې په شان دا هم مال فئ شو.
۶: خمس غنائم خيبر: يعنی نصف خيبر کوم چه رسول الله ﷺ تقسيم کړلو د هغې خمس (بذل المجهود عی القاضی عياض) دا دی د رسول الله ﷺ هغه صفايا او املاک چه په هغې باندې مصنف ترجمة قائم کړې ده.

د هغه صفايا د مصارفو بيان په ژوند د رسول الله ﷺ او پس د وفات نه:

د مصنف رحمه الله غرض د ترجمې نه يو خو دا دې چه د هغه صفايا تعين اوشی، دويم دا چه رسول الله ﷺ به د هغه صفايا سره په ژوند کښې څه معامله کوله، او د وفات نه روستو ئې څه فيصله فرمائيلې وه، نو د احاديث الباب نه معلوميږی چه ﴿ کان رسول الله ﷺ يصرفها علی ازواجه وعلی المسلمين عامة ای فی حياته، وجعلها صدقة بعد وفاته حيث قال ما ترکت بعد نفقة نسائی ومؤنة عاملی فهو صدقة ﴾ وفی رواية کما فی الصحيحين ﴿ ان رسول الله ﷺ قال لا يقتسم ورثتی دينارا، وفی رواية لا نورث ما ترکنا صدقة ﴾ يعنی رسول الله ﷺ هغه ټول مالونه او هغه زمکې او د هغې آمدنئ خو په خپل حيات مبارک کښې د مسلمانانو په مصالحو او په اسونو جهاد وغيره کښې او د ازواج مطهرات په نفقاتو کښې خرچ کولې، او د خپل وفات نه پس ئې هم د دې مصرفونو دپاره وقف کړې او د دې زمکو نه رسول الله ﷺ خپل جاګير او داسې ذاتی مال چه په هغې کښې د رسول الله ﷺ په طور د ميراث تقسيم جاری شی داسې اونه کرزولېوقف فيصله ئې اوفرمائيله.

د رسول الله ﷺ د بعض وارثانو ميراث طلب کول:

خو د دې باوجود د رسول الله ﷺ بعض وارثانو د خليفه اول نه د ميراث مطالبه اوکړه، په هغې کښې بعض علی او عباس ﷺ دی. د عباس ﷺ مطالبه په حيثيت د عصبه کيدو او د علی ﷺ مطالبه د خپلې زوجې د رسول الله ﷺ د لور فاطمه ﷺ د طرف نه وه. د دې دواړو د ميراث د طلب کولو روايات هم دې باب کښې را روان دی بلکه د باب په ړومبی حديث کښې دی چه ښه کافی او تفصيلی دې.

وړاندې يو روايت دا هم را روان دې چه ازواج مطهرات هم په ميراث کښې د خپلې حصې د مطالبې اراده کړې وه او عثمان رضي الله عنه ئې د صديق اکبر رضي الله عنه په خدمت کښې ليږل غوښتل خو چه کله عائشې رضي الله عنها ته د دې خبرې معلومات اوشو نو هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم حديث ورياد ولو سره هغوی د دې مطالبې نه منع کړل او هغوی دا خبره تسليم کړله. رضی الله تعالى عنهن

[۲۹۶۳]() حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، الْمَعْنَى قَالَا: حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ عُمَرَ الزَّهْرَانِيُّ، حَدَّثَنِي مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ، قَالَ: أَرْسَلَ إِلَيَّ عُمَرُ حِينَ تَعَالَى النَّهَارُ فَجِئْتُهُ فَوَجَدْتُهُ جَالِسًا عَلَى سَرِيرٍ مُفْضِيًا إِلَى رِمَالِهِ، فَقَالَ حِينَ دَخَلْتُ عَلَيْهِ: يَا مَالِ إِنَّهُ قَدْ دَفَّ أَهْلُ أَبْيَاتٍ مِنْ قَوْمِكَ وَإِنِّي قَدْ أَمَرْتُ فِيهِمْ بِشَيْءٍ فَأَقْسِمْ فِيهِمْ، قُلْتُ: لَوْ أَمَرْتَ غَيْرِي بِذَلِكَ فَقَالَ: خُذْهُ فَجَاءَهُ يَرْفَأُ فَقَالَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ: هَلْ لَكَ فِي عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَالزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ، وَسَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ؟ قَالَ: نَعَمْ فَأَذِنَ لَهُمْ فَدَخَلُوا، ثُمَّ جَاءَهُ يَرْفَأُ فَقَالَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ هَلْ لَكَ فِي الْعَبَّاسِ، وَعَلِيٍّ؟ قَالَ: نَعَمْ فَأَذِنَ لَهُمْ فَدَخَلُوا، فَقَالَ الْعَبَّاسُ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ اقْضِ بَيْنِي وَبَيْنَ هَذَا يَعْنِي عَلِيًّا فَقَالَ بَعْضُهُمْ: أَجَلْ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ اقْضِ بَيْنَهُمَا وَارْحَمْهُمَا، قَالَ مَالِكُ بْنُ أَوْسٍ: خُيِّلَ إِلَيَّ أَنَّهُمَا قَدَّمَا أُولَئِكَ النَّفَرَ لِذَلِكَ فَقَالَ عُمَرُ رَحِمَهُ اللَّهُ: اتَّئِدَا ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى أُولَئِكَ الرَّهْطِ، فَقَالَ: أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ الَّذِي بِإِذْنِهِ تَقُومُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ، هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ" قَالُوا: نَعَمْ، ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى عَلِيٍّ، وَالْعَبَّاسِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فَقَالَ: أَنْشُدُكُمَا بِاللَّهِ الَّذِي بِإِذْنِهِ تَقُومُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ، هَلْ تَعْلَمَانِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ"، فَقَالَا: نَعَمْ قَالَ: فَإِنَّ اللَّهَ خَصَّ رَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخَاصَّةٍ لَمْ يَخُصَّ بِهَا أَحَدًا مِنَ النَّاسِ، فَقَالَ اللَّهُ تَعَالَى: وَمَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْهُمْ فَمَا أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ وَلَكِنَّ اللَّهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهُ عَلَى مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ سورة الحشر آية ٦، وَكَانَ اللَّهُ أَفَاءَ عَلَى رَسُولِهِ بَنِي النَّضِيرِ فَوَاللَّهِ مَا اسْتَأْثَرَ بِهَا عَلَيْكُمْ وَلَا أَخَذَهَا دُونَكُمْ، فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْخُذُ مِنْهَا نَفَقَةَ سَنَةٍ أَوْ نَفَقَتَهُ وَنَفَقَةَ أَهْلِهِ سَنَةً وَيَجْعَلُ مَا بَقِيَ أُسْوَةَ الْمَالِ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى أُولَئِكَ الرَّهْطِ فَقَالَ: "أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ الَّذِي بِإِذْنِهِ تَقُومُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ هَلْ تَعْلَمُونَ ذَلِكَ؟ قَالُوا: نَعَمْ، ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى الْعَبَّاسِ، وَعَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فَقَالَ: أَنْشُدُكُمَا بِاللَّهِ الَّذِي بِإِذْنِهِ تَقُومُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ هَلْ تَعْلَمَانِ ذَلِكَ؟ قَالَا: نَعَمْ، فَلَمَّا تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَنَا وَلِيُّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجِئْتَ أَنْتَ وَهَذَا إِلَى أَبِي بَكْرٍ تَطْلُبُ أَنْتَ مِيرَاثَكَ مِنَ ابْنِ أَخِيكَ وَيَطْلُبُ هَذَا مِيرَاثَ امْرَأَتِهِ مِنْ أَبِيهَا، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ رَحِمَهُ اللَّهُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ". وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّهُ لَصَادِقٌ بَارٌّ رَاشِدٌ تَابِعٌ لِلْحَقِّ، فَوَلِيَهَا أَبُو بَكْرٍ، فَلَمَّا تُوُفِّيَ أَبُو بَكْرٍ قُلْتُ: أَنَا وَلِيُّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَوَلِيُّ أَبِي بَكْرٍ فَوَلِيتُهَا مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ أَلِيَهَا فَجِئْتَ أَنْتَ وَهَذَا وَأَنْتُمَا جَمِيعٌ وَأَمْرُكُمَا وَاحِدٌ فَسَأَلْتُمَانِيهَا، فَقُلْتُ: إِنْ شِئْتُمَا أَنْ أَدْفَعَهَا إِلَيْكُمَا عَلَى أَنَّ عَلَيْكُمَا عَهْدَ اللَّهِ أَنْ تَلِيَاهَا بِالَّذِي كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلِيهَا فَأَخَذْتُمَاهَا مِنِّي عَلَى ذَلِكَ، ثُمَّ جِئْتُمَانِي لِأَقْضِيَ بَيْنَكُمَا بِغَيْرِ ذَلِكَ وَاللَّهِ لَا أَقْضِي بَيْنَكُمَا بِغَيْرِ ذَلِكَ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ فَإِنْ عَجَزْتُمَا عَنْهَا فَرُدَّاهَا إِلَيَّ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: إِنَّمَا سَأَلَاهُ أَنْ يَكُونَ يُصَيِّرُهُ بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ لَا أَنَّهُمَا جَهِلَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ" فَإِنَّهُمَا كَانَا لَا يَطْلُبَانِ إِلَّا الصَّوَابَ، فَقَالَ عُمَرُ: لَا أُوقِعُ عَلَيْهِ اسْمَ الْقَسْمِ أَدَعُهُ عَلَى مَا هُوَ عَلَيْهِ.

[1]): صحيح البخاري/الجهاد ٨٠ (٢٩٠٤)، فرض الخمس ١ (٣٠٩٤)، المغازي ١٤ (٤٠٣٣)، تفسير القرآن ٣ (٤٨٨٠)، النفقات ٣ (٥٣٥٨)، الفرائض ٣ (٦٧٢٨)، الاعتصام ٥ (٧٣٠٥)، صحيح مسلم/الجهاد ٥ (١٧٥٧)، سنن الترمذي/السير ٤٤ (١٦١٠)، الجهاد ٣٩ (١٧١٩)، (تحفة الأشراف: ١٠٦٣٢، ١٠٦٣٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٥/١) (صحيح)

دمالك بن اوس بن حدثان رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه عمر رضي الله عنه د ورځې په مينځ کښې په ما پسې څوك راوليږلو نوزه دهغه په خدمت کښې حاضرشوم اوما اوليدو چه دبسترې نه بغير په يوتخت باندې ناست وو زه چه کله نزدې وررسيدم اوزه ئې اوليدلم نوماته ئې اوفرمائيل ستاد قوم څه کسان ماته راغلي وو او ما دهغوی دپاره دڅه ورکړې حکم کړې دې ته دا په هغوی باندې تقسيم کړه ماعرض اوکړو څومره ښه خبره به و چه داکا ردي بل چاته حواله کړې وې عمر رضي الله عنه اوفرمائيل کوم مال چه ماپه دغه خلقو باندې د تقسيمولو دپاره مقررکړې دې هغه واخله، په دې وخت کښې پرفاء (څوك چه دعمر رضي الله عنه څوکيدار او ازاد کړې شوې غلام وو)راغې اووئې وئيل چه عثمان بن عفان، عبدالرحمن بن عوف، زبير بن العوام، اوسعد بن أبي وقاص رضي الله عنهم، په دروازه کښې ناست دي که اجازت وي نو دوی به دننه راشي عمر رضي الله عنه اووئيل دننه ئې راپريږده چه راشي کله چه راغلل نويرفاء ورسره هم راغې اوعرض ئې اوکړو اې اميرالمومنين عباس اوعلي رضي الله عنهما هم راغلي دی او راتلل غواړي هغه اوفرمائيل هغوی هم راپريږده چه راشي کله چه راغلل نوعباس رضي الله عنه اووئيل اې اميرالمومنين زمااودده (علي)په مينځ کښې فيصله اوکړه، په دې وخت کښې نورو خلقوهم آوازونه اوکړل اې اميرالمومنين ددوی په مينځ کښې فيصله اوکړه اوارام ورته اورسوه، مالك بن اوسه وائی ماته داسې ياد دي چه علي اوعباس دغه نور کسان عمر رضي الله عنه ته ددې فيصلې دپاره راليږلي وو عمر رضي الله عنه اوفرمائيل صبر اوکړئ اوبيادي نورو صحابه کراموته متوجه شو اووئې وئيل: تاسوته په هغه الله باندې قسم درکوم دچاپه حکم چه زمکه اواسمان قائم دي ايا تاسو ته معلومه ده چه نبي عليه السلام فرمائيلي وو چه مونږ (انبياء)ميراث نه پريږدو مونږ چه څه پريږدو هغه صدقه وي هلته چه کوم صحابه کرام موجود وو هغوی اووئيل يقينا نبي عليه السلام داسې فرمائيلي وو، بياعمر د علي اوعباس طرف ته متوجه شو اووئې فرمائيل: تاسوته په هغه الله باندې قسم درکوم دچاپه حکم چه زمکه اواسمان قائم دي، اياتاسو ته معلومه ده چه نبي عليه السلام فرمائيلي وو چه مونږ (انبياء)ميراث نه پريږدو مونږ چه څه پريږدو هغه صدقه وي هغوی اووئيل هو، عمر رضي الله عنه اووئيل الله تعالى نبي عليه السلام ته داسې خصوصيت ورکړې وو کوم چه ئې بل چاته نه وو ورکړې الله تعالى فرمائيلي دي: («وما أفاء الله على رسوله منهم فما أوجفتم عليه من خيل ولا ركاب ولكن الله يسلط رسله على من يشاء والله على كل شيء قدير»)يعنى الله تعالى چه خپل رسول ته ددې خلقونه څه مال ورکړې وو تاسوپه هغې پسې خپل اسونه اواوښان نه وو زغلولي ليکن الله تعالى چه خپل رسولان په چاباندې غالب کوي نوغالب ئې کړي او الله تعالى په هرڅه باندې قادر دې اوالله تعالى خپل رسول ته د بنو نظير مال ورکړو په الله مې دې قسم وي نبي عليه السلام هغه مال دخپل ځان دپاره نه وو ساتلې مګر ددينه ئې دخپل ځان دپاره ديوکال خرچه اخستلې وه اوکوم چه راته پاتې شوې وو په هغې کښې ئې ټول خلق برابر شريك ګرځولي وو ددې نه پس عمر صحابه کراموته متوجه شو اووئې فرمائيل: تاسوته په هغه الله باندې قسم درکوم دچاپه

حکم چه زمکه او اسمان قائم دي، ایا تاسو په دې باندې خبر ئې او که نه؟ صحابه کرامو اووئیل مونږ خبریو بیا عمر علي او عباس ته متوجه شو اووئې وئیل تاسو ته په هغه الله باندې قسم درکوم د چا په حکم چه زمکه او اسمان قائم دي، ایا تاسو په دې باندې خبری؟ هغوی اووئیل هو یقینا مونږ خبریو کله چه نبی ﷺ وفات شو نو صدیق اکبره اوفرمائیل چه زه د نبی ﷺ د مالونو متولي یم نو تاسو (علي او عباس) ابوبکر صدیق ته ورغلی او د خپل وراره او د خپلې صحر د میراث غوښتو د پاره ابوبکر او فرمائیل چه نبی ﷺ فرمائیلی وو زمونږ څوك وارث نه وی او مونږ چه څه پریږدو هغه صدقه وي او الله تعالی ته ددې علم دې چه ابوبکر رضی الله عنه رښتونې او د هدایت او د حق دلارې تابع وو او بیا ابوبکر ددې مال متولي پاتې شو کله چه ابوبکر وفات شو نو ما اووئیل چه زه د نبی ﷺ او د ابوبکر متولي یم بیا زه ددې مالونو تر دې وخته پورې متولي پاتې شوم تر څو چه الله تعالی ته منظور وه، نو بیا تاسو ته اې عباس او دا صاحب یعنی علي راغلئ او تاسو متحد وي او ستاسو مقصد هم یو وو تاسو دواړو ما ته اووئیل چه دغه مال مونږ ته حواله کړه ما اووئیل که چرې ستاسو زړه غواړی نو زه به ئې درته حواله کړم مګر په دې شرط سره چه تاسو ته په الله تعالی قسم درکوم چه تاسو به په دې مال کښې داسې تصرف کوئ لکه څنګه چه نبی ﷺ کولو نو تاسو دغه مال زمانه به دی شرط بانده. و اخستو نو اوس تاسو ما ته راغلئ چه زه ستاسو په مینځ کښې ددې طریقي نه علاوه په بله طریقه فیصله اوکړم، په الله مې دې قسم وي چه زه به هیڅ کله ددې طریقې نه علاوه په بله طریقه فیصله اونکړم البته که چرې ستاسو نه ددې مالونو اهتمام او انتظام اونه شي نو درنه به ئې واپس کړم. ابوداود وائی چه دوی واړو ددې خبرې متعلق درخواست کړې وو چه ددې مالونو انتظام دې په مونږ باندې تقسیم کړې شي داغرض ئې نه وو چه دادې مونږ ته راکړې شي نو په دې خبره باندې عمر رضی الله عنه اوفرمائیل چه زه به په دې باندې د تقسیم نوم نه ږدم بلکه په مخکښې حالت باندې به وي.

﴿ عن مالک بن اوس بن الحدثان قال ارسل الی عمرو حین تعالی النهار فجئته فوجدته جالسا علی سریر مفضیا الی رماله [1] فقیل حسن دخلت علیه یا مال انه قد دف اهل ابیات من قومک ﴾

د عمر رضی الله عنه اوږد حدیث د تصام د علي او عباس رضی الله عنهما په باره کښې او د هغې تفصیلی وضاحت

مالک بن اوس رضی الله عنه فرمائی چه عمر رضی الله عنه زما د رابللو د پاره یو قاصد راولیږلو د نمر د راختلو په وخت، زه د هغوی په خدمت کښې حاضر شوم نو ما هغوی په داسې حال کښې بیا موجین چه یو تخت چه په هغې باندې ټاټ خور شوې وو په هغې باندې ناست وو، رمال الحصیر وائی د کهجورې د ټاټ پټو ته، د دې حاصل دا دې چه هغوی په خالص ټاټ باندې ناست وو او په هغې باندې بل څه څادر وغیره خور نه وو، عمر رضی الله عنه ما ته کتلو سره اوفرمائیل چه ما ته د دې د پاره راغلو ښتلې ئې چه ستاسو د قوم څه کورنئ راغلي دي او زه

[1] د عمر رضی الله عنه بدن رسیدونکی وو رمال حصیر ته یعنی بدن ئې لګیدلې وو، رمال سره، د رمال اضافت دتله په ظاهر د کټ طرف ته دې چه د ادنی ملابست د وجې نه دې څکه رمال د سریر نه وی بلکه د حصیر وی خو چونکه حصیر په تخت باندې خور شوې وو په دې وجه د دې اضافت د سریر طرف ته کړې شوې دې، هذا ما خطر ببالي والله تعالی اعلم)

هغوی باندې ستا په ذریعه څه تقسیمول غواړم، ما هغوی ته عذر اوکړو خو هغوی قبول نه کړو بلکه ما ته ئې د تقسیم دپاره راکړل، د مصنف د ترجمې په لحاظ سره دا دومره مضمون ضمنی او غیر مقصود دې، د مصنف اصل خبره اوس شروع کیږی.

﴿ فجاءه یرفاه فقال یا امیر المومنین هل لک فی عثمان بن عفان وعبدالرحمن بن عوف والزبیر بن العوام؟ قال نعم ﴾

یرفاء د عمر رضی الله عنه د حاجب نوم دې، مالک بن اوس د حدیث راوی دا فرمائی چه زما په موجودګئ کښې د عمر رضی الله عنه دربان راغلو او عرض ئې اوکړو او د دې ذکر کړې شوې څلورو واړو صحابه کرامو رضی الله عنهم نومونه اخستلو سره ئې دا اوفرمائیل چه دا حضرات ولاړ دی د راتلو اجازت غواړی. عمر رضی الله عنه اجازت ورکړو او هغوی دننه داخل شو، لږ وخت پس یرفاء دوباره راغلو او وې وئیل یا امیر المومنین ﴿ هل لک فی العباس وعلی ﴾ یعنی عباس او علی رضی الله عنهما ولاړ دی او اجازت غواړی پس هغوی ته هم اجازت ورکړې شو. او دننه داخل شو عباس رضی الله عنهما عرض اوکړو چه زما او د دهٔ ترمینځه فیصله اوکړئ

د عباس رضی الله عنه د علی رضی الله عنه په باره کښې سخت الفاظ او د هغې توجیه:

د ابوداؤد په روایت کښې صرف ﴿ بین هذا ﴾ دی.[۱] او د مسلم په روایت کښې دی ﴿بینی وبین هذا الآثم الکاذب الغاد ﴾ مراد علی رضی الله عنه دې لکه چه په حدیث کښې تصریح ده هم دغه شان هم په دې حدیث کښې وړاندې تلو سره د عمر رضی الله عنه په کلام کښې راځی ﴿فقال ابوبکر قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا نورث ما ترکنا صدقة ﴾ د دې نه پس په ابوداؤد کښې خو دا دی ﴿والله یعلم انه صادق بار راشد تابع للحق ﴾ او په مسلم کښې د دې نه مخکښې دا جمله ده کومه چه مصنف حذف کړې ده ﴿ فرایتماه کاذبا آثما خائنا ﴾ په دې باره کښې زما په یو کاپئ کښې په دې باندې داسې اشکال او جواب لیکلې شوې دې، چه عباس رضی الله عنه د علی رضی الله عنه په باره کښې دا اوفرمائیل چه دې کاذب دې خائن دې غادر دې، هم دغه شان د عمر رضی الله عنه په

---

[۱] **د مصنف یو عادت شریفه د کمال ادب**: د مصنف عادت دا دې چه کله په یو حدیث کښې د یو سړی دپاره څه سخت وعید یا سخت لفظ راشی نو مصنف رحمه الله هغه د ادب د وجې نه حذف کوی، او کله هغې طرف ته اجمالی اشاره هم کوی لکه چه په کتاب الجنائز کښې مصنف داسې اوکړل لکه چه په باب التعزیة کښې یو حدیث دې چه په هغې کښې دی یو صحابی فرمائی چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د مړی د دفن کولو نه پس د قبرستان نه واپس کیدو رسول الله (ص) چه کله خپلې دروازې ته اورسیدلو نو اودریده، او وې کتل چه د وړاندې نه یو زنانه راروانه ده. راوی وائی چه زمونږ خیال دې رسول الله (ص) دا پیژندلې وه. چه کله هغه نزدې راغله نو معلومه شوه چه هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور فاطمه رضی الله عنها ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې نه معلومات اوکړو چه ته د کوم ځائې نه راغلې؟ نو هغې عرض اوکړو چه دلته په ګاونډ کښې چه کوم مړې شوې وو هلته تلې اوم د تعزیت دپاره، رسول الله صلی الله علیه وسلم تپوس اوکړو چه ته هغوی سره قبرستان ته خو نه وې تلې، هغې عرض اوکړو نه! معاذالله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ﴿لو بلغت معهم الكدي فذكر تشديدا في ذلك ﴾ دلته هم مصنف رحمه الله داسې کار کړې دې حال دا چه د نسائی په روایت کښې داسې دی ﴿ فقال لها لو بلغتها معهم ما رايت الجنة حتي يراها جدابيك ﴾ یعنی که ته د هغوی سره قبرستان ته تلې وې نو ته هغه وخته پورې به جنت ته نه شوې تلې تر څو چه ستا د پلار نیکهٔ جنت نه وې لیدلې)

کلام کښې دی چه تاسو دواړو ابوبکر خائن غادر او کاذب اوګڼړلو. اوس په دې روایت کښې اشکال ښکاره دې چه یو صحابی دې د بل صحابی په باره کښې داسې سخت الفاظ او بدګمانی اوکړی. امام نووی رحمه الله ۹۰/۲ باندې د مازری نه نقل کوی چه بعض علماء کرامو خو دا د راویانو وهم طرف ته منسوب کړې دې او دا ئې د خپل کتاب نه حذف کړې هم دې. خو که تسلیم کړې شی نو د اول جواب دا دې چه عباس رضی الله عنه د علی رضی الله عنه مشر وو په منزله د پلار او ډیر کرته چه یو مشر خپل کشر ته خبرداری ورکوی نو هغه ته بعض داسې خبرې هم اوکړی چه د هغې په باره کښې هغه پخپله هم پوهیږی چه هغه په هغه کښې نشته. ﴿ وذلک علی جهة الادلال ﴾ او یا دا اوئیلې شی چه مطلب دا دې چه اې علی څه چه تاسو کوئ که دا ټول هر څه تاسو په هغه صورت کښې کړې وی چه ستاسو په ذهن کښې هم هغه هر څه وې څه چه زما په ذهن کښې دی او ستاسو رائې د هغې مال په باره کښې هم هغه وې کومه چه زما ده او بیا تاسو هغه څه کړې وې کوم چه اوس کوئ نو یقینا خائن او کاذب او غادر به وې، او وړاندې د عمر رضی الله عنه په کلام کښې چه راغلی دی د هغې توجیه دا ده چه د عمر رضی الله عنه مقصد دا دې چه ستاسو د دواړو د ابوبکرصدیق رضی الله عنه نه داسې سوال کول او د خپل حق داسې مطالبه کول او ستاسو د هغه نه خفه کیدل د دې ټولو مقتضی خو داده چه هغه ستاسو په نزد داسې او داسې دې والله تعالی اعلم (هکذا فی البذل والحل المفهم) ﴿ فقال بعضهم اجل یا امیر المومنین ﴾ په دې باندې بعض خلقو د چا ذکر چه مخکښې تیر شوې دې اوئیل جی اې امیر المومنین ضرور فیصله اوکړئ. ﴿ قال مالک بن اوس الخ ﴾ چه کله هغه حاضرینو د هغوی دواړو تائید اوکړو نو په دې باندې مالک بن اوس رضی الله عنه وائی چه زما په ذهن کښې دا خبره راغله چه دا جماعت هم دې دواړو د خپل راتلو نه مخکښې دربار عمری ته رالیږلې وو (د سفارش په طور) ﴿ فقال عمر اتئدا ثم اقبل علی اولئک الرهط فقال انشدکم بالله الذی باذنه تقوم السمآء والارض ﴾ اوس عمر رضی الله عنه د فیصلې کولو دپاره تیاریدو سره د حاضرینو طرف ته متوجه شو او هغه دواړو ته ئې خطاب کولو سره اوفرمائیل چه ګورئ تندی مه کوئ اطمینان ساتئ. او هغه جماعت ته ئې خطاب کولو سره اوفرمائیل چه زه تاسو ته په الله پاک باندې قسم درکوم د چا په حکم چه زمکه او آسمان قائم دی، آیا تاسو ته د دې خبرې علم دې چه رسول الله ﷺ په خپل ژوند کښې دا فرمائیلې وو ﴿ لا نورث، ما ترکنا صدقة ﴾ چه زمونږ (د انبیاء کرامو علیهم السلام) هیڅ څوک وارث نه وی مونږ چه څه هم پریږدو هغه صدقه وی، په دې باندې هغوی ټولو د دې خبرې تصدیق اوکړو، بیا امیر المومنین رضی الله عنه علی او عباس رضی الله عنهما ته متوجه شو او هغوی ته ئې هم دغه شان د الله پاک قسم ورکړلو او د رسول الله ﷺ د حدیث په باره کښې ئې هم دا سوال اوکړو ﴿ فقالا نعم ﴾ هغوی هم د دې حدیث د پیژندګلو اعتراف اوکړو.

﴿ قال فان الله خص رسوله ﷺ ﴾ د عمر رضی الله عنه د طرف نه دا بیان دې د هغه څیز په باره کښې کوم چه رسول الله ﷺ صدقه کولو سره پریخودلو. او په دې موقع باندې هغوی د

بنونضير د مالونو ذکر اوفرمائيلو[1]

﴿ فوالله ما استاثر بها عليکم ولا اخذها دونکم ﴾ يعنى رسول الله ﷺ د بنو نضير په دې زمکه نه خو ستاسو نه علاوه بل چا ته ترجيح ورکړه او نه ئې تاسو پرېخودلئ او پخپله ئې واخستله، کوم چه وړاندې په روايت کښې ذکر شوې دى، ﴿ وکان رسول الله ﷺ ياخذ منها نفقة سنة الخ ﴾[2] يعنى رسول الله ﷺ به د دې مال نه د خپل ځان او د ازواج مطهرات د يو کال نفقه اخستله ﴿ ويجعل ما بقي اسوة المال ﴾ او د دې نفقې نه علاوه به ئې ټول د مال غنيمت برابر کړو يعنى د خمس غنيمت برابر، په اعتبار د صرف چه څنګه خمس غنيمت لره په کراع او مصالحو د مسلمانانو او وسله کښې خرچ کولو، هم دغه شان به ئې دا مال فئ هم خرچ کولو.

﴿ ثم اقبل على اولئک الرهط........ ثم اقبل على العباس وعلى ﴾ يعنى عمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د طرز عمل د بيانولو نه پس اول د صحابه کرامو رضي الله عنهم د جماعت نه او په دويم ځل هغوى دواړو نه د دې خپل بيان تصديق طلب کړو هغوى ټولو د عمر رضي الله عنه تصديق او تائيد اوکړو چه هلته واقعى د رسول الله ﷺ طرز عمل د دې مال فئ سره وو. ﴿فلما توفى رسول الله ﷺ قال ابوبکر انا ولى رسول الله ﷺ ﴾ اوس د دې ځائې نه عمر رضي الله عنه په هغه دواړو حضراتو باندې حجت قائموى چه ګورئ تاسو هر څه پيژندلو باوجود هم خليفه اول ته د ميراث طلب کولو دپاره راغلئ، عباس رضي الله عنه خپل ميراث (د عصبه کيدو د وجې نه) او على رضي الله عنه د فاطمې رضي الله عنها په ميراث پسې، په دې باندې هغوى تاسو ته د رسول الله ﷺ پورته ذکر کړې شوې ﴿ لانورث، ما ترکنا صدقة ﴾ تاسو ته درياد کړو ﴿ والله يعلم انه صادق بار راشد تابع للحق ﴾ دلته د دې مقابل محذوف دې چه د هغې ذکر مخکښې شوې دې ﴿ فوليها ابوبکر ﴾ پس د بنو نضير ددې زمکې ابوبکر رضي الله عنه متولى پاتې شوې وو يعنى هغوى نه هغه زمکه تاسو ته د ميراث په طور درکړه او نه په طريقه د توليت. ﴿ فلما توفى ابوبکر ﴾ بيا چه کله د ابوبکرصديق رضي الله عنه وفات اوشو او زه د هغه په ځائې راغلم او څه زمانه زما د خلافت تيره شوه پس هغه وخت تاسو او دا دواړه ما ته راغلې وئ، هغه وخت تاسو دواړه خپل مينځ کښې متفق وئ او راغلئ او زما نه مو د دې زمکې غوښتنه اوکړه. دلته د دې تصريح نشته چه دا سوال او مطالبه په کوم لحاظ سره وه، ايا په طور د ميراث يا په طريقه د توليت؟ خو وړاندې د عمر رضي الله عنه په کلام کښې په طريقه د توليت تصريح راروانه ده، ﴿ فقلت ان شئتما ان ادفعها اليکما على ان عليکما عهد الله ان تلياها بالذى کان رسول الله ﷺ يليها ﴾ يعنى ما تاسو ته هغه وخت وئيلې وو چه که تاسو غواړئ چه تاسو ته هغه زمکه په دې عهد سره درکړم چه تاسو به د هغې ولايت او انتظام هم هغه شان کوئ څنګه به چه رسول الله ﷺ کولو نو درکولې

---

[1] د عمر رضي الله عنه د دې کلام نه دا خبره مستفاد کيږى چه آيت کريمه ﴿ وما افاء الله على رسوله منهم فما اوجفتم عليه من خيل الخ ﴾ کښې د بنو نضير د زمکې چه مال فئ وو ذکر دې، په دې باندې يو اشکال هم دې چه وړاندې راځى.

[2] اى انه ﷺ لم يجعل هذا الفئ وهو مال بنى النضير ملکا لنفسه خاصة بل بعد اخذه حسب الحاجة يصرفه في مصالح المسلمين)

شم، پس تاسو زما نه هغه زمکه په هغه عهد باندې اخستلې وه يعنې په مشترک توليت باندې بغير د تقسيم نه. ﴿ ثم جئتماني لااقضي بينكما بغير ذلک، ﴾ اوس په دويم ځل ماته راغلي يئ چه د ړومبئ فيصلې خلاف فيصله اوکړم، يعنې چه د مشترک توليت په ځائې د هر يو توليت ځانله ځانله شي، ﴿ والله لا اقضي بينكما بغير ذلک ﴾ يعنې قسم په الله چه زه به اوس د خپلې ړومبئ فيصلې خلاف هيڅ فيصله نه کوم ترقيامته پورې، خو که تاسو د دې قسم توليت نه عاجز يئ نو بيا دا زمکه ما ته راواپس کړئ.

وړاندې په روايت کښې دی ﴿ قال ابوداؤد ان لا يوقع عليه اسم قسم ﴾ مصنف رحمه الله فرمائي چه د عمر رضي الله عنه دا منشاء وه چه دلته د تقسيم نوم هم رانشي، يعنې هغه په طريقه د توليت ولې نه وې چه د تطاول زمان نه پس او د خبرې د زړيدو نه پس به خلق دا اوګڼړي چه دا د ميراث مال دې خصوصا چه کله د ميراث په تقسيم کښې هم د لور او د ترۀ ترمينځه هم نيم نيم دې.

د طلب ميراث په سلسله کښې بعض اشکال او جواب :

ځان پوهول پکار دی چه په توضيح او تنقيح کښې دوه سوالونه دی، اول دا چه د دې دواړو رسول الله صلى الله عليه وسلم د حديث کيدو باوجود د صديق اکبر رضي الله عنه نه د ميراث مطالبه ولې اوکړه؟ جواب د دې دا ورکړې شوې دې چه ممکنه ده د دې دواړو په علم کښې دا حديث نه وی راغلې، او دا هم ممکنه ده چه د اوريدو باوجود ذهول شوې وی [1] خو کله چه صديق اکبر رضي الله عنه هغوی دواړو ته دا حديث واورولو نو هغوی خبر شو او بيا خاموش شو، اوس به دويم اشکال دا وی چه کله ورته حديث مستحضر شو نو د عمرفاورق رضي الله عنه نه ئې د هغوی په خلافت کښې دوباره مطالبه ولې اوکړه؟ د دې جواب اول خو دا دې چه د عمر رضي الله عنه نه د دې دواړو حضراتو مطالبه د ميراث نه وه بلکه د توليت وه او قرينه په دې باندې دا ده چه که مطالبه د ميراث وې نو علي رضي الله عنه کم از کم د خپل خلاف په زمانه کښې خو په دې باندې قادر وو چه هغې ته ئې ميراث وئيلې وې او تقسيم کړې ئې وې، خو هغوی داسې اونکړل حال دا چه په نور بعض مسائلو کښې چه په هغې کښې د رائې اختلاف وو په هغې کښې علي رضي الله عنه په خپله رائې باندې قائم وو لکه د متعة الحج په مسئله کښې چه عمر او عثمان رضي الله عنهما وغيره به د دې نه منع فرمائيله خو د علي رضي الله عنه رائې د جواز وه هغوی په دې مسئله کښې په خپله رائې باندې قائم وو او د عمر رضي الله عنه وغيره ئې په دې باب کښې هيڅ پرواه اونکړه لهذا هيڅ د اشکال خبره نه ده او که دا اومنلې شي چه عمر رضي الله عنه ته د ميراث د طلب دپاره راغلي وو نو د هغې منشاء د ګنګوهي رحمه الله په تقرير (الکوکب الدری ۴۲۳) کښې دا ليکلې شوې دې چه اصل کښې خبره دا ده چه د دې حضراتو په ذهن کښې د دې حديث ﴿ لا نورث، ما ترکنا صدقة ﴾ محمل عام نه وو بلکه هغوی دا حديث صرف په منقولاتو باندې محمول کولو د هغوی په نزد غير منقولات يعنې اراضي د دې حديث په مفهوم کښې داخل نه وو، هم په دې وجه دا

---

[1] ، کذا قال الشراح، خوپه حديث الباب کښې تصريح ده چه دحضرت عمر (رض) په سوال باندې دې دواړو حضراتو بلکه ټولو حاضرينو ددې حديث په علم کښې دکيدو اقرار کړې دې. فالاولي في الجواب ماسياتي من تقرير الشيخ الكنكوهي رحمه الله تعالي.

حضرات په دې توقع باندې چه ممکنه ده چه د عمرفاروق رضي الله عنه به زمونږ د رائې سره اتفاق راشي چه دا حديث عام نه دې بلکه خاص دې هغوی ته د ميراث د طلب دپاره راغلل خو د عمر رضي الله عنه د هغوی د دې رائې سره هم اتفاق رانغلو.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي مطولا ومختصرا، قاله المنذري

[٢٩٦٤]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ ثَوْرٍ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسٍ بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: وَهُمَا يَعْنِي عَلِيًّا، وَالْعَبَّاسَ رضي الله عنهما يختصمان فيما أفاء الله على رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَمْوَالِ بَنِي النَّضِيرِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَرَادَ أَنْ لَا يُوقَعَ عَلَيْهِ اسْمُ قَسْمٍ.

د مالك بن اوس رضي الله عنه نه ددې واقعې په سلسله کښې روايت منقول دې فرمائي چه دوی دواړو يعنی عباس اوعلي رضي الله عنهما فيصله طلب کوله په باره دهغه مال کښې کوم چه الله تعالی دمال ئې په حيثيت سره دبنونضير دمالونونه خپل رسول ته ورکړی وو. ابوداود وائي چه عمر رضي الله عنه داغوښتل چه دتقسيم نوم په دې باندې کينه خودلي شي.

[٢٩٦٥]([2]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَأَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ، الْمَعْنَى أَنَّ سُفْيَانَ بْنَ عُيَيْنَةَ أَخْبَرَهُمْ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ، عَنْ عُمَرَ، قَالَ: كَانَتْ أَمْوَالُ بَنِي النَّضِيرِ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِمَّا لَمْ يُوجِفْ الْمُسْلِمُونَ عَلَيْهِ بِخَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ، كَانَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِصًا يُنْفِقُ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ، قَالَ ابْنُ عَبْدَةَ: يُنْفِقُ عَلَى أَهْلِهِ قُوتَ سَنَةٍ فَمَا بَقِيَ جَعَلَ فِي الْكُرَاعِ وَعُدَّةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، قَالَ ابْنُ عَبْدَةَ: فِي الْكُرَاعِ وَالسِّلَاحِ.

مالك بن اوسه دعمر رضي الله عنه نه روايت کوی فرمائي چه دبنونظير مال داسې دې کوم چه الله تعالی خپل نبی ته ورکړې وو او ددې دحاصلولودپاره مسلمانانو خپل اسونه اوخپل څانونه، نه وو زغلولي نودغه مال د نبی عليه السلام دپاره محصوص شو دابه نبی عليه السلام په خپله کورنۍ باندې صرف کولو اوابن عبده وئيلی دی چه نبی عليه السلام به دخپل کور والاو دپاره ددې نه ديوکال خرچه اخستله اوباقی پاتې به ئې دخاروو په خريدارئ باندې اودجهاد په تياري باندې خرچ کول ابن عبده وائی چه باقی پاتې به ئې په خاروو او اصلحوباندې خرچ کول.

﴿ عن مالک بن اوس الحدثان عن عمر رضي الله عنه قال کانت اموال بنی النضير مما افاء الله علی رسوله مما لم يوجف المسلمون ليه بخيل ولا رکاب ﴾

سيدنا عمر رضي الله عنه فرمائي چه د بنو نضير زمکه او د هغوی مالونه د دې آيت کريمه مصداق دی ﴿ وما افاء الله علی رسوله منهم فما اوجفتم عليه من خيل ولا رکاب ﴾ يعنی د بنو نضير زمکه داسې ده چه د هغې په حصول او فتح کولو کښې مسلمانانو ته د آسونو زغلولو ضرورت نه دې راغلې لهذا دا مال فئ شو کوم چه د رسول الله صلی الله عليه وسلم دپاره خالص وو چه د هغې نه به رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپلو بيبيانو باندې خرچه کوله د ټول کال، او څه چه به باقی بچ کيدل هغه به ئې په کراع يعنی د جهادی سامانونو په تيارئ باندې خرچ کوله.

---

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٠٦٣٢، ١٠٦٣٣) (صحيح)

[2]: انظر حديث رقم: (٢٩٦٣)، (تحفة الأشراف: ١٠٦٣١) (صحيح)

د بنو النضير د زمکې په مال فئ کېدو کښې اختلاف :

خان پوهه کړئ چه په اموالو د بنو نضير په فئ کښې کېدو په کتب تفسير وغيره کښې اعتراض کړې شوې دې هغه دا چه د بنو نضير د زمکې د فتح کولو دپاره د قتل او قتال او محاصرې وغيره ټولو ځيزونو ضرورت راغلې دې په دې باندې هغوى د هغه ځائې نه په تلو باندې صلح اوکړه لهٰذا دا مالونه خو د غنيمت د قبيلې نه شو نه د مال فئ، په دې وجه د بعض مفسرينو رائې خو دا ده چه د پورته ذکر کړې شوى آيت کريمه نزول د بنو النضير د زمکې په باره کښې نه دې ځکه چه هلته خو اسونه زغلولې شوې دى، بلکه د دې مصداق د فدک زمکه ده (۱) هلته د دې ځيزونو واقعى څه ضرورت نه دې راغلې، او د بعضو رائې دا دې چه د دې مصداق د بنو النضير زمکه ده، ځکه چه هلته د ډيرې منډې ترړې او قتل و قتال حاجت نه وو راغلې او نه ورپسې د زيات مزل ضرورت راغلو ځکه چه دا خلق د مدينې طيبې نه دوه ميله لرې آباد وو صحابه کرام رضی الله عنهم هلته پيدل رسيدلې وو بغير د سورلو نه، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه علاوه هيڅوک سور نه وو. په دې وجه دا د هغه مالونو نه شمار کړې شو کوم چه بغير د قتال نه حاصل کړې شوې وى (من البذل ۱۴۳)

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي، قاله المنذري)

[۲۹۶۶](۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، أَخْبَرَنَا أَيُّوبُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: قَالَ عُمَرُ: وَمَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْهُمْ فَمَا أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ سورة الحشر آية ۶، قَالَ الزُّهْرِيُّ، قَالَ عُمَرُ: هَذِهِ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاصَّةً قُرَى عُرَيْنَةَ فَدَكَ وَكَذَا وَكَذَا مَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ سورة الحشر آية ۷، وَلِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ فَاسْتَوْعَبَتْ هَذِهِ الْآيَةُ النَّاسَ، فَلَمْ يَبْقَ أَحَدٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَّا لَهُ فِيهَا حَقٌّ، قَالَ أَيُّوبُ، أَوْ قَالَ حَظٌّ: إِلَّا بَعْضَ مَنْ تَمْلِكُونَ مِنْ أَرِقَّائِكُمْ.

د زهري نه روايت دې چه عمر رضی الله عنه فرمائيلې دى الله تعالى فرمائيلې دى، الله تعالى چه کوم مال نبى علیه السلام ته ورکړې وو په دې پسې تاسو خپل اوښان او اسونه نه دى زغلولې، په دې ايت کريمه سره دنبى علیه السلام دپاره دعرينه څه کې دنبى علیه السلام دپاره خاص شوې دې لکه د فدک باغونه وغيره، او په نورو اياتونو کښې لکه : «ما أفاء الله على رسوله من أهل القرى فلله وللرسول ولذي القربى واليتامى والمساكين وابن السبيل» او همدارنګې «للفقراء الذين أخرجوا من ديارهم وأموالهم» او همدارنګې «والذين تبوءوا الدار والإيمان من قبلهم» او همدارنګې «والذين جاءوا من بعدهم» دا ايت ټولو مسلمانانو ته شامل دې کومو چه ددې نه مخکښې ايمان راوړې اوکوم چه ددې نه پس ايمان راوړې اوس هيڅ يو مسلمان داسې باقى پاتې نه شو دچاچه په مال ئې کښې حق نه وى علاوه دغلامانو اووينځونه

(۱) پس د هغې موافق يو حديث وراندې راروان دې

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۶۳۸) (صحيح)

﴿عن الزهری قال قال عمر رضی الله عنه وما افاء الله علی رسوله منهم فما اوجفتم علیه من خیل ولا رکاب قال الزهری قال عمر رضی الله عنه هذه لرسول الله صلی الله علیه وسلم خاصة قری عرینة [۱] وفدک وکذا وکذا..... ما افآء الله من اهل القری فلله وللرسول﴾

شرح الحدیث:

عمر رضی الله عنه دلته دوه آیتونه ذکر فرمائیلي دی د رومبی آیت کریمه شروع د ﴿وما افاء الله﴾ نه ده د حرف عطف سره او د دویم آیت کریمه ابتداء ﴿وما افاء الله علی رسوله﴾ نه ده بغیر د حرف عطف نه، او په دې دویم آیت کښې په ځائې د ﴿منهم﴾ ﴿من اهل القری﴾ دې. عمر رضی الله عنه د رومبی آیت کریمه په باره کښې فرمائی چه په دې آیت کریمه کښې د هغه مال فئ ذکر دې کوم چه خالص د رسول الله صلی الله علیه وسلم په باره کښې وو، او د هغې مصداق هغوی هغه مقاماتو لره بیان کړو قری عرینه او فدک، او د هغې نه علاوه ئې اموالو ته هم اشاره اوکړه، په کذا وکذا سره اشاره د بنو النضیر مالونو ته ده لکه چه د دې نه پورته حدیث کښې ذکر شوې دی او د عمر رضی الله عنه نه روایت دې او د دویم کذا نه نیم خیبر ته هم اشاره کیدې شی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وو تقسیم فرمائیلي ځکه چه هغه په صلح باندې فتح شوې وو لکه چه وئیلي شوې دی؟ (د دې نه پس عمر رضی الله عنه د دویم آیت کریمه په باره کښې فرمائی چه په هغې کښې د رسول ذکر دې او ذوی القربی، یتامی او مساکین او ابن السبیل او فقراء مهاجرین او انصار او د هغې نه روستو د راتلونکو) چه دې آیت کریمه د ټولو مسلمانانو استیعاب او احاطه اوکړه، او اوس په مسلمانانو کښې هیڅ یو فرد بشر باقی پاتې نه شو چه د هغه په دې مال فئ کښې حق نه وی سوا د غلامانو نه (ځکه چه په غلام کښې د مالک جوړیدو صلاحیت نه وی هغه خو خپله د نورو مملوک وی په ابوداؤد کښې خو دا اثر د عمر هم دومره دې او په سنن نسائی کښې د دې نه پس دا زیادت دې، ﴿ولئن عشت ان شاء الله لیاتین علی کل مسلم حقه او قال حظه﴾ عمر رضی الله عنه فرمائی چه که زه ژوندې پاتې شوم نو هر مسلمان ته به د هغه حق ضرور رسیږی.

په بادی الرائ (په ظاهر) کښې د دې حدیث نه دا معلومیږی چه په رومبی آیت کریمه کښې صرف د دې مال فئ ذکر دې چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خاص وو او د هغوی ملک وو، او په نورو آیتونو کښې د هغه اموال فئ ذکر دې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او باقی مصارف

---

[۱] دا لفظ زمونږ په هندی نسخه کښې داسې دې عرَینه بالنون بعد الیا التحتانیه تصغیر عرنة، او په نسخه د عون المعبود کښې هم داسې دی او شارح دې لره هم داسې ضبط کړې هم دې او بیا ئې وراندې لیکلي دی موضع به قري كانه بنوا حي الشام یعنی څه علاقه ده چه په هغې کښې ډیر کلی دی کیدې شی چه د شام په طرفونو کښې وی اه او د ابوداؤد په اکثر مصری نسخو کښې دی قری عربیه او صرف په یوه نسخه کښې هلته عرینه دې، شیخ محمد عوامه دا اختلاف بنه په تفصیل سره لیکلي دې او وائی چه په نسائی سنن کبری او صغری دې دواړو کښې هم عرینه دې. د نورو ډیرو تفسیری کتابونو حواله ئې هم ورکړې ده چه په هغې کښې په بعضو کښې عرینه دې او بعضو کښې عربیه او د دې کلو نومونه ئې دا نقل کړی دی الصفرآء والینبوع ووادي القري آهـ ملخصا مونږ سره چه کومه د نسائی نسخه ده په هغې کښې ځنګه چه شیخ محمد عوامه لیکلی دی قری عربیه دې او د هغې په حاشیې باندې د نسخه علامت لګولو سره عرینه لیکلي شوې دې)

سبعه مذکوره فی الاية ترمينځه مشترک دی، حال دا چه داسې نه ده ځکه چه کوم مال فئ د رسول اللهﷺ په حيات کښې حاصليږی هغه به هم د هغوی ملک وی او د هغې تقسيم به د رسول اللهﷺ رائې ته سپارلې شوې وی چه د مالک په طور هغه چرته غواړی او خصوصا په هغه مصارفو کښې کوم چه په آيت کريمه کښې ذکر شوې دی تقسيم اوفرمائی، د هر هغه مال فئ هم دا حکم دې کوم چه د رسول اللهﷺ په حيات کښې حاصل شی، او د هيڅ مال فئ په باره کښې به دا وئيل صحيح نه وی چه فلانې د هغوی ملک خاص دې او فلانې ستاسو او ستاسو په غير کښې مشترک دې، بيا آيتونو کښې دوه قسمونه کولو سره ولې بيان کړې شوې دی د دې جواب ذهن ته دا راځی چه په رومبی آيت کريمه کښې د هغه اموال فئ ذکر دې کوم چه د نزول آيت په وخت حاصل شوې وو، او په دويم آيت کريمه کښې دا بيان کړې شوې ده چه د دې اموال فئ نه علاوه هم د هغې نه پس چه حاصليږی د هغې هم دا حکم دې هغه د رسول اللهﷺ په ملک کښې دی هغوی چه په خپله خوښه څنګه غواړی په دغه مصارف مذکوره کښې مالکانه تصرف او اختيار سره تقسيمولې شی. (مستفاد من بيان القرآن للشيخ التهانوی)

فائده : په دې حديث عمرؓ کښې، د قری عرينه ذکر راغلو او په بعض نسخو کښې قری عربيه دې په دې باره کښې دې تفصيل په حاشيه کښې اوکتلې شی، دلته يو لفظ بل دې ﴿ وادی القری ﴾ هغه هم په ابوداؤد کښې په څو مقاماتو کښې راغلې دې مثلا کتاب الجهاد باب فی تعظيم الغلول وفيه ﴿ قال فوجه رسول اللهﷺ نحو وادی القری الخ ﴾ هم دغه شان وړاندې په کتاب الخراج کښې په باب ﴿ اخراج اليهود من جزيرة العرب ﴾ کښې دی ﴿ قال مالک : عمر اجلی اهل نجران ولم يجلوا من تيماء لانها ليست من بلاد العرب، فاما الوادی فانی اری انما لم يجل من فيها من اليهود انهم لم يروها من ارض العرب﴾ په بذل کښې د دې وادئ شرح په وادی القری سره کړې ده، هم دغه شان د باب احياء الموات د يو اوږد حديث په آخر کښې ﴿ فلما اتينا وادی القری قال للمراة کم کان فی حديقتک الحديث ﴾ او مونږ سره چه دلته په حاشيه کښې چه کوم تحقيق ذکر شوې دې په هغې کښې د قری عرينه په مصاديقو کښې وادی القری هم ذکر شوې ده، وقد ذکرت هذا المزيد فائدة الطلاب.

[۲۹۶۷](۱) حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ. ح وحَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ. ح وحَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ عِيسَى، وَهَذَا لَفْظُ حَدِيثِهِ كُلُّهُمْ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ، قَالَ: كَانَ فِيمَا احْتَجَّ بِهِ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّهُ قَالَ: كَانَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثُ صَفَايَا بَنُو النَّضِيرِ وَخَيْبَرُ وَفَدَكُ، فَأَمَّا بَنُو النَّضِيرِ فَكَانَتْ حُبُسًا لِنَوَائِبِهِ، وَأَمَّا فَدَكُ فَكَانَتْ حُبُسًا لِأَبْنَاءِ السَّبِيلِ، وَأَمَّا خَيْبَرُ فَجَزَّأَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَجْزَاءٍ جُزْأَيْنِ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ وَجُزْءًا نَفَقَةً لِأَهْلِهِ فَمَا فَضَلَ عَنْ نَفَقَةِ أَهْلِهِ جَعَلَهُ بَيْنَ فُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ.

دمالک بن اوس بن حدثانؓ نه روايت دې فرمائی عمرؓ چه دکومې خبرې استدلال

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۶۳۵) (حسن الإسناد)

کړي وو هغه داده چه دنبی ﷺ دپاره درې صفایا وې بنونضیر، فدك، خیبر، یعنی کوم مال چه به ددې خلقودزمکونه حاصلیدو هغه دنبی ﷺ دضرورتونودپاره مقرر کړې شوې وو مثلا دمیلمنو د میزبانی دپاره او د مجاهدینوداصلحې دپاره او ددې دسورلی دپاره وغیره اوکوم مال چه دفدك نه حاصلیدو هغه دضرورتمندو. اومسافرو خلقودپاره وو اګرچه ددې مسافرینو په وطن کښې مالونه وو او نبی ﷺ دخیبر مالونه درې حصې کړې وو دوه حصې ئې دمسلمانانو دپاره مقررکړې وې اویوه حصه ئې دځان اودخپلوبچو اودښځو داخراجاتودپاره اوکوم چه به دهغوی دخرچ نه زیاتې شو هغه به ئې په غریبانانو او هجرت کرنکوباندې خرچ کولو.

﴿ عن مالک بن اوس بن الحدثان قال کان فیما احتج به عمر انه قال کانت لرسول ﷺ ثلاث صفایا بنو النضیر وخیبر وفدک، فاما بنو النضیر الخ ﴾

دا هم د مالک بن اوس روایت دې اصل کښې د باب په شروع کښې د عباس او علی رضی الله عنهما د منازعت والا اوږد روایت تیر شوې دې د هغې راوی هم مالک بن اوس دې، د دې نه پس هم د مالک بن اوس څو روایتونه تیر شوې دی، اوس دا هم د هغوی روایت دې دې نه معلومیږی چه مصنف رحمه الله ته دا حدیث په ډیر سندونو او طرقو سره را رسدلې دې، او په دې روایاتو کښې کمې زیاتې دې هم په دې وجه امام ابوداؤد رحمه الله دا روایت په مختلفو طرقو سره راوړی دې دپاره چه کوم زیادات دی هغه مخې ته راشي.

شرح الحدیث:

د دې روایت مضمون دا دې چه د عباس او علی رضی الله عنهما خپل مینځ کښې د اختلاف په سلسله کښې عمر رضی الله عنه چه تقریر او استدلال د هغوی مخکښې فرمائیلې وو، په هغې کښې دا هم وه چه د رسول الله ﷺ دپاره درې صفایا وو. فلانې او فلانې، او بیا د هر یو باره کښې د رسول الله ﷺ طرز عمل چه هغه به ئې چرته خرچ کولو، د هر یو تعین بالتفصیل هغوی بیان کړو، او په ظاهر کښې غرض د عمر رضی الله عنه د دې ټولو نه دا دې چه رسول الله ﷺ به د دې خپلو صفایا او اموال خالصه نه صرف په اندازه د ضرورت اخستلو، د خپل ضرورت او د بیبیانو د ضرورت، باقی به ئې په کراع او وسلې او د مسلمانانو په مصلحتونو کښې خرچ کولو، او رسول الله ﷺ د هغه څیزونو نه خپل ملک او جاګیر نه وو جوړ کړې، یعنی داسې ملک او جاګیر چه په هغې کښې میراث جاری شي، دا خو شو د رسول الله ﷺ طرز عمل، او قولا رسول الله ﷺ داسې تصریح اوکړه ﴿ ما ترکت بعد نفقة نسائی ومؤنة عاملی فهو صدقة ﴾ والله تعالی اعلم بالصواب

[۲۹٦۸](۱) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَوْهِبٍ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ عُقَيْلِ بْنِ خَالِدٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ، أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَرْسَلَتْ إِلَى أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا مِنْ رَسُولِ اللهِ

(۱): صحیح البخاري/الخمس ۱ (۳۰۹۲)، وفضائل الصحابة ۱۲ (۳۷۱۱)، والمغازي ١٤ (٤٠٣٥)، ۳۸ (٤٢٤١)، والفرائض ۳ (٦٧٢٥)، صحیح مسلم/الجهاد ١٦ (١٧٥٩)، سنن النسائي/الفيء (٤١٤٦)، (تحفة الأشراف: ٦٦٣٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٤، ٦، ٩، ١٠، ٦/١٤٥، ٢٦٢) (صحیح)

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْهِ بِالْمَدِينَةِ وَفَدَكَ وَمَا بَقِيَ مِنْ خُمُسِ خَيْبَرَ، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ"، إِنَّمَا يَأْكُلُ آلُ مُحَمَّدٍ مِنْ هَذَا الْمَالِ وَإِنِّي وَاللَّهِ لَا أُغَيِّرُ شَيْئًا مِنْ صَدَقَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنْ حَالِهَا الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَأَعْمَلَنَّ فِيهَا بِمَا عَمِلَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَبَى أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنْ يَدْفَعَ إِلَى فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَام مِنْهَا شَيْئًا.

دام المومنین عائشي رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه فاطمة بنت رسول الله ابوبكرته يوكس اوليږلو ددي دپاره چه دخپل ميراث حصه ترې اوغواړي كومه چه ددې دنبى عليه السلام په تركه كښې كيدله كوم چه ورته الله تعالى په مدينه اوفدك كښې وركړې وواوكوم چه دخيبرد خمس نه باقي پاتې شوي وو په هغې كښې، ابوبكر رضي الله عنه او فرمائيل يقينا نبى عليه السلام فرمائيلي وو زمونږځوك وارث نه وى كوم چه مونږئي پريږدو هغه صدقه وي او يقيناد محمد خاندان به ددې مال نه بقدر ضرورت خوري، او په الله قسم زه دنبى عليه السلام دصدقې حالت بدليدوته نه پريږدم په هم هغه حال به وي په كوم حال چه دنبى عليه السلام په زمانه كښې وه. اوزه به هغه كاركوم، كوم چه نبى عليه السلام كړي وو، بهرحال ابوبكر رضي الله عنه انكار وكړوچه فاطمة رضي الله عنها ته ددې نه څه وركړي

﴿عن عائشة رضي الله عنها زوج النبى صلى الله عليه وسلم انها اخبرته ان فاطمة بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم ارسلت الى ابى بكر الصديق رضي الله عنه تساله ميراثها الخ﴾

شرح الحديث

په دې روايت كښې دا دى چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم لور فاطمه رضي الله عنها صديق اكبر رضي الله عنه ته د خپل ميراث د طلب كولو دپاره څوك قاصد اوليږلو. په ظاهر كښې به دا قاصد د هغې خاوند علي رضي الله عنه وى، لكه چه د مخكښې روايت نه معلوميږى د هغه مال فئ په باره كښې كوم چه د هغوى په مدينه طيبه ك شدې يعنى د بنو نضير زمكه او د فدك زمكه او د خيبر د غنيمتونو د خمس نه، يعنى كومه نيمه حصه د خيبر چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د مسلمانانو ترمينځه تقسيم كړې وه په هغه مال غنيمت كښې د رسول الله صلى الله عليه وسلم حصه خمس المخس وه، د هغې ميراث، بيا وړاندې په حديث كښې د صديق اكبر جواب ذكر كړې شوې دې چه د هغې خلاصه دا ده چه هغوى فاطمې رضي الله عنها ته د ميراث وركولو نه انكار اوفرمائيلو

[۲۹۶۹](1) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ الْحِمْصِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، حَدَّثَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ، أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَتْهُ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: وَفَاطِمَةُ عَلَيْهَا السَّلَام حِينَئِذٍ تَطْلُبُ صَدَقَةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّتِي بِالْمَدِينَةِ وَفَدَكَ وَمَا بَقِيَ مِنْ خُمُسِ خَيْبَرَ، قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ"، وَإِنَّمَا يَأْكُلُ آلُ مُحَمَّدٍ فِي هَذَا الْمَالِ يَعْنِي مَالَ اللَّهِ لَيْسَ لَهُمْ أَنْ يَزِيدُوا عَلَى الْمَأْكَلِ.

دام المومنين عائشي رضي الله عنها نه همدا روايت منقول دې مګرپدې كښې دا اضافه ده فرمائي چه فاطمة بنت رسول الله و دنبى عليه السلام دصدقې هغه مال غوښتلو كوم چه په مدينه اوفدك كښې

(1): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٦٦٣٠) (صحيح)

وو اوکوم چه دخیبرد خمس نه باقي پاتې شوي وو: ام المومنين فرمائی ابوبکر رضي الله عنه او فرمائیل یقینا نبی عليه السلام فرمائیلي وو زمونږ څوك وارث نه وی کوم چه مونږئي پرېږدو هغه صدقه وي او یقینا دمحمد خاندان به ددې مال نه (یعنی د الله دمال نه) بقدر ضرورت خوري.

[۲۹۷۰] (¹) حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ أَبِي يَعْقُوبَ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ صَالِحٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ، أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَخْبَرَتْهُ بِهَذَا الْحَدِيثِ قَالَ فِيهِ: فَأَبَى أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَلَيْهَا ذَلِكَ، وَقَالَ: لَسْتُ تَارِكًا شَيْئًا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْمَلُ بِهِ إِلَّا عَمِلْتُ بِهِ، إِنِّي أَخْشَى إِنْ تَرَكْتُ شَيْئًا مِنْ أَمْرِهِ أَنْ أَزِيغَ، فَأَمَّا صَدَقَتُهُ بِالْمَدِينَةِ فَدَفَعَهَا عُمَرُ إِلَى عَلِيٍّ، وَعَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فَغَلَبَهُ عَلِيٌّ عَلَيْهَا وَأَمَّا خَيْبَرُ وَفَدَكُ فَأَمْسَكَهُمَا عُمَرُ وَقَالَ: هُمَا صَدَقَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتَا لِحُقُوقِهِ الَّتِي تَعْرُوهُ وَنَوَائِبِهِ وَأَمْرُهُمَا إِلَى مَنْ وَلِيَ الْأَمْرَ، قَالَ: فَهُمَا عَلَى ذَلِكَ إِلَى الْيَوْمِ.

د عروة بن الزبير رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه ام المومنین عائشې رضي الله عنها راته خبر راکړې دې په دې حدیث چه فرمائیل ئي او په دې کښې دا اضافه ده ابوبکر رضي الله عنه انکار وکړو چه فاطمة رضي الله عنها ته ددې نه څه ورکړی او وي وئیل چه ددې صدقې متعلق دنبی کریم صلي الله علیه وسلم څه معمول روزه دهغې پرېخودونکی نه یم یقینازه ویرېږم که چرې دهغه دعمل نه څه شي پرېږدم هسې نه چه ګمراه نشم، اوهرچه دنبی عليه السلام مال ووپه مدینه کښې نوهغه خوعمر ورکړی دی علي - اوعباس رضي الله عنهما ته اوعلي پرې غالب شوي وو، اوهرچه دخیبر اوفدك مال دي هغه عمر بندکړې دې اووئیلي ئې دي چه دا د نبی عليه السلام صدقې دي دهغه په امورو باندې به خرچ کیږی ددې اختیار به دهغه چاسره وي څوك دنبی عليه السلام د امورو متولي وي یعنی خلیفه وي راوي وائی بیا دغه مالونه په همدغه حال باندې پاتې شول.

د عائشې رضي الله عنها حدیث په طریق عروه رحمه الله دې، دا مصنف رحمه الله وړاندې هم په دوه طریقو سره ذکر کړې دې د دې په یو طریق کښې وړاندې دا راځی ﴿ فاما صدقته بالمدينة فدفعها عمر الى على وعباس فغلبه على عليها ﴾

د علی او عباس رضي الله عنهما ترمینځه په تولیت کښې د اختلاف منشاء:

یعنی په مدینه طیبه کښې چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم کومه وقف کړې شوې زمکه وه یعنی د بنو نضیر زمکه هغه عمر رضي الله عنه په طریقه د تولیت علی او عباس رضي الله عنهما دواړو ته حواله کړه خو د علی رضي الله عنه د هغه زمکې په تولیت باندې غلبه پاتې شوه یعنی د هغې په انتظام او انصرام کښې ئي ښه حصه واخستله، ګویا علی رضي الله عنه په وړاندې روان وو د هغې په انتظاماتو کښ، ما د حضرت شیخ زکریا صاحب رحمه الله نه په سبق کښې دلته اوریدلې وو چه اصل کښې د علی رضي الله عنه په مزاج کښې ډیر زیات سخاوت وو، هغوی به د دې ګټه ښه خیرات کوله، واخله روره او واخله روره، هر څائي، او د عباس رضي الله عنهما په طبیعت کښې دا خبره نه وه هغوی ډیر په احتیاط خرچ کول غوښتل، خو په دې معامله کښې د هغوی خبره او نه منلې شوه، هم په دې وجه په دواړو کښې اختلاف ته خبره اورسیدله چه هغې لره اخستلو سره هغوی د فاروق اعظم رضي الله عنه په خدمت کښې حاضر شو دتولیت د تقسیم دپاره لکه چه تفصیلا مخکښې تیر

¹): انظر حديث رقم: (۲۹۶۸)، (تحفة الأشراف: ۱۶۶۳۰) (صحيح)

شو د باب په ړومبی حدیث کښ، وړاندې په روایت کښې دی ﴿واما خیبر وفدک فامسکها عمر الخ ﴾ یعنی د هغوی دواړو په تولیت کښې صرف د بنو نضیر زمکه راغلې وه او د خیبر او د فدک زمکه عمر ﷺ د خپل انتظام د لاندې اوساتله د هغوی په تولیت کښې ئې ورنکړه.

[۲۹۷۱](¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ ثَوْرٍ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، فِي قَوْلِهِ: فَمَا أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ سورة الحشر آية ٦، قَالَ: صَالَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلَ فَدَكَ وَقُرًى قَدْ سَمَّاهَا لَا أَحْفَظُهَا وَهُوَ مُحَاصِرٌ قَوْمًا آخَرِينَ، فَأَرْسَلُوا إِلَيْهِ بِالصُّلْحِ قَالَ: فَمَا أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ سورة الحشر آية ٦ يَقُولُ: بِغَيْرِ قِتَالٍ، قَالَ الزُّهْرِيُّ: وَكَانَتْ بَنُو النَّضِيرِ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِصًا لَمْ يَفْتَحُوهَا عَنْوَةً افْتَتَحُوهَا عَلَى صُلْحٍ، فَقَسَمَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الْمُهَاجِرِينَ لَمْ يُعْطِ الْأَنْصَارَ مِنْهَا شَيْئًا إِلَّا رَجُلَيْنِ كَانَتْ بِهِمَا حَاجَةٌ.

دزهري نه روایت دې فرمائی چه د الله تعالی داقول: «فما أوجفتم علیه من خیل ولا رکاب» نبی ﷺ صلحه کړې وه داهل فدك اودنورو كلووالاسره دكومونومونه چه ئې اخستلي وو اوماته یاد نه دی، اونورخلق ئې محاصره کړي وو اوهغوی ورته مال راولیږلودصلح دپاره بغیردجنګ نه، راوي وائی چه دبنونضیر مال هم دنبی ﷺ په اختیارکښې ووځکه چه هغه بغیردجنګ نه حاصل شوي وواو نبی ﷺ په مهاجرینوباندې تقسیم کړو اوانصاروته ئې ترې هیڅ ورنکړل علاوه ددوه کسانونه چه حاجت مند وو.

﴿ قال صالح النبی ﷺ اهل فدک وقری.... قد سماها لا احفظها، وهو محاصر قوما اخرین فارسلوا الیه بالصلح ﴾

د قرى نه مراد هم هغه قرى عرينه ده، راوى وائى چه د دې قرى نوم ماته ياد نه دې.

د روایت مضمون دا دې چه رسول الله ﷺ د اهل فدک سره مصالحت په داسې وخت کښې اوفرمائیلو چه کله هغوی د یو بل قوم یعنی اهل خیبر محاصره کړې وه نو هم په دې دوران کښې اهل فدک هغوی ته د صلح پیغام راولیږو، پس هغوی دا صلح قبوله کړه، یعنی کوم وخت چه هغوی د خیبر په جنګ کښې مشغول وو او لا تر دغه وخته پورې فدک طرف ته رسول الله ﷺ رخ نه وو فرمائیلې خو الله پاک په هغوی باندې داسې هیبت او رعب راوستلو چه هغوی په خپله د مصالحت پیشکش اوکړو او ویره سره ئې هم هلته د دې کار دپاره یو سړې اولیږلو. په دې وجه د فدک زمکې ته مال فئ وئیلې شی. ﴿ قال فما اوجفتم علیه من خیل ولا رکاب یقول بغیر قتال ﴾

د سورة حشر د ایت نزول د ارض فدک په باره کښې:

د زهرى رحمه الله د دې اثر د سیاق نه دا فهمیږی چه دا آیت کریمه د فدک په باره کښې دې نه د بنو نضیر د زمکې په باره کښ، پس د بعض مفسرینو رائې هم دا ده ځکه چه هغوی وائی چه د بنو نضیر په فتح کولو کښې خو جنګ ته خبره رسیدلې وه او په دې باندې مخکښې خبره تیره شوه، خو د دې نه پس امام زهری رحمه الله د بنو نضیر د زمکې په باره کښې هم دا فرمائی چه دا هم صلحا فتح کړې شوې وه اوس د دې دواړو خبرو د یو ځائې کولو نه دا نتیجه راووتله چه د دې آیتونو نزول خو د فدک په باره کښې شوې وو خو حال د بنو نضیر هم دا دې.

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۳۷۹) (صحيح الإسناد)

وراندې د بنو نضیر د مالونو په باره کښې دا دی چه هغه رسول الله ﷺ په مهاجرینو باندې تقسیم اوفرمائیلو. انصارو ته رسول الله ﷺ د هغې نه هیڅ هم ورنکړل سوا د دوه کسانو نه چه حاجت مند وو، د دې په باره کښې دلته په بذل کښې لیکلي شوې دی ﴿ لم اقف علی تسمیتها ﴾ خو وړاندې ﴿ باب فی خبر بنی نضیر ﴾ کښې د هغه انصارو تسمیه په بذل کښې حضرت د تفسیر کبیر نه نقل فرمائیلې ده او هلته درې نومونه ذکر کړې شوې دی. ابو دجانة رضی الله عنه، سهل بن حنیف، الحارث بن الصمة.

[۲۹۷۲](۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْجَرَّاحِ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْمُغِيرَةِ، قَالَ: جَمَعَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بَنِي مَرْوَانَ حِينَ اسْتُخْلِفَ، فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ لَهُ فَدَكُ فَكَانَ يُنْفِقُ مِنْهَا وَيَعُودُ مِنْهَا عَلَى صَغِيرِ بَنِي هَاشِمٍ وَيُزَوِّجُ مِنْهَا أَيِّمَهُمْ، وَإِنَّ فَاطِمَةَ سَأَلَتْهُ أَنْ يَجْعَلَهَا لَهَا فَأَبَى فَكَانَتْ كَذَلِكَ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ، فَلَمَّا أَنْ وَلِيَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَمِلَ فِيهَا بِمَا عَمِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَيَاتِهِ حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ، فَلَمَّا أَنْ وَلِيَ عُمَرُ عَمِلَ فِيهَا بِمِثْلِ مَا عَمِلَا حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ، ثُمَّ أَقْطَعَهَا مَرْوَانُ، ثُمَّ صَارَتْ لِعُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، قَالَ عُمَرُ: يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ فَرَأَيْتُ أَمْرًا مَنَعَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَامُ لَيْسَ لِي بِحَقٍّ وَأَنَا أُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ رَدَدْتُهَا عَلَى مَا كَانَتْ يَعْنِي عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَلِيَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ الْخِلَافَةَ وَغَلَّتُهُ أَرْبَعُونَ أَلْفَ دِينَارٍ، وَتُوُفِّيَ وَغَلَّتُهُ أَرْبَعُمِائَةِ دِينَارٍ وَلَوْ بَقِيَ لَكَانَ أَقَلَّ.

د مغیره نه روایت دې فرمائی چه کله عمربن عبد العزیز رحمة الله علیه خلیفه شو نودمروان خامن ئې راجمع کړل او وئې وئیل چه دفدك مال دنبی علیه السلام په اختیاراوتصرف کښې وودهغې نه به ئې په اهل وعیال او غریبانو مسکینانوخرج کولو او ددې نه به ئې دبنوهاشم په ماشومانو احسان کولو او د غیرشادي شده ښځو په نکاح کانوباندې به ئې ترې خرچ کولو، فاطمه رضی الله عنها دنبی علیه السلام نه دفدك مال دځان دپاره غوښتلي وولیکن ورئې نکړواوبیادنبی علیه السلام به ټول ژوند مبارك کښې په همدې حال باندې ووتردې چه نبی علیه السلام وفات شو او ابوبکر خلیفه شونودده هم دفدك متعلق هغه طریقه کار وو کوم چه دنبی علیه السلام روتردې چه ابوبکر رضی الله عنه هم وفات شو اوعمر رضی الله عنه خلیفه شو، کله چه عمر خلیفه شو نودده هم داطرز عمل ووتردې چه عمرهم وفات شو، بیاچه کله مروان حکمران شو نودا مال ئې دخپل ځان اودخپل جماعت جاګیر جوړ کړوبیاد فدك مال دعمربن عبد العزیز په تصرف کښې راغي او اوئې وئیل چه ددې مال متعلق مادااسلافو داعمل لیدلي دي چه دا نبی علیه السلام فاطمي ته هم نه وو ورکړی نو دا زما دپاره هم مناسب نه دی زه تاسو په دې باندې ګواه کوم چه دامال ماپه هغه حال پریخودو په کوم حال کښې چه دنبی علیه السلام په زمانه کښې وویعنی وقف ئې کړو.

﴿ عن المغیرة رضی الله عنه قال جمع عمر بن عبدالعزیز بنی مروان حین استخلف فقال ان رسول الله ﷺ ﴾

د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله کمال انصاف:

د روایت مضمون دا دې چه عمر بن عبدالعزیز بن مروان بن الحکم چه کله خلیفه کړې شو نو هغوی د خپل خاندان خلق راجمع کړل او یو تقریر ئې اوفرمائیلو چه په هغې کښې ئې دا

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۱۴۷) (ضعیف)

بیان کړه چه د فدک زمکه د رسول الله ﷺ دپاره وه چه د هغې ګټه به رسول الله ﷺ د بنوهاشم په ماشومانو باندې خرچ کوله او د کونډو په ودونو کښې...... او د رسول الله ﷺ لور فاطمې رضي الله عنها دا فدک د رسول الله ﷺ نه غوښتلې وو هغوی انکار کړې وو، تردې چه رسول الله ﷺ په خپل ژوند کښې د دې نه هم دغه شان خرچه کوله بیا د هغوی نه روستو چه کله ابوبکر صدیق رضي الله عنه خلیفه شو نو هغوی هم په دې کښې هم هغه طرز عمل اوساتلو کوم چه د رسول الله ﷺ وو او د هغوی نه روستو بیا هم هغه شان عمر رضي الله عنه هم، بیا چه کله زمونږ نیکهٔ یعنی مروان خلیفه جوړ شو نو هغوی په دې باندې مالکانه قبضه اوکړله [۱] بیا اوس منتقل کیدو کیدو سره دا د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله دپاره شوه. په دې باندې هغوی فرمائی چه ما دا سوچ اوکړو چه کوم څیز رسول الله ﷺ خپلې لور ته ورنکړو نو زه د هغې حقدار څنګه کیدې شم، ګورئ! زه تاسو ټول ګواهان جوړوم چه زه دا د فدک باغ په خپل زوړ حالت باندې واپس کوم چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې وو. د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله عدل او انصاف زهد او تورع خشیت او انابت الله پاک ته کول ضرب المثل دې، چه د هغې واقعات د تاریخ په کتابونو کښې معروف دی. خاص د هغوی په سیرت باندې هم کتابونه لیکلې شوې دی. ابن عبدالحکم کوم چه د امام مالک بغیر د واسطې نه شاګرد دې هغوی هم د هغوی په ژوند باندې کتاب لیکلې دې کوم چه د اردو ترجمې سره شائع کیږی [۲] هم دغه شان امام ابن الجوزی رحمه الله هم په مناقب د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله کښې لیکلی دی، امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چه:

چه کله ته اوګورئ چه یو انسان د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله سره مینه کوی د هغه د محاسنو ذکر او د هغې د اشاعت اهتمام کوی نو د هغه نتیجه انشاء الله تعالی صرف خیر دې.

د ابوداؤد په بعضو نسخو کښې دی چه دلته یو عبارت دې چه د بذل المجهود په حاشیه باندې د نسخې علامت جوړولو سره لیکلې شوې دې.

﴿ قال ابوداؤد ولی عمر بن عبدالعزیز الخلافة وغلته اربعون الف دینار، وتوفی وغلته اربع مائة دینار ولو بقی لکان اقل ﴾ یعنی د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله د کال ټوله امدنی څلویښت زره

---

[۱] د خطابی په شرح معالم السنن کښې دی ﴿ انما اقطعها مروان في ايام حياة عثمان بن عفان رضي الله عنه ﴾ یعنی مروان د فدک اقطاع د خپل خان دپاره د عثمان رضي الله عنه په زمانه کښې کړې وه او دا هم د هغه ټولو اعتراضاتو نه دی کوم چه په هغوی باندې کړې شوې دی. بیا وراندې هغوی د دې د عثمان رضي الله عنه د طرف نه تاویل او توجیه کړې ده هغه دا چه د دې مقصد کیدې شی د رسول الله ﷺ دا حدیث وی کوم چه هغوی ته رسیدلې وی ﴿ اذا اطعم الله نبيا طعمة فهي للذي يقوم من بعده ﴾ یعنی کله چه الله پاک یو نبی ته څه خاص مال ورکړی نو هغه د هغه نبی نه پس د هغه چا دې کوم چه د هغه قائم مقام جوړ شی. او چونکه رسول الله ﷺ به د فدک د زمکې نه په خپل ځان باندې هم خرچه کوله اوس چه کله د رسول الله ﷺ نه پس د قائم مقام کیدو حد عثمان رضي الله عنه ته راورسیدلو نو د فدک په دې زمکه کښې د هغوی هم استحقاق اوشو هغوی د دې نه په خپل ځان باندې هم خرچ کولې شو خو چونکه هغوی د خپلې ذاتی مالدارئ د وجې نه مستغنی وو په دې وجه هغوی دا ګټه د خپلو خپلوانو دپاره روا اوګڼله.

[۲] مکتبهٔ خلیلیه سهارنپور شائع کړې دې.

ديناره وو (۱) او د خليفه كيدو نه پس هغه آمدني په كميدو كميدو څلور سوو دينارو ته راغلي وه، او كه لږ نور ژوندي وې نو د دې نه به هم كمه پاتې شوې وې.

[۲۹۷۳](۲) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْفُضَيْلِ، عَنْ الْوَلِيدِ بْنِ جُمَيْعٍ، عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، قَالَ: جَاءَتْ فَاطِمَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا إِلَى أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ تَطْلُبُ مِيرَاثَهَا مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ إِذَا أَطْعَمَ نَبِيًّا طُعْمَةً فَهِيَ لِلَّذِي يَقُومُ مِنْ بَعْدِهِ".

دابو الطفيل نه روايت دې فرمائي چه فاطمة رضي الله عنها ابوبكر ته راغله او دنبي عليه السلام په مال كښې ئې دخپل ميراث حق غوښتو ابوبكر رضي الله عنه ورته اووئيل چه دنبي عليه السلام نه مې اوريدلى دى چه فرمائيل في: كله چه الله تعالى كوم نبى ته څه قسم دمعاش ذريعه وركړې نو هغه به دهغه دوفات نه پس دهغه چا په اختيار كښې وي څوك چه دهغه قائم مقام جوړشي.

﴿ جآءت فاطمة الى ابى بكر رضي الله عنه تطلب ميراثها من النبى ﷺ قال فقال ابوبكر الخ ﴾

يعنى سيده فاطمة رضي الله عنها صديق اكبر رضي الله عنه ته راغله د ميراث اخستلو دپاره نو هغوى اوفرمائيل چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل هغوى فرمائي چه الله پاک كله يو نبى لره د يو څيز مالک جوړ كړى نو بيا هغه د هغه دپاره شي كوم چه د هغه نبي پس د هغه قائم مقام وى، يعنى په اعتبار د انتظام او توليت (بذل) په دې روايت كښې د فاطمې رضي الله عنها د صديق اكبر رضي الله عنه نه د ميراث د طلب كولو ذكر دې.

د فاطمې رضي الله عنها د صديق اكبر رضي الله عنه نه خفه كيدل او خبرې پريخودل او د هغې توجيه

دلته د ابوداؤد په روايت كښې خو صرف د صديق اكبر رضي الله عنه جواب ذكر كړې شوې دې چه هغوى ورته حديث واورولو او د وركړې نه ئې انكار اوكړو او د دې نه پس هيڅ هم نشته، او په صحيح بخارى كتاب الجهاد ﴿ باب فرض الخمس ٤٣٥ ﴾ كښې د دې خبرې زيادت دې چه ﴿ فغضبت فاطمة بنت رسول الله ﷺ فهجرت ابابكر فلم تزل مهاجرته حتى توفيت الحديث ﴾ يعنى فاطمې رضي الله عنها د صديق اكبر رضي الله عنه په دې جواب باندې ناراضه شوه او د صديق اكبر رضي الله عنه سره ئې ترک كلام اوكړو د ژوند د آخرى لمحاتو پورې، د فاطمې رضي الله عنها په دې طرز باندې د مسلمان سره هجران كول مشهور اشكال دې چه د مسلمان هجران حرام دې. په دې باندې لامع كښې او د لامع حاشيه كښې حضرت شيخ رحمه الله تفصيلى كلام كړې دې او بيا په آخر كښې حضرت شيخ رحمه الله خپله رائې هم ليكلې ده : د حديث شراح د دې اشكال مختلف جوابونه وركړې دى، بعض شراح بنيادى طور د هجران مسلم جواب دا وركړې دې چه هجران مسلم كوم چه حرام دې هغه خو دا دې چه ﴿ ان يلتقيا فلا يسلم احدهما على صاحبه ﴾ چه اتفاقا چرته دا دواړه په يو لار باندې تيريږى نو يو بل ته كتلو سره مخونه واړوى او د سلام او كلام نه اعراض اوكړى او صرف د ملاقات پريخودل، يعنى قصدا د ملاقات دپاره

(۱) عمر بن عبدالعزيز رحمه الله د مدينې منورې ګورنر پاتې شوې دې او د هغوى پلار د مصر ګورنر وو او نور جائدادونه به ئې هم وُو. په دې وجه دا څه بعيده نه ده)

(۲) تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٦٥٩٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/١، ٦، ٩) (حسن)

نه تلل او هغه پريخودل دا ممنوع نه دی، او دلته د دې دواړو ترمينځه دا ثابت نه دی چه په ځه موقع باندې دوی دواړه جمع شوې وی او بيا فاطمې ﷞ د صديق اکبر ﷛ ترک د سلام و کلام او اعراض کړې وی، او پاتې شوه مسئله د ملاقات پريخودلو نو د هغې منشاء غضب او ناراضتيا نه ده بلکه د دې منشاء انقباض طبعی دې دا جواب علامه عينی د بخاری د مشهور شارح مهلب نه نقل کړې دې، دا جواب خو شو د ترک کلام او د هجران، پاتې شوه خبره د هغې د غصې کومه چه د بخاری په روايت کښې مصرح ده د هغې منشاء دا ده چه د هغوی په نزد د ابوبکرصديق ﷛ استدلال صحيح نه وو ځکه چه د فاطمې ﷞ په نزد حديث موؤل وو او هغه په دې باره کښې د تخصيص قائل وه او ابوبکرصديق ﷛ قائل بالعموم وو، د عموم او خصوص نه مراد هم فرق او عدم فرق د منقولاتو او غير منقولاتو دې کوم چه وړاندې عمر ﷛ د دحديث په شرح کښې تير شو. او دويم جواب د دې دا ورکړې شوې دې چه د فاطمې ﷞ د هجران نه مراد کوم چه د بخاری روايت دې ـــــــ ترک کلام فی المال والميراث دې لکه چه د عمر بن شبه په روايت کښې دی په طريق د معمر ﴿ فلم تکلمه فی ذلک المال ﴾ حافظ فرمائی چه هم دغه شان امام ترمذی ﷫ د خپلو بعضو مشائخو نه نقل کړی دی، په دې جواب باندې د بعض شراحو اشکال دې چه په روايت کښې د عضبت تصريح ده چه د هغې نه معلوميږی چه ترک کلام مطلقا وو خو دا اشکال قوی نه دې ځکه چه مونږ دا وايو چه د غصې د وجې نه ئې خو دوباره د ميراث سوال نه دې کړې چه ښه مه راکوه مونږ به هم بيا وړاندې چرته سوال نه کوو. او يو جواب دا ورکړې شوې دې چه دا عضب او ترک کلام وختی طور وو روستو صلح شوې وه، لکه چه بيهقی روايت کړې دې په طريق د شعبی ﷫ چه صديق اکبر ﷛ د فاطمې ﷞ د پوښتنې دپاره د هغوی دروازې ته اورسيدو په دې باندې علی ﷛ فاطمې ﷞ ته اووې چه ﴿ هذا ابوبکر يستاذن عليک ﴾ چه دا ابوبکر ﷛ د دننه راتلو اجازت غواړی، په دې باندې هغې اووې چه ستاسو په نزد دا مناسب ده چه زه هغوی ته د دننه راتلو اجازت ورکړم، علی ﷛ د دې جواب په اثبات کښې ورکړو پس فاطمې ﷞ اجازت ورکړو ﴿ فدخل عليها فترضاها حتی رضيت ﴾ چه ابوبکرصديق ﷛ هغې ته ورغلو او هغه ئې رضا کړه او پوخلا ئې کړه. ﴿ قال الحافظ وهو وان کان مرسلا فاسناده الی الشعبی صحيح وبه يزول الاشکال فی تمادی فاطمة ﷞ علی هجر ابی بکر ﷛ ﴾ د دې ټولو نه پس په حاشيه د لامع باندې شيخ خپله رائې دا بيان کړې ده چه که دا پورته ذکر کړې شوې توجيهات نظر انداز هم کړې شی او دا اومنلې شی چه د فاطمې ﷞ خفګان او ترک د سلام کلام د ميراث د وجې نه وو نو بيا هم څه اشکال نشته بلکه دا د فاطمې ﷞ تصلب فی الدين دې او د هغې حق شرعی چه د هغې په نزد شرعا واجب او ثابت دې د هغې مطالبه وه او دا خبره د صحابه کرامو ﷡ د احوالو نه معلوم او معروف ده چه هغوی د دين په معامله کښې ډير مضبوط او کلک ؤو، او هغوی به په دې کښې د لومة لائم هيڅ پرواه نه کوله، چونکه د فاطمې ﷞ په ذهن کښې دا خبره وه چه حديث ارث عام نه دې لهذا په ميراث کښې حق شرعی ثابت دې په دې وجه هغوی د خپل

شرعي حق په طلب کښې اصرار کونکې شوه او د صديق اکبر رضی الله عنه په نه ورکولو باندې ناراضه شوه، پس د هغې دا ناراضګی الله مه کړه د څه حرص او طلب دنيا په لحاظ نه وه، د هغې زهد او قناعت او اعراض عن الدنيا خو اظهر من الشمس دي بلکه د هغې دا ناراضګی د صديق اکبر رضی الله عنه د حق شرعي په انکار باندې وه. والله تعالی اعلم بالصواب

[۲۹۷۴] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا تَقْتَسِمُ وَرَثَتِي دِينَارًا مَا تَرَكْتُ بَعْدَ نَفَقَةِ نِسَائِي وَمُؤْنَةِ عَامِلِي فَهُوَ صَدَقَةٌ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: مُؤْنَةُ عَامِلِي يَعْنِي أَكَرَةَ الْأَرْضِ.

ابوهريره د نبی علیه السلام نه روايت نقل کوي چه فرمائيلي ئي وو زما د تري نه به يو دينار هم نه شي تقسيمولي زما ترکه کومه چه زما د بيبيانو د اخراجاتو او د عاملانو د مزدورئ نه زياته شي هغه صدقه ده.

﴿عن ابی هريرة رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال لا يقتسم ورثتی دينارا، ما ترکت بعد نفقة نسائی ومؤنة عاملی فهوصدقة﴾: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه زما وارثان دې زما مال د ميراث په طور نه اخلی، ځکه چه زه څه پرېږدم هغه پس د ازواجو د نفقې نه او پس د مؤنة د عامل نه ټول صدقه دي.

د عامل په تفسير کښې اختلاف دې، فقيل المراد به الخليفة، وقيل العامل على الصدقة، او خادمه صلی الله علیه وسلم والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی، قاله المنذری

[۲۹۷۵] (²) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مَرْزُوقٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ حَدِيثًا مِنْ رَجُلٍ فَأَعْجَبَنِي، فَقُلْتُ: اكْتُبْهُ لِي فَأَتَى بِهِ مَكْتُوبًا مُذَبَّرًا، دَخَلَ الْعَبَّاسُ، وَعَلِيٌّ عَلَى عُمَرَ، وَعِنْدَهُ طَلْحَةُ وَالزُّبَيْرُ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ، وَسَعْدٌ، وَهُمَا يَخْتَصِمَانِ فَقَالَ عُمَرُ: لِطَلْحَةَ، وَالزُّبَيْرِ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَسَعْدٍ: أَلَمْ تَعْلَمُوا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "كُلُّ مَالِ النَّبِيِّ صَدَقَةٌ إِلَّا مَا أَطْعَمَهُ أَهْلَهُ وَكَسَاهُمْ إِنَّا لَا نُورَثُ؟" قَالُوا: بَلَى قَالَ: فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْفِقُ مِنْ مَالِهِ عَلَى أَهْلِهِ وَيَتَصَدَّقُ بِفَضْلِهِ ثُمَّ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَوَلِيَهَا أَبُو بَكْرٍ سَنَتَيْنِ فَكَانَ يَصْنَعُ الَّذِي كَانَ يَصْنَعُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ ذَكَرَ شَيْئًا مِنْ حَدِيثِ مَالِكِ بْنِ أَوْسٍ.

د ابو البختري نه روايت دې فرمائی چه د يو سړی نه مې يو عجيب حديث واوريدو ورته مې ووئيل چه ليکلې ئې راته راکړه نو هغه راته په خوشخطئ سره ليکلې راوړو چه. عباس او علي رضی الله عنهما عمر ته راغلل او د هغه سره طلحه، زبير، وعبد الرحمن، او سعد رضی الله عنهم موجود وو او د دوی دواړو په مينځ کښې اختلاف وو نو عمر رضی الله عنه طلحه، زبير، او عبد الرحمن، وسعد رضی الله عنهم ته ووئيل ايا تاسو ته معلومه نده چه نبی علیه السلام فرمائيلی وو زما ټول مال صدقه ده؟ علاوه د هغه نه کوم چه زما په اهل عيال باندې خرچ کيږی هغوی ووئيل ولې نه اې امير المومنين مونږ ته معلومه ده چه فرمائيلې ئې وو عمر رضی الله عنه ووئيل چه نبی علیه السلام به د دې مال نه په خپل اهل عيال

¹): صحيح البخاري/الوصايا ۳۲ (۳۰۹٦)، فرض الخمس ۳ (۲۷۷٦)، الفرائض ۳ (٦۷۲۹)، صحيح مسلم/الجهاد ۱٦ (۱۷٦۰)، (تحفة الأشراف: ۱۳۸۰۵)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/ الكلام ۱۲ (۲۸)، مسند احمد (۲/۳۷٦) (صحيح)

²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳٦٤۹، ۳۹۵۲) (صحيح)

خرچ کولو اوچه کوم به زياتي شو هغه به ئې صدقه کولو، بيا ددې نه پس نبي ﷺ وفات اود دوه کالو دپاره ابوبکر رضي الله عنه ددې مال متولي جوړ شوهغه به هم داسې کول څنګه چه نبي ﷺ کړي وواوبيائي دمالك بن اوسه دحديث څه حصه ذکر کړله

﴿عن البختري قال سمعت حديثا من رجل فاعجبني فقلت اكتبه لي، فاتي به مكتوبا مذبرا﴾

ابوالبختري وائي چه ما ديو سړي يو حديث واوريدو نو زما هغه ډير زيات خوښ شو په دې وجه ما هغه ته اووې چه دا حديث ما ته اوليکه، پس هغه حديث ليکلې راوړو ډير غوره، وړاندې په روايت کښې د هغه حديث بيان دې دا هم هغه د علي او د عباس رضي الله عنهما د اختلاف حديث دې ـــ کوم چه دلته د باب په شروع کښې تفصيلي تير شوې دې. او بيا روستو په مختلفو رواياتو کښې د هغې قطعات تير شوې دی، چه د هغې راوی مالک بن اوس بن الحدثان دې، په دې روايت کښې د رجل مبهم نه هم دا مراد دې.

[۲۹۷۶](١) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: إِنَّ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَدْنَ أَنْ يَبْعَثْنَ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ فَيَسْأَلْنَهُ ثُمُنَهُنَّ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ لَهُنَّ عَائِشَةُ: أَلَيْسَ قَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا فَهُوَ صَدَقَةٌ".

د ام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه کله نبي ﷺ وفات شونود نبي ﷺ ازواج مطهراتو اوغوښتل چه عثمان رضي الله عنه ابوبکر الصديق ته اوليږي چه ددوی دپاره ترې دنبي ﷺ په مال کښې اتمه حصه راوړي نوپه دې وخت کښې ورته ام المومنين عائشې رضي الله عنها اوفرمائيل ايا تاسو ته نده معلومه چه نبي ﷺ فرمائيلي وو: زمونږ څوک وارث نشته او څه چه مونږ پريږدو هغه صدقه ده.

﴿عن عائشة رضي الله عنها قالت ان ازواج النبي ﷺ حين توفي الخ﴾

د دې روايت مضمون دلته بالکل د باب په شروع کښې تير شوې دې چه د رسول الله ﷺ ازواج مطهرات هم د صديق اکبر رضي الله عنه د خپل ميراث د طلب کولو اراده کړې وه د عائشې رضي الله عنها په حديث وريادولو باندې هغوی خپله اراده ملتوی کړې وه.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي، قاله المنذري

[۲۹۷۷](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ حَمْزَةَ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، بِإِسْنَادِهِ نَحْوَهُ قُلْتُ: أَلَا تَتَّقِينَ اللَّهَ أَلَمْ تَسْمَعْنَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا فَهُوَ صَدَقَةٌ"، وَإِنَّمَا هَذَا الْمَالُ لِآلِ مُحَمَّدٍ لِنَائِبَتِهِمْ وَلِضَيْفِهِمْ فَإِذَا مِتُّ فَهُوَ إِلَى مَنْ وَلِيَ الْأَمْرَ مِنْ بَعْدِي.

اوهمدا رنګې دا روايت ابن شهاب زهري نه په بل سند سره هم دتيرروايت په شان منقول دې مګرددې اضافې سره چه عائشه رضي الله عنها وائي ما امهات المومنين ته ووئيل ايا تاسو دالله تعالى نه نه ويريږئ، او ايا تاسو ته نده معلومه چه نبي ﷺ فرمائيلي وو: زمونږ څوک وارث

(١): صحيح البخاري/المغازي ١٤ (٤٠٣٤)، الفرائض ٣ (٦٧٣٠)، صحيح مسلم/الجهاد ١٦ (١٧٥٨)، موطا امام مالك/ الكلام ١٢ (٢٧)، (تحفة الأشراف: ١٦٥٩٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٥، ٢٦٢) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٤٠٧)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الشمائل (٤٠٢)، مسند احمد (١٤٥/٦) (حسن)

نشته او څه چه مونږ پرېږدو هغه صدقه ده. الحمد لله تعالى چه ﴿ باب فى صفايا رسول ﷺ ﴾ چه دا يو اوږد او اهم باب وو .د هغې د احاديثو شرح او بحث پوره شو.

بَابٌ فِي بَيَانِ مَوَاضِعِ قَسْمِ الْخُمُسِ وَسَهْمِ ذِي الْقُرْبَى

نبي عليه السلام به خمس چرته اوپه کومو رشته دارانو تقسيمولو؟

د تير شوى باب او د هغې د احاديثو تعلق خو د مال فئ سره وو. په دې باب کښې د خمس غنيمت حکم او دا چه هغه به اوس په کومو کومو مصارفو کښې تقسيمولې شي.

د تقسيم غنيمت په باره کښې اية کريمه :

د مال غنيمت د تقسيم طريقه خپله په قرآن کريم کښې منصوص او مصرح ده. ﴿ واعلموا انما غنمتم من شئ فان لله خمسه وللرسول ولذى القربى واليتامى والمساكين وابن السبيل ﴾ يعنى اول د دې ټول مال غنيمت تخميس اوکړې شى يعنى د هغې دې برابر پنځه حصې کړې شى او بيا دې يوه حصه په هغه مواقعو کښې کوم چه په دې آيت کريمه کښې ذکر کړې شوې دى په هغوى کښې دې تقسيم کړې شى. او باقى اربعة اخماس دې ښکاره ده چه په مجاهدينو تقسيم کړې شى، په دې آيت کريمه کښې د تقسيم خمس شپږ ځايونو ذکر شوې دى. چه هغې کښې د ټولو نه اول د الله پاک نوم دې، په دې باره کښې د جمهورو رائې دا ده چه هر څه خو د الله پاک دى، د الله پاک نوم دلته د برکت دپاره ذکر شوې دې. امام نسائی رحمه الله په خپل سنن صغرى کښې د دې پوره آيت کريمه د ذکر کولو نه پس چه خپله د دې آيت کومه تشريح په خپل کلام سره کړې ده، کافى مفصل کلام دې هغوى د الله پاک د نوم د ذکر کولو هم دا وجه بيان کړې ده او يوه خبره ئې بله ليکلې ده ﴿ولعله انما استفتح الكلام فى الفئ والخمس بذكر نفسه لانها اشرف الكسب ولم ينسب الصدقة الى نفسه عزوجل لانها اوساخ الناس ﴾ يعنى الله پاک د صدقې مصارف چه چرته بيان کړې دى هلته ئې په شروع کښې خپل نوم نه دې ذکر کړې بلکه داسې ئې فرمائيلې دى ﴿ انما الصدقات للفقراء والمساكين والعاملين عليها الخ ﴾ په خلاف د غنيمت کښې چه هغه د اشرف المکاسب نه دې.[1]

---

[1]) **د اشرف المکاسب بحث** : په دې سلسله کښې امام بخارى رحمه الله هم په کتاب البيوع کښې يو باب قائم فرمائيلې دې. ﴿ باب كسب الرجل وعمله بيده ﴾ ﴿ واخرج فيه عن المقدام عن النبي ﷺ قال ما اكل احد طعاما قط خيرا من ان ياكل من عمل يده وان نبي الله داؤد كان ياكل من عمل يديه ، وايضا اخرج حديث عائشة رضي الله عنها قالت لما استخلف ابوبكر الصديق رضي الله عنه قال لقد علم قومي ان حرفتي لم تكن تعجز عن مؤنة اهلي وشغلت بامر المسلمين فسياكل آل ابي بكر من هذا المال ويحترف للمسلمين فيه (البخاري ۲۷۸/۱) وفي (الابواب والتراجم ۲۳٤/۲) عن الحافظ قد اختلف العلماء في افضل المكاسب، قال الماوردي : اصول المكاسب الزراعة والتجارة والصنعة، والاشبه بمذهب الشافعي ان اطيبها التجارة قال والارجح عندي ان اطيبها الزراعة لانها اقرب الي التوكل، وتعقبه النووي بحديث المقدام، وان الصواب ان اطيب الكسب ما كان بعمل اليد، قال فان كان زراعا فهو اطيب المكاسب لما يشتمل عليه من كونه عمل اليد ولما فيه من التوكل الي آخر ما قال. قال الحافظ : وفوق ذلك من عمل اليد ما يكتسب من اموال الكفار بالجهاد وهو مكسب النبي ﷺ واصحابه وهو اشرف المكاسب لما فيه من اعلاء كلمة الله تعالي ، خذلان كلمة اعدائه، والنفع الاخروي، قال ومن لم يعمل بيده فالزراعة في حقه افضل. الي آخر ما في الابواب والتراجم من اقوال الشراح في ذلك وفيه قلت وظاهر الترجمة الاشارة الي ترجيح الحرفة وبه صرح العيني والقسطلاني. الي آخر ما فيه فارجع اليه لو شئت التفصيل ﴾

په دې وجه ئې د دې شروع د خپل نوم نه اوکړه، او صدقات چونکه اوساخ الناس دی هلته الله پاک خپل نوم نه دې ذکر کړې او بيا وړاندې هغوی د بعض علماء کرامو دا مذهب نقل کړې دې چه د هغوی رائې دا ده چه د غنيمت په مال کښې دې د الله پاک په نوم هم ويستلې شی او بيا دې هغه په خانه کعبه باندې خرچ کړې شی، الی آخر ما ذکر او د دې بعض نه مراد ابو العاليه دې.

د ترجمة الباب والا مسئله کښې مذاهب د امامانو:

د دې نه پس تاسو د ترجمة الباب سره متعلق د خلاصې په طور څان په دې باندې پوهه کړئ هغه دا چه د غنيمت د خمس په باره کښې په امامانو کښې د امام مالک رحمه الله رائې دا ده چه د دې تقسيم د امام په رائې باندې دې. ټول مصارف ذکر کړې شوې په آيت کښې خرچ کول ضروری نه دی خو د ذوی القربی هغه حصه به ضرور لګولې شی، او د شوافعو او د حنابله مسلک دا دې چه خمس د غنيمت به د رسول الله ﷺ د وفات نه پس هم پنځه ځايه تقسيم کولې شی، پس د رسول الله ﷺ حصه به هم ويستلې شی کومه چه به امام المسلمين هلته خرچ کوی کوم ځائې چه به خپله رسول الله ﷺ خرچ کوله، په مصالح مسلمين کښې، او باقی څلور حصې به هغوی ته ورکولې شی کوم چه په آيت کريمه کښې ذکر کړې شوې دی، او د احنافو مسلک په دې کښې دا دې چه د رسول الله ﷺ حصه د هغوی د وفات نه پس ساقط شوه، هم دغه شان د سهم د ذوی القربی په باره کښې هم د دې رائې دا دې چه هغوی ته به د فقر د وجې نه ورکولې شو، لهذا فقراء او ذوی القربی ته به ورکولې شی اغنياء ته نه. لهذا باقی درې چه کومې پاتې شوې (يتامی، مساکين، ابن السبل) هم په دوی کښې به دا تقسيم کولې شی، او هغوی درې واړو ته هم د هغوی په نزد د مستحق کيدو په حيثيت سره نه بلکه د مصرف کيدو په حيثيت سره ورکولې شی، حتی لو صرف الی صنف واحد منهم جاز، امام نسائی رحمه الله هم د سهم ذوی القربی په باره کښې خپله رائې هم داليکلې ده کومه چه د احنافو ده، پس هغوی فرمائی ﴿وقد قيل انه للفقير منهم دون الغنی کاليتامی وابن السبيل وهو اشبه القولين بالصواب عندی، والله اعلم آهـ

او په دې باندې هم څان پوهول پکار دی چه د خمس په تقسيم کښې د ذوی القربی په مصداق کښې د بنو هاشم سره بنو المطلب هم داخل دی لکه چه حديث الباب کښې د دې ذکر را روان دې خو د زکوة په مسئله کښې د بنوهاشم سره د بنو المطلب داخليدل مختلف فيه دی وقد مر فی کتاب الزکوة.

[۲۹۷۸](1) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُبَارَكِ، عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ، أَخْبَرَنِي جُبَيْرُ بْنُ مُطْعِمٍ، أَنَّهُ جَاءَ هُوَ وَعُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ يُكَلِّمَانِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا قَسَمَ مِنَ الْخُمُسِ بَيْنَ بَنِي هَاشِمٍ وَبَنِي الْمُطَّلِبِ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ قَسَمْتَ لِإِخْوَانِنَا بَنِي الْمُطَّلِبِ، وَلَمْ تُعْطِنَا شَيْئًا وَقَرَابَتُنَا وَقَرَابَتُهُمْ مِنْكَ وَاحِدَةٌ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ

(1): صحيح البخاري/الخمس ١٧ (٣١٤٠)، المناقب ٢ (٣٥٠٢)، المغازي ٣٩ (٤٢٢٩)، سنن النسائي/الفيء (٤١٤١)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٤٦ (٢٨٨١)، (تحفة الأشراف: ٣١٨٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٨١، ٨٣، ٨٥) (صحيح)

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا بَنُو هَاشِمٍ وَبَنُو الْمُطَّلِبِ شَيْءٌ وَاحِدٌ"، قَالَ جُبَيْرٌ: وَلَمْ يَقْسِمْ لِبَنِي عَبْدِ شَمْسٍ وَلَا لِبَنِي نَوْفَلٍ مِنْ ذَلِكَ الْخُمُسِ كَمَا قَسَمَ لِبَنِي هَاشِمٍ وَبَنِي الْمُطَّلِبِ، قَالَ: وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يَقْسِمُ الْخُمُسَ نَحْوَ قَسْمِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، غَيْرَ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ يُعْطِي قُرْبَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِيهِمْ، قَالَ: وَكَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يُعْطِيهِمْ مِنْهُ وَعُثْمَانُ بَعْدَهُ.

دجبير بن مطعم نه روايت دي فرمائي چه زه اوعثمان بن عفانه دنبي عليه السلام په خدمت كښي ددې خمس متعلق دګفتګو دپاره حاضرشوكوم چه نبي عليه السلام په بنوهاشم اوبنوعبد المطلب باندې تقسيم كړي ووما عرض وكړوچه اې دالله رسوله زمونږ ورونړو بنوعبد المطلب ته دې حصه وركړه او مونږته دې هيڅ رانكړل او زمونږ اودهغوى درسره يوبرابر رشته ده نبي عليه السلام اوفر مائيل بنوعبد المطلب اوبنوهاشم يوشي دي. جبير وائى چه نبي عليه السلام بنوعبد شمس اوبنى نوفل ته ددې خمس نه څه نه وو وركړى لكه څنګه چه ئي بنوعبد المطلب اوبنوهاشم ته وركړى وو، ددې نه بعد ابوبكر الصديق نه به هم په دې طريقه باندې دنبي عليه السلام دتقسيم په شان تقسيم كولو، ليكن هغه به دنبي عليه السلام رشته دارونه دومره څه نه وركول لكه څنګه چه څومره به ورته نبي عليه السلام وركول، جبيره وائى چه عمر رضي الله عنه به ورته ددې خمس نه وركول اودهغه نه پس عثمانه به ورته هم وركول

﴿ اخبرنى جبير بن مطعم انه جآء هو وعثمان بن عفان رضي الله عنه يكلمان رسول الله ﷺ فى ما قسم من الخمس بين بنى هاشم وبنى المطلب الخ ﴾

مضمون الحديث:

د حديث په مضمون باندې د پوهيدو نه مخكښې تاسو څان پوهه كړئ چه رسول الله ﷺ خمس د ذوى القربى لره د بنوهاشم او بنو المطلب ترمينځه تقسيم فرمائيلې وو، په دې باندې جبير بن مطعم رضي الله عنه چه نوفلي وو د نوفل بن عبدمناف په اولاد كښې دې، او عثمان رضي الله عنه چه عبشمى دې چه د عبدشمس بن عبدمناف په اولاد كښې دې، دا دواړه د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضر شواو دا عرض ئې اوكړو چه تاسو زمونږ د رور بنو المطلب دپاره په خمس كښې حصه لګولې ده او مونږ دواړو ته مو هيڅ رانه كړل حال دا چه خپلولى د بنوالمطلب چه تاسو سره ده هم هغه بنونوفل او بنو عبدشمس هم ده [1] رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ انما بنوهاشم وبنو المطلب شئ واحد ﴾ په دې روايت كښې خو صرف هم دا دى او وراندې دا راځى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه بنوهاشم او بنو المطلب هميشه په جاهليت كښې هم او په اسلام كښې هم يو ځائې پاتې شوې دى ﴿وانما نحن وهم شئ واحد وشبك بين اصابعه ﴾ يعنى هغوى په خپلو ګوتو كښې ګوتې داخلولو سره اوفرمائيل چه دا دواړه قبيلې هميشه داسې پاتې شوې دى، د رسول الله ﷺ د دې جواب حاصل دا شو چه دا خو صحيح ده

[1] د رسول الله ﷺ د څلورم نيكۀ عبدمناف څلور خامن وو، هاشم، مطلب، نوفل، عبدشمس، لهذا دا څلور خاندانونه شو، بنوهاشم چه په هغې كښې رسول الله ﷺ دې، بنوالمطلب، بنونوفل، بنو عبدشمس. د جبير سلسله نسب دادې جبير بن مطعم بن عدى بن نوفل بن عبدمناف، د عثمان رضي الله عنه دا دې، عثمان بن عفان بن ابى العاص بن امية بن عبدشمس بن عبدمناف،

چه د خپلولئ په اعتبار سره څلور واړه خاندانونه برابر دی، خو بنو المطلب ته چه څه ورکړې شوې دی هغه صرف د خپلولئ په وجه باندې نه دی بلکه د قرابت مع النصر والاعانة په وجه باندې، کوم چه په بنو المطلب کښې موندلې شی، باقی دواو کښې مفقود دی.

وړاندې په روایت کښې دی ﴿ وكان ابوبكر يقسم الخمس نحو قسم رسول الله ﷺ غير انه لم يكن يعطى قربى رسول الله ﷺ ما كان النبى ﷺ يعطيهم قال فكان عمر بن الخطاب يعطيهم منه وعثمان بعده ﴾ یعنی ابوبکر رضی الله عنه هم د خمس هم داسې تقسیم فرمائیلو څنګه چه رسول الله ﷺ تقسیمولو، بس فرق دا وو چه رسول الله ﷺ خو به ذوی القربی ته د هغوی حصه ورکوله، خو ابوبکرصدیق رضی الله عنه به نه ورکوله. هم دغه شان به عمر او عثمان رضی الله عنهما هم د رسول الله ﷺ په شان ورکړه کوله.

د صدیق اکبر رضی الله عنه د دې عمل نه د احنافو د ذوی القربی د مسئلې تائید کیږی چه د هغوی مستقل حصه نه وه بلکه د حاجت اوفقر په وخت کښې (بذل) کښې لیکلې دی چه غالبًا د صدیق اکبر رضی الله عنه هغوی ته نه ورکول هم په دې وجه وو چه هغوی د ابوبکر رضی الله عنه په زمانه کښې مالدار وو، او هغوی غیر ذوی القربی لره احوج اوګڼړل د هغوی نه په دې وجه ئې هغوی له ورکړه والحديث اخرجه البخاري والنسائي وابن ماجة مختصرا. قاله المنذرى

[۲۹۷۹](١) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، حَدَّثَنَا جُبَيْرُ بْنُ مُطْعِمٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَقْسِمْ لِبَنِي عَبْدِ شَمْسٍ وَلَا لِبَنِي نَوْفَلٍ مِنَ الْخُمُسِ شَيْئًا كَمَا قَسَمَ لِبَنِي هَاشِمٍ وَبَنِي الْمُطَّلِبِ، قَالَ: وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يَقْسِمُ الْخُمُسَ نَحْوَ قَسْمِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، غَيْرَ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ يُعْطِي قُرْبَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَمَا كَانَ يُعْطِيهِمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ عُمَرُ يُعْطِيهِمْ وَمَنْ كَانَ بَعْدَهُ مِنْهُمْ.

دجبیر بن مطعم رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام بنوعبد شمس اوبنی نوفل ته ددې خمس نه هیڅ نه وو ورکړی لکه څنګه چه ئې بنوعبد المطلب اوبنوهاشم ته ورکړی وو، جبیره وائی چه ابوبکر الصدیق رضی الله عنه به هم په دې طریقه باندې دنبی علیه السلام دتقسیم په شان تقسیم کولو، لیکن هغه به دنبی علیه السلام رشته داروته پداسې شان څه نه ورکول لکه څنګه چه به ورته نبی علیه السلام ورکول، او عمر رضی الله عنه به ورته ددې خمس نه ورکول اوچاچه دده نه پس خلافت کړې دې هغوی به ورته هم ورکول.

[۲۹۸۰](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، أَخْبَرَنِي جُبَيْرُ بْنُ مُطْعِمٍ، قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ خَيْبَرَ وَضَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَهْمَ ذِي الْقُرْبَى فِي بَنِي هَاشِمٍ وَبَنِي الْمُطَّلِبِ وَتَرَكَ بَنِي نَوْفَلٍ وَبَنِي عَبْدِ شَمْسٍ، فَانْطَلَقْتُ أَنَا وَعُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ حَتَّى أَتَيْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ هَؤُلَاءِ بَنُو هَاشِمٍ لَا نُنْكِرُ فَضْلَهُمْ لِلْمَوْضِعِ الَّذِي وَضَعَكَ اللَّهُ بِهِ مِنْهُمْ، فَمَا بَالُ إِخْوَانِنَا بَنِي الْمُطَّلِبِ أَعْطَيْتَهُمْ وَتَرَكْتَنَا وَقَرَابَتُنَا وَاحِدَةٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّا وَبَنُو الْمُطَّلِبِ لَا نَفْتَرِقُ فِي جَاهِلِيَّةٍ وَلَا إِسْلَامٍ وَإِنَّمَا نَحْنُ وَهُمْ شَيْءٌ وَاحِدٌ وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ".

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٣١٨٥) (صحيح)

دجبیر بن مطعم رضی الله عنه نه روایت دي فرمائي چه کله دغزوه خیبر نه فراغت حاصل شونونبي عليه السلام دذوي القربي حصه په بنی هاشم اوبنو عبد المطلب باندې تقسیم کړه اوبنی نوفل اوبنی عبد شمس ئې پریخودل نوزه اوعثمان څه دنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضرشواوعرض مووکړوچه اې دالله رسوله داهغه بنوهاشم دي دچادفضیلت نه چه مونږ انکارنه کووپه وجه ددې چه الله تعالی ته ددوی نه پیداکړي ئي لیکن دبنو عبد المطلب په باره کښې ستاڅه راې ده؟ چه هغوی ته دې حصه ورکړه او مونږته دې رانکړه حالانکه زمونږ اودهغوی درسره یوشان رشته ده؟نبی عليه السلام اوفرمائیل: مونږ اوبنوعبد المطلب هیڅ کله نه یوجداشوي نه په جاهلیت کښې اونه په اسلام کښې او مونږ اوهغوی یو شي یواودیولاس ګوتې ئې دبل لاس په ګوتوکښې ننویستلې.

[٢٩٨١](١) حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ الْعِجْلِيُّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنِ الْحَسَنِ بْنِ صَالِحٍ، عَنِ السُّدِّيِّ ﴿ذِي الْقُرْبَى﴾، قَالَ: هُمْ بَنُو عَبْدِ الْمُطَّلِبِ.

دسدي نه روایت دې چه فرمائیل ئې په قران کریم کښې دذوي القربي نه مراد بنی عبد المطلب دي.

﴿ عن السدی فی ذوی القربی قال هم بنو عبدالمطلب ﴾: حضرت په بذل کښې لیکلي دی چه ټولو مطبوعه او قلمی نسخو کښې داسې دی، خو نسخه مصریه کښې د دې په ځائې بنو مطلب دې، که بنو المطلب وی (٢) په دې صورت کښې به مطلب دا وی چه د بنوهاشم سره په دې کښې صرف بنو المطلب شامل دی یعنی بنو نوفل او بنو عبد الشمس د ذوی القربی په مصداق کښې داخل نه دی، او که دلته په روایت کښې بنو عبد المطلب دې نو چونکه هغه خو په بنو هاشم کښې هم اخص دې پاتې لا دا چه بنو المطلب ته شامل وی، په دې وجه داسې به وئیلې شي چه د دې تفسیر نه مقصود حصر نه دی.

[٢٩٨٢](٣) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ، حَدَّثَنَا يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَخْبَرَنِي يَزِيدُ بْنُ هُرْمُزَ، أَنَّ نَجْدَةَ الْحَرُورِيَّ. حِينَ حَجَّ فِي فِتْنَةِ ابْنِ الزُّبَيْرِ أَرْسَلَ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ يَسْأَلُهُ عَنْ سَهْمِ ذِي الْقُرْبَى، وَيَقُولُ: لِمَنْ تَرَاهُ؟ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: لِقُرْبَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَسَمَهُ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ كَانَ عُمَرُ عَرَضَ عَلَيْنَا مِنْ ذَلِكَ عَرْضًا رَأَيْنَاهُ دُونَ حَقِّنَا فَرَدَدْنَاهُ عَلَيْهِ وَأَبَيْنَا أَنْ نَقْبَلَهُ..

د یزیدبن هرمزنه روایت دي فرمائي کله چه دابن الزبیردشهادت په وخت کښې نجدة الحروري دخوارجو مشر)حج کولونوذوی القربی د معلومولوډپاره ئې ابن عباس ته یوکس ورولیږلو او وئې وئیل: چه ستاپه خیال ددې به څوك مراد دي کوم چه په دې آیت کریمه واعلموا انما غنمتم کښې ذکردي؟ ابن عباس رضی الله عنه اوفرمائیل ددې نه دنبی عليه السلام رشته دار مراد

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٤٣٨) (ضعيف)

(٢) بنو المطلب او بنو عبدالمطلب ترمنځه فرق ښکاره ده چه عبدالمطلب د هاشم خوئې دې او المطلب د هاشم رور دې.

(٣): صحيح مسلم/الجهاد ٤٨ (١٨١٢)، سنن الترمذي/السير ٨ (١٥٥٦)، سنن النسائي/الفيء (٤١٣٨)، (تحفة الأشراف: ٦٥٥٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٤٨/١، ٢٩٤، ٣٠٨، ٣٢٠، ٣٤٤، ٣٤٩، ٣٥٢) (صحيح)

دي، اوعمرهدوی ته ددرې حصه پیش کړې وه اودهغې نه ئې څه حصه مونږته هم پیش کړې وه لیکن مونږهغه کمه وګڼله اوورته مو ورواپس کړه اودهغې د بلولونه مو انکاروکړو.

﴿ اخبرنا یزید بن هرمز ان نجدة الحروری حین حج فی فتنة ابن الزبیر ارسل الی ابن عباس رضی الله عنهما یساله عن سهم ذی القربی ویقول لمن تراه؟ ﴾

مضمون د حدیث :

حروری یعنی خارجي او دا نجدة رئیس الخوارج وو. د عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما د قتال په کال کښې چه کله هغه حج اوکړو نو ابن عباس رضی الله عنهما ته ئې یو قاصد اولیږلو او د سهم ذوی القربی په باره کښې تري نه تپوس اوکړو چه چاته ملاویدل پکار دی ستاسو رائې څه ده؟ ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلوانو دپاره لکه څنګه چه به خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی حصه لګوله. وړاندې ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه یو ځل عمر رضی الله عنه هم په دې حصه کښې مونږته هم پیش کړې وه خو مونږ هغې لره د خپل حق نه کم ګڼړلو سره رد کړې وه.

په دې روایت سره یو حیثیت سره د احنافو تائید کیږی د سهم ذوی القربی په سلسله کښې هغه دا چه د هغه حق او حصه د حاجت په وخت او په اندازه د حاجت ده نو عمر رضی الله عنه په اندازه د حاجت پیش فرمائیلې وه. او د ابن عباس رضی الله عنهما د طرز عمل نه د شوافعو او حنابله د مسلک تائید کیږی چه د هغوی په نزد د هغوی حصه مطلقا په هر صورت کښې واجب ده. دا د قتال ابن الزبیر واقعه او د دې بیان په کتاب الحج کښې تیر شوې دې.

والحدیث اخرجه مسلم والنسائی، قاله المنذری

[۲۹۸۳](۱) حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي بُكَيْرٍ، حَدَّثَنَا أَبُو جَعْفَرٍ الرَّازِيُّ، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، قَالَ: سَمِعْتُ عَلِيًّا يَقُولُ: وَلَّانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُمُسَ الْخُمُسِ فَوَضَعْتُهُ مَوَاضِعَهُ حَيَاةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَحَيَاةَ أَبِي بَكْرٍ، وَحَيَاةَ عُمَرَ فَأُتِيَ بِمَالٍ فَدَعَانِي، فَقَالَ: خُذْهُ فَقُلْتُ: لَا أُرِيدُهُ قَالَ: خُذْهُ فَأَنْتُمْ أَحَقُّ بِهِ، قُلْتُ قَدِ اسْتَغْنَيْنَا عَنْهُ فَجَعَلَهُ فِي بَيْتِ الْمَالِ.

د علی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام ماته د خمس پنځمه حصه راکړه نوما به هغه په خپلو امور و او ضروریاتو کښې خرچ کوله ترڅوچه نبی علیه السلام او ابوبکر اوعمر رضی الله عنهما ژوندې وو، بیاچه کله یوځل عمر رضی الله عنه ته ډیر مال راغې نوزه ې را اوغوښتلم اوراته ئې اووئیل چه دا مال ته واخله ماورته ووئیل چه زه دا نه اخلم هغه راته اووئیل چه واخله ته ددې حقدارئې ماعرض وکړوچه ماته ددې ضرورت نشته بیاهغه عمر رضی الله عنه په بیت المال کښې جمع کړو.

د علی رضی الله عنه تولیة په خمس الخمس کښې :

﴿ عن عبدالرحمن بن ابی لیلی قال سمعت علیا رضی الله عنه یقول ولانی رسول الله صلی الله علیه وسلم خمس الخمس فوضعته مواضعه حیاة رسول الله صلی الله علیه وسلم وحیاة ابی بکر وحیاة عمر الخ ﴾: په دې حدیث کښې چه په خمس غنیمت کښې چه کومه حصه د ذوی القربی ده خمس الخمس، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه د علی رضی الله عنه په تولیة کښې ورکړې وو یعنی ذوی القربی کښې د تقسیمولو دپاره، ستاسو په

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۲۲٤) (ضعيف الإسناد)

ژوند کښې هم داسې وه، او د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما په ژوند کښې هم، یعنی هغوی دواړو هم په خپله زمانه د خلافت کښې د علی په تولیة کښې هغه ته ورکړې وو. پس علی رضی الله عنه فرمائی چه ما دا تقسیموله. د رسول الله ﷺ په حیات کښې هم او د شیخینو په حیات کښې هم، وړاندې هغه فرمائی چه یو ځل عمر رضی الله عنه زه راوغوښتلم او ماته ئې اوفرمائیل واخله خپله حصه، ما اووې چه زما اراده نه ده د اخستلو. هغوی دوباره اووې په دې ما باندې ما عرض اوکړو چه دې کال مونږ ته د دې نه استغناء حاصله ده. پس هغوی هغه بیا په بیت المال کښې داخل کړو د دې نه هم د احنافو د مسلک تائید کیږی چه اوګورئ علی رضی الله عنه د عدم حاجت په وخت دا نه وو اخستلې

تنبیه : د علی رضی الله عنه د دې روایت نه هم معلومیږی چه علی رضی الله عنه ته د دې ذوی القربی د حصې تولیت د رسول الله ﷺ او د شیخینو رضی الله عنهما د طرف نه ملاؤ شوې وو. او د دې نه مخکښې د جبیر بن مطعم رضی الله عنه په دواړو روایتونو کښې دا تیر شوی دی چه صدیق اکبر رضی الله عنه د خپل خلافت په زمانه کښې ذوی القربی ته د هغوی حصه په خمس کښې ورنکړه، فالحدیثان متعارضان ـــــــ شیخ ابن الهمام رحمه الله د دې تعارض جواب د حافظ منذری رحمه الله نه دا نقل کړې دې ﴿ الصحیح حدیث جبیر وحدیث علی لا یصح ﴾ پس صحیح دا ده چه د رسول الله ﷺ او عمرفاروق او عثمان رضی الله عنهما د طرف خو علی رضی الله عنه متولی جوړ کړې شوې وو و د صدیق اکبر رضی الله عنه د طرف نه وو جوړ کړې شوې. (بذل)

د دې نه روستو روایت کښې هم داسې راروان دی دې ته به هم داسې وئیلې شی، او په دې کښې به دا هم راځی چه ﴿ حتی اذا کانت اخر سنة من سنی عمر فانه اتاه مال کثیر فعزل حقنا ثم ارسل الی فقلت : بناعنه العام غنی، وبالمسلمین الیه حاجة ﴾ دا مضمون د دې نه په مخکښې روایت کښې تیر شوې دې.

[۲۹۸٤]([1]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ الْبَرِيدِ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ مَيْمُونٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، قَالَ: سَمِعْتُ عَلِيًّا عَلَيْهِ السَّلَامُ يَقُولُ: اجْتَمَعْتُ أَنَا، وَالْعَبَّاسُ، وَفَاطِمَةُ، وَزَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنْ رَأَيْتَ أَنْ تُوَلِّيَنِي حَقَّنَا مِنْ هَذَا الْخُمُسِ فِي كِتَابِ اللَّهِ، فَأَقْسِمْهُ حَيَاتَكَ كَيْ لَا يُنَازِعَنِي أَحَدٌ بَعْدَكَ فَافْعَلْ، قَالَ: فَفَعَلَ ذَلِكَ قَالَ: فَقَسَمْتُهُ حَيَاةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ وَلَّانِيهِ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حَتَّى إِذَا كَانَتْ آخِرُ سَنَةٍ مِنْ سِنِي عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَإِنَّهُ أَتَاهُ مَالٌ كَثِيرٌ فَعَزَلَ حَقَّنَا، ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَيَّ فَقُلْتُ: بِنَا عَنْهُ الْعَامَ غِنًى وَبِالْمُسْلِمِينَ إِلَيْهِ حَاجَةٌ فَارْدُدْهُ عَلَيْهِمْ فَرَدَّهُ عَلَيْهِمْ، ثُمَّ لَمْ يَدْعُنِي إِلَيْهِ أَحَدٌ بَعْدَ عُمَرَ، فَلَقِيتُ الْعَبَّاسَ بَعْدَ مَا خَرَجْتُ مِنْ عِنْدِ عُمَرَ، فَقَالَ: يَا عَلِيُّ حَرَمْتَنَا الْغَدَاةَ شَيْئًا لَا يُرَدُّ عَلَيْنَا أَبَدًا وَكَانَ رَجُلًا دَاهِيًا.

د علی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زه اوعباس اوفاطمه اوزیدبن حارثه رضی الله عنهم یوځل دنبی علیه السلام په خدمت کښې جمع شوماعرض وکړوچه اې دالله رسوله د قران کریم مطابق چه زمونږ په خمس کښې کوم حق دې هغه مونږته په خپل ژوند کښې راکړه ددې دپاره چه ستانه پس

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٢١٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٤/١) (ضعيف الإسناد)

ځوك پرې راسره جګړه ونكړي چنانچه نبي عليه السلام همداسې وكړل نوترڅوچه نبي عليه السلام ژوندې وو مابه داتقسيموو، دهغه نه پس بيا ابوبكرهم زه ددې اختيارمند كړې وم تردې چه دعمر ددورخلافت آخرى كال راغې نو ډېرمال ورته راغې په هغې كښې ئې زمونږ حصه مقرركړه اوزه ئې طلب كم ماعرض وكړو سږكال مونږته دمال ضرورت نشته نورو مسلمانانو ته ددې ضرورت دې نوعمردغنيمت په نور مال كښې شامل كړوبيادعمرنه پس زه هيڅچادې مال دپاره نه يم راغوښتلې نوكله چه زه دعمرنه راووتلم نوعباس رضي الله عنه نه سره مې ملاقات اوشوهغه ووئيل اې عليه دنن نه پس تامرنږله ديوشى نه محروم كړوددې نه پس به هيڅكله داحصه مونږته ملاو نه شى، اوعباس ډيرذكي او دانشمند سړې وو

په وړاندې روايت كښې دا دى ﴿ ثم لم يدعني اليه احد بعد عمر، فلقيت العباس بعد ما خرجت من عند عمر : فقال يا علي : حرمتنا الغداة شيئا لا يرد علينا ابدا، وكان رجلا داهيا ﴾

سيدنا علي رضي الله عنه فرمائي چه زما د يو ځل رد كولو نه پس چا هم زه د هغې طرف ته نه يم بللې، د عمر رضي الله عنه نه پس، وړاندې دا هم دى چه كله زه د عمر رضي الله عنه د مجلس نه راووتلم نو زما ملاقات د عباس رضي الله عنه سره اوشو نو هغوى ماته اوفرمائيل اې على! نن تا مونږ د خپلې حصې نه محروم كړو، اوس به كله هم مونږ ته نه ملاويږى، على رضي الله عنه فرمائي چه حقيقت دا وو چه عباس رضي الله عنه ډير فهيم او تجربه كار انسان وو.

[۲۹۸۵](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ، حَدَّثَنَا يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْحَارِثِ بْنِ نَوْفَلٍ الْهَاشِمِيُّ، أَنَّ عَبْدَ الْمُطَّلِبِ بْنَ رَبِيعَةَ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ أَخْبَرَهُ، أَنَّ أَبَاهُ رَبِيعَةَ بْنَ الْحَارِثِ، وَعَبَّاسَ بْنَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، قَالَا: لِعَبْدِ الْمُطَّلِبِ بْنِ رَبِيعَةَ، وَلِلْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ ائْتِيَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُولَا لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ بَلَغْنَا مِنَ السِّنِّ مَا تَرَى وَأَحْبَبْنَا أَنْ نَتَزَوَّجَ، وَأَنْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَبَرُّ النَّاسِ وَأَوْصَلُهُمْ وَلَيْسَ عِنْدَ أَبَوَيْنَا مَا يُصْدِقَانِ عَنَّا فَاسْتَعْمِلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ عَلَى الصَّدَقَاتِ فَلْنُؤَدِّ إِلَيْكَ مَا يُؤَدِّي الْعُمَّالُ وَلْنُصِبْ مَا كَانَ فِيهَا مِنْ مَرْفَقٍ، قَالَ: فَأَتَى عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ وَنَحْنُ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ، فَقَالَ لَنَا: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا وَاللَّهِ لَا نَسْتَعْمِلُ مِنْكُمْ أَحَدًا عَلَى الصَّدَقَةِ"، فَقَالَ لَهُ رَبِيعَةُ: هَذَا مِنْ أَمْرِكَ قَدْ نِلْتَ صِهْرَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ نَحْسُدْكَ عَلَيْهِ، فَأَلْقَى عَلِيٌّ رِدَاءَهُ، ثُمَّ اضْطَجَعَ عَلَيْهِ فَقَالَ: أَنَا أَبُو حَسَنٍ الْقَرْمُ وَاللَّهِ لَا أَرِيمُ حَتَّى يَرْجِعَ إِلَيْكُمَا ابْنَاكُمَا بِجَوَابِ مَا بَعَثْتُمَا بِهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ عَبْدُ الْمُطَّلِبِ: فَانْطَلَقْتُ أَنَا وَالْفَضْلُ إِلَى بَابِ حُجْرَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى نُوَافِقَ صَلَاةَ الظُّهْرِ قَدْ قَامَتْ فَصَلَّيْنَا مَعَ النَّاسِ ثُمَّ أَسْرَعْتُ أَنَا وَالْفَضْلُ إِلَى بَابِ حُجْرَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَوْمَئِذٍ عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَقُمْنَا بِالْبَابِ حَتَّى أَتَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخَذَ بِأُذُنِي وَأُذُنِ الْفَضْلِ، ثُمَّ قَالَ: "أَخْرِجَا مَا تُصَرِّرَانِ"، ثُمَّ دَخَلَ فَأَذِنَ لِي وَلِلْفَضْلِ فَدَخَلْنَا فَتَوَاكَلْنَا الْكَلَامَ قَلِيلًا، ثُمَّ كَلَّمْتُهُ أَوْ كَلَّمَهُ الْفَضْلُ قَدْ شَكَّ فِي ذَلِكَ عَبْدُ اللَّهِ قَالَ: كَلَّمَهُ بِالْأَمْرِ الَّذِي أَمَرَنَا بِهِ أَبَوَانَا، فَسَكَتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاعَةً وَرَفَعَ بَصَرَهُ قِبَلَ سَقْفِ الْبَيْتِ حَتَّى طَالَ عَلَيْنَا أَنَّهُ لَا يَرْجِعُ إِلَيْنَا شَيْئًا حَتَّى رَأَيْنَا زَيْنَبَ تَلْمَعُ مِنْ وَرَاءِ الْحِجَابِ بِيَدِهَا تُرِيدُ أَنْ لَا تَعْجَلَا وَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَمْرِنَا ثُمَّ خَفَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسَهُ، فَقَالَ لَنَا: "إِنَّ هَذِهِ الصَّدَقَةَ إِنَّمَا هِيَ أَوْسَاخُ النَّاسِ وَإِنَّهَا لَا تَحِلُّ لِمُحَمَّدٍ وَلَا لِآلِ مُحَمَّدٍ ادْعُوا لِي نَوْفَلَ بْنَ الْحَارِثِ، فَدُعِيَ لَهُ نَوْفَلُ بْنُ الْحَارِثِ فَقَالَ: يَا نَوْفَلُ أَنْكِحْ عَبْدَ الْمُطَّلِبِ

(١): صحيح مسلم/الزكاة ٥١ (١٠٧٢)، سنن النسائي/الزكاة ٩٥ (٢٦١٠)، (تحفة الأشراف: ٩٧٣٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٦٧٤) (صحيح)

فَأَنْكَحَنِي نَوْفَلُ، ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ادْعُوا لِي مَحْمِيَةَ بْنَ جَزْءٍ وَهُوَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي زُبَيْدٍ، كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَعْمَلَهُ عَلَى الأَخْمَاسِ، فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَحْمِيَةَ: أَنْكِحِ الْفَضْلَ فَأَنْكَحَهُ، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قُمْ فَأَصْدِقْ عَنْهُمَا مِنَ الْخُمُسِ كَذَا وَكَذَا"، لَمْ يُسَمِّهِ لِي عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ الْحَارِثِ.

عبدالمطلب بن ربیعة بن حارث دخپل پلار ربیعه بن حارث اوعباس بن عبدالمطلب دخپل پلار عبدالمطلب بن ربیعه اوفضل بن عباس نه روایت کوی فرمائی چه دوی دواړو مونږ ته اووئیل چه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شئ اوعرض وکړئ چه اې دالله رسوله دا وخت زمونږه دواړه ګولودې او ته ددې نه واقف ئې چه مونږ دواړه لائق يو او مونږ غواړوچه نکاح وکړو او اې دالله رسوله ته په ټولوخلقوکښې زيات نيکی کونکې ئې اوصلح رحمي پالونکې ئې زمونږ د مور او پلار سره د مهراداکولو طاقت نشته ته مونږ لره په صدقه باندې عاملين مقررکړه څومره مال چه تاته نور عاملان راوړي دومره به مونږ هم راوړو او مونږ ته به هم منافع حاصليږي، عبدالمطلب وائی مونږ په دې ګفتګوکښې مصروف وو کتل مو چه علي کرم الله وجهه راغې اووئې وئيل په الله مې دې قسم وي په تاسوکښې هيڅوك نبی ﷺ دصدقې عامل نه جوړوي ربيعه چه دا واوريدل نووئې وئيل چه ته خود حسد دوجې نه داسې وائی ته دنبی ﷺ زوم ئې مونږ خو په تاباندې حسد نه دې کړې علي رضي الله عنه داخبره واوريده نوڅادر ئې وغوړوو او څملاستو اووئې فرمائيل زه ابوالحسن يم په پوهه کښې دهرچانه زيات يم په الله مې دې قسم وي ترهغه وخته به ددې ځائې نه ونه خوزم ترڅوچه ستاسو ځامن ددې کار نه نااميده رانشي د کوم کا ردپاره ئې چه تاسو نبی ﷺ ته ليږئ عبدالمطلب وائی زه اوفضل بن عباس رضي الله عنه دواړه لاړو کله چه مونږ ورسيدو نودماسپخين دمونځ دپاره تکبير اوشو مونږ دنبی ﷺ سره يوځائې مونځ اداکړو، زه او فضل په جلتئ سره دنبی ﷺ دکور طرف ته روان شو هغه ورځ نبی ﷺ دزينب بنت جحش په کور کښې تيروله مونږه دکمرې د دروازې سره اودريدو تردې چه نبی ﷺ راغې دشفقت دوجې نه ئې زما اودفضل غوږونه اونيول اووئې فرمائيل ستاسو په زړه کښې چه څه دې هغه اووائی او ددې نه پس کور ته داخل شو او مونږ ته ئې هم داخل کيدو اجازت راکړو مونږ هم ورداخل شو مونږ په خپل مينځ کښې يوبل ته وئيل خومادخبرې شروع اوکړه (معاوي شك دې چه دا خبره عبدالمطلب وکړه اوکه فضل)اوهم هغه خبره مې وکړه کومه چه مونږ ته زمونږ مور او پلار کړې وه نبی ﷺ چه دا واوريدل نويوشيبه خاموش پاتې شو او نظر ئې پورته کړو دچت طرف ته ئې کتل تردې چه مونږ ګمان اوکړو چه ګني مونږ ته جواب نه راکوي نومونږ دزينب طرف ته وکتل چه دپردې دشاته طرف نه ئې مونږ ته اشارې کولې چه تيزي مه کوئ نبی ﷺ ستاسو د مطلب په فکرکښې دې ددې نه پس نبی ﷺ خپل سر مبارك ښکته کړو اووئې فرمائيل صدقه خويوخيرې دې اودمحمداودده دخاندان دپاره جائز نه ده تاسو نوفل بن حارث راوغواړئ چنانچه هغه راوغوښتلې شو نبی ﷺ ورته اوفرمائيل ته خپله لور عبدالمطلب ته په نکاح ورکړه نو نوفل ماته په نکاح راکړه، اوبيا ئې

محمته بن جزء راوغوښتو اودې دزبيد قبيلې والاوو څوك چه نبي ﷺ دخمس دوصول كولو دپاره عامل مقرر كړې وو نبي ﷺ ورته اوفرمائيل خپله لور فضل ته په نكاح وركړه چناچه هغه زمونږ نكاحونه اوكړل ددې نه پس نبي ﷺ اوفرمائيل پاڅې او ددوی دواړو دطرف نه دخمس په مال كښې دومره دمره مهرور كړئ، ابن شهاب وائي چه عبدالله بن حارث ماته دمهر مقدار نه دې بيان كړې چه څومره وو،

﴿ اخبرنی عبدالله بن الحارث بن نوفل الهاشمی ان عبدالمطلب بن ربيعة بن الحارث بن عبدالمطلب اخبره ان اباه ربيعة بن الحارث وعباس بن عبدالمطلب قالا لعبدالمطلب بن ربيعة وللفضل بن عباس ائتيا رسول الله ﷺ فقولا يا رسول الله ﷺ قد بلغنا من السن ما ترى واحببنا ان نتزوج الخ ﴾

په حديث كښې د ودونو د مسائلو متعلق يو ښكلې واقعه:

دا حديث اورېد دې چه د هغې مضمون دا دې چه د ربيعة بن الحارث ځوئی عبدالمطلب وائي چه ماته زما پلار ربيعه، او فضل بن عباس ﷺ ته د هغه پلار عباس ﷺ اووې چه لاړ شئ رسول الله ﷺ ته او هغوی ته عرض اوكړئ چه يا رسول الله ﷺ مونږ دواړه چه كوم عمر ته رسيدلې يو هغه تاسو وينئ (يعنی د وادهٔ قابل شوی يو) اوس مونږ وادهٔ كول غواړو، او تاسو په خلقو كښې د ټولو نه زيات احسان او صله رحمی كونكې يئ، او زمونږ د دواړو پلارانو سره دومره مال نشته چه هغوی زمونږ د طرف نه د مهر انتظام اوكړې شی لهذا تاسو مونږ دواړه د صدقاتو په وصول كولو باندې عامل مقرر كړئ څنګه چه د زكوة د مال عاملان مالونه راوړلو سره تاسو ته رارسوی مونږ به ئې هم رارسوو او څه چه زمونږ حق وی هغه به مونږ ته ملاويږی. يعنی د عامل تنخواه او وظيفه، دا ربيعه چه د هغه ځوئې عبدالمطلب دې د رسول الله ﷺ د ترهٔ ځوئې دې او د عباس ﷺ د رسول الله ﷺ ترهٔ كيدل خو مشهور دی، نو ګويا دا عبدالمطلب د رسول الله ﷺ د ترهٔ د ځوئی ځوئې شو او فضل ﷺ ئې د ترهٔ ځوئې. دا قصه هم د دې دواړو سره متعلق ده، وراندې په روايت كښې دی عبدالمطلب وائي چه په كوم مجلس كښې زمونږ دا خبرې او مشوره كيده هلته علی بن ابی طالب ﷺ اتفاقًا راورسيدو (چه كله د هغوی په علم كښې هغه خبره راغله كومه چه په مجلس كښې شروع وه) نو په دې باندې هغوی اوفرمائيل چه قسم په الله چه رسول الله ﷺ به په تاسو كښې يو هم په صدقه باندې عامل نه كړی په دې باندې د عبدالمطلب پلار ربيعه اووې چه تاته چه د رسول الله ﷺ څوم توب ملاؤ شوې دې نو مونږ خو تاسره كله هم په دې كښې حسد نه دې كړې (مطلب دا چه بيا ته ولې زمونږ په دې مشوره باندې پريشانه كيږې او سوزې) ﴿ فالقی علی رداءه ثم اضطجع عليه فقال انا ابو حسن القرم ﴾ يعنی علی ﷺ ته ربيعه په جمله اوريدو باندې غصه ورغله او خپل كوم څادر ئې چه پسر كړې هغه ئې خور كړو او په هغې باندې سملاستو او د سملاستو په وخت ئې اوفرمائيل (څه زه هم چرته نه ځم) زه هم د خپل نوم ابو حسن بهادر يم، والله زه به د دې ځائې نه نهٔ خوزم چه ترڅو پورې ستاسو د دواړو ځامنو د رسول الله ﷺ جواب نه وی راوړې (حور په معنی د جواب) عبدالمطلب وائي چه زه او فضل ﷺ دواړه د مشورې مطابق د رسول الله ﷺ خدمت ته

لاړو، چه کله مونږ هلته اورسیدو نو د ماسپخین جماعت ولاړ وو، مونږ د خلقو سره مونځ اوکړو، د مونځ نه چه فارغ شو نو زه او فضل دواړه د حجرې دروازې طرف ته لاړو، هغه ورځ د زینب ﷠ نمبر وو په دې وجه هغوی هلته وو غرض دا چه مونږ د رسول الله ﷺ نه مخکښې د دروازې سره اودریدلي وو، لږ ساعت پس رسول الله ﷺ تشریف راوړو، او په مونږ دواړو کښې ئې د هر یو غوږ اونیولو او وې فرمائیل چه د خپل زړه خبره اوکړئ چه څه ده؟ (مونږ خاموش وو) بیا رسول الله ﷺ دننه تشریف یوړو او دننه رسیدو سره ئې مونږ ته هم د دننه راتلو اجازت راکړو، مونږ دننه لاړو، مونږ دواړو کښې هر یو بل ته وې چه رسول الله ﷺ ته خبره عرض کړه، غرض دا چه په مونږ دواړو کښې یو کس د روای په تعین کښې شک راغی. د رسول الله ﷺ مخې ته هم هغه خبره کیخودله د کومې چه زمونږ پلارانو حکم کړې وو، رسول الله ﷺ زمونږ خبره اوریدو سره خاموش شو او خپلې سترګې مبارکې ئې چهت طرف ته اوچتې کړې وې (لکه چه بعض وخت انسان په سوچ کښې کوی) چه په هغې کښې ډیر وخت تیر شو، مونږ دا اوګنړله چه کیدې شی هیڅ جواب رانشی (مونږ لږ ناامیده شو) تردې چه سیده زینب ﷠ مونږ اولیده چه مونږ ته مخامخ د پردې نه شاته وه هغوی په خپل لاس سره اشاره اوکړه چه د هغې مفهوم دا وو چه تندی مه کوئ رسول الله ﷺ ستاسو د مسئلې د حل په باره کښې سوچ کوی، بیا ډیر ساعت پس رسول الله ﷺ خپل سر مبارک د پورته نه ښکته کړو او وې فرمائیل ګورئ دا د صدقې مال د خلقو خیری دی دا د محمد (ﷺ) او آل محمد (ﷺ) دپاره حلال نه دې (بیا رسول الله ﷺ چه د هغوی د مسئلې کوم حل راویستلې وو هغه ئې هغوی ته بیان اوفرمائیلو) او وې فرمائیل چه ته نوفل بن الحارث راوبله، پس نوفل ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د عبد المطلب نکاح اوکړه. نوفل زما نکاح اوکړه. او وې فرمائیل راوغواړئ ماته محمیه بن جزء لره، راوی وائی چه دا محمیه د رسول الله ﷺ د طرف نه د اخماس منتظم وو. نو رسول الله ﷺ او فرمائیل محمیه! د فضل نکاح اوکړه او بیا ئې عامل ته اوفرمائیل چه د دې دواړو د طرف نه د خمس نه مهر ادا کړه.

دا چه د دې حدیث آخری جمله ده ﴿ اصدق عنهما من الخمس ﴾ هم د دې نه ترجمة الباب ثابتیږی، په داسې موقع باندې شراح لیکی فیه الترجمة، د مصنف رحمه الله غرض دلته د دې قصې د بیانولو نه دادې چه رسول الله ﷺ به د خمس نه د خپلو ذوی القربی حصه راویستله، ځکه چه عبد المطلب بن ربیعه او فضل بن عباس ﷠ دواړه په ذوی القربی کښې دی، د دې قصې نه دا هم په فهم کښې راځی چه په وادهٔ کولو کښې زیات د فکر څیز بس مهر دې (او د خرچ مسئله) ده او دویم څیز ولیمه ده چه د هغې ذکر به وړاندې د علی ﷛ په قصه کښې راشی، نور لوازمات فضول دی والحدیث اخرجه مسلم. قاله المنذری

[۲۹۸٦] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَخْبَرَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ، أَنَّ حُسَيْنَ بْنَ عَلِيٍّ أَخْبَرَهُ، أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: كَانَتْ لِي شَارِفٌ مِنْ نَصِيبِي مِنَ الْمَغْنَمِ يَوْمَ بَدْرٍ،

¹): صحيح البخاري/البيوع ۲۸ (۲۰۸۹)، المساقاة ۱۳ (۲۳۷۵)، فرض الخمس ۱ (۳۰۹۱)، المغازي ۱۲ (٤۰۰۳)، اللباس ۹ (۵۷۹۳)، صحيح مسلم/الأشربة ۱ (۱۹۷۹)، (تحفة الأشراف: ۱۰۰٦۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۱٤۲) (صحيح)

وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَانِي شَارِفًا مِنَ الْخُمُسِ يَوْمَئِذٍ، فَلَمَّا أَرَدْتُ أَنْ أَبْنِيَ بِفَاطِمَةَ بِنْتِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاعَدْتُ رَجُلًا صَوَّاغًا مِنْ بَنِي قَيْنُقَاعٍ أَنْ يَرْتَحِلَ مَعِي فَنَأْتِيَ بِإِذْخِرٍ أَرَدْتُ أَنْ أَبِيعَهُ مِنَ الصَّوَّاغِينَ فَأَسْتَعِينَ بِهِ فِي وَلِيمَةِ عُرْسِي، فَبَيْنَا أَنَا أَجْمَعُ لِشَارِفَيَّ مَتَاعًا مِنَ الْأَقْتَابِ وَالْغَرَائِرِ وَالْحِبَالِ وَشَارِفَايَ مُنَاخَانِ إِلَى جَنْبِ حُجْرَةِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ أَقْبَلْتُ حِينَ جَمَعْتُ مَا جَمَعْتُ فَإِذَا بِشَارِفَيَّ قَدِ اجْتُبَّتْ أَسْنِمَتُهُمَا وَبُقِرَتْ خَوَاصِرُهُمَا وَأُخِذَ مِنْ أَكْبَادِهِمَا، فَلَمْ أَمْلِكْ عَيْنَيَّ حِينَ رَأَيْتُ ذَلِكَ الْمَنْظَرَ، فَقُلْتُ: مَنْ فَعَلَ هَذَا قَالُوا: فَعَلَهُ حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَهُوَ فِي هَذَا الْبَيْتِ فِي شَرْبٍ مِنَ الْأَنْصَارِ غَنَّتْهُ قَيْنَةٌ وَأَصْحَابَهُ، فَقَالَتْ فِي غِنَائِهَا: أَلَا يَا حَمْزُ لِلشُّرُفِ النِّوَاءِ؟، فَوَثَبَ إِلَى السَّيْفِ فَاجْتَبَّ أَسْنِمَتَهُمَا وَبَقَرَ خَوَاصِرَهُمَا، وَأَخَذَ مِنْ أَكْبَادِهِمَا قَالَ عَلِيٌّ: فَانْطَلَقْتُ حَتَّى أَدْخُلَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَعِنْدَهُ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ، قَالَ: فَعَرَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي لَقِيتُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا لَكَ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ عَدَا حَمْزَةُ عَلَى نَاقَتَيَّ فَاجْتَبَّ أَسْنِمَتَهُمَا وَبَقَرَ خَوَاصِرَهُمَا وَهُوَ ذَا فِي بَيْتٍ مَعَهُ شَرْبٌ فَدَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرِدَائِهِ فَارْتَدَاهُ، ثُمَّ انْطَلَقَ يَمْشِي وَاتَّبَعْتُهُ أَنَا وَزَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ. حَتَّى جَاءَ الْبَيْتَ الَّذِي فِيهِ حَمْزَةُ فَاسْتَأْذَنَ فَأَذِنَ لَهُ فَإِذَا هُمْ شَرْبٌ فَطَفِقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلُومُ حَمْزَةَ فِيمَا فَعَلَ، فَإِذَا حَمْزَةُ ثَمِلٌ مُحْمَرَّةٌ عَيْنَاهُ، فَنَظَرَ حَمْزَةُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ فَنَظَرَ إِلَى رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ فَنَظَرَ إِلَى سُرَّتِهِ ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ فَنَظَرَ إِلَى وَجْهِهِ، ثُمَّ قَالَ: حَمْزَةُ وَهَلْ أَنْتُمْ إِلَّا عَبِيدٌ لِأَبِي، فَعَرَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ ثَمِلٌ فَنَكَصَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عَقِبَيْهِ الْقَهْقَرَى فَخَرَجَ وَخَرَجْنَا مَعَهُ.

د علی کرم الله وجهه نه روایت دي فرمائي چه زما سره يوه څربه او ځوانه اوښه وه کومه چه ماته په غزوه بدر کښې دغنیمت په طورملا وشوي وه او يوه بله څربه او ځوانه اوښه راته هم نبی ﷺ په خمس کښې راکړې وه کله چه دفاطمې رضي الله عنها ولیمه کول اوغوښتل اودبنی قینقاع قبیلې یوکس مې دځان سره بوتلو ته تیار کړې ووزما دا اراده وه چه سرګړې به راوړم او خرڅ به ئې کړم دولیمې د مصارفو د پوره کولو دپاره نوپه دې وخت کښې دسامان په جمع کولو پسې لاړم او اوښې دیوانصاري دکورمخې ته ولاړې وې چه کله مې سامان راجمع کړو او راغلم نو وې کتل چه ددواړو اوښوکوبونه پرېکړې شوي دي او شاګاني ئې غوځې کړې شوي دي اوجګرونه ئې چا راوېستلي دي ماچه کله داحالت اولیدو نومانشو برداشت کولې ماوونیل داد چا حرکت دي راته ووئیلي شول چه حمزه بن عبد المطلب اوهغه داچه هغه د یوڅو انصاریانوسره په یوکورکښې شراب څکي وو اوبوي سندرغاړې ښځې ورته په سندره کښې داسې ووئیل: الا یاحمزة للشرف النواء، یعنی اې حمزه پاڅه په دې اوښانو پسې کوم چه په دې میدان کښې تړلي دي او په مرئ ئې چاړه کیږده او په وینوکښې ئې اولمبوه او ددوی پاکې غوښې دشرابیانودپاره سرې کړه حمزه چه دا واورېدل نوپه جلتې اوښانوته ورپاڅیدواو ددوی شاګانې ئې څیرې کړې او ددوی جګرونه ئې را وویستل،

علي رضي الله عنه فرمائي چه زه نبی ﷺ ته روان شوم کله چه ورته حاضر شوم نوزید بن حارثه هم هلته ناست ووکله چه نبی ﷺ زما طبیعت ناساز اولیدو نو اوئې فرمائیل څه درباندې شوي دي؟ما عرض وکړ واې دالله رسوله دننی ورځې په شان ورځ مې کله نده لیدلې، حمزه زماپه اوښانوظلم کړې دې زماداوښانوکوبونه ئې زخمي کړی دی اوخیټې ئې ورله شلولې دي او په یوکورکښې دشرابیانوسره ناست دي، نبی ﷺ خپل څادر راواغوښتو بیا ئې

واغوستو اوروان شو اوزه هم ور پسې شاته شاته روان شوم تردې چه هغه کورته ورسيدوچرته چه حمزه ناست وو، نبی ﷺ ته دننوتو دپاره اجازت ورکړې شو اوداخل شونواوئي ليدل چه ټولوشراب څکلي دي اونشه دي، نبی ﷺ په دې کارباندې حمزه ملامت کړوليکن هغه په نشه کښې اوسترګي ئې سري وي حمزه نبی ﷺ ته اوکتل اوبيائې دنبی ﷺ مخ مبارک ته اوکتل او اوئي وئيل ته خوزمادپلارغلام ئې، په دې خبره نبی ﷺ ته معلومه شوه چه حمزه په نشه کښې دي نونبی ﷺ په الته خپودهغه ځائې نه واپس راروان شواوراووتو او مونږ هم ورسره راروان شو.

د حضرت علی رضی الله عنه د وليمې سره متعلق يوه واقعه

قوله: ﴿ ان الحسين بن علی رضی الله عنهما اخبره ان علی بن ابی طالب رضی الله تعالی عنه قال کان لی شارف من نصيبی من المغنم يوم بدر وکان رسول الله ﷺ اعطانی شارفا من الخمس يومئذ الخ ﴾ دا هم يوه اوږده قصه ده هم د دې قسم هغه دا چه حسين بن علی رضی الله عنهما فرمائی چه ماته زما والد صاحب علی رضی الله عنه بيان اوکړو چه زما په ملک کښې يوه ځوانه اوښه وه کومه چه د جنګ بدر د مال غنيمت نه ماته ملاؤ شوې وه او هم دغه شان يوه اوښه بله وه چه رسول الله ﷺ ما ته د خمس په حصه کښې راکړې وه (ترجمة الباب خو هم د دې نه ثابت شو وړاندې مصنف رحمه الله د قصې تکميل کوی) چه کله زما اراده اوشوه فاطمې رضی الله عنها لره د نکاح نه پس دواده کولو (چه هغې ته رخصتی وائی) نو د وليمې په تياری کښې ما دا منصوبه جوړه کړه کومه چه وړاندې بيانوی، هغه دا چه ما د يو صواغ يعنی زرګر نه دا وعده واخستله چه هغه ماسره ځنګل ته لاړ شی چه مونږ د هغه ځائې نه اذخر جمع کولو سره راوړو او د صواغينو په لاس هغه خرڅ کړو چه د هغې په ګټې باندې د وليمې بندوبست اوشی. پس ما هم داسې اوکړل چه دواړه اوښې مې د يو انصاری د کور مخې ته کينولې او خپله زه په هغه اوښانو باندې د ترلو دپاره د کيجاوې، بوريا او رسو وغيره د جمع کولو دپاره لاړم، چه کله ما هغه ټول څيزونه جمع کړل او راغلم نو ګورم چه زما د هغه دواړو اوښانو قوبونه پرې کړې شوې دی او د هغوی د اړخونو نه غوښه هم پرې کړې شوې ده، او د هغوی اينې راويستلې شوې دی، ما چه دا منظر اوليدو نو بې اختياره ژړا راغله، بيا ما د خلقو نه تپوس اوکړو چه داسې چا اوکړل؟ هغوی اووې چه حمزه بن عبدالمطلب رضی الله عنه کړې دی، او مخامخ ئې يو کور طرف ته اشاره اوکړه چه هغه په دې کښې دې د ډيرو شراب څکونکو سره، په دې مجلس کښې يو سندرې ويونکې هغوی ته او د هغوی ملګرو ته په خپل آواز کښې دا شعر اولوستلو!

الا يا حمز للشرف النواء و هن معقلات بالفناء

ضع المسکين فی اللبات منها وضرجهن حمزة بالدماء

چه د هغې ترجمه دا ده چه دا مخامخ ځوانې او څربې اوښې دی کومې چه د کور مخې ته ترلې شوې دی د هغوی په مرو باندې چاړه اوچلوه او هغه په وينو کښې لت پت کړه، شرف جمع د شارف ده په معنی د ځوانې اوښې، او نواء جمع د ناوية ده په معنی د څربې، يعنی حمزه د سندرې ويونکې په دې شعر اوريدو سره توره راواخستله او دا ټول کارونه ئې

اوكړل، على ﷺ فرمائى چه دا هر څه اوريدو سره زه د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضر شوم، هغه وخت د هغوى سره زيد بن حارثه ﷺ وو هغوى زما د مخ نه زما د پريشانئ اندازه اولګوله او تپوس ئې اوكړو څه اوشو؟ ما عرض اوكړو يا رسول الله ﷺ د نن په شان د خفګان منظر ما مخكښې نه وو ليدلې او ټوله واقعه ئې بيان كړه. او ما دا هم بيان كړه چه هغه په يو كور كښې مجلس كيږى د شرابو څكلو په هغې كښې دى (د شرابو د حراميدو نه مخكښې واقعه ده) په دې باندې رسول الله ﷺ خپل څادر راوغوښتلو هغه ئې واغوستلو او روان شو، زه او زيد په هغوى پسې، تردې چه رسول الله ﷺ هغه كور ته اورسيدو چه په كوم كښې حمزة وو رسول الله ﷺ د اجازت طلب كولو نه پس دننه داخل شو چه هلته ټول خلق موجود وو، رسول الله ﷺ حمزة ﷺ په دې حركت باندې ملامته كړو، د حمزه ﷺ دا حال وو چه هغوى د شرابو په نشه كښې مست وو او سترګې ئې سرې وې، اوس حمزه ﷺ رسول الله ﷺ ته په تيزو سترګو سره كتل شروع كړل، او د نشې په يو خاص انداز كښې ئې رومبى خو د رسول الله ﷺ خپو ته كتل لږ ساعت پس ئې نظر لږ پورته اوچت كړو او د هغوى كونډو ته ئې كتل، بيا ئې نه نظر نور هم اوچت كړو د رسول الله ﷺ نوم ته نزدې، هلته ئې كتل، دغه شان ئې بيا مخ ته كتل. دا كتل خو ئې بالكل د خاموشئ سره وو. او بيا ئې په آخره په تيزه لهجه كښې اوئيل ﴿وهل انتم الا عبيد لابى﴾ تاسو ټول زما د پلار غلامان ئې (چونكه د حمزه ﷺ پلار د رسول الله ﷺ هم او د على ﷺ هم نيكهٔ او مشر وو، او ګويا سردار وو، او حمزه ﷺ د دوى نه په نسبت كښې هغه ته زيات نزدې وو په دې وجه ئې د فخر په طور دا جمله اوئيله) على ﷺ فرمائى چه رسول الله ﷺ پوهه شو چه دې خو مست دې (او معامله ګډه وډه ده) په دې وجه رسول الله ﷺ راواپس شو (چه چرته لاس ئې خطا نه شى) او غرض دا چه رسول الله ﷺ د هغه ځائې نه راوتلو او مونږ هم د رسول الله ﷺ سره.

والحديث اخرجه البخارى ومسلم، قاله المنذرى

دا قصه زمونږ دپاره ډيره د عبرت ده چه د رسول الله ﷺ د لور رخصتى كيږى چه د هغې د وليمې دپاره د رسول الله ﷺ زوم محترم د ځنګل نه ګيا راجمع كوى او په هغې كښې هم د مقصود مطابق كاميابى حاصله نه شى

[٢٩٨٧](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي عَيَّاشُ بْنُ عُقْبَةَ الْحَضْرَمِيُّ، عَنِ الْفَضْلِ بْنِ الْحَسَنِ الضَّمْرِيِّ، أَنَّ أُمَّ الْحَكَمِ أَوْ ضُبَاعَةَ ابْنَتَيِ الزُّبَيْرِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ حَدَّثَتْهُ، عَنْ إِحْدَاهُمَا، أَنَّهَا قَالَتْ: أَصَابَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْيًا فَذَهَبْتُ أَنَا وَأُخْتِي وَفَاطِمَةُ بِنْتُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَكَوْنَا إِلَيْهِ مَا نَحْنُ فِيهِ وَسَأَلْنَاهُ أَنْ يَأْمُرَ لَنَا بِشَيْءٍ مِنَ السَّبْيِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ وَسَلَّمَ: "سَبَقَكُنَّ يَتَامَى بَدْرٍ لَكِنْ سَأَدُلُّكُنَّ عَلَى مَا هُوَ خَيْرٌ لَكُنَّ مِنْ ذَلِكَ تُكَبِّرْنَ اللَّهَ عَلَى إِثْرِ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ تَكْبِيرَةً وَثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ تَسْبِيحَةً وَثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ تَحْمِيدَةً وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ"، قَالَ عَيَّاشٌ: وَهُمَا ابْنَتَا عَمِّ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دفضل بن حسن ضمري نه روايت دې فرمائى چه ام الحكم يا ضباعه كوي چه دزبير بن

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٩١٢، ١٥٣١٤)، ويأتي هذا الحديث في الأدب (٥٠٦٦) (ضعيف)

عبدالمطلب لونړه دي راته روایت بیان کړې دي چه نبی ﷺ ته قیدیان راغلل زه اوزماخور اودنبی ﷺ فاطمه لور مونږ درې واړه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو مونږ ورته دخپل حالت شکایت وکړو او مونږ ورته اووئیل چه مونږ ته په دې قیدیانو کښې یوتن راکړه (دخدمت دپاره) نبی ﷺ اوفرمائیل ستاسو نه مخکښې هغه جینکۍ زیاتې خقداري دي دچاچه پلرونه په غزوه بدر کښې شهیدان شوي دي البته زه تاسوته یوه مفیده خبره ښایم کومه چه ستاسو دپاره بهترده تاسودهرمونځ نه پس درې دیرش ځله الله اکبر اودرې دیرش ځله سبحان الله اودرې دیرش ځله الحمد لله اویوځل: «لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير» وائی ایساش وئیلی دی ضباعه اوحکم دواړه دنبی ﷺ دتره لونړه وي.

﴿ حدثنی عياش بن عقبة الحضرمی عن الفضل بن الحسن الضمری ان ام الحكم او ضباعه ابنتی الزبير بن عبدالمطلب حدثته عن احداهما ﴾

د سند تحقیق:

دا سند تحقیق او تفتیش ته محتاج دې. دلته نسخې مختلف دی پس دوه اختلافات په لیدو کښې راغلل زمونږ په دې نسخه کښې ﴿ ان ام الحكم او ضباعة ﴾ دې او د ابن داسه په نسخه کښې (كما فی تعليق الشيخ محمد عوامه) د دې په ځائې ﴿ ان ابن ام الحكم او ضباعة ﴾ دې. او د دې نه پس دویم اختلاف په لفظ د ﴿ حدثته ﴾ کښې دې زمونږ په دې نسخه کښې په صیغه د مونث دې او په یو بله نسخه کښې كما على الهامش ﴿ حدثه ﴾ په صیغه د مذکر دې، دا روایت په ابوداؤد کښې مکرر دې دوباره مصنف رحمه الله دا روایت په کتاب الادب ﴿باب فی التسبيح عند النوم ﴾ هم ذکر کړې دې بعینه هم په دې سند سره خو هلته د ابن داسه د نسخې په شان دې. ﴿ ان ابن ام الحكم او ضباعة ابنتی الزبير حدثه عن احداهما ﴾ او په تهذیب الکمال کښې چه حافظ مزی رحمه الله دا حدیث په خپل سند سره ذکر کړو نو په هغې کښې هم داسې دی، لهذا ترجیح به د ابن داسه والا نسخې روایت لره وی، او په دې صورت کښې به د سند مطلب داوی، فضل بن الحسن وائی چه ما ته د ام الحکم ځوئی یا د ضباعه ځوئی بیان اوکړو، په دې دواړو (ام الحكم او ضباعه) کښې د یو نه روایت کوی [1] او زمونږ د موجوده نسخې په موجودګئ کښې به مفهوم دا وی چه فضل بن الحسن وائی چه ماته أم الحکم یا ضباعة کښې یوې روایت اوکړو د بلې نه، یعنی د فضل شک دې چه زما استاد په دې حدیث کښې یا ام الحکم ده یا ضباعة او په هر صورت په دوی کښې یوه د بلې نه روایت کوی، چونکه د صاحب عون المعبود نسخه هم دا ده په دې وجه هغوی د سند شرح هم داسې کړې ده، خو که دا نسخه اختیار کړې شی نو په دې کښې د معنی په لحاظ سره دا اشکال دې چه کله د رسول الله ﷺ په خدمت کښې تلونکې دا دواړه زنانه وې لکه چه په روایت کښې تصریح ده ﴿ فذهبت انا واختی ﴾ نو بیا د یو بل نه د روایت کولو څه وجه؟ دواړه صاحب واقعه دی او بله دا چه په کتب رجال کښې هم د دې دواړو د یوې بلې نه

[1] لهذا راوي خوئي شو او مروي عنه د هغه مور يا ترور)

روایت کول ثابت نه دی. (کما فی البذل) په خلاف د نسخې ثانیې چه هغه د اشکال نه محفوظ ده، خو شیخ الهند په خپله حاشیه کښې زمونږ د موجوده نسخې داسې توجیه او تاویل فرمائیلې دې چه په هغې باندې دا اشکال نه واردیږی، د شیخ الهند د تاویل حاصل دا دې چه ﴿عن احداهما﴾ په طور د لب لباب بدل واقع کیږی د خپل سابق نه چه فضل بن الحسن روایت کوی په دې دواړو زنانو کښې د یوې نه، د بدل مقرر کیدو په صورت کښې دا پورته اشکال نه پیدا کیږی، زمونږ حضرت سهارنپوری رحمه الله د سند مفهوم خو هم دا متعین کړې دې کوم چه د ابن داسه والا نسخې د سند دې خو په هغې کښې دا توضیح او تشریح نشته چه زمونږ دا سند تاویل ته محتاج دې یا نه دې، بلکه د هغې نه فهمیږی چه زمونږ دنسخې دعبارت مفهوم هم هغه دې کوم چه د دویمې نسخې د عبارت دې، والامر کما فی حاشیة شیخ الهند رحمه الله تعالی،وهذا جهد المقل فی شرح هذا السند والله تعالی اعلم بالصواب.

د حدیث مضمون واضح دې چه دا دواړه او دریمه فاطمه رضی الله عنها په خمس د غنیمت کښې د خادم د طلب کولو دپاره تلې وې نو رسول الله ﷺ عذر اوفرمائیلو ﴿سبقکن یتامی بدر﴾ چه د بدر یتیمان چونکه ستاسو نه مخکښې طلب کولو له راغلې وو په دې وجه ټول غلامان هغوی ته ورکړې شو او یا مطلب دا دې چه د بدر یتیمان د استحقاق په اعتبار سره په تاسو باندې مقدم او راجح وو په دې وجه هغوی ته ورکړې شو یا به ورکړې شی، په دې صورت کښې حدیث د احنافو مؤید کیدې شی، چه هغوی په دې مسئله کښې د ذوی القربی د حق بنیاد د هغوی په فقر او حاجت باندې ږدی. بیا رسول الله ﷺ د هغه درې واړو د زړه ساتلو او نقصان پوره کولو دپاره د خادم بدل، یعنی بدل معنوی تجویز اوفرمائیلو کوم چه د تسبیحات فاطمه رضی الله عنها په نوم سره معروف دی.

[۲۹۸۸](١) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى، عَنْ سَعِيدٍ يَعْنِي الْجُرَيْرِيَّ، عَنْ أَبِي الْوَرْدِ، عَنِ ابْنِ أَعْبُدَ، قَالَ: قَالَ لِي عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَلاَ أُحَدِّثُكَ عَنِّي وَعَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَانَتْ مِنْ أَحَبِّ أَهْلِهِ إِلَيْهِ؟ قُلْتُ: بَلَى قَالَ: إِنَّهَا جَرَّتْ بِالرَّحَى حَتَّى أَثَّرَ فِي يَدِهَا، وَاسْتَقَتْ بِالْقِرْبَةِ حَتَّى أَثَّرَ فِي نَحْرِهَا وَكَنَسَتِ الْبَيْتَ حَتَّى اغْبَرَّتْ ثِيَابُهَا، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَدَمٌ، فَقُلْتُ: لَوْ أَتَيْتِ أَبَاكِ فَسَأَلْتِيهِ خَادِمًا، فَأَتَتْهُ فَوَجَدَتْ عِنْدَهُ حُدَّاثًا فَرَجَعَتْ فَأَتَاهَا مِنَ الْغَدِ فَقَالَ: مَا كَانَ حَاجَتُكِ؟ فَسَكَتَتْ، فَقُلْتُ أَنَا أُحَدِّثُكَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ جَرَّتْ بِالرَّحَى حَتَّى أَثَّرَتْ فِي يَدِهَا وَحَمَلَتْ بِالْقِرْبَةِ حَتَّى أَثَّرَتْ فِي نَحْرِهَا فَلَمَّا أَنْ جَاءَكَ الْخَدَمُ أَمَرْتُهَا أَنْ تَأْتِيَكَ فَتَسْتَخْدِمَكَ خَادِمًا يَقِيهَا حَرَّ مَا هِيَ فِيهِ، قَالَ: "اتَّقِي اللَّهَ يَا فَاطِمَةُ وَأَدِّي فَرِيضَةَ رَبِّكِ وَاعْمَلِي عَمَلَ أَهْلِكِ، فَإِذَا أَخَذْتِ مَضْجَعَكِ، فَسَبِّحِي ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ وَاحْمَدِي ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ وَكَبِّرِي أَرْبَعًا وَثَلاَثِينَ فَتِلْكَ مِائَةٌ فَهِيَ خَيْرٌ لَكِ مِنْ خَادِمٍ"، قَالَتْ: رَضِيتُ عَنِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَعَنْ رَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

١): تفرد به أبو داود بهذا اليساق: (اتقي الله يا فاطمة، وأدي فريضة ربك، واعملي عمل أهلك)، وأما البقية من الحديث فقد رواه كل من :صحيح البخاري/فرض الخمس ٦ (٣١١٣)، فضائل الصحابة ٩ (٣٧٠٥)، النفقات ٦ (٥٣٦١)، الدعوات ١١ (٦٣١٨)، صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٩ (٢٧٢٧)، سنن الترمذي/الدعوات ٢٤ (٣٤٠٨)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٤٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٩٦)، ويأتي هذا الحديث في الأدب (٥٠٦٢) (ضعيف)

دابن اعبد نه روايت دي چه عليه راته اوفرمائيل چه خپله اودفاطمي يوه واقعه درته بيان نکړم کومه چه نبی ﷺ ته په خپل ټول خاندان کښې ډيره محبوب وه ماعرض اوکړو ولي نه هغه اووئيل فاطمي به په لاس ميچن ګرځوله تردي پورې چه دهغې په لاسونوکښې نشانونه جوړ شوي وو او په شابه ئې داوبو مشکونه راوړل تردي چه په ملاکښې ئې دزخم نشان جوړ شوې وو او په کورکښې به ئې جارو وهله تردي چه دجامورنګ ئې بدل شوې وو نويوځل نبی ﷺ ته غلامان او وينځې راغلي ما ورته اووئيل که چرې خپل پلار ته ورشې اويوه وينځه ترې اوغواړې نوپه تابه اساني راشي نوچه کله فاطمه ورغله نودهغه سره ئې خلق ناست اوليدل چه خبرې ئې کولې تو واپس راغله بله ورځ بياورغله نبی ﷺ تپوس اوکړو چه څه خبره ده هغه خاموش شو ماعرض اوکړو اې دالله رسوله زه به درته اووايم ميچن ئې په لاس کښې نشانونه جوړ کړي دی اوداوبو مشکونو ئې په شاه کښې زخمونه جوړ کړي دی اوس تاته وينځې اوغلامان راغلی دی مادي ته اووئيل چه دنبی ﷺ نه يوخادم اوغواړه چه دي ته دکور په خدمت کښې أساني ملاو شي، نبی ﷺ اوفرمائيل اې فاطمي دالله نه اويريږه اودخپل رب حکم اومنه اودخپل کور کارونه سر ته رسوه اوکله چه اوده کيږې نو څلور ديرش ځله الله اکبر أودرې ديرش ځله سبحان الله اودرې ديرش ځله الحمدلله اوابه کله چه داتعداد سل پوره شي نوداستاد پاره ديوخادم نه بهتردې فاطمي اووئيل زه دالله اودرسول نه راضي يم.

﴿ عن ابن اعبد قال قال علی رضی الله عنه لا احدثک عني وعن فاطمة الخ ﴾

د دې حديث او د وړاندې حديث مضمون تقريبا يو دې، او په هغې کښې دی چه علی فاطمې رضی الله عنها ته اوفرمائيل چه خپل پلار ته لاړه شه او د هغوی نه يو خادم اوغواړه، په دې باندې هغه رسول الله ﷺ ته لاړه، (الی آخر القصة وقد اخرج البخاری ومسلم وابوداؤد والنسائی من حديث عبدالرحمن بن ابی ليلی عن علی رضی الله عنه هذا الحديث بنحوه) وسيجیء ان شاء الله تعالی فی کتاب الادب من کتابنا هذا، قاله المنذري

[۲۹۸۹](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ،عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ بِهَذِهِ الْقِصَّةِ،قَالَ: وَلَمْ يُخْدِمْهَا.

دا حديث دتيرحديث په شان دې ليکن په دې کښې دا اضافه ده چه نبی ﷺ ورته خادم ورنکړو.

[۲۹۹۰](2) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ بْنُ عَبْدِ الْوَاحِدِ الْقُرَشِيُّ، قَالَ أَبُو جَعْفَرٍ يَعْنِي ابْنَ عِيسَى: كُنَّا نَقُولُ إِنَّهُ مِنَ الْأَبْدَالِ قَبْلَ أَنْ نَسْمَعَ أَنَّ الْأَبْدَالَ مِنَ الْمَوَالِي، قَالَ: حَدَّثَنِي الدَّخِيلُ بْنُ إِيَاسِ بْنِ نُوحِ بْنِ مُجَّاعَةَ، عَنْ هِلَالِ بْنِ سِرَاجِ بْنِ مُجَّاعَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ مُجَّاعَةَ أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطْلُبُ دِيَةَ أَخِيهِ قَتَلَتْهُ بَنُو سَدُوسٍ مِنْ بَنِي ذُهْلٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ كُنْتُ جَاعِلًا لِمُشْرِكٍ دِيَةً جَعَلْتُ لِأَخِيكَ، وَلَكِنْ سَأُعْطِيكَ مِنْهُ عُقْبَى"، فَكَتَبَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِائَةٍ مِنَ الْإِبِلِ مِنْ أَوَّلِ خُمُسٍ يَخْرُجُ مِنْ مُشْرِكِي

[1]: انظر ما قبله (ضعيف)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۲۱۲) (ضعيف الإسناد)

بَنِي ذُهْلٍ فَأَخَذَ طَائِفَةً مِنْهَا وَأَسْلَمَتْ بَنُو ذُهْلٍ فَطَلَبَهَا بَعْدُ مُجَّاعَةُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ، وَأَتَاهُ بِكِتَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَتَبَ لَهُ أَبُو بَكْرٍ بِاثْنَيْ عَشَرَ أَلْفَ صَاعٍ مِنْ صَدَقَةِ الْيَمَامَةِ أَرْبَعَةِ آلَافٍ بُرًّا وَأَرْبَعَةِ آلَافٍ شَعِيرًا وَأَرْبَعَةِ آلَافٍ تَمْرًا، وَكَانَ فِي كِتَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمُجَّاعَةَ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ هَذَا كِتَابٌ مِنْ مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ لِمُجَّاعَةَ بْنِ مَرَارَةَ مِنْ بَنِي سُلْمَى إِنِّي أَعْطَيْتُهُ مِائَةً مِنَ الإِبِلِ مِنْ أَوَّلِ خُمُسٍ يَخْرُجُ مِنْ مُشْرِكِي بَنِي ذُهْلٍ عُقْبَةً مِنْ أَخِيهِ.

روايت دي چه مجاعه دخپل قتل شوي ورور دديت غوښتلو دپاره دنبی ﷺ په خدمت کښي حاضر شو څوک چه سدوسيانو قتل کړي وو اودده تعلق دبنی ذهيل قبيلي سره وو نبی ﷺ اوفرمائيل که چرې ما د کوم مشرك ديت ورکولي نوستادورور ديت به مي ورکړي وو ليکن دهغه بدله به تاته درکړم، بيانبی ﷺ دده دپاره دا ولني خمس نه دسلو اوښانو ورکولو خط اوليکلو دهغه مال نه کوم چه نبی ﷺ ته دبنی ذهل دمشرکانونه حاصل شوي وو مجاعه ته په دې اوښانوکښي يوڅو ملاو شول، ددې نه پس قبيله بن ذهل اسلام قبول کړو او مجاعه خپل باقی اوښان دابوبکرنه اوغوښتل دهغه دخلافت په زمانه کښي اوابوبکرته ئي دنبی ﷺ خط راوړو، ابوبکر ورته داوښانو په بدل کښي ديمامي په صدقه کښي دولس زره صاع ورکړل په دې کښي څلور زره صاع غنم او څلور صاع وربشي او څلور زره صاع کجوري وي اود نبی ﷺ دخط مضمون داسې وو: شروع کوم په نوم دالله باندې چه بې حده رحم کونکي اومهربان دې داخط دمحمد رسول الله و دطرف نه دمجاعه بن مراره دپاره د څوك چه دبنی سلمه قبيلي والا دي مادده دپاره سل اوښان مقررکړی دی په اولني هغه خمس کښي کوم چه به دبنی ذهل دمشرکينونه حاصل شي دا معوضه ده دده دورور څوك چه قتل کړې شوي دې۔

﴿ حدثنا محمد بن عيسى نا عنبسة بن عبدالواحد القرشي، قال ابوجعفر يعنى ابن عيسى كنا نقول انه من الابدال قبل ان نسمع ان الابدال من الموالي ﴾

محمد بن عيسى د مصنف رحمه الله استاد چه د هغه کنيت ابوجعفر دې هغوی د خپلي استاد عنبسه په باره کښي وائي چه مونږ به دا ګڼړله د عنبسه په باره کښي چه هغه د ابدال د جماعت نه دي مخکښي د دې نه چه مونږ دا واورو چه ابدال د موالی نه وی يعنی د آزاد کړې شوي غلامانو نه.

مطلب دا دې چه عنبسه خو د موالی نه نۀ دې لهذا هغه د ابدال نه هم نه دې، لهذا زمونږ رومبي خيال غلط راوتلو اختار هذا شيخنا فی البذل، او صاحب د عون المعبود موالی لره د مماليک په معنی کښي نه دې اخستلي بلکه د سادات په معنی ئي اخستلي دې يعنی مولی اعلی، او عنبسه قرشی دې په ساداتو کښي دې، په دې صورت کښي به مطلب دا وی چه په شروع کښي خو زمونږ دا صرف ګمان وو روستو بيا هغه ګمان په يقين سره بدل شو او مونږ ته د هغه د ابدالو نه د کيدو يقين پيدا شو، هذا المعنى عكس المعنى السابق.

د ابدالو او اوتاد ثبوت د احاديثو نه:

دلته د دې روايت په سند کښي د ابدال ذکر راغلي دې، د ابدال ذکر په ابوداؤد کښي د کتاب الفتن نه پس په باب ذکر المهدی کښي هم راغلي دې چه د هغي لفظ دا دې ﴿ فاذا رأى الناس

ذلک اتاه ابدال الشام وعصائب اهل العراق فیبایعونه ﴾ چه د هغې مضمون دا دې چه په آخر زمانه کښې به چه کله د امام مهدی په لاس باندې مکه مکرمه کښې د حجر اسود او مقام ابراهیم علیه السلام ترمینځه خلق د هغوی سره بیعت اوکړي نو د هغې نه پس به د هغوی د مخالفینو یو لښکر اوچت شي د ملک شام نه کوم چه به هغوی سره د د جنګ کولو دپاره ځي نو هغوی به الله پاک په لاره کښې د مکې مکرمې او مدینې طیبې ترمینځه په زمکه کښې ښخ کړي، چه کله خلقو ته دا معلومه شي نو په دې سره به د خلقو په زړونو کښې د هغوی ډیر عظمت پیدا شي، پس د عراق عابدان او زاهدان او د ملک شام ابدال به راشي او د هغوی په لاس باندې به بیعت شي. حضرت شیخ په حاشیه د بذل کښې د علامه سیوطی رحمه الله نه نقل کړي دي چه په صحاح سته کښې د ابدال ذکر نشته سوا د ابوداؤد د دې روایت نه. (واخرج الحاکم وصححه) و ورد فی غیر الصحاح ذکرهم فی عدة احادیث جمعتها فی مولف، حضرت شیخ په دې خپله حاشیه کښې ډیر روایات دکتب حدیث او تصوف او رجال تاریخ په حواله سره لیکلي دي. [1] په دغه حاشیه کښې دي چه د علامه شامي هم یوه رساله ده چه د هغې نوم دې (اجابة الغوث ببیان حال النقباء والنجباء والابدال والاوتاد والغوث) هم دغه شان دعلامه سیوطی رحمه الله په الحاوی للفتاوی کښې یورساله ده (الخبرالدال علی وجود القطب والاوتاد والنجباء والابدال)اوسیوطی رحمه الله په (التعقبات علی الموضوعات) کښې د حدیث الابدال په باره کښې لیکلي دي: ﴿ صحیح وان شئت قلت متواتر﴾ آهـ

﴿ حدثنی الدخیل بن ایاس بن نوح بن مجاعة بن هلال بن سراح بن مجاعة عن ابیه عن جده مجاعة انه اتی النبی صلی الله علیه وسلم یطلب دیة اخیه قتلته بنو سدوس من بنی ذهل ﴾

مضمون د حدیث:

د دې حدیث راوی مجاعه بن مراره دې چه په یمامه کښې د اوسیدونکې قبیلې بنوحذیفه نه وو، دا په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې دی د خپلو قوم سردار وو. د هغوی کافر رور لره بنوسدوس قتل کړې وو نو د هغې دیت ئې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه غوښتلو، کیدې شی چه د بیت المال نه اخستل مراد وی، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه که د مشرک دیت وې نو ما به ستا د رور دیت هم درکړې وې، خو زه به د دیت په عوض کښې څه درکوم یعنی د هغوی د زړه ساتلو دپاره، ځکه چه دې د خپل قوم سردار وو، چه د هغوی قوم هم اسلام ته مائل شی، او ښکاره خبره ده چه مجاعه د دې طلب دیت په وخت اسلام کښې داخل شوې وو (بذل) د دې وجې نه رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی دپاره یو خط اولیکلو چه مشرکان د بنو ذهل د قبیلې د غنیمت نه چه ړومبی کوم خمس اویستلې شی نو په هغې کښې دې سل اوښان دوی ته ورکړې شی، په هغه سلو کښې خو څه حصه هغوی ته ورکړې شوه او څه ئې باقی پاتې شوه، او دلته دا اوشوه چه بنو ذهل اسلام قبول کړو، بیا د صدیق اکبر رضی الله عنه په زمانه کښې دا

[1] ماته محب مکرم مولانا حکیم سعود صاحب المعروف به حکیم اجمیری ذکر کړل چه ما هم د ابدالو متعلق تقریبا اویا روایات جمع کړی دی.

مجاعه هغوی ته راغلو د رسول اللهﷺ خط سره، نو هغوی د باقی دیت په باره کښې اولیکل دولس زره صاع د هغه صدقې نه چه د یمامه نه وصول شی، څلور زره صاع غنم، څلور زره صاع جوار، او څلور زره صواع کهجورې، او د رسول اللهﷺ خط کوم چه هغوی ته ورکړې وو داسې وو ﴿ بسم الله الرحمن الرحيم هذا كتا ب من محمدﷺ لمجاعة بن مرارة من بنی سلمی انی اعطيته مئة من الابل من اول خمس يخرج من مشركی بنی ذهل عقبة من اخيه﴾

بَابُ مَا جَاءَ فِي سَهْمِ الصَّفِيِّ

د صفی په نوم د حصې بیان

[۲۹۹۱]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ عَامِرٍ الشَّعْبِيِّ، قَالَ: كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَهْمٌ يُدْعَى الصَّفِيَّ إِنْ شَاءَ عَبْدًا وَإِنْ شَاءَ أَمَةً وَإِنْ شَاءَ فَرَسًا يَخْتَارُهُ قَبْلَ الْخُمُسِ.

دشعبی نه روایت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام دپاره یوه خاص حصه مقرر وه کوي ته چه به صفي وئیلې کیدل کله چه به نبی علیه السلام مناسب او ګنړل دمال غنیمت نه دخمس ویستلونه مخکښې به ئې دځان دپاره غلام یا وینځه یا اس خوښ کړو

[۲۹۹۲]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، وَأَزْهَرُ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْنٍ، قَالَ: سَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنْ سَهْمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالصَّفِيِّ، قَالَ: "كَانَ يُضْرَبُ لَهُ بِسَهْمٍ مَعَ الْمُسْلِمِينَ وَإِنْ لَمْ يَشْهَدْ وَالصَّفِيُّ يُؤْخَذُ لَهُ رَأْسٌ مِنَ الْخُمُسِ قَبْلَ كُلِّ شَيْءٍ".

دابن عون نه روایت دې فرمائی چه دمحمد بن سیرین نه مې تپوس اوکړو په باره دبرخې دنبی علیه السلام کښې او په باره دصفي کښې راوي وائی دنبی علیه السلام دپاره به دنورو مسلمانانو سره حصه مقررولې شوه اګرچه په جنګ کښې به نه وو شریك شوې اودهغه دپاره به دهرڅه نه مخکښې په پنځمه حصه کښې صفي بیلولې شو.

په دې باب باندې کلام په ﴿ باب فی الصفایا ﴾ کښې تیر شوې دې، او د صفی سره متعلق مسائل هم، د دې باب په رومبی حدیث کښې، ﴿ يختاره قبل الخمس ﴾ چه رسول اللهﷺ به سهم صفی اخستلو، د خمس راویستلو نه مخکښې، یعنی د اصل غنیمت نه مخکښې، په بذل کښې لیکلې شوې دی چه زمونږ مذهب هم دا دې خو د دې نه په روستو روایت کښې را روان دی ﴿ والصفی يوخذ له راس من الخميس قبل كل شئ ﴾ دا رومبې حدیث خلاف دې، او دفع تعارض داسې کیدې شی چه په رومبی روایت کښې قبل الخمس نه مراد قبل تقسیم الخمس مراد واخستلې شی، یعنی په خمس کښې سهم صفی مراد اخستلو نه پس د هغې تقسیم کولې شی، پس تعارض دفع شو.

[۲۹۹۳]() حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ السُّلَمِيُّ، حَدَّثَنَا عُمَرُ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الْوَاحِدِ، عَنْ سَعِيدٍ يَعْنِي ابْنَ بَشِيرٍ، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا غَزَا كَانَ لَهُ سَهْمٌ صَافٍ يَأْخُذُهُ مِنْ حَيْثُ شَاءَهُ فَكَانَتْ صَفِيَّةُ مِنْ ذَلِكَ السَّهْمِ، وَكَانَ إِذَا لَمْ يَغْزُ بِنَفْسِهِ ضُرِبَ لَهُ بِسَهْمِهِ وَلَمْ يُخَيَّرْ.

(۱): سنن النسائی/الفیء ۱ (۴۱۵۰)، (تحفة الأشراف: ۱۸۸۶۸) (ضعيف الإسناد)
(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۲۹۵) (ضعيف الإسناد)
(۳): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۲۱۴) (ضعيف الإسناد)

د قتاده نه روایت دې فرمائی چه کله به نبی ﷺ پخپله په جنګ کښې شرکت اوکړو نو چه دکوم ځائې نه به ئې خوښه وه دځان دپاره به ئې یوه حصه منتخب کړه او صفیه رضي الله عنها دنبی ﷺ په حصه کښې په غزوه خیبر کښې راغلې وه، اونبی ﷺ چه به کله پخپله په جنګ کښې نه وو شریك شوې، نودهغه دپاره به یوه حصه تعین کړې شوه او پخپله به ئې انتخاب نه کولو.
د باب دریم حدیث دا دې ﴿عن قتادة رضي الله عنه قال كان رسول الله ﷺ اذا غزا كان له سهم صاف الخ﴾ په دې روایت کښې د سهم صافی په باره کښې دا دی چه دا به د هغوی دپاره هغه وخت وو چه کله رسول الله ﷺ په هغه غزا کښې شریک وو او د هغوی چه کومه دویمه حصه په غنیمت کښې هغه مطلقا وه. که د په غزوه کښې به د رسول الله ﷺ شرکت وو او که به نه وو خو د دې باب چه کوم آخرى حدیث را روان دې د هغې نه معلومیږی چه سهم صافی اوسهم غنیمت دواړه عام وو دا ټول بحث په باب الصفایا کښې تیر شوې دې.

[۲۹۹٤](١) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَتْ صَفِيَّةُ مِنَ الصَّفِيِّ.

دام المومنین عائشة رضي الله عنها نه روایت دې چه ام المومنین صفیه رضي الله عنها په صفي کښې وه.
﴿عن عائشة رضي الله عنها قال كانت صفية من الصفى﴾
یعنی د رسول الله ﷺ زوجه محترمه صفیة رضي الله عنها رسول الله ﷺ ته په سهم صافی کښې ورکړې شوې وه،دا روایت د راتلونکی مفصل روایت خلاف دې، او صحیح خبره هم هغه ده لهذا د دې روایت دې دا تاویل اوکړې شی چه مراد من حیث المال دې او کوم چه را روان روایت دې په هغې کښې داسې دی

[۲۹۹۵](٢) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الزُّهْرِيُّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَدِمْنَا خَيْبَرَ فَلَمَّا فَتَحَ اللَّهُ تَعَالَى الْحِصْنَ ذُكِرَ لَهُ جَمَالُ صَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيٍّ وَقَدْ قُتِلَ زَوْجُهَا وَكَانَتْ عَرُوسًا فَاصْطَفَاهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنَفْسِهِ فَخَرَجَ بِهَا حَتَّى بَلَغْنَا سُدَّ الصَّهْبَاءِ حَلَّتْ فَبَنَى بِهَا.

دانس ابن مالك نه روایت دې فرمائی چه مونږه خیبر ته راغلو کله چه الله تعالی فتح کړو نوخلقو نبی ﷺ ته دصفیة بنت حیی دښائست ذکراوکړو دچاچه خاوند قتل کړې شوې وو اوناوې وه نونبی ﷺ دخپل ځان دپاره منتخب کړه اوبیانبی ﷺ دخپل ځان سره بوتله تردې چه نبی ﷺ سد الصهباء مقام ته اورسیدو هلته هغه حلاله (دحیض نه پاکه شوه او صحبت ئې ورسره وکړو.

[۲۹۹٦](٣) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: صَارَتْ صَفِيَّةُ لِدِحْيَةَ الْكَلْبِيِّ، ثُمَّ صَارَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٩١٨) (صحيح)
[2]: صحيح البخاري/البيوع ١١١ (٢٢٣٥)، الجهاد ٧٤ (٢٨٩٣)، المغازي ٣٩ (٤٢١١)، الأطعمة٢٨ (٥٤٢٥)، الدعوات ٣٦ (٦٣٦٣)، وانظر حديث رقم (٢٠٥٤)، (تحفة الأشراف: ١١١٧) (صحيح)
[3]: سنن ابن ماجه/ النكاح ٤٢ (١٩٥٧)، (تحفة الأشراف: ١٠١٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٢٨٠) وانظر حديث رقم (٢٠٥٤) (صحيح)

دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائی چه صفيه رضي الله عنها اول د دحيه كلبي په حصه كښې راغلې وه بیا هغه دنبی عليه السلام په حصه كښې راغله

[۲۹۹۷]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَلَّادٍ الْبَاهِلِيُّ، حَدَّثَنَا بَهْزُ بْنُ أَسَدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا ثَابِتٌ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: وَقَعَ فِي سَهْمِ دِحْيَةَ جَارِيَةٌ جَمِيلَةٌ، فَاشْتَرَاهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْعَةِ أَرْؤُسٍ ثُمَّ دَفَعَهَا إِلَى أُمِّ سُلَيْمٍ تُصَنِّعُهَا وَتُهَيِّئُهَا، قَالَ حَمَّادٌ: وَأَحْسَبُهُ قَالَ: وَتَعْتَدُّ فِي بَيْتِهَا صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَيٍّ.

دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائی چه د دحية الكلبي په حصه كښې يوه بهترينه خائسته جينئ راغله نبی عليه السلام داوه غلامانو په بدل كښې دحية الكلبي نه واخستله او بيائي ام سليم رضي الله عنها ته حواله كړه چه سنګارئي كړي اوتياره ئې كړي حماد وائی چه زما خيال دي چه داسې ئې ووئيل چه دام سليم په كوركښې عدت تيركړه.

[۲۹۹۸]()حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ. ح وحَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْمَعْنَى، قَالَ: حَدَّثَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: جُمِعَ السَّبْيُ يَعْنِي بِخَيْبَرَ فَجَاءَ دِحْيَةُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَعْطِنِي جَارِيَةً مِنَ السَّبْيِ، قَالَ: "اذْهَبْ فَخُذْ جَارِيَةً فَأَخَذَ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ، فَجَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ أَعْطَيْتَ دِحْيَةَ، قَالَ يَعْقُوبُ: صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ سَيِّدَةَ قُرَيْظَةَ وَالنَّضِيرِ، ثُمَّ اتَّفَقَا مَا تَصْلُحُ إِلَّا لَكَ، قَالَ: ادْعُوهُ بِهَا، فَلَمَّا نَظَرَ إِلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: خُذْ جَارِيَةً مِنَ السَّبْيِ غَيْرَهَا"، وَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْتَقَهَا وَتَزَوَّجَهَا.

دانس رضي الله عنه نه روايت دي فرمائی چه د خيبر ټول قيديان يوځائي ته راجمع كړي شول اوهلته دحية الكلبي راغي او وئې وئيل اې دالله رسوله په دې قيديانوكښې يوه وينځه ماته راكړه نبی عليه السلام اوفرمائيل ورشه اويوه وينځه واخله نو ورغي اوصفية بنت حي ئې واخستله په دې وخت كښې يوكس نبی عليه السلام ته راغې اووئې وئيل يا رسول الله تادبنونضير اوبنوقريظه ديهوديانو دسردار لوردحية كلبي ته وركړه داخوستانه علاوه دبل چاسره نه ښائي نبی عليه السلام اوفرمائيل را اوئي غواړئ كله چه نبی عليه السلام صفيه اوليدله نودحيه ته ئې اوفرمائيل دځان دپاره كومه بله وينځه واخله بيانبی عليه السلام دي لره ازاده كړه اونكاح ئې ورسره وكړه.

﴿عن انس رضي الله عنه قال جمع السبى بخيبر فجاء دحية فقال يارسول الله صلى الله عليه وسلم اعطنى جارية من السبى، قال اذهب فخذ جارية فاخذ صفية ابنه حيى الخ﴾

صفية رضي الله عنها د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حصه كښې څنګه راغله؟:

يعنى د خيبر قيديان چه كله جمع كړې شو نو دحية كلبى رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې حاضر شو او د هغوى نه ئې په هغه قيديانو كښې د يوې وينځې فرمائش اوكړو، رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته اختيار وركړو چه يو وينځه واخله، هغوى صفيه رضي الله عنها واخستله، نو سړي د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې حاضر شو او عرض ئې اوكړو يا رسول الله صلى الله عليه وسلم تاسو دحية ته صفيه وركړه هغه خو د بنوقريظه او بنو نضير سرداره ده او د دحية دپاره مناسب نه

[1]: تفرد به أبو داود، وانظر حديث رقم (۲۰۵٤) (تحفة الأشراف: ۳۷۷، ۳۹۰) (صحيح)
[2]: صحيح البخاري/ الصلاة ۱۲ (۳۷۱)، صحيح مسلم/ النكاح ۱٤ (۱۳٦٥)، سنن النسائي/ النكاح ٦٤ (۳۳٤۲)، (تحفة الأشراف: ۹۹۰، ۱۰۵۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۰۱/۳، ۱۸٦) (صحيح)

ده ستاسو دپاره مناسب ده. په دې باندې رسول اللهﷺ دحیةؓ د صفیېؓ سره راوغوښتلو، او هغوی په هغې باندې نظر اچولو سره اوفرمائیل چه بله وینځه واخله، او بیا ئې صفیه ؓ آزاده کړه او د هغې سره ئې نکاح اوکړه.

په دې روایاتو کښې یو روایت کښې دا هم دی د صفیېؓ په باره کښې چه ﴿وقد قتل زوجها وكانت عروسا﴾ او دا هم دی چه ﴿ تخرج بها حتی بلغنا سد الصهباء حلت فبنی بها ﴾ یعنی د خیبر نه په واپسئ باندې چه کله رسول اللهﷺ مقام د سد الصهباء ته راورسیدلو نو هغه د رسول اللهﷺ دپاره حلاله شوه، د دې نه مراد طهارت دې د حیض نه، یعنی استبراء حاصله شوه. د دې نه پس رسول اللهﷺ د هغې سره بناء اوکړه (تخلیه)

او په روایات الباب کښې په یو کښې دا هم دی د دحیة په حصه کښې یو جاریه جمیله راغلې وه ﴿ فاشتراها رسول اللهﷺ بسبعة رؤس ﴾ یعنی رسول اللهﷺ یوه وینځه د اووه وینځو په عوض کښې واخستله. د دې نه مراد دا دې چه رسول اللهﷺ د دحیهؓ صفیه اخستلو سره هغه ته د دې په بدل کښې اووه وینځې ورکړې، او دا چه په روایت کښې راغلی دی چه یو صحابیؓ راغلو او رسول اللهﷺ ته ئې عرض اوکړو چه هغه ستاسو دپاره ډیره مناسبه ده او د دحیه ؓ مناسب نه ده مطلب دا دې چه د دې دحیه ته تلل د مصلحت خلاف دی، ځکه چه په صحابه کرامو ؓ کښې د دحیهؓ په شان بلکه د هغوی نه افضل ډیر زیات وو او دا یو اوچت شان والا جاریه وه نو دحیهؓ سره د کیدو د وجې نه به نور ته احساس کیدو او د بشریت د تقاضې مطابق دا د تنافس مقام وو، او د رسول اللهﷺ سره د کیدو په صورت کښې به د چا هم دا آشکال نه وو.

وئیلې شوې دی چه د صفیه نوم د رسول اللهﷺ د اصطفاء نه مخکښې زینب وو بیا چه کله په سهم صفی کښې راغله نو د هغې نوئې صفیه کیخودلو، (کذا فی البذل) خو په عون المعبود کښې د امام نووی ؒ نه نقل کړې شوې دی چه صحیح خبره دا ده چه د هغې نوم د مخکښې نه صفیه وو.

[۲۹۹۹](¹) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا قُرَّةُ، قَالَ: سَمِعْتُ يَزِيدَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كُنَّا بِالْمِرْبَدِ فَجَاءَ رَجُلٌ أَشْعَثُ الرَّأْسِ بِيَدِهِ قِطْعَةُ أَدِيمٍ أَحْمَرَ، فَقُلْنَا: كَأَنَّكَ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ، فَقَالَ: أَجَلْ قُلْنَا: نَاوِلْنَا هَذِهِ الْقِطْعَةَ الْأَدِيمَ الَّتِي فِي يَدِكَ، فَنَاوَلَنَاهَا فَقَرَأْنَاهَا فَإِذَا فِيهَا مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللَّهِ إِلَى بَنِي زُهَيْرِ بْنِ أُقَيْشٍ: "إِنَّكُمْ إِنْ شَهِدْتُمْ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَأَقَمْتُمُ الصَّلَاةَ، وَآتَيْتُمُ الزَّكَاةَ، وَأَدَّيْتُمُ الْخُمُسَ مِنَ الْمَغْنَمِ وَسَهْمَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّفِيَّ أَنْتُمْ آمِنُونَ بِأَمَانِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ"، فَقُلْنَا: مَنْ كَتَبَ لَكَ هَذَا الْكِتَابَ؟ قَالَ: رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

د یزید بن عبد الله نه روایت دې فرمائی چه مونږه په مربد مقام کښې وو په دې وخت کښې یو کس راغې اودسر ویښته ئې ګډ وډ وو او په لاس کښې ئې سره څرمن نیولې وه مونږ ورته اووئیل ته خوداسې ښکارې لکه زنګل نه چه راغلې یې هغه اووئیل هو مونږ ورته اووئیل داڅرمن مونږ ته راکړه کومه چه ستا په لاس کښې ده نومونږ ته ئې راکړه نومونږ

(¹) تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۵۶۸۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۷۷/۵، ۷۸، ۳۶۳) (صحيح الإسناد)

ولوستله او په هغې کښې دا لیکلې شوي وو د الله د رسول محمد د طرف نه بنی زهیر بن أقیش قبیلې ته که چرې تاسو ددې کلمې ګواهي ورکړئ لا إله إلا الله وأین محمدا رسول الله او مونځونه قائم کړئ او زکاتونه اداکړئ او غنیمت کښې خمس ورکړئ او د نبی ﷺ حصه او دصفي حصه ورکړئ نو تاسو ته د الله او د رسول د طرف نه امن دې مونږ ورته اوونیل دادرله چا لیکلې دې هغه اوونیل رسول الله ﷺ

مضمون الحدیث:

﴿سمعت یزید بن عبدالله قال کنا بالمربد فجآء رجل اشعث الراس بیده قطعة ادیم احمر فقلنا کانک من اهل البادیة﴾: دا دې باب آخری حدیث دې چه د هغې ذکر مونږ سره اوس نژدې راغلې وو، د دې مضمون دا دې یزید بن عبدالله وائي چه مونږ په مقام مربد کښې وو (په بصره کښې یو ځائې دې) نو یو سړې د خورو ورو ویښتو والا راغلو چه د هغه په لاس کښې د سرې څرمنې یو ټکړه وه (چه په هغې باندې څه لیکلې شوې دی) مونږ هغه ته اوویې چه ته کلې وال معلومیږې هغه اوویې او، مونږ اوویې ستا په لاس کښې چه دا کومه ټکړه ده دا لږه مونږ ته راکړه هغه مونږ ته راکړې نو مونږ اوکتل چه په هغې کښې لیکلې شوې وو ﴿من محمد ﷺ الی بنی زهیر بن اقیش انکم ان شهدتم ان لا اله الا الله وان محمدا رسول الله واقمتم الصلوة واتیتم الزکوة وادیتم الخمس من المغنم وسهم النبی ﷺ وسهم الصفی انتم امنون بامان الله ورسوله﴾

په دې لیک کښې د رسول الله ﷺ د دوه حصو ذکر دې چه حصه د غنیمت او دویم سهم صفی، او د دې دواړو په باره کښې دا دی چه که تاسو دواړه دا ادا کوئ (سره د هغه باقی امورو نه کوم چه په خط کښې ذکر دی) نو تاسو زمونږ د طرف نه په امن یئ د دې نه معلومیږی چه د رسول الله ﷺ دپاره دواړه حصې مطلقا وې، په غزا کښې د شرکت کولو قید نه وو، د سهم غنیمت په باره کښې نو په روایت کښې هم اتفاق دې او د علماء کرامو ترمینځه هم خو د سهم صفی په باره کښې د باب په شروع کښې چه کوم حدیث کښې تیر شوی دی هغه د دې خلاف دی، د حضرت ګنګوهی رحمه الله رائې د دې حدیث د وجې نه د عدم تقیید ده او په تیر شوی باب کښې دا تیر شوی دی چه حضرت په بذل کښې لیکلې دی چه په کتب فقه کښې ماته د دې تصریح نه ده ملاؤ شوې

حدیث یزید بن عبدالله سکت علیه المنذری وکتب الشیخ محمد عوامه ان المزی رحمه الله عزاه الی النسائی.

بَابٌ كَيْفَ كَانَ إِخْرَاجُ الْيَهُودِ مِنَ الْمَدِينَةِ

د مدینې نه د یهودیا نو ویستل په څه وجه دی؟

مختصر تاریخ د یهودو د غزواتو متعلق:

ترجمة الباب یعنی کیفیت اخراج یهود من المدنیة په باره کښې تاسو په دې ځان پوهه کړئ چه یهود د چا سره چه د رسول الله ﷺ د جنګ ضرورت راغلو دوه قسمونه وو، بعض خو هغه وو کوم چه د مدینې نه بهر په خیبر کښې آباد وو، دا خیبر چه یو لوئې کلې دې د

مدينې نه په شمال مغرب کښې تقريبا د يونيم سل کلوميټر په فاصله باندې واقع دې، او بعض قبائل د يهودو وې کوم چه د مدينې او د هغې خوا په خوا علاقو کښې خورې شوې وې. په دې وجه اول خو د غزوې ضرورت راغلو د مدينې د يهودو سره چه هغوی د مدينې نه خارج کړې شو يا قتل کړې شو چه د هغې تفصيل وړاندې را روان دې، او د خيبر د يهودو سره د قتال حاجت روستو راغلو خو د فتح نه روستو هغوی د هغه ځائې نه او نه ويستلې شو بلکه د رسول الله ﷺ د هغوی سره معاهده اوشوه چه کله مسلمانان اوغواړي تاسو به اوباسي.

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه کله رسول الله ﷺ هجرت کولو سره مدينې طيبې ته اورسيدلو نو هغه وخت د هغه ځائې آبادي لکه چه په حديث الباب کښې را روانه ده مخلوط وه د مسلمانانو مشرکانو او يهوديانو، د مشرکانو دوه مشهور قبيلې وې اوس او خزرج چه د هغوی لقب د هغوی د مشرف باسلام کيدو نه پس انصار شو. او د يهودو درې لوئې قبيلې هلته آبادې وې بنو نضير (چه د کومو شمير په اشرافو کښې وو) او بنو قريظه (چه د کمې درجې ګنړلې کيدل) او بنو قينقاع (د عبدالله بن سلام رضی الله عنه قوم) رسول الله ﷺ مدينې طيبې ته د رسيدلو نه پس د هجرت په ړومبو وختونو کښې د مدينې د يهودو سره معاهده کړې وه د امن وامان د قائمولو. خو دې خلقو عهدونه ماتول چه په هغې باندې هغوی سره قتال کيدو، پس د ټولو نه اول بې لوظې قينقاع اوکړه دا د شوال ۲ هجری واقعه ده چه رسول الله ﷺ هغوی سره د قتال اراده اوفرمائيله نو خلق د مقابله نه بچ کيدو دپاره په قلعه ګانو کښې بند شو. رسول الله ﷺ د هغوی محاصره اوکړه، چه کله هغه د محاصرې نه تنګ شو نو جلا وطنی ئې منظور کړه او د قلعه نه راکوز شو او شام ته لاړل، د دې نه پس په ۴ هجرئ کښې د بنو نضير يهودو د مسلمانانو سره بد عهدی اوکړه د هغوی د بد عهدئ واقعه په را روان باب ﴿ باب فى خبر النضير ﴾ په متن کښې راروانه ده، پس هغوی سره مقابلې ته ضرورت راغلو نو هغه هم په قلعه ګانو کښې بند شو تردې چه عاجز کيدو سره ئې جلاوطنی قبول کړه او دا خلق د مدينې طيبې نه وتلو سره په خيبر کښې آباد شو او خيبر ګويا د يهودو مرکز او د هغوی د سازشونو اډه جوړه شوه، د بنو قريظه سره په دې موقع باندې مصالحت شوې وو، پس وړاندې په روايت کښې راځي ﴿ عن ابن عمر رضی الله عنهما ان يهود النضير وقريظة حاربوا رسول الله ﷺ فاجلى رسول الله ﷺ بنى النضير واقر قريظه ﴾ الحديث يعنی په دې موقع باندې رسول الله ﷺ بنو قريظه په مدينه طيبه کښې برقرار اوساتل، خو دې خلقو د غزوه احزاب په موقع باندې د مشرکانو ملګرتيا اوکړه پس رسول الله ﷺ د غزوه احزاب د فراغت نه پس په ۵ هجرئ کښې په هغوی باندې حمله اوکړه هغوی قلعه بند شو او هغوی مجبور کيدو سره قبيله اوس لره په مينځ کښې اچولو سره سيدنا سعد بن معاذ رضی الله عنه لره حکم جوړ کړو، هغوی د دوی د قتل فيصله ورکړه چه په هغې باندې د بنو قريظه سړي چه د هغوی تعداد په روايتونو کښې څلور سوه راځی ټول په مدينه طيبه کښې قتل کړې شو، آو دې پورته معلومه شوه چه بنو نضير د مدينې نه جدا کيدو سره په خيبر کښې

اباد شوي وو او هر وخت به ئې د مسلمانانو خلاف سازشونه کول تر دې چه په ۷ هجرئ کښې رسول الله ﷺ په هغوی پسې ور اوتلو مسلمانانو ته فتح حاصله شوه، په غنیمت کښې مسلمانانو ته ډېر زیات مال او دولت حاصل شو، علی رضی الله عنه فاتح خیبر باندې مشهور دې، باقي په دې فتح کښې هغوی د هغه ځائې نه او نه ویستلي شو بلکه معاهده اوشوه چه هغوی به هم هلته د ذمیانو په شکل اوسیږي، او د دې سره هغوی رسول الله ﷺ ته درخواست اوکړو چه تاسو خو د خپل دین د کار نه اوزګار نه يئ ستاسو کار کرونده کول نه دی، دا باغونه او زمکې مونږ ته حواله کړئ مونږ به په دې زمکو کښې کرونده کوو او تاسو ته به تیاره غله ملاویږي. رسول الله ﷺ هغوی سره په دې باندې د مزارعت معامله اوکړه چه هغې ته مخابره وائی، او د باغونو معامله ئې ورسره هم اوکړه چه هغې ته مساقات وائی دا ډېر زیاتو کهجورو باغونه وو (۱) او هغوی سره هغه وخت فیصله دا اوشوه چه تاسو دلته اوسیدو سره کرونده وغیره کوئ چه کله مسلمانان غواړي تاسو به د دې ځائې نه اوباسی، د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خلافت پورې خو هلته اوسیدل، چه کله د عمر رضی الله عنه د خلافت زمانه راغله نو هغوی دوی د اریحاء او تیماء طرف ته جلا وطن کړل لکه چه وړاندې په روایت کښې دی.

په شروع کښې دا مختصر تاریخ د یهودو د غزواتو او د هغوی سره جهاد اجمالي طور اولیکلې شو د دې دپاره چه په راروانو بابونو کښې او د هغې د احادیثو په فهم کښې سهولت پیدا شي. والله تعالی الموفق والمیسر

[۳۰۰۰](۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، أَنَّ الْحَكَمَ بْنَ نَافِعٍ حَدَّثَهُمْ، قَالَ: أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ، وَكَانَ أَحَدَ الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ تِيبَ عَلَيْهِمْ، وَكَانَ كَعْبُ بْنُ الْأَشْرَفِ يَهْجُو النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيُحَرِّضُ عَلَيْهِ كُفَّارَ قُرَيْشٍ، وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَدِمَ الْمَدِينَةَ وَأَهْلُهَا أَخْلَاطٌ مِنْهُمُ الْمُسْلِمُونَ وَالْمُشْرِكُونَ يَعْبُدُونَ الْأَوْثَانَ وَالْيَهُودُ، وَكَانُوا يُؤْذُونَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابَهُ فَأَمَرَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ نَبِيَّهُ بِالصَّبْرِ وَالْعَفْوِ فَفِيهِمْ أَنْزَلَ اللَّهُ: وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ سورة آل عمران آية ۱۸۶ الْآيَةَ، فَلَمَّا أَبَى كَعْبُ بْنُ الْأَشْرَفِ أَنْ يَنْزِعَ عَنْ أَذَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَعْدَ بْنَ مُعَاذٍ أَنْ يَبْعَثَ رَهْطًا يَقْتُلُونَهُ، فَبَعَثَ مُحَمَّدَ بْنَ مَسْلَمَةَ وَذَكَرَ قِصَّةَ قَتْلِهِ، فَلَمَّا قَتَلُوهُ فَزِعَتِ الْيَهُودُ وَالْمُشْرِكُونَ فَغَدَوْا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: طُرِقَ صَاحِبُنَا فَقُتِلَ، فَذَكَرَ لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي كَانَ يَقُولُ: وَدَعَاهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَنْ يَكْتُبَ بَيْنَهُ كِتَابًا يَنْتَهُونَ إِلَى مَا فِيهِ، فَكَتَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْمُسْلِمِينَ عَامَّةً صَحِيفَةً.

کعب بن مالك نه د خپل پلارنه روایت کوی اودې په هغه درې کسانو کښې وو چه توبه ئې قبوله شوې وه (په غزوه تبوك کښې دنه شریك کیدو په وجه)اوکعب بن اشرف یهودي به د نبی علیه السلام بد بیانول اودقریشو مشرکان به ئې جنګ ته راپارول نبی علیه السلام چه کله مدینې ته

(۱) پس په دې باغونو کښې د یو باغ نوم کتیبه وو چه د هغې ذکر به (باب ما جآء في حکم ارض خیبر) په یو روایت کښې داسې دې چه د امام مالك رحمه الله نه د هغه شاګرد تپوس اوکړو چه کتیبه څه څیز دې؟ نو هغوی جواب ورکړو چه د خیبر یو باغ دې چه په هغې کښې د څلویښت زره د کهجورو اونې وې.
(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۵۲) (صحیح الأسناد)

راغي نو دهغه په وخت کښې په مدينه کښې هرمذهب والاخلق موجود وو په هغې کښې مسلمانان هم وو او مشرکين هم وو چاچه به دبتانو عبادت کرو اوبعضې يهوديان چه نبی ﷺ اوصحابه کراموته به ئې تکليفونه رسول الله تعالی خپل پيغمبرته دصبر حکم اوکړو په دې سلسله کښې دا ايت: «ولتسمعن من الذين أوتوا الكتاب من قبلكم» نازل شو کله چه کعب بن اشرف نبی ﷺ ته دتکليف رسولونه منع نه شو نونبی ﷺ سعد بن معاذ به ته حکم اوکړو چه دکعب بن اشرف دوژلو دپاره يوځوکسان اوليږي نوهغه محمد بن مسلمه اوليږو، اودقتل واقعه ئې داسې بيان کړه کله چه دوی کعب بن اشرف قتل کړو نومشرکين او يهوديان اويريدل اوسحر دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شول اووئې وئيل چه زمونږ مشر کعب بن اشرف دشپې قتل کړې شوې دې نبی ﷺ دوی ته هغه خبرې بيان کړې کوم چه به ده حجره کوله ددې نه پس نبی ﷺ دې خلقوته اوفرمائيل چه اوس زمونږه اوستاسوپه مينځ کښې يوه معاهده ليکل پکاردي په کومې باندې چه به دواړه ډلې قائم وي، نونبی ﷺ ددې خلقو اودخپل ځان اودنورو مسلمانانو دپاره يوعام قرار داد تحرير کړو.

﴿ عن عبدالرحمن بن عبدالله بن کعب بن مالک عن ابيه... وکان احد الثلاثة الذين تيب عليهم ﴾

عبدالرحمن د خپل پلار عبدالله بن کعب نه روايت کوی، وړاندې په روايت کښې دی **﴿ وکان احد الثلاثة ﴾** ضمير په ظاهر کښې د عبدالله طرف ته واپس کيږی، خو هغه مراد نه دې بلکه د هغه پلار کعب بن مالک مراد دې (دا امر قابل تنبيه دې ګينې د عبارت د ظاهر نه د د حقيقت د خلاف شبه پيدا کيږی)

د کعب بن اشرف يهودی د قتل قصه :

دا کعب بن الاشرف يهودی د بنوقينقاع نه وو ډير د لوئې شان والا او شعر قسم سړې وو او ډير زيات ضرری وو، د رسول الله ﷺ به ئې په شعرونو کښې بدی بيانوله (والعياذ بالله)، او د قريشو کفار به ئې د مسلمانانو خلاف راپاسول، وړاندې راوی وائی چه کله رسول الله ﷺ مدينې طيبې ته تشريف راوړو نو د هغه ځائې آبادی مخلوط (يعنی خلق پکښې ګډ وډ اوسيدل) مسلمانان او مشرکان او يهوديان ټول پکښې اوسيدل او دې يهودی به رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ﷺ ته تکليف ورکولو، الله پاک خپل نبی ﷺ ته د عفو او صبر حکم کولو، پس رسول الله ﷺ هم هغوی معاف کول **﴿ فلما ابی کعب بن الاشرف ان ينزع عن اذی النبی ﷺ امر النبی ﷺ سعد بن معاذ ان يبعث رهطا يقتلونه فبعث محمد بن مسلمة ﴾**

يعنی هر کله کعب بن اشرف رسول الله ﷺ ته د تکليف ورکولو نه قلار نه شو نو رسول الله ﷺ سعد بن معاذ ﷺ ته حکم اوکړو چه يو جماعت د هغه په قتل پسې اوليږی، پس هغوی محمد بن مسلمة ﷺ وغيره اوليږلو، وړاندې په روايت کښې دی چه کله کعب بن الاشرف قتل کړې شو کوم چه د هغوی د يو اهم سړی قتل وو نو په دې باندې يهود او مشرکين ټول اويريدل او چونکه دا قصه د هغه د قتل د شپې راغلې وه په دې وجه دا خلق سحر وختی د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او هغوی ته ئې شکايت اوکړو چه د شپې زمونږ فلانې سړې قتل کړې شوې دې. نو رسول الله ﷺ هغوی ته د هغه د شرارتونو او

د هغه د تکليف ورکولو تذکره اوکړه، بيا رسول اللهﷺ د هغوی مخې ته د معاهدې خبره اوکړه، پس عهد نامه اوليکلې شوه، په روايت کښې هم دومره دی.
خو صرف په دې سره ترجمة الباب ښکاره نه شو په دې وجه دا به ونيلې شي چه په دې حديث کښې د معاهدې ذکر دې نو سبب جوړ شو د هغوی د اخراج څکه چه هغوی په خپله معاهده باندې قائم پاتې نه شو او عهد ئې مات کړو هم په دې باندې هغوی سره قتال اوشو او هغوی ويستلې شو
په دې روايت کښې دی چه رسول اللهﷺ د کعب د قتل حکم سعد بن معاذ ﷺ ته ورکړو، حال دا چه د دې نه مخکښې په کتاب الجهاد کښې ﴿باب العدو يوتى على غرة﴾ کښې دا تير شوی دی چه رسول اللهﷺ اوفرمائيل ﴿من الكعب بن الاشرف؟ فقام محمد بن مسلمة بطوله﴾ چه په هغې کښې د هغه د قتل تفصيل ذکر کړې شوې دې، د دې اشکال جواب به په ظاهر کښې هلته تير شوې وی هغه دا چه اصل خو هم روايت دې کوم چه مخکښې تير شو خو چه کله محمد بن مسلمة د قتل دپاره تيار شو نو رسول اللهﷺ اوغوښتل چه د هغوی سره څو کسان نور کړی پس سعد بن معاذ ﷺ وغيره ئې د هغوی سره اوليږل.
دا قتل د کعب په ربيع الاول ۳ هجرئ کښې راپيښ شو، او په دې روايت کښې دی چه د يهودو سره معاهده د هغه واقعې نه پس اوشوه، د دې نه دا نتيجه راووتله چه د يهودو سره د معاهدې شروع د ۳ هجرئ نه ده.
وقد اخرج البخاری ومسلم وابوداؤد والنسائی قتل کعب بن الاشرف اتم من هذا، وقد تقدم فی کتاب الجهاد، قاله المنذری

[۳۰۰۱](۱) حَدَّثَنَا مُصَرِّفُ بْنُ عَمْرٍو الْأَيَامِيُّ، حَدَّثَنَا يُونُسُ يَعْنِي ابْنَ بُكَيْرٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي مُحَمَّدٍ مَوْلَى زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، وَعِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: لَمَّا أَصَابَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُرَيْشًا يَوْمَ بَدْرٍ وَقَدِمَ الْمَدِينَةَ جَمَعَ الْيَهُودَ فِي سُوقِ بَنِي قَيْنُقَاعَ، فَقَالَ: "يَا مَعْشَرَ يَهُودَ أَسْلِمُوا قَبْلَ أَنْ يُصِيبَكُمْ مِثْلُ مَا أَصَابَ قُرَيْشًا"، قَالُوا: يَا مُحَمَّدُ لَا يَغُرَّنَّكَ مِنْ نَفْسِكَ أَنَّكَ قَتَلْتَ نَفَرًا مِنْ قُرَيْشٍ كَانُوا أَغْمَارًا لَا يَعْرِفُونَ الْقِتَالَ إِنَّكَ لَوْ قَاتَلْتَنَا لَعَرَفْتَ أَنَّا نَحْنُ النَّاسُ وَأَنَّكَ لَمْ تَلْقَ مِثْلَنَا، فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي ذَلِكَ: قُلْ لِلَّذِينَ كَفَرُوا سَتُغْلَبُونَ سورة آل عمران آية ۱۲ قَرَأَ مُصَرِّفٌ إِلَى قَوْلِهِ فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ سورة آل عمران آية ۱۳ بِبَدْرٍ وَأُخْرَى كَافِرَةٌ سورة آل عمران آية ۱۳.

دابن عباس ﷺ نه روايت دې فرمائی چه کله نبی ﷺ په غزوه بدر کښې په مشرکينو غالب شواومدينې ته واپس راغې نودبنی قينقاع په بازارکښې ئې يهوديان جمع کړل او وې فرمائيل اې يهوديانو ددې نه مخکښې چه ستاسوهم هغه حالت شي کوم چه دقريشوشو اسلام قبول کړئ هغوی ووئيل اې محمد ﷺ ته په دې خبره باندې مه غره کيږه چه تادقريشويو څوکسان قتل کړل څوک چه دجنګ نه ناواقفه وو او تجربه ئې نه وه که چرې تازمونږ په شان خلقوسره جنګ کړې وې نوتاته به معلومه شوې وه چه مونږ څومره بهادر او تجربه کاريو اوتربيت يافته يوستازمونږ په شان خلقوسره واسطه نده راغلې نوپه دې وخت

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۶۰۶) (ضعيف الإسناد)

کښې الله تعالی دا ایت: «قل للذین کفروا ستغلبون» نازل کړو

﴿عن ابن عباس رضی الله عنهما قال لما اصاب رسول الله ﷺ قریشا یوم بدر وقدم المدینة جمع الیهود فی سوق بنی قینقاع فقال: یا معشر یهود اسلموا قبل ان یصیبکم مثل ما اصاب الخ﴾

مضمون الحدیث:

یعنی رسول الله ﷺ چه کله په جنګ بدر کښې په قریشو باندې برې بیا موندلو او د بدر نه مدینې طیبې ته واپس شو نو رسول الله ﷺ یهود جمع کړل او وې فرمائیل چه تاسو اسلام راوړئ مخکښې د دې نه چه په تاسو هم هغه مصیبت راشي کوم چه په قریشو باندې راغلو، په دې باندې هغوی جواب ورکړو چه ګوره تاسو دې دا خیز په دهوکه کښې نه اچوی چه تاسو د قریشو څو افرادو لره قتل کړل، ﴿کانوا اغمارا﴾ (دا د غمر جمع ده په معنی د ناتجربه کار او ناپوهه) چه ناپوهه وو، په جنګ باندې نه پوهیدل، د جنګ د طریقو نه خبر نه دی، تاسو مونږ سره جنګ اوکړئ نو تاسو ته به پته اولګی چه صرف مونږ یعنی یهود انسانان یو، او ستاسو هم لا زمونږ په شان خلقو سره مقابله نه ده راغلې په دې باندې دا آیت کریمه نازل شو ﴿قل للذین کفروا ستغلبون وتحشرون الی جهنم﴾

[۳۰۰۲](¹) حَدَّثَنَا مُصَرِّفُ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا يُونُسُ، قَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ حَدَّثَنِي مَوْلًى لِزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، حَدَّثَتْنِي ابْنَةُ مُحَيِّصَةَ، عَنْ أَبِيهَا مُحَيِّصَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ ظَفِرْتُمْ بِهِ مِنْ رِجَالِ يَهُودَ فَاقْتُلُوهُ"، فَوَثَبَ مُحَيِّصَةُ عَلَى شَبِيبَةَ رَجُلٍ مِنْ تُجَّارِ يَهُودَ كَانَ يُلَابِسُهُمْ فَقَتَلَهُ وَكَانَ حُوَيِّصَةُ إِذْ ذَاكَ لَمْ يُسْلِمْ وَكَانَ أَسَنَّ مِنْ مُحَيِّصَةَ، فَلَمَّا قَتَلَهُ جَعَلَ حُوَيِّصَةُ يَضْرِبُهُ، وَيَقُولُ: يَا عَدُوَّ اللَّهِ أَمَا وَاللَّهِ لَرُبَّ شَحْمٍ فِي بَطْنِكَ مِنْ مَالِهِ.

د محیصة رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی په یهودیانو کښې چه څوک تاسوته ملاوشی نوقتل ئې کړئ نومحیصة دیهودیانو په تاجرانو کښې په یوتاجر حمله وکړه اوقتل ئې کړو، په دې وخت کښې د محیصة دیهودیانوسره تعلق وو اوتردې وخته پورې دمحیصه ورور اسلام هم نه وو قبول کړې اوهغه دمحیصه نه مشروو کله چه محیصه دا سړې قتل کړونودې به ئې وهلو ټکولو او ورته به ئې وئیل چه اې دالله دشمنه ستا په خیټه کښې دهغه دمال ډیره چربی ده.

﴿حدثنی بنت محیصة عن ابیها محیصة ان رسول الله ﷺ قال من ظفرتم به من رجال الیهود فاقتلوه﴾ یعنی یوه ورځ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د یهودو په سړې کښې چه څوک هم ملاؤ شی هغه قتل کړئ، نو د حدیث راوی محیصه خپله د ځان په باره کښې وائی چه یو یهودی شبیبه نومې چه په سوداګرو یهودیانو کښې وو او د هغه د محیصه سره استوګنه او لین دین وو (خو چونکه د رسول الله ﷺ ارشاد وو په دې وجه محیصه) هغه قتل کړو او د محیصه مشر رور حویصه چه هغه وخت ئې اسلام نه وو راوړې هغه ته په دې باندې ډیره غصه ورغله، هغه راولګیدو د محیصه په وهلو باندې او وئیل به ئې ﴿ای عدوالله اما والله لرب شحم فی بطنک من ماله﴾ چه اې د الله پاک دشمنه ستا په خیټه کښې ډیره وازګه د هغه

¹: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۲۴۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۳۶/۵، ۴۳۵) (ضعیف)

د مال نه پیدا شوي ده خوک چه تا قتل کړو.

[۳۰۰۳]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ قَالَ: بَيْنَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ إِذْ خَرَجَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "انْطَلِقُوا إِلَى يَهُودَ، فَخَرَجْنَا مَعَهُ حَتَّى جِئْنَاهُمْ، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَادَاهُمْ فَقَالَ: يَا مَعْشَرَ يَهُودَ أَسْلِمُوا تَسْلَمُوا، فَقَالُوا: قَدْ بَلَّغْتَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ، فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَسْلِمُوا تَسْلَمُوا فَقَالُوا: قَدْ بَلَّغْتَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ذَلِكَ أُرِيدُ، ثُمَّ قَالَهَا الثَّالِثَةَ: اعْلَمُوا أَنَّمَا الأَرْضُ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُجْلِيَكُمْ مِنْ هَذِهِ الأَرْضِ فَمَنْ وَجَدَ مِنْكُمْ بِمَالِهِ شَيْئًا فَلْيَبِعْهُ وَإِلاَّ فَاعْلَمُوا أَنَّمَا الأَرْضُ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

دابوهریره نه روایت دې فرمائی چه مونږ په جومات کښې ناست وو اویکدم نبی علیه السلام مونږ ته راغې اومونږ ته ئې اوفرمائیل چه دیهودیانو طرف ته لاړ شئ مونږ دنبی علیه السلام سره روان شو تردې چه دیهودیانو رهائش ګاهونو ته اورسیدو چه نبی علیه السلام پاځیدو او هغه خلق - ئې راوغوښتل اووئې فرمائیل اې یهودیانو اسلام قبول کړئ ددې دپاره چه محفوظ پاتې شئ مونږ جواب ورکړو چه اې ابوالقاسم تاخلقوته خپل پیغام اورسوو نبی علیه السلام خپله خبره دغه خلقوته دوباره اوفرمائیله مونږ هم هغسې جواب ورکړو ددې نه پس بیانبی علیه السلام اوفرمائیل همداز مامقصد وو او په دریم ځل ئې بیا هم هغسې اوفرمائیل، یقینا زمکه دالله ده اودهغه درسول ده اوزماستاسو دشړلو اراده ده نو په تاسو کښې چه دچا دخپل مال سره محبت وي هغه دې خپل مال خرڅ کړې ګنی داسې وګڼړئ چه زمکه دالله اودرسول ده.

﴿ عن ابی هریرة رضی الله عنه انه قال بینا نحن فی المسجد اذ خرج الینا رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال انطلقوا الی یهود فخرجنا معه حتی جئناهم ﴾

مضمون د حدیث:

ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه مونږ ډیر خلق په مسجد کښې ناست وو، ناڅاپه رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړو زمونږ طرف ته، پس وې فرمائیل چه ځائې د یهودو طرف ته، مونږ د هغوی سره روان شو تر دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته اورسیدلو، رسول الله صلی الله علیه وسلم هلته اودریدلو او هغوی ته ئې آواز ورکولو سره اوفرمائیل ﴿ یا معشر یهود اسلموا تسلموا ﴾ چه اې یهودیانو! اسلام راوړئ چه صحیح و سالم پاتې شئ (ګینې ستاسو خیر نشته) هغوی اووې چه ﴿ قد بلغت اباالقاسم (صلی الله علیه وسلم) ﴾ چه تا خپله خبره مونږ ته رارسولې ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا هم دا اوفرمائیل هغوی بیا هم دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په جواب کښې اووې، په دې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ﴿ ذلک ارید ﴾ چه او ما هو دا غوښتله (چه تاسو زما د تبلیغ اقرار اوکړئ) او د دې نه پس بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: پوهه شئ چه دا زمکه د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم ده، او زه ستاسو د دې نه د ویستلو اراده لرم، پس کوم سړې چه په تاسو کښې د خپل مال په بدله کښې څه حاصلول غواړی، نو هغه دې خرڅ کړی، یعنی کوم مال چه ستاسو داسې دې چه تاسو ئې په اوړولو سره اوړې شئ هغه ځان سره یوسئ، او کوم چه نه

[1]: صحيح البخاري/الجزية ٦ (٣١٦٧)، والإكراه ٢ (٦٩٤٤)، والاعتصام ١٨ (٧٣٤٨)، صحيح مسلم/الجهاد ٢٠ (١٧٦٥)، (تحفة الأشراف: ١٤٣١٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٤٥١) (صحيح)

شئ اوړي او د هغي عوض تاسو ته دلته ملاويدي شي يعنی د يو اخستونكی نه نو هغه خرڅ كړئ، او كه نه ئي خرڅوي نو نقصان به هم ستاسو وی او په دي خو څان ښه پوهه كړئ چه زمكه خو زمونږ ده.

بنو نضير چه د مسلمانانو په محاصره باندې قلعه بند شوې وو نو هغوی د جلاوطنئ شرط منلو سره لاندې راكوز شو په دې طريقه چه كوم سامان د نقل قابل دې چه هغه تاسو هرڅنګه چه اوړئ يوسئ، زمكه چه ده هغه خو د الله پاک د رسول ﷺ شوه، پس هغوی د هغه منقولاتو په منتقل كولو كښې هيڅ كمې پرې نخودلو، دروازې او چوكاټونو پورې ئې څان سره يوړل په دې آيت كريمه كښې دې طرف ته هم اشاره ده ﴿يخربون بيوتهم بايديهم وايدی المومنين﴾

يو اشكال او جواب :

په دې حديث كښې په ظاهره دا دی چه د بنو نضير د يهودو ذكر دې، د روايت د سياق نه هم دا معلوميږی. څكه چه هغوی نه خو خالص په مدينه طيبه كښې وو او نه په زياته فاصله باندې چه د هغې دپاره اوږد مزل اوكړې شی يا د سورلئ ضرورت راشی، مختصر شان مزل وو چه پيدل تلو سره هلته اورسيدل لكه چه د روايت نه معلوميږی، خو په دې باندې اشكال دا راځی چه د هغوی اجلاء په څلورمه هجرئ كښې شوې وه او دلته د دې قصې راوی ابوهريره رضی الله عنه دې چه د هغه اسلام په اوومه هجرئ كښې دې نو بيا د ابوهريره رضی الله عنه خروج د رسول الله ﷺ څنګه كيدې شی. د دې توجيه دا كړې شوې ده چه د دې نه ټول بنو نضير نه دی مراد بلكه په هغوی كښې بعض او بقايا چه كوم هلته پاتې شوې وی او يا دې بيا دا اوئيلې شی چه حديث مرسل صحابی دې، ﴿كما تقدم هذا التوجيه فی حديث ذی اليدين﴾

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری

بَابٌ فِي خَبَرِ النَّضِيرِ

د بنو نضير د جلاوطن كولو بيان

﴿ای فی بيان ما فعلوا بالنبی ﷺ واصحابه وما آل اليه امرهم من اخراجهم واجلائهم من المدينة﴾

په دې باب كښې مصنف رحمه الله هغه حديث ذكر كوی چه په هغې كښې د بنو نضير د عهد ماتولو او د غدارئ ذكر دې چه د هغې په نتيجه كښې رسول الله ﷺ او صحابه كرامو رضی الله عنهم په هغوی باندې حمله اوكړه، چه په هغې باندې هغوی عاجز كيدو سره هغوی د جلاوطنئ په شرط باندې لاندې راكوز شو او مدينه طيبه ئې پريخودله او لاړل، مسلمانانو سره هغوی څنګه دهوكه كول غوښتل هغه به وړاندې راشی.

[۳۰۰٤] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ بْنِ سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّ كُفَّارَ قُرَيْشٍ كَتَبُوا إِلَى ابْنِ أُبَيٍّ وَمَنْ كَانَ يَعْبُدُ مَعَهُ الْأَوْثَانَ مِنَ الْأَوْسِ وَالْخَزْرَجِ، وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ بِالْمَدِينَةِ قَبْلَ وَقْعَةِ بَدْرٍ: إِنَّكُمْ آوَيْتُمْ صَاحِبَنَا وَإِنَّا نُقْسِمُ بِاللَّهِ لَتُقَاتِلُنَّهُ أَوْ لَتُخْرِجُنَّهُ أَوْ لَنَسِيرَنَّ إِلَيْكُمْ بِأَجْمَعِنَا حَتَّى نَقْتُلَ مُقَاتِلَتَكُمْ وَنَسْتَبِيحَ

(۱) تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵٦۲۲) (صحيح الإسناد)

نِسَاءَكُمْ، فَلَمَّا بَلَغَ ذٰلِكَ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ أُبَيٍّ وَمَنْ كَانَ مَعَهُ مِنْ عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ اجْتَمَعُوا لِقِتَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا بَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقِيَهُمْ فَقَالَ: "لَقَدْ بَلَغَ وَعِيدُ قُرَيْشٍ مِنْكُمُ الْمَبَالِغَ مَا كَانَتْ تَكِيدُكُمْ بِأَكْثَرَ مِمَّا تُرِيدُونَ أَنْ تَكِيدُوا بِهِ أَنْفُسَكُمْ تُرِيدُونَ أَنْ تُقَاتِلُوا أَبْنَاءَكُمْ وَإِخْوَانَكُمْ، فَلَمَّا سَمِعُوا ذٰلِكَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَفَرَّقُوا، فَبَلَغَ ذٰلِكَ كُفَّارَ قُرَيْشٍ فَكَتَبَتْ كُفَّارُ قُرَيْشٍ بَعْدَ وَقْعَةِ بَدْرٍ إِلَى الْيَهُودِ إِنَّكُمْ أَهْلُ الْحَلْقَةِ وَالْحُصُونِ وَإِنَّكُمْ لَتُقَاتِلُنَّ صَاحِبَنَا أَوْ لَنَفْعَلَنَّ كَذَا وَكَذَا وَلَا يَحُولُ بَيْنَنَا وَبَيْنَ خَدَمِ نِسَائِكُمْ شَيْءٌ وَهِيَ الْخَلَاخِيلُ، فَلَمَّا بَلَغَ كِتَابُهُمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْمَعَتْ بَنُو النَّضِيرِ بِالْغَدْرِ فَأَرْسَلُوا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْرُجْ إِلَيْنَا فِي ثَلَاثِينَ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِكَ وَلْيَخْرُجْ مِنَّا ثَلَاثُونَ حَبْرًا حَتَّى نَلْتَقِيَ بِمَكَانِ الْمَنْصَفِ فَيَسْمَعُوا مِنْكَ فَإِنْ صَدَّقُوكَ وَآمَنُوا بِكَ آمَنَّا بِكَ فَقَصَّ خَبَرَهُمْ، فَلَمَّا كَانَ الْغَدُ غَدَا عَلَيْهِمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْكَتَائِبِ فَحَصَرَهُمْ فَقَالَ: لَهُمْ إِنَّكُمْ وَاللّٰهِ لَا تَأْمَنُونَ عِنْدِي إِلَّا بِعَهْدٍ تُعَاهِدُونِي عَلَيْهِ" فَأَبَوْا أَنْ يُعْطُوهُ عَهْدًا فَقَاتَلَهُمْ يَوْمَهُمْ ذٰلِكَ، ثُمَّ غَدَا الْغَدُ عَلَى بَنِي قُرَيْظَةَ بِالْكَتَائِبِ وَتَرَكَ بَنِي النَّضِيرِ وَدَعَاهُمْ إِلَى أَنْ يُعَاهِدُوهُ فَعَاهَدُوهُ فَانْصَرَفَ عَنْهُمْ وَغَدَا عَلَى بَنِي النَّضِيرِ بِالْكَتَائِبِ فَقَاتَلَهُمْ حَتَّى نَزَلُوا عَلَى الْجَلَاءِ فَجَلَتْ بَنُو النَّضِيرِ وَاحْتَمَلُوا مَا أَقَلَّتِ الْإِبِلُ مِنْ أَمْتِعَتِهِمْ وَأَبْوَابِ بُيُوتِهِمْ وَخَشَبِهَا، فَكَانَ نَخْلُ بَنِي النَّضِيرِ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاصَّةً أَعْطَاهُ اللّٰهُ إِيَّاهَا وَخَصَّهُ بِهَا فَقَالَ: ﴿وَمَا أَفَاءَ اللّٰهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْهُمْ فَمَا أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ﴾ سورة الحشر آية ٦، يَقُولُ: بِغَيْرِ قِتَالٍ، فَأَعْطَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْثَرَهَا لِلْمُهَاجِرِينَ، وَقَسَمَهَا بَيْنَهُمْ وَقَسَمَ مِنْهَا لِرَجُلَيْنِ مِنَ الْأَنْصَارِ، وَكَانَا ذَوِي حَاجَةٍ لَمْ يَقْسِمْ لِأَحَدٍ مِنَ الْأَنْصَارِ غَيْرِهِمَا، وَبَقِيَ مِنْهَا صَدَقَةُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّتِي فِي أَيْدِي بَنِي فَاطِمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا.

عبدالرحمن بن کعب بن مالك په صحابه کراموکښې دیوکس نه روایت کوی چه د قریشو کافرانو ابن أبی اوهغه چاته اولیکل چه دده سره ئې دبوتانوعبادت کوو داوس اودخزرج قبیلې نه اونبی ﷺ په دغه وخت کښې په مدینه کښې وو دغزوه بدرد واقعې نه مخکښې چه خلقو زمونږ ملګري ته ځائې ورکړې دې او مونږ په الله باندې قسم کوو چه مونږ به ورسره جنګ کوو اویاداچه تاسوبه ئې اوباسئ اویاداچه مونږ به په شریکه په تاسو باندې حمله کوو تردې چه په تاسوکښې چه څوك جنګ کولې شی هغه به مره کړو او ستاسې ښځې به مونږ ته پاتې شې هرکله چه داخبر عبدالله بن أبی اوهغه کسانوته اورسیدو چه دهغه سره ئې دبانو عبادت کوو دنبی ﷺ سره دجنګ دپاره راجمع شول هرکله چه نبی ﷺ ته داخبر ورسیدو نبی ﷺ دوی ته ورغې اودوی ته ئې اوونیل دقریشو خلقو چه تاسوته کومه دهمکې درکړې ده هغه ستاسو په خیال کښې لویه دهمکې ده اوحال دادې چه قریشیان تاسوته دومره نقصان نه شی درسولې څومره نقصان چه تاسو پخپله ځان ته رسوئ ځکه چه تاسوبه په خپل مینځ کښې دخپلو ورڼرو اوخامنو سره اوجنګیږئ. کله چه دې خلقو دنبی ﷺ داخطاب واوریدو نوجداجدا شول بیا د قریش کافرانوته داخبر اورسیدو نو هغوی دغزوه بدرنه پس یهودیانوته خطونه اولیږل چه تاسو دمضبوطو قلاګانو او کورونو والا ئې (یعنی مال واسباب درسره موجود دې)تاسو زمونږ ددې ملګري سره جنګ وکړئ ګنی مونږ به داسې اوکړو یعنی مونږبه مومره کړو اوهیڅوك به ستاسودښځوپانزیب زمونږ نه بچ نکړي، کله چه دبنونضیر قبیلې یهودیانوته داتحریر ورسیدو نو دوی دمکر وفریب جوړولو دپاره ئې په دوکه کولوباندې اتفاق اوکړو اونبی ﷺ ته ئې جواب راولیږلو

چه دخپلو ديرشو ملګرو سره راشه اوزمونږ به هم ديرش کسان علماء درشي اود دريمګړوپه ځائ کښي به ديوبل سره مخامخ شو هغوی به ستا خبره واوري که چرې ستا خبره ئې ريښتيا وګڼله او په تائې ايمان راوړو نومونږ به هم په تا ايمان راوړو نبی ﷺ داخبر ټولو صحابه کراموته ورسوو هرکله چه بله ورځ سحر شو نو نبی ﷺ دځان سره لښکر بوتلو او بيرته ئې أوفرمائيل په الله تعالی مې دې قسم وي ترڅوچه تاسوماته اقرار اونکړئ زما په تاسو اعتبار نشته دوی داقرار اولوظ کولونه انکار اوکړو ځکه چه ددوی نيت خراب وو،نبی ﷺ ددوی سره ټوله ورځ جنګ اوکړو اوبله ورځ نبی ﷺ دبنی قريضه يهودياتوته ديولري لښکر سره لاړو اوبنی نضيرئې پريښودو اودوی ته ئې اووئيل تاسو لوظ اوکړئ چنانچه دوی معاهده اوکړه بله ورځ سحر بيانبی ﷺ دخپلو فوجونوسره بنی نضيرته واپس راغلل او ددوی سره ئې جنګ اوکړو تردې چه هغوی په وطن پريښودوباندې راضي شو، بيا هغوی وطن پريښودو او ددوی اوښانوچه څومره سامان اوړې شو هغه سامان اودکورونودروازي اوکړکياني ماتي کړي اودځان سره ئې يوړل او ددوی دکجورو باغونه دنبی ﷺ لاس ته راغلل کوم چه الله تعالی په خاص طور سره دوی ته ورکړل او وئې فرمائيل : «وما أفاء الله على رسوله منهم فما أوجفتم عليه من خيل ولا ركاب» يعنی دغه مال تاسوته بغيردجنګ نه حاصل کړو،بيانبی ﷺ ددې مال زياته حصه مهاجرينوته ورکړه او په دوی ئې تقسيم کړو اودوه انصاريانوته ئې هم ورکړو کوم چه ضرورت مند وو اونورو انصاريانوته ئې ورنکړو اوڅومره چه باقي پاتې شو هغه دنبی ﷺ صدقه وګرځولې شوه، کومه چه دفاطمې رضی الله عنها په استعمال کښې راغلې وه هغه صدقه وه.

﴿ عن رجل من اصحاب النبیﷺ ان کفار قريش کتبوا الی ابن ابی ومن کان يعبد معه من الاوثان من الاوس والخزرج ﴾

مضمون د حديث :

دا د د جنګ بدر نه مخکښې واقعه ده چه کفار قريش رئيس المنافقين عبدالله بن ابی چه د مشرکانو نه وو او کوم چه د هغه سره نور مشرکان وو په اوس او خزرج کښ، هغوی ته ئې دا اوليکل چه تاسو زمونږ سړی ته پناه ورکړې ده او هغه ځان مو سره ساتلی دې (يعنی رسول اللهﷺ) مونږ تاسو ته خبرداریئ درکوو چه يا خو تاسو د هغه سره قتال اوکړئ او يا هغه د دغه ځائې نه اوباسئ، ګينې مونږ ټول قسم خورو چه مونږ د مکې خلق به په تاسو باندې حمله اوکړو، ستاسو مقاتلين يعنی سړی به قتل کړو او ستاسو زنانه به د خپل ځان دپاره مباح کړو، چه کله عبدالله بن ابی ته د هغوی دا خط او دهمکی راورسيدله نو هغوی د رسول اللهﷺ سره د جنګ دپاره جمع شو، چه کله رسول اللهﷺ ته د دې خبرې خبر اوشو نو رسول اللهﷺ هغوی ته تشريف يوړو د ملاقات دپاره، چه کله هغوی هلته اورسيدل نو رسول اللهﷺ د خلقو مخې ته دا خبره کيخودله چه ماته معلومه شوې ده چه تاسو ته د قريشو د طرف نه حد درجه وعيد رارسيدلې دې، ګورئ دا قريش تاسو ته دومره نقصان نه شي در رسولې څومره چه تاسو خپل ځان ته د نقصان رسولو اراده لرئ، بيا په وړاندې

جملې سره رسول اللهﷺ د دې وضاحت اوکړو ﴿تریدون ان تقاتلوا ابناءکم واخوانکم﴾ یعنی تاسو په خپل لاس باندې خپل اولاد او رونړه قتلول غواړئ، مطلب دا وو چه په تاسو کښې د بعضو رونړه او د بعضو اولاد او نور خپلوان اسلام راوړلو سره زمونږ ملګری شوی دی نو په دې صورت کښې په مسلمانانو باندې حمله کول خپله په خپلو خلقو باندې حمله کول دی. وړاندې په روایت کښې دی چه کله هغه خلقو د رسول اللهﷺ تقریر واوریدو نو هغه ټول خلق چه د قتال دپاره جمع شوې وو منتشر شو د دې ټولې خبرې خبر کفار قریش ته هم اوشو، نو اوس کفار قریش دوباره لیکل اوکړل او دا د جنګ بدر نه روستو خبره ده، او دې خل په ځائې د مشرکینو یهودو طرف ته ئې هغه خط اولیکلو چه د هغې مضمون دا دې چه بیشکه تاسو د وسلې والا او قلعه ګانو والا یئ (داسې یئ او داسې یئ) یا خو تاسو زمونږ سرې قتل کړئ ګینې مونږ به ستاسو سره داسې او داسې اوکړو او زمونږ ترمینځه او ستاسو د ښځو د پازیبونو ترمینځه به هیڅ یو څیز حائل نه شی، یعنی د هغوی عزت به لوټ کړو، (خدم جمع د خدمة ده یعنی پازیب کوم چه راوی بیانوی) وهی الخلاخیل......

﴿فلما بلغ کتابهم النبی ﷺ﴾ یعنی کله چه د هغوی دا خط رسول اللهﷺ ته راغلو، دلته دا اشکال دې چه هغه خط خو د یهودو په نوم وو نو رسول اللهﷺ ته څنګه راورسیدو پس د درمنثور په روایت کښې دی چه ﴿ فلما بلغ کتابهم الیهود ﴾ جواب دا دې چه دلته تقدیر د عبارت دا دې ﴿ فلما بلغ خبر کتابهم ﴾ اصل خط مراد نه دې بلکه د هغې خبر. وړاندې روایت کښې دې﴿اجتمعت بنو نضیر بالغدرفارسلوا الی النبی ﷺ اخرج الینا فی ثلاثین رجلا من اصحابک﴾

د بنو نضیر د رسول اللهﷺ سره د دهوکې اراده :

یعنی د بنونضیر یهودو د کفار قریش په وینا باندې رسول اللهﷺ سره د دهوکې کولو اراده اوکړه، یعنی د رسول اللهﷺ د قتل ئې پټ سازش جوړ کړو، پس د رسول اللهﷺ مخې ته دا خبره کیخودلې شوه د اسلام د مذهب قبلولو او نه قبلولو، هغه دا چه هغوی رسول اللهﷺ ته دا پیغام اولیږلو چه د دیرشو کسانو سره تاسو روان شئ او دیرش کسان به زمونږ احبار یعنی یهود عالمان راوځی، او په یو معین ځائې کښې دې ملاقات اوکړی او زمونږ علماء دې ستاسو خبرې واوری، پس که هغوی ستاسو تصدیق اوکړو او په تاسو باندې ئې ایمان راوړو نو مونږ ټول به هم په تاسو باندې ایمان راوړو، مصنفؒ دا واقعه هم دومره ذکر کړې ده، وړاندې ئې اوشو هغه ئې په دې وینا باندې پریخودله ﴿ فقص خبرهم ﴾ (۱) یعنی راوی پوره قصه بیان کړه، دا قصه حضرت په بذل کښې د سیوطیؒ نه نقل کړې ده چه د قرارداد مطابق د دواړو طرفو نه دیرش دیرش کسان روان شو، په دې منظر لیدو باندې بعض یهود متردد شو چه هر کله د رسول اللهﷺ دیرش داسې کسان وی نو بیا به تاسو هغوی ته څنګه خان رسوئ په هغوی کښې د هر یو دا حال دې او غواړی چه د رسول اللهﷺ نه مخکښې د هغه مرګ راشی، نو هغوی رسول اللهﷺ ته پیغام اولیږلو چه مونږ ټول خو

(۱) د قص ضمیر راوی ته راجع دې او صاحب د عون المعبود نه دلته خطاء شوې ده چه هغوی د دې ضمیر رسول اللهﷺ ته راجع کړې دې. (کذا فی البذل)

شپيته کسان شو، د شپيتو کسانو ترمينځه به فيصله څنګه حل کيږي، يعني دا خو ډير لوئي جماعت شو په دوی کښي د ټولو په يو رائې باندې اتفاق مشکل معلوميږي، لهذا د سړو په تعداد کښي دې کمي اوکړې شي، د ديرشو په ځائې درې تاسو واخلئ، درې مونږ، پس بيا هم دغه شان اوشوه صرف درې درې شو، خو دې خبيثانو ځان سره خنجرې پټې اونيولې ځکه چه في الواقع مناظره کول مقصود نه وو بلکه په دهوکې سره ئې رسول الله ﷺ قتل کول غوښتل، الله پاک د غيب نه د رسول الله ﷺ د حمايت دا صورت پيدا کړو چه د يوې يهودی زنانه رور مسلمان شوې وو هغې سره د خپل رور فکر پيدا شو نو هغې په پټه باندې خپل رور ته د يهودو د دې پټ سازش خبر ورکړو، د هغې رور فورا په منډه د رسول الله ﷺ خدمت ته اورسيدو او هغوی سره ئې په دې باره کښي پټه خبره اوکړه، رسول الله ﷺ لا تراوسه پورې يهودو ته رسيدلې نه وو په دې وجه راواپس شو، او بيا ئې په بله ورځ په هغوی باندې سحر وختی حمله اوکړه لکه چه دلته په روايت کښي دی.

﴿ فلما كان الغد غدا عليهم رسول الله ﷺ بالكتائب وحصرهم ﴾ ټوله ورځ د هغوی سره قتال اوشو او بيا په بله ورځ سحر په بنو قريظه باندې رسول الله ﷺ حمله اوکړه، او بنو نضير چه قلعه بند شوې وو هغوی ئې هم په دې حال باندې پريخودل، او د بنو قريظه مخې ته ئې د معاهدې خبره کيخودله هغوی د معاهدې دپاره تيار شو، لهذا رسول الله ﷺ د هغه ځائې نه راواپس شو او په بله ورځ د بنو نضير طرف ته متوجه شو د قتال دپاره ﴿ حتى نزلوا على الجلاء فجلت بنو النضير اى الى الشام وبعضهم الى خيبر ﴾ او خپلو سامانونه ئې په اوښانو باندې يوړل، د دوازو د لرګو پورې، وړاندې راوی وائی چه ﴿ فكان نخل بنى نضير لرسول الله ﷺ خاصة ﴾ وړاندې چه کوم د روايت مضمون دې هغه له؛آڅ تير شوې دې.

[۳۰۰۵]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ: يَهُودَ بَنِي النَّضِيرِ وَقُرَيْظَةَ حَارَبُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَجْلَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَنِي النَّضِيرِ وَأَقَرَّ قُرَيْظَةَ وَمَنَّ عَلَيْهِمْ حَتَّى حَارَبَتْ قُرَيْظَةُ بَعْدَ ذَلِكَ، فَقَتَلَ رِجَالَهُمْ وَقَسَمَ نِسَاءَهُمْ وَأَوْلَادَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَّا بَعْضَهُمْ لَحِقُوا بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَّنَهُمْ وَأَسْلَمُوا وَأَجْلَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَهُودَ الْمَدِينَةِ كُلَّهُمْ بَنِي قَيْنُقَاعَ وَهُمْ قَوْمُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ وَيَهُودَ بَنِي حَارِثَةَ وَكُلَّ يَهُودِيٍّ كَانَ بِالْمَدِينَةِ.

دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دقبيله بنونضير اوبنوقريضه يهوديان دنبی عليه السلام سره اوجنګيدل نبی عليه السلام بنونضير اوشړل اوبنوقريضه ئې پريښودل ددوی سره ئې داحسان معامله اوفرمائيله تردې چه دوی. بې لوظې اوکړه اود نبی عليه السلام سره ئې جنګ اوکړو نبی عليه السلام ددوی سړی قتل کړل او ددوی ښځې اوبچې ئې په مسلمانانو تقسيم کړل ليکن په دوی کښي ئې هغه سړی قتل نکړه څوك چه مسلمانانوته راغلي وو او ددوی سره يوځائې شوي وو نبی عليه السلام دوی ته امان ورکړو او اسلام ئې قبول کړو او نبی عليه السلام ټول

[1]): صحيح البخاري/المغازي ١٤ (٤٠٢٨)، صحيح مسلم/الجهاد ٢٠ (١٧٦٦)، (تحفة الأشراف: ٨٤٥٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٩/٢) (صحيح)

یهودیان دمدینې نه وشړل قبیله بنی قینقاع کوم چه دعبدالله بن سلام قوم وو، اوقبیله بنی حارثه اونور یهودیان کوم چه په مدینه کښې اوسیدل ټول ئې وشړل
﴿ عن ابن عمر رضي الله عنهما ان یهودا النضیر وقریظة حاربوا رسول الله ﷺ ﴾ په دې روایت کښې مضمون مخکښې تیر شوې دې، د دې روایت په آخیر کښې دي دی چه په مدینې کښې څومره یهودیان وو بنو قینقاع (قوم د عبدالله بن سلام رضي الله عنه) او یهود بنو حارثه او هر هغه یهودی چه په مدینه کښې وو رسول الله ﷺ ټول بهر کړل.
(والحدیث اخرجه البخاري ومسلم، قاله المنذري)

بَابُ مَا جَاءَ فِي حُكْمِ أَرْضِ خَيْبَرَ

د خیبر د زمکې بیان

د باب سره متعلق مباحث اربعه مفیده:

د ترجمة الباب او د هغې د احادیثو د پوهې دپاره د څو څیزونو په طور د تمهید پیژندل ضروری دی :١: رسول الله ﷺ د خیبر یهود سره څه معامله اوفرمائیله، او خیبر ئې څنګه فتح کړو صلحا یا عنوة
٢: د فتح نه پس ئې د خیبر زمکه څنګه تقسیم اوفرمائیله
٣: د ارض مفتوحه حکم، آیا د هغې تقسیم ضروری دې یا نه؟
۴: د خیبر زمکه عشری ده او که خراجی، کومه زمکه عشری وی او کومه خراجی، دا ټول علمی مباحث دی اوس مونږ دا امور په ترتیب سره د الله پاک امدادلیکو، وهو الموفق والمیسر.

بحث اول:

د تیرو روایاتو په ضمن کښې دا راغلي ده چه رسول الله ﷺ کله د یهودو د مدینې طیبې د اخراج نه فارغ شو نو بیا په ۷ هجری کښې خیبر ته متوجه شو هغوی سره د قتال او محاصرې وغیره ټولو څیزونو حاجت راغلو او آخر د الله پاک په فضل باندې مسلمانونو یهودو ته شکست ورکړو او خیبر ئې فتح کړو، په دې کښې د علماء کرامو اختلاف دې چه پوره خیبر عنوة فتح شو یا صلحا، د بحث د دې باب په رومبی حدیث کښې را روان دې

دویم بحث:

رسول الله ﷺ د خیبر نیمه زمکه په مجاهدینو کښې تقسیم کړه، په کتاب الجهاد کښې د مجمع بن جاریه الانصاری رضي الله عنه روایت تیر شوې دې، او وړاندې دلته هم را روان دې په دې کښې د تقسیم تفصیل داسې لیکلې شوې دې چه د مجاهدینو ټول تعداد پنځلس سوه وو چه په هغې کښې دولس سوه راجل او درې سوه فارس وو، او چونکه د فارس (یعنی په اس باندې سور جهاد کونکې) حصه د احنافو په نزد دوچند په دې وجه درې سوه فارس د شپږو سوو راجل (پیاده تلونکو) برابر شو (١) دولس او شپږ ټول اتلس شو نو دا نیمه زمکه رسول

(١) او که د فارس دپاره درې حصې وې کما قال الائمة الثلاثة والصاحبان، نو بیا د دې مقتضی دا وه چه د خیبر زمکه په یویشتو حصو باندې تقسیم کړې شوې وې دا بحث په کتاب الجهاد کښې تیرشوې دی

الله ﷺ په اتلسو حصو کښې تقسیم اوفرمائیله، او هره یوه حصه په سلو حصو باندې مشتمل وه، او په کوم روایت کښې چه دا راځی چه رسول الله ﷺ د خیبر زمکه په شپږ دیرشو حصو کښې تقسیم کړې وه هغه هم په خپل ځائې صحیح دې یعنی د ټولو زمکې په اعتبار سره، او نیمه زمکه رسول الله ﷺ د خپل ځان او خپلو بیبیانو او د مسلمانو د مصالحو دپاره باقی پریخودله.

بحث ثالث:

د ارض مفتوحه تقسیم د امام شافعی ﷫ په نزد ضروری دې او د امام مالک رائې دا ده چه دا به نه شی تقسیمولې، بلکه وقف کول ئې ضروری دی یعنی د دې امدن به په بیت المال کښې وی او د مسلمانانو په مصالحو کښې به دا خرچ کولې شی، او د احنافو او حنابله په نزد د دې تقسیم او عدم تقسیم د امام رائې ته سپارلې شوې دې هغه ته د دواړو اختیار دې. په دې کښې د عمر ؓ عمل د ایقاف او عدم تقسیم وو. او د رسول الله ﷺ نه د تقسیم او عدم تقسیم دواړو ثبوت شته، لهذا د احنافو او حنابله په مسلک باندې خو هیڅ اشکال نه واردیږی، هم دغه شان د امام شافعی ﷫ په مسلک باندې هم څه خاص اشکال نه واردیږی ځکه چه د رسول الله ﷺ نه دواړه طریقې ثابتې دی، خو د امام مالک ﷫ په مسلک باندې به اشکال وی د عمر ؓ د عمل نه د دې جواب دا ورکولې شی چه ﴿ لم یقسم عمر برضا الغانمین ﴾ یعنی عمر ؓ به هغه زمکه نه تقسیموله د غانمینو په اجازت او رضا سره، خو په دې باندې اشکال دې [1] پس ابن القیم ﷫ فرمائی ﴿ ولا یصح ان یقال انه استطاب نفوسهم ووقفها برضاهم فانهم قد نازعوه فی ذلک وهو یابی علیهم ودعا علی بلال واصحابه. یعنی بلال ؓ او د هغه بعضو ملګرو ته چه کله هغوی د عمر ؓ په فعل باندې راضی نه شو نو هغوی ورته بد دعا هم اوکړه.

---

[1]) **د ارض مفتوحه د تقسیم او عدم تقسیم بحث:** ابن القیم ﷫ فرمائی چه د جمهور صحابه کرامو ؓ او د هغوی نه پس د ائمه رائې دا ده چه ارض مفتوحه په غنائمو کښې داخله نه ده، پس د خلفاء راشدینو هم دا طرز وو په دې وجه بلال ؓ او د هغه اصحابو چه کله د عمر ؓ نه مطالبه اوکړه د دې خبرې چه هغه زمکه کومه چه هغوی عنوة فتح کړې وه او هغه د شام زمکه او د هغې ماحول چه د هغې خمس ویستلو سره باقی لره تقسیم کړئ، نو په دې باندې عمر ؓ اوفرمائیل چه خمس لره ویستلو سره باقی تقسیمول زمکه په دې کښې داخله نه ده په دې وجه دا خو به څه بنده ساتم ستاسو او د ټولو مسلمانانو د ضرورتونو دپاره، خو د دې نه پس هم بلال ؓ او د هغه اصحابو په تقسیم باندې اصرار اوکړو نو په دې باندې عمر ؓ اوفرمائیل ﴿ اللهم اکفني بلالا وذویه ﴾ د باقی صحابه کرامو ؓ د عمر ؓ د دې رائې سره اتفاق اوشو، بیا وړاندې ابن قیم ﷫ د عمر ؓ د رائې ډیر زیات تعریف کړې دې او د دې ډیر فوائد ئې لیکلې دی، د عمر ؓ په دې طرز باندې د بلال وغیره، بعض صحابه کرامو ؓ د خفګان طرف ته اشاره د عمر ؓ په کلام کښې د صحیح بخاری په روایت کښې هم موجود ده د هغه په یو اوږد حدیث کښې دی ﴿ ایم الله انهم لیرون اني قد ظلمتهم ﴾ الحدیث (بخاری کتاب الجهاد ۴۳۰ ﴿ باب اذا اسلم قوم في دار الحرب ﴾ وفي الهدایة اذا فتح الامام بلادا عنوة فهو بالخیار ان شاء قسم بین المسلمین کما فعل علیه الصلوة والسلام بخیبر وان شاء اقر اهله ووضع الجزیة علیهم وعلي اراضیهم الخراج کما فعل عمر ؓ بسواد العراق بموافقة من الصحابة اوفي العقار خلاف للشافعي ﷫ الي اخره اهـ من هامش البذل مختصرا)

بحث رابع :

د زمکې د عشرى او خراجى کيدو په اعتبار سره چه کوم تفصيل دې هغه داسې دې د نور تفصيل دپاره دې د موالاة طرف ته رجوع اوکړې شى، د شيخ په حاشيه کښې دې باره کښې په بذل کښې دې باره د ډيرو کتابونو حوالې او څه عبارتونه ليکلې شوې دى. صاحب د بدائع هم په دې باندې تفصيل سره کلام کړې دې

ځان پوهول پکار دى چه د ارض رومبى دوه قسمونه دى، مفتوحه او غير مفتوحه، غير مفتوحه نه مراد هغه زمکه چه د هغې د فتح کولو حاجت نه وى راغلې بلکه د هغې اوسيدونکى په خپله اسلام کښې داخل شوې وى لکه اهل يمن او مدينه او طائف او بحرين، دا دويم قسم د زمکې عشرى دې، او قسم اول يعنى ارض مفتوحه د دې بيا دوه قسمونه دى، ارض عنوة او ارض صلح. عنوة : چه د قتال په ذريعه فتح کړې شوې وى، لکه د عراق زمکه او مصر او شام او خيبر، او دويمه هغه ده چه په خراج معين باندې صلح کولو سره فتح کړې شوې وى لکه د نجران زمکه [1] د دې قسم ثانى حکم دا دې چه په کوم څيز باندې د هغوى سره صلح شوې وى بس هم هغه به د هغوى نه اخستلې شى، هم هغه د هغه خراج دې او قسم اول يعنى ارض عنوة د دې دوه قسمونه دى يو هغه کوم چه د غانمينو ترمينځه تقسيم کړې شوې وى لکه نيمه زمکه د خيبر، او دويمه هغه چه د فتح نه پس د کفارو نه نۀ وى اخستلې شوې بلکه هم په هغوى ته پريخودلې شوې وى لکه باقى نيمه زمکه د خيبر هم دغه شان د عراق زمکه وغيره [2] په دې دواړو کښې اول عشرى وه او نورې خراجى (ملخصا من البدائع)

او په بدائع کښې دا هم ليکلې شوې دى چه د ټول عرب زمکى عشرى دې چه د هغې نه مراد د حجاز، تهامه، يمن، مکه مکرمه او د طائف زمکې دى، او دا زمکې عشرى په دې وجه دى چه رسول الله ﷺ او د هغوى خلفاء راشدين د عربو د زمکې نه خراج نه دې وصول کړې، د دې نه ثابتيږى چه هغه عشرى ده ځکه چه زمکه د احدى المؤونتين نه خالى نه وى يا به د هغې نه عشر وصولولې شى يا خراج.

د هندوستان زمکى عشرى دى که خراجى :

دلته دا سوال پيدا کيږى چه د هند زمکى څنګه دى عشرى که خراجى؟ د دې په باره کښې په فتاوى رشيديه کښې داسې دى،

[1] د نجران نصارو سره مصالحت د کپړو په دوه زره جوړو باندې شوې وو لکه چه وړاندې (باب في اخذ الجزية) کښې را روان دى (صالح رسول الله ﷺ اهل نجران علي الفي حلة) النصف في صفر والنصف في رجب يؤدونها الي المسلمين الحديث.)

[2] هم دغه شان د مکې مکرمې زمکه هم. ځکه چه مکه مکرمه عنوة فتح کړې شوه او د هغې زمکه د هغې په مالکانو باندې پريخودلې شوه، په غانمينو کښې تقسيم نه کړې شوه. لهذا د قياس تقاضه خو هم دا ده چه هغه دې خراجى وى خو چونکه په خراج کښې د صغار يعنى د ذلت معنى موندلې کيږى کومه چه د مکې مکرمې د شان خلاف ده په دې وجه هغه خراجى نه کړې شوه، د مکې د زمکې په باره کښې وړاندې مستقل باب راروان دې)

مسئله : زمونږ د دې ځائې زمکې یا عشری دی یا خراجی او عملداری جائز ده یا نه ده؟
الجواب : د هند بعض زمکې عشری دی او بعض خراجی، فقط والله تعالی اعلم. رشید احمد عفی عنه. او په دې کښې دا سوال او جواب هم ذکر شوې دی
مسئله : دلته په زمکو کښې سرکاری جمع ده او معافی هم دی، لهذا په داسې زمکو کښې عشر شته یا نه؟
الجواب : که زمکه معافی وی یا په دې کښې مالگذاری سرکاری وی، محصول په ځائې د خراج خو کافی دې خو په ځائې د عشر کافی نه دې، پس که زمکه عشری ده نو عشر جدا ادا کول پکار دی، او که خراجی وی نو خراج د هغې مالگذاری سرکاری کښې محسوب کیدې شی، فقط والله اعلم.

د گنگوهی رحمه الله رائې :

د گنگوهی رحمه الله په جواب کښې خو اجمال دې چه د هندوستان بعض زمکې عشری دی او بعض خراجی، اوس دا چه کومې عشری دی او کومی خراجی، د دې د پیژندگلو دپاره نورو کتب فتاوی ته رجوع کول پکار دی، خپله په فتاوی رشیدیه کښې چه د عشر او خراج کوم مسائل لیکلې شوې دی د هغې نه هم په دې کښې استفاده کیدې شی وړاندې د العرف الشذی نه د گنگوهی رحمه الله نوره رائې راغلې، فتاوی محمودیه جلد ۳ کښې دا سوال او جواب په مختلف انداز کښې مفصل او مجمل په مختلفو زمانو کښې لیکلې شوې موجود دې، د دې پوره مجموعې کتلو سره په دې کښې بصیرت حاصلیدې شی. بهر حال یو ځائې (صفحه ۸۳) کښې هم ددې سوال په جواب کښې چه د هندوستان زمکې عشری دی که خراجی داسې لیکلې دی، کومې زمکې چه د بادشاه اسلام د وخت نه د مسلم په ملک او قبضه کښې دی په هغې کښې عشر دې، او کومې زمکې چه دې وخت کښې د مسلمان په ملک او قبضه کښې دی او د یو غیر مسلم نه منتقل کیدو سره په ملک مسلم کښې راتلل معلوم نه دی نو د استصحاب حال په بناء په هغې باندې د مسلمان قبضه مستمر منلو سره هغه هم عشری منلې شی حکومت چه کوم محصول اخلی هغه په خراج کښې محسوب کیدې شی خو د عشر په حق کښې نه شی محسوب کیدې، په فتاوی رشیدیه حصه سوم صفحه ۵۵ کښې د دې تصریح موجود ده.

بعض علماء کرامو د هندوستان زمکې لره د دارالحرب کیدو په جه باندې د دې ځائې زمکو لره د دواړو قسمه مؤنثونو عشر او خراج نه مستثنی کړې ده..... حکومت که د ارض عشریه نه خراج وصول کړی نو دا ناجائز دې او په دې سره عشر نه ادا کیږی ځکه چه حکومت د زکوة مصرف نه دې، (فقط والله سبحانه وتعالی اعلم حرره العبد محمود جنجوهی عفا الله عنه) معین مفتی مظاهر العلوم سهارنپور ۱۸/۴/ سنه ۷۰ هجری الجواب صحیح سعید احمد غفرله مفتی مدسه مظاهر العلوم سهارنپور (فتاوی محمودیه ۸٤/۳)

د مولانا انور شاه صاحب رائې:

او د مولانا انور شاه صاحب رحمه الله رائې په العرف الشذي صفحه ۲۷۲ کښې دا ليکلې شوې ده چه د هندوستان په زمکو کښې عشر واجب نه دې ځکه چه هغه د دارالحرب زمکې دی ﴿ هكذا حصل من كتب الفقه ﴾ او وړاندې ئې د دارالحرب تعريف دا فرمائيلې دې چه دار الحرب هغه مقام دې چه په هغې کښې فصل الامور يعنې د خصوماتو او مقدمو فيصله د کفارو په لاس کښې وی (يعنې د کفارو د قانون مطابق اګر که فيصله کونکی مسلمانان وی) او هغه چه بعض خلقو د دار الحرب تعريف دا کړې دې چه دار الحرب هغه ملک دې چه په هغې کښې مسلمانانو ته د فرض يعنې مونځ او روژې وغيره نه منع کولې شی، دا صحيح نه ده او د دې تعريف هيڅ اصل نه نشته او مولانا محمد اعلى تهانوى رحمه الله په خپل تصنيف کښې ذکر کړې دی چه د هندوستان زمکې نه عشرى دی او نه خراجى، بلکه حوزه زمکې دی يعنې د بيت المال والمملكة زمکې، او ما اوريدلې دی چه مولانا ګنګوهی رحمه الله مرحوم دا فتوى ورکړې ده چه د کوم انسان په ملک کښې چه هغه وخت کومه زمکه ده او د هغه انسان په علم کښې دا خبره نشته چه د هغه دا زمکه د کفارو د طرف نه منتقل کيدو سره راغلې ده، نو په هغې باندې عشر واجب دې، آهـ په دې موضوع باندې يو مستقل تصنيف د شيخ جلال الدين تهانيسرى رحمه الله هم دې پس په فتاوى محموديه (صفحه ٤٥) کښې د يو سائل سوال دې : د هندوستان د زمکو د عشرى کيدو او غير عشرى کيدو تحقيق اوکړئ، علماء کرامو دا مسئله داسې ګرانه کړې ده چه د مسئلې يو اړخ هم واضحه نه ښکاری.

الجواب : حامدا ومصليا : علماء کرامو خو ډيره اسانه کړې ده . نن نه سل سوه کاله مخکښې شيخ جلال الدين تهانيسرى رحمه الله چه خليفه خاص وو د شيخ عبدالقدوس رحمه الله په دې مسئله باندې ئې په خپل وخت کښې يو مستقل رساله تصنيف اوفرمائيله چه د هغې نوم رساله اراضى هند دې، په هغې کښې د زمکو اقسام او د هغې احکامات تفصيلا ذکر شوې دی، په موجوده دور کښې هم مختلفې رسالې ليکلې شوې دی. (۱) مولانا محمد حفظ الرحمن صاحب رحمه الله هم په خپل تصنيف "د اسلام اقتصادى نظام" په اخير کښې په دې مسئله باندې په تفصيل سره ليکل کړې دی. د ډيرو علماء کرامو او د فتاوى عبارتونه په هغې کښې ليکلې شوې دی.

اوس د دې تمهيدى (۲) امورو د پيژندګلو نه پس حديث الباب ته ګورئ.

---

(۱) د دې نه پس مختصرا عرض دې چه کومه زمکه د مسلمان ملک نه وی لکه چه د زمينداریٔ د ختميدو نه پس د دې خانې د زمکو حال دې په هغې کښې عشر واجب نه دې فقط والله سبحان وتعالى اعلم)

(۲) د دې نه معلومه شوه چه دا باب ډير زيات اهم دې په دې وجه د دې دپاره د دومره اوږد تمهيد ضرورت راغلو. په اصل کښې دا کتاب الخراج والفیٔ تول ډير ګران او اهم دې په دې باندې د پوهې دپاره بنده ډير زيات محنت اوکړو، د احقر څه علم دې، اشرف على تهانوى رحمه الله د سورة حشر د هغه آيتونو په تفسير کښې چه په هغې کښې د اموال فیٔ حکم ذکر کړې شوې دې هم دا ليکلې دی پس حضرت ليکی : دا مقام د سورة براءت په شان احقر ته ډير زيات ګران معلوم شوې وو.........له

[۳۰۰۶]() حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَبِي الزَّرْقَاءِ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: أَحْسِبُهُ عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاتَلَ أَهْلَ خَيْبَرَ فَغَلَبَ عَلَى النَّخْلِ وَالْأَرْضِ وَأَلْجَأَهُمْ إِلَى قَصْرِهِمْ فَصَالَحُوهُ عَلَى أَنَّ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّفْرَاءَ وَالْبَيْضَاءَ وَالْحَلْقَةَ وَلَهُمْ مَا حَمَلَتْ رِكَابُهُمْ عَلَى أَنْ لَا يَكْتُمُوا وَلَا يُغَيِّبُوا شَيْئًا، فَإِنْ فَعَلُوا فَلَا ذِمَّةَ لَهُمْ وَلَا عَهْدَ فَغَيَّبُوا مَسْكًا لِحُيَيِّ بْنِ أَخْطَبَ وَقَدْ كَانَ قُتِلَ قَبْلَ خَيْبَرَ كَانَ احْتَمَلَهُ مَعَهُ يَوْمَ بَنِي النَّضِيرِ حِينَ أُجْلِيَتِ النَّضِيرُ فِيهِ حُلِيُّهُمْ، قَالَ: فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لِسَعْيَةَ أَيْنَ مَسْكُ حُيَيِّ بْنِ أَخْطَبَ؟ قَالَ: أَذْهَبَتْهُ الْحُرُوبُ وَالنَّفَقَاتُ؟"، فَوَجَدُوا الْمَسْكَ فَقَتَلَ ابْنَ أَبِي الْحُقَيْقِ وَسَبَى نِسَاءَهُمْ وَذَرَارِيَّهُمْ وَأَرَادَ أَنْ يُجْلِيَهُمْ، فَقَالُوا: يَا مُحَمَّدُ دَعْنَا نَعْمَلُ فِي هَذِهِ الْأَرْضِ وَلَنَا الشَّطْرُ مَا بَدَا لَكَ وَلَكُمُ الشَّطْرُ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِي كُلَّ امْرَأَةٍ مِنْ نِسَائِهِ ثَمَانِينَ وَسْقًا مِنْ تَمْرٍ وَعِشْرِينَ وَسْقًا مِنْ شَعِيرٍ.

دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه نبی علیه السلام دخیبر اوسیدونکوسره جنګ اوکړو ددغه خلقو زمکه او ونې ئې قبضه کړې او دوی ئې په خپلوکورونوکښې قید کړل، بیادوی دنبی علیه السلام سره په شرطونو صلح اوکړه چه نبی علیه السلام ته به یومقدار سره اوسپین زر اواصلح ورکوي اوباقی پاتې ددوی اوښان چه څومره سامان اوچتولې شي هغه به دځان سره ورې خوپه دې شرط چه دوی به ددې نه څه څیز نه پټوي اوکه چرې داسې اوکړې نوداهل اسلام دمه به ددوینه پورته شي اومعاهده به باقی پاتې نه شی، بیادې خلقو دڅمرې یوه بوجئ کومه چه دحیئ بن احطب په لاس کښې وه غائبه کړه اودې دخیبر دوتلونه مخکښې قتل کړې شو حبې و دغه بروجئ دبنونضیر دزیوراتونه ډکه کړې وه اودځان سره ئې وړله کله چه بنی نضیر شړلې کیدل، ۰ راوي وائی چه نبی علیه السلام سعیة نومې یهودي ته اووئیل چه دحیی بن احطب هغه بوجئ چرته ده؟ هغه اووئیل په جنګ کښې ضائع شوې ده او په خرچونوکښې مصرف شوې ده، بیاصحابه کراموته هغه بوجئ ملا وشوه نبی علیه السلام ابن حقیق قتل کړو کوم چه ددوی دیهودیانونه وو او ددوی زنانه ئې ګرفتارې کړې او ددوی بچې ئې غلامان کړل اودملك نه ئې ددوی دشړلو اراده اوکړه دوی اووئیل اې محمد مونږ هم دلته اوسیدوته پریږده مونږ به په زمکه کښې محنت کوو اوڅومره پیداوار چه حاصلیږي ددې نیم به تاته درکوو اونیم به مونږ اخلو، نبی علیه السلام دخیبر په امدن کښې پخپلوب بیانوکښې هرې پوې ته اتیا اتیا وسقه کجورې او شل وسقه وربشې دیو کال دخرچې دپاره ورکړې

﴿عن ابن عمر رضی الله عنهما ان النبی صلی الله علیه وسلم قاتل اهل خیبر فغلب علی الارض والنخل والجاهم الی قصرهم فصالحوه علی ان لرسول الله صلی الله علیه وسلم الصفراء والبیضاء والحلقة، ولهم ما حملت رکابهم﴾

۞..... د سیرت او احادیث او د فقه د کتابونو د مراجعت نه پس د انتهائي کوشش نه پس چه څۀ په فهم کښې راغلل هغه دلته او لیکلې شو دلته هم عرض دې چه که د دې نه احسن او اتقن تفسیر ممکن وی نو هغې ته دې ترجیح ورکړې شی آهـ صفحة ۱۲۳ جلد ۱۱)

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۷۸۷۷) (حسن الإسناد)

د غزوه خیبر بیان :

په دې حدیث کښې د غزوه خیبر او فتح خیبر بیان دې. ابن عمرؓ فرمائی چه رسول اللهﷺ د اهل خیبر سره قتال اوکړو، او د هغوی په زمکو او باغونو باندې ئې غلبه بیا مونده او هغوی ئې مجبور کړل په قلعه بند کیدو باندې، په قلعه کښې د محصور کیدو نه پس هغوی د رسول اللهﷺ سره په دې شرطونو باندې صلح اوکړه چه څه مونږ سره سره زر او سپین زر او وسله ده هغه د مسلمانانو دپاره ده او د هغوی دپاره به هغه سامان وی کوم چه هغوی اوړلې شی په دې طریقه دا صلح اوشوه چه یو څیز (سره زر او سپین زر) به نه پټوی او هغه به نه غائبوی، او که هغوی داسې اوکړل نو بیا به د هغوی دپاره هیڅ عهد او ذمه نه وی. ﴿ فغیبوا مسکًا لحیی بن اخطب قد کان قتل قبل خیبر کان احتمله معه یوم بنی النضیر حین اجلیت النضیر فیه حلیهم ﴾ یعنی د معاهدې خلاف د حیی بن اخطب د څرمنې مشک چه په هغې کښې د هغوی کالی سره زر او سپین زر وو غائبه کړه، لیکلې ئې دی چه په هغې کښې د لسو زرو دینارو په اندازه سره زر وو، دا حیي بن اخطب د صفیهؓ پلار دې د بنو قریظه سردار، نو چونکه د خپل قوم ملک وو هم په دې وجه به غالبا د ټول قوم کالی د هغه سره محفوظ وی، راوی وائی چه دا بن اخطب د خیبر نه مخکښې وژلې شوې وو، چونکه په بنو قریظه کښې وو په دې وجه به د هغوی سره په ۵ هجری کښې قتل شوې وی. د بنو نضیر جنګ کوم چه د هغوی نه یو کال مخکښې شوې وو چه کله هغوی جلا وطن کیدل هغه وخت هغوی هغه مشک اوچت کړې وو. په روایت کښې دی چه رسول اللهﷺ سعیه داد یهودی نوم دې نه تپوس اوکړو چه د حیي بن اخطب مشک چرته دې؟ نو هغه اووې ﴿ اذهبت الحروب والنفقات ﴾ یعنی په جنګونو او نورو ضروریاتو کښې خرچ شو خو روستو هغه ملاؤ شوې وو لکه چه په روایت کښې ذکر دی. ﴿ فقتل ابن ابی الحقیق ﴾ یعنی رسول اللهﷺ ابن ابی الحقیق (چه د قبیله بنو نضیر په سردارانو کښې وو او د صفیهؓ رومبې خاوند هم وو) هغه خو قتل کړو او د هغوی زنانه او ماشومان ئې قید کړل، چه کله د خیبر د یهودو د اخراج اراده رسول اللهﷺ اوکړه نو هغوی اووې ﴿ یا محمد دعنا نعمل فی هذه الارض ﴾ دا مضمون وړاندې تیر شوې دې یعنی د خیبر یهودو ډیر په منت سره عرض اوکړو چه بیشکه اوس د دې ټولو زمکو نه مالک یې خو کرونده ستاسو د وس خبره نه ده تاسو مونږ ته دلته د پاتې کیدو اجازت راکړئ چه په دې زمکه کښې کرونده کوو او د دې باغونو خدمت کوو او د دې په پیداوار کښې به نیم زمونږ وی او نیم ستاسو، رسول اللهﷺ په دې شرط سره د هغوی دا رائې منظور کړه چه کله مونږ اوغواړو نو تاسو به د دې ځائې نه اوباسو، ﴿وکان رسول اللهﷺ یعطی کل امراة من نسائه ثمانین وسقًا من تمر، وعشرین وسقًا من شعیر ﴾ یعنی رسول اللهﷺ به د خیبر د خمس نه خپلې هرې بی بی ته د کال خرچه اتیا وسقه کهجورې او شل وسقه اوربشې ورکولې، او په وړاندې روایت کښې د سلو وسقو کهجورو ذکر دی، نو کیدې شی چه په شروع کښې اتیا وسقه وی او روستو ئې سل کړې وی، او یا داسې اوایه چه د احد العددین ذکر بالتخمین (تقریبی) او د بل بالتحقیق دې، یا دا چه یو کال یو مقدار

او بل کال بل مقدار، د پیداوار د کمی زیاتی په لحاظ سره.

د خیبر فتح عنوة ده یا صلحا:

د دې روایت په شروع کښې تصریح ده چه د اهل خیبر سره قتال اوکړو او دا چه هغوی مجبور کیدو سره د رسول الله ﷺ سره مصالحت اوکړو. حضرت په بذل کښې لیکلې دی چه دې ته به فتح صلحا نه شی وئیلې کیدې اگر چه صورة صلح لیکلې شوې ده، په حقیقت کښې دا هم فتح عنوة ده، زه وایم چه هسې خو مسئله مختلف فیه ده وړاندې روایت کښې د دې تصریح راروانه ده ﴿عن ابن شهاب ان خیبر کان بعضها عنوة وبعضها صلحا والکتیبة اکثرها عنوة وفیها صلح﴾ او په یو روایت کښې وړاندې صرف عنوة هم راځی هم په دې وجه یو جماعت امام طحاوی، امام شافعی او د امام بیهقی ﷫ رائې هم دا ده، یعنی بعض صلحا او بعض عنوة او بیا په دې باندې یو اختلافی مسئله متفرع ده چه د امام شافعی ﷫ په نزد د ارض مفتوحه عنوة تقسیم ضروری دې حال دا چه رسول الله ﷺ صرف د خیبر زمکه تقسیم کړې ده. نو د دې جواب امام شافعی ﷫ هم دا ورکوی چه کوم نیم خیبر عنوة فتح شوې وو هغه رسول الله ﷺ تقسیم اوفرمائیلو او نیم باقی کوم چه صلحا فتح شوې وو هغه مال فئ شو هغه رسول الله ﷺ تقسیم نه کړو، او د احنافو او حنابله په نزد د ارض مفتوحه تقسیم ضروری نه دې هغوی د رسول الله ﷺ د دې فعل نه استدلال کوی. وقد تقدم هذا الاختلاف فی اول الباب وهو البحث الثالث..... حضرت په ﴿بعضها صلحا﴾ باندې لیکلې دی چه ﴿لعل المراد بالصلح علی ان یخرجهم﴾ (متی شآء لا فی الحال) ویحقن دمائهم ولیس هذا بالصلح الاصطلاحی [1] بل هو ایضا فتح عنوة، په دې باندې په حاشیه د بذل کښې لیکی: وبه جزم ابن قیم فی الهدی وتبعه ابن الهمام فی الفتح ۴/۳۰۴.

[۳۰۰۷]([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي نَافِعٌ مَوْلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ عُمَرَ قَالَ: أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَامَلَ يَهُودَ خَيْبَرَ عَلَى أَنَّا نُخْرِجُهُمْ إِذَا شِئْنَا فَمَنْ كَانَ لَهُ مَالٌ فَلْيَلْحَقْ بِهِ فَإِنِّي مُخْرِجٌ يَهُودَ فَأَخْرَجَهُمْ.

دعبدالله بن عمر ﷛ نه روایت دې فرمائی چه عمر ﷛ اوفرمائیل اې خلقو یقینا رسول پاك و دخیبر دیهودیانوسره په دې خبره معاهده کړې وه کله چه مونږ اوغواړو نو تاسو به اوباسو نود چاچه دهغوی سره څه مال وي هغه دې وصول کړي زه دیهودیانوویستونکې یم (دجزیرة العرب نه) او بیا ئې اوویستل

﴿عن عبدالله بن عمر ﷛ ان عمر قال یاایها الناس ان رسول الله ﷺ کان عامل یهودخیبر علی ان نخرجهم اذا شئنا، ومن کان له مال فلیلحق به فانی مخرج یهود فاخرجهم﴾

---

[1] یعنی فتح صلحا خو دا ده چه د قتال ضرورت رانشی او که د قتال د پیښیدو نه پس عاجز راتلو سره صلح اوکړې شی نو دا فتح صلحا نه ده بلکه عنوة ده.

[2] صحیح البخاري/ الشروط ۱۴ (۲۷۳۰)، (تحفة الأشراف: ۱۰۵۵۴) (حسن صحیح)

مضمون د حدیث :

یعنی عمر رضی الله عنه په خپل دور خلافت کښې یوه ورځ دا اعلان اوکړو چه رسول الله ﷺ د خیبر یهودو سره دا معامله کړې وه چه کله مونږ غواړو نو تاسو به اوباسو عمر رضی الله عنه فرمائی : اوس زه یهود اوباسم لهذا چه د چا باغ یا زمکه د چا یهودی سره وی هغه دې لاړ شی او د هغه نه دې واخلی او خپل څیز دې سنبهال کړی، پس د دې اعلان نه پس عمر رضی الله عنه د هغوی اخراج اوفرمائیلو او د دې نه وړاندې روایت کښې دا هم راروان دی چه عمر رضی الله عنه ازواج مطهرات ته یو مستقل سړې وراولیږلو چه که دوی غواړی چه په څومره مقدار کښې غله او کهجورې رسول الله ﷺ هغوی ته ورکولې هغه غله او کهجورې هغوی ته ورلیږم او که دا غواړی چه د هغې په اندازه د کروندې زمکه او د کهجورو اونې هغوی ته ورکړم نو داسې به اوکړم، په دې باندې بعضو خو اوساق غله او کهجورې اختیار کړې او بعضو زمکه، ﴿ وکانت عائشة منها ای ممن اخذ الارض والنخل ﴾

په وړاندې روایت کښې راروان دی ﴿ وکان التمر یقسم علی السهمان من نصف خیبر ویاخذ رسول الله ﷺ الخمس ﴾ یعنی د خیبر د نیمو کهجورو تقسیم د حصو مطابق کیدلو، او رسول الله ﷺ به هم خپله حصه یو خمس اخستله د دې نصف خیبر نه مراد هغه نصف دې کوم چه رسول الله ﷺ د غانمینو ترمینځه نه وو تقسیم کړې بلکه د خپلو ضرورتونو دپاره ئې پریخودلې وه او کوم نیم تقسیم چه ئې کړې وو نو هغه خو ښکاره دې چه دغانمینو ملک شو ،اوددې تقسیم نه مراد تقسیم فی مصارف الفئ هم دې نه تقسیم علی الغانمین ځکه چه دا نصف مال فئ وو (علی قول) والحدیث اخرجه مسلم، قاله المنذری

[۳۰۰۸](۱) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ اللَّيْثِيُّ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: لَمَّا افْتُتِحَتْ خَيْبَرُ، سَأَلَتْ يَهُودُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُقِرَّهُمْ عَلَى أَنْ يَعْمَلُوا عَلَى النِّصْفِ مِمَّا خَرَجَ مِنْهَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أُقِرُّكُمْ فِيهَا عَلَى ذَلِكَ مَا شِئْنَا فَكَانُوا عَلَى ذَلِكَ"، وَكَانَ التَّمْرُ يُقْسَمُ عَلَى السُّهْمَانِ مِنْ نِصْفِ خَيْبَرَ وَيَأْخُذُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخُمُسَ وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَطْعَمَ كُلَّ امْرَأَةٍ مِنْ أَزْوَاجِهِ مِنَ الْخُمُسِ مِائَةَ وَسْقٍ تَمْرًا وَعِشْرِينَ وَسْقًا شَعِيرًا، فَلَمَّا أَرَادَ عُمَرُ إِخْرَاجَ الْيَهُودِ أَرْسَلَ إِلَى أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُنَّ: مَنْ أَحَبَّ مِنْكُنَّ أَنْ أَقْسِمَ لَهَا نَخْلًا بِخَرْصِهَا مِائَةَ وَسْقٍ فَيَكُونَ لَهَا أَصْلُهَا وَأَرْضُهَا وَمَاؤُهَا وَمِنَ الزَّرْعِ مَزْرَعَةَ خَرْصِ عِشْرِينَ وَسْقًا، فَعَلْنَا وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ نَعْزِلَ الَّذِي لَهَا فِي الْخُمُسِ كَمَا هُوَ فَعَلْنَا.

دعبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه کله چه خیبر فتح شو یهودیانو نبی علیه السلام نه مطالبه اوکړه چه مونږ په دې شرط باندې دلته اوسیدو ته پریږده چه مونږ به محنت کوو اوکوم پیداوار چه حاصلیږی ددې نیم به دخان سره ساتو اوباقی نیم به تاته درکوو نبی علیه السلام اوفرمائیل سمه ده په دې شرط باندې به زه تاسو دلته پریږدم دیوخته پورې خوچه کله مونږ اوغواړو بیا دغه خلق په هم دغه شرط باندې اوسیدل اودخیبر نه حاصلیدونکی نیمي

(۱): صحیح مسلم/المساقاة ۱ (۱۵۵۱)، (تحفة الأشراف: ۷۴۷۲)، وقد أخرجه: صحیح البخاري/الحرث ۸ (۲۳۲۸)، سنن الترمذي/الأحکام ۴۱ (۱۳۸۳)، سنن ابن ماجه/الرهون ۱۴ (۲۴۶۷)، مسند احمد (۲/۱۷، ۲۲، ۳۷) (صحیح)

کجوري به په څو حصو باندې تقسیمیدې او دهغې نه به پنځمه حصه نبی علیه السلام وصول کوله او په خپلو بیانو کښې به ئې هرې بیبۍ ته ددې پنځمې حصې نه سل وسقه کجورې اوشل وسقه وربشې ورکولې، کله چه عمر رضي الله عنه دجزیرة العرب نه د یهودیانو دویستلو اراده اوکړه نو امهات المومنین ته ئې اووئیل چه په تاسوکښې دچاچه زړه غواړې زه به ورته دومره ونقې ورکړم سره دجررو او اوبو اوزمکې په څومره ونوکښې چه سل وسقه کجورې کیږی او دومره زمکه به هم ورکړم چه شل وسقه وربشې پکښې کیږي

اوکه چرې څوك د خمس نه اخستل غواړې نوزه به ئې ورته د خمس نه ورکړم.

[۳۰۰۹]() حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ. ح وحَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، وَزِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، أن إسماعيل بن إبراهيم حدثهم، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزَا خَيْبَرَ فَأَصَبْنَاهَا عَنْوَةً فَجُمِعَ السَّبْيُ.

دانس بن مالك رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام دخیبرجهاد وکړو اوخیبر مونږ په جنګ حاصل کړواوقیدیان موراجمع کړل.

قوله: ﴿عن انس بن مالك رضي الله عنه........... فاصبناها عنوة﴾

په دې روایت کښې د صلح ذکر نشته، بلکه مطلقا دا دی چه خیبر عنوة فتح کړې شو.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، باتم منه، قاله المنذری

[۳۰۱۰]() حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْمُؤَذِّنُ، حَدَّثَنَا أَسَدُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا، حَدَّثَنِي سُفْيَانُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، قَالَ: "قَسَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ نِصْفَيْنِ، نِصْفًا لِنَوَائِبِهِ وَحَاجَتِهِ، وَنِصْفًا بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ قَسَمَهَا بَيْنَهُمْ عَلَى ثَمَانِيَةَ عَشَرَ سَهْمًا".

دسهل بن حثمة رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام دخیبرغنیمت په دوه حصو تقسیم کړې وویوه حصه ئې دخپلو حادثو اوضرورتونودپاره منتخب فرمائیلې وه اوبله حصه به ئې په مسلمانانو تقسیموله اودغه حصه ئې اتلس حصې کړې وه.

﴿قسمها بینهم علی ثمانیة عشر سهما﴾ او د هغې نه په روستو روایت کښې دی ﴿قسمها علی ستة وثلاثین سهما﴾: په ړومبی روایت کوم کښې چه د اتلسو حصو ذکر دې هلته د نصف ارض تقسیم مراد دې او په بل روایت کښې د ټولې زمکې تقسیم مراد دې، او د دې ټولو تفصیل په ابتدائی مباحثو کښې تیر شوې دی.

[۳۰۱۳]() حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ الْكِنْدِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ يَعْنِي سُلَيْمَانَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ، قَالَ: لَمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى نَبِيِّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ قَسَمَهَا عَلَى سِتَّةٍ وَثَلَاثِينَ سَهْمًا جَمْعَ كُلِّ سَهْمٍ مِائَةَ سَهْمٍ فَعَزَلَ نِصْفَهَا لِنَوَائِبِهِ، وَمَا يَنْزِلُ بِهِ الْوَطِيحَةَ وَالْكُتَيْبَةَ وَمَا أُحِيزَ مَعَهُمَا، وَعَزَلَ النِّصْفَ الْآخَرَ فَقَسَمَهُ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ الشِّقَّ وَالنَّطَاةَ وَمَا أُحِيزَ مَعَهُمَا، وَكَانَ سَهْمُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا أُحِيزَ مَعَهُمَا.

---

[۱]: صحيح البخاري/الصلاة ۱۲ (۳۷۱)، صحيح مسلم/الجهاد ٤٣ (۱۳٦٥)، سنن النسائي/النكاح ٦٤ (۳۳٤۰)، (تحفة الأشراف: ۱۰٥۹) (صحيح)

[۲]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٦٤٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢) (حسن صحيح)

[۳]: انظر حديث رقم: (۳۰۱۱)، (تحفة الأشراف: ۱٥٥۳٥، ۱۸٤٥٦) (صحيح)

دبشير بن يسار نه روايت دي فرمائي کله چه الله تعالى نبى عليه السلام ته خيبر په طور دغنيمت ورکړونونبی علیه السلام په شپږديرش حصو باندې تقسيم کړواوهره يوه حصه به په سلو حصو باندې مشتمله وه، نيم په دې کښې نبی علیه السلام دخپلوضروررياتو دپاره محفوظ کړوپه کوموکښې چه وطيحه اوکتيبه او ددې خواه اوشاه مقامات هم شامل وو اوباقي پاتې نيم به ئې به مسلمانانوباندې تقسيمولو اوپه دې جائداد کښې شق او نطاة مقامات شامل وو اوکومه زمکه چه ددې کيرچاپيره وه اود نبی علیه السلام حصه ددې مقاماتونه وه.

﴿فعزل نصفها لنوائبه وما ينزل به الوطيحة والكتيبة (والسلالم (كما فى الرواية الاتية) وما احيز معهما﴾

شرح الحديث:

يعنى نصف ارض خيبر لره د خپلو ضرورياتو دپاره او هغه وفدونه او ميلمانهٔ چه به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راتلل د هغوى دپاره اوساتله او دا وطيحه او کتيبه چه د زمکو وغيره نومونه دى دا د هم دې نصف مصداق دى کوم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم تقسيم نه کړل، ﴿ وما احيز معهما ﴾ مطلب دا دې چه کومې زمکې وطيحه او د کتيبې سره ملحق وى ﴿ الشق والنطاة وما اجيز معهما ﴾ دا هم هغه زمکې دى کومې چه هغوى د غانمينو ترمينځه تقسيم کړې وې، وړاندې راوى وائى چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم حصه په هغه زمکو کښې وه چه ملحق بالشق والنطاة وى، وړاندې هغه د مجمع بن جاريه انصارى رضی الله عنه روايت دې کوم چه په کتاب الجهاد کښې تير شوې دې. په دې وجه هغه مونږ دلته نه ذکر کوو.

[۳۰۱۱](١) حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ الأَسْوَدِ، أَنَّ يَحْيَى بْنَ آدَمَ حَدَّثَهُمْ، عَنْ أَبِي شِهَابٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّهُ سَمِعَ نَفَرًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالُوا: فَذَكَرَ هَذَا الْحَدِيثَ، قَالَ: فَكَانَ النِّصْفُ سِهَامَ الْمُسْلِمِينَ وَسَهْمَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَزَلَ النِّصْفَ لِلْمُسْلِمِينَ لِمَا يَنُوبُهُ مِنَ الأُمُورِ وَالنَّوَائِبِ.

بشير بن يسار په صحابه کراموکښې ديوځو کسانونه روايت کوى فرمائي چه هغوى داحديث بيان کړو چه په نيم امدن کښې ئې ټول مسلمانان شريک کړل او نبی علیه السلام پخپله هم په دې حصه کښې شامل وو اوباقى چه کومه نيمه حصه پاتې کيده هغه ئې دمسلمانانو داجتماعي امورو دپاره محفوظ کړه چه کله به دوى ته مسائل پيښيدل لکه جهاد وغيره نودغه اخراجات به ئې ترې پوره کول

[۳۰۱۲](٢) حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ مَوْلَى الأَنْصَارِ، عَنْ رِجَالٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا ظَهَرَ عَلَى خَيْبَرَ قَسَمَهَا عَلَى سِتَّةٍ وَثَلَاثِينَ سَهْمًا جَمَعَ كُلُّ سَهْمٍ مِائَةَ سَهْمٍ، فَكَانَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِلْمُسْلِمِينَ النِّصْفُ مِنْ ذَلِكَ، وَعَزَلَ النِّصْفَ الْبَاقِيَ لِمَنْ نَزَلَ بِهِ مِنَ الْوُفُودِ وَالأُمُورِ وَنَوَائِبِ النَّاسِ".

بشير بن يسار (دانصارو ازاد کړې شوې غلام) په صحابه کرامو کښې ديوځوکسانونه روايت

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٥٣٥، ١٨٤٥٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦٧/٤) (صحيح الإسناد)

(٢): انظر حديث رقم: (٣٠١١)، (تحفة الأشراف: ١٥٥٣٥، ١٨٤٥٦) (صحيح الإسناد)

کوی هرکله چه نبی عليه السلام په خیبر والاباندي غالب شو نوخیبر ئې په شپږ دیرشو حصو تقسیم کړو اوهره یوه حصه په سلو حصو مشتمله وه نیم په دې کښې دنبی عليه السلام اودعامو مسلمانانو وو اوباقی پاتې نیم دوندونو دخدمت دپاره اودنورو اجتماعي خدمتونودپاره استعمالیدو.

[۳۰۱۴](¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مِسْكِينٍ الْيَمَامِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ يَعْنِي ابْنَ بِلَالٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْهِ خَيْبَرَ قَسَمَهَا سِتَّةً وَثَلَاثِينَ سَهْمًا جَمْعًا، فَعَزَلَ لِلْمُسْلِمِينَ الشَّطْرَ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ سَهْمًا يَجْمَعُ كُلُّ سَهْمٍ مِائَةً النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَهُمْ لَهُ سَهْمٌ كَسَهْمِ أَحَدِهِمْ، وَعَزَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ سَهْمًا وَهُوَ الشَّطْرُ لِنَوَائِبِهِ وَمَا يَنْزِلُ بِهِ مِنْ أَمْرِ الْمُسْلِمِينَ، فَكَانَ ذَلِكَ الْوَطِيحَ وَالْكُتَيْبَةَ وَالسَّلَالِمَ وَتَوَابِعَهَا، فَلَمَّا صَارَتِ الْأَمْوَالُ بِيَدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُسْلِمِينَ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ عُمَّالٌ يَكْفُونَهُمْ عَمَلَهَا، فَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْيَهُودَ فَعَامَلَهُمْ.

بشیر بن یسارپه صحابه کراموکښې دیوڅو کسانونه روایت کوی فرمائی کله چه الله تعالی نبی عليه السلام ته خیبر په طور دغنیمت ورکړونونبی عليه السلام په شپږدیرش حصوباندې تقسیم کړو، یوه حصه ئې دمسلمانانو داجتماعي خدماتو دپاره مختص کړه چه هغه اتلس حصې وې اوهره یوه حصه به په سلو حصو باندې مشتمله وه، او بعضې په دې کښې نبی عليه السلام دخپلو ضروریاتو دپاره محفوظ کړه په کوموکښې چه وطیح اوکتیبه اوسلالم او ددې خواه اوشاه مقامات هم شامل وو، هرکله چه دنبی عليه السلام په تصرف کښې داما لونه راغلل او مسلمانانو ته داسې کارکونکي نه ملاویدل څوك چه ددوی دطرف نه محنت اومشقت ته دوام ورکړی نو نبی عليه السلام یهودیان محنت اومشقت کولوته تیارکړل نونبی عليه السلام ددوی نه کا واخستو.

[۳۰۱۵](²) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا مُجَمِّعُ بْنُ يَعْقُوبَ بْنِ مُجَمِّعِ بْنِ يَزِيدَ الْأَنْصَارِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي يَعْقُوبَ بْنَ مُجَمِّعٍ يَذْكُرُ لِي، عَنْ عَمِّهِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ عَمِّهِ مُجَمِّعِ بْنِ جَارِيَةَ الْأَنْصَارِيِّ، وَكَانَ أَحَدَ الْقُرَّاءِ الَّذِينَ قَرَءُوا الْقُرْآنَ، قَالَ: "قُسِمَتْ خَيْبَرُ عَلَى أَهْلِ الْحُدَيْبِيَةِ، فَقَسَمَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ثَمَانِيَةَ عَشَرَ سَهْمًا، وَكَانَ الْجَيْشُ أَلْفًا وَخَمْسَ مِائَةٍ فِيهِمْ ثَلَاثُ مِائَةِ فَارِسٍ، فَأَعْطَى الْفَارِسَ سَهْمَيْنِ وَأَعْطَى الرَّاجِلَ سَهْمًا".

دمجمع بن جاریه انصاري نه روایت دې کوم چه دقران قاري وو فرمائی چه نبی عليه السلام خیبر په هغه کسانو په اتلسو حصو تقسیم کړو څوك چه په صلح حدیبیه کښې شریك وو اودټول لښکر تعداد ۱۵۰۰ وو په دې کښې ۳۰۰ سواره وو ۱۲۰۰ پیدل وونبی عليه السلام سورو ته دوه دوه حصې ورکړې او پیدل ته یوه یوه.

[۳۰۱۶](³) حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ الْعِجْلِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى يَعْنِي ابْنَ آدَمَ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، وبعض ولد محمد بن مسلمة، قَالُوا: بَقِيَتْ بَقِيَّةٌ مِنْ أَهْلِ خَيْبَرَ تَحَصَّنُوا، فَسَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَحْقِنَ دِمَاءَهُمْ وَيُسَيِّرَهُمْ فَفَعَلَ، فَسَمِعَ بِذَلِكَ أَهْلُ فَدَكَ فَنَزَلُوا عَلَى مِثْلِ ذَلِكَ فَكَانَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاصَّةً لِأَنَّهُ لَمْ يُوجَفْ عَلَيْهَا بِخَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ.

---

¹): انظر حديث رقم: (۳۰۱۱)، (تحفة الأشراف: ۱۵۵۳۵، ۱۸۴۵۶) (صحيح)
²): انظر حديث رقم: (۲۷۳۶)، (تحفة الأشراف: ۱۱۲۱۴) (حسن)
³): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۸۸۶) (ضعيف الإسناد)

دعبدالله بن أبي بكر اود محمد بن مسلمه په ځامنو كښې ديو كس روايت دې دوى وائى كله چه مسلمانانو خيبر فتح كړو نود خيبر يوڅوقلاګانې دفتح كيدونه باقى پاتې شوي اوهغوى په خپلوقلاګانو كښې محاصره شول. هغې دنبى عليه السلام نه مطالبه اوكړه چه مونږ ته امن راكړه او مونږته دې لاره راكړې شي نبى عليه السلام دهغوى مطالبه منظور كړه نوفدك والاو ته هم دا خبر ورسيد و نوهغوى هم په دې شرط باندې روان شول بيابه فدك په خصوصي طور سره دنبى عليه السلام دپاره شميرلې شو ځكه چه په دې پسې أسونه او اوښان نه وو زغلولې شوي (مطلب دادې چه فدك د خيبر په قلاګانو كښې يوه قلاوه مسلمانانوته بغيردجنګ نه حاصله شوه كه چرې په جنګ حاصله شوې وې نوبيابه په دې كښې ټول مسلمانان يوبرابر حقدار وې).

﴿ بقيت بقية من اهل خيبر فتحصنوا ﴾ يعنى بعض قلعه ګانې دخيبر خو رسول الله صلى الله عليه وسلم فتح كړل او بعض د فتح نه باقى پاتې شو د دې نه مراد وطيح او سلالم دى. نو دا باقى يهوديان په دې قلعه ګانو كښې د ځان د بچ كولو دپاره داخل شو (تحصن العدو اى دخل فى الحصن) او قلعه كښې د داخليدو نه پس هغوى د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه تپوس اوكړو چه تاسو زمونږ نفسونه محفوظ كولو سره مونږ د دې ځائې نه اوباسئ. رسول الله صلى الله عليه وسلم دا منظوره كړه. چه كله اهل فدك ته د دې خبر ملاؤ شو نو هغوى هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره هم دغه شان د صلح معامله اوكړه. ﴿ فكانت لرسول الله صلى الله عليه وسلم خاصة ﴾ د دې تعلق په ظاهر د سياق د وجې د فدك او باقى اهل خيبر دواړو سره دې او د دې تائيد كيږي د هغه حضراتو چه د فتح خيبر په باره كښې د بعضها عنوة او بعضها صلحا قائل دى. په هغوى كښې يو امام طحاوى دې. خو حضرت د دې كانت تعلق صرف د فدك سره وئيلې دې او د دې دپاره هم يوه وجه ده ځكه چه اقرب هم داده. او دويمه خبره دا هم ده چه په خيبر كښې خو د جنګ سلسله قائمه وه او په فدك كښې نه وه. والله تعالى اعلم

[۳۰۱۷](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ جُوَيْرِيَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَنَّ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ أَخْبَرَهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، افْتَتَحَ بَعْضَ خَيْبَرَ عَنْوَةً، قَالَ أَبُو دَاوُدَ، وَقُرِءَ عَلَى الْحَارِثِ بْنِ مِسْكِينٍ وَأَنَا شَاهِدٌ، أَخْبَرَكُمُ ابْنُ وَهْبٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي مَالِكٌ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَنَّ خَيْبَرَ كَانَ بَعْضُهَا عَنْوَةً وَبَعْضُهَا صُلْحًا وَالْكَتِيبَةُ أَكْثَرُهَا عَنْوَةً وَفِيهَا صُلْحٌ، قُلْتُ لِمَالِكٍ: وَمَا الْكَتِيبَةُ؟ قَالَ: أَرْضُ خَيْبَرَ وَهِيَ أَرْبَعُونَ أَلْفَ عَذْقٍ.

دسعيد بن مسيب نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام دخيبر څه حصه په زور حاصله كړه. ابوداود وائى چه دحارث بن مسكين په وړاندې دا روايت بيان شو اوزه موجود ووم چه ابن وهب په واسطه مالك دابن شهاب نه نقل كړې وو چه دخيبر څه حصه خوپه جنګ حاصله شوې وه او څه حصه په صلح حاصله شوې وه كتيبه چه په خيبر كښې ېوكلې دې په زور فتح شو ابن وهب وئيلى دى چه ما دمالك نه اوهغه دابن شهاب نه تپوس اوكړو چه كتيبه څه شې دې هغه اووئيل چه كتيبه يوه علاقه ده دخيبرپه زمكو كښې په كومه كښې چه دكجورو څلويښت زره ونې وې.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۷۳۲، ۱۹۳۶۷) (ضعيف)

﴿قال ابوداؤد : وقرئ علی الحارث بن مسكين وانا شاهد﴾

د مصنف رحمه الله د حارث بن مسکین نه د روایت کولو طرز:

دا د حارث بن مسکین والا سند په نسائی کښې ډیر زیات راځی، هلته هم دغه شان راځی ﴿قراءة عليه وانا اسمع﴾ او دلته په ابوداؤد کښې هم تقریبا هم دغه شان دی، په نسائی کښې چونکه په کثرت سره راځی په دې وجه د دې په باره کښې مشهوره ده چه د حارث بن مسکین د امام نسائی رحمه الله نه څه خفګان وو چه د هغې په وجه باندې به امام نسائی رحمه الله په مجلس کښې د هغوی مخې ته نه کیناستلو بلکه په پټه باندې به ئې په ګوټ کښې اوریدل، هم په دې وجه چه کله امام نسائی د هغه نه روایت کوی نو د هغه په باره کښې فرمائی، زما په دې باندې دا اشکال راځی چه که د امام نسائی رحمه الله د تعبیر هم دا وجه وی نو آیا حارث بن مسکین د امام ابوداؤد رحمه الله نه هم خفه وو؟ په دې باندې نور کلام د (الفیض السمائی علی سنن النسائی) په مقدمه کښې کړې شوې دې.

﴿قلت لمالك: وما الكتيبة؟ الخ﴾ د امام مالک رحمه الله شاګرد وائی چه ما د امام مالک رحمه الله نه تپوس اوکړو چه کتیبه دکوم ذکرچه په روایت کښې دې څه څیزدې؟ نو هغوی اوفرمائیل چه د خیبر د یو باغ نوم دې چه په هغې کښې څلویښت زره د کهجورو اونې دی.

[۳۰۱۸](1) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ افْتَتَحَ خَيْبَرَ عَنْوَةً بَعْدَ الْقِتَالِ، وَنَزَلَ مَنْ نَزَلَ مِنْ أَهْلِهَا عَلَى الْجَلَاءِ بَعْدَ الْقِتَالِ.

دابن شهاب نه روایت دې فرمائی چه ماته داخبره معلومه شوه چه نبی علیه السلام خیبر په طاقت اوپه زور فتح کړې وو اودهغه ځائې اوسیدونکی به دجلاوطنۍ په شرط باندې دخپلو قلاګانونه لاندې راکوزیدل.

[۳۰۱۹](2) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: خَمَّسَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ، ثُمَّ قَسَمَ سَائِرَهَا عَلَى مَنْ شَهِدَهَا وَمَنْ غَابَ عَنْهَا مِنْ أَهْلِ الْحُدَيْبِيَةِ.

دابن شهاب نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام دخیبر دمال نه خمس اوویستلو اوکوم چه باقی پاتې شو هغه ئې په هغه خلقو تقسیم کړو څوک چه په جنګ کښې موجود وو او څوک چه په دې وخت کښې موجود نه وو مګرپه صلح حدیبیه کښې موجود روز په صلح حدیبیه اوغزوه خیبر په مینځ کښې یو کال تیرشوې دې).

﴿عن ابن شهاب قال خمس رسول الله صلی الله علیه وسلم خيبر ثم قسم سائرها على من شهدها ومن غاب عنها من اهل الحديبية﴾

یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم د خیبر په غنیمتونو کښې خمس ویستلو نه پس باقی اربعة اخماس لره چه په جنګ خیبر کښې شریک وو او کوم چه غائب وو د اهل حدیبیه نه د ټولو ترمینځه تقسیم اوفرمائیلو.

---

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۴۰۲) (ضعيف)

(2): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۴۰۱) (حسن)

﴿من اهل الحديبية﴾ په دې وجه راوی اوئيل چه جنګ خيبر کښې شرکت کونکی ټول په ټول هم هغه اهل حديبيه وو هغه داسې چه کله رسول اللهﷺ د غزوه حديبيه نه مدينې طيبې ته راواپس شو نو مدينې طيبې ته د رسيدو سره د جبرائيلؑ په اشاره باندې د خيبر د فتح دپاره سره د خپلو ټولو ملګرو روان شو، بيا په دې روايت کښې دی چه په هغوی کښې چه کوم صحابه کرامؓ د رسول اللهﷺ سره په فتح خيبر کښې شريک وو رسول اللهﷺ د هغوی حصه هم اولګوله، او کوم چه غائب وو د هغوی هم، په بذل المجهود کښې د تاريخ خميس نه نقل کړې شوې دی چه جابر بن عبداللهؓ په هغه غائبينو کښې دې چه د هغه رسول اللهﷺ حصه مقرر کړه، هم دغه شان بعض هغه صحابه کرامؓ کوم چه دحبشې نه واپس مدينې طيبې ته راغلل اوبيا خيبر ته اورسيدل پس د قتال د فراغت نه يعنې جعفرؓ او دهغوی ملګری د اهل سفينه نه. (كما تقدم فى كتاب الجهاد) دهغوی هم رسول اللهﷺ حصه مقرر کړه دصحابه کرامو ؓ په رضامندئ سره. (البذل)

[۳۰۲۰] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُمَرَ، قَالَ: لَوْلَا آخِرُ الْمُسْلِمِينَ مَا فُتِحَتْ قَرْيَةٌ إِلَّا قَسَمْتُهَا كَمَا قَسَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ.

دعمرؓ نه روايت دې فرمائی که چرې زما سره دهغه مسلمانانو فکرنه وې کوم چه زمونږ نه وروسته پيدا کيدونکی دې يعنې ددوی دضرورتونو نوهريو کلې اوښار چه فتح کيږی مابه داسې تقسيمولې لکه څنګه چه نبیﷺ خيبر تقسيم کړې وو.

﴿عن عمرؓ قال لولا اخر المسلمين ما فتحت قرية الا قسمتها كما قسم رسول اللهﷺ خيبر﴾

د ارض مفتوحه په باره کښې د عمرؓ اثر او د هغې شرح:

عمرؓ فرمائی چه که د روستو راتلونکو مسلمانانو ما سره غم نه وې او د هغوی رعايت کول مې مقصود نه وې نو د هرې قريې د فتح کولو نه پس به مې هغه د هغه قريې په غانمينو کښې تقسيموله، څنګه چه رسول اللهﷺ خيبر تقسيم کړې وو (خو چونکه د روستو راتلونکو رعايت مقصود وو په دې وجه ئې نه تقسيموم) په دې وجه چه د زمکې د تقسيم نه پس خو د اشخاصو ملکيت شی او ورانديې په دې کښې ميراث وغيره جاری کيږی، د حاجت او عدم حاجت وغيره هلته هيڅ لحاظ نه وی، په خلاف د دې چه په دې صورت کښې د زمکو آمدنی په بيت المال کښې محفوظ وی او بيا هميشه د حاجت مطابق حاجتمندو ته ملاويږی هم دا مطلب دې د عمرؓ د دې ارشاد... جزاه الله تعالى عن الاسلام والمسلمين خيرا الجزاء.

اصل کښې بعض خلقو د عمرؓ نه د تقسيم مطالبه کړې وه نو هم په دې موقعه باندې عمرؓ د عدمت تقسيم په معذرت کښې داسې خبره اوکړه، دا مضمون هم نزدې تير شوې دې. والحديث سكت عليه المنذرى وقال الشيخ محمد عوامه ، اخرجه البخارى

(۱): صحيح البخاري/الحرث ١٤ (٢٣٣٤)، فرض الخمس ١٤ (٣١٢٥)، المغازي ٣٨ (٤٢٣٥)، (تحفة الأشراف: ١٠٣٨٩)، وقد أخرجه: مسند أحمد (١/٣١، ٣٢) (صحيح)

الحمد لله په دې باب او احاديثو باندې كلام پوره شو، چه په هغې باندې بنده ډير محنت اوكړو. والله الموفق وهو الميسر

بَابُ مَا جَاءَ فِي خَبَرِ مَكَّةَ

د فتح مكې بيان

فتح مكة نه پس د مكې د زمكې سره رسول الله ﷺ څۀ معامله اوفرمائيله:

يعنى د فتح مكه قصه او بيان، د مكې فتح د جمهورو په نزد عنوة شوې ده، او د امام شافعى رحمه الله په رائې كښې صلحا شوې ده، د مكې زمكه رسول الله ﷺ د غانمينو ترمينځه تقسيم نه كړه بلكه هغه ئې د هم هغه ځائې دخلقو په لاسونو كښې پريخودله، د هغې د اوچت شان او دارالنسک كيدو د وجې نه، او دويمه خبره دا هم ده چه د ارض مفتوحه تقسيم د جمهور په نزد لازم هم نه دې، خو د امام شافعى رحمه الله په نزد د ارض مفتوحه تقسيم ضرورى دې. خو د هغوى په مسلک باندې به هم اشكال د دې وجې نه نه وى چه د هغوى په نزد د مكې مكرمې فتح صلحا ده، د هغوى په نزد تقسيم خو د هغه زمكې واجب دې چه مفتوحه عنوة وى، اوس پاتې شوه دا خبره چه ارض مكه خراجى ده يا كه عشرى؟ دې په باره كښې مخكښې تير شوې دى چه د قياس تقاضا خو هم دا ده چه هغه خراجى وى خو مكې داوچت شان په بناء باندې خلاف قياس هغه خراجى نه كړې شوه.

دلته يو بحث بل دې چه په كتاب الحج كښې ﴿الا نبى لک بمنى بيتا﴾ الحديث د لاندې تير شوې دې هغه دا چه د حرم زمكه موقوف ده يا مملوک؟ او په دې كښې د علماء كرامو اختلاف بالتفصيل تير شوې دې، فتح مكه په رمضان ٨ هجرئ كښې اوشوه.

[٣٠٢١](1) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ جَاءَهُ الْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ بِأَبِي سُفْيَانَ بْنِ حَرْبٍ، فَأَسْلَمَ بِمَرِّ الظَّهْرَانِ، فَقَالَ لَهُ الْعَبَّاسُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ يُحِبُّ هَذَا الْفَخْرَ فَلَوْ جَعَلْتَ لَهُ شَيْئًا، قَالَ: "نَعَمْ مَنْ دَخَلَ دَارَ أَبِي سُفْيَانَ فَهُوَ آمِنٌ، وَمَنْ أَغْلَقَ عَلَيْهِ بَابَهُ فَهُوَ آمِنٌ"..

دابن عباس نه روايت دې چه دفتح مكې په كال باندې عباس به ابوسفيان بن حرف نبى عليه السلام ته راوستو اوپه مر الظهران مقام كښې ئې اسلام قبول كړو په دې وخت كښې عباس رضي الله عنه عرض اوكړو اې دالله رسوله ابوسفيان يوداسې سړې دې چه نوم (شهرت) او مشرې خوښوى دابوسفيان دپاره كه چرې څه امتياز مقرر كړې نوښه به وي ددې دپاره چه دې په هغې باندې فخر وكړې شي نبى عليه السلام اوفرمائيل څوک چه دابوسفيان كور ته داخل شي هغه ته پناه حاصل ده او څوک چه دخپل كور دروازه بنده كړي هغه ته هم پناه حاصل ده يعنى مونږ به ئې نه وژنو.

﴿ عن ابن عباس رضي الله عنهما ان رسول الله ﷺ عام الفتح جآءه العباس بن عبدالمطلب بابى سفيان فاسلم بمرالظهران ﴾

---

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٨٥٤) (حسن)

د باب دا رومبې روايت خو مختصر دې، هم دا حديث په دويمې طريقې سره د دې نه پس را روان دې، په هغې کښې تفصيل دې.

[۳۰۲۲]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا سَلَمَةُ يَعْنِي ابْنَ الْفَضْلِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَعْبَدٍ، عَنْ بَعْضِ أَهْلِهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ الظَّهْرَانِ، قَالَ الْعَبَّاسُ: قُلْتُ: وَاللَّهِ لَئِنْ دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ عَنْوَةً قَبْلَ أَنْ يَأْتُوهُ فَيَسْتَأْمِنُوهُ إِنَّهُ لَهَلَاكُ قُرَيْشٍ، فَجَلَسْتُ عَلَى بَغْلَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: لَعَلِّي أَجِدُ ذَا حَاجَةٍ يَأْتِي أَهْلَ مَكَّةَ فَيُخْبِرُهُمْ بِمَكَانِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَخْرُجُوا إِلَيْهِ فَيَسْتَأْمِنُوهُ فَإِنِّي لَأَسِيرُ إِذْ سَمِعْتُ كَلَامَ أَبِي سُفْيَانَ وَبُدَيْلِ بْنِ وَرْقَاءَ، فَقُلْتُ: يَا أَبَا حَنْظَلَةَ، فَعَرَفَ صَوْتِي، فَقَالَ أَبُو الْفَضْلِ: قُلْتُ: نَعَمْ قَالَ: مَا لَكَ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي، قُلْتُ: هَذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ، قَالَ: فَمَا الْحِيلَةُ؟ قَالَ: فَرَكِبَ خَلْفِي وَرَجَعَ صَاحِبُهُ فَلَمَّا أَصْبَحَ غَدَوْتُ بِهِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْلَمَ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ يُحِبُّ هَذَا الْفَخْرَ فَاجْعَلْ لَهُ شَيْئًا، قَالَ: "نَعَمْ مَنْ دَخَلَ دَارَ أَبِي سُفْيَانَ فَهُوَ آمِنٌ وَمَنْ أَغْلَقَ عَلَيْهِ دَارَهُ فَهُوَ آمِنٌ وَمَنْ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَهُوَ آمِنٌ"، قَالَ: فَتَفَرَّقَ النَّاسُ إِلَى دُورِهِمْ وَإِلَى الْمَسْجِدِ.

دابن عباس نه روايت دې چه کله نبي ﷺ مرظهران ته راغې عباس ته وائي چه ما په زړه کښې سوچ اوکړو که چرې نبي ﷺ دالښکر دځان سره بوځي اومکې ته داخل شي مخکښې ددې نه چه دوی ورته راشي او امن تري وغواړي نو دوی به هلاك شي بياعباس رضي الله عنه اووئيل چه زه دنبي ﷺ په قچر باندې په دې اراده سور شوم او روان شول چه کيدې شي چه څوك دضرورت دپاره وتلی وي اومکې ته روان وي او ماته ملاوشي چه دمکې خلقوته خبر ورکړی ددې دپاره چه هغوی دمکې نه بهر راوځي اونبي ﷺ ته حاضر شي اوپناه واخلي زه په دې خيال کښې روان ووم چه مادابوسفيان اوبديل بن ورقاء آواز واوريدو ما په تيز آواز سره اووئيل أې ابوحنظله هغه زما آواز او پيژندو نو وئې وئيل ابوالفضل ئې؟ ما ووئيل هو، ما ورته اووئيل په تاسوځه شوي دي ستاسونه دې زمامور او پلارقربان شي مالووئيل دانبي ﷺ دې اودادهغه لښکردې ابوسفيان اووئيل ما ورته اووئيل نوبيازه دبچ کيدو دپاره څه تدبير اختيارکړم؟ عباس نه ده لره په ځان پسې شاته سور کړو اودده ملګرې بديل بن ورقاء واپس شو عباس رضي الله عنه وائي چه کله سحر شوما ابوسفيان دنبي ﷺ په خدمت کښې حاضرکړو اوده اسلام قبول کړو عباس اووئيل اې دالله رسوله ابوسفيان غواړي چه دده دپاره دې څه امتياز وي تاسودده دپاره دڅه امتياز حکم ورکړئ نبي ﷺ اوفرمائيل څوك چه دابوسفيان کور ته داخل شي هغه ته پناه حاصل ده او څوك چه دخپل کور دروازه بنده کړي دوی ته هم پناه حاصل ده څوك چه مسجد ته داخل شي هغه ته پناه حاصل ده (يعني مونږ به ئې نه وژنو)خلقو چه دا واوريدل نوپه خپلو خپلو کورونو او مسجد کښې پټ شول.

مضمون د حديث او فتح مکه مکرمه:

مضمون د حديث دا دې، ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه رسول الله ﷺ د غزوة الفتح په سفر

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۱۳۲) (حسن)

کښې مر الظهران ته اورسيدو چه مکې ته نزدې دې نو زما والد عباس رضي الله عنه فرمائی چه ما په زړه کښې سوچ اوکړو چه که رسول الله ﷺ د دې لښکر سره په دې حال کښې عنوة داخل شو او اهل مکه د رسول الله ﷺ نه د امن د طلب کولو دپاره رانغلل نو بيا په دې کښې د قريشو يقينا هلاکت دې. هغوی فرمائی چه زه په دې فکر کښې اوم چه رسول الله ﷺ په خپله سورلۍ باندې سوريدو سره يو خوا بل خوا داسې يو کس لټولو چه د خپل څه ضرورت دپاره مکې ته روان وی پس هغه تلو سره اهل مکه ته د رسول الله ﷺ هلته د رسيدو خبر ورکړی چه اهل مکه دلته د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راتلو سره د هغوی نه امن طلب کړی، زه هم په دې تلاش کښې اوم چه ناڅاپه ما د ابوسفيان رضي الله عنه او د بديل بن ورقاء د خبرو کولو آواز واوريدو. (دا دواړه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې مدينې طيبې ته د بيا دپاره د صلح يا د جنګ د خبرې برابرولو دپاره را روان وو. (١) (کما فی الطبرانی) چه کله ما د هغه آواز واوريدو نو ما اووې ﴿ يا ابا حنظلة ! ﴾ هغه زما آواز اوپيژندلو، فورا ئې اووې ابوالفضل يعنی ته ابوالفضل ئې؟ (لا يو بل ته مخامخ شوې نه وو) ما اووې او. هغه اووې څه خبره ده زما مور پلار دې په تا باندې قربان وی؟ عباس رضي الله عنه وائی ما اووې ﴿ هذا رسول الله ﷺ والناس ﴾ ما اووې نزدې طرف ته اشاره کولو سره چه دلته رسول الله ﷺ او د هغه مجمع موجود ده، هغه هم په اوريدو سره اوبريدو ﴿ فما الحيلة؟ ﴾ وړاندې په روايت کښې دی عباس رضي الله عنه فرمائی چه ما هغه په ځان پسې شاته سورلۍ باندې کينولو او بديل مکې ته واپس شو. چه کله سحر شو نو ما ابوسفيان رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر کړو او هغه اسلام قبول کړو. ما عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ ابوسفيان داسې انسان دې چه فخر خوښوی (شيخی کوی) لهذا تاسو هغه سره لږ کرام اوفرمايئ، يعنی هغه ته داسې څيز ورکړئ چه د هغه دپاره د فخر سبب وی، نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل ښه، او بيا ئې اوفرمائيل ﴿ من دخل دار ابی سفيان فهو آمن ومن اغلق عليه داره فهو آمن ﴾ چه په اهل مکه کښې چه څوک د ابوسفيان کور ته ننوتل هغوی زمونږ د طرف نه په امن دی، او هم دغه شان په اهل مکه کښې چه کوم انسان د خپل کور دروازه بنده کړی، يعنی مسلمانانو سره د جنګ کولو دپاره بهر نه راوځی، هغه هم په امن دې، په دې باندې خلق خپلو خپلو کورونو ته لاړل او بعض مسجد حرام ته.

د دې نه روستو روايت کښې دا هم دی چه ﴿ ومن القی السلاح فهو امن وعمد صناديد قريش فدخلوا الکعبة فغصَّ بهم ﴾ چه په دې اعلان باندې د قريشو سرداران کعبې ته داخل شو، کعبه د هغوی نه ډکه شوه، او رسول الله ﷺ د بيت الله طواف اوکړو، مقام ابراهيم سره ئې د

(١) اوپه خپله دحضرت عباس (رض) باره کښې منقول دی چه هغه سره دخپل اهل وعيال دحضور اکرم (ص) مدينې ته د روانيدو نه مخکښې دهجرت په نيت سره دمکې نه وتلی وو څکه ددوی ملاقات دحضور پاک (ص) سره په لاره کښې په جحفه يا ذوالحليفه کښې اوشو کله چه حضور(ص) د فتح مکې دپاره تلو، نوبيا حضرت عباس (رض) دحضور (ص) سره مکې ته واپس راغې او خپل اهل وعيال ئې مدينې ته اوليږل (بذل القوة فی حوادث سنی النبوة ص ٢٢١).

طواف دوه رکعته مونځ اوکړو، د دې نه پس رسول اللهﷺ د بیت الله د دروازې دواړو طرفونو لره نیولو سره اودریدو، په دې باندې هغه خلق د دننه نه راووتل او د رسول اللهﷺ په لاس ئې بیعت اوکړو په اسلام باندې.

[۳۰۲۳]() حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الْكَرِيمِ، حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ عَقِيلِ بْنِ مَعْقِلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ، قَالَ: سَأَلْتُ جَابِرًا هَلْ غَنِمُوا يَوْمَ الْفَتْحِ شَيْئًا؟ قَالَ: لَا.

وهب بن منبه وائی دجابرنه مې تپوس اوکړو ایاصحابه کرامو دفتح مکې په ورځ څه غنیمت حاصل کړې وو؟ هغه اوفرمائیل نه.

﴿ سالت جابرا هل غنموا یوم الفتح شیئا قال لا ﴾ یعنی په دې فتح مکه کښې رسول اللهﷺ ته څه مال غنیمت حاصل نه شو ځکه چه د دې دپاره باقاعده د جنګ کولو حاجت رانغلو، اګر چه د رسول اللهﷺ د طرف نه د جنګ تیاری او انتظامات داسې اوشو څنګه چه په جنګ کښې وی خو هغوی ښکاره مقابلې ته رانغلل او اګر چه د هغوی د طرف نه د امن مطالبه هم نه وه چه داسې اوئیلې شی چه مکه صلحا فتح شوه د مسلمانانو د بعضو دستو سره څه اندازه د مقابلو ضرورت راغلو او په احترام مکه کښې د هغوی سره ډیر رعایت اوکړې شو بیا به مال غنیمت څنګه حاصل شوې وې.

[۳۰۲۴]() حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا سَلَّامُ بْنُ مِسْكِينٍ، حَدَّثَنَا ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَبَاحٍ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا دَخَلَ مَكَّةَ سَرَّحَ الزُّبَيْرَ بْنَ الْعَوَّامِ، وَأَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ، وَخَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ عَلَى الْخَيْلِ، وَقَالَ: يَا أَبَا هُرَيْرَةَ اهْتِفْ بِالْأَنْصَارِ قَالَ: اسْلُكُوا هَذَا الطَّرِيقَ فَلَا يُشْرِفَنَّ لَكُمْ أَحَدٌ إِلَّا أَنَمْتُمُوهُ فَنَادَى مُنَادٍ لَا قُرَيْشَ بَعْدَ الْيَوْمِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ دَخَلَ دَارًا فَهُوَ آمِنٌ وَمَنْ أَلْقَى السِّلَاحَ فَهُوَ آمِنٌ". وَعَمَدَ صَنَادِيدُ قُرَيْشٍ فَدَخَلُوا الْكَعْبَةَ فَغَصَّ بِهِمْ وَطَافَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَلَّى خَلْفَ الْمَقَامِ، ثُمَّ أَخَذَ بِجَنْبَتَيِ الْبَابِ فَخَرَجُوا فَبَايَعُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْإِسْلَامِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ سَأَلَهُ رَجُلٌ قَالَ: مَكَّةُ عَنْوَةً هِيَ، قَالَ: إِيشْ يَضُرُّكَ مَا كَانَتْ؟ قَالَ: فَصُلْحٌ قَالَ: لَا.

دابوهریره نه روایت دې فرمائی کله چه نبی علیه السلام مکې ته داخل شو نوزبیر بن عوام او ابوعبیده بن الجراح او خالد بن ولید ئې په اسونوباندې پریخودل او ابوهریره څوک چه دابوسفیان کور ته داخل شي هغه ته پناه حاصل ده، ماته ئې حکم اوکړو و چه ته په انصاروکښې آواز اوکړه چه ددې لارې نه لار شي او څوک چه د مخامخ طرف نه راځي هغه دې قتل کړې په دې وخت کښې یو آواز کونکي آواز اوکړو دنن نه پس به قریش نه وی نبی علیه السلام اوفرمائیل څوک چه په خپل کور کښې کښېني هغه ته امن دې اوڅوک چه اصلحه اوغورځوي هغه ته امن دې اودقریشو سرداران بیت الله ته داخل شول-اوبیت الله ددوی نه ډک شو نبی علیه السلام دبیت د الله طواف اوکړو او دمقام ابراهیم نه ئې شاته مونځ اوکړو اوبیا ئې دبیت الله د دروازې دوه چوکاټونه اونیول په دې وخت کښې چه په بیت الله کښې کوم خلق دننه وو بهر را[illegible]ل اود نبی علیه السلام سره ئې په اسلام باندې بیعت اوکړو

---

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۱۳۵) (صحيح الإسناد)

(2): صحيح مسلم/الجهاد ۳۱ (۱۷۸۰)، (تحفة الأشراف: ۱۳۵۶۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۹۲، ۵۳۸) (صحيح)

﴿ عن ابی هریرة رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم لما دخل مكة سرح الزبير ابن العوام رضی الله عنه وابا عبيدة بن الجراح رضی الله عنه وخالد بن الوليد رضی الله عنه على الخيل ﴾

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د طرف نه د لښکر په مکه مکرمه کښې د دخول ترتیب:

د ابوداؤد په دې روایت کښې اختصار دې، د مسلم په روایت کښې تفصیل دې، مضمون ددې حدیث دا دې چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم مکې مکرمې ته د داخلیدو اراده اوفرمائیله [1] په کفارو باندې د حملې دپاره خو چونکه مکې مکرمې ته د داخلیدو لارې ډیرې وې او د ټولو لارو ناکه بندی کول وو په دې وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم د لښکر ډیرې دستې جوړې کړې په دې دستو کښې بعض سوارهٔ وو او بعض پیاده، او د هرې دستې دپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم یو نګران تجویز کړو او هر امیر ته ئې د هغه د داخلیدو دپاره د لارې تعین اوفرمائیلو، یعنی فلانې امیر دې د خپلې دستې سره په فلانۍ لاره باندې داخل شي مثلا د مکې د اعلی حصې نه دې فلانې او د ښکته حصې نه دې فلانې داخل شي، د ابوداؤد په دې روایت کښې خو دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم زبیر، ابوعبیده او خالد بن الولید رضی الله عنهم درې واړه په کسانو امیران کړل چه په آسونو باندې سوارهٔ وو او اوئې لیږل، خو د مسلم په روایت کښې دی چه ﴿وبعث اباعبيدة على الحسر﴾ چه ابوعبیده رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغه دستې باندې امیر کړو چه پیاده وو او په هغوی باندې زغرې وغیره نه وې ﴿ وقال یا اباهریرة رضی الله عنه اهتف بالانصار قال اسلکوا هذا الطريق فلا يشرفن لكم احدالا انمتموه ﴾ یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوهریره رضی الله عنه ته اوفرمائیل چه انصارو ته آواز اوکړه او راوئې غواړه پس هغوی ټول حاضر شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته یوې دستې طرف ته اشاره اوکړه او وې فرمائیل چه تاسو به په دې لاره باندې ځئ او دویمه خبره ئې ورته دا اوفرمائیله چه په دې مشرکینو کښې چه کوم ستاسو طرف ته سټ اوچت کړی تاسو هغوی هم هلته اودهٔ کړئ، یعنی څوک چه د قتال دپاره مخکښې راشی هم هغه قتل کړئ او څوک چه ستاسو په لیدو باندې سره ښکته کړی یا روستو شی هغه ته هیڅ هم

[1] په سیرت المصطفی صلی الله علیه وسلم کښې دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په کداء مقام باندې تیریدو سره په پورته طرف باندې مکې ته داخل شو او خالد بن الولید ته ئې د اسفل مکه مقام کدی نه د داخلیدو او زبیر رضی الله عنه ته ئې د پورته طرف یعنی مقام کداء نه د داخلیدو حکم ورکړو او دا تاکید ئې ورته اوفرمائیلو چه تاسو پخپله په قتال شروع مه کوئ کوم سړې چه تاسو سره تعرض کوی د هغه سره جنګ کوئ، په صحیح مسلم کښې د ابوهریره رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم انصار راوغوښتل او دا ئې ورته اوفرمائیل چه قریشو څه بدمعاشان ستاسو د مقابلې دپاره جمع کړی دی که هغوی د مقابلې دپاره راغلل نو د فصل په شان ئې پرې کړئ، صفوان بن امیه او عکرمة بن ابی جهل او سهیل بن عمرو په مقام خندمه کښې د مقابلې په قصد څه بدمعاشان جمع کړل، د خالد بن الولید رضی الله عنه سره ئې مقابله اوشوه، په مسلمانانو کښې دوه کسان شهیدان شو، خنیس بن خالد او کرز بن جابر فهری رضی الله عنهما، او په مشرکانو کښې دولس یا دیارلس کسان اووژلې شو، باقی ټول اوتختیدل، دا د ابن اسحاق روایت دې، او په مغازی د موسی بن عقبه کښې دی چه خالد بن الولید رضی الله عنه چه کله د اسفل مکه نه داخل شو نو بنو بکر او بنو حارث او څه خلق د قبیله هذیل او څه بدمعاشان د قبیله قریش نه راجمع وو، د خالد رضی الله عنه د رارسیدو سره هغه خلقو حمله اوکړه، خالد بن ولید رضی الله عنه چه کله د هغوی مقابله اوکړه نو هغوی ئې طاقت اونلرلې شو، شکست خوړلو سره اوتختیدل، د بنو بکر تقریبا شل کسان او د هذیل درې یا څلور کسان قتل شو او باقی اوتختیدل څوک په کور کښې پټ شو، او څوک غر ته اوختلو. آه)

مه وایئ ﴿ فنادی منادی : لا قریش بعد الیوم ﴾ او یو اعلان کونکی اعلان اوکړو چه د نن پس د قریشو خاتمه ده، یعنی که هغوی مقابلې ته راغلل. ګینې رسول اللهﷺ خو هغوی ته د امان پروانه ورکړې وه د عدم قتال په صورت کښې.

حدیث ابی هریرة رضی الله عنه اخرجه مسلم بنحوه مطلقا، قاله المنذری

بَابُ مَا جَاءَ فِي خَبَرِ الطَّائِفِ

د فتح طائف بیان

غزوه طائف:

د غزوه طائف مختصر قصه داسې لیکلې شوې ده : رسول اللهﷺ د حنین د مال غنیمت او د قیدیانو متعلق دا حکم ورکړو چه په جعرانه کښې دې جمع کړې شي او خپله ئې د طائف قصد اوکړو، اوطائف ته د تلو نه مخکښې ئې طفیل بن عمرو الدوسی رضی الله عنه د څو موحدینو سره د یو بت (چه د هغه نوم ذوالکفین وو) د سیزلو دپاره اولیږل، د رسول اللهﷺ طائف ته د رسیدو نه څلورورځې پس طفیل بن عمروهم راورسیدو اویو دبابه(ټینک) اومنجنیق ئې راوړل. مالک بن عوف نصری د هوازن سپه سالار سره د خپل فوج نه د رسول اللهﷺ د رسیدو نه مخکښې د طائف په قلعه کښې داخلیدو سره دروازه بنده کړې وه او د څو کالو غله او د خوراک څکاک سامان ئې په قلعه کښې کیخودلې وو، رسول اللهﷺ طائف ته د رسیدو سره د هغوی محاصره اوکړه او د منجنیق په ذریعه ئې په هغوی باندې کاڼړی اوروَل، هغه خلقو د قلعه په دیوال باندې غشی ویشتونکی کینول هغوی داسې سخت غشی اووروَل چه ډیر مسلمانان زخمی شو، او دولس صحابه کرام شهیدان شول، خالد بن الولید رضی الله عنه لاس په لاس مقابلې دپاره راوبلل خو جواب ورته دا ملاؤ شو چه مونږ ته د قلعه نه د کوزیدو ضرورت نشته، د کلونو غله مونږ سره موجود ده چه کله دا ختمه شی نو بیا به مونږ توري اخستلو سره درکوزیږو. مسلمانانو په دبابونو کښې کیناستلو سره د قلعه د دیوال د ماتولو کوشش اوکړو، هغوی د بره نه د اوسپنې ګرم سیخونه راویشتل چه په هغې باندې مسلمانان شاته شو، په دې لیدو باندې رسول اللهﷺ د باغونو د پرې کولو حکم ورکړو، د قلعه والا خلقو رسول اللهﷺ ته د الله او د خپلولئ واسطه ورکړه نو رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه زه دا د الله پاک او د خپلولئ دپاره پریږدم، د دې نه روستو ئې د دیوال د قلعه سره دا اعلان اوکړو چه کوم غلام د قلعه نه کوزیدو سره مونږ ته راشی هغه آزاد دې. پس دولس دیارلس غلامان بهر ته راغلل، هم هغه وخت رسول اللهﷺ یو خوب اولیدو چه د پیو یو پیاله رسول اللهﷺ ته پیش کړې شوه یو چرګ راغلو او په هغې کښې ئې مخوکه اووهله چه په هغې باندې هغه پئ پریوتل رسول اللهﷺ دا خوب صدیق اکبر رضی الله عنه ته بیان کړو، هغوی اوفرمائیل غالبا دا قلعه به اوس نه فتح کیږی هغوی نوفل بن معاویه دیلمی راوبلو او دهغوی نه ئې تپوس اوکړو چه ستاسو څه رائې ده؟ نوفل اووې یا رسول اللهﷺ! لومبړه په خپله سوړه کښې ده که ایسار شو نو او به ئې نیسو او که پرې ئې ږدو نو ستاسو هیڅ نقصان نشته. د ابن سعد په روایت کښې دی چه عمر رضی الله عنه راغلو او عرض ئې اوکړو یا

نبی الله ﷺ د دوی په حق کښې بد دعا اوکړئ، رسول اللهﷺ اوفرمائیل الله پاک ماته اجازت نه دې راکړې، بیا عمرؓ اوفرمائیل چه مونږ ته دوی سره د جنګ کولو څه ضرورت دې، رسول اللهﷺ د روانیدو حکم ورکړو او د تلو په وخت ئې دا دعا اوکړه ﴿اللهم اهد ثقیفا وات بهم﴾ پس روستو هغه قلعه پخپله فتح شوه ټول خلق مسلمانان شول او د مالک بن عوف نصری د هغوی سردار د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضریدو سره په اسلام باندې مشرف شو.

تنبیه: مونږ سره په ابوداؤد کښې په باب الاقطاع کښې هم د دې غزوه طائف متعلق په یو روایې کښې هم دغه شان دی چه یو صحابی صخر بن عیله الاحمسیؓ فرمائی چه کله ما واوریدل چه رسول اللهﷺ د ثقیف سره غزوه کوی نو زه هم د یو جماعت سره د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر شوم هلته مې اوکتل چه رسول اللهﷺ واپس تشریف اوړې دې او رسول اللهﷺ هغه فتح نه کړو نو ما عهد اوکړو د الله پاک سره چه دا قلعه به ضرور فتح کوم، پس بیا هم دغه شان اوشوه، الحدیث. خو کوم کتابونه چه مونږ د غزوه طائف متعلق اوکتل په هغې کښې د صخر بن عیلهؓ قصه چرته هم ملاؤ نه شوه، فلیفتش... د دې نه پس په البدایة والنهایة ٤/٣٥١ کښې دا ملاؤ شو چه هغوی د غزوه طائف د پوره قصې لیکلو نه پس په آخیر کښې د ابوداؤد دا روایت (د صخر بن عیلهؓ والا) نقل کولو نه پس فرمائیلې دی: تفرد به ابوداؤد، وفی اسناده اختلاف. آه.

[٣٠٢٥] (١) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الْكَرِيمِ، حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ يَعْنِي ابْنَ عَقِيلِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ وَهْبٍ، قَالَ: سَأَلْتُ جَابِرًا عَنْ شَأْنِ ثَقِيفٍ إِذْ بَايَعَتْ، قَالَ: اشْتَرَطَتْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لَا صَدَقَةَ عَلَيْهَا وَلَا جِهَادَ، وَأَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذَلِكَ يَقُولُ: "سَيَتَصَدَّقُونَ وَيُجَاهِدُونَ إِذَا أَسْلَمُوا".

دوهب نه روایت دې فرمائی چه دجابرؓ نه مې تپوس اوکړو کله چه ثقیف قبیلې بیعت کولو نو هغوی څه شرطونه پیش کړي وو؟ هغه اووئیل چه هغوی په نبی علیه السلام باندې دا شرط لګولو چه په دوی باندې به زکات نه وی اونه جهاد ددې نه پس بیا ما دنبی علیه السلام نه واوریدل چه فرمائیل ئې کله چه دا خلق مسلمانان شي نوامید دې چه زکات به هم ورکوي اوجهاد به هم کوي.

﴿سالت جابرا عن شان ثقیف اذا بایعت﴾ مضمون د حدیث دا دې چه قبیله ثقف چه کله د رسول اللهﷺ په خدمت کښې مدینې طیبې ته حاضر شو او د رسول اللهﷺ په لاس مبارک هغوی بیعت علی الاسلام اوکړو نو هغوی هغه وخت دا شرط اولګولو چه په مونږ باندې به زکوة او جهاد هیڅ نه وی، رسول اللهﷺ د هغوی دا شرط هغه وخت منظور کړو، په روایت کښې دی چه رسول اللهﷺ روستو اوفرمائیل چه دا خلق به د اسلام د راوړلو نه پس صدقه او جهاد هر څه کوی، په بل حدیث کښې دی ﴿فاشترطوا علیه ان لا یحشروا ولا یعشروا ولا یجبوا﴾ هغوی دا شرط اولګولو چه هغوی دې نه په جهاد کښې بوتللې شی، نه دې رانه نه

---

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٣١٣٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٤١) (صحیح)

عشر او زکوة واخستلې شي، او نه به مونځ کوي، لا يجبوا مثلا لا يصلوا لفظا و معنى والتجبية ان يكون كهيئة الركوع، يعنى داسې ښکته کيدل څنګه چه په رکوع کښې ښکته کيږي.

[۳۰۲۶](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ سُوَيْدٍ يَعْنِي ابْنَ مَنْجُوفٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ، أَنَّ وَفْدَ ثَقِيفٍ لَمَّا قَدِمُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْزَلَهُمُ الْمَسْجِدَ لِيَكُونَ أَرَقَّ لِقُلُوبِهِمْ فَاشْتَرَطُوا عَلَيْهِ أَنْ لَا يُحْشَرُوا وَلَا يُعْشَرُوا وَلَا يُجَبُّوا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَكُمْ أَنْ لَا تُحْشَرُوا وَلَا تُعْشَرُوا وَلَا خَيْرَ فِي دِينٍ لَيْسَ فِيهِ رُكُوعٌ".

دعثمان بن أبى العاص نه روايت دې فرمائي چه کله نبي عليه السلام ته دثقيف وفد راغي نوجومات ته ئې بوتلل ددې دپاره چه ددوی زړونه نرم شي اودوی په نبي عليه السلام باندې داشرط لګول غوښتل چه په زبردستي سره دې مونږ جهادتلوته تيارنه يو، اونه مونږ بالفعل زکواة ورکولو ته تياريو، اونه مونږ مونځ کولوته تيار يو، نبي عليه السلام اوفرمائيل جهاد ته تلل خوڅه خبره نده ځکه چه نور خلق موجوددي اودزکوة ورکولو دپاره کال تيريدل ضروري دي اوس خولا کال نه دي تيرشوي ليکن هغه دين څه ښه دين نه وي په کوم کښې چه رکوع (مونځ نه وي).

په اسلام کښې د ټولو نه زيات اهميت د مانځه دې:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغوی مخکښې دواړه شرطونه منظور کړل او د دريم شرط په باره کښې ئې اوفرمائيل ﴿ لا خير فى دين ليس فيه ركوع ﴾ چه په داسې دين کښې څه خير کيدې شي چه په هغې کښې رکوع او سجدې (مونځ) نه وي.

د دې حديث نه په اسلام کښې د مانځه چه کوم اهميت معلوميږي هغه ښکاره دې، دا حديث مونږ د كتاب الصلوة د شروع په بحثونو کښې ذکر کړې دې.

دا باب د خبر طائف سره متعلق وو، اهل طائف چونکه پخپله په اسلام کښې داخل شوې وو په دې وجه دا زمکه عشري شوه (كما مر قبل ذلك فى بيان الانواع الاراضى المفتوحة)

بَابُ مَا جَاءَ فِي حُكْمِ أَرْضِ الْيَمَنِ

د يمنيانو او د يمن د زمکې بيان

اهل يمن هم چونکه په خپله خوښه اسلام کښې داخل شو په دې وجه ارض يمن هم عشري ده.

[۳۰۲۷](2) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ أَبِي أُسَامَةَ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَامِرِ بْنِ شَهْرٍ، قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ لِي هَمْدَانُ: هَلْ أَنْتَ آتٍ هَذَا الرَّجُلَ وَمُرْتَادٌ لَنَا فَإِنْ رَضِيتَ لَنَا شَيْئًا قَبِلْنَاهُ وَإِنْ كَرِهْتَ شَيْئًا كَرِهْنَاهُ؟ قُلْتُ: نَعَمْ، فَجِئْتُ حَتَّى قَدِمْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَضِيتُ أَمْرَهُ وَأَسْلَمَ قَوْمِي وَكَتَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا الْكِتَابَ إِلَى عُمَيْرٍ ذِي مَرَّانٍ، قَالَ: وَبَعَثَ مَالِكَ بْنَ مِرَارَةَ الرَّهَاوِيَّ إِلَى الْيَمَنِ جَمِيعًا، فَأَسْلَمَ عَكٌّ ذُو خَيْوَانَ، قَالَ: فَقِيلَ لِعَكٍّ: انْطَلِقْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخُذْ مِنْهُ الْأَمَانَ عَلَى قَرْيَتِكَ وَمَالِكَ فَقَدِمَ وَكَتَبَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللَّهِ لِعَكٍّ ذِي خَيْوَانَ إِنْ كَانَ صَادِقًا فِي أَرْضِهِ وَمَالِهِ وَرَقِيقِهِ فَلَهُ الْأَمَانُ وَذِمَّةُ اللَّهِ وَذِمَّةُ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللَّهِ، وَكَتَبَ خَالِدُ بْنُ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ.

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹۷٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۱۸/٤) (ضعيف)

(2): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٠٤٣) (ضعيف الإسناد)

دعامربن شهرنه روایت دې فرمائی هرکله چه نبی ﷺ لاړونو ماته دهمدان قبیلې خلقو ووئیل ایانه به دومره وکړې شي چه دغه سړی (محمد)ته ورشي اوزمونږ متعلق ورسره خبرې اترې وکړي؟ که چرې تا زمونږ دپاره څه خبره خوښه کړه نومونږ به ئې قبول کړواوکه چرې تاکومه خبره خوښه نکړه نو مونږبه ئې هم نه خوښوو ماووئیل ولې نه ددې نه زه نبی ﷺ ته روان شوم تردې مسجدنبوی ته ورسیدم اودنبی ﷺ کار(دین اسلام)مې خوښ شو اوزماد قوم خلقو اسلام قبول کړو، اونبی ﷺ عمیر ذي مران ته یوخط ولیګلو، راوي وائی چه نبی ﷺ ددین اسلام دتبلیغ دپاره مالك بن مراره رهاوي ټول اهل یمن والا ته ولیږلواود عك ذوخیوان په نوم یوکس وو چه اسلام ئې قبول کړو، خلقوورته ووئیل چه ته نبی ﷺ ته ورشه اودهغه نه دخپل مال اوکلي دپاره امان واخله نودغه کس دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضرشو،نبی ﷺ دده دپاره خط اولیکلو: بسم الله الرحمن الرحیم د محمد رسول الله دطرف نه دپاره دعك ذوخیوان، که چرې دې رښتوني وي نوده ته امان دې دده دزمکو اوغلامانو اومالونوپه باره کښې اودغه هرڅه دالله اودهغه درسول په ذمه کښې دي اوداتحریر خالد بن سعیدبن العاص لیکلې وو.

﴿ عن عامر بن شهر قال خرج رسول الله ﷺ فقالت لی همدان : هل انت آت هذا الرجل ومرتاد لنا فان رضيت لنا شيئا قبلناه ﴾

شرح الحدیث:

عامر بن شهر یمنی همداني وائی چه د رسول الله ﷺ د نبوت او بعثت ظهور اوشو نو ما ته زما قوم همدان اووې چه آیا ته هغه سړی ته تلې شې او زمونږ دپاره ترې نه څه څیز طلب کولې شې یعنی د خیر خبره او حق، پس که تاسو یو څیز خوښ کړو (دین اسلام طرف ته اشاره ده) نو مونږ به هم هغه قبول کړو. او که تا ناخوښه کړو نو مونږ به ئې هم ناخوښه کړو، ما جواب ورکړو چه او زه دا کار کولې شم، پس زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او د رسول الله ﷺ خبره زما ډیره زیاته خوښه شوه چه په هغې باندې زما قوم (همدان) اسلام قبول کړو. او رسول الله ﷺ یو خط اولیکلو او د عمیر ذی مران طرف ته ئې اولیږلو، دا هم همدانی دې چا چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې اسلام راوړې وو چه په ظاهره د همدان قوم رئیس وو. او مالک بن مراره ئې هم اولیږلو د ټولو اهل یمن طرف ته یعنی د دعوت اسلام دپاره، پس په دې باندې عک ذو خیوان اسلام راوړو دا سړې هم همدانی او یمنی وو، ذوخیوان د هغه لقب دې، دا هم د قوم لوئې سړې وو، پس هغه ته اوئیلې شو چه ته هم لاړ شه او د رسول الله ﷺ نه کتاب الامان حاصل کړه د خپل ټول کلی او مال په باره کښې، پس هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او رسول الله ﷺ هغه ته دا خط اولیکلو ﴿ بسم الله الرحمن الرحيم من محمد رسول الله ﷺ لعک ذی خیوان ان کان صادقا فی ارضه وماله ورقیقه فله الامان وذمة الله وذمة محمد رسول الله ﷺ، وکتب خالد بن سعید بن العاص ﴾ یعنی د دې لیک په آخره کښې کاتب خپل نوم اولیکلو، دا خالد بن سعید د رسول الله ﷺ په کاتبینو کښې دې.

د دې روايت نه معلومه شوه چه چونکه عک ذو خيوان، هم دغه شان عمير ذو مران په خپله اسلام کښې داخل شو، د مسلمانانو هغوی سره د غزوې او فتح ضرورت رانغلو لهذا دا خلق د خپلو زمکو او د خپلو املاکو خپله مالکان پاتې شو او هغوی ته په دې خبره باندې د رسول الله ﷺ د طرف نه عهدنامه او کتاب الامان (سرټيفکيټ) حاصل شو، او دا هم ثابته شوه چه دا زمکه عشری ده،

[۳۰۲۸]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَحْمَدَ الْقُرَشِيُّ، وَهَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الزُّبَيْرِ حَدَّثَهُمْ، قَالَ: حَدَّثَنَا فَرَجُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنِي عَمِّي ثَابِتُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِيهِ سَعِيدٍ يَعْنِي ابْنَ أَبْيَضَ، عَنْ جَدِّهِ أَبْيَضَ بْنِ حَمَّالٍ، أَنَّهُ كَلَّمَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّدَقَةِ حِينَ وَفَدَ عَلَيْهِ، فَقَالَ: "يَا أَخَا سَبَإٍ لَا بُدَّ مِنْ صَدَقَةٍ"، فَقَالَ: إِنَّمَا زَرَعْنَا الْقُطْنَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَقَدْ تَبَدَّدَتْ سَبَأٌ وَلَمْ يَبْقَ مِنْهُمْ إِلَّا قَلِيلٌ بِمَأْرِبَ، فَصَالَحَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى سَبْعِينَ حُلَّةَ بَزٍّ مِنْ قِيمَةِ وَفَاءِ بَزِّ الْمَعَافِرِ كُلَّ سَنَةٍ عَمَّنْ بَقِيَ مِنْ سَبَإٍ بِمَأْرِبَ فَلَمْ يَزَالُوا يُؤَدُّونَهَا حَتَّى قُبِضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَإِنَّ الْعُمَّالَ انْتَقَضُوا عَلَيْهِمْ بَعْدَ قَبْضِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا صَالَحَ أَبْيَضُ بْنُ حَمَّالٍ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحُلَلِ السَّبْعِينَ، فَرَدَّ ذَلِكَ أَبُو بَكْرٍ عَلَى مَا وَضَعَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى مَاتَ أَبُو بَكْرٍ، فَلَمَّا مَاتَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ انْتَقَضَ ذَلِكَ وَصَارَتْ عَلَى الصَّدَقَةِ.

د ابيض بن حمال رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه زه په وفد کښې راغلې وم او دنبی علیه السلام سره مې د صدقې متعلق خبرې وکړې، نبی علیه السلام اوفرمائيل اې سبا والارو (سباپه يمن کښې ديوښارنوم دې)زکوة اداکول لازمی دي ابيض بن حمال ووئيل اې دالله رسوله زمونږ فصل خوصرف فنبه (مالوچ)وي اودسبا خلق يوځائې بل ځائې ته تلې دي البته دقوم سبا يوڅه افراد په مارب مقام کښې پاتې شوي دي نبی علیه السلام دهغوی سره په اوياجوړو معافري کپړوباندې مصالحت وکړواودغه خلقوبه هميشه ددې جوړو ادائگی کوله تردې چه نبی علیه السلام وفات شو او دنبی علیه السلام دوفات نه پس عاملينو داوياجوړو مصالحت نامه ماته کړې کومه چه ابيض بن حمال دنبی علیه السلام سره کړې وه بياچه کله ابوبکر داخبره واوريدله نوهغه دوباره دنبی علیه السلام فرمان بحال کړوکله چه ابوبکر رضی الله عنه وفات شونو معاهده فسخ شوه اودنورو خلقو په شان به ددوی نه هم صدقه وصول کيدله.

﴿عن ابيض بن حمال انه كلم رسول الله ﷺ في الصدقة حين وفد عليه فقال يا اخا سبا لا بد من صدقة فقال انما زرعنا القطن يا رسول الله ﷺ وقد تبددت سبا ولم يبق منهم الا قليل بمأرب﴾

شرح الحديث:

مارب د بلاد يمن نه دې او سبا د يو قوم نوم دې کوم چه هلته آباد وو، دا ابيض بن حمال ماربی سبائی وو هغه د رسول الله ﷺ سره چه کله د هغوی په خدمت کښې حاضر شو (په ظاهره د اسلام راوړلو دپاره) خو هغوی رسول الله ﷺ سره د صدقې په باره کښې خبرې اوکړې يعنی دا چه هغه معاف کړې شی يا دې په هغې کښې تخفيف اوکړې شی نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل اې سبا والا! صدقه خو په اسلام کښې ضروری ده هغوی خپل اقتصادی حالت او کمزورئ بيان کړې، هغه دا چه زمونږ پيدا وار خو مالوچ دې يا رسول الله ﷺ!

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢) (ضعيف الإسناد)

(یعنی معمولی شان) او زمونږ قوم سبا منتشر شو او په هغوی کښې لږ شان باقې پاتې شو په مارب کښې. د دې نه پس په حدیث کښې رسول اللهﷺ چه د هغوی سره په کوم څیز باندې صلح اوکړه د هغې ذکر دې ﴿ فصالح النبی ﷺ علی سبعین حلة من قیمة وفاء بز المعافر کل سنة عمن بقی من سبا بمارب ﴾ یعنی رسول اللهﷺ چه په دوی باندې کومه صدقه واجب کیدله د هغې په باره کښې په اویا جوړو باندې مصالحت اوفرمائیلو، یعنی هر کال به د کپړو اویا جوړې تاسو ورکوئ، د قبیلې سبا د هغه ټولو خلقو د طرف نه چه په موضع مارب کښې باقې پاتې شوې دی، حله چونکه د قیمت په اعتبار سره کمیږی او زیاتیږی نو په دې وجه رسول اللهﷺ د هغه جوړې قیمت متعین کړو چه مصالحت په مجهول څیز باندې لازم نه شی. ﴿ بزمعافر ﴾ یعنی د کپړې یو مشهور قسم دې چه معلوم القیمت دې نو مطلب دا شو د دې عبارت چه داسې اویا جوړې چه په قیمت کښې د بزمعافر برابر وی هغه به ادا کوئ وړاندې په روایت کښې دی چه دې خلقو به دا مقدار ادا کولو د رسول اللهﷺ په ژوند کښې،اود رسول اللهﷺ دوفات نه پس عمالودامعاهده ختمه کړه یعنی ددې لحاظ ئې اونکړو، صدیق اکبر رضی الله عنه ته چه کله معلومه شوه نوهغوی دادرسول اللهﷺ د قرارداد مطابق برقرار اوساتله، د صدیق اکبر رضی الله عنه د وفات نه پس بیا هغه معاهده ګډه وډه شوه ﴿وصارت الی الصدقة ﴾ یعنی د اصل قاعدې مطابق چه به څومره صدقه وه هم په هغې اودریده.

ما استفید من الحدیث:

په دې حدیث کښې دی چه رسول اللهﷺ هغه خلقو سره د صدقې په باره کښې په یو مقدار معین باندې صلح اوکړه، د ګنګوهی رحمه الله په تقریر کښې دی چه که د صدقې نه مراد دلته زکوة دې او ګویا د زکوة په مقابله کښې رسول اللهﷺ په یو مقدار معین باندې مصالحت اوفرمائیلو. نو دا به د رسول اللهﷺ خصوصیت وی، د رسول اللهﷺ نه علاوه د بل امام دپاره د زکوة مفروضه په باره کښې په یو مقدار معینه باندې صلح کول جائز نه دی، او که د صدقې نه مراد دلته د زمکې د پیداوار عشر دې، نو بیا په دې صورت کښې هیڅ اشکال نشته، په عشر کښې ګنجائش شته د بل چا دپاره هم. (بذل)

بَابٌ فِي إِخْرَاجِ الْيَهُودِ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ

د جزیرة العرب نه د یهودیانو د شړلو بیان

د جزیرة العرب تحدید او د دې مصداق:

جزیره د هغه آبادئ نوم دې چه دهغې څلور واړو طرفونو ته اوبه وی، د عربو د زمکې درې طرفونو ته اوبو دی مشرق مغرب او جنوب او په شمال کښې آبادی ده هم په دې وجه د عرب نه په جزیره نما سره تعبیر کولې شی، د جزیره عرب تهدید او د هغې مصداق وړاندې په متن کښې داسې راروان دې.

﴿ جزیرة العرب ما بین الوادی الی اقصی الیمن الی تخوم العراق الی البحر ﴾ یعنی جنوب کښې د

یمن د انتهاء نه واخله تر د عراق د حدودو پورې (۱) او د وادی القری نه سمندر پورې د مینځ علاقې ته جزیرة العرب وائی یعنی په شمال کښې حدود د عراق په جنوب کښې اقصائې یمن، په مغرب کښې جده وما حولها د ینبع نه واخله تر وادی القری پورې، او په مشرق کښې خلیج فارس پورې چه څومره علاقه ده دې ته جزیرة العرب وائی او په بذل کښې حضرت د علامه شامی نه دا نقل کړی دی چه جزیرة العرب په پنځو مناطقو باندې تقسیم ده، تهامه، نجد، حجاز، عروض، یمن، تهامه خو د حجاز جنوبی حصه ده، او نجد د هغه حصې نوم دې کوم چه د عراق او د حجاز ترمینځه ده، او حجاز د هغه غر مخامخ حصې ته وائی کوم چه د یمن نه واخله شام پورې مسلسل تلې دې او عروض دیمامه علاقه ده کومه چه د بحرین پورې ده او په صحیح بخاری کتاب الجهاد باب جوائز الوفد کښې دی چه مغیره بن عبدالرحمن نه سوال اوکړې شو د جزیرة العرب په باره کښې ﴿ فقال مكة والمدينة واليمامة واليمن ﴾

[۳۰۲۹](۲) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ سُلَيْمَانَ الْأَحْوَلِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصَى بِثَلَاثَةٍ، فَقَالَ: أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَأَجِيزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مِمَّا كُنْتُ أُجِيزُهُمْ، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: وَسَكَتَ عَنِ الثَّالِثَةِ أَوْ قَالَ: فَأُنْسِيتُهَا، وقَالَ: الْحُمَيْدِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، قَالَ سُلَيْمَانُ: لَا أَدْرِي أَذَكَرَ سَعِيدٌ الثَّالِثَةَ فَنَسِيتُهَا، أَوْ سَكَتَ عَنْهَا.

دابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام په درې خبرو باندې وصیت فرمائیلی وو یو داچه مشرکان به دجزیرة العرب نه اوباسئ اوبل داچه دسفیر او قاصد سره ښه سلوک کوئ لکه څنګه چه ئې زه کوم، سعید وائی چه ابن عباس ددریم وصیت دبیانولو نه سکوت اوفرمائیلو اوکه داسې ئې ووئیل چه دریم وصیت رانه هیرشوې دې.

شرح الحديث:

قوله: ﴿ عن ابن عباس رضی الله عنهما ان النبی صلی الله علیه وسلم اوصى بثلاثة فقال اخرجوا المشركين من جزيرة العرب واجيزوا الوفد بنحوها ما كنت اجيزهم ﴾: یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات په وخت د درې څیزونو وصیت اوفرمائیلو یو د جزیرة العرب نه (۳) د مشرکینو د اخراج په مشرکانو کښې یهود او نصاری

---

(۱) په دې طریقه چه یمن داخل او عراق خارج وی،

(۲): صحيح البخاري/الجهاد ۱۷۵ (۳۰۵۳)، الجزية ٦ (۳۱٦۸)، المغازي ۸۳ (٤٤۳۱)، صحيح مسلم/الوصية ٥ (۱٦۳۷)، (تحفة الأشراف: ٥٥۱۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۲۲۲) (صحیح)

(۳) اوس دا چه د جزیرة العرب نه ټول جزیرة العرب مراد دې یا که په دې کښې څه تخصیص شته، دې باره کښې په بذل کښې دی ﴿ قيل المراد بها مكة والمدينة ونقل الطيبي ان الشافعي خص هذا الحكم بالحجاز وهو عنده مكة والمدينة واليمامة وحواليها دون اليمن وغيره اهـ وفي. العون .وقال مالك بن انس اراد بجزيرة العرب المدينة نفسها آهـ وفي. العرف الشذي : الكافر لا يقيم في جزيرة العرب، نعم يجوز له المرور واختلف في ان الحكم لجميع جزيرة العرب او لبعضها، واشار الي الاول الطحاوي في مشكل الآثار، واختصره محمد في موطاه، آهـ او په موطاء د امام محمد رحمه الله کښې دی قال محمد ان مكة والمدينة وما حولهما من جزيرة العرب (۳۷۳) خو د دې نه دا نه معلومیږی چه په دې حدیث کښې جزیرة العرب په خپل عموم باندې دې یا که د دې نه بعض مراد دی، ﴿ فليفتش كتب الحنفية في ذلك ﴾

هم داخل دی، دا دوه ډلې دمشرکین اهل کتاب دی ﴿ لانهم يقولون عزير ابن الله والمسيح ابن الله ﴾ د رومبۍ خبرې قائل يهود دی او د دويمې خبرې قائل نصاری دی، او مجوس خو مشترک دی حکم مذکور فی الحديث يعنی د دې اخراج په باره کښې په بدائع کښې ليکلي شوې دی چه د عربو په زمکه باندې دې هيڅ کنيسه يا بيعه باقی پرې نخودلې شی او نه دې هلته د شرابو بيع او د خنزير اجازت ورکړې شی، که ښهر وی او که بانډه وی او يا ماء من مياه العرب وی، ويمنع المشركون ان يتخذوا ارض العرب سكنا ووطنا، كذا ذكره محمد تفضيلا لارض العرب على غيرها وتطهيرا لها عن الدين الباطل، للحديث المذكور (البذل) او دويم وصيت دا دې چه راتلونکو وفدونو ته جائزه ورکړې شی يعنی ډالئ، يعنی د هغوی په راتلو باندې دې د هغوی اهتمام اوکړې شی، هر قسم خيال دې اوساتلې شی او هغوی ته دې هديه هم پيش کړې شی، د دې امر تعلق د هغوی نه روستو راتلونکو امامانو سره دې چه وفود خو د امام المسلمين ميلمانۀ وی او هسې خو د هر ميلمه په ميلمستيا او اعزاز او اکرام باندې هر مسلمان مامور دې. ﴿ قال ابن عباس رضي الله عنهما وسكت عن الثالثة او قال فانسيتها ﴾ د دريم وصيت په باره کښې ابن عباس رضي الله عنهما تردد ښکاره کوی چه يا خو رسول الله ﷺ خاموش شو او يا مانه هير دی [1] شراح ليکلې دی چه د دې امر ثالث په مصداق کښې چه په نورو روايتونو کښې

[1] د دې جملې ظاهری معنی هم دا ده چه ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي: او رسول الله ﷺ د امر ثالث نه سکوت اوفرمائيلو، وړاندې د راوی شک دې چه يا ابن عباس رضي الله عنهما دا اوفرمائيل چه امر ثالث رسول الله ﷺ خو ذکر کړې وو خو مانه هير شو، پس صاحب د عون المعبود هم دا مطلب ليکلې دې، او حضرت په بذل کښې د دې عبارت تاويل کړې دې او د دې نې دا شرح کړې ده چه سعيد راوی وائی چه ابن عباس رضي الله عنهما صرف دوه امور ذکر کړل او په دريم باندې خاموش شو، او بيا وړاندې سعيد وائی: يا ابن عباس رضي الله عنهما خو ذکر کړې وو خو ما نه هير شو، په دې صورت کښې به د قال فاعل ابن عباس رضي الله عنهما نه وی بلکه د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت کونکې شاګرد، چه دلته سعيد بن جبير رحمه الله دې او تقدير د عبارت داسې دې: ابن عباس ذکر امرين وسکت عن الثالثة الخ... په دې صورت کښې سکوت کونکې ابن عباس رضي الله عنهما شو نه رسول الله ﷺ او حضرت چه کوم تاويل فرمائيلې دې د دې منشاء دا ده چه د دې جملې په نقل کښې روايات مختلف دی، پس په صحيح بخاری کښې دا حديث په ډيرو ځايونو کښې ذکر کړې شوې دې ﴿ففي الجهاد في باب جوائز الوفد : واجيزوا الوفد بنحو ما كنت اجيزهم، ونسيت الثالثة الخ﴾ يعنی دلته قال ابن عباس رضي الله عنهما نشته، ﴿وفي الجزية في باب اخراج اليهود من جزيرة العرب: بنحو ما كنت اجيزهم، والثالثة خير، اما ان سكت عنها، واما ان قالها فنسيتها، قال سفيان: هذا من قول سليمان ﴾ يعنی سفيان بن عيينه وائی چه دا قول ﴿ وسكت عن الثالثة الخ﴾ زما د استاد سليمان احول دې. يعنی سليمان رحمه الله وائی چه دريمه خبره هم غوره ده يا خو زما استاد سعيد سکوت کړې دې، يا هغوی ذکر کړې وو خو زما نه هيره شوه، او د ابوداؤد په يو نسخه کښې کومه چه د بذل په حاشيه باندې ده په هغې کښې داسې دی ﴿ قال سليمان لا ادري اذكر سعيد الثالثة فنسيتها او سكت عنها ﴾ د دې نسخې والا د عبارت حاصل او د بخاری والا د روايت حاصل يو دی چه سکوت کونکې سعيد بن جبير رحمه الله دې، او حضرت چه کومه شرح کړې ده په هغې کښې سکوت کونکې ابن عباس رضي الله عنهما دې. او حافظ رحمه الله په فتح الباری ۷۴۱/۷ کښې احتمالا هم دا اختيار کولو سره روستو دې ته ترجيح ورکړې ده چه دا قول د سليمان احول دې او سکوت کونکې سعيد بن جبير رحمه الله دې خو په دې قول کښې حافظ حواله ورکړې ده د مسند حميدی او دمستخرج ابونعيم، کوم چه يځپله په بخاری کښې موجود دی لکه چه پورته ذکر شو، د دې ټولو حاصل دا څنګه چه په ابوداؤد کښې دی ﴿قال ابن عباس الخ ﴾ چه د هغې نه معلوميږی.........له

کوم څيزونه ذکر کړې شوي دی هغه دا کيدې شي، مثلا ﴿ الوصية بالقرآن، تجهيز جيش اسامة، لاتتخذوا اقبرى وثنا يعبد، الصلوة وما ملكت ايمانكم ﴾

والحديث اخرجه البخاري ومسلم مطولا، قاله المنذري

[۳۰۳۰](١) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، وَعَبْدُ الرَّزَّاقِ، قَالَا: أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ: أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَأُخْرِجَنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ فَلَا أَتْرُكُ فِيهَا إِلَّا مُسْلِمًا".

دعمربن الخطاب رضی الله عنه نه روايت دي فرمائی چه دنبی عليه السلام نه مي اوريدلی دی چه فرمائيل في: ضرور به يهوديان اونصرانيان دجزيرة العرب نه اوباسم اودمسلمان نه علاوه به پکښې دبل دين والا څوك نه پريږدم.

﴿ يقول (جابر) اخبرنی عمر بن الخطاب رضى الله تعالى عنهما انه سمع رسول الله ﷺ يقول : لاخرجن اليهود والنصارى من جزيرة العرب فلا اترك فيها الا مسلما ﴾

دا حديث دلته مطلق دي او د مسلم په روايت کښې ﴿ لئن عشت الى قابل ﴾ سره مقيد دي. والحديث اخرجه البخاري ومسلم مطولا، قاله المنذري

[۳۰۳۱](٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنْ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَاهُ، وَالْأَوَّلُ أَتَمُّ.

دعمر رضی الله عنه نه دتيرروايت په شان روايت منقول دي ليکن اولني روايت زيات. کامل دي.

[۳۰۳۲](٣) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ قَابُوسَ بْنِ أَبِي ظَبْيَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَكُونُ قِبْلَتَانِ فِي بَلَدٍ وَاحِدٍ".

دابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دي فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی په يوښار کښې دوه قبلې نه شی کيدې (يعنی اهل اسلام او يهوديان اونصرانيان به يوځای په حجاز مقدس کښې نه اوسيږي)،

﴿ عن ابن عباس رضی الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ لا تكون قبلتان فی بلد واحد ﴾

---

⁶...... چه د سکت فاعل رسول الله ﷺ دي : دا په هيڅ کتاب کښې نشته، اوس به يا خو دی ته مرجوح او وهم وئيلې شي او يا دی بيا د دې تاويل اوکړې شي، په دې وجه صحيح دا ده چه د سکت فاعل سعيد بن جبير رحمه الله دي او تاويل هم هغه دی کوم چه مونږ پورته د بذل نه ذکر کړو، خو په دې کښې هم دا اشکال باقی پاتې کيږی چه په دې تاويل کښې د سکت فاعل ابن عباس رضی الله عنهما جوړيږی حالانکه راجح داده چه د هغه نه هم لاندې راوی شته يعنی سعيد. اګر چه حافظ احتمالا هغه هم ليکلې دی کوم چه بذل کښې دی)

١): صحيح مسلم/الجهاد ٢١ (١٧٦٧)، سنن الترمذي/السير ٤٣ (١٦٠٧)، (تحفة الأشراف: ١٠٤١٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٩، ٣٢، ٣/٣٤٥) (صحيح)

٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٠٤١٩) (صحيح)

٣): سنن الترمذي/الزكاة ١١ (٦٣٣)، (تحفة الأشراف: ٥٣٩٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٢٣، ٢٨٥) (ضعيف)

شرح الحديث:

د دې حديث په شرح کښې درې اقوال دی، اول دا چه د دې نه مراد اقامت دې په دار الحرب کښې يعنی يو سړې په دارالحرب کښې اسلام راوړو نو اوس هغه ته پکار دی چه د هغه ځائې نه منتقل شی، ۲: اظهار شعائر الكفر، يعنی ذميان خلق کوم چه په دارالاسلام کښې مقيم دی، په دار الاسلام کښې اوسيدو سره د کفر د شعائرو د اظهار هغوی ته اجازت نشته، ۳: اخراج المشركين من جزيرة العرب، فعلى الاول المراد من البلد دار الحرب وعلى الثانی دارالاسلام وعلى الثالث جزيرة العرب.والحديث اخرجه الترمذي وذكر انه روى مرسلا، قاله المنذري

[۳۰۳۳](۱) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عُمَرُ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الْوَاحِدِ، قَالَ: قَالَ سَعِيدٌ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ: جَزِيرَةُ الْعَرَبِ مَا بَيْنَ الْوَادِي إِلَى أَقْصَى الْيَمَنِ إِلَى تُخُومِ الْعِرَاقِ إِلَى الْبَحْرِ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ قُرِءَ عَلَى الْحَارِثِ بْنِ مِسْكِينٍ، وَأَنَا شَاهِدٌ، أَخْبَرَكَ أَشْهَبُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، قَالَ: قَالَ مَالِكٌ: عُمَرُ أَجْلَى أَهْلَ نَجْرَانَ وَلَمْ يُجْلَوْا مِنْ تَيْمَاءَ لِأَنَّهَا لَيْسَتْ مِنْ بِلَادِ الْعَرَبِ، فَأَمَّا الْوَادِي فَإِنِّي أَرَى أَنَّمَا لَمْ يُجْلَ مَنْ فِيهَا مِنَ الْيَهُودِ أَنَّهُمْ لَمْ يَرَوْهَا مِنْ أَرْضِ الْعَرَبِ.

د سعيد بن عبدالعزيز نه روايت دې فرمائی چه برطرف ته د وادي القري نه واخله ديمن پورې جزيرة العرب دې اوبل طرف ته دعراق نه واخله دسمندره پورې جزيرة العرب دې ابوداود وائی چه داروايت زما په موجودګئ دحارث بن مسکين په وړاندې داسې بيان شوچه دمالك نه روايت دې چه عمر رضی الله عنه اهل نجران جلاوطن کړل اود مقام تيما والائي جلاوطن نه کړل کوم چه دسمندرسره نزدې دشام په مضافاتوکښې واقع ده، تيمادعربو په ښارونوکښې نه شميرل کيږی اوزما رائې داده چه دوادي القري يهوديان په دې وجه جلاوطن نه کړی شول دوی وادي القري په جزيرة العرب کښې داخل نه ګڼړله.

﴿ قال ابوداؤد : قرئ على الحارث بن مسكين وانا شاهد الخ ﴾

دلته هم مصنف رحمه الله د حارث بن مسکين نه د روايت طريق هم هغه اختيار کړو کوم چه اوس نزدې تير شو فتذکر.

[۳۰۳۴](۲) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، قَالَ: قَالَ مَالِكٌ: وَقَدْ أَجْلَى عُمَرُ رَحِمَهُ اللَّهُ يَهُودَ نَجْرَانَ وَفَدَكَ.

د مالك نه روايت دې فرمائی چه عمر رضی الله عنه د نجران اودفدك يهوديان جلاوطن کړل.

﴿ حدثنا ابن السرح ابن وهب قال قال مالک وقد اجلى عمر يهود نجران وفدک ﴾

د نصاری نجران سره څنګه مصالحت شوې وو د دې بيان په راروان حديث کښې راځی.

د راتلونکی باب نه د كتاب الخراج شروع ده:

د دې نه پس په بعض نخسو کښې داسې ليکلې شوې دی: ﴿ آخر كتاب الفئ، بسم الله الرحمن الرحيم اول كتاب الخراج ﴾ د دې سرخئ نه دا په فهم کښې راځی چه د كتاب الخراج والفئ نه اوسه پورې چه کوم احاديث ذکر شو د هغې تعلق د فئ سره وو او د راتلونکی باب نه د خراج شروع کيږی.

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۲۵۱) (منقطع)

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۲۵۲) (ضعيف)

بَابٌ فِي إِيقَافِ أَرْضِ السَّوَادِ وَأَرْضِ الْعَنْوَةِ

کومه زمکه چه مسلمانان د کافرو په ملک کښې په جنګ سره حاصله کړی هغه به څنګه تقسیمیږي؟

په دې باب کښې صرف د خراج او د خراجی زمکې بیان دې، د ایقاف نه مراد لکه چه مخکښې تیر شوې دی، ﴿ ترک القسمة بین الغانمین ﴾ دې ﴿ بل ابقاؤها علی حالها وضرب الخراج علیها لمصالح المقاتلین والمسلمین عامة ﴾ یعنی زمکې لره د فتح کولو نه پس په طور د من او احسان د هغې په مالکانو (مشرکانو) باندې پریخودل او په هغه زمکه باندې خراج ،یعنی ټیکس مقرر کول.

په عشر او خراج کښې فرق:

په عشر او خراج کښې فرق دا دې چه خراج خو د مشرکانو نه اخستلې شی او د هغې وجوب فی الذمة وی او عشر د مسلمانانو نه اخستلې شی او د هغې وجوب په ذمه کښې نه وی بلکه خارج یعنی په پیداوار کښې وی. د وجوب خراج سبب ذات ارض دې یعنی الارض النامیة، او د عشر سبب وجوب خارج یعنی پیداوار دې، پس خراج په هر حال کښې واجب وی، که پیداوار وی او که نه وی، په خلاف د عشر کښې چه هغه بغیر د کروندې او پیداوار نه نه شی اخستلې. او بله دا چه په عشر کښې د عبادت معنی موندلې شی او په خراج کښې د صغار او د ذلت (من البدائع)

په ترجمة الباب کښې ﴿ ارض السواد ﴾ نه پس ﴿ ارض العنوة ﴾ دا د عطف العام علی الخاص د قبیلې نه دې، ځکه چه ارض السواد هم ارض العنوة دې، د سواد نه مراد سواد العراق دې، د عراق زمکه چونکه ډیره زیاته شنه او کثیر الاشجار والمزارع ده په دې وجه د هغې نه په سواد سره تعبیر اوکړې شو ځکه چه شین والې د لرې نه تور والی ته مائل وی، د عراق زمکه مسلمانانو په خلافت فاروقی رضی الله عنه کښې فتح کړه، عمر رضی الله عنه د هغې زمکې وقف کړې لکه چه د عمر رضی الله عنه دا مسلک وړاندې په تفصیل سره د ائمة د اختلاف نه تیر شوې دې.

[۳۰۳۵](۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا سُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنَعَتِ الْعِرَاقُ قَفِيزَهَا وَدِرْهَمَهَا وَمَنَعَتِ الشَّامُ مُدْيَهَا وَدِينَارَهَا وَمَنَعَتْ مِصْرُ إِرْدَبَّهَا وَدِينَارَهَا، ثُمَّ عُدْتُمْ مِنْ حَيْثُ بَدَأْتُمْ". قَالَهَا زُهَيْرٌ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، شَهِدَ عَلَى ذَلِكَ لَحْمُ أَبِي هُرَيْرَةَ وَدَمُهُ.

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی یوداسې وخت به راشي چه عراقیان به خپلې پیمانې اوسکې منع کړي اوشامیان به خپلې اشرفۍ منع کړي او مصریان به خپلې سکې اواشرفۍ منع کړي او تاسو چه په شروع کښې څنګه وئ هم داسې به شئ، زهیر وائی چه درې پیرې به دې باندې ګواهي اوکړه دابوهریره نه غوښې او وینې.

(۱): صحیح مسلم /الفتن وأشراط الساعة ۸ (۲۸۹۶)، (تحفة الأشراف: ۱۲۶۵۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۶۲)، (صحیح)

﴿ عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ منعت العراق قفيزها ودرهمها ومنعت الشام مديها ودينارها ومنعت مصر اردبها ودينارها ثم عدتم من حيث بداتم ﴾

شرح الحديث :

په دې باب کښې مصنف رحمه الله دوه احاديث ذکر فرمائيلي دی په دې رومبی حديث کښې ارض عنوة او د مال غنيمت ذکر دې او په دويم حديث کښې د مال فئ او د غنيمت دواړو حکم ذکر کړې شوې دې د دې رومبی حديث مفهوم دا دې چه رسول الله ﷺ پيشن گوئی فرمائی چه يو زمانه به راشی چه مسلمانان به ملکونه يعنی عراق شام او مصر فتح کولو نه پس د هغه ځائې په خلقو باندې يعنی مشرکانو باندې کوم چه به په هغه ملکونو کښې آباد وی خراج مقرر کړی او په خراج کښې رسول الله ﷺ غلې او دراهم او دنانير دواړه ذکر کړې دی کومه سکه چه په کوم ملک کښې رائج وی په دې حديث کښې رسول الله ﷺ هم هغه ذکر فرمائيلې ده، پس د عراق دپاره دراهم، او د شام او مصر دپاره رسول الله ﷺ دنانير ذکر اوفرمائيل، او په غلو کښې چه کومه پيمانه به چرته رائج وه هم هغه رسول الله ﷺ په حديث کښې ذکر اوفرمائيله، پس د عراق دپاره ئې قفيز او د شام دپاره ئې مدی او د مصر دپاره ئې اردب ذکر اوفرمائيلو، دا ټول د مکيال او پيمانو نومونه دی کومې چه په دې ښهرونو کښې رائج وې، قفيز د اتو مکوک برابر وی او مدی د پنځلسو مکوک وی او اردب ځلريشت صاع وی.

دا حديث د اعلام نبوة نه دې په دې کښې رسول الله ﷺ دوه پيشن گويئ اوفرمائيلې اول دا چه يو زمانه به داسې راشی چه اسلام به عراق شام او مصر ټولو ځايونو ته اورسيږی او مسلمانان به د هغې د فتح کولو نه پس د هغه ځائې په اوسيدونکو باندې خراج مقرر کړی، دويم پيشن گوئی دا چه بيا به يو وخت داسې راشی چه دا خلق به د دې خراج د ورکولو نه انکار اوکړی، دوباره به هم دوی ته غلبه حاصله شی، وقيل او لاجل اسلامهم والاول هو الاصح.

﴿ ثم عدتم من حيث بداتم ﴾ بيا چه تاسو د کوم ځائې نه تلی يئ هم هلته به راواپس شئ يعنی انحطاط او تنزل طرف ته، شارحانو ليکلې دی لکه چه په مجمع البحار کښې دی چه دا اشاره د هغه حديث مضمون طرف ته ده، ﴿ بداء الاسلام غريبا وسيعود کما بداء ﴾.........

﴿ قالها زهير ثلاث مرات ﴾ دا ضمير د آخری جملې طرف ته راجع دې، ﴿ ثم عدتم من حيث بداءتم ﴾ دا جمله زهير راوی درې کرته اوئيله.

﴿ شهد علی ذلک لحم ابی هريرة ودمه ﴾ د دې راوی چه ابوهريرة رضی الله عنه دې هغه د دې حديث د روايت کولو نه پس تاکيدا فرمائی چه گواهی ورکوی په دې باندې د ابوهريرة غوښه او وينه، يعنی زما دې حديث لره د رسول الله ﷺ نه په اوريدو باندې کامل يقين دې، دا هم داسې ده لکه چه مونږ په محاوره کښې وايو چه په دې باندې زما رگ رگ گواهی ورکوی. والحديث اخرجه مسلم، قاله المنذری

[۳۰۳۶]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، قَالَ: هَذَا مَا حَدَّثَنَا بِهِ أَبُو هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَيُّمَا قَرْيَةٍ أَتَيْتُمُوهَا وَأَقَمْتُمْ فِيهَا فَسَهْمُكُمْ فِيهَا وَأَيُّمَا قَرْيَةٍ عَصَتِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ خُمُسَهَا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ، ثُمَّ هِيَ لَكُمْ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دی تاسو چه هریوکي ته راشئ اوهلته اوسیږئ نوتاسوته به یوه معینه حصه ملاویږي او دکوم کلي اوسیدونکی چه دالله در سول نافرمائی اوکړه نوددغه کلي نه دالله اورسول خمس اوباسئ اوباقی حصه دي تاسو ته درکړې شي.

﴿عن همام بن منبه قال هذا ما حدثنا ابوهريرة رضي الله عنه عن رسول الله ﷺ : وقال رسول الله ﷺ﴾

د صحیفه همام بن منبه تعارف:

په اصل کښې دا حدیث د صحیفه همام بن منبه د احادیثو نه دې، د دې صحیفې روایات متفق السند دی، په یو سند سره روایت کړې شوې دی چه د هغې سند داسې دې ﴿عن عبدالرزاق عن معمر عن همام بن منبه﴾ هم په دې وجه په دې صحیفه کښې دا سند صرف په ړومبی حدیث کښې ذکر کړې شوې دې، او چونکه باقی احادیث چه یو سل او یو کم ځلویښت دی (۱۳۹) هم په دې سند سره روایت کړې شوې دی په دې وجه روستو احادیثو کښې سند نه دې ذکر کړې شوې صرف د متونو په ذکر باندې اکتفاء کړې شوې ده، د دې صحیفې ټول روایات امام احمد بن حنبل رحمه الله براه راست د عبدالرزاق نه روایت کوی، هم دغه شان شیخین امام بخاری او مسلم هم په خپل صحیح کښې د دې صحیفې نه بعض روایات اخستلي دی، په مسلم کښې د بخاری په نسبت زیات دی، امام ابوداؤد رحمه الله دا روایت د خپل اُستاد احمد بن حنبل رحمه الله په واسطې سره اخستلي دې او امام مسلم په واسطه د محمد بن رافع او په واسطه د احمد بن حنبل روایت کوی ﴿هذا ما حدثنا ابوهريرة عن رسول الله ﷺ﴾ د دې صحیفې بالکل په شروع کښې هم دا عبارت دې، د دې نه پس بیا د متون احادیث سلسله شروع کیږی، د دې نظیر هغه روایات دی کوم چه امام ابوداؤد رحمه الله د مکتوب سمره نه اخستلي دی چه د هغې ذکر د الدر المنضود په مقدمه کښې او په اصل کتاب کښې ډیر کرته تیر شوې دې، او دلته چه مصنف رحمه الله کوم حدیث د دې صحیفې نه اخستلي دې هغه د دې صحیفې آخری حدیث دې.

شرح الحديث ومطابقته للترجمة:

قوله: ﴿ايما قرية اتيتموها واقمتم فيها فسهمكم فيها وايما قرية عصت الله ورسوله فان خمسها لله ورسوله ثم هي لكم﴾: یعنی کلی یا آبادئ ته چه کله تاسو اورسیږئ یعنی بغیر د قتال نه او هلته قیام اختیار کړئ نو په دې قسم مال غنیمت کښې ستاسو د ټولو حصه ده، او د کوم کلي والا چه داسې وی چه د الله او رسول ﷺ نافرمان وی یعنی په هغې کښې تاسو ته د قتال ضرورت پیښ راشی او بیا د قتال په ذریعه تاسو هغه فتح کړو نو د دې قسم مال حکم

(): صحيح مسلم/الجهاد ۵ (۱۷۵۶)، (تحفة الأشراف: ۱۴۷۲۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۳۱۷) (صحيح)

دا دي چه په دې کښې يو خمس خو د رسول الله ﷺ دپاره دې باقي ستاسو دپاره يعنى د مقاتلينو دپاره، ځکه چه دلته د جنګ حاجت راغلې دې په خلاف د ړومبی صورت چه هغه مال بغير د قتال نه حاصل شوي دي په دې وجه په هغې کښې د ټولو مسلمانانو حصه ده ځکه چه هغه مال فئ دي او دويم مال مال غنيمت دي په دې وجه په هغې کښې تخميس اوکړې شو او باقی اربعة اخماس د مقاتلينو دپاره شو، ګويا په دې حديث کښې د مال فئ او غنيمت دواړو حکم ذکر کړې شوې دې، او دويمه خبره دا ده چه په دې حديث کښې د مال غنيمت د تقسيم ذکر دې او د دې باب په ړومبی حديث کښې د خراج ذکر وو، خراج خو وی د ايقاف او عدم تقسيم په صورت کښې، لهذا د دواړو احاديثو د يو ځائې کولو نه دا معلوم شو .د ارض مفتوحه تقسيم او ترک تقسيم (ايقاف) دواړه جائز دی، فلله در المصنف چه په دې باب کښې ئې دواړه قسم احاديث راوړی دی، مصنف حنبلی دې او د حنابله په نزد امام په ارض مفتوحه عنوة کښې مختار دې د تقسيم او عدم تقسيم دواړو. فتدبر وتشکر هر حديث باندې ډير غور سره د پوهې کوشش پکار دې. والحديث اخرجه مسلم، قاله المنذری

بَابٌ فِي أَخْذِ الْجِزْيَةِ

د جزيې د وصولولو بيان

جزية د هغه مشرکانو د نفسونو ټيکس ته وئيلې شی کومو ته چه په دارالاسلام کښې امن ورکولو سره د اوسيدو اجازت ورکړې شوې دې او خراج وائی د زمکې ټيکس ته، او عشر وائی د زمکې د پيداوار زکوة ته.

دلته په جزيه کښې دوه اختلافات دی، اول دا چه جزيه د کومو کافرانو نه اخستلې شی، صرف د اهل کتابو نه، که د اهل کتاب او مشرکينو دواړو نه؟ د شوافعو او حنابله په نزد صرف داهل کتابو نه،او داحنافو او مالکيانو په نزد د دواړونه،خود احنافو په نزد مشرکين عرب مستثنی دی، او دويم مسئله دا چه د جزيه مقدار واجب څه دې؟ دا دواړه مسئلې په کتاب الزکاة کښې سره د اختلاف ائمه نه د معاذ رضی الله عنه د حديث ﴿ومن کل حالم دينارا ﴾ د لاندې تير شوې دی، بيا پيژندل پکار دی چه د وجوب جزية دپاره درې اوصاف شرط دی.

د جزئې د وجوب شرائط :

قال ابن رشد : اتفقوا على انها انما تجب بثلاثة اوصاف الذكورية والبلوغ والحرية وانها لا تجب على النساء ولا على الصبيان، بيا وړاندې هغوی د دې وجه ليکلې ده هغه دا چه جزيه خو د قتل په عوض کښې ده او د قتل حکم صرف د رجال بالغين په حق کښې دې، پس په جهاد کښې د نساء او صبيان د قتل ممانعت دې. ﴿ وكذا اجمعوا على انها لا تجب على العبيد آه﴾ ابن قدامه هم په دې باندې د جمهورو علماء کرامو او ائمة اربعه اتفاق نقل کړې دې، ﴿فان عمر كتب الى امرآء الاجناد ان اضربوا الجزية ولا تضربوها على النساء والصبيان ولا تضربوها الا على من جرت عليه المواسی ﴾ رواه سعيد وابوعبيد والاثرم الخ...... مواسی، د موسی جمع په معنی د استره، د انبات طرف ته اشاره ده.

[٣٠٣٧](١) حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ، حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ إِلَى أُكَيْدِرِ دُومَةَ فَأُخِذَ فَأَتَوْهُ بِهِ، فَحَقَنَ لَهُ دَمَهُ وَصَالَحَهُ عَلَى الْجِزْيَةِ.

د انس بن مالک اوعثمان بن أبی سلیمان رضی الله عنهما نه روایت دی فرمائی چه نبی علیه السلام خالد بن ولید اکیدر نوم سړی (ددومه بادشاه) ته ولیږه نوخالد بن ولید اودهغه ملګرو اونیو و او نبی علیه السلام ته ئي راوستو نبی علیه السلام دهغه خون معاف کړو او په جزئیه باندي ئي ورسره صلحه اوکړه.

﴿ وعن عثمان بن ابی سلیمان ﴾ دا په عن عاصم باندي عطف دي یعنی محمد بن اسحاق دي حدیث لره د عاصم نه هم روایت کوی او د عثمان نه هم، خو د عاصم طریق مسند دي او د عثمان مرسل ځکه چه دلته صحابی نه دي ذکر کړي شوي.

قوله: ﴿ ان النبی صلی الله علیه وسلم بعث خالد بن الولید الی اکیدر دومة فاخذوه فاتوا به فحقن له دمه وصالحه علی الجزیة ﴾: دومة الجندل د یو کلی نوم دي د شام د کلو نه او کیدر د هغي د حکمران نوم دي، د دومة الجندل د فتح واقعه د غزوة تبوک په سفر کښي پیښه شوي ده چه د هغي ذکر په کتاب الجهاد کښي راغلي دي، ﴿ فلا حاجة الی اعادتها ﴾

[٣٠٣٨](٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ مُعَاذٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَمَّا وَجَّهَهُ إِلَى الْيَمَنِ أَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ مِنْ كُلِّ حَالِمٍ يَعْنِي مُحْتَلِمًا دِينَارًا أَوْ عِدْلَهُ مِنَ الْمَعَافِرِيِّ ثِيَابٌ تَكُونُ بِالْيَمَنِ".

دمعاذ بن جبل رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی هرکله چه نبی علیه السلام زه یمن ته اولیږم نوراته ئي حکم اوکړو چه دهر بالغ نه یودینار اخلم یادي برابر دمعافري جامو نه کومي چه په یمن کښي ملاویږي.

[٣٠٣٩](٣) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ مُعَاذٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ.

دمعاذ بن جبل رضی الله عنه نه دتیر روایت په شان روایت منقول دي۔

[٣٠٤٠](٤) حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ هَانِئٍ أَبُو نُعَيْمٍ النَّخَعِيُّ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُهَاجِرٍ، عَنْ زِيَادِ بْنِ حُدَيْرٍ، قَالَ: قَالَ عَلِيٌّ: لَئِنْ بَقِيتُ لِنَصَارَى بَنِي تَغْلِبَ لَأَقْتُلَنَّ الْمُقَاتِلَةَ وَلَأَسْبِيَنَّ الذُّرِّيَّةَ فَإِنِّي كَتَبْتُ الْكِتَابَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَنْ لَا يُنَصِّرُوا أَبْنَاءَهُمْ، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ، بَلَغَنِي عَنْ أَحْمَدَ أَنَّهُ كَانَ يُنْكِرُ هَذَا الْحَدِيثَ إِنْكَارًا شَدِيدًا، وَهُوَ عِنْدَ بَعْضِ النَّاسِ شِبْهُ الْمَتْرُوكِ وَأَنْكَرُوا هَذَا الْحَدِيثَ عَلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ هَانِئٍ، قَالَ أَبُو عَلِيٍّ: وَلَمْ يَقْرَأْهُ أَبُو دَاوُدَ فِي الْعَرْضَةِ الثَّانِيَةِ.

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩٣٧، ١٩٠٠٢) (حسن)

(٢): سنن النسائي/الزكاة ٨ (٢٤٥٥)، (تحفة الأشراف: ١١٣١٢)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الزكاة ٥ (٦٢٣)، سنن ابن ماجه/الزكاة ١٢ (١٨٠٣)، مسند احمد (٥/٢٣٠، ٢٣٣، ٢٤٧) (صحيح)

(٣): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١٣٦٣) (صحيح)

(٤): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٠٩٧) (ضعيف الإسناد)

دزیاد بن حدیر نه روایت دې فرمائی چه علي کرم الله وجهه به فرمائیل که چرې ژوندې پاتې شوم نو دینو تغلب قبیلې دنصرانیانو جنګ کونکی به قتل کړم او ددوی بچی به ګرفتار کړم ځکه چه ددغه خلقو دنبی ﷺ په مینځ کښې کومه معاهده تحریر شوي وه دهغې کتابت ماکړې وو، په هغه معاهده کښې دا وو چه دوی به مدد نه کوي د خپلو ځامنو. ابوداود وائی داروایت منکر دې اوماته خبر رارسیدلې چه امام احمد هم ددې حدیث ډیر سختئ سره انکار کولو، ابو علی وائی، ابوداؤد دویم ځل چه کله دا کتاب واؤرولو نو په دې کښې ئې دا حدیث اونه وئیلو.

﴿عن ابی وائل بن معاذ رضي الله عنه ان النبی ﷺ لما وجهه الی الیمن الخ﴾

په دې حدیث باندې اوددې په تخریج باندې هم کلام په کتاب الزکاة کښې تیر شوې دې.

﴿عن زیاد بن حدیر قال علی رضي الله عنه لئن بقیت لنصاری بنی تغلب لاقتلن المقاتلة ولاسبین الذریة الخ﴾

شرح الحدیث المتعلق بمصالحة نصاری بنی تغلب :

علی رضي الله عنه فرمائی چه که زه څه ورځې نور باقی پاتې شوم نو ضرور به د نصاری بنو تغلب سرو لره قتل کوم او د هغوی ښځې او ماشومان به قید کوم ځکه چه په ما باندې رسول الله ﷺ زمونږ او د هغوی ترمینځه معاهده لیکلې وه چه په هغې کښې دا هم وه چه هغوی به د خپل پیدا کیدونکی اولاد نه نصرانیان نه جوړوی.

ګویا دوی وئیل غواړی چه هغوی عهد مات کړو او خپل اولاد ئې نصرانی کړل.

﴿قال ابوداؤد : هذا حدیث منکر الخ﴾

امام ابوداؤد رحمه الله د دې حدیث د روایت کولو نه پس په دې باندې سخت کلام کوی لکه چه ستاسو مخکښې دې، او وړاندې په دې کښې دی چه د مصنف رحمه الله شاګرد لؤلؤی وائی چه دا حدیث امام ابوداؤد په خپل سنن کښې د قراءت او روایت په وخت په رومبی ځل خو لوستلې وو خو دوباره ئې نه دې لوستلې، یعنی د سنن نه ئې خارج کړو.

اوس سوال دا دې چه د بنو تغلب د نصاراؤ سره څه معامله شوې وه که نه او آیا د دې واقعې څه اصل شته که نه؟ جواب دا دې چه او اصل شته خو د رسول الله ﷺ سره نه. د رسول الله ﷺ د هغوی سره هیڅ معاهده نه وه شوې خو د عمر رضي الله عنه د هغوی سره یو معاهده شوې وه ﴿فانه صالحهم علی تضعیف الصدقة بدل الجزیة﴾ یعنی عمر رضي الله عنه چه کله په هغوی باندې جزیة مقرر کوله نو هغوی اووې چه جزیة زمونږ په حق کښې د شرم سبب دې ځکه چه مونږ عرب یو، او جزیه ورکول د عجمیانو کار دې لهذا زمونږ نه چه څه غواړئ واخلئ خو د جزیه په نوم نه او په معاهده کښې دا خبره راغلې وه ﴿ان لا ینصروا اولادهم﴾ صاحب د عون المعبود ددې واقعې دا اصل د حدیث د ډیرو کتابونو مصنف ابن ابی شیبة، بیهقی وغیره په حوالې سره لیکلې ده، پس د عمر رضي الله عنه د دې عمل او فیصلې د وجې نه د جمهور علماء کرامو او ائمة ثلاثة مذهب دا دې چه د هغوی نه به د څیز دو چند اخستلې شی څومره چه د مسلم نه اخستلې شی. ﴿ففی الرکاز الخمسان وما فیه العشر عشران وما فیه ربع العشر نصف العشر، وکذلک من نسائهم﴾ خو د امام مالک رحمه الله رائې په دې کښې د جمهورو خلاف ده د هغوی په

نزد چه کوم حکم د اهل کتاب او نورو ذمیانو دې هم هغه حکم د بنو تغلب دی هغوی فرمائی چه د کتاب الله د اهل کتاب نه د جزیه اخستلو حکم دې چه په هغې کښې تول برابر دی، او نور علماء کرام لکه ابن قدامة او ملا علی قاری رحمه الله وغیره لیکلی دی چه د عمر رضي الله عنه په فیصله باندې یو صحابی رضي الله عنه هم د هغه مخالفت نه دې کړې فصار اجماعا. (اوجز ٣/٢٦٨)

[٣٠٤١] (١) حَدَّثَنَا مُصَرِّفُ بْنُ عَمْرٍو الْيَامِيُّ، حَدَّثَنَا يُونُسُ يَعْنِي ابْنَ بُكَيْرٍ، حَدَّثَنَا أَسْبَاطُ بْنُ نَصْرٍ الْهَمْدَانِيُّ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْقُرَشِيِّ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ صَالَحَ: رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلَ نَجْرَانَ عَلَى أَلْفَيْ حُلَّةٍ النِّصْفُ فِي صَفَرٍ وَالْبَقِيَّةُ فِي رَجَبٍ يُؤَدُّونَهَا إِلَى الْمُسْلِمِينَ وَعَارِيَةِ ثَلَاثِينَ دِرْعًا وَثَلَاثِينَ فَرَسًا وَثَلَاثِينَ بَعِيرًا وَثَلَاثِينَ مِنْ كُلِّ صِنْفٍ مِنْ أَصْنَافِ السِّلَاحِ يَغْزُونَ بِهَا، وَالْمُسْلِمُونَ ضَامِنُونَ لَهَا حَتَّى يَرُدُّوهَا عَلَيْهِمْ إِنْ كَانَ بِالْيَمَنِ كَيْدٌ أَوْ غَدْرَةٌ عَلَى أَنْ لَا تُهْدَمَ لَهُمْ بِيعَةٌ، وَلَا يُخْرَجَ لَهُمْ قَسٌّ، وَلَا يُفْتَنُوا عَنْ دِينِهِمْ مَا لَمْ يُحْدِثُوا حَدَثًا أَوْ يَأْكُلُوا الرِّبَا، قَالَ إِسْمَاعِيلُ: فَقَدْ أَكَلُوا الرِّبَا، قَالَ أَبُو دَاوُد: إِذَا نَقَضُوا بَعْضَ مَا اشْتُرِطَ عَلَيْهِمْ فَقَدْ أَحْدَثُوا.

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د اهل نجران سره په دې شرط صلح اوکړه چه هغوی به د کپړو دوه زره جوړې مسلمانانو ته ورکوی، نیمې به د صفر په میاشت کښې ورکوی او باقی به د رجب په میاشت کښې، او دیرش زغرې، دیرش اسونه، او دیرش اوښان او د هر قسمه وسلې (جنګی سامان) نه دیرش دیرش وسلې چه هغې سره به مسلمانان جهاد کوی د عاریت په طور به ئې ورکوی، او مسلمانان به دهغوی ضامن وی، او (په ضرورت پوره کیدو باندې به) هغوی ته واپس کوی او دا عاریهً ورکول به هغه وخت وی کله چه په یمن کښې څوک دهوکه اوکړی، (یعنی سازش کولو سره څوک نقصان رسول غواړی) یا مسلمانانو سره غداری اوکړی او لوظ مات کړی (او هلته جنګ پیښ شی) په دې شرط باندې چه دهغوی به هیڅ ګرجا (عبادتخانه) نه ورانوی، او هیڅوک پادری به نه اوباسی، او دهغوی په دین کښې به مداخلت نه کوی چه ترڅو پورې هغوی بل څه نوې خبره پیدا نه کړی یا سودخوری اونه کړی، اسماعیل سدی وائی چه هغوی بیا سودخوری اوکړه، ابوداؤد وائی : کله چه هغوی په خپل ځان باندې ترلی بعضې شرطونه مات کړل نو نوې خبره ئې پیدا کړه (اوهغوی د عرب ملک نه اوویستلې شو).

﴿ عن ابن عباس رضي الله عنهما قال صالح رسول الله صلی الله علیه وسلم اهل نجران علی الفی حلة....... وعارية ثلاثين درعا....... ان كان باليمن كيد ذات غدر ﴾

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نجران د نصاری سره مصالحت :

پورته دا راغلی وو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم نصاری د بنو تغلب سره مصالحت اوکړو، هغه روایت خو د حقیقت خلاف وو خو دا د حقیقت مطابق دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د نجران د نصاری سره مصالحت اوفرمائیلو، نجران په یمن کښې دې، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی سره په دوه زره حلو باندې مصالحت فرمائیلې دی په دو قسطونو کښ، نیمه په میاشت د صفر کښې او نیمه په میاشت د رجب کښې او په دې خبره باندې هم چه که یمن کښې جهګړه او عذر شروع شو نو دا څیزونه به په عاریت باندې ورکوی کوم چه په حدیث کښې لیکلې شوې دی یعنی

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٣٦١) (ضعيف الإسناد)

دیرش زغري، دیرش آسونه، دیرش اوښان او په هر قسم وسله کښې دیرش دیرش، که مسلمانانو د هغې په ذریعه قتال اوکړو نو هغوی به د ټولو څیزونو ضامن وی، یعنی د هغه سامان واپسی به ضروری وی، ﴿ ان کان بالیمن ﴾ تعلق عاریة سره دي.

﴿ علی ان لا تهدم لهم بیعة ولا یخرج لهم قس ﴾ د دې جملې تعلق ﴿ صالح ﴾ سره دې یعنی مصالحت په دې خبره باندې اوشو چه مسلمانان به تلو سره د هغوی کورونه نه غورځوی او نه به د یو عالم پادری اخراج کوی. او نه به هغوی د هغوی د دین نه لرې کولې شی.

﴿ ما لم یحدثوا حدثا او یاکلوا الربا ﴾ د احداث د حدث نه مراد د عهد په شرطونو کښې د یو شرط ماتول دی، په دې مصالحت باندې چه د کومې جزیې ذکر دې چونکه دا جزیه په طریقه د صلح وه پس دې قسم جزیه ته جزیة الصلح والتراضی وائی، نو ګویا د جزیه دوه قسمونه شو، جزئیه صلحیه، د جزئیه صلحیه هیڅ ضابطه نشته چه په کوم څیز باندې هم صلح اوکړې شی او دویم قسم کوم چه د جزئې دې د هغې یو ضابطه ده، یعنی د مقدار په لحاظ سره چه د هغې تفصیل په کتاب الزکوة کښې تیر شوې دې.

رسول الله ﷺ چه کومه صلح نامه د نجران د په باره کښې لیکلې وه هغه کافی اوږده او تفصیلی ده، حضرت په بذل کښې دا نقل کړې ده که څوک کتل غواړی هغه دې اوګوری.

بَابٌ فِي أَخْذِ الْجِزْيَةِ مِنَ الْمَجُوسِ

باب د مجوسو نه د جزیه اخستلو بیان

مجوس آتش پرست وی دا خلق د عقیدې په اعتبار سره د اصلین قائل دی، یعنی دوه څیزونو لره اصل منی یو نور او بل ظلمت (تیاره) او دا دعوی کوی چه څومره هم په دنیا کښې خیر دې هغه فعل دنور دې او څومره چه شرونه دی هغه د ظلمت نه صادرېږی، د هغوی په باره کښې داسې مشهوره ده چه دا خلق دوه خالقان منی یزدان او اهرمن یزدان خالق الخیر، او اهرمن خالق الشر منی (په دې دواړو کښې صرف د تعبیر فرق دې) او بهر حال دا مشرکان دی، د دوی نه خو جزیة بالاجماع اخستلې شی، خو د شوافع او حنابله په مسلک باندې به دا اشکال وی چه هغوی خو د جزئې په باره کښې د اهل کتابو تخصیص کوی، د مشرکانو نه د جزئې د اخذ قائل نه دی، هغوی د دې جواب ورکوی چه دا د موجوده حالت په اعتبار سره خو مشرکان دی خو په ابتداء کښې او د اصل په اعتبار سره دا اهل کتاب وو لکه چه په حدیث الباب کښې راځی:

[٣٠٤٢][1] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سِنَانٍ الْوَاسِطِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِلَالٍ، عَنْ عِمْرَانَ الْقَطَّانِ، عَنْ أَبِي جَمْرَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: إِنَّ أَهْلَ فَارِسَ لَمَّا مَاتَ نَبِيُّهُمْ كَتَبَ لَهُمْ إِبْلِيسُ الْمَجُوسِيَّةَ.

دابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه کله د فارس والا پیغمبر وفات شو نوشیطان هغې په مجوسیت یعنی داور په عبادت کولو کښې مبتلا کړل او په دې طریقې سره ګمراه شول.

﴿ عن ابن عباس رضی الله عنهما قال ان اهل فارس لما مات نبیهم کتب لهم ابلیس المجوسیة ﴾ خو د هغوی په

[1]: تفرد به أبو داود (حسن الإسناد)

جواب باندې دا اشکال دې چه د اهل کتاب ذبائح او د هغوی د زنانو سره نکاح کول جائز دی په خلاف د مجوسو چه د دوی هغه جائز نه ده. (۱) ﴿ قال کنت کاتبا لجزء بن معاوية.... عم الاحنف بن قيس........ اذ جآءنا کتاب عمر رضی الله عنه منه قبل موته بسنة ﴾

[۳۰۴۳] (۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، سَمِعَ بَجَالَةَ، يُحَدِّثُ عَمْرَو بْنَ أَوْسٍ، وَأَبَا الشَّعْثَاءِ، قَالَ: كُنْتُ كَاتِبًا لِجَزْءِ بْنِ مُعَاوِيَةَ عَمِّ الْأَحْنَفِ بْنِ قَيْسٍ إِذْ جَاءَنَا كِتَابُ عُمَرَ قَبْلَ مَوْتِهِ بِسَنَةٍ اقْتُلُوا كُلَّ سَاحِرٍ، وَفَرِّقُوا بَيْنَ كُلِّ ذِي مَحْرَمٍ مِنَ الْمَجُوسِ وَانْهَوْهُمْ عَنِ الزَّمْزَمَةِ، فَقَتَلْنَا فِي يَوْمٍ ثَلَاثَةَ سَوَاحِرَ، وَفَرَّقْنَا بَيْنَ كُلِّ رَجُلٍ مِنَ الْمَجُوسِ وَحَرِيمِهِ فِي كِتَابِ اللَّهِ وَصَنَعَ طَعَامًا كَثِيرًا فَدَعَاهُمْ، فَعَرَضَ السَّيْفَ عَلَى فَخِذِهِ فَأَكَلُوا وَلَمْ يُزَمْزِمُوا وَأَلْقَوْا وِقْرَ بَغْلٍ أَوْ بَغْلَيْنِ مِنَ الْوَرِقِ، وَلَمْ يَكُنْ عُمَرُ أَخَذَ الْجِزْيَةَ مِنَ الْمَجُوسِ حَتَّى شَهِدَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَهَا مِنْ مَجُوسِ هَجَرَ.

دعمرو بن اوس او ابو الشعثاء نه روایت دې چه بجاله وئیلی دی چه زه داحنف بن قیس دتره جزء بن معاویه کاتب وم یوځل مونږ ته دعمرفاروق رضی الله عنه خط دهغه دوفات نه یوکال مخکښې راورسیدو په هغې کښې. داليکلي شوي وو چه هريوجادوګر مړ کړئ اود مجوسیانو دمحارموپه مینځ کښې جدائی راولې او منع کړئ دوی لره دخوراك په وخت کښې دبنګیدلونه، نومونږ په دغه ورځ دري ساحران مړه کړل او کومومجوسیانوچه د خپلو محارموسره نکاح کړې وه په هغوی کښې مو جدائی راوسته اواحمد بن قیس ډیر خوراك تیارکړې وو او مجوسیان ئې راغوښتلي وو او په خپل ورون ئې توره ایخودلې وه اودوی خوراك اوکړو ليکن نه بنګیدل اوهغه د یوې قچرې یاددوه قچرو د وزن برابر سپین زر پیش کړل اوعمر رضی الله عنه ددغه وخته پورې دمجوسیانونه جزئیه نه اخستله تردې چه عبدالرحمن بن عوف ګواهي ورکړه چه نبی علیه السلام دهجرد مجوسیانونه جزئیه اخستلې وه. دزمزې ؟؟تشریح دحدیث دشارحینو په لاندینی اقوالوکښې موجود ده.

شرح الحديث :

بجالة بن عبده وائی چه زه جزء بن معاوية چه د احنف بن قیس ترۀ دې د هغه کاتب اوم، دا جزء بن معاويه تابعی دې، د عمر رضی الله عنه د طرف نه د اهواز ګورنر وو بجالة وائی چه مونږ ته د عمر رضی الله عنه یو خط د هغوی د وفات نه یو کال مخکښې راغلو چه په هغې کښې دا وو چه هلته ټولو جادوګران دی هغوی ټول قتل کړئ او په مجوسو کښې د هردوه ذی رحم ترمينځه جدائی راولئ (ځکه چه هغوی دمحارم دنکاح قائل وو) ﴿ وانهوهم عن الزمزمة ﴾ او دا چه هغوی د زمزمه نه بند کړئ، پس وراندې په روایت کښې دی چه هغوی په یوه ورځ کښې درې جادوګران قتل کړل او هم دغه شان ئې د دې قسم مجوسیانو او حریم ترمينځه هم تفریق راوستلو او د دریم حکم تعمیل ئې داسې اوکړو چه هلته ټولو مجوسیان وو د

(۱) دا اشکال د هغه وخت د نصاری او یهودو په اعتبار سره خو صحیح دې خو اوس خو د هغوی سره هم نکاح نه کیږي

(۲): صحيح البخاري/الجزية ۱ (۳۱۵۶)، سنن الترمذي/السير ۳۱ (۱۵۸۶)، (تحفة الأشراف: ۹۷۱۷)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الزكاة ۲۴ (۴۱)، مسند احمد (۱/۱۹۰، ۱۹۴) (صحيح)

هغوی د خوراک دعوت ئي اوکړو، چه کله ټول خلق خوراک ته کيناستل نو په مينځ کښې دا جزء بن معاويه هم کيناستلو، په خپل زنګون باندې توره کيخودلو سره او دې حاضرينو ته ئې اووې چه خوراک شروع کړئ او هغوی ئې د زمزمه نه منع کړل، توره د هغوی مخې ته وه.

﴿ والقوا وقر بغل ا وبغلتين من الورق ﴾ يعنی هغوی د زمزمه د اجازت دپاره او د هغوی په خوشامد کښې د دوه خچرو د بوجهه په قدر سپين زر مخې ته کيخودل خو هغوی او نه منله او هغوی ئې زمزمې ته پرې نخودل، د مجوسو عادت د خوراک نه پس د زمزمه وو. چه د هغې مطلب دا وو چه دې خلقو به د خوراک کولو نه پس په خلهٔ کښې دننه دننه په پوزه باندې څه وئيل چه هغې باندې به هغوی خپل مينځ کښې پوهيدل، خو بل څوک به پرې نه پوهيدو چه څه وائی، پته نشته د دې څه وجه وه.

د مجوس نه د جزيه اخستلو په باره کښې د عمر فاروق رضي الله عنه تردد :

قوله: ﴿ ولم يكن عمر اخذ الجزية من المجوس حتى شهد عبدالرحمن بن عوف ان رسول الله ﷺ اخذها من مجوس هجر ﴾: يعنی د عمر رضي الله عنه د مجوسو نه په جزيه اخستلو کښې تردد وو، بيا چه کله عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه هغوی ته عرض اوکړو چه رسول الله ﷺ د مجوس دهجر نه جزيهٔ اخستلې ده نو بيا هغوی هم اخستل شروع کړل، او په موطاء کښې دی ﴿ لما تردد عمر فی امر المجوس قال له عبدالرحمن بن عوف سمعت رسول الله ﷺ يقول : سنوا بهم سنة اهل الكتاب ﴾ يعنی رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د مجوسيانو سره د اهل کتاب والا معامله کوئ. لكن هذا فی امر الجزية لا فی جواز النكاح بنسائهم واكل ذبائحهم.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی مختصرا، قاله المنذری

يو اصولی مسئله د تحديث د صيغې متعلق :

د دې حديث په سند کښې هم دغه شان دی : عمرو بن دينار وائی چه ما د بجاله نه هغه حديث واوريدو کوم چه هغوی د عمرو بن اوس او د ابوالشعثاء نه بيانولو، بيا وړاندې د هغه حديث ذکر دې، دلته سوال کيدې شی چه عمرو بن دينار داسې ولې او نه وئيل چه ﴿حدثنی بجالة ﴾ د دې اوړدلو څه ضرروت وو، د دې جواب دا دې چه د بعض محدثينو رائې دا ده چه راوی لفظ حدثنا نه روايت هغه وخت کولې شی چه کله د هغه استاد هغه ته هغه حديث بالقصد بيان کړې وی. او که داسې نه وی بلکه مقصود بالاسماع دويم کس وی نو هغه سړې به مقصود بالاسماع نه وی خو هغه حديث ئې د هغه نه واوريدو نو بيا په دې صورت کښې د دې سامع دپاره دې حديث لره په صيغهٔ د حدثنا سره استعمال صحيح نه دی. الحاصل کوم راوی چه مقصود بالاسماع وی نو د هغه دپاره د حديث د روايت کولو په وخت حدثنا لفظ استعمالول جائز دی د بل چا دپاره نه، خو د جمهورو په نزد جائز دې، ومنعه بعضهم منهم الامام النسائی وطائفة قليلة قاله الحافظ فی الفتح (عون) د الدرر المنضود په مقدمه کښې هم دانواع تحمل په بيان کښې مونږ داقول هم ليکلې دې چه ﴿ عن ابن عباس رضي الله عنهما قال جآء رجل من الاسبذيين من اهل البحرين وهم مجوس اهل هجر الی رسول الله ﷺ الخ ﴾

[۳۰۴۴]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مِسْكِينٍ الْيَمَامِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا دَاوُدُ بْنُ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ قُشَيْرِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ بَجَالَةَ بْنِ عَبْدَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْأَسْبَذِيِّينَ مِنْ أَهْلِ الْبَحْرَيْنِ وَهُمْ مَجُوسُ أَهْلِ هَجَرَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَكَثَ عِنْدَهُ، ثُمَّ خَرَجَ فَسَأَلْتُهُ مَا قَضَى اللهُ وَرَسُولُهُ فِيكُمْ؟ قَالَ: شَرٌّ قُلْتُ: مَهْ قَالَ: الْإِسْلَامُ أَوِ الْقَتْلُ، قَالَ: وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ قَبِلَ مِنْهُمُ الْجِزْيَةَ، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَأَخَذَ النَّاسُ بِقَوْلِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَتَرَكُوا مَا سَمِعْتُ أَنَا مِنَ الْأَسْبَذِيِّ.

دابن عباس رضي الله عنه نه روایت دي فرمائي چه دبهرين اوسيدونکي يوکس داسبزين والا څوك چه دهجي مقام دمجوسيانونه وو دنبي عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو اودهغه سره يوشيبه ناست وو کله چه روان شو نوما تري تپوس اوکړو چه الله اودالله رسول ستاسو په حق کښې څه فيصله اوکړه؟ هغه اووئيل زما دپاره ډيره بده فيصله وشوه ماورته اووئيل خاموش اوسه هغه اووئيل فيصله ئې دا اوکړه چه اسلام قبول کړه ګنې قتل ته تيار شه ابن عباس رضي الله عنه فرمائي چه عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه داسې اووئيل چه نبي عليه السلام ددې خلقو نه جزئيه اخستل قبول کړل نوخلقو د عبدالرحمن بن عوف په قول عمل وکړو اوڅه چه ئې داسبنی نه اوريدلي وو هغه ئې پريخودل.

شرح الحديث

اسبذيون په مجوس کښې يو قوم دې چه داس عبادت به ئې کولو، د دې مفرد الاسبذى دې معرب دې د الاسپ بمعنى الفرس.

ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه يو اسبذى مجوس په اهل هجر کښې د رسول الله ﷺ خدمت ته حاضر شو، لږ ساعت دپاره د رسول الله ﷺ سره اودريدو او بيا بهر لاړو، ما د هغه نه تپوس اوکړو چه ستا په باره کښې رسول الله ﷺ څه فيصله اوکړه نو هغه اووې بده فيصله، ما ترې تپوس اوکړو چه څه فيصله نو هغه اووې چه ﴿ الاسلام اوالقتل ﴾ د دې تقاضا دا ده چه د مجوسو نه به جزيه نه شي اخستلې، حال دا چه دا د عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د حديث خلاف دې هم په دې وجه وړاندې ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي ﴿ وقال عبدالرحمن بن عوف قبل منهم الجزية ﴾ وړاندې ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه علماء کرامو د عبدالرحمن رضي الله عنه حديث اختيار کړې دې او کوم چه ما د اسبذى نه اوريدلې وو هغې مې ترک کړو. ځکه چه د اسبذى قول معتبر نه دې په روايت کښې

دا د حديث الغاز نه دې يعنى دونړه (عجيبه سوال)، يعنى دا اوښايئ چه هغه کوم حديث دې کوم چه يو صحابى د مجوسى نه روايت کوى او هغه مجوسى ئې د رسول الله ﷺ نه روايت کوى.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۳۷۱، ۹۷۲۳، ۱۵۶۱۳) (ضعيف الإسناد)

بَابٌ فِي التَّشْدِيدِ فِي جِبَايَةِ الْجِزْيَةِ

د جزيې په وصولولو کښې د سختئ کولو بيان

جبايت يعنې تحصيل او استخراج، يعنې په جزيه وصول کولو کښې تشدد کول.

[٣٠٤٥] (١) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، أَنَّ هِشَامَ بْنَ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ وَجَدَ رَجُلًا وَهُوَ عَلَى حِمْصَ يُشَمِّسُ نَاسًا مِنَ الْقِبْطِ فِي أَدَاءِ الْجِزْيَةِ، فَقَالَ: مَا هَذَا؟ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ اللَّهَ يُعَذِّبُ الَّذِينَ يُعَذِّبُونَ النَّاسَ فِي الدُّنْيَا".

دعروهؓ بن زبير نه روايت دې فرمائي چه هشام بن حکيم بن حزام يو سړی لره څوک چه دحمص عامل وو اوليدو چه دجزيې دوصول کولو دپاره ئې يوڅو قبطي کسان په غرمو اودرولو هشام اووئيل داڅه دی؟ ماذنبی ﷺ نه اوريدلي دي چه فرمائيل ئې يقينا الله تعالى په هغه خلقو عذاب نازله وي څوک چه بې وجې خلق په دنيا کښې په عذاب کښې مبتلا کوي.

قوله: ﴿عن عروة بن الزبير ان هشام بن حكيم وجد رجلا وهو على حمص يشمس ناسا من القبط فى اداء الجزية﴾: عروه وائی: د حکيم بن حزام ځوی، هشام يو سړی لره چه د حمص امير وو په داسې حال کښې بيا موندلو چه هغه څه خلق په ګرمئ کښې اودرول د جزيه د ادا کولو په باره کښ، نو په دې باندې هشام بن حکيم نکير اوکړو چه دا څه کيږی، او بيا ئې حديث واورولو د رسول الله ﷺ چه هغوی به فرمائيل الله پاک به عذاب ورکړی هغه خلقو ته کوم چه په دنيا کښې نورو ته عذاب ورکوی.

په دې روايت کښې ﴿ناسا من القبط﴾ دې. او دا واقعه ده د ملک شام، قبطيان هلته چرته وو هغوی خو به مصريان وو، لهذا په روايت کښې تحريف دې ځکه چه په مسلم کښې د دې په ځائې ﴿اناس من الانباط﴾ دې نو د نبط په ځائې قبط شو، او نبطی عجمی کاشتکار ته وائی. والحديث اخرجه مسلم والنسائی، قاله المنذری

بَابٌ فِي تَعْشِيرِ أَهْلِ الذِّمَّةِ إِذَا اخْتَلَفُوا (٢) بِالتِّجَارَاتِ

کله چه ذمی کافر د تجارت مال وړی دهغه نه دې لسمه حصه په محصول کښې واخستلې شی

د مسئله مذکورة الباب تشريح او تنقيح:

يعنې ذميان خلق چه کله مال تجارت اخستلو سره په عاشر باندې تيريږی د هغوی نه د عشر اخستلو په بيان کښ. (٣) ځان پوهول پکار دی چه د ذميانو په حق کښې نه په سرو او سپينو زرو کښې زکوة شته نه د زمکې په پيداوار کښې عشر، بلکه د دوی نه به صرف جزية

(١): صحيح مسلم/البر والصلة ٣٣ (٢٦١٣)، (تحفة الأشراف: ١١٧٣٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٠٤، ٤٦٨) (صحيح)

(٢) اختلاف په معنى د تلو راتلو، قال تعالى ان في اختلاف الليل والنهار لايات لاولي الالباب)

(٣) ففي الموطاء قال مالك: وليس علي اهل الذمة ولا علي المجوس في نخليهم ولا كرد مهم ولا زروعهم ولا مواشيهم صدقة لان الصدقة انما وضعت علي المسلمين تطهيرا لهم، ما كانوا ببلد هم الذي صالحوا عليه الا ان يتجروا في بلاد المسلمين ويختلفوا فيه فيوخذهم مهم العشر فيما يريدون من التجارات آه ملخصا (اوجز ٣/٢٦٨)

اخستلې شی چه په هغې کښې د ذلت او عاجزئ معنی موندلې شی. ﴿ وقال الله تعالى حتى يعطوا الجزية عن يد وهم صاغرون ﴾ او زکوة او عشر صرف د مسلمانانو نه اخستلې شی ځکه چه دا دواړه عبادتونه دی. او د دې نه مقصود تطهير دې ﴿ قال الله تعالى خذ من اموالهم صدقة تطهرهم، وقال ﷺ ان الله لم يفرض الزكوة الا ليطيب ما بقى من اموالكم ﴾ رواه ابوداؤد، او کفار د تطهير قابل نه دی، ﴿ قال الله تعالى انما المشركون نجس ﴾ خو دا ټول په هغه صورت کښې دی چه تر څو هغه ذمی په هغه مقام کښې او کلی کښې اوسيږی کوم ځائې کښې چه هغوی ته د اوسيدو اجازت ورکړې شوې دې او په کوم باندې چه صلح شوې ده، او که دا خلق د هغه ښهر نه يا د هغه مقام نه بل ملک يا ښهر ته د مال تجارت دپاره سفر کوی او تلل راتلل کوی نو په دې صورت کښې به د هغوی نه په مال تجارت کښې عشر اخستلې شی، په دې باب کښې هم د دې بيان دې چه کله دا خلق مال تجارت اخستلو سره د يو ملک نه بل ملک ته لاړ شی نو د هغوی نه به په دې صورت کښې څه اخستلې شی عشر يا نصف عشر وغيره ذلک من الشرائط.

په هداية کښې دی : ﴿ باب فيمن يمر على العاشر، والعاشر من نصبه الامام على الطريق لياخذ الصدقات من التجار ﴾ او په هدايه کښې دا هم دی چه کله سوداګر په عاشر باندې مال تجارت ورتير کړی او هغه دا اوائی چه لا تر اوسه پورې حولان حول نه دې شوې يا دا چه په ما باندې دين دې او په هغې باندې هغه قسم اوخوری نو د هغه تصديق به کولې شی او هم دغه شان که هغه داسې اوائی چه ما د دې زکوة په ښار کښې فقيرانو ته خپله ورکړې دې، بيا ليکی چه د مسلم نه به عاشر ربع واخلی، او د ذمی نه به نصف العشر او د حربی نه عشر، او دغه شان دا هم پکښې دی چه د ذمی او مسلمان نه دې نصف العشر او ربع العشر هغه وخت واخستلې شی، چه په اندازه د نصاب مال تجارت يوسی، او د حربی په باره کښې دا دی چه هلته هم د نصاب اعتبار دې مګر دا چه هغه خلق د مسلمانانو نه د نصاب نه دکم نه عشر اخلی نو بيا به مونږ د هغوی سره هم دغه شان معامله کوو، هم دغه شان که هغوی مونږ نه د عشر نه کم اخلی نصف العشر يا ربع العشر نو بيا به مونږ هغوی سره هم دغه شان کوو، که هغوی د مسلمان نه ټول مال اخلی نو بيا به مونږ داسې نه کوو ځکه چه دا غدر دې او که هغوی ئې زمونږ نه بالکل نه اخلی نو بيا به مونږ هم نه اخلو ﴿ لانا احق بمكارم الاخلاق ﴾ (هداية ۱/۱۸۹)

د ترجمة الباب والا مسئله کښې مذاهب ائمه :

او د مذاهب اربعه خلاصه په دې کښې دا ده چه د احنافو او حنابله په نزد به نصف العشر اخستلې شی په شرط د نصاب يو ځل په کال کښې، او د امام مالک رحمه الله په نزد به عشر اخستلې شی کله چه په عاشر باندې تيريږی او نه به د کال تيريدو شرط وی او نه د نصاب، او د امام مالک رحمه الله په نزد به په عام مالونو کښې هم صرف عشر اخستلې شی په ټولو ځايونو کښې، خو صرف په مکه مکرمه او مدينه طيبه کښې په بعض خوراکونو په باره کښې (غنم او تيل) د هغوی يو روايت دې چه په دې کښې به نصف عشر اخستلې شی. پس په موطاء کښې دی امام مالک رحمه الله په خپل سند سره نقل کوی د عمر بن الخطاب رضی الله عنه نه

﴿كان ياخذ من النبط من الحنطة والزيت نصف العشر يريد بذلك ان يكثر الحمل الى المدينة وياخذ من القطنية [1]﴾ يعنى عمر رضی الله عنه د حنطة او زيت په باره كښې د عشر په ځائې نصف عشر اخستلو چه سوداګر خلق هغې لره په كثرت سره مدينې طيبې ته راوړی او بيا هلته ارزانی شی، او د باقی د غلو نه يعنى هغه غلې كومې چه پخولې شی لكه مسور او چنړه او لوبيا د دې نه به ئې عشر اخستلو او د زيت او د حنطة تخصيص ئې په دې وجه كړې وو ﴿لانهما معظم طعامهم﴾ يعنى چونكه دا څيزونه عام طور سره خوړلې شی او د خلقو دې طرف ته حاجت زيات دې، او د امام شافعی رحمه الله مسلک هم د دې په باره كښې دا دې چه د اهل ذمه نه به سوا د جزيه او سوا د هغې نه چه په هغې باندې مصالحت شوې وی صدقة زكوة او عشر وغيره هيڅ نه شی اخستلې يعنى په مال تجارت كښ، مګر دا چه هغوی د غير حجاز نه هغه مال تجارت حجاز ته راوړی، نو اول خو دې هغوی ته حجاز ته د داخليدو اجازت ورنكړې شی، او كه وركړې شی نو بغير د معاوضې نه نهٔ، عشر يا نصف العشر چه څه هم د امام رائې وی، او اجازت دې هم په حجاز كښې صرف د درې ورځو وركړې شی د هغې نه زائد نه. (اوجز ٣/٢٧٠)

[٣٠٤٦]([2]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، حَدَّثَنَا عَطَاءُ بْنُ السَّائِبِ، عَنْ حَرْبِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ جَدِّهِ أَبِي أُمِّهِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا الْعُشُورُ عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى وَلَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ عُشُورٌ".

ابو امه د خپل پلار نه روايت كوی فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائيلی دی چه د تجارت په مال كښې ديهوديانو اونصرانيانو نه به لسمه حصه اخستلی شي اودمسلمانانو نه به نه شی اخستلې.
﴿قال رسول الله صلی الله علیه وسلم انما العشور على اليهود والنصارى وليس على المسلمين عشور﴾

شرح الحديث:

عشور جمع ده د عشر او په دې باره كښې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه په مسلمانانو باندې عشور نشته بلكه په يهودو او نصارى باندې دې په دې باندې دا اشكال واردېږی چه په كتاب الزكوة كښې دا تير شوې دی چه د صدقې دوه قسمونه دی، يو هغه چه په نقدو (يعنى سرو او سپينو زرو) او مال تجارت كښې واجب كيږی چه هغې ته زكوة وائی چه د هغې مقدار اربع العشر دې، او قسم ثانى هغه چه د زمكې په پيداوار كښې واجب كيږی چه د هغې مقدار عشر او نصف العشر دې، نو بيا دلته د عشر د مسلمانانو نه څنګه نفی كولې شی، د دې جواب دا دې چه د مسلمانانو په ذمه چه كوم عشر واجب دې د هغې نه مراد د زمكې د غلو عشر دې يعنى د زمكې د پيدوار، او دلته په حديث كښې د مال تجارت عشر مراد دې كوم چه د اهل ذمه نه اخستلې شی يا دې دلته داسې اوئيلې شی چه د عشور نه مراد خراج دې لكه چه په روستو حديث كښې راځی، بيا د يو توجيه حاجت نشته.

[1]) بكسر القاف وضمها لغة كالعدس والحمص واللوبيا ولارزد والسمسم وغير ذلك العشر ﴾ (اوجز ٣/ ٢٧١)
[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٥٤٦، ١٨٤٨٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٧٤، ٤/٣٢٢) (ضعيف)

د دې حدیث په سند کښې ډېر اختلاف او اضطراب دې، کوم چه خپله د ابوداؤد په روایتونو کښې هم دې چه د هغې تفصیل حضرت په بذل کښې لیکلې دې، چه د هغې نه دا خبره معلومیږي چه د دې حدیث راوی صحابی مجهول دې.

[٣٠٤٧](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ الْمُحَارِبِيُّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ حَرْبِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَاهُ، قَالَ: خَرَاجٌ مَكَانَ الْعُشُورِ.

حرب بن عبید الله دنبی ﷺ نه دتیر روایت. په شان روایت بیان کړې دې مګرپه دې روایت کښې دعشور په ځائې باندې خراج ذکرشوې دې.

[٣٠٤٨](2) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَكْرِ بْنِ وَائِلٍ، عَنْ خَالِهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَعْشِرُ قَوْمِي، قَالَ: "إِنَّمَا الْعُشُورُ عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى".

بکر بن وائل دخپل مامانه روایت کوی فرمائی چه ماعرض اوکړو اې دالله رسوله ایادخپل قوم نه لسمه حصه واخلم؟ نبی ﷺ اوفرمائیل نه لسمه حصه خو په یهودیانو او نصرانیانو باندې وي.

[٣٠٤٩](3) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ حَرْبِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَيْرٍ الثَّقَفِيِّ، عَنْ جَدِّهِ رَجُلٍ مِنْ بَنِي تَغْلِبَ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْلَمْتُ وَعَلَّمَنِي الْإِسْلَامَ وَعَلَّمَنِي كَيْفَ آخُذُ الصَّدَقَةَ مِنْ قَوْمِي مِمَّنْ أَسْلَمَ، ثُمَّ رَجَعْتُ إِلَيْهِ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ كُلُّ مَا عَلَّمْتَنِي قَدْ حَفِظْتُهُ إِلَّا الصَّدَقَةَ أَفَأُعَشِّرُهُمْ؟ قَالَ: "لَا إِنَّمَا الْعُشُورُ عَلَى النَّصَارَى وَالْيَهُودِ".

د عمیر ثقفی (بنو تغلب والا)نه روایت دې فرمائی چه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او اسلام مې قبول کړو اوهغه راته داسلام داحکامو تعلیم راکړو او زما په قوم کښې چه څوك مسلمانان شوي وو دهغوی نه ئې دصدقې اخستلو تعلیم ئې هم راکړو، کله چه ورته بیادوباره راغلم نوماعرض اوکړو اې دالله رسوله څه چه راته ښودلي وو هغه ټول مې یاد دي مګر صدقه مې یاده نه ده ایازه دخپل قوم نه لسمه حصه واخلم نبی ﷺ اوفرمائیل نه لسمه حصه خو په یهودو اونصاري باندې ده.

[٣٠٥٠](4) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا أَشْعَثُ بْنُ شُعْبَةَ، حَدَّثَنَا أَرْطَاةُ بْنُ الْمُنْذِرِ، قَالَ: سَمِعْتُ حَكِيمَ بْنَ عُمَيْرٍ أَبَا الْأَحْوَصِ، يُحَدِّثُ عَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ السُّلَمِيِّ، قَالَ: نَزَلْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ وَمَعَهُ مَنْ مَعَهُ مِنْ أَصْحَابِهِ، وَكَانَ صَاحِبُ خَيْبَرَ رَجُلًا مَارِدًا مُنْكَرًا فَأَقْبَلَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ أَلَكُمْ أَنْ تَذْبَحُوا حُمُرَنَا وَتَأْكُلُوا ثَمَرَنَا وَتَضْرِبُوا نِسَاءَنَا، فَغَضِبَ يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ: "يَا ابْنَ عَوْفٍ ارْكَبْ فَرَسَكَ ثُمَّ نَادِ أَلَا إِنَّ الْجَنَّةَ لَا تَحِلُّ إِلَّا لِمُؤْمِنٍ وَأَنِ اجْتَمِعُوا لِلصَّلَاةِ، قَالَ: فَاجْتَمَعُوا، ثُمَّ صَلَّى بِهِمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قَامَ فَقَالَ: أَيَحْسَبُ أَحَدُكُمْ مُتَّكِئًا عَلَى أَرِيكَتِهِ قَدْ يَظُنُّ أَنَّ اللَّهَ لَمْ يُحَرِّمْ شَيْئًا إِلَّا مَا فِي هَذَا الْقُرْآنِ أَلَا

---

(1): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٥٥٤٦، ١٨٤٨٩) (ضعيف)

(2): انظر حديث رقم: (٣٠٤٦)، (تحفة الأشراف: ١٥٥٤٦، ١٨٤٨٩) (ضعيف)

(3): انظر حديث رقم: (٣٠٤٦)، (تحفة الأشراف: ١٥٥٤٦، ١٨٤٨٩) (ضعيف)

(4): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩٨٨٦) (ضعيف)

وَإِنِّي وَاللَّهِ قَدْ وَعَظْتُ وَأَمَرْتُ وَنَهَيْتُ عَنْ أَشْيَاءَ إِنَّهَا لَمِثْلُ الْقُرْآنِ أَوْ أَكْثَرُ، وَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لَمْ يُحِلَّ لَكُمْ أَنْ تَدْخُلُوا بُيُوتَ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا بِإِذْنٍ وَلَا ضَرْبَ نِسَائِهِمْ وَلَا أَكْلَ ثِمَارِهِمْ إِذَا أَعْطَوْكُمُ الَّذِي عَلَيْهِمْ".

دعرباض بن ساریه سلمي رضي الله عنه نه روایت دي فرمائي چه دنبي عليه السلام سره خیبر ته راغلو اودهغه سره په صحابه کرامو کښې هغه څوك وو څوك چه ورسره وو اودخیبر والا مشر یو سرکش اورشریر سړې وو هغه نبي عليه السلام ته راغې اووئې وئیل اې محمد آیا ستاسودپاره جائز دي چه زمونږه خره ذبح کړئ اوزمونږه میوي اوخورئ او زمونږه ښځې قتل کړئ نبي عليه السلام چه دا واوریدل نوغصه شو اووئې فرمائیل اې عبدالرحمن بن عوف په خپل اس باندې سور لاړ شه او ددې خبرې اعلان اوکړه چه جنت حلال نه دې مګرد مسلمانانو دپاره او تاسو ټول مونځ ته راجمع شئ هرکله چه هغوی راجمع شول نونبي عليه السلام مونځ ورکړو اودمونځ نه پس اودریدو اووئې فرمائیل ایاګمان کوي یوکس ستاسو په هغه وخت کښې چه ډډه ئې وهلي وي تکیه خپلې ته اوداګمان کوي چه الله تعالی څه شې نه دې حرام کړې مګرهغه څیزونه دی چه په دې قران کښې دي خبردار واورئ ماتاسوته نصیحت اوکړو اودیوڅوخبروحکم مې درته اوکړو اودیوڅوکارونونه ئې منع کړئ اوهغه هغه خبرې دي کومې چه په دې قران کښې دي یاددې نه زیاتي دي، یقینا الله تعالی ستاسو دپاره داهل کتابوکورونوته دهغوی داجازت نه بغیرتلل نه دی حرام کړي اونه ئې دهغوی دښځو وژل حلال کړی دی اونه ئې دهغود میوو خوړل حلال کړی دی مګرهغه کوم چه هغوی تاسوته درکوي اوهغه دهغوی په ذمه وی (یعنی جزئیه).

﴿ عن العرباض بن سارية السلمی رضي الله عنه قال نزلنا مع النبی صلى الله عليه وسلم خيبر ومعه من اصحابه وكان صاحب خيبر رجلا ماردا منكرا فاقبل الى النبی صلى الله عليه وسلم فقال يا محمد (صلى الله عليه وسلم) الخ ﴾

مضمون د حدیث:

مضمون د حدیث دا دې چه عرباض بن سارية فرمائي چه مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو او د هغوی سره صحابه کرام رضي الله عنهم هم وو نو یوه ورځ مو د خیبر سردار سره ملاقات اوشو چه ډیر سخت طبیعت والا وو هغه زمونږ په لیدو باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته متوجه شو او وې وئیل اې محمد (صلى الله عليه وسلم) آیا ستاسو دپاره دا جائز دی چه زمونږ څاروی ذبح کړئ، او زمونږ د باغونو میوې څنګه چه غواړئ اوخورئ، او زمونږ زنانه اووهئ؟ (بعض مسلمانانو به د دې قسم حرکت او د هغوی په مالونو کښې بې احتیاطی کړې وی) رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه په خبره اوریدو سره خاموش پاتې شو او ګویا د هغه اعتراض ئې برحق اوګنړلو او په داسې کونکو باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ډیر غصه ورغله، او رسول الله صلى الله عليه وسلم یو صحابی (غالبا عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه) ته اوفرمائیل چه لاړ شه او په آس باندې سور دا اعلان اوکړه ﴿الا، ان الجنة لا تحل الا لمومن﴾ چه جنت حلال نه دې مګر د هم هغه مسلمان دپاره چه امانت دار وی، او دا اعلان ئې هم پرې اوکړو چه د مانځه وخت نزدې دې ټول جمع شئ، پس ټول جمع شو رسول الله صلى الله عليه وسلم ټولو ته مونځ ورکړو او د مانځه نه پس اودریدو او دا خطبه ئې

اوفرمائیله ﴿ ایحسب احدکم متکئا علی اریکته ﴾ [1] آیا په تاسو کښې بعض خلق داسې دی چه په خپل تخت باندې ناست دی او تکیه ئې وهلې ده او وائی یا دا گڼړی چه الله پاک هیڅ څیز نه دې حرام کړې سوا د هغه حرامو څیزونو نه کوم چه په قرآن کریم کښې ذکر دی پوهه شئ قسم په الله ما تاسو ته د ډیرو څیزونو حکم درکړې دې او د ډیرو څیزونو نه مې منع کړې یئ او د دې قسم څیزونه هم په قرآن کښې د مذکور برابر دی او د دې نه زیات هم دی او په یو روایت کښې دی ﴿ وان ما حرم رسول اللهﷺ کما حرم الله ﴾ یعنی د کوم څیز حرام والې چه د رسول اللهﷺ د ژبې مبارکې نه وی هغه په حرمت کښې په مثل د هغې دې کوم چه په قرآن کښې حرام دې، او بیا رسول اللهﷺ د مثال په طور هغه څیزونه بیان کړل چه په هغې کښې بعض خلقو بې احتیاطی کړې وه کوم چه پورته په حدیث الباب کښې ذکر شوې دی، په تخت باندې تکیه لګول کنایه ده د عیش پرستئ او د آخرت د غفلت نه.

[٣٠٥١] [2] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَسَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ هِلَالٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ ثَقِيفٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ جُهَيْنَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَعَلَّكُمْ تُقَاتِلُونَ قَوْمًا فَتَظْهَرُونَ عَلَيْهِمْ فَيَتَّقُونَكُمْ بِأَمْوَالِهِمْ دُونَ أَنْفُسِهِمْ وَأَبْنَائِهِمْ"، قَالَ سَعِيدٌ فِي حَدِيثِهِ: فَيُصَالِحُونَكُمْ عَلَى صُلْحٍ، ثُمَّ اتَّفَقَا فَلَا تُصِيبُوا مِنْهُمْ شَيْئًا فَوْقَ ذَلِكَ فَإِنَّهُ لَا يَصْلُحُ لَكُمْ.

د جهینه قبیلې د یو کس نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی: تاسو به د یو قوم سره جنګ وکړئ او تاسو به ورباندې غالب شئ او هغوی به ستاسو نه خپل ځانونه او خپل اولاد په خپل مال باندې بچ کوي، سعید په خپل روایت کښې وئیلی دی چه: بیا به دوی ستاسو سره په مال صلح وکړي خو تاسو به د هغوی نه زیات نه وصول کوئ ځکه چه ستاسو دپاره زیات وصول کول جائز نه دي.

[٣٠٥٢] [3] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي أَبُو صَخْرٍ الْمَدِينِيُّ، أَنَّ صَفْوَانَ بْنَ سُلَيْمٍ، أَخْبَرَهُ عَنْ عِدَّةٍ، مِنْ أَبْنَاءِ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنْ آبَائِهِمْ دِنْيَةً، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَلَا مَنْ ظَلَمَ مُعَاهِدًا أَوِ انْتَقَصَهُ أَوْ كَلَّفَهُ فَوْقَ طَاقَتِهِ أَوْ أَخَذَ مِنْهُ شَيْئًا بِغَيْرِ طِيبِ نَفْسٍ فَأَنَا حَجِيجُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ".

صفوان بن سلیم د صحابه کرامو د یو تعداد ځامنونه روایت نقل کوي چه هغوی د خپلو پلرونونه اوریدلي چه کوم چه د یو بل رشته داران وو هغوی د نبی علیه السلام نه روایت نقل کړې دې چه فرمائیلي ئې وو: څوک چه په کوم ذمي باندې ظلم کوي یا د هغه په حق کښې کمي کوي یا د هغه د طاقت نه ورته زیات تکلیف ورکوي یا د هغه د مرضئ نه بغیر د هغه څه شي حاصلوي نو زه به د قیامت په ورځ د هغه د طرف نه جګړه کوم په ورځ د قیامت.

[1] وفي رواية كما في المشكوة : لا الفين احدكم متكئا علي اريكته ياتيه الامر من امري مما امرت به او نهيت عنه فيقول لا ادري ما وجدنا في كتاب الله اتبعناه وفي رواية : الا يوشك رجل شبعان علي اريكته يقول عليكم بهذا القرآن)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٧٠٧) (ضعيف)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٧٠٥) (صحيح)

قوله: ﴿ ان صفوان بن سليم اخبره عن عدة من ابناء اصحاب رسول الله ﷺ عن ابائهم دنية عن رسول الله ﷺ ﴾: دا لفظ دنية مصدر دې په معنی د دنو او منصوب دې بناء بر حاليت، او مطلب دا دې چه د څو صحابه کرامو ﷺ ځامن روايت کوی د خپلو پلارانو نه چه د هغوی سره هغه ځامن متصل النسب دی، يعنی د هغوی صلبی اولاد دې.

د حديث مضمون د ذمی په باره کښې دې چه څوک په هغه باندې ظلم او زياتی کوی يا د هغه د طاقت نه زيات د هغه نه کار اخلی او د هغه يو څيز بغير د هغه د رضا نه اخلی ﴿ فانا حجيجه يوم القيامة ﴾ نو د هغه ذمی د طرف نه به هغه انسان سره مقدمه کونکې د قيامت په ورځ زه پخپله يم.

بَابٌ فِي الذِّمِّيِّ يُسْلِمُ فِي بَعْضِ السَّنَةِ هَلْ عَلَيْهِ جِزْيَةٌ

څوک چه د کال په مينځ کښې اسلام قبول کړي د تېر شوي نيم کال جزيه به ترې نه شي اخستلې

[٣٠٥٣] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْجَرَّاحِ، عَنْ جَرِيرٍ، عَنْ قَابُوسَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ جِزْيَةٌ".

دابن عباس ﷺ نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائيلی دی: نشته په مسلمان باندې بدله.

شرح الحديث ومذاهب ائمة:

د حديث لفظ ﴿ ليس على المسلم جزية ﴾ دې په دې باندې دا شبه کيدې شی چه دا خبره خو بديهی ده چه په مسلمان باندې جزية نه وی بيا د دې د ذکر کولو نه څه فائده؟ غالبا هم په دې وجه وړاندې په روايت کښې راځی چه د سفيان ثوری ﷺ نه سوال اوکړې شو د دې حديث د معنی په باره کښې نو هغوی اوفرمائيل مراد دا دې چه که ذمی د کال په مينځ کښې اسلام راوړی نو اوس به د هغه نه جزية نه شی اخستلې بلکه ساقط به شی د تيرو مياشتو، په دې کښې د جمهور علماء کرامو او د ائمة ثلاثة مذهب هم دا دې او د امام شافعی ﷺ نه هم يو روايت هم دغه شان دې، خو معتمد قول دهغوی دا دې چه نه ساقطيږی بلکه اخستلې به شی (کمافی الاوجز عن شرح الاقناع) بعض شوافعو شراح (الخطابی فی المعالم) په دې حديث کښې د جزيه نه مراد خراج اخستلې دې، يعنی که ذمی اسلام قبول کړی او د هغه په لاس کښې خراجی زمکه وه نو د هغه نه به خراج ساقط شی، خو دويمه مسئله دا ده، دا خپله مختلف فيه ده، د احناف په نزد اسلام راوړلو سره د زمکې خراج نه ساقط کيږی، د امام شافعی ﷺ په نزد ساقط کيږی، او په دې کښې د هغوی په نزد تفصيل دې ياتی فی باب الدخول فی ارض الخراج...والحديث اخرجه الترمذی، قاله المنذری.

[٣٠٥٤] (²) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، قَالَ: سُئِلَ سُفْيَانُ، عَنْ تَفْسِيرِ هَذَا فَقَالَ: إِذَا أَسْلَمَ فَلَا جِزْيَةَ عَلَيْهِ.

محمدبن کثيروائی دسفيان نه ددې روايت دتفسير پوښتنه وکړې شوه وئې وئيل ددې مطلب دادې چه کله څوک اسلام قبول کړي نوجزيه ورباندې نشته.

¹): سنن الترمذي/الزكاة ١١ (٦٣٤)، (تحفة الأشراف: ٥٤٠٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٨٥/١) (ضعيف)
²): (صحيح)

بَاب فِي الْإِمَامِ يَقْبَلُ هَدَايَا الْمُشْرِكِينَ

بيان دهغه امام چه د مشركانو تحفې قبلوي

[٣٠٥٥] (١) حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ يَعْنِي ابْنَ سَلَّامٍ، عَنْ زَيْدٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَلَّامٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ الْهَوْزَنِيُّ، قَالَ: لَقِيتُ بِلَالًا مُؤَذِّنَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحَلَبَ، فَقُلْتُ: يَا بِلَالُ حَدِّثْنِي كَيْفَ كَانَتْ نَفَقَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: مَا كَانَ لَهُ شَيْءٌ كُنْتُ أَنَا الَّذِي أَلِي ذَلِكَ مِنْهُ مُنْذُ بَعَثَهُ اللَّهُ إِلَى أَنْ تُوُفِّيَ وَكَانَ إِذَا أَتَاهُ الْإِنْسَانُ مُسْلِمًا فَرَآهُ عَارِيًا يَأْمُرُنِي فَأَنْطَلِقُ فَأَسْتَقْرِضُ فَأَشْتَرِي لَهُ الْبُرْدَةَ فَأَكْسُوهُ وَأُطْعِمُهُ حَتَّى اعْتَرَضَنِي رَجُلٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ، فَقَالَ: يَا بِلَالُ إِنَّ عِنْدِي سَعَةً فَلَا تَسْتَقْرِضْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا مِنِّي فَفَعَلْتُ، فَلَمَّا أَنْ كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ تَوَضَّأْتُ ثُمَّ قُمْتُ لِأُؤَذِّنَ بِالصَّلَاةِ، فَإِذَا الْمُشْرِكُ قَدْ أَقْبَلَ فِي عِصَابَةٍ مِنَ التُّجَّارِ، فَلَمَّا أَنْ رَآنِي قَالَ: يَا حَبَشِيُّ قُلْتُ يَا لَبَّاهُ فَتَجَهَّمَنِي، وَقَالَ لِي قَوْلًا غَلِيظًا، وَقَالَ لِي: أَتَدْرِي كَمْ بَيْنَكَ وَبَيْنَ الشَّهْرِ؟ قَالَ: قُلْتُ قَرِيبٌ قَالَ: إِنَّمَا بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ أَرْبَعٌ فَآخُذُكَ بِالَّذِي عَلَيْكَ فَأَرُدُّكَ تَرْعَى الْغَنَمَ كَمَا كُنْتَ قَبْلَ ذَلِكَ، فَأَخَذَ فِي نَفْسِي مَا يَأْخُذُ فِي أَنْفُسِ النَّاسِ حَتَّى إِذَا صَلَّيْتُ الْعَتَمَةَ رَجَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَهْلِهِ فَاسْتَأْذَنْتُ عَلَيْهِ فَأَذِنَ لِي، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي إِنَّ الْمُشْرِكَ الَّذِي كُنْتُ أَتَدَيَّنُ مِنْهُ قَالَ لِي: كَذَا وَكَذَا وَلَيْسَ عِنْدَكَ مَا تَقْضِي عَنِّي وَلَا عِنْدِي وَهُوَ فَاضِحِي فَأْذَنْ لِي أَنْ آبَقَ إِلَى بَعْضِ هَؤُلَاءِ الْأَحْيَاءِ الَّذِينَ قَدْ أَسْلَمُوا حَتَّى يَرْزُقَ اللَّهُ رَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَقْضِي عَنِّي، فَخَرَجْتُ حَتَّى إِذَا أَتَيْتُ مَنْزِلِي فَجَعَلْتُ سَيْفِي وَجِرَابِي وَنَعْلِي وَمِجَنِّي عِنْدَ رَأْسِي حَتَّى إِذَا انْشَقَّ عَمُودُ الصُّبْحِ الْأَوَّلِ أَرَدْتُ أَنْ أَنْطَلِقَ، فَإِذَا إِنْسَانٌ يَسْعَى يَدْعُو: يَا بِلَالُ أَجِبْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَانْطَلَقْتُ حَتَّى أَتَيْتُهُ فَإِذَا أَرْبَعُ رَكَائِبَ مُنَاخَاتٌ عَلَيْهِنَّ أَحْمَالُهُنَّ فَاسْتَأْذَنْتُ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَبْشِرْ فَقَدْ جَاءَكَ اللَّهُ بِقَضَائِكَ، ثُمَّ قَالَ: أَلَمْ تَرَ الرَّكَائِبَ الْمُنَاخَاتِ الْأَرْبَعَ، فَقُلْتُ: بَلَى فَقَالَ: إِنَّ لَكَ رِقَابَهُنَّ وَمَا عَلَيْهِنَّ فَإِنَّ عَلَيْهِنَّ كِسْوَةً وَطَعَامًا أَهْدَاهُنَّ إِلَيَّ عَظِيمُ فَدَكَ فَاقْبِضْهُنَّ وَاقْضِ دَيْنَكَ، فَفَعَلْتُ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ ثُمَّ انْطَلَقْتُ إِلَى الْمَسْجِدِ فَإِذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ فِي الْمَسْجِدِ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَقَالَ: مَا فَعَلَ مَا قِبَلَكَ؟ قُلْتُ: قَدْ قَضَى اللَّهُ كُلَّ شَيْءٍ كَانَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَبْقَ شَيْءٌ، قَالَ: أَفَضَلَ شَيْءٌ قُلْتُ: نَعَمْ قَالَ: انْظُرْ أَنْ تُرِيحَنِي مِنْهُ فَإِنِّي لَسْتُ بِدَاخِلٍ عَلَى أَحَدٍ مِنْ أَهْلِي حَتَّى تُرِيحَنِي مِنْهُ، فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَتَمَةَ دَعَانِي فَقَالَ: مَا فَعَلَ الَّذِي قِبَلَكَ؟ قَالَ: قُلْتُ: هُوَ مَعِي لَمْ يَأْتِنَا أَحَدٌ، فَبَاتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ وَقَصَّ الْحَدِيثَ حَتَّى إِذَا صَلَّى الْعَتَمَةَ يَعْنِي مِنَ الْغَدِ دَعَانِي، قَالَ: مَا فَعَلَ الَّذِي قِبَلَكَ؟ قَالَ: قُلْتُ: قَدْ أَرَاحَكَ اللَّهُ مِنْهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَكَبَّرَ وَحَمِدَ اللَّهَ شَفَقًا مِنْ أَنْ يُدْرِكَهُ الْمَوْتُ وَعِنْدَهُ ذَلِكَ"، ثُمَّ اتَّبَعْتُهُ حَتَّى إِذَا جَاءَ أَزْوَاجَهُ، فَسَلَّمَ عَلَى امْرَأَةٍ امْرَأَةٍ حَتَّى أَتَى مَبِيتَهُ فَهَذَا الَّذِي سَأَلْتَنِي عَنْهُ.

دعبدالله هوزني نه روايت دي فرمائي چه زما په حلب كښې دنبي ﷺ دموذن بلاله سره ملاقات اوشو ما ورته اووئيل اي بلال دا راته بيان كړه چه نبي ﷺ به څه رنګي خرچ كولو؟ بلال اووئيل دنبي ﷺ سره چه كوم مال وو دهغه وخت نه چه الله ده ته نبوت وركړي وو تروفات كيدو پورې كله چه به ورته كوم مسلمان راغي اونبي ﷺ به بربند اوليدو نو ماته به ئې حكم اوكړو اوزه به لاړم په قرضو به مې ورله څادر واخستو او وربه مې كړو هغه به هغه كپړې واغوستلې اوهغه خوراك به ئې وخوړلو تردې چه يوه ورځ په مشركينو كښې

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٠٤٠) (صحيح الإسناد)

يو كس زماسره ملاو شو اووئې وئيل اې بلال زماسره كافي ډير مال موجوددې زمانه علاوه
دبل چانه قرض مه اخله چنانچه مابه همداسې كول مايوه ورځ اودس اوكړو اوداذان دپاره
پاځيدم اوي ليدل چه دغه مشرك دتاجرانو د يوې ډلې سره راغې كله چه ئې زه اوليدلم نو
اوئې وئيل اې حبشي ماورته اووئيل جناب هغه سختې كول شروع كړل اوماته ئې بدرد
اووئيل اودائې هم راته اووئيل ايا تاته پته ده چه دمياشتې پوره كيدوته څو ورځې پاتې
دي ماااووئيل هو، نيزدې ده يعنى يوڅو ورځې پاتې دي بيا ئې اووئيل اوګوره په مياشت
كښې صرف څلور ورځې پاتې دي زه به ستانه اخپل قرض اخلم زه به تاداسې كړم لكه
څرنګ چه به تامخكښې ګډې څرولې بلال وائي په دې خبره باندې زما په زړه كښې دومره
افسوس راغې څومره چه خلق افسوس كوي تردې چه كله زه دماسخوتن دمونځ نه فارغ شوم
او نبى عليه السلام خپل كور ته لاړو نوماهم ترې دورتلو اجازت وغوښتو ماته ئې اجازت راكړو
ماعرض اوكړو اې دالله رسوله ستانه دې زمامور اوپلار قربان شي دكوم مشرك نه چه به
ماقرض اخستو هغه راسره جنګ اوكړو اوماته ئې بد رد اووئيل اوستاسره خودومره مال
نشته چه زماقرضه پر اداشي اونه زما سره دومره مال موجود دې چه دقرض ادا كولو دپاره
پوره وي او هغه كس به مارسوا كړي ماته اجازت راكړه چه زه په قبائلو كښې چاته وروتښتم
په هغه خلقوكښې چاچه اسلام قبول كړې دې اودمدينې نه بهراوسيږي تردې پورې الله
تعالى خپل رسول ته دومره مال وركړي په څومره مال چه زماقرضه اداكيږي ددې خبرې په
كولو سره زه راروان شوم اوخپل كور ته راورسيدم اوماتوره موذې پيزار اوډال دبالح سره
كيښودل كله چه صبح صادق اوختو نوماد تختيد و اراده كړې وه ګورم چه په دې وخت
كښې يوسړې په منډه راغې اووئې وئيل اې بلال نبى عليه السلام دې غواړي چنانچه زه روان شوم
اودهغه په خدمت كښې حاضر شوم ماچه اوكتل نوهلته څلور اوښې ترلې شوې پرتې وې
ماداخليدو دپاره اجازت وغوښتو نبى عليه السلام اوفرمائيل اې بلاله خوشحاله شه الله تعالى
ستادقرض دادا كولو دپاره غيبي مال راليږلې دې نبى عليه السلام ددې نه پس اوفرمائيل ايا تا
اونه ليدل هغه څلور اوښان ماعرض اوكړو ولې نه نبى عليه السلام اوفرمائيل ته دغه څاروى هم
واخله اوهغه سامان هم واخله كوم چه په دوى باندې بار شوې دې اوته هغه هم واخله كومه
كپړه اوغله چه په دې اوښانوباندې پرته ده دامانه دفدك امير راليږلې دې ته دا واخله
اوخپله قرضه په دې باندې اداكړه ماه داسې اوكړل، بيا بلال اوفرمائيل زه جومات ته
حاضر شوم او اومې ليدل چه نبى عليه السلام ناست دې اسلام اوكړو هغه اوفرمائيل تاته دهغه مال
نه څه فائده حاصله شوه؟ ما اووئيل الله تعالى هغه ټول قرض ادا كړو كوم چه دهغه درسول
په ذمه وو شيخ قرضه باقي پاتې نشوه نبى عليه السلام اوفرمائيل ايا په دې مال كښې څه باقي
پاتې شوې دي ما عرض اوكړو هو ماته ئې اوفرمائيل كوم مال چه باقي پاتې شوې د هغه په
جلتئ سره خرچ كړه زه ترهغې پورې پورته نه ځم ترڅوچه تا ماته اطمينان نه وى راكړې كله
چه نبى عليه السلام دماسخوتن مونځ اوكړو ماته ئې رایاد كړل اووئې فرمائيل هغه مال څه شو كوم
چه ستاسره باقي پاتې شوې دې؟ ما ورته اووئيل هغه زماسره دې ماته هيڅ څوك رانغى چه
ما ورته دا وركړې وي يعنى مستحق، ملاو نه شو بيا نبى عليه السلام دشپې په جومات كښې قيام

اوکړو راوي وائي هرکله چه بله شپه د ماسخوتن دمونځ نه فارغ شو نوزه ئې راوغوښتم اوماته ئې اوفرمائيل هغه مال څنګه شو کوم چه ستاسره باقي پاتې شوي وو؟ ماعرض اوکړو اې دالله رسوله الله تعالى ته دهغه نه مطمئن کړي نبي ﷺ چه دا واوريدل نوتکبير ئې اووئيلو دالله تعالى شکرئې اداکړو اوحمدئې بيان کړو چه هغه ذات ماته دمال نه نجات راکړو، دنبي ﷺ سره دا انديخنه وه هسې نه چه زه وفات شم اودا مال زماسره موجود پاتې شي بيازه په هغه پسې روان وم اونبي ﷺ خپلو بيبيانوته ورغې اوهري يوې ته ئې سلام اوکړو تردې چه خپل ارام ګاه ته ورسيدو اې عبدالله داهغه خبره ده دکوې چه تا زمانه تپوس کړې دې۔

﴿ حدثني عبدالله الهوزني قال لقيت بلالا موذن رسول الله ﷺ بِحَلَبَ فقلت يا بلال حدثني كيف كانت نفقة رسول الله ﷺ قال ما كان له شئ كنت انا الذى الى ذلك منه منذ بعثه الله تعالى حتى توفى ﷺ الحديث ﴾

د رسول الله ﷺ د معيشت او د وخت تيرولو په باره کښې يو اوږد حديث

دا يو اوږد حديث دې چه د هغې مضمون دا دې عبدالله الهوزني وائي چه د رسول الله ﷺ موذن سيدنا بلال ﷜ سره زما ملاقات په حلب ښهر کښې اوشو (بلال ﷜ د رسول الله ﷺ د وفات نه پس د مديني طيبې نه شام ته تلې وو تردې چه وفات ئې هم هلته اوشو) ما اووې چه تن خو راته د رسول الله ﷺ د کور د اخراجاتو کيفيت بيان کړې. بلال ﷜ د هغه په درخواست باندې بيانول شروع کړل، او وې فرمائيل چه د رسول الله ﷺ سره به پيسې وغيره نه وې، او د دې کارونو ذمه دار هم زه اوم ﴿كنت انا الذى الى﴾ دا د متکلم صيغه ده يعني د رسول الله ﷺ د ضرورياتو لين دين او د اخستلو او خرڅولو، د رسول الله ﷺ د نبوت نه تر د وفات پورې، د رسول الله ﷺ دا حال وو چه کله به يو مسلمان هغوى ته راغلو او رسول الله ﷺ به هغه بربنډ اوليدو نو هغوى به ماته حکم اوکړو په دې باره کښې. نو ما به د چا نه قرض اخستلو سره د هغه دپاره څادر واخستلو او خوراک به مې پرې هم اوکړلو (دا د هغوى د يوې ورځې واقعه نه ده بلکه مطلب ئې دا ده چه هغوى سره به هميشه هم دغه شان کيدل چه ما به د چا نه قرض واخستلو او د ضرورت مندو ضرورتونه به مې د رسول الله ﷺ په فرمان باندې پوره کول) يوه ورځ داسې اوشوه چه يو مشرک سوداګر ماته راغلو هغه ماته اووې چه اې بلاله د چا نه قرض مه اخله، ما سره کافي ګنجائش دې صرف زما نه اخله. ما هم دغه شان کول. د يوې ورځې خبره ده چه د اودس کولو نه پس آذان ته اودريدم نو او مې کتل چه ناڅاپه هغه مشرک د څو سوداګرو سره زما مخې ته راغلو او ماته کتلو سره ئې اووئيل ﴿ ياحبشي! قلت يا لَبّاه ﴾ (د لبيک په شان د غائب ضمير سره هم استعماليږي) او په دې وينا سره ئې ما ته ډيرې خبرې اوکړې او وې وئيل چه تاته معلومه هم ده چه په مياشت پوره کيدو کښې څومره ورځې باقي پاتې شوې؟ ما اووې او پوره کيدو والا ده، وې وئيل صرف څلور ورځې باقي پاتې شوې دې، وې وئيل که په څلورو ورځو کښې دې ادا نه کړو، نو د هغې په بدله کښې به زه تا اونيسم او په تا باندې به بيزې څروم

څنګه چه به دي مخکښې څرولي، (وړاندي سیدنا بلال ﷺ فرمائی) چه هغه وخت زما زړه کښې داسې تنګ والي او پریشانی پیدا شوه کومه چه خلقو ته په داسې موقعو باندې وی، تردې چه کله زه د ماسخوتن د مانځه نه فارغ شوم او رسول الله ﷺ خپل کور ته تشریف یوړو، نو ما اجازت واخستلو او هغوی ته حاضر شوم او عرض مې اوکړو یا رسول الله ﷺ زما مور پلار دې په تاسو باندې قربان وی هغه مشرک د چا نه چه ما قرض اخستلو هغه ما ته نن داسې وئیلي دی، او نه خو تاسو سره د ادا کولو دپاره څه شته او نه ماسره، ﴿ وهو فاضحی ﴾ دا د اسم فاعل صیغه ده چه د یائې متکلم طرف ته مضاف شوې ده یعني هغه به ما نور هم رسوا کړی (که په وخت باندې د ادا کولو دپاره څه اونشو) لهذا ماته اجازت راکړئ چه د مدینې طیبې خواؤشا چه کومو بعض قبیلو اسلام راوړې دې هلته اوتختم، ترڅو چه الله پاک تاسو ته څه درکړی هغه څیز په کوم سره چه قرض ادا شی (رسول الله ﷺ زما په خبره اوریدو باندې خاموش وو) زه د رسول الله ﷺ نه راغلم، او خپل کور ته راتلو سره مې تهیلئ، څپلئ، توره او ډهال خپل سر ته کیخودل، تردې چه کله صبح صادق شو نو ما اراده اوکړه چه په سفر روان شم، هم دې دوران کښې یو سړي ما ته په منډه راغلو چه رسول الله ﷺ دې غواړی، زه د هغوی طرف ته روان شوم، په لاره کښې ما څلور اوښې اولیدې چه په هغې باندې سامان تړلي شوې وو، زه اجازت اخستلو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم، رسول الله ﷺ زما په لیدو سره اوفرمائیل خوشحاله شه، الله پاک ستا د قرض د ادا کولو انتظام اوفرمائیلو او وې فرمائیل ﴿ الم تر الرکائب المناخات الاربع ﴾ آیا تا څلور اوښې ناستې او نه لیدې ما عرض اوکړو جی او مې لیدې، رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا اوښې سره د دې سامانونو کوم چه په هغې باندې دی ستا په حواله دی، او رسول الله ﷺ دا هم اوفرمائیل چه په دې اوښو باندې کپړه او غله هم بار ده ﴿ اهداهن الی عظیم فدک ﴾ د فدک یهودو کښې یو لوئې سړی دا هدیة ماته رالیږلې ده، د دې په ذریعه خپل قرض ادا کړه، هغوی فرمائی چه ما هم دغه شان اوکړل، بعض سامان مې خرڅ اوکړو او خپل قرض مې پرې ادا کړو، د دې نه پس په روایت کښې دی ﴿ فذکر الحدیث ﴾ چه د هغې نه معلومیږی چه دلته نور هم څه مضمون وو کوم چه مصنف رحمه الله د اختصار په وجه حذف کړو، حضرت شیخ په بذل کښې د کنز العمال په حوالې سره د دې قصې باقی حصه نقل کړې ده، بیا (یعنی د قرض د ادا کولو نه پس) زه جمات ته لاړم نو اومې کتل چه رسول الله ﷺ تشریف فرما دې ما سلام عرض کړو؟ رسول الله ﷺ د قرض په باره کښې تپوس اوکړو، ما عرض اوکړو چه الله پاک قرض پوره ادا کړو، رسول الله ﷺ تپوس اوکړو څه مال بچ شوې دې؟ ما عرض اوکړو اوجی بچ شوې دې. رسول الله ﷺ اوفرمائیل ګوره په دې باقی باندې ماته آرام راکړه، ځکه چه زه به ترهغه وخته پورې خپلو کور والو کښې یو کره هم نه ورځم تردې چه ته ما ته د هغې نه آرام راکړې بیا چه کله ماښام شو او رسول الله ﷺ د ماسخوتن د مانځه نه پس فارغ شو، نو هغوی زه راغوښتلم او تپوس ئې رانه اوکړو چه د باقی مال څه اوشو؟ ما عرض اوکړو جی ماسره دې څوک ئې د اخستلو دپاره نه دی راغلی،

پس رسول الله ﷺ دا شپه په جمات کښې تیره کړه، بیا د دویمې شپې د ماسخوتن د مانځه نه فارغ شو نو زه ئې راطلب کړم او تپوس ئې رانه اوفرمائیلو، ما عرض اوکړو چه الله پاک تاسو ته د هغې نه ارام درکړو، رسول الله ﷺ په دې باندې تکبیر او د الله پاک حمد اووې.
﴿شفقا من ان یدرکه الموت وعنده ذلک﴾ یعنی رسول الله ﷺ د دې خبرې نه ویریدو چه چرته داسې او نه شی چه ماته په دې حال کښې مرګ راشی چه دا مال ماسره وی (د دې نه پس رسول الله ﷺ د ازواج مطهرات کورونو طرف ته لاړو) زه هم په هغوی پسې شاته لاړم نو رسول الله ﷺ تولو بیبیانو ته تشریف یوړو، هرې یوې بی بی محترمې ته د سلام کولو نه پس د نمبر ځائې ته اورسیدل (په آخر کښې سائل یعنی عبدالله الهوزنی ته فرمائی) ﴿فسکت عنی رسول الله ﷺ فاغتمزتها﴾ رسول الله ﷺ زما د تولې خبرې اوریدو نه پس خاموشی اختیار کړه یعنی د قصې په شروع کښې، پس دا حالت زما خوښ نه شو، غالبا اشاره د رسول الله ﷺ خاموشئ ته ده چه رسول الله ﷺ د تسلئ یو جمله هم او نه فرمائیله، دا هم د هغوی د تعلق او د مینې خبره ده چه داسې وائی، د دې حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت ښکاره دې، اګر چه عظیم فدک یهودی وو، خو یهود هم د مشرکانو په حکم کښې دی ﴿لقوله تعالی قالت الیهود عزیر ابن الله﴾ اګر چه په بعض نورو احکامو کښې په مشرکانو او یهودو کښې یقینا فرق دې.

[٣٠٥٦](١) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ، بِمَعْنَى إِسْنَادِ أَبِي تَوْبَةَ وَحَدِيثِهِ، قَالَ: عِنْدَ قَوْلِهِ مَا يَقْضِي عَنِّي فَسَكَتَ عَنِّي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاغْتَمَزْتُهَا.

محمود بن خالد هم دمروان بن محمدنه اوهغه دمعاویه نه دتیرروایت په شان روایت نقل کړې دې مګرپه دې کښې دااضافه ده چه کله ما نبی ﷺ ته عرض وکړوچه نه زماسره مال شته اونه ستاسره دومره سرمایه شته چه دقرض دپاره پوره شي نو نبی ﷺ ددې په اوریدو سره خاموش پاتې شوارمادامحسوس کړه چه شاید دې زما په خبره باندې خفه شو.

[٣٠٥٧](٢) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا عِمْرَانُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الشِّخِّيرِ، عَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ، قَالَ: أَهْدَيْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاقَةً، فَقَالَ "أَسْلَمْتَ، فَقُلْتُ: لَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي نُهِيتُ عَنْ زَبْدِ الْمُشْرِكِينَ".

دعیاض بن حمارنه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ ته مې یوه سورلی هدیه کړه نو هغه راته اوفرمائیل ایا اسلام دې قبول کړو؟ماووئیل نه نو نبی ﷺ اوفرمائیل زه دمشرکانو دهدې قبلولونه منع کړې شوې یم.

﴿عن عیاض بن حمار ﷺ قال اهدیت للنبی ﷺ ناقة فقال اسلمت؟ قلت لا فقال النبی ﷺ انی نهیت عن زبد المشرکین﴾

١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٠٤٠) (صحيح الإسناد)
٢): سنن الترمذي/السير ٢٤ (١٥٧٧)، (تحفة الأشراف: ١١٠١٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٢/٤) (حسن صحيح)

د مشرکینو د هدایا قبلولو او نه قبلولو په باره کښې دوه مختلف احادیث:

دا حدیث د مخکښې حدیث په ظاهره خلاف دې چه په هغې کښې د رسول اللهﷺ د عظیم فدک د هدیې قبلولو ذکر دې، او په دې حدیث کښې رسول اللهﷺ دا فرمائی چه زه د مشرکانو د عطیې د قبلولو نه منع کړې شوې یم، بیهقی رحمه الله فرمائی چه ﴿ روایات القبول اصح﴾ او هغوی فرمائی، او یا دې دا اوونیلې شی چه د منع تعلق د مشرکینو د هدایا سره دې، او د قبول په روایاتو کښې د اهل کتابو د هدایا ذکر دې [۱] او خطابی وائی چه دا د منع روایت منسوخ دې ځکه چه رسول اللهﷺ د ډیرو مشرکانو هدایا قبول کړې دی، لکه مقوقس ماریه قبطیه رضی الله عنها او بغله. او هم دغه شان اکیدر دومه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې هدیه پیش کړه. آه (مختصرا من البذل) هم دغه شان په باب احیاء الموات کښې د ملک آیله د هدیه ذکر دې. ﴿ فاتینا تبوک فاهدی ملک ایلة الی رسول اللهﷺ بغلة بیضاء ﴾ امام ترمذی رحمه الله هم په دې تعارض باندې کلام کړې دې، هغوی د نسخ په باره کښې دواړه احتمالات لیکلې دی یعنی په دواړو کښې دې یو ته منسوخ اوبل ته ناسخ اوونیلې شی.

د کتاب الجهاد په آخر کښې ﴿ باب فی حمل السلاح الی ارض العدو ﴾ په هغې کښې چه کوم حدیث تیر شوې دې، په هغې کښې د مشرک د هدیه رد مذکور دې، فتذکر.

والحدیث اخرجه الترمذی وقال حسن صحیح، قاله المنذری

بَابٌ فِي إِقْطَاعِ الْأَرَضِينَ

د زمکې ورکولو بیان

په بعض نسخو کښې د دې باب نه مخکښې کتاب القطائع لیکلې شوې دې چه د هغې نه معلومیږی چه کتاب الخراج په دې ځائې باندې ختم شو.

د اقطاع او احیاء تعریف او په دواړو کښې فرق:

او د دې نه پاس دویم باب راروان دې د ﴿ احیاء الموات ﴾ دلته مصنف رحمه الله ترجمه قائم کړه اقطاع الارضین یعنی ارض ئې مطلقا ذکر کړو او د احیاء اضافت ئې موات طرف ته اوکړو، چه د هغې وجه دا ده چه احیاء بالاتفاق د ارض موات وی، موات یعنی ارض مباحه غیر مملوکه او هغه بنجر زمکه چه د چا په ملک کښې نه وی، فقهاء کرامو لیکلې دی چه موات هغه زمکه ده چه د چا په ملک کښې نه وی د ښهر نه بهر وی، او د مرافق بلد نه هم نه وی یعنی د ښهر د خلقو هغې سره څه ضرورت او فائده نه وی تړلې شوې. په خلاف د اقطاع چه هغه اکثر خو د ارض موات نه وی او کله د ارض مملوکه نه هم، یعنی امام د خپلې مملوکه زمکې نه اقطاع اوکړی یا مملوکه للغیر وی او د هغه په اجازت سره امام اقطاع اوکړی، دا د احنافو مسلک دې، د امام شافعی رحمه الله په نزد د امام دپاره ارض مملوکه لبیت المال اقطاع هم جائز ده، امام نووی رحمه الله د دې تصریح کړې ده.

---

[۱] پس وراندې چه د کومو هدایا ذکر د خطابی وغیره په کلام کښې راروان دې هغه ټول هدایا د اهل کتاب د طرف نه وې)

اقطاع وائي د وخت د خليفه د طرف نه د زمكې څه رقبې لره نامزد كول [1] قطيعه په معنى د جاګير چه د هغې جمع قطائع راځي، كتاب القطيعة يعنى جاګير نامه، چه د چا دپاره ئې امام اوليكى او ورئې كړى، اقطاع او احياء كښې فرق واضح دې، ځكه چه اقطاع د امام د فعل نوم دې هغه په بل څيز باندې موقوف نه دې، په خلاف د احياء چه هغه د زمكې د خدمت نوم دې، پس څوک چه د يو ارض مباحه غير مملوكه خدمت كولو سره هغه آباده كړى هغه به د هغې مالک شي، په دې كښې اختلاف دې چه په احياء كښې د امام اذن شرط دې كه نه، د امام صاحب رحمه الله په نزد ضرورى دې او د امام شافعى، احمد او صاحبينو رحمهم الله په نزد ضرورى نه دې، او د امام مالک رحمه الله په نزد په موات قريب كښې اذن شرط په بعيد كښې نه دى ، يعنى كومه چه د آبادئ نه زياته لرې وى.

[٣٠٥٨] [2] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مَرْزُوقٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْطَعَهُ أَرْضًا بِحَضْرَمَوْتَ.

علقمه بن وائل رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبى عليه السلام راته ديمن په حضرموت ښار كښې زمكه په طور دملكيت راكړې وه.

﴿عن علقمة بن وائل عن ابيه ان النبى صلى الله عليه وسلم اقطعه ارضا بحضر موت﴾

حضرموت د يمن مشهور علاقه ده چه په هغې كښې ډير ښهرونه دى، حضرموت كښې د اقطاع نه دا نه لازميږى چه هغه دې خاص په ښهر كښې وى ﴿ اذ لا يجوز عندنا فى المصر كما سياتى قريبا ﴾ والحديث اخرجه الترمذى، قاله المنذرى

[٣٠٥٩] [3] حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا جَامِعُ بْنُ مَطَرٍ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ، بِإِسْنَادِهِ مِثْلَهُ.

ابووائل په خپل سند سره دتيرشوى روايت په شان روايت نقل كړې دې.

[٣٠٦٠] [4] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ فِطْرٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ، قَالَ: خَطَّ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَارًا بِالْمَدِينَةِ بِقَوْسٍ، وَقَالَ: "أَزِيدُكَ أَزِيدُكَ".

دعمرو بن حريث رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبى عليه السلام راته په مدينه كښې دكور دپاره زمكه راكړه او پخپله لينده ئې كرخه راخكله اووئې فرمائيل نوره زمكه هم دركوم (يعنى

---

[1] په بدائع الصنائع كښې د زمكو اقسام او د احكامو په ضمن كښې ليكلى دى چه امام ته د اقطاع موات حق په دې وجه دې چه دا سبب دې د عمارت دبلاد دپاره ځكه چه د اقطاع نه پس چه كله هغه زمكه په رعايا كښې د چا ملكيت شى نو هغه د هغې خدمت كولو سره هغه آباده او فائده وركونكې كړى په دې وجه كه يو انسان د اقطاع نه پس د هغه زمكې خدمت كولو سره هغې فائده وركونكې نه كړى نو تر درې كالو پورې به هغه سره هيڅ تعرض نه شى كولې د درې كالو نه پس هم كه هغه څه نه كوى نو د هغه نه دې واپس واخستلې شى هغه زمكه به بيا موات شى لهذا اوس امام د هغه زمكې اقطاع د بل سرى دپاره كولې شى (بذل)

[2]): سنن الترمذي/الأحكام ٣٩ (١٣٨١)، (تحفة الأشراف: ١١٧٧٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٩٩/٦)، سنن الدارمي/البيوع ٦٦ (٢٦٥١) (صحيح)

[3]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١٧٧٣) (صحيح)

[4]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٧١٨) (ضعيف الإسناد)

اوس دومره واخله بیابه ئې زیاته کړم.

شرح الحدیث :

قوله: ﴿ عن فطر قال حدثنی ابی عن عمرو بن حریث قال خط لی رسول اللهﷺ دارا بالمدینة بقوس وقال ازیدک ازیدک ﴾: عمرو بن حریثؓ فرمائي چه رسول اللهﷺ زما دپاره د لیندۍ په ذریعه نخښه واچوله په مدینه طیبه کښې د یو کور د زمکې، یعنی د لیندۍ په ذریعه په زمکه باندې نخښه اچولو سره اوفرمائیل چه دومره حصه ستاسو دپاره ده، د امام د هم دې فعل نوم اقطاع دې، په دې حدیث کښې تصریح ده چه رسول اللهﷺ هغه صحابی ته د یو کور په اندازه زمکه په ښهر کښې ورکړه، د احنافو په نزد اقطاع فی المصر جائز نه دې ځکه چه په ښهر کښې کومه زمکه وی هغه به ضرور د چا ملک وی؟ جواب دا دې : الحدیث ضعیف ضعفه الائمة یرویه فطر بن خلیفة عن ابیه، وابوه مجهول، یا دې د حدیث تاویل اوکړې شی یعنی ﴿اقطع برضاء المالک. او ارضا ملکها هو صلی الله علیه وسلم ﴾

د دې حدیث د آخری جملې په شرح کښې دوه احتمالات لیکلی دی یو دا چه دا استفهام دې د رسول اللهﷺ د طرف نه چه رسول اللهﷺ د زمکې د ناپ کولو په وخت هغوی ته اوفرمائیل چه دومره مقدار کافی دې یا که نوره اضافه اوکړم، او دویم احتمال دا دې چه رسول اللهﷺ فرمائی دې صحابیؓ ته چه ګوره زه تا ته زیاته حصه درکوم، او دریم مطلب ئې دا دې چه اوس خو درله هم دومره درکوم روستو به ئې درته اضافه اوکړم.

[٣٠٦١]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْطَعَ بِلَالَ بْنَ الْحَارِثِ الْمُزَنِيَّ مَعَادِنَ الْقَبَلِيَّةِ وَهِيَ مِنْ نَاحِيَةِ الْفُرْعِ فَتِلْكَ الْمَعَادِنُ لَا يُؤْخَذُ مِنْهَا إِلَّا الزَّكَاةُ إِلَى الْيَوْمِ.

ترجمه: مالك بن ربيعة بن أبي عبد الرحمن د یوځو کسانونه اوریدلی دی چه نبی علیه السلام بلال بن حارث ته دقبلیه نوم کلي کانونه کوم چه دمکې اودمدینې په مینځ کښې واقع دې دفرع مقام طرف ته ورکړی وو، دننه پورې دزکات نه علاوه ددې کانونونه نور څه شې نه وصول کیږي.

﴿ عن ربیعة بن ابی عبدالرحمن عن غیر واحد ان النبی ﷺ اقطع بلال بن الحارث المزنی معادن القبلیة وهی من ناحیة الفرع فتلک المعادن لا یوخذ منها الا الزکوة الی الیوم ﴾

یعنی رسول اللهﷺ د بلال بن الحارث دپاره مقام قَبَل کښې د معادن (کانونو) اقطاع اوفرمائیله یعنی په طور د جاګیر ئې ورته ورکړل، قبل د یو ځائې نوم دې چه په په مدینه کښې د فرع په کلی کښې واقع دې، او د فرع په باره کښې ئې لیکلي دی چه هغه یو قریه ده په طرفونو د ربذه کښې ([2]) د هغې او د مدینې منورې ترمینځه د اتو بریدو فاصله ده. (بذل)

---

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٧٧٧)، وقد أخرجه: موطا امام مالك /الزكاة ٣ (٨)، مسند احمد (٣٠٦/١) (ضعيف)

[2]) ربذه خو د مدینې منورې نه په مشرق کښې د عراق قدیم په لاره واقع ده تقریبا د دوه سوو نه زیات کلومیتره فاصلې باندې، او فرع د مدینې منورې نه په جنوب مغرب کښې تقریبا اویا کلو میتره فاصله باندې دې، د مکې مکرمې په طرق اربعه معروفه کښې یو طریق فرعی هم دې کوم چه په کتاب الحج کښې تیر شوې دی.

په معدن کښې زکوة واجب وی یا خمس :

وړاندې په روایت کښې دی چه د هغه معادنو نه د هغه وخت نه تر اوسه پورې صرف زکوة اخستلې کیږی چه د هغې مطلب دې چه ربع العشر اخستلې کیږی حال دا چه د احنافو په نزد په معادن کښې خمس واجب وی، مسئله مختلف فیه ده، د احنافو په نزد په معدن کښې د خزانې په شان خمس واجب وی، په خلاف د جمهور علماء کرامو او ائمه ثلاثه چه د هغوی په نزد خمس صرف په کنز یعنی د جاهلیت په دفینو کښې دې او په معدن کښې زکوة واجب دې، د احنافو دلیل وړاندې په کتاب الخراج کښې د هغې په آواخرو کښې په ﴿ باب ما جآء فی الرکاز وما فیه ﴾ کښې را روان دې، یعنی د رسول الله ﷺ مشهور حدیث ﴿ وفی الرکاز الخمس ﴾ اصل کښې د رکاز په مصداق کښې اختلاف واقع دې د جمهور او ائمه ثلاثه په نزد رکاز د کنز په شان دی، کنز په اتفاق سره د جاهلیت د دفینې نوم دې او معدن بالاتفاق د هغه کان نوم دې چه مخلوق لله تعالی وی،[1] د احنافو په نزد د معدن مقابل کنز دې او رکاز د هغوی په نزد دواړو ته شامل دې، پس استدلال خو د هر دواړو ډلو هم د دې حدیث نه دې ﴿ وفی الرکاز الخمس ﴾ خو چونکه د رکاز په مصداق کښې د احنافو او د ائمة ثلاثه اختلاف شو، په دې وجه په دې مسئله کښې هم اختلاف شو.

د معادن قبلیه والا حدیث د احنافو د طرف نه جوابات :

خو د حدیث الباب نه ښکاره ده چه د جمهورو تائید کیږی، د احنافو د طرف نه د دې ډیر جوابونه کړې شوې دی، اول دا چه په دې حدیث کښې دا جمله ﴿ فتلک المعادن الخ ﴾ متکلم فیه ده. حضرت شیخ په دې باندې په اوجز ج۳ کښې تفصیلی کلام فرمائیلې دې او بیا ئې په اخیر کښې د خلاصې په طور د دې حدیث شپږ جوابونه ذکر کړې دی .وفیه واستدل من قال بوجوب الزکوة فی المعادن بحدیث بلال المذکور، واجیب عنه بوجوه الاول ما تقدم من کلام الحافظ ان زیادة وجوب الزکوة لا توجد فی الروایات الموصولة (یعنی دا اصل حدیث خو مشهور او صحیح دې) خو د دې آخری جمله هغه متکلم فیه ده. په روایات موصوله کښې نه ده ذکر کړې شوې، صرف په روایات مرسله کښې ده، والثانی ما تقدم من کلام الشافعی د دې حاصل هم دا دې چه دا ټکړه ثابت نه ده، الثالث ما اشار الیه الامام محمد ﷫ فی موطاه اذ قال بعد ذکر حدیث الباب قال محمد : الحدیث المعروف ان النبی ﷺ قال فی الرکاز الخمس الخ وهو اشارة الی ان حدیث الباب یخالف الحدیث المعروف فهو شاذ والرابع والخامس ما فی الزیلعی : قال ابو عبید فی کتاب الاموال : حدیث منقطع ومع انقطاعه لیس فیه ان النبی ﷺ امر بذلک، وانما قال یوخذ منها الزکوة الی الیوم، قال ابن الهمام یعنی فیجوز کون ذلک من اهل الولایات اجتهادا منهم والسادس

---

[1]) لهذا د کنز او معدن ترمینځه بالاتفاق د مفهوم په اعتبار سره د تباین نسبت شو، الاول مدفون والثانی مخلوق، او د جمهورو په نزد رکاز او معدن دواړو کښې هم د تباین نسبت دې ځکه چه رکاز د هغوی په نزد مرادف دې د کنز. او د احنافو په نزد رکاز او باقی دواړو کښې د عموم وخصوص نسبت شو، رکاز عام دې دواړو ته شامل دې لهذا په دواړو کښې به خمس واجب وی)

ما اجاب به صاحب البدائع : يحتمل انه انما لم ياخذ منه ما زاد على ربع العشر لما علم من حاجته وذلك جائز عندنا، يعني د دې صحابي د حاجت او فقر د وجې رسول الله ﷺ صرف د هغوی نه په زکوة اخستلو باندې اکتفاء اوکړه د خمس په ځائې اهـ يو جواب بل هم ورکړې شوې دې چه مراد دا دې چه د حوالان حول نه پس رسول الله ﷺ د هغوی نه زکوة واخستلو، (واما فى الحال فالخمس)

[٣٠٦٢]() حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَاتِمٍ، وَغَيْرُهُ، قَالَ الْعَبَّاسُ حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو أُوَيْسٍ، حَدَّثَنَا كَثِيرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ الْمُزَنِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْطَعَ بِلَالَ بْنَ الْحَارِثِ الْمُزَنِيَّ مَعَادِنَ الْقَبَلِيَّةِ جَلْسِيَّهَا وَغَوْرِيَّهَا، وَقَالَ غَيْرُهُ: جَلْسَهَا وَغَوْرَهَا، وَحَيْثُ يَصْلُحُ الزَّرْعُ مِنْ قُدْسٍ وَلَمْ يُعْطِهِ حَقَّ مُسْلِمٍ وَكَتَبَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ هَذَا مَا أَعْطَى مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ بِلَالَ بْنَ الْحَارِثِ الْمُزَنِيَّ أَعْطَاهُ مَعَادِنَ الْقَبَلِيَّةِ جَلْسِيَّهَا وَغَوْرِيَّهَا، وَقَالَ غَيْرُ الْعَبَّاسِ: جَلْسَهَا وَغَوْرَهَا وَحَيْثُ يَصْلُحُ الزَّرْعُ مِنْ قُدْسٍ وَلَمْ يُعْطِهِ حَقَّ مُسْلِمٍ. قَالَ أَبُو أُوَيْسٍ: وَحَدَّثَنِي ثَوْرُ بْنُ زَيْدٍ مَوْلَى بَنِي الدِّيلِ بْنِ بَكْرِ بْنِ كِنَانَةَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ مِثْلَهُ.

کثير بن عبدالله بن عمرو دخپل پلار نه اوهغه دده دنيکه نه روايت کوی چه نبی ﷺ بلال بن حاث مزني ته دقبليه نوم کلي کانونه کوم چه دمکې اودمدينې په مينځ کښې واقع دي دفرع مقام طرف ته ورکړی وو، اوپه قدس غرکښې د کروندې لائق زمکه په طور دملکيت ورکړې وه اودکوم مسلمان دحق نه ئې ورته نه وه ورکړی اونبی ﷺ دهغه دپاره يودستاويز تحرير کړې وو دهغه تحرير مضمون داسې وو : بسم الله الرحمن الرحيم، داهغه خط دې دکوم په لحاظ سره چه محمد الرسول الله ﷺ بلال بن حارث مزني ته دقبيله کي دکانونو تيکه ورکړې وه کوم چه پورته اوښکته واقع دي اوهغه زمکه کومه چه په قدس کښې د کروندې قابل ده، اوده ته مې دکوم مسلمان حق نه دې ورکړې، ابو اويس راوي وائی چه ماته دثور بن زيد بن ويل ازاد کړي غلام داسې حديث بيان کړې وو کوم چه هغه دعکرمه نه اوريدلې وو اوهغه دابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړې وو.

﴿ حدثنا العباس بن محمد بن حاتم وغيره الخ ﴾

د دې معادن قبليه والا حديث مصنف رحمه الله په ډيرو طرقو سره ذکر کړې دې، په دې کښې رومبې طريق چه کوم تير شو هغه مرسل دې، او دويم طريق او د دې نه پس چه کوم طريق دې هغه مسند دې، خو طريق مسند ضعيف دې ځکه چه په هغې کښې کثير بن عبدالله ابن عمرو بن عوف المزنی دې چه منکر الحديث دې، بلکه د هغوی تکذيب هم کړې شوې دې، ﴿ قال ابو زرعة واهى الحديث، وقال النسائى والدارقطنى متروک الحديث، وقال ابن عبدالبر مجمع على ضعفه (بذل) ﴾ په ظاهره مصنف رحمه الله طريق مسند موخر ځکه کړو چه هغه ضعيف دې.

١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٠١٥، ١٠٧٧٧) (حسن)

[٣٠٦٣]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ النَّضْرِ، قَالَ: سَمِعْتُ الْحُنَيْنِيَّ، قَالَ: قَرَأْتُهُ غَيْرَ مَرَّةٍ يَعْنِي كِتَابَ قَطِيعَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وحَدَّثَنَا غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ حُسَيْنِ بْنِ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو أُوَيْسٍ، حَدَّثَنِي كَثِيرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْطَعَ بِلَالَ بْنَ الْحَارِثِ الْمُزَنِيَّ مَعَادِنَ الْقَبَلِيَّةِ جَلْسِيَّهَا وَغَوْرِيَّهَا، قَالَ ابْنُ النَّضْرِ: وَجَرْسَهَا وَذَاتَ النُّصُبِ، ثُمَّ اتَّفَقَا وَحَيْثُ يَصْلُحُ الزَّرْعُ مِنْ قُدْسٍ وَلَمْ يُعْطِ بِلَالَ بْنَ الْحَارِثِ حَقَّ مُسْلِمٍ، وَكَتَبَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا مَا أَعْطَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَالَ بْنَ الْحَارِثِ الْمُزَنِيَّ أَعْطَاهُ مَعَادِنَ الْقَبَلِيَّةِ جَلْسَهَا وَغَوْرَهَا وَحَيْثُ يَصْلُحُ الزَّرْعُ مِنْ قُدْسٍ وَلَمْ يُعْطِهِ حَقَّ مُسْلِمٍ، قَالَ أَبُو أُوَيْسٍ: وحَدَّثَنِي ثَوْرُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ، زَادَ ابْنُ النَّضْرِ، وَكَتَبَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ.

حمد بن نضر وائی داسحق بن ابراهیم نه مې داخبره دونیلو په وخت کښې اوریدلې وه چه مادنبی ﷺ دا تحریر څوځله ولوستو په کوم کښې چه دمقطعې ذکر وو، ابوداود وائی مونږ ته حدیث بیان کړې شوې دې چه خلقو دحسین بن محمد نه اوهغه داویس نه اوریدلی دی اویس وائی مونږ ته کثیر بن عبدالله حدیث بیان کړې دې کوم چه هغه دخپل پلارنه اوهغه دده دنیکه نه نقل کړې وو چه نبی ﷺ د قبلیه نومې کلې کانونه په مقطعه طور باندې بلال بن حارث مزنې ته ورکړی وو کوم چه په لوړو او ژغرنده ځایونو کښې واقع وو اوهغه ځایونه هم کوم چه د کرلو قابل وو د قدس په غرکښې باهرهغه ځائې کوم چه لوړ وې هغه ئې ورته ورکړل او نبی ﷺ بلال بن حارث مزنې ته دکوم مسلمان حق نه وو ورکړې ابواویس وئیلی دی چه ماته ثور بن یزید دعکرمه نه حدیث بیان کړې دې اوهغه دابن عباس رضي الله عنه نه اوهغه دنبی ﷺ نه ددې روایت په شان روایت بیان کړې مگر ابن نضر دا اضافه کړې ده چه داتحریر أبی بن کعب لیکلې وو.

﴿ جلسیها وغوریها ﴾ جلسنی اوچتې زمکې او غوری ښکته زمکې ته وائی، یعنی تول معادنن دقبلیه که هغه په اوچته زمکه کښې وی یا په ښکته زمکه کښې وی، په دې طریق کښې کتاب القطیعة هم ذکر شوې دې.

﴿ قال ابن نضر : وجرسها ﴾ یعنی ابن النضر په ځائې د جلیسها، جرسها وئیلې دې، خو دلته د دې لفظ هیڅ معنی نه جوړیږی کذا قیل، ﴿ ذات النصب ﴾ مدینې طیبې ته نږدې د یو ځائې نوم دې، او قُدس د یو مشهور غر نوم دې یا هر هغه ځائې کوم ځائې چه د کروندې صلاحیت وی.

[٣٠٦٤]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ الثَّقَفِيُّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْمُتَوَكِّلِ الْعَسْقَلَانِيُّ، الْمَعْنَى وَاحِدٌ أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ يَحْيَى بْنِ قَيْسٍ الْمَأْرِبِيَّ حَدَّثَهُمْ، أَخْبَرَنِي أَبِي، عَنْ ثُمَامَةَ بْنِ شَرَاحِيلَ، عَنْ سُمَيِّ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ شُمَيْرٍ، قَالَ ابْنُ الْمُتَوَكِّلِ ابْنِ عَبْدِ الْمَدَانِ، عَنْ أَبْيَضَ بْنِ حَمَّالٍ، أَنَّهُ وَفَدَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَقْطَعَهُ الْمِلْحَ، قَالَ ابْنُ الْمُتَوَكِّلِ: الَّذِي بِمَأْرِبَ فَقَطَعَهُ لَهُ فَلَمَّا أَنْ وَلَّى، قَالَ رَجُلٌ مِنَ الْمَجْلِسِ: أَتَدْرِي مَا قَطَعْتَ لَهُ إِنَّمَا قَطَعْتَ لَهُ الْمَاءَ الْعِدَّ، قَالَ: فَانْتَزَعَ مِنْهُ، قَالَ وَسَأَلَهُ عَمَّا يُحْمَى مِنَ الْأَرَاكِ، قَالَ: مَا لَمْ تَنَلْهُ خِفَافٌ وَقَالَ ابْنُ الْمُتَوَكِّلِ: أَخْفَافُ الْإِبِلِ.

١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٧٧٧) (حسن)

٢): سنن الترمذي/الأحكام ٣٩ (١٣٨٠)، سنن ابن ماجه/الرهون ١٧ (٢٤٧٥)، (تحفة الأشراف: ١)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/البيوع ٦٦ (٢٦٥٠) (حسن لغيره)

دابیض بن حمال رضی الله عنه نه روایت دی فرمائی چه د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم اوعرض مې اوکړو چه دیمن دمارب کلي دمالګي کان را که نبی ﷺ ورته هغه کان ورکړو کله چه ابیض - لاړو نویوکس عرض اوکړو اې دالله رسوله ایا تاته معلومه ده چه ده ته دې څه ورکړل؟ تاخوده ته تیاري اوبه ورکړې نبی ﷺ چه دا واوریدل نودده نه ئې واپس کړل ده بیادنبی ﷺ نه تپوس اوکړو چه ددغه زمکې نه دې دکیکر دغنو شپول تاوکړې شي چه څوك ورته نه ورځي اوخپل څاروی په کښې نه څروي نبی ﷺ اوفرمائیل چه داوښانو خپې ورته ونه رسیږي (یعنی چه د چراګاه او آبادئ نه جداوي).

﴿عن ابیض بن حمال انه وفد الی رسول الله ﷺ فاستقطعه الملح﴾

یعنی دې صحابی رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه د مالګې د کان اقطاع طلب کړه کومه چه په مقام د مارب کښې دی.

﴿قال رجل من المجلس اتدری ما قطعت له انما قطعت له المآء العد﴾

شرح الحدیث:

یعنی کله چه رسول الله ﷺ د ابیض بن حمال دپاره د مالګې د کان اقطاع اوکړه نو په حاضرین مجلس کښې یو سړی عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ تاسو ته پته هم شته چه تاسو ددې سړي دپاره دڅه څیز اقطاع فرمائیلې ده؟ تاسودهغه دپاره دداسې اوبو اقطاع فرمائیلې ده چه تیاره شوې مالګه ده، په دې باندې رسول الله ﷺ دا اقطاع واپس کړه.

علماء کرامو لیکلی دي چه کوم څیز ظاهر العین او حاضر النفع وی، چه د هغې نه بغیر د محنت او کوشش نه د آمدنئ وصولی اوشی د هغې اقطاع جائز نه ده په ظاهره په دې وجه چه په دې باندې موات کیدل نه صادق کیږي.

﴿قال: وساله عما یحمی من الا راک، قال ما لم تنله خفاف﴾

دلته د حمی نه مراد احیاء ده څکه چه د حمی خو زمونږ په شریعت کښې اجازت نشته لکه چه زر به په حدیث کښې راشی، اراک یعنی د کیکر اونه، یعنی هغه سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه د اراک کومې اونې داسې دی چه د هغې احیاء کول جائز دی رسول الله ﷺ اوفرمائیل د هغه اونو چه چرته اوښ تلو سره او نه رسیدی شی یعنی چه د آبادئ نه په زیاته فاصله باندې وی، د داسې اراک احیاء جائز ده او یا مطلب دا دې چه د اونو احیاء مطلقا جائز نه ده څکه اوښ خو تولو ځایونو ته رسیدې شی، یعنی احیاء خو د ارض موات وی د اشجارو نه، او دریمه معنی د دې جملې خپله په دې حدیث کښې را روانه ده ﴿یعنی ان الابل تاکل منتهی رؤسها ویحمی ما فوقه﴾ یعنی د اونو چه څومره حصه داسې ده چرته چه د اوښې سټ رسیدې شی، هغه پریخودلو سره د هغې نه د پورته حصې حمی جائز ده، ﴿فقال اراکة فی حظاری﴾ یعنی چه کله رسول الله ﷺ دا اوفرمائیل چه په اراک او اشجار کښې حمی نه وی نو هغه سړی اووې چه زه د هغې اراک په باره کښې تپوس کوم چه زما د زمکې په احاطه کښې دی، په ظاهره کښې مطلب دا دې چه دې سړی چه د کومو مواتو احیاء کړې وه او په هغې باندې ئې خپله نخښه وغیره کولو سره هغه محفوظ کړې وو نو په هغه زمکه

کښې څه اوني د اراک نه مخکښې قائم وې، نو هغه سړی اووې چه زه د داسې اونو په باره کښې سوال کوم نو په دې صورت کښې به د رسول الله ﷺ د جواب حاصل دا وی چه ته د هغې زمکې مالک شوې د احياء د وجې نه. خو د دې احياء د وجې نه به د اونو مالک نه ئې، خو که یو سړې د ارض موات احياء اوکړی او بیا د هغې نه پس په هغې کښې اونې پيدا شی د هغې حکم دا نه دې، د هغې به هغه مالک وی. (بذل)

[۳۰۶۵] (١) حَدَّثَنِي هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ الْمَخْزُومِيُّ: مَا لَمْ تَنَلْهُ أَخْفَافُ الْإِبِلِ يَعْنِي أَنَّ الْإِبِلَ تَأْكُلُ مُنْتَهَى رُءُوسِهَا وَيُحْمَى مَا فَوْقَهُ.

ترجمه: هارون بن عبد الله محمد بن حسن مخزومي نه نقل کوي چه د «ما لم تنله اخاف الإبل» مطلب دادې چه دومره غني لاربندولي شي چه داوښانو خولې ورته اونه رسيږي کوم ځائې ته چه داوښانو خولې رسيږي هغه نه بچ کيږی اوښان ئې خوري البته ددې نه اخوا بچ کيږي.

[۳۰۶۶] (٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَحْمَدَ الْقُرَشِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الزُّبَيْرِ، حَدَّثَنَا فَرَجُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنِي عَمِّي ثَابِتُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ أَبْيَضَ بْنِ حَمَّالٍ أَنَّهُ سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ حِمَى الْأَرَاكِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا حِمَى فِي الْأَرَاكِ، فَقَالَ: أَرَاكَةٌ فِي حِظَارِي، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا حِمَى فِي الْأَرَاكِ"، قَالَ: فَرَجٌ يَعْنِي بِحِظَارِي الْأَرْضَ الَّتِي فِيهَا الزَّرْعُ الْمُحَاطُ عَلَيْهَا.

دابيض بن حمال رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دنبی عليه السلام نه مې تپوس اوکړو دغنود شپول په باره کښې نبی عليه السلام اوفرمائيل دغنو شپول نه شی جوړيدې ده اووئيل داهغه غني وي کومې چه زما په فصل کښې ولاړې وي، بيانبی عليه السلام اوفرمائيل چه غني بندول نه شی راوستلې.

[۳۰۶۷] (٣) حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ أَبُو حَفْصٍ، حَدَّثَنَا الْفِرْيَابِيُّ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، قَالَ عُمَرُ وَهُوَ ابْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ قَالَ: حَدَّثَنِي عُثْمَانُ بْنُ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ صَخْرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزَا ثَقِيفًا، فَلَمَّا أَنْ سَمِعَ ذَلِكَ صَخْرٌ رَكِبَ فِي خَيْلٍ يُمِدُّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِ انْصَرَفَ وَلَمْ يَفْتَحْ، فَجَعَلَ صَخْرٌ يَوْمَئِذٍ عَهْدَ اللَّهِ وَذِمَّتَهُ أَنْ لَا يُفَارِقَ هَذَا الْقَصْرَ حَتَّى يَنْزِلُوا عَلَى حُكْمِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمْ يُفَارِقْهُمْ حَتَّى نَزَلُوا عَلَى حُكْمِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَكَتَبَ إِلَيْهِ صَخْرٌ: أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ ثَقِيفًا قَدْ نَزَلَتْ عَلَى حُكْمِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَأَنَا مُقْبِلٌ إِلَيْهِمْ وَهُمْ فِي خَيْلٍ، فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالصَّلَاةِ جَامِعَةً فَدَعَا لِأَحْمَسَ عَشْرَ دَعَوَاتٍ اللَّهُمَّ بَارِكْ لِأَحْمَسَ فِي خَيْلِهَا وَرِجَالِهَا، وَأَتَاهُ الْقَوْمُ فَتَكَلَّمَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ، فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ إِنَّ صَخْرًا أَخَذَ عَمَّتِي وَدَخَلَتْ فِيمَا دَخَلَ فِيهِ الْمُسْلِمُونَ فَدَعَاهُ فَقَالَ: "يَا صَخْرُ إِنَّ الْقَوْمَ إِذَا أَسْلَمُوا أَحْرَزُوا دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ فَادْفَعْ إِلَى الْمُغِيرَةِ عَمَّتَهُ، فَدَفَعَهَا إِلَيْهِ وَسَأَلَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لِبَنِي سُلَيْمٍ قَدْ هَرَبُوا عَنِ الْإِسْلَامِ وَتَرَكُوا ذَلِكَ الْمَاءَ، فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ أَنْزِلْنِيهِ أَنَا وَقَوْمِي، قَالَ: نَعَمْ فَأَنْزَلَهُ وَأَسْلَمَ، يَعْنِي السُّلَمِيِّينَ فَأَتَوْا صَخْرًا فَسَأَلُوهُ أَنْ يَدْفَعَ إِلَيْهِمُ الْمَاءَ فَأَبَى، فَأَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا: يَا نَبِيَّ اللَّهِ أَسْلَمْنَا

(١): تفرد به أبو داود (ضعيف جداً)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣)، وقد أخرجه: دي/ البيوع ٦٦ (٢٦٥٠) (حسن لغيره) (ملاحظه هو: صحيح ابي داود ٨/ ٣٩٠)

(٣): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٤٨٥١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/ ٣١٠)، سنن الدارمي/الزكاة ٣٤ (١٧١٥) (ضعيف الإسناد)

وَأَتَيْنَا صَخْرًا لِيَدْفَعَ إِلَيْنَا مَاءَنَا فَأَبَى عَلَيْنَا فَأَتَاهُ فَقَالَ: يَا صَخْرُ إِنَّ الْقَوْمَ إِذَا أَسْلَمُوا أَحْرَزُوا أَمْوَالَهُمْ وَدِمَاءَهُمْ فَادْفَعْ إِلَى الْقَوْمِ مَاءَهُمْ، قَالَ: نَعَمْ يَا نَبِيَّ اللَّهِ"، فَرَأَيْتُ وَجْهَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَغَيَّرُ عِنْدَ ذَلِكَ حُمْرَةً حَيَاءً مِنْ أَخْذِهِ الْجَارِيَةَ وَأَخْذِهِ الْمَاءَ.

دصخر بن عیل رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه نبی علیه السلام دطائف په قلاکښې د قبیله بنو ثقیف سره جهاد اوکړو هرکله چه صخر دا واوریدل نوپه اسونوسواره یوڅوکسان ئې دځان سره دنبی علیه السلام دامداد دپاره بوتلل و ئې لیدل چه نبی علیه السلام تلې دې اوفتح نه ده شوې صخرپه دغه ورځ دالله تعالی سره لوظ اوکړو چه زه به دا قلا نه پریږدم ترڅوچه مافتح نه وی حاصله کړې اوترڅوچه دې خلقو دنبی علیه السلام فرمان په قبلولوسره داخانې نه وي خالی کړې، هغه ددوی سره په جنګ شروع شو تردې چه قلعه ئې فتح کړه اوخلق ترې راکوز شول په دې وخت کښې صخر نبی علیه السلام ته ولیکل چه اې دالله رسوله دحمد اوصلات نه پس دې واضح وي چه دبنوثقیف خلق ستادپیغام په قبلولوسره د قلا نه راکوز شول اوزه هغوی ته ورځم اودهغوی سره اسونه دی کله چه نبی علیه السلام ته داخبر اورسید و نودپه جمع سره دمونځ کولو حکم ئې وکړو اوقبیله احمس ته ئې لس پیری دعا اوکړه او وبې فرمائیل اې الله ته دقبیله احمس په اسونو اوسر وکښې برکت واچوې، دثقیف قبیلې والا ټول خلق دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شول په دې وخت کښې مغیره بن شعبه رضی الله عنه عرض اوکړو اې دالله رسوله صخر زما ترور ګرفتاره کړې ده حالانکې هغې اسلام قبول کړې وو نبی علیه السلام صخر راطلب کړو او ورته ئې اوفرمائیل کله چه څوک اسلام قبول کړې نودهغوی ځانونه او مالونه محفوظ کیږی په دې وجه ته مغیره ته دده ترور واپس حواله کړه چنانچه صخر مغیره ته دده ترور واپس حواله کړه بیاصخر عرض اوکړو چه دقبیله بنوسلیم یوه چینه ده دغه خلقو داسلام دویرې نه دغه اوبه پریخودلې دې او تختیدلې دې اې دالله رسوله ماته اوزما قوم ته ددې اوبو سره خواته داوسیدو اجازت راکړه نبی علیه السلام اوفرمائیل ته هلته اوسیږه بیاڅه ورځې پس بنی سلیم قبیلې والا مسلمانان شول اودوی دصخر نه دچینې دواپس کولو مطالبه اوکړه صخر انکاراوکړو نو په دې وخت کښې بنی سلیم قبیلې والا دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شول او عرض ئې اوکړو اې دالله رسوله مونږ اسلام قبول کړې دې مونږ صخر ته ورغلو چه مونږ ته زمونږ چینه را واپس کړې لیکن صخر انکار اوکړو نبی علیه السلام صخر راوغوښتو او وئې فرمائیل اې صخر کله چه یو قوم اسلام قبول کړې نوهغوی خپل ځانونه او مالونه محفوظ کړل دوی ته ددوی چینه حواله کړه صخر عرض اوکړو اې دالله رسوله په سر سترګو، صخر عرض اوکړو په دې وخت کښې ماد نبی علیه السلام مخ ته وکتل چه تك سور شو د حیادوجې نه چه مادهغه نه وینځه او اوبه واپس اخستلې وو.

﴿ حدثنی عثمان بن ابی حازم عن ابیه عن جده صخران رسول الله صلی الله علیه وسلم غزا ثقیفا ﴾

شرح الحدیث :

دا صخر بن عیله الاحمسی دې د ده د حدیث د شروع دا حصه مونږ د غزوه طائف په بیان کښې لیکلې ده هلته دې اوکتلې شی، د دې د وړاندې حصې شرح لیکلې شی، دا حدیث لږ

اورېد دي، او شرح ته هم محتاج دي. ﴿ فكتب اليه صخر اما بعد : فان ثقيفا قد نزلت على حكمك يا رسول الله ﴾

یعني صخر بن عیله چه کله دا د طائف حصن فتح کړو نو د دې اطلاع هغوی رسول الله ﷺ ته ورکړه ﴿ فدعا لاحمس عشر دعوات اللهم بارك لاحمس فى خيلها ورجالها ﴾ یعني رسول الله ﷺ د صخر بن عیله رضي الله عنه په دې کارنامې باندې خوشحالیدو سره د هغوی قوم احمس ته لس دعاګانې اوکړې چه د هغې نه یو دعا خو دلته ذکر ده باقی غیر مذکور دی او کیدې شی چه دا مراد وی چه رسول الله ﷺ هم دا دعا لس کرته اوکړه.

قوله:﴿ وتاه القوم فتكلم المغيرة بن شعبة فقال يا نبى الله ان صخرا اخذا عمتى ودخلت فيما دخل فيه المسلمون ﴾ د قوم نه مراد قبیله ثقیف دي، دا خو پورته ذکر شوه چه قبیله بنو ثقیف ایمان راوړې وو، نو په هغوی کښې بعضو یعني مغیره بن شعبه رضي الله عنه چه ثقفي دې هغوی رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه صخر بن عیله رضي الله عنه زما ترور (د پلار خور) نیولې ده حال دا چه هغه په اسلام کښې داخله شوې وه، د مغیره رضي الله عنه په دې خبره اورېدو سره رسول الله ﷺ صخر راطلب کړو او وې فرمائیل ﴿ ان القوم اذا اسلموا احرزوا دمائهم واموالهم فادفع الى المغيرة عمته ﴾ چه کله کافر خلق په اسلام کښې داخل شی نو د هغوی نفس او مال محفوظ شی، لهذا د مغیره رضي الله عنه ترور واپس کړه، هغوی واپس کړه. ﴿ وسال نبى الله ماء لبنى سليم قد هربوا من الاسلام وتركوا ذلك الماء ﴾ یعني د مغیره رضي الله عنه د ترور واپس کولو نه پس صخر بن عیلة د رسول الله ﷺ نه د قریه بنو سلیم سوال اوکړو چه د اسلام راوړلو نه بچ کیدو سره اوتختیدل، او هغه قریه ئې پریخودلې وه او درخواست ئې دا اوکړو چه ﴿ انزلنيه انا وقومى ﴾ چه په دې کښې ماته او زما قوم ته د اوسیدو اجازت راکړئ، رسول الله ﷺ د هغوی دا درخواست قبلولو سره هغوی ته هلته داوسیدو اجازت ورکړو ــــ د دې نه پس په روایت کښې دا دی چه بیا روستو دا خلق یعني بنو سلیم اسلام راوړلو او صخر رضي الله عنه ته راغلل او هغوی ته ئې اووې چه زمونږ قریه واپس کړئ، هغوی انکار اوکړو، هغوی رسول الله ﷺ ته راغلل او صورت حال ئې بیان کړو، رسول الله ﷺ بیا صخر رضي الله عنه راطلب کړو او وې فرمائیل ﴿ ان القوم اذا اسلموا احرزوا اموالهم ودمائهم ﴾ وې فرمائیل دا کلې واپس کړه، هغوی اووې ډیره ښه ده. ﴿ فرايت وجه رسول الله ﷺ يتغير ذلك حمرة حياء من اخذه الجارية واخذه الماء ﴾ راوی بیان فرمائی چه په دې موقع باندې ما رسول الله ﷺ اولیدو چه د هغوی مخ مبارک متغیر شوې وو صخر رضي الله عنه سره د دې معاملې کولو د شرم نه چه د هغه نه جاریة هم واخستلې شوه او قریه هم، اګر چه صخر رضي الله عنه څه تامل نه وو کړې د رسول الله ﷺ په فیصله باندې، خو رسول الله ﷺ پخپله شرمنده کیدو.

په حدیث باندې یو قوی اشکال او د هغې جواب:

دلته دوه خبر بیا موندلې شوې اول د مغیره رضي الله عنه د ترور واپس کول، دویم د بنو سلیم د کلي واپس کول، او دا واپسی رسول الله ﷺ پخپله دې وینا سره اوکړه چه کفار کله اسلام قبول

کړی نو که هغوی قیدیان وی او که غیر قیدیان نو د اسلام راوړلو نه پس د هغوی نفسونه او مال محفوظ شي، دلته د مغیره ﷺ د ترور په باره کښې خو دا احتمال دې چه کیدې شی چه هغې د صخر ﷺ د اخستلو نه مخکښې ایمان راوړې وی په دې صورت کښې د هغې واپسی د قاعدې مطابق ده خو د بنو سلیم د کلی په باره کښې په روایت کښې تصریح ده چه هغوی د اسلام نه مخ اړولې وو او دا چینه ئې پریخودلې وه او د دې نه روستو هغوی اسلام ته راغلل بیا هغوی د خپل کلی د واپسئ مستحق څرنګه وو؟ رسول الله ﷺ د دوارو په باره کښې هم دا قاعده اوفرمائیله چه ﴿ ان القوم اذ سلموا احرزوا دمائهم واموالهم ﴾ کافر قیدی که روستو اسلام راوړی نو د هغوی نفس او مال د غنیمت کیدو نه خو نه خارج کیږی دا خو اجماعی مسئله ده، دا ډیر سخت مقام دې (١) شراح د دې توجیه دا کړې ده (٢) اصل خبره دا ده چه رسول الله ﷺ ته دا د بنو سلیم چینه او هم دغه شان د مغیره ﷺ ترور واپس کول وو د څه مصلحت په بنیاد باندې په دې وجه رسول الله ﷺ چه دا جمله ارشاد اوفرمائیله چه ﴿ ان القوم اذا اسلموا احرزو الخ ﴾ په دې کښې رسول الله ﷺ توریه اختیار اوفرمائیله، یعنی ګول مول خبره ئې اوکړه، اصل مراد ئې ښکاره نه کړو د مقام د مصلحت د وجې نه، د دې جملې معنی حقیقی او مرادی خو دا ده چه کفار که قبل الاخذ او قبل القید اسلام کښې داخل شی نو د هغوی نفسونه او مال مامون او محفوظ کیږی، خو د مخاطب او د سامع مخې ته رسول الله ﷺ دا معنی مرادی واضحه او نه فرمائیله قصدا بلکه دا جمله ئې په اطلاق او او عموم سره اوفرمائیله چه هغه یعنی صخر بن عیله پخپله د بنو سلیم چینه واپس کړی، پس هغوی واپس کړه یو واقعه په ابوداؤد کښې وراندې هم د دې قسم را روانه ده هلته رسول الله ﷺ اصل ضابطه شرعیه واضح فرمائیلې ده او دا فیصله ئې اوفرمائیله چه د قید کیدو نه پس کافر قیدی که اسلام راوړی نو بیا به هغه نه شی پریخودلې هغه به غلام او مملوک وی، دا واقعه په کتاب الایمان والنذور، ﴿ باب النذر فیما لا یملک ﴾ کښې راغلې، ﴿ عن عمران بن حصین ﷺ قال کانت العضباء لرجل من بنی عقیل وکانت من سوابق الحاج ﴾ الخ

د رسول الله ﷺ د عضباء اوښې واقعه:

د دې خلاصه دا ده چه د رسول الله ﷺ مشهوره اوښه عضباء چه په بنو عقیل کښې د یو کافر سړی وه هغه او د هغې مالک قید کړې شوې وو، رسول الله ﷺ په هغه باندې تیر شو په داسې حال کښې چه هغه سړې په قید کښې وو نو هغه رسول الله ﷺ ته سوال اوکړو چه تاسو زه او زما اوښه ولې نیولې یو؟ رسول الله ﷺ هغه ته الزامی جواب ورکړو چه ﴿ ناخذک

---

(١) که رسول الله ﷺ دا جمله ارشاد نه فرمائیلې نو مونږ به د دې حدیث دا تاویل کړې وې چه دا واقعه حال لاعموم لها د قبیلې نه ده.

(٢) خو د روایت بعض الفاظ د دې توجیه سره څه مطابقت نه لری، والله تعالی اعلم بمراد النبی ﷺ، باقې دا خبره اتفاقی ده چه په هغې باندې زمونږ ایمان دې چه د رسول الله ﷺ د خولې مبارکې نه هیڅ ناحق خبره نه شی راوتلې.

بجریرة حلفائک ثقیف قال وکان ثقیف قد اسروا رجلین من اصحاب النبیﷺ... وړاندې راوی وائی چه هغه سړی دا هم اووې ﴿ وانا مسلم ﴾ رسول اللهﷺ مخکښې روان شو هغه رسول اللهﷺ ته آواز ورکړو یا محمد یا محمد (ﷺ) رسول الله ﷺ بیا هغه ته راواپس شو او تپوس ئې ترې اوکړوځه خبره ده ؟ هغه اووې ﴿ انی مسلم ﴾ په دې موقع باندې رسول اللهﷺ اصل قاعده شرعیه د هغه مخې ته بیان کړه او وې فرمائیل ﴿ لو قلتها وانت تملک امرک افلحت کل الفلاح ﴾ یعنی که تا د قید کیدو نه مخکښې هم دا خبرې کړې وه نو په خپل مقصد کښې به کامیاب شوې وې، د قید کیدو نه پس اسلام راوړلو سره نفس نه بچ کیږی غلام پاتې کیږی (١)

[٣٠٦٨](٢) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي سَبْرَةُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ الرَّبِيعِ الْجُهَنِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ فِي مَوْضِعِ الْمَسْجِدِ تَحْتَ دَوْمَةٍ، فَأَقَامَ ثَلَاثًا ثُمَّ خَرَجَ إِلَى تَبُوكَ وَإِنَّ جُهَيْنَةَ لَحِقُوهُ بِالرَّحَبَةِ فَقَالَ لَهُمْ: "مَنْ أَهْلُ ذِي الْمَرْوَةِ؟" فَقَالُوا: بَنُو رِفَاعَةَ مِنْ جُهَيْنَةَ فَقَالَ: قَدْ أَقْطَعْتُهَا لِبَنِي رِفَاعَةَ فَاقْتَسَمُوهَا فَمِنْهُمْ مَنْ بَاعَ وَمِنْهُمْ مَنْ أَمْسَكَ فَعَمِلَ"، ثُمَّ سَأَلْتُ أَبَاهُ عَبْدَ الْعَزِيزِ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ، فَحَدَّثَنِي بِبَعْضِهِ وَلَمْ يُحَدِّثْنِي بِهِ كُلِّهِ.

سبره بن عبد العزیز بن الربیع الجهنی دخپل پلار نه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه د جهینه په کلي کښې په کوم ځائې کښې چه جومات دې هلته نبی ﷺ د یوې ونې لاندې درې ورځې ناست وو اوبیاتبوک ته روان شو د جهینه خلقو دنبی ﷺ سره په یوفراخ میدان کښې ملاقات اوکړو نبی ﷺ اوفرمائیل دلته څوک اوسیږي؟ خلقو عرض اوکړو چه دجهینه قبیلې یو شاخ بن رفاعه دلته اوسیږي نبی ﷺ چه دا واوریدل نوئې فرمائیل دا زمکه ما بنورفاعه ته ورکړه اوهغه خلقو دغه زمکه تقسیم کړه بعضې خلقو خپله حصه خرڅه کړه اوبعضو خلقو محفوظ وساتله او په دې کښې ئې محنت ومشقت (زمینداری) اوکړو. ابن وهب وائی باما ددې حدیث په باره کښې دصبره دپلار عبدالعزیز نه تپوس اوکړو هغه ئې راته یوڅه حصه بیان کړه او څه حصه ئې بیان نکړه.

﴿ عن ابیه عن جده ان النبی ﷺ نزل فی موضع المسجد تحت دومة فاقام ثلاثا ثم خرج الی تبوک ﴾

شرح الحدیث

مضمون د حدیث دا دې : ربیع بن سبرة الجهنی ﷺ فرمائی چه رسول اللهﷺ د غزوه تبوک په سفر کښې یو ځائې په لار کښې چه چرته روستو جمات هم جوړ شوې دې د یوې لوئې اونې د لاندې کوز شو او هلته ئې تر د درې ورځو پورې قیام اوفرمائیلو او بیا ئې وړاندې تبوک ته تشریف یوړو ، په لاره کښې چه کله رسول اللهﷺ یو فراخه میدان کښې وو د قبیله جهینه واله د رسول اللهﷺ د ملاقات دپاره راغلل هلته نزدې یو کلي وو چه د هغې نوم ذوالمروة وو ، رسول اللهﷺ تپوس اوکړو چه ذوالمروة کښې اوسیدونکی کوم خلق دی؟ په

(١) اوګوری: دلته رسول اللهﷺ د ښکاره قاعدې خبره بیان کړه.

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٨١٢) (ضعیف)

حاضرينو كښې بعضو جواب وركړو چه د قبيله جهينه شاخ بنو رفاعه دى. رسول اللهﷺ اوفرمائيل ﴿ قد اقطعتها لبنى رفاعة ﴾ چه د هغه كلى زه اقطاع كوم د بنو رفاعه دپاره (يعنى هم د هغوى دپاره كوم چه په هغې كښې اوسيږى) وړاندې په روايت كښې دى چه د رسول اللهﷺ د دې فرمان نه پس هغه خلقو هغه كلى خپل مينځ كښې باقاعده تقسيم كړلو بعضو خپله حصه خرڅه كړه او بعضو نه كړه، دا ذوالمرة په وادى القرى كښې يو كلې دې چه رسول اللهﷺ دهغې د اوسيدونكو دپاره اقطاع اوفرمائيله.

[٣٠٦٩]([1]) حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى يَعْنِي ابْنَ آدَمَ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْطَعَ الزُّبَيْرَ نَخْلًا.

داسماء بنت أبى بكر رضي الله عنها نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام ددې خاوند زبير بن العوام ته دكهجورو ونې تمليكا وركړې.

﴿ عن هشام بن عروة عن ابيه عن اسماء بنت ابى بكر ان رسول اللهﷺ اقطع الزبير نخلا ﴾ اسماء بنت ابى بكر رضي الله عنها فرمائى چه رسول اللهﷺ د هغې د خاوند زبير دپاره د كهجورو د يو باغ اقطاع اوكړه.

الكلام على الحديث من حيث الفقه :

د شوافعو په مسلک باندې خو په دې كښې هيڅ اشكال نشته ځكه چه د هغوى په نزد اقطاع د ارض مملوكه هم جائز ده، د احنافو په نزد جائز نه ده لكه چه مخكښې تير شو د اقطاع او احياء په تعريف كښې، په بذل كښې د ملا على قارى نه نقل كړې دى چه نحل چونكه داسې مال دې چه ظاهر العين او حاضر النفع دې چه د هغې اقطاع جائز نه ده، لهذا دا به وئيلې شى چه د دې اقطاع هغوى په خپله حصه خمس كښې اوكړه كوم چه د هغوى ملک وه ﴿ فلا اشكال فيه ﴾ او دويم احتمال دا دې كيدې شى چه دا نخيل د قبيلې د موات نه وى چه د هغې څوک مالک نه وى، دا روايت دلته مختصر دې دوباره د دوه احاديثو نه پس تفصيل سره را روان دې.

[٣٠٧٠]([2]) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، وَمُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، الْمَعْنَى وَاحِدٌ قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ حَسَّانَ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَتْنِي جَدَّتَايَ صَفِيَّةُ، وَدُحَيْبَةُ ابْنَتَا عُلَيْبَةَ وَكَانَتَا رَبِيبَتَيْ قَيْلَةَ بِنْتِ مَخْرَمَةَ، وَكَانَتْ جَدَّةَ أَبِيهِمَا أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُمَا، قَالَتْ: قَدِمْنَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: تَقَدَّمَ صَاحِبِي تَعْنِي حُرَيْثَ بْنَ حَسَّانَ وَافِدَ بَكْرِ بْنِ وَائِلٍ فَبَايَعَهُ عَلَى الْإِسْلَامِ عَلَيْهِ وَعَلَى قَوْمِهِ ثُمَّ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ اكْتُبْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ بَنِي تَمِيمٍ بِالدَّهْنَاءِ أَنْ لَا يُجَاوِزَهَا إِلَيْنَا مِنْهُمْ أَحَدٌ إِلَّا مُسَافِرٌ أَوْ مُجَاوِرٌ، فَقَالَ: "اكْتُبْ لَهُ يَا غُلَامُ بِالدَّهْنَاءِ"، فَلَمَّا رَأَيْتُهُ قَدْ أَمَرَ لَهُ بِهَا شُخِصَ بِي وَهِيَ وَطَنِي وَدَارِي، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهُ لَمْ يَسْأَلْكَ السَّوِيَّةَ مِنَ الْأَرْضِ إِذْ سَأَلَكَ إِنَّمَا هِيَ هَذِهِ الدَّهْنَاءُ عِنْدَكَ مُقَيَّدُ الْجَمَلِ وَمَرْعَى الْغَنَمِ وَنِسَاءُ بَنِي تَمِيمٍ وَأَبْنَاؤُهَا وَرَاءَ ذَلِكَ، فَقَالَ: أَمْسِكْ يَا غُلَامُ صَدَقَتِ الْمِسْكِينَةُ الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ يَسَعُهُمَا الْمَاءُ وَالشَّجَرُ وَيَتَعَاوَنَانِ عَلَى الْفَتَّانِ".

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٧٣٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/فرض الخمس ١٩ (٢٨١٥)، مسند احمد (٣٤٧/٦) (حسن صحيح)

[2]): سنن الترمذي/الأدب ٥٠ (٢٨١٤)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٤٧) (حسن) (ملاحظه هو: صحيح ابي داود ٣٩٢/٧)

دقیلة بنت مخرمة رضي الله عنها نه روایت دې فرمائی چه مونږ دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شو او زمونږ ملګرې حریث څوك چه دبكر بن وائل دطرف نه نبی علیه السلام ته په وفد کښې تلې وواودخپل طرف نه اودخپل قوم دطرف نه ئې په اسلام باندې بیعت کړې وو، عرض ئې وکړوچه اې دالله رسوله زمونږ اودبنوتمیم په مینځ کښې مقام دهنا سرحدمقررکړئ ددې دپاره چه دهغوی نه څوك زمونږ طرف ته نه را اوړې مګر مسافر او اور وړلو والا، نبی علیه السلام اوفرمائیل اې هلکه ددوی دهناء سرحد اولیکه هرکله چه ما اولیدل چه دهناء مقام ئې دده دپاره اولیکلو نوزه فکرمند شوم څکه چه دغه زما وطن وواوهلته زما کورهم وو، ماعرض وکړوچه اې دالله رسوله، ده په سرحد غوښتلوکښې انصاف نه دې کړې دهنا د اوښانو د تړلوځاې دی اودچیلوګډو چراګاه ده اودبنی تمیم ښځې او ماشومان په دې پسې وې، نبی علیه السلام چه دا واوریدل نو اوئې فرمائیل اې هلکه اودرېږه یعنی مه لیکه دې ضعیفې سمه خبره اوکړه، یومسلمان دبل مسلمان وروردې دیومسلمان داوبو او اونونه بل مسلمان فائده حاصلولې شي اوپکارده چه دوی په خپل مینځ کښې دیوبل مدد وکړي.

﴿ نا عبدالله بن حسان العنبری قال حدثتنی جدتای صفیة وحیبة ابنتا علیبة وكانتا ربیبتی قیلة بنت مخرمة _ وكانت جدة ابیها _ انها اخبرتها ﴾

مضمون د حدیث مع الشرح :

عبدالله بن حسان عنبری وائی چه ماته بیان اوکړو زما دوه نیاګانو صفیة بنت علیبة او دحیبة بنت علیبة دا دواړه خپل مینځ کښې خویندې وې، کیدې شی چه یو په دوی کښې د عبدالله بن حسان ام الاب وی او دویمه ئې ام الام وی. یا کیدې شی چه په دې کښې یوې ته د اخت جده کیدو د وجې نه جده وئیلې شوې وی، راوی وائی چه دا دواړه د قیله بنت مخرمه ربیبه وې یعنی دا دواړه د قیله په غیر کښې لوئې شوې وې او بیا وراندې دا دی چه دا قیله د دې دواړو د پلار نیا وه، ګویا خپله د دې دواړو د پلار نیا وه دا دواړه وائی چه مونږ ته قیله بیان کړه، هغه واقعه چه وړاندې په حدیث کښې را روانه ده.

﴿ قدمنا علی رسول الله صلی الله علیه وسلم قالت تقدم صاحبی تعنی حریث بن حسان وافد بكر بن وائل ﴾ قیله رضي الله عنها فرمائی چه کله زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت ته روانه اوم نو کوم سړې چه په دې سفر کښې زما ملګرې وو هغه حریث بن حسان وو هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دربار عالی ته رسیدو سره زما نه مخکښې د خپل خان دپاره او د خپل قوم دپاره بیعت علی الاسلام اوکړو، ﴿ ثم قال یا رسول الله صلی الله علیه وسلم اكتب بیننا وبینا بنی تمیم بالدهناء ان لا یجاوزها الینا منهم احدا الا مسافر او مجاوز ﴾ دا قیله رضي الله عنها چه کومه واقعه بیانوی د قبیله بنی تمیم نه ده او دا دهناء د بنو تمیم د یوې علاقه نوم دې، نو حریث رضي الله عنه د اسلام راوړلو نه پس رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا درخواست اوکړو چه دا مقام د دهناء دې زمونږ دپاره مخصوص کړې شی، او دا چه بنو تمیم د دې نه منتفع نه شی، او دا چه دې زمکې ته دې نه راځی مګر دا چه که څوك مسافر وی په دې لاره څی نو دا امر آخر دې. د حریث په درخواست باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم یو هلك ته چه هلته موجود وو اوفرمائیل چه دغه مقام دهنه د حریث په نوم باندې اولیکه، یعنی دهغه دپاره

ئي اقطاع کړه، ﴿ فلما رایته قد امر له بها شخص بی وهی وطنی وداری ﴾ دا قیله وائی چه کله ما اولیدل چه رسول اللهﷺ هغه هلک ته مقام دهناء د حریثﷺ دپاره د لیکلو اوئیل نو زه اوېریدم زما د خپو نه زمکه اوتختیدله. ځکه چه دا مقام دهناء زمونږ کور او وطن ته بالکل متصل وو (لهذا د هغې حق دار خو مونږ .و) ﴿ فقلت یا رسول اللهﷺ! انه لم یسئلک السویة من الارض ﴾ د دې جملې دوه مطلبه کیدې شی. ۱: دې سړی د داسې زمکې فرمائش تاسو نه نهٔ دې کړې چه په هغې کښې زمونږ او د هغه استحقاق برابر وې، یعنی دا زمکه خو خالص زمونږ حق دې داسې هم نه چه هغه مشترک اومنلې شی (یعنی اول خو د مشترک کیدو په صورت کښې هم د دهٔ د خپل ځان دپاره لیکل صحیح نه وو پاتې لا دا صورت چه هغه خالص زمونږ حق دې) ۲: سویة نه مراد عدل او انصاف دې یعنی د دې زمکې په غوښتلو کښې دهٔ عدل او انصاف مخې ته نه دې کیخودلې وړاندې قیلهﷺ رسول اللهﷺ ته د دې زمکې نوعیت بیانوی ﴿ انما هذه الدهناء عندک مقید الجمل مرعی الغنم ونساء بنی تمیم وابناءها وراء ذلک ﴾ او یواځې دا نه چه دا دهناء تاسو ته نزدې دې (زیات لرې نه دې تاسو پخپله د دې لیدو سره اندازه لګولې شئ) دا خو زمونږ یعنی د بنو تمیم د اوښانو د تړلو ځائې او د هغوی د ګډو بیزو د څرن ځائې دې او د قبیله بنو تمیم زنانه او ماشومان بالکل د دې نه شاته آباد دی، ﴿ فقال امسک یا غلام صدقت المسکینة السلم اخو المسلم یسعهم الماء والشجر ﴾ چه کله رسول اللهﷺ د قیلهﷺ دا خبره پوره واوریدله او د هغوی په علم کښې د مقام دهناء نوعیت راغلو کوم چه مخکښې نه وو، په دې باندې رسول اللهﷺ دې هلک ته اوفرمائیل چه بس مه لیکه دا مسکینه رښتینې معلومیږی او بیا رسول اللهﷺ اوفرمائیل مسلمانانو لره خپل مینځ کښې د رونړو په شان اوسیدل پکار دی، یو ځائې اوبو او یو ځائې دځرن د تولو د پاره کافی کیدې شی یعنی د رونړو په شان اوسیږی او د داسې مشترک څیز د خپل ځان دپاره کول غلط دی، ګویا رسول اللهﷺ خپله فیصله واپس واخستله ﴿ ویتعاونون علی الفتان ﴾ فتان که بالفتح دې نو بیا خو دا صیغه د مبالغې ده او که بالضم دې نو جمع ده د فاتن، په یو نسخه کښې دی ﴿ سئل ابوداؤد عن الفتان فقال : الشیطان ﴾ یعنی مسلمانانو لره خپل مینځ کښې د شیطان په مقابله کښې تعاون کول پکار دی، په دې جمله کښې په ظاهره په فعل دحریث باندې تعریض دې، والحدیث اخرجه الترمذی مختصرا، قاله المنذری.

[۳۰۷۱]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الْحَمِيدِ بْنُ عَبْدِ الْوَاحِدِ، حَدَّثَتْنِي أُمُّ جَنُوبٍ بِنْتُ نُمَيْلَةَ، عَنْ أُمِّهَا سُوَيْدَةَ بِنْتِ جَابِرٍ، عَنْ أُمِّهَا عَقِيلَةَ بِنْتِ أَسْمَرَ بْنِ مُضَرِّسٍ، عَنْ أَبِيهَا أَسْمَرَ بْنِ مُضَرِّسٍ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعْتُهُ، فَقَالَ: "مَنْ سَبَقَ إِلَى مَاءٍ لَمْ يَسْبِقْهُ إِلَيْهِ مُسْلِمٌ فَهُوَ لَهُ"، قَالَ: فَخَرَجَ النَّاسُ يَتَعَادَوْنَ يَتَخَاطُّونَ.

د اسمربن مضرنه روایت دې فرمائی چه زه دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر اودهغه په مبارک لاس مې په اسلام بیعت وکړو ،نبی علیه السلام اوفرمائیل څوک چه داسې اوبوته ورسیږي

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٥) (ضعيف)

چرته چه دده نه مخکښې کوم بل مسلمان نه وی رسیدلي نودغه اوبه دده دي خلقو چه دا واوریدل نوکرخې ئې راخکلي اولاړل (ددي دپاره چه ددوی نښه باقي پاتې شي چه مونږ دلته رارسیدلي وو).

﴿ عن ابيها اسمر بن مضرس قال اتيت النبى ﷺ فبايعته فقال من سبق الى ماء لم يسبقه اليه مسلم فهو له قال فخرج الناس يتعادون يتخاطون ﴾

مضمون د حديث:

اسمر بن مضرس رضی الله عنه فرمائی چه زه د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضر شوم او د هغوی په لاس باندې مې بيعت اوکړو، دا اسمر بن مضرس طائی دي، د يوې معروفې قبيلې نوم دي نو ښکاره ده چه دوی د خپل وطن بلاد طئ نه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوي وو، نو رسول الله ﷺ د هغه د واپسئ په وخت باندې هغوی ته اوفرمائيل چه زمونږ د طرف نه لاړ شه او هلته دا زيرې ورکړه چه په تاسو کښې کوم انسان هم په کوم غيرآباده چينه چه د مخکښې نه د چا ملک نه وی رسيدو سره هغه اختيار کړی نو هغه هم د هغه دپاره ده، پس چه کله هغوی د رسول الله ﷺ خبره هلته اورسوله نو ټول خلق د خپلو کورونو نه په منډه منډه داسې قسم چينو ته اورسيدل او د چا چه کومه چينه خوښه وه په هغې باندې هغه خپله نخښه او خط راښکلو. دا هم د اقطاع يو صورت دي کوم چه رسول الله ﷺ اختيار اوفرمائيلو، دا باب هم د اقطاع روان دي.

[٣٠٧٢](¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ خَالِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْطَعَ الزُّبَيْرَ حُضْرَ فَرَسِهِ فَأَجْرَى فَرَسَهُ حَتَّى قَامَ، ثُمَّ رَمَى بِسَوْطِهِ فَقَالَ: "أَعْطُوهُ مِنْ حَيْثُ بَلَغَ السَّوْطُ".

د ابن عمر رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام زبير بن عوام ته زمکه ورکړې وه، ترکوم خائې پورې چه دده اس منډه وهلي شوه اوبيا هغه اس اوزغلولو تردې اودريدو اوخپل چابک ئې اوغورزلو نبی علیه السلام اوفرمائيل چه ده دومره زمکه ورکړی ترکوم خائې پورې چه دده چابک ورسيږي.

قوله:﴿ عن ابن عمر رضی الله عنه ان النبى ﷺ اقطع الزبير حضر فرسه فاجرى فرسه حتى قام ثم رمى بسوطه فقال اعطوه من حيث بلغ السوط ﴾: يعنى رسول الله ﷺ د زبير رضی الله عنه دپاره د زمکې د يوې رقبې اقطاع اوفرمائيله او مقدار قطيعه ئې حضر د فرس مقرر کړو يعنی د آس يو ځل منډه، پس هغوی خپل آس اوزغلولو بيا چه د دې يوې منډې نه پس هغه چرته اودريدو د هغه ځائې نه هغوی خپله کوړه نوره هم وراندې ويشته، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه هغه ته دې د هغه ځائې نه د کوم ځائې نه چه آس زغلولې وو د هغه ځائې نه تر هغه ځائې پورې کوم ځائې ته چه ئې چابک اورسيدو، ورکړې شي يعنی د دواړو مقدارونو مجموعه، دا د اقطاع زبير رضی الله عنه والا روايت اوس مخکښې مختصرا ذکر شو، او په دې باندې کلام هم هلته تير شو.

---

¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٧٧٢٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٥٦٧/٢) (ضعيف الإسناد)

بَابٌ فِي إِحْيَاءِ الْمَوَاتِ

بنجر (غير اباده) زمكه ابادول

په دې باب باندې كلام په تير باب كښې تير شو.

[٣٠٧٣](¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيْتَةً فَهِيَ لَهُ وَلَيْسَ لِعِرْقٍ ظَالِمٍ حَقٌّ".

دسعيد بن زيد رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي: څوك چه شاړه زمكه اباده كړي هغه دده ده، او پده باندې به دظالم رګ څه حصه نه وي (يعنى كه چرې څوك په ظلم سره دلته ونې وكري بابل قسم تصرف وكړي نوهغه ددې حقدارنه جوړيږي).

﴿من احي ارضا ميتة فهى له وليس لعرق ظالم حق﴾

د دې حديث نه د احياء مشروعيت او د هغې سبب دملك كيدل ښكاره كيږي، او نفس مسئله هم متفق عليه ده اګر چه په بعض شرطونو او تفصيلاتو كښې اختلاف دې چه د هغې بيان مخكښې تير شوې دې.

د عرق ظالم تفسير وړاندې پخپله په متن كښې راځي، دا په اضافت او صفت دواړو سره لوستلې شوې دې. والحديث اخرجه الترمذي والنسائي، قاله المنذري

[٣٠٧٤](²) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ مُحَمَّدٍ يَعْنِي ابْنَ إِسْحَاقَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيْتَةً فَهِيَ لَهُ" وَذَكَرَ مِثْلَهُ، قَالَ: فَلَقَدْ خَبَّرَنِي الَّذِي حَدَّثَنِي هَذَا الْحَدِيثَ، أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَرَسَ أَحَدُهُمَا نَخْلًا فِي أَرْضِ الْآخَرِ فَقَضَى لِصَاحِبِ الْأَرْضِ بِأَرْضِهِ وَأَمَرَ صَاحِبَ النَّخْلِ أَنْ يُخْرِجَ نَخْلَهُ مِنْهَا، قَالَ: فَلَقَدْ رَأَيْتُهَا وَإِنَّهَا لَتُضْرَبُ أُصُولُهَا بِالْفُؤُوسِ وَإِنَّهَا لَنَخْلٌ عُمٌّ حَتَّى أُخْرِجَتْ مِنْهَا.

عروه رضي الله عنه دخپل پلارنه روايت كوي فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي: څوك چه شاړه زمكه آباده كړي دادده شوه، اودتير شوي روايت په شان روايت ئې بيان كړو مګر دا اضافه ئې اوكړه چه خبر راكړې دې ماته هغه كس چاچه داحديث بيان كړې دې چه دوه كسانو نبي عليه السلام ته جګړه راوړله چه يوكس په دوى كښې دبل په زمكه كښې كجوري كرلي وي نوفيصله ئې اوكړه دزمكې دمالك دپاره په زمكه باندې اوكجورو والاته ئې حكم آوكړو دكجورو په ويستلوباندې، راوي وائى ماواوليدل چه ددغه ونو جرړي په تبرونو وهلي كيدلي حالانكه هغه ونې غټې شوې او مكملې وي تردې چه دغه ونې ددې زمكې نه وښكلې شولې.

تشريح: قوله: ﴿عن يحيى بن عروة عن ابيه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم﴾

په ړومبى روايت كښې كوم لره چه د عروه نه روايت كونكې هشام دې موصوله وو ،هلته صحابى ذكر كړې شوې وو او په دې طريق كښې چه د عروه نه روايت كونكې د

(¹): سنن الترمذي الأحكام ٣٨(١٣٧٨)، (تحفة الأشراف: ٤٤٦٣، ١٩٠٤٣)، وقد أخرجه: موطا امام مالك الأقضية ٢٤(٣٦) (صحيح)

(²): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤٤٦٣) (حسن)

هشام رور يحيٰ دي مرسلا دي.

﴿ قال فلقد خبرني الذى حدثنى هذا الحديث ان رجلين اختصما الى رسول اللهﷺ غرس احدهما نخلا فى ارض الاخر ﴾

شرح الحديث:

د دې قال قائل عروه دې هغوی فرمائی چه کوم سړی ما ته حديث بيان کړو هغه ماته د دې خبرې خبر راکړو ﴿ الذى حدثنى ﴾ د دې مصداق هغه دې کوم چه د باب په ړومبی حديث کښې تير شوې دی هغه سعيد بن زيد رضی الله عنه صحابی دې د دې روايت مضمون دا دې چه يو سړی د بل په زمکه کښې اونه نال کړه، روستو په هغوی کښې اختلاف پيدا شو هم په دې خبره باندې چه د بل په زمکه کښې تا اونه څنګه لګولې ده، دې دواړو خپلو مسئله د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضره کړه نو رسول اللهﷺ د زمکې فيصله د زمکې د مالک په حق کښې اوکړه، او چا چه اونه نال کړې وه هغه ته ئې حکم اوکړو چه خپله اونه د هغه د زمکې نه اوباسه، وړاندې راوی وائی چه ما هغه اونې اوليدې چه د هغې په جرړو باندې تبرونه وهلې کيدل او هغه ډيرې اوږدې اوږدې اونې وې. ترديې چه هغه ټولې ويستلې شوې د هغه زمکې نه (لفظ عم په تشديد د ميم سره جمع ده د عميم يا د عميمه دپاره)

[۳۰۷۵](۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الدَّارِمِيُّ، حَدَّثَنَا وَهْبٌ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، إِلاَّ أَنَّهُ قَالَ عِنْدَ قَوْلِهِ مَكَانَ الَّذِي حَدَّثَنِي هَذَا، فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَكْثَرُ ظَنِّي أَنَّهُ أَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ، فَأَنَا رَأَيْتُ الرَّجُلَ يَضْرِبُ فِي أُصُولِ النَّخْلِ.

د اسحق نه په هم دې سند سره روايت دې ليکن په دې سند کښې دومره فرق دې چه عروه په دې طريقې سره اووئيل چه په صحابه کرامو کښې يو کس داسې بيان کړې دې او زما غالب ګمان دادې چه هغه صحابي وو، ابوسعيد خدری رضی الله عنه کيدې شی چه وو هغه فرمائيلی دی چه دغه کس د خپلو ونو جرړې په تبرونو وهلې.

تشريح: قوله: ﴿ حدثنا احمد بن سعيد..... ﴾ دا دويم سند دې دې کښې په ځائې د ﴿ الذى حدثنى ﴾ دا عبارت دې ﴿ فقال رجل من اصحاب النبى ﷺ ﴾ او بيا عروه هم دا وائی چه زما غالب ګمان دا دې چه هغه صحابی رضی الله عنه ابوسعيد خدری وو، په دواړو روايتونو کښې فرق دا دې چه په ړومبی روايت کښې عروة د خپل استاد تعين نه وو کړې او په دويم روايت کښې ئې په طريقه د ظن د هغه تعيين په آبوسعيد خدری رضی الله عنه سره کوی، آو دويم فرق دا دې چه د ړومبی روايت نه معلوميږی چه د تبر چلونکی ډير کسان وو آو په دې دويم روايت کښې دی چه تبر چلونکې خپله د آونو مالک وو.

﴿ عن عروة قال اشهد ان رسول اللهﷺ قضى ان الارض ارض الله ﴾

(۱): انظر حديث رقم: (۳۰۷۳)، (تحفة الأشراف: ۴۴۶۳) (حسن)

[٣٠٧٦]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الْآمُلِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا نَافِعُ بْنُ عُمَرَ، عَنْ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، قَالَ: أَشْهَدُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى أَنَّ الْأَرْضَ أَرْضُ اللَّهِ، وَالْعِبَادَ عِبَادُ اللَّهِ وَمَنْ أَحْيَا مَوَاتًا فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ جَاءَنَا، بِهَذَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِينَ جَاءُوا بِالصَّلَوَاتِ عَنْهُ.

د عروه رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه زه په دې خبره ګواهي ورکوم چه نبي عليه السلام اور فرمائيل چه زمکه توله دالله تعالى ده او ټول انسانان هم دالله تعالى بندګان دي او څوك چه بنجر زمکه اباده کړي دې ددې ډيرحقدار دې دا روايت مونږ ته دنبي عليه السلام نه هغه کسانو رانقل کړې دې چاچه دهغه نه دمونځ روايات نقل کړي دي.
عروه تابعي دې هغوى په شروع کښې دا حديث د رسول الله صلى الله عليه وسلم نقل کړو بغير د سند ذکر کولو نه بيا روستو په ﴿ جآءنا بهذا عن النبي صلى الله عليه وسلم ﴾ سره ئې مروى عنه طرف ته اشاره اوکړه چه هغوى ډير صحابه کرام رضي الله عنهم دى. دا حديث د مسند په حکم کښې شو. مراد د زمکې نه مطلق زمکه نه ده بلکه موات دې يعنى ارض موات د يو انسان مملوک نه وى بلکه د الله پاک ده او هم دغه شان ټول خلق د الله پاک بندګان دى، لهذا د دې احياء کولو سره مالک کيدل صحيح دى.

[٣٠٧٧]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ أَحَاطَ حَائِطًا عَلَى أَرْضٍ فَهِيَ لَهُ".

د سمره نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلى دى څوك چه په بنجر زمکه کښې حدبندى اوکړي نودا دده شوه.
﴿عن الحسن عن سمرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم وقال من احاط حائطا على ارض فهى له﴾

شرح الحديث:

يعنى کوم انسان چه په يو ارض موات باندې په ديوال وغيره جوړولو سره احاطه اوکړى نو هغه د هغه دپاره شو، د دې حديث نه دا معلوميږى چه د ارض موات په نفس احاطې سره د احياء تحقق کيږى، د امام احمد رحمه الله مذهب هم دا دې چه د هغوى په نزد نفس احاطه او تحجير کافي دې. او د جمهور په نزد نفس تحجير (څلورو واړو طرفونو ته کاڼړى کيخودلو) سره د احياء تحقق نه کيږى چه کله د هغه زمکې ګټه او خدمت او استوګنه اختيار نه کړى. لهذا دجمهوروپه نزد به داحديث هم په دې باندې حمل کولې شى يعنى من احاط حائطا للسکنى.

[٣٠٧٨]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي مَالِكٌ، قَالَ هِشَامٌ: الْعِرْقُ الظَّالِمُ أَنْ يَغْرِسَ الرَّجُلُ فِي أَرْضِ غَيْرِهِ فَيَسْتَحِقَّهَا بِذَلِكَ، قَالَ مَالِكٌ: وَالْعِرْقُ الظَّالِمُ كُلُّ مَا أُخِذَ وَاحْتُفِرَ وَغُرِسَ بِغَيْرِ حَقٍّ.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٦٣٧) (صحيح الإسناد)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٥٩٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/١٢، ٢١) (ضعيف)

[3]: انظر حديث رقم (٣٠٧٣)، (تحفة الأشراف: ٤٤٦٣) (صحيح)

هشام بن عروه وئيلی دی چه د .. ظالمانو خلقو ، نه مراد هغه څوک دي څوک چه د چاپه زمکه کښې بغيراجازته ونې اوکري او په دې باندې قبضه کول غواړی مالك وئيلی دی ظالم رګ دادې چه دچاپه زمکه باندې قبضه اوکړې شي يا کنده اوکي او په ناجائز طريقي سره ونې نالي کړي.

﴿ اخبرنی مالک قال هشام العرق الظالم ان یغرس الرجل فی ارض غیره فیستحقها بذلک ﴾

د باب ړومبې حديث چه د هغې په راويانو کښې هشام هم دې، هشام د هغې تفسير کوی چه عرق ظالم دا دې چه يو سړې د بل په زمکه کښې اونې اولګوی په دې نيت چه هغه بيا د دې زمکې مستحق شي.

[٣٠٧٩]() حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ بَكَّارٍ، حَدَّثَنَا وُهَيْبُ بْنُ خَالِدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى، عَنِ الْعَبَّاسِ السَّاعِدِيِّ يَعْنِي ابْنَ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ، قَالَ: غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَبُوكَ فَلَمَّا أَتَى وَادِيَ الْقُرَى إِذَا امْرَأَةٌ فِي حَدِيقَةٍ لَهَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِهِ: "اخْرُصُوا، فَخَرَصَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشَرَةَ أَوْسُقٍ، فَقَالَ لِلْمَرْأَةِ: أَحْصِي مَا يَخْرُجُ مِنْهَا، فَأَتَيْنَا تَبُوكَ فَأَهْدَى مَلِكُ أَيْلَةَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَغْلَةً بَيْضَاءَ وَكَسَاهُ بُرْدَةً وَكَتَبَ لَهُ يَعْنِي بِبَحْرِهِ، قَالَ: فَلَمَّا أَتَيْنَا وَادِيَ الْقُرَى، قَالَ لِلْمَرْأَةِ: كَمْ كَانَ فِي حَدِيقَتِكِ؟ قَالَتْ: عَشَرَةَ أَوْسُقٍ خَرْصَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنِّي مُتَعَجِّلٌ إِلَى الْمَدِينَةِ فَمَنْ أَرَادَ مِنْكُمْ أَنْ يَتَعَجَّلَ مَعِي فَلْيَتَعَجَّلْ".

دابوحميد ساعدي رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه دنبی ﷺ سره غزوه تبوک ته لاړم هرکله چه وادي القري مقام ته ورسيدو نويوه ښځه ئې اوليدله چه په خپل باغ کښې ناسته وه نبی ﷺ صحابه کرامو ته اوفرمائيل چه ددې ښځې دباغ دميوو اندازه واخلئ بيا پخپله نبی ﷺ ددې دميوو لس وسقه اندزه مقرر کړه بيانبی ﷺ هغه ښځې ته اووئيل کله چه ميوه پخه شي نوددې اندازه ياد وساته ابوحميد وائی چه بيا مونږ تول تبوک ته راغلو په شام کښې دآيکه نوم کلي بادشاه نبی ﷺ ته يوسپين قچر په هديه کښې راوليږو اونبی ﷺ ورته هم يوڅادر ورکړو اودجزئي په شرط ئې دده دملك سند اوليکلو کله چه مونږ په واپسئ کښې وادي القري ته راورسيدو نونبی ﷺ دهغې ښځې نه تپوس وکړو چه ستاپه باغ کښې څومره ميوه وه هغې اووئيل لس وسقه دهغه مقدار مطابق دکوم چه نبی ﷺ اندازه لګولي وه ددې نه پس نبی ﷺ اوفرمائيل په مونږ باندې مدينې ته په تلوکښې ناوخته دي که چرې په تاسوکښې څوك زر رسيدل غواړی نوزماسره دې روان شي.

﴿ عن ابی حمید الساعدی رضي الله عنه قال غزوت مع رسول الله ﷺ تبوکا فلما اتی وادی الخ ﴾

شرح الحدیث :

ابوحميد الساعدی رضي الله عنه فرمائي چه د تبوك په سفر کښې، زه د رسول الله ﷺ سره اوم، چه کله د سفر په دوران کښې وادی القری ته اورسيدو نو هلته يو زنانه په خپل باغ کښې وه، رسول

[1]: صحيح البخاري/الزكاة ٥٤ (١٤٨١)، والجزية ٢ (٣١٦١)، صحيح مسلم/الحج ٩٣ (١٣٩٢)، (تحفة الأشراف: ١١٨٩١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٤٢٤) (صحيح)

الله ﷺ د دې باغ په ليدو باندې د دې په باره کښې خرص (١) اوفرمائيلو د خرص مقدار رسول الله ﷺ لس وسقه بيان اوفرمائيلو، رسول الله ﷺ صحابه كرامو ﷺ ته كوم چه هغوى سره وو هم اوفرمائيل چه تاسو هم خرص اوكړئ، او د دې باغ ځنه د وتلو په وخت رسول الله ﷺ هغه زنانه ته اووې چه خيال كوه په دې باغ كښې څومره پيدوار كيږى (چه معلومه شى چه د چا خرص صحيح دې) پس وړاندې په روايت كښې دى چه د سفر نه په واپسئ كښې رسول الله ﷺ د هغه زنانه نه د ميوې په باره كښې تپوس اوكړو چه څومره اوختل، نو هغې هم هغه لس وسقه بيان كړل، د رسول الله ﷺ د خرص موافق.

د دې حديث ذكر د كتاب الزكوة په باب الخرص كښې هم تير شوې دې.

﴿ فاتينا تبوک فاهدى ملک ايلة الى رسول الله ﷺ بغلة بيضاء ﴾ راوى بيان كوى چه كله مونږ تبوک ته اورسيدو نو هلته د قيام په دوران كښې د ايله بادشاه د رسول الله ﷺ په خدمت كښې د بغله بيضاء هديه پيش كړه، او رسول الله ﷺ د هغې په عوض كښې هغه ته يو قيمتى شال وركړو.

﴿ وكتب له يعنى ببحره ﴾ يعنى رسول الله ﷺ ملک ايله دپاره د هغه كلي اوليكلو.

په (بذل القوة) كښې ليكلې دى چه رسول الله ﷺ په ٩ هجرى كښې د يحنه طرف ته د دعوت الى الاسلام خط اوليږلو كوم چه د ايله بادشاه وو او نصرانى وو، نو د رسول الله ﷺ د تبوک د زمانې په قيام كښې دا بادشاه د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضر شو اسلام خو ئې قبول نه كړو خو جزيه وركول ئې قبول كړل درې سوه ديناره د كال، په دې باندې رسول الله ﷺ د هغه سره صلح نامه اوليكله. دا كتاب بذل القوة فى حوادث سنى النبوة د علامه مخدوم محمد هاشم سندى بې مثاله تاليف دې چه د هغې اردو ترجمه "عهد نبوت كې ماه وسال" ازمحمد يوسف لدهيانوى، شائع شوې دې.

مناسبة الحديث للترجمة:

په دې حديث كښې د مصنف رحمه الله غرض ﴿ وكتب له ببحره ﴾ سره تعلق دې هم د دې وجې نه مصنف رحمه الله دا حديث دلته يعنى په احياء الموات كښې راوړې دې ـــ كذا فى البذل عن تقرير الشيخ الجنجوهى.... خو اولى دا ده لكه چه ظاهره ده، چه مصنف رحمه الله دا روايت د باب الاحياء په ځائې په باب الاقطاع كښې ذكر فرمائيلې وې او صاحب د عون المعبود د حديث د باب سره مناسبت په بله طريقه ليكلې دې هغه دا چه هغه زنانه په ارض موات كښې اونې لګولو سره د هغې احياء كړې وه د رسول الله ﷺ د علم باوجود هغوى هغه زنانه په هغه باغ باندې برقرار اوساتله او د هغې نه ئې وانخستلو هم په دې وجه د دې احياء په سبب هغه مالک شوه معلومه شوه چه احياء موات د هغې د ملک سبب دې. والله تعالى اعلم آهـ

﴿فقال رسول الله ﷺ انى متعجل الى المدينة فمن اراد منكم ان يتعجل معى فليتعجل﴾

---

(١) خرص يعنى په خپل انداز سره متعين كول چه په دې باغ كښې چه كومې اونې دى په هغې باندې د ميوو دومره مقدار دې)

يعنی د تبوک نه په واپسئ باندې رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه زه مدينې ته زر رسيدل غواړم چه په تاسو کښې هم چه کوم انسان په تندئ هلته رسيدل غواړی نو هغه دې هم ما سره راځی، د دې شرح ئې دا ليکلې ده چه کله رسول اللهﷺ مدينې طيبې ته اورسيدلو نو د هغه ځائې نه مدينې ته د داخليدو دپاره رسول اللهﷺ طريق غراب اختيار اوفرمائيله ځکه چه هغه د مدينې أقرب ترين لار وه او دويمه لار رسول اللهﷺ ترک کړه، لښکر خو ټول په دويمه لار باندې لاړو کومه چه لرې وه رسول اللهﷺ او د هغوی سره بعض صحابه کرامو دا نزدې لاره اختيار اوفرمائيله. والحديث اخرجه البخاري ومسلم قاله المنذري، قلت اخرجه البخاري في مواضع الزكوة والحج والجهاد وغيرها

[٣٠٨٠]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ غِيَاثٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ جَامِعِ بْنِ شَدَّادٍ، عَنْ كُلْثُومٍ، عَنْ زَيْنَبَ: أَنَّهَا كَانَتْ تَفْلِي رَأْسَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَعِنْدَهُ امْرَأَةُ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، وَنِسَاءٌ مِنَ الْمُهَاجِرَاتِ وَهُنَّ يَشْتَكِينَ مَنَازِلَهُنَّ أَنَّهَا تَضِيقُ عَلَيْهِنَّ وَيُخْرَجْنَ مِنْهَا، فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُوَرَّثَ دُورَ الْمُهَاجِرِينَ النِّسَاءُ، فَمَاتَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ فَوَرِثَتْهُ امْرَأَتُهُ دَارًا بِالْمَدِينَةِ.

ترجمه: د ام المومنين زينب رضي الله عنها نه روايت دې فرمائی چه ما دنبی عليه السلام په سرکښې سپږې لټولې په دې وخت کښې دعثمان رضي الله عنه بی بی او نورې ښځې هم ناستې وې اونبی عليه السلام ته ئې دخپلو کورونو نه شکايت کوو چه داکورونه په مونږ باندې زمونږ دخاوندانو دوفات کيدونه پس تنګ کړې شوي دي او مونږ دهغه ځائې نه ويستل شوي يو نبی عليه السلام حکم اوکړو چه دمهاجرينو زنانوته دې کورونه په ميراث کښې ورکړې شي کله چه عبدالله بن مسعودوفات شو نوددې نه دده ښځې کور په ميراث کښې يوړوکوم چه په مدينه کښې وو.

مضمون د حديث :

﴿عن ام کلثوم عن زينب رضي الله عنها انها کانت تفلی راس رسول اللهﷺ وعنده امراءة عثمان بن عفان رضي الله عنهما ونسآء من المهاجرات وهن يشتکين منازلهن انها تضيق عليهن﴾

د زينب ام المومنين رضي الله عنها نه روايت دې چه هغې يو ورځ د رسول اللهﷺ سر مبارک ګرولو، او هغه وخت رسول اللهﷺ سره د عثمان بن عفان رضي الله عنه کور والا ناسته وه، او نورې هم ډير مهاجرې زنانه کومو چه رسول اللهﷺ ته د خپلو کورونو د تنګ والی شکايت کولو يعنی د وارثانو د طرف نه بلکه هغوی به ترې نه ويستلې شوې. په دې باندې رسول اللهﷺ حکم اوفرمائيلو چه د مهاجرينو د وفات نه پس دې د هغوی د کورونو د هغوی ښځې وارثانې کړې شي، پس چه کله د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وفات اوشو نو هم د هغوی بی بی د هغوی د کور وارثه شوه کوم چه په مدينه طيبه کښې وو

په حديث باندې يو اشکال او د هغې توجيه :

په دې باندې دا اشکال واقع کيږی چه کور په ترکه کښې داخل دې او د ترکې مستحقين خو په قرآن کريم کښې منصوص دی نو صرف ښځې څنګه وارثانې کيدلې د هغوی د

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٥٨٨٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٦٣) (صحيح الإسناد)

کورونو؟ د دې ډېر جوابونه ورکړې شوې دی ۱: دا د مهاجرینو زنانو خصوصیت دې د رسول الله ﷺ د طرف نه. ۲: د دې نه مراد سکنی ده په زمانه د عدت کښې تملیک دکور مراد نه دې یعنی د مړی وارثانو لره پکار دی چه د هغه بی بی لره په آرام سره د هغه په کور کښې عدت تیرولو ته پرېږدی او هغه نه پریشانه کوی. ۳: یا دا مراد دې چه د تقسیم ترکه په وخت د هغې خیال اوساتلې شی چه کور د مړی د ښځې په حصه کښې راشی، والاظهر هو المعنی الاخیر، امام خطابی رحمه الله رومبې جواب اختیار کړې دې یعنی خصوصیت په دې وجه چه د مهاجرینو زوجات په مدینې طیبه کښې مسافرې وې د هغوی خاندان او قبیله وغیره هلته نه وه، او په حاشیة کښې دی (او کیدې شی چه د سیوطی رحمه الله د طرف نه وی) ما دا مسئله په طور د دونړې په یو شعر کښې وئیلی ده.

سلم علی مفتی الانام وقل له :: هذا سوال فی الفرائض مبهم
قوم اذا ماتوا تحوز دیارهم :: زوجاتهم ولغیرها لا تقسم
وبقیة المال الذی قد خلفوا :: یجری علی حکم التوراث منهم

وجوابه قلت:

هم المهاجرون ذاک بطیبة :: صلی علی ذیها الکریم المعلم

آه من البذل

بَابُ مَا جَاءَ فِي الدُّخُولِ فِي أَرْضِ الْخَرَاجِ

د خراج په زمکه باندې د اسیدو بیان

یعنی خراجی زمکه په بیعه اخستلو سره د هغې مالک جوړیدل یا په خراجی اوبو باندې خپله زمکه خړوب کول.

[۳۰۸۱] (۱) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ بَكَّارِ بْنِ بِلَالٍ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى يَعْنِي ابْنَ سُمَيْعٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ وَاقِدٍ، حَدَّثَنِي أَبُو عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ مُعَاذٍ، أَنَّهُ قَالَ: مَنْ عَقَدَ الْجِزْيَةَ فِي عُنُقِهِ فَقَدْ بَرِءَ مِمَّا عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دمعاذ رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه چا چه جزیه په ځان لازمه کړه نودې بې لارې شو دهغې لارې نه په کوې باندې چه نبی علیه السلام روان دې.

الکلام علی الحدیث شرحا وفقها:

﴿عن معاذ رضی الله عنه انه قال من عقد الجزیة فی عنقه فقد بریٔ (۲) مما علیه رسول الله ﷺ﴾

یعنی کوم انسان چه په خپله مړئ کښې د جزئې هار واچوی نو هغه بعید شو د هغه طریق نه چه په هغې باندې رسول الله ﷺ وو. په حدیث کښې جزئې نه مراد جزیة الارض یعنی خراج مراد دې، د دې حدیث نه دوه خبرې معلومیږی. اول د مسلمان دپاره د خراجی زمکې

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۳۷۲) (ضعیف الإسناد)

(۲) ددې ظاهری معنی خو ډیره سخته ده یعنی داسلام نه مخ اړول او کفر، خو مقصود ترې زجر او توبیخ (زورنه) ده، حقیقت دکلام نه دې مراد.

اخستل منع دی، دویم دا چه که د یو ذمی نه یو مسلمان خراجی زمکه واخلی او هغه زمکه د ذمی نه منتقل کیدو سره د مسلمان په ملکیت کښې راشی نو په دې صورت کښې د دې زمکې خراج نه ساقطیږی، د احنافو په نزد د مسلمان دپاره خراجی زمکه اخستل خو جائز دی باقی د خراج په باره کښې هغوی هم دا وائی چه هغه نه ساقطیږی لکه چه د حدیث الباب نه په فهم کښې راځی، او د شوافعو په نزد دې مسئله کښې تفصیل دې د زمکو د مختلفو قسمونو په لحاظ سره لکه چه د امام خطابی د کلام نه معلومیږی، دا مسئله د هغوی د فقه په کتابونو کښې په لټون باندې ملاؤ نه شوه، خو په رومبئ مسئله کښې دا حدیث د احنافو خلاف دې، ففی الهداية، ويجوز ان يشترى المسلم ارض الخراج من الذى يوخذ منه الخراج لما قلنا، وقد صح ان الصحابة اشتروا اراضى الخراج وكانوا يؤدون خراجها فدل على جواز الشراء واخذ الخراج وادائه للمسلم من غير كراهة (هداية ٣٤٢/٢) وفى البذل : والجواب عن الحديث ان الحديث غير محتج به لان فى سنده مجهولا اهـ په دې وجه چه د رومبی حدیث په سند کښې محمد بن عیسی دې هغه متکلم فيه دې، قيل لا يحتج به، او په دویم حدیث کښې عمارة بن ابی الشعثاء دې چه مجهول دې.

[٣٠٨٢](1) حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ الْحَضْرَمِيُّ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ حَدَّثَنَا عُمَارَةُ بْنُ أَبِي الشَّعْثَاءِ، حَدَّثَنِي سِنَانُ بْنُ قَيْسٍ، حَدَّثَنِي شَبِيبُ بْنُ نُعَيْمٍ، حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ خُمَيْرٍ، حَدَّثَنِي أَبُو الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَخَذَ أَرْضًا بِجِزْيَتِهَا فَقَدِ اسْتَقَالَ هِجْرَتَهُ وَمَنْ نَزَعَ صَغَارَ كَافِرٍ مِنْ عُنُقِهِ فَجَعَلَهُ فِي عُنُقِهِ فَقَدْ وَلَّى الْإِسْلَامَ ظَهْرَهُ"، قَالَ: فَسَمِعَ مِنِّي خَالِدُ بْنُ مَعْدَانَ هَذَا الْحَدِيثَ، فَقَالَ لِي: أَشُبَيْبٌ حَدَّثَكَ؟ قُلْتُ: نَعَمْ قَالَ: فَإِذَا قَدِمْتَ فَسَلْهُ فَلْيَكْتُبْ إِلَيَّ بِالْحَدِيثِ، قَالَ: فَكَتَبَهُ لَهُ، فَلَمَّا قَدِمْتُ سَأَلَنِي خَالِدُ بْنُ مَعْدَانَ الْقِرْطَاسَ فَأَعْطَيْتُهُ فَلَمَّا قَرَأَهُ تَرَكَ مَا فِي يَدِهِ مِنَ الْأَرَضِينَ حِينَ سَمِعَ ذَلِكَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا يَزِيدُ بْنُ خُمَيْرٍ الْيَزَنِيُّ لَيْسَ هُوَ صَاحِبَ شُعْبَةَ.

دابوالدرداء نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوک چه زمکه واخلي اوجزیه اداکول منظور کړي نودده هجرت مات شو او چاچه دمشرک دشرمولوخبره (جزیه) دهغه دشت نه اوویستله او په خپل څټ کښې ئې واچوله نرده اسلام ته شاه وګرځوله دحدیث راوي سنان وائیلي دي چه داحدیث ماخالد بن معدان نه نقل کړې دې هغه وئیلی دی چه تاته داحدیث شبیب بیان کړې دې ما اووئیل اوبیا ماته هغه ووئیل چه کله ته شبیب ته ورشي نو ورته اووایه چه ماته دا حدیث لیکلي راولیږه سنان وائی چه شبیب دخالد دپاره تحریر کړې کله چه زه راغلم نوخالد بن معدان هغه کاغذ طلب کړو ما ورته ورکړو هغه چه کله ولوستو نو دهغه سره چه څومره خراجي زمکه وه ټوله ئې پریخوده ابوداود وائی چه یزید بن خمیر یزني وم چه دشعبه شاګرد د هغه مراد نه دې.

قوله: ﴿ حدثنى ابوالدرداء رضى الله تعالى عنه قال قال رسول اللهﷺ من اخذ ارضا بجزيتها فقد استقال هجرته ﴾: رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه کوم سړی یو زمکه واخستله د هغې د خراج سره. مراد ترې شراء ده. نو هغه خپل هجرت باطل کړو. او د دې نه روستو جمله هم د دې هم

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٩٦٩) (ضعيف الإسناد)

معنی او هم د دې تاکید دې چه د هغې ترجمه دا ده. چه کوم انسان د کافر د ذلت ځیز د هغه دمړئ نه ویستلو سره واچولو، نو هغه اسلام طرف ته خپله شا اوګرزوله.

کتب الشیخ فی البذل : وهذا علی سبیل التغلیظ والتشدید.

﴿قال فسمع منی خالد بن معدان هذا الحدیث فقال لی : اشبیب حدثک؟ فقلت نعم﴾

شرح الحدیث :

سنان بن قیس وائی چه زما نه دا حدیث خالد بن معدان واوریدو. د اوریدو نه پس ئې تپوس اوکړو چه آیا دا حدیث تا د شبیب نه اوریدلې دې؟ ما اووې جی (زمونږ په دې سند کښې دسنان استاد شبیب دې) په دې باندې هغوی اووې چه کله ستاسو هغه ته تګ وی نو د هغه ته درخواست اوکړه چه هغه دې دا حدیث ماته په لیکلو سره راولیږي، سنان وائی چه ما په هغه باندې دا حدیث اولیکلو بیا چه کله زه راغلم خالد ته نو هغه زما نه هغه کاغذ طلب کړو چه په کوم باندې حدیث لیکلې شوې وو. سنان وائی چه کله خالد هغه حدیث اولوستلو نو هغوی سره چه کومه خراجي زمکه وه هغه ئې پریخودله.

دخالد بن معدان عمل چونکه دعدم علم په وجه ددې حدیث خلاف وو، په دې وجه هغوی په دې حدیث باندې د عمل کولو دپاره دا تحقیق اوکړو چه د حدیث د محقق کیدو نه پس په هغې باندې عمل آسان شی. دادواړه احادیث د احنافو خلاف دی ددې جواب پورته ذکر شو د صحابه کرام رضی الله عنهم نه د خراجي زمکو اخستل ثابت دی دا احادیث ضعیف دی.

﴿قال ابوداؤد : هذا یزید بن خمیر الیزنی، لیس هو صاحب شعبة﴾

مصنف رحمه الله فرمائی چه دا یزید بن خمیر کوم چه حدیث لره د ابوالدرداء نه روایت کوی دا یزید بن خمیر الیزنی دې، او هغه یزید نه دې کوم چه د شعبه شاګرد دې، ځکه چه هغه بل یزید، یزید بن خمیر الرجی دې، دا د اسماء رجال سره متعلق یو علمی افاده ده، چه د چا شک پیدا نه شی.

بَابٌ فِي الْأَرْضِ يَحْمِيهَا الْإِمَامُ أَوِ الرَّجُلُ

که امام یا بل څوک د چا د زمکې کیا، اوبه منع کړې نوڅه حکم دې؟

[٣٠٨٣](١) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا حِمَى إِلَّا لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ"، قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: وَبَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَمَى النَّقِيعَ.

دصعب بن جثامه رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی: منع کول جائزنه دی مګر دالله اودهغه درسول دپاره یعنی دجهاد ځاروی یا دزکات دځارو و نه علاوه حمي منع کول جائزنه دي، ابن شهاب وئیلی دی چه نبی علیه السلام دنقیع زمکه منع کړې وه.

﴿عن ابن عباس رضی الله عنهما عن الصعب بن جثامة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال لاحمی الا لله ولرسوله﴾

(١): صحیح البخاري/المساقاة ١١ (٢٣٧٠)، الجهاد ١٤٦ (٣٠١٢)، (تحفة الأشراف: ٤٩٤١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٧/٤، ٣٨، ٧١، ٧٣) (صحیح)

شرح الحديث :

حمى لفظا مصدر دې چه د هغې معنى د حفظ کولو ده، دلته اسم مفعول يعنى د محمى په معنى کښې دې، د جاهليت په زمانه کښې د قوم د رئيسانو دا عادت وو چه داسې ځائې چه چرته شينکې وى هغه به ئې د ځان دپاره ساتلو، په رعايا کښې به چاته هم اجازت نه وو خپلو څاروو لره هلته د څرولو. اسلام خپلو. راتلو سره د دې عادت ابطال اوکړو، خو په دې کښې د رسول الله ﷺ استثناء اوکړې شوه، د الله پاک نوم خو د برکت دپاره دې، پس دا مسئله د علماء کرامو ترمينځه اتفاقى ده چه د رسول الله ﷺ نه علاوه د يو امام دپاره هم د حمى جواز نشته يعنى د خپل ذات دپاره، او که د مصلحت عامه دپاره وى لکه د جهاد آسونه او د صدقې اوښان نو د دې په جواز کښې اختلاف دې، او اګر چه د رسول الله ﷺ دپاره د حمى د جواز خپله په دې حديث کښې تصريح ده خو رسول الله ﷺ کله هم د خپل ذات دپاره د حمى انتخاب نه دې کړې او وراندې چه په روايت کښې راځى چه د نقيع رسول الله ﷺ حمى اوکړه هغه د خپل ځان دپاره نه وه.

په حمى او احياء کښې فرق :

دا د احياء الموات کتاب شروع دې چه په هغې کښې مصنف ﷫ حمى ذکر کړه د احياء الموات خو شريعت اجازت ورکړې دې خو د حمى نه ئې منع کړې ده اګر چه د دواړو تعلق د ارض مباحه غير مملوکه سره دې خو هغه موات د کوم د احياء چه اجازت دې د دې نه مراد هغه بيکاره او بنجر زمکه ده او د حمى تعلق د هغه موات سره دې چه شنه وى، چه د خلقو فائدې د هغې سره تړلې وى، هم په دې وجه د دې نه منع کړې شوې ده چه په دې کښې د عوامو ضرر او نقصان دې. دا نقيع په نون سره دې د يو ځائې نوم دې کوم چه د مدينې طيبې نه په شلو فرسخو کښې واقع دې. يو نقيع هغه هم دې چه د هغې ذکر په باب الجمعه فى القرى کښې راغلې دې يعنى نقيع الخضمات هغه بل ځائې دې. (بذل)

والحديث اخرجه البخارى والنسائى، قاله المنذرى

[٣٠٨٤](١) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَمَى النَّقِيعَ، وَقَالَ: "لَا حِمَى إِلَّا لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ".

دصعب بن جثامه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام نقيع مقام حمي مقرر کړه اووئې فرمائيل چه حمي (اوبه بندول) جائز نه دى مګر دالله تعالى دپاره.

....

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤٩٤١) (حسن)

باب مَا جَاءَ فِي الرِّكَازِ وَمَا فِيهِ
د خښ کړي شوي مال بيان

[٣٠٨٥]( ) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَأَبِي سَلَمَةَ، سَمِعَا أَبَا هُرَيْرَةَ، يُحَدِّثُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "فِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ".

دابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي: درکازنه به خمس اخستلي شي.

﴿عن ابى هريرة رضي الله عنه ان النبى ﷺ قال : فى الركاز الخمس﴾

الكلام على الحديث من حيث الفقة ومذاهب العلماء:

په دې حديث باندې كلام د معادن قبليه والا حديث کښې تير شوې دې چه د هغې خلاصه من حيث الفقه واختلاف الائمة دا ده چه کانونه په دوه قسمه دی، يو مخلوق لله تعالى يعنى د الله پاک پيدا کړی کوم چه الله پاک د زمکې سره پيدا اوفرمائيل چه هغې ته معدن وئيلې شی، دويم مدفون دفينه جاهليه يعنى د انسانانو په زمکه کښې ښخ کړې مال د دې نوم کنز دې، د احنافو په نزد د دې دواړو حکم يو شان دې يعنى وجوب الخمس، او د جمهورو علماء کرامو چه په کښې درې امامان هم دی په دواړو کښې د فرق قائل دی، يعنى په معدن کښې د زکوة او په کنز کښې د خمس، او د اختلاف د منشاء بحث مخکښې تير شوې دې چه د هغې خلاصه دا ده چه په حديث کښې دی ﴿وفى الركاز الخمس﴾ او د احنافو په نزد د رکاز اطلاق په دواړو باندې کيږی په دې وجه د هغوی په نزد په دواړو کښې خمس دې او د جمهورو په نزد د رکاز مصداق صرف کنز دې په دې وجه د هغوی په نزد په معدن کښې خمس نشته بلکه زکوة دې

دويم اختلاف دلته دا دې چه کانونه خو د مختلفو څيزونو وی، کومو کانونو کښې خمس واجب کيږی په دې کښې د شوافعو او مالکيانو مذهب دا دې چه صرف د نقدو پيسو (ذهب وفضة) په کان کښې، د امام احمد رحمه الله په نزد هر قسم کان کښې او د احنافو په نزد په هر جامد منطبع کښې، يعنى داسې منجمد او خشک څيز چه په اور باندې کيخولو سره ويلې کيږی. لکه سره او سپين زر او نور دهاتونه. او په معادن کښې د جمهور په نزد د نصاب شرط نشته، په قليل او کثير ټولو باندې خمس واجب دې مګر په يو روايت د امام شافعى رحمه الله کښې، او په اجماع سره په دې کښې د کال تيريدو اعتبار هم نشته.

والحديث اخرجه البخارى ومسلم والترمذى والنسائى وابن ماجة مطولا ومختصرا قاله المنذرى

[١]: صحيح البخاري/الزكاة ٦٦ (١٤٩٩)، والمساقاة ٣ (٢٣٥٥)، والديات ٢٨ (٦٩١٢)، ٢٩ (٦٩١٣)، صحيح مسلم/الحدود ١١ (١٧١٠)، سنن الترمذي/الأحكام ٣٧ (١٣٧٧)، سنن النسائي/الزكاة ٢٨ (٢٤٩٤)، سنن ابن ماجه/الأحكام ٤ (٢٦٧٣)، (تحفة الأشراف: ١٣١٢٨، ١٥١٤٧)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/العقول ١٨ (١٢)، مسند احمد (٢/٢٢٨، ٢٢٩، ٢٥٤، ٢٧٤، ٢٨٥، ٣١٩، ٣٨٢، ٣٨٦، ٤٠٦، ٤١١، ٤١٤، ٤٥٤، ٤٥٦، ٤٦٧، ٤٧٥، ٤٨٢، ٤٩٢، ٤٩٥، ٤٩٩، ٥٠١، ٥٠٧)، سنن الدارمي/الزكاة ٣٠ (١٧١٠)، ويأتي هذا الحديث في الديات (٤٥٩٣) (صحيح)

[۳۰۸۶]([1]) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ، عَنْ هِشَامٍ، عَنِ الْحَسَنِ، قَالَ: "الرِّكَازُ الْكَنْزُ الْعَادِيُّ".

دحسن بصري نه روايت فرمائی چه رکاز خزانې ته وئيلې شي.

[۳۰۸۷]([2]) حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُسَافِرٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، حَدَّثَنَا الزَّمْعِيُّ، عَنْ عَمَّتِهِ قُرَيْبَةَ بِنْتِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ وَهْبٍ، عَنْ أُمِّهَا كَرِيمَةَ بِنْتِ الْمِقْدَادِ، عَنْ ضُبَاعَةَ بِنْتِ الزُّبَيْرِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ بْنِ هَاشِمٍ، أَنَّهَا أَخْبَرَتْهَا، قَالَتْ: ذَهَبَ الْمِقْدَادُ لِحَاجَتِهِ بِبَقِيعِ الْخَبْخَبَةِ، فَإِذَا جُرَذٌ يُخْرِجُ مِنْ جُحْرٍ دِينَارًا، ثُمَّ لَمْ يَزَلْ يُخْرِجُ دِينَارًا دِينَارًا حَتَّى أَخْرَجَ سَبْعَةَ عَشَرَ دِينَارًا، ثُمَّ أَخْرَجَ خِرْقَةً حَمْرَاءَ يَعْنِي فِيهَا دِينَارٌ، فَكَانَتْ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ دِينَارًا، فَذَهَبَ بِهَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَخْبَرَهُ وَقَالَ لَهُ: خُذْ صَدَقَتَهَا، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَلْ هَوَيْتَ إِلَى الْجُحْرِ؟ قَالَ: لَا، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فِيهَا".

دضباعه بن زبير بن عبدالمطلب بن هاشم نه روايت دي فرمائی چه ددې خاوند مقداد رضي الله عنه دخه کاردپاره بقيع الخبخبة نوم کلي ته لاړو (دمديني څواته هلته ئې وه مږه اوليدله چه ديوسورې نه ئې يودينار راوويستلو اوبيا ئې بل راوويستلو ددې نه پس ئې بيابل راوويستلو تردې چه ولس دينار ئې پوره کړل اوبيا ئې يوه سره کڅوړه راوويستله په کومه کښې چه يودينار موجود وو نوټول اتلس ديناره شول مقداد نبی عليه السلام ته راوړل او واقعه ئې ورته بيان کړه او نبی عليه السلام ته ئې عرض اوکړو چه ددې دينارونو زکات واخله نبی عليه السلام ورته اوفرمائيلي ايا ته سوړې ته متوجه شوې وې؟ مقداد اووئيل نه، نبی عليه السلام اوفرمائيل الله تعالى دې تاته په دې مال کښې برکت واچوي.

شرح الحديث وتوضيح المسئلة الثابتة بالحديث:

﴿نا الزمعي عن عمته قريبة بنت عبدالله بن وهب عن امها كريمة بنت المقداد عن ضباعة بنت الزبير بن عبدالمطلب انها اخبرتها، قالت ذهب المقداد لحاجته بنقيع الخبجبة ([3])﴾

دې حديث لره قريبه روايت کوی د خپلې مور کريمه نه او کريمه روايت کوی د خپلې مور ضباعه نه او ضباعه د خپل خاوند مقداد رضي الله عنه قصه بيانوی هغه دا ده چه ضباعه وائی چه مقداد بن الاسود رضي الله عنه خپل څه کار پسې مقام نقيع الخبجبة ته لاړو نو هغه يو ځائې کښې ناست وو هغه يو لويه مږه اوليده چه په يو سورى کښې يو دينار راکاږی او راوړلو سره ئې د سورى نه بهر پريخودله، هغه مږه بار بار دې سوړې ته ځی او هر ځل يو يو دينار راوړی، دغه شان اوولس ديناره جمع شو، او بيا ئې په آخير کښې يو سره تهيلئ رابنکله چه په هغې کښې يو دينار وو، اوس دا ټول اتلس ديناره شو، ضباعه وائې چه مقداد دې دينارونو لره اخستلو سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه د دې نه کومه صدقه واجب وی هغه ترې نه واخلئ، رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغوی نه تپوس اوکړو ﴿هل

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٥٥٥) (صحيح)

[2]: سنن ابن ماجه/الأحكام ٣ (٢٥٠٨)، (تحفة الأشراف: ١١٥٥٠) (ضعيف)

[3]: بخاء وجيم وبخائين وبجيمين، اسم موضع بناحية المدينة.

هويت (١) الى الجحر قال لا فقال له رسول الله ﷺ بارک الله لک فيها ﴾
په دې قصه کښې چه کوم فقهي بحث دې هغه دا دې چه د دې دنيارونو دوه حيثيتونه کيدې شي يا خو دې دا لقطه اومنلې شي يا رکاز که دا د قبيلې د لقطې نه وې(٢) نو د دې اعلان واجب وو، او په حديث کښې اعلان ذکر نه دې خو د اعلان نفي هم نه ده، لهذا اعلان واجب دې، او يا دې داسې بيان کړې شي چه ﴿ سقط التعريف لاجل عدم محل التعريف وعدم امكانه ﴾ يعنې دا چه کوم ځائې واقع دې هغه لاره عامه د تيريدو نه ده، چه اعلان اوکړې شي نو څنګه اوکړې شي، او که دا د قبيلې د رکاز نه اومنلې شي نو بيا په دې کښې خمس واجب وو، خو د خمس اخستلو په دې حديث کښې نشته دې بلکه ﴿بارک الله لک فيها ﴾ کښې اشاره د دې خلاف ده. نو کيدې شي چه خمس رسول الله ﷺ د مقداد په حق کښې معاف کړې وي، لاجل فقره وحاجته.

والحديث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذري

بَابُ نَبْشِ الْقُبُورِ الْعَادِيَّةِ يَكُونُ فِيهَا الْمَالُ

د پخوانو قبرونو (چه مال پکښې وي) د سپړدلو بيان

عاديه په معنى د قديمة، عرب خلق عادية وئيلو سره قديمة مراد کوي ځکه چه د قوم عاد زمانه زمونږ په اعتبار سره ډيره قديم ده يعنې پخوانې قبرونه په وخت د ضرورت سپړدل، د جمهور په نزد جائز دي په دې باندې شامي بغير د کراهت نه تصريح کړې ده، او د مالکيانو په نزد سره د کراهت نه.

[٣٠٨٨] (٣) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ حَدَّثَنَا أَبِي سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْحَقَ يُحَدِّثُ عَنْ إِسْمَعِيلَ بْنِ أُمَيَّةَ عَنْ بُجَيْرِ بْنِ أَبِي بُجَيْرٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ حِينَ خَرَجْنَا مَعَهُ إِلَى الطَّائِفِ فَمَرَرْنَا بِقَبْرٍ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا قَبْرُ أَبِي رِغَالٍ وَكَانَ بِهَذَا الْحَرَمِ يُدْفَعُ عَنْهُ فَلَمَّا خَرَجَ أَصَابَتْهُ النِّقْمَةُ الَّتِي أَصَابَتْ قَوْمَهُ بِهَذَا الْمَكَانِ فَدُفِنَ فِيهِ وَآيَةُ ذَلِكَ أَنَّهُ دُفِنَ مَعَهُ غُصْنٌ مِنْ ذَهَبٍ إِنْ أَنْتُمْ نَبَشْتُمْ عَنْهُ أَصَبْتُمُوهُ مَعَهُ فَابْتَدَرَهُ النَّاسُ فَاسْتَخْرَجُوا الْغُصْنَ.

دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه مونږ کله د نبي ﷺ سره طائف ته لاړو نو په لاره کښې مو يو قبر اوليدو نبي ﷺ قبر ته اوکتل اوونئې وئيل دا دابورغال قبر دې او هغه به د حرم د حدودو نه وتلو اوګمان به ئې دارو چه د حرم په حدودو کښې به د عذاب نه بچ يم کله چه د حرم نه بهر لاړو نو هلته په هغه باندې هغه عذاب راغې کوم چه د ده په قوم باندې راغلې وو او ودلته دفن کړې شو او ددې نښه داده چه هغه کله دفن کيدو نو د هغه سره د سرو زرو يوه لښته دفن کړې شوه که چرې تاسو دا قبر راوسپړئ نو هغه لښته

(١) قال الخطابي يدل علي انه لو اخذها من الجحر لكان ركازا يجب فيها الخمس ١هـ
(٢) ابن العربي په شرح د ترمذي کښې دا احتمال داسې ليکلې دې چه رسول الله ﷺ چونکه د هغوئ نه تپوس اوکړو ﴿ هل هويت الي الجحر ﴾ نو ګويا په دې سره اشاره اوشوه دې طرف ته چه که هوئ موندلې شوې وې نو بيا به رکاز وې، لهذا دا لقطه اومنلې شوه الخ
(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٦٠٧) (ضعيف)

به درته ملار شي خلقو چه داخبره واوريده نودقبر طرف ته ئې ورمنډه کړل اووئې سپړېدو اوهغه لښته ئې ترې بهر راوويستله.

﴿ سمعت عبد الله بن عمروﷺ يقول سمعت رسول اللهﷺ يقول حين خرجنا معه الى الطائف فمررنا بقبر فقال رسول اللهﷺ هذا قبر ابى رغال وكان بهذا الحرم يدفع عنه ﴾

شرح الحديث او د ابورغال تذکره:

عبدالله بن عمرو بن العاصﷺ فرمائی چه ما د رسول اللهﷺ نه دا واوريدل چه کله مونږ هغوی سره طائف طرف ته روان وو او مونږ په يو قبر باندې تير شو نو رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه دا د ابورغال قبر دې، او د حرم مکه طرف ته اشاره فرمائيلو سره ئې اوفرمائيل چه هغه دلته راغلې وو د خپل ځآن نه د عذاب لرې کولو دپاره بيا چه کله د حرم نه راووتلو نو هغه هم عذاب راونيولو کوم چه هغه قوم ته رسيدلې وو هم دې ځائې کښې نو هغه دفن هم دلته کړې شوې وو، او رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه د دې يو نخښنه دا هم ده چه د هغه سره د سرو زرو يو ښاخکه دفن کړې شوې وه که تاسو د هغه قبر اوکنئ نو هغه به ورسره بيا مومئ په دې اوريدو باندې صحابه کرامﷺ د هغه دقبر طرف ته منډه کړه او هغه قبر کنستلو سره ئې هغه د سرو زرو ښاخکه راويستله . وئيلې شوې دی چه دا د سرو زرو ټکړه د شل رطل وزن وه.

په ترجمة الباب کښې خو دا شبهه کيده چه دا باب د دې ځائې نه دې بلکه د کتاب الجنائز کوم چه شروع کيدونکې دې په هغې کښې کيدل پکار وو، خو د حديث د مضمون نه د دې باب دلته د راوړلو مناسبت ښکاره شو مضمون د رکاز روان وو د هغه په قبر کښې هم چونکه سرۀ زر دفن وو چه هغه راويستلې شو نو دا قبر په منزله د رکاز شو، فلله در المصنفﷺ، د ابورغال په باره کښې ليکلې شوې دی چه : هو ابو ثقيف يعنى د قبيله ثقيف جد اعلى هم دې وو او د قوم ثمود نه وو د صالحﷺ عامل وو، د هغه تاريخ ډير خراب دې، قيل دليل الحبشة حين جآؤا لهدم الكعبة ﴾ يعنى د حبشه د فوج چه د ابرهه په امارت کښې د کعبې د ورانولو دپاره راغلې وو د هغې رهبر هم دا وو، په ظلم او سپيرۀ والى کښې ضرب المثل وو حاجيان خلق د هغه د قبر رجم هميشه کوی، د دې وجې نه جرير شاعر وائى د خپل حريف فرزدق په حق کښې!

اذا مات الفرزدق فارجموه كما ترمون قبر ابى رغال

د ده ذکر په سنن ترمذی کښې هم راغلې دې چه يو سړې چه د قبيله بنو ثقيف وو چه هغه خپلو ټولو بيبيانو ته په يو ځل باندې طلاق ورکړو نو عمرﷺ هغه ته اوفرمائيل

﴿لتراجعن نساءک او لارجمن قبرک کما رجم قبر ابى رغال ﴾ اهـ

دا حديث د اعلام نبوة نه دې او د اخبار بالمغيبات د قبيلې نه دې.

دا ابواب القطائع واحياء الموات د کتاب الخراج د ملحقاتو نه دی لهذا پوهه شئ چه دلته رارسيدو سره کتاب الخراج پوره شو. فلله الحمد والمنة

كِتَابُ الْجَنَائِز

د جنازې د احکامو بیان

د دې کتاب په مناسبت باندې د کتاب الخراج والفئ سره ځان داسې پوهه کړئ چه خراج څه مستقل کتاب نه دې بلکه هغه د متعلقاتو او ملحقاتو د جهاد نه دې او په جهاد او جنائزو کښې مناسبت ښکاره دې، ﴿ اذا الجهاد ینبئ عن الموت ﴾ یعنی جهاد د مرګ د یادولو څیز دې او هغې ته ډیر زیات نزدې دې، په جهاد کښې د خپل نفس بازی وی او په صحیح بخاری او مسلم کښې کتاب الجنائز، په کتاب الصلوة پسې متصلاً ذکر کړې شوې دې دصلوة الجنازة د مناسبت د وجې نه کوم چه د مړی په احکاماتو کښې دې، او په جامع ترمذی کښې دا کتاب د کتاب الحج نه پس متصلاً دې یعنی د ارکان اربعه نه فارغ کیدو نه پس دې خبرې طرف ته اشاره کوی چه د انسان مقصود په دې عباداتو او ارکان اسلام سره د آخرت تیارې دې، د صلاة الجنائز مشروعیت لکه څنګه چه په اوجز کښې لیکلې شوې دی د ۱ هجرئ نه دې لهذا کوم صحابه کرام رضي الله عنهم د هجرة نه مخکښې په مکه مکرمه کښې وفات شو په هغوی باندې مونځ نه دې کړې شوې. (کذا فی هامش البذل)

فائده تاریخیه د بذل المجهود متعلق:

حضرت شیخ په حاشیه کښې دا هم لیکلې دی چه د سهارنپوری رحمه الله چه کوم آخری سفر د حجاز په نیت د هجرت او د بذل د تکمیل اوشو نو مدنې منورې ته د رسیدو نه پس په دیارلسم محرم ۱۳۴۴ هجری کښې د خالی په ورځ باندې د ابوداؤد د شرح باقی حصه دلته (د کتاب الجنائز) نه لیکل شروع شو آه. او د بذل المجهود په آخر کښې خپله سهارنپوری رحمه الله دا لیکلې دی چه د دې شرح تسوید په مدینه طیبه کښې په روضة من ریاض الجنة کښې سید ولد آدم بلکه د سید الخلق والعالم د قبر سره خوا کښې په ۲۱ شعبان ۱۳۴۵ هجری کښې پوره شو، یعنی د کتاب الجنائز نه آخیر پورې تقریباً یو نیم کال کښې.

جنائز د جنازې جمع ده او په جنازه کښې دوه لغات دی یو په فتحې د جیم سره او دویم په کسرې د جیم سره، په فتحې د جیم سره مړی ته ائی او په کسرې د جیم سره د جنازې کټ ته وائی چه په هغې باندې مړې اوچتولې شی، وقیل بعکس ذلک..... دا مشتق دې د جنز نه په معنی د ستر چه د باب ضرب نه دې، په ظاهره د مجنوز په معنی کښې دې یعنی مستور، ځکه چه مړې مستور کیخودلې شی، پس په حدیث کښې راځی چه د انسان چه کله انتقال اوشی نو هغه دې په یو څادر باندې پټ کړې شی، بغیر د ضرورت نه د هغه مخ ښکاره کول مناسب نه دی، په غسل وغیره کښې هم د پوره پردې لحاظ ضروری دې.

بَابُ الْأَمْرَاضِ الْمُكَفِّرَةِ لِلذُّنُوبِ

د هغه مرضونو بیان کوم چه د ګناهونو د پاره کفاره جوړیږی

امراض چونکه عام طور سره د مرګ مقدمه وی په دې وجه ئې د کتاب الجنائز شروع هم د دې باب نه اوکړه.

[٣٠٨٩]() حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، قَالَ: حَدَّثَنِي رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ يُقَالُ لَهُ أَبُو مَنْظُورٍ، عَنْ عَمِّهِ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَمِّي، عَنْ عَامِرٍ الرَّامِ أَخِي الْخَضِرِ، قَالَ أَبُو دَاوُد، قَالَ النُّفَيْلِيُّ: هُوَ الْخَضِرُ، وَلَكِنْ كَذَا قَالَ، قَالَ: إِنِّي لَبِبِلَادِنَا إِذْ رُفِعَتْ لَنَا رَايَاتٌ وَأَلْوِيَةٌ، فَقُلْتُ: مَا هَذَا؟ قَالُوا: هَذَا لِوَاءُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَيْتُهُ، وَهُوَ تَحْتَ شَجَرَةٍ قَدْ بُسِطَ لَهُ كِسَاءٌ، وَهُوَ جَالِسٌ عَلَيْهِ، وَقَدِ اجْتَمَعَ إِلَيْهِ أَصْحَابُهُ، فَجَلَسْتُ إِلَيْهِمْ، فَذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْأَسْقَامَ، فَقَالَ: "إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَصَابَهُ السَّقَمُ، ثُمَّ أَعْفَاهُ اللَّهُ مِنْهُ، كَانَ كَفَّارَةً لِمَا مَضَى مِنْ ذُنُوبِهِ، وَمَوْعِظَةً لَهُ فِيمَا يَسْتَقْبِلُ، وَإِنَّ الْمُنَافِقَ إِذَا مَرِضَ ثُمَّ أُعْفِيَ كَانَ كَالْبَعِيرِ، عَقَلَهُ أَهْلُهُ، ثُمَّ أَرْسَلُوهُ فَلَمْ يَدْرِ لِمَ عَقَلُوهُ، وَلَمْ يَدْرِ لِمَ أَرْسَلُوهُ، فَقَالَ رَجُلٌ مِمَّنْ حَوْلَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَا الْأَسْقَامُ؟ وَاللَّهِ مَا مَرِضْتُ قَطُّ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قُمْ عَنَّا، فَلَسْتَ مِنَّا، فَبَيْنَا نَحْنُ عِنْدَهُ إِذْ أَقْبَلَ رَجُلٌ عَلَيْهِ كِسَاءٌ، وَفِي يَدِهِ شَيْءٌ قَدِ الْتَفَّ عَلَيْهِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي لَمَّا رَأَيْتُكَ أَقْبَلْتُ إِلَيْكَ، فَمَرَرْتُ بِغَيْضَةِ شَجَرٍ، فَسَمِعْتُ فِيهَا أَصْوَاتَ فِرَاخِ طَائِرٍ، فَأَخَذْتُهُنَّ فَوَضَعْتُهُنَّ فِي كِسَائِي، فَجَاءَتْ أُمُّهُنَّ فَاسْتَدَارَتْ عَلَى رَأْسِي، فَكَشَفْتُ لَهَا عَنْهُنَّ فَوَقَعَتْ عَلَيْهِنَّ مَعَهُنَّ، فَلَفَفْتُهُنَّ بِكِسَائِي، فَهُنَّ أُولَاءِ مَعِي، قَالَ: ضَعْهُنَّ عَنْكَ، فَوَضَعْتُهُنَّ، وَأَبَتْ أُمُّهُنَّ إِلَّا لُزُومَهُنَّ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِهِ: أَتَعْجَبُونَ لِرُحْمِ أُمِّ الْأَفْرَاخِ فِرَاخَهَا؟ قَالُوا: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَوَالَّذِي بَعَثَنِي بِالْحَقِّ، لَلَّهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ أُمِّ الْأَفْرَاخِ بِفِرَاخِهَا، ارْجِعْ بِهِنَّ حَتَّى تَضَعَهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَخَذْتَهُنَّ، وَأُمُّهُنَّ مَعَهُنَّ، فَرَجَعَ بِهِنَّ".

دعامر الرام خضري نه روايت دي فرمائي چه زه په خپل وطن کښې وم چه مونږ نښانونه اوجهنډې اوليدلې ماتپوس اوکړو چه داڅه دي؟ نوراته معلومه شوه چه دا د رسول الله جهنډې دی، نوزه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم هغه د يوې ونې لاندې ناست وو په يوڅادر باندې کوم چه دهغه دپاره غوړولې شوې وو، اودهغه نه ګيرچاپيره صحابه کرام ناست وو زه هم ورسره په مينځ کښې کيناستم، نبی ﷺ دمرضونو تذکره کوله اوونې فرمائيل کله چه يومومن ته مرض اورسيږي اوبيا الله تعالی هغه ته ددې نه نجات ورکړی نودا مرض دده دپاره دتيرو شوو ګناهونو کفاره جوړيږي اودا دمستقبل دپاره يونصيحت دې، اومنافق سړې چه کله بيمار شي اوبياروغ شي نودده مثال داوښ په شان دې کله چه دده مالك ده لره اوتړي اوبيا ئې پريږدي اوداخيال اونکړي چه دې ولې ترلې شوې وو اوولې پرانستې شو، په دې وخت کښې يوکس دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې اوکړو اې دالله رسوله مرض څه شې وی؟ په الله مې دې قسم وي زه هيڅ کله نه يم مريض شوې نبی ﷺ اوفرمائيل پاسه ددې ځائې نه لاړ شه ته زمونږ نه نه ئې، عامر وئيلی دی چه مونږ دنبی ﷺ سره موجود وو چه يوکس دځان نه څادر تاو کړې وو اوراغې اوپه لاس کښې ئې څه شې نيولې وو ده اووئيل اې دالله رسوله ماچه کله ته اوليدې نوتاته راروان شوم په لاره کښې مې دونو يوځنګل اوليدو هلته مې دمرغو د بچو آوازونه واوريدل زه ورغلم اوهغه چې مې اونيول په خپل څادر کښې مې راونغښتل بيادې بچومور راغله اوزمادسرد پاسه ګرزيدله ماددې بچی پرينبودل اوهغه هم پخپلو بچوباندې راوغورځيدله ددې بچوسره ماداهم اونيوله اوس مې په دې څادر کښې دځان سره راوړي دي نبی ﷺ چه

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٠٥٦) (ضعيف)

دا واوریدل نوونې فرمائیل داټول دلته کیږده ماټول هلته کیښودل لیکن دخوسره مې مور پرینه خودله (ددې دپاره چه بچې پریږدې او پخپله چرته وتښتي) نوپه دې وخت کښې نبی ﷺ صحابه کراموته اوفرمائیل ایا تاسو تعجب کوئ درحم کولوددې مرغئ نه پخپلو چوباندې هغوی اووئیل هو، اې دالله رسوله نبی ﷺ اوفرمائیل په هغه ذات مې دې قسم وي چاچه زه په ریښتیا سره نې جوړ کړې یم یقینا الله تعالی په خپل مخلوق باندې ددې نه هم زیات مهربان دې څومره چه دا مرغئ پخپلو بچوباندې مهربانه ده تاسوداچې ددې ځائې نه یوسئ اوهم هلته ئې کیږدئ دچرته نه چه تاسو داراوړې دې او ددې بچودامور هم ورسره ویسئ نوهغه کس داټول هلته یوړل.

﴿ عن عامر الرام اخی الحضر قال النفیلي هو الحضر ولکن کذا قال ﴾

مضمون د حدیث :

ابومنظور شامی راوی وائی چه ما ته زما تره بیان اوکړو د عامر رام نه روایت کولو سره چه د حضر رور دې، وړاندې مصنف رحمه الله فرمائی چه ما ته زما استاد عبدالله بن محمد النفیلي رحمه الله وائی چه دا لفظ صحیح خُضْر دې خو زما استاد یعنی محمد بن سلمه هم دغه شان وئیلې وو، دا عامر رام چه هغه ته عامر رامی هم وائی د هغه شمیر په صحابه کراموﷺ کښې دې لکه چه په تهذیب کښې دی (دې ډیر ښه غشې ویشتونکې وو هم په دې وجه ورته رامی وائی) ﴿ قال انی.... لبلادنا اذ رفعت لنا رایات والویة ﴾ مضمون د حدیث دا دې : عامر فرمائی چه زه په خپل ښهر کښې اوم نو ناڅاپه څو جهنډې اوچتې شوې نو ما ورته کتلو سره اووې چه دا څه دی؟ نو خلقو اووې چه دا د رسول الله ﷺ جهنډه ده نو زه فورا د هغوی خدمت ته لاړم، هغه وخت هغوی د یوې اونې لاندې تشریف فرما وو یو څادر خور وو چه په هغې باندې هغوی ناست وو، د هغوی نه څلورو واړو اړخونو ته صحابه کرامﷺ وو زه هم په هغوی کښې کیناستلم نو هغه وخت رسول الله ﷺ د بیماریانو تذکره کوله او فرمائیل ئې چه مومن ته چه کله یو بیماری اورسیږی او بیا الله پاک هغه ته د هغې نه شفاء ورکړی نو دا بیماری د هغه د تیرو ګناهونو کفاره شی، او د بیا دپاره د عبرت سبب، او د دې په مقابله کښې چه کله مناف انسان بیمارشی او بیا د هغې نه روغ شی نو د هغه حال په منزله د هغه اوښ دې کوم لره چه د هغه مالک په یو وخت کښې تړی، او بیا ئې په دویم وخت کښې پرانیزی نو هغه اوښ په دې نه پوهیږی چه د هغه مالک هغه تړلې ولې وو اوس ئې پرانستې ولې دې. ﴿ قال تعالی اولئک کالانعام بل هم اضل ﴾

وړاندې په روایت کښې دی چه په دې موقع باندې په حاضرینو کښې یو کس په بې پرواهئ سره تپوس اوکړو یا رسول الله ﷺ دا امراض څه وی؟ والله زه خو چرته نه یم بیمار شوې؟ نو رسول الله ﷺ د هغه په دې طرز باندې ناراضه شو او وې فرمائیل ﴿ قم عنا فلست منا ﴾ چه پاسه د دې ځائې نه ته زمونږ د ملګرتیا قابل نه ئې. ﴿ فبینا نحن عنده اذا قبل رجل علیه کساء وفی یده شئ قد التف علیه ﴾ راوی وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ په مجلس کښې ناست وو چه یو سړې راغلو او د هغه په لاس کښې یو څیز وو چه په هغې باندې ئې د څادر پلو اچولې

وو هغه رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه کله زما په تاسو باندې نظر پریوتلو نو فورا تاسو طرف ته راروان شوم نو زه په یو ځاځ باندې راتیر شوم (د اونو وغیره مجموعه) نو په هغه ځاځ کښې ما د مارغانو د بچو آواز واوریدلو نو ما هغه راونیول او په خپل څادر کښې مې هغه کیخودل نو د هغه بچو مور راغله د خپلو بچو د وجې نه او بالکل زما په سر باندې تاویده په الوتلو سره، چه ما د هغې بچو نه کپړه لرې کړه نو هغه فورا په هغې باندې کیناستله او د هغې نه نئ اخوا کیده ترديي چه ما په هغوی ټولو باندې څادر ورواچولو، او وې وئیل چه هغه ټول بچې وغیره ما سره دی رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا دلته لاندې کیږده ما هغه لاندې کیخودل بیا هم د هغوی مور د هغې نه نئ اخوا کیده، ټول صحابه کرام ؓ په دې منظر لیدو باندې متعجب وو، څکه چه مارغان خو د انسان خوا کښې نه ایساریږی.

د الله پاک په خپلو بندګانو باندې غیر محدود رافت او رحمت:

نو په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ اتعجبون لرحم ام الافراخ فراخها ﴾ چه آیا تاسو د دې بچو د مور په رحم باندې تعجب کوئ چه دا په خپلو بچو باندې څومره مهربانه ده؟ صحابه کرامو ؓ عرض اوکړو او جی، رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ فوالذی بعثنی بالحق لله ارحم بعباده من ام الافراخ بفراخها ﴾ قسم دې په هغه ذات چه زه ئې په حقه نبی رالیږلې یم بیشکه الله پاک په خپلو بندګانو باندې زیات مهربانه دې په نسبت د دې بچو د مور نه په خپلو بچو باندې، او بیا رسول الله ﷺ هغه سړی ته اووې چه لاړ شه او دا چه دې د کوم ځائې نه راوچت کړی دی هم هلته ئې پریږده.

بَاب إِذَا كَانَ الرَّجُلُ يَعْمَلُ عَمَلًا صَالِحًا فَشَغَلَهُ عَنْهُ مَرَضٌ أَوْ سَفَرٌ

که څوک نیک اعمال کول غواړی خو مرض او سفر ورته مانع جوړشي

[٣٠٩١](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، وَمُسَدَّدٌ، الْمَعْنَى قَالَا: حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنِ الْعَوَّامِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ السَّكْسَكِيِّ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرَ مَرَّةٍ، وَلَا مَرَّتَيْنِ، يَقُولُ: "إِذَا كَانَ الْعَبْدُ يَعْمَلُ عَمَلًا صَالِحًا، فَشَغَلَهُ عَنْهُ مَرَضٌ، أَوْ سَفَرٌ، كُتِبَ لَهُ كَصَالِحِ مَا كَانَ يَعْمَلُ، وَهُوَ صَحِيحٌ مُقِيمٌ".

دابوموسی ؓ نه روایت دې فرمائی چه یوځل دوه ځله نه بلکه ډیر ځله مې دنبی ﷺ نه اوریدلي دي چه فرمائیل فې: کله چه یو انسان دنیکو عملونو ارادي کوي بیادخه مرض یادسفرپه وجه باندې دا کارسرته ونه رسولې شي نودده دپاره به هم دومره ثواب اولیکې شي څومره چه به د دصحت اودقیام په وخت کښې حاصلولو.

﴿ عن ابی بردة عن ابی موسی ؓ قال سمعت رسول الله ﷺ غیر مرة ولا مرتین ﴾
ابوموسی اشعری ؓ فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ نه یو ځل دوه کرته نه بلکه ډیر کرته اوریدلي دی هغوی به فرمائیل چه کله یو انسان یو نیک عمل کوی او بیا د یو سفر یا مرض د وجې نه هغه اونکړې شی نو د هغه په اعمال نامه کښې عمل صالح ډیر عمده کولو

(١): صحیح البخاري/الجهاد ١٣٤(٢٩٩٦)، (تحفة الأشراف: ٩٠٣٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤١٠، ٤١٨) (حسن)

سره لیکلي شي لکه څنګه چه به هغه د صحت او اقامت په حالت کښې کول. والحدیث اخرجه البخاري، قاله المنذري

دلته په حاشیه د بذل کښې د ابوداؤد د یوې نسخې نه «ابن العبد او ابن داسه» یو حدیث نقل کړې دې!

[٣٠٩٠]() حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ مَهْدِيٍّ الْمِصِّيصِيُّ، الْمَعْنَى قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو الْمَلِيحِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ خَالِدٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد، قَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ مَهْدِيٍّ السُّلَمِيُّ عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا سَبَقَتْ لَهُ مِنَ اللَّهِ مَنْزِلَةٌ، لَمْ يَبْلُغْهَا بِعَمَلِهِ، ابْتَلَاهُ اللَّهُ فِي جَسَدِهِ، أَوْ فِي مَالِهِ، أَوْ فِي وَلَدِهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: زَادَ ابْنُ نُفَيْلٍ، ثُمَّ صَبَّرَهُ عَلَى ذَلِكَ، ثُمَّ اتَّفَقَا حَتَّى يُبْلِغَهُ الْمَنْزِلَةَ الَّتِي سَبَقَتْ لَهُ مِنَ اللَّهِ تَعَالَى.

ابراهیم بن مهدي السلمي دخپل پلار نه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه دنبی ﷺ نه مې اوریدلی دی چه فرمائیل ئې: کله چه دیوبنده دپاره دالله تعالی یوه مرتبه جوړه شي کله چه ده دغه په خپل عمل نه وی حاصله کړي نوالله تعالی به پده باندې دده جسم یامال یا اولادکښې ازمائش وکړي. ابوداود وائی چه دابن نفیل په روایت کښې دا اضافه ده چه اوبیائې دصبر تلقین وکړوپه دې باندې، په باقی روایت کښې ټول راویان متفق دي، تردې چه او رسوي ده لره دده مرتبه کومه چه دده دپاره دالله تعالی دطرف نه لیکلې شوي ده.

مضمون د حدیث:

﴿عن محمد بن خالد عن ابیه عن جده [٢] وکانت له صحبة من رسول الله ﷺ الخ﴾

چه د هغې مضمون دا دې: محمد بن خالد د خپل پلار نه او هغه د هغه د نیکه نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ به ارشاد فرمائیلو چه کله د یو بنده دپاره د الله پاک په علم قدیم کښې داسې منزلت او مرتبه وی چه هغې ته هغه د خپل عمل صالح په وجه نه شی رسیدې نو الله پاک هغه لره د بدن یا د مال یا د اولاد په ازمیښت کښې واچوی او بیا هغه ته د صبر توفیق ورکړی تر دې چه هغه لره د هغه مرتبې ته اورسوی کومه چه د هغه دپاره مقدر شوې وی.

د دې حدیث نه د مصائبو د رفع درجات سبب کیدل معلومیږی، او دویمه ترې نه دا خبره هم فهمیږی چه اګر چه بنده ته هر څه خو ملاویږی د الله پاک په فضل سره خو دنیا دارالعمل والاسباب دې الله پاک صورةً ثواب او عقاب هر دواړو لره د عمل سره تړلې دی.

﴿قال الله تعالی: الذی خلق الموت والحیوة لیبلوکم ایکم احسن عملا﴾

---

[١]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٥٥٦٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٧٢/٥) (صحيح)

[٢] والحديث رواه ابوداؤد ورواه احمد والطبراني في الكبير والاوسط، كذا في كتاب من روي عن ابيه عن جده للقاسم بن قطلوبغاه وفي تعليقه وقال في مجمع الزوائد ٢٩٢/٢ ومحمد بن خالد وابوه لم اعرفهما واورده الهيثمي كذلك في مجمع البحرين ٩٩/١ اهـ مختصرا وفي هذا التعليق تفصيل من شاء فليراجع اليه)

بَابُ عِيَادَةِ النِّسَاءِ
کومې ښځې چه د مریض د عیادت دپاره لاړې شي دهغوی بیان

[٣٠٩٢](1) حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ بَكَّارٍ، عَنْ أَبِي عَوَانَةَ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أُمِّ الْعَلَاءِ، قَالَتْ: عَادَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَنَا مَرِيضَةٌ، فَقَالَ: "أَبْشِرِي يَا أُمَّ الْعَلَاءِ، فَإِنَّ مَرَضَ الْمُسْلِمِ يُذْهِبُ اللَّهُ بِهِ خَطَايَاهُ، كَمَا تُذْهِبُ النَّارُ خَبَثَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ".

د ام علاء رضي الله عنها نه روایت دې فرمائي چه نبی ﷺ زما بیمار پرسئ ته راغي اوزه مریضه وم اووئې فرمائیل خوشخبري واوره اې ام العلاء یقینا مرض دمسلمان ګناهونه لرې کوي اوداسې ئې لرې کوي لکه څنګه چه اور دسپینو او سرو زرونه خیرې لرې کوي.

اى عيادة الرجال النساء فالاضافة الى المفعول.... پس په حدیث الباب کښې دی ام العلاء فرمائي چه رسول الله ﷺ زما بیمار پرسي اوفرمائیله ﴿ وانا مريضة ﴾ او د بیمار پرسئ په وخت رسول الله ﷺ اوفرمائیل اې ام العلاء خوشحاله شه څکه چه د مسلمان د بیمارئ په وجه باندې الله پاک د هغه نه د هغه ګناهونه داسې لرې کوی لکه چه اور د سرو او سپینو زرو خیری لره، دا ام العلاء د حکیم بنت حزام ترور وه.

[٣٠٩٣](2) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى. ح وَحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، قَالَ أَبُو دَاوُد وَهَذَا لَفْظُ ابْنِ بَشَّارٍ، عَنْ أَبِي عَامِرٍ الْخَزَّازِ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي لَأَعْلَمُ أَشَدَّ آيَةٍ فِي الْقُرْآنِ، قَالَ: "أَيَّةُ آيَةٍ يَا عَائِشَةُ؟" قَالَتْ: قَوْلُ اللَّهِ تَعَالَى: مَنْ يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ سورة النساء آية ١٢٣، قَالَ: أَمَا عَلِمْتِ يَا عَائِشَةُ أَنَّ الْمُؤْمِنَ تُصِيبُهُ النَّكْبَةُ أَوِ الشَّوْكَةُ فَيُكَافَأُ بِأَسْوَإِ عَمَلِهِ، وَمَنْ حُوسِبَ عُذِّبَ، قَالَتْ: أَلَيْسَ اللَّهُ يَقُولُ: فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا سورة الانشقاق آية ٨، قَالَ: ذَاكُمُ الْعَرْضُ، يَا عَائِشَةُ، مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ عُذِّبَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا لَفْظُ ابْنِ بَشَّارٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ.

د ام المومنین عائشة رضي الله عنها نه روایت دې فرمائي چه ما اووئیل اې دالله رسوله زه دهغه ایت نه خبره یم کوم چه په قران کریم کښې ډیر شدید اوسخت دې نبی ﷺ اوفرمائیل هغه کوم یو ایت دې اې عائشې، ما اووئیل دا ایت «من يعمل سوءا يجز به» کله چه دا ایت نازل شو نوصحابه کرامو ته ډیر ګران ښکاره شونبی ﷺ اوفرمائیل اې عائشې ایاتاته معلومه نه ده کله چه په مسلمانانو باندې څه قسم افت راشي پائي په خپه کښې ازغي لاړشي نوهغه ددوی دبدو عملونو دپاره کفاره جوړیږي مګردچاسره چه حساب اوشي نوهغه دعذاب نه نه شي بچ کیدلې عائشې اوفرمائیل الله تعالی فرمائي «فسوف يحاسب حسابا يسيرا» نبی ﷺ اوفرمائیل ددې نه مراد صرف داعمالو پیش کیدل دي اې عائشې د قیامت په ورځ په حساب کتاب کښې چه دکوم کس نه دعملونو تپوس اوکړې شي نوهغه هیڅ کله دعذاب نه نه شي بچ کیدلې- أبوداود وائی دا دابن بشار الفاظ دي اوهغه دابن أبی ملیکه نه دا روایت

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٣٣٩) (صحيح)

(2): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٢٤٠)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/العلم ٣٦ (١٠٣)، وتفسير القرآن ١ (٤٩٣٩)، صحيح مسلم/الجنة وصفة نعيمها ١٨ (٢٨٧٦)، سنن الترمذي/صفة القيامة ٥ (٢٤٢٦)، وتفسير القرآن ٧٥ (٣٣٣٧)، مسند احمد (٤٧/٤) (صحيح)

په اخبرنا سره بيان کړې دې.

﴿عن عائشة رضي الله عنها قالت قلت يا رسول الله ﷺ انى لاعلم اشد اية فى كتاب الله عزوجل الخ ﴾

مضمون د حديث دا دې : عائشه رضي الله عنها فرمائي چه ما يو ځل رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه په قرآن کريم کښې چه د ټولو نه زيات کوم آيت کريمه سخت دې (ويرونکې) هغه ماته معلوم دې. رسول الله ﷺ تپوس اوکړو کوم آيت دې هغه؟ نو هغې عرض اوکړو ﴿ من يعمل سوء يجز به ﴾ چه کوم انسان هم ګناه کوي هغه ته به د هغه بدله ملاويږي، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل اې عائشې! تا ته پته نشته چه کله يو مسلمان ته څه مصيبت اورسيږي يا ئې ازغې هم مات شي نو دا د هغه د بدو اعمالو بدله شي په دنيا کښې (مطلب دا دې چه په آيت کريمه کښې د جزاء نه مراد صرف د آخرت عذاب نه دې بلکه مطلق جزاء ترې نه مراد ده که په دنيا کښې وي او که په آخرت کښې وي پس د ډيرو ګناهو بدله په دنيا کښې ورکولې شي او بيا ترې نه په آخرت کښې مطالبه نه کيږي. ﴿ومن حوسب عذب ﴾ خو چه د چا نه هلته حساب واخستلې شو هغه د عذاب نه نه شي بچ کيدې. په دې باندې عائشې رضي الله عنها عرض اوکړو چه آيا الله پاک دا نه دي فرمائيلې، ﴿فسوف يحاسب حسابا يسيرا ﴾ چه د هغې نه معلوميږي چه بعض حساب به آسان هم وي نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه په دې آيت کريمه کښې د حساب نه مراد نفس عرض دې يعنى د اعمال نامې صرف پيش کيدل، او زما مراد د حساب نه مناقشة فى الحساب ده چه هغې ته جرح وائي، يعنى چه دحساب په وخت ترې نه تپوس اوکړې چه داسې دې ولې کړې وو؟

والحديث اخرجه البخارى ومسلم (من قوله) اليس يقول الله الى آخر الحديث. قاله المنذرى

وكتب فى البذل هذا الحديث لا مناسبة له بباب عيادة النسآء بل له مناسبة بالباب الذى قبله.

بَابٌ فِى الْعِيَادَةِ

د مريض د عيادت کولو بيان

[۳۰۹۴]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَيٍّ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ عَرَفَ فِيهِ الْمَوْتَ، قَالَ: "قَدْ كُنْتُ أَنْهَاكَ عَنْ حُبِّ يَهُودَ"، قَالَ: فَقَدْ أَبْغَضَهُمْ أَسْعَدُ بْنُ زُرَارَةَ فَمَهْ، فَلَمَّا مَاتَ أَتَاهُ ابْنُهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَيٍّ قَدْ مَاتَ، فَأَعْطِنِي قَمِيصَكَ أُكَفِّنْهُ فِيهِ، فَنَزَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَمِيصَهُ، فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ.

داسامه بن زيد نه روايت دې فرمائي چه نبى عليه السلام دعبدالله بن ابى دعيادت دپاره لاړو په هغه مرض کښې په کوم مرض کښې چه هغه وفات شوې وو هرکله چه ورته داخل شو نودمرګ علامې ئې په کښې اوليدلې ورته ئې اوفرمائيل ما خوته ديهوديانو دمحبت نه منع کړې وې هغه اووئيل: سعد بن زراره ديهوديانوسره دشمني اوکړه څه فائده ئې اوشوه؟ کله چه عبدالله بن ابى مړ شو نودده ځوې دنبى عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۰۱/۵) (حسن)

اوکړو اي دالله رسوله عبدالله بن أبی مرشو تاسوراته دهغه دکفن دپاره خپل قمیص مبارك راکړئ، نبی ﷺ خپل قمیص اوويستلو او ورته ئې ورکړو.

شرح الحدیث :

مضمون د حدیث دا دي: سیدنا اسامه رضی الله عنه فرمائی چه د عبدالله بن ابی رئیس المنافقین په مرض الموت کښي رسول الله ﷺ هغوی ته د بیمار پرسئ دپاره تشریف یوړلو رسول الله ﷺ هغوی ته کتلو سره په هغوی کښې د مرګ علامات اولیدل. او رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ قد کنت انهاک عن حب یهود ﴾ ما به ته د یهودو د مینې نه منع کولې (او د یهودو مینې ته په دې منافقت کښې اخته کړې وې او اوس د منافقت په حالت کښې مرې، صرف په ژبه باندې اسلام راوړل مفید نه دی) هغه د رسول الله ﷺ دې خبرې اوریدو سره اووې ﴿ فقد ابعضهم اسعد بن زرارة فمه ﴾ چه اسعد بن زرارة خو د یهودو سره مینه نه کوله بلکه د هغوی سره ئې بغض کولو پس څه پکار ئې راغلو دا د یهودو بغض، دا ناپوهه د رسول الله ﷺ د ارشاد په مطلب پوهه نه شو د رسول الله ﷺ اشاره خو د آخرت د عذاب طرف ته وه، هغه دا اوګڼړله چه اصل فائده خو د مرګ نه په بچ کیدو کښې ده په دې وجه ئې اووې چه اسعد بن زراره د مرګ نه کوم بچ شو.

عبدالله بن ابی د اسعد بن زراره رضی الله عنه په باره کښې د یهودو بغض ثابت کړو، د هغوی د بغض څه خاص واقعه خو نه ده ملاؤ شوې. البته په اصابه وغیره کښې خو دا وئیلې کیدې شی چه د هغه بغض داسې ثابت دې چه دې اول من اسلم من الانصار علی الاطلاق دې. یعنی مدینه چرته چه په کثرت سره یهود اوسیدل هلته د اسلام شروع هم د دوی نه اوشوه ﴿ علی رغم انف یهود او ښکاره خبره ده چه د مدینې نه د یهودو جرړه اهل اسلام پرې کړې ده او د هغوی نور هم ډیر خصوصیتونه دی ﴿ فانه اول من جمع الجمعة فی المدینة قبل هجرته علیه الصلوة والسلام﴾ کما مر فی کتاب الصلوة باب الجمعة فی القری.

د دې نه پس په روایت کښې دی چه کله هغه مړ شو نو رسول الله ﷺ ته د هغه ځامن چه د هغه د ځوی نوم هم عبدالله رضی الله عنه وو او اسلام ئې راوړې وو هغوی راغلل او رسول الله ﷺ ته ئې درخواست اوکړو چه تاسو خپل قمیص ماته راکړئ چه د خپل پلار تکفین په هغې کښې اوکړم، رسول الله ﷺ هغوی ته خپل قمیص مبارک ورکړو، د ابوداؤد په دې روایت کښې خو صرف دومره دی او د صحیحینو په روایت کښې دا هم راغلی دی چه رسول الله ﷺ د هغوی قبر ته تشریف یوړو او هغه ئې د قبر نه راویستلو او هغه ئې په خپلو زنګونو باندې کیخودلو او په هغه باندې ئې د خپلې خولې مبارک لاړې پورې کړې، او خپل قمیص ئې هغه ته واغوستولو.

په بذل کښې لیکلی دی چه د رسول الله ﷺ قمیص ورکول د هغه د ځوی د زړه د ساتلو دپاره ؤو(څکه چه هغه مسلمان شوې وو) سره د دې چه رسول الله ﷺ ته معلومه وه چه د هغوی قمیص د نفاق سره هیڅ فائده نه ورکوی، او وئیلې شوې دی چه د رسول الله ﷺ دا قمیص ورکول صرف د هغه احسان په بدل کښې وو چه عبدالله بن ابی منافق د رسول

الله ﷺ محترم ترۀ عباس رضی الله عنه ته خپل قمیص ورکړې وو ، ځکه چه عباس رضی الله عنه په جنګ بدر کښې قید کړې شوې وو او د هغوی قمیص شلیدلې وو د هغوی دپاره د قمیص ضرورت وو نو ابن ابی هغه وخت هغوی ته خپل قمیص ورکړې وو ځکه چه د طویل القامت کیدو د وجې نه د بل چا قمیص په هغوی باندې نه برابریدو ، بیا اسلام خو هغوی روستو راوړو د خیبر د فتح نه مخکښې د یو قول مطابق.

بَابٌ فِي عِيَادَةِ الذِّمِّيِّ

د کافر او ذمی عیادت کول

[٣٠٩٥]() حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ يَعْنِي ابْنَ زَيْدٍ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ: أَنَّ غُلَامًا مِنَ الْيَهُودِ كَانَ مَرِضَ، فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُهُ، فَقَعَدَ عِنْدَ رَأْسِهِ، فَقَالَ لَهُ: "أَسْلِمْ، فَنَظَرَ إِلَى أَبِيهِ وَهُوَ عِنْدَ رَأْسِهِ، فَقَالَ لَهُ أَبُوهُ: أَطِعْ أَبَا الْقَاسِمِ، فَأَسْلَمَ، فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ يَقُولُ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنْقَذَهُ بِي مِنَ النَّارِ".

د انس نه روایت دې فرمائی چه یو یهودې هلك مریض شو او نبی علیه السلام ئې دتپوس دپاره ورغې دسر سره ئې کیناستوورته ئې اووئیل اسلام قبول کړه نوهغه خپل پلار ته وکتل اودده پلار دده سر ته ولاړ وو پلار ئې ورته اووئیل دابو القاسم ﷺ خبره اومنه نوهغه مسلمان شو نبی علیه السلام پاځیدو او وئې فرمائیل دالله شکر دې چاچه زماپه وجه باندې دې هلك ته ددوزخ داور نه نجات ورکړو.

﴿ عن رضی الله تعالی عنه ان غلاما من الیهود ﴾

مضمون دا دې چه انس رضی الله عنه فرمائی چه یو یهودی هلک بیمار شو ، رسول الله ﷺ د هغه د بیمار پرسئ دپاره تشریف یوړو او دهغه د سرطرف ته کیناستلو او هغه ته ئې اوفرمائیل اسلام راوړه ، هغه هلک د خپل پلار طرف ته اوکتل هغه هم هلته ولاړ وو ، هغه اووې او د ابو القاسم ﷺ اطاعت اوکړه پس هغه اسلام قبول کړو ، رسول الله ﷺ د الله پاک حمد وثناء کولو سره را واپس شو چه الله پاک زما په وجه باندې هغه ته د دوزخ نه خلاصې ورکړو.

دا حدیث په صحیح بخاری کښې هم دې ﴿ فی باب اذا اسلم الصبی فمات هل یصلی علیه وهل یعرض علی الصبی الاسلام ﴾ د دې په شروع کښې داسې دی ﴿ عن انس رضی الله عنه قال کان غلام یهودی یخدم النبی ﷺ فمرض الحدیث ﴾ مصنف رحمه الله د دې نه د ذمی د عیادت جواز ثابت کړې دې، په حاشیه د بذل کښې دی، ﴿ ویجوز عندنا الذمی غندنا بالاجماع ﴾ کذا فی الشامی، وعن احمد فیه روایتان کما فی الشرح الکبیر.

والحدیث اخرجه البخاری والنسائی، قاله المنذری

[1]): صحيح البخاري/الجنائز ٧٩ (١٣٥٦)، والمرضي ١١ (٥٦٥٧)، (تحفة الأشراف: ٢٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٧٥/٣، ٢٧٠، ٢٨٠) (صحيح)

بَابُ الْمَشْيِ فِي الْعِيَادَةِ

د عیادت دپاره د پیدل تلو دفضیلت بیان

[٣٠٩٦](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُنِي، لَيْسَ بِرَاكِبِ بَغْلٍ، وَلَا بِرْذَوْنٍ.

دجابر نه روایت دي فرمائی چه نبی ﷺ به زمابیمارپرسئ ته راتلو چه نه به په قره سوررور اونه به په ترکي اس باندي.

﴿عن جابر رضی اللہ عنہ قال کان النبی ﷺ یعودنی لیس براکب بغلا ولا برذونا﴾

جابر رضی اللہ عنہ فرمائی چه رسول اللهﷺ زما د تپوس دپاره تشریف راوړو (یعنی پیاده) هغوی به نه سوریدل نه په خچر باندي او نه په ترکی اس باندي.

مصنف رحمہ اللہ د حدیث هم هغه معنی اخستلي ده کومه چه مونږ په ترجمه کښي لیکلي ده، یعنی د مطلقا رکوب نفی، د حضرت شیخ په حاشیه کښي دی: ما ترجم به المصنف علیه حمل الجمهور الحدیث، وحمله بعضهم علی انه کان راکبا علی غیر البغل والبرذون آه مختصرا. حافظ منذری رحمہ اللہ فرمائی د حدیث نه ثابته ده چه رسول اللهﷺ د سعد بن عباده عیادت اوفرمائیلو راکبا علی حمار او د جابر رضی اللہ عنہ په حدیث کښي دی ﴿اتانی النبی ﷺ یعودنی وابوبکر وهما ماشیان﴾ لهذا د مریض عیادت راکبا او ماشیا دواړو طریقو سره مسنون دي.

والحدیث اخرجه البخاری والترمذی قاله المنذری

بَابٌ فِي فَضْلِ الْعِيَادَةِ عَلَى وُضُوءٍ

د اودس په حالت کښي د بیمار پرسی کولو دفضیلت بیان

[٣٠٩٧](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ الطَّائِيُّ، حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ رَوْحِ بْنِ خُلَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دَلْهَمٍ الْوَاسِطِيُّ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ، وَعَادَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ مُحْتَسِبًا، بُوعِدَ مِنْ جَهَنَّمَ مَسِيرَةَ سَبْعِينَ خَرِيفًا". قُلْتُ: يَا أَبَا حَمْزَةَ، وَمَا الْخَرِيفُ؟ قَالَ: الْعَامُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَالَّذِي تَفَرَّدَ بِهِ الْبَصْرِيُّونَ مِنْهُ الْعِيَادَةُ، وَهُوَ مُتَوَضِّئٌ.

دانس بن مالك رضی اللہ عنہ نه روایت دي فرمائی چه رسول پاك فرمائیلی دی چاچه اودس اوکړو اوښائسته اودس ئي اوکړو اودخپل مسلمان ورور عیادت ئي اوکړو دثواب په اراده باندي نوداویا خریفو په فاصله باندي به دجهنم نه لري کړې شي، ما اووئیل اي ابوحمزه خریف څه شي وي کلونه. ابوداود وائی هغه روایتونه کوم چه صرف بصریانو نقل کړی دی یو په هغوی کښي دا روایت دي.

(١): صحیح البخاري/المرضي ١٦ (٥٦٦٤)، سنن الترمذي/ المناقب ٥٣ (٣٨٥١)، (تحفة الأشراف: ٣٠٢١)، وقد أخرجه: صحیح مسلم/الفرائض ٢ (١٦١٦) (صحیح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٦١) (ضعیف)

[٣٠٩٨](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نَافِعٍ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: "مَا مِنْ رَجُلٍ يَعُودُ مَرِيضًا مُمْسِيًا، إِلَّا خَرَجَ مَعَهُ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ يَسْتَغْفِرُونَ لَهُ حَتَّى يُصْبِحَ، وَكَانَ لَهُ خَرِيفٌ فِي الْجَنَّةِ، وَمَنْ أَتَاهُ مُصْبِحًا، خَرَجَ مَعَهُ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ يَسْتَغْفِرُونَ لَهُ حَتَّى يُمْسِيَ، وَكَانَ لَهُ خَرِيفٌ فِي الْجَنَّةِ".

د علی کرم الله وجهه نه روایت دې هریوکس چه دماښام په وخت کښې دیو مریض تپوس اوکړي نوده سره اویازره فرشتې روانې شي کومې چه دده دپاره دسحره پورې دګناهونو نه بخښنه غواړی اووده دپاره به په جنت کښې یوباغ مقرر کړې شي اوڅوک چه د ورځې دشروع کیدو په وخت کښې دچابیمار پرسي اوکړي نووده دپاره اویازره فرشتې دماښام پورې دمغفرت دعاګانې غواړی اووده دپاره به په جنت کښې یوباغ مقرر کړې شي.

زمونږ استاد حضرت مولانا اسعد الله صاحب رحمه الله به فرمائیل ﴿ العيادة افضل من العبادة لفظا ومعنى ﴾ په دې باب کښې مصنف رحمه الله اول د انس رضي الله عنه حدیث ذکر کړې دې چه د هغې مضمون دا دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه کوم انسان په ښه طریقې سره اودس کولو نه پس د خپل مسلمان رور عیادت اوکړی صرف د ثواب په نیت سره نو هغه د دوزخ نه د اویا کالو فاصله باندې لرې کړې شی، او دویم ئې د علی رضي الله عنه حدیث ذکر کړې دې چه د هغې مضمون دا دې چه کوم انسان د یو مریض عیادت اوکړی د سحر په وخت نو د هغه سره اویا زره ملائک اوځی کوم چه د هغه دپاره تر د ماښامه پورې استغفار کوی، او کوم انسان چه د یو مریض تپوس اوکړی د ماښام په وخت نو د هغه سره اویا زره ملائک راوځی چه د هغه دپاره د سحره پورې بخښنه غواړی، او د هغه دپاره په جنت کښې یو باغ لګولې شی.

خریف په معنی د بستان چه هغې ته مخراف هم وائی او د ترمذی په یو روایت کښې دی ﴿من حديث ثوبان رضي الله عنه لم يزل فى خرفة الجنة ﴾ او هم د دې روایت په دویم طریق کښې دا زیادت دې ﴿ قيل ما خرفة الجنة قال جناها ﴾ یعنی د جنت میوې، فواکه، زمونږ استاذ محترم مولانا اسعد الله صاحب رحمه الله فرمائی چه هر کله دا خبره ده نو بیا چه په کومه زمانه کښې ورځ لویه وی هغه وخت تپوس د سحر په وخت کول پکار دی او کله چه شپه لویه وی نو هغه وخت تپوس د ماښام په وخت کول پکار دی.

[٣٠٩٩](٢) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ، لَمْ يَذْكُرِ الْخَرِيفَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ مَنْصُورٌ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ أَبِي حَفْصٍ، كَمَا رَوَاهُ شُعْبَةُ.

د علی کرم الله وجهه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی دا روایت دتیر روایت په شان دې لیکن په دې کښې دخرید ذکر نشته، ابوداود وائی دا روایت منصور هم دحکم نه اوهغه د ابوحفص نه دشعبه په شان نقل کړې دې.

١): تفرد به أبو داود، وانظر الحديث الآتي، (تحفة الأشراف: ١٠٢١١) (صحيح)

٢): سنن ابن ماجه/الجنائز ٢ (١٤٤٢)، (تحفة الأشراف: ١٠٢١١)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الجنائز ٢ (٩٦٩)، مسند احمد (١/٨١، ١٢٠) (صحيح)

[٣١٠٠]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نَافِعٍ، قَالَ: وَكَانَ نَافِعٌ غُلَامَ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ، قَالَ: جَاءَ أَبُو مُوسَى إِلَى الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ يَعُودُهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد، وَسَاقَ مَعْنَى حَدِيثِ شُعْبَةَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: أُسْنِدَ هَذَا عَنْ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ صَحِيحٍ.

علی کرم الله وجهه دنبی ﷺ نه نور داسې روایات هم نقل کړی دی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی لیکن په هغه روایتونو کښې دباغ ذکرنشته، ابوداود وائی ددې حدیث د علی رضي الله عنه نه اوهغه دنبی ﷺ نه په غیر صحیح وجه باندې بیان شوې دې.

بَابٌ فِي الْعِيَادَةِ مِرَارًا

دبار بار عیادت کولو دفضیلت بیان

[٣١٠١]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: لَمَّا أُصِيبَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ يَوْمَ الْخَنْدَقِ، رَمَاهُ رَجُلٌ فِي الْأَكْحَلِ، "فَضَرَبَ عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْمَةً فِي الْمَسْجِدِ، فَيَعُودُهُ مِنْ قَرِيبٍ".

دام المومنین عائشة رضي الله عنها نه روایت دې فرمائی کله چه په غزوه خندق کښې سعد بن معاذ زخمي کړې شواوهغه داسې یوکس دده لاس په غشي ویشتلي وو اورګ ئې شلیدلې وو نونبی ﷺ دده دپاره په مسجد کښې دننه یوه خیمه ولګوله ددې دپاره چه دنزدې نه ئې عیادت وکړی.

﴿عن عائشة رضي الله عنها قالت لما اصيب سعد بن معاذ رضي الله عنه يوم الخندق رماه رجل في الاكحل الخ﴾

شرح الحديث :

یعنی سعد بن معاذ رضي الله عنه په غزوه خندق کښې یو کافر په اکحل کښې په غشی باندې ویشتلو نو رسول الله ﷺ سعد رضي الله عنه لره په مسجد کښې ایسارولو سره د هغوی دپاره په مسجد کښې خیمه نصب کړه او په مسجد کښې ئې څکه ایسار کړو چه د نزدې کیدو د وجې نه په تپوس کولو کښې سهولت وی په دې باندې مصنف رحمه الله ترجمة قائم کړې ده العیادة مرارا، مصنف رحمه الله ګویا په دې کښې د سعد رضي الله عنه په مسجد کښې د ډیره کولو او ایسارولو فائده او مصلحت بیان کړې دې چه بار بار تپوس اوکړې شی.

﴿اکحل﴾ د یو رګ نوم دې چه د زړاغ په مینځ کښې وی، او خلیل لیکلې دی چه اکحل دعرق حیات هغه ښاخ دې کوم چه په لاس کښې وی، او کوم ښاخ چه د دې په ملا کښې وی هغې ته ابهر وائی او کوم چه په پنډۍ کښې وی هغې ته نساء وائی. وئیلې شوې دی چه په هر اندام کښې د عرق حیات یو څانګه وی د هغه رګ که خوله پرانستلې شی نو وینه نه اودریږی اکحل ته په فارسۍ کښې رګ هفت اندام وائی.

دا حدیث دلته خو مختصر دې اورډ او مفصل حدیث د بخاری په کتاب المغازی کښې دې.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والنسائي، قاله المنذري

---

[1]: انظر ماقبله، (تحفة الأشراف: ١٠٢١١) (صحيح مرفوع)

[2]: صحيح البخاري/الصلاة ٧٧ (٤٦٣)، والمغازي ٣٠ (٤١٢٢)، صحيح مسلم/الجهاد ٢٢ (١٧٦٩)، سنن النسائي/المساجد ١٨ (٧١١)، (تحفة الأشراف: ١٦٧٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٥٦، ١٣١، ٢٨٠) (صحيح)

بَابٌ فِي الْعِيَادَةِ مِنَ الرَّمَدِ

د سترګو د خوږېدو په وجه د چا د عیادت دپاره د تلو د فضیلت بیان

غرض المصنف من الترجمة :

رمد یعنی د سترګو خوږېدل، د دې د تخصیص سره د ترجمې قائمولو په ظاهره ضرورت ځکه راغلو چه یو حدیث دې چه په هغې کښې درې څیزونه د تپوس کولو نه مستثنی کړې شوې دی، ﴿ ثلاثة ليس لهم عيادة العين والدمل والضرس ﴾ اخرجه البيهقي، چه درې درې بیماریانې داسې دی چه په دې کښې تپوس نشته، یو هم دا د سترګو خوږېدل، دویم دمّل دانه، دریم د غاښ درد، خو صحیح دا دې چه دا حدیث موقوف دې مرفوع نه دې، او حدیث الباب کوم چه مصنف رحمه الله ذکر کړې دې هغه اصح دې، یا دا چه په دې حدیث کښې د تاکد نفی کړې شوې ده خو په بعض کتابونو د فقه کښې هم د دې دریو بیمارو د عیادت نفی ذکر کړې شوې ده، د دې جواب هم دا ورکړې شوې دې چه د تاکد نفی مقصود ده د مطلق سنت کیدو نه.

[٣١٠٢](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ يُونُسَ بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، قَالَ: "عَادَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ وَجَعٍ كَانَ بِعَيْنِي".

دزید بن ارقم رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام زما د عیادت دپاره راغې د هغه درد په وجه کوم چه زما په سترګو راغلې وو.

﴿ عن زيد بن ارقم رضي الله عنه قال عادني رسول الله ﷺ من وجع كان بعيني ﴾ د حدیث نه د ترجمة الباب ثبوت ښکاره دې.

بَابُ الْخُرُوجِ مِنَ الطَّاعُونِ

د طاعون زده علاقې نه د وتلو بیان

طاعون یوه مشهوره بیماری ده کومه چه د بدن په مختلفو حصو کښې مثلاً ځنګلو، ترخونو یا ګوتو کښې یا د بدن په نورو حصو کښې څه دانې او زخمونه پیدا شی چه د هغې سره ورم هم وی او سخت قسم پریشانی هم او سوزې، اود هغې زخمونو ګیر چا پیره ځایونه سره شی یا شین والی ته مائل، چه د هغې سره د زړه حرکت تیز شی، او قئ هم وی او د دې اطلاق په هغه وبا او مرض عام (لکه زمونږ د زمانې ډهینګی) باندې هم کیږی چه په هغې سره فضاء فاسده شی او بیا د هغې اثر په بدن کښې خور شی.

[٣١٠٣](٢) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زَيْدِ بْنِ الْخَطَّابِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ نَوْفَلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلَا تُقْدِمُوا عَلَيْهِ، وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا فِرَارًا مِنْهُ" يَعْنِي الطَّاعُونَ.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٩٧٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٣٧٥) (حسن)

(٢): صحيح البخاري/الطب ٣٠ (٥٧٢٩)، والحيل ١٣ (٦٩٧٣)، صحيح مسلم/السلام ٣٢ (٢٢١٩)، (تحفة الأشراف: ٩٧٢١)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجامع ٧ (٢٢)، مسند احمد (١/١٩٢، ١٩٣، ١٩٤) (صحيح)

دعبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه نه روایت دي فرمائي چه نبی ﷺ فرمائیلي دی په کومه ځمکه کښې چه طاعون مرض وي هلته مه ورځئ اوکله چه په کوم ځائې کښې په تاسو باندې طاعون راشي نو دغه ځائې نه مه تختئ (یعنی دطاعون مرض نه).

شرح الحدیث

﴿اذا سمعتم بارض فلا تقدموا (١) علیه واذا وقع بارض وانتم بها فلا تخرجوا فرارا منه﴾
د دې بیمارئ په باره کښې رسول الله ﷺ دا ارشاد فرمائي چه په کومه علاقه کښې د دې کیدل معلوم شی نو هلته مه ځائې، او که په هم هغه ځائې کښې بیا موندلې شی چرته چه تاسو یئ نوبیا دهغه ځائې نه مه تختئ یعنی ددې بیمارئ نه بچ کیدودپاره، معلومه شوه چه که د څه ضرورت د وجې نه ځی نو بیله خبره ده ځکه چه په رومبی صورت کښې د جراءت اواستغناء معنی موندلې شي اوپه دویم صورت کښې د فرارعن القدر شبه پیدا کیږی.
د حدیث نه معلومیږی چه طاعون د کفارو په حق کښې د الله پاک عذاب دي او د مومنانو په حق کښې رحمت دي، که په دې باندې صبر اوکړی نو دهغه دپاره د شهید اجر دي، پس وړاندې مستقل باب را روان دي، ﴿فضل من مات بالطاعون﴾ چه په هغې کښې دا راځی ﴿المطعون شهید﴾ حضرت په بذل کښې د طاعون په باره کښې دا روایت ذکر کړې دې د عائشې رضی الله عنها د حدیث چه ما د رسول الله ﷺ نه د طاعون په باره کښې تپوس اوکړو ﴿فاخبرنی انه عذاب یبعثه الله علی من یشآء وان الله عزوجل جعله رحمة للمؤمنین﴾ الحدیث واخرجه الشیخان من حدیث سامة بن زید مرفوعا ﴿الطاعون رجز ارسل علی طائفة من بنی اسرائیل او علی من کان قبلکم الحدیث﴾ اهـ مختصرا.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم مطولا، قاله المنذری

بَابُ الدُّعَاءِ لِلْمَرِيضِ بِالشِّفَاءِ عِنْدَ الْعِيَادَةِ

د عیادت په وخت کښې د مریض دپاره د الله تعالی نه د شفا غوښتلو بیان

[٣١٠٤](٢) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا مَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا الْجُعَيْدُ، عَنْ عَائِشَةَ بِنْتِ سَعْدٍ، أَنَّ أَبَاهَا، قَالَ: اشْتَكَيْتُ بِمَكَّةَ، فَجَاءَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُنِي، وَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى جَبْهَتِي، ثُمَّ مَسَحَ صَدْرِي وَبَطْنِي، ثُمَّ قَالَ: "اللَّهُمَّ اشْفِ سَعْدًا، وَأَتْمِمْ لَهُ هِجْرَتَهُ".

عائشه بنت سعد دخپل پلار نه روایت کوی فرمائي - چه زه په مکه کښې مریض شوم اونبی ﷺ زما بیمار پرسئ ته راغې اوخپل لاس ئې زما په تندی باندې کیخود واوزماپه خیټه اوشاه باندې ئې لاس راښکل اوبیائې اوفرمائیل اې الله سعد ته شفا ورکړی اوودده هجرت کامل اوګرځوی

﴿عن عائشة بنت سعد رضی الله عنها ان اباها قال اشتکیت بمکة﴾

---

(١) بضم التاء من الاقدام وفي بعض النسخ بفتح التاء والدال، والمحفوظ ضم التاء. (بذل).
(٢): صحیح البخاري/ المرضي ١٣ (٥٦٥٩)، سنن النسائي/ الوصایا ٣ (٣٦٥٦)، (تحفة الأشراف: ٣٩٥٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/١٧١) (صحیح)

سعد بن وقاص رضی الله عنه فرمائی چه ما یو ځل په داسې حال کښې چه زه په مکه مکرمه کښې اوم بیمار شوم نو رسول الله ﷺ زما د تپوس دپاره تشریف راوړلو او زما په تندی مبارک باندې ئې خپل لاس مبارک کیخودلو او په سینه او شا باندې هم او دا دعا ئې اوکړه ﴿اللهم اشف سعد واتمم له هجرته﴾ د دې نه معلومه شوه چه کله د یو مریض تپوس له انسان لاړ شی نو د هغه په تندی باندې دې لاس کیږدی (یا دې د هغه په لاس باندې لاس کیږدی) او هغه ته دې دعاء هم اوکړی، لکه چه وړاندې مستقل باب را روان دې.

د رسول الله ﷺ دعا د سعد رضی الله عنه په حق کښې قبوله شوه او هغه جوړ شو او د اسلام ئې ډیر خدمت اوکړو ﴿ فمات بعد ذلک بالمدینة المنورة سنة ٥٥ هـ بعد ما فتح العراق ﴾ د سعد رضی الله عنه دا حدیث په کتاب الوصایا کښې تیرشوې دې چه په هغې کښې دا وو ﴿ قلت یا رسول الله ﷺ اتخلف عن هجرتی الخ ﴾ هلته نور هم ډیر څه لیکلې شوې دی فتذکر. والحدیث اخرجه البخاری اتم منه، قاله المنذری

[٣١٠٥] (١) حَدَّثَنَا ابْنُ كَثِيرٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَطْعِمُوا الْجَائِعَ، وَعُودُوا الْمَرِيضَ، وَفُكُّوا الْعَانِيَ". قَالَ سُفْيَانُ: وَالْعَانِي: الْأَسِيرُ.

دابوموسی اشعری رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمایلي دي: وږوته خوراك ورکوئ اودمریض بیمار پرسی کوئ او مسلمانان قیدیان دکفارود قبیضي نه ازادرئ، سفیان ثوري وئیلی دی چه عاني اثیرته وئیلي شي.

﴿ اطعموا الجائع وعودوا المریض وفکوا العانی قال سفیان : والعانی الاسیر ﴾

یعنی اوږو باندې خوراک کوئ او د مریضانو تپوس کوئ، او هر څومره چه کیدې شی د قیدیانو د خلاصولو کوشش کوئ، ای المسلم المحبوس عند الکفار، وکذا المحبوس ظلما فیجب علی المسلمین انقاذه بالفدیة (بذل) د دې حدیث حواله او ذکر په کتاب الفرائض کښې هم تیر شوې دې، ﴿ وافکٓ عانة ﴾ الحدیث د لاندې فتذکر.

بَابُ الدُّعَاءِ لِلْمَرِيضِ عِنْدَ الْعِيَادَةِ

د عیادت په وخت کښې د مریض دپاره دصحت دپاره د دعا غوښتلو د فضیلت بیان

[٣١٠٦] (٢) حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ أَبُو خَالِدٍ، عَنِ الْمِنْهَالِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ عَادَ مَرِيضًا، لَمْ يَحْضُرْ أَجَلُهُ فَقَالَ عِنْدَهُ سَبْعَ مِرَارٍ: أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ، رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، أَنْ يَشْفِيَكَ، إِلَّا عَافَاهُ اللَّهُ مِنْ ذَلِكَ الْمَرَضِ".

دعبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی :څوک چه دیوداسې مریض عیادت وکړي دچاچه دمرګ نیټه نه وی پوره شوي اودهغه خواته داد عاء:

[١]: صحيح البخاري/الجهاد ١٧١ (٣٠٤٦)، النكاح ٧١ (٥١٧٤)، الأطعمة ١ (٥٣٧٣)، الطب ٤ (٥٦٤٩)، الأحكام ٢٣ (٧١٧٣)، (تحفة الأشراف: ٩٠٠١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٣٩٤)، سنن الدارمي/السير ٢٧ (٢٥٠٨) (صحيح)

[٢]: سنن الترمذي/الطب ٣٢ (٢٠٨٣)، (تحفة الأشراف: ٥٦٢٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٣٩، ٢٤٣) (صحيح)

«أسأل الله العظيم رب العرش العظيم»، اوه پيري اووائی نوالله تعالى به ئې ضرور ددغه مرض نه جوړ کړي.

قوله: ﴿ عن ابن عباس رضي الله عنهما عن النبى ﷺ قال من عاد مريضا لم يحضر اجله الخ ﴾ کوم انسان چه د يو داسې مريض تپوس اوکړی چه لا د هغه وخت نه وی راغلي (د مرگ) هغه تپوس کونکي دې هغه سره د ناستې په وخت دا دعاء اووۀ کرته اولولی، الله پاک به هغه ته شفاء ورکوی:

﴿ اسأل الله العظيم رب العرش العظيم ان يشفيک ﴾ والحديث اخرجه الترمذی والنسائی، قاله المنذری

او د دې نه روستو حديث کښې کوم چه د عبدالله بن عمرو بن العاص نه مرفوعا روايت کړې شوې دې په دې کښې د عيادت په وخت د دې دعا لوستل ذکر شوې دی ﴿ اللهم اشف عبدک ينکالک عدوا ويمشی لک الی جنازة ﴾ او په يو نسخه کښې ﴿ الی صلوة ﴾ دې. اې الله دې خپل بنده ته شفاء ورکړه دا به د صحت نه پس ستا د دشمنانو سره جهاد کوی هغوی به زخمی کوی او ستا د رضا دپاره به د جنازې سره ځی، په دې حديث کښې لک، لک بار بار راغلې دې معلومه شوه چه د الله پاک په نزد هم هغه عمل معتبر دې کوم چه خالص د هغه دپاره وی، او د دې حديث نه جنازو سره د تلو اهميت معلوميږی.

[٣١٠٧] (١) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدٍ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ حُيَيِّ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيِّ، عَنِ ابْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا جَاءَ الرَّجُلُ يَعُودُ مَرِيضًا، فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ، يَنْكَأُ لَكَ عَدُوًّا، أَوْ يَمْشِي لَكَ إِلَى جَنَازَةٍ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَالَ ابْنُ السَّرْحِ: إِلَى صَلَاةٍ.

دابن عمر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رسول پاك صلي الله عليه وسلم فرمائيلی دی: کله چه څوك دچابيمار پرسی ته ورشي نوداد عاء ذي اووائی: يعنی الله دي خپل بنده ته شفا ورکړی ددې دپاره چه ستاد رضا دپاره ستادشمن زخمي کړي اوستاد خوشحالولودپاره د چادجنازي سره لاړشي.

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ تَمَنِّي الْمَوْتِ

دمرګ د تمنا کولو د ممانعت بيان

[٣١٠٨] (٢) حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ هِلَالٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَدْعُوَنَّ أَحَدُكُمْ بِالْمَوْتِ لِضُرٍّ نَزَلَ بِهِ، وَلَكِنْ لِيَقُلْ: اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِي، وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِي".

دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائی چه رسول الله فرمائيلی دی په دنياکښې دي دتکليف رسيدو په وجه باندې څوك دمرګ تمنا نه کوي مګر که چرې داسې کول غواړی نوبيادي داسې اووائی اې الله دځو پورې چه زمادپاره زندګي بهتره وي ترهغې مې ژوندې

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٨٨٦٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٧٢/٢) (صحيح)

(٢): سنن النسائي/الجنائز ٢ (١٨٢٢)، سنن ابن ماجه/الزهد ٣١ (٤٢٦٥)، (تحفة الأشراف: ١٠٣٧)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/المرضي ١٩ (٥٦٧٢)، والدعوات ٣٠ (٦٣٥١)، صحيح مسلم/الذكر ٤ (٢٦٨٠)، سنن الترمذي/الجنائز ٣ (٩٧١)، مسند احمد (١٠١/٣، ١٠٤، ١٦٣، ١٧١، ١٩٥، ٢٠٨، ٢٤٧، ٢٨١) (صحيح)

اوساتي او کله چه زما دپاره مرګ بهتروي نو بیا ما ته مرګ راکړې.

﴿ لا یدعون احدکم الموت لضر نزل به ﴾

یعنی انسان لره د مرګ غوښتنه بالکل نه دی کول پکارد یو دنیوی ضرر او پریشانۍ د وجې نه، او که ضرر ورکول وی نو د هغې نه د بچ کیدو دپاره جائز دی کذا قال العلماء نو اوس نو بیا څه دعا کول پکار دی په داسې موقع باندې هغه په حدیث کښې ذکر شوې دی ﴿ اللهم احینی ما کانت الحیاة خیرا لی وتوفنی اذا کانت الوفاة خیرا لی ﴾

ژوند د مسلمان دپاره ډیر لوئې نعمت دې د یو مصیبت نه ویریدو سره د خپل ځان دپاره د مرګ دعا کول د دې نعمت ناقدری ده په حدیث کښې راځی چه د مسلمان دپاره خو په هر حال کښې خیر دې که د مصیبت حالت وی او که د خوشحالۍ، که په مصیبت کښې صبر کوی نو د هغه دپاره اجر دې، او که د خوشحالۍ په حالت کښې شکر کوی نو بیا هم د هغه دپاره اجر دې د انسان هم دا دوه حالتونه وی نو ګویا د هغه دپاره په هر حال کښې نفع او فائده ده. الحمد لله الذی هدانا وجعلنا من المسلمین..... والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

[٣١٠٩] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَتَمَنَّيَنَّ أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ"، فَذَكَرَ مِثْلَهُ.

دمالك بن انس نه په بل سند سره دتیر روایت په شان روایت منقول دې.

بَابُ مَوْتِ الْفَجْأَةِ
د ناڅاپی مرګ بیان

په فجاءة کښې دوه لغات دی بضم الفاء والمد، او بفتح الفاء واسکان الجیم بلا مد.

[٣١١٠] (٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ تَمِيمِ بْنِ سَلَمَةَ، أَوْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ خَالِدٍ السُّلَمِيِّ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ مَرَّةً عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قَالَ مَرَّةً عَنْ عُبَيْدٍ، قَالَ: "مَوْتُ الْفَجْأَةِ أَخْذَةُ أَسِفٍ".

دعبید بن خالد سلمی (صحابي) نه روایت دې چه فرمائیل ئې او یو ځل ئې او فرمائیل چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی او بل ځل ئې اووئیل چه عبید وئیلی دی چه چاته ناڅاپي مرګ راتلل د الله دغضب علامه ده.

﴿ موت الفجاءة اخذة اسف ﴾ اسف کښې د سین فتحه او کسره دواړه لوستلې شی، په رومبی صورت کښې د دې معنی د غضب ده او په دویم صورت کښې د صفت صیغه ده په معنی د غضبان، یعنی فجائی مرګ یعنی ناڅاپی مرګ د الله پاک د غصې نیول دی یا غضبان نیول دی، خو دا د کافر په حق کښې ده، او د مومن په حق کښې داسې نه ده بلکه رحمت دې ځکه چه کامل مومن همیشه د آخرت دپاره تیار او مستعد وی. (بذل) وفی

(١): تفرد به أبو داود، وانظر ما قبله (تحفة الأشراف: ١٢٧٤) (صحيح)

(٢): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٩٧٤٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٢٤/٣، ٢١٩/٤) (صحيح)

الهامش البذل..... وورد ایضا موت الفجاءة راحة المومن، وقد توفی فجاءة ابراهیم وداؤد وسلیمان علی نبینا وعلیهم الصلوة والسلام. (تفریح الاذکیاء فی تاریخ الانبیاء)

بَابٌ فِي فَضْلِ مَنْ مَاتَ فِي الطَّاعُونِ

دهغه کس فضیلت چه په طاعون مرض کښې مړشي

[٣١١١] ([1]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَابِرِ بْنِ عَتِيكٍ، عَنْ عَتِيكِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ عَتِيكٍ وَهُوَ جَدُّ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَبُو أُمِّهِ، أَنَّهُ أَخْبَرَهُ، أَنَّ عَمَّهُ جَابِرَ بْنَ عَتِيكٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ يَعُودُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ ثَابِتٍ، فَوَجَدَهُ قَدْ غُلِبَ، فَصَاحَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمْ يُجِبْهُ، فَاسْتَرْجَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ: "غُلِبْنَا عَلَيْكَ يَا أَبَا الرَّبِيعِ، فَصَاحَ النِّسْوَةُ وَبَكَيْنَ، فَجَعَلَ ابْنُ عَتِيكٍ يُسَكِّتُهُنَّ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: دَعْهُنَّ، فَإِذَا وَجَبَ فَلَا تَبْكِيَنَّ بَاكِيَةٌ، قَالُوا: وَمَا الْوُجُوبُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: الْمَوْتُ، قَالَتِ ابْنَتُهُ: وَاللَّهِ إِنْ كُنْتُ لَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ شَهِيدًا، فَإِنَّكَ كُنْتَ قَدْ قَضَيْتَ جِهَازَكَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ أَوْقَعَ أَجْرَهُ عَلَى قَدْرِ نِيَّتِهِ، وَمَا تَعُدُّونَ الشَّهَادَةَ؟ قَالُوا: الْقَتْلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الشَّهَادَةُ سَبْعٌ سِوَى الْقَتْلِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ: الْمَطْعُونُ شَهِيدٌ، وَالْغَرِقُ شَهِيدٌ، وَصَاحِبُ ذَاتِ الْجَنْبِ شَهِيدٌ، وَالْمَبْطُونُ شَهِيدٌ، وَصَاحِبُ الْحَرِيقِ شَهِيدٌ، وَالَّذِي يَمُوتُ تَحْتَ الْهَدْمِ شَهِيدٌ، وَالْمَرْأَةُ تَمُوتُ بِجُمْعٍ شَهِيدٌ".

دجابر بن عتیك دترور نه روایت دي فرمائی چه نبی ﷺ دعبدالله بن ثابت بیمار پرسی ته راغي نوپه بي هوشۍ کښې ئي اولیدو نبی ﷺ ورته په چغه آواز وکړو هغه هیڅ جواب ورنکړو نونبی ﷺ «إنا لله وإنا إليه راجعون» اوویل اوونې فرمائیل مونږ ستا متعلق مغلوب شو مونږ خو غوښتل چه ته روغ شي مګردالله تقدیر زمونږ په اراده باندې غالب شوښځو چه دا واوریدل نوپه چغوشوې اوجړانې شروع کړه نوابن عتیك شروع شو چه چپ کولې یې نبی ﷺ اوفرمائیل دوی پرېږده کله چه واجب شي نوځوك دي نه ژاړي خلقو عرض اوکړو اې دالله رسوله واجب کیدونه څه مراد دي؟ نبی ﷺ اوفرمائیل چه مرګ واجب شي، دده لور خپل پلار عبدالله بن ثابت ته اوونیل په الله قسم مونږ په دې پوهیږو چه ته شهید ئي ځکه چه تادجهاد دپاره أسباب تیار کړي وو نبی ﷺ اوفرمائیل الله تعالی هرچاته دهغه دنیت موافق ثواب ورکوي اوعذاب دنیت موافق نه ورکوي ترڅوچه ګناه بالفعل ونکړي، خو بیا هم دالله نه دبخشش امید دي زمونږه مالك رحیم کریم دي نبی ﷺ اوفرمائیل تاسو شهید چاته وایئ؟ هغوی اوونیل شهید هغه ځوك دي ځوك چه دالله په لار کښې په جهاد کښې د کافرانو دلاس نه مرشي نبی ﷺ اوفرمائیل دالله په لار کښې د قتل کیدونه علاوه اوه قسمه شهادتونه نور هم شته دي یوهغه کس شهید دي ځوك چه په طاعون مړ شي بل هغوځوك دي چه په اوبو کښې ډوب شي اومړشي او ځوك چه دذات الجنب په مرض مړ شي هغه شهید دي ځوك چه دخیټې دبیمارۍ په وجه (هیضه) مړ شي شهید دي ځوك چه په آور وسوزي هغه شهد دي ځوك چه ددیوال نه لاندې شي او مړ شي

[1]: سنن النسائي/الجنائز ١٤ (١٨٤٧)، الجهاد ٤٨ (٣١٩٦)، سنن ابن ماجه/الجهاد ١٧ (٢٨٠٣)، (تحفة الأشراف: ٣١٧٣)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجنائز ١٢ (٣٦)، مسند احمد (٥/٤٤٦) (صحيح)

هغه شهيد دې او کومه ښځه چه په اولاد پيدا کيدو کښې مړه شي هغه شهيده ده.
﴿ان رسول اللهﷺ جاء يعود عبدالله بن ثابت رضي الله عنه فوجده قد غلب الخ ﴾

مضمون د حديث:

يعنې رسول اللهﷺ د عبدالله بن ثابت رضي الله عنه د تپوس دپاره تشريف يوړو، چه کله هغوی هلته اورسيدل نو وې کتل چه هغوی بيهوشه شوی دی، رسول اللهﷺ هغوی ته آواز اوکړو نو هغه په دې باندې هيڅ هم او نه وئيل، رسول اللهﷺ ﴿انا لله﴾ اوئيل او وې فرمائيل چه مونږ ستا په باره کښې مغلوب شو، يعنې قضاء او قدر غالب شو او د وفات وخت رانژدې شو، کومې زنانه چه په دې کور کښې وې هغوی چغې او فرياد شروع کړو، جابر بن عتيک رضي الله عنه هغوی خاموش کولې، رسول اللهﷺ هغه ته اوفرمائيل پريږده دا زنانه يعنې ژړا ته ئې پريږده، خو چه کله وفات شي نو بيا به هيڅوک نه ژاړئ، د دې نه پس په روايت کښې دی چه د هغوی لور په افسوس سره اوئيل چه والله مونږ خو دا اميد لرلو چه ته به شهيد کيږې ځکه چه تاسو د جهاد اسباب تيار کړې وو په دې باندې رسول اللهﷺ اوفرمائيل ﴿ان الله قد اوقع اجره على قدر نيته ﴾ يعنې الله پاک هغه ته د هغه اجر ورکړې دې د هغه د نيت او ارادې مطابق ﴿وما تعدو الشهادة؟ ﴾ او رسول اللهﷺ تپوس اوکړو چه تاسو شهادت څه ځيز ګڼړئ؟ هغوی جواب ورکړو د الله پاک په لاره کښې قتل کيدل، په دې باندې رسول اللهﷺ اوفرمائيل اسباب د شهادت د دې نه علاوه اووهٔ نور دی ﴿ المطعون شهيد، والغرق شهيد وصاحب ذات الجنب شهيد، المبطون شهيد، وصاحب الحريق شهيد والذى يموت تحت الهدم شهيد والمراة تموت بجمع شهيد ﴾

د شهادت د اسباب سبعه تشريح:

مطعون يعنې څوک چه د طاعون په مرض باندې هلاک شي، ذات الجنب يو مشهوره بيماری ده چه د هغې دوه قسمونه دی يو حقيقي او بل عرفي، حقيقي خو ډير خطرناک مرض دې چه په هغې کښې په پختو کښې دننه ورم او زخم پيدا شي او تبه د هغې سره لازم وی، او په دويم قسم باندې ځان داسې پوهه کړئ چه کوم بادی درد وی هغې ته وائی، ترمذی په کتاب الطب کښې د دې ډير په کثرت سره ذکر کړې دې او هم دغه شان د رسول اللهﷺ په مرض الوفات کښې د لدود ذکر کوم چه د رسول اللهﷺ د کور خلقو رسول اللهﷺ لره د ذات الجنب مريض ګنړلو سره کړې وو او د مبطون نه مراد چه د خيټې په مرض کښې مړ شي يعنې استطلاق البطن (د دستونو مرض) (بذل)، وفی العون : ای اسهال واستسقاء او وجع بطن، وصاحب الحريق يعنې چه په اور کښې سوزيدو سره مړ شي، تحت الهدم يعنې د ديوال د لاندې، قال القاری الهدم بفتح الدال ويسكن... ﴿ والمراة تموت بجمع ﴾ بضم الجيم ويكسر سكون الميم قاله القاری، قال الخطابی معناه ان تموت وفی بطنها ولد اهـ وقال فی النهاية ای تموت وفی بطنها ولد وقيل التی تموت بكرا، والجمع بالضم بمعنى المجموع، كالذخر بمعنى المذخور، وكسر الكسائى الجيم والمعنى انها ماتت مع شئ مجموع فيها غير منفصل عنها من

حمل او بکارة آهـ قال النووی ضم جیمه اشهره الثلاثة (بذل، عون) یعنی هغه زنانه چه د حمل په حالت کښې مړه شی یا د وادهٔ نه مخکښې په پیغلتوب کښې مړه شی، یا په حالت نفاس کښې د ماشوم د پیدائش نه پس مړه شی لکه چه وړاندې د مسند احمد په روایت کښې را روان دی او یو قول په هغې کښې دا دې چه د چا وفات په مزدلفه کښې اوشی (ځکه چه د مزدلفې دویم نوم جمع هم دې) وهو خطاء ظاهر کذا فی هامش البذل.

دا حدیث په مختلفو الفاظو او سیاق سره وارد شوې دې، د مسند احمد په یو روایت کښې دی، ﴿ان فی القتل شهادة وفی الطاعون شهادة وفی البطن شهادة وفی الغرق شهادة وفی النفساء یقتلها ولدها جمعها شهادة﴾

د اسباب الشهادة تعداد:

په دې حدیث کښې د اسباب شهادت ذکر دې او دا چه هغه اووهٔ دی، امام مالک رحمه الله په موطاء کښې عنوان قائم کړې دې، ﴿الشهدآء فی سبیل الله﴾ حضرت شیخ رحمه الله په اوجز ۷۰/۴ کښې د هغې د لاندې لیکلي دی: وتقدم فی ابواب الجنائز ان اسباب الشهادة الواردة فی الاحادیث ترتقی الی قریب من الستین وتقدم ذکرها ([1]) ومع ذلک فالشهید الحقیقی هو قتیل المعرکة

---

[1] باب الشهادة بالتفصیل: ففیه تحت حدیث جابر بن عتیک رضي الله عنه، فالمذکور في حدیث جابر رضي الله عنه هذا ثمانیة انواع مع الشهادة الحقیقیة ولخص الزرقاني تبعا لشراح البخاري وغیرها الروایات التي اطلق فیها اسم الشهادة فزاد علي هذه الثمانیة، المیت علي فراشه في سبیل الله، وصاحب السل بکسر المهملة وتشدید اللام، ومن قتل دون ماله، او دینه، او دمه، او اهله، او دون مظلمته، ومن وقصه فرسه، او بعیره في سبیل الله، او لدغته هامة او مات علي فراشه علي اي حتف شاء الله کما في روایة ابي مالك الاشعري مرفوعا عند ابي داؤد والحاکم والطبراني، وموت الغریب والشریق والذي یفترسه السبع، والخار عن دابته، والمائد في البحر الذي یصیبه القي له اجر شهید ومن طلب الشهادة بنیته صادقة یکتب شهیدا، ومن تردي من رؤس الجبال، وفي روایة البخاري من حدیث عائشة رضي الله عنها لیس من احد یقع الطاعون فیمکث في بلده صابرا محتسبا یعلم انه لا یصیبه الا ما کتب الله له الا کان له مثل اجر شهید. فهذه سبع وعشرون خصلة سوي القتل في سبیل الله، ذکر الحافظ ان طرقها جیدة، وانه وردت خصال اخري في احادیث لم اعرج علیها الضعفاء آهـ زاد الزرقاني صاحب الحمي، والمیت في السجن، وقد حبس ظلما. والمیت عشقا، او طالبا للعلم، وزاد العیني من حبسه السلطان الظالم، او ضربه فمات فهو شهید، والمرابط یموت في فراشه وحکي عن ابن العربي، وصاحب النظرة وهو المعین والغریب شهیدان، قال وحدیثهما حسن، ومن مات مریضا مات شهیدا، والنفساء ومن احتسب نفسه علي الله، ومن عشق وعف وکتم ومات، مات شهیدا، وعند الترمذي، وقال حسن غریب. من قال حین یصبح ثلاث مرات اعوذ بالله السمیع العلیم من الشیطان الرجیم وقراء ثلاث آیات من اخر سورة الحشر فان مات من یومه مات شهیدا، وعنده غیره من قراء آخر سورة الحشر فمات من لیلته مات شهیدا، وعند الآجري یا انس ان استطعت ان تکون ابدا علي وضوء فافعل فان ملك الموت اذا قبض روح العبد وهو علي وضوء کتب له شهادة، وعن ابن عمر من صلي الضحي وصام ثلثة ایام من کل شهر ولم یترك الوتر کتب له اجر شهید، وورد من مات یوم الجمعة او لیلة الجمعة اجیر من عذاب القبر وجاء یوم القیامة وعلیه طابع الشهدآء، قال ابونعیم غریب من حدیث جابر، ومن خرج به خراج في سبیل الله کان علیه طابع الشهداء وزاد القاري عن ابواب السعادة علي بعض المذکورین صاحب السل اي الدق، والمسافر، والمرعوب علي فراشه في سبیل الله، وعن ابي عبیدة بن الجراح رضي الله عنه قلت یا رسول الله صلی الله علیه وسلم اي الشهداء اکرم علي الله؟ قال: رجل قام الي امام جائر فامره بمعروف ونهاه عن منکر فقتله، وعن ابن مسعود رضي الله عنه مرفوعا ان الله کتب الغیرة علي النسآء والجهاد علي الرجال فمن صبر منهن کان لها اجر شهید، وورد من قال في کل یوم خمسا وعشرین مرة اللهم بارك لي في الموت وفیما بعد الموت ثم مات علي فراشه اعطاه الله تعالي اجر شهید، ومنها المتمسك بالسنة عند فساد الامة، والموذن المحتسب، ومن عاش مداریا، ومن جلب طعاما الي المسلمین، ومن سعي علي امرأته وولده، وما ملکت یمینه، وغیر ذلك مما یطول ذکره، فکل من کثر اسباب شهادة زید له في.........له

او من قتله اهل البغی او اهل الحرب او قطاع الطریق ونحو ذلک، وتقدم حکمه فی الجنائز من انه لا یغسل ویدفن بدمه، واختلف فی وجه تسمیة الشهید شهیدا علی اقوال تقدم ذکرها فی باب العتمة والصبح وبسطها النووی فی شرح مسلم آهـ د علامه سیوطی رحمه الله هم په دې کښې مستقل یو تالیف دې، ابواب السعادة فی ابواب الشهادة..... چه په هغې کښې هغوی اسباب د شهادة اویا ته رسولي دی. والحدیث اخرجه النسائی وابن ماجة، قاله المنذری

بَابُ الْمَرِيضِ يُؤْخَذُ مِنْ أَظْفَارِهِ وَعَانَتِهِ

د قریب الموت دپاره د نوکانو کټ کولو او د ترخ د وېښتو صفا کولو بیان

یعنی مریض ته پکار دی چه د خپلو بریتو او د نامه نه لاندې وېښتو خیال ساتی.

[٣١١٢](١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ شِهَابٍ، أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ جَارِيَةَ الثَّقَفِيُّ حَلِيفُ بَنِي زُهْرَةَ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: ابْتَاعَ بَنُو الْحَارِثِ بْنِ عَامِرِ بْنِ نَوْفَلٍ خُبَيْبًا، وَكَانَ خُبَيْبٌ هُوَ قَتَلَ الْحَارِثَ بْنَ عَامِرٍ يَوْمَ بَدْرٍ، فَلَبِثَ خُبَيْبٌ عِنْدَهُمْ أَسِيرًا. حَتَّى أَجْمَعُوا لِقَتْلِهِ، فَاسْتَعَارَ مِنْ ابْنَةِ الْحَارِثِ مُوسًى يَسْتَحِدُّ بِهَا، فَأَعَارَتْهُ، فَدَرَجَ بُنَيٌّ لَهَا وَهِيَ غَافِلَةٌ. حَتَّى أَتَتْهُ، فَوَجَدَتْهُ مُخْلِيًا وَهُوَ عَلَى فَخِذِهِ، وَالْمُوسَى بِيَدِهِ، فَفَزِعَتْ فَزْعَةً عَرَفَهَا فِيهَا، فَقَالَ: أَتَخْشَيْنَ أَنْ أَقْتُلَهُ؟ مَا كُنْتُ لِأَفْعَلَ ذَلِكَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذِهِ الْقِصَّةَ شُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عِيَاضٍ، أَنَّ ابْنَةَ الْحَارِثِ أَخْبَرَتْهُ، أَنَّهُمْ حِينَ اجْتَمَعُوا يَعْنِي لِقَتْلِهِ اسْتَعَارَ مِنْهَا مُوسًى يَسْتَحِدُّ بِهَا، فَأَعَارَتْهُ.

دابوهریرة رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه بنوحارث بن عامر بن نوفل خبیبه په سلو اوښانو باندې واخستو، ددې دپاره چه دپلار په بدل کښې ئې قتل کړي اوخبیبن حارث بن عامر د بدر په ورځ قتل کړي وو اوخبیب نه ددوی سره په قید کښې یوه موده تیره کړه، تردې چه هغوی دده د قتل دپاره راجمع شول نوخبیب دحارث دلورنه چاړه وغوښتله دصفایی دپاره نوهغې ورته ورکړه په دې وخت کښې ددوی یوماشوم دخبیب رضی الله عنه خواته ورغې اوموروني غافله وه اود خبیب په پټون باندې ناست وو اونورڅوك ورسره نه وو او چاړه ئې په لاس کښې وه نود ماشوم مور ویریدله نوخبیبه دهغې په پریدلو باندې پوه شو نوورته ئې ووئیل ایاته په دې ویرېږې زه به داماشوم قتل کړم زه هیڅکله داسې نه کوم

﴿ وعن ابی هریرة رضی الله عنه قال ابتاع بنو الحارث بن عامر بن نوفل خبیبا الخ ﴾

د خبیب بن عدی رضی الله عنه د قتل قصه :

په دې باب کښې مصنف رحمه الله د خبیب بن عدی رضی الله عنه د قتل قصه ذکر کړې ده، دا قصه په

٦......فتح ابواب سعادته آهـ قلت : وزاد ابن عابدین : من قال فی مرضه اربعین مرة لا اله الا انت سبحانك انی کنت من الظالمین فمات، و من یقراء کل لیلة سورة یاسین ومن بات علی طهارة فمات ومن صلی علی النبی صلی الله علیه وسلم مائة مرة، وسئل الحسن عن رجل اغتسل بالثلج فاصابه البرد فمات فقال یالها من شهادة، وهذا کما رایت ترتقی الشهداء الی قریب من ستین، وذکر صاحب مظاهر حق، بعض انواع اخر، وکذا فی کنز العمال وفیه قال العینی، وفی التوضیح : الشهداء ثلاثة اقسام، شهید فی الدنیا والآخرة وهو المقتول فی حرب الکفار بسبب من الاسباب، وشهید فی الاخرة دون احکام الدنیا، وهم من ذکروا آنفا، وشهید فی الدنیا دون الآخرة وهو من غل فی الغنیمة ومن قتل مدبرا او ما فی معناه .آهـ)

١): انظر حدیث رقم : (٢٦٦٠)، (تحفة الأشراف: ١٤٢٧١) (صحیح)

كتاب الجهاد كښې په ﴿باب فى الرجل يستاسر﴾ كښې په تفصيل سره تيره شوې ده هغه دې اوكتلې شي، خبيب رضی الله عنه د خپل قتل د واقعې نه مخکښې ډير په اطمينان سره د قاتلينو نه چاړه طلب كړې وه او د نامه نه لاندې ويښته ئې صفا كړي وو، لكه چه په حديث الباب كښې ذكر دى. والحديث اخرجه البخاري والنسائي مطولا. قاله المنذري

باب مَا يُسْتَحَبُّ مِنْ حُسْنِ الظَّنِّ بِاللَّهِ عِنْدَ الْمَوْتِ

د مرګ په وخت كښې په الله تعالى باندې د ښه ګمان كولو د فضيلت بيان

[٣١١٣](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ قَبْلَ مَوْتِهِ بِثَلَاثٍ: قَالَ: "لَا يَمُوتُ أَحَدُكُمْ، إِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ الظَّنَّ بِاللَّهِ".

د جابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روايت دې فرمائى چه رسول الله ته مې اوريدلى دى چه فرمائيلې يسې رو دخپل وفات كيدونه درې ورځې مخکښې مړ دې نه شى په تاسو كښې يوكس مګرپه داسې حال كښې چه په الله باندې ښه ګمان كونكې وې.

﴿عن جابر بن عبدالله رضی الله عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول قبل موته بثلاث لا يموت احدكم الا وهو يحسن الظن بالله﴾

شرح الحديث:

يعنى رسول الله ﷺ د خپل وفات نه درې ورځې مخکښې دا اوفرمائيل چه د مرګ په وخت انسان لره خاص طور سره د الله پاک سره نيک ګمان پكار دې، يعنى دا خيال دې كوى چه ان شاء الله، الله پاک به په هغه باندې رحم فرمائى او د الله پاک نه دې د بخښنې اميد ساتى، او په دې وخت مريض له دا هم پكار دى چه په دې آيتونو او احاديثو كښې غور او تدبر اوكړى كوم چه د الله پاک د كرم او عفو او رحمت په باره كښې دې ـــــ كما قال الله تعالى فى الحديث الصحيح القدسى انا عند ظن عبدى بى، قال النووى هذا هو الصواب فى معناه وقاله جمهورهم، وشذ الخطابى وذكر معه تاويلات اخر الخ (بذل) د خطابى رائې په دې كښې دا ده چه د حسن ظن نه مراد حسن عمل دې ځكه په الله پاک باندې حسن ظن بغير د حسن عمل نه نۀ حاصليږى، امام نووى رحمه الله دا رد كړې دې لكه چه اوس تيرشو، پس صحيح هم داده چه په داسې وخت كښې حاضرينو اوپوښتنه كونكو لره پكاردى چه په كومو آيتونو كښې د رحمت اوبخښنې ذكردې، هغه دهغه مخې ته اولولى، بلكه دا چه هغه ته خپل نيک اعمال هم وريادكړې شى، په الله پاک باندې د ښه ګمان پيدا كيدو دپاره هم دا آسان صورت دې، ﴿رزقنا الله حسن الظن به تعالى فى هذا الوقت﴾.

والحديث اخرجه مسلم وابن ماجة، قاله المنذري

---

١): صحيح مسلم/الجنة وصفة نعيمها ١٩ (٢٨٧٧)، سنن ابن ماجه/الزهد ١٤ (٤١٦٧)، (تحفة الأشراف: ٢٢٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣١٥، ٣٢٥، ٣٣٠، ٣٣٤، ٣٩٠) (صحيح)

بَابُ مَا يُسْتَحَبُّ مِنْ تَطْهِيرِ ثِيَابِ الْمَيِّتِ عِنْدَ الْمَوْتِ

د مرګ په وخت کښې د پاکو جامو اغوستلو د فضيلت بيان

يعنی غوره دا ده چه د وفات په وخت د انسان جامې پاکې وی.

د حضرت الشيخ او والد صاحب حال د وفات په وخت:

زمونږ د شيخ نور الله مرقده چه په کومه ورځ وفات اوشو، وفات خو ئې د مازيګر نه روستو شوې وو د وفات په ورځ سحر هغوی د خپل خادم نه د معمول خلاف دا تپوس اوکړو: ابو الحسن زما بستره پاکه ده؟ هغه اووې اوجی پاکه ده، بيا ئې په دويم وخت کښې هم يو ځل دا سوال اوفرمائيلو، او زما والد نور الله مرقده چه هغوی تر آخره پورې د طهارت او پاکوالی ډير اهتمام کولو، پس په استنجاء کښې به ئې اول استنجاء بالحجر او د دې نه پس استنجاء بالمآء په خپل اختيار او اهتمام سره کوله، تقريبا د (۸۸) اته اتيا کالو په عمر کښې وفات شو، يو شپه او نيمه ورځ ئې د غفلت په حالت کښې تيره شوه، د دې نه مخکښې به ئې په خپل لاس سره اودس او استنجاء وغيره کوله، د وفات نه پس چه کله د بسترې نه مړې اوچت کړې شو نو ما قصدا اوکتل چه د بسترې څه حال دې ځکه چه تقريبا څليرشت ګنټې د غفلت په حالت کښې تيرې شوې وې. چه اومې کتل نو بستره بالکل صفا وه پکښې هيڅ قسم نخښه نه وه، تموتون کما تحيون، وتحشرون کما تموتون الحديث.

> [٣١١٤] (١) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنِ ابْنِ الْهَادِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّهُ لَمَّا حَضَرَهُ الْمَوْتُ دَعَا بِثِيَابٍ جُدُدٍ، فَلَبِسَهَا، ثُمَّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِنَّ الْمَيِّتَ يُبْعَثُ فِي ثِيَابِهِ الَّتِي يَمُوتُ فِيهَا".

دابوسلمه رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه کله دابوسعيد خدری په دوفات کيدو وخت راغې نو نوې جامې ئې اوغوښتلې او وائې غوستلې اوبيا ئې اووئيل ماد نبی عليه السلام نه اوريدلې وو چه فرمائيل ئې چه مړ به په هغه جامو کښې پورته کولې شی په کومو کپړو کښې چه مړ شوې وي.

﴿ عن ابی سعيد الخدری رضی الله عنه انه لما حضره الموت دعا بثياب جدد فلبسها... الميت يبعث فی ثيابه التی يموت فيها ﴾

د ابوسعيد خدری رضی الله عنه د وفات وخت چه کله نزدې شو نو هغوی نوې جامې راوغوښتلې او هغه ئې واغوستلې او وې فرمائيل چه ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اوريدلې دی چه مړې به د قبر نه هم په هغه جامو کښې اوچتولې شی په کومو جامو کښې چه هغه مړی.

د دوه احاديثو ترمينځه تطبيق:

دلته يو مشهور اشکال دا کولې شی چه دا حديث د هغه حديث خلاف دې چه په هغې کښې دا دی ﴿ يحشر الناس حفاة عراة ﴾ د دې يو جواب خو دا ورکړې شوې دې چه په دې کښې په يو حديث کښې خو د بعث ذکر دې او په دويم کښې د حشر، او دا دواړه ځانله ځانله څيزونه دی. بعث خو وائی د قبر نه پاسيدو ته او حشر وائی په ميدان حشر کښې جمع کيدو ته، او

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٤٢٨) (صحيح)

په دې دواړو وختونو کښې به کافي فاصله وي، ځکه چه دا به ډېره اوږده ورځ وي، د زرو کالو برابر او يو جواب دا ورکړې شوې دې چه په حديث الباب کښې د ثياب نه مراد اعمال دی چه انسان خپلو اعمالو لره اوچتولو سره د قبر نه پاسی که هغه هر څنګه وی، خو دې صحابی رحمه الله په دې حديث کښې ثياب لره په ظاهری معنی باندې حمل کړې دې نو په دې دواړو احاديثو کښې هيڅ تعارض نشته، هم دا دويم جواب راجح دې، هم دغه شان وئيلې شوې دی چه آيت کريمه، ﴿وثيابک فطهر﴾ کښې د ثياب نه مراد اعمال دی، او علامه قرطبی رحمه الله فرمائی (فی التذکرة فی احوال الموتی وامور الاخرة) چه کيدې شی چه حشر فی الاکفان د شهداء کرامو سره خاص وی (عون) وفی هامش البذل وخصه فی الفتاوی الحديثية ۱۳۳ بالشهيد.

په جامع ترمذی کښې دی : قال ابن المبارک احب الی ان يکفن فی ثيابه التی کان يصلی فيها، او د دې شرح په تحفة الاحوذی کښې ده په حواله د فتح الباری چه صديق اکبر رضی الله عنه فرمائيلې وو چه زما تکفين زما په دې دواړو کپړو کښې اوکړئ په کومو کښې چه زه مونځ کوم، او په تذکرة الحفاظ کښې دا نقل کړې شوې دی امام زهری رحمه الله فرمائی چه د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه چه کله وخت نزدې راغلو نو هغوی خپله پخوانۍ د وړۍ جبه راوغوښتله او وې فرمائيل چه ما هم په دې کښې کفن کړئ ځکه چه په جنګ بدر کښې ما دا اغوستلې وه او ما دا هم د دې وخت دپاره پټه کړې وه، او خپله د رسول الله صلی الله عليه وسلم د کفن په باره کښې وړاندې د ابن عباس رضی الله عنهما په حديث کښې را روان دی چه هغوی ته په درې کپړو کښې کفن ورکړې شو چه په هغې کښې يو د هغوی هغه قميص وو په کوم کښې چه د رسول الله صلی الله عليه وسلم وفات اوشو، فی ثلاثة اثواب نجرانية، الحلة ثوبان، وقميصه الذی مات فيه... خو د رسول الله صلی الله عليه وسلم په باره کښې په رواياتو کښې اختلاف دی.

بَابُ مَا يُسْتَحَبُّ أَنْ يُقَالَ عِنْدَ الْمَيِّتِ مِنَ الْكَلَامِ

د مړکيدو نکی کس په وړاندې کوم قسم خبرې کول پکاردی؟

[۳۱۱۵] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا حَضَرْتُمُ الْمَيِّتَ، فَقُولُوا خَيْرًا، فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ يُؤَمِّنُونَ عَلَى مَا تَقُولُونَ، فَلَمَّا مَاتَ أَبُو سَلَمَةَ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا أَقُولُ؟ قَالَ: قُولِي: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ، وَأَعْقِبْنَا عُقْبَى صَالِحَةً". قَالَتْ: فَأَعْقَبَنِي اللَّهُ تَعَالَى بِهِ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دام المومنين ام سلمه رضی الله عنها نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی کله چه تاسو ته مرګ راشي نوښې خبرې کوئ ځکه چه فرښتې امين وائی په هغه خبرو کوې چه تاسو کوئ کله چه ابوسلمه مړ شو ماعرض اوکړو اې د الله رسوله زه څه اووايم؟ نبی عليه السلام اوفرمائيل داسې وايه: يعنی اې الله بخښنه ورته وکړې او مونږ ته دده نه بهتر عوض راکړې، ام شلمه وائی دهغه په عرض کښې الله تعالی ماته نبی عليه السلام را کړو

[1]): صحيح مسلم/الجنائز ۳ (۹۱۹)، سنن الترمذي/الجنائز ۷ (۹۷۷)، سنن النسائي/الجنائز ۳ (۱۸۲٤)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٤ (۱٤٤۷)، ٥٥ (۱٥۹۸)، (تحفة الأشراف: ۱۸۱٦۲، ۱۸۲٤۷)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجنائز ١٤ (٤٢)، مسند احمد (٦/٢٩١، ٣٠٦) (صحيح)

شرح الحديث :

قوله:﴿ عن ام سلمة ﷺ قالت قال رسول اللهﷺ ﴾:ام سلمة ﷺ د رسول اللهﷺ ارشاد نقل کوی چه کله تاسو د یو مړی کور ته لاړ شئ نو هلته تلو سره ښه خبره د خولې نه اوباسئ، ځکه چه هغه وخت هلته ملائک موجود وی او تاسو چه څه وایئ په هغې باندې هغوی آمین وائی، لهذا هلته تلو سره ډیر په احتیاط خبره کول پکار دی، هغه فرمائی چه کله زما د وراندې خاوند ابوسلمةﷺ وفات اوشو نو ما رسول اللهﷺ ته عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ اوس زه څه اولولم؟ نو رسول اللهﷺ اوفرمائیل دا اولوله ﴿ اللهم اغفر له واعقبنا عقبی صالحة ﴾ (ای الله هغه ته بخښنه اوکړه او ماته دهغه نعم البدل راکړه) هغه فرمائی چه الله پاک ماته دهغې نعم البدل رسول اللهﷺ راکړو.

دا حدیث په صحیح مسلم کښې هم دې، د هغې سیاق د دې نه لږ شان مختلف دې او په هغې کښې لږ زیادت هم دې،

ولفظه : سمعت رسول الله ﷺ يقول : ما من مسلم تصيبه مصيبة فيقول ما امره انا لله وانا اليه راجعون اللهم اجرنى فى مصيبتى واخلف لى خيرا منها، الا اخلف الله له خيرا منها، قالت فلمامات ابوسلمة قلت اى المسلمين خير من ابى سلمة، اول بيت هاجر الى رسول اللهﷺ ثم انى قلتها، په دې روایت کښې د رسول اللهﷺ هغې ته د نکاح د پیغام لیږلو ذکر دې.

یعنی هغه داسې فرمائی چه کله رسول اللهﷺ ما ته د وئیلو دپاره داسې اوفرمائیل نو ما به دا سوچ کولو چه د هغوی نه به غوره څوک وی، خو بیا هم ما دا دعا لوستله د دې روایت څه حصه په باب فی الاسترجاع کښې هم را روانه ده.

والحديث اخرجه مسلم والترمذى والنسائى وابن ماجة، قاله المنذرى

بَابٌ فِي التَّلْقِينِ

مړ کیدونکی ته د تلقین بیان

تلقین د جمهورو په نزد مستحب دې او د تلقین نه مراد دا دې چه هغه سره کینی، کلمه اووئیلې شی دا نه چه هغه ته د وئیلو دپاره اووئیلې شی، خو د مړی دې طرف ته د متوجه کولو دپاره دا هم وئیلې کیدې شی چه نزدې خلق خپل مینځ کښې داسې اوائی چه د الله پاک نوم مبارک دې راځئ چه مونږ ټول د الله پاک ذکر اوکړو، او د حدیث د ظاهر تقاضا د تلقین وجوب دې پس یو جماعت د وجوب قائل دې، بلکه بعض مالکیانو خو په وجوب باندې اتفاق نقل کړې دې. (بذل عن القارى) **وفى الدر المختار : يلقن ندبا وقيل وجوبا بذكر الشهادتين عنده من غير امره بها، ولا يلقن بعد تلحيده وان فعل لا ينهى عنه، وفى الجوهرة انه مشروع عند اهل السنة (هامش البذل) يعنى تلقين بعد الدفن اگر چه د احنافو په نزد مستحب نه دې خو که څوک ئې اوکړی نو هغه دې منع نه کړې شی.**

[٣١١٦] (١) حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ عَبْدِ الْوَاحِدِ الْمِسْمَعِيُّ، حَدَّثَنَا الضَّحَّاكُ بْنُ مَخْلَدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْحَمِيدِ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنِي صَالِحُ بْنُ أَبِي عَرِيبٍ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ مُرَّةَ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، دَخَلَ الْجَنَّةَ".

دمعاذ بن جبل رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى دچا اخرنئ خبره چه «لا إله إلا الله» وي نو جنت ته به داخل شي.

[٣١١٧] (٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرٌ، حَدَّثَنَا عُمَارَةُ بْنُ غَزِيَّةَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ عُمَارَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ قَوْلَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ".

دابوسعيد خدرى رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى خپلو مړوته د «لا إله إلا الله» تلقين کوئ.

﴿عن معاذ بن جبل رضي الله عنه (مرفوعا) من كان اخر كلامه لا اله الا الله دخل الجنة﴾ دا د باب رومبي حديث دې او د باب دويم حديث د ابوسعيد خدرى رضي الله عنه نه مرفوعا روايت دې ﴿لقنوا موتاكم لا اله الا الله﴾

په رومبى حديث راوړلو سره مصنف رحمه الله اشاره اوکړه د تلقين فائدې او د غرض طرف ته چه مقصد دا دې چه د مړى آخرى کلام د دنيا نه د رخصت کيدو په وخت کلمه توحيد وى هم په دې وجه علماء کرامو ليکلى دى چه کله يو ځل هغه کلمه اولولى نو بيا دې ورته تلقين اونکړې شى مګر دا چه د هغې نه روستو څوک دنياوى کلام اوکړى او په دويم حديث کښې د موتى نه مراد محتضر دې مجازا، دا د مجاز د مايؤل د قبيلې نه دې، كذا قال الطيبى كما فى البذل، والامام النووى فى شرح مسلم، وكذا فى مغنى المحتاج ١/٣٣٠ (فى فقه الشافعية) او بعض شوافعو مړې په حقيقى معنو باندې محمول کولو سره حديث لره په تلقين بعد الدفن باندې محمول کړې دې خو په بذل کښې دى چه تلقين بعد الدفن امر محدث دې په سلفو کښې معروف نه وو لهذا حديث لره په دې باندې محمول کول صحيح نه دى، هم په دې باندې حضرت شيخ د بذل په حاشيه کښې ليکلې دى ﴿لكنه وارد فى الروايات العديدة كما فى منتخب كنز العمال ٦/٢٦٠ بلکه دا چه علامه عينى رحمه الله او حافظ ابن حجر د دواړو په کلام کښې دا دى چه د لا اله الا الله نه مراد پوره کلمه ده،

قال الكرمانى : والمراد هى وضميمتها محمد رسول الله، زين ابن المنير وائى چه لا اله الا الله شرعا د شهادتين لقب دې (عون) او هم دا پورته د درمختار نه نقل کړې شو خو په مغنى المحتاج کښې د محمد رسول الله د زيادت په مسنون کيدو او نه مسنون کيدو باندې بحث کړې شوې دې، د هغوى ميلان د عدم زيادت طرف ته دې، حديث ابى سعيد رضي الله عنه اخرجه مسلم والترمذى والنسائى وابن ماجة، قاله المنذرى

---

١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١٣٥٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٣٣/٥، ٢٤٧) (صحيح)

٢): صحيح مسلم/الجنائز ١ (٩١٦)، سنن الترمذي/الجنائز ٧ (٩٧٦)، سنن النسائي/الجنائز ٤ (١٨٢٧)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٣ (١٤٤٥)، (تحفة الأشراف: ٤٤٠٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣) (صحيح)

بَابُ تَغْمِيضِ الْمَيِّتِ
د مړي د سترګو بندولو بیان

[٣١١٨](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ حَبِيبٍ أَبُو مَرْوَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ يَعْنِي الْفَزَارِيَّ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ ذُؤَيْبٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَبِي سَلَمَةَ، وَقَدْ شَقَّ بَصَرُهُ، فَأَغْمَضَهُ، فَصَيَّحَ نَاسٌ مِنْ أَهْلِهِ، فَقَالَ: "لَا تَدْعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ إِلَّا بِخَيْرٍ، فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ يُؤَمِّنُونَ عَلَى مَا تَقُولُونَ، ثُمَّ قَالَ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِأَبِي سَلَمَةَ، وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِي الْمَهْدِيِّينَ، وَاخْلُفْهُ فِي عَقِبِهِ فِي الْغَابِرِينَ، وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ رَبَّ الْعَالَمِينَ، اللَّهُمَّ افْسَحْ لَهُ فِي قَبْرِهِ، وَنَوِّرْ لَهُ فِيهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَتَغْمِيضُ الْمَيِّتِ بَعْدَ خُرُوجِ الرُّوحِ، سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ مُحَمَّدِ بْنِ النُّعْمَانِ الْمُقْرِئَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا مَيْسَرَةَ رَجُلًا عَابِدًا، يَقُولُ: غَمَّضْتُ جَعْفَرًا الْمُعَلِّمَ، وَكَانَ رَجُلًا عَابِدًا فِي حَالَةِ الْمَوْتِ، فَرَأَيْتُهُ فِي مَنَامِي لَيْلَةَ مَاتَ، يَقُولُ: أَعْظَمُ مَا كَانَ عَلَيَّ، تَغْمِيضُكَ لِي قَبْلَ أَنْ أَمُوتَ.

دام سلمه رضی الله عنها نه روایت دي فرمائی چه نبی علیه السلام ابوسلمه ته راغې (دمرګ نه پس) اودهغه سترګي بیرته پاتې شوي وي نبی علیه السلام دهغه سترګي بندي کړي نودده کور خلقو شور جوړ کړو په دي وخت کښې نبی علیه السلام اوفرمائیل دځان دپاره دخیر اوکامیابۍ نه علاوه بله دعامه غواړئ ځکه تاسو چه څه وائی فرښتي په هغې امین وائی بیانبی علیه السلام اوفرمائیل اې الله ابوسلمه ته مغفرت اوکړي او په هدایت موندونو کښې دده درجه لوړه کړي اودده نه په پاتې شوو خلقو کښې دده قائم مقام پیدا کړي او مونږ او ده ته خنه وکړي اې د ټول عالم پرورش کونکیه ده ته دده قبر فراخه کړي اودده قبر منور کړي.

﴿عن ام سلمة رضی الله عنها قالت دخل رسول الله ﷺ علی ابی سلمة وقد شق بصره (٢) فاغمضه﴾

ام سلمة رضی الله عنها فرمائی چه د ابوسلمة رضی الله عنه د وفات په وخت رسول الله ﷺ تشریف راوړو هغه وخت د هغوی سترګي غړیدلې وې رسول الله ﷺ هغه بندي کړې په دي باندې د هغوی د کور خلقو ژړا او چغې جوړې کړې، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : د خیر دعا کوئ ځکه چه ملائک آمین وائی ستاسو په خبره باندې، د دې نه پس رسول الله ﷺ دا دعا اولوستله ﴿اللهم اغفر لابی سلمة وارفع درجته فی المهدیین واخلفه (٣) فی عقبه فی الغابرین واغفرلنا وله رب العالمین اللهم افسح له فی قبره ونور له فیه﴾

د ابوداؤد په بعض نسخو کښې دلته یو زیادت دې چه د هغې مضمون دا دې چه ابوداؤد فرمائی چه تغمیض العین د روح د وتلو نه پس پکار دی او بیا ئې وړاندې دا واقعه لیکلې ده چه ما د خپل استاد محمد بن محمد بن نعمان المقری نه واوریدل هغوی به فرمائیل چه ما د ابومیسره نه واوریدل چه یو عابد او زاهد سړې وو هغوی وائی چه ما د جعفر معلم د مرګ په وخت د هغوی سترګې پټې کړې نو چه کله د هغوی وفات اوشو هم په هغه شپه ما هغه په خوب کښې اولیدو چه وې وئیل : اعظم ما کان علی تغمیضک لی قبل ان

---

(١): صحیح مسلم/ الجنائز ٤ (٩٢٠)، سنن ابن ماجه/ الجنائز ٦ (١٤٥٤)، (تحفة الأشراف: ١٨٢٠٥، ١٩٦٠١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢٩٧) (صحیح)

(٢) قال النووي هو بفتح الشین ورفع بصره وهو فاعل شق، اي بقي بصره مفتوحا، هكذا ضبطناه وهو المشهور، وضبطه بعضهم بصره بالنصب وهو صحیح ایضا، والشین مفتوحة بلا خلاف اهـ)

(٣) یعنی اې الله ته خلیفه شه د دې مړي په باقی پاتې کیدونکو کښې د دې مړي د اولاد دپاره)

اموت........ چه په ما باندې د ټولو نه زياته بده خبره دا راغله چه تا زما سترګي د روح قبض کيدو نه مخکښې بندې کړې آه. لهذا د دې خيال ساتل پکار دی چه کله د مرګ يقين پيدا شی نو بيا دې سترګې پټې کړې شی.

په دې حديث کښې د اغماض ميت ذکر کړې شوې دې، د علماء کرامو د دې په استحباب باندې اجماع ده چه د هغې حکمت دا ليکلې شوې دې چه د مړی هيئت خراب نه شي او علامه طيبی ليکلې دی چه کله روح قبض کيږی نو د سترګو رڼا هم ورسره ورسره ختمه شی لهذا د سترګو په غړيدلې پاتې کيدو کښې هيڅ فائده نشته. (هامش البذل) هم دغه شان علماء کرامو ليکلې دی چه هم په دې وخت د هغوی خوله هم بندول پکار دی.

والحديث اخرجه مسلم والنسائی وابن ماجة (منذری)

بَابٌ فِي الِاسْتِرْجَاعِ

د انا لله وانا اليه راجعون وئيلو بيان

حديث الباب ﴿باب ما يقال عند الميت من الكلام﴾ کښې اختلاف د سياق سره تيرشوې دې.

[٣١١٩](١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا ثَابِتٌ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَصَابَتْ أَحَدَكُمْ مُصِيبَةٌ، فَلْيَقُلْ: إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ، اللَّهُمَّ عِنْدَكَ أَحْتَسِبُ مُصِيبَتِي، فَأْجُرْنِي فِيهَا، وَأَبْدِلْ لِي خَيْرًا مِنْهَا".

دام سلمه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی کله چه په تاسو کښې يو کس ته مصيبت اورسيږي نو دا کلمات دې اووائی: «إنا لله وإنا إليه راجعون» اې الله زه په خپل مصيبت کښې دځان دپاره ستاسره دثواب اميد لرم ته ماته په دې کښې اجر راکړې او ددې بهتره بدله راکړې.

﴿ اللهم عندک احتسب مصيبتی فاجرنی ﴾ مثل اکرمنی او مثل فانصرنی (يعنی فاجرنی) دواړو طريقو سره ضبط کړې شوې دې اول د ايجار نه يعنی اجرت او عوض ورکول او دويم د اجر نه اخستلې شوې دې.

بَابٌ فِي الْمَيِّتِ يُسَجَّى

په مړی باندې د څادر غوړولو بيان

يعنی د انسان د وفات نه پس په هغه باندې څادر اچول پکار دی هغه ښکاره نه دی پريخودل پکار ښکاره ده چه په غسل کښې خو به وخت لګی خو دا عمل هم دغه وخت کول پکار دی، لکه چه په حديث الباب کښې دی

[٣١٢٠](٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "سُجِّيَ فِي ثَوْبٍ حِبَرَةٍ".

---

١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٢٠٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣١٧/٦) (ضعيف)

٢): صحيح البخاري/اللباس ١٨ (٥٨١٤)، صحيح مسلم/الجنائز ١٤ (٩٤٢)، (تحفة الأشراف: ١٧٧٦٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٩/٦، ٢٦٩) (صحيح)

دام المومنين عائشي رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام (چه كله وفات شو نو)په يوه يمني كپړه كښې پټ كړې شو.

﴿عن عائشة رضي الله عنها ان النبى ﷺ سجي فى ثوب حبرة﴾

حِبَرة... په وزن د عنَبَة دا په وصف او اضافت دواړو سره لوستلې شوې دې، يعني يمنى څادَر كوم چه د كرښو والا وو. عائشه رضي الله عنها فرمائي چه رسول الله ﷺ د هغوى د وفات نه پس په يمنى څادر كښې پټ كړې شو.

صلى الله عليه وسلم شرف وكرم ___ والحديث اخرجه البخاري ومسلم، قاله المنذري

بَابُ الْقِرَاءَةِ عِنْدَ الْمَيِّتِ

د مړكيدونكي خواته د تلاوت كولو بيان

[٣١٢١](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ مَكِّيٍّ الْمَرْوَزِيُّ، المعنى قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ وَلَيْسَ بِالنَّهْدِيِّ عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اقْرَءُوا يس عَلَى مَوْتَاكُمْ". وَهَذَا لَفْظُ ابْنِ الْعَلَاءِ.

دمعقل بن يسار رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلى دى څوك چه په تاسوكښې مړه كيږي تاسو دهغوى خواته سورة يس وائي.

قوله:﴿ اقرؤا ياسين على موتاكم ﴾: دلته د موتى نه مراد محتضر دې، د اكثرو علماء كرامو رائې دا ده او د بعضو رائې دا ده چه سورة ياسين د هغه په خوا كښې د هغه د مرګ نه پس اولوستلې شى چه په هغه باندې څادر اچولې شوې وى (٢) او دريم قول دا دې چه يقراء عليه عند القبر علماء كرامو د دې سورة د لوستلو په حكمت كښې ليكلې دى چه په دې وخت انسان كښې د تلفظ كولو طاقت خو وى نه. د ډير زيات ضعف د وجې نه هغه په دې وخت كښې خپل حاجت نه شى ښكاره كولې، خو د مومن سړى زړه په دې وخت كښې بالكلية الله پاك طرف ته متوجه وى نو په هغه باندې سورة ياسين په دې وخت كښې څكه لوستلې شى چه د هغه په ايمان او قوت قلبيه كښې اضافه پيدا شى، څكه چه په دې سورة كښې د شريعت امهات اصول او هغه لوئې لوئې مسائل كومه چه علماء كرامو په خپلو تصنيفاتو كښې بيان كړې ده د مختلفو امتونو احوال، د تقدير اثبات او دا چه د بندګانو د افعالو استناد د الله پاك طرف ته دې، او اثبات توحيد، نفى شرك او احوال قيامت، د حشر او نشر منظر، حساب او كتاب، ثواب او عقاب وغيره څيزونه ذكر شوې دى، او په حديث كښې هم دى چه د هر څيز دپاره زړه وى او د قرآن زړه سورة ياسين دې لهذا دا سورة د هغه مخكښې لوستلو سره به هغه ته روحانى طاقت حاصليږى او تسلى به ورته ملاويږى او د ايمانياتو استحضار به ورته كيږى. (په دې شرط چه هغه د قرآن كريم په ترجمه بآندې پوهيږى)

---

(١): سنن ابن ماجه/الجنائز ٤ (١٤٤٨)، (تحفة الأشراف: ١١٤٧٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٢٦، ٢٧) (ضعيف)

(٢) خو په دې باندې دا اشكال دې چه فقهاء كرامو مړى ته نزدې ناسته كښې قبل الغسل د قرآن كريم د تلاوت نه منع فرمائيلې ده)

هره جمعه د خپل مور پلار په قبرونو باندې سورة یاسین لوستل :

او د سورة یاسین د قبر په خوا کښې د لوستلو په باره کښې په یو حدیث کښې دی کوم چه ابن عدی وغیره روایت کړې دي، ﴿من زار قبر والدیه او احدهما فی کل جمعة فقراء عندهما یاسین غفر له بعدد کل حرف منها (البذل)

والحدیث اخرجه النسائی وابن ماجة. قاله المنذری

بَابُ الْجُلُوسِ عِنْدَ الْمُصِيبَةِ

د مصیبت په وخت کښې کیناستلو بیان

[٣١٢٢]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ كَثِيرٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: لَمَّا قُتِلَ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ، وَجَعْفَرٌ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَوَاحَةَ، جَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ، يُعْرَفُ فِي وَجْهِهِ الْحُزْنُ، وَذَكَرَ الْقِصَّةَ.

دام المومنین عائشې رضي الله عنها نه روایت دې فرمائی چه کله زید بن حارثه او جعفر او عبدالله بن رواحه رضي الله عنهم قتل کړې شول نو نبی علیه السلام په جوماته کښې کیناستو چه په مخ باندې ئې دخفګان آثار ښکاره شول. حدیث تر آخره پورې.

شرح الحدیث :

یعنی دمرګ په شان د یو مصیبت په وخت که د لږ ساعت دپاره سکون او وقار او سکوت سره کینی چه په هغې کښې د غم آثار ښکاره کیږی نو په دې کښې هیڅ باک نشته. دا خپله د رسول الله ﷺ نه ثابته ده لکه چه په حدیث الباب کښې دی. عائشه رضي الله عنها فرمائی چه کله په غزوه موته کښې د زید بن حارثه رضي الله عنه، جعفر بن ابی طالب او عبدالله بن رواحه رضي الله عنهم د شهادت خبر رسول الله ﷺ ته اورسیدو نو هغوی په مسجد کښې ناست وو او د هغوی په مخ مبارک باندې د غم آثار ښکاریدل. علامه طیبی رحمه الله لیکی یعنی رسول الله ﷺ خپل غم پټ کړې وو نو فطری طور چه د هغې کوم اثر په مخ باندې ښکاره کیدل پکار وو هغه ښکاره شو. علماء کرامو لیکلې دی چه په دې کښې د اعتدال تعلیم دې چه په ټولو احوالو کښې اعتدال مسلک مستقیم دې. لهذا که چاته یو عظیم مصیبت اورسیږی نو هغه له پکار دی چه نه خو د غم په اظهار کښې افراط اوکړی خان وهل او ګریوان شلول او چغې وهل وغیره چه ناجائز او ممنوع دی. او نه دې په دې باره کښې تفریط کوی چه بې پرواهی کوی او بهادری ښائی چه علامت دې د زړه د سخت والی. بلکه د رسول الله ﷺ اتباع کول پکار دی. او دې وخت کښې د رسول الله ﷺ د جلوس فی المسجد په باره کښې لیکلې شوې دی چه د هغوی په مسجد کښې دا ناسته د معمول او عادت شریفه مطابق وه. یعنی په دې نیت باندې نه وه چه خلق دې هغوی ته د تعزیت دپاره راشی. لهذا دا د هغوی مجلس مجلس د ماتم نه وو.

[1]): صحیح البخاري/الجنائز ٤٠ (١٢٩٩)، ٤٥ (١٣٠٥)، والمغازي ٤٤ (٤٢٦٣)، صحیح مسلم/الجنائز ١٠ (٩٣٥)، سنن النسائي/الجنائز ١٤ (١٨٤٨)، (تحفة الأشراف: ١٧٩٣٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥٩/٦، ٢٧٧) (صحیح)

وړاندې په روایت کښې دی ﴿ وذكر القصة ﴾ دا قصه تفصیلا په بخاری ۱۷۳/۱ کښې ذکر شوې ده ﴿ فی باب من جلس عند المصیبة یعرف فیه الحزن ﴾ (بذل) چه د هغې مضمون دا دې عائشه رضي الله عنها فرمائی چه کله د دې درې واړو حضراتو د شهادت په خبر باندې ما رسول الله ﷺ په مجلس کښې په ناسته باندې اولیدو او د هغوی د مخ مبارک نه د غم آثار ښکاره کیدل او ما د خپلې حجرې د دننه نه د دروازې په چاودی کښې کتل نو هغه وخت رسول الله ﷺ ته یو سړې راغلو چه د جعفر رضي الله عنه د کور خلق چغې وهی، رسول الله ﷺ هغه ته اوفرمائیل چه لاړ شه او هغوی منع کړه، هغه لاړو او بیا راغلو چه هغوی خو نه منی، رسول الله ﷺ اوفرمائیل لاړ شه او هغوی منع کړه هغه لاړو او بیا راغلو او وې وئیل یا رسول الله ﷺ هغوی خو زمونږ نه اوری، رسول الله ﷺ اوفرمائیل لاړ شه بیا د هغوی په خلو کښې خاورې واچوه...... عائشه رضي الله عنها فرمائی چه ما هغه راطلب کړو چه هلاک شې نه ته پخپله هغه کار کولې شې، کوم چه رسول الله ﷺ فرمائی او نه ته رسول الله ﷺ پرېږدې، مطلب دا وو چه تاله داسې عرض کول پکار وو چه دا زما د وس خبره نه ده زه دا نه شم کولې لهذا تاسو بل څوک اولیږئ. (والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری)

باب فِي التَّعْزِيَةِ

د مړی وارثانو ته د تعزیت کولو بیان

تعزیة دعزاء نه مشتق دې چه د هغې معنی صبر ده. لهذا د تعزیة معنی شوه چا له په عزاء یعنی صبر باندې تیارول او د هغې تلقین کول، صبر ښودل، یعنی هغه ته د اجر او ثواب دعا کول چه د هغه په دې باندې تسلی اوشی او صبر شی.

[۳۱۲۳](۱) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَوْهَبٍ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُفَضَّلُ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ سَيْفٍ الْمَعَافِرِيِّ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: قَبَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي مَيِّتًا، فَلَمَّا فَرَغْنَا، انْصَرَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَانْصَرَفْنَا مَعَهُ، فَلَمَّا حَاذَى بَابَهُ وَقَفَ، فَإِذَا نَحْنُ بِامْرَأَةٍ مُقْبِلَةٍ، قَالَ: أَظُنُّهُ عَرَفَهَا، فَلَمَّا ذَهَبَتْ، إِذَا هِيَ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا السَّلَامُ، فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أَخْرَجَكِ يَا فَاطِمَةُ مِنْ بَيْتِكِ؟" فَقَالَتْ: أَتَيْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَهْلَ هَذَا الْبَيْتِ، فَرَحَّمْتُ إِلَيْهِمْ مَيِّتَهُمْ، أَوْ عَزَّيْتُهُمْ بِهِ، فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَلَعَلَّكِ بَلَغْتِ مَعَهُمُ الْكُدَى، قَالَتْ: مَعَاذَ اللَّهِ، وَقَدْ سَمِعْتُكَ تَذْكُرُ فِيهَا مَا تَذْكُرُ، قَالَ: لَوْ بَلَغْتِ مَعَهُمُ الْكُدَى "فَذَكَرَ تَشْدِيدًا فِي ذَلِكَ، فَسَأَلْتُ رَبِيعَةَ عَنِ الْكُدَى، فَقَالَ: الْقُبُورُ فِيمَا أَحْسَبُ.

دعمرو بن العاص خانه روایت دې فرمائی چه مونږ دنبی علیه السلام سره یو مړې دفن کړو کله چه مونږ ددفن کولو نه فارغ شو نونبی علیه السلام واپس روان شو او مونږ هم ورسره وو کله چه دمړی دکور دروازې ته اورسیدو نو اودریدو مخامخ یوه ښځه راروانه وه راوی وائی زما کمان دې چه نبی علیه السلام پیژندلې و کله چه هغه لاړه نو معلومه شوه چه هغه فاطمه رضي الله عنها وه نبی علیه السلام ترې تپوس اوکړو چه ته دخپل کور نه په څه وجه وتلې یې؟ هغې اووئیل اې دالله رسوله زه دمړي

۱): سنن النسائي /الجنائز ۲۷ (۱۸۸۱)، (تحفة الأشراف: ۸۸۵۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۱۶۹، ۲۲۳) (ضعیف)

کورته راغلي ومه ددې دپاره چه دصبر تلقين ورته اوکړم اودوی ته تعزيت اوکړم نبی ﷺ اوفرمائيل شايد چه ته دهغوی سره مقبري ته هم تلي وې هغې عرض اوکړو په الله پناه غواړم ماخوپه دې باره کښې ستاسو ارشادات اوريدلی دی چه ښځې دې مقبروته دتللونه منع کړې وې نبی ﷺ اوفرمائيل که چرې ته ددوی سره تلي وې، راوي وائی چه بيوه سخته خبره ئې ورته اوکړه.

﴿عن عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما قال قبرنا مع رسول الله ﷺ يعني ميتا فلما فرغنا الحديث﴾

د دې حديث مضمون په باب فی صفايا رسول الله ﷺ د رومبی حديث په ضمن کښې تير شوې دې هغه دې اوکتلې شی دوباره دلته د ليکلو ضرورت نشته.

﴿قال لو بلغت معهم الكدى فذكر تشديدا فی ذلک﴾

د امام ابوداؤد يو خاص عادت شريفه په سلوک او ادب کښې:

د امام ابوداؤد په دې عادت شريفه باندې مونږ په رومبی ځائې کښې ليکل کړی دی، دلته علامه شيخ محمد عوامه حفظه الله په خپل تعليق کښې ليکی: وفی الكناية عن بقية الحديث ادب من الامام ابی داؤد رحمه الله تعالى مع بضعة النبي ﷺ ورضى الله تعالى عنها ينبغي الاقتداء به، قال السخاوي رحمه الله في اواخر في بذل المجهود في ختم سنن ابی داؤد وهو يعدد مناقب الامام ابی داؤد: ومن وفور ادبه انه لما اورد الحديث في رؤية النبي ﷺ ابنته فاطمة رضي الله عنها في الطريق وقالت له انها كانت تعزى اناسا فی ميت لهم، لم يذكر الكلام الاخير بل اشار اليه بقوله فذكر تشديدا في ذلک... وهذا يذكرنا بادب ائمة آخرين فی حديث سرقة المراة المخزومية وقوله ﷺ لو ان فاطمة بنت محمد ﷺ فقد رواه ابن ماجه بسنده قال محمد بن رمح سمعت الليث بن سعد يقول قد اعاذها الله ان تسرق وكل مسلم ينبغي له ان يقول هذا، او د دې نه پس حافظ په فتح البارى کښې ليکلي دی چه امام شافعی رحمه الله هم چه کله دا حديث د سرقه ذکر کړو نو هغوی هم داسې اوفرمائيل: فذکر عضوا شريفا من امراة شريفة آهـ

د رسول الله ﷺ د مور پلار اخروی حکم:

د رسول الله ﷺ د مور پلار د ايمان او عدم ايمان په باره کښې د علماء کرامو اختلاف حضرت سهارنپوری په بذل کښې په دې ځائې کښې او په را روان باب ﴿باب في زيارة القبور﴾ کښې اتى رسول الله ﷺ قبر امه فبكى وابكى من حوله د لاندې او حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې [1] د ډيرو کتابونو حوالې او مختصر مختصر عبارتونه ليکلي دی او د اهل فترة په باره کښې ئې د علماء کرامو اختلاف ذکر کړې دې چه څوک کتل غواړی هغې ته دې رجوع اوکړی، او دا احقر په خپل سبق کښې دا وائی چه په دې مسئله کښې تحقيق

---

[1] د علامه سيوطی، وشي الديباج علي صحيح مسلم بن الحجاج نه نقل کړی سيوطی فرمائی چه ما په دې باره کښې اووۀ رسالې اوليکلې او هغوی د حديث الباب استاذنت ربي تعالى ان استغفر لها فلم ياذن لي باندې کلام کولو سره فرمائيلې دی چه دا د مسلم په بعض نسخو کښې موجود نه دې، او که ثابت شی نو منسوخ دې الی آخر ما فی الحاشية، او په دې باره کښې د امام برزنجی هم ډيره مشهوره رساله ﴿سداد الدين في اثبات النجاة والدرجات للوالدين﴾ دې هغه کتل پکار دی، خاص هم په دې موضوع باندې مفصل او مدلل تصنيف دې)

که هر څه وی خو رښتينې خبره دا ده چه د رسول اللهﷺ د يو امتي خواهش پكار دي چه په څه طريقه د هغوی ايمان او اسلام ثابت وی نو غوره ده، يعنی چه كله د هغوی ذكر يا خيال راشي. د رسول اللهﷺ د مور پلار په باره كښې تفصيل په شپږم جلد كښې را روان دي.

باب الصَّبْرِ عِنْدَ الصَّدْمَةِ

د مصيبت په وخت كښې د صبر كولو د فضيلت بيان

[٣١٢٤]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: أَتَى نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى امْرَأَةٍ تَبْكِي عَلَى صَبِيٍّ لَهَا، فَقَالَ لَهَا "اتَّقِي اللَّهَ، وَاصْبِرِي، فَقَالَتْ: وَمَا تُبَالِي أَنْتَ بِمُصِيبَتِي؟ فَقِيلَ لَهَا: هَذَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَتْهُ، فَلَمْ تَجِدْ عَلَى بَابِهِ بَوَّابِينَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَمْ أَعْرِفْكَ. فَقَالَ: إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُولَى، أَوْعِنْدَ أَوَّلِ صَدْمَةٍ".

دانس نه روايت دي چه نبی عليه السلام د يوې ښځې خواته ورغې دچاچه بچې مر وو اوجړل ئې په تيز آواز سره نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل دالله نه ويريږه په چغومه جاړه، اوصبر كوه نودي ښځې په جواب كښې اووئيل مصيبت خوپه ماراغلې دې په تاخوندې په دې وخت كښې دې ښځې ته اوويلې شول دا نبی عليه السلام دې كله چه داخبره شوه نودنبی عليه السلام په خدمت كښې حاضره شوه اود نبی عليه السلام په دروازه كښې يو څوكيداران اونه موندل اوعرض ئې اوكړواي دالله رسوله مامعاف كړه ما ته نه وی پيژندلې، بيانبی عليه السلام دي ته اوفرمائيل صبر خودغم په شروع كښې وي اوكه داسې ئې اوفرمائيل صبر په اول غم كښې وي.

﴿ عن انس رضي الله عنه انه قال اتی نبی الله ﷺ علی امرأة تبكی الخ ﴾

يعنی رسول اللهﷺ په يو زنانه باندې تير شو چه په خپل بچی باندې ئې ژړل، رسول اللهﷺ هغې ته د صبر او تقوی تلقين اوكړو (هغې چونكې رسول اللهﷺ د غم د شدت د وجې نه نه وو پيژندلې په دې وجه) هغې اولته جواب وركړو چه ستا زما په مصيبت باندې څه پرواه ده، په دې باندې چا روستو هغې ته اووې چه دا خو رسول اللهﷺ وو نو هغه فورا د رسول اللهﷺ په خدمت كښې حاضره شوه، راوی وائی چه هغې د رسول اللهﷺ په دروازه باندې دربان او چوكيداران بيا نه موندل، يعنی څنگه چه د دنيوی بادشاهانو په دربارونو باندې وی. نو دې زنانه رسول اللهﷺ ته عرض اوكړو چه يا رسول اللهﷺ ! ما تاسو پيژندلې نه وئ... رسول اللهﷺ د دې خبرې خو هيڅ جواب ورنكړو خو دا ئې اوفرمائيل: ﴿ انما الصبر عند الصدمة الاولی ﴾ چه صبر خو هم هغه دې كوم چه د مصيبت په شروع كښې حاصل شی. (روستو خو هر څوک صبر كوی)

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری

[١]): صحيح البخاري/الجنائز ٣١ (١٢٨٣)، ٤٢ (١٣٠٢)، الأحكام ١١ (٧١٥٤)، صحيح مسلم/الجنائز ٨ (٩٢٦)، سنن النسائي/الجنائز ٢٢ (١٨٧٠)، سنن الترمذي/ الجنائز ١٣ (٩٨٨)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٥٥ (١٥٩٦)، (تحفة الأشراف: ٤٣٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٣٠/٣، ١٤٣، ٢١٧) (صحيح)

بَابٌ فِي الْبُكَاءِ عَلَى الْمَيِّتِ

په مړی پسې د خپلو وارثانو د ژړلو بيان

[٣١٢٥] (¹) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا عُثْمَانَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ: أَنَّ ابْنَةً لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْسَلَتْ إِلَيْهِ، وَأَنَا مَعَهُ، وَسَعْدٌ، وَأَحْسَبُ أُبَيًّا أَنَّ ابْنِي أَوْ بِنْتِي قَدْ حُضِرَ، فَاشْهَدْنَا، فَأَرْسَلَ يُقْرِئُ السَّلَامَ، فَقَالَ: قُلْ "لِلَّهِ مَا أَخَذَ وَمَا أَعْطَى، وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ إِلَى أَجَلٍ، فَأَرْسَلَتْ تُقْسِمُ عَلَيْهِ، فَأَتَاهَا، فَوُضِعَ الصَّبِيُّ فِي حِجْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَنَفْسُهُ تَقَعْقَعُ، فَفَاضَتْ عَيْنَا رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُ سَعْدٌ: مَا هَذَا؟ قَالَ: إِنَّهَا رَحْمَةٌ وَضَعَهَا اللَّهُ فِي قُلُوبِ مَنْ يَشَاءُ، وَإِنَّمَا يَرْحَمُ اللَّهُ مِنْ عِبَادِهِ الرُّحَمَاءَ".

د اسامه بن زيد رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه د نبی علیه السلام لور مبارکې په نبی علیه السلام پسې څوک راوليږل او په دې وخت کښې زه او سعد د نبی علیه السلام سره وم او ور شايد أبی هم ورسره وو سوال جواب داسې وو چه زما د لور يا خوی ځنکدن شروع دې مونږ ته راشه نبی علیه السلام ورته سلام اوليږلو اووئې فرمائيل داسې اووايه خاص د الله تعالی دې هغه څه، څه چه ئې واخستل او هرڅوشې د هغه د طرف نه تريوی نيتې پورې ورې زينب نبی علیه السلام دوباره اوغوښتو او په قسم ئې وغوښتو نو نبی علیه السلام ورته ورغې او ماشوم ئې ورته په غيږ کښې واچوو او د ماشوم ساه روانه شوې وه د نبی علیه السلام سترګی د اوښکو نه ډکې شوې، سعد ورته اووئيل دا څه دې؟ نبی علیه السلام اوفرمائيل دا د الله رحمت دې چه اچولې دې الله تعالی په زړونو د هغه چا کښې چه څوک ئې خوښ وې او يقينا الله تعالی پخپلو بندګانو کښې په رحم کرنکو باندې رحم کوی.

﴿عن اسامة بن زيد رضی الله عنهما ان ابنة رسول الله صلی الله علیه وسلم ارسلت اليه وانا معه وسعد احسب ابيا الخ﴾

مضمون د حديث:

سيدنا اسامه بن زيد رضی الله عنهما فرمائی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور (زينب) د هغوی په خدمت کښې يو قاصد د راغوښتلو دپاره راوليږلو، او هغه وخت د هغوی سره زه او سعد بن عباده او ابی بن کعب رضی الله عنهم په مجلس کښې ناست وو، قاصد د هغوی پيغام راوړلو چه زما د ځوی يا د لور د راوی شک دې آخری وخت دې زمونږ خواله تشريف راوړئ. رسول الله صلی الله علیه وسلم قاصد ته اوفرمائيل: لاړ شه او زما سلام ورته اوکړه او دا ورته اووايه ﴿لله ما اخذ وله ما اعطی وكل شئ عنده الی اجل﴾ قاصد لاړو او د هغوی خبره ئې اورسوله هغوی دوباره قاصد د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې راوليږلو په دې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم هلته تشريف يوړو، هغه ماشوم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په غيږ کښې کيخودلې شو په داسې حال کښې چه د هغه ماشوم روح په وتلو باندې وو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سترګو نه اوښکې روانې شوې، په دې باندې سعد رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو چه دا ژړا څنګه ده؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل دا اوښکې رحمت دې د الله پاک د طرف نه کومې چه الله پاک په خپلو بندګانو کښې چه د چا په زړه

---

¹): صحيح البخاري/الجنائز ٣٢ (١٢٨٤)، والمرضي ٩ (٥٦٥٥)، والقدر ٤ (٦٦٠٢)، والأيمان والنذور ٩ (٦٦٥٥)، والتوحيد ٢ (٧٣٧٧)، ٢٥ (٧٤٤٨)، صحيح مسلم/الجنائز ٦ (٩٢٣)، سنن النسائي/الكبري الجنائز ٢٢ (١٩٦٩)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٥٣ (١٥٨٨)، (تحفة الأشراف: ٩٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٢٠٤، ٢٠٦، ٢٠٧) (صحيح)

کښې غواړي اچوی او رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه الله پاک هم په خپلو بندګانو کښې په هغه چا باندې رحم کوی چه رحم دل وی، سعد رضی الله عنه دا ګنړله چه کیدې شی دا صرف په اوښکو سره ژړل به هم منع وی په دې باندې رسول الله ﷺ هغه ته وضاحت اوکړوچه دا ژړا په منع کړې شوې ژړا کښې داخله نه ده بلکه دا خو غوره ده د زړه د رحم علامت دې، علماء کرامو ليکلی دی چه کمال خو په اعطاء کل ذی حق حقه کښې دې، او هغه چه د بعض صوفيه او زهاد نه نقل دی چه کله هغوی ته د هغه د يو خپلوان د مرګ خبر راغلو نو هغه په خندا شو د تقدير په فيصلې باندې د رضا کيدو د وجې نه، نو دا د کمال خبره نه ده.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والنسائي وابن ماجة، قاله المنذري

[٣١٢٦]() حَدَّثَنَا شَيْبَانُ بْنُ فَرُّوخَ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ الْمُغِيرَةِ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وُلِدَ لِي اللَّيْلَةَ غُلَامٌ، فَسَمَّيْتُهُ بِاسْمِ أَبِي إِبْرَاهِيمَ، فَذَكَرَ الْحَدِيثَ، قَالَ أَنَسٌ: لَقَدْ رَأَيْتُهُ يَكِيدُ بِنَفْسِهِ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَدَمَعَتْ عَيْنَا رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: تَدْمَعُ الْعَيْنُ، وَيَحْزَنُ الْقَلْبُ، وَلَا نَقُولُ إِلَّا مَا يَرْضَى رَبُّنَا، إِنَّا بِكَ يَا إِبْرَاهِيمُ لَمَحْزُونُونَ".

دانس بن مالك رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائيلی دی نن شپه زمونږ يو ماشوم پيداشو اومادهغه دپاره نوم دخپل نيکه ابراهيم علیه السلام نوم کيخودو اوحديث ئې تراخره بيان کړو انسه اووئيل چه مادا ماشوم ليدلې وو چه دنبی علیه السلام په مخکښې ئې روح ختلو دده په ليدلوسره دنبی علیه السلام دسترګونه اوښکې روانې شوې نبی علیه السلام اوفرمائيل دسترګونه اوښکې څي اوزړه خفه وي او مونږ نه وايو مګرهغه خبره کومه چه زمونږ دپروردګار خوښه وي يعنی انالله وانا اليه راجعون، يقينامون اې ابراهيم يقينا په تا پسې خفه يو.

﴿ عن انس بن مالک رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ولد لی الليلة غلام فسميته باسم ابی ابراهيم فذکر الحديث ﴾

د حديث مضمون دا دې : انس رضی الله عنه روايت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه نن ما کره يو ماشوم پيدا شوې دې نو ما د هغه نوم د خپل پلار (نيکۀ) ابراهيم علیه السلام په نوم باندې کيخودلې دې، وړاندې به په دې روايت کښې بل څه وی کوم چه مصنف رحمه الله اختصارا حذف کړې دی، بيا وړاندې په حديث کښې دی چه ما د رسول الله ﷺ دا ځوئې په ساه وتلو باندې ليدلې دې په داسې حال کښې چه هغه د رسول الله ﷺ مخې ته وو، د رسول الله ﷺ د سترګو مبارکو نه اوښکې روانې شوې او هغوی ارشاد اوفرمائيلو چه سترګې اوښکې بهيوی او زړه غمګين دې او مونږ به په ژبه باندې هم هغه وايو څه چه الله پاک خوښوی. ﴿ انا بک يا ابراهيم لمحزونون ﴾ چه اې ابراهيم! مونږ ستا په تلو باندې غمژن يو.

يرضی يا يرضی، په رومبی صورت کښې ربنا د فاعل کيدو په وجه باندې او په دويم صورت کښې ربنا بالنصب، د ابراهيم رضی الله عنه ولادت او وفات او د عمر موده په کتاب

---

[1]: صحيح البخاري/الجنائز ٤٣ (١٣٠٣)، صحيح مسلم/الفضائل ١٥ (٢٣١٥)، (تحفة الأشراف: ٤٠٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٩٤/٣) (صحيح)

الکسوف کښې بیان کړې شوې ده او وړاندې دلته په ﴿ باب فی الصلوة علی الطفل ﴾ په متن کښې هم را روانه ده.

والحدیث اخرجه مسلم، واخرجه البخاری تعلیقا، قاله المنذری

بَابٌ فِي النَّوْحِ

د مړی صفتونه یادول او په چغو چغو د ژړلو بیان

[٣١٢٧](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ حَفْصَةَ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، قَالَتْ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَانَا عَنِ النِّيَاحَةِ".

أم عطیة رضي الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ دنیاحة (په مړي باندې په چغه ژړلو) نه منع فرمائیلې ده.

[٣١٢٨](٢) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَبِيعَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْحَسَنِ بْنِ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّائِحَةَ وَالْمُسْتَمِعَةَ".

دابوسعید خدری رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه لعنت وئیلې دې دالله رسول ا په ویرکره ښځه باندې او په هغه ښځه چه ویر ته غوږ ږدي.

نوح یا نیاحة د مړی صفتونه کولو سره ژړل یا په چغو چغو باندې ژړل، دواړه تفسیرونه کړې شوې دی او دواړه ممنوع دی بغیر د صفتونو د ذکر کولو نه ژړا ثابت ده.

﴿ لعن رسول الله ﷺ النائحة والمستمعة ﴾

یعنی په نوحه کونکې زنانه او د هغې په اوریدونکې دواړو باندې رسول الله ﷺ لعنت فرمائیلې دې، نائحه کښې که تاء د تانیث دپاره وی نو د زنانه تخصیص د دې دپاره دې چه زیات تر دا نوحه په زنانو کښې موندلې شی او کیدې شی چه په دې کښې تاء د مبالغې دپاره وی په دې صورت کښې به اشاره وی دې طرف ته چه کوم انسان په کثرت سره دا کوی هم هغه د لعنت مستحق دې، او د چا نه چه اتفاقیه دا صادره شوې وی هغه په دې کښې داخل نه دې.

[٣١٢٩](٣) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ عَبْدَةَ، وأبي معاوية، المعنى عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ، فَذُكِرَ ذَلِكَ لِعَائِشَةَ، فَقَالَتْ: وَهِلَ تَعْنِي ابْنَ عُمَرَ؟ إِنَّمَا مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَبْرٍ، فَقَالَ: إِنَّ صَاحِبَ هَذَا لَيُعَذَّبُ، وَأَهْلُهُ يَبْكُونَ عَلَيْهِ". ثُمَّ قَرَأَتْ: وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى سورة الأنعام آية ١٦٤. قَالَ عَنْ أَبِي مُعَاوِيَةَ: عَلَى قَبْرِ يَهُودِيٍّ.

دعمر رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یقینامړي ته عذاب

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨١٢٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجنائز ٤٥ (١٣٠٦)، والأحكام ٤٩ (٧٢١٥)، صحيح مسلم/الجنائز ١٠ (٩٣٦)، سنن النسائي/البيعة ١٨ (٤١٥٨)، مسند احمد (٤٠٧/٦، ٤٠٨) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤١٩٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦٥/٣) (ضعيف الإسناد)

(٣): صحيح مسلم/الجنائز ٩ (٩٣١)، سنن النسائي/الجنائز ١٥ (١٨٥٦)، (تحفة الأشراف: ٧٣٢٤، ١٧٠٦٩، ١٧٢٢٦)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/المغازي ٨ (٣٩٧٨)، مسند احمد (٣٨/٢، ٣٩/٦، ٥٧، ٩٥، ٢٠٩) (صحيح)

ورکولې شي په جراداهل دهغه په ده باندې، راوي وائی داحدیث عائشې رضی الله عنها ته ذکر شوهني اووئیل ابن عمر سهوه شوې دې نبی علیه السلام په یوقبرباندې تیریدو وبې وئیل دې قبر والا ته دده داهل والاپه وجه باندې عذاب ورکولې شي چه هغوی په ده باندې جاړې. اوبیا ئې دا ایت شریف ولوستلو : «ولا تزر وازرة وزر أخرى» راوی وائی دمعاویه په روایت کښې دیهودې دقبر ذکردې،

﴿ عن ابن عمر رضی الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان المیت لیعذب ببکاء اهله علیه فذکر ذلک لعائشة فقالت وهل، یعنی ابن عمر رضی الله عنهما انما مر النبی صلی الله علیه وسلم علی قبر الخ ﴾

د ﴿ المیت یعذب ببکاء اهله علیه ﴾ حدیث تحقیق او توجیه

یو ځل عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دا حدیث نقل کړو چه مړی ته د هغه د کور د خلقو د ژړا په وجه باندې عذاب ورکولې شي، د عائشې رضی الله عنها مخکښې چه کله د دې حدیث ذکر راغلو نو هغې اوفرمائیل چه د ابن عمر رضی الله عنهما وهم پیدا شوې دې، او په نقل کولو کښې ئې غلطی کړې ده، او د صحیحینو په روایت کښې دی﴿ اما انه لم یکذب ولکنه نسی او اخطاء ﴾ او بیا هغې د خپل طرف نه صحیح حدیث بیان کړو چه اصل حدیث خو دا دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ځل د یو یهودی په قبر باندې تیر شو د هغه په باره کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه هغه د قبر والا ته عذاب ورکولې شی یعنی د هغه د کفر او فسق د وجې نه، او حال دا چه د هغه د کور خلق په هغه باندې ژاړی. یعنی بیا دې د دې قابل چرته دې چه په هغه دې ژړا اوکړې شی، بیا د دې نه پس عائشې رضی الله عنها د ابن عمر رضی الله عنهما د حدیث د تردید دپاره دا آیت کریمه تلاوت اوفرمائیلو. ﴿ ولا تزر وازرة وزر اخری ﴾ امام خطابی رحمه الله فرمائی: کیدې شی چه خبره هم دغه شان وی ځنګه چه عائشه رضی الله عنها فرمائی چه دا حدیث د یو یهودی په باره کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلې وو. ﴿ والخبر المفسر اولی من المجمل ﴾ او کیدې شی چه د ابن عمر رضی الله عنهما روایت هم صحیح وی او هغه د آیت کریمه خلاف نه دې ځکه چه د جاهلیت والا خلقو به د ژړا او نوحه کولو وصیت کولو او په دې صورت کښې چه به کوم عذاب وی هغه به د وصیت په وجه باندې وی کوم چه هغه په ژوند باندې کړې وو، او علامه سندهی په فتح الودود کښې لیکلی چه دا حدیث په مختلفو طرقو او د ډیرو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه نقل دې. او د دې معنی هم صحیح او ثابت ده د هغه توجیه نه پس کومه چه پورته ذکر شوه لهذا په دې حدیث باندې د انکار هیڅ وجه نشته، هم دا خبره ملا علی قاری رحمه الله هم لیکلې ده چه دا حدیث په مختلفو الفاظو سره او په ډیرو روایتونو د ابن عمر او غیر ابن عمر رضی الله عنهما نه ثابت دې، لهذا د عائشې رضی الله عنها اعتراض د خپل اجتهاد په اعتبار سره دې امام نووی رحمه الله فرمائی چه د دې حدیث تاویل جمهورو هم دا کړې دې چه دا په وصیت باندې محمول دې چه داسې انسان ته عذاب ملاویږی د هغه د وصیت کولو د وجې نه او په کوم مړی باندې چه د هغه اهل بغیر د هغه د وصیت نه ژړا اوکړی (او بغیر د هغه د رضا نه) نو هغه نه په عذاب کیږی ﴿ لقوله تعالی ولا تزر وازرة وزر اخری آهـ ﴾ د دې حدیث نور هم ډیر توجیهات کړې شوې دی. حضرت شیخ په اوجز المسالک کښې لیکلې دی چه علامه عینی رحمه الله په دې کښې د علماء کرامو اته

اقوال ليکلي دي، او سيوطي په شرح الصدور کښې نهه اقوال، او حضرت د احاديثو د نورو شرحو نه د دې نه علاوه هم ليکلي دي چه د هغې مجموعه څوارلس اقوالو ته رسيږي مونږ د هغې نه دلته څو ليکو!

۱: ﴿ الميت يعذب بما نيح عليه ﴾ کښې باء سببيه نه ده بلکه د حال دپاره ده، اى يعذب في حال بكاء اهله عليه..... مطلب دا چه مړى ته عذاب ورکولې شي «د څه ګناه په وجه باندې» په داسې حال کښې چه د هغه د کور خلق په هغه باندې ژړا کونکي وي يعنى د مړى خو په قبر کښې حال دا دې چه د هغه د ګناه په وجه باندې هغه ته سزا ملاويږى او دلته دا کيږى چه د هغه د فراق د وجې نه د هغه د کور خلق ژاړى او دا مطلب نه دې چه د ژړا د وجې نه هغه ته عذاب ملاويږى.

۲: دا عذاب ورکول خاص دى د کافر سره مسلمان په دې کښې داخل نه دې.

۳: دا د هغه مړى په حق کښې ده چه د هغه په معمول او د ژوند په طريقو کښې نوحه وى امام بخارى رحمه الله هم دا توجيه اختيار فرمائيلې ده لکه چه د هغوى د تبويب نه معلوميږى، باب قول النبى ﷺ يعذب الميت ببكاء اهله اذا كان النوح من سنته.

۴: دا محمول دې په هغه چا باندې چه هغه د نوحې وصيت کولو سره مړ شوې وى، جمهورو هم دا توجيه اختيار کړې ده.

۵: دا د هغه چا په باره کښې ده چا چه د ترک نوحه وصيت نه وى کړې، د دې قول په بناء باندې به دترک نوحه وصيت کول واجب وى، دداؤد ظاهرى رحمه الله او يو جماعت رائې هم دا ده.

۶: مطلب دا دې د حديث چه مړى ته د هغه صفاتو او احوالو د وجې نه عذاب ورکولې شى په کومو صفاتو او احوالو بيانولو سره چه هغوى ژاړى، ځکه چه هغه شرعا مذموم او ناجائز وى مثلا هغوى به دا وئيل د نوحه په وخت يا مرمل النسآء [1] يا متيم الاولاد، يا مخرب الدور، يعنى د ژړا کونکو زنانو په کلام کښې چه د کومو صفتونو طرف ته اشاره ده کوم چه په دې مړى کښې موجود وو اصل عذاب خو ورته د هغه صفتونو د وجې نه ملاويږى، او دا ژړا کونکې بې عقله زنانه هغه مذموم صفات په فخر سره بيانوى، يعنى د مړى هغه سيادت او بهادرى او مالدارى کومه چه به هغه په ناحقه ځايونو کښې استعمالوله او د کومو په وجه باندې چه هغه ته عذاب ملاويږى دوى د هم هغه صفتونو په بيانولو باندې ژاړى. ورجح هذا القول الاسماعيلي وهو اختيار ابن حزم وطائفته.

۷: د تعذيب نه مراد عذاب اخروى نه دې بلکه د ملائکو توبيخ او رټنه ده. مړې چه به په کومو صفتونو سره يادولې شو مثلا راځى په روايت کښې چه کله نائحه وائى ﴿واعضداه واناصراه واكاسياه ﴾ نو ملائک دې مړى ته موکه ورکوى او هغه ته وئيلې شى انت عضدها، انت ناصرها، انت كاسيها...... يعنى وايه کنه ته رښتيا داسې ئې او هم داسې ئې؟

۸: د مړى نه مراد محتضر دې مجازا ، او د تعذيب نه مراد تعذيب فى الدنيا يعنى هغه

---

[1] ښځو ته ارمله يعنى کُنډه جوړونکې، ماشومانو لره يتيمانان جوړونکى، کورونه ورانونکى، يعنى چه دهغې په مرګ باندې دا مصيبتونه راځى.

ته د کور د خلقو د ژړا د وجې نه تکليف رسيږی، په دې تولو کښې زيات معروف څلورم جواب دې هم دا اختيار کړې شوې دې په درمختار او شرح اقناع کښې، او ليکلې ئې دی چه دا څيز په اهل جاهليت کښې معروف وو چه هغوی به ډير څل د مرګ په وخت د ژړا وصيت کولو، پس طرفة بن العبد وائی.

اذا مت فانعينی بما انا اهله :: وشقی علی الجيب يا ابنة معبد[1]

په دې سلسله کښې د ائمه اربعه مذاهب د هغوی د فروعو د کتابونو نه په اوجز کښې نقل کړې شوې دی، مجموعی طور سره په ټولو مذاهبو کښې دا ده چه په نفس بکاء کښې هيڅ باک نشته نه د مرګ نه، څکښې او نه د مرګ نه روستو. خو ندبه حرام ده يعنی د مړی صفتونه بيانولو سره ژړل په آواز سره د زيادت د الف او د هاء نه لکه واسيداه واخليلاه او ليکلې دی چه نياحه حرام ده يعنی چغې وهل، او ژړا فرياد او واويلا کول، والحديث اخرجه مسلم والنسائی، قاله المنذری.

[٣١٣٠](٢) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَوْسٍ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى أَبِي مُوسَى وَهُوَ ثَقِيلٌ، فَذَهَبَتِ امْرَأَتُهُ لِتَبْكِيَ، أَوْ تَهُمَّ بِهِ، فَقَالَ لَهَا أَبُو مُوسَى: أَمَا سَمِعْتِ مَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَتْ: بَلَى، قَالَ: فَسَكَتَتْ، فَلَمَّا مَاتَ أَبُو مُوسَى، قَالَ يَزِيدُ: لَقِيتُ الْمَرْأَةَ، فَقُلْتُ لَهَا: مَا قَوْلُ أَبِي مُوسَى لَكِ: أَمَا سَمِعْتِ قَوْلَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ سَكَتِّ؟ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ مِنَّا مَنْ حَلَقَ، وَمَنْ سَلَقَ، وَمَنْ خَرَقَ".

د يزيد بن اوس نه روايت دې فرمائی چه زه ابوموسی نه ته ورغلم اوهغه مريض وو نوښځه ئې دجړلودپاره پاڅيده او يادخفګان په وجه، ابوموسی ورته اووئيل اياتانه دی اوريدلي هغه چه نبی ﷺ وئيلی دی هغې اووئيل ولي نه، راوي وائی دابوموسی ښځه خاموش شوه هرکله چه ابوموسی وفات شو يزيد وائی زه ددغې ښځې سره ملاو شوم ماورته اووئيل ابوموسی تاته څه يادول چه دنبی ﷺ نه دې نه دی اوريدلي؟ يوه شيبه خاموش شوه بيا ئې اووئيل رسول الله ﷺ فرمائيلی دی هغه څوك زمونږ دا مت نه نه دې څوك چه جامې شلوي (دغم په وخت کښې)ياسر وخروي او مخ وهي.

﴿ عن امراة من الممبايعات قالت كان فيما اخذ علينا رسول الله ﷺ في المعروف الذی اخذ علينا ان لا نعصيه فيه وان لا نخمش وجها ولا ندعو ويلا ولا نشق جيبا ولا ننشر شعرا ﴾

[٣١٣١](٣) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ الْأَسْوَدِ، حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ عَامِلٌ لِعُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ عَلَى الرَّبَذَةِ، حَدَّثَنِي أَسِيدُ بْنُ أَبِي أَسِيدٍ، عَنِ امْرَأَةٍ مِنَ الْمُبَايِعَاتِ، قَالَتْ: "كَانَ فِيمَا أَخَذَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَعْرُوفِ الَّذِي أَخَذَ عَلَيْنَا، أَنْ لَا نَعْصِيَهُ فِيهِ: أَنْ لَا نَخْمُشَ وَجْهًا، وَلَا نَدْعُوَ وَيْلًا، وَلَا نَشُقَّ جَيْبًا، وَأَنْ لَا نَنْشُرَ شَعَرًا".

---

[1]) شاعر خپلې ښځې ته خطاب کولو سره وائی او وصيت کوی چه کله زه مړ شم نو زما د مرګ خبر داسې خور کړه د کوم چه زه اهل يم، او زما په مرګ باندې په ژړا ژړا ګريوان اوشلوه.

[2]): سنن النسائي/الجنائز ٢٠ (١٨٦٦)، (تحفة الأشراف: ١٨٣٣٤)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الإيمان ٤٤ (١٠٤)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٥٢ (١٥٨٦)، مسند احمد (٣٩٦/٤، ٤٠٤، ٤٠٥، ٤١١، ٤١٦) (صحيح)

[3]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٣٦٦) (صحيح)

ابو اسید په هغه ښځو کښې د یوې ښځې نه روایت کوی چاچه د نبی ﷺ سره بیعت کړې وو چه ویلې ئې وونبی ﷺ چه زمونږ نه بیعت اخستلې وو په هغې کښې یوه داخبره هم وه چه مونږ به نافرمانی نه کوو اونه به دمخ نه ویښته اوباسو اودتباشي اوهلاك شي آواز به نه کوو اودغم په وخت کښې به ویښته اوجامې نه شلوو.

شرح الحدیث:

اسید بن ابی اسید د هغې صحابیه رضی الله عنها نه روایت کوی چه د مبایعاتو نه ده. (قال الحافظ الم اقف علی اسمها) هغه فرمائی چه رسول الله ﷺ په کومو څیزونو باندې زمونږ نه بیعت اخستلې وو په هغې کښې یو دا خبره وه چه مونږ زنانه به په نیکو خصلتونو کښې د رسول الله ﷺ نافرمانی نه کوو نو د هغه نیکو خصلتونو نه دا هم دی چه د مصیبت په وخت باندې به مخ نه وهو او دغه شان به واویلا نه کوو او هم دغه شان به ګریوان نه شلوو او نه به ویښتو لره خوارهٔ کوو.

د دې مهاجرو زنانو نه چه رسول الله ﷺ په کوم مضمون باندې بیعت اخستلې وو هغه د سورة ممتحنه په آیت کښې ذکر شوې دې ﴿ یاایها النبی اذا جآءک المومنات یبایعنک علی ان لا یشرکن بالله شیئا ولا یسرقن ولا یزنین ولا یقتلن اولادهن ولا یاتین ببهتان یفترینه بین ایدیهن وارجلهن ولا یعصینک فی معروف ﴾ په دې حدیث کښې د ذې آخری جزء ذکر دې چه د هغې مصداق هغوی په دې حدیث کښې خمش وجه او دعا بالویل او شق جیب او نشر شعر وئیلې دې.

بَابُ صَنْعَةِ الطَّعَامِ لِأَهْلِ الْمَيِّتِ

د مړی د کور دپاره د خوراک تیارولو بیان

[٣١٣٢] ([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنِي جَعْفَرُ بْنُ خَالِدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اصْنَعُوا لِآلِ جَعْفَرٍ طَعَامًا، فَإِنَّهُ قَدْ أَتَاهُمْ أَمْرٌ شَغَلَهُمْ".

عبدالله بن جعفر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی دجعفر دکورنۍ دپاره خوراك تیارکړئ ځکه چه په دوئ داسې مصیبت راغلې دې چه دوی دې کار ته فارغ نه دي.

الکلام علی الحدیث شرحا وفقها:

یعنی د مړی د کور والؤ دپاره د رومبؤ ورځې د سحر او ماښام د خوراک انتظام کول د لرې خپلوانو دپاره مستحب دی. فقهاء کرامو د دې تصریح کړې ده او د حدیث الباب نه ئې استدلال کړې دې او یو قول دا دې چه د دې خوراک انتظام تر د درې ورځو پورې کول پکار دی چه د تعزیت موده ده او دا ئې هم لیکلی دی چه د خوراک رالیږونکو دپاره مناسبه ده چه په تاکید سره په هغوی باندې خوراک اوکړی چه داسې او نه شی چه د زیات غم او ژړا د وجې نه هغوی خوراک پریږدی. (بذل) د حدیث الباب مضمون دا دې: جعفر بن ابوطالب رضی الله عنه چه په غزوه موته کښې شهید شوې وو د هغوی ځوئې عبدالله رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلې وو ﴿ اصنعوا لآل جعفر طعاما فانه قد اتاهم امر یشغلهم ﴾ یعنی د آل جعفر دپاره

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٣٦٦) (صحیح)

دوډۍ تیاره کړئ ځکه چه په هغوی باندې داسې حادثه راغلې ده چه هغوی ئې په خپل ځان اخته کړی دی او دخوراک دپاره فارغ نه دی، ددې نه مراد غم او خفګان دې، تجهیز او تکفین نه دې ځکه چه د هغوی شهادت خو په موته کښې شوې وو چه په ملک شام کښې دې.

دا خوراک کوم چه د نورو د طرف نه وی صرف د مړی د کور والا دپاره وی. د عام دعوت خوراک نه وی لهذا نورو خلقو لره خپلو خپلو کورنو ته تلل پکار دی. او هم دغه شان خپله د مړی د کورو والو د طرف نه د میلمستیا کیدل دا خو قلب موضوع ده او بدعت مستقبحه دې قاله ابن الهمام.... والحدیث اخرجه الترمذی وابن ماجة، قاله المنذری

بَابٌ فِي الشَّهِيدِ يُغَسَّلُ

شهید ته د غسل ورکولو بیان

شهید ته د غسل ورکولو مسئله خو تقریبا اتفاقی ده چه هغه ته غسل نه دی ورکول پکار، په دې کښې د حسن بصری اختلاف دې هغه د شهید د غسل ورکولو قائل دې، د هغوی دلیل دا لیکلې شوې دې ﴿ لان الغسل کرامة لبنی آدم والشهید مستحق الکرامة وانما لم تغسل شهداء احد تخفیفا علی الاحیاء لکون اکثرهم مجروحین فلم یقدروا علی غسلهم ﴾ او د جمهورو دلیل دا حدیث دې چه رسول الله ﷺ د احد د شهیدانو په باره کښې اوفرمائیل ﴿ زملوهم بکلومهم ودمائهم فانهم یبعثون یوم القیامة واوداجهم تشخب دما اللون لون الدم والریح ریح المسک الی آخر ما فی البدائع ﴾

خو په شهید باندې د مونځ کولو مسئله مختلف فیه ده، ائمة ثلاثه د دې قائل نه دی، او احناف د صلوة علی الشهید قائل دی او د امام احمد په یو روایت کښې تخیر دې، حافظ ابن قیم رحمه الله فرمائی چه د شهداء احد په باره کښې روایات مختلف دی، والصواب فی المسئلة انه مخیربین الصلوة علیهم وترکها لمجئ الآثار بکل واحدمن الامرین، وهذا احدی الروایات عن الامام احمد (عون مختصرا) د صلوة علی الشهید بحث وړاندې هم په دې باب کښې را روان دې.

[٣١٣٣] (١) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا مَعْنُ بْنُ عِيسَى. ح وحَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ الْجُشَمِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ طَهْمَانَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "رُمِيَ رَجُلٌ بِسَهْمٍ فِي صَدْرِهِ، أَوْفِي حَلْقِهِ، فَمَاتَ، فَأُدْرِجَ فِي ثِيَابِهِ كَمَا هُوَ، قَالَ: وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

دجابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یو سړې په سینه کښې په غشي باندې ولګیدو یا په مرۍ کښې او مړ شو په خپلو جامو کښې ونغښتلې شو څنګه چه هغه مخکښې ور جابروائی او مونږ دنبی علیه السلام سره ملګري وو.

﴿ عن جابر رضی الله عنه قال رمی رجل بسهم فی صدره او فی حلقه فمات فادرج فی ثیابه کما هو ﴾

یعنی یو سړې چه په غشی لګیدلې وو په سینه کښې یا په حلق کښې چه د هغې نه ئې مرګ واقع شو نو هغه هم دغه شان د هغه په کپړو کښې دفن کړې شو. یعنی بغیر د غسل نه.

---

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٢٦٤٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٦٧) (حسن).

[۳۱۳۴]([1]) حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، وَعِيسَى بْنُ يُونُسَ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَاصِمٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "أَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلَى أُحُدٍ، أَنْ يُنْزَعَ عَنْهُمُ الْحَدِيدُ، وَالْجُلُودُ، وَأَنْ يُدْفَنُوا بِدِمَائِهِمْ وَثِيَابِهِمْ".

دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام راته حکم کړې وو داحد دشهيدانو په باره کښې چه وسپني (اسلحه) او څرمني ترې لرې کړئ او په خپلوجامو او وينوکښې ئې دفن کړئ.

﴿عن ابن عباس رضي الله عنهما قال امر رسول الله ﷺ بقتلى احد ان ينزع عنهم الحديد ...الخ﴾:
يعنې د شهداء احد په باره کښې رسول الله ﷺ دا اوفرمائيل چه د هغوی د بدنونو نه دې وسله وغيره کوزه کړې شي او هم دغه شان زياتي جامه هم، او دوی دې په خپلو وينو او جامو کښې دفن کړې شي ([2]) د جمهورو مسلک خو هم دا دې په دې کښې د امام مالک رحمه الله اختلاف دې د هغوی په نزد وسله خو به کوزولې شي خو زياتي جامه وغيره به نه شي ويستلې. والحديث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذري

[۳۱۳۵]([3]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ. ح وحَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، وَهَذَا لَفْظُهُ، أَخْبَرَنِي أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ اللَّيْثِيُّ، أَنَّ ابْنَ شِهَابٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، حَدَّثَهُمْ: أَنَّ شُهَدَاءَ أُحُدٍ لَمْ يُغَسَّلُوا، وَدُفِنُوا بِدِمَائِهِمْ، وَلَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِمْ.

دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه داحد شهيدانو ته غسل نه وو ورکړې شوې اوپه خپلو وينوکښې دفن کړې شوي وو او جنازه هم ورباندې نه وه شوې.

﴿عن انس بن مالك رضي الله عنه ان شهداء احد لم يغسلوا ولم يصل عليهم﴾

د صلوة على الشهيد بحث:

د صلوة على الشهيد مسئله لکه چه اوس پورته تيره شوه مختلف فيه ده، وړاندې يو مستقل باب د کتاب الجنائز په آخره کښې را روان دې، ﴿باب الصلوة على القبر بعد حين﴾ چه په هغې کښې دا حديث دې ﴿عقبة بن عامر رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ خرج يوما فصلى على اهل احد صلاته على الميت﴾ او د دې حديث په دويم طريق کښې دا دی ﴿صلى على قتلى احد بعد

---

[1]): سنن ابن ماجه/الجنائز ۲۸ (۱۵۱۵)، (تحفة الأشراف: ۵۵۷۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۲۴۷) (ضعيف)

[2]) قال الموفق : وينزع من ثيابه مالم يكن من عامة لباس الناس من الجلود والفراء والحديد قال احمد : لا يترك عليه فردو ولا خف ولا جلد وبهذا قال الشافعي وابوحنيفة، وقال مالك لا ينزع عنه فرو ولا خف ولا محشو لعموم قوله ﷺ ادفنوهم بثيابهم، وما رويناه اخص فكان اولي آهـ...... د دې نه معلومه شوه چه د جمهور علماء او ائمه ثلاثه مذهب خو دا دې چه د عام جامو نه علاوه دې ترې نه زياتي جامه وغيره موزې اويستلې شي. خو د امام مالک رحمه الله په دې کښې اختلاف دې د هغوی په نزد به ترې نه زياتي جامه او موزې وغيره هم نه شي ويستلې. هم دغه شان په دسوقي کښې هم دی، پس په هغې کښې دی مع خف وقلنسوة ومنطقة قل ثمنها وخاتم فضة قل فصه اي قيمته لا بآلة حرب من درع وسلاح آهـ معلومه شوه چه وسله وغيره او زغرې به د امام مالک رحمه الله په نزد هم کوزولې شي،

[3]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۴۷۸) (حسن)

ثمان سنين كالمودع للاحياء والاموات ﴾ امام بخاري رحمه الله په ﴿ باب الصلوة على الشهيد ﴾ كښې دوه احاديث ذكر كړې دى يو هم دا د عقبه بن عامر رضي الله عنه والا او دويم د جابر بن عبدالله رضي الله عنه چه د هغې په اخر كښې دى ﴿ وامر بدفنهم فى دمائهم ولم يغسلوا ولم يصل عليهم ﴾ امام ابن قدامة په دې دواړو حديثونو كښې يو لره د خپل مسلک دليل منلو سره د دويم حديث يعنى حديث عقبه رضي الله عنه دا جواب كړې دې چه دا مخصوص دې د شهداء احد سره، ځكه چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا مونځ په شهيدانو باندې مونځ وو د هغوى په قبرونو باندې او اته كاله پس وو، او احناف د صلوة على القبر بالكل نه دى قائل، او جمهور هم د يو مياشت نه پس د صلوة على القبر قائل نه دى، لهذا هم دا به وئيلې شى چه دا د شهداء احد سره خاص دې، بله دا چه هغوى وئيلې دى چه د ابن عباس رضي الله عنه دا حديث ﴿ ان النبى صلى الله عليه وسلم صلى على قتلى احد ﴾ ضعيف دې ځكه چه د دې راوى حسن بن عماره دې چه ضعيف دې، وقد انكر عليه شعبة رواية هذا الحديث آهـ او قسطلانى فرمائى چه د ابن حزم ظاهرى رحمه الله مذهب دا دې چه صلوة على الشهيد هم حسن دې او ترک الصلوة هم حسن دې، او هغوى استدلال كړې دې د بخارى هم د دې دواړو احاديثو نه، وقال ليس يجوز ان يترک احد الاثرين المذكورين للاخر، بل كلاهما حق مباح وليس هذا مكان نسخ لان استعمالهما معا ممكن آهـ وقال العينى : ذهب ابن ابى ليلى والحسن بن حى وعبيدالله بن الحسن وسليمان بن موسى وسعيد بن عبدالعزيز والاوزاعى والثورى وابوحنيفة وابويوسف ومحمد واحمد فى رواية واسحاق فى رواية الى انه يصلى عليه وهو قول اهل الحجاز ايضا واحتجوا فى ذلک بحديث عقبة عند البخارى، وقوله فيه صلاته على الميت يرد قول من قال ان الصلوة فيه محمولة على الدمآء وممن قال به ابن حبان والبيهقى والنووى، امام نووى رحمه الله فرمائى چه د صلاته على الميت مطلب دا دې چه كومه دعا به هغوى د مړو دپاره غوښتله هم هغه دعا ئې د هغوى دپاره اوغوښتله، او دا مطلب نه دې چه د هغوى دپاره ئې مونځ اوكړو، هم دا تاويل ابن حبان او بيهقى هم كړې دې، قال العينى : وهذا عدول عن المعنى الذى يتضمنه هذا اللفظ لاجل تمشية مذهبه فى ذلک، وهذا ليس بانصاف، واحتجوا فى ذلک ايضا بما رواه ابن ماجة بسنده عن ابن عباس رضي الله عنه قال اتى بهم رسول الله صلى الله عليه وسلم يوم احد فجعل يصلى على عشرة عشرة وحمزة وهو كما هو يرفعون، هو كما هو موضوع، يعنى په لسو لسو كسانو باندې به مونځ كولې شو او په حمزه رضي الله عنه باندې، د مونځ نه پس به خو د حمزه رضي الله عنه جنازه هم هلته پرته وه او باقى به اوچتولې شو، الى آخر ما فى اولاجز...... وفيه ايضا : وبسط الزيلعى فى نصب الراية، طرق الصلوة على الشهداء ولخصها الحافظ فى الدراية فارجع اليهما لو شئت.

په دې سلسله كښې بعض روايات حافظ ابن قيم رحمه الله هم په تهذيب السنن كښې ذكر كړې دى، ومنها : حديث انس ان النبى صلى الله عليه وسلم صلى على حمزة، وحديث ابى مالک الغفارى كان قتلى احد يوتى منهم بتسعة وعاشرهم حمزة فيصلى عليهم رسول الله صلى الله عليه وسلم ثم يحملون ثم يوتى بتسعة فيصلى عليهم وحمزة مكانه، هذا مرسل صحيح ذكره البيهقى، وقال هو اصح ما فى الباب..... د دې روايت مقتضى دا ده چه په حمزه رضي الله عنه باندې اووه كرته مونځ كړې شوې دې په باقى تولو

باندې يو يو كړت. ومنها وقد روى ابن اسحاق عن رجل من اصحابه عن مقسم عن ابن عباس رضي الله عنهما ان النبي صلى الله عليه وسلم صلى على حمزة فكبر سبع تكبيرات ولم يؤت بقتيل الاصلى عليه معه حتى صلى عليه اثنتين وسبعين صلوة، ولكن هذا الحديث له ثلاث علل الى آخر ما ذكر، دا آخرى روايت د هغه مخكښې روايت هم خلاف دې كوم چه مرسل قوى دې.

[٣١٣٦]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا زَيْدٌ يَعْنِي ابْنَ الْحُبَابِ. ح وحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو صَفْوَانَ يَعْنِي الْمَرْوَانِيَّ، عَنْ أُسَامَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، الْمَعْنَى أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى حَمْزَةَ، وَقَدْ مُثِّلَ بِهِ، فَقَالَ: لَوْلَا أَنْ تَجِدَ صَفِيَّةُ فِي نَفْسِهَا، لَتَرَكْتُهُ حَتَّى تَأْكُلَهُ الْعَافِيَةُ. حَتَّى يُحْشَرَ مِنْ بُطُونِهَا، وَقَلَّتِ الثِّيَابُ، وَكَثُرَتِ الْقَتْلَى، فَكَانَ الرَّجُلُ وَالرَّجُلَانِ وَالثَّلَاثَةُ يُكَفَّنُونَ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ، زَادَ قُتَيْبَةُ: ثُمَّ يُدْفَنُونَ فِي قَبْرٍ وَاحِدٍ، فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُ: "أَيُّهُمْ أَكْثَرُ قُرْآنًا؟ فَيُقَدِّمُهُ إِلَى الْقِبْلَةِ".

دانس بن مالك رضي الله عنه نه دتير روايت په شان روايت نقل شوې دې مګر ددې اضافي سره چه نبي عليه السلام په حمزه باندې تيرشو اوهغه مثله شوې وو، نبي عليه السلام أوفرمائى كه چرې صفيه نه خفه كيدلې نومابه د حمزه لاش همداسې بهر په ډاګه پريخودلې وو ترديې چه ليوانوبه خوړلې رې بيابه دقيامت په ورځ دليوانودخيټونه راوتلو په هغه زمانه كښې دجامو كمې وو اودشهيدانو تعداد زيات وو يو او دوه اودرې كسان به په يوه جامه كښې دفن كولې شو ليكن ددفن كولونه مخكښې به نبي عليه السلام تپوس اوكړو چه په دوى كښې دقران علم دچاسره زيات دې؟ نو هغه به ئې دقبلې طرف ته مخامخ كړو.

﴿عن انس بن مالك رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم مر على حمزة وقد مثل به فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم لولا ان تجد صفية في نفسها لتركته حتى تاكله العافية حتى يحشر من بطونها﴾

شرح الحديث:

يعنى رسول الله صلى الله عليه وسلم د احد په جنګ كښې په حمزه رضي الله عنه باندې تير شو په داسې حال كښې چه هغوى مثله كړې شوې وو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه كه ماته د خپلې ترور صفيه رضي الله عنها خيال نه وې نو ما به دوى هم په دې حال كښې دلته پريخودلې وې چه حيواناتو او مارغانو د هغوى بدن خوړلې وې او بيا په آخرت كښې د هغه حيواناتو د خيټو نه د هغوى اجزاء جمع كولو سره د هغه حشر شوې وې.

دا رسول الله صلى الله عليه وسلم ځكه غوښتله چه د هغوى په اجر او ثواب كښې اضافه اوشى، او د هغوى شهادت د الله پاك نزد ښه ښكاره شى ورانديې په روايت كښې دى چه چونكه د جامو كمې وو او د مقتولينو كثرت په دې وجه دوه دوه او درې درې مرى په يو كپړه كښې كفن كړې شو، او بيا به هغوى ټول په يو قبر كښې دفن كولې شو، په قبر كښې د كيخودلو په وخت به رسول الله صلى الله عليه وسلم تپوس كولو چاته قرآن زيات ياد دې پس هم هغه به ئې د قبلې طرف ته مخكښې كولو.

په دې روايت كښې دا هم دى چه په يو كپړه كښې به د دوه او درې كسانو تكفين كيدلو، خو په دې صورت كښې به د يو بدن د بل سره لګى او دا جائز نه ده، لهذا د دې

١): سنن الترمذي/الجنائز ٣١(١٠١٦)، (تحفة الأشراف: ١٤٧٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٨/٣) (حسن)

تاویل به دا کولې شی چه مثلا یو لوئې څادر دې د هغې دوه یا درې ټکړې کولو سره به هر یو مړې په ځانله ځانله ټکړه کښې کفن کولې شو چه د یو بل سره او نه لګی. او یا بیا دا په ضرورت او مجبورئ باندې محمول کولې شی. (بذل) او مظهر شارح د مصابیح د ثوب واحد تاویل په قبر واحد سره کړې دې ممکنه ده چه دا تاویل په بعض نورو روایتونو کښې اوچلیږی خو زمونږ په دې روایت کښې نه شی چلیدې ځکه دلته د دې نه پس په روایت کښې دی ﴿ ثم یدفنون فی قبر واحد ﴾

په حدیث الباب باندې د امام ترمذی اعتراض :

د دې نه پس په دې باندې ځان پوهه کړئ چه دا حدیث په ترمذی کښې هم دې او په هغې کښې په اخر کښې دا زیادت دې ﴿ قال فدفنهم رسول الله ﷺ ولم یصل علیهم ﴾ امام ترمذی رحمه الله د دې حدیث په سند باندې کلام کړې دې او هغه دا چه د دې حدیث په سند کښې د اسامة بن زید نه خطاء واقع شوې ده هغه دې حدیث لره په دې سند سره روایت کولو کښې متفرد دې. د اسامه نه علاوه د امام زهری رحمه الله نورو شاګردانو دا حدیث بل شان روایت کړې دې ﴿ فروی اللیث بن سعد عن ابن شهاب عن عبدالرحمن بن کعب بن مالک عن جابر بن عبدالله رضی الله عنهما ﴾ او هم دغه شان معمر دا روایت کړو ﴿ عن الزهری عن عبدالله بن ثعلبة عن جابر، ﴾ یعنی اسامه دا د انس د مسانیدو نه ګنړلې دې، او د اسامه نه علاوه لیث بن سعد او معمر د جابر د مسانیدو نه.

[٣١٣٧] ( )حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا أُسَامَةُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِحَمْزَةَ، وَقَدْ مُثِّلَ بِهِ، "وَلَمْ يُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنَ الشُّهَدَاءِ غَيْرِهِ".

د انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی علیه السلام په حمزه باندې تیرشو او هغه مثله شوې وو، اوجنازه ئې اونکړه په یوکس باندې د دوی نه.

﴿ عن انس رضی الله عنه ان النبی ﷺ مر بحمزة وقد مثل به ولم یصل علی احد من الشهداء غیره ﴾

په دې روایت کښې ﴿ لم یصل علی احد ﴾ نه پس ﴿ بعد ﴾ د غیره لفظ دې چه د هغې نه د حمزة رضی الله عنه استثناء معلومیږی چه په هغه باندې ئې آولوستلو آو د هغه نه علاوه ئې په چا باندې هم او نه لوستلو، امام دارقطنی په دې زیادت باندې کلام کړې دې پس هغوی فرمائی : ورواه عثمان بن عمر عن اسامة عن الزهری عن انس وزاد فیه حرفا لم یات به غیره فقال "ولم یصل علی احد من الشهداء غیره ولیس بمحفوظ" خو حافظ منذری رحمه الله ته لکه چه د هغوی د کلام کتلو نه معلومیږی د دارقطنی په اعتراض باندې انشراح نشته، ځکه چه هغوی د دارقطنی د اعتراض نقل کولو نه پس لیکی چه ﴿ فاسامة بن زید فقد احتج به مسلم واستشهد به البخاری، واما عثمان بن عمر فقد اتفق البخاری ومسلم علی الاحتجاج بحدیثه ﴾ او بیا وړاندې تلو سره هغوی صلوة علی حمزة چه په طریق د عثمان کښې دی د دې تاویل د بعض علماء کرامو نه دا نقل کړې دې چه دا صلوة په معنی د دعا دې.

( ): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٧٩) (حسن)

فائده : دا حديث چه په هغې کښې د احد په شهيدانو باندې د مانځه نفی او د حمزه رضی الله عنه د پاره ثبوت ذکر دې، د امام دارقطنی وغيره په دې باندې اعتراض کول او د حافظ منذری په ځائې د رد د دې تاويل کول په دې کښې د صلوة علی حمزة نه دعاء مراد دې، د دې نه دا معلوميږی چه دا حضرات محدثين کوم چه د صلوة علی الشهيد قائل نه دی په دې کښې بعض د حمزه رضی الله عنه استثناء هم نه قبلوی بلکه علی العموم د نفی قائل دی،

وکنت اظن قديما ان الاختلاف انما هو فی غير حمزة لا فی حمزة فظهر من هذا خلافه.....

[٣١٣٨](١) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَيَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ مَوْهَبٍ: أَنَّ اللَّيْثَ حَدَّثَهُمْ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ أَخْبَرَهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلَى أُحُدٍ، وَيَقُولُ: أَيُّهُمَا أَكْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ؟ فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى أَحَدِهِمَا، قَدَّمَهُ فِي اللَّحْدِ، وَقَالَ: أَنَا شَهِيدٌ عَلَى هَؤُلَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَأَمَرَ بِدَفْنِهِمْ بِدِمَائِهِمْ، وَلَمْ يُغَسَّلُوا".

دجابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام به دوه دوه کسان داحد شهيدان يوځائې دفن کول او وئيل به ئې چه په دوی کښې دقران علم دچاسره زيات دې؟ نوچه کله به يو تن ته اشاره وشوه نوهغه به ئې لحد ته مخکښې کوز کړو او وئيل به ئې زه به په دوی باندې ګواه يم په ورځ دقيامت اوبيابه ئې حکم اوکړو په دفن کولودوی باندې سره دوينونه او غسل به ئې ورنکړل.

﴿ حدثنا قتيبة بن سعيد ويزيد بن خالد بن موهب ان الليث حدثهم عن ابن شهاب عن عبدالرحمن بن كعب بن مالک ان جابر بن عبدالله اخبره الخ ﴾

دا هم هغه طريق دې کوم ته چه امام ترمذی رحمه الله ترجيح ورکړې ده په طريق د اسامة بن زيد باندې، او طريق د اسامة ته ئې وهم وئيلې دې، داسې معلوميږی چه د امام ابوداؤد په نزد هر دواړه طريق صحيح دی ځکه چه هغوی حديث په هر دواړو طريقو سره ذکر کړو او سکوت ئې اختيار کړو. والله تعالی اعلم بالصواب

[٣١٣٩](٢) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنِ اللَّيْثِ: بِهَذَا الْحَدِيثِ بِمَعْنَاهُ، قَالَ: يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلَى أُحُدٍ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ.

په دې سند سره هم د ليث نه ددې مفهوم حديث نقل دې، په دې کښې دی چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم د أحد شهيدان دوه دوه سری يو ځائې په يوه کپړه کښې دفن کول

....

(١): صحيح البخاري/الجنائز ٧٢ (١٣٤٣)، ٧٣ (١٣٤٥)، ٧٥ (١٣٤٧)، ٧٨ (١٣٥٣)، المغازي ٢٦ (٤٠٧٩)، سنن الترمذي/الجنائز ٤٦ (١٠٣٦)، سنن النسائي/الجنائز ٦٢ (١٩٥٧)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٢٨ (١٥١٤)، (تحفة الأشراف: ٢٣٨٢) (صحيح)

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٢٣٨٢) (صحيح)

باب في سَتْرِ الْمَيِّتِ عِنْدَ غَسْلِهِ
د غسل په وخت کښې مړی ته د پردې کولو بیان

او په بعض نسخو کښې، في ستر الميت دي وهو الاوضح.

[٣١٤٠] (١) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ سَهْلٍ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: أُخْبِرْتُ عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تُبْرِزْ فَخِذَكَ، وَلَا تَنْظُرَنَّ إِلَى فَخِذِ حَيٍّ، وَلَا مَيِّتٍ".

د علی کرم الله وجهه نه روایت دي فرمائی چه نبی کریم صلي الله علیه وسلم فرمائیلی دي: خپل ورون مه ښکاره کوه اودچا ورون ته مه ګوره چه مړوي اوکه ژوندي.

﴿عن علي رضي الله عنه ان النبي ﷺ قال: لا تبرز فخذك ولا تنظر الى فخذ حي ولا ميت﴾

د دې حدیث نه معلومه شوه چه د ستر عورت په مسئله کښې مړې په شان د ژوندي دې، لهذا د غسل په وخت د مړی د ستر اهتمام واجب دې، کما فی ترجمة الباب. والحديث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذری

[٣١٤١] (٢) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ عَبَّادٍ، عَنْ أَبِيهِ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، قَالَ: سَمِعْتُ عَائِشَةَ، تَقُولُ: لَمَّا أَرَادُوا غَسْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالُوا: وَاللَّهِ مَا نَدْرِي، أَنُجَرِّدُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ ثِيَابِهِ كَمَا نُجَرِّدُ مَوْتَانَا، أَمْ نَغْسِلُهُ وَعَلَيْهِ ثِيَابُهُ؟ فَلَمَّا اخْتَلَفُوا أَلْقَى اللَّهُ عَلَيْهِمُ النَّوْمَ، حَتَّى مَا مِنْهُمْ رَجُلٌ إِلَّا وَذَقْنُهُ فِي صَدْرِهِ، ثُمَّ كَلَّمَهُمْ مُكَلِّمٌ مِنْ نَاحِيَةِ الْبَيْتِ، لَا يَدْرُونَ مَنْ هُوَ: أَنِ اغْسِلُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ ثِيَابُهُ، فَقَامُوا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَغَسَلُوهُ وَعَلَيْهِ قَمِيصُهُ، يَصُبُّونَ الْمَاءَ فَوْقَ الْقَمِيصِ، وَيُدَلِّكُونَهُ بِالْقَمِيصِ دُونَ أَيْدِيهِمْ، وَكَانَتْ عَائِشَةُ تَقُولُ: لَوِ اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ، مَا غَسَلَهُ إِلَّا نِسَاؤُهُ.

دام المومنین عائشة رضي الله عنها نه روایت دي فرمائي چه کله صحابه کرامو اراده وکړه چه نبی کریم ﷺ ته غسل ورکړی نو مختلف شول چه ایاد جامونه بغیر بربنډ غسل ورکړو د نورو مړو پشان اوکه دجاموسره غسل ورکړو نوچه کله دوی مختلف شول نو الله تعالی ورباندې پرکالي (خوب) راوستونو په دوی کښې څوك هم داسې نه ووچه دخوب دوجې نه زنه په سینه باندې نه وی لګیدلي، په دې وخت دکورپه ګوټ کښې ګنګوسي اوشو معلومه نشوه چه دچا آوازوو، هغه خبره داوه چه نبی کریم ﷺ ته دجاموسره دي غسل ورکړی شي خلقو چه دا واوریدل نودقمیص سره ئې غسل ورکړو، یعنی خلقوبه پرې دقمیص دپاسه اوبه اړولي اوپه قمیص به ئې مښلونه چه په لاسونوهام المومنین عائشة رضي الله عنها وائی که چرې ماته مخکښې رایاد شوي وي کومه خبره چه ماته روسته رایاده شوه نونبی علیه السلام ته به خپلوبیبیانوغسل ورکړې وې.

﴿سمعت عائشة رضي الله عنها تقول: لما ارادوا غسل النبی ﷺ قالوا والله ما ندری انجرد رسول الله ﷺ من ثيابه كما نجرد موتانا ام نغتسله وعليه ثيابه﴾

(١): سنن لبن ماجه/الجنائز ٨ (١٤٦٠)، (تحفة الأشراف: ١٠١٣٣)، وقد أخرجه: حم (١٤٦/١) (ضعيف جدا)

(٢): سنن لبن ماجه/الجنائز ٩ (١٤٦٤)، (تحفة الأشراف: ١٦١٨٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٦٧/٦) (حسن)

شرح الحديث :

عائشة رضي الله عنها فرمائی چه د رسول الله ﷺ د غسل متعلقینو چه کله هغوی ته د غسل ورکولو اراده اوکړه نو خپل مینځ کښې ئې اوئیل او سوچ ئې اوکړو چه د رسول الله ﷺ کپړې ویستلو سره هغوی ته غسل ورکړې شی لکه چه د عامو مړو سره کولې شی یا د هغوی د جامو ویستلو نه بغیر هغوی ته غسل ورکړې شی، لا تراوسه پورې څه رائې نه وه قائمه شوې چه ناڅاپه په دوی باندې الله پاک خوب راوستلو چه د هغې په وجه باندې د هر یو زنه د سینې سره اولګیده، بیا د حجرې شریفې د یو طرف نه د یو آواز کونکی آواز راغلو چه د هغې په باره کښې چاته هم پته نه وه چه څوک دې، هغه دا کلام اوکړو چه رسول الله ﷺ ته د هغوی د کپړو سره غسل ورکړئ، د دې نه پس ټولو هم دغه شان اوکړه، ﴿فغسلوه وعليه قميصه يصبون الماء فوق القميص﴾ چه اوبه ئې بهیولې د قمیص دپاسه او بدن مبارک ئې هم په هغه قمیص باندې مږلو په لاسو سره نه، په دې باندې بذل کښې لیکلی دی ﴿ويستدل بهذا الحديث ان الميت اذا اغتسل يجب ان لا يمس عورته الا بلف الثوب على يده﴾

﴿كما نجرد موتانا الخ﴾ په دې باندې حضرت شیخ رحمه الله په حاشیه د بذل کښې لیکلې دی چه د جمهور علماء ثلاثه په نزد مستحب طریقه هم دا ده چه د مړی نه کپړې ویستلې شی او په بله کپړه کښې ورته غسل ورکړې شی، د امام شافعی رحمه الله مسلک دا دې چه د مړی غسل د هغه په مخکښې کپړو کښې کیدل پکار دی، او د جمهور په نزد دا حدیث په خصوصیت باندې محمول دې.

په صدیق اکبر رضي الله عنه کښې قدرة د اثار خلافت موجود کیدل :

د رسول الله ﷺ په وفات باندې صحابه کرامو رضي الله عنهم ته په ډیرو مسائلو کښې حیرانی پیدا شوې وه چه په دې کښې څه اوکړې شی، او د حیرانتیا راتلل قیاس ته هم زیاته نزدې وه ځکه چه اصل معلم او مفتی د صحابه کرامو رضي الله عنهم دپاره رسول الله ﷺ وو. اوس که تپوس اوکړی نو د چا نه اوکړی، ځکه چه دې مخکښې مسئله کښې خو د الله پاک د طرف نه غیبی امداد راغلو، د دې نه پس چه صحابه کرامو رضي الله عنهم ته څه قسمه مسئله پیدا شوه په هغې کښې ئې صدیق اکبر رضي الله عنه پوره پوره رهنمائی اوکړه چه په هغې باندې د صحابه کرامو رضي الله عنهم تسلی کیده، پس صحابه کرامو رضي الله عنهم ته د جنازې په مانځه کښې هم شک پیدا شو، او هم دغه شان ئې د دفن په باره کښې هم شک پیدا شو، لکه چه د شمائل ترمذی په روایت کښې دی، په دې ټولو کارونو کښې صدیق اکبر رضي الله عنه فیصله کن جواب ورکړو او صحابه کرامو رضي الله عنهم د هغې مطابق عمل کولو، ربښتیا دا ده چه الله پاک د چا نه کوم کار اخلی هغه پخپله مخامخ راشی او د خلقو په هغې باندې اتفاق پیدا شی

﴿وكانت عائشة تقول لو استقبلت من امری ما استدبرت ما غسله الا نساؤه﴾

شرح الحديث :

راوی وائی چه مور بی بی (عائشة رضي الله عنها) به فرمائیل چه کومه خبره ماته روستو معلومه شوه که وړاندې معلومه وه نو بیا به رسول الله ﷺ ته غسل د هغوی بیبیانو ورکولو نه صحابه

کرامﷺ، شارحانو د دې دا مطلب ليکلې دې چه د دې نه مراد د تعلق د نکاح باقي پاتې کيدل دی په موده د عدت کښې، يا د نکاح نه منقطع کيدل د ازواج مطهرات په حق کښې په خصوصيت سره د هميشه دپاره، دا دواړه مطلبه خو يو بل ته نزدې نزدې دی، دلته د دې جملې په مطلب کښې دوه احتماله نور هم دی کوم چه حضرت شيخ په سبق کښې بيان فرمائيلې وو، اول دا چه که ماته د مخکښې نه معلومه وه چه بعض خلق به د عدم غسل ازواج نه استدلال کوی په دې باندې چه د زوجې دپاره زوج ته غسل ورکول جائز نه دی نو بيا به هم مونږ رسول اللهﷺ ته غسل ورکړې وې، دويم احتمال ئې دا فرمائيلې وو چه عائشېؓ ته به علم شوې وی چه بعض علوی حضرات طعن کوی چه څنګه ئې پلار يعنی ابوبکرؓ د استخلاف په مسئله کښې مشغول شوي وو، د رسول اللهﷺ تجهيز او تکفين پريخودلو سره هم دغه شان ئې لور بی بی عائشه صديقهؓ هم په دې کښې مشغوله شوې وه، نو په دې باندې عائشهؓ فرمائی که ماته دا مخکښې معلومه وه نو بيا به د رسول اللهﷺ بيبيانو هغوی ته غسل ورکړې وې آه

د احد الزوجين يو بل ته غسل ورکول او مذاهب الائمة په دې کښې:

اوس پاتې شوه دا مسئله چه په زوجينو کښې يو بل ته غسل ورکولې شی او که نه؟ د جمهور علماء کرامو او ائمة ثلاثه په نزد خو د دواړو د طرف نه جائز دې يعنی احد الزوجين يو بل ته غسل ورکولې شی که زوج وی که زوجه، او احناف په دې کښې د فرق قائل دی د هغوی په نزد د زوجې دپاره د خاوند غسل جائز دې ځکه چه په عدت کښې نکاح باقی پاتی وی، او د دې عکس جائز نه دې، د جمهور علماء کرامو استدلال د علیؓ د غسل نه دې فاطمېؓ ته چه فاطمېؓ ته د هغې د وفات نه پس علیؓ غسل ورکړې وو، جواب د دې دا دې چه دا متفق عليه امر نه دې چه فاطمېؓ ته علیؓ غسل ورکړې وو **فقد قيل غسلتها ام ايمن، ولو سلم فقد انکر ابن مسعود علی علیؓ (بذل)**

په مذاهبو کښې صحيح هم دغه شان دې او کوم چه په بذل کښې د امام شوکانیؒ نه منقول دی چه د امام احمدؒ په نزد د ښځې دپاره خاوند ته غسل ورکول جائز نه دی دا سهو ده، حضرت شيخ په اوجز کښې د حنابله د کتابونو نه جواز نقل کړې دې، بلکه په اوجز کښې ئې د امام شوکانیؒ په نقل باندې اعتراض هم کړې دې چه يا خو هغه صحيح نه دی يا کيدې شی چه د امام احمدؒ يو روايت وی، په اوجز کښې دا مسئله د موطاء د دې روايت د لاندې ليکلې شوې ده چه په هغې کښې دی **﴿ان اسماء بنت عميس امراة ابی بکر الصديق غسلت ابابکر الصديق حين توفی﴾ (اوجز ۴۲۸/۲)**

والحديث اخرج ابن ماجة منه قول عائشة لو استقبلت الخ. واخرج ابن ماجة من حديث بريدة بن الحصيبؓ لما اخذوا فی غسل الخ قاله المنذری.

[۳۱۴۲] (۱) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ الْمَعْنَى، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُوُفِّيَتِ ابْنَتُهُ، فَقَالَ: "اغْسِلْنَهَا ثَلَاثًا، أَوْ خَمْسًا، أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ إِنْ رَأَيْتُنَّ ذَلِكَ، بِمَاءٍ وَسِدْرٍ، وَاجْعَلْنَ فِي الْآخِرَةِ كَافُورًا، أَوْ شَيْئًا مِنْ كَافُورٍ، فَإِذَا فَرَغْتُنَّ، فَآذِنَّنِي، فَلَمَّا فَرَغْنَا آذَنَّاهُ، فَأَعْطَانَا حَقْوَهُ، فَقَالَ: أَشْعِرْنَهَا إِيَّاهُ". قَالَ عَنْ مَالِكٍ: يَعْنِي إِزَارَهُ، وَلَمْ يَقُلْ مُسَدَّدٌ دَخَلَ عَلَيْنَا.

دام عطية رضی الله عنها نه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام مونږ ته راغې په هغه وخت کښې کله چه دهغه لور وفات شوې وه چه درې ځله يا پنځه ځله يا ددېنه زيات غسل ورکړئ اوکه مناسب درته ښکاره شوه نودبيرو په پاڼوکښې په بشيدلو اوبو غسل ورکړئ او په اخر کښې ورسره کافور هم شامل کړئ اوکله چه دغسل ورکولونه فارغ شئ نومانه اطلاع راکړئ، ام عطية اووئيل کله چه مونږ فارغ شو نو نبی علیه السلام ته مو اطلاع ورکړه نونبی علیه السلام مونږ ته خپل لنګ راکړو اووئې فرمائيل چه په دې کښې ئې راونغاړئ اونبی علیه السلام دا دبرکت دوجې نه ورکړو اودمسدد په روايت کښې دخل علينا الفاظ نشته.

﴿عن ام عطية رضی الله عنها قالت دخل علينا رسول الله ﷺ حين توفيت ابنته فقال اغسلنها ثلاثا او خمسا او اكثر من ذلک ان رايتن ذلک بماء وسدر﴾

شرح الحديث:

ام عطيه رضی الله عنها فرمائی چه کله د رسول الله ﷺ د لور وفات اوشو (او هغې ته غسل ورکړې کيدو نو) رسول الله ﷺ مونږ ته تشريف راوړو او د غسل په باره کښې ئې څو هدايات مونږ ته راکړل هغوی اوفرمائيل چه غسل درې کرته يا پنځه کرته يا د دې نه زيات څومره چه ضرورت ګڼړئ هم هغه شان ورکړئ، او د بيرې په پاڼو سره غسل ورکړئ او آخری ځل په اوبو کښې کافور يو ځائې کړئ. د دې لور نه مراد کومه لور ده؟ په بذل کښې زينب رضی الله عنها ليکلې شوې ده او د شيخ په حاشيه د بذل کښې دا دی

﴿بسط الحافظ في الفتح ۸۳/۲ الكلام على مسمى البنت هذه، وكذا في الاوجز، والاكثر على انها زينب، وقيل ام كلثوم ومال ابوالطيب في شرح الترمذى الى الجمع بينهما﴾ آهـ وقال المنذرى هى زينب زوج ابى العاص ابن الربيع وهى اكبربناته ﷺ هذا هواكثر المروى وذكر بعض اهل السير انها ام كلثوم وقد ذكره ابوداؤد فى ما بعد وفى اسناده مقال والصحيح الاول لان ام كلثوم توفيت ورسول الله ﷺ غائب ببدر آهـ﴾

﴿اغسلن﴾ د امر حاضر جمع مونث صيغه ده چه د هغې اصل مخاطب خو ام عطيه ده ځکه چه د مړی په لامبلو کښې هم دا ډيره ماهره وه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې، ترديځ چه وړاندې په روايت کښې راځی چه محمد بن سيرين جليل القدر تابعي به د مړی د غسل طريقه د ام عطيه رضی الله عنها نه زده کوله. زرقانی فرمائی چه دا امر ام عطيه رضی الله عنها ته او کومې زنانه چه د هغې سره مدد کونکې وې هغوی ته دی.

---

۱): صحيح البخاري/الوضوء ۳۱ (۱۶۷)، والجنائز ۸ (۱۲۵۳)، ۹ (۱۲۵٤)، ۱۰ (۱۲۵۵)، ۱۱ (۱۲۵۶)، ۱۲ (۱۲۵۷)، ۱۳ (۱۲۵۸)، ۱٤ (۱۲۶۰)، ۱۵ (۱۲۶۱)، ۱۶ (۱۲۶۲)، ۱۷ (۱۲۶۳)، صحيح مسلم/الجنائز ۱۲ (۹۳۹)، سنن الترمذي/الجنائز ۱۵ (۹۹۰)، سنن النسائي/الجنائز ۲۸ (۱۸۸۲)، سنن ابن ماجه/الجنائز ۸ (۱٤۵۸)، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۹٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجنائز ۱ (۲)، مسند احمد (۴۰۷/۶، ۴۰۸) (صحيح)

﴿ بمآء وسدر ﴾ باندې په حاشيه د بذل کښې ليکلي دي: وهل الغسلات كلها بماء السدر او مرتين فقط كما رجحه ابن الهمام لرواية ابی داؤد الاتية قريبا، او الواحدة فقط كما اختاره شيخ الاسلام وصاحب البدائع مختلف فيها كما فی الشامی ۶۳۲/۱ والكبيری ۵۳۵ والبحر الرائق ۱۷۲/۲.
دلته يو بله مسئله هم مختلف فيه ده کومه چه په کتاب الطهارة کښې تيره شوې ده، يعنی طهارة بماء مخلوط بشئ طاهر چه په هغې کښې ائمه ثلاثه د عدم جواز قائل دی، او احناف د جواز، ګويا حديث الباب د احنافو دليل دې په دې مسئله کښې، تفصيل په اوجز کښې اوګورئ. (هامش بذل) د جمهورو د طرف نه د دې جوابات په باب فی تقبيل الميت کښې را روان دی.

﴿ فاذا فرغتن فاذنی ﴾ رسول الله ﷺ غسل ورکونکو ته اوفرمائيل چه د غسل د فراغت نه پس ماته خبر راکړئ مونږ د فارغ کيدو نه پس چه خبر ورکړو نو رسول الله ﷺ خپل څادر مونږ ته راکړو او وې فرمائيل چه په شروع کښې ئې په دې کښې راونغاړئ، او دا د هغې شعار جوړ کړئ، شعار هم هغه کپړې ته وائی کوم چه د بدن د ويښتو سره لګی، او دا په دې وجه چه د هغې برکت د هغې وجود سره اولګی،

د استبراک باثار الصالحين ثبوت او استحباب :

په دې باندې په حاشيه د بذل کښې ليکلی دی : فيه استبراک بآثار الصالحين ويؤيده ايضا حديث البخاری فی استعداد الکفن (اوجز) د بخاری د حديث مضمون دا دې چه يو ځل يو زنانه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې يو څادر راوړو رسول الله ﷺ هغه قبول کړو او رسول الله ﷺ ته د هغې حاجت هم وو، رسول الله ﷺ هغه د لنګ په ځائې استعمال کړو رسول الله ﷺ په هغې کښې لا وتلې نه وو چه د يو صحابی رضی الله عنه خوښ شو هغه رسول الله ﷺ ته درخواست اوکړو چه دا ماته راکړئ رسول الله ﷺ هغه ته ورکړو خلقو هغه صحابی رضی الله عنه ته اووې چه دا تا ښه اونکړل رسول الله ﷺ ته خو د دې حاجت وو بيا هم تا د رسول الله ﷺ نه د هغې سوال اوکړو سره د دې چه تا ته دا هم معلومه ده چه هغوی د چا سوال نه رد کوی، هغوی جواب ورکړو چه والله ما دا د اغوستلو دپاره نه دې اخستلې. دا خو ما د خپل کفن دپاره اخستلې دې، راوی وائی چه بيا هغه هم د هغوی د کفن په کار راغلو. (اوجز ۴۲۷/۲)
والحديث اخرجه البخاری ومسلم وابن ماجة، قاله المنذری

بَاب كَيْفَ غُسْلُ الْمَيِّتِ

مړی ته غسل څنګه ورکول پکار دی؟

[۳۱۴۳][1] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ، وَأَبُو كَامِلٍ، بِمَعْنَى الْإِسْنَادِ أَنَّ يَزِيدَ بْنَ زُرَيْعٍ حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ حَفْصَةَ أُخْتِهِ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، قَالَتْ: مَشَطْنَاهَا ثَلَاثَةَ قُرُونٍ.

دام عطية رضی الله عنها نه روايت دې فرمائی چه مونږ دهغې دسر ويخته ګومنز کړل او درې کوڅې مو ترې جوړې کړې.

[1]: صحيح مسلم/ الجنائز ۱۲ (۹۳۹)، سنن النسائي/ الجنائز ۳۵ (۱۸۹۲)، (تحفة الأشراف: ۱۸۱۳۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۰۷/۶) (صحيح)

[۳۱۴۴](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، قَالَتْ: وَضَفَرْنَا رَأْسَهَا ثَلَاثَةَ قُرُونٍ، ثُمَّ أَلْقَيْنَاهَا خَلْفَهَا مُقَدَّمَ رَأْسِهَا، وَقَرْنَيْهَا.

دام عطية رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه مونږ ددې دويختونه درې کوڅئ جوړې کړې اوشاه طرف ته مو زوړندې کړې يوه په مينځ کښې اويوه يوارخ ته اوبله بل ارخ ته.

﴿عن ام عطية رضي الله عنها قالت وضفرنا راسها ثلاثة قرون ثم القيناها خلفها مقدم راسها وقرنيها﴾

د تجهيز په وخت د زنانه ويښتو سره څه اوکړې شي؟

دا حديث د رسول الله ﷺ د لور په باره کښې دې کوم چه پورته تير په دې کښې دا دی چه ام عطيه رضي الله عنها فرمائي چه مونږ د هغې ويښته ګومنځ کړل د هغې مو درې حصې کړې او بيا مو شاته يعنې د ملا طرف ته هغه واچول. وړاندې په روايت کښې د دې ويښتو د درې حصو تفسير ذکر کړې شوې دې، د تندی ويښته او د اړخونو ښی او ګس طرف ته.

د زنانه ويښته ګومنځول او د کمسئ په شان هغې لره ول ورکولو سره شاته اچول د احنافو په نزد نشته، امام شافعي او احمد او ابن حبيب مالکی رحمهم الله د دې قائل دې، ابن القاسم د دې انکار کړې دې (کذا فی هامش البذل عن الابی) او حضرت په بذل کښې ليکلې دی چه دا ټول څيزونه د باب زينت نه دی او دا وخت د زينت نه دې او د حديث جواب دا دې چه دا د ام عطيه فعل دې، او د رسول الله ﷺ په حديث کښې دې باره کښې هيڅ هدايت نشته او نه د دې چه رسول الله ﷺ ته د دې علم شوې هم دې که نه.

وفی الهداية : ولا يسرح شعر الميت ولا لحيته، ولا يقص ظفره ولا شعره لقول عائشة رضي الله عنها : علام تنصون ميتكم وفی حاشيته للسنبلی من نصوت الرجل اذا مددت ناصية، والاثر رواه عبدالرزاق عن الثوری عن حماد عن ابراهيم عن عائشة رضي الله عنها انها رأت امراة يكدون راسها بمشط فقالت علام تنصون ميتكم : وفيه ايضا : وتلبس المرأة الدرع اولا ثم يجعل شعرها ضفيرتين على صدرها فوق الدرع.

[۳۱۴۵](٢)حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، وَحَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَهُنَّ فِي غُسْلِ ابْنَتِهِ: "ابْدَأْنَ بِمَيَامِنِهَا، وَمَوَاضِعِ الْوُضُوءِ مِنْهَا".

دام عطية رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه نبی عليه السلام هغه زنانوته اوفرمائيل چاچه دده لور ته غسل ورکول چه ددې دښئ طرفونو اوداودس دځايونونه غسل ورکول شروع کړئ.

﴿ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَهُنَّ فِي غُسْلِ ابْنَتِهِ: "ابْدَأْنَ بِمَيَامِنِهَا، وَمَوَاضِعِ الْوُضُوءِ مِنْهَا". ﴾

يعنې رسول الله ﷺ غسل ورکونکو زنانو ته اوفرمائيل چه هغوی دې ابتداء اوکړی د ښی طرفونو نه او د اودس د اندامونو نه يعنې د اودس د اندامونو نه دې شروع اوکړی او د دې سره دې د ابتداء باليمين هم خيال ساتی په ټول غسل کښې.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

١): صحيح البخاري/ الجنائز ١٦ (١٢٦٢)، وانظر حديث رقم: (٣١٤٢)، (تحفة الأشراف: ١٨١٣٨) (صحيح)

٢): انظر حديث رقم: (٣١٤٢)، (تحفة الأشراف: ١٨١٢٤) (صحيح)

[۳۱٤۶]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، بِمَعْنَى حَدِيثِ مَالِكٍ، زَادَ فِي حَدِيثِ حَفْصَةَ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ بِنَحْوِ هَذَا، وَزَادَتْ فِيهِ: أَوْ سَبْعًا، أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ، إِنْ رَأَيْتُنَّهُ.

دام عطية ﷺ نه دتير روايت په شان روايت منقول دې البته دده دې داضافي سره چه دي ته اوه ځله غسل ورکړئ يا ددې نه هم زيات څومره چه مناسب وي غسل ورکړئ.

[۳۱٤۷]()حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ أَنَّهُ كَانَ يَأْخُذُ الْغُسْلَ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، يَغْسِلُ بِالسِّدْرِ مَرَّتَيْنِ، وَالثَّالِثَةَ بِالْمَاءِ وَالْكَافُورِ.

دمحمدبن سيرين نه روايت دې فرمائي چه مابه دام عطيه نه دغسل معلومات حاصلول هغې اووئيل چه مړې به اول دبيري په اوبو باندې دوه ځل اولمبولې شي بيا په دريم ځل باندې كافور ياپه عامو اوبو باندې دي اولمبولې شي.

بَابٌ فِي الْكَفَنِ

مړی ته د کفن ورکولوبيان

[۳۱٤۸]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ: أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يُحَدِّثُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهُ خَطَبَ يَوْمًا، فَذَكَرَ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِهِ قُبِضَ، فَكُفِّنَ فِي كَفَنٍ غَيْرِ طَائِلٍ، وَقُبِرَ لَيْلًا، فَزَجَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُقْبَرَ الرَّجُلُ بِاللَّيْلِ. حَتَّى يُصَلَّى عَلَيْهِ، إِلَّا أَنْ يُضْطَرَّ إِنْسَانٌ إِلَى ذَلِكَ، وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا كَفَّنَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ، فَلْيُحَسِّنْ كَفَنَهُ".

دجابربن عبدالله ﷺ نه روايت دې فرمائي چه يوه ورځ نبی کريم ﷺ خطبه ورکړه او په خپلو صحابه کرامو کښې ئې ديوکس ذکر اوکړو څوك چه وفات شوې وو او په يولند کفن کښې دشپې دفن کړې شوې وو نبی ﷺ منع وفرمائيله دشپې په وخت کښې دمړي ددفن کولونه اوپه ده باندې دجنازې کولونه مګرهله چه مجبوري وي، اوبيا ئې اوفرمائيل په تاسوکښې چه څوك خپل مسلمان ورورته کفن ورکوي نوښه کفن دي ورکړي.

﴿ فكفن في كفن غير طائل وقبر ليلا فزجر النبي ﷺ ان يقبر الرجل بالليل ﴾

مضمون د حديث دا دې: يو ځل رسول الله ﷺ خطبه ورکړه او په هغه خطبه کښې رسول الله ﷺ په خپلو صحابه کرامو ﷺ کښې د يو صحابي ﷺ ذکر اوکړو چه هغه وفات شوې وو او هغه په کمزوری شان کفن کښې کفن کړې شوې وو او د شپې دفن کړې شوې وو، رسول الله ﷺ په دې خطبه کښې د شپې په دفن کولو باندې نکير اوفرمائيلو مګر دا چه که څه سخته مجبوري وی، او وې فرمائيل چه کله په تاسو کښې څوک خپل رور ښخوی نو هغه دې په ښه کپړه کښې کفن کړی.

په دې حديث کښې د دفن بالليل نه منع فرمائيلې شوې ده. د حسن بصری مذهب هم دا دې د هغوی په نزد مکروه دې، د جمهورو په نزد بغير د کراهت نه جائز دې، وړاندې په

(۱): انظر حديث رقم: (۳۱٤۲)، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۹٤) (صحيح)
(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۱۰۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۸۵/۵) (صحيح)
(۳): صحيح مسلم/الجنائز ۱۵ (۹٤۳)، سنن النسائي/الجنائز ۳۷ (۱۸۹۶)، (تحفة الأشراف: ۲۸۰۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۹۵/۳) (صحيح)

دې باندې مستقل باب را روان دې، دجمهور د طرف نه د دې حديث جواب دا ورکړې شوې دې چه دا نهى د ترک صلوة د وجې نه ده او لقلة المصلين، او لاجل اساءة الكفن او للجميع.

والحديث اخرجه مسلم والنسائي. قاله المنذري

[۳۱۴۹](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "أُدْرِجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثَوْبِ حِبَرَةٍ، ثُمَّ أُخِّرَ عَنْهُ".

دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام په يوه يمنى کپړه کښې په کفن کړې شوا ودفن کړې شو اوبيا ترينه لرې کړې شو.

﴿ عن عائشة رضي الله عنها قالت ادرج رسول الله صلى الله عليه وسلم فى ثوب حبرة ثم اخر عنه ﴾ دا روايت مختصر دې وړاندې د دې تفصيل را روان دې.

[۳۱۵۰](٢)حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الْكَرِيمِ، حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ عَقِيلِ بْنِ مَعْقِلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ وَهْبٍ يَعْنِي ابْنَ مُنَبِّهٍ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا تُوُفِّيَ أَحَدُكُمْ، فَوَجَدَ شَيْئًا، فَلْيُكَفَّنْ فِي ثَوْبِ حِبَرَةٍ".

دجابر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه دنبى كريم صلي الله عليه وسلم نه مې اوريدلى دى چه فرمائيل في: څوک چه په تاسو کښې وفات شوې اووارثان مال دار وي نوپکارده چه دحبره کپړې کفن دې ورکړى (ديمن جوړه أعلي كپړه ده).

﴿ اذا توفى احدكم فوجد شيئا فليكفن فى ثوب حبرة ﴾
يعنى په تاسو کښې چه کله د يو داسې انسان وفات اوشى چه په هغه کښې مال گنجائش وى نو غوره دا ده چه هغه په يمنى کپړو کښې دفن کړې شى.

[۳۱۵۱]حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ هِشَامٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبِي، أَخْبَرَتْنِي عَائِشَةُ، قَالَتْ: "كُفِّنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ يَمَانِيَةٍ بِيضٍ، لَيْسَ فِيهَا قَمِيصٌ وَلَا عِمَامَةٌ".

دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائى چه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ددرې يمنى سپينو کپړو کفن ورکړى شوچه قميص اوعمامه پکښې نه وه.

﴿ عن هشام قال اخبرتنى عائشة رضي الله عنها قالت كفن رسول الله صلى الله عليه وسلم فى ثلاثة اثواب يمانية بيض ليس فيها قميص ولا عمامة ﴾
يعنى رسول الله صلى الله عليه وسلم ته خالص سپينو يمنى درې څادرو کښې کفن ورکړې شو. او د دې نه روستو روايت کښې دى ﴿ زاد من كرسف ﴾ چه هغه درې واړه کپړې د تار وې.

[۳۱۵۲](٣)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا حَفْصٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، مِثْلَهُ، زَادَ مِنْ كُرْسُفٍ، قَالَ: فَذُكِرَ لِعَائِشَةَ قَوْلُهُمْ: فِي ثَوْبَيْنِ وَبُرْدِ حِبَرَةٍ، فَقَالَتْ: قَدْ أُتِيَ بِالْبُرْدِ وَلَكِنَّهُمْ رَدُّوهُ وَلَمْ يُكَفِّنُوهُ فِيهِ.

١): تفرد به أبو داود، انظر حديث رقم: (٣١٢٠)، (تحفة الأشراف: ١٧٥٥٢) (صحيح)
٢): تفرد به أبو داود: (تحفة الأشراف: ٣١٣٦)، وقد أخرجه: حم(٣/٣١) (صحيح لغيره)
٣): صحيح البخاري/الجنائز ١٨ (١٢٦٤)، ٢٣ (١٢٧١)، ٢٤ (١٢٧٢)، ٩٤ (١٣٨٧)، (تحفة الأشراف: ١٧٣٠٩)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجنائز ٢ (٥)، مسند احمد (٦/٤٠، ٩٣، ١١٨، ١٣٢، ١٦٥، ٢٣١) (صحيح)

صحیح مسلم/ الجنائز ۱۳ (۹۴۱)، سنن الترمذی/ الجنائز ۲۰ (۹۹۶)، سنن النسائی/ الجنائز ۳۹ (۱۹۰۰)، سنن ابن ماجه/ الجنائز ۱۱ (۱۴۶۹)، (تحفة الأشراف: ۱۶۷۸۶)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجنائز ۲ (۵)، مسند احمد (۶/ ۴۰،۹۳،۱۱۸،۱۳۲،۱۶۵)(صحیح)

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه دتیررروایت په شان روایت منقول دي مګرددي اضافي سره چه دکفن کپړه دمالوچوجوړه وه، راوي وائی چه عائشي رضی الله عنها ته ووئیلي شول چه صحابه کراموونیلی دی چه دنبی علیه السلام کفن ددوه سپینوکپړو اوحبري څادرنه وو، عائشي رضی الله عنها اووئیل چه اول حبري څادر راوړي شولیکن صحابه کرامو واپس کړو او په دې کښې ئې ورته کفن ورنکړو.

﴿قال فذكر لعائشة قولهم فی ثوبین وبرد حبرة فقالت قد اتی بالبرد ولکنهم ردوه ولم یکفنوه فیه﴾

د رسول الله ﷺ د کفن متعلق تحقیق کښې د عائشي رضی الله عنها رائې:

یعنی عائشي رضی الله عنها ته اوئیلې شو چه بعض خلق خو وائی چه رسول الله ﷺ په دوه سپینو کپړو او یو برګه یمنی کپړه کښې کفن کړې شو (او تاسو وایئ چه په درې سپینو کپړو کښې) نو هغوی جواب ورکړو: بیشکه برګ څادر راوړلې شوې وو خو کفن کونکو هغه واپس کړو په هغې کښې ئې کفن کړې نه وو. او د موطاء په روایت کښې دی ﴿کفن فی ثلاثة اثواب بیض سحولية﴾ د سین په ضمې سره او په دې کښې فتح هم راغلې ده نسبت دې سحول طرف ته چه د یمن یوه علاقه ده. علامه زرقانی رحمه الله هم د دې روایت د لاندې د کوم چه عائشي رضی الله عنها تردید کړې دې د احنافو مسلک دا لیکلې دې چه د هغوی په نزد په کفن کښې مستحب دا ده چه په هغې کښې یو ثوب حبره یعنی یمنی څادر وی، خو د هغوی دا نقل صحیح نه دې، د احنافو په نزد هم بیاض ته ترجیح ده ففی البدائع الافضل ان یکون التکفین بالثیاب البیض لروایة جابر مرفوعا احب الثیاب الی الله تعالی البیض فلیلبسها احیاؤکم وکفنوا فیها موتاکم (اوجز ۲/ ۴۳۱)

د سړی د کفن په مصداق کښې د ائمة اربعه مسلکونه:

بیا خان پوهول پکار دی چه په دې حدیث کښې دا راغلل ﴿لیس فیها قمیص ولا عمامة﴾ دا باب فی الکفن شروع دې چه په هغې کښې بیان د کفن الرجل دې ځکه چه ﴿باب فی کفن المراة﴾ وړاندې مستقل را روان دې، د سړی کفن د ائمه ثلاثه احنافو شوافعو او حنابلو په نزد درې کپړې دی، د احنافو په نزد قمیص، ازار او لفافه، او د امام شافعی رحمه الله او احمد په نزد ثلاث لفائف، یعنی درې څادرې دوی دواړه د قمیص قائل نه دی، او د امام مالک رحمه الله په نزد د سړی کفن مسنون د دریو په ځائې پنځه کپړې دی. د احنافو په شان هغوی د قمیص قائل دی، او لفافې د هغوی په نزد دوه دی، او پنځم څیز عمامه ده. یعنی قمیص ازار لفافتین او عمامه.

په حدیث د عائشي رضی الله عنها کښې د چا دلیل دې؟

دا حدیث د عائشي رضی الله عنها چه په هغې کښې دی ﴿فی ثلاثة اثواب لیس فیها قمیص ولا عمامة﴾ د ائمه ثلاثه مسلک په اعتبار د عدد ثلاث سره خو موافق دی خو چونکه په دې کښې د قمیص نفی ده په دې وجه دا د شوافعو او حنابله دلیل شو او د احنافو او د مالکیانو

خلاف، احنافو د دې توجيه داسې کړې ده چه د قميص نه مراد د مطلق قميص نفی نه ده مراد بلکه د جديد يا د مخيط نفی مراد ده ځکه چه وړاندې د ابن عباس رضي الله عنهما په روايت کښې راځي ﴿ كفن رسول الله ﷺ فى ثلاثة اثواب نجرانية، الحلة ثوبان وقميصه الذى مات فيه ﴾ لهٰذا اوس دا حديث د عائشې رضي الله عنها زمونږ خلاف نه دې، او دا حديث د عائشې رضي الله عنها د عدد كفن په اعتبار سره د مالكيانو خلاف دې، هغوی د دې توجيه دا كوی چه د عائشې رضي الله عنها مراد دا دې چه په دې دريو كښې دا دواړه داخل نه دی، بلکه د دې نه علاوه دی لهٰذا ټول پنځه شو.

امام ترمذی رحمه الله باب قائم كړو ﴿ باب ما جاء فى كم كفن النبى ﷺ ﴾ او بيا ئې په هغې كښې هم دا حديث د عائشې رضي الله عنها ﴿ فى ثلاثة اثواب بيض يمانية ليس فيها قميص ولا عمامة ﴾ ذكر كولو نه پس فرمائيلې دی : قال ابو عيسى حديث عائشة حديث حسن صحيح، وقد روى فى كفن النبى ﷺ روايات مختلفة، وحديث عائشة اصح الاحاديث التى رويت فى كفن النبى ﷺ والعمل على هذا عند اكثر اهل العلم، وقال سفيان الثورى : يكفن الرجل فى ثلاثة اثواب ان شئت فى قميص ولفافتين وان شئت فى ثلاث لفائف ويجزئ ثوب واحد ان لم يجدوا ثوبين، والثوبان يجزئان، والثلاثة لمن وجدوا احب اليهم، وهو قول الشافعي واحمد واسحاق، وقالوا تكفن المرأة فى خمسة اثواب ﴾ او بيا وړاندې فرمائی : وفى الباب عن على وابن عباس وعبدالله بن مغفل وابن عمر رضي الله عنهم آهـ په تحفة الاحوذی كښې د علی رضي الله عنه د حديث په باره كښې ليكلی دی : اخرجه ابن ابى شيبة واحمد والبزار قال كفن النبى ﷺ فى سبعة اثواب، وفى اسناده عبدالله بن محمد بن عقيل، وهو سئ الحفظ لا يصلح الاحتجاج بحديثه اذا خالف الثقات كما هنا، (كذا فى النيل) آهـ د علی رضي الله عنه په دې حديث كښې دا دی چه رسول الله ﷺ ته په اووه كپړو كښې كفن وركړې شو، خو دا حديث ضعيف دې، د دې حديث عائشة رضي الله عنها دكوم په باره كښې چه امام ترمذی رحمه الله فرمائی، حديث حسن صحيح، دا د صحاح سته روايت دې پس په تحفة الاحوذی كښې دی اخرجه الجماعة.

د كفن درې درجې دی :

ځان پوهول پكار دی چه د كفن درې درجې دی يو كفن السنة كوم چه پورته ذكر شو يعنی درې جامې، او كفن الكفاية يعنی دوه كپړې، او دريم قسم كفن الضرورة، وهو ما وجد، يعنی د مجبورئ حالت كښې چه څه هم ملاؤ شی.

[۳۱۵۳](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ يَزِيدَ يَعْنِي ابْنَ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كُفِّنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ نَجْرَانِيَّةٍ الْحُلَّةُ: ثَوْبَانِ وَقَمِيصُهُ الَّذِي مَاتَ فِيهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ عُثْمَانُ: فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ: حُلَّةٍ حَمْرَاءَ، وَقَمِيصِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ.

دابن عباس رضي الله عنهما نه مروی دی فرمائی چه نبی عليه السلام ته په درې نجرانی كپړو كښې كفن وركړې شوی وو يولنګ يو څادر اوبو قميص په كوم كښې چه وفات شوی وو. ابوداود وائی چه عثمان بن ابی شيبة دا روايت داسې نقل كړې دې چه نبی عليه السلام ته په درې كپړو كښې كفن

(١): سنن ابن ماجه للجنائز ١١ (١٤٧١)، (تحفة الأشراف: ٦٤٩٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٢٢/١) (ضعيف الإسناد منكر)

ورکړی شوي وويو سورخادر اوبل هغه قميص په کوم کښې چه وفات شوي وو.

﴿عن مقسم عن ابن عباس......... وقميصه الذى مات فيه﴾

دا حديث اوس پورته زمونږ په کلام کښې تير شو، ورواه ابن ماجة، قاله المنذرى، خو د دې نه مخکښې ﴿باب فى ستر الميت عند غسله﴾ کښې چه کوم حديث تير شوې دې په هغې کښې دا تير شوی دی ﴿فغسلوه وعليه قميصه يصبون المآء فوق القميص الخ...

په دې دواړو کښې منافات دې چه په کوم قميص کښې غسل ورکړې شی هم په هغې کښې کفن کړې شی او دغه شان حديث د ابن عباس ﷺ هم ضعيف دې، انظر التعليق الممجد فيه دليل الحنفية.

باب كَرَاهِيَةِ الْمُغَالاَةِ فِي الْكَفَنِ

مړی ته د قيمتی کفن ورکولو د ممانعت بيان

[۳۱۵۴](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ الْمُحَارِبِيُّ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ هَاشِمٍ أَبُو مَالِكٍ الْجَنْبِيُّ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ عَامِرٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: لَا تُغَالِ لِي فِي كَفَنٍ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا تَغَالَوْا فِي الْكَفَنِ، فَإِنَّهُ يُسْلَبُهُ سَلْبًا سَرِيعًا".

د علی رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه زما د پاره په کفن کښې ډيره قيمتي کپړه مه استعمالوئ، ماد نبی عليه السلام نه اوريدلي دي چه فرمائيل ئې چه تاسو په کفن کښې دحدنه تجاوز مه کوئ ځکه چه دا ډيرزر خرابيږي (يعنی فضول خرچي).

﴿عن علی بن ابی طالب رضی الله عنه قال لا تغالی فی کفن﴾

د حديث د يو مشکل لفظ تحقيق:

﴿لا تغالی﴾ د دې لفظ په باره کښې په بذل کښې دا دی چه بصيغة المجهول من المغالاة خو په دې باندې اشکال دې چه د تانيث څه وجه ده؟ ﴿لا يغالی﴾ پکار وو او زمونږ استاد مولانا اسعدالله صاحب رحمه الله ليکلی دی، ﴿لعله لا تغالی﴾ يعنی د باب تفاعل نه مصدر، او په مصری نسخو کښې دا لفظ داسې دې ﴿لا تغال لی فی الکفن﴾ په دې صورت کښې به دا د نهی صيغه وی دپاره د مخاطب د مغالاة نه، او په بعض نسخو کښې دی، ﴿لا يغالی﴾ قال الشيخ محمد عوامه: وهو اظهر ليکون کلام عاما ليس خاصا لمخاطب معين فی حق شخص معين آهـ

علی رضی الله عنه فرمائی چه په کفن کښې مغالاتة نه دی کول پکار، يعنی زيات قيمت اختيارول، ځکه چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی هغوی به فرمائيل چه کفن د زيات قيمت ولا مه جوړوئ ځکه چه هغه د مړی نه ډير زر سلب کولې شی، يعنی خاورې هغه اوخوری نو څه فائده ده په قيمتی جوړولو کښې.

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۱۴۹) (ضعيف)

[۳۱۵۵](¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ خَبَّابٍ، قَالَ: إِنَّ مُصْعَبَ بْنَ عُمَيْرٍ قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ إِلَّا نَمِرَةٌ، كُنَّا إِذَا غَطَّيْنَا بِهَا رَأْسَهُ، خَرَجَ رِجْلَاهُ، وَإِذَا غَطَّيْنَا رِجْلَيْهِ، خَرَجَ رَأْسُهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "غَطُّوا بِهَا رَأْسَهُ، وَاجْعَلُوا عَلَى رِجْلَيْهِ شَيْئًا مِنَ الْإِذْخِرِ".

د خباب رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه مصعب بن عمير رضي الله عنه داحد په ورځ شهيدشو اودهغه سره دکفن دپاره ديوى کپړي نه علاوه نورڅه نه وو اوهغه څادر هم دومره وړوکې وو که چرې مونږ پرې دده پښي پټولې نوسر ئي بربند پاتې کيدو اوکه سرموپټولي نوپښې ئې بربندې پاتې کيدې په دې وخت کښې نبي عليه السلام اوفرمائيل چه دده سر پټ کړئ او په پښوئې سرګړې واچوئ

﴿عن خباب قال ان مصعب بن عمير رضي الله عنه قتل يوم احد ولم يكن له الا نمرة الخ﴾

يعني مصعب بن عمير رضي الله عنه په احد کښې شهيد شوې وو او د کفن دپاره هيڅ څيز نه وو سوا د هغوى د يو برګ او مختصر څادر نه چه په هغې کښې کفن کولې شو، که هغه به ئې د سر طرف ته کولو نو خپې به ئې ښکاره کيدې او که د خپو طرف ته به ئې کولو نو سر به ئې ښکاره کيدو، رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه دا دې د سر طرف ته کړې شي او په خپو دې ورته سرګړې واچولې شي هم دا هغه دې کوم ته چه فقهاء کرام کفن الضرورة وائي.

د مصعب بن عمير رضي الله عنه ذکر:

دا مصعب بن عمير رضي الله عنه د چا چه دا واقعه ده په اوچتو صحابه کرامو رضي الله عنهم کښې دې قديم الاسلام او په مهاجرين اولين کښې دې، د اسلام راوړلو نه مخکښې په وړوکوالى کښې ډير نيازبين وو، ډير ښه ژوند ئې تيرولو او ښکلې جامه به ئې اچوله، ليکلې شوې دى چه د مور پلار ورسره ډيره مينه وه او مور به ورته د غوره نه غوره لباس اچولو، د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په جنګ بدر کښې شريک شو او په احد کښې شهيد شو، لکه چه په پورته روايت کښې ذکر دى، په ترمذى کښې د هغوى په باره کښې د علي رضي الله عنه روايت موجود دې چه يو ورځ مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په مسجد نبوى صلى الله عليه وسلم کښې ناست وو چه ناڅاپه مصعب بن عمير رضي الله عنه مخې ته راغلو په داسې حال کښې چه د هغوى په بدن باندې صرف يو څادر وو او په هغې کښې هم پيوندونه وو، چه کله رسول الله صلى الله عليه وسلم هغوى په داسې حالت کښې اوليدل نو په ژړا شو دهغوى په تيرحالت اود موجوده حالت په تفاوت ليدلو باندې. الحديث(اسد الغابة)

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي. قاله المنذري

[۳۱۵۶](²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ حَاتِمِ بْنِ أَبِي نَصْرٍ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ نُسَيٍّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "خَيْرُ الْكَفَنِ الْحُلَّةُ، وَخَيْرُ الْأُضْحِيَةِ الْكَبْشُ الْأَقْرَنُ".

¹): صحيح البخاري/الجنائز ٢٧ (١٢٧٦)، ومناقب الأنصار ٤٥ (٣٩١٣)، والمغازي ١٧ (٤٠٤٧)، ٢٦ (٤٠٨٢)، والرقاق ٧ (٦٤٣٢)، ١٦ (٦٤٤٨)، صحيح مسلم/الجنائز ١٣ (٩٤٠)، سنن الترمذي/المناقب ٥٤ (٣٨٥٣)، سنن النسائي/الجنائز ٤٠ (١٩٠٤)، (تحفة الأشراف: ٣٥١٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٠٩/٥، ١١٢، ٣٩٥/٦) (صحيح)

²): سنن ابن ماجه/الجنائز ١٢ (١٤٧٣)، (تحفة الأشراف: ٥١١٧) (ضعيف)

دعبادة بن الصامت نه روایت دې چه نبی ﷺ فرمائیلی دی بهترین کفن جوړه ده (قمیص اولنګ او غوره قرباني دښکرو والا ګډ دې.

﴿ خير الكفن الحلة، وخير الاضحية الكبش الاقرن ﴾

حله خو دوه کپړې وی ازار او رداء حال دا چه مسنون بالاتفاق درې کپړې دی، لهذا دا به وئیلې شی چه د حلة لهتر والئ او افضلیت به د ثوب واحد په اعتبار سره وی، او بله دا چه بعض علماء کرامو د دې حدیث د وجې نه دا وئیلې دی چه په کفن کښې غوره دا ده چه هغه یمنی څادرې وی کوم چه برګ وی، ملا علی قاری رحمه الله فرمائی: خو اصح دا ده چه ابیض افضل دې د حدیث عائشة رضی الله عنها د وجې نه. د دې نه روستو په حدیث کښې دی بهترین د قربانئ والا څاروې د ښکرو والا ګډ دې، دا لیکلی دی چه کیدې شی وجه د فضیلت ئې دا وی چه کبش اقرن عام طور سره سمین او جسیم وی، یا د حسن صورت په اعتبار سره فرمائیلې شوې دی چه د ښکرو والا زیات ډولی او ښکلې ښکاره کیږی.(بذل) والحدیث اخرجه ابن ماجة مقتصرا منه علی ذکر الکفن، قاله المنذری

بَاب فِي كَفَنِ الْمَرْأَةِ

ښځې ته د کفن ورکولو بیان

د زنانه د کفن تفصیل د ائمة اربعه په نزد:

د زنانه مسنون کفن پنځه کپړې دی د جمهورو په نزد او په هغوی کښې ائمه ثلاثه هم دی هغه پنځه د امام شافعی رحمه الله او احمد رحمه الله په نزد دا دی: ازار، قمیص، خمار، لفافتین، او د امام مالک په نزد اووه دی د هغوی په نزد لفافې د دوو په ځائې څلور دی، زمونږ فقهاء کرامو د دې پنځو کپړو نه داسې تعبیر کړې دې: ازار، قمیص، لفافه، خمار، (سربند) او خرقه (سینه بند) چه د هغې په ذریعه د هغې سینې پټولې شی، او خمار کوم چه په سر باندې تړلې شی او بیا د هغې په ذریعه ویښته پټ کړې شی کوم چه په سینه باندې پراتهٔ وی. چه د هغې ترتیب داسې لیکلې شوې دې چه اول دې په سر باندې لفافه خوره کړې شی د هغې دپاسه ازار، د هغې دپاسه خرقه، د هغې دپاسه خمار او د ټولو نه دپاسه قمیص، اول دې ورته قمیص واغوندی بغیر د لستونړو نه، د دې نه پس دې په خمار باندې د هغې سره اوتړلې شی او په سینه باندې چه کوم ویښته دی هغه دې پټ کړې شی، د دې نه پس دې په خرقه باندې د هغې سینې اوتړلې شی بیا دې ورته ازار واغوستلې شی، رونبی به د ګس طرف نه راتولولې شی او د دې نه پس د ښی طرف نه چه ښې پلو پرې دپاسه وی بیا به هم دغه شان لفافه راتولولې شی.

[۳۱۵۷]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي وَكَانَ قَارِئًا لِلْقُرْآنِ، نُوحُ بْنُ حَكِيمٍ الثَّقَفِيُّ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي عُرْوَةَ بْنِ مَسْعُودٍ يُقَالُ لَهُ دَاوُدُ قَدْ وَلَدَتْهُ أُمُّ حَبِيبَةَ بِنْتُ أَبِي سُفْيَانَ زَوْجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عَنْ لَيْلَى بِنْتِ قَانِفٍ الثَّقَفِيَّةِ، قَالَتْ: كُنْتُ فِيمَنْ غَسَّلَ أُمَّ كُلْثُومٍ بِنْتَ

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٠٥٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٨٠) (ضعيف)

رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ وَفَاتِهَا، فَكَانَ أَوَّلُ مَا أَعْطَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْحِقَاءَ، ثُمَّ الدِّرْعَ، ثُمَّ الْخِمَارَ، ثُمَّ الْمِلْحَفَةَ، ثُمَّ أُدْرِجَتْ بَعْدُ فِي الثَّوْبِ الْآخِرِ، قَالَتْ: وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ عِنْدَ الْبَابِ، مَعَهُ كَفَنُهَا، يُنَاوِلُنَاهَا ثَوْبًا ثَوْبًا.

دليلي بنت قانف رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه زه په هغه ښځو كښې وم چاچه دنبي ﷺ لورام كلثوم ته غسل وركړې وو دهغې دوفات په وخت كښې. دهرڅه نه مخكښې مونږ ته نبي ﷺ خپل لنګ راكړې وو اوبيا قميص بيا يوڅادر اوبو سربند اويوه كپړه ئې بله راكړه چه دبره طرف نه په كښې اونغښتل شوليلي وائي نبي ﷺ ددروازې سره ناست وو اودكفن كپړې ورسره وې او مونږ ته به ئې يوه يوه كپړه راكوله.

﴿عن رجل من بنى عروة بن مسعود يقال له داؤد قد ولدته ام حبيبة بنت ابى سفيان رضي الله عنها﴾

يعنى د قبيله بنو عروه يو سړې چه د هغه نوم داؤد دې كوم چه د ام حبيبة رضي الله عنها مخكښې پيدا شوې وو يعنى كومه دائي چه د پيدائش په وخت زنانه سره وى هغه ام حبيبة رضي الله عنها بنت ابى سفيان رضي الله عنه وه، دا ذكر كړې شوې سړې روايت كوى د ليلى بنت قانف نه چه صحابيه ده هغه فرمائي چه زه په هغه زنانو كښې يم چا چه د رسول الله ﷺ لور ام كلثوم رضي الله عنها ته غسل وركړې وو، هغه فرمائي چه د غسل نه پس د تكفين په وخت رسول الله ﷺ په داسې حال كښې چه هغوى په دروازه كښې ناست وو د كفن كولو دپاره د كفن كپړې په دې ترتيب سره راكړې اول حقاء يعنى ازار بيا قميص بيا خمار بيا ملحفه (لفافه) بيا په يوه بله كپړه كښې هغه راغونډه كړې شوه (لفافه ثانيه) هغه فرمائي چه رسول الله ﷺ دروازې سره ناست وو رسول الله ﷺ سره د ام كلثوم رضي الله عنها كفن وو، يوه يوه كپړه به ئې مونږ ته په ترتيب سره راكوله، د دې حديث نه معلومه شوه چه دا خو ظاهره ده چه د زنانو غسل او تجهيز او تكفين خو كوى زنانه، خو سړو له په خپله نګرانئ كښې په زنانو باندې دا ټول كارونه كول پكار دى.

بَابٌ فِي الْمِسْكِ لِلْمَيِّتِ
په مړى د مشكو لګولو بيان

[٣١٥٨]([1]) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا الْمُسْتَمِرُّ بْنُ الرَّيَّانِ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَطْيَبُ طِيبِكُمُ الْمِسْكُ".

دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي ﷺ فرمائيلي دى ستاسو په خوشبوګانو كښې بهترينه خوشبو مشك دې.

او امام بخاري رحمه الله باب قائم كړې دې ﴿باب الحنوط للميت﴾ او په دې كښې ئې د ابن عباس رضي الله عنهما هغه حديث ذكر كړې دې چه په هغې كښې دا دى چه د حجة الوداع په كال يو صحابى په عرفات كښې د خپلې اوښې نه غورځيدو سره وفات شو د هغوى په باره كښې رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ولا تحنطوه ولا تخمروا راسه﴾ چه په دهٔ باندې خوشبوئى مه لګوئ او نه ورله سر پټ كړئ دا سړې به د قيامت په ورځ د احرام په حالت كښې پاسى.

[1]: سنن النسائي/الجنائز ٤٢ (١٩٠٧)، (تحفة الأشراف: ٤٣٨١)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الأدب ٥ (٢٢٥٢)، سنن الترمذي/الجنائز ١٦ (٩٩١)، مسند احمد (٣/٤٠، ٤٦، ٦٢) (صحيح)

ګویا امام بخاري رحمه الله د دې حدیث د مفهوم مخالف نه د غیر محرم مړي دپاره حنوط ثابت کړل، پس په فتح الباري ۱۶۳/۳ کښې دي ﴿ قال البیهقي فیه دلیل علی ان غیر المحرم یحنط کما یخمر راسه آهـ ﴾ او امام ابوداؤد رحمه الله حدیث الباب ﴿ اطیب طیبکم المسک ﴾ لره راوړلو سره ګویا د عموم د حدیث نه استدلال کړې دې چه په دې کښې ژوندي او مړي دواړه برابر دي.

د ترجمة الباب والا مسئله کښې د علماء کرامو اختلاف:

امام ترمذي رحمه الله هم بعینه هم دغه شان ترجمة الباب او هم دا حدیث ذکر کړو او بیا ئې وړاندې اوفرمائیل ﴿ والعمل علی هذا عند بعض اهل العلم وهو قول احمد واسحاق، وقد ذکره بعض اهل العلم المسک للمیت ﴾ په دې باندې په تحفة الاحوذي کښې لیکلي دي ﴿لم اقف علی وجه الکراهة والحق هو الجواز آهـ ﴾ د حضرت شیخ په حاشیه د بذل کښې په دې باندې تفصیلي لیکل شوې دي د مختلفو شراحو نه د دې په باره کښې نقل کړې دي، علامه عیني رحمه الله فرمائي چه د اکثرو علماء کرامو په نزد دا جائز ده وبه قال مالک والشافعي واحمد واسحاق وکرهه عطاء والحسن ومجاهد، وقالوا انه میتة الخ بله دا چه شیخ د ازالة الخفاء ۹۸/۲ نه نقل کړې دي چه عمر رضي الله عنه اوفرمائیل چه زما دپاره مشک په خوشبوئۍ کښې مه استعمالوئ، ﴿ لا تحنطوني بمسک ﴾ قال الشیخ لعله کره لان فیه دلیل الاباحة والحرمة، خو هم په دې ازالة الخفاء کښې په بل ځائې کښې دا هم لیکلي شوې دي چه عمر رضي الله عنه به په ژوند باندې خو مشک استعمالول خو وصیت ئې دا اوفرمائیلو چه زما نه پس زما دپاره دا مه استعمالوئ، ﴿ وکان الحسن یکرهه للمیت لا للحي اهـ ﴾ د مشک حقیقت چونکه دم منجمد دې نو کیدې شي هم په دې وجه باندې بعض خلقو ته د دې په استعمال کښې تردد پیدا شوې دې، حضرت شیخ لیکي چه که دا وجه وي نو بیا په دې حکم کښې مړي او ژوندي یو شان پکار وو یا به بله څه وجه وي والله تعالی اعلم (هامش البذل) والحدیث اخرجه مسلم والترمذي والنسائي، قاله المنذري

بَابُ التَّعْجِيلِ بِالْجَنَازَةِ وَكَرَاهِيَةِ حَبْسِهَا

د مړي په تجهیز او تکفین کښې د عجلت کولو او د ایسارولو د کراهت بیان

یو باب د څو ابوابو نه پس را روان دې ﴿ باب الاسراع بالجنازة ﴾ په دواړو کښې فرق دې، په دې باب کښې د تعجیل نه مراد تعجیل في التجهیز والتکفین دې، او په وړاندې باب کښې د اسراع نه مراد اسراع في المشي ده لکه چه د دواړو ابوابو د احادیثو نه معلومیږي.

[۳۱۵۹](۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحِيمِ بْنُ مُطَرِّفٍ الرُّؤَاسِيُّ أَبُو سُفْيَانَ، وَأَحْمَدُ بْنُ جَنَابٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عِيسَى، قَالَ أَبُو دَاوُد: هُوَ ابْنُ يُونُسَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عُثْمَانَ الْبَلَوِيِّ، عَنْ عَزْرَةَ، وَقَالَ عَبْدُ الرَّحِيمِ: عُرْوَةَ بْنِ سَعِيدٍ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ الْحُصَيْنِ بْنِ وَحْوَحٍ: أَنَّ طَلْحَةَ بْنَ الْبَرَاءِ مَرِضَ، فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُهُ، فَقَالَ: "إِنِّي لَا أَرَى طَلْحَةَ إِلَّا قَدْ حَدَثَ فِيهِ الْمَوْتُ، فَآذِنُونِي بِهِ، وَعَجِّلُوا، فَإِنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِجِيفَةِ مُسْلِمٍ أَنْ تُحْبَسَ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ أَهْلِهِ".

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳٤۱۸) (ضعیف)

دحصين بن وحوح رضي الله عنه نه روايت دي طلحه بن براء رضي الله عنه مريض شو اونبی عليه السلام دده دعيادت دپاره راغي رسول الله اوفرمائيل طلحه نه وينم زما خيال دي چه په هغه باندي دمرګ اثار سرګند شوي دي خوکله چه وفات شي ماخبرکړئ او توندي وکړئ دهغه په ښخولو ځکه چه مناسب نه دی چه د مسلمان مړي دي دتکفين او تجهيزنه بغير دخپل اهل سره پروت وي.

قوله: ﴿ ان طلحة بن البراء رضي الله عنه مرض فاتاه النبی ﷺ يعوده فقال انی لا اری طلحة الا قد حدث فيه الموت الخ ﴾: يعنی طلحة بن البراء رضي الله عنه چه کله بيمار شو نو رسول الله ﷺ ئې د تپوس دپاره تشريف يوړو رسول الله ﷺ هغوی ته کتلو سره اوفرمائيل چه زه وينم چه د دوی د مرګ وخت نزدې راغلی دي، پس ماته د دهٔ خبر راکړئ او تادي کوئ، يعنی د هغه په تيارئ کښ، ځکه چه د مسلمان د مړی دپاره دا مناسب نه ده چه هغه دې د کور د خلقو ترمينځه اوساتلې شی،

په تعجيل کښې مصلحت:

په دې باندې علامه طيبی رحمه الله فرمائی چه مومن انسان د الله پاک په نزد او د انسانانو په نزد هم قابل اکرام او معزز وی خو د روح وتلو نه پس چه کله هغه بدن بې ساه پاتې شی نو په دې حيثيت سره طبيعتونه د هغه نه متوحش او متنفر شی هغه وخت هغه د هغوی په سترګو کښې مانوس او مرغوب فيه نه پاتې کيږی، په دې وجه مناسبه هم دا ده چه هغه دې سمدستی پټ کړې شی، سبحان الله.... د احکام شرعيه مصلحتونه اوګورئ

بَاب فِي الْغُسْلِ مِنْ غَسْلِ الْمَيِّتِ

بيان د غسل کولو دهغه چا دپاره څوک چه مړي ته غسل ورکړی

يعنی کوم انسان چه مړی ته غسل ورکړی هغه به روستو خپله هم غسل کوی؟

[۳۱۶۰][1] حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ، حَدَّثَنَا زَكَرِيَّا، حَدَّثَنَا مُصْعَبُ بْنُ شَيْبَةَ، عَنْ طَلْقِ بْنِ حَبِيبٍ الْعَنَزِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا حَدَّثَتْهُ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَغْتَسِلُ مِنْ أَرْبَعٍ: مِنَ الْجَنَابَةِ، وَيَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَمِنَ الْحِجَامَةِ، وَغُسْلِ الْمَيِّتِ".

ام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دي فرمائی چه نبی عليه السلام به په څلورو وجوباندې غسل کول دجنابت نه او دجمعې په ورځ دښکرلګولو نه اودمړي دلمبولو نه

قوله: ﴿ عن عائشة رضي الله عنها ان النبی ﷺ كان يغتسل من اربع من الجنابة ويوم الجمعة من الحجامة وغسل الميت ﴾: دا حديث په کتاب الطهارة ﴿ باب غسل الجمعة ﴾ کښې تير شوې دې، په دې کښې دا دی چه رسول الله ﷺ به د حجاجت د وجې نه غسل فرمائيلو او د غسل ميت د وجې نه هم، خو د حجامت نه پس د رسول الله ﷺ غسل کول ثابت نه دی، صرف غسل محاجم ثابت دې او دا حديث ضعيف دې د مصعب بن شيبة د وجې نه، بله دا چه د رسول الله ﷺ چا مړی ته غسل ورکول هم ثابت نه دی، اول خو دا حديث ضعيف دې يا به د دې تاويل داسې کولې شی چه د غسل نه مراد امر بالغسل دې

[1]: انظر حديث رقم: (۳۴۸)، (تحفة الأشراف: ۱۶۱۹۳) (ضعيف)

[٣١٦١]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ غَسَّلَ الْمَيِّتَ، فَلْيَغْتَسِلْ، وَمَنْ حَمَلَهُ، فَلْيَتَوَضَّأْ".

دابوهریره نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چاچه غسل ورکړل مړي ته نو دې دي غسل وکړي اوچاچه جنازه پورته کړه نوهغه دې اودس اوکړي.

په مسئلة الباب کښې د علماء کرامو اختلاف:

امام خطابی رحمه الله فرمائی: زما په علم کښې نشته دا خبره چه د یو فقیه په نزد دې مړی ته غسل ورکولو سره غسل واجب وی.(٢) او هم دغه شان نه په حمل کولو د مړی باندې اودس شته، او ظاهره دا ده چه امر په دې کښې د استحباب دپاره دې، چه د هغې دا وجه کیدې شی چه مړی ته غسل ورکونکې د څاڅکو نه محفوظ او په امن نه وی او ډیر کرته د مړی په بدن باندې نجاست هم وی نو په دې لحاظ سره غسل ورکونکی ته د غسل کولو حکم اوکړې شو، او کوم چه په حدیث کښې دی ﴿ومن حمله فلیتوضاء﴾ د دې معنی دا کیدې شی چه مړی اوچتونکو یعنی جنازه اوړونکو له پکار دی چه هغوی دې د مخکښې نه په اودس کښې وی د مانځه په تیاریٔ کښ، او حافظ ابن قیم رحمه الله په تهذیب السنن کښې په دې کښې درې مذاهب لیکلې دی، مطلقا وجوب، دا مسلک د ابن المسیب او ابن سیرین رحمهما الله دې، مطلقا عدم وجوب دا مسلک د ائمة اربعه دې، د کافر مړی ته د غسل ورکولو نه د غسل واجب کیدل، دا یو روایت دې د امام احمد رحمه الله آهـ پس وړاندې یو مستقل باب را روان دې ﴿باب الرجل یموت له قرابة مشرک﴾ چه په هغې کښې د علی رضی الله عنه دا حدیث ذکر کړې شوې دې هغوی فرمائی چه کله زه د رسول الله ﷺ د حکم مطابق د ابوطالب د دفن کولو نه پس راغلم نو هغوی ماته د غسل کولو حکم راکړو خو په هغه واقعه کښې غسل من غسل المیت الکافر نشته بلکه غسل من دفن المیت الکافر دې، د ائمه اربعه مذاهب په دې کښې دا دی د امام احمد رحمه الله په نزد د غسل میت نه غسل کوم سنت دې کما فی الروض المربع، او د امام مالک رحمه الله نه دوه روایتونه دی یو د جوب او یو د استحباب، د امام شافعی رحمه الله هم دوه اقوال دی یو د استحباب وهو القول الجدید والقدیم الوجوب، او یو روایت د امام شافعی رحمه الله نه دا دې چه ﴿ان صح الحدیث لقلت بوجوبه﴾ او د احنافو په نزد اصالة خو مستحب نه دې خو خروجا عن الخلاف (٣) مستحب دې، او په ترمذی کښې دی: ﴿وقد اختلف اهل العلم فی الذی یغسل المیت فقال بعض اهل العلم من اصحاب النبی ﷺ وغیرهم اذا غسل میتا فعلیه الغسل وقال بعضهم علیه الوضوء وقال مالک بن انس استحب الغسل من غسل

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٢٧٥)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الجنائز ١٧ (٩٩٣)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٨ (١٤٦٣) (صحيح)

(٢) په دې باندې حافظ تعقب کړې دې حیث قال کانه مادري ان الشافعي في البویطي علق القول به علي صحة الحدیث والخلاف فیه ثابت عند المالکیة وصار الیه بعض الشافعیة آهـ من الاوجز ٢٢٩/٢.

(٣) ځکه چه د بعضو په نزد واجب دې د هغوی په رعایت کښې ١٢)

الميت ولا ادرى ذلك واجبا، وهكذا قال الشافعي، وقال احمد من غسل ميتا ارجو ان لا يجب عليه الغسل، واما الوضوء فاقل ما قيل فيه، وقال اسحق لا بد من الوضوء، وروى عن عبدالله بن المبارك انه قال لا يغتسل ولا يتوضاء من غسل الميت آهـ ﴾ د امام ترمذی رحمه الله د کلام نه معلومه شوه چه په دې مسئله کښې درې مسلکونه دی، د بعض صحابه کرامو رضي الله عنهم په نزد غسل واجب دې لکه ابوهریره رضي الله عنه كما قيل او د بعضو علماء کرامو لکه اسحاق بن راهویه د هغوی په نزد اودس واجب دې او بعض علماء کرام لکه ابن المبارک د هغوی مسلک مطلق د عدم استحباب دې، لا الغسل ولا الوضوء...

[٣١٦٢] (١) حَدَّثَنَا حَامِدُ بْنُ يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ إِسْحَاقَ مَوْلَى زَائِدَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا مَنْسُوخٌ، وَسَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ، وَسُئِلَ عَنِ الْغُسْلِ مِنْ غُسْلِ الْمَيِّتِ، فَقَالَ: يُجْزِيهِ الْوُضُوءُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَدْخَلَ أَبُو صَالِحٍ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَبِي هُرَيْرَةَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، يَعْنِي إِسْحَاقَ مَوْلَى زَائِدَةَ، قَالَ: وَحَدِيثُ مُصْعَبٍ ضَعِيفٌ، فِيهِ خِصَالٌ لَيْسَ الْعَمَلُ عَلَيْهِ.

دابوهریره نه دتیر روایت په شان روایت منقول دې، ابوداود وائی داحدیث منسوخ دې ماداحمدبن حنبل نه اوریدلی دی کله چه دهغه نه تپوس اوشو دغسل کولو په باره کښې په وجه دغسل ورکولو مړي ته نووئې فرمائيل اودس ورله کافي دې، ابوداود وائی چه ابوصالح په دې حدیث کښې خپل او ابوهریره په مینځ کښې اسحق داخل کړې دې اووئیلي یسې دي چه دمصعب په روایت کښې څه داسې څیزونه دی کوم چه ضعیف دي او په هغې عمل نشته.

﴿ قال ابوداؤد ادخل ابوصالح بينه وبين ابى هريرة فى هذا الحديث يعنى اسحاق مولى زائدة ﴾ مصنف رحمه الله فرمائی چه د دې په سند کښې ابوصالح د خپل ځان او ابوهریره رضي الله عنه ترمنځه د اسحاق مولی زائدة واسطه ذکر کړې ده، یعنی اګر چه هغه د دوی شاګرد دې خو د دې باوجود واسطه ده، د دې نه پس په دې ځان پوهول پکار دی چه دا روایت په ترمذی کښې هم دې په هغې کښې د ابوصالح او ابوهریرة رضي الله عنه ترمینځه دا واسطه نشته، ﴿ عن سهيل بن ابى صالح عن ابيه عن ابى هريرة ﴾ لهذا دا د ترمذی والا سند منقطع شو، او د امام شافعی رحمه الله په کلام کښې دا دی چه دا حدیث زما په نزد قوی په دې وجه نه دې چه دا حدیث داسې روایت دې ﴿ عن سهيل بن ابى صالح عن ابيه عن ابى هريرة ﴾ او بعض حفاظو په دې سند کښې د ابوصالح او ابوهریرة ترمینځه اسحاق داخل کړې دې او وئیلې شوی دی چه ابوصالح دا حدیث د ابوهریره رضي الله عنه نه نۀ دې اوریدلې، كذا فى تهذيب السنن لابن القيم. حافظ ابن القيم په دې باندې تفصیلی کلام کړې دې.

﴿ قال وحديث مصعب فيه خصال ليس العمل عليه ﴾ وفى البذل : وفى حاشية الكانفورية فى رواية ابن داسه : حديث مصعب ضعيف آهـ او د ضعف وجه خپله هم دا مصعب بن شيبة راوی دې، په ده باندې کلام او جرح په کتاب الطهارة ﴿ باب السواك من الفطرة ﴾ کښې تیر شوې دې،

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢١٨٤) (صحيح)

د امام مسلم په نزد دا ثقه او قوي دي او د امام بخاري رحمه الله او نسائي رحمه الله په نزد ضعيف دې، مصنف رحمه الله فرمائي چه په دې حديث باندې د علماء کرامو عمل نشته يعنی د دې حديث په بعض اجزاء باندې کالغسل من غسل الميت کښې بعض خو اجماعی دی.

بَابٌ فِي تَقْبِيلِ الْمَيِّتِ

د مړی د ښکلولو بيان

[٣١٦٣](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنِ الْقَاسِمِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُقَبِّلُ عُثْمَانَ بْنَ مَظْعُونٍ وَهُوَ مَيِّتٌ. حَتَّى رَأَيْتُ الدُّمُوعَ تَسِيلُ".

دعائشه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه ما نبی عليه السلام اوليدو چه عثمان بن مظعون رضي الله عنه ئې ښکل کړو اوهغه مړ وو تردې چه ما دهغه اوښکې مبارکې اوليدې چه بهيدلې (عثمان بن مظعون د نبی عليه السلام رضاعي ورور وو اود مهاجرينونه وو).

﴿عن عائشة رضي الله عنها قالت رايت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقبل عثمان بن مظعون وهو ميت حتى رايت الدموع تسيل﴾

دا عثمان بن مظعون رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم رضاعی رور دې د هجرت نه دوه کاله او درې مياشتې پس د هغه په مدينه طيبه کښې وفات اوشو وهو اول من دفن بالبقيع، رسول الله صلى الله عليه وسلم د وفات نه پس د هغوی تقبيل اوفرمائيلو د صديق اکبر رضي الله عنه په باره کښې هم راځی چه هغوی هم د وفات نه پس د رسول الله صلى الله عليه وسلم تقبيل فرمائيلې وو.

د مړی د غسل په علت کښې د علماء کرامو اقوال:

دلته يو بحث دې چه د مړی د غسل علت څه دې. فقيل تعبدی، وقيل للتطهير من الحدث او النجاسة، وقيل للتنظيف، په کتاب الطهارة کښې دا مسئله تيره شوې ده. چه مآء مخلوط بشئ طاهر يعنی کومو اوبو سره چه څه پاک څيز يو ځائې شی لکه صابون او اشنان يا د دې نه علاوه بل څيز، چه د هغې د وجې نه د اوبو په اوصاف ثلاثه کښې يو وصف متغير شوې وی په دې سره ازاله د احداث جائز ده يا نه. د ائمه ثلاث په نزد نه ده جائز د هغوی په کتابونو کښې د دې خبرې تصريح ده. د احنافو په نزد جائز ده وهو رواية عن احمد كما فی المغنی، د احنافو په دلائلو کښې يو دليل مړی ته په اوبه او بيرو سره غسل ورکولو والا روايات هم دی، ځکه چه ظاهره ده چه ماء سدر ماء مخلوط دی او د جمهورو په نزد په دې سره تطهير جائز نه دې هم دغه شان دا حضرات د دې حديث مختلف توجيهات بيانوی، يو تاويل دا کړې شوې دې چه د مړی غسل د تنظيف دپاره دې د تطهير دپاره بالکل هم نه دې، زين ابن المنير هم دا ليکلي دی، او يو دا توجيه دا کړې شوې ده چه د سدر استعمال په ټولو غسلاتو کښې نه ده بلکه يو ځل په شروع کښې يا په آخير کښې ماء قراح (ساده اوبه) استعمال کول مراد دی، يو توجيه دا کړې شې ده چه سدر لره په اوبو کښې اچولو سره

---

(١): سنن الترمذي/الجنائز ١٤ (٩٨٩)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٧ (١٤٥٦)، (تحفة الأشراف: ١٧٤٥٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٣/٦، ٥٥، ٢٠٦) (صحيح)

استعمالول مراد نه دی بلکه د دې د استعمال یو شکل دا هم دې چه د بیرې پانړو لره په اوبو کښې لوندولو سره د هغې نه په بدن باندې اومږلې شي او بیا روستو خالص اوبو استعمال کړې شي، ونحو ذلک من التوجیهات..... اوس که غسل د تنظیف دپاره اومنلې شي نو بیا خو په تقبیل میت کښې هیڅ اشکال نشته او که د تطهیر دپاره دې نو بیا اشکال کیدې شي، او په دې سلسله کښې د احنافو مذهب په حاشیه د لامع ۱۰۹/۲ کښې د بدائع نه دا نقل کړې شوې دې چه په دې کښې محمد بن شجاع بلخی خو دا فرمائیلې دی چه انسان په مرګ سره نه نجس کیږی کرامة له ځکه چه که هغه هم د عام حیواناتو په شان د مرګ په وجه ناپاک کیدې نو بیا به په غسل سره د پاکیدو حکم نه ورکړې کیدو، خو زمونږ د اکثرو مشائخو نه دا منقول دی چه د مرګ په وجه باندې انسان هم ناپاک کیږی لما فیه من الدم المسفوح څنګه چه نور حیوانات ناپاکه کیږی په کومو کښې چه دم مسفوح دې خو فرق د نور حیواناتو او د انسان دا دې چه انسان بعد الموت د غسل نه پس پاکیږی کرامة له، پس د امام محمد رحمه الله نه منقول دی چه مرې په کوهی کښې اوغورزیږی د غسل نه مخکښې نو کوهې ناپاکه کیږی په خلاف د بعد الغسل (غورځیدو).

بَابٌ فِي الدَّفْنِ بِاللَّيْلِ

د شپې د مړی د دفن کولو بیان

[۳۱۶۴] (1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمِ بْنِ بَزِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، أَخْبَرَنِي جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، أَوْ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: رَأَى نَاسٌ نَارًا فِي الْمَقْبَرَةِ، فَأَتَوْهَا، فَإِذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْقَبْرِ، وَإِذَا هُوَ يَقُولُ: "نَاوِلُونِي صَاحِبَكُمْ"، فَإِذَا هُوَ الرَّجُلُ الَّذِي كَانَ يَرْفَعُ صَوْتَهُ بِالذِّكْرِ.

دجابر بن عبد الله نه روایت دې فرمائی چه مونږ په قبرستان کښې رڼړا اولیدله چه ورغلو نو وموليدل چه نبی ﷺ په قبرکښې ولاړ دې او وائی خپل ملګرې ماته راکړې (لاش) داهغه کس وو چه په تیزه به ئې ذکر کولو.

﴿ سمعت جابر بن عبدالله رضی الله عنهما قال رای ناس نارا فی المقبرة فاتوها فاذا رسول الله ﷺ فی القبر واذا هو يقول ناولونى صاحبكم فاذا هو الرجل الذى كان يرفع صوته بالذكر ﴾

د يو ذكر جهرى كونكى خوش نصيبى :

مضمون د حدیث دا دې، جابر رضی الله عنه فرمائی چه یو ځل داسې اوشو چه د شپې په وخت خلقو ته د لرې نه په قبرستان کښې رڼړا ښکاره شوه خلق هلته اورسیدل، د رسیدو نه پس ګورو چه رسول الله ﷺ پخپله یو قبر ته کوز شوې دې او فرمائی راورئ مرې راکړئ د دې نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ هغه صحابی رضی الله عنه په خپل لاس باندې قبر ته کوز کړو، او چونکه شپه وه په دې وجه د رڼړا ضرورت پیښ شو د کوم چه په روایت کښې ذکر دې، راوی وائی (مونږ چه په غور اوکتل نو) دا مرې هم هغه سړې وو چه په اوچت آواز به ئې ذکر کولو، د راوی د دې کلام نه معلومیږی چه دا صاحب په ذکر جهری کښې معروف وو، او

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۵٦٤) (ضعيف)

کیدې شي چه هغوی ته دا سعادت هم د دې خصلت د وجې نه حاصل شوې وی، دفن باللیل باندې کلام او اختلاف وغیره اوس نزدې په باب فی الکفن کښې د یو حدیث د لاندې تیر شوې دې.

په شپه کښې د دفن قصه د څو صحابه کرامو رضي الله عنهم سره پیښه شوې ده پس علی رضي الله عنه فاطمه رضي الله عنها په شپه کښې دفن کړې وه، هم دغه شان د عثمان او عائشې رضي الله عنها تدفین هم په شپه کښې شوې دې، هم دغه شان د صدیق اکبر رضي الله عنه، او خپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم تدفین په آخر د شپه کښې اوشو (ابن القیم) د دې نه علاوه د نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم تدفین هم په شپه کښې شوې دې او په کوم روایت کښې چه د دفن لیلا ممانعت راغلې دې د هغې په علت کښې دا وئیلې شوی دی چه لرداءة الکفن او لترک الصلوة علی المیت او شفقة علی الدافنین، حدیث الباب ته نزدې د ترمذی په روایت کښې دی

عن ابن عباس رضي الله عنهما ان النبی دخل قبرا لیلا فاسرج له بسراج فاخذه من قبل القبلة وقال رحمک الله ان کنت لاواها تلا القران ﴾

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعض صحابه کرامو قبر ته کوزیدل :

ابن القیم رحمه الله فرمائی : وقد نزل النبی صلی الله علیه وسلم فی قبر ذی البجادین لیلا آهـ او په حاشیه د بذل کښې دی چه حافظ رحمه الله په اصابه کښې د ذو البجادین په ترجمه کښې لیکلی دی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پنځو صحابه کرامو رضي الله عنهم قبرونو ته نزول ثابت دې.

بَابٌ فِي الْمَيِّتِ يُحْمَلُ مِنْ أَرْضٍ إِلَى أَرْضٍ وَكَرَاهَةِ ذَٰلِكَ

د یو ځائې نه بل ځائې ته د مړی د نقل کولو دمما نعت بیان

د دې قسم باب وړاندې هم را روان دې د کتاب الجنائز په اواخر کښې ﴿ باب فی تحویل المیت من موضعه للامر یحدث ﴾ ظاهره دا ده چه په دې مخکښې باب کښې تحویل میت قبل الدفن مراد دې، او په وړاندې باب کښې تحویل بعد الدفن.

د مړی د نقل په باره کښې مذاهب د ائمة :

د مړی تحویل قبل الدفن وبعده د امام شافعی اومالک رحمهما الله په نزد جائز دې د یو مصلحت د وجې نه کجوار الصالحین یا تقدس ارض ([1]) د وجې نه لکه مکه مکرمه او مدینه طیبه، خو په

---

[1] **د موسی علیه السلام د روح د قبض کولو قصه** : پس امام بخاری رحمه الله باب قائم کړې دی، باب من احب الدفن فی الارض المقدسة او نحوها او په هغې کښې ئې د ابوهریرة رضي الله عنه حدیث ذکر فرمائیلې دې ﴿ قال ارسل ملک الموت الي موسي فلما جآءه صکه ففقا عینه فرجع الي ربه فقال ارسلتني الي عبد لا یرید الموت فرد الله علیه عینه وقال ارجع فقل له یضع یده علي متن ثور فله بکل ماغطت به یده لکل شعرة سنة، قال اي رب ثم ماذا قال ثم الموت، قال فالآن فسأل الله ان یدنیه من الارض المقدسة رمیة بحجر، قال رسول الله صلی الله علیه وسلم فلو کنت ثم لاریتکم قبره الي جانب الطریق عند الکثیب الاحمر،یعنی کله چه الله پاک ملک الموت د انسان په شکل کښې موسی علیه السلام ته راولیږلو د روح د قبض کولو دپاره نو هغه لاړو او هغه ته ئې عرض چه زه ستاسو د روح د قبض کولو دپاره راغلې یم، موسی علیه السلام هغه او نه پیژندلو) په دې باندې هغوی هغه ته یو سپیړه ورکړه چه په هغې سره یوه سترګه ړنده شوه هغه الله پاک ته واپس شو او هلته ئې عرض اوکړو چه زه تاسو داسې بنده ته .... له

دې شرط چه د مړي عزت به نه شي خرابولې ولم يوجد فيه مسلک احمد، او د احنافو په نزد د دفن نه مخکښې مړي نقل کول جائز دی تر يو ميل او دوه ميلو پورې، او هر چه پس د دفن نه دی نو بغير د عذر شرعی نه ناجائز دی، لکه يو سړې په هغه زمکه کښې دفن شی چه غصب کړې شوې وی، او فقهاء کرامو دا هم ليکلي دی چه عدم غسل يا عدم صلوة على الميت د وجې نه نبش د قبر جائز نه دې هم دغه شان که مړې غير مستقبل القبلة دفن کړې شی نو د استقبال قبله دپاره هم نبش د قبر جائز نه دې.

[۳۱۶۵] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ نُبَيْحٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كُنَّا حَمَلْنَا الْقَتْلَى يَوْمَ أُحُدٍ لِنَدْفِنَهُمْ، فَجَاءَ مُنَادِي النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَدْفِنُوا الْقَتْلَى فِي مَضَاجِعِهِمْ، فَرَدَدْنَاهُمْ".

دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دغزوه احد په ورځ باندې مونږ شهيدان ددفن کولو دپاره بل ځائې ته وړل دنبی عليه السلام اعلان کونکې راغې او آواز ئې اوکړو چه نبی عليه السلام حکم کړې دې چه شهيدان دفن کړئ په هغه ځايونو کښې چرته چه قتل کړې شوي دي نوبيا مونږه د شهيدانو لاشونه دشهادت ځايونوته واپس کړل.

﴿ عن جابر رضي الله عنه قال کنا حملنا القتلى يوم احد لندفنهم الخ ﴾

جابر رضي الله عنه فرمائی چه په جنګ احد کښې د شهيدانو بعض خپلوانو هغوی لره په بقيع کښې د دفن کولو دپاره اوړل اوغوښتل، په دې باندې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د طرف نه يو منادی آواز اوکړو چه رسول الله صلى الله عليه وسلم حکم فرمائی چه مقتولين دې د هغوی په شهادت ګاه کښې دفن کړې شی پس مونږ هغوی هم هلته واپس کړل.

د دې حديث نه د احنافو تائيد کيږی د نقل ميت په مسئله کښ، شوافع وغيره کوم چه د جواز قائل دی هغوی د دې جواب دا ورکوی چه دا حکم مختص دې د شهداء سره، يا دا چه

←......اوليږلم چه د مرګ اراده نه لري، الله پاک د هغه سترګه روغه کړه او ورته ئې اوفرمائيل چه اوس لاړه شه او هغه ته اوايه چه خپل لاس دې د غوئی په شا باندې کيږدی نو څومره ويښته چه د هغه د لاس د لاندې راغلل د هر ويښته په اندازه به ورته د يو کال ژوند ورکړې شي (پس هغه هم دغه شان اوکړل په دې باندې) موسى عليه السلام عرض اکرو يا زما ربه د دې نه پس به څه وی؟ الله پاک اوفرمائيل بيا به هم مرګ راځی، هغوی عرض اوکړو بيا ئې اوس واخلئ، او دا دعا ئې اوفرمائيله چه هغه دې بيت المقدس ته نزدې کړې شی، د دې نه پس رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائی چه که زه په دغه ځائې کښې وې نو ما به تاسو ته د هغه قبر ښودلې وې، د لارې طرف ته د سرې شږې کمر ته نزدې، په دې واقعه باندې يو مشهور اشکال دی چه موسى عليه السلام ملک الموت په سپيړه څنګه او وهلو د دې جواب کوم چه په حاشيه د بخاری کښې ليکلې شوې دی هغه دا دې چه هغه وخت دا ملک الموت د هغوی په خدمت کښې د انسان په شکل راغلې وو او د راتلو سره ئې ورته اونيل چه زه خو د روح د قبض کولو دپاره راغلې يم او د موسى عليه السلام په ذهن کښې دا وه چه ماته به د مرګ په وخت اختيار راکولې شي په دې وجه هغه پوهه نه شو چه دا ملک الموت دې په دې وجه داسې اوشو، نور هم د دې توجيهات کړې شوې دی، د بخاری دا ترجمة الباب او دا قصه مونږ دلته د دې غرض دپاره ذکر کړه چه تقدس د ارض هم يو امر مطلوب دې ﴿ لا من حيث اصل المسئلة اغني نقل الميت ﴾

¹): سنن الترمذي/الجهاد ۳۷ (۱۷۱۷)، سنن النسائي/الجنائز ۸۳ (۲۰۰۶)، سنن ابن ماجه/الجنائز ۲۸ (۱۵۱۶)، (تحفة الأشراف: ۳۱۱۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۲۹۷، ۳۰۳، ۳۰۸، ۳۹۷)، سنن الدارمي/المقدمة ۷ (٤٦) (صحيح)

دا حکم ابتداء وو ځکه چه نقل کړې شوی دی چه جابر بن عبد الله رضي الله عنهما خپل پلار لره چه په جنګ احد کښې شهید شوې وو د احد نه بقیع ته شپږ میاشتې پس منتقل کړې وو دا روایت خپله وړاندې په دې کتاب کښې را روان دې. والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

بَابٌ فِي الصُّفُوفِ عَلَى الْجَنَازَةِ

په جنازه کښې د صفونو د تعداد بیان

او په بعض نسخو کښې دی الصفوف علی الجنازة....

[۳۱۶۶]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ مَرْثَدٍ الْيَزَنِيِّ، عَنْ مَالِكِ بْنِ هُبَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ، فَيُصَلِّي عَلَيْهِ ثَلَاثَةُ صُفُوفٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، إِلَّا أَوْجَبَ"، قَالَ: فَكَانَ مَالِكٌ إِذَا اسْتَقَلَّ أَهْلَ الْجَنَازَةِ، جَزَّأَهُمْ ثَلَاثَةَ صُفُوفٍ لِلْحَدِيثِ.

د مالك بن هبیرة رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی هریو مسلمان چه مړ شي او د مسلمانانو درې صفونه وربانديې جنازه اوکړي نو دده دپاره مغفرت واجب شو، راوي وائی ځکله چه به مالك بن هبیره ته په جنازه کښې د مونځ کونکو تعداد کم ښکاریدو نو دهغوی نه به ئې درې صفونه جوړ کړل د دې حدیث په وجه.

مضمون د حدیث دا دې چه په کوم مړی باندې د جنازه کونکو درې صفونه وی نو هغه انسان د جنت مستحق کیږی ــ د دې حدیث راوی مالک بن هبیره دې ﴿ فكان مالك اذا استقل اهل الجنازة جزاهم ثلاثة صفوف للحدیث ﴾ یعنی مالک بن هبیره رضي الله عنه د دې حدیث د وجې نه چه کله به کتل چه د مونځ کونکو تعداد ډیر زیات کم دې نو هغوی به ئې په درې حصو کښې تقسیم کړل او د هغوی نه به ئې درې صفونه جوړ کړل، مثلا که مونځ کونکی به ټول شپږ کسان وو نو د دوه دوه کسانو به ئې درې صفونه جوړ کړل.

د جنازې د صفونو په باره کښې د امام مالک رحمه الله مذهب:

امام بخاری رحمه الله باب قائم کړې دې، ﴿ من صف صفین او ثلاثة ﴾ د دې باب په باره کښې حضرت شیخ په حاشیة د لامع ۲/ کښې خپله رائې دا لیکلې ده چه ممکنه ده د امام بخاری غرض په هغه خلقو باندې رد کول وی کوم چه داسې وائی چه د جنازې د مانځه خو بس یو صف کیدل پکار دی، پس ابن العربی د امام مالک رحمه الله نه نقل کړی دی ﴿ انه استحب ان یکون المصلون علی الجنازة سطرا واحدا، قال ولا اعلم لذلک وجها آهـ ﴾ او بیا حضرت شیخ وړاندې د ابن قدامه نه نقل کړی دی چه مستحب دا ده چه په جنازه باندې درې صفونه قائم کړې شی هم د دې مالک بن هبیره رضي الله عنه د حدیث نه استدلال کولو سره، امام ترمذی د امام احمد رحمه الله نه هم دا نقل کړی دی چه که مونځ کونکی کم وی نو د هغوی دې درې صفونه جوړ کړې شی، خلقو د هغه نه تپوس اوکړو چه که مونځ کونکی صرف څلور وی نو بیا څه اوکړي

[1]: سنن الترمذي/الجنائز ٤٠ (١٠٢٨)، سنن ابن ماجه/الجنائز ١٩ (١٤٩٠)، (تحفة الأشراف: ١١٢٠٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٧٩/٤) (ضعيف)

شي نو وې فرمائيل بيا په دې صورت کښې دې صرف دوه صفونه جوړ کړې شي فی کل صف رجلين، او د درې صفونو جوړولو اجازت نې ورنکړو چه په دې صورت کښې به په يو صف کښې صرف يو سړې پاتې شي. والحديث اخرجه الترمذي وابن ماجة. قاله المنذری

باب اتِّبَاعِ النِّسَاءِ الْجَنَائِزَ

د جنازې سره د ښځو د تللو د مما نعت بيان

[۳۱۶۷]([1]) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ حَفْصَةَ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، قَالَتْ: "نُهِينَا أَنْ نَتَّبِعَ الْجَنَائِزَ، وَلَمْ يُعْزَمْ عَلَيْنَا".

دام عطية رضي الله عنها نه روايت دې فرمائی چه مونږ په جنازه پسې دتلونه منع کړې شوي وو مګر په دې کښې سختي نه ده شوې په مونږ باندې.

﴿عن ام عطية رضي الله عنها قالت : نهينا ان نتبع الجنائز ولم يعزم علينا﴾

ام عطيه رضي الله عنها فرمائی چه مونږ، يعنی زنانه منع کړې شوي دی جنازو سره د تلو نه خو په سختئ سره منع نه ده کړې شوې.

په مسئلة الباب کښې مذاهب د ائمة :

امام نووی رحمه الله فرمائی يعنی درسول الله ﷺ د طرف نه په دې کښې تنزيهًا منع کړې شوې ده نه تحريما، او بيا هغه اووې چه زمونږ مسلک هم دا دې چه مکروه دی حرام نه دی، قاضی عياض رحمه الله فرمائی چه د جمهور په نزد منع ده خو د مدينې طيبې علماء کرامو دا جائز کړې ده، واجازه مالک وکره للشابة..... او د احنافو مسلک په درمختار کښې ليکلې دې : ويكره خروجهن تحريما لقوله عليه الصلوة والسلام ارجعن ما زورات غير ماجورات رواه ابن ماجة بسند ضعيف، لكنه يعضده المعنى الحادث باختلاف الزمان الذى اشارت اليه عائشة رضي الله عنها بقولها لو ان رسول الله ﷺ راى ما احدث النسآء بعده لمنعهن كما منعت نساء بنى اسرائيل، وهذا فى نساء زمانها فما ظنك بنساء زماننا، واما فى الصحيحين عن ام عطية (يعنى حديث الباب) فينبغى ان يختص بذلک الزمن حيث يباح لهن الخروج الى المساجد والاعياد اهـ (بذل) په حاشيه د بذل کښې دی چه علامه عينی کراهة تنزيه ته ترجيح ورکړې ده. والحديث اخرجه البخاری ومسلم وابن ماجة. قاله المنذری

باب فَضْلِ الصَّلَاةِ عَلَى الْجَنَائِزِ وَتَشْيِيعِهَا

په مړی باندې د جنازې سره د تلو د فضيلت بيان

[۳۱۶۸]([2]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سُمَيٍّ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَرْوِيهِ، قَالَ: "مَنْ تَبِعَ جَنَازَةً فَصَلَّى عَلَيْهَا، فَلَهُ قِيرَاطٌ، وَمَنْ تَبِعَهَا حَتَّى يُفْرَغَ مِنْهَا، فَلَهُ قِيرَاطَانِ، أَصْغَرُهُمَا مِثْلُ أُحُدٍ، أَوْ أَحَدُهُمَا مِثْلُ أُحُدٍ".

---

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۱۲۲)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجنائز ۲۹ (۱۲۷۸)، صحيح مسلم/الجنائز ۱۸ (۹۳۸)، سنن ابن ماجه/الجنائز ۵۰ (۱۵۷۷)، مسند احمد (۴۰۸/۶) (صحيح)

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۲۵۵۹)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الإيمان ۳۵ (۴۷)، الجنائز ۵۸ (۱۳۲۵)، صحيح مسلم/الجنائز ۱۷ (۹۴۵)، سنن النسائي/الجنائز ۷۹ (۱۹۹۶)، سنن ابن ماجه/الجنائز ۳۴ (۱۵۳۹)، مسند احمد (۲/۲، ۲۳۳، ۲۴۶، ۲۸۰، ۳۲۱، ۳۸۷، ۴۰۱، ۴۳۰، ۴۵۸، ۴۷۵، ۴۸۰، ۴۹۳، ۴۹۸، ۵۰۳، ۵۲۱) (صحيح)

دابوهريره نه روايت دې فرمائي چه رسول پاك ﷺ فرمائيلي دي: څوك چه دجنازې سره لاړ شي اود جنازې مونځ اوكړي نودده دپاره ديوقيراط برابراجردې اوڅوك چه دجنازې سره لاړ شي اودفارغيدو پورې ورسره وي نودده دپاره دوه قيراطه اجر دې اودقيراط كم مقدار داحد دغر هومره وي يا ديو قيراط مقدار داحد د غر هومره وي.

﴿من تبع جنازة فصلى عليها فله قيراط الخ﴾

يعني څوک چه جنازې سره لاړو او په هغې باندې ئې مونځ اوكړو او د قبرستان پورې لاړو نو د هغه اجر به په اندازه د يو قيراط وي، او كوم انسان چه د مونځ د كوكو نه پس هغه سره قبر ته لاړ شي او د دفن پورې هم هلته پاتې شي نو د هغه دپاره دوه قيراط ثواب دې او رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه يو قيراط ثواب د احد د غر برابر دې، د يو قيراط مقدار په لغت كښې خو نصف دانق دې، او دانق د درهم سدس ته وائي لهذا يو قيراط د درهم دولسمه حصه شوه خو دلته په حديث كښې لغوي معنى نه ده مراد بلكه ډير لوئې مقدار مراد دې لكه چه په حديث كښې دي د احد د غر برابر، وفي البذل تحت قوله فصلى عليها فرجع ولم يمش معها الى القبر حتى يدفن. في هامشه: وقال الطحاوي في مشكل الآثار ان هذا الاجر مع المشئ لا لمجرد الصلوة الخ آهـ فليراجع الى مشكل الآثار.

والحديث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجة. قاله المنذري.

[۳۱٦۹](١) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ حُسَيْنٍ الْهَرَوِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا الْمُقْرِءُ، حَدَّثَنَا حَيْوَةُ، حَدَّثَنِي أَبُو صَخْرٍ وَهُوَ حُمَيْدُ بْنُ زِيَادٍ، أَنَّ يَزِيدَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قُسَيْطٍ، حَدَّثَهُ أَنَّ دَاوُدَ بْنَ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، حَدَّثَهُ عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ كَانَ عِنْدَ ابْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، إِذْ طَلَعَ خَبَّابٌ صَاحِبُ الْمَقْصُورَةِ، فَقَالَ: يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ، أَلَا تَسْمَعُ مَا يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ خَرَجَ مَعَ جَنَازَةٍ مِنْ بَيْتِهَا، وَصَلَّى عَلَيْهَا، فَذَكَرَ مَعْنَى حَدِيثِ سُفْيَانَ"، فَأَرْسَلَ ابْنُ عُمَرَ إِلَى عَائِشَةَ، فَقَالَتْ: صَدَقَ أَبُو هُرَيْرَةَ.

دعامربن سعد بن ابي وقاص نه روايت دې فرمائي چه زما پلار دابن عمر سره ناست وو چه خباب راغې اووئې وئيل اې ابن عمر رضي الله عنه آيا تاته معلومه ده چه ابوهريره وئيلي دي چه هغه د نبي عليه السلام نه اوريدلي وو چه فرمائيل ئې څوك چه دخپل كور نه وځي اود يوې جنازې سره روان شي اوجنازه وربانديې اوكړي اوباقي روايت ئې دسفيان دروايت په شان ذكركړو، نوابن عمر رضي الله عنه دمعلومات دپاره عائشې رضي الله عنها ته څوك وليږو عائشې ورته اووئيل ابوهريره رښتيا وئيلي دي.

﴿الا تسمع ما يقول ابوهريرة رضي الله عنه انه سمع رسول الله ﷺ يقول الخ﴾

يعني ابن عمر رضي الله عنهما ته چه كله د ابوهريره رضي الله عنه دا حديث اورسيدو د يو قيراط او د دوه قيراطو والا نو هغوي د دې د تحقيق دپاره عائشې رضي الله عنها ته سړې راوليږلو چه په هغې باندې عائشې رضي الله عنها د ابوهريرة رضي الله عنه تصديق اوكړو.

دا روايت دلته مختصر دې او په ترمذي كښې په دې باندې دا زيادت دې، ﴿ فقال ابن

١): صحيح مسلم/الجنائز ١٧ (٩٤٥)، (تحفة الأشراف: ١٢٣٠١، ١٦١٦٧) (صحيح)

عمر رضي الله عنهما لقد فرطنا فى قراريط كثيرة ﴾ او د مسلم شريف په يو روايت كښې د دې دپاسه دا هم دى ﴿ عن سالم بن عبدالله قال كان ابن عمر يصلى على الجنازة ثم ينصرف فلما بلغه حديث ابى هريرة قال فلذكره، يعنى د ابن عمر رضي الله عنهما معمول په شروع كښې صرف د جنازې د مونځ كولو وو جنازې سره قبرستان ته د تلو عادت ئې نه وو چه كله هغوى ته د ابوهريره رضي الله عنه دا حديث اورسيدو او بيا عائشې رضي الله عنها هم د دې تصديق اوفرمائيلو نو هغوى په خپل عمل باندې د افسوس اظهار اوكړو، او وې فرمائيل چه مونږ د ډيرو قيراطونو نقصان اوكړو (تحفه) دا د صحابه كرامو رضي الله عنهم د يقين خبره ده هم دا خو د ټولو نه لوئې دولت وو د هغوى سره چه هغوى سره كمال يقين وو وخير ما القى فى القلوب اليقين.

والحديث اخرجه مسلم بمعناه اتم منه، قاله المنذرى

[۳۱۷۰]([۱]) حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ شُجَاعٍ السَّكُونِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو صَخْرٍ، عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ، فَيَقُومُ عَلَى جَنَازَتِهِ أَرْبَعُونَ رَجُلًا، لَا يُشْرِكُونَ بِاللَّهِ شَيْئًا، إِلَّا شُفِّعُوا فِيهِ".

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائى چه دنبى عليه السلام نه مې اوريدلى دى چه فرمائيل ئې هيڅوك داسې مسلمان نشته چه مرشي اووده په جنازه كښې څلويښت كسان اودريږى داسې كسان چاچه دالله سره شريك نه وى ګرځولې اوهغوى دده جنازه اوكړې مګر الله تعالى به ددوى سفارش ددې مړي په حق كښې قبول كړي.

﴿ما من مسلم يموت فيقوم على جنازته اربعون رجلا الخ ﴾

يعنى د كوم سړي د جنازې د مونځ كونكو تعداد چه څلويښتو ته اورسيږى نو د هغوى دا شفاعت د الله پاک په نزد قبليږى، او په صحيح مسلم كښې د عائشې رضي الله عنها په حديث كښې ﴿يبلغون مائة ﴾ او د دې نه مخكښې د مالک به هبيره رضي الله عنه په روايت كښې ثلاثة صفوف راغلې دې چه په هغې كښې نه د سلو قيد دې نه د څلويښتو، په دې كښې د اختلاف عدد يو جواب دا وركړې شوې دې، چه دا اختلاف د سائلينو په سوال باندې محمول دې يعنى دا حديثونه رسول الله ﷺ د سائلينو په سوال باندې ارشاد فرمائيلې دى يو سائل د سلو د عدد په باره كښې تپوس اوكړو او چا د څلويښتو په باره كښې، د دواړو په جواب كښې رسول الله ﷺ اوفرمائيل او هم داسې ده يعنى د دې عدد تحديد په شروع كښې د رسول الله ﷺ د طرف نه نۀ دې ممكنه ده چه كه د دې نه د كم په باره كښې سوال كړې شوې وې نو په دې باندې به هم رسول الله ﷺ هم داسې فرمائيلې وې وفى هامش البذل

وجمع بينهما اى بين المئة والاربعين الطحاوى فى مشكل الآثار ۱۰٤/۲ بحمل اربعين على آخر الزمان آهـ ان شئت التفصيل فارجع اليه.

والحديث اخرجه مسلم اتم منه، واخرجه ابن ماجة بنحوه، قاله النووى.

[۱]): صحيح مسلم/الجنائز ۱۸ (۹٤۸)، سنن ابن ماجه/الجنائز ۱۹ (۱٤۸۹)، (تحفة الأشراف: ٦٣٥٤)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الجنائز ٤۰ (۱۰۲۹)، سنن النسائي/الجنائز ۷۸ (۱۹۹۳)، مسند احمد (۳۲/٦، ٤۰، ۹۷، ۲۳۱) (صحيح)

بَاب فِي النَّارِ يُتْبَعُ بِهَا الْمَيِّتُ

د جنازې سره د اور وړلو د مما نعت بيان

[٣١٧١](١) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَرْبٌ يَعْنِي ابْنَ شَدَّادٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، حَدَّثَنِي بَابُ بْنُ عُمَيْرٍ، حَدَّثَنِي رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: لَا تُتْبَعُ الْجَنَازَةُ بِصَوْتٍ وَلَا نَارٍ، زَادَ هَارُونُ: وَلَا يُمْشَى بَيْنَ يَدَيْهَا".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی په جنازه پسې دې ځوك اور نه وړي اونه دې په جنازې پسې ځوك آواز كوي اونه دې دجنازې نه ځوك مخكښې ځي اودهارون په روايت كښې ورسره دا اضافه ده چه دجنازې سره دې برابر هم ځوك نه ځي

قوله:﴿ لا تتبع الجنازة بصوت ولا نار ولا يمشي بين يديها ﴾: ابوهريرة رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل كوی چه په جنازه پسې د هغې نه شاته آواز نه دی كيدل پكار او نه اور، د آواز نه مراد عام دې كه د ژړا وی او كه د ذكر او تلاوت د وجې نه وی اود اورنه مراد دخوشبويئ اور دې قبر لره دخوشبويه كولودپاره لكه چه اهل كتابو به كول، او منع د دوه وجو نه ده لاجل التفاول وهو لان النار آلة العذاب او مخالفت د اهل كتابو، او كه د رنړا دپاره اور ځان سره واخستلې شي په دې كښې هيڅ باك نشته، هغه خو ثابت دې اوس نزدې حديث تير شوې دې او وړاندې په دې روايت كښې دی چه د جنازې نه مخكښې مه ځئ. او په دې باندې وړاندې مستقل باب را روان دې

بَاب الْقِيَامِ لِلْجَنَازَةِ

د جنازې د ليدلو په وخت كښې د اودريدلو بيان

[٣١٧٢] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ، فَقُومُوا لَهَا حَتَّى تُخَلِّفَكُمْ، أَوْ تُوضَعَ".

عامر بن ربيع رضي الله عنه نه دنبی ﷺ نه روايت كوی چه فرمائيلی ئې وو كله چه جنازه اووينئ نو ورته اودريږئ تردې چه هغه دخلقونه مخكښې شي يادغه جنازه كيخودلې شي.

﴿ اذا رأيتم الجنازة فقوموا لها حتى تخلفكم او توضع ﴾

دلته دوه مسئلې دی او د دواړو متعلق چه كوم احاديث دی هغه مصنف هم په دې باب كښې ذكر كړې دی په هغې كښې يو مسئله خو دا ده كومه چه په دې حديث كښې ذكر كړې شوې ده، دويمه مسئله هغه ده كومه چه د باب په آخری حديث كښې را روانه ده ﴿ كان رسول الله ﷺ يقوم في الجنازة حتى توضع في اللحد فمر به حبر من اليهود فقال هكذا نفعل فجلس النبي ﷺ وقال اجلسوا خالفوهم ﴾ هم په دې وجه امام ترمذی رحمه الله دوه ځانله ځانله ابواب قائم كړی دی. ﴿ باب ما جآء في الجلوس قبل ان توضع﴾ او دويم باب ﴿ باب ما جآء في القيام للجنازة﴾

---

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٥٥١١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٢٧/٢، ٥٢٨، ٥٣١) (ضعيف)

د ابوداؤد په آخرې حدیث کښې چه کومه مسئله ذکر شوې ده دا هم هغه مسئله ده کومه چه امام ترمذی رحمه الله په باب اول کښې بیان کړې ده، او د باب ړومبې حدیث کوم چه مونږ په شروع کښې نقل کړو په دې کښې هغه مسئله ده کومه چه امام ترمذی رحمه الله په اول کښې ذکر کړې ده، خو امام ابوداؤد دواړه قسم احادیث د یو ترجمة الباب د لاندې ذکر اوفرمائیل، بیا د دویم باب نه پس امام ترمذی یو دریم باب قائم کړو لکه چه مونږ به وړاندې بیان کړو.

(ههنا مسئلتان) المسئلة الاولی :

د باب په دې ړومبی حدیث کښې چه کومه مسئله ذکر شوې ده هغه خو دا ده چه کوم سړی ته نزدې جنازه تیره شی هغه لره پکار دی چه هغې ته اودریږی، یعنی دا نه چه په خپل کار کښې هم هغه شان مشغول وی او د جنازې تیریدو څه پرواه نه کوی ځکه چه په حدیث کښې دی ﴿ان الموت فزع﴾ لکه چه د دې باب په دریم حدیث کښې دی، چه د هغې مضمون دا دې : د جابر رضی الله عنه نه روایت دې چه مونږ د رسول الله ﷺ سره وو چه یو جنازه مونږ ته نزدې تیره شوه نو رسول الله ﷺ د هغې په لیدو سره اودریدو چه د هغې په اوچتولو کښې شریک شی نو معلومه شوه چه هغه د یو یهودی جنازه ده، مونږ عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ دا خو د یهودی جنازه ده، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ﴿ان الموت فزع فاذا رأتم جنازة فقوموا﴾ چه مرګ د ویرې ځیز دې، یعنی د بل جنازه لیدو سره خپل مرګ یادول پکار دی او وې فرمائیل چه کله تاسو یو جنازه وینئ نو اودریږئ.

خو دا حدیث د جمهورو په نزد مسنوخ دې، خو امام احمد رحمه الله، اسحاق بن راهویه، ابن حبیب مالکی او بعض شوافع چه په هغوی کښې امام نووی هم دې، د دې حضراتو په نزد د جنازې د تیریدو په وخت قیام مستحب دې، د جمهورو په نزد منسوخ دې، پس د دې باب په څلورم حدیث کښې راځی کوم چه د علی رضی الله عنه نه مرفوعا روایت دې ﴿قام فی الجنازة ثم قعد بعده﴾ چه رسول الله ﷺ به په شروع کښې خو اودریدو روستو ئې پریښودلې وو، د جمهورو مسلک هم دا دې هغوی په دې کښې د نسخ قائل دی او فریق مخالف کوم چه د استحباب قائل دی حنابله وغیره [1] هغوی دا دویم حدیث یعنی د نفی حدیث په جواز باندې محمول کړې دې، یعنی رسول الله ﷺ به کله قیام نه کولو د جواز د بیان د پاره دې، د دې وجې نه امام ترمذی رحمه الله باب قائم کړې دې ﴿باب ما جآء فی القیام للجنازة﴾ نه پس دویم باب ﴿باب الرخصة فی ترک القیام لها﴾ قائم کړو ځنګه چه د جمهور مسلک دې، پس امام ترمذی رحمه الله فرمائی د علی رضی الله عنه د حدیث نه پس : والعمل علی هذا عند بعض اهل العلم قال الشافعی : وهذا اصح شی فی هذا الباب، وهذا الحدیث ناسخ للحدیث الاول (اذا رایتم الجنازة فقوموا) وقال احمد ان شآء قام وان شآء لم یقم، وهکذا قال اسحاق بن ابراهیم آهـ وفی تحفة الاحوذی فعند احمد حدیث علی هذا لیس بناسخ للحدیث الاول، بیا هغوی د حازمی نه د مذاهبو د بیانولو د لاندې لیکلې دی: وقال احمد بن حنبل ان قام لم اعبه، وان قعد فلا باس به

[1] بلکه صرف ابن حزم، او د حنابله د مذهب تحقیق وړاندې را روان دې.

وبه قال اسحاق الحنظلي، وقال اکثر اهل العلم ليس على احد القيام للجنازة الى آخر ما ذکر، د امام ترمذی او حازمی رحمهما الله د کلام نه معلومه شوه چه د امام احمد رحمه الله په نزد په دې مسئله کښې تخيير دې، مونږ پورته د هغه مسلک د استحباب د قيام ليکلې دې، ذکره الشيخ في البذل عن الشوکاني او د حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې دی هذا القيام منسوخ عند الائمة الاربعة وما حکى اهل الشروح عن الامام احمد انه ليس بمنسوخ عنده يأباه کتب فروعه نعم يندب عند ابن حزم وغيره قلت ومنهم النووی کما سبق.

المسئلة الثانية :

او دويمه مسئله دا ده چه رسول الله ﷺ به د کومې جنازې سره تلو نو قبرستان ته رسيدو سره به کيناستلو نه ﴿ حتى توضع في اللحد ﴾ ترڅو چه به مړې په قبر کښې کېښخودلې شو، يو ځل داسې اوشوه چه په علماء يهود کښې يو سړې تيريدو هغه د رسول الله ﷺ په ليدو باندې اووې ﴿ هکذا نفعل ﴾ چه او تاسو صحيح کوئ مونږ هم داسې کوو. د دې واقعې نه پس رسول الله ﷺ اودريدل پريخودل او وې فرمائيل ﴿ اجلسوا خالفوهم ﴾ يعنى د وضع في اللحد نه مخکښې کينئ.

د دې مسئلې هم جمهور علماء کرام قائل دی چه د وضع في اللحد نه مخکښې په جلوس کښې هيڅ باک نشته کيناستلې شی، خو د وضع عن أعناق الرجال نه مخکښې جلوس مکروه دې عند الجمهور خلاف ثابت دې مالکيانو لره چه د هغوی په نزد جائز دې، په دې دواړو مسائلو باندې څانله څانله پوهيدل پکار دی، ډير کرته د دې دواړو په پوهه کښې بلکه په بيانولو کښې هم لکه چه تاسو به اوګورئ ګډوډ شی.

[۳۱۷۳](۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا سُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا تَبِعْتُمُ الْجَنَازَةَ، فَلَا تَجْلِسُوا حَتَّى تُوضَعَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ الثَّوْرِيُّ، عَنْ سُهَيْلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ فِيهِ: حَتَّى تُوضَعَ بِالْأَرْضِ، وَرَوَاهُ أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ سُهَيْلٍ، قَالَ: حَتَّى تُوضَعَ فِي اللَّحْدِ، قَالَ أَبُو دَاوُد، وَسُفْيَانُ: أَحْفَظُ مِنْ أَبِي مُعَاوِيَةَ.

د ابوسعيد خدری رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی کله چه تاسو په جنازه پسې ځئ نو ترهغې مه کينئ ترڅوچه دا اېښودل شوي نه وي، ابوداود وائی داروايت سفيان ثوري په واسطه دسهيل هغه دخپل پلارنه اوهغه دابوهريره رضي الله عنه نه نقل کړې دې اوالفاظ ئې دادي: تردې چه جنازه په زمکه کېښودلې شي اودابوهريره نه په واسطه دسهيل دالفاظ نقل کړې شوي دي: تردې چه مړې په قبرکښې کېښودلې شي، امام ابوداود وائی چه سفيان په نسبت دابومعاويه قوی حافظې والاوو.

قوله: ﴿ حدثنا احمد بن يونس الخ وفيه قال ابوداؤد : روى الثورى هذا الحديث عن سهيل عن ابيه عن ابى هريرة قال فيه: حتى توضع بالارض، رواه ابومعاوية عن سهيل : قال حتى توضع في اللحد

۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤١٢٤)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجنائز ٤٨ (١٣١٠)، صحيح مسلم/الجنائز ٢٤ (٩٥٩)، سنن الترمذي/الجنائز ٥١ (١٠٤٣)، سنن النسائي/الجنائز ٤٤ (١٩١٥)، ٤٥ (١٩١٨)، ٨٠ (٢٠٠٠)، مسند احمد (٣/٢٥، ٤١، ٥١، ٨٥، ٩٧) (صحيح)

وسفیان احفظ من ابی معاویة: د دې وضاحت دا دې چه دې حدیث لره د سهیل نه روایت کونکې درې دی، اول زهیر د چا روایت چه په شروع کښې دې، دویم ثوری، دریم ابومعاویه، د زهیر په روایت کښې خو ﴿حتی توضع﴾ مطلقا دې او د ثوری په روایت کښې ﴿حتی توضع بالارض﴾ دې او د ابومعاویه په روایت کښې ﴿حتی توضع فی اللحد﴾ دې، مصنف فرمائی چه سفیان احفظ دې د ابومعاویه نه لهذا ﴿حتی توضع بالارض﴾ اصح دې او مسئله هم دغه شان ده، اوس د دې باب په ټولو روایتونو باندې مشترک کلام راغلو، د دې احادیثو تخریج داسې دې، حدیث عامر بن ربیعه ﷺ اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة.

[٣١٧٤]([1]) حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَمْرٍو، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مِقْسَمٍ، حَدَّثَنِي جَابِرٌ، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِذْ مَرَّتْ بِنَا جَنَازَةٌ، فَقَامَ لَهَا، فَلَمَّا ذَهَبْنَا لِنَحْمِلَ، إِذَا هِيَ جَنَازَةُ يَهُودِيٍّ، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّمَا هِيَ جَنَازَةُ يَهُودِيٍّ، فَقَالَ: "إِنَّ الْمَوْتَ فَزَعٌ، فَإِذَا رَأَيْتُمْ جَنَازَةً، فَقُومُوا".

د جابربن عبدالله ﷺ نه روایت دې فرمائی چه مونږ درسول پاک ا سره وو چه یوه جنازه راورل شوه نبی ﷺ ورته پاڅیدو بیا مونږه ددې جنازې دپورته کولو دپاره ورغلو نو معلومه شوه چه دیهودې جنازه ده نومونږ نبی ﷺ ته عرض اوکړو چه اې دالله رسوله دا خو د کوم یهودې جنازه ده، نبی ﷺ اوفرمائیل البته مرګ دویرې څیزدې کله چه تاسو جنازه اووینئ نو ورته ودرېږئ.

[٣١٧٥]([2]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ وَاقِدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنْ مَسْعُودِ بْنِ الْحَكَمِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَامَ فِي الْجَنَائِزِ، ثُمَّ قَعَدَ بَعْدُ".

د علی بن ابی طالب کرم الله وجهه نه روایت دې فرمائی چه مخکښې چه به نبی ﷺ کله جنازه اولیدله نوورته به اودریدلو لیکن بیا نبی ﷺ جنازونه اودریدل پریخودل او ناست به پاتې شو.

[٣١٧٦]([3]) حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ بَهْرَامَ الْمَدَائِنِيُّ، أَخْبَرَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَسْبَاطِ الْحَارِثِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سُلَيْمَانَ بْنِ جُنَادَةَ بْنِ أَبِي أُمَيَّةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَقُومُ فِي الْجَنَازَةِ حَتَّى تُوضَعَ فِي اللَّحْدِ، فَمَرَّ بِهِ حَبْرٌ مِنَ الْيَهُودِ، فَقَالَ: هَكَذَا نَفْعَلُ، فَجَلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ: اجْلِسُوا خَالِفُوهُمْ".

[1]): صحيح البخاري/الجنائز ٤٩ (١٣١١)، صحيح مسلم/الجنائز ٢٤ (٩٦٠)، سننَ النسائي/الجنائز ٤٦ (١٩٢٣)، (تحفة الأشراف: ٢٣٨٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣١٩/٣، ٣٥٤) (صحيح)

[2]): صحيح مسلم/الجنائز ٢٥ (٩٦٢)، سنن النسائي/الجنائز ٨١ (٢٠٠١)، سنن الترمذي/الجنائز ٥٢ (١٠٤٤)، سنن ابن ماجه/ الجنائز ٣٥ (١٥٤٤)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٧٦)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/ الجنائز ١١ (٣٣)، مسند احمد (٨٢/١، ٨٣، ١٣١، ١٣٨) (صحيح)

[3]): سنن الترمذي/الجنائز ٣٥ (١٠٢٠)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٣٥ (١٥٤٥)، (تحفة الأشراف: ٥٠٧٦) (حسن)

دعبادة بن الصامت رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام به چه كله جنازه اوليدله نوترهغې به ولاړ وو ترڅوچه به مړې قبرته كوز كړې شوې نه وو، يوځل ديهوديانورعالم دنبي عليه السلام خواته تيريدو اووې وئيل چه مونږ به هم داسې كول نو نبي عليه السلام كيناستو اوئې فرمائيل كينئ اوديهوديانو مخالفت اوكړئ.

وحديث ابی سعيد خدری رضي الله عنه اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی من حديث ابی سلمة بن عبدالرحمن بن عوف عن ابی سعيد بنحوه، واخرجه مسلم من حديث ابی صالح السمان عن ابی سعيد رضي الله عنه.وحديث جابر رضي الله عنه اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وليس فی حديثهم ﴿ فلما ذهبنا لنحمل﴾

وحديث علی رضي الله عنه اخرجه مسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة بنحوه.

وحديث عبادة بن الصامت رضي الله عنه اخرجه الترمذی وابن ماجة قاله المنذری.

بَابُ الرُّكُوبِ فِي الْجَنَازَةِ

د جنازې سره يوځائې په سورلۍ باندې د سورتللو دمما نعت بيان

د جنازې سره په سورلۍ تلل بغير د عذر نه خلاف اولى دى او د واپسئ په وخت په سورلۍ باندې راتلو كښې هيڅ باک نشته،د شوافعو په نزد د كراهت تصريح ده، وفی مغنی المحتاج ۲۵۹/۱ ولا باس بالركوب فی الرجوع منها لانه صلى الله عليه وسلم ركب فرسا معرورا لما رجع من جنازة ابی الدحداح رواه مسلم من حديث جابر بن سمرة واما فی الذهاب فتقدم انه يكره لا لعذر كبعد المكان او ضعف آهـ وهكذا قال النووی.

[۳۱۷۷]( ) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى الْبَلْخِيُّ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، عَنْ ثَوْبَانَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أُتِيَ بِدَابَّةٍ، وَهُوَ مَعَ الْجَنَازَةِ، فَأَبَى أَنْ يَرْكَبَهَا، فَلَمَّا انْصَرَفَ أُتِيَ بِدَابَّةٍ فَرَكِبَ، فَقِيلَ لَهُ: فَقَالَ: "إِنَّ الْمَلَائِكَةَ كَانَتْ تَمْشِي، فَلَمْ أَكُنْ لِأَرْكَبَ وَهُمْ يَمْشُونَ، فَلَمَّا ذَهَبُوا رَكِبْتُ".

ثوبان رضي الله عنه نه روايت دې چه نبي عليه السلام ته دسوريدو دپاره يوځاروې پيش كړې شو اوهغه دجنازې سره روان وو، نبي عليه السلام دسورلۍ قبلولونه انكار اوفرمائيلولېكن كله چه دجنازې نه دفارغيدلونه واپس شو نويوه سورلۍ ورته راوستلى شوه نبي عليه السلامورباندې سور شو خلقو ددې دوجې تپوس اوكړو نوئې فرمائي دجنازې دكولونه مخكښې خودجنازې سره فرشتې روانې وې ما مناسب اونه ګڼړل چه فرشتې پيدل روانې وې اوزه سور يم كله چه فرشتې واپس لاړې نوزه سور شوم.

قوله:﴿ عن ثوبان ان رسول الله صلى الله عليه وسلم اتی بدابة وهو مع الجنازة فابی ان يركب فلما انصرف اتی بدابة فركب الخ ﴾ يعنی رسول الله صلى الله عليه وسلم د يوې جنازې سره تشريف اوړلو خلقو ورته سورلۍ پيش كړه رسول الله صلى الله عليه وسلم د سوريدو نه انكار اوكړو، او په واپسئ كښې چه ورته كله سورلۍ پيش كړې شوه نو بيا پرې سور شو، د يو صحابي رضي الله عنه په سوال باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه

( ): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۱۲۱)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الجنائز ۱۵ (۱۴۸۰) (صحيح)

د یوې جنازې سره ملائک پیدل روان وو په دې وجه ما د هغه رکوب مناسب او نه ګڼړلو، اوس هر کله چه هغوی لاړل نو زه سور شوم
او د باب په دویم حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ په ابن الدحداح رضی الله عنه باندې د جنازې مونځ اوکړو (ویقال ابوالدحداح) بیا آس راوستلې شو او رسول الله ﷺ پرې سور شو، چه رسول الله ﷺ ئې په منډه یوړو، او مونږ به په رسول الله ﷺ پسې پیدل منډې وهلې.

[۳۱۷۸](1) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سِمَاكٍ، سَمِعَ جَابِرَ بْنَ سَمُرَةَ، قَالَ: "صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ابْنِ الدَّحْدَاحِ، وَنَحْنُ شُهُودٌ، ثُمَّ أُتِيَ بِفَرَسٍ، فَعُقِلَ حَتَّى رَكِبَهُ، فَجَعَلَ يَتَوَقَّصُ بِهِ، وَنَحْنُ نَسْعَى حَوْلَهُ".

دجابر بن سمرة رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام په ابن دحداح باندې جنازه اوکړه او په دې وخت کښې مونږ حاضر وو چه نبی علیه السلام ته یو اس پیش کړې شو نبی علیه السلام دغه اس وتړلو تردې چه ورباندې سور شو او اس دانګونه وهله شروع کړل او په منډه شو نو مونږ هم ور پسې ګیر چاپیر ورپه منډه شو.
دا د رسول الله واپس کیدل په واپسئ کښې وو، د ابوداؤد روایت اګر چه د دې نه ساکت دې خو د ترمذی په روایت کښې د رجوع تصریح ده، لهذا په دواړو روایتونو کښې دې تعارض او نه ګڼړلې شی.
په حدیث الباب کښې کراهت د رکوب خلف الجنازة ثبوت معلومیږی خو دا حدیث په ظاهر کښې د هغه حدیث خلاف دې کوم چه په را روان باب کښې راځی، د مغیره بن شعبه حدیث، ﴿ الراکب یسیر خلف الجنازة والماشی یمشی خلفها وامامها ﴾ الحدیث... ځکه چه د دې نه د رکوب خلف الجنازة د جواز ثبوت ملاویږی، د دې په بذل کښې د علامه شوکانی رحمه الله نه دوه جوابونه نقل کړی دی اول دا چه دا حدیث په عدم کراهت باندې دال نه دې زیات نه زیات په جواز باندې دلالت کوی. پس کیدې شی چه رکوب جائز مع الکراهة وی، او یا دې داسې اوئیلې شی چه تاسو چه په کوم رکوب باندې نکیر فرمائیلې دې هغه د مشی ملائکه سره معلل دې او د ملائکو دا مشی د رسول الله ﷺ سره وه، پس د دې نه دا نه لازمیږی چه د ملائکو معیت او شرکت دې د جنازې سره وی آهـ او یو جواب دا ورکړې شوې دې چه حدیث د مغیره رضی الله عنه د معذور په حق کښې دې، او حدیث الباب د غیر معذور په حق کښې.حدیث ثوبان رضی الله عنه اخرجه البزار،
وحدیث جابر بن سمرة رضی الله عنه اخرجه مسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری

[1]: صحيح مسلم/الجنائز ۲۸ (۹۶۵)، سنن الترمذي/الجنائز ۲۹ (۱۰۱۳)، (تحفة الأشراف: ۲۱۸۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۹۰/۵، ۹۵، ۹۸) (صحيح)

بَابُ الْمَشْيِ أَمَامَ الْجَنَازَةِ

د جنازې نه د مخکښې تلو بيان

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمة:

په دې کښې د علماء کرامو پنځه مذاهب دی، د امام شافعی رحمه الله په نزد د جنازې نه مخکښې تلل مطلقا مستحب دی، او د امام مالک او احمد رحمهما الله په نزد په راکب او ماشی کښې فرق دې، د راکب دپاره روستو تلل افضل دی او د ماشی دپاره وړاندې تلل، او د احنافو په نزد مطلقا روستو تلل افضل دی او د سفيان ثوری رحمه الله په نزد التخيير بلا ترجيح، يعنی دواړه برابر دی، او هم دې ته د امام بخاری رحمه الله ميلان دې، او پنځم مذهب دا دې ﴿ ان كان مع الجنازة نسآء فالافضل امامها والا فخلفها ﴾ (هامش البذل) دا پنځم مذهب د ابراهيم نخغی دې كما فی الاوجز، دا اختلاف صرف په افضليت کښې دې او په جواز کښې هيڅ کلام نشته فيجوز فی الجهات الاربع بالاتفاق كما فی التعليق الممجد، د احنافو دليل يو خو هغه دې کوم چه مخکښې په ﴿ باب اتباع الميت بالنار ﴾ کښې تير شو چه په هغې کښې دی ﴿ ولا يمشی بين يديها ﴾ او يو هغه دې کوم چه د را روان باب په آخره کښې راځی، ﴿ الجنازة متبوعة ولا تتبع، ليس معها من تقدمها ﴾ خو دا حديث ضعيف دې د ابوماجده راوی د وجې نه، قال ابوداؤد : ﴿ ابوماجده هذا لا يعرف ﴾ او د شوافعو دليل د باب ړومبې حديث دې،

[۳۱۷۹]() حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ، يَمْشُونَ أَمَامَ الْجَنَازَةِ".

دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه مانبی عليه السلام او ابوبکرصديق اوعمر رضی الله عنهما ليدلي وو چه دجنازې نه مخکښې تلل

﴿ عن سالم عن ابيه قال رايت النبی صلی الله عليه وسلم وابابكر وعمر رضی الله عنهما يمشون امام الجنازة، د مصنف عبدالرزاق د يو اوږد حديث د لاندې داسې دی چه ابوسعيد خدری رضی الله عنه د علی رضی الله عنه په خدمت کښې حاضر شو او د اسلام نه پس ئې د هغوی نه دا تپوس اوکړو چه ماته دا بيان کړئ چه په جنازې پسې تلل افضل دی يا روستو نو په دې باندې هغوی تندې تريو کړو، او وې فرمائيل سبحان الله! ستا په شان سړې داسې تپوس کوی او بيا ئې اوفرمائيل قسم دې په هغه ذات چا چه محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم حق نبی راليږلې دې چه په جنازه پسې د روستو تلونکی فضيلت په وړاندې تلونکی باندې داسې دې لکه د فرض مونځ فضيلت چه په نفل دې په دې باندې ابوسعيد خدری رضی الله عنه عرض اوکړو چه ما خو ابوبکر او عمر رضی الله عنهما د فلانی انصاری صحابی په جنازه کښې د جنازې وړاندې تلونکی ليدلې دی. په دې باندې علی رضی الله عنه مسکې شو او وې فرمائيل چه آيا واقعی تا داسې ليدلې دی هغوی؟ هغوی عرض اوکړو او! بيا علی رضی الله عنه اوفرمائيل چه په دې کښې لږ شک هم نشته چه هغوی ته د روستو تلو

[1]: سنن الترمذي/الجنائز ٢٦ (١٠٠٧)، سنن النسائي/الجنائز ٥٦ (١٩٤٦)، سنن ابن ماجه/الجنائز ١٦ (١٤٨٢)، (تحفة الأشراف: ٦٨٢٠)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجنائز ٣ (٨)، مسند احمد (٨/٢، ١٢٢) (صحيح)

فضيلت هم دغه شان معلوم وو خنګه چه ما بيان کړو، خو خبره دا ده چه که هغوی په جنازه پسې روستو تلل نو جنازه اوړونکی به تنګ شی د هغوی په ادب او احترام کښې په دې وجه به هغوی وړاندې تلل د خلقو د سهولت په رعايت کښې آهـ مختصرا (مصنف عبدالرزاق ۴۴۷/۳) په بذل المجهود کښې دا روايت مختصرا د بدائع نه هم ليکلې شوې دې.

وحديث ابن عمر رضي الله عنهما اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

[۳۱۸۰](۱) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ يُونُسَ، عَنْ زِيَادِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، وَأَحْسَبُ أَنَّ أَهْلَ زِيَادٍ أَخْبَرُونِي، أَنَّهُ رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الرَّاكِبُ يَسِيرُ خَلْفَ الْجَنَازَةِ، وَالْمَاشِي يَمْشِي خَلْفَهَا، وَأَمَامَهَا، وَعَنْ يَمِينِهَا، وَعَنْ يَسَارِهَا، قَرِيبًا مِنْهَا، وَالسِّقْطُ يُصَلَّى عَلَيْهِ، وَيُدْعَى لِوَالِدَيْهِ بِالْمَغْفِرَةِ وَالرَّحْمَةِ".

زياد بن جبير دخپل پلارنه اوهغه دمغيره بن شعبه رضي الله عنه نه روايت کوی يونس وائی زما خيال دې چه زياد داسې اووئيل چه مغيره وئيلی دی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی په سورلئ سور کس دې په جنازه پسې وروسته ځي اوپياده تلونکی دې هم په جنازه پسې وروسته ځي اودجنازې نه دې مخکښې هيڅوك نه ځي ددې ښئ طرف اوګس طرف ته او ددې سره يوځائې روان اوسئ اوچې دکوې زنانه ته ماشوم اوغورزيږي نوپه هغه باندې هم جنازه کوئ اودمور اوپلار دپاره ئې دمغفرت اورحمت دعا غواړئ.

په صلوة على الطفل کښې د ائمة مذاهب:

قوله: ﴿ الراکب يسير خلف الجنازة والماشي يمشي خلفها واما مهاو عن يمينها ...الخ﴾

د مغيره بن شعبه رضي الله عنه دا روايت په ترمذی شريف کښې د لفظی تغير سره دې: الراکب على الجنازة والماشي حيث شاء منها، والطفل يصلى عليه قال ابوعيسى هذا حديث حسن صحيح، امام ترمذی رحمه الله دې حديث لره ﴿ما جآء في الصلوة على الاطفال﴾ کښې ذکر کړې دې، او د امام احمد او اسحاق بن راهويه مذهب ئې دا بيان کړې دې چه د هغوی په نزد به په طفل باندې مونځ کولې شی اګر چه د پيدائش په وخت استهلال يعنى د ژوند آثار نه وی موندلې شوې، بعد ان يعلم انه خلق يعنى په دې شرط چه روح پکښې پوکولې شوې وی چه د هغې موده علماء کرامو څلور مياشتې او لس ورځې ليکلې ده د دې نه پس امام ترمذی رحمه الله دويم باب قائم کړې دې ﴿باب في ترک الصلوة على الطفل حتى يستهل﴾ او بيا ئې د هغې د لاندې د جابر رضي الله عنه دا حديث مرفوع ذکر فرمائيلې دې: ﴿الطفل لا يصلى عليه ولا يرث ولا يورث حتى يستهل﴾ خو امام ترمذی رحمه الله د دې حديث په سند کښې اضطراب بيانولو سره د دې وقف لره په رفع باندې ترجيح ورکړې ده، خو د جمهور علماء کرامو او باقی ائمه ثلاثه مذهب هم دا دې، قال السندی: اخذ الجمهور بحديث جابر ترجيحا للحرمة على الحل عند التعارض..... دې مسئلې ته اشاره زمونږ په نزد په کتاب الفرائض کښې، اذا استهل المولود ورث... د حديث د لاندې راغلې ده.

والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة......... وحديث ابن ماجة مختصر، قاله المنذری

---

(۱): سنن الترمذي/الجنائز ۴۲ (۱۰۳۱)، سنن النسائي/الجنائز ۵۵ (۱۹۴۴)، سنن ابن ماجه/الجنائز ۱۵ (۱۴۸۱)، ۲۶ (۱۵۰۷)، (تحفة الأشراف: ۱۱۴۹۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۴۷/۴، ۲۴۸، ۲۴۹، ۲۵۲) (صحيح)

باب الإسراع بالجنازة

باب: جنازه د زر (جلتئ سره) د اوړلو بیان

او د دې نه مخکښې ﴿ باب تعجیل بالجنازة ﴾ تیر شوې دې او په دې دواړو کښې فرق هم، قال الحافظ المراد بالاسراع ما فوق المشي المعتاد ويكره الاسراع الشديد آهـ عون المعبود..... ابن قدامه رحمه الله فرمائی چه دا امر بالاتفاق د استحباب دپاره دې، او د ابن حزم رحمه الله په نزد د وجوب دپاره، قال صاحب الهداية ويمشون بها مسرعين دون الخبب آهـ او وئیلې شوی دی چه په دې حدیث کښې د اسراع نه مراد اسراع فی التجهیز دې قال القرطبی والاول اظهر، وقال النووی الثانی باطل مردود بقوله فی الحدیث : تضعونه عن رقابكم (بذل) او د مصنف رحمه الله په نزد خو ګویا دا متعین ده چه په دې احادیثو کښې د اسراع نه مراد اسراع فی المشی ده لکه چه د احادیث الباب نه معلومیږي، او دویم دا چه د اسراع بالتجهیز باب د دې نه مخکښې ﴿باب تعجيل الجنازة ﴾ کښې تیر شوې دې.

[۳۱۸۱](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَسْرِعُوا بِالْجَنَازَةِ، فَإِنْ تَكُ صَالِحَةً فَخَيْرٌ تُقَدِّمُونَهَا إِلَيْهِ، وَإِنْ تَكُ سِوَى ذَلِكَ، فَشَرٌّ تَضَعُونَهُ عَنْ رِقَابِكُمْ".

ابوهریره رضی الله عنه دنبی علیه السلام نه روایت کوی چه فرمائیلی ئې وو تاسوجنازه زر زر وړئ که چرې مړې نیك انسان وي نوتاسودده په خښولوسره دې د کامیابی طرف ته زر ور ورسوئ که چرې مړې نیك انسان نه وی نودا یوشر دې کوم چه تاسو د خپلو اوږونه کوزوئ (یعنی چه څومره زر کوزي شي نو غوره ده).

وړاندې په دې حدیث کښې اسراع د حکمت طرف ته اشاره ده چه که هغه مړې نیک او صالح سړې دې نو ښکاره ده چه د هغه دپاره هلته په عالم آخرت کښې خیر او خوبی ده نو د هغې تقاضا هم دا ده چه هغه د خیر طرف ته زر اورسولې شی او که هغه سړې داسې نه وی نو بیا هغه شر دې چه د خپلو اوږو نه د هغې زر کوزول غوره دی.

[۳۱۸۲](۲) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عُيَيْنَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ كَانَ فِي جَنَازَةِ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ، وَكُنَّا نَمْشِي مَشْيًا خَفِيفًا، فَلَحِقَنَا أَبُو بَكْرَةَ، فَرَفَعَ سَوْطَهُ، فَقَالَ: "لَقَدْ رَأَيْتُنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَرْمُلُ رَمَلًا".

عبدالرحمن دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه زه دعثمان بن ابی العاص نه په جنازه کښې وم او مونږ په مزه مزه روان وو په دې وخت کښې ابوبکر صدیق ته راغی اوزمونږ دوهلو دپاره ئې خپل چابك سراواخستو اوونې وئیل ایا تاسونه دی لیدلي چه کله به مونږ دنبی علیه السلام سره جنازه وړله اوروان به وو نوزر زر به تللو.

---

(۱): صحيح البخاري/الجنائز ٥١ (١٣١٥)، صحيح مسلم/الجنائز ١٦ (٩٤٤)، سنن الترمذي/الجنائز ٣٠ (١٠١٥)، سنن النسائي/الجنائز ٤٤ (١٩٠٩)، سنن ابن ماجه/الجنائز ١٥ (١٤٧٧)، (تحفة الأشراف: ١٣١٢٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجنائز ١٦ (٥٦)، مسند احمد (٢/٢٤٠) (صحيح)

(۲): سنن النسائي/الجنائز ٤٤ (١٩١٤)، (تحفة الأشراف: ١١٦٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٣٦، ٣٧، ٣٨) (صحيح)

﴿ وکنا نمشی مشیا خفیفا فلحقنا ابوبکرة رضی الله عنه فرفع سوطه ﴾
یعنی مونږ په جنازه کښې رو روان وو نو د شاته نه ابوبکره رضی الله عنه خپله کوره اوچتونکې په مونږ پسې شو، د خبرداری دپاره، او وې فرمائیل چه کله به مونږ د رسول الله ﷺ سره په جنازه کښې روان ؤو نو ښه تیز به تلو.

وحدیث ابی بکرة اخرجه النسائی، قاله المنذری

[۳۱۸۳] حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ. ح وحَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا عِيسَى يَعْنِي ابْنَ يُونُسَ، عَنْ عُيَيْنَةَ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَا فِي جَنَازَةِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ وَقَالَ: فَحَمَلَ عَلَيْهِمْ بَغْلَتَهُ، وَأَهْوَى بِالسَّوْطِ.

دعیینه نه په بل سند سره هم داسې روایت نقل شوې دې لیکن په دې روایت کښې داسې دي چه داجنازه دعبدالرحمن بن سمره نه وه او ابوبکر صدیق په خپل، قچر اوزغلولو او په خپل چابك ئې اشاره وکړه چه زر زر ځئ.

[۳۱۸۴](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ يَحْيَى الْمُجَبِّرِ، قَالَ أَبُو دَاوُد وَهُوَ يَحْيَى بْنُ عَبْدِ اللَّهِ التَّيْمِيُّ، عَنْ أَبِي مَاجِدَةَ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: سَأَلْنَا نَبِيَّنَا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمَشْيِ مَعَ الْجَنَازَةِ، فَقَالَ "مَا دُونَ الْخَبَبِ إِنْ يَكُنْ خَيْرًا تَعَجَّلَ إِلَيْهِ، وَإِنْ يَكُنْ غَيْرَ ذَلِكَ فَبُعْدًا لِأَهْلِ النَّارِ، وَالْجَنَازَةُ مَتْبُوعَةٌ، وَلَا تُتْبَعُ لَيْسَ مَعَهَا مَنْ تَقَدَّمَهَا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهُوَ ضَعِيفٌ، هُوَ يَحْيَى بْنُ عَبْدِ اللَّهِ وَهُوَ يَحْيَى الْجَابِرُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا كُوفِيٌّ، وَأَبُو مَاجِدَةَ بَصْرِيٌّ، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو مَاجِدَةَ هَذَا لَا يُعْرَفُ.

دعبدالله بن مسعود نه روایت دې فرمائی چه مونږ دنبی علیه السلام نه تپوس اوکړو چه دجنازې سره څنګه تلل پکاردي؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل دخبب نه کم (خبب یوقسم منډه ده)که چرې جنازه دنیك انسان وي نو ده لره دده منزل (قبر)ته زر رسول پکاردي اوکه چرې نیك نه وی نوددوزخیانو نري ویستل بهتردي اوجنازه دتهولوخلقونه مخکښې ورل پکاردي نه چه وروسته اوځوك چه د جنازې نه مخکښې ځي نوداسې ده ګویاکښې چه دې ددې جنازې سره نه دي روان.

﴿ والجنازة متبوعة لیس معها من تقدمها ﴾ په دې حدیث باندې کلام مخکښې تیر شوې دې، اخرجه الترمذی وابن ماجة، وحدیث ابن ماجة مختصر، قاله المنذری

بَابُ الْإِمَامِ لَا يُصَلِّي عَلَى مَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ

په خودکشی کونکی باندې امام جنازه نه کوی

د ترجمة الباب والا مسئله کښې مذاهب ائمة:

یعنی کوم انسان چه خودکشی سره مړ وی د هغه به د جنازې مونځ کولې شی او که نه؟ د جمهور علماء کرامو او ائمه اربعه په نزد به کولې شی، د امام مالك رحمه الله یو روایت د کراهت دې او د امام احمد رحمه الله یو روایت د اهل علم وفضل دپاره د کراهت دې یعنی صرف

(١): سنن الترمذي/الجنائز ٢٧ (١٠١١)، سنن ابن ماجه/الجنائز ١٦ (١٤٨٤)، (تحفة الأشراف: ٩٦٣٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٧٨، ٣٩٤، ٤١٥، ٤١٩، ٤٣٢) (ضعيف)

عوامو لره کول پکار دی او بعض علماء کرامو لکه امام اوزاعی او عمر بن عبدالعزیز رحمه الله د مطلق مونځ قائل نه دی. حضرت په بذل کښې هم دا لیکلي دی چه مشرانو امامانو او علماء کرامو لره کول نه دی پکار، او رسول الله ﷺ هم پخپله په داسې انسان باندې اګر چه جنازه نه ده کړې خو نور ئې د کولو نه نه دی منع کړی، پس دلته په روایت کښې دی ﴿ قال اذا لا اصلی علیه ﴾ او د نسائی په روایت کښې دی ﴿ اما انا فلا اصلی علیه ﴾

[٣١٨٥] (١) حَدَّثَنَا ابْنُ نُفَيْلٍ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا سِمَاكٌ، حَدَّثَنِي جَابِرُ بْنُ سَمُرَةَ، قَالَ: مَرِضَ رَجُلٌ، فَصِيحَ عَلَيْهِ، فَجَاءَ جَارُهُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُ: إِنَّهُ قَدْ مَاتَ، قَالَ: "وَمَا يُدْرِيكَ؟ قَالَ: أَنَا رَأَيْتُهُ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّهُ لَمْ يَمُتْ، قَالَ: فَرَجَعَ، فَصِيحَ عَلَيْهِ، فَجَاءَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنَّهُ قَدْ مَاتَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّهُ لَمْ يَمُتْ، فَرَجَعَ، فَصِيحَ عَلَيْهِ، فَقَالَتِ امْرَأَتُهُ: انْطَلِقْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَخْبِرْهُ، فَقَالَ الرَّجُلُ: اللَّهُمَّ الْعَنْهُ، قَالَ: ثُمَّ انْطَلَقَ الرَّجُلُ، فَرَآهُ قَدْ نَحَرَ نَفْسَهُ بِمِشْقَصٍ مَعَهُ، فَانْطَلَقَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ قَدْ مَاتَ، فَقَالَ: مَا يُدْرِيكَ؟ قَالَ: رَأَيْتُهُ يَنْحَرُ نَفْسَهُ بِمَشَاقِصَ مَعَهُ، قَالَ: أَنْتَ رَأَيْتَهُ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: إِذًا لَا أُصَلِّيَ عَلَيْهِ".

دجابر بن سمره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یوکس مریض شو او بیا دده دمرګ خبر خور شو نودده یوګاونډي دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې اوکړو اې دالله رسوله فلاني مړ شو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل تاته څنګه معلومه شوه چه هغه مړ دې، ده اووئیل ماخپله اولیدو او راغلم نبی علیه السلام اوفرمائیل مړ نه دې بیاهغه سي واپس لاړو دهغه دمرګ خبر بیامشهور شو نودغه کس بیا نبی علیه السلام ته راغې او عرض ئې اوکړو اې دالله رسوله فلاني مړ شو نبی علیه السلام اوفرمائیل هغه مړ نه دې بیا واپس لاړو ددې نه پس چه کله بیا خبر مشهور شو دده دمرګ نودمړي ښځې همدې ګاونډي ته اووئیل څوك چه دوباره راغلې وو، لاړ شه اونبی علیه السلام خبرکړه نودې ګاونډي اووئیل اې الله په ده باندې لعنت اوکړې، راوي وائی چه دغه کس د مریض خواته راغې اووئې لیدل چه خپله مرئ ئې پرې کړې ده په یوغشي باندې نودې نبی علیه السلام ته ورغې اوعرض ئې اوکړو اې دالله رسوله هغه مړشوې دې نبی علیه السلام أوفرمائیل تاته څنګه معلومه شوې ده ده ورته أووئیل ما پخپله اولیدو اوراغلم چه خپله مرئ ئې په غشي پریکړې وه نبی علیه السلام اوفرمائیل ایاتا ولیدو هغه سړی اووئیل هو، نبی علیه السلام اوفرمائیل بیاخوزه په ده باندې جنازه نه کوم.

مضمون د حدیث :

قوله:﴿ حدثنی جابر بن سمرة رضی الله عنه قال مرض رجل فصیح علیه .....الخ﴾

دا دې چه جابر بن سمره رضی الله عنه فرمائی چه یو سړې مریض وو په هغه باندې ژړا او چغې وهل شروع شو ، د هغه چه کوم یو ګاونډی وو هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او هغوی ته ئې د هغه د مرګ خبر ورکړو ، رسول الله ﷺ ترې نه تپوس اوکړو چه تا ته څه خبر دې چه هغه مړ شو؟ هغه اووې چه زه خو هم داسې ګنړم ، رسول الله ﷺ اوفرمائیل هغه لا مړ

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢١٦٠)، وقد أخرجه: صحیح مسلم/الجنائز ٣٦ (٩٧٨)، سنن الترمذي/الجنائز ٦٨ (١٠٦٦)، سنن النسائي/الجنائز ٦٨ (١٩٦٣)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٣١ (١٥٢٦)، مسند احمد (٨٧/٥، ٩٢، ٩٤، ٩٦، ٩٧) (صحیح)

نه دي، دا سړي را واپس شو د دې نه پس ئې بيا د ژړا او چغو آوازونه واوريدل. نو د دې مريض ښځې هغه ګاونډی ته اووې چه لاړه شه او رسول الله ﷺ ته خبر ورکړه نو دې ګاونډی رومبی خو مړ کيدونکی ته خيرې اوکړې ﴿ اللهم العنه ﴾ بيا هغه ګاونډی د دې مړ کيدونکی کور ته لاړو او هغه ئې اوليدو چه هغه په څه تيرۀ څيز سره خودکشي کړې ده، ‹دا ترجمه د مشقص ده چه هغې ته پيکان هم وائی، د غشي سوکه› د دې نه پس هغه ګاونډی د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او هغوی ته ئې د هغه د هلاکيدو خبر ورکړو، او د رسول الله ﷺ په تپوس ئې عرض اوکړو چه ما خپله اوليده د هغه خودکشي، رسول الله ﷺ تاکيدا بيا تپوس اوکړو چه تا داسې اوليدل هغه اووې اوجی! نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل په داسې صورت کښې زه په هغه باندې د جنازې مونځ نه کوم.

والحديث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة مختصرا بمعناه

بَابُ الصَّلَاةِ عَلَى مَنْ قَتَلَتْهُ الْحُدُودُ

د جنازې مونځ په هغه کس باندې چه په شرعي حد کښې مړ کړې شي

يعنی کوم انسان چه په حد شرعی کښې مړ شی په هغه به د جنازې مونځ کيږی او که نه؟ د جمهور په نزد به پرې کيږی او د امام زهری رحمه الله په نزد به په مرجوم باندې د جنازې مونځ نه کيږی او د قصاص په صورت کښې به پرې کيږی. او د امام مالک او احمد رحمهما الله نه روايت دی چه امام دې خپله مونځ نه کوی په هغه باندې، خو د احنافو مذهب د قطاع الطريق او بغاة په باره کښې دا دی چه د هغوی د جنازې مونځ دې اونکړې شی،

[۳۱۸۶]() حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، حَدَّثَنِي نَفَرٌ مِنْ أَهْلِ الْبَصْرَةِ، عَنْ أَبِي بَرْزَةَ الْأَسْلَمِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَمْ يُصَلِّ عَلَى مَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ، وَلَمْ يَنْهَ عَنِ الصَّلَاةِ عَلَيْهِ".

د ابوبرزه اسلمي نه روايت دې فرمائی چه رسول پاک ﷺ خو ماعز بن مالک باندې جنازه اونکړه په چاباندې چه دزنا حد جاری کړې شوې وو اونه ئې خلق په ده باندې دجنازې کولونه منع کړي وو.

قوله: ﴿ عن ابی برزة الاسلمی رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ لم يصل علی ما عز...الخ﴾

ماعز بن مالک الاسلمی رضی الله عنه چه د هغه د رجم قصه مشهوره ده د هغوی د جنازې د مونځ په باره کښې روايات مختلف دی، په بعضو کښې اثبات دې په بعضو کښې نفی، نفی خو په حديث الباب کښې ده او د بخاری په يو روايت کښې دی د جابر رضی الله عنه نه روايت دې:

﴿ فقال له النبی ﷺ خيرا وصلی عليه ﴾ قال البخاری : لم يقل يونس وابن جريج عن الزهری ﴿فصلی عليه ﴾ او د مسلم په روايت کښې دی ﴿ فما استغفر له ولا سبه ﴾ او هم د دې مسلم په يو روايت کښې دی ﴿ استغفر لماعز بن مالک فقالوا غفر الله لماعز بن مالک ﴾ حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کښې جمع بين الروايتين داسې کړې ده چه رسول الله ﷺ په رومبئ ورځ په هغه باندې د جنازې مونځ اونکړو او په دويمه ورځ ئې پرې اوکړو، لکه چه په سنن د ابوقرة

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۶۱۰) (حسن صحيح)

کښې دی، په هغې کښې دی : فقيل يا رسول اللهﷺ اتصلى عليه؟ قال لا قال فلما كان من الغد قال صلوا على صاحبكم فصلى عليه رسول اللهﷺ والناس آهـ وقيل المراد بالصلوة الدعاء.

فائده: په ماعز بن مالک رضی الله عنه باندې د جنازې د مونځ کولو روایات مختلف دی خو ﴿ امراة غامدية جهينية ﴾ چه په هغې باندې به مستقل باب په کتاب الحدود کښې راشي، په هغې باندې د مونځ کولو ټول روايات متفق دی چه رسول اللهﷺ په هغې باندې جنازه اوکړه د دې فرق وجه څه ده؟ په دې باندې امام طحاوی رحمه الله په مشكل الآثار کښې داسې ليکلې دی چه امراة جهينة په خپل ځان باندې د حد جاری کولو دپاره راغلې وه، د هغې په روايت کښې تصريح ده چه زه په خپل ځان باندې حد جاری کوم د دې ګناه د وجې نه، په خلاف د ماعز رضی الله عنه چه د هغوی په باره کښې دا راځی چه کله د هغوی نه دا ګناه صادره شوه او هغوی د دې ذکر بعض خلقو ته اوکړو نو هغوی دا مشوره ورکړه چه ته د دې خبرې ذکر رسول اللهﷺ ته اوکړه پس هغه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې په دې نيت باندې تلې وو چه کيدې شی رسول اللهﷺ به د توبې او استغفار طريقه بيان کړی، خو چه کله دهغه د باقاعده اقرار د وجې نه د زنا ثبوت شرعی راغلو، او رسول اللهﷺ د رجم کولو فيصله اوفرمائيله او په هغې باندې عمل شروع شو نو هغه اووې ﴿ غرنى قومى ﴾ چه ماته مشوره راکونکو غلطه مشوره راکړه وغيره وغيره، امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه په دې صورت کښې د هغوی د توبې تحقق او نه شو، هم دا سبب شو د دواړو په باره کښې د اختلاف دروايت.

باب في الصلاة على الطفل

په نابالغه ماشوم باندې د جنازې کولو بيان

د نومولود د جنازې مونځ به په کوم صورت کښې کولې شی او په کوم صورت کښې نه دا مسئله بالتفصيل سره د اختلاف د امامانو د دې نه مخکښې ﴿ باب المشى امام الجنازة ﴾ کښې د ﴿ السقط يصلى عليه ﴾ د لاندې تيره شوه.

رسول اللهﷺ د خپل ځوی ابراهيم رضی الله عنه د جنازې مونځ اوکړو که نه؟

په دې باره کښې خو مصنف رحمه الله صرف هم د يو مضمون حديث ذکر کړې دې يعنى په ابراهيم رضی الله عنه باندې د مونځ کولو او نه کولو.

[٣١٨٧](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "مَاتَ إِبْرَاهِيمُ ابْنُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ ابْنُ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ شَهْرًا، فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

دام المومنين عائشة رضی الله عنها نه روايت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام ځوی ابراهيم وفات شو او اتلس مياشتې عمرئې وو اونبی علیه السلامورباندې دجنازې مونځ ونکړو.

﴿ عن عائشة رضی الله عنها قالت مات ابراهيم ابن النبىﷺ وهو ابن ثمانية عشر شهرا فلم يصل عليه رسول اللهﷺ ﴾

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٧٩٠٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٦٧/٦) (حسن الإسناد)

د دې نه پس مصنف رحمه الله دوه روايتونه ذکر کړي دی ﴿ سمعت البهی قال : لما مات ابراهيم ابن النبی ﷺ صلی عليه رسول الله ﷺ فی المقاعد ﴾ او دويم روايت د ﴿ عن عطاء ان النبی ﷺ صلی علی ابنه ابراهيم وهو ابن سبعين ليلة ﴾ په دې رواياتو کښې د باب حديث اول يعنی حديث عائشة رضی الله عنها کوم چه موصولا دې په دې کښې د مانځه نفی ده چه رسول الله ﷺ په خپل ځوی باندې د جنازې مونځ اونکړو او په روستنو دوه روايتونو يعنی مرسل د بهی او مرسل د عطاء په دې دواړو کښې د صلوة اثبات دې چه رسول الله ﷺ په هغه باندې د جنازې مونځ اوکړو، علامه زيلعی رحمه الله په نصب الرايه کښې د اثبات صلوة په باره کښې متعدد احاديث مسنده او مرسله بيان کړې دې، هغه فرمائی ﴿ فيه احاديث مسندة واحاديث مرسلة، فالمسندة عن ابن عباس، والبرآء بن عازب وانس والخدری ﴾ د دې نه پس په دې يو په خپل سند کښې ذکر کړې دې، پس د ابن عباس رضی الله عنهما روايت ئې د ابن ماجة نه، او حديث البراء لره مسند احمد او بيهقی نه، او حديث د انس رضی الله عنه د مسند ابويعلی نه، او حديث د ابوسعيد خدری رضی الله عنه د مسند بزار نه، او د روايات مرسله د لاندې په شروع کښې دا د ابوداؤد دوه مرسل روايتونه ذکر کړی دی او بيا ئې وړاندې ليکلې دی، ورواهما البيهقی وقال هذه الاثار مرسلة وهی تشد الموصول، وروايات الاثبات اولی من روايات الترک، د دې نه علاوه نور هم روايات مرسله هغوی ذکر کړی دی، د دې نه پس په احاديث الترک کښې د ابوداؤد حديث د عائشه رضی الله عنها ذکر کړې دې او بيا فرمائی چه وذکر الخطابی مرسل عطاء وقال هذا اولی الامرين وان کان حديث عائشة رضی الله عنها احسن ايصالا آه امام بيهقی، خطابی او امام زيلعی رحمهم الله د دې حضراتو ميلان د ترجيح اثبات طرف ته دې، د دې نه پس علامه زيلعی فرمائی چه کوم خلق ترک صلوة لره تسليموی هغوی د دې بعض علل ضعيفه بيان کړی دی يو دا چه رسول الله ﷺ په دې ورځ باندې په صلوة الکسوف کښې مشغول وو، او يو دا چه هغه د بنوة نبی (د نبی د ځوی کيدو د وجې نه) د فضيلت د وجې نه د مانځه نه مسغنی وو څنګه چه شهدآء د شهادة د وجې نه مستغنی وی، او بله دا چه نبی په نبی باندې مونځ نه کوی څکه چه د دوی په باره کښې راغلې دی چه ﴿ لو عاش لکان نبيا ﴾ او يا دا مراد دې چه ﴿ انه لم يصل عليه بنفسه وصلی عليه غيره ﴾ والله تعالی اعلم بالصواب (زيلعی ۲/۲۸۰)

[۳۱۸۸](١) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ وَائِلِ بْنِ دَاوُدَ، قَالَ: سَمِعْتُ الْبَهِيَّ، قَالَ: "لَمَّا مَاتَ إِبْرَاهِيمُ ابْنُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، صَلَّى عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَقَاعِدِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: قَرَأْتُ عَلَى سَعِيدِ بْنِ يَعْقُوبَ الطَّالَقَانِيِّ، قِيلَ لَهُ: حَدَّثَكُمْ ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يَعْقُوبَ بْنِ الْقَعْقَاعِ، عَنْ عَطَاءٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى عَلَى ابْنِهِ إِبْرَاهِيمَ وَهُوَ ابْنُ سَبْعِينَ لَيْلَةً".

د بهی رحمه الله نه روايت دې فرمائی هرکله چه دنبی علیه السلام ځوي ابراهيم وفات شو نو نبی علیه السلام ورباندې د جنازې مونځ په خپل قيامګاه کښې وکړو. ابوداؤد وائی: چه ما سعيد بن يعقوب طالقانی ته اولوستل چه ستاسو نه حديث بيان کړو ابن مبارک، هغوی د يعقوب بن قعقاع

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٩٤٧، ١٩٨٤) (ضعيف منكر)

نه او هغوی د عطاء نه روایت کړې دې، هغه وائی چه نبی اکرم ﷺ د خپل ځوی ابراهیم د جنازې مونځ اوکړو په دغه وخت هغه د اویا ورځو وو.

د ابراهیم رضی الله عنه د عمر په موده کښې د روایاتو اختلاف:

دویمه خبره د حدیث الباب نه د ابراهیم رضی الله عنه د عمر د مودې په باره کښې ده په رومبی حدیث اتلس میاشتې ده او په دویم حدیث کښې اویا شپې، یعنی دوه نیمې میاشتې، په دې کښې رومبې روایت صحیح دې او یو قول په دې کښې د شپاړسو میاشتو هم دې او هغه په دې وجه چه د هغوی پیدائش په ذی الحجة ۸ هجری کښې دې او وفات ئې په ۱۰ ربیع الاول ۱۰ هجری کښې دې په دې صورت کښې د ولادت او د وفات میاشت مستقل حسابولو سره پوره شپاړس میاشتې جوړیږی، وقد مر فی کتاب الصلوة فی باب صلوة الکسوف.

بَابُ الصَّلَاةِ عَلَى الْجَنَازَةِ فِي الْمَسْجِدِ

باب: په مسجد کښې د جنازې کولو بیان

دا د شوافعو او حنابله په نزد جائز دې بغیر د کراهت نه، او د احنافو او مالکیانو په نزد په مسجد کښې مکروه دې تحریما، او وئیلې شوې دی چه تنزیها.

[۳۱۸۹](۱) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ صَالِحِ بْنِ عَجْلَانَ، وَمُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّادٍ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: وَاللَّهِ مَا صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى سُهَيْلِ ابْنِ الْبَيْضَاءِ، إِلَّا فِي الْمَسْجِدِ.

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه په الله قسم نبی علیه السلام په سهیل بن بیضاء باندې په جومات کښې جنازه کړې وه.

قوله: ﴿عن عائشة رضی الله عنها قالت والله ما صلی رسول الله ﷺ علی سهیل بن البیضاء الا فی المسجد﴾ او د دې نه روستو روایت کښې دی ﴿علی ابنی البیضاء فی المسجد﴾

عائشه رضی الله عنها فرمائی چه والله رسول الله ﷺ په سهیل بن بیضاء او د هغه په رور باندې په مسجد کښې د جنازې مونځ کړې وو.

دا روایت دلته مختصر دې او په صحیح مسلم کښې مفصل دې هغه دا چه عائشې رضی الله عنها د سعد بن ابی وقاس رضی الله عنه د جنازې د مانځه په باره کښې اوفرمائیل چه هغه مسجد ته راوړئ چه هغه هم په هغوی باندې جنازه اوکړې شی، د خلقو په دې باندې اشکال پیدا شو، په دې باندې هغوی اوفرمائیل، ﴿ما اسرع بالنبی الناس، ما صلی رسول الله ﷺ علی سهیل ابن البیضاء الا فی المسجد﴾

[۳۱۹۰](۲) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنِ الضَّحَّاكِ يَعْنِي ابْنَ عُثْمَانَ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: وَاللَّهِ لَقَدْ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ابْنَيْ بَيْضَاءَ فِي الْمَسْجِدِ.

---

(۱): سنن ابن ماجه/الجنائز ۲۹ (۱۵۱۸)، (تحفة الأشراف: ۱۶۱۷۴)، وقد أخرجه: صحیح مسلم/الجنائز ۳٤ (۹۷۳)، سنن الترمذي/الجنائز ٤٤ (۱۰۳۳)، سنن النسائي/الجنائز ۷۰ (۱۹٦۹)، موطا امام مالك/الجنائز ۸ (۲۲)، مسند احمد (٦/۷۹، ۱۳۳، ۱٦۹) (صحیح)

(۲): صحیح مسلم/الجنائز ۳٤ (۹۷۳)، (تحفة الأشراف: ۱۷۷۱۳) (صحیح)

سُهَيْلٍ، وَأَخِيهِ.

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائي چه په الله قسم یقینا نبی ﷺ په دوه ځامنود بیضاء باندې په جومات کښې جنازه کړې وه، چه سهیل اودهغه ورور وو.

د شوافعو او د حنابله استدلال د باب د رومبی حدیث نه دې، او د احنافو او د مالکیانو دلیل د باب دویم حدیث دې.

[۳۱۹۱](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، حَدَّثَنِي صَالِحٌ مَوْلَى التَّوْءَمَةِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ صَلَّى عَلَى جَنَازَةٍ فِي الْمَسْجِدِ، فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ".

دابوهریرة رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبی ﷺ فرمائیلی دی: څوک چه په کوم مړي باندې دجنازې مونځ په جومات کښې وکړي نوپده باندې څه ګناه نشته.

قوله: ﴿ عن ابی هریرة رضی الله عنه قال رسول الله ﷺ من صلی علی جنازة فی المسجد فلا شئ له ﴾

شوافعو وغیره د دې دوه جوابونه ورکړې دی اول دا چه دا ضعیف دې تفرد به صالح مولی التوامة، دویم دا چه په یو روایت کښې ﴿ فلا شئ علیه ﴾ دې، خو که د دې حدیث ضعف تسلیم هم کړې شی نو بیا هم حدیث د عائشې رضی الله عنها کوم چه په صحیح مسلم کښې دې هم کوم د شوافعو موافق دې د دوه وجو نه؛ اول دا چه په هغه روایت کښې دی، ﴿فانکر الناس علیها ﴾ چه د هغې نه معلومیږی چه د صحابه کرامو رضی الله عنهم په ذهنونو کښې د هغې کراهت وو، آخر دا ولې وو، دویم په دې وجه عائشې رضی الله عنها چه د صلوة فی المسجد دپاره کوم مثال پیش کولو هغه صرف د یو یا دوه جنازو وو چه د هغې نه معلومیږی چه د رسول الله ﷺ دا عادت نه وو، د معمول خلاف غالبا د څه عارض په بناء باندې ئې دا مونځ په مسجد کښې کړې وو ممکنه ده د اعتکاف وغیره حالت وو یا زیات نه زیات جواز کوم چه د کراهت منافی نه دې. والله اعلم بالصواب په اوجز کښې په دې باندې تفصیلی کلام حضرت شیخ کړې دې هغه لاندې په حاشیه کښې اوګورئ.(۲)

---

(۱): سنن ابن ماجه/الجنائز ۲۹ (۱۵۱۷)، (تحفة الأشراف: ۱۳۵۰۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۴۴٤، ٤۵۵) (حسن)

(۲) قال ابن رشد وسبب الخلاف في ذلك حديث عائشة رضی الله عنها الاتي عند مالك في الموطاء وحديث ابي هريرة ان رسول الله ﷺ قال من صلي علي جنازة في المسجد فلا شيء له وحديث عائشة ثابت وحديث ابي هريرة غير ثابت او غير متفق علي ثبوته لكن انكار الصحابة علي عائشة يدل علي اشتهار العمل بخلاف ذلك عندهم، ويشهد لذلك بروزه ﷺ للمصلي لصلاته علي النجاشي آهـ قلت حديث ابي هريرة اخرجه ابوداؤد والطحاوي وابن ماجة وابن ابي شيبة، قال الحلبي رواه ابوداؤد وابن ماجة عن ابن ابي ذئب عن صالح مولي التوامة، وصالح قال ابن معين ثقة لكنه اختلط قبل موته فمن سمع منه قبل ذلك ثبت حجة، وكلهم علي ان ابن ابي ذئب سمع منه قبل الاختلاط آهـ قلت حديث ابي هريرة عند ابن ابي شيبة فيه زيادة ونصه: قال وكان اصحاب رسول الله ﷺ اذا تضايق بهم المكان رجعوا ولم يصلوا وبسط ابن التركماني في الجوهر النقي ان صالحا انما تكلم فيه لاختلاطه، ولا اختلاف في عدالته، وابن ابي ذئب سمع منه قبل الاختلاط الي آخر في الاوجز ۲/٤۵۹ وفيه ايضا قال محمد في موطاه، وموضع الجنازة بالمدينة خارج المسجد وهو الموضع الذي كان النبي ﷺ يصلي علي الجنازة فيه، وقال الحافظ في الفتح ان مصلي الجنائز بالمدينة كان لاصقا بمسجد النبي ﷺ من ناحية جهة المشرق ودل حديث ابن عمر انه كان للجنازة مكان معد للصلوة عليها فقد يستفاد منه ان ما وقع من الصلوة علي بعض الجنائز في المسجد كان لامر عارض او لبيان الجواز آهـ)

په سهیل ابن بیضاء کښې بیضاء د سهیل رضی الله عنه د مور لقب دې، او ځ هغې نوم دعد دې او د سهیل د پلار نوم وهب بن ربیعة القرشي دې، قال النووی وکان سهیل قدیم الاسلام هاجر الی الحبشة ثم عاد الی مکة ثم هاجر الی المدینة وشهد بدرا وغیرها توفی سنة ۹ هجری او امام نووی رحمه الله دا هم فرمائی چه د بیضاء ځامن درې دی سهل، سهیل او صفوان آه.

بَابُ الدَّفْنِ عِنْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَعِنْدَ غُرُوبِهَا

د نمر ختلو او نمر پریوتلو په وخت کښې د تدفین نه کولو بیان

[۳۱۹۲]([1]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عَلِيِّ بْنِ رَبَاحٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي، يُحَدِّثُ أَنَّهُ سَمِعَ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ، قَالَ: "ثَلَاثُ سَاعَاتٍ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَانَا أَنْ نُصَلِّيَ فِيهِنَّ، أَوْ نَقْبُرَ فِيهِنَّ مَوْتَانَا: حِينَ تَطْلُعُ الشَّمْسُ بَازِغَةً حَتَّى تَرْتَفِعَ، وَحِينَ يَقُومُ قَائِمُ الظَّهِيرَةِ حَتَّى تَمِيلَ، وَحِينَ تَضَيَّفُ الشَّمْسُ لِلْغُرُوبِ حَتَّى تَغْرُبَ، أَوْ كَمَا قَالَ".

دعقبة بن عامر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه درې ساعتونه په ورځ کښې داسې دي چه په هغې کښې مونږ نبی علیه السلام دمونځ کولو اود مړو د تدفین نه منع کړې وو یو خو هغه وخت دې چه دنمر سترګه اوپر قیږي او راوخیژي ترڅو چه ښه راپورته شوي نه وی اوبل دغرې او ماسپخین وخت دي ترڅوچه سوري روان شوي نه وی او بل هغه وخت دي چه نمرد پریوتو دپاره ښکته رازوړند شي ترڅوچه پریوتلي نه وي.

قوله: ﴿ انه سمع عقبة بن عامر رضی الله عنه قال ثلاث ساعات کان رسول الله ﷺ ینهانا ان نصلی فیهن او نقبر فیهن موتانا الخ ﴾

یعنی رسول الله ﷺ په اوقات ثلاثه کښې د مونځ کولو او د مړی د دفن کولو نه منع فرمائیلي ده یو د نمر ختلو په وخت، دویم د استواء په وخت، او دریم د غروب په وخت، د اوقات منهية مکروه بیان په کتاب الصلوة باب الصلوة بعد العصر کښې په الدرر المنضود دویم جلد ۵۲۳ صفحه باندې تیر شوې دې.

په اوقات منهية کښې په صلوة جنازة کښې مذاهب اربعه:

د صلوة جنازه په باره کښې هلته دا تیر شوی دی چه بعد العصر او بعد الفجر خو بالاجماع جائز دی، او د دې اوقات ثلاثه مذکوره فی الحدیث په باره کښې د احنافو مذهب دا دې چه که جنازه خاص هم په دې وختونو کښې رارسیدلې وی نو بیا خو په دې اوقاتو کښې کول جائز دی بلکه افضل دی او تاخیر دې اونکړې شی، کما فی الطحطاوی علی المراقی کښې نه، او د امام شافعی رحمه الله په نزد په دې درې وختونو کښې بغیر د کراهت نه جائز ده ځکه د جنازه ذات السبب دې او نوافل ذوات السبب د هغوی په نزد مطلقا په ټولو اوقاتو کښې جائز دی، او د امام احمد رحمه الله په نزد په دې درې وارو اوقاتو کښې ناجائز دې، او د

[1]): صحيح مسلم/المسافرين ٥١ (٨٣١)، سنن الترمذي/الجنائز ٤١ (١٠٣٠)، سنن النسائي/المواقيت ٣٠ (٥٦١)، ٣٣ (٥٦٦)، الجنائز ٨٩ (٢٠١٥)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٣٠ (١٥١٩)، (تحفة الأشراف: ٩٩٣٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٥٢/٤)، سنن الدارمي/الصلاة ١٤٢ (١٤٧٢) (صحيح)

امام مالک رحمه الله په نزد په دې درې واړو وختونو کښې په دوه وختونو کښې ناجائز دې او د استواء په وخت جائز دې ځکه چه دا وخت د هغوی په نزد په اوقات منهية کښې نه دې.

په اوقات منهية کښې د مړی په دفن کولو کښې اختلاف د امامانو:

دويم جزء د دې حديث دفن في هذه الاوقات دې، د دې په باره کښې دا دی چه دفن د جمهور په نزد په دې اوقاتو کښې مکروه نه دې هم دا د مالکيانو او احنافو مذهب دې، خو د امام احمد رحمه الله په نزد مکروه دې لکه په المغنى او الروض المربع کښې دی، او د امام شافعی رحمه الله مسلک امام خطابی رحمه الله دا ليکلې دې: وکان الشافعى يرى الصلوة على الجنائز اى ساعة شاء من ليل او نهار وکذلک الدفن اى وقت کان من ليل او نهار، يعنى د امام شافعی رحمه الله په نزد د صلوة او دفن دواړو حکم يو شان دې يعنى مطلقا جواز فى جميع الاوقات، لهذا خلاصه دا راووتله چه دفن په دې اوقاتو کښې د جمهورو په نزد چه په هغې کښې درې امامان يعنى احناف، مالکيان او شوافع دی جائز دې او په امامانو کښې صرف د امام احمد په نزد مکروه دې. لهذا دا حديث د حنابله په نزد خو په خپل ظاهر پاتې شو، د دې وجې نه امام ابوداؤد رحمه الله چونکه حنبلی دې هغوی دې حديث لره په ظاهر باندې کيخودلو سره باب الدفن قائم کړو، او د احنافو او د مالکيانو په نزد دا حديث موول دې چه د دفن نه مراد صلوة على الجنازة دې، او د شوافعو په هر حال کښې خلاف دې ځکه چه د هغوی په نزد دواړه جائز دی د هغوی په نزد دا په صلوة على الجنازة باندې محمول کول مفيد نه دی هم په دې وجه امام نووی رحمه الله يو بله لار اختيار کړه هغه دا چه د دې نه مراد خو دفن دې، خو مطلق دفن ترې نه نه دې مراد بلکه تعمد الدفن فى هذه الاوقات يعنى قصدا تاخير کولو سره په دې اوقاتو کښې جنازه کول، کما صرح به فى شرح مسلم فى شرح هذا الحديث، خو امام ترمذی رحمه الله دا حديث په صلوة باندې محمول کولو سره ترجمة قائم کړې ده ﴿باب ما جاء فى کراهية صلوة الجنازة عند طلوع الشمس وعند غروبها﴾ د امام ترمذی رحمه الله په باره کښې مشهوره خو هم دا ده چه هغه شافعی المسلک دې خو د هغوی د ترجمې نه د مسلک شافعيه موافقت ليکن نه کيږی، خو د جمهورو تاويل هم دا دې، والحديث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة. قاله المنذری.

بَابُ إِذَا حَضَرَ جَنَائِزُ رِجَالٍ وَنِسَاءٍ مَنْ يُقَدَّمُ

يعنى که د سړو او زنانو جنازې په يو وخت کښې راجمع شی نو څوک به مقدم کولې شی يعنى امام ته نزدې؟

[۳۱۹۳] (۱) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ مَوْهَبٍ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ صَبِيحٍ، حَدَّثَنِي عَمَّارٌ مَوْلَى الْحَارِثِ بْنِ نَوْفَلٍ، أَنَّهُ شَهِدَ جَنَازَةَ أُمِّ كُلْثُومٍ، وَابْنِهَا، فَجُعِلَ الْغُلَامُ مِمَّا يَلِي الْإِمَامَ، فَأَنْكَرْتُ ذَلِكَ، وَفِي الْقَوْمِ ابْنُ عَبَّاسٍ، وَأَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ، وَأَبُو قَتَادَةَ، وَأَبُو هُرَيْرَةَ، فَقَالُوا: هَذِهِ السُّنَّةُ.

دحارث بن نوفل ازاد کړي شوي غلام عمار نه روايت دې فرمائی چه زه دام کلثوم او دهغې

(۱): سنن النسائي/الجنائز ٧٤(١٩٧٩)، (تحفة الأشراف: ٤٢٦١) (صحيح)

دځوي جنازې ته حاضرشوي وم نو دهلك جنازه امام ته نزدې کیخودلې شوه نو ما دا کار بد وګڼرلو او په خلقو کښې ابن عباس او ابوسعید خدری او ابوقتادة او ابوهریرة رضی الله عنهم موجود وو هغوی ووئیل چه دا سنت عمل دې (یعنی هلك مخکښې ایخودل او بیا زنانه دهغه نه شاته).

قوله: ﴿ حدثنی عمار مولی الحارث بن نوفل انه شهد جنازة ام کلثوم وابنها فجعل الغلام مما یلی الامام فانکرت ذلک الخ ﴾

یعنی ام کلثوم بنت علی رضی الله عنها زوجه عمر رضی الله عنه او د هغې ځوئې زید بن عمر د دې دواړو جنازه راوړې شوه او د زید جنازه امام ته نزدې کیخودلې شوه، عمار فرمائی چه ما په دې باندې اشکال اوکړو، هغه وخت په جماعت کښې ابن عباس، ابوسعید خدری، ابوقتاده ابوهریره رضی الله عنهم هم موجود وو. ﴿ فقالوا هذه السنة ﴾ یعنی دې ټولو اوفرمائیل چه مسنون طریقه هم دا ده. فی الاوجز : وعلی هذا اکثر العلماء وقول الصحابی : هی السنة له حکم الرفع وقال الحسن وسالم والقاسم النساء مما یلی الامام والرجال مما یلی القبلة قاله الزرقانی، یعنی د دې حضراتو په نزد ترتیب بالعکس دې چه د زنانه جنازه دې امام ته نزدې او د سړی جنازه دې قبلې ته نزدې کیخودلې شی او ابن رشد په دې کښې یو دریم قول هم لیکلې دې هغه دا چه چه د دواړو د جنازې مونځ دې ځانله ځانله اوکړې شی، د سړو ځانله او د زنانو ځانله. والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری

بَاب أَيْنَ يَقُومُ الإِمَامُ مِنَ الْمَيِّتِ إِذَا صَلَّى عَلَيْهِ

یعنی امام لره د جنازې کومې حصې ته مخامخ اودریدل پکار دی.

مسئلة الباب کښې مذاهب ائمة :

په دې کښې مذاهب دائمة دا دی چه که د سړی جنازه ده نو د جمهورو په نزد او د ائمة ثلاثه په نزد د هغه سینې ته، او د امام مالک رحمه الله په نزد د هغه وسط ته، او که جنازه د ښځې وی نو په دې کښې د احنافو مسلک هم هغه دې کوم چه د سړی په حق کښې دې یعنی عند صدرها او د باقی ائمة ثلاث په نزد داسې دې عند الشافعی حیال عجیزتها وعند احمد عند وسطها، وعند مالک حیال منکبیها.

[٣١٩٤](1) حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ نَافِعٍ أَبِي غَالِبٍ، قَالَ: كُنْتُ فِي سِكَّةِ الْمِرْبَدِ، فَمَرَّتْ جَنَازَةٌ مَعَهَا نَاسٌ كَثِيرٌ، قَالُوا: جَنَازَةُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَيْرٍ، فَتَبِعْتُهَا، فَإِذَا أَنَا بِرَجُلٍ عَلَيْهِ كِسَاءٌ رَقِيقٌ عَلَى بُرَيْذِينَتِهِ، وَعَلَى رَأْسِهِ خِرْقَةٌ تَقِيهِ مِنَ الشَّمْسِ، فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا الدِّهْقَانُ؟ قَالُوا: هَذَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، فَلَمَّا وُضِعَتِ الْجَنَازَةُ، قَامَ أَنَسٌ فَصَلَّى عَلَيْهَا، وَأَنَا خَلْفَهُ، لَا يَحُولُ بَيْنِي وَبَيْنَهُ شَيْءٌ، فَقَامَ عِنْدَ رَأْسِهِ، وَكَبَّرَ أَرْبَعَ تَكْبِيرَاتٍ، لَمْ يُطِلْ، وَلَمْ يُسْرِعْ، ثُمَّ ذَهَبَ يَقْعُدُ، فَقَالُوا: يَا أَبَا حَمْزَةَ، الْمَرْأَةُ الْأَنْصَارِيَّةُ، فَقَرَّبُوهَا وَعَلَيْهَا نَعْشٌ أَخْضَرُ، فَقَامَ عِنْدَ عَجِيزَتِهَا، فَصَلَّى عَلَيْهَا نَحْوَ صَلَاتِهِ عَلَى الرَّجُلِ، ثُمَّ جَلَسَ، فَقَالَ الْعَلَاءُ بْنُ زِيَادٍ: يَا أَبَا حَمْزَةَ، هَكَذَا كَانَ يَفْعَلُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يُصَلِّي عَلَى الْجَنَازَةِ كَصَلَاتِكَ: يُكَبِّرُ عَلَيْهَا أَرْبَعًا، وَيَقُومُ عِنْدَ رَأْسِ الرَّجُلِ، وَعَجِيزَةِ الْمَرْأَةِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: يَا أَبَا حَمْزَةَ، غَزَوْتَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: نَعَمْ، غَزَوْتُ مَعَهُ حُنَيْنًا، فَخَرَجَ الْمُشْرِكُونَ، فَحَمَلُوا عَلَيْنَا حَتَّى رَأَيْنَا

(1): سنن الترمذي/الجنائز ٤٥ (١٠٣٤)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٢١ (١٤٩٤)، (تحفة الأشراف: ١٦٢١)، وقد أخرجه: مسند أحمد (١١٨/٣، ١٥١، ٢٠٤) (صحيح)

خَيْلَنَا وَرَاءَ ظُهُورِنَا، وَفِي الْقَوْمِ رَجُلٌ يَحْمِلُ عَلَيْنَا، فَيَدُقُّنَا، وَيَحْطِمُنَا، فَهَزَمَهُمُ اللَّهُ، وَجَعَلَ يُجَاءُ بِهِمْ، فَيُبَايِعُونَهُ عَلَى الْإِسْلَامِ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ عَلَيَّ نَذْرًا، إِنْ جَاءَ اللَّهُ بِالرَّجُلِ الَّذِي كَانَ مُنْذُ الْيَوْمَ يَحْطِمُنَا، لَأَضْرِبَنَّ عُنُقَهُ، فَسَكَتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَجِيءَ بِالرَّجُلِ، فَلَمَّا رَأَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، تُبْتُ إِلَى اللَّهِ، فَأَمْسَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُبَايِعُهُ، لِيَفِيَ الْآخَرُ بِنَذْرِهِ، قَالَ: فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَتَصَدَّى لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَأْمُرَهُ بِقَتْلِهِ، وَجَعَلَ يَهَابُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَقْتُلَهُ، فَلَمَّا رَأَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ لَا يَصْنَعُ شَيْئًا، بَايَعَهُ، فَقَالَ الرَّجُلُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، نَذْرِي، فَقَالَ: "إِنِّي لَمْ أُمْسِكْ عَنْهُ مُنْذُ الْيَوْمَ، إِلَّا لِتُوفِيَ بِنَذْرِكَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلَا أَوْمَضْتَ إِلَيَّ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّهُ لَيْسَ لِنَبِيٍّ أَنْ يُومِضَ، قَالَ أَبُو غَالِبٍ: فَسَأَلْتُ عَنْ صَنِيعِ أَنَسٍ فِي قِيَامِهِ عَلَى الْمَرْأَةِ عِنْدَ عَجِيزَتِهَا، فَحَدَّثُونِي أَنَّهُ إِنَّمَا كَانَ لِأَنَّهُ لَمْ تَكُنِ النُّعُوشُ، فَكَانَ الْإِمَامُ يَقُومُ حِيَالَ عَجِيزَتِهَا يَسْتُرُهَا مِنَ الْقَوْمِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ"، نَسَخَ مِنْ هَذَا الْحَدِيثِ: الْوَفَاءَ بِالنَّذْرِ فِي قَتْلِهِ، بِقَوْلِهِ: إِنِّي قَدْ تُبْتُ.

دابوغالب نه روایت دې فرمائي چه زه په سکة المربد مقام کښې موجود وم چه یوه جنازه راوړل شوه اوډیرخلق ورسره وو خلقو اووئیل دا د عبدالله بن عمر ﷺ جنازه ده ماچه داواوریدل نوزه هم ور پسې شوم اویوکس مې اولیدو چه نرئ جامې ئې اغوستې دې او په وروکښې اس باندې سور دې او په خپل سر باندې ئې دنمر نه دبچ کیدو دپاره د یوې کپړې نه سورې کړې وو ماتپوس اوکړو چه دازمیدار څوك دې خلقو راته اووئیل انس بن مالك نه دې کله چه جنازه کیښودې شوه نوانس نه پاڅیدو اودجنازې مونځ ئې ورکړو زه هم ور پسې ولاړ وم زما اودهغه په مینځ کښې څه شې حائل نه وو هغه دمړې دسر سره نزدې اودریدو او څلور تکبیرونه ئې اووئیل نه ډیر زر زر اونه په ډیر تاخیرسره اوبیاروان شو چه کښېني خلقو ورته اووئیل اې ابوحمزه دیوانصاري زنانه جنازه هم ده، بیا هغه جنازه نزدې راوړې شوه اوپه شین رنګ تابوت کښې وه دهغې دملاپه برابر اودریدواود جنازې مونځ ئې پرې اوکړو لکه څرنګه چه په سړوبه ئې جنازه کوله، بیا ددې نه پس کیناستو علاء بن زیاد اووئیل اې ابوحمزه نبی ﷺ به هم داسې جنازه کوله څرنګه چه تا اوکړه او څلور تکبیرونه به ئې وئیل د سړې دسر سره به اودریدو اودښځې دملاسره انس په اووئیل هو نبی ﷺ به هم داسې جنازه کوله او په دې ځایونوکښې به اودریدو ، علاء بن زیاد اووئیل اې ابوحمزه ایاته دنبی ﷺ سره جهاد ته تلې وې؟ هغه اووئیل هو زه دنبی ﷺ سره په عزوه حنین کښې موجود وم چه مشرکان بهر راووتل او په مونږ ئې حمله اوکړه، تردې چه مونږ خپل اسونه دخان نه شاته اولیدل او په کافرانوکښې یوکس وو چا چه به په مونږ حمله کوله او په توره به ئې زخمي کولو او قتل کولوبه ئې بیاالله تعالی دوی ته شکست ورکړو ددې نه پس دجنګ قیدیان راوستل شروع شول چه کله به راغلل نوپه اسلام باندې به ئې دنبی ﷺ سره بیعت کولو ، په صحابه کرامو کښې یوکس ددې خبرې نذر او منلو که چرې دغه کس الله تعالی دقیدې په شکل کښې مونږته راوستو چاچه په دغه ورځ مونږ زخمي کړې وو نوزه به ئې قتل کوم داخبره چه نبی ﷺ واوریده نوخاموش شو او بیا هغه سړې راوستلې شو کله چه دغه صحابي نبی ﷺ اولیدو نوعرض ئې اوکړو اې دالله رسوله ماتوبه ویستلې ده نبی

ﷺ دهغه سره په بیعت کولو کښې توقف اوکړو په دې اراده باندې چه داصحابي خپل نذر پوره کړي لیکن هغه صحابي ددې خبرې په انتظارکښې وو چه نبی ﷺ ماته ددغه کس د قتل کولو حکم اوکړي نوزه به ئې قتل کړم اوزه ددې خبرې نه ویریدم هسې نه چه زه دې قتل کړم او نبی ﷺ راته غصه شي کله چه نبی ﷺ اولیدل چه هغه څه نه کوي یعنی په هیڅ طریقه ئې نه وژني نوبیا ئې مجبورا دده سره بیعت اوکړو، په دې وخت کښې صحابي عرض اوکړو اې دالله رسوله زمانذر به څنګه مکمل شي نبی ﷺ اوفرمائیل زه چه ددې وخته پورې اودریدم اوانتظار مې اوکړو او بیعت مې درسره نه کوو زمادا خیال وو چه ته خپل نذر پوره کړې، ده عرض اوکړو چه اې رسول الله ماته دې اشاره ولې نه کوله؟ نبی ﷺ اوفرمائیل دپیغمبردشان سره دامناسب نه دی چه په سترګوچاته خفیه اشاره اوکړي، ابوغالب اووئیل مادخلقونه تپوس اوکړو چه انس ﷺ ددې ښځې دملا په برابر په څه وجه دجنازې دپاره ودریدلې وو؟ خلقو اووئیل په دې وجه چه په تیره شوې زمانه کښې تابوتونه نه وو امام به دجنازې کولو په وخت کښې دښځې دکوناټوسره نزدې اودریدو ددې دپاره چه دمقتدیانو دنظرنه پټه شي. ابوداؤد وائی د نبی کریم ﷺ حدیث «أمرت أن أقاتل الناس حتی یقولوا لا إله إلا الله» نه ددې د قتل نذر پوره کول منسوخ کړې شوې دی ځکه چه هغه راتلو سره دا وئیلی وو چه ما توبه کړې ده او اسلام مې راوړلې دې.

قوله: ﴿ عن نافع ابی غالب قال کنت فی سکة المربد فمرت جنازة معها ناس کثیر، قالوا جنازة عبدالله بن عمیر ﴾:

سکة المربد په بصره کښې د یو ځائې نوم دې، هسې خو مرید د ګډو بیزو او اوښانو د تړلو ځائې ته وائی، ابوغالب وائی چه زه په سکة المربد کښې ام نو زما مخې ته یو جنازه تیره شوه چه د هغې سره یو لویه مجمع وه خلقو وئیل چه دا د عبدالله بن عمیر جنازه ده نو زه هم د هغې سره روان شوم، ناڅاپه زما نظر په یو داسې سړی باندې پریوتلو چه هغه یو نرې څادر د ځان تاؤ کړې وو چه په یو ترکی اس باندې سور وو، چه هغه په خپل سر باندې یو کپړه اچولې وه د ګرمئ نه د بچ کیدو دپاره، نو ما تپوس اوکړو چه دا ملک صاحب څوک دې؟ خلقو اووې دا انس بن مالک ﷺ دې پس جنازه کیخودلې شوه نو انس ﷺ په هغه باندې د جنازه کولو دپاره هغه ته نزدې اودریدو چه په هغې کښې ئې څلور تکبیرونه اولوستل، د مانځه د فراغت نه پس چه کله هغوی کیناستل نو خلقو عرض اوکړو دا د یوې انصاری زنانه جنازه ده په دې هم جنازه اوکړئ ﴿ وعلیها نعش احضر ﴾ چه په هغې کښې باندې د شین رنګ څادر وو ﴿ فقام عند عجیزتها ﴾ خلقو ترې نه تپوس اوکړو چه ایا رسول الله ﷺ به هم دغه شان مونځ کولو؟ یعنی څلور تکبیرونه او د سړی په جنازه کښې سر ته نزدې او د ښځې په جنازه کښې کوناټو ته نزدې؟ نو هغوی جواب ورکړو او! هم دغه شان به ئې کولو، د دې نه پس په روایت کښې بیا انس ﷺ د غزوه حنین یو خاص واقعه واوروله چه په هغې کښې دا دی چه په غزوه حنین کښې په شروع کښې مسلمانان تختیدلې وو او په کفارو کښې یو سړې داسې وو چه هغه په مسلمانانو کښې ډیره خونریزی کړې وه چه د

هغه په باره کښې يو صحابی نذر اومنلو چه که ما په دې کافر باندې قابو بيا موندله نو زه به ئې سراووهم، بيا چه کله په آخر کښې مسلمانانو ته فتح اوشوه او هغه کافران رسول اللهﷺ ته راوستلې کيدل د اسلام د بيعت دپاره نو په دې کښې دا کافر هم هغوی ته راغلو او د رسول اللهﷺ په لاس باندې ئې د بيعت کيدو اراده اوکړه خو رسول اللهﷺ قصدا د هغه د بيعت نه ايسار شو چه هغه صحابی خپل نذر پوره کړی، خو هغه صحابیؓ په دې انتظار کښې وو چه رسول اللهﷺ د هغه د قتل حکم اوفرمائی. او بغير د رسول اللهﷺ د اجازت ئې د هغه د قتل کولو همت پيدا نه شو. په دې کښې څه وقفه هم اوشوه چه کله رسول اللهﷺ اوکتل چه هغه صحابی هم هغه شان ولاړ دې او خپل نذر نه پوره کوی نو رسول اللهﷺ د هغه بيعت کولو سره هغه په اسلام کښې داخل کړو. په دې باندې هغه صحابیؓ عرض اوکړو يا رسول اللهﷺ زما د نذر به څه کيږی؟ رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه ما خپل لاس هم د دې دپاره خو بند کړې وو د بيعت نه چه ته خپل نذر پوره کړې، نو هغه عرض اوکړو يا رسول اللهﷺ تاسو ماته په سترګو باندې اشاره ولې اونکړه؟ نو رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه نبی په خپلو سترګو سره دا قسم اشارې نه کوی چه په هغې کښې د ظاهر او باطن مطابقت نه وی. د دې قسم واقعه په کتاب الجهاد ﴿باب قتل الاسير ولا يعرض عليه السلام﴾ کښې د عبدالله بن ابی السرح متعلق تيره شوې ده هلته د رسول اللهﷺ دا ارشاد تير شوې دې ﴿انه لا ينبغی ان تکون له خائنة الاعين﴾ او دلته د روايت الفاظ داسې دی ﴿انه ليس لنبی ان يومض﴾

په دې باندې هلته يو سوال او جواب هم تير شوې دې، دلته وړاندې په روايت کښې دی، ابو غالب وائی چه ما د خلقو نه تپوس اوکړو د انسؓ د عمل په باره کښې، يعنی د زنانه په جنازه کښې د هغې کوناټو ته نزدې اودريدل، نو هغوی دا بيان اوکړو چه هغوی داسې څکه اوکړل چه په هغه زمانه کښې به د زنانه په جنازو باندې جنګله نه وه په دې وجه به امام د هغې کوناټو ته اودريدو د پردې دپاره، په دې باندې حضرت په بذل کښې ليکلې دی چه د دې نه معلومه چه د زنانه په جنازه کښې د امام قيام حيال عجيزتها خلاف اصل او د عارض په وجه دې، او اصل محل د دې سينه دې، خو چونکه صدر او سر دواړه نزدې نزدې دی نو کيدې شی چه د لرې نه کتونکې دا اوګڼړی چه سر ته نزدې ولاړ وی په دې وجه ئې ﴿عند راسه﴾ اووې، خو ... د خلقو په دې جواب باندې اشکال دې چه دلته خو په روايت کښې تصريح ده د جنګلې کيدو ﴿وعليها نعش احضر﴾ نو د هغې توجيه دا کيدې شی چه اصل خبره خو هم هغه ده کومه چه خلقو بيان کړه خو انسؓ چونکه مطلقا د قيام حيال عجيزتها قائل وو په دې وجه هغوی سره د جنګلې داسې اوکړل

والحديث اخرجه الترمذی وابن ماجة، قاله المنذری

....

[٣١٩٥]([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ الْمُعَلِّمُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، قَالَ: صَلَّيْتُ وَرَاءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى امْرَأَةٍ مَاتَتْ فِي نِفَاسِهَا، فَقَامَ عَلَيْهَا لِلصَّلَاةِ وَسَطَهَا".

دسمرة بن جندب رضی الله عنه نه روايت دي فرمائي چه ماد نبي عليه السلام په اقتداء كښې د يوې ښځې جنازه وكړه كومه چه دنفاس په حالت كښې مړه شوې وه نبي عليه السلام دهغې دجنازې دپاره دنيمائي حصې په برابر اودريدو.

قوله: ﴿ عن سمرة بن جندب رضی الله عنه........ فقام عليها للصلوة وسطها ﴾

زمونږ استاد مولانا امير احمد كاندهلوی رحمه الله به فرمائيل چه دا حديث د احنافو خلاف نه دي ځكه چه سينه هم وسط دې په دې لحاظ سره چه د سينې د لاندې هم دوه اندامونه دي بطن او ركبتين (ځپې) او پورته هم دوه اندامونه دی سر او څنګلې، او كه څوک د پيمائش په اعتبار سره اشكال اوكړي نو مونږ به وايو چه دواړه لاسونه دې سر طرف ته اوچتولو سره خوارۀ كړې شي بيا به په پيمائش كښې برابر والې اوشي. دا جواب خو بس يو لطيفه ده.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

بَابُ التَّكْبِيرِ عَلَى الْجَنَازَةِ

د جنازې د تكبيرونو بيان

د جنازې په مونځ كښې په عدد د تكبيراتو كښې روايات مختلف دی، قاضي عياض فرمائي، چه د صحابه كرامو رضی الله عنهم آثار په دې كښې د دريو نه واخله تر نهو پورې دی، خو روستو په څلورو باندې د فقهاء او اهل فتوی اجماع منعقد شوه د احاديث صحيحه په بناء، او زما په علم كښې نشته چه د يو فقيه په نزد په دې كښې پنځه تكبيرونه وی سوا د ابن ابی ليلی نه (بذل) په حديث الباب كښې د صلوة علی القبر ذكر دې، په صلوة علی القبر باندې وړاندې مستقل باب راروان دې.

[٣١٩٦]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، قَالَ: أَخْبَرَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا إِسْحَاقَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَرَّ بِقَبْرٍ رَطْبٍ، فَصَفُّوا عَلَيْهِ، وَكَبَّرَ عَلَيْهِ أَرْبَعًا"، فَقُلْتُ لِلشَّعْبِيِّ: مَنْ حَدَّثَكَ؟ قَالَ: الثِّقَةُ مَنْ شَهِدَهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ.

دشعبي رحمه الله نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام په يو تازه قبر باندې تيريدونو نبي عليه السلام اودريدو او صحابه كرامو صفونه جوړ كړل او څلور تكبيرونه ئې ووئيل. ابواسحاق وئيلی دی چه دشعبي نه مې تپوس وكړو چه دا حديث درته چا بيان كړې دې نو وئې وئيل چه يو ثقه (معتبر) كس راته بيان كړی دی يعنی ابن عباس كه څوک چه دغلته په دغه وخت كښې موجود وو.

[1]): صحيح البخاري/الحيض ٢٩ (٣٣٢)، والجنائز ٦٢ (١٣٣١)، ٦٣ (١٣٣٢)، صحيح مسلم/الجنائز ٢٧ (٩٦٤)، سنن الترمذي/الجنائز ٤٥ (١٠٣٥)، سنن النسائي/الحيض والاستحاضة ٢٥ (٣٩٣)، الجنائز ٧٣ (١٩٧٨)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٢١ (١٤٩٣)، (تحفة الأشراف: ٤٦٢٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤/٥، ١٩) (صحيح)

[2]): صحيح البخاري/الأذان ١٦١ (٨٥٧)، والجنائز ٥ (١٢٤٧)، ٥٤ (١٣١٩)، ٥٥ (١٣٢٢)، ٥٩ (١٣٢٦)، ٦٦ (١٣٣٦)، ٦٩ (١٣٤٠)، صحيح مسلم/الجنائز ٢٣ (٩٥٤)، سنن الترمذي/الجنائز ٤٧ (١٠٣٧)، سنن النسائي/الجنائز ٩٤ (٢٠٢٥)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٣٢ (١٥٣٠)، (تحفة الأشراف: ٥٧٦٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٢٤/١، ٢٨٣، ٣٣٨) (صحيح)

[٣١٩٧]()[١] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، قَالَ: "كَانَ زَيْدٌ يَعْنِي ابْنَ أَرْقَمَ يُكَبِّرُ عَلَى جَنَائِزِنَا أَرْبَعًا، وَإِنَّهُ كَبَّرَ عَلَى جَنَازَةٍ خَمْسًا، فَسَأَلْتُهُ، فَقَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَبِّرُهَا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَأَنَا لِحَدِيثِ ابْنِ الْمُثَنَّى أَتْقَنُ.

د ابن ابی لیلي نه روایت دې فرمائی چه زیدبن ارقمه به زمونږ په جنازوکښې څلور تکبیرونه وئیل اوهغه یوځل په یوه جنازه کښې پنځه تکبیرونه ووئیل موږ ترې تپوس وکړوچه تاخوبه مخکښې په جنازه کښې څلور تکبیرونه وئیل نن دې ولې پنځه وکړل؟نو وئې وئیل چه نبی عليه السلام به کله کله پنځه تکبیرونه هم وئیل. ابوداود وائی زما په نزد باندې دابن مثني روايت زيات محفوظ دې.

﴿عن ابن ابی لیلی قان کان زید یعنی ابن ارقم، یکبرعلی جنائزنا اربعا وانه کبر علی جنازة خمسا الخ﴾ ابن ابی لیلی چه د هغه مسلک پورته د قاضی عیاض په کلام کښې تیر شو د هغې ماخذ به هم دا روایت وی، او پورته دا تیر شوې دی چه په دې کښې اختلاف د شروع نه دې روستو په څلورو تکبیرونو باندې اجماع شوې وه.

والحدیث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

بَابُ مَا يُقْرَأُ عَلَى الْجَنَازَةِ

د جنازې په مونځ کښې څه لوستل پکار دي؟

[٣١٩٨]()[٢] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَوْفٍ، قَالَ: "صَلَّيْتُ مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ عَلَى جَنَازَةٍ، فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، فَقَالَ: إِنَّهَا مِنَ السُّنَّةِ".

دطلحه بن عبد الله بن عوف رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دابن عباس سره مې د یوې جنازې مونځ کړونوسورة فاتحه ئې په جنازه کښې اولوستله او وئې ئیل چه دا سنت عمل دی.

قوله: ﴿ صليت مع ابن عباس رضي الله عنهما على جنازة فقرأ بفاتحة الكتاب، فقال انها من السنة ﴾ د جنازې په مونځ کښې د احنافو او مالکیانو په نزد د فاتحې قراءت نشته، د امام شافعی رحمه الله او احمد په نزد شته، زمونږ فقهاء کرام فرمائی ﴿ والآثار فی عدمها اکثر ﴾ یعنی په نفی د قرأت کښې آثار ډیر دی په نسبت د ثبوت، د احنافو په نزد سورة فاتحه د ثناء په نیت لوستلي شی د قرأت په نیت نه.

د صلوة جنازه ارکان د ائمه اربعه په نزد څه څه دی د هغې تفصیل په اوجز کښې ذکر شوې دی، د احنافو مذهب په دې کښې دا لیکلې شوې دې چه د هغوی په نزد صرف دوه ارکان دی تکبیرات اربعه او قیام، لهذا په ناسته بغیر د عذر نه جائز نه دې صرف په تکبیر اولی کښې دې رفع یدین اوکړې شی او ثناء دې اولوستلې شی، او د دویم تکبیر نه پس دې په

[١]: صحیح مسلم/الجنائز ٢٣ (٩٦١)، سنن الترمذي/الجنائز ٣٧ (١٠٢٣)، سنن النسائي/الجنائز ٧٦ (١٩٨٤)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٢٥ (١٥٠٥)، (تحفة الأشراف: ٣٦٧١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦٨/٤، ٣٧٠، ٣٧١، ٣٧٢) (صحيح)

[٢]: صحیح البخاري/الجنائز ٦٥ (١٣٣٥)، سنن الترمذي/الجنائز ٣٩ (١٠٢٧)، سنن النسائي/الجنائز ٧٧ (١٩٨٩)، (تحفة الأشراف: ٥٧٦٤)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الجنائز ٢٢ (١٤٩٥) (صحيح)

نبی ﷺ درود او د دریم تکبیر نه پس دعا، او د څلور تکبیر نه پس سلام كذا فی الدر المختار، وقال ابن الهمام اما اركانها فالذی يفهم من كلامهم انها الدعاء والقيام والتكبير، الى آخر ما بسط، او قرأت فاتحه په کتب د شوافعو او حنابله کښې په ارکانو کښې شمير ده.

والحديث اخرجه البخاری والترمذی والنسائی، قاله المنذری

باب الدُّعَاءِ لِلْمَيِّتِ

د مړی دپاره د دعاء غوښتلو بيان

[۳۱۹۹](۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا صَلَّيْتُمْ عَلَى الْمَيِّتِ، فَأَخْلِصُوا لَهُ الدُّعَاءَ".

دابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رسول پاک ﷺ فرمائيلی دی: کله چه په مړي باندې دجنازې مونځ کوئ نودمړي دپاره په اخلاص سره دعاء اوغواړئ.

قوله: ﴿ اذا صليتم على الميت فاخلصوا له الدعاء ﴾

رسول الله ﷺ ارشاد فرمائی چه کله تاسو په يو مړی باندې مونځ کوئ نو د هغه دپاره په اخلاص دعا کوئ، اوس پاتې شوه دا چه څه دعا اوکړې شی د هغې ذکر په را روان روايت کښې راځی،والحديث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذری

قوله: ﴿ شهدت مروان سال اباهريرة كيف سمعت رسول الله ﷺ يصلی على الجنازة؟ قال امع الذی قلت؟ قال نعم قال كلام بينهما قبل ذلک ﴾

علی بن شماخ وائی چه زه مروان د مدينې طيبې امير سره موجود اوم په داسې حال کښې چه هغه تپوس اوکړو د ابوهريرة رضي الله عنه نه چه تا رسول الله ﷺ د جنازې په مانځه کښې په کومه دعا کولو باندې اوريدلې دې؟ د دې سوال جواب وړاندې را روان دې، خو د جواب نه مخکښې ابوهريرة رضي الله عنه هغه ته اوفرمائيل چه ته سره د دې چه ما نه تپوس کوئ کوم چه ما وئيلې وو او کيدې شی دا د خطاب صيغه وی، يعنی سره د هغې چه تا وئيلې وو، د دې تشريح راوی دا کوی چه د دې دواړو ترمينځه د دې نه مخکښې څه خبره پيښه شوې، هغې طرف ته اشاره ده نود ابوهريرة رضي الله عنه د کلام حاصل دا دې چه کومه خبره زما او ستا ترمينځه پيښه شوې وه د هغې تقاضه خودا وه چه تا زما نه تپوس نه وې کړې، مروان جواب ورکړو چه او سره د دې تپوس کوم، چه څه اوشو د حاجت په وخت خو رجوع کولې شی.

د جنازې په مانځه کښې چه کومې دعا ګانې راغلې دی

وړاندې د دې دعا بيان دې: ﴿ اللهم انت ربها وانت خلقتها وانت هديتها للاسلام وانت قبضت روحها وانت اعلم بسرها وعلانيتها جئنا شفعاء فاغفر له ﴾ او د موطاء په روايت کښې دی ابوسعيد مقبری د ابوهريرة رضي الله عنه نه تپوس اوکړو چه تاسو د جنازې مونځ څنګه کوئ نو

۱): سنن ابن ماجه/الجنائز ۲۳ (۱۴۹۷)، (تحفة الأشراف: ۱۴۹۹۳) (حسن)

هغوی اوفرمائيل چه زه د جنازې سره د مړی د کور نه څم بيا چه کله هغه مخامخ کيخودلې شی نو د تکبير اولی نه پس د الله پاک حمد او ثناء لولم او د دويم تکبير نه پس د الله پاک په نبی ﷺ باندې درود او سلام او د دريم تکبير نه پس دا لولم ﴿ اللهم عبدک وابن عبدک وابن امتک کان يشهد ان لا اله الا انت وان محمدا عبدک ورسولک وانت اعلم به، اللهم ان کان محسنا فزدنی فی احسانه وان کان مسيئا فتجاوز عن سيئاته، اللهم لا تحرمنا اجره ولا تفتنا بعده ﴾ د دې دعا په باره کښې په اوجز کښې ليکلې دی چه د مالکيانو په نزد دا د ابوهريره رضی الله عنه دعا لوستل مستحب دی لکه چه د هغوی په کتابونو کښې تصريح ده، او د احنافو په کتابونو کښې چه کومه دعا ذکر ده هغه په را روانو روايتونو کښې لږه په تفاوت سره را روانه ده، وفی الاوجز ٢٥٤/٢ وروی هذا الدعاء (يعنی کومه چه په کتب حنفيه کښې ده) ﴿عن ابی هريرة رضی الله عنه مرفوعا عند احمد والترمذی وابی داؤد وابن حبان والبيهقی الخ ﴾ او په شرح اقناع صفحه ١٨٩ کښې ليکلې دی چه کامله دعا دا ده او بيا هغوی د دې شروع هم د هغه دعا نه کړې ده کومه چه د احنافو په کتابونو کښې ده. د هغې نه پس څه نورې دعاګانې دی کومې چه د هم هغه دعا سره شاملولو باندې د هغوی په نزد لوستلې شی، او په صحيح مسلم ٣١١/١ کښې عوف بن مالک رضی الله عنه فرمائی چه مارسول الله ﷺ د جنازې په يو مونځ کښې په دې دعا لوستلو باندې واوريدو

: ﴿ اللهم اغفر له وارحمه وعافه واعف عنه واکرم نزله ووسع مدخله واغسله بالماء والثلج والبرد ونقه من الخطايا کما نقيت الثوب الابيض من الدنس، وابدله دارا خيرا من داره واهلا خيرا من اهله وزوجا خيرا من زوجه وادخله الجنة واعذه من عذاب القبر ومن عذاب النار ﴾ وراندې هغه فرمائی چه په دې دعا اوريدو سره ما دا غوښتنه اوکړه چه ارمان دا جنازه زما وې، او د حنابله په نزد لکه چه د هغوی په کتابونو کښې ليکلې شوې دی دعا دا ده: ﴿ اللهم اغفر لحينا وميتنا وشاهدنا وغائبنا وصغيرنا وکبيرنا وذکرنا وانثانا انک تعلم منقلبنا ومثوانا وانت علی کل شئ قدير، اللهم من احييته منا فاحييه علی الاسلام والسنة ومن توفيته فتوفه عليهما اللهم اغفرله وارحمه ﴾ ». ------

او د دې سره هغه دعا کومه چه د صحيح مسلم په حواله تيره شوه.

[٣٢٠١] (١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ مَرْوَانَ الرَّقِّيُّ، حَدَّثَنَا شُعَيْبٌ يَعْنِي ابْنَ إِسْحَاقَ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى جَنَازَةٍ، فَقَالَ: "اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا، وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا، وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا، وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا، اللَّهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِيمَانِ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِسْلَامِ، اللَّهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا أَجْرَهُ، وَلَا تُضِلَّنَا بَعْدَهُ".

د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائيلې چه نبی عليه السلام په يو مړې باندې د جنازې مونځ اوکړو او دادعائې وغوښتله: «اللَّهُمَّ اغفر لحينا وميتنا وصغيرنا وکبيرنا وذکرنا وأنثانا وشاهدنا وغائبنا اللَّهُمَّ من أحييته منا فأحيه على الإيمان ومن توفيته منا فتوفه على الإسلام اللَّهُمَّ لا تحرمنا أجره ولا

(١): سنن الترمذي/الجنائز ٣٨ (١٠٢٤)، (تحفة الأشراف: ١٥٣٨٥)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الجنائز ٧٧ (١٩٨٥)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٢٣ (١٤٩٩)، مسند احمد (٣٦٨/٢) (صحيح)

تضلنا بعده» یعنی اې الله بخښنه اوکړې زمونږه ژوندو او مړوته زمونږ وړو اولویوته زمونږه نارینه او زنانه ته زمونږه حاضرو اوغائبوته، اې الله په مونږ کښې چه دې څوک ژوندي پریخودلې دې نودایمان سره ئې ژوندې اوساتې او په مونږ کښې چه چاله وژنې نوهغه ته داسلام سره مرګ ورکړې اې الله ته مونږ له ددې داجرنه مخروم نه کړې اوددې نه پس خلقو له په فتنه کښې مبتلا نکړې.

قوله: ﴿عن ابی هریرة رضی الله عنه قال صلی رسول الله ﷺ علی جنازة فقال اللهم اغفر لحینا ومیتنا وصغیرنا وکبیرنا الخ وفی اخره اللهم لا تحرمنا اجره ولا تضلنا بعده﴾ حدیث شماخ اخرجه النسائی فی الیوم واللیلة، وحدیث ابی سلمة اخرجه الترمذی والنسائی، قاله المنذری

[۳۲۰۲](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ. ح وحَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا الْوَلِيدُ، وَحَدِيثُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَتَمُّ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ جُنَاحٍ، عَنْ يُونُسَ بْنِ مَيْسَرَةَ بْنِ حَلْبَسٍ، عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ، قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: "اللَّهُمَّ إِنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ فِي ذِمَّتِكَ، فَقِهِ فِتْنَةَ الْقَبْرِ، قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ: فِي ذِمَّتِكَ، وَحَبْلِ جِوَارِكَ، فَقِهِ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ، وَعَذَابِ النَّارِ، وَأَنْتَ أَهْلُ الْوَفَاءِ، وَالْحَمْدِ اللَّهُمَّ، فَاغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ، إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ". قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ، عَنْ مَرْوَانَ بْنِ جَنَاحٍ.

واثلة بن اسقع نه روایت دې چه رسول الله ﷺ مونږ ته دیوجنازې مونږ راکړو دیو مسلمان دپاره نوما ترې واوریدل چه فرمائیل ئې: «اللَّهُمَّ إن فلان بن فلان في ذمتك فقه فتنة القبر» "یعنی اې الله یقینادفلانې بچې ستا په پناه کښې دې ته ورته دقبردعذاب نه نجات ورکړې اوددوزخ دعذاب نه ورته نجات ورکړې بائې داسې اوفرمائیل ستاپه ذمه اوستا په پناه کښې دې یعنی په دې وجه چه هغه بنده په تاایمان لرلو اوته دغه بنده له دقبردفتنې یعنی دعذاب نه نجات ورکړې، د عبدالرحمن په روایت کښې داسې دې: چه دابنده ستاپه پناه کښې درکړې شوې دې ته ده له دقبردفتنې اوعذاب ددوزخ نه بچ کړې اوته وفاء کونکې ئې یعنی دبندګانوسره چه کومه وعده کوې هغه پوره کوې اوته دحق مالك ئې اې الله دې بنده ته مغفرت اوکړې او په ده باندې رحم اوکړې یقیناته بخشش کونکې او مهربان ئې عبدالرحمن دمروان نه دا روایت په صیغه دعن سره نقل کړې دې.

﴿عن واثلة بن الاسقع رضی الله عنه قال صلی بنا رسول الله ﷺ علی رجل من المسلمین فسمعته یقول: اللهم ان فلان ابن فلان فی ذمتک وحبل جوارک فقه من فتنة القبر وعذاب النار وانت اهل الوفاء والحق اللهم فاغفرله وارحمه انک انت الغفور الرحیم﴾ اخرجه ابن ماجة، قاله المنذری

بَابُ الصَّلَاةِ عَلَى الْقَبْرِ

په قبر باندې د جنازې کولو بیان

په دې مسئله کښې مذاهب ائمة:

د صلوة علی القبر مسئله مختلف فیه ده، د شوافعو او حنابله په نزد مطلقا جائز ده، د مالکیانو په نزد علی المشهور ناجائز ده، او هم دا د احنافو مذهب دې لکه چه په شروحو

---

١): سنن ابن ماجه/الجنائز ۲۳ (۱۴۹۹)، (تحفة الأشراف: ۱۱۷۵۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۹۱/۳) (صحیح)

کښې دی، ففی الاوجز عن الزرقانی : واما الصلوة علی القبر فقال بمشروعیته الجمهور منهم الشافعی واحمد وابن وهب ومالک فی روایة شاذة، والمشهور عنه منعه، وبه قال ابوحنیفة والنخعی وجماعة، وعنهم ان دفن قبل الصلوة شرع والا فلا آهـ وقال الابی فی الاکمال : مشهور قول مالک المنع، والشاذ جوازها فیمن دفن بغیر صلوة آهـ د امام مالک رحمه الله چه کوم قول شاذ دې هم هغه د احنافو مذهب دې ففی الهدایة ان دفن المیت ولم یصل علیه صلی علی قبره لان النبی ﷺ صلی علی قبر امراة من الانصار، ویصلی علیه قبل ان یتفسخ، والمعتبر فی معرفة ذلک اکبر الرائ هو الصحیح، لاختلاف الحال والزمان والمکان، وفی هامشه احتراز عما روی فی الامالی عن ابی یوسف رحمه الله انه یصلی علی المیت فی القبر الی ثلاثة ایام آهـ

ګویا د مالکیانو مشهور قول دا شو چه مطلقا ناجائز دې او د احنافو په نزد صلوة علی القبر په دې صورت کښې جائز دې چه مړې بغیر د صلوة نه دفن کړې شوې وی، او دا چه تر کومې پورې پرې د جنازې مونځ کولې شی؟ په دې کښې یو روایت دا دې چه تر درې ورځو پورې، او دویم قول کوم چه صاحب الهدایة غوره کړې دې مالم ینتفخ ولم یتفسخ، یعنی چه ترڅو پورې غالب ګمان دا وی چه د مړی بدن چاودلې نه وی او بدبویه شوې نه وی، تر هغه وخته پورې پرې کولې شی.

کوم خلق چه مطلقا د جواز قائل دی د هغوی په نزد په دې کښې هم اختلاف دې چه تر کومې پرې کولې شی،د امام اسحاق اواحمد په نزد تر یومیاشتې پورې،اود شوافعو په دې کښې مختلف روایتونه دی منها کقول احمد، ومنها الی ثلاثة ایام، ومنها ما لم یبل جسده (اوجز ۲/)

[۳۲۰۳] (۱) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَمُسَدَّدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: "أَنَّ امْرَأَةً سَوْدَاءَ، أَوْ رَجُلًا، كَانَ يَقُمُّ الْمَسْجِدَ، فَفَقَدَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَأَلَ عَنْهُ، فَقِيلَ: مَاتَ، فَقَالَ: "أَلَا آذَنْتُمُونِي بِهِ؟"، قَالَ: دُلُّونِي عَلَى قَبْرِهِ، فَدَلُّوهُ، فَصَلَّى عَلَيْهِ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یوه تورنسل والا ښځه اوکه سړې چه په جومات کښې به ئې جارو وهله نویوه ورځ نبی ﷺ اونه لیدو نودخلقونه ئې تپوس اوکړو چه ایا هغه مړشوې خونه دې خلقو ورته اووئیل چه مړدې نبی ﷺ اوفرمائیل ماته موخبر ولې نه وو راکړې؟ ماته دهغه قبر وښائي خلقو ورته دقبرپه باره کښې معلومات ورکړو نبی ﷺ دهغه قبرته لاړو اوجنازه ئې ورباندې اوکړه.

په حدیث الباب کښې د روایاتو اختلاف :

قوله: ﴿عن ابی هریرة رضی الله عنه ان امراة سوداء او رجلا کان یقم المسجد فقده النبی ﷺ فسأل عنه فقیل مات، فقالا الا اذنتمونی به، قال دلونی علی قبره فدلوه فصلی علیه﴾

په حاشیه د بذل کښې حضرت شیخ لیکلې دی قال الحافظ فی الفتح ۳۷۱/۱ ان الشک من ثابت والصواب امراة اسمها خرقاء وکنیتها ام محجن الخ، وقال ایضا ۷۵/۳ المذکور فی حدیث ابن

(۱): صحیح البخاري/الصلاة ۷٤ (٤٥٨)، صحیح مسلم/الجنائز ۲۳ (۹۵٦)، سنن ابن ماجه/الجنائز ۳۲ (۱۵۲۷)، (تحفة الأشراف: ۱٤٦٥۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۳۵۳، ۳۸۸، ٤۰٦) (صحیح)

عباس رضي الله عنهما بلفظ مات انسان كان ﷺ يعوده وهو طلحة بن البراء رضي الله عنه ووهم من قال بالاول لتغاير القصتين وكذا قال العينى آهـ...

او د موطاء په روايت کښې دی. ﴿من حديث ابى امامة سهل بن حنيف ان مسكينة مرضت فاخبر رسول الله ﷺ بمرضها فقال رسول الله ﷺ اذا ماتت فآذنوني بها فخرج بجنازتها ليلا فكرهوا ان يوقظوا رسول الله ﷺ، فلما اصبح رسول الله ﷺ اخبر بالذى كان من شانها (بعد سواله عنها كما فى رواية ابن ابى شيبة) فقال الم آمر كم ان توذنوني بها فقالوا يا رسول الله ﷺ كرهنا ان نخرجك ليلا ونوقظك الحديث، قال ابن عبدالبر هذا الحديث روى من وجوه كثيرة عن البنى ﷺ كلها ثابتة من حديث ابى هريرة وعامر بن ربيعة وابن عباس وانس رضي الله عنهم آهـ

وكتب الشيخ فى (الأوجز) قوله ان مسكينة وفى حديث ابى هريرة فى الصحيحين وغيرهما ان رجلا اسود او امراة سوداء كان يقم المسجد الى آخر ما بسط.

د حديث مضمون دا دې ابوهريرة رضي الله عنه فرمائي چه يوه توره زنانه، يا سړې (د راوی شک دې) چه په مسجد کښې به ئې جارو وهله، قم يقم مرادف دې د کنس يکنس، قمامة وائی کناسه ته يعنې خزلې لره جارو باندې يو ځائې ته جمع کړې شوه، يو ورځ چه رسول الله ﷺ هغه اونه ليده نو د هغې په باره کښې ئې سوال اوفرمائيلو نو خلقو عرض اوکړو چه هغه خو د شپې وفات شوې دې، يعنې دفن کړې شوې دې، رسول الله ﷺ اوفرمائيل تاسو زه د هغه نه خبر ولې نه کړم؟ او بيا ئې اوفرمائيل چه ما ته د هغه قبر اوښايئ چه کوم ځائې دې؟ صحابه کرامو رضي الله عنهم رسول الله ﷺ ته د هغه قبر اوښودلو، رسول الله ﷺ پرې اودريدو او مونځ ئې پرې اوکړو.

پورته دا د موطاء روايت کښې تير شو چه رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته داسې فرمائيلې وو چه د هغه د مرګ خبر ماته اوکړئ، خو صحابه کرامو رضي الله عنهم هم په دې خيال رسول الله ﷺ ته خبر ورنکړو چه په شپه کښې هغوی ته تکليف او نه رسی،

بهرحال دا حديث د احنافو او مالکيانو خلاف دې، په دې حديث باندې پوره کلام زما په يو تقرير کښې داسې لکيلې شوې دې، د مفيد کيدو د وجې نه نقل کولې شی، په هغې کښې ليکلې شوې دی : د شوافعو او حنابلو په نزد قبر باندې مونځ مطلقا کولې شی، اوس دا چه د کله پورې؟ په دې کښې روايات مختلف دی، د امام احمد رحمه الله په نزد زيات نه زيات ــــ تريومياشتې پورې،اود شوافعو په دې کښې متعدد اقوال دی، د هغې نو يو خو هم دا دې، او يو قول دې الى ثلاثة ايام، وقيل ما لم تبل الجنة، ابن عبدالبر وائی چه په دې باندې اجماع ده چه د ډيرې مودې د تيريدو نه پس به نه کولې کولې خو يو قول دا هم دې يجوز الى الابد.

د احنافو د طرف نه د حديث الباب توجيه :

د احنافو او مالکيانو د طرف نه د دې روايت جواب د دې چه دا د رسول الله ﷺ خصوصيت دې کومو صحابه کرامو رضي الله عنهم چه د رسول الله ﷺ سره مونځ اوکړو هغوی تبعا اوکړلو، او دليل د خصوصيت دا دې چه د صحيح مسلم په روايت کښې يو زيادت دې هغه دا چه رسول

اللهﷺ اوفرمائيل: ﴿ان هذه القبور مملوءة ظلمة وان الله ينورها بصلاتی عليها﴾ يعنی دا قبرونه بالکل تيارهٔ وی او بيشکه زما په هغوی باندې زما د جنازې د مانځه د وجې نه هغه روښانه کوی، صحيح جواب هم دا دې، هسې يو جواب دا هم ورکړې شوې دې چه چونکه رسول اللهﷺ صحابه کرامو رضی الله عنهم ته د اطلاع کولو حکم فرمائيلې وو او هغوی اطلاع نه وه کړې نو ګويا هغه ړومبې مونځ صحيح شو، او يو جواب دا هم ورکړې شوې دې چه رسول اللهﷺ هغه وسره وعده کړې وه پس دا په منزله د نذر شو، دا جواب ابی په شرح د مسلم کښې ورکړې دې، اول ئې صحيح ګرزولی دې، او يو جواب د احنافو د طرف نه بعضو دا هم کړې دې چه په عموم بلوی کښې اخبار احاد معتبر نه دی، او امام مالک رحمه الله دا جواب هم ورکړې دې چه په دې باندې عمل د اهل مدينه نشته، ابن الهمام وئيلې دی چه دا حديث زمونږ خلاف دې مګر دا چه اوئيلې شی چه هغه به بغير د مانځه نه دفن کړې شوې وی، خو دا خبره د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه مستبعد ده. آهـ من الاوجز

والحديث اخرجه البخاری ومسلم وابن ماجة. قاله المنذری

بَابٌ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْمُسْلِمِ يَمُوتُ فِي بِلَادِ الشِّرْكِ

کوم مسلمانان چه د مشرکانو په ملک کښې مړه شی په هغوی د جنازې کولو بيان

او امام ترمذی باب قائم کړې دې باب صلوة النبیﷺ علی النجاشی، د مصنف رحمه الله اشاره هم اګر چه هم دې طرف ته ده خو په وصف عام سره چه د نجاشی خصوصيت اونګنړلې شی، ګويا په دې باب کښې مصنف د صلوة علی الغائب حکم بيانوی، په دې کښې هم دغه اختلاف دې کوم چه په ړومبی باب کښې وو، د شوافعو او حنابله په نزد دا جائز دې، د احنافو او مالکيانو په نزد ناجائز، د ابن تيميه مسلک په دې کښې دا دې چه د کوم مسلمان وفات په دار الحرب کښې اوشی د هغه غائبانه د جنازې مونځ په دار الاسلام کښې کيدې شی، او هم دا هغه قيد دې کوم چه مصنف رحمه الله په ترجمة الباب کښې ذکر کړې دې، او د بعض علماء کرامو (ابن حبان) په نزد دا په هغه صورت کښې ده چه کله مړې د قبلې په جهت کښې وی او که د مړی علاقه قبلې طرف ته نه وی نو جائز نه دې.

[۳۲۰۴]([1]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، قَالَ: قَرَأْتُ عَلَى مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَعَى لِلنَّاسِ النَّجَاشِيَّ فِي الْيَوْمِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ، وَخَرَجَ بِهِمْ إِلَى الْمُصَلَّى، فَصَفَّ بِهِمْ، وَكَبَّرَ أَرْبَعَ تَكْبِيرَاتٍ".

دابوهريره نه روايت دې فرمائی چه په کومه ورځ د نجاشی (حبشی بادشاه) مړشو نو صحابه کرامو نبی عليه السلام ته د هغه دمرګ خبر ورکړونبی عليه السلام دصحابه کرامو سره عيدګاه ته لاړونبی عليه السلام دخلقو سره صفونه جوړ کړل او څلور تکبيرونه ئې اووئيل.

[1]): صحيح البخاري/الجنائز ٦٠ (١٣٣٤)، ومناقب الأنصار ٣٨ (٣٨٨٠)، صحيح مسلم/الجنائز ٢٢ (٩٥١)، سنن النسائي/الجنائز ٧٢ (١٩٧٣)، (تحفة الأشراف: ١٣٢٣٢)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/ الجنائز ٥ (١٤)، مسند احمد (٢/٤٣٨، ٤٣٩) (صحيح)

قوله: ﴿عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم نعی للناس النجاشی فی الیوم الذی مات فیه وخرج بهم الی المصلی فصف بهم وکبر اربعا تکبیرات﴾

د نجاشی رضی الله عنه نوم اصحمه وو، خو نجاشی لقب دې د حبشه د هر یو بادشاه د هغوی وفات په ۹ هجری کښې اوشو کما فی الخمیس والتلقیح، وقال ابن الاثیر : اسلم فی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم وتوفی ببلاده قبل فتح مکة آهـ مختصرا (عون)، د هغوی ذکر په کتاب الطهارت باب المسح علی الخفین کښې تیر شوې دې.

په حدیث الباب کښې دا دی چه په کومه ورځ نجاشی شاه حبشه رضی الله عنه وفات شو هم په هغه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو رضی الله عنهم ته د هغوی د وفات خبر ورکړو، او رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو رضی الله عنهم سره مصلی ته تشریف یوړو او په صحابه کرامو رضی الله عنهم باندې ئې باقاعده صفونه جوړ کړل او د جنازې مونځ ئې ادا کړو د څلورو تکبیرونو سره.

د مصلی نه مراد په حدیث کښې مصلی عیدین نه دی بلکه هغه ځائې مراد دې کوم چه د جنازې د مانځه د کولو دپاره معین وو، یعنی په بقیع الغرقد کښ، دا حدیث د احنافو او مالکیانو خلاف دې کوم چه د ﴿ صلوة علی الغائب ﴾ قائل نه دی، مختصرا د دې دوه جوابونه دی: ۱: د رسول الله صلی الله علیه وسلم خصوصیت دې، پس د بعض روایتونو نه معلومیږی چه ټول حجابات د هغوی د مخې نه لرې کړې شوې وو او ګویا جنازه بالکل د هغوی مخې ته وه، او ښکاره خبره ده چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه علاوه دا څیز چاته هم نشی حاصلیدې. ۲: یا دې داسې اوئیلې شی چه دا د نجاشی رضی الله عنه خصوصیت وو ځکه چه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه د نجاشی نه علاوه په بل غائب مړی باندې د جنازې مونځ کول ثابت نه دی [1]، والحدیث اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي، وابن ماجة. قاله المنذري.

[۳۲۰۵] (۲) حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ يَعْنِي ابْنَ جَعْفَرٍ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَنْطَلِقَ إِلَى أَرْضِ النَّجَاشِيِّ، فَذَكَرَ حَدِيثَهُ، قَالَ النَّجَاشِيُّ: أَشْهَدُ أَنَّهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَنَّهُ الَّذِي بَشَّرَ بِهِ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ، وَلَوْلَا مَا أَنَا فِيهِ مِنَ الْمُلْكِ، لَأَتَيْتُهُ حَتَّى أَحْمِلَ نَعْلَيْهِ".

ابوبرده دخپل پلارنه روایت کوی چه نبی علیه السلام مونږ ته حکم کړې وو چه مونږه دې د نجاشي ملك ته لاړ شو اوبیا ئې دنجاشي واقعه بیان کړه نجاشي اووئیل زه ګواهي ورکوم ددې خبرې چه محمد دالله رسول دې او محمدهغه کس دې دچاپه باره کښې چه عیسي علیه السلام زیرې ورکړې وو، اوکه چرې زه د بادشاهي په کارونو کښې مشغول نوې نو همدا اوس به زه هغه ته تلې وم اودهغه پیزار به مې ګرځول.

---

[1] کذا اتذکر من بعض الاساتذة لکن ذکر صاحب عون المعبود : روي انه صلی الله علیه وسلم صلي علي اربعة من الصحابة الاول النجاشي، وقصته في الکتب الستة وغیرها، والثاني معاویة بن معاویة المزني والثالث والرابع زید بن حارثة وجعفر بن ابي طالب، ثم بسط الروایات في ذلك، وفیه بعد ذکر الرویات والکلام علیها : والحاصل ان الامر کما قال الحافظ ابن عبدالبر والبیهقي والذهبي ان اسانید هذه الاحادیث لیست بالقویة ولکن فیه تفصیل وهو الي آخر ما ذکر)

[2] تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹۱۱۷) (صحیح الإسناد)

قوله: ﴿عن ابی بردة عن ابیه قال امرنا رسول الله ﷺ ان ننطلق الی ارض النجاشی، فذكر حدیثه﴾ ابوبرده د خپل پلار ابوموسی اشعری رضی الله عنه نه نقل کوی چه رسول الله ﷺ مونږ ته حکم فرمائیلې وو د هجرت الی الحبشه یعنی د مکې مکرمې نه، د هغې نه پس به د هغوی پلار هغوی ته د هجرت تفصیلات بیان کړی وی کوم چه د مصنف رحمه الله د غرض نه بیل څیز دې هم په دې وجه مصنف رحمه الله حدیث لره مختصر کولو سره اوفرمائیل، فذكر حدیثه د دې نجاشی رضی الله عنه واقعات د مسلمانانو سره داحسان اوحسن سلوک د تاریخ په کتابونو کښې مشهور دی.

په حدیث الباب کښې د هغوی د اسلام راوړلو ذکر دې هغه دا چه هغوی اووې زه ګواهي ورکوم د دې خبرې چه محمد ﷺ د الله پاک رسول دې او دا هم چه هغه نبی آخر الزمان دې د کوم بشارت چه عیسی بن مریم علیه السلام ورکړې وو، او د اسلام راوړلو په وخت ئې دا هم اووې ﴿ولولا ما انا فیه من الملک لاتیته حتی احمل نعلیه﴾ په دې کښې هغوی د خپل ترک هجرت الی المدینة عذر بیان کړې دې چه که په دې بادشاهت او حکومت کښې چه زه پکښې دې وخت یم که د دې په عوارضو او لوازمو کښې نه وې اخته نو ما به مدینې طیبې ته هجرت کړې وې او د هغوی په خدمت کښې به حاضر شوې وې تر دې چه د رسول الله ﷺ د نعلین شریفین د اوچتولو (او په خپل سر باندې د کیخودلو) سعادت به مې حاصل کړې وې، رضی الله تعالی عنه وارضاه وجعل الجنة مثواه

کوم بادشاه چه زمونږ د نبی ﷺ داسې تعریف کوی او په هغوی باندې خپل ځان قربانوی مونږ لره هم د هغوی سره محبت کول پکار دی، اګر چه رسول الله ﷺ ته د یو بادشاه یا د مخلوق د تعریف کولو او منقبت بیانولو حاجت نشته . که چه د رسول الله ﷺ تعریف کونکې خو خپله رب العلمین دې، صلی الله علیه وسلم وشرف وکرم وقر وعظم

بَابٌ فِي جَمْعِ الْمَوْتَى فِي قَبْرٍ وَالْقَبْرُ يُعَلَّمُ

ډیر مړی په یو قبر کښې ښخول او په قبر باندې د نشان لګولو بیان

[۳۲۰۶](۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ سَالِمٍ. ح وحَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ الْفَضْلِ السِّجِسْتَانِيُّ، حَدَّثَنَا حَاتِمٌ يَعْنِي ابْنَ إِسْمَاعِيلَ، بِمَعْنَاهُ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ زَيْدٍ الْمَدَنِيِّ، عَنِ الْمُطَّلِبِ، قَالَ: لَمَّا مَاتَ عُثْمَانُ بْنُ مَظْعُونٍ، أُخْرِجَ بِجَنَازَتِهِ فَدُفِنَ، أَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا أَنْ يَأْتِيَهُ بِحَجَرٍ، فَلَمْ يَسْتَطِعْ حَمْلَهُ، فَقَامَ إِلَيْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَحَسَرَ عَنْ ذِرَاعَيْهِ، قَالَ كَثِيرٌ: قَالَ الْمُطَّلِبُ: قَالَ الَّذِي يُخْبِرُنِي ذَلِكَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِ ذِرَاعَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ حَسَرَ عَنْهُمَا، ثُمَّ حَمَلَهَا فَوَضَعَهَا عِنْدَ رَأْسِهِ، وَقَالَ: أَتَعَلَّمُ بِهَا قَبْرَ أَخِي، وَأَدْفِنُ إِلَيْهِ مَنْ مَاتَ مِنْ أَهْلِي".

د مطلب نه روایت دې فرمائی هرکله چه عثمان بن مظعون وفات شو اودهغه جنازه پورته کړې شوه اودفن کړې شونبی علیه السلام یوکس ته حکم اوکړو چه یوه ګټه راوړه نوهغه کس هغه ګټه نشوه اوچتولې نبی علیه السلام ورپاڅیدو ددواړه لاسونو لوستونړې ئې ونغښتل، مطلب وائی چاچه دنبی علیه السلام دا واقعه بیان کړې ده هغه وئیلی دی چه ګویا کښې زه اوس هم دنبی

---

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٦٧٢) (حسن)

ﷺ د دواړو لاسونو سپین والی وینم چه دواړه متی ئې نغښتلې وې او کاڼړې یې اوچت کړې وو او د عثمان په قبر کښې ئې دهغه د سر طرف ته ئې کیخودلې وو او فرمائیلی ئې وو: اې قبره تاته خبرشته چه داکس زما ورور ئې اوزما په خاندان کښې چه څوك هم وفات کیږي نو دلته به ئې دده په خوا و شاه کښې دفن کوم.

په دې باب کښې مصنف رحمه الله چه کوم حدیث ذکر کړې دې د هغې مضمون دا دې چه کله د عثمان بن مظعون رضی الله عنه وفات اوشو کوم چه د رسول الله ﷺ رضاعی رور وو، نو چه کله هغه دفن کړې شو نو رسول الله ﷺ یو صحابی ته حکم اوفرمائیلو چه یو لوئې کاڼړې راوړئ هغه لاړو خو هغوی اوچت نه کړې شو، په دې باندې رسول الله ﷺ پخپله تشریف یوړو او رسول الله ﷺ خپل لستوڼړی مبارك اوچت کړل او هغه کاڼړې ئې اوچت کړو او د عثمان بن مضعون رضی الله عنه سر ته ئې هغه کیخودلو او وې فرمائیل چه دا زه د علامت په طور ږدم، او دا ئې هم اوفرمائیل او هم ده ته نزدې به نور خپلوان دفن کوم د دې نه معلومه شوه چه د قبر سر ته د نخښې په طور یو کاڼړې وغیره کیخودل مناسب دی، او دا هم معلومه شوه چه که د یو خاندان او کورنۍ خلق په یو ځائې کښې دفن کړې شی نو غوره ده. په ترجمة الباب کښې دوه اجزاء وو، اعلام قبر یعنی په قبر باندې یو نخښه لګول، او دویم جزء جمع الموتی فی قبر دې، د حدیث الباب نه جزء ثانی خو ثابتیږی، د جزء اول په ثبوت کښې اشکال دې، خو دا چه اوئیلې شی چه په ترجمة کښې د قبر نه مراد قبرستان او مقبره ده. ځکه چه په بعض نسخو کښې هم دغه شان دی ، فلا اشکال حینئذ

بَابٌ فِي الْحَفَّارِ يَجِدُ الْعَظْمَ هَلْ يَتَنَكَّبُ ذَلِكَ الْمَكَانَ

قبر کنستونکی چه کله د بل مړی هډوکی بیامومی نو ماتوی دې نه بلکه بل چرته دې قبر جوړ کړی دفن دې کړی

یعنی که قبر کنستو والا یو قبر کنی او بیا په هغه ځائې کښې د یو مړی هډوکې راوخی نو آیا هغه ځائې پریخودلو سره دې بل ځائې قبر اوکنی؟

[٣٢٠٧](١) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ سَعْدٍ يَعْنِي ابْنَ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "كَسْرُ عَظْمِ الْمَيِّتِ، كَكَسْرِهِ حَيًّا".

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی: دمړي هډوکی ماتول داسې دي لکه د ژوندی انسان هډوکی ماتول

﴿ کسر عظم المیت ککسره حیا ﴾

عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د مړی هډوکی ماتول داسې بده ګناه ده لکه د ژوندی هډوکی ماتول

د دې حدیث نه دومره خو معلومیږی چه قبر کنستلو والا ته پکار دی چه دا هډوکې دې مات نه کړی خو پوره ترجمة الباب د دې نه نه ثابتیږی، خو د دې حدیث چه کوم سبب

(١): سنن ابن ماجه/الجنائز ٦٣ (١٦١٦)، (تحفة الأشراف: ١٧٨٩٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٥٨، ١٠٠، ١٠٥، ١٦٨، ٢٠٠، ٢٦٤) (صحیح)

دي په کومه موقع باندې چه رسول اللهﷺ دا حديث بيان فرمائيلي وو د هغې نه د ترجمة الباب حکم معلوميږي، او هغه روايت دا دې کوم حضرت په بذل کښې د درجات مرقاة الصعود نه نقل کړې دې هغه دا چه جابرؓ فرمائي چه يو ځل مونږ د رسول اللهﷺ سره د يوې جنازې سره قبرستان ته لاړو، چه مونږ هلته اورسيدو نو قبر کنستلې کيدو رسول اللهﷺ د قبر په غاړه باندې کيناستلو، قبر کنستلو والا يو هډوکې راويستلو او رسول اللهﷺ ته ئې اوښودلو چه ماتولو ئې نو رسول اللهﷺ د هغې د ماتولو نه منع اوفرمائيله وذکر ما فی حديث الباب، او دا ئې هم اوفرمائيل چه دا هډوکې هم په دې قبر کښې يو طرف ته ښخ کړه، د دې نه د ترجمة الباب حکم معلوم شو چه بل ځائې کښې د قبر کنستلو ضرورت نشته، بلکه هم هلته دې دا هډوکې پټ کړې شي، خو په احترام سره مات دې نه کړې شي، والحديث اخرجه ابن ماجة، قاله المنذري

باب في اللَّحْدِ

د لحد (بغلی) قبر جوړولو بيان

[۳۲۰۸] (۱) حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَكَّامُ بْنُ سَلْمٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ الْأَعْلَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اللَّحْدُ لَنَا، وَالشَّقُّ لِغَيْرِنَا".

دعبدالله بن عباس ؓ نه روايت دی - فرمائی چه نبی ﷺ فرمائيلي دي: لحد زمونږ دپاره دي اوشق دنورو خلقودپاره وي.

قوله: (اللحد لنا والشق لغيرنا) دقبر دوه قسمونه دی لحد اوشق، شق خو هغه دې کوم چه زمونږ په علاقه کښې رواج دې يعنی نيغ قبر، او لحد د ترخ والا قبر د شق کولو نه پس د قبلې طرف ته يو غار شان کنستلې شي، او بيا مړې په هغې کښې ږدلې شي، د شا د طرف نه هغه بندولې شي، د کوم ځائې زمکه چه سخته وی هلته دا قبر جوړيدې شي، جائز دواړه قسمه دی، په صحابه کرامو ؓ کښې يو صحابی لاحد وو يعنی لحد به ئې جوړولو ---- ابوطلحه انصاری ؓ، او يو صحابی شقاق وو هغه به شق جوړولو يعنی ابوعبيدة بن الجراح ؓ

(د لنا او غيرنا نه مراد)

(لنا) نه مراد مومنان د امت محمديةﷺ او د **(غيرنا)** نه مراد مومنانو د امم سابقه، او مطلب دا دې چه مونږ لحد اختيارو هغه زمونږ دپاره اولی دې د شق په مقابله کښې، په دې صورت کښې د دې نه مقصود د لحد فضيلت بيانول دی، د شق نه منع مقصود نه ده ځکه چه ابوعبيده ؓ به سره د خپل جلالت شان نه په دين او امانت کښې، دا کار کولو، بله دا چه که شق ممنوع وې نو صحابه کرامو ؓ به د رسول اللهﷺ د قبر په باره کښې دا فيصله نه فرمائيله چه په لاحد او شقاق دواړو کښې چه کوم وړاندې راشي هم هغه به اختياروَلې شي، او د مسند احمد په يو روايت کښې دی **(اللحد لنا والشق لغيرنا من اهل الکتاب)** شيخ

۱): سنن الترمذي/الجنائز ۵۳ (۱۰۴۵)، سنن النسائي/الجنائز ۸۵ (۲۰۱۱)، سنن ابن ماجه/الجنائز ۳۹ (۱۵۵٤)، (تحفة الأشراف: ۵۵٤۲) (صحيح)

عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله فرمائی چه که مراد د لنا نه مسلمانان او د لغيرنا نه يهود او نصاری وی نو بيا خو په دې صورت کښې د لحد فضيلت بلکه د شق په کراهت باندې د دې حديث دلالت ښکاره دې او که مراد د لغيرنا نه امم سابقه دی نو په دې کښې صرف اشاره ده د لحد افضليت طرف ته (عون المعبود) او وئيلې شوې دی چه په لنا کښې د ضمير د جمع نه خپله د متکلم ذات دې يعنی لی يعنی رسول الله ﷺ د خپل ځان په باره کښې فرمائی چه زه د خپل ځان دپاره لحد غوره کوم، او د غيرنا نه مراد نور خلق. ففی الاوجز ۲: قال الطيبی يمكن ان يكون عليه الصلاة والسلام عنى بضمير الجمع نفسه اى اوثر لى اللحد وهو اخبار عن الكائن فيكون معجزة، قال السيد هذا التوجيه بعيد جدا لقوله علية الصلوة والسلام الشق لغيرنا، او د دې نه پس ئې يو احتمال دا ليکلې دې چه د لنا نه مراد معاشر الانبياء يعنی اللحد لنا معاشر الانبياء والشق جائز لغيرنا آهـ والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

بَابٌ كَمْ يَدْخُلُ الْقَبْرَ

څو کسان به مړې قبر ته کوزوی؟

يعنی مړی ته په قبر کښې د کيخودلو دپاره څومره سړی کوز شی.

[۳۲۰۹]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ عَامِرٍ، قَالَ: "غَسَّلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيٌّ، وَالْفَضْلُ، وَأُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، وَهُمْ أَدْخَلُوهُ قَبْرَهُ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُرَحَّبٌ، أَوِ ابْنُ أَبِي مُرَحَّبٍ، أَنَّهُمْ أَدْخَلُوا مَعَهُمْ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ، فَلَمَّا فَرَغَ عَلِيٌّ، قَالَ: إِنَّمَا يَلِي الرَّجُلَ أَهْلُهُ".

د عامر شعبي نه روايت دې فرمائی چه علي كرم الله وجهه اوفضل بن عباس او اسامه بن زيد رسول پاك صلي الله عليه وسلم ته غسل ورکړل اوهم دوی قبرته کوزکړو، مرحب يا ابن أبی مرحب وئيلی دی چه دوی دځان سره عبدالرحمن بن عوف هم ملګري کړي وو، کله چه دوی دنبی ﷺ دتدفين نه فارغ شول نوعلي هارفرمائيل دهر سړی خدمت دهغه دکورخلق کوي.

﴿ عن عامر قال غسل رسول الله ﷺ على والفضل واسامة بن زيد وهم ادخلوه قبره ﴾

يعنی رسول الله ﷺ ته غسل ورکونکی دا درې حضرات وو، علی، فضل بن عباس او اسامة بن زيد رضی الله عنهم او هم دې کسانو رسول الله ﷺ قبر ته کوز کړې وو، او وراندې په يو روايت کښې دی چه دې درې واړو خپل ځان سره عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه هم شامل کړې وو، يعنی اصل خو دا درې کسان وو چه د کور وو او دوی ضرورة عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه هم شامل کړې وو، ﴿ قال على انما يلی الرجل اهله ﴾ يعنی کله چه د رسول الله ﷺ د تدفين نه دا حضرات فارغ شو نو چونکه نور لوئې لوئې حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم ځان قربانونکی موجود وو کوم چه په دې عمل کښې شريک شوې نه وو يعنی په غسل او قبر ته کوزولو کښې نو په دې وجه علی رضی الله عنه د معذرت په طور دا جمله اوفرمائيله چه مړی لره د هغه د کور خلق دفن کوی، مطلب خو ښکاره دې چه دا فرمائيل غواړی چه د دې کار کونکی مونږ په دې وجه نه يو چه مونږ د نورو نه افضل نه يو، بلکه وجه دا ده کومه چه هغوی بيان

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٢٤٦) (صحيح)

اوفرمائیله، اصل کښې دا مقام مقام د تنافس وو، او د ډیر شرف څیز وو کوم چه الله پاک هغوی ته نصیب اوفرمائیلو اهل بیت کښې د کیدو د وجې نه.

[۳۲۱۰][1] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ أَبِي مَرْحَبٍ، "أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ نَزَلَ فِي قَبْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِمْ أَرْبَعَةً".

د ابو مرحب نه روایت دې فرمائی چه عبد الرحمن بن عوف دنبی ﷺ قبر ته کوزشوې وو او وئیل ئې چه ګویا کښې هغه څلور کسان زه اوس هم وینم (علي کرم الله وجهه اوفضل بن عباس او اسامه بن زید او عبدالرحمن بن عوف).

د څلورو سړو قبر ته کوزیدل کوم چه زمونږ رواج دې یعنی شق په دې کښې خو ګران دې خو په لحد کښې ګنجائش وی.

بَابٌ فِي الْمَيِّتِ يُدْخَلُ مِنْ قِبَلِ رِجْلَيْهِ

مړې به قبر ته د خپو د اړخه داخلولې شي

یعنی د مړی په قبر کښې د کوزولو کیفیت څه کیدل پکار دی؟ په دې کښې دوه مذاهب دی یو هغه کوم چه احنافو اختیار کړې دې چه مړې دې قبر ته د قبلې د طرف نه کوز کړې شی یعنی د مړی کټ دې د قبر نبی طرف ته په دې عرض کیخودلې شی او بیا دې د هغه پوره بدن یو شان په دې کښې داخل کړې شی، دویمه طریقه دا ده کومه چه شوافعو او حنابله اختیار کړې ده کومه چه حدیث الباب کښې ده چه مړې لره قبر ته د خپو د طرف نه داخلول اولی دی په دې صورت کښې دې د مړی کټ د قبر خپو طرف ته اوږد کیخودلې شی او بیا به په مزه مزه د سر د طرف نه قبر ته داخل کړې شی او په دې کښې یوه دریمه طریقه دا ده کوم چه د امام شافعی رحمه الله یو قول دې چه مړې دې قبر ته د قبر د سر د طرف نه داخل کړې شی، لهذا دا درې اقوال شو، كذا فی العون عن سبل السلام،

علامه شوکانی رحمه الله د احنافو وغیره په دلیل کښې دا لیکلې دی چه ﴿ انه يسر ﴾ چه دا طریقه د داخلولو زیاته آسانه ده او دا ئې هم وئیلې دی چه د سنت اتباع غوره ده د رائې نه، خو صاحب د سبل السلام وئیلې دی چه دا خبره نه ده قلت بل ورد النص فانه اخرج الترمذی من حديث ابن عباس رضی الله عنهما ما هو نص فی ادخال الميت من قبل القبلة وانه حديث حسن فيستفاد من المجموع انه فعل مخير فيه آه په حاشیه د هدایه کښې حضرت مولانا محمد حسن سنبهلی رحمه الله دا تخیر د امام مالک او اهل ظواهر مذهب لیکلې دې، یعنی د هغوی په نزد اختیار دې او دواړه برابر دی، دا حدیث د ابن عباس رضی الله عنهما کوم ته چه صاحب د السبل اشاره کړې ده هغه دې کوم چه امام ترمذی رحمه الله په باب ما جآء فی الدفن بالليل کښې ذکر فرمائیلې دې،

﴿ عن ابن عباس رضی الله عنهما ان النبی ﷺ دخل قبرا ليلا فاسرج له سرج فاخذه من قبل القبلة وقال رحمك الله ان كنت لاواها تلاء للقران وكبر عليه اربعا ﴾ قال ابو عيسى حديث ابن عباس رضی الله عنهما حديث حسن قد ذهب بعض اهل العلم الى هذا وقال يدخل الميت القبر من قبل القبلة، وقال بعضهم يسل سلا آه.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۲٤٦) (صحيح)

(نبی کریم ﷺ قبر ته څنګه کوز کړې شو؟)

اوس پاتې شوه دا مسئله چه خپله رسول الله ﷺ د کوم طرف نه داخل کړې شوې وو، نو په دې سلسله کښې روایت مختلف دی پس په بیهقی کښې دی په روایت د ابن عباس او ابن مسعود رضی الله عنهم انهم ادخلوا النبی ﷺ من قبل القبلة، لکن ضعفه البیهقی او په مسند شافعی رحمه الله کښې دی ان رسول الله ﷺ سل من قبل راسه، او په مراسیل دابی داؤد کښې دی عن النخعی انه علیه السلام ادخل من قبل القبلة ولم یستل سلا (زیلعی ۲۹۹/۲) وفی الهدایة : ویدخل المیت مما یلی القبلة خلافا للشافعی فان عنده یسل سلا، لما روی انه ﷺ سل سلا ولنا ان جانب القبلة معظم فیستحب الادخال منه، واضطربت الروایات فی ادخال النبی ﷺ آهـ د رسول الله ﷺ په باره کښې چه دا یو قول دې د سل د دې یو جواب زمونږ په نزد د بعض علماء کرامو نه دا منقول دې چه په حجره شریفه کښې چه په کوم ځائې کښې هغوی دفن کړې شوې دی په هغې کښې د قبلې طرف ته د دیوال د نزدې والی د وجې نه ګنجائش نه وو چه کټ هغه طرف ته کېخودلې شوې وې، والله تعالی اعلم بالصواب په دې موضوع باندې د مولانا عبدالحی رحمه الله یو مستقل تالیف دې، ﴿ کشف الستر عن ادخال المیت فی القبر ﴾

[۳۲۱۱]([1]) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: "أَوْصَى الْحَارِثُ أَنْ يُصَلِّيَ عَلَيْهِ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ، فَصَلَّى عَلَيْهِ، ثُمَّ أَدْخَلَهُ الْقَبْرَ مِنْ قِبَلِ رِجْلَيِ الْقَبْرِ، وَقَالَ: هَذَا مِنَ السُّنَّةِ".

دابواسحاق نه روایت دې فرمائی چه حارث داوصیت کړې ووچه عبدالله بن یزید به وربانديې جنازه کوي، نوهغه وربانديې جنازه وکړله اودخپودا ړخه ئې قبرته کوزکړو او وئې فرمائيل داسنت طریقه ده.

قوله: ﴿ اوصی الحارث ان یصلی علیه عبدالله بن یزید فصلی علیه ثم ادخله القبر من قبل رجلی القبر وقال هذا من السنة ﴾ امام ترمذی رحمه الله په دې مسئله باندې مستقل باب نه دې قائم کړې بلکه ﴿ باب الدفن باللیل ﴾ د لاندې ئې حدیث د ابن عباس رضی الله عنهما کوم چه مخکښې تیر شو ذکر فرمائیلو سره دا مسئله ضمنا هم په دې باب کښې بیان کړې ده، او په ابن ماجة کښې د دې مضمون دوه روایتونه ذکر شوې دی، عن ابی رافع قال سل رسول الله ﷺ سعد او رش علی قبره ماء، او دویم عن ابی سعید ان رسول الله ﷺ اخذ من قبل القبلة واستل استلالا..... او په یو نسخه کښې داسی دی : واستقبل استقبالا.

بَابٌ كَيْفَ يَجْلِسُ عِنْدَ الْقَبْرِ

د قبر سره ناسته په څه طریقه باندې پکار ده؟

[۳۲۱۲]([2]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنِ الْمِنْهَالِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ زَاذَانَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: "خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَانْتَهَيْنَا إِلَى

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹٦۷۵) (صحیح)

[2]): سنن النسائي/الجنائز ۸۱ (۲۰۰۳)، سنن ابن ماجه/الجنائز ۳۷ (۱۵٤۸)، (تحفة الأشراف: ۱۷۵۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۸۷/٤، ۲۹۵، ۲۹۷، ۲۹٦) ویأتي هذا الحدیث في السنة (٤۷۵۳، ٤۷۵٤) (صحیح)

الْقَبْرِ، وَلَمْ يُلْحَدْ بَعْدُ، فَجَلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ، وَجَلَسْنَا مَعَهُ".

د براء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه مونږ د نبی عليه السلام سره د يو انصاري جنازې ته لاړو قبر ته ورسيدو خو په دې وخت کښې قبر نه وو تيار شوې نو نبی عليه السلام (د قبر په خوا کښې) قبلې ته مخامخ کيناستو او مونږ هم ورسره کيناستو.

يعنى که په قبر تياريدو کښې وخت وی او هغه کښې کنستلې کيږی نو په داسې صورت کښې خلقو لره څه کول پکار دی، عام طور خلق په خبرو اترو او فضولياتو کښې اخته شی، په دې باره کښې په حديث الباب کښې دا دی سيدنا براء بن عازب رضي الله عنه فرمائی چه مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د يو انصاری صحابی جنازې د پاره قبرستان ته لاړو، قبر تر اوسه تيار شوې نه وو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم قبلې طرف ته خاموش کيناستلو، مونږ هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره هم هغه شان کيناستلو، په بذل کښې دی چه د نسائی په روايت کښې دا زيادت دې، ﴿ وجلسنا حوله كان على رؤسنا الطير ﴾ غوره دا ده چه دې موقعې لره غنيمت ګڼړلو سره د مړی د ايصال ثواب د پاره تلاوت اوکړې شی، د حضرت شيخ يوه لور وادهٔ شوې چه د هغې په ځوانئ کښې وفات اوشو او حضرت شيخ د جنازې سره قبرستان ته تشريف اوړې وو، قبر کنستلې کيدو خلق د يو سورى لاندې په انتظار کښې ناست وو، دا احقر هم د حضرت شيخ سره ناست وو نو حضرت ماته اووئيل چه سورة ياسين اولوله، او خپله ئې هم مسلسل لوستلو، يغفر الله تعالى لنا ولها. والحديث اخرجه النسائى وابن ماجة، قاله المنذرى

بَابٌ فِي الدُّعَاءِ لِلْمَيِّتِ إِذَا وُضِعَ فِي قَبْرِهِ

باب: مړي په قبر کښې د ايخودو په وخت د دعا بيان

[٣٢١٣](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ ح وحَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي الصِّدِّيقِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَانَ إِذَا وَضَعَ الْمَيِّتَ فِي الْقَبْرِ، قَالَ: بِسْمِ اللَّهِ، وَعَلَى سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"، هَذَا لَفْظُ مُسْلِمٍ.

دابن عمر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه کله به نبی عليه السلام مړې په قبر کښې کيخودو نو دا دعا به ئې ووئيله" بسم الله و على سنة رسول الله -صلى الله عليه وسلم" ابوداود وئيلی دی دا دمسلم بن ابراهيم د روايت الفاظ دي

يعنى مړی لره په قبر کښې د کيخودلو په وخت څه دعا کول پکار دی، په حديث الباب کښې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا معمول ذکر کړې شوې دې هغوی به په دې وخت کښې ﴿بسم الله وعلى سنة رسول الله ﴾ (صلى الله عليه وسلم) لوستل

والحديث اخرجه النسائى مسندا وموقوفا، قاله المنذرى

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٦٦٠)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الجنائز ٥٤ (١٠٤٦)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٣٨ (١٥٥٠)، مسند احمد (٢/٢٧، ٤٠، ٥٩، ٦٩، ١٢٧) (صحيح)

بَابُ الرَّجُلِ يَمُوتُ لَهُ قَرَابَةٌ مُشْرِكٌ

د کوم مسلمان چه کوم مشرک رشته دار مړشي نوڅه کول پکار دي؟

يعنى كه د يو مسلمان كافر خپلوان مړ شي نو څه به كوي!

[٣٢١٤](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنِي أَبُو إِسْحَاقَ، عَنْ نَاجِيَةَ بْنِ كَعْبٍ، عَنْ عَلِيٍّ عَلَيْهِ السَّلَامِ، قَالَ: قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ عَمَّكَ الشَّيْخَ الضَّالَّ قَدْ مَاتَ، قَالَ: اذْهَبْ فَوَارِ أَبَاكَ، ثُمَّ لَا تُحْدِثَنَّ شَيْئًا حَتَّى تَأْتِيَنِي، فَذَهَبْتُ فَوَارَيْتُهُ، وَجِئْتُهُ، فَأَمَرَنِي، فَاغْتَسَلْتُ وَدَعَا لِي".

د علی رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه عرض مې اوکړو اې دالله رسوله چه ستا بوډا تره په ګمراهئ کښې وفات شوې دې (دعلی رضي الله عنه والد محترم ابوطالب صاحب نبی عليه السلام اوفرمائيل لاړ شه خپل والد دفن کړه بيا راشه اوترڅوچه ماته نه ئې راغلې نو څه کارمه کوه، دې وائی چنانچه زه لاړم خپل پلاري دفن کړو بيا راغلم، نبی عليه السلام راته دغسل کولو حکم اوکړو ماغسل اوکړل اوزمادپاره ئې دعااوغوښتله.

قوله: ﴿عن علی رضي الله عنه قال قلت للنبی صلى الله عليه وسلم ان عمک الشيخ الضال قد مات الخ﴾ علی رضي الله عنه فرمائی چه ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ته عرض اوکړو چه ستاسو بوډا ګمراه ترهٔ وفات شو، په دې باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل: نو بيا لاړ شه او پلار دې ښخ کړه. او دا ئې هم اوفرمائيل د اهتمام په طور چه د ښخولو نه پس په بل څه کار کښې مشغول نه شې فورا راتلو سره ماته خبر راکړه (ثم لا تحدثن شيئا) دا د احداث نه دې چه د هغې معنى ده څه کار کول، هغه فرمائی چه زه فورا لاړم او دهغه د ښخولو نه پس رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلم نو هغوی ماته د غسل کولوحکم اوکړو، اوزمادپاره ئې دعا اوفرمائيله. والحديث اخرجه النسائی، قاله المنذری

بَابٌ فِي تَعْمِيقِ الْقَبْرِ

د قبر د ژورولو بيان

يعنى قبر څومره ژور کنستل پکار دې؟ قالت الحنفية : ان يعمق الى الصدر والا فالى السترة (بذل) وفی نور الايضاح او يحفر القبر نصف القامة او الى الصدر، وان يزد کان حسنا، او د امام شافعی رحمه الله په نزد د قامت په اندازه، وقال مالک لا حد لاعماقه (عون)

[٣٢١٥](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، أَنَّ سُلَيْمَانَ بْنَ الْمُغِيرَةِ حَدَّثَهُمْ، عَنْ حُمَيْدٍ يَعْنِي ابْنَ هِلَالٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: جَاءَتِ الْأَنْصَارُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ، فَقَالُوا: "أَصَابَنَا قَرْحٌ وَجَهْدٌ، فَكَيْفَ تَأْمُرُنَا؟، قَالَ: احْفِرُوا، وَأَوْسِعُوا، وَاجْعَلُوا الرَّجُلَيْنِ وَالثَّلَاثَةَ فِي الْقَبْرِ، قِيلَ: فَأَيُّهُمْ يُقَدَّمُ؟، قَالَ: أَكْثَرُهُمْ قُرْآنًا، قَالَ: أُصِيبَ أَبِي يَوْمَئِذٍ عَامِرٌ بَيْنَ اثْنَيْنِ، أَوْ قَالَ: وَاحِدٌ".

دهشام بن عامر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دغزوه احدپه ورځ انصار درسول الله په

(١): سنن النسائي/الجنائز ٨٤ (٢٠٠٨)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٨٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٩٧، ١٣١) (صحيح)

(١): سنن الترمذي/الجهاد ٣٣ (١٧١٣)، سنن النسائي/الجنائز ٨٦ (٢٠١٢)، ٨٧ (٢٠١٣)، ٩٠ (٢٠١٧)، ٩١ (٢٠٢٠)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٤١ (١٥٦٠)، (تحفة الأشراف: ١١٧٣١، ١٨٦٧٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/١٩، ٢٠) (صحيح)

خدمت کښې حاضر شول اوعرض ئې اوکړو چه اې الله رسوله مونږ زخمي شوي اوستړي شوي يو ايازمونږ دپاره څه حکم شته نبی ﷺ ورته اوفرمائيل قبرونه ازاد جوړوئ اوکه ضرورت وي نودوه دوه او درې درې کسان په يوقبر کښې دفن کړئ مونږ عرض اوکړو چه مونږ به کوم يوقبرته مخکښې کوزوو نبی ﷺ اوفرمائيل څوك چه دقرآن زيات عالم وي هشام وائی زماوالد عامرهم په دې ورځ شهيد شوي وو اودهغه سره يويادوه کسان دفن کړې شوي وو.

قوله: ﴿عن هشام بن عامر قال جاءت الانصار الى رسول اللهﷺ يوم احد فقالوا اصابنا قرح وجهد الخ﴾ يعنی په جنګ احد کښې د رسول اللهﷺ په خدمت کښې بعض انصار راغلل، او عرض ئې اوکړو يا رسول اللهﷺ تاسو ته معلومه ده چه مونږ زخميان يو او په تکليف کښې يو نو اوس څه کول پکار دی؟ يعنی اويا قبرونه کنستل ډير ګران کار دې نو په دې باندې رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه قبرونه ښه ژور او فراخه اوکنئ او دوه دوه او درې درې په يو يو قبر کښې دفن کړئ، هشام وائی چه زما پلار عامر هم په دې ورځ شهيد شوي وو چه د دوه کسانو ترمينځه دفن کړې شوې وو يوځائې، او د نسائی په روايت کښې دی ﴿فکان ابی ثالث ثلاثة فی قبر﴾ بغير د شك نه، يعنی په کوم قبر کښې چه زما پلار دفن کړې شوې وو په هغې کښې د هغوی نه علاوه دوه نور هم وو.

والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

[٣٢١٦]([1]) حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ يَعْنِي الْأَنْطَاكِيَّ، أَخْبَرَنَا أَبُو إِسْحَاق يَعْنِي الْفَزَارِيَّ، عَنِ الثَّوْرِيِّ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ زَادَ فِيهِ، وَأَعْمِقُوا.

د حميد بن هلال نه دتيرشوی روايت په شان روايت منقول دې البته په دې کښې دا اضافه ده چه قبر ژور وکنئ.

[٣٢١٧]([2]) .حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ يَعْنِي ابْنَ هِلَالٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامِ بْنِ عَامِرٍ، بِهَذَا الْحَدِيثِ.

ترجمه: دحضرت سعد بن هشام بن عامر نه هم دا حديث رانقل دې.

بَابٌ فِي تَسْوِيَةِ الْقَبْرِ

د قبر د برابرولو بيان

[٣٢١٨]([3]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا حَبِيبُ بْنُ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ أَبِي هَيَّاجٍ الْأَسَدِيِّ، قَالَ: بَعَثَنِي عَلِيٌّ، قَالَ لِي: "أَبْعَثُكَ عَلَى مَا بَعَثَنِي عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! أَنْ لَا أَدَعَ قَبْرًا مُشْرِفًا إِلَّا سَوَّيْتُهُ، وَلَا تِمْثَالًا إِلَّا طَمَسْتُهُ".

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١٧٣١، ١٨٦٧٦) (صحيح)

[2]: انظر حديث رقم: (٣٢١٥)، (تحفة الأشراف: ١١٧٣١، ١٨٦٧٦) (صحيح)

[3]: صحيح مسلم/الجنائز ٣١ (٩٦٩)، سنن الترمذي/الجنائز ٥٦ (١٠٤٩)، سنن النسائي/الجنائز ٩٩ (٢٠٣٣)، (تحفة الأشراف: ١٠٠٨٣)وقد أخرجه: مسند احمد (١/٩٦، ٨٩، ١١١، ١٢٨) (صحيح)

دابوهیاج اسدي نه روایت دي فرمائی چه علی رضی الله عنه اولیږلم اوراته ئې اوفرمائیل چه زه دي په داسې کار پسې لیږم په کوم پسې چه زه نبی علیه السلام لیږلې وم هغه دا چه زه به هیڅ یو لوړ قبر بغیرد برابرولونه نه پریږدم اوهیڅ یو تصویر به بغیر دضایع کولونه نه پریږدم.

﴿ عن ابی هیاج الاسدی قال بعثنی علی رضی الله عنه قال الی ابعثک علی ما بعثنی علیه رسول الله صلی الله علیه وسلم ان لا ادع قبرا مشرفا الا سویته ولا تمثالا الا طمسته ﴾

او هیاج اسدي وائی چه ما ته علی رضی الله عنه اوفرمائیل چه زه تا د هغه کار دپاره لیږم د کوم کار دپاره چه زه رسول الله صلی الله علیه وسلم لیږلې اوم بیا ئې وړاندې هغه کار بیان کړو چه څه دې. چه نه به پریږدم زه هیڅ یو قبر چه لوړ وی مګر دا چه هغه برابر کړم یعنی د زمکې سره، مراد ترې قرب دې، او نه به پریږدم یو تصویر هم مګر دا چه هغه ختم کړم.

په دې حدیث کښې د ارتفاع دقبر نه منع کړې شوې ده چه قبر دې زیات لوړ جوړ نه کړې شی، دا امر خو مجمع علیه دې چه قبر زیات اوچت نه دی جوړول پکار. زمکې ته نزدې لږ شان اوچتول پکار دی، قال النووی یرفع نحو شبر.

دویم څیز کوم چه په دې قبر کښې مذکور دې هغه تسویة القبر دې لکه چه په ترجمة الباب کښې دی، اوس دا خبره چه د تسویة نه مراد څه دې؟ جمهور وائی چه د دې نه مراد عدم الرفع الزائد دې چه زیات لوړ نه وی، او دویم قول په دې کښې دا دې چه د دې نه مراد تسطیح دې، یعنی قبر لره مسطح جوړول، دا مسئله مختلف فیه ده چه په قبر کښې تسنیم اولې دې یا تسطیح؟ ائمه ثلاث چه احناف هم پکښې دی د تسنیم دقبر قائل دی یعنی قبر مسنم یعنی د قب په شان کیدل پکار دی، امام شافعی رحمه الله فرمائی چه د قبر مسطح کیدل پکار دی.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر په باره کښې روایات مختلف دی، په هدایه کښې دی: ویسنم القبر ولا یسطح ای لا یربع لانه صلی الله علیه وسلم نهی عن تربیع القبور، من شاهد قبره اخبر انه مسنم، یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر کتونکو وئیلې دی چه هغه مسنم دې، قال الحافظ فی الدرایة: ویعارضه ما روی من عدة طرق من انها کانت مسطحة، ثم قال: وجمع بینهما الحاکم بانها کانت اولا کذالک ای مسطحة ثم لما سقط الجدارسنمت، یعنی حاکم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر په باره کښې په اختلاف د روایاتو کښې تطبیق داسې فرمائیلې دې چه په شروع کښې خو هغه مسطح وو (کما قال الشافعی) بیا چه کله په یو زمانه کښې (په خلافت د ولید بن عبدالملک او په امارة د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله) کښې د حجرې شریف دیوال اوغورځیدو نو هغه وخت مسنم جوړ کړې شوې وو، قلت واخرج البخاری فی صحیحه عن سفیان التمار انه رای قبر النبی صلی الله علیه وسلم مسنما آهـ (عون) والحدیث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی. قاله المنذری

[٣٢١٩](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، أَنَّ أَبَا عَلِيٍّ الْهَمْدَانِيَّ حَدَّثَهُ، قَالَ: "كُنَّا مَعَ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ بِرُودِسَ مِنْ أَرْضِ الرُّومِ، فَتُوُفِّيَ صَاحِبٌ لَنَا، فَأَمَرَ فَضَالَةُ بِقَبْرِهِ

(١): صحيح مسلم/الجنائز ٣١ (٩٦٨)، سنن النسائي/الجنائز ٩٩ (٢٠٣٢)، (تحفة الأشراف: ١١٠٢٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨/٦، ٢١) (صحيح)

فَسُوِّيَ، ثُمَّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُ بِتَسْوِيَتِهَا". قَالَ أَبُو دَاوُد: رُودِسُ جَزِيرَةٌ فِي الْبَحْرِ.

د ابوعلی همدانی نه روایت دې فرمائی چه مونږ دفضاله بن عبید سره د اسکندریه نزدې جزیره (رودس مقام کښې وو کوم چه په روم کښې واقع دې اوهلته زمونږ یو ملګرې وفات شو فضاله رضی الله عنه حکم اوکړو اودهغه قبر دزمکې سره برابر جوړ کړې شو دذې نه پس مابیا دنبی علیه السلام نه واوریدل چه د قبرونودبرابرولوحکم ئې کولو (یعنی دزمکې سره) نه چه دذې دلوړولو، ابوداود وائی رودس دسمندرسره د یوې جزیرې نوم دې.

قوله: ﴿ كما عند فضالة بن عبيد برودس بارض الروم الخ ﴾ ابو علی همدانی وائی چه مونږ د فضالة بن عبید رضی الله عنه سره وو په مقام روذس کښې چه په ملک د روم کښې دې، زمونږ د یو ملګرې وفات اوشو نو فضاله رضی الله عنه د هغه دپاره قبر جوړ کړو چه هغه ئې د زمکې نه زیات اوچت نه کړو (علی قول الجمهور) یا مسطح جوړ کړې شو غیر مسنم او فرمائی چه ما خپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واوریدل چه هغوی به هم د دې حکم فرمائیلو.

وړاندې مصنف رحمه الله فرمائی چه روذس یو جزیره ده په بحر روم کښې، د روذس په ضبط کښې هم کافی اختلاف دې چه بضم الراء دې یا بفتح الراء او د واؤ نه پس دال مهمله دې یا ذال معجمه، هسې دا هم هغه ځائې دې کوم چه په روډس مشهور دې د یورپ په علاقه کښې، والحدیث اخرجه مسلم والنسائی، قاله المنذری

[٣٢٢٠]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ بْنِ هَانِئٍ، عَنِ الْقَاسِمِ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ، فَقُلْتُ: يَا أُمَّهْ، اكْشِفِي لِي عَنْ قَبْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَاحِبَيْهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، فَكَشَفَتْ لِي عَنْ ثَلَاثَةِ قُبُورٍ، لَا مُشْرِفَةٍ وَلَا لَاطِئَةٍ، مَبْطُوحَةٍ بِبَطْحَاءِ الْعَرْصَةِ الْحَمْرَاءِ". قَالَ أَبُو عَلِيٍّ: "يُقَالُ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُقَدَّمٌ، وَأَبُو بَكْرٍ عِنْدَ رَأْسِهِ، وَعُمَرُ عِنْدَ رِجْلَيْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

دقاسم نه روایت دې فرمائی چه دام المومنین عائشې رضی الله عنها په خدمت کښې حاضرشوم اوعرض مې ورته اوکړو چه اې مورې ماته دنبی علیه السلام او دهغه ددوه ملګرو یعنی ابوبکر رضی الله عنه اوعمر رضی الله عنه قبرونوته مې پرېږده (یعنی هغه کمره راته کولاو کړه په کومه کښې چه د قبرونه موجود دې) دادرې واړه قبرونه دزمکې نه نه ډیر لوړ وو اونه دزمکې سره برابر وو بلکه دیوبالښت برابردزمکې نه پورته وو او سرې ګټې پرې خورې شوې وې ابوعلې وئیلی دی چه خلق وائی چه دنبی علیه السلام قبر دټولونه مخکښې دې اودسر مبارک سره ئې نزدې قبرد ابوبکر دې اودخپوسره ئې نزدې دعمرفاروق رضی الله عنه قبردې دعمرفاروق نه سر درسول پاک صلی الله علیه وسلم دخپونه لاندې دې.

﴿ عن القاسم قال دخلت علی عائشة رضی الله عنها فقلت یا امه اکشفی لی عن قبر رسول الله صلی الله علیه وسلم وصاحبیه رضی الله عنهما فکشفت لی عن ثلاثة قبور لا مشرفة ولا لاطئة مبطوحة ببطحاء العرصة الحمراء ﴾

شرح الحديث:

د عائشې رضی الله عنها وراره قاسم بن محمد فرمائی چه یو ځل عائشې رضی الله عنها ته لاړم (او چونکه هم د

---

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٥٤٦) (ضعيف)

هغې په حجره کښې د رسول الله ﷺ او شیخینو قبرونه دی چه د هغې طرف ته پرده پرته وه، اوهغې ته مې عرض اوکړو چه مورې! ماته د رسول الله ﷺ اودهغوی د صاحبینو رضی الله عنهما قبرونه اوښایئ، هغوی پرده لرې کړه (¹) نو ما درې قبرونه داسې اولیدل چه نه اوچت وو او نه زمکې سره بالکل برابر وو، چه په هغې باندې د مقام عرصه سره کانړې پراته وو، مبطوحه یعنی مفروشه، او عرصه د ځائې نوم دې او بطحاء په معنی د حصباء او الحمراء د بطحاء صفت دې.

﴿ قال ابو علي : يقال ان رسول الله ﷺ مقدم وابوبكر عند راسه وعمر عند رجليه، راسه عند رجلي رسول الله ﷺ ﴾ یعنی داسې!

عمر رضی الله عنه	رسول الله صلی الله علیه وسلم
	ابوبکر رضی الله عنه

او دویم قول په دې کښې دا دې چه د عمر رضی الله عنه قبر د صدیق اکبر رضی الله عنه قدمونو مبارکو سره برابر دې داسې!

	رسول الله صلی الله علیه وسلم
عمر رضی الله عنه	ابوبکر رضی الله عنه

بَابُ الِاسْتِغْفَارِ عِنْدَ الْقَبْرِ لِلْمَيِّتِ فِي وَقْتِ الِانْصِرَافِ

د تدفین نه پس د واپسۍ په وختکښې د مړي دپاره دبخښنې غوښتلو بیان

[۳۲۲۱](²) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بَحِيرٍ، عَنْ هَانِئٍ مَوْلَى عُثْمَانَ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِذَا فَرَغَ مِنْ دَفْنِ الْمَيِّتِ، وَقَفَ عَلَيْهِ، فَقَالَ: اسْتَغْفِرُوا لِأَخِيكُمْ، وَسَلُوا لَهُ بِالتَّثْبِيتِ، فَإِنَّهُ الْآنَ يُسْأَلُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: بَحِيرٌ ابْنُ رَيْسَانَ.

دعثمان بن عفان رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به کله دمړي ددفن کولونه فارغ شونودقبرسره به اودریدو او اوبه ئې فرمائیل: دخپل دي ورورد پاره مغفرت اوغواړی اودده دپاره داستقامت سوال وکړي ځکه چه اوس دده نه تپوس کیدې شی.

(¹) دا خو د هغه زمانې خبره ده چه د قبرونو طرف ته پرده پرته وه، روستو په دې حجره شریفه کښې مختلف زمانو کښې تعمیری تغیرات کیدل د سقوط حائط قصه هم پیښه شوه چه د هغې ذکر په صحیح بخاری ۱۸٦/۱ کښې هم دې. عمر بن عبدالعزیز رحمه الله د دې قبور ثلاثه نه ګیر چاپیره د اوچت دیوال احاطه کړې وه اوس خو دې قبرونو ته رسیدل هم ممکن پاتې نه شو.

(²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۹٤۰) (صحيح)

قوله: ﴿ عن عثمان بن عفان رضي الله عنه قال كان النبى صلى الله عليه وسلم اذا فرغ من دفن الميت وقف عليه فقال استغفروا لاخيكم واسالوا له بالتثبيت فانه الان يسئل ﴾

د تدفين نه پس د مړي دپاره دعا کول:

يعنی د رسول الله صلى الله عليه وسلم معمول وو چه کله به هغوی د مړی د دفن کولو نه فارغ کيدو نو په قبر باندې به د لږ ساعت دپاره اودريدو او فرمائيل به ئې چه د خپل رور دپاره استغفار او د تثبيت دعا اوکړئ ځکه چه د هغه نه به اوس تپوس کولې شي، "د تثبيت دعا اوکړئ" په دې کښې اشاره ده دې آيت کريمه طرف ته ﴿ يثبت الله الذين امنوا بالقول الثابت فى الحيوة الدنيا والآخرة ﴾ د قول ثابت نه مراد کلمه توحيد ده، زمونږ د شيخ رحمه الله وفات په مدينه طيبه کښې شوې وو او تدفين په جنت البقيع کښې اهل بيت ته نزدې، د دفن په وخت د مسجد نبوی ټه اُمامان هم موجود وو، د دفن د فراغت نه پس د مسجد نبوی امام شيخ عبدالله خربوش رحمه الله چه د قبر په غاړه تر آخره پورې ناست وو هغوی د رفع يدين سره جهراً د شيخ دپاره دعا اوفرمائيله او باقی اماماں د بقيع په دروازه باندې ولاړ وو او د ملاويدونکو سره ئې تعزيتی جملې استعمالولې، او هم دغه شان د حضرت شيخ کور والا مرحومه، مور د مولانا طلحه چه د هغوی وفات په نظام الدين دهلی کښې شوې وو او د مسجد په يو اړخ کښې ئې تدفين شوې وو، د تدفين نه پس مولانا انعام الحسن صاحب او مولانا افتخار الحسن صاحب کاندهلوی لږ ساعت په قبر باندې ولاړ وو او نور خلق هم، او حضرت جی د مولانا افتخار صاحب نه د تپوس پوښتنې نه بعد رفع يدين سره په خپل ځائې باندې ناست ناست دعا اوکړله، يغفرالله لنا ولهم

بَابُ كَرَاهِيَةِ الذَّبْحِ عِنْدَ الْقَبْرِ

د قبر په خوا کښې د ذبح کولو د ممانعت بيان

[۳۲۲۲](¹) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى الْبَلْخِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا عَقْرَ فِي الْإِسْلَامِ"، قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: كَانُوا يَعْقِرُونَ عِنْدَ الْقَبْرِ بَقَرَةً أَوْ شَاةً.

د انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائی دې: عقر به اسلام کښې نشته دې، عبد الرزاق وئيلی دی چه خلقو به دجاهليت په وخت کښې د قبرونو سره غواګانې او چيلۍ ذبح کولې (دېته عقر وئيلې شي کوم چه ممنوع دې)

﴿ عن انس رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لاعقر فى الاسلام ﴾

دا هم هغه حديث دې د کوم حواله چه مونږ په کتاب الاضحيه کښې ﴿ نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن معاقرة الاعراب ﴾ الحديث د لاندې ورکړې ده.

شرح الحديث:

ددې حديث تفسير خپله په کتاب کښې د راوی د طرف نه ذکر کړې شوې دې، ﴿ كانوا يعقرون عند القبر ﴾ يعنی د جاهليت په زمانه کښې به بعضو خلقو د يو لوئې سخی په قبر باندې يو

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٧٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٩٧/٣) (صحيح)

څاروي ذبح کولو سره پريخودلو غوا وغيره د درندګانو او مارغانو د ميلمستيا دپاره، چه څنګه به دوی د خلقو په خپل ژوند کښې ميلمستيا کوله هم دغه شان مونږ د مرګ نه پس هم د هغوی د طرف نه د څاروو د ضيافت انتظام اوکړو، او بعضو به په دې نيت باندې ذبح کوله کوم چه په هغوی کښې د بعث قائل وو چه د دې صاحب قبر حشر په دې څاروی باندې سوريدو سره اوشی د قيامت په ورځ، ﴿ والا فيبعث راجلا ﴾ يعنی که مونږ داسې اونکړو نو دې به پيدل ځی، هم د دې رسم جاهليت په ترديد کښې رسول الله ﷺ فرمائی ﴿ لا عقر فی الاسلام ﴾ په کتاب الاضحية کښې يو بل حديث تير شوې دې، ﴿ نهی رسول الله ﷺ عن شريطة الشيطان ﴾ دا حديث هم چونکه د ذبح متعلق دې په دې وجه مونږ په دې باندې تنبيه اوکړه چه د طالبانو په ذهن کښې وی دا احاديث، او په امتحان ورکولو کښې سهولت وی.

بَابُ الْمَيِّتِ يُصَلَّى عَلَى قَبْرِهِ بَعْدَ حِينٍ

د څه زمانې تيريدو نه پس په قبر باندې دجنازې کولو بيان

د دې نه مخکښې هم يو باب تير شوې دې، ﴿ باب الصلوة علی القبر ﴾ دلته د ﴿ بعد حين ﴾ قيد دې.

[۳۲۲۳] (¹) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَبِي الْخَيْرِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "خَرَجَ يَوْمًا، فَصَلَّى عَلَى أَهْلِ أُحُدٍ صَلَاتَهُ عَلَى الْمَيِّتِ، ثُمَّ انْصَرَفَ".

دعقبة بن عامر نه روايت دې فرمائی چه نبی کريم ﷺ يوه ورځ دمدينې نه بهر اووتلو او د احد دشهيدانو په قبرونو باندې ئې جنازه وکړله دعامو مړو دجنازې په شان او بيا واپس راغې.

قوله: ﴿ عن عقبة بن عامر رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ خرج يوما فصلی علی اهل احد صلاته علی الميت ثم انصرف ﴾ يعنی رسول الله ﷺ يو ځل د شهداء احد په قبرونو باندې هم دغه شان مونځ اوکړو څنګه چه په مړی کولې شی، او د هغې نه روستو په دويم بيان کښې دی چه دا مونځ رسول الله ﷺ اته کاله پس کړې وو ګويا په ۱۱ هجری کښې.

د دې حديث ذکر په ﴿ باب الشهيد يغسل ﴾ کښې د صلوة علی الشهيد په بحث کښې تير شوې دې، وړاندې په روايت کښې دی ﴿ کالمودع للاحياء والاموات ﴾ يعنی د رسول الله ﷺ د احد په شهيدانو باندې مونځ کول د دومره مودې نه پس او خپل وفات ته نزدې په طور د توديع او رخصت وو، د احياء توديع هم او د اموات توديع هم، د احياء توديع خو رسول الله ﷺ په حجة الوداع کښې بار بار اوفرمائيله ﴿ بقوله خذوا عنی مناسککم لعلی لا اراکم بعد عامی هذا ﴾ د حجة الوداع په ډيرو ځايونو باندې رسول الله ﷺ دا جمله ارشاد اوفرمائيله، دا خو شوه توديع داحياء او دا د شهداء احد په قبرونو باندې مونځ کول د امواتو توديع اوګڼړئ. والحديث اخرجه البخاری ومسلم، والنسائی، قاله المنذری

---

¹): صحيح البخاري/الجنائز ۷۲(۱۳۴۴)، والمناقب ۲۵ (۳۵۹۶)، والمغازي ۱۷ (۴۰۴۲)، ۲۷ (۴۰۸۵)، والرقاق ۷ (۶۴۲۶)، ۵۳ (۶۵۹۰)، صحيح مسلم/الفضائل ۹ (۲۲۹۶)، سنن النسائي/الجنائز ۶۱ (۱۹۵۶)، (تحفة الأشراف: ۹۹۵۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۴۹/۴، ۱۵۳، ۱۵۴) (صحيح)

[۳۲۲۴]([1]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ حَيْوَةَ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: "إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى عَلَى قَتْلَى أُحُدٍ بَعْدَ ثَمَانِ سِنِينَ، كَالْمُوَدِّعِ لِلْأَحْيَاءِ وَالْأَمْوَاتِ".

د يزيدبن ابي حبيب نه دتيرشوي روايت په شان روايت منقول دي فرمائي چه نبي عليه السلام داحد په شهيدانو باندې اته کاله پس دجنازې مونځ وکړو ګويا کښې چه نبي عليه السلام د مړو او ژوندو نه رخصتيږي

باب في البناء على القبر

په قبر باندې د تعمير جوړولو د مما نعت بيان

[۳۲۲۵]([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى أَنْ يُقْعَدَ عَلَى الْقَبْرِ، وَأَنْ يُقَصَّصَ، وَيُبْنَى عَلَيْهِ".

دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مې اوريدل دي چه منع ئې فرمائيلي وه په قبر دکيناستونه اودقبرد پخولونه او په قبرباندې دعمارت جوړولونه

شرح الحديث:

قوله: ﴿نهى ان يقعد على القبر وان يقصص ويبنى عليه﴾

يعنى منع فرمائيلې ده رسول الله صلى الله عليه وسلم په قبر باندې د ناستې نه، ځکه چه په هغې کښې د حق مسلم استخفاف دې او ترک حرمت دې، او وئيلې شوې دی چه د دې نه مراد جلوس عند القبر للاحداد دې، يعنى د غم کولو دپاره هم هلته ناست او د هغه ځائې نه خوزی نه. او وئيلې شوې دی چه د دې نه مراد جلوس للتغوط والحدث دې، يعنى په قبر باندې ناسته کولو سره استنجاء کول، دا د امام مالک رحمه الله طرف ته منسوب دې ([3]) احناف وائي چه مطلق جلوس خو مکروه تنزيهی دې، او لاجل الغائط حرام، د امام طحاوی رحمه الله نه هم د حديث معنی کښې قعود لاجل الحدث روايت کړې شوې دې.

وړاندې په حديث کښې دی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د تقصيص دقبر نه هم منع فرمائيلې ده، تقصيص په معنی د تجصيص، جص يعنی نوره او قصه يو څيز دې، يعنی قبر په چونې کلکول، قال الترمذی بعد تخريج الحديث : وقد رخص بعض اهل العلم منهم الحسن البصری فی

---

[1]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۹۹۵۶) (صحيح)

[2]): صحيح مسلم/الجنائز ۳۲ (۹۷۰)، سنن الترمذي/الجنائز ۵۸ (۱۰۵۲)، سنن النسائي/الجنائز ۹۶ (۲۰۲۹)، (تحفة الأشراف: ۲۲۷۴، ۲۷۹۶)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الجنائز ۴۳ (۱۵۶۲)، مسند احمد (۲۹۵/۳، ۳۳۲، ۳۹۹) (صحيح)

[3]) وفي الكوكب ۳۱۹/۱ قال بعضهم هو اي الجلوس علي ظاهره، وقال الطحاوي ان الامام لم يكره الجلوس مطلقا هو كناية عن قضاء الحاجة وقال هو المكروه عندنا الجلوس بمعناه المشهور آهـ وفي هامشه : ووافقه مالك فقال في الموطاء المراد بالقعود الحدث، وقال النووي هذا تاويل ضعيف او باطل، والصواب ان المراد بالقعود الجلوس وهو مذهب الشافعي وجمهور العلماء، وتعقب بان ما قاله مالك ثبت مرفوعا عن زيد بن ثابت رضي الله عنه قال انما نهي رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الجلوس علي القبر لحدث غائط او بول اخرجه الطحاوی، د دې نه پس ئې بيا د ازهار نه دا نقل کړی دی چه اولې دا ده چه دواړه دې ممنوع کړې شی، جلوس للحدث د تحريم دپاره او مطلق جلوس د تنزيه دپاره وهذا تفصيل حسن، قاله ابوالطيب)

تطيين القبور، وقال الشافعي لا باس ان يطين القبر، په حاشيه د كوكب كښې دى چه د احنافو په نزد هم د شوافعو په شان ممانعت د تجصيص قبر د دې د تطيين د قبر نه دې ففى شرح السراج للترمذى عن البرجندى : ينبغى ان لا يجصص القبر وما اتطيينه ففى الفتاوى المنصورية لا باس به خلافا لما يقوله الكرخي، وفى المضمرات، المختار انه لا يكره آهـ يعنى په ختې سره كه قبر ليو كړې شى نو په دې كښې هيڅ بدى نشته چه د قبر خاوره په ځائې باندې ولاړه وى، په هوا او بهيدو سره ضائع نه شى او دريم څيز په حديث كښې په قبر باندې د آبادئ كولو نه ممانعت دې، په بذل كښې ليكلي دى نقلا عن القارى چه نهى د بناء نه د كراهت دپاره ده په دې شرط چه هغه مقبره خپل ملک وى، او كه مقبره موقوفه وى نو په هغې كښې د حرمت دپاره دې، توريشتى وائى چه په بناء على القبر كښې دوه احتمالات دى يا خو دا چه په هغې باندې كاڼړى وغيره كيخودلې شى، دويم دا چه په قبر باندې خيمه قائم كړې شى او دا دواړه ممنوع دى لعدم الفائدة فيه.

[٣٢٢٦] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ مُوسَى، وَعَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ عُثْمَانُ: أَوْ يُزَادَ عَلَيْهِ، وَزَادَ سُلَيْمَانُ بْنُ مُوسَى: أَوْ أَنْ يُكْتَبَ عَلَيْهِ، وَلَمْ يَذْكُرْ مُسَدَّدٌ فِي حَدِيثِهِ: أَوْ يُزَادَ عَلَيْهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: خَفِيَ عَلَيَّ مِنْ حَدِيثِ مُسَدَّدٍ حَرْفُ وَأَنْ.

جابر بن عبدالله رضي الله عنه دتيررِوايت په شان روايت بيان كړي دي. امام ابوداود وئيلى دى چه دمسدد په روايت د ..وان،، لفظ ماته ظاهرنه كړې شو.

قوله: ﴿ نهى ان يقعد على القبر وان يقصص ويبنى عليه ﴾﴿ قال عثمان او يزاد عليه ﴾ يعنى د دې جملې زيادت د عثمان په روايت كښې دې د مسدد په روايت كښې نه دې، د دې جملې مطلب په ظاهر كښې دا دې چه د قبر په اوچتوالى كښې زيادت كول په مقدار دشبر سره، ﴿او ان يكتب عليه ﴾ يعنى په يو كاڼړى باندې د مړى نوم وغيره يا بل څيز د الله او رسول نوم د بركت دپاره ليكلو سره هلته نصب كول مناسب نه دى، قال ابوالطيب السندى فى شرح الترمذى: يحتمل النهى عن الكتابة مطلقا ككتابة اسم صاحب القبر وتاريخ وفاته، او كتابة شئ من القرآن واسماء الله تعالى ونحو ذلک للتبرک لاحتمال ان يوطا او يسقط على الارض فيصير تحت الارجل آهـ په حاشية د ترمذى كښې هم داسې ليكلي شوې دى چه دمنع علت د بې حرمتئ ويره ده لئلا يبول عليه كلب او غيره_ والحديث اخرجه مسلم والترمذى والنسائى وابن ماجة بنحوه.

[٣٢٢٧] (٢) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ، اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ".

دابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه رسول پاك صلي الله عليه وسلم فرمائيلى دى: يهوديان دې الله تعالى هلاك كړي دخپلو انبياؤ د قبرونونه ئې جوماتونه جوړ كړي دي.

(١): انظر ماقبله، (تحفة الأشراف: ٢٢٧٤، ٢٧٩٦) (صحيح)

(٢): صحيح البخاري/الصلاة ٥٤ (٤٣٧)، صحيح مسلم/المساجد ٣ (٥٣٠)، سنن النسائي/الجنائز ١٠٦ (٢٠٤٩)، (تحفة الأشراف: ١٣٢٣٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٤٦، ٢٦٠، ٢٨٤، ٢٨٥، ٣٦٦، ٣٩٦) (صحيح)

شرح الحديث:

قوله: ﴿ "قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ، اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ" ﴾ (١) يعنى الله پاک دې هلاک کړی يهود چه هغوی د خپلو انبياء کرامو ﷺ د قبرونو نه مسجدونه جوړ کړل. يا خو واقعة په قبر باندې مسجد جوړول مراد دی ځکه چه په قبر باندې مسجد جوړ کړې شي نو قبر به په مسجد کښې دننه راشي چه د هغې نه صلوة الى القبور لازميږی. او يا دا چه د بناء مسجد نه مراد هم دا دې قبور انبياء طرف ته مونځ کول والمصنف حمل الحديث على المعنى الاول كم يظهر من الترجمة، كتب الشيخ في البذل: لعنهم رسول الله ﷺ على ذلك لانه يشابه عبادة الاصنام آهـ دا حديث په صحيح مسلم کښې هم دې او په هغې کښې د يهود نه پس د نصارى زيادت دې، په دې باندې هم اشکال دې چه د انبياء دنصارى قبر په زمکه باندې چرته دې؟ د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه په يو روايت کښې د انبياءهم نه پس د ﴿ وصالحيهم ﴾ زيادت دې، په دغه زيادت سره اشکال حل کيږی، د انبياء تعلق به د يهودو سره شي او د صالحين تعلق به د نصارى سره. والحديث اخرجه مسلم والنسائي، قاله المنذرى

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ الْقُعُودِ عَلَى الْقَبْرِ

په قبر باندې د کيناستلو د ممانعت بيان

[٣٢٢٨](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، حَدَّثَنَا سُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَأَنْ يَجْلِسَ أَحَدُكُمْ عَلَى جَمْرَةٍ فَتُحْرِقَ ثِيَابَهُ حَتَّى تَخْلُصَ إِلَى جِلْدِهِ، خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَجْلِسَ عَلَى قَبْرٍ".

دابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رسول پاک صلي الله عليه وسلم فرمائيلی دی: که چرې يو کس په تاسو کښې داورپه سکرونه باندې کيني اوجامې ئې اوسوزي اوخرمني ته ئې اور ورسيږي نودده دپاره خه ده ددې نه چه دې په قبرباني کيني

﴿ لان يجلس احدكم على جمرة الخ ﴾ خو دا خبره چه په تاسو کښې يو انسان په سکروتو کيني او د هغه جامې اوسوزی او د هغې ضرر د هغه څرمنې ته اورسی دا غوره ده د دې نه چه هغه په قبر باندې کيني، يعنی د انجام اخروی په اعتبار سره

[٣٢٢٩](٣) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ يَعْنِي ابْنَ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ، عَنْ بُسْرِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ وَاثِلَةَ بْنَ الْأَسْقَعِ، يَقُولُ: سَمِعْتُ أَبَا مَرْثَدٍ الْغَنَوِيَّ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ

---

(١) قلت وفي الترمذي ص٤٣ لعن رسول الله ﷺ زائرات القبور والمتخذين عليها المساجد، وفي حديث الباب اتخذوا قبور انبيائهم مساجد فههنا امران اتخاذ المسجد علي القبر معناه ظاهر والامر الثاني اتخاذ القبر مسجدا، وهو يحتمل معنيين ان يسجد لله تعالي متوجها الي القبر تعظيما للقبر بحيث يجعله قبلة والثاني ان يسجد للقبر فالاول شرك خفي والثاني شرك جلي كذا يستفاد من الشروح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢٦٣٨)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الجنائز ٣٣ (٩٧١)، سنن النسائي/الجنائز ١٠٥ (٢٠٤٦)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٤٥ (١٥٦٦)، مسند احمد (٢/٣١١، ٣٨٩، ٤٤٤، ٥٢٨) (صحيح)

(٣): صحيح مسلم/الجنائز ٣٣ (٩٧٢)، سنن الترمذي/الجنائز ٥٧ (١٠٥٠)، سنن النسائي/القبلة ١١ (٧٦١)، (تحفة الأشراف: ١١١٦٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/١٣٥) (صحيح)

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَجْلِسُوا عَلَى الْقُبُورِ، وَلَا تُصَلُّوا إِلَيْهَا".

دابومرثد غنوي رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه درسول پاك صلي الله عليه وسلم نه مې اوريدلي چه فرمائيلي ئې وو: په قبرونو باندې مه کيني اومه قبرونوته مخامخ مونځ کوئ.اخرجه مسلم والنسائى وابن ماجة، قاله المنذرى

﴿ لا تجلسوا على القبور ولا تصلوا اليها ﴾ يعني نه خو په قبرونو باندې ناسته کولو سره د هغې بې حرمتى کوئ او نه هغې طرف ته مونځ کولو سره د هغې بې ځايه تعظيم، د افراط او تفريط دواړو نه ځان بچ کړئ، په جلوس على القبر باندې کلام په تير شوى باب کښې تير شوې دې.اخرجه مسلم والترمذى والنسائى، قاله المنذرى

بَابُ الْمَشْيِ فِي النَّعْلِ بَيْنَ الْقُبُورِ

دپيزارسره په قبرونوباندې د ګرځيدوبيان

د امام احمد رحمه الله په نزد په قبرستان کښې د څپلو سره ګرځيدل مکروه دى، او د ابن حزم ظاهرى رحمه الله په نزد نعل سبتى په خپو کولو سره تلل مکروه دى، ځکه چه په حديث کښې چه کوم منع ده هغه په سبتى پيزار باندې دې، او د جمهور علماء کرامو او ائمهٔ ثلاثه په نزد په قبرستان کښې د څپلو سره ګرځيدل بغير د کراهت نه جائز دى، مصنف رحمه الله په دې باب کښې دوه احاديث ذکر کړې دى د ړومبى حديث نه د حنابله د مسلک تائيد کيږى، او د دويم حديث نه د جمهورو د مسلک يعني د جواز.

[٣٢٣٠](١) حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ بَكَّارٍ، حَدَّثَنَا الْأَسْوَدُ بْنُ شَيْبَانَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ سُمَيْرٍ السَّدُوسِيِّ، عَنْ بَشِيرِ بْنِ نَهِيكٍ، عَنْ بَشِيرٍ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ اسْمُهُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ زَحْمُ بْنُ مَعْبَدٍ، فَهَاجَرَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "مَا اسْمُكَ؟"، قَالَ: زَحْمٌ، قَالَ: بَلْ أَنْتَ بَشِيرٌ، قَالَ: بَيْنَمَا أَنَا أُمَاشِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مَرَّ بِقُبُورِ الْمُشْرِكِينَ، فَقَالَ: لَقَدْ سَبَقَ هَؤُلَاءِ خَيْرًا كَثِيرًا، ثَلَاثًا، ثُمَّ مَرَّ بِقُبُورِ الْمُسْلِمِينَ، فَقَالَ: لَقَدْ أَدْرَكَ هَؤُلَاءِ خَيْرًا كَثِيرًا، وَحَانَتْ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَظْرَةٌ، فَإِذَا رَجُلٌ يَمْشِي فِي الْقُبُورِ عَلَيْهِ نَعْلَانِ، فَقَالَ: يَا صَاحِبَ السِّبْتِيَّتَيْنِ، وَيْحَكَ، أَلْقِ سِبْتِيَّتَيْكَ، فَنَظَرَ الرَّجُلُ، فَلَمَّا عَرَفَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، خَلَعَهُمَا، فَرَمَى بِهِمَا".

بشير بن نهيك نه روايت ځوك چه دنبى عليه السلام ازاد کړې شوې غلام وو، دجاهليت په زمانه کښې دده نوم زخم وو بيا ئې دنبى عليه السلام سره هجرت اوکړو نبى عليه السلام ترې تپوس اوکړو نوم دې څه دې، ده اووئيل زخم،نبى عليه السلام ورته اووئيل نه بشير ئې، فرمائى چه زه دنبى عليه السلام سره روان وم په دې وخت کښې نبى عليه السلام دمشرکانو په قبرونو باندې تيرشو وئې فرمائيل داخلق د لوئې کاميابئ نه مخکښې رخصت شوى دى اوداخبره ئې درې ځل اوفرمائيله بيانبى عليه السلام دمسلمانانو دقبرونوپه خوا کښې تيرشو وئې فرمائيز دې خلقو کاميابى حاصله کړې. ده په دې وخت کښې نبى عليه السلام اچانك يوکس اوليدو چه د پيزار سره د قبرونوپه مينځ کښې ګرځيدو نبى عليه السلام ورته اوفرمائيل اې پيزار والا په تا افسوس دې، پيزار اوباسه، ده چه

(١): سنن النسائي/الجنائز ١٠٧ (٢٠٥٠)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٤٦ (١٥٦٨)، (تحفة الأشراف: ١٠٢١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٣/٥، ٨٤، ٢٢٤) (حسن)

اوکتل نوونئي پيژندو چه نبی علیہ السلام دي نو پيزار ئي اوويستل او وئي غورځول.

﴿ قال بينما انا اماشی رسول اللهﷺ مر بقبور المشركين فقال لقد سبق هؤلاء خيرا كثيرا ثلاثا، ثم مر بقبور المسلمين فقال لقد ادرک هؤلاء خيرا كثيرا ﴾

بشير بن معبد رضی اللہ عنہ فرمائی چه يو ورځ زه د رسول اللهﷺ سره روان اوم چه رسول اللهﷺ د مشركانو په بعض قبرونو باندې تير شو نو رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه دې خلقو د ځان نه روستو خير كثير پريخودلو او مخكښې لاړل، يعنی هغه ئې حاصل نه كړو دا خبره رسول اللهﷺ درې كرته اوفرمائيله، بيا رسول اللهﷺ د مسلمانانو په بعض قبرونو باندې ورتير شو، د هغوی په باره كښې رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه دې خلقو ته خير كثير ملاؤ شو بيا ناڅاپه د رسول اللهﷺ نظر په يو داسې سړی باندې اولګيدو چه په قبرستان كښې د پيزار سره ګرځيدو، په دې باندې رسول اللهﷺ اوفرمائيل ﴿ ياصاحب السِّبْتَين ﴾ خپل سبتی پيزار اوباسه هلاک شې، هغه چه كله اوكتل چه دا خبره رسول اللهﷺ اوكړه نو فورا ئې ويستلې او وې غورځولې. اخرجه النسائی وابن ماجة قاله المنذری

[۳۲۳۱]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ يَعْنِي ابْنَ عَطَاءٍ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا وُضِعَ فِي قَبْرِهِ، وَتَوَلَّى عَنْهُ أَصْحَابُهُ، إِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ".

انس رضی اللہ عنہ دنبی علیہ السلام نه روايت كوی چه فرمائيلی ئې دی كله چه مړ په خپل قبركښې كيخودلې شي او دده ملګرې دده د دفن كولونه پس واپس روان شی نو هغه د دوی دپيزار كشار آورې.

﴿ عن انس رضی اللہ عنہ عن النبیﷺ الخ ﴾ يعنی رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه كله مړی لره دفن كولو نه پس د هغه متعلقين واپس كيږی ﴿ انه ليسمع قرع نعالهم ﴾ نو هغه مړې په قبر كښې د هغوی د څپلو د كشارې آواز اورې.

د دې نه معلومه شوه چه مشی بين القبور فی النعل جائز ده لكه چه د جمهورو مذهب دې، او د رومبی حديث جواب د جمهورو د طرف نه په ډيرو طريقو وركړې شوې دې اول دا چه هغه په اولويت باندې محمول دې، او دا د جواز په بيان باندې، يا دا چه په هغه حديث كښې نهی د خيلاء د وجې نه وه چه هغه سړې سبتی څپلئ په خپو كړې په تكبر روان وو، په هغه زمانه كښې به سبتی پيزار غوره شمير كيدلو، يعنی د څرمنې پيزار صفا چه په هغې باندې ويښته نه وی، يا دا چه هلته كښې نهی د قذر د وجې نه وه، د هغه پيزار به ناپاک وو، والله تعالی اعلم بالصواب

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری.

[1]): صحيح البخاري/الجنائز ٦٧ (١٣٣٨)، ٨٦ (١٣٧٣)، صحيح مسلم/الجنة ١٧ (٢٨٧٠)، سنن النسائي/الجنائز ١٠٨ (٢٠٥١)، (تحفة الأشراف: ١١٧٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٦٦٣، ٢٣٣)، ويأتي هذا الحديث في السنة (٤٧٥١، ٥٧٥٢) (صحيح)

بَابٌ فِي تَحْوِيلِ الْمَيِّتِ مِنْ مَوْضِعِهِ لِلْأَمْرِ يَحْدُثُ

د ضرورت په وجه مړي د قبر نه د ويستلو بيان

د دې نه مخکښې باب تير شوې دې ﴿ باب الميت يحمل من ارض الى ارض ﴾ وتقدم هناک بيان الفرق بين الترجمتين.

[۳۲۳۲](۱) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَزِيدَ أَبِي مَسْلَمَةَ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "دُفِنَ مَعَ أَبِي رَجُلٌ، فَكَانَ فِي نَفْسِي مِنْ ذَلِكَ حَاجَةٌ، فَأَخْرَجْتُهُ بَعْدَ سِتَّةِ أَشْهُرٍ، فَمَا أَنْكَرْتُ مِنْهُ شَيْئًا، إِلَّا شُعَيْرَاتٍ كُنَّ فِي لِحْيَتِهِ مِمَّا يَلِي الْأَرْضَ".

دجابر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه زما دپلار سره يو بل کس دفن کړې شوې وو اوزما په زړه کښې دا ارمان وو چه جدائي کرم نوشپږ مياشتې پس مې دقبر نه وويستو دهغه په هيڅ يوڅيز کښې تبديلي نه وه راغلې البته دګيرې يوڅو ويښته چه دزمکې سره لګيدلي وو دهغوی حالت بدل شوې وو.

﴿ عن جابر رضي الله عنه قال دفن مع ابى رجل فكان فى نفسى من ذلک حاجة ﴾

جابر رضي الله عنه فرمائي چه زما والد صاحب چه په جنګ احد کښې شهيد شوې وو، د هغوی سره يو بل مړې هم دفن کړې شوې وو په يو قبر کښ، هغه فرمائي چه زما په زړه کښې د دې احساس وو (يعنې هغوی غوښتل چه د هغوی پلار دې په خپل قبر کښې ځانله وی) هغوی فرمائي چه ما د هغوی بدن د قبر نه شپږ مياشتې پس راويستلو، نو ما د هغوی په بدن کښې هيڅ تغير بيا نه موندلو سوا د هغوی د ګيرې د څو ويښتو نه چه د زمکې سره يو ځائې شوې وو.

په دې حديث کښې تحويل د ميت پس د دفن نه ذکر شوې دې، په دې کښې مذاهب وغيره په ړومبی باب کښې تير شوې دی.

بَابٌ فِي الثَّنَاءِ عَلَى الْمَيِّتِ

د مړی د تعريف کولو بيان

[۳۲۳۳](۲) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَامِرٍ، عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "مَرُّوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِجَنَازَةٍ، فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا خَيْرًا، فَقَالَ: وَجَبَتْ، ثُمَّ مَرُّوا بِأُخْرَى، فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا شَرًّا، فَقَالَ: وَجَبَتْ، ثُمَّ قَالَ: إِنَّ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ شُهَدَاءُ".

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي دنبی عليه السلام په خوا کښې يوه جنازه تيره شوه اودهغې تعريف ئې کور نبی عليه السلام اوفرمائيل واجب شو (بخشش اوجنت) بيايوه بله جنازه دهغه په خواه کښې تيره کړې شوه هغوی ددغې جنازې بد وئيل نبی عليه السلام اوفرمائيل واجب شو (دوزخ) اووئې فرمائيل په تاسو کښې هريو کس په بل باندې ګواه دې.

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۱۱۰) (صحيح الإسناد)

(۲): سنن النسائي/الجنائز ۵۰ (۱۹۳۵)، (تحفة الأشراف: ۱۳۵۳۸)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الجنائز ۲۰ (۱۴۹۱)، مسند احمد (۲/۲۶۱، ۴۶۶، ۴۷۰، ۴۹۹، ۵۲۸) (صحيح)

﴿عن ابی هریرة رضی الله عنه قال مروا علی رسول الله ﷺ بجنازة فاثنوا علیها خیرًا فقال وجبت، ﴾ یعنی د رسول الله ﷺ مخکښې خلقو یو جنازه یوړه حاضرینو د هغه مړی نیکی بیان کړه نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د هغه دپاره جنت واجب شو، بیا په بل وخت کښې یوه بله جنازه تیره شوه د هغوی مخې ته خلقو د هغه مړی شر بیان کړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل د هغه دپاره جهنم واجب شو، بیا رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه بیشکه بعض مسلمانان د نورو مسلمانانو په حق کښې ګواهان دی، یعنی داسې ګواهان چه د هغوی ګواهی د الله پاک په نزد معتبر ده، او د صحیحینو په روایت کښې دی ﴿انتم شهداء الله فی الارض﴾ وفی روایة ﴿المومنون شهداء الله فی الارض﴾ د دې حدیث په شرح کښې ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چه دې حضراتو چه د جنازې په باره کښې کوم شهادت ورکړې وو په هغې باندې رسول الله ﷺ د دې ګواهانو تزکیه اوفرمائیله نو اوس ظاهره خبره ده چه د صحابه کرامو په شان خلقو شهادت وی او بیا د رسول الله ﷺ په شان انسان د هغه ګواهانو تزکیه کوی نو یقینا د هغې نفع او اثر د مشهود له په حق کښې ښکاره کیدل یقینی دی.

د دې نه معلومه شوه چه د دیانت دارو او نیکو خلقو ګواهی د یو مړی په باره کښې د خیر یا د شر د الله پاک په نزد معتبر ده اګر چه د واقع خلاف وی، الله پاک د مومنانو د ګواهئ لحاظ ساتی (خو د خالص دنیادارو خلقو ګواهی نه ده مراد) او د دې تائید د دې نه کیږی چه یو ځل داسې اوشو چه صحابه کرامو رضی الله عنهم د رسول الله ﷺ مخکښې د یوې جنازې تعریف اوفرمائیلو، لږ ساعت پس جبرائیل علیه السلام رسول الله ﷺ ته تشریف راوړو او هغوی اوفرمائیل یا محمد ان صاحبکم لیس کما یقولون الخ....یعنی دا مړې داسې نه دې څنګه چه دا خلق د هغه په باره کښې وائی څکه چه د هغه ظاهری حالت بل څه وو او باطنی بل څه، ولکن الله صدقهم فیما یقولون وغفرله مالا یعلمون، یعنی کومه نیکی چه واقعی په دې مړی کښې وه کومه چه صحابه کرامو رضی الله عنهم بیان کړې وه الله پاک په هغه نیکئ کښې د صحابه کرامو رضی الله عنهم تصدیق کولو سره، او د کوم څیز چه دوی ته خبر نه وو د هغې معاف کولو سره د شهادت موافق معامله اوکړله (بذل) د مخلوق وینا د الله پاک اعلان دې، یعنی کوم انسان ته چه ټول خلق ښه وائی نو هغه انشاء الله ښه دې، یا کم از کم الله پاک د هغه سره د ښه خلقو معامله کوی. والحدیث اخرجه النسائی، وقداخرجه البخاری ومسلم والنسائی من حدیث ثابت البنانی عن انس رضی الله عنه. قاله المنذری.

بَابٌ فِي زِيَارَةِ الْقُبُورِ
د قبرونو د زیارت کولو بیان

په دې سلسله کښې مصنف رحمه الله دوه بابونه قائم کړی دی، دا رومبې باب په حق الرجال کښې دې، دویم باب په حق د نساء کښې دې، د دې نه په مخکښې باب کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی ﴿نهیتکم عن زیارة القبور فزوروها فان فی زیارتها تذکرة﴾ یعنی رسول الله ﷺ فرمائی چه ما تاسو ټول قبرستان ته د تلو نه منع کړی وئ خو اوس وایم چه هلته ځائې څکه چه په زیارة قبور سره د خپل مرګ او د آخرت یاد تازه کیږی.

[٣٢٣٤]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ كَيْسَانَ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "أَتَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْرَ أُمِّهِ، فَبَكَى وَأَبْكَى مَنْ حَوْلَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اسْتَأْذَنْتُ رَبِّي تَعَالَى عَلَى أَنْ أَسْتَغْفِرَ لَهَا، فَلَمْ يُؤْذَنْ لِي، فَاسْتَأْذَنْتُ أَنْ أَزُورَ قَبْرَهَا، فَأَذِنَ لِي، فَزُورُوا الْقُبُورَ، فَإِنَّهَا تُذَكِّرُ بِالْمَوْتِ".

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام دخپلې مور دقبر زيارت اوکړو وئې ژړل اونور خلق ئې هم وژړول څوک چه بده خواته وو نبي عليه السلام اوفرمائيل مادخپل رب نه اجازت وغوښتو چه زه دخپلې موردپاره دبخښنې دعا وغواړم ليکن ماته اجازت اونکړې شو مادخپل رب نه اجازت اوغوښتو چه زه دخپلې مور دقبر زيارت اوکړم نواجازت راته راکړې شو او مونږ ته ئې اوفرمائيل تاسو د قبرونوزيارت کوئ ځکه چه په دې سره مرګ رايادېږي.

[٣٢٣٥] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا مُعَرِّفُ بْنُ وَاصِلٍ، عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ، فَزُورُوهَا، فَإِنَّ فِي زِيَارَتِهَا تَذْكِرَةً".

ابوبريدة دخپل پلارنه روايت کوي فرمائي چه رسول الله فرمائيلي دي ماتاسو د قبرونودزيارت کولونه منع کړې وې مګر اوس زيارت کوئ ځکه چه په دې سره مرګ او اواخرت رايادېږي.

په دې حديث کښې ناسخ او منسوخ دواړه جمع دی، رومبې زيارت قبور ممنوع وو، روستو رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې نه صرف اجازت ورکړو بلکه ترغيب ئې ورکړو، او دا دواړه خبرې خپله په دې حديث کښې جمع دی، د دې حديث په شرح کښې شارحينو د زيارة القبور للرجال په باره کښې د علماء کرامو اجماع ليکلې ده خو په دې کښې لږ اختلاف دې کوم چه به وړاندې راشي. خو د زنانو په باره کښې اختلاف دې چه په دې اجازت کښې هغوی هم داخلې دی يا نه؟ د جمهورو په نزد چه په هغوی کښې امام شافعي رحمه الله او مالک رحمه الله هم دي په دې کښې زنانه هم داخلې دی، د احنافو اصح قول هم دا دې دپاره د بوډئ ګانو زنانو دون الشاب وان قيل بالجواز مطلقا ايضا وسياتي المزيد عليه، د امام احمد رحمه الله نه په دې کښې دوه روايتونه دی مصنف رحمه الله د زيارة النساء دپاره ځانله مستقل باب قائم کولو سره په هغې کښې چه کوم حديث ذکر کړې دې هغه د منع دې ﴿ لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم زائرات القبور والمتخذين الخ ﴾ د مصنف رحمه الله ميلان د عدم جواز طرف ته معلومېږي. وفي الاوجز ٥٣١/٢ قال الحافظ قال النووی تبعا للعبدری والحازمي وغيرهما : اتفقوا على ان زيارة القبور للرجال جائزة.... كذا اطلقوا وفيه نظر، حافظ وائي چه په دې کښې د مړو په حق کښې هم اختلاف روايت کړې شوې دې پس په مصنف ابن ابی

شيبة کښې د ابن سيرين، نخعي او شعبي رحمهم الله نه د کراهت روايت کړې شوې دې، قال الحافظ : وكان هؤلاء لم يبلغهم الناسخ، او د دې بالمقابل د ابن حزم رحمه الله په نزد زيارة قبور واجب دي

[١]): صحيح مسلم/الجنائز ٣٦ (٩٧٦)، سنن النسائي/الجنائز ١٠١ (٢٠٣٦)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٤٨ (١٥٧٢)، (تحفة الأشراف: ١٣٤٣٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٤١/٢) (صحيح)

اګر چه په عمر کښې يو ځل وی،
وفی الشرح الکبير من فروع المالکية. جاز زيارة القبور بل هی مندوبة بلا حد بيوم او مقدار ما يمکث عندها، قال الدسوقی : ذکر فی المدخل فی زيارة النسآء للقبور ثلاثة اقوال المنع والجواز بشرط الستر والتحفظ والثالث الفرق بين المتجالة والشابة اه، وفی الدرالمختار لا بأس بزيارة القبور ولو للنسآء ، قال ابن عابدين قوله لا باس بل تندب کما فی البحر، وقوله ولو للنساء قيل تحرم عليهن والاصح ان الرخصة ثابتة، وجزم فی شرح المنية بالکراهة، وقال الخير الرملی ان کان ذلک لتجديد الحزن والبکاء علی ما جرت به عاتهن فلا تجوز، وعليه حمل الحديث اللعن، وان کان للاعتبار والترحم فلا باس اذا کن عجائز، ويکره اذا کن شواب کحضور الجماعة فی المسجد، قال ابن عابدين : وهو توفيق حسن آهـ حضرت سهارنپوری په بذل کښې د زنانو په حق کښې جواز ته ترجيح ورکړې ده بشرط ارتفاع موانع مثلا جزع فزع التبرج بزينة او اضاعت حق زوجيت وغيره، د بعضو رواياتو په بناء، پس د مسلم په روايت کښې دی چه عائشې ﷞ رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه زه د زيارت قبور په وخت کښې کومه دعا لولم نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل قولی السلام علی اهل الديار من المومنين والمسلمين ويرحم الله المستقدمين منا والمستاخرين وانا ان شاء الله بکم للاحقون..... او هم دغه شان د حاکم روايت دې چه فاطمې ﷞ به د خپل تره حمزه ﷜ د قبر زيارت هره جمعه کولو ﴿فتصلی وتبکی عنده﴾ حضرت فرمائی چه د زيارت قبور علت د مرګ ياديدل بيان کړې شوې دی او د دې ضرورت ټولو ته دې سړو او زنانو دواړو ته.

او په دې باندې هم ځان پوهول پکار دی چه دا خبره د زيارت قبور للنسآء په باره کښې ده او د اتباع النساء الجنائز په باره کښې نه ده (د زنانو جنازې سره قبرستان ته تلل) هغه جائز نه دی، وقد تقدم باب اتباع النساء الجنائز.

حديث ابی هريرة اخرجه مسلم والنسائی وابن ماجة، وحديث بريدة ﷜ اخرجه مسلم والنسائی بنحوه، قاله المنذری

بَابٌ فِي زِيَارَةِ النِّسَاءِ الْقُبُورَ
د ښځو دپاره د قبرونو د زيارت کولو بيان

[۳۲۳٦](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُحَادَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا صَالِحٍ، يُحَدِّثُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَائِرَاتِ الْقُبُورِ، وَالْمُتَّخِذِينَ عَلَيْهَا الْمَسَاجِدَ وَالسُّرُجَ".

سنن الترمذی/الصلاة ۱۲۲ (۳۲۰)، سنن النسائی/الجنائز ۱۰۴ (۲۰۴۵)، سنن ابن ماجه/الجنائز ۴۹ (۱۵۷۵)، (تحفة الأشراف: ۵۳۷۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۲۲۹، ۲۸۷، ۳۲۴، ۳۳۷) (ضعيف)

د ابن عباس نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ لعنت وئيلې دې په هغه ښځه باندې خوک چه د قبرونو زيارت کوې او خوک چه د قبرونو نه جوماتونه جوړ کړې او هلته ډيرې بلوی.

(١): صحيح مسلم/الجنائز ٣٦ (٩٧٧)، والأضاحي ٥ (١٩٧٧)، والأشربة ٦ (١٩٩٩)، سنن النسائي/الجنائز ١٠٠ (٢٠٣٤)، الأضاحي ٣٦ (٤٤٤١)، الأشربة ٤٠ (٥٦٥٤، ٥٦٥٥، ٥٦٥٦، ٥٥٥٧)، (تحفة الأشراف: ٢٠٠١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٣٥٠، ٣٥٥، ٣٥٦، ٣٥٧، ٣٦١) (صحيح)

بَابُ مَا يَقُولُ إِذَا زَارَ الْقُبُورَ أَوْ مَرَّ بِهَا

د قبرستان سره د تیریدو په وخت کښې څه ویل پکاردي؟

[۳۲۳۷]([1]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "خَرَجَ إِلَى الْمَقْبَرَةِ، فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ، وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ".

دابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبی علیه السلام مقبرې ته لاړو اووئې فرمائیل اې د مومنانو کورنو والاپه تاسو دې سلام وي اومون. انشاء الله ستاسو سره ملاقات کونکی یو.

﴿ عن ابی هریرة رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم خرج الی المقبرة فقال السلام علیکم دار قوم مومنین وانا ان شاء الله بکم لاحقون ﴾

په دې دعا کښې په ﴿ ان شاء الله ﴾ باندې شراحو کلام کړې دې چه دا استثناء د شک په طور نه ده ځکه چه مرګ خو یقینی دې بلکه دا لفظ متکم دکلام د تحسین په طور باندې دې ذکر کوی، او دا هم وئیلې شوې دی چه کله رسول الله صلى الله عليه وسلم قبرستان ته داخل شو نو ګویا دا لفظ د دې قسم خلقو په باره کښې د هغوی د ایمان د توقع دپاره راوړلې شو، او وئیلې شوې دی چه دا استثناء د نفس موت په اعتبار سره نه ده بلکه د موت علی الایمان په اعتبار سره ده چه انشآء الله مونږ به هم په ایمان باندې د خاتمې نه پس هم تاسو سره شامل شو، والحدیث اخرجه مسلم والنسائی وابن ماجة، قاله المنذری

بَابُ الْمُحْرِمِ يَمُوتُ كَيْفَ يُصْنَعُ بِهِ

څوک چه د احرام په حالت کښې وفات شي نو څه سره کول پکاردي؟

[۳۲۳۸]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ، وَقَصَتْهُ رَاحِلَتُهُ، فَمَاتَ وَهُوَ مُحْرِمٌ، فَقَالَ: كَفِّنُوهُ فِي ثَوْبَيْهِ، وَاغْسِلُوهُ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ، وَلَا تُخَمِّرُوا رَأْسَهُ، فَإِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُلَبِّي"، قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ، يَقُولُ فِي هَذَا الْحَدِيثِ: خَمْسُ سُنَنٍ كَفِّنُوهُ فِي ثَوْبَيْهِ، أَيْ يُكَفَّنُ الْمَيِّتُ فِي ثَوْبَيْنِ وَاغْسِلُوهُ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ، أَيْ إِنَّ فِي الْغَسَلَاتِ كُلِّهَا سِدْرًا، وَلَا تُخَمِّرُوا رَأْسَهُ، وَلَا تُقَرِّبُوهُ طِيبًا، وَكَانَ الْكَفَنُ مِنْ جَمِيعِ الْمَالِ.

دابن عباس رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبی علیه السلام ته یوکس راوړې شو چه اوښ دهغه ورمې مات کړې وو اوداحرام په حالت کښې وفات شوې وونبی علیه السلام اوفرمائیل ده ته دده په

[1]): صحيح مسلم/الطهارة ١٢ (٢٤٩)، سنن النسائي/الطهارة ١١٠ (١٥٠)، سنن ابن ماجه/الزهد ٣٦ (٤٣٠٦)، (تحفة الأشراف: ١٤٠٨٦)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الطهارة ٦ (٢٨)، مسند احمد (٣٠٠/٢، ٤٠٨) (صحيح)

[2]): صحيح البخاري/الجنائز ١٩ (١٢٦٥)، ٢١ (١٢٦٧)، جزاء الصيد ٢٠ (١٨٤٩)، ٢١ (١٨٥٠)، صحيح مسلم/الحج ١٤ (١٢٠٦)، سنن الترمذي/الحج ١٠٥ (٩٥١)، سنن النسائي/الجنائز ٤١ (١٩٠٥)، المناسك ٤٧ (٢٧١٤)، ٩٧ (٢٨٥٦)، ١٠١ (٢٨٦١)، سنن ابن ماجه/المناسك ٨٩ (٣٠٨٤)، (تحفة الأشراف: ٥٥٨٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١٥/١، ٢٦٦، ٢٨٦)، سنن الدارمي/المناسك ٣٥ (١٨٩٤) (صحيح)

دي دواړو جامو کښې کفن ورکړئ (لنګ او څادر) او ده - ته دبيرو دپاڼړو په اوبو باندې غسل ورکړئ او سرئې په څه شي باندې پټ نه کړئ ځکه چه دقيامت په ورځ به الله تعالى ده لره دلبيك وئيلو په حالت کښې راپورته کوي. ابوداود وائى ما دامام احمد بن حنبل نه اوريدلى دى چه وئيل ئې په دې حديث کښې پنځه سنتونه دى يوخودا دې چه په دوه جامو کښې کفن ورکول دويم دبيرو په اوبو باندې غسل ورکول يعنى په هر يوغسل کښې دبير و پاڼړې په اوبو کښې شاملول پکاردي دريم داحرام والاکس سرنه پټول څلورم خوشبونه لګول پنځم دتول مال نه کفن ورکول.

يعنى چه د يو سړى د احرام په حالت کښې وفات اوشى نو د هغه سره به د محرم معامله کولې شى که د غير محرم په شان؟ د شوافعو او حنابله او اهل ظواهر په نزد به هغه سره د محرم معامله کولې شى، يعنى عدم تطييب او عدم تخمير راس يعنى د کفن نه به د هغه سر ښکاره پريخودلې کيږى او خوشبوئى به هم هغه ته نه شى نزدې کولې، د دې دواړو امامانو استدلال د حديث الباب نه دې چه د هغې مضمون دا دې: ابن عباس رضي الله عنهما فرمائى چه رسول الله ﷺ ته يو داسې سړې راوستلې شو چه د هغه ستې د هغه سورلئ مات کړې وو، يعنى د سورلئ نه غورځيدو سره د هغه ستې مات شوې وو او وفات شوې وو او هغه په حالت د احرام کښې وو. رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه دې هم د دې احرام په کپړو کښې کفن کړئ او غسل ورته ورکړئ او د دهٔ سر مه پټوئ ﴿ فان الله يبعثه يوم القيامة يلبى ﴾ دا سړې به د قيامت په ورځ باندې تلبيه ويونکې پاسى يعنى د احرام په حالت کښې.

د احنافو او د مالکيانو په نزد به د دې سړى سره هم هغه معامله کولې شى کومه چه د غير محرم سره کولې شى ځکه چه احرام يو عمل دې او په مرګ باندې ټول اعمال منقطع کيږى لکه چه د مشهور حديث نه ثابته ده[1] پاتې شو دا حديث نو دا محمول دې خاص هم د هغه سړى په حق کښې، او دليل دخصوصيت د رسول الله ﷺ دا قول دې ﴿ فانه يبعث يلبى ﴾ د بل محرم په باره کښې دا هرګز نه شى وئيلې کيدې چه ﴿ انه يبعث يلبى ﴾ دا خو د اخبار بالغيب د قبيلې نه دې، دا حديث مصنف رحمه الله خو راوړې دې په کتاب الجنائز کښې او امام ترمذى رحمه الله په کتاب الحج کښې او امام بخارى په دواړو ځايونو کښې.

والحديث اخرجه البخارى ومسلم والترمذى والنسائى وابن ماجة، قاله المنذرى

[1] اذا مات ابن ادم انقطع عنه عمله الا عن ثلاث صدقة جارية اوعلم ينتفع به او ولد صالح يدعو له، قال الزيلعي رواه مسلم وابوداؤد والنسائي في الوصايا والترمذي في الاحكام).

[۳۲۳۹](١) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَمْرٍو، وَأَيُّوبَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ نَحْوَهُ، قَالَ: وَكَفِّنُوهُ فِي ثَوْبَيْنِ. قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ سُلَيْمَانُ: قَالَ أَيُّوبُ: ثَوْبَيْهِ، وَقَالَ عَمْرٌو: ثَوْبَيْنِ، وَقَالَ ابْنُ عُبَيْدٍ: قَالَ أَيُّوبُ: فِي ثَوْبَيْنِ، وَقَالَ عَمْرٌو: فِي ثَوْبَيْهِ، زَادَ سُلَيْمَانُ وَحْدَهُ: وَلَا تُحَنِّطُوهُ.

دابن عباس ﷺ نه دتیر روایت په شان روایت منقول دې مکرددې اضافي سره چه کفن ورته ورکړئ په دوه جامو کښې ابوداود وائی دخپل شیخ سلیمان نه مې اوریدلی دی هغه دایوب نه چه ددوه جاموذکرئې کوو. ابو داود وائی ایوب دسلیمان نه ،ثوبیه،، لفظ نقل کړې دې اوعمرو دثوبین لفظ نقل کړې دې أبوعبیده وئیلی دی چه دایوب په روایت کښې ئې ثوبین لفظ دې اودعمرو په روایت کښې ئې ثوبیه لفظ دې اوسلیمان ورسره دا اضافه کړې ده چه خوشبو وربانديې مه لګوئ.

[۳۲۴۰](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ نَحْوَهُ، بِمَعْنَى سُلَيْمَانَ: فِي ثَوْبَيْنِ.

دابن عباس ﷺ نه دتیر روایت په شان روایت منقول دې لکه څرنګه چه دسلیمان نه ئې ثوبین لفظ نقل کړې شوې دې،

[۳۲۴۱](٣) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: وَقَصَتْ بِرَجُلٍ مُحْرِمٍ نَاقَتُهُ، فَقَتَلَتْهُ، فَأُتِيَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "اغْسِلُوهُ وَكَفِّنُوهُ وَلَا تُغَطُّوا رَأْسَهُ، وَلَا تُقَرِّبُوهُ طِيبًا، فَإِنَّهُ يُبْعَثُ يُهِلُّ".

دابن عباس نه روایت دې فرمائی یوکس چه په احرام کښې وو اوښې دهغه څټ مات کړو او مړ شو اونبی ﷺ ته راوړلې شونبی ﷺ اوفرمائیل ده ته غسل ورکړئ اوکفن ورکړی اوسرئې مه پټوئ اودده خواته نزدې خوشبو مه وروړئ ځکه چه دې به دقیامت په ورځ لبیک ویونکې راپورته کولې شي.

الحمد لله کتاب الجنائز پوره شو او د دې خاتمه هم ماشآء الله په داسې حدیث باندې اوشوه چه په هغې کښې په ایمان باندې د خاتمې زیرې دې ځه چه مو اولیکل الله پاک دې قبول کړی او زمونږ د ټولو دې په ایمان باندې خاتمه بالخیر اوفرمائی. آمین

آخر کتاب الجنائز

[الحمدلله! شپږم جلد ختم شو.]

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۵۴۳۷، ۵۵۸۲) (صحيح)
(٢): انظر حديث رقم: (۳۲۳۸)، (تحفة الأشراف: ۵۵۸۲) (صحيح)
(٣): انظر حديث رقم: (۳۲۳۸)، (تحفة الأشراف: ۵۴۹۷) (صحيح)